بسم الله الرحمن الرحيم

صفوة التفاسير

پښتو

تألیف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزيز پوهنتون
د شرعیاتو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکی

مولوي شمس الله کمال زاده

المكتبة المعروفية
کوئټه لاهور پاکستان

صفوة التفاسير

شپږم ټوک

د قرآن کريم هغه تفسير چې د مأثور او معقول ټولګه او له خورا معتبرو تفسيرونو ټخه لګه: طبري، کشاف، قرطبي، اُلوسي، ابن کثير، بحر محيط او نورو ټخه يې غور چاڼ شوي او په روانو اونويو اسلوبو چې بيان او لغوي ارخونو ته پکښې پاملرنه شوي ليکل شوي دي-

مؤلف

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کښې د پاچا عبدالعزيز پوهنتون
د شرعيا تو او اسلامي زده کړو استاذ

ژباړونکې:

مولوي شمس الله کمال زاده



المكتبة المعروفية

(کوئٹہ) کاسی روڈ شالدرہ کوئٹہ پاکستان
(لاہور) ہادیہ حلیمہ سنٹر غزنی سٹریٹ اُردو بازار لاہور

:03337907394-03353132868
Ph:03159807152-03337907398
E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com
http://www.facebook.com/maktabamarofia

دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم: ---------------- پښتو صفوة التفاسیر

تالیف: ---------------- الشیخ محمد علي الصابوني رحمه الله

پښتو ژباړه: ---------------- مولوي شمس الله کمال زاده

دکمپوزچاري: ---------------- مرحوم انجنیر عبدالله ګل (ریان)
اوزیاته برخه مولوي عبد البصیر

خپرونکي اداره: ---------------- المکتبة المعروفیة (کوئټه) (لاهور)

دچاپ شمیر: ---------------- ۸۰۰ ټوکه

دچاپ کال: ---------------- ۱۴۴۰ هجري قمري دمحرم الحرام میاشت

دکتاب ترلاسه کولو پته ---------------- المکتبة المعروفیة (کوئټه) (لاهور)



المکتبة المعروفیة

(کوئټه) کاسي روډ شالدره کوئټه پاکستان

(لاهور) هادیه حلیمه سنټر غزني سټریټ اردو بازار لاهور

:03337907394-03353132868

Ph:03159807152-03337907398

E-mail:maktabamaroofia786@gmail.com

http://www.facebook.com/maktabamarofia

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴿٢﴾ مَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى
وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَمَّآ أُنذِرُوا۟ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ قُلْ أَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِى مَاذَا خَلَقُوا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱئْتُونِى بِكِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ هَٰذَآ أَوْ أَثَٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤﴾ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُوا۟ مِن
دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَٰفِلُونَ ﴿٥﴾ وَإِذَا حُشِرَ ٱلنَّاسُ كَانُوا۟ لَهُمْ أَعْدَآءً وَكَانُوا۟ بِعِبَادَتِهِمْ
كَٰفِرِينَ ﴿٦﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ قُلْ إِنِ
ٱفْتَرَيْتُهُۥ فَلَا تَمْلِكُونَ لِى مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٨﴾ قُلْ
مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ ٱلرُّسُلِ وَمَآ أَدْرِى مَا يُفْعَلُ بِى وَلَا بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن
كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِۦ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسْتَكْبَرْتُمْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ
﴿١٠﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيْهِ وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا۟ بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفْكٌ قَدِيمٌ
﴿١١﴾ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً وَهَٰذَا كِتَٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ وَبُشْرَىٰ
لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُوا۟ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَٰمُوا۟ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٣﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ
خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَٰنًا حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا وَحَمْلُهُۥ
وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهْرًا حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ
وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَصْلِحْ لِى فِى ذُرِّيَّتِىٓ إِنِّى تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّى مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ
عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا۟ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِىٓ أَصْحَٰبِ ٱلْجَنَّةِ وَعْدَ ٱلصِّدْقِ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾ وَٱلَّذِى قَالَ
لِوَٰلِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِىٓ أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ ٱلْقُرُونُ مِن قَبْلِى وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ ٱللَّهَ وَيْلَكَ ءَامِنْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ
فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ
إِنَّهُمْ كَانُوا۟ خَٰسِرِينَ ﴿١٨﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾ ﴾

الأحقاف: ١ ـ ١٩

لغتونه:

(شرک) برخه اوګډون (أثارة) پاتي شوني (تفيضون) تاسوګډېږئ ډوبېږئ (افاض الناس من عرفات) معنا رامات شول (بدعا) مبتدع امام رازي وايي چې: بدع اوبديع مبدع ښيي اوبدعت بياهغه نوي کارته وايي چې په سنت کې يې پخوانی مثال نه وي (افک) دروغ (کرها) ناخوښي مشقت اوکړاو (فصاله) له تي رودلو جلاکول (اوزعني) راوښيي (أف) دزجرکلمه ده (خلت) چې تېرشوي دي.

تفسير:

﴿ حمٓ ﴾ له مقطعاتوتوروڅخه دی چې دقرآنکريم په اعجازتنبيه ورکړي چې له همدغوهجائي تورو څخه منظوم دی ([1]) ﴿ تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ﴾ رالېږل ددې کتاب (قرآن) دی له طرفه د الله ښه غالب قوي (پخپله پاچهي کې) ښه حکمت والا (پخپل صنعت کې چې هرکارپه تدبيراو مصلحت سره کوي) ﴿ مَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَآ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ ﴾ ندی پيداکړي موږ آسمانونه او ځمکه اوهرهغه څيزونه چې په مينځ ددوی دواړوکې دي مګرپه حقه (ددې لپاره چې دلالت وکړي په قدرت اووحدانيت زموږ، عبث مونه دي پيداکړي همدغه حکمت پکې نغښتی دی ﴿ وَأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ ﴾ اوپه ټاکلي وعدې سره (چې هغه يې دفنامېعاداودقيامت ورځ دي) ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعۡرِضُونَ ﴾ (اوهغه کسان چې کافران شوي دي له هغه څېزه چې دوی پرې وېرولی شي مخ ګرزونکي دي) يعني دغه کفار دآخرت دعذاب څخه چې ورباندې وېرولی شي مخ اړونکي اوپکې سوچ نه کوي نه هم دهغې ورځې لپاره تياری نيسي ،کله چې الله جل جلاله دالعزيزالحکيم ذات دوجوداوشتون بيان وفرمايوورپسې يې دبت پرستانوترديد وکړچې: ﴿ قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ ووايه ته ای محمده !) آياوينی خبراکړئ تاسې ماته په (حال د) هغو(بتانو) چې بولی (عبادت يې کوی) تاسې يې له الله (اودمعبودانو ګمان پرې کوی) ﴿ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ ﴾ وښيي تاسې ماته کوم دی هغه څيزچې پيداکړی دی دوی له ځمکې څخه؟ (له انسان اوحيوان څخه) ﴿ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِۖ ﴾ آياشته دوی ته څه شرکت په (پيداکولود)آسمانونوکې؟ ﴿ ٱئۡتُونِي بِكِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ هَٰذَآ ﴾ راوړئ تاسې ماته کوم کتاب (چې راغلی وي تاسې ته پخوا له دې قرآنه چې دبتانودعبادت ماربينه کوي ، دغه امردتعجيز لپاره دی څکه دوی کوم کتاب نلري چې داشراک په عقيده دلالت وکړي بلکه ګردکتابونه په توحيد ګويادي ﴿ أَوۡ أَثَٰرَةٖ مِّنۡ عِلۡمٍ ﴾ يايوه باقي علامه دليل له علمه د(پخوانيوانبياوو) چې پدې سره شاهدي ورکړي ﴿ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴾ که چېري يی تاسې رښتوني (پدې دعوی کې چې دوی دالله شريکان دي په البحر المحيط کې وايي له دوی څخه يې وغوښتل چې يوازې يوکتاب ورته وروښيي چې دغيرالله په عبادت ناطق وي

([1]) دموضوع تفصيل دالبقرة سورت په پيل کې وګوره هلته کافي شافي بيان شته.

اویاهم دپخوانیوله علمه څه پاتي شوني وړاندي کړي چي همدغه دعوی تائید کړي غرض له دې څخه ددوی توبیخ ده ځکه ګردنازل شوي کتابونه دتوحیدسپارښتنه اودشرک بطلان کوي نودوی هیڅ نقلي اوعقلي سندنلري(۱) وروسته الله تعالی دمشرکانوضلالت داسي بیانوي فرمایي: ﴿ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُوا مِن دُونِ اللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ (اوڅوک دی ډېرګمراه (یعني نشته) له هغه چاچي بولي بې له الله څخه هغه چي نشي قبلولای هغه لره (دعا درخواست) ترورځي دقیامته پوري) یعني ترهغه چازیات ګمراه اوناپوه نشته څوک چي دهغو بتانوعبادت کوي چي نه دعااوري او نه دارکستانوارتیااوحاجت پېژني نه دچاغږ ته ځواب وایې ځکه دوی جمادات دي نه اوري اونه عقل اوپوهه لري ﴿ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَٰفِلُونَ ﴾ اودغه (بتان) له دعابلني ددغو(عابدانوڅخه) بې خبره دي (ځکه چي جمادات دي نه اوري اونه عقل اوپوهه لري ﴿ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَٰفِلُونَ ﴾ دغه پردوی او عابدانوبې تهکم دی داچي بتان یې دعاقلانوپه ضمیر یادکړل ځکه چي عابدانوبې دوی دهغه چاپه مقام درولي ووچي ګټه اوتاوان رسولای شي سره له دې چي دوی دچاغوښتنه نشي ترسره کولای نه اوري نه ګټه رسوي همدغه ددوی له ګمان سره یې سمه ارزونه کړې ده اودعاقلانوپه ضمیریې راوړي دي ﴿ وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَآءً ﴾اوکله چي راټول کړل شي خلک (لپاره دحساب) وي به دغه (بتان) دغو(خپلوعابدانو) ته دښمنان (چي ورته تاوان به رسوي خوګټه به یې نه وي)﴿ وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَٰفِرِينَ ﴾ اووي به دغه (معبودان) په عبادت ددغو(عابدینوخپلو) منکران (ځني بېزاره به وي مفسرین کرام وایې الله تعالی به شریکان (بتان) دقیامت په ورځ ژوندي کړي او دخپلوعابدانوڅخه به بېزاري اعلان کړي وایې به: ﴿ تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كَانُوٓا إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴾ القصص: ۲۳ اویادغه دالله ویناچي ﴿ كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴾ مریم: ۸۲ والله علی کل شئ قدیر(۲) ﴿ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ ﴾ اوکله چي ولوستل شي پردغو(مکي کفارو) باندي آیتونه د(قرآن) زموږ ښکاره (چي دغه کلام الله دی) ﴿ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ﴾ نووایې هغه کسان چي کافران شوي دي حق (قرآن) ته کله چي راشي دوی ته ﴿ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ داسحرجادودی ښکاره (چي هیڅ شک اوشبه پکي نشته او کله چي بي ظاهرضمیرپرځای راوړچي ﴿ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ یې وویل څوچي پردوی باندي بشپړ کفراوضلالت ولیکي. په البحر کي وایې داچي ویې ویل: لماجاءهم دې ته تنبیه ده چي دوی به له ډېره عناده یوازي په اورېدلوسره دهغه نسبت سحرته وکړ بې له دې چي په هکله یې فکراوسوچ وکړي چي څه شی ورته لوستل کېږي(۳) ﴿ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَىٰهُ ﴾

(۱) البحرالمحیط ۸/ ۵۵
(۲) تفسیرکبیر ۲۸/ ۲
(۳) البحرالمحیط ۸/ ۵۲

بلکه وايې دوی له ځانه يې جوړکړی دی (محمد)دغه قرآن او دالله له جانبه نه دی راغلی دغه توبيخي انکاردی ﴿ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ فَلَا تَمۡلِكُونَ لِي مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۖ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته !) که ما جوړکړی وی دغه قرآن (فرضا) له خپله ځانه پس نه به شی تاسي مالکان (خلاصونکي) مالره له (عذابه د)الله په مخکي هيڅ قدر(نوولي به يې زه په الله دروغ ترړم او عذاب ته به يې ځان وړاندي کوم ؟) ﴿ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِۚ ﴾ الله ته ښې معلومي دي هغه خبري چي تاسي په هغوکي لګيايی (چي قرآن په بدي ستايی او وايا ست چي هغه شعردی، سحردی او افترآء دی همداسي نوردول دول پېغورونه ورته برابروی ﴿كَفَىٰ بِهِۦ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡۖ ﴾ کافي دی دغه (الله) ښه شاهد حق ښوونکی په مينځ زما او په مينځ دتاسي کي (چي زما د رښتنولي او تبليغ او ستاسي دجحود او تکذيب شاهد دی) ﴿ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴾ او همدغه الله دی ښه مغفرت کونکی (دګناهونو) ډېر رحم والا(په مؤمنانو بندګانو خپلو) ابوحيان وايې چي پدې کي ددوی لپاره زيری دی که چېري دوی له کفرڅخه ايمان ته رجوع وکړي وبه يې ښني او همداسي دغه آګاهي هم پکي شته چي الله پاک د حلم خاوند دی ژرترژره يې په عذاب نه اخته کوي ﴿ قُلۡ مَا كُنتُ بِدۡعٗا مِّنَ ٱلرُّسُلِ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته !) نه يم زه اول له رسولانو (بلکه له ما پخوا هم ډېر رسولان تېرشوي دي (نو بيا ولي زما او پرما باندي د دغه (قرآن دنزول انکارکوی ؟. بدع او بديع يې مثاله او بې ساری څېزنه ويل کېږي . ابن کثير وايې معناداچي تاسو په ماولي بدګومانه ياست چي تاسوته به نه يم مبعوث او استول شوی په تحقيق سره الله بې له استثناء ګردانبياء عليهم السلام خپلو اُمتونوته الېږلي دي ﴿ وَمَآ أَدۡرِي مَا يُفۡعَلُ بِي وَلَا بِكُمۡۖ ﴾ او نه پوهېږم زه چي څه به وکړل شي له ماسره او څه به وکړل شي تاسوسره ؟(په دنياکي ځکه چي دالله تقدير له مغيباتوڅخه دی) ﴿ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ﴾ نه کوم زه پيروي متابعت مګر خو دهغه (حکم) چي ماته رالېږل شوی دی (له وحی څخه او له خپله ځانه کوم بدعت نه کوم ﴿ وَمَآ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴾ (١)او نه يم زه مګرو يرونکی يم ښکاره (له عذابه دالله تعالی په څرګندو شواهدو او ښکاره معجزاتو سره) ﴿ قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كَانَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَكَفَرۡتُم بِهِۦ ﴾ ووايه ته (ای محمده دوی ته !) آيا وينی تاسي ماخبرکړی ! که چېري وي دغه (قرآن) له جانبه دالله حال داچي کافران شوي ياست تاسي په ده سره) ځواب يې محذوف هغه داچي ستاسو به څه حال وي؟ ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٞ مِّنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ مِثۡلِهِۦ فَـَٔامَنَ وَٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡۖ ﴾ او بيا شاهدي ويلي ده يوه شاهد له(علماوو) دبني اسرائيلو په مثل حقيقت داسي يو کتاب باندي پس ايمان راوړی وي (پرې هغه شاهد) او تکبرکړی وای تاسي (له ايمان راوړلو پرې نو ستاسو به څه حال وي؟ آيا تاسو به ظالمان نه ياست ؟ بلکه خامخا به ظالمان ياست. زمخشري وايې چي: دشرط ځواب محذوف دی هغه داکه چېري دغه قرآن دالله له جانبه نازل شوی وي او تاسي ورباندي کافران بی

(١) دابن کثيرمختصر ۳ /۳۱۲

آیاتاسو ظالمان نه یاست؟! او پدې محذوف باندي دالله داوینادلالت کوي چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ بېشکه الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم ظالمانوته (١)مفسرین کرام وایي: له بني اسرائیلو څخه شاهد(عبدالله بن سلام) ووکله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف راوور عبدالله بن سلام ورته دازموینې لپاره راغی کله چي یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدنو پوه شوچي دغه نوراني څېره دروغجن سړی نه دی اوسوچ یې پرې وکړورته ثابته شوه چي همدغه منتظر پیغمبردی نویې ورته وویل: زه دد ریو څېزونو پوښتنه درڅخه کوم چي له الله پرته پرې هیڅوک نه پوهېږي مگرهغه چي پیغمبروي پوهېږي) دقیامت لومړی نښه څه ده ؟ جنتیان به لومړی کوم خواړه خوري اوڅه سبب دی چي زوی پلارا و یامور ته کېږي؟ کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړنوویې ویل چي: زه شاهدي وایم چي ته په حقه دالله تعالی پیغمبریې (٢)له دې وروسته الله تعالی ددوی مشرکانو یوه بله شبهه داسي تردیدوي چي فرمایې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَآ إِلَيْهِ ﴾ او وایي هغه کسان چي کافران شوي دي په حق دهغو کسانوکي چي ایمان یې راوړی دی (داسي) که چېري وای (دایمان راوړل)خیر بهترنونه به وړومبی شوي دغه (خوارمؤمنان) پر موږ باندي هغه ته (بلکه موږ اشراف اوغټان به تردوی ړومبی شوي ووپه ایمان راوړلوکي . ابن کثیر وایې چي ددوی مقصد حضرت بلال، عمار، اوصهیب رضوان الله علیهم اوددوی په شان نور مستضعفان مسلمانان مینځي اومریونه ووچي په نبي علیه السلام باندي یې ایمان راوړی وو(٣)﴿ وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا۟ بِهِۦ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَآ إِفْكٌ قَدِيمٌ ﴾اوکله چي سمه صافه لاره یې بیانه مونده دغو (منکرانو) په دغه قرآن سره نوژردی چي دوی به ووایې دغه (قرآن) پخواني دروغ دي (چي محمد راوړي اوالله ته یې نسبت کوي) ﴿ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً ﴾ حال داچي پخواله (قرآنه) کتاب (تورات) امام پېشوا لاربنوونکی وُ مؤمنانوته او(سبب د) رحمت وو(پردوی باندي) امام فخر رازي وایې چي: دآیت تعلق له پخواني سره دادی څرنگه چي مشرکانو دقرآن دسموالي په هکله پېغور خپراوو چي که چېري دغه قرآن دخیرښېگنې لپاره وای نودغوبېوزلو پېنې لوځوبه ترموږ دمخه نه وای منلی نوالله ددوی تردیدهسي فرمایې چي تاسوخوپدې کي شک اوشبه نه کوئ چي تورات دالله له لوري په موسی علیه السلام باندي نازل شوی وواودغه تورات امام اومقتداوو بیاهمدغه تورات د محمد رسول الله په راتلوزېری ورکوي که تاسودتورات په هکله منی چي دالله له لوري مقتداکتاب دی نودهغه حکم ومنئ چي همدامحمدصلی الله علیه وسلم دالله له لوري ربنتونی پیغمبردی(٤)﴿ وَهَٰذَا كِتَٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا ﴾ اودغه قرآن یو کتاب تصدیق کونکی دی (هغوپخوانیو کتابونو لره) پداسي حال کي چي په عربي ژبه دی

(١) دکشاف تفسیر٤ /٢٣٦

(٢) دعبدالله بن سلام کیسه په تفصیل سره په بخاري شریف کي راغلي ده .

(٣) دابن کثیرمختصر٣ /٣١٨

(٤) کبیرتفسیر٢٨ /١٢

(نوڅرنګه يې انکار کوی دهغه بيان چې ډېر فصيح اوبرهان يې ښکاره ښکاره اواعجاز يې ترتورات لا زيات دی؟ ﴿لِّيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ﴾ ددې لپاره چې و وېروي (دغه قرآن) هغه کسان چې ظلم يې کړی دی (پرځانونوخپلو په کفرسره) اوزېری دی نيکو کارانو(مؤمنانو) ته يعني ددې لپاره چې دمکې ظالمان کفارددوزخ له عذابه ووېروي اومؤمنانو نيکو کاروته دجنات النعيم زېری ورکړي کله چې الله دمشرکانومکذبانو احوال بيان کړ ورپسې يې د مؤمنانوهغو کسانو چې دالله تعالی په شريعت سم ولاړوي بيان داسې پيل کړچې: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُوا۟ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَٰمُوا۟﴾ (بېشکه هغه کسان چې وايې رب زموږ الله دی (نه بتان) بيا ټينګ ودرېږي (په عبادت دده) يعني هغه کسان چې ايمان ، توحيداواستقامت په شريعت سره يوځای کړي ﴿فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ﴾ پس نه به وي هيڅ وېره پردوی (په آخرت کې چې تکليف ويني) ﴿وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ اونه به وي دوی چې خفه به شي په هغه څه چې په دنياکې ترې پاتې شوي دي ﴿أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا﴾ دغه کسان اهل دجنت دي پداسې حال کې چې همېشه به وي دوی په دغه (جنت) کې ﴿جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ﴾ ور کوله به شي دوی ته جزاء په سبب دهغو(نېکوعملونو) چې کول به يې (په دنياکې) ﴿وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَٰنًا﴾ اووصيت حکم موکړی دی هرانسان ته له موراوپلارخپل سره داحسان نيکې کولو، څرنګه چې دالله خوښې دموراوپلارپه خوښې کې نغښتې اوغضب يې دموراوپلارپه غضب کې پټ دی ځکه الله تعالی بندګان دهغوی سره احسان کولوته وهڅول بيايې سبب داسې بيانوي چې ﴿حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا﴾ پورته کړي (ساتلی) يې دی دی(په نس خپل کې) مور دده په سختۍ سره اوبيا يې اېښودلی (زېږولی) دی ده لره په سختۍ سره ﴿وَحَمْلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهْرًا﴾ اوداپورته کول(ساتل) دده (دموږپه نس کې) اوجلاکېدل دده (له تې څخه) دېرش مياشتې وي ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً﴾ ترهغه پورې کله چې ورسېدی قوت(دهوښياري) خپلې ته او ورسېد څلوېښت کالونوته (چې هغه دعقل دبشپړتوب اوهوښياري منتهادی[1]) ﴿قَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ﴾ وويل ده ای زمارب ماته الهام وکړې په زړه کې ، توفيق راکړې په دې چې شکرادا کړم دنعمت ستا هغه چې انعام کړی دی تاپرمااوپه موراوپلارزما باندې (چې زه يې په ورکتوب کې وروزلم) ﴿وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا تَرْضَىٰهُ﴾ (بل داراته الهام وکړه) چې زه نيک عمل وکړم چې ته په هغه راضي کېږې ﴿وَأَصْلِحْ لِى فِى ذُرِّيَّتِىٓ﴾ اوصلاحيت کېږده ته (ياالله) په اولاده زماکې) شيخ زاده وايې چې دغه دعا کونکی درې څېزونه له الله څخه غوښتي يوداچې په نعمت باندې دشکر ايستلوتوفيق ورکړي دوهم دا چې دالله درضاوخوښې دطاعت کولوتوفيق ورپه برخه کړي او دريم دا چې اولاده اونسل يې صالحان کړي همدغه دبشريت

(1) علماوو ويلي ځکه نو هيڅ پيغمبرترڅلوېښت کلني ندی مبعوث شوی.

دنېکمرغي کمال دی (۱) ﴿ إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ بېشکه ماتوبه کړي ده تاته اوبېشکه زه یم له حکم منونکو څخه (په اسلام منګولي لګونکی. ابن کثیروايي په آیت شریف کي ددې ارشاداولارښوونه ده چي څوک څلوېښت کلني ته ورسېږي نونوي توبه دي وباسي اوالله ته دي رجوع وکړي اوپدغه تکل دي ټینګ اوسي (۲) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُواْ ﴾ داهغه کسان دي چي قبلوومورله دوی نه ډېرښه دهغو (کارونو) چي دوی کړي دي (اوپه ښه توګه جزاء ورکوو) ﴿ وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِيٓ أَصْحَٰبِ ٱلْجَنَّةِۖ ﴾ اوتېرېږوله ګناهونو ددوی نه پداسي حال کي چي وي به دوی په اوسېدونکودجنت کي ﴿ وَعْدَ ٱلصِّدْقِ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴾ وعده کړي ده الله وعده رښتیني چي وو دوی چي وعده به ورسره کېده (په دنیاکي په) ژبه دپیغمبرانو چي نیک عملونه به یې منل کېږي اوتر ګناهونوبه یې ورتېرېږو. کله چي الله دنېک بنده مثال بیان کړچي نیکوکاراولادبه دغسي دنېکمرغي پوړۍ ته رسېږي اورپسې یې د آزاري اولادحال راووړچي څرنګه دبدمرغي په لوردرومي اوهلاکت ته رسېږي ویې فرمایل: ﴿ وَٱلَّذِي قَالَ لِوَٰلِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ ﴾ اوهغه (سړی) چي ویې ویل: موراوپلارخپل ته (کله چي ایمان ته یې راوباله) قباحت اوکراهیت دی تاسي دواړوته (په دغه بلنه راکولوباندي) ﴿ أَتَعِدَانِنِيٓ أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ ٱلْقُرُونُ مِن قَبْلِي ﴾ آیاوعده کوی تاسي له ماسره چي وبه ایستلی شم (له قبره) حال داچي په تحقیق تېرشوي دي ډېراهل دزمانې پخواله ماڅخه؟ (اویوهم نه دی راژوندی شوی) نوزه څرنګه ژوندی شم)؟ ﴿ وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ ٱللَّهَ وَيْلَكَ ءَامِنْ ﴾ اوهغوی دواړه الله ته زاري کولې (پداسي حال کي چي ویل یې) خرابي ده تاته ایمان راوړه ته (اوپه بعث اونشورباوروکړه که نه هلاک شوې) ﴿ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ﴾ بېشکه وعده دالله (په بعث بعد الموت سره) حقه رښتیاده (خلاف پکي نشته) ﴿ فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ پس وایې دی نه دی دا (قول په بعث) مګردروغي کیسې دي دپخوانیوخلګو (چي واقعیت نلري الله تعالی فرمایې: ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ ﴾ داهغه کسان دي چي حقه ثابته شوې ده پردوی باندي خبره (د عذاب) چي دوی به دوزخیان وي. قرطبي وايي معناداچي ورته عذاب واجب دی اودادالله هغه وینا ده چي په حدیث شریف کي راغلې چي: (هؤلآء في النارولا أبالي) دغه کسان دي په اورکي وي پروامې نشته ﴿ فِيٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِۖ ﴾ په جمله دنور وأمتونو خلګوکي چي په تحقیق تېرشوي دي پخواله دوی څخه له پېریانواوانسانانو (کفاروفجاروڅخه) ﴿ إِنَّهُمْ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ﴾ بېشکه دوی وو زیانکاران) ځکه نوددوی آخرت ضائع شودغه ددوی دجهنم ددخول لپاره علت دی. امام فخر رازي وايې چي

(۱) البیضاوي حاشیه ۳/ ۳۳۶
(۲) دابن کثیرمختصر ۳/ ۳۲۰.

ځینو کسانو ویلي دغه آیت دعبدالرحمن بن ابوبکر رضي الله عنه په هکله کله چي په اسلام لانه وومشرف شوی نازل شوی دی اوسمه خبره داده چي آیت دیوتن په هکله نه دی بلکه هرڅوک چي په دغه صفت موصوف اودغه یې حال اوقال وي کله چي یې موراوپلار حق دین ته راوبولي نوانکار کوي دهغه لپاره دی اوپه دې خبره باندي دالله جل جلاله داوینا هم دلالت کوي چي فرمایي هغه څوک چي موراوپلارته یې وویل: ﴿ أُفٍّ لَّكُمَآ ﴾ دغه شخص دهغو کسانو له ډلي څخه دی چي دعذاب کلمه ورته واجبه شوي اوپدې کي شک نشته چي عبدالرحمن ایمان راوړی اواسلام یې په ښه توګه ساتلی اودمسلمانانوله وتلي څېرو اومشهوروکسانوڅخه وونودآیت حمل کول وربانديي باطل دی[1] ﴿ وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُواْۖ ﴾ اوهرفرقې ته(دمؤمنانواو کافرانو) مرتبې دي له (جزآء د) هغو اعمالوچي کړي يې دي (په دنیا کي) نودمؤمنانودرجې په جنت کي اوچتي دي اودکفاروپه ښکتني جهنم کي دي ﴿ وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ دپاره ددې چي پوره به ورکړی شي دوی ته جزآء دعملونو ددوی (مؤمنانوته درجات اوکفاروته درکات) ﴿ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ حال دا چي پردوی به ظلم ونکړی شي (په تنقیص دحسناتو یاتزئید دسئیاتو سره).

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَلَى ٱلنَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا وَٱسْتَمْتَعْتُم بِهَا فَٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ
بِمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾ ۞ وَٱذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنذَرَ قَوْمَهُۥ بِٱلْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ
ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦٓ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٢١﴾ قَالُوٓاْ أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ
ءَالِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾ قَالَ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَلَٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا
تَجْهَلُونَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُواْ هَٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۚ بَلْ هُوَ مَا ٱسْتَعْجَلْتُم بِهِۦ ۖ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ
﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَىْءٍۭ بِأَمْرِ رَبِّهَا فَأَصْبَحُواْ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٢٥﴾ وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ
إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَٰرًا وَأَفْـِٔدَةً فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن شَىْءٍ إِذْ
كَانُواْ يَجْحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٢٦﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا
ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢٧﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ قُرْبَانًا ءَالِهَةًۢ ۖ بَلْ ضَلُّواْ عَنْهُمْ ۚ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا
كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٢٨﴾ وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْ ۖ فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْاْ
إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُواْ يَٰقَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِىٓ إِلَى

---

(١) کبیرتفسیر٢٨ /٢٣ دغه دمحققینومفسرینوغورچاڼ دی چي دهغوی نوموونه دادي: ابن کثیر، قرطبي، ابوالسعود، اودالبحرالمحیط مؤلف رحمهم الله تعالی .

ٱلْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَٰقَوْمَنَآ أَجِيبُوا۟ دَاعِىَ ٱللَّهِ وَءَامِنُوا۟ بِهِۦ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ
﴿٣١﴾ وَمَن لَّا يُجِبْ دَاعِىَ ٱللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءُ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟
أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَمْ يَعْىَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٣﴾
وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ أَلَيْسَ هَٰذَا بِٱلْحَقِّ ۖ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ قَالَ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٤﴾
فَٱصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْعَزْمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ ۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍۭ ۚ
بَلَٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾ الأحقاف: ۲۰ - ۳۵

مناسبت:

کله چي الله تعالی دځيني بدمرغه کسانو حال بيان کړورپسې يې په آخرت کي دکفارو فجارو بيان راووړ اوبيايې دعادیانو هغوی چي الله ددوی دطغيان په نتيجه کي سره له دې چي خوراځواکمن اوقدرت څښتنان وو هلاک کړل کیسه راوړه ترڅو دقریشي کفارولپاره چي دطغيان اوتکذيب آخره خاتمه څه کېدای شي؟یادونه اوتذکيروی په پای دسورت کي دهغوڅوتنوپېريانوچي قرآنکريم يې واورېد او بيايې خپل تبرته دايمان راوړلودعوت اوبلنه ورکړه یادونه شوي ده.

لغتونه:

(الهون) سپکوالی اوذلت(الأحقاف) دشګوغونډۍ چېري چي دېري شګي سره پورته شوي وي دغه دعادیانو هستوګنځايونه وو(۱)(لتأفکنا) ترڅوته موږ واړوې (افک) دروغوته وايه شي(عارض) پلنه وريځ چي دآسمان په کنارو کي خپره وي (تدمر) هلاکوي له تدميراودمارڅخه دی(صرفنا) استولی اومخامخ کړی مودی (يعی) (أعيا) عجزاوستوماني ته ويل کېږي

تفسير:

﴿ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ ﴾ او(يادکړه) (ای محمده!) هغه ورځ چي وړاندي کړی شي هغه کسان چي کافران شوي دي په اور) يعني درپه يادکړه هغه ورځ کله چي له دوزخ څخه برغولی (سرپوښ) ليري کړی شي اوکافرانو ته څرګند شي دوی نژدې وروستل شي او ورته ګوري (او ورته وبه ويل شي چي) ﴿ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا ﴾ (وړي دي تاسي لذائذنېکي خپلي په ژوندددنيا کي) دغه به ورته دتوبيخ اوتقريع په توګه وويل شي چي نور نوستاسي برخه او ونډه په آخرت کي پاتي نه ده په البحرالمحيط کي وايې چي مرادله طيباتوڅخه دنيوي دخوراک ښناک مستلذات اوخوندونه دي چي ښې جامې، فرشونه دناستي ملاستي کرسۍ اوچپرکټونه اويانورڅېزونه چي دسوکاله ژوند خلګ يې په کاروي . مفسرين کرام وايې چي: مقصدله آيت څخه داچي تاسوايمان نه دی راوړی ځکه دآخرت له نعمتونوڅخه محروم یاست تاسوپه دنياکي په لذتونوشهوتونوباندي له ايمان څخه مخ اړولی ووخپله ځواني موپه کفراومعصيت کي خاوري کړه نوتاسوته دنعمتونو هيڅ ونډه نشته ځکه نو وروسته فرمايې

---

(۱) دقرطبي تفسير ۱۲/ ۳۰۳

چي: ﴿ وَٱسْتَمْتَعْتُم بِهَا ﴾ او نفع اخیستي تاسي په هغه سره ﴿ فَٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ ﴾ پس نن ورځ به جزا درکوله شي تاسي ته دعذاب سپکونکي ﴿ بِمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ﴾ په سبب دهغه چي وی تاسي (په دنیا کي) چي تکبربه موکاوو په ځمکه کي په ناحقه سره (یعني له ایمان اوطاعت څخه به موتکبرکاوو) ﴿ وَبِمَا كُنتُمْ تَفْسُقُونَ ﴾ اوپه سبب دهغه چي وی تاسي چي نافرماني به موکوله (په دنیاکي به وتلوله طاعته دالله اوفسق اوفجور موکاوو. امام فخر رازي وايي پدې آیت کي له تنعم څخه ممانعت نه معلومیږي ځکه آیت دکفارو په هکله راغلی ،والله کفارو ته پدې توبیخ فرمایلي چي په دنیاکي خوندونه اخلی انه نعمتونو کي ډوبیږي) خو دمنعم شکرنه پرځای کوی ایمان وربانديي نه راوړی اومؤمن خوپه خپل ایمان ذریعه سره دمنعم شکرداکوی نوددی لپاره په نعمتونو لذت اخیستلوکي توبیخ نشته دلیل یې دالله جل جلاله داوینااده چي فرمايي: ﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزْقِ ﴾ الاعراف (۳۲)هو کي له تنعم څخه ځان ژغورل بهتردي اوهمدغه معناده حضرت عمر رضی الله عنه په وینا کي نغښتي چي وايي. که ماغوښتلای ترتاسي به مي ښه خواره خوړل اوښې جامې به مي اغوستلې خوزه غواړم چي خپل طیبات لذائذآخرت ته زېرمه کړم. په التسهیل کي وايي چي آیت دکفارو په شان کي راغلی اودلیل یې دالله جل جلاله داوينااده چي: ﴿ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ خوله دي سره سره بیاهم د متقیانو لپاره پنداو وعظ دی ځکه نوعمررضی الله عنه حضرت جابربن عبدالله ته هغه وخت چي غوښي یې رانیولي وې ویل چي: آیا تاسوچي هرڅه ته اشتهاء وشي هغه په نس کي اچوی؟ آیانه وېرېږی چي دهغه چاله ډلي ونه شمېرل شی چي آیت یې په هکله فرمايي ﴿ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا ﴾ (۱) ﴿ وَٱذْكُرْ أَخَا عَادٍ ﴾ اویادکړه (ای محمده دغومنکرانوته کیسه د)ورور دعاد(هود) چي وربانديي عبرت واخلي ﴿ إِذْ أَنذَرَ قَوْمَهُۥ بِٱلْأَحْقَافِ ﴾ کله چي ووېراووده قوم خپل په رېګستان (چي نوم یې احقاف) دی (له عذابه) احقاف دحقف جمع اودشګوغره ته وايي. قتاده وايي چي: دغه په یمن کي یوکلی ووچي شګلن او د سمندرپه غاړه په لوړو غونډیو په هغه ځای کي چي (الشحر) یې بولي ودان وو(۲) ﴿ وَقَدْ خَلَتِ ٱلنُّذُرُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦٓ ﴾ اوپه تحقیق تېرشوی وو(نور) وېرونکي) (انبیاء) وړاندي له دغه (هوده) او وروسته له ده څخه ، دغه جمله اعتراضیه اوالله وربانديي ددې اخبارفرمايي چي ترهود(علیه السلام) له مخه او وروسته پخوا انبیاء تېرشوي دي) ﴿ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ﴾ چي عبادت بندګي مه کوه دهیچابې له الله ﴿ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ بېشکه زه وېرېږم پرتاسي باندي له عذابه دورځي لويي د(قیامت نه چي دوزخ دی) که موچېري دغیرالله عبادت وکړ) ﴿ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا ﴾ وويل: (هودته قوم

---

(۱) التسهیل ۴ /۴۴

(۲) دابن کثیرمختصر ۳ /۳۲۲

يې) آيا راغلې ته موږته چې وګرزوې موږ له معبودانو خپلو؟ دغه استفهام اومقصد ورڅخه تسفيه يعني دبلونکي ببعقلي ښودل دي اوداچې دوى ګواکي دغه بلنه نه پېژني ﴿ فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴾ پس راوړه موږته هغه (عذاب) چې له موږ سره يې وعده کوې که چېري يې ته له رښتيا ويونکو څخه ابن کثيروايي: دوى دعذاب ژرترژره راوستل غوښتل ځکه استبعاديې کاووچې هسې به نه وي ([1]) ﴿ قَالَ إِنَّمَا ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ وويل (هود خپل قوم ته) بېشکه همداخبره ده چې علم (په راتلود عذاب په)نزددالله دى (له ماسره يې علم نشته) ﴿ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ ﴾ اورسوم تاسي ته هغه څه (احکام) چې پرې رالېږلى شوى يم (له جانبه دالله)په هغوسره ﴿ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمًا تَجۡهَلُونَ ﴾ وليکن زه وينم تاسي يوقوم جاهل ناپوه (ځکه چې په زوره ځان ته ژرترژره عذاب غواړى) ﴿ فَلَمَّا رَأَوۡهُ عَارِضًا مُّسۡتَقۡبِلَ أَوۡدِيَتِهِمۡ ﴾ پس کله چې وليددوى هغه (عذاب په شکل د) يوې پلني وريځې مخ کونکى کندو فصلونو(کښتونو) ددوى ته (نوخوشحاله شول) ﴿ قَالُواْ هَٰذَا عَارِضٞ مُّمۡطِرُنَاۚ ﴾ وويل: دوى دغه يوه پلنه وريځ ده باران اورونکي پرموږباندي مفسرين کرام وايې: له عاديانوڅخه دېروخت باران اورېدل بندشوي وو اواوږده زمانه قحطي او وچکاليورباندي تېره شوي وه کله چې يې دغه پلنه وريځ وليدله خوشحاله شول چې دغه پلنه وريځ به باران واوروي ﴿ بَلۡ هُوَ مَا ٱسۡتَعۡجَلۡتُم بِهِۦۖ ﴾ (نو وويل هود: دوى ته چې دغه وريځ نه ده) بلکه داهغه عذاب دى چې تلواربه موکاووپه هغه (عذاب اوتفسيريې داسي بيان کړچې: ﴿ رِيحٞ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴾ يوباددى چې په ده کي دى عذاب دردناک) ﴿ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءِۭ بِأَمۡرِ رَبِّهَا ﴾ چې هلاکوي (اوله بېخه کاږي) هرڅيزپه حکم درب خپل(له سړيو، څارويواومالونوڅخه. ابن عباس وايي: لومړى چې بادپه عاديانوراغى سړيواوڅارويوته يې مخه کړه له ځمکي به يې پورته کول په فضاکي به يې چورلول لکه بڼه غوندي به ايسېدواوبيايه يې په ځمکه باندي ويشتل نودوى خپلوکورونوته ننوتل اودروازې يې په ځان پسي وتړلې نوبادېې دروازې ورماتي اووايستلې اودوى يې ووژل همدغه دالله وېناده چې فرمايي: ﴿ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيۡءِۭ بِأَمۡرِ رَبِّهَا ﴾ تدمېرهلاکت ته وايي په حديث شريف کي له عائشې صديقې رضوان الله عليهاڅخه روايت راغلى چې هغه وايي: کله چې به رسول الله صلى الله عليه وسلم وريځ يابادوليدو په مخ کي به يې ننبني معلومېدې مابه ورته ويل: اى رسول الله خلک چې کله وريځ ويني خوشحالېږي چې باران به پکي وي اوزه دي وينم چې ته کله وريځ ويني دناخوښي نښاني دي په څېره کي معلومېږي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: زه له دې څخه بېغمه نه يم چې عذاب به پکي وي يوقوم په بادهلاک شوى اويوقوم عذاب وليدو ويل يې: ﴿ هَٰذَا عَارِضٞ مُّمۡطِرُنَاۚ ﴾ ([2])

([1]) مختصرابن کثير ۳/ ۳۲۲

([2]) بخاري شريف.

﴿فَأَصْبَحُوا لَا يُرَىٰ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمْ﴾ بيا داسي وگرزېدل چي نه به شوليدلى مگر (خالي) كورونه ددوى (ځكه چي باد پرته له كنډو الوبل څه پرې اينبې نه وو) ﴿كَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْقَوْمَ ٱلْمُجْرِمِينَ﴾ همداسي (لكه چي موجزاء وركړه عاديانوته) جزاء وركوو مونږ قوم گنهگارانوته (چي ددوى په شان جرمونه كوي. امام رازي وايي چي مقصدله دې څخه دمكې دكفارو تخويف او وېرونه ده ځكه ورپسې فرمايي: (۱) ﴿وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ﴾ اوخامخا په تحقيق قدرت قوت وركړى وو مونږدوى ته په هغو څېزونوكي چي قوت قدرت مودركړى دى تاسي ته (اى قريشو) په هغه كي ﴿وَلَقَدْ مَكَّنَّٰهُمْ فِيمَآ إِن مَّكَّنَّٰكُمْ فِيهِ﴾ (ځيني مفسرين وايي چي) (ان) نافيه او د(ما) په معنادى يعني (اى دمكې خلگو) مونږ عاديانوته قدرت اوقوت وركړى ووچي تاسوته موندى دركړى ځكه چي عاديانوته موقوت، لوړوالى، جسامت او اوږدعمروركړى وو، دغه دمكې دخلگولپاره دتهديد په توگه خطاب دى (۲) ﴿وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَٰرًا وَأَفْـِٔدَةً﴾ اوگرزولي دي مونږ هغوى ته غوږونه اوستر گي اوزړونه (ترڅوچي دغه نعمتونه وپېژني اودمنعم په هكله وربانديي استدلال وكړي ﴿فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم مِّن شَىْءٍ﴾ بيادفع نكړوله دوى نه غوږونو(سماعت) ددوى اونه ستر گو (بصارت)ددوى اونه زړونو(بصيرت) ددوى هيڅ قدر(له عذابه) امام رازي وايي: معناداچي پردوى مودنعمتونودروازې پرانستلي وې غوږونه مو وركړي ووخودوى ددلائلوپه اورېدلوكي استعمال نكړل ستر گي مووركړي وې پندونه يې وربانديي ونه كتل اوزړونه مووركړي ووداالله په معرفت كي يې ونه كارول بلكه دغه گردشيان يې ددنيااولذتونولپاره په كار واچول نوخامخادغوهيڅ عذاب هم ترې منع نكړاى شو ﴿إِذْ كَانُوا۟ يَجْحَدُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ﴾ له دې جهته چي وو دوى چي انكاربه يې كاووپه دلائلود (قدرت) داالله (دغه دپخواني لپاره علت دى) اونازل شوپه هغوى هغه (عذاب)چي وودوى چي په هغه پوري به يې مسخرې كولې ﴿وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْقُرَىٰ﴾ (دمكې كفارولره يوبل تخويف دا:) اوخامخا په تحقيق هلاک كړي دي مونږهغه چي چاپېرله تاسي څخه دي له (اهل د) كليو څخه (اى دمكې والو) لكه عاديانو، ثموديانو، دسبابناراودلوط قوم مرادله كليوڅخه اهل دهغوى دى ﴿وَصَرَّفْنَا ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ اومكررموبيان كړي دي دلائل (دقدرت) لپاره ددې چي دوى بيرته راوگرزي (له كفره څخه) ﴿فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ قُرْبَانًا ءَالِهَةًۢ﴾ پس ولي مرسته ونكړه له دوى سره

---

(۱) امام رازي ۲۸/ ۲۹

(۲) ځيني مفسرينو ليكلي چي (ان) زائد توري دى اومعناداچي تاسوته موددوى په شان قدرت دركړى خودوهم قول چي (ان) نافيه شي بهتره دى ځكه مقصد خودادى چي دوى ترتاسوډېرقوي وو خوله هغه سره سره هم له عذابه ونه ژغورل شول ستاسوبه څه حال وي؟ اوداچي (ما) يې رانه وړه چي ويلي يې واى (فيما مكناكم) ترڅوچي دتكرارد روندوالى محسوس نشي.

هغو (بتانو) چي نيولي وودوی هغه (بتان) بې له الله لپاره د نژدېوالي (الله ته په زعم خپل) نورمعبودان (چي دوی شفاعتګران انګېرل ترڅوعذاب ورڅخه دفع کړي (لولا) دهڅولو لپاره اود (هلا) په معنادی چي دنفی معناورکوي يعني دوی ته يې مرسته ورنکړه اونه يې عذاب ورڅخه دفع کړ ﴿ بَلْ ضَلُّواْ عَنْهُمْ ﴾ بلکه ورک شول (بتان په وخت دعذاب کي) له دوی څخه، اوغوره خوداوي چي مرستندوی دتکليف په وخت کي په کارشي. ابوالسعودوايې: په آيت شريف کي پردوی باندي تهکم اواستهزاء دی لکه چي دامرسته نه ورکول په سبب ددې وي چي ځني ورک شوي دي[1] ﴿ وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴾ اودا (نيول دبتانو) ددوی دروغ دی اوهغه چي وو دوی چي له خپله ځانه به يې جوړول (پرالله) چي دغه بتان يې شريکان اودالله په وړاندي ددوی شفاعتګران دي) ﴿ وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ ﴾ او (يادکړه هغه وخت ای محمده!) کله چي وګرزول موږ تاته يوه ټولی له پېريانوڅخه چي غوږبه يې ايښود قرآن ته، بيضاوي وايې چي (نفر) هغي ټولګي ته وايې چي ترلس لږوي. روايت کاووشي چي دغه ټولګی هغه مهال چي رسول الله صلی الله عليه وسلم له طآئف څخه راستنېدو دوادی النخلة په مقام کي کله چي رسول الله په تهجدلمانځه کي قرآن لوستل دقرآن استماع وکړه[2] ﴿ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْ ﴾ پس کله چي حاضرشول دوی دې (قرآن) ته وويل دوی (پخپل مينځ کي ځينوځينونوروته) چُپ شئ تاسي (ای پېريانو قرآن ته) قرطبي وايې دغه دقريشي مشرکانولپاره توبيخ دی معناداچي پېريانوقرآن واورېدووراباندي ايمان يې راووړېدې وپوهېدل چي دغه دالله لوري دی مګرتاسويې نه منی اوپه کفرباندي ټينګ ولاړياست[3] ﴿ فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْاْ إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴾ بياکله چي تمام شو (تلاوت دقرآن) بيرته وګرزېدل خپل قوم ته وېرونکي (له عذابه که يې ايمان نه راووړ) امام رازي وايې چي دغه انذاريې پرته له ايمانه نشي کېدای ځکه دوی چي يوڅوک رابولي دغه بلنه يې ددې معنالري چي دوی پخپله ورباندي ايمان راوړی اوتصديق يې کړی دی[4] ﴿ قَالُواْ يَٰقَوْمَنَآ إِنَّا سَمِعْنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ ﴾ وويل دوی ای زموږ قومه بېشکه موږ واورېدواسي يوکتاب (خوندورباعظمته) چي له موسی وروسته نازل شوی دی (په پيغمبرباندي) ابن عباس وايې چي: پېريانودعيسی عليه السلام په هکله معلومات نه درلود[5] ﴿ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ پدې حال کي چي تصديق کونکی موافق دی له هغو (کتابونو) سره چي پخواله دې نه وو ﴿ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ

[1] دابوالسعودتفسير: ۵ /۶۹
[2] دبيضاوي حاشيه ۳ /۳۴۱
[3] دقرطبي تفسير ۱۲ /۲۱۰
[4] کبيرتفسير ۲۸ /۳۲
[5] ابوالسعودتفسير: ۵ /۷۰

﴿ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ لاره ښيي (دا قرآن) حق دين ته او سمي لاري ته ﴿ يَٰقَوْمَنَآ أَجِيبُوا۟ دَاعِىَ ٱللَّهِ وَءَامِنُوا۟ بِهِۦ ﴾ اى
زموږ قومه قبول كړئ تاسي قول د بلونكي د الله (محمد) او ايمان راوړئ په ده باندي (رسالت يې ومنئ)
﴿ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ﴾ چي مغفرت وكړي (الله) تاسي ته ګناهونه ستاسي ﴿ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾
او خلاص كړي تاسي (الله) له دردناک عذابه څخه ﴿ وَمَن لَّا يُجِبْ دَاعِىَ ٱللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾
او هغه څوک چي ونه مني (بلنه د) بلونكي د الله پس نه به وي عاجز كونكى (د الله په تېښته سره) په ځمكي
كي ﴿ وَلَيْسَ لَهُۥ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءُ ﴾ او نه به وي ده ته بې له الله هيڅ دوستان (چي د الله له عذابه يې وژغوري) 2
﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ دغه كسان په ښكاره ګمراهي كي دي، تردې ځايه پوري د پېريانو خبره پای ته
ورسېده وروسته الله د خپل قدرت او وحدانيت دلائل داسي بيانوي چي: ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ آيا نه ويني فكر نه كوي (منكران د بعث) چي بېشكه الله هغه (ذات) دى چي
پيدا كړي يې دي آسمانونه او ځمكه؟ (بې له پخواني مثاله) ﴿ وَلَمْ يَعْىَ بِخَلْقِهِنَّ ﴾ او نه دى ستړى شوى په
پيدا كولو د هغه كي ﴿ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْۦِىَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ قادر په دې باندي چي ژوندي كړي مړي؟ وروسته له
فنا او را پاڅوي يې وروسته له خاوري كېدلو) ﴿ بَلَىٰٓ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ بلكه ښه قادر دى بېشكه
دغه الله په هر څېز باندي (ښه قادر دى لكه چي پيدا كړي يې دي همداسي به يې را پاڅوي هم چي اراده
وفرمايي ﴿ وَيَوْمَ يُعْرَضُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ ﴾ او ياد كړه (اى محمده مشركانو ته) هغه ورځ چي وړاندي به
كړل شي په اور باندي هغه كسان چي كافران شوي دي (او ورته وبه ويل شي) ﴿ أَلَيْسَ هَٰذَا بِٱلْحَقِّ ﴾ آيا نه
وو دغه عذاب (چي تاسي يې ځكى) حق رښتيا ﴿ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَرَبِّنَا ﴾ نو وبه وايې دوى چي هو حق رښتيا دى
قسم دي وي زموږ په (عزت د) رب زموږ، دوى خپل كلام په قسم سره تأكيد كړ چي د خلاصون طمع لري.
امام رازي وايې چي په آيت كي مقصد پر دوى تهكم او ددوى په استهزآء باندي كوم چي د الله په وعدو
باندي به يې كولې توبيخ او دوى ته وعيد دى ځكه دوى به ويل ﴿ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ (۱) ﴿ قَالَ فَذُوقُوا۟
ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴾ فرمايي نو وڅكئ تاسي عذاب په سبب د هغه چي وى تاسي چي كافران
كېدلى ﴿ فَٱصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْعَزْمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ ﴾ نو صبر كوه ته (اى محمده) لكه چي صبر كړى
وو خاوندانو د عزم (ټينګ د دريدلو په حق) له رسولانو (هغوى چي د انبياوو مشاهيرو و لكه نوح، ابراهيم،
موسى او عيسى عليهم السلام ﴿ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ ﴾ او تلوار مه كوه (په غوښتلو د عذاب) دوى (قريشو) ته
(ځكه اور مرور باندي نازلېږي) ﴿ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ ﴾ ګوئيا دوى په

(۱) كبير تفسير ۲۸ / ۳۴

هغه ورځ کي چي وويني هغه (عذاب) چي وعده يې ورسره کول شوي ډيل نه دی کړی (په دنياکي) مګر يوساعت يوه ګړی له يوې ورځي څخه کله چي دعذاب سختوالی اواوږدوالی وويني ﴿ بَلَٰغٌ ﴾ دغه پندرسو نه (اوانذار) دی ﴿ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴾ نوآياهلاک به کړشي؟ (نه هلاکېږي) مګرقوم فاسقان سرغړونکي (له احکامود الله وتلي له طاعته).

تنبيه:

2 مفسرين کراموويلي چي پېريانانوبه آسماني خبري غلاکولې کله چي آسمانونه وڅورل شول نو ابليس وويل چي: دغه نوي خبره چي په آسمانونوکي پېښه شوه خامخاپه ځمکه کي کومه پېښه شوي ده نويې خپلي خبرلوڅي ټولی لښکري يوبل لوري ته واستولې نودنصيبين يوه ډله سپاره چي دپېريانو اشراف ووتهامې ته ولاړل کله چي بطن نخلې ته ورسېدل ويې ليدل چي رسول الله صلی الله عليه وسلم لمونځ کوي اوقرآن لولي غوږيې ورته ونيو اوځيني ځيني نوروته وويل: چي چُپ شئ کله چي رسول الله له لمانځه فارغ شونودوی ايمان راووړ اوخپل قوم ته دوېرونکوپه توګه ستانه شول هغوی يې ايمان راوړلوته وهڅول اوبياټولی ټولی پيغمبرعليه السلام ته راغلل اوهمدغه دالله جل جلاله داوينا ده چي فرمايي: ﴿ وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ ترپايه پوري.

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- دتعجيزصنعت لکه داچي ﴿ ٱئْتُونِى بِكِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ هَٰذَآ ﴾ دغه امراومرادورڅخه تعجيزدی.

۲- اشتقاقي جناس لکه: ﴿ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ ﴾ او ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٌ ﴾.

۳- دطباق صنعت لکه د ﴿ فَـَٔامَنَ ﴾ او ﴿ وَكَفَرْتُم ﴾ او ﴿ لِّيُنذِرَ ... وَبُشْرَىٰ ﴾ ترمينځ.

۴- ذکرد خاص وروسته له عام څخه چي پدې کلام کي راځي ﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ ﴾ او وروسته فرمايي ﴿ حَمَلَتْهُ أُمُّهُۥ كُرْهًا ﴾ دلته يې ذکرد خاص وروسته له عام څخه وفرمايوترڅوچي په هکله يې زياته پاملرنه اواهتمام وشي چي مور خورازياته حق داره ده.

۵- دطباق صنعت لکه داچي: ﴿ حَمَلَتْهُ .. وَوَضَعَتْهُ ﴾.

۶- دحصرصيغه چي داسي راځي: ﴿ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾.

۷- استعاره کله چي فرمايي: ﴿ وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ ﴾ درجات يې دمراتبولپاره استعاره کړی دی کومي چي دښکمرغه اوبدمرغه کسانولپاره ټاکلي شوي دي.

۸ - ايجازبالحذف کله چي له توبيخ اوتقريع سره يوځای وي لکه دالله جل جلاله په دې ويناکي ﴿ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَٰتِكُمْ فِى حَيَاتِكُمُ ٱلدُّنْيَا ﴾ يعني دوی ته به وويل شي چي: وړي دی تاسي ....

۹ – داطناب صنعت دلفظ په تکرارسره چي فرمايي: ﴿ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَأَبْصَـٰرًا وَأَفْـِٔدَةً ﴾ بيازياتوي فرمايي: ﴿ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ أَبْصَـٰرُهُمْ وَلَآ أَفْـِٔدَتُهُم ﴾ دغه دزياتي تقبيح اوپردوی باندي دشناعت ليکلو په سبب راغلی دی.

۱۰ – دفواصلو توافق چي دکلام په ښايست اوښه تناسق کي ستره ونډه لري اوبديعي محسناتو څخه يودی چي داسي يې لولو: ﴿ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ...... وَصَرَّفْنَا ٱلْـَٔايَـٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ...... وَذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴾ ترپايه پوري

دالله جل جلاله په مرسته دالأحقاف سورت تفسيربشپړشو.

***

دمحمد سورت مدني اواته دېرش آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دمحمدسورت له مدني سورتونوڅخه يودی اوتشريعي احکام څېړي پدې سورت کي دقتال، بنديانو، غنيمتونو اومنافقينو احوال راځي اوهغه محورچي سورتورباندي راڅرخي (في سبيل الله جهاددی).

سورت په عجيبه توګه پيلېږي هغه داچي په زغرده دالله اودالله درسول ددښمنانو په وړاندي چاچي له اسلامه سره جګړه کړي پيغمبرعليه السلام يې دروغجن ګڼلی اودمحمدي بلني اودعوت په وړاندي دخلګوخنډجوړشوی دی دجنګ اعلان فرمايي چي: ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ أَضَلَّ أَعْمَـٰلَهُمْ ﴾ دآيتونو ترپايه.

ورپسې مسلمانانوته دکفارودجګړې امرکوي ترڅودمجاهدينو په توروورېبل شي اودځمکي مخ يې له پليتي څخه پاک شي هغوی ته کوم زور اوځواک پاتي نشي اوبيايې له زياتووژلوڅخه دبندي کولو لورته رابولي چي: ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا۟ ٱلْوَثَاقَ ﴾ دآيتونو ترپايه بيادعزت اوبرياليتوب لاري ښيي اودالله دمؤمنوبندګانودنصرت لپاره شرطونه ټاکي هغه دا چي په شريعت منګولي ولګوي اوددين نصرت وکړي فرمايي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تَنصُرُوا۟ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴾ دآيتونو ترپايه

همداسي دمکي کفارولپاره دپخوانيوامتونودسرغړونکوجبابره وومثالونه راوړي چي الله څرنګه
دطغيان اوګناه په وجه هلاک کړل ؟ فرمايي: ﴿ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ
دَمَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلِلْكَافِرِينَ أَمْثَالُهَا ﴾ .

سورت په تفصيل سره دمنافقينوصفات ښيي چي دوی دمسلمانانواواسلام لپاره زيات خطرناک دي نوددوی ناوړه صفات اوخويونه راسپړي چي خلګ اومؤمنان ددوی له فريبونواوچلونو څخه ووېروي ﴿ وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَاهُمْ ﴾ دآيت ترپايه

په پای کي سورت مؤمنان دعزت اونصرت لوري ته رابولي چي دغه په في سبيل الله جهادکي موندل کېږي هله چي مسلمانان دکفارو اوشريروقوتونوپه وړاندي ضعف اوسستي ونکړي همداسي له دښمنانوسره دسولي له کولومؤمنان وېروي او ورته په ډاګه کوي چي دنيوي ژوندفاني دی هغه چي دالله په نزدشته هغه غوره دی فرمايي: ﴿ فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ﴿٣٥﴾ إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴾ دسورت ترپايه پوري

همداسي سورت جهادته په بلنه پای ته رسېږي لکه څرنګه چي ورباندي پيل شوی هم وو ترڅودمؤمنانوارادې اوتکلونه وهڅوي اودسورت پيل اوپای په ښکلي تناسق سره تړون اوپېيلتوب ومومي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ أَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ ﴿١﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ
وَهُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴿٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَأَنَّ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّبَعُوا
الْحَقَّ مِن رَّبِّهِمْ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ لِلنَّاسِ أَمْثَالَهُمْ ﴿٣﴾ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ
فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ذَٰلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَانتَصَرَ مِنْهُمْ وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَ بَعْضَكُم بِبَعْضٍ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي
سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ﴿٤﴾ سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴿٥﴾ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴿٦﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا
اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴿٧﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ ﴿٨﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأَحْبَطَ
أَعْمَالَهُمْ ﴿٩﴾ ۞ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ دَمَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلِلْكَافِرِينَ أَمْثَالُهَا ﴿١٠﴾ ذَٰلِكَ
بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿١١﴾ إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن
تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿١٢﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن
قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ أَهْلَكْنَاهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴿١٣﴾ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِ كَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُم

﴿ مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ فِيهَآ أَنۡهَٰرٞ مِّن مَّآءٍ غَيۡرِ ءَاسِنٖ وَأَنۡهَٰرٞ مِّن لَّبَنٖ لَّمۡ يَتَغَيَّرۡ طَعۡمُهُۥ وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ خَمۡرٖ لَّذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ
وَأَنۡهَٰرٞ مِّنۡ عَسَلٖ مُّصَفّٗىۖ وَلَهُمۡ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَمَغۡفِرَةٞ مِّن رَّبِّهِمۡۖ كَمَنۡ هُوَ خَٰلِدٞ فِي ٱلنَّارِ وَسُقُواْ مَآءً حَمِيمٗا فَقَطَّعَ أَمۡعَآءَهُمۡ ﴿١٤﴾
وَمِنۡهُم مَّن يَسۡتَمِعُ إِلَيۡكَ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُواْ مِنۡ عِندِكَ قَالُواْ لِلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ ﴿١٥﴾
قُلُوبِهِمۡ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡ ﴿١٦﴾ وَٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ زَادَهُمۡ هُدٗى وَءَاتَىٰهُمۡ تَقۡوَىٰهُمۡ ﴿١٧﴾ فَهَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗۖ
فَقَدۡ جَآءَ أَشۡرَاطُهَاۚ فَأَنَّىٰ لَهُمۡ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ ذِكۡرَىٰهُمۡ ﴿١٨﴾ فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ
وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مُتَقَلَّبَكُمۡ وَمَثۡوَىٰكُمۡ ﴿١٩﴾ ﴾ محمد: ۱ ــ ۱۹

لغتونه:

(كفّر) ليري اومحو كړي(أثختنموهم) كله چي ډېر مووژل او بنديان مو كړل په المصباح كښ وايې چي (أثخن) ددښمن زياتو وژلو ته وايې (¹)(الوثاق) هغه تړونكي يا رسۍ ته وايې چي ورباندي تړل كېږي(منا) بې له فديې دبندي خوشي كول(أوزارها) درندې وسلې آلات ويل كېږي (وضعت الحرب أوزارها) يعني جګړه پاى ته ورسېدله أوزار په اصل كي درندې وسلې او آسونو ته وايې (تعسا) هلاكت او بدمرغي (أسن) بدبويه متغير(حميما)ايشېدلي (أنفا) اوس، لكه چي دوى وايې :(استأنف الامر) كله چي بې پيل كړي (أشراط) نښې اوعلامې.

تفسير:

﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ (هغه كسان چي كافران شوي دي او منع كړي يې دي(خلګ او منع يې راوړي ده له) لاري دالله (اسلام) نه) دغه دالله تعالى له لوري دده اودده ددين له دښمنانو سره دجنګ اعلان دى ﴿ أَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴾ ابته كړي دي(الله) نيک عملونه ددوى ، چي هيڅ ثواب ورباندي مرتب نه دى مراد له ابته كولوڅخه ضائع كول دي يعني ددوى نيک عملونه الله پاک باطل كړي لكه چي دوى به خلګو ته ډوډۍ وركولې خپلوي به يې پاللې او دمېلمنو اكرام به يې كاوو دغه الله خراب كړي دي. زمخشري وايې چي په حقيقت كي داعمالو اضلال ورک كول او ضائع كول دي څوک به نه وي چي ورباندي ثواب وركړي او يا يې څني قبول كړي لكه ورک شوى اوښ چي خاونديې نه وي چي ويې پالي او ويې ژغوري او مراد له عملونو څخه هغه نيک اعمال دي چي دكفر په وخت كي يې كړي وي هغه چي دوى به مكارم الاخلاق بلل اوله خپلوانو سره صله رحمي ، دمېلمانه عزت كول دهمسايه (ګاونډي) حقوق پرځاى كول بنديان خوشي كول اونور پكي شامل وو(²) ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ او هغه كسان چي ايمان يې راوړى دى او كړي يې دي ښه (عملونه) يعني صادق اورښتوني ايمان اوصالح

(¹) المصباح المنير مادة(ثخن).
(²) البيت اللاعشي القرطبي ۱۲ / ۲۲۹

عملونه يې سره يوځای کړي وي ﴿ وَءَامَنُوا۟ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ ﴾ او ايمان يې راوړی وي په هغه (قرآن) چي په محمد (عليه السلام) نازل شوی دی (چي هيڅ شک او شبه پکي نه کوي دغه عطف دخاص پرعام باندي راغلی دی او باريکي پکي داده چي تعظيم يې وشي او په هکله يې اهتمام ترسره شي او دا افاده کړي چي ايمان پرته له دې څخه نه بشپړېږي (۱) څکه ورپسي زياتوي چي ﴿ وَهُوَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ﴾ او هغه حق (کتاب) دی له (نزده د) ربه ددوی (چي د الله کلام او منزله وحی ثابته ده له جانبه د الله دا جمله اعتراضيه او د سابق لپاره تاکيد راغلی ده ﴿ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ﴾ وبه رژوي (الله) له دوی څخه گناهونه ددوی (چي پخوايې کړي وي) ﴿ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴾ او ښه به کړي (الله) حال ددوی (په دين او دنياکي) ور پسې الله تعالی د کفارو دضلالت او دمؤمنانو دهدايت سبب هسي فرمايې چي: ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱتَّبَعُوا۟ ٱلْبَـٰطِلَ ﴾ دغه (د کفارو داعمالو تخريب) په سبب ددې دی چي بېشکه هغه کسان چي کافران شوي دي متابعت يې کړی دی د باطل (شيطان او هغه يې په حق باندي غوره کړی دی) ﴿ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّبَعُوا۟ ٱلْحَقَّ مِن رَّبِّهِمْ ﴾ او بېشکه هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی متابعت يې کړی دی دحق (قرآن) له جانبه درب ددوی (سبب دمغفرت دبديو يې هم دادی) ﴿ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ أَمْثَـٰلَهُمْ ﴾ همداسي (په مثل ددې) بيان بيانوي الله خلگو ته مثالونه (احوال) ددوی (له مؤمنانو او کافرانو څخه په ښکاره بيان او کوټلي برهان سره ترڅو چي دوی پند او عبرت واخلي ، وروسته له دغه دجنگ له اعلانه الله جل جلاله مؤمنانو ته ددوی سره په جهاد کولو داسي امر کوي چي: ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ ﴾ نو کله چي مخامخ شوی (په جنگ کي) له (هغو کسانو) سره چي کافران شوي دي نو ووهي وهل دورمېږونو (دهغو يعني په تورو يې ووهئ. په التسهيل کي وايې: چي په اصل کي داسي ووچي: (فاضربوا الرقاب ضربًا) بيا فعل حذف شوی او مصدر يې پرځای باندي درېدلی دی مقصد ددوی وژل دي خو دورمېږونو په وهلو څني تعبير شوی دی څکه چي ورمېږونه پرې کول غالبا دوژلو وصفت دی (۲) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا۟ ٱلْوَثَاقَ ﴾ ترهغه پوري چي ښه ډېر مو ووژل دوی او پرې غالب شوی (نو وترئ دوی) بيا سخت محکم کړئ ترل (ددوی چي د رڅخه ونه تښتي). زمخشري وايې چي په دې عبارت د ﴿ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ ﴾ کي هغه شدت او غلظت دی چي د قتل په کلمه کي نشته څکه چي دلته دهغه وژلو انځور دی چي په خورا سخت شکل وژل شي هغه دا چي ورمېږيې په توره له تن څخه والوزول شي (۳) او د دغه غلظت او سختي په زياتوالي کي نور داسي فرمايې ﴿ فَٱضْرِبُوا۟ فَوْقَ ٱلْأَعْنَاقِ وَٱضْرِبُوا۟ مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴾ الأنفال: ۱۲ او د (اثخنتموهم) معنا ډېر وژل او زيات

---

(۱) دصاوي حاشيه ۴/۸۱
(۲) التسهيل ۴/۴۲
(۳) الكشاف ۴/۲۵۰

غلظت کول دی او(وثاق) هغه څه ته ویل کېږي چې په هغه سره تړل کېږي لکه رسۍ او پړی (۱) ﴿ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً ﴾ پس بیا یا احسان ورسره وکړئ وروسته له بندي کولو او تړلو یې او یا تاسې فدیه کړئ دوی فدیه کول (په عوض کې یې مال واخلئ او یا یې په مسلمانانو بندیانو تبادله کړئ خو دا په هغه وخت کې چې ددوی شوکت مومات کړی وي زیات مو ژوبل کړي او وژلي وي ﴿ حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ﴾ (جنګ ورسره وکړئ) ترهغه پوري چې کېږدي (جنګیالان د)جنګ وسلې خپلې، او کفارمات شي د اسلام سرلوړي او د کفر پوپناکېدل ترسره شي ﴿ ذَٰلِكَ وَلَوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَٱنتَصَرَ مِنْهُمْ ﴾ دغه (حکم د الله په دوی کې) دی او که اراده فرمایلي وای (الله) د بدل اخیستلو) نو خامخا به (الله)بدل اخیستی وو له دوی څخه (بې له جنګه) هغوی به یې هلاک کړي وو او تاسو به یې نه مکلف کولای ای مؤمنانو اچې ورسره جګړه وکړي.
ابن کثیروایي : معنا دا چې که الله غوښتي وای دوی به یې له خپله نزده په عذاب اخته کړي وای (۲) ﴿ وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَا۟ بَعْضَكُم بِبَعْضٍ ﴾ ولیکن (امریې درته وکړ په جهاد سره) لپاره ددې چې وازمویې (الله) ځیني ستاسو په ځینو نورو (په جنګ کې) یعني الله تاسو ته له دوی سره په جهاد کولو ددې لپاره امرو کړ چې ستاسو ایمان او ثبات وازمویي صادق او رښتوني له نورو جلا کړي لکه چې الله فرمایې:
﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ ٱلْمُجَٰهِدِينَ مِنكُمْ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَنَبْلُوَا۟ أَخْبَارَكُمْ ﴾ او ددې لپاره چې مؤمنان په کافرانو او کافران په مؤمنانو وازمويي نو هغه چې له مؤمنانو څخه ووژل شي جنت ته ولاړ شي او څوک چې له کفارو ووژل شي هغه دوزخ ته لاړ شي نو څکه فرمایې: ﴿ وَٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ او هغه کسان چې د الله په لاره کې وژلي شوي دي پس له سره به (الله) ضائع نکړي عملونه ددوی (بلکه وده به ورکړي او زیات به یې کړي) ﴿ سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴾ ژر به (الله) سمه لاره وښیي دوی ته (په دنیا او آخرت کې) او ښه به کړي حال ددوی (په دارینو کې) د ښه عمل توفیق به ورکړي جنت ته به یې بوزي ﴿ وَيُدْخِلُهُمُ ٱلْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴾ او داخل به کړي (الله) دوی په جنت کې چې معلوم کړی دی (الله) دغه (جنت) دوی ته (پداسې ډول چې هریو به خپل کورپکې پېژني او هغه ته به ورځي مجاهد وایې هرڅوک به خپل هستوګنځي ته داسي ورځي ته به وا چې همدلته د پیدا ینښت له وخته او سېږي هیڅکله به ورڅخه نه خطا کېږي (۳) په حدیث شریف کې راځي : زما دې په هغه ذات سوګند وي چې زما روح یې په ید قدرت کې دی چې جنتیان به د جنت کور ته د دنیا تر کور سم سیخ ورځي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تَنصُرُوا۟ ٱللَّهَ يَنصُرْكُمْ ﴾ ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی(یعني ای مؤمنانو) که مددګاري وکړی تاسي له(دین د الله اورسول د)الله سره نو مدد به وکړي (الله) له تاسي سره (په دښمنانو ستاسي به غلبه درکړي ﴿ وَيُثَبِّتْ

---

(۱) الکشاف ۴/ ۲۵۱
(۲) البحر المحیط ۸/ ۷۵
(۳) د بخاري شریف د حدیث یوه ټوټه ده.

أَقْدَامَكُمْ ﴾ اوثابت به کړي قدمونه ستاسي په ځای د جنګ کي ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْسًا لَّهُمْ ﴾ او هغه کسان چي کافران شوي دي پس هلاک والی شرمول دي دوی ته ، (دغه دوی ته ښېرا کول دي يعني دوی دي هلاک او شرمېدلي وي ﴿ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ ﴾ او خراب عبث به کړي (الله) نېک عملونه ددوی (ځکه چي هغه يې د شيطان په لاري کي ترسره کړي وو ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ ﴾ دغه (هلاکوالی او ددوی د عملونو تخريب په سبب ددې دی چي) بېشکه هغوی بد ګڼلي دي هغه (کتب او شرائع چي) الله نازل کړي دي) زمخشري وايي: معنادا چي دوی بد ګڼلي دي قرآن او هغه تکاليف او احکام چي پکې دي ځکه دوی په نفسي خواهشاتو کي ډوب او په خوندونو او ملذاتو کي غوپه دي دغه ورته درانه او سخت ښکاري ([1]) ﴿ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ﴾ پس (الله) عبث کړل نېک عملونه ددوی ځکه چي شرط د قبلېدا د عملونو ايمان دی دی او دوی ايمان نلري شرک خود عملونو ضائع کونکی دی([2]) بيا الله دوی هسي ويروي فرمايي: ﴿ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ آيا پس نه ګرزي دوی په ځمکه کي پس چي وګوري دوی (په کتلو د عبرت) چي څرنګه وه آخره خاتمه د هغو کسانو چي پخواله دوی وو لکه عاديان ، ثموديان د لوط قوم او نور مجرمان چي عذاب ورباندي نازل شو او کنډوالې يې کيسې کوي ﴿ دَمَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ﴾ هلاک را و وست الله په دوی باندي يعني الله له بېخه وايستل مال، متاع اولاد ددوی ، کوته هلاک شول او دوی تر يې لاندي شول دغه عبارت چي ﴿ دَمَّرَ عَلَيْهِمْ ﴾ دی تر هغه چي (دمرهم) ډېر معنادار دی ځکه چي داسي معنا ورکوي چي الله دوی سره له مالونو اولادونو او هستوګنځيو هلاک کړل هلاکت يې داسي ورباندي راپرېوست چي هيڅ څېزهم ورځخه ونه ژغورل شول ﴿ وَلِلْكَافِرِينَ أَمْثَالُهَا ﴾ او شته لپاره د کافرانو مثلونه د دغه سخت عذاب او بد انجام چي پخوانيو ته ورکول شوي وو) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ﴾ دغه (نصرت د مؤمنانو او هلاک د کافرانو په سبب ددې دی چي) الله دوست د هغو کسانو دی چي ايمان يې راوړی دی او بېشکه چي نشته کافرانو لره هيڅ دوست مددګار (چي فريادي يې واوري وروسته له دې الله د دوارو ډلو حال داسي بيانوي چي ﴿ إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴾ بېشکه الله به داخل کړي هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) په جنتونو کي چي بهېږي به له لاندي (دونو او ماڼيو) د هغو وياڼې (داسي

([1]) الکشاف ۸/۷۵

([2]) په الظلال تفسير کي ليکي چي ابتد کول دنېکو اعمالو د قرآني انځوروني په لړکي يو تصوير او انځور دی هغه داچي (حبوط) د ځاروبو د ګېډي پړسېدلو ته وايي کله چي زهرجن نبات وخوري او تېندشي چي بالآخره له همدې ځخه مري او هلاکېږي همداسي دغه کفار ددوی عملونه وپړسېږي او بيا هلاک اوله مينځه لاړ شي دغه انځور او دغه حرکت د هغه چا له حال سره موافق دی چي هغوی د الله نازل احکام بد ګڼي او بيا پخپلو پړسېدلي عملونو لکه د ځاروبو پړسېدلی لړمونونه چي زهرجن نبات (وابنه) وخوري وياړي. ظلال القرآن.

نعمتونه به پکې وي چي نه به سترګو ليدلي ،نه غوږو اورېدلي او نه به هم د چا په زړه باندي تېرشوي وي ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ ٱلْأَنْعَٰمُ ﴾ (او هغه کسان چي کافران شوي دي (لږ) نفع اخلي دوی (په دنياکي) اوخوراک کوي لکه چي خوراک کوي چارپايان) يعني کافران په دنياکي په خپلو شهوتونو او لذائذو نفع اخلي او لکه چارپايان غوندي خوراک کوی دوی، ... ته له [illegible]

ځه پروانکوي ﴿ وَٱلنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴾ او اور (د دوزخ) ځای دورتلو (او كوزه او استوګنځی) دی د دوی له. زمخشري وايې مقصد دا چي دوی لږ موده د دنيا په متاع باندي ګټه اخيستونکي دي خوراک کوي لکه څاروي خو د عاقبت سوچ نکوي چي حلالول د دوی انتظار کوي همدا رنګه اور د کفارو لپاره هستوګنځی دی (١) بيا الله پاک خپل پيغمبر عليه السلام ته داسي تسليت ورکوي چي ﴿ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرْيَتِكَ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَتْكَ ﴾ او ډېر له (أهل د) کليو نه چي هغوی به ډېر سخت محکم وو له جهته د قوت نه له (اهل د) کلي ستا نه هغه (کلی) چي ته يې تړې ايستلی يې (ای محمده اچي مکه ده) (٢) ﴿ أَهْلَكْنَٰهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴾ هغوی مو هلاک کړل پس نه وو هيڅوک مدد کونکی له هغوی سره (په دفع د عذاب کي) همداسي به له د غو سره چلند وکړ وابن عباس وايې : کله چي رسول الله له مکې څخه ووت او په غار کي پټ شو مدينې ته يې د هجرت تکل درلود مکې ته يې وکتل او بيا يې وفرمايل : ببشکه (خدايږو) چي ته تر ګردو ښارونو الله ته غوره او محبوبه يې او ماته هم تر ګردو ښارونو محبوبه او غوره يې که ستا اهل زه در څخه ايستلی نه وای زه به هيڅکله هم تللی نه وای نو د غه آيت نازل شو (٣) ﴿ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ آيا هغه چي وي په ښکاره حجت (لاري) له جانبه د رب خپل) يعني هغه چي د خپل دين د چارو په هکله بصيرت، دليل، ثبات او يقين لري ﴿ كَمَن زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ ﴾ په شان د هغه دی چي ښايسته کړی شوی دی ده ته ناکاره عمل د ده ﴿ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهْوَآءَهُم ﴾ او متابعت يې کړی وي د خواهشاتو خپلو ؟ (بلکه سره برابر نه دی د غه د جمع په صيغه د معناد مراعات کولو لپاره راغلی دی مفسرين کرام وايې چي: مقصد له ﴿ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ څخه رسول الله صلى الله عليه وسلم او له ﴿ زُيِّنَ لَهُۥ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ ﴾ څخه ابوجهل او قريشي کفار دي او عام دی حکم يې هر هغه چاته چي د الله عبادت کوي او هغه چي د خپل نفس او خواهشاتو عبادت کوي شامل دی څکه يې وروسته په سترتوپيرسره مثال راوړي چي هغه د جنت او دوزخ مثال دی ﴿ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ مثل صفت بيان (عجيب الشان) بيان د جنت هغه چي له پرهيزګارانو سره يې وعده کړی شوي ده (او متقيانو ته تيار شوی دی) ﴿ فِيهَآ أَنْهَٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ ﴾ په هغه کي ويالې دي له اوبو چي بد خوندي به نه وي (نه به بدلېږي بوی د هغو) ابن مسعود ﷺ وايې چي

---

(١) د کشاف تفسير ۴ /۲۵۳

(٢) کلام د مضاف په حذف سره دی يعني (اهل د کلي) او دغه مشهور مجاز دی.

(٣) د جمل حاشيه په جلالين باندي ۴ /۱۴۵

دجنت ويالې دمشكو له غره څخه رابهېږي (۱) ﴿ وَأَنْهَٰرٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُۥ ﴾ او ويالې دي له شيدوچې نه به وي متغيري (بلكه صافه اوخوندوره ده)مزه دهغو ،يعني دشيدوبهانده ويالې به وي چې خوراسپيني خوږې اوپېروي (سرشېر) درلودونكي به وي نه به داوږده واټن په سبب تروېږي اونه به هم لكه ددنياشيدې خوساكېږي، په يومرفوع حديث شريف كي راځي چې داشيدې به له غولانځوڅخه نه وي راوتلي (۲) ﴿ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴾ او پيالې دي له شرابوچې مزه وركونكي دي (هغه) څښونكوته (څكه چې) ﴿ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴾ اوداچې مزه وركونكي يې وستايلې معناداچې ددنيادشرابو په شان بدخونده نه دي چې پرته له فاسد مزاجه سړي بل هرچاته خوندورنه وي اودآخرت شراب به خوندوربوى اومزه دارخوندلري جنتيان به يې يوازي دمزې اخيستلولپاره په سراړوي ﴿ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ﴾ اوويالې دي له شاتو(ګبين) صفاكړي شوو (له خيريوڅخه) چې دمچيوفضلات اوشمعي موادبه پكې نه وي (۳) ﴿ وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ ﴾ اوشته دوى ته په دغه (جنت) كي له هرراز مېوو. دبيضاوي په حاشيه كي ليكي داچې مېوې يې وروسته له مشروباتويادي كړې دې ته اشاره ده چې دجنت مېوې به هم يوازي دلذت لپاره خوړلى شي نه داړتياوضرورت لپاره (۴) ﴿ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ ﴾ اومغفرت له طرفه درب ددوى) يعني پر دغوهسي نعمتونوسربېره بل روحي نعمت هم وركولى شي چې هغه دالله له لوري دوى ته له رحمت او رضوان سره مغفرت اوبښنه ده. په حديث شريف كي راځي: چې زه به تاسوته خپله رضادركړم او هيڅكله به دربانديي نه غصه كېږم. صاوي وايې په جنت كي به چې جنتيان څه خوري ياڅښي په خلاف ددنياوي خوراك، څښاك ، حساب اوعذاب به يې نه وي (۵) ﴿ كَمَنْ هُوَ خَٰلِدٌ فِى ٱلنَّارِ ﴾ (آيادغه څښتن دنعمتونو) په شان دهغه دى چې تل به وي په اورددوزخ كي؟ استفهام انكاري دى يعني سره برابرنه دي هغه چې په تلپاتي نعمتونو كي وي اوهغه چې همېشه ددوزخ په اوركي وي ﴿ وَسُقُوا۟ مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴾ او ورڅښولى به شي پرې اوبه ډېري تودې پس پرې به كړي (توته توته به كړي دغه اوبه) كولمې ددوى (له ډېره ايشېدلوڅخه) مفسرين كرام وايې: اوبه به دومره زياتي ايشېدلي وي چې كله ورنژدې شي مخونه به يې.وربت كړي دسرونوپټوكي اوپوستوكي به يې ولوېږي كله چې يې وڅښي كولمې به يې له مقعده توى كړي (۶) كله چې الله دكفارو حال بيان كړ ورپسې يې دمنافقانوهسي يادونه وكړه ﴿ وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ﴾ اوځيني له دغوكفاروڅخه هغه دي چې تاته غوږ

---

(۱) دابن كثيرمختصر ۳ /۲۳۲

(۲) نفس المرجع.

(۳) دابوالسعودتفسير ۵ /۷۴

(۴) شيخ زاده ۳ /۳۴۸

(۵) دصاوي حاشيه ۴ /۸۴

(۶) دقرطبي تفسير ۱۶ /۲۳۷

نیسي (ای محمده !) ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا خَرَجُوا۟ مِنْ عِندِكَ ﴾ ترهغه پوري هرکله چي بهروزي دوی له نزده دتاڅخه ﴿ قَالُوا۟ لِلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ مَاذَا قَالَ ءَانِفًا ۚ ﴾ نو وایې هغوکسانوته چي علم ورکړی شوی دی (له اصحاب کراموڅخه لکه ابن عباس ، ابن مسعوداونور...) څه وویل : (محمد) اوس په دې ساعت کي. ابن کثیروایې چي: الله تعالی دمنافقانودبېعقلي اوناپوهي اخبارفرمایې چي دوی به درسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلس کي کښېناستل اودهغه خبري به یې اورېدلې کله چي به پاڅېدل اووتل نوبه یې صحابه علماوو ته ویل چي اوس محمد ﷺ څه وویل؟ دوی نه پوهېدل اونه یې ورته پام کاوو. ﴿ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾ دوی هغه کسان دي چي مهروهلی دی الله په زړونو ددوی (چي په کفر ټینګ ولاړدي) ﴿ وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَهْوَآءَهُمْ ﴾ اومتابعت کړی دوی دهواوو خپلو (په نفاق کي) ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْا۟ زَادَهُمْ هُدًى وَءَاتَىٰهُمْ تَقْوَىٰهُمْ ﴾ اوهرهغه کسان چي سمه لاره یې موندلي ده زیات کړی دی دوی ته (الله) هدایت بصیرت (اوسمه لاره) او ورکړي یې ده دوي ته (الله) پرهیز ګاري ددوي، امام فخررازي وایې کله چي الله ددې یادونه وکړه چي منافق اوري خونفع نه اخلي استعاده کوي استفاده نه کوي نوبې ورپسي زیاته کړه چي دمؤمن حال دهغه منافق په خلاف دی څکه چي کله واوري تربې ګټه اخلي اووربانديي پوهېږي پخپل علم باندي عمل کوي اوپه دې کي دمنافق د عذرنه منل نغښتي څکه که چېري هغه ووایې چي زه دخبري دغموض اوابهام له کبله وربانديي ونه پوهېدم نودده تردیدهسي کېږي چي دادی مؤمن وربانديي وپوهېدواو عمل بې وکړدغه ددوی د زړونوړوندوالی دی دمطلب پټ والی اوابهام نه دی (۱) ﴿ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً ۖ ﴾ پس انتظارنه کوي دوی مګرد قیامت چي رابه شي دوی ته ناڅاپه (او دوی به ترې غافل اوخطاوتلي وي) ﴿ فَقَدْ جَآءَ أَشْرَاطُهَا ۚ ﴾ پس په تحقیق راغلي دي نښې علامې (د قیامت) چي یوه یې هم درسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت دی ﴿ فَأَنَّىٰ لَهُمْ إِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرَىٰهُمْ ﴾ پس بیاڅرنګه به (نفع ورسوي) دوی ته هغه وخت چي راشي دوی ته (قیامت) پنداخیستل توبه ایستل ددوی؟ ﴿ فَٱعْلَمْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ (نوپوه شه (ای مخاطبه !) شان دادی چي نشته هیڅ برحق معبود مګریوازي الله دی) یعني ای محمده په هغه علم چي ته یې دالله په وحدانیت لرې ثابت اودائم اوسه) ﴿ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتِ ۗ ﴾ اوبښنه غواړه (له الله) دخپلي ګناه اودپاره دمؤمنانوسریو اومؤمنانوښځو ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَىٰكُمْ ﴾ اوالله ته معلوم دی ځای دګرزېدلوستاسي (په دنیا کي) اوځای دهستوګني ستاسي په (آخرت کي) نودآخرت لپاره دتوښې برابرولوتیاری ونیسئ.

(۱) کبیر تفسیر ۲۸/ ۵۸

الله تعالى فرمايي:

﴿وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ۖ فَإِذَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ ۙ رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي
قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٠﴾ طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ ۚ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ
فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿٢١﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾
أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ إِنَّ
الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ
قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ ۖ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴿٢٦﴾ فَكَيْفَ إِذَا
تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ ﴿٢٧﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ وَكَرِهُوا
رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ﴿٢٨﴾ أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخْرِجَ اللَّهُ أَضْغَانَهُمْ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ نَشَاءُ
لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَاهُمْ ۚ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ ﴿٣٠﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ
مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ ﴿٣١﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَىٰ
لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ ﴿٣٢﴾ ۞ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ
﴿٣٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ مَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ﴿٣٤﴾ فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ
وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ﴿٣٥﴾ إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ
وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴿٣٦﴾ إِن يَسْأَلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا وَيُخْرِجْ أَضْغَانَكُمْ ﴿٣٧﴾ هَا أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تُدْعَوْنَ
لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِ ۚ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَاءُ ۚ وَإِن
تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُم ﴿٣٨﴾﴾ محمد: ٢٠ ـ ٣٨

مناسبت:

دسورت پيل دکافرانوپه احوال بيانولوشوی وروسته دمؤمنانوپه هکله خبري اوبيادمنافقانو حالات څېړل شوي اودسورت زياتره برخه ددوی په هکله دی ځکه چي همدادوی داسلام اومسلمانانو لپاره ورانونکی خطرپېښوي دلته آيتونه له جهادة غږېږي اودجهادپه هکله دمنافقانودريزښيي.

لغتونه:

(سوّل) ښايسته کړي دي(أضغانهم) پټي کينې ددوی. جوهري وايې (ضغن) او(ضغينة)کينې ته ويل کېږي چي حقديې بولي[1] (سيماهم) نښي ددوی (السلم) سولي اوربندته وايې (يحفكم) الحاح اواصرارکوي پرتاسوباندي (يتركم) کموي ستاسي.

---

(1) صحاح مادة(ضغن).

تفسير:

﴿ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ﴾ او وايي هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی ولي نه نازل وه شي يو سورت (دقرآن په باب دجهاد له کفاروسره ، دغه يې دشوق اودثواب دزيات حرص لپاره تمنا کوله ﴿ فَإِذَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا ٱلْقِتَالُ ﴾ نو پس کله چي نازل کړشي يو سورت محکم او يادکړی شوی وي په هغه کي جنگ (يعني چي دقتال حکم پکي ظاهراوڅرگندوي. قرطبي وايې : (محکمة) معناداچي نه وي منسوخ شوی اوقتاده وايې هرسورت چي پکې دجهادحکم وي هغه محکم دی اودغه په منافقينوباندي ترگردوسخت وي (۱) ﴿ رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ﴾ نو وينې به ته هغه کسان چي په زړونودوی کي ناروغي (دنفاق) وي ﴿ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ ٱلْمَغْشِىِّ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْمَوْتِ ﴾ گوري تاته لکه کتنه دهغه چاچي بېخودي راغلي وي په هغه باندي له ويري دمرگ نه ﴿ فَأَوْلَىٰ لَهُمْ ﴾ پس هلاک دي وي دوی لره . په التسهيل کي وايې چي (أولى) داسي کلمه ده چي معنايې تهديداوپردوی باندي ښېراده لکه دالله جل جلاله داقول چي ﴿ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴾ (القيامة:۳۴)(۲) ﴿ طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ ﴾ اطاعت کول (دغه مبتدااوخبريې محذوف دی يعني) (ددوی الله ته) اوخبره نېکه کول (تاته غوره ده دوی ته)،امام رازي وايې چي دغه مستأنف کلام اوخبريې محذوف دی اوداچي ابتداء په نکره شوي ده ځکه چي هغه موصوف دی اودغه کلام چي : ﴿ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ ﴾ دی ورباندي دلالت کوي لکه چي ويلي يې وي مخلصانه طاعت کول اونېکه خبره ددوی لپاره بهتره اوغوره ده(۳) ﴿ فَإِذَا عَزَمَ ٱلْأَمْرُ ﴾ پس هرکله چي فرض شي کارد(جهاد) ﴿ فَلَوْ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴾ پس که چېري رښتياويل کړي وي دوی له الله سره (نيتونه يې په اخلاص وي په رښتوني اويقين جهاد وکړي) نو خامخابه وودغه رښتياويل بهتردوی ته) دغه جمله دشرط لپاره ځواب دی ﴿ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوٓاْ أَرْحَامَكُمْ ﴾ (پس آيانژدې ياست تاسي (ای منافقانو) که چېري پادشاهان اومتصرفان شی) ياوگرزېدی(له طاعته دالله اوسنت درسول الله) نژدې يی دې ته چي فساد به کوی په ځمکه کي اوپرې به کړی تاسي (خپلوان او قرابتونه خپل) يعني که تاسوله اسلامه وگرزېدی نوبيابه هغه څه ته چي تاسوپه جاهليت کي پکي اوسېدلاست ستانه شی چي فسادبه موکاوواوصله رحمي به مونه کوله . قتاده وايې آياڅنگه موولېدل هغه خلگ چي له کتاب الله يې مخ واړاوآياحرامي ويني يې ونه بهولې ، اوخپلوي يې پرې نکړه دالله عصيان يې ونکړ؟؟! ابوحيان وايې چي له دغه څخه مرادهغه دفترت زمانه ده کومه چي درسول الله له

---

(۱) دقرطبي تفسير۱۲ /۲۴۳

(۲) التسهيل۴ /۴۹ اوځيني مفسرينوبياداسي معناکړي چي له دوی سره وړاولائق دی اوخبريې داچي ﴿ طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ ﴾ خوکوم چي موږ وليکل هغه څرگنداودقرطبي غوره دی.

(۳) کبيرتفسير۲۸ /۶۲

زمانې مخکې راغلي ده(۱) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ دا مفسدان هغه کسان دي چې لیرې کړي دي دوی الله (له رحمته خپله) ﴿ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰٓ أَبْصَٰرَهُمْ ﴾ پس نوکاڼه کړي يې دي دوی لره له اوریدلو دحق نه) اوړندې کړي يې دي سترګې ددوی (له ليدلو دحق نه نوسته لاره نه مومي . قرطبي وايي چې: الله ددې اخبارفرمايلی ځوک چې داسي عمل وکړي نولعنت ورته واجب اوپه غوږ،واوسترګوله نفع اخيستلو څخه محروم شي آن تردې چې حق ته غاړه نه ږدي که څه هم چې وايې وري نولکه خاروی غوندي يې وګرزاووهغه چې عقل اوپوهه نلري (۲) ﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ﴾ آيافکرنه کوي دوی په قرآن کې دغه استفهام دتوبيخ لپاره دی يعني آيادوی دغه قرآن نه اوري چې پندونه يې ولولي پکې سوچ وکړي نوبه يې له دغوناولي عملونوڅخه چې اوس دوی ورباندې ککړدي وژغوري ﴿ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَآ ﴾ بلکه په زړونودوی باندې قفلونه دزړونوددوی دي (أم) د(بل) په معنادی چې له يوه توبيخ څخه بل توبيخ ته انتقال ورباندې کېږي چې يوخوددوی فکرنه کول دي اوبل يې دزړونوتياري اوقساوت دی چې تفکراوتدبر ورته لاره نلري معناداچې زړونه يې کلک اوپه توره تاريکه کې دي لکه چې په أوسپنيزوقفلونوکې بندوي اودنور وړانګې اوايمان ور ته لاره نه مومي امام رازي وايې زړه دمعرفت لپاره پيداشوی دی کله چې معرفت پکې نه وي لکه چې پخپله زړه نشته اوداهسې مثال لري لکه چې يوڅوک شريرانسان داسې وستايې چې ووايې هغه کله انسان دی هغه خو ځنګله حيوان دی اودغه کله زړه دی بلکه يوه تيږه ده(۳) ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرْتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْهُدَى ﴾ بېشکه هغه کسان چې بيرته ګرزېدلي دي (له ايمانه) پر شاوو خپلوپس له هغه څه چې ښکاره شوي ده دوی ته سمه لاره (په ظاهري اوڅرګندودلائلواو معجزاتوسره) ﴿ ٱلشَّيْطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴾ شيطان ښايسته کړي دي دوی ته دغه چاره دمهلت يې دوی ته ښکاره کړی دی)اودوی يې تېرايستلي دي په دېروآرزوګانواوږده عمرباندې) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ لِلَّذِينَ كَرِهُواْ مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ ﴾ (دغه (ګمراه کول) په سبب ددې دی چې) بېشکه دوی وويل: هغو کسانو ته چې بديې ګڼو هغه (قرآن) چې الله رالېږلی دی) يعني دوی يهودوته چې قرآن يې دکينې اوحسدله مخې بدګڼه وويل ﴿ سَنُطِيعُكُمْ فِى بَعْضِ ٱلْأَمْرِ ﴾ ژربه حکم ومنو(اوفرمانبرداري به وکړو) ستا سي په ځينوچاروکې (لکه داچې جهادبه نه کوومسلمانان به له هغه څخه بې زړه کوو اونور...) ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ ﴾ اوالله ته معلومي دي(پټې خبرې (اومشورې ددوی) هم (کوم چې داسلام او مسلمانانو په خلاف چلونه، فرېبونه اودوکې سنجوي. مفسرين کرام وايې چې منافقينويهودانوته دغه پټ رازونه وويل: اوالله راوسپړل اوڅرګندېې کړل دوی

---

(۱) البحرالمحيط ۸ /۸۲

(۲) دقرطبي تفسير ۱۲ /۲۴۲

(۳) کبيرتفسير ۲۸ /۶۶

بيې رسواکړل ﴿ فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَٰئِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَٰرَهُمْ ﴾ نوڅرنګه به وي (حال ددوی) کله چې دوی لره پرښتې قبض کوي (ساوي يې کاږي) وهي به دوی مخونه ددوی اوشاګانې ددوی؟ (په اوسپنيزوڅټکانوباند) قرطبي وايې: معنايې دارول اوتخويف تهديددی يعني که عذاب وځنډېږي هم ددوی دعمرترپايه به وځنډېږي. ابن عباس وايې: څوک چې په معصيت کې مړکېږي پرښتې به يې په مخ اوشاووهي (۱) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ وَكَرِهُوا رِضْوَٰنَهُۥ ﴾ دغه (عذاب سبب ددې دی چې) دوی متابعت کړی وودهغه شي چې الله به يې په غضب کاوواوبده يې ګڼله خوښې ددغه الله (يعني دوی دنفاق لاره نيولې وه او هغه چې الله يې خوښوي لکه ايمان اوجهاددوی نه کاوو) ﴿ فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ پس ضائع ابته کړل (الله نېک) عملونه ددوی (کوم چې دايمان په وخت کې يې ترسره کړي وو) ﴿ أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخْرِجَ اللَّهُ أَضْغَٰنَهُمْ ﴾ آياګمان کوي هغه کسان چې په زړونوددوی کې ناروغي (دشک او نفاق) دي چې نه به ښکاروي الله تعالی پټې کينې ددوی له مؤمنانوسره ؟بلکه ظاهربه يې کړي اودوی به خامخارسواشي ﴿ وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَٰهُمْ ﴾ اوکه اراده وفرمايو موږ نوخامخابه وښيوموږتاته دغه کسان نواروموته به دوی وپېژنې په (علامو) دڅېرودوی (مګر الله تعالی ددوی سترکړی دی ترڅودوی مسلمانان اوخپلوان يې پټ پاتې کړی شي لپاره ددې که منافقانِ توبه وکاږي ﴿ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ ﴾ او(قسم دی چې) خامخاوبه پېژنې ته دوی په اړولوګرزولو د خبروکې (ددوی دخبرواسلوب به ځانګړی وي په ظاهره به ايمان اواسلام څرګندوي خوپه باطن کې به کفراوښکنځل وي. کلبي رضی الله عنه وايې چې له نزوله ددې آيت شريف څخه وروسته به چې هر منافق خبرې کولې رسول الله صلی الله عليه وسلم به پېژاندو(۲) ﴿ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَٰلَكُمْ ﴾ اوالله ته معلوم دي ټول عملونه (احوال) ستاسې (هيڅ څيزله الله څخه پټ نه دی نوڅرنګه چې ستاسې قصدوي له هغه سره سم به جزادرکړي پدې کې وعداووعيدنغښتی دی ﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ الْمُجَٰهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّٰبِرِينَ ﴾ او خامخا(لازما) موږ تاسې ازمويو(په جهاداو نوروتکاليفو سره) ترهغه پورې چې ظاهرکړوموږ في سبيل الله جهاد کونکې له تاسې څخه اوصبرکونکې (په جهاداونوروشاقه اعمالواحکامودااسلام کې) ﴿ وَنَبْلُوَا۟ أَخْبَارَكُمْ ﴾ اوازمويوموږعملونه، حالونه، خبرونه ستاسې (ښه اوبدېې) په التسهيل کې وايې چې مرادله دې ويناڅخه چې: ﴿ حَتَّىٰ نَعْلَمَ ﴾ دی علم ظهور په وجودکې دی ترڅوچې دليل ورباندې ونيول شي اوالله تعالی ته خوټول شيان ترپخواله شتون اوموجوديت څخه هم څرګنداومعلوم دي مګر دحجت ددرولولپاره يې خلګوته ورښکاره کوي فضيل بن عياض رضی الله عنه چې به کله دغه آيت لوستل وبه

(۱) البحرالمحيط ۸/۸۴
(۲) دقرطبي تفسير ۱٦/۲۵۳

بې ژړل اوداسي به بې وويل: اى الله موږ ته ابتلاء مه راکوه که دي وازمويلو نورسوابه شو اوپردې سترونه به مو پورته شي (۱) ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي اومنع کوي (خلګ) له لاري دالله (اسلام) څخه ﴿ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَىٰ ﴾ او مخالفت کوي له رسول الله سره پس له هغه چې ښکاره شوي دوى ته سمه لاره دربښتنولي اوصدق د پيغمبر په معجزاتو اودلائلو سره) ﴿ لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ ﴾ له سره به ضرر ونه رسوي دوى الله ته هيڅ شى اوژردى چې ابته ضائع به کړي (الله پاک نېک) عملونه ددوى (لکه صدقه ورکول اونورچې په آخرت کي به بې هيڅ ګټه ونه ويني) ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ﴾ اى هغو کسانو چې ايمان بې راوړى دى (يعني اى مؤمنانو) اطاعت کوئ دالله اواطاعت کوئ درسول الله ﴿ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ ﴾ اومه باطلوئ تاسي عملونه خپل (په هغه څه چې دغوخلګوو رباندي خپل عملونه باطل کړي دي له کفره اونفاقه اوعُجب اوريا څخه ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ﴾ بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي اومنع کوي (خلګ) له لاري دالله (ايمان) څخه ﴿ ثُمَّ مَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ ﴾ بيامړه شي اودوى کافران وي ﴿ فَلَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ ﴾ پس له سره به مغفرت ونکړي الله ددوى ته په هيڅ حال له احوالو اودغه په قطعي توګه تثبيت شوي چې څوک په کفرمړشي الله ورته بښنه نه کوي ځکه چې الله فرمايې: ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ ﴾ ابوالسعود وايې چې دادهرهغه چاحکم دى چې په کفر کي ومري که څه هم چې دقليب دخاوندانو په حق کي نازل شوى دى ﴿ فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ ﴾ پس سستي مکوئ اومه ضعيفان کېږئ (په جهاد) کي اومه غواړئ تاسي (کفار) روغي ته (بلکه ورسره جنګ وکړئ) کله چې ورسره په جنګ کي مخامخ شى) ﴿ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ ﴾ حال داچي هم دا تاسي غالب يى اى مؤمنانو) پرمنکرانو باندي ځکه چې ايمان لرى ﴿ وَاللَّهُ مَعَكُمْ ﴾ اوالله له تاسي سره دى (په نصرت کي) ﴿ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ ﴾ اوله سره به ناقص اوضائع نکړي (الله) له تاسي عملونه ستاسي (بلکه په قيامت کي به پوره جزادرکړي) ابن کثيروايې چې پدې قول کي چې ﴿ وَاللَّهُ مَعَكُمْ ﴾ دالله له لوري پردښمنانو باندي دغلبې اونصرت خوراسترزېرى شته (۲) ﴿ إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ﴾ بېشکه داژونددنيا لوبي او مشغولېده دي (ثبات اواستقرارنلري لکه دماشومانو ساعت تېرى داسي دي شيخ زاده وايې چې: معنايې داده دغه ددنيالذتونه پاته کېدونکي دي په دې نه ارزي چې دجهاد په وړاندي دي مانع جوړشي اويادي دآخرت دثوابونو څخه شي ځکه دغه په منزلت دلوبواومشغولتيادي چې ژرله مينځه ځي اوآخرت

---

(۱) التسهيل ۴/ ۵۰

(۲) ابن کثيرمختصر ۳/ ۳۳۸

تلپاتي اوباقي دی نونه ښايي چي د دنيامينه او دهغې فناکېدونکي لذتونه يو څوک له جهاده راوګرزوي اوله غزاکولو څخه يې بې زړه کړي(١) ﴿وَإِن تُؤۡمِنُواْ وَتَتَّقُواْ يُؤۡتِكُمۡ أُجُورَكُمۡ﴾ او که تاسي ايمان راوړی او(له معاصيو) پرهېزوکړی دربه کړي تاسي ته (الله) اجرونه ستاسي (په بشپړه توګه) ﴿وَلَا يَسۡـَٔلۡكُمۡ أَمۡوَٰلَكُمۡ﴾ اونه به غواړي له تاسي (ګرد) مالونه ستاسي بلکه مفروض زکات د رڅخه اخلي. ابن کثيروايي: هغه (الله) غني دی له تاسي هيڅ هم نه غواړي اوداچي په تاسويې ستاسي دمال زکات فرض کړی

3 ترڅو ستاسو د بېوزلو ورونولاس نيوی وشي اوګټه ثواب يې تاسو ته درکول کېږي(٢) ﴿إِن يَسۡـَٔلۡكُمُوهَا فَيُحۡفِكُمۡ تَبۡخَلُواْ﴾ که وغواړي دی له تاسي څخه (مال) پس کوښښ وکړئ په غوښتلو کي له تاسونو تاسو به بخل وکړی په دغو سره ﴿وَيُخۡرِجۡ أَضۡغَٰنَكُمۡ﴾ او راوبه باسي په (په دغوغوښتلو سره) پټي کينې ستاسي له بخل او د انفاق له بد ګڼلو څخه په التسهيل کي وايي چي دغه په دې چي انسان له مال سره مينه لري او يو څوک چي د چا په محبوب کي ورسره شخړه کوي د انسان پټ رازونه رابرسېره کېږي نو دغه د الله جل جلاله د رحمت پايله ده چي په تکاليفو کي يې ورسره تشدد نه دی کړی(٣) ﴿هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ تُدۡعَوۡنَ لِتُنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ واورئ تاسي ای دغو کسانو چي بللی شوي يی لپاره د دې چي نفقه کړی مال ويې لګوئ په لاره د الله کي (په هغو طريقو چي فرض دي لکه زکات او جهاد چي له طاقت سره سم مکلف شوي ياست) ﴿فَمِنكُم مَّن يَبۡخَلُ﴾ پس ځيني له تاسو هغه دي چي بخل کوي(مال نه لګوي) ﴿وَمَن يَبۡخَلۡ فَإِنَّمَا يَبۡخَلُ عَن نَّفۡسِهِۦ﴾ او هغه څوک چي بخل کوي او مال نه لګوي نو بېشکه چي بخل کوي خپل ځان ته (چي له ثوابه بې محرومو ي) صاوي وايې چي بخل کله چي (دشح) په معناوي په (على) سره متعدي کېږي او که چېري بياد (امساک) په معناوو په(عن) سره يې تعدی ښايي(٤) ﴿وَٱللَّهُ ٱلۡغَنِيُّ وَأَنتُمُ ٱلۡفُقَرَآءُ﴾ الله غني بې پروادی (ستاسي له نفقې او هرڅېزه) او تاسي الله ته فقيران ياست ﴿وَإِن تَتَوَلَّوۡاْ يَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ﴾ او که وګرزېدی تاسي (له ايمان او سخاڅخه نو الله) به بدل راولي يو قوم بې له تاسو(چي ترتاسي به زيات د الله حکم مني) ﴿ثُمَّ لَا يَكُونُوٓاْ أَمۡثَٰلَكُم﴾ بيا به هغوی نه وي په مثل ستاسو(په بخل کي بلکه سخيان به وي).

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډ يې داد ی:

---

(١) شيخ زاده په بيضاوي باندي ٣ /٣٥٢

(٢) مختصر ابن کثير ٣ /٣٣٨

(٣) التسهيل ٤ /٥٠

(٤) دصاوي حاشيه ٤ /٨٩

۱ – مقابله دلمړي اودوهم آيت ترمينځ لکه: ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ أَضَلَّ أَعْمَٰلَهُمْ ﴾ اود ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ... ﴾ چي دغه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۲ – ذکرد خاص وروسته له عام څخه لکه: ﴿ وَءَامَنُوا۟ بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ ﴾ اوباريکي پکي دهغه په هکله اعتناء اوتعظيم دى.

۳ – تبعيه استعاره چي فرمايي: ﴿ تَضَعَ ٱلْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ﴾ دلته يې دجنګ بندېدل له دي سره تشبيه کړل چي اسباب يې کېښودل شي اوله (وضع) څخه يې (تضع) مشتق کړي چي دپاى ته رسېدلواو پرېښودلو په معنادي اودغه تبعيه استعاره ده.

۴ – مرسل مجازچي فرمايي: ﴿ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴾ دلته يې دجزء يادونه کړي اومرادځني کل دى يعني تاسوته به ثبات اوټينګاروبښي اوداچي دپښويادونه يې په ځانګړي توګه وکړه ځکه چي ثبات اوتزلزل په هغوکي څرګندېږي اودغه لکه ﴿ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ ﴾ غوندي مجازدى.

۵ – دطباق صنعت چي د ﴿ مَنًّۢا ... فِدَآءً ﴾ او ﴿ ءَامَنُوا۟ ﴾ اود ﴿ كَفَرُوا۟ ﴾ اود ﴿ ٱلْغَنِىُّ ... ٱلْفُقَرَآءُ ﴾ ترمينځ راغلى دى.

۶ – عقلي مجازچي فرمايي: ﴿ فَإِذَا عَزَمَ ٱلْأَمْرُ ﴾ دعزم نسبت يې امرته وکړاوپه حقيقت کي داهل لپاره دى نودغه لکه چي وايي (نهاره صائم) دغسي دى.

۷ – دالتفات صنعت چي پدې کلام کي دى ﴿ فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ ﴾ اودغه له غيبت څخه خطاب ته التفات دى ترڅو چي توبيخ اوتقريع تشديد کړي

۸ – تصريحي استعاره چي فرمايي: ﴿ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَآ ﴾ دلته يې زړونه له هغوبندودروازو سره تشبيه کړل کوم چي دواعظانووعظ ته نه پرانستل کېږي اونه پکي پندځاى لري دغه خورا باريکه اولطيفه استعاره ده.

۹ – اطناب د(أنهار) دلفظ په تکرارسره چي کله راځي ﴿ فِيهَآ أَنْهَٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ وَأَنْهَٰرٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُۥ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ ﴾ ترپايه دآيتونو ترڅو چي جنتي نعمتونوته زيات تشويق پيداشي.

۱۰ – کنايه لکه چي فرمايي: ﴿ ٱرْتَدُّوا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِم ﴾ دغه له کفرڅخه کنايه ده چي وروسته له ايمان څخه يې غوره کوي

۱۱ – ښايسته ښکلي سجع چي پدې مبارکوآيتونواونوروکي راځي لکه: ﴿ أَضَلَّ أَعْمَٰلَهُمْ .....وَٱتَّبَعُوٓا۟ أَهْوَآءَهُم .....وَأَعْمَىٰٓ أَبْصَٰرَهُمْ ﴾ ترپايه پورې.

دالله جل جلاله په مرسته دمحمد سورت تفسير بشپړ شو.

دالفتح سورت مدني او نه ويشت آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دغه سورت مدني دی او دنورو مدني سورتونو په شان تشريعي امور چي له معاملاتو، عباداتو، اخلاقو اولارښوونوڅخه عبارت دي څېړي.

سورت په پيل کي دحديبې له صلحي غږېږي هغه چي درسول الله صلی الله عليه وسلم اومشرکانو ترمينځ دهجرت په شپږم کال کي لاس ليک شوه اوهغه دستري فتحي چي دمکې فتح ده پيلامه وه، په هغې سره دمؤمنانوبری اوتمکين ترلاسه شواوبياخلګ دالله په دين کي ټولی ټولی داخلېدل ﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴾ دآيتونوترپايه.

سورت دمؤمنانوله جهاده اوبيعت الرضوان څخه غږېږي هغه چي اصحابورضوان الله عليهم له رسول الله سره په جهادباندي دمرګ ترشيبې بيعت وکړهغه ډېرمبارک بيعت ووڅکه الله جل جلاله ولمانځه اوله خاوندانوڅخه يې خپله رضا اوخوښي وښوده دتل لپاره يې يادپه خپل کتاب قرآنکريم کي په زرينوکرښوولیکوچي: ﴿ لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ ﴾ دآيت ترپايه.

بياالله دهغواعرابوچي په زړونوکي يې رنځ وو اومنافقينويادونه کوي چي په مؤمنانو اورسول الله باندي به يې ډول ډول ګومانونه کول اوله رسول الله سره ونه وتل نوآيتونه رانازلېږي هغوی رسواکوي اوپټ رازونه يې راسپړي ﴿ سَيَقُولُ لَكَ ٱلْمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا ﴾ دآيتونوترپايه.

دغسي سورت درسول الله دهغه خوب يادونه فرمايې کوم چي رسول الله صلی الله عليه وسلم په مدينه منوره کي وليدواواصحابانو(رضوان الله عليهم) ته يې خبرورکړهغوی خوښ اوخوشحاله شول هغه داچي رسول الله صلی الله عليه وسلم اومسلمانان به بېغمه اوپه اطمينان اوامان مکې ته وردننه کېږي همدغه خوب رښتياشواومؤمنان په امن اواطمينان دعمرې اداکولولپاره وردننه شول ﴿ لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ ﴾.

په پای کي سورت په رسول الله اوسپېڅلواصحابانويې ثنادرودوايې چي: ﴿ مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ ۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ ﴾ دآيت ترپايه

تسميه اونومول يې:

دغه سورت ته څکه سورت الفتح وايې چي الله جل جلاله مؤمنانوته دفتح مبين زېری ورکړی دی چي: ﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴾ دآيتونوترپايه.

بهتري او فضيلت يې:

دغه سورت په رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه وخت نازل شوچې کله له حديبيې راو ګرزېدو او کله چې نازل شو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نن شپه پرما داسې سورت نازل شو چې ماته تر دنيا او مافيها غوره دی ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا﴾ دا امام احمد رحمه الله روايت.

***

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾ لِّيَغْفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَٰطًا
مُّسْتَقِيمًا ﴿٢﴾ وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا ﴿٣﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِى قُلُوبِ ٱلْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓا۟ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ ۗ وَلِلَّهِ
جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٤﴾ لِّيُدْخِلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا
وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوْزًا عَظِيمًا ﴿٥﴾ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْمُشْرِكِينَ
وَٱلْمُشْرِكَٰتِ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ ۚ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ ٱلسَّوْءِ ۖ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ ۖ وَسَآءَتْ
مَصِيرًا ﴿٦﴾ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿٧﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٨﴾
لِّتُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ
ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ ۚ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيْهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿١٠﴾
سَيَقُولُ لَكَ ٱلْمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ أَمْوَٰلُنَا وَأَهْلُونَا فَٱسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِى قُلُوبِهِمْ ۚ قُلْ
فَمَن يَمْلِكُ لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًۢا ۚ بَلْ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًۢا ﴿١١﴾ بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن
يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِى قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ وَكُنتُمْ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٢﴾
وَمَن لَّمْ يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَعِيرًا ﴿١٣﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ
مَن يَشَآءُ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿١٤﴾ سَيَقُولُ ٱلْمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا
نَتَّبِعْكُمْ ۖ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا۟ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ۚ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا كَذَٰلِكُمْ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ ۖ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ۚ
بَلْ كَانُوا۟ لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥﴾ قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَٰتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ ۖ
فَإِن تُطِيعُوا۟ يُؤْتِكُمُ ٱللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا ۖ وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦﴾ لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا
عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ ۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ
عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٧﴾ ﴾ الفتح: ١ ـ ١٧

لغتونه:

(السكينة) سكون اطمينان اوثبات(السوء) غم اودردجوهري وايې (سوء) په زورسره دخوبني ضد
وايې چې خفګان دی اوپه پېښ سره بيابدي اوشكست ته وايي لكه ﴿ عَلَيۡهِمۡ دَآئِرَةُ ٱلسَّوۡءِ ﴾ [1](تعزروه)
چې تاسي يې تعظيم وكړی مرسته ورسره وكړئ اوتكليف ځني منع كړئ اوپه حدودوكي چې تعزير يې
كېږي ځكه هغه هم له بدفعل اوعمل څخه منع كونكى وي (نقض) دعهداوبيعت ماتول (بورا)هلاك شوي
جوهري وايې چې (بور) فاسدهلاك شوی سړی دی چې پكي خيرنه وي (حرج) ګناه ته وايي.

دنزول سبب:

ابن عباس ﷺ وايي چې دمېديني كوچيان (اعراب) كله چې رسول الله دفتحي په كال مكي ته
دسفركولواراده وكړه اوټولوته يې دتللوورانديزوكړدعمرې داداكولواحرام يې وتاړو او(هدی) يې
ورسره رواني كړې چې خلګ پوه شي رسول الله اومؤمنان دجنګ اراده نلري نودوی بېځايه عذرونه ويل
پيل كړل اوترشاشول بيادغه آيت نازل شو: ﴿ سَيَقُولُ لَكَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ شَغَلَتۡنَآ أَمۡوَٰلُنَا وَأَهۡلُونَا
فَٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَاۚ ﴾ دآيت ترپايه[2].

تفسير:

﴿ إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ﴾ (بېشكه چې فتح اوبرى مودركړی دی تاته فتح اوبرى ظاهره ښكاره)
مراددمكې فتح ده الله مخكي تروقوع يې ورسره ژمنه كړي اودماضي په صيغه سره يې دتحقق لپاره
تعبيرفرمايلى دى همدادالله له لوري رسول الله اومؤمنانوته سترزېرى اوبشارت وو. زمخشري وايې چې
دغه فتح دمكې له فتحي څخه عبارت اودسورت نزول دحديبې له صلحي وروسته كله چې رسول الله له
مكې راستنېدو وشودغه دالله له لوري ورسره دفتحي ژمنه اووعده ده اوداچي دماضي په صيغه سره
لكه چې دالله جل جلاله په اخباركولوكي دود اوعادت دی راوړل شوه ځكه چې په ثبوت اويقين كي
داسي ده لكه چې موجوده اوپېښه شوي وي اوپدې كي ددغي فتحي دشان اوشوكت هغه درناوی شته
چې له چاپټ نه دی[3] ﴿ لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ﴾ (لپاره ددې چې وبښي تاته الله هغه چې
پخواتېرشوي دي له ګناه دتاڅخه اوهغه چې وروسته دي (له ګناه څخه) يعني ترڅوچي وبښي الله تاته
ګردهغه (اولیٰ (بهتر) شيان) چې له تاڅخه ترك شوي وي (ای محمده!) ابوالسعودوايې چې دغوته
دګناه نوم وركول درسول الله صلى الله عليه وسلم دسترمنصب په نظركي نيول دي[4] ابن كثيروايې چې
دغه درسول الله صلى الله عليه وسلم له خصائصواوځانګړتياووڅخه دى چې څوك ورسره پكي ګډون
نلري اوپدې كي درسول الله صلى الله عليه وسلم دشرافت څرګندېدل دي ځكه چې هغه مطلقاً اكمل

---

[1] الصحاح للجوهري.
[2] دقرطبي تفسير ۱۶/ ۲۶۸
[3] الكشاف ۴/ ۲۶۲
[4] ابوالسعود ۵/ ۸۰

دبشريت اوسرداردوی په دنیااوآخرت کي دی هغه په ګردوچارو دطاعت نېکي، استقامت اونوروکي ترټولو انسانانولوړ ووچي نه پخواني دده ځای ته رسېدلي اونه وروستني او څرنګه چي ترګردو منونکی او(اطوع) ووالله پاک په فتح مبین باندي ونازاووا وپخواني او وروستني ګناهونه يې وروبښل (١)﴿ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ ﴾ او(بل لپاره ددې)چي پوره کړي (الله په فتح دمکې اونوروښارونو سره)خپله مهرباني پرتاباندي (چي دين يې لوړاوشان يې اوچت شي) ﴿ وَيَهْدِيَكَ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴾ اوبل لپاره ددې چي وښيي الله تاته سمه لاره (رسېدونکي وجنت ته، چي دستردين شريعت درکړي) ﴿ وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا ﴾ او(بل دپاره ددې)چي کومک وکړي الله تعالى له تاسره مددغالب زبردست (چي په هغه کي ددنیااوآخرت عزت اوغلبه وي) ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِى قُلُوبِ ٱلْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوٓا۟ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ ﴾ دغه(الله) هغه ذات دی چي نازله کړي يې ده ډاډينه (سکينه) په زړونودمؤمنانوکي لپاره ددې چي زيات کړي دوی لره ايمان سره له ايمانه ددوی (دعقيدې په رسوخ اوپه علام الغيوب ذات باندي توکل) ﴿ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص الله لره دي لښکري دآسمانونواودځمکي (له ملائکو، پېرياننو، حيواناتو، زلزلو،تندرونو، ډوبېدلو، بادونو، طوفانونو اونوروڅخه چي شمېر يې نشي کېدای که وغواړي اوپه چاپېره دګمارلواراده شي (پرته له تاسويې هم) ګماري چي ددين نصرت يې وکړي وايې که چېري الله يوه پرښته په دښمنانو راواستوي ګردبه پوپنا کړي خوالله جهاد فرض کړی چي پکي حکمت اوحجت دی څکه نوفرمايې (٢)﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾ اودی الله ښه خبردارښه حکمت والا)يعني ښه خبردارپه احوالودخلکوښه حکمت والاپه تقديراو تدبيرددوی باندي مفسرين کرام وايي چي: مقصدپه نازلولودسکينې په زړونودمؤمنانوکي داهل دحديبې دی کله چي يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په جهادباندي بيعت وکړچي دمکې له خلکوسره دمرګ ترشېبې جنګېږي څکه چي هغوی دوی په داسي نادودووځورول چي زړونه يې خورا خفه اوخواشيني شول اصحابان يې نه پرېښودل چي مکې ته دننه شي اصحابان رضوان عليهم پرته دمقصدله ترسره کېدلوبېرته راستانه شول خو سره له دې چي دډېربحراني دناورين حالت ووبياهم هيڅوک له دين څخه ونه ګرزېدل ، يوځل عمربن خطاب رضى الله عنه دومره احساساتي شوچي ويل يې ای رسول الله صلى الله عليه وسلم !آياته دالله حق پيغمبرنه يې؟ رسول الله وفرمايل: هوهمداسي ده بيا يي وويل ايا موږ بر حقه او دښمن پر باطله نه دي ؟ رسول الله وفرمايل: هوهمداسي ده نو عمر رضي الله عنه وويل: چي داسي ده موږ پخپل دين کي سپېتانه, نه منو !رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل: زه د الله پيغمبريم دالله دفرمان سرغړونه نکوم هغه زما مرستندوی دی(٣)﴿ لِّيُدْخِلَ

---

(١) دابن کثيرمختصر، چاپيافتح مبين دحديبې صلح بللي چي سترآثاريې پرې ښودل چي هغه بيعت الرضوان ، صلح اوډېر کسان په اسلام کي داخلېدل وو ابن کثيرهم دغه لوري ته تللی دی.

(٢) دابن کثيرمختصر٣ / ٣٤٠

(٣) دکيسې تفصيل دې په بخاري شريف اوابن هشام سيرت کي ولوستل شي.

ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ لپاره ددې چې داخل که مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې (په سبب د طاعت او جهاد) په جنتونو کې چې بهېږي له لاندې د ونو او مانیو د هغو (خلوروړولا) ويالې حال دا چې تل به وي دوی په هغو جنتونو کې ﴿ وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ ﴾ او چې ورژوي (الله تعالی) له دوی څخه ګناهونه د دوی ﴿ وَكَانَ ذَٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾ همدغه (تکفیر د ګناهونو او داخل د جنت) په نزد د الله د برسیر بری (او په مراد رسېدل) دي (چې ترې پورته بری او فوز نشته ﴿ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلْمُشْرِكِينَ وَٱلْمُشْرِكَٰتِ ﴾ او (لپاره ددې) چې په عذاب کړي (الله) منافقان سړي او منافقاتې ښځې او مشرکان سړي او مشرکاتې ښځې (ځکه چې دوی تر مجاهرو کافرانو زیات د اسلام او مسلمانانو لپاره خطرناک دي) ﴿ ٱلظَّآنِّينَ بِٱللَّهِ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ ﴾ چې ګمان کونکي دي پر الله باندې ګمان د بدي (چې هیڅکله به الله ته بری ور نکړي رسول الله ته بری ور نکړي، او مشرکان به مسلمانان له بېخه وباسي لکه چې الله فرمایي: ﴿ بَلْ ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا ﴾ قرطبي وايي: دوی دا سې ګمان کاو چې نه به نبي علیه السلام او نه هم یو صحابي بیرته له حدیبې څخه روغ رمټ مدینې منورې ته راستون شي (۱) ﴿ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ ٱلسَّوْءِ ﴾ (پر دوی باندې دي راګرزېدل د بدي (په ذلت او عذاب سره) یعني دوی چې په مؤمنانو کوم ګمان کوي او د څه شي ورته انتظار باسي هغه هلاکت او تباهي دې پر دوی وي ﴿ وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ ﴾ او غضب کړی دی الله پر دوی باندې (په سبب د کفر او نفاق د دوی) او لیرې کړي دي الله دوی (له رحمته خپله) ﴿ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴾ او تیار کړی دی الله تعالی) دوی ته عذاب د دوزخ او بد ځای د ور تلو دی (دغه دوزخ لپاره د منافقانو او ګمراهانو) ﴿ وَلِلَّهِ جُنُودُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ او خاص الله لره دي لښکرې د آسمانونو او د ځمکې) دغه له دښمنانو څخه د انتقام او کسات اخیستلو لپاره تاکید دی. امام رازي وايي: چې لفظ د جُنُودُ بې ددې لپاره مکرر راوړی ځکه کله لښکرې د رحمت لپاره او کله کله بیا د عذاب لپاره وي نو لومړی یې په مؤمنانو د رحمت بیان وفرمایو او دوهم ځل یې په کفارو د عذاب بیان وکړ (۲) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾ او همېشه دی الله ښه غالب غالب قوي (پخپله پاچهي او سلطان کې) ښه حکمت والا (پخپل صنعت او تدبیر کې). صاوي وايي چې دغه آیت یې لومړی د خلق او تدبیر په هکله بیان کړی وو نو په لمن پسې یې (عَلِيمًا حَكِيمًا) راوړ او دوهم ځل یې د انتقام په وړاندې بیان وو ځکه یې په لمن پسې ﴿ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾ وفرمایو او دغه خورا ښکلې ترتیب دی ځکه) چې الله د رحمت لښکرې د مؤمنانو د نصرت لپاره راستوي او دغه د عذاب لښکرې

(۱) د قرطبي تفسیر ۱۲/ ۲۶۵
(۲) کبیر تفسیر ۲۸/ ۸۴

دکفارودعذاب اوهلاکت لپاره، وروسته الله ﷻ پخپل پیغمبرعلیه افضل التحیة والتسلیم باندي خپل امتنان فرمایي چي په رسالت یې نازولی اوګردمخلوق ته یې رالېږلی دی فرمایي: ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴾ (بېشکه موږ لېږلی یې ته (ای محمده !) شاهداوزېری ورکونکی)یعني ته مودقیامت په ورځ په خلکوشاهدګرزولی اودمؤمنانولپاره دجنت زېری ورکونکی اوکفاروته ددوزخ له اوره څخه وېرونکی رالېږلی یې ﴿ لِّتُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ لپاره ددې چي ایمان راوړی تاسي په الله اوپه رسول ددغه (الله) باندي (په حق دایمان راوړلو په بشپړ باوراویقین سره چي شک ورسره پټلیز نه وي ﴿ وَتُعَزِّرُوهُ ﴾ اومدد وکړی دهغه ددین اوتعظیم وکړی دهغه ﴿ وَتُوَقِّرُوهُ ﴾ اودرناوی وکړی دهغه له تعظیم اوتکریم سره یې امرپرځای کړی ضمیررسول الله ته راجع دی ﴿ وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾ اوهغه (الله)ته تسبیح (نسبت دپاکي) وکړی په سباوبېګاکي ([1]) ترڅوچي زړه په هرحال کي له الله سره پیوندوي ، الله تعالی فرمایي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ ﴾ (یعني ای محمده !)بېشکه هغه کسان چي بیعت کوي له تاسره بېشکه چي بیعت کوي له الله سره ،څوک چي په حدیبیه کي (بیعت الرضوان)کوي دوی په حقیقت کي له الله سره بیعت کوي دغه درسول الله لپاره تشریف دی چي دده بیعت الله خپل بیعت ونوماووځکه چي رسول د الله سفیر او معبردی . مفسرین کرام وایي چي مرادله بیعت څخه دلته دحدیبیې بیعت رضوان دی کله چي اصحابانورضوان الله علیهم له رسول الله سره په مرګ باندي بیعت وکړچي شیخان له سلمه بن الاکوع څخه روایت کوي چي هغه وویل: موږ له رسول الله سره په مرګ باندي بیعت وکړ(چي ترمړیني به جهاد کوواونه به تښتو) اودغه ته بیعت الرضوان پدې وایي چي الله یې په هکله فرمایي: ﴿ لَّقَدْ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ ﴾ ترپایه ﴿ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ ﴾ لاس دالله دپاسه دلاسونو ددوی دی. ابن کثیروایي : معناداچي الله له دوی سره حاضردی ددوی خبري اوري اوددوی ځای ویني په زړونواوښکاره ظواهرویې خبردی الله دخپل پیغمبرپه واسطه له دوی څخه بیعت اخلي([2])زمخشري وایي: معناداچي درسول الله لاس چي دبیعت کونکوپه لاس دپاسه دی دغه دالله لاس دی اومعنا داچي څوک له رسول الله سره بیعت کوي په تحقیق سره هغه له الله سره بیعت وکړلکه چي الله فرمایي: ﴿ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَ ﴾ (النسآء:۸۰) ([3]) ﴿ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ﴾ پس هغه چاچي مات کړدابیعت نوبېشکه چي ماتوي به دی بیعت په خپل ځان (ضرریې هم ده ته راجع دی) ځکه چي پدې ماتولوسره یې ځان له ثوابه محروم اودعذاب مستحق کړ) ﴿ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا

([1]) دلته ضمیرالله ته راجع دی چاپیاویلي ګردضمائرالله ته راجع دي اودادبیضاوي اوابوالسعودغوره دی موږدضحاک اوقرطبي روایت راوړی دی.

([2]) دابن کثیرمختصر ۳ /۳۴۲

([3]) کشاف ۴ /۲۲۵

عَٰهَدَ عَلَيۡهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤۡتِيهِ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴾ اوهغه څوک چي وفاوکړي په هغه څه چي عهديې کړی پرهغه له الله سره پس ژردی چي وربه کړي الله ده ته اجراوبدل ډېرزيات (چي جنت دی دمتقيانوځای) ﴿ سَيَقُولُ لَكَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ ﴾ ژردی چي وبه وايې تاته (له تاڅخه) وروسته پاتي شوي (له تګه دمکې دحديبې په کال) له صحرايانو(دمدينې) ﴿ شَغَلَتۡنَآ أَمۡوَٰلُنَا وَأَهۡلُونَا فَٱسۡتَغۡفِرۡ لَنَاۚ ﴾ مشغول کړي يې وو موږ مالونو زموږ او کورنۍ زموږ نوبښنه وغواړه موږ لره (دګناهونوزموږ) له الله تعالی څخه ځکه چي موږ پخپل اختيار پاتي شوي نه يوبلکه په اضطراري توګه پاتي شوو. په التسهيل کي وايې چي: دوی ته يې (مخلفون) ځکه وويل چي دحديبې له تګ څخه وروسته پاتي شوي وو. دوی دمدينې منورې صحرايې کوچيان ووکله چي رسول الله ﷺ دعمرې په نيت مکې مکرمې ته روان شودوی داسي ګڼله چي ګواکي رسول الله له يوستردښمن سره چي قريش اونوردي مخامخ کېدونکي دي نوکښېناستل او ورسره ملګري نه شول څپ څپانده ايمان يې وو داسي ګمان يې کاووچي پيغمبرعليه السلام اومؤمنان به له دغه سفره هډو راستانه نه شي نوالله دوی په دغه سورت کي رسواکړل اوپيغمبرته يې ددوی دوينا اعلام ورکړ اوهمداسي يې ترپخواله راتګه ددوی دحيلواوبهانوپه باب بشپړمعلومات ورکړچي دوی پخپله ويناکي دروغجن دي(۱) ﴿ يَقُولُونَ بِأَلۡسِنَتِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ ﴾ وايې دغه پاتي(کېدونکي منافقان) په ژبو خپلوسره هغه (خبري) چي نشته په زړونوددوی کي دوی پخپل اعتذاراوغوښتلود استغفار کي دروغجنان دي دوی دغه خبري په رياکاري کوي دزړه له کومي يې توبه نه ده ايستلي ﴿ قُلۡ فَمَن يَمۡلِكُ لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔا إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ نَفۡعَۢاۚ ﴾ ووايه ته (ای محمده ! دوی ته) نوڅوک دی چي مالک به شي تاسي لره په دفع دعذاب کي له جانبه دالله څخه ديوڅيزکه الله اراده وفرمايې ستاسي دضرر اونقصان (لکه ماتي اوشکست) ياالله تعالی اراده وفرمايې ستاسودنفعي اوګټي (لکه مرسته اوغنيمت)؟ قرطبي وايې چي دغه پردوی باندي ترديد دی چي دوی ګمان کاوو له رسول الله څخه وروسته پاتي کېدل له دوی څخه ضرردفع کوي اوګټه ورته رسوي(۲) ﴿ بَلۡ كَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرَۢا ﴾ بلکه دی الله په هغوکړدوکارونوچي تاسي يې کوی ښه خبر (ستاسودروغ اونفاق الله ته معلوم دی وروسته الله ددوی اسراراودزړه رازونه داسي راڅرګند کړل چي: ﴿ بَلۡ ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَنقَلِبَ ٱلرَّسُولُ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهۡلِيهِمۡ أَبَدٗا ﴾ (دابهانې اوعذرونه چي کوی داسي نه)بلکه تاسي به ګمان کاووچي بيابه له سره بېرته راونه ګرزي رسول الله اومؤمنان (له حديبې) کورونوخپلو ته (په مدينه کي) هيڅکله ﴿ وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمۡ ﴾ اوښايسته کړی شوی دی دغه (ګمان دتباهي دمؤمنانو) په زړونوستاسي کي (ای منافقانو)

(۱) التسهيل ۴/ ۵۲

(۲) دقرطبي تفسير ۱۲/ ۲۶۹

﴿ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ ٱلسَّوْءِ ﴾ اوگمان کړی وو تاسي گمان د بدې (چي تاسو ويله دوی به يو مخ ايزه وو ژل شي اويوتن به هم راستون نشي) ﴿ وَكُنتُمْ قَوْمًا بُورًا ﴾ او وی تاسي يو قوم هلاک (کړی په غضب دالله اومستحق دعقاب يې) ﴿ وَمَن لَّمْ يُؤْمِن بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ اوهرهغه څوک چي ايمان يې نه وي راوړی په الله اوپه رسول ددغه (الله) په اخلاص اوربښتنولي سره) کله چي يې دمتخلفينودفاسدگمان حال بيان کړاوداچي دغسي گمان کفرته سړی بيايې نويې په عمومي توگه دايمان اوتوبې لوري ته وهڅول چي که څوک ايمان رانه وړي ﴿ فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَعِيرًا ﴾ نوبېشکه موږ تيارکړی دی لپاره دکافرانوتوداور(ددوزخ)دغه د منافقانولپاره سخت وعيددی ﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ اوخاص الله لره دی پاچهي، سلطنت د آسمانونو اودځمکي (پکي تصرف کوي څرنگه چي يې خوښه شي)

﴿ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ﴾ ببښي هرهغه چي اراده وفرمايي (د مغفرت يې) اوپه عذاب کي اچوي هرهغه چي اراده وفرمايي (دعذاب يې) دغه ددوی دطمع شلولو لپاره دی چي دوی خوله رسول الله څخه داستغفار غوښتلوهيله درلوده ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ اُوهمېشه دی الله ډېرښه ببښونکی د (خطيناتو) ډېررحم والا(په ورکولوداجراوثواب کي) ﴿ سَيَقُولُ ٱلْمُخَلَّفُونَ إِذَا ٱنطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ﴾ ژربه ووايې (تاته) ورروسته پاتي کېدونکي (خلک) کله چي روان شی تاسي غنيمتونو(دخيبرته) دپاره ددې چي ترلاسه کړی تاسي هغه (غنيمتونه) ﴿ ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ ﴾ پرېږدئ موږ چي په تاسي پسي درځو(اوپه خيبرکي وجنگېږو) ﴿ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا۟ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ﴾ غواړي دوی چي بدل کړي کلام الله (دالله حکم) چي دحديبې له خلکو سره يې دخيبردغنيمتونووعده هسي فرمايلي وه چي يوازي به ددوی وي هيڅوک به ورسره گډون نلري قرطبي وايي الله دحديبې له خلکوسره دخيبر دغنيمتونووعده پدې فرمايلې وه چي دوی له مکې څخه په روغليک (صلحنامه) راستانه شول په عوض کي يې دخيبرغنيمتونه دوی ته خانگړي کړل (۱) ﴿ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته ! چي) له سره به متابعت ونکړی تاسي زموږ(چي ستاسو ونډه په غنيمت کي وشي) ﴿ كَذَٰلِكُمْ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ ﴾ همداسي فرمايلي وو الله پخوا له دې څخه (چي دخيبرغنيمتونه دحديبې دخلگودي بل څوک ورسره گډون نلري ﴿ فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ﴾ بيابه ژروو ايې چي حسداوکينه کوی تاسي له موږ سره (په گټه زموږ کي ای مؤمنانو ! چي) په غنيمت کي مونه درگډوی الله ددوی په ترديد کي فرمايي ﴿ بَلْ كَانُوا۟ لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ (دا سي نه ده)بلکه وو دوی چي نه به پوهېدل (له دين داسلامه) مگرخولږ

(۱) القرطبی ۲۷۰-۱۶

څه (چي د غنيمتونو او دنيوي أمورو حرص يې درلود ﴿ قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ ٱلْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ ﴾ ووايه (اى محمده!) وروسته پاتي کېدونکيو ته له صحرايي خلکو څخه ژر دی چي راوبه بلل شی تاسي طرف (د جنګ) د يو قوم ته چي د سخت جنګ خاوندان وي دغه د (مخلفين) لفظ يې په مکرر ډول ځکه راوړ چي د دغه کاربدوالی وښيي او په ناولتيا کي يې مبالغه وشي يعني ورته ووايه چي تاسو به د بني حنيفه چي د مسيلمة الكذاب قوم دی جنګ ته وبلل شي هغوی چي مرتدان دي ﴿ تُقَٰتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ ﴾ يا به جنګ کوی تاسي له هغو سره او يا به مسلمانېږي دوی (بې له جنګه) ﴿ فَإِن تُطِيعُوا۟ يُؤْتِكُمُ ٱللَّهُ أَجْرًا حَسَنًا ﴾ نو بيا که امرومنی تاسي د دغو بلونکيو د ربه کړي الله تاسي ته ښه اجر ثواب (چي غنيمت په دنيا او جنت په عقبا کي دی) ﴿ وَإِن تَتَوَلَّوْا۟ كَمَا تَوَلَّيْتُم مِّن قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ او که وګرزېدی تاسي لکه چي ګرزېدلي وی پخوا له دې څخه نو په عذاب به کړي (الله) تاسي په دردناک عذاب سره (په جهنم کي له دې وروسته الله معذور کسان داسي بيانوي ﴿ لَّيْسَ عَلَى ٱلْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى ٱلْمَرِيضِ حَرَجٌ ﴾ نشته په ړانده باندي هيڅ ګناه او تکليف او نه په ګوډ باندي هيڅ ګناه او تکليف او نه په ناروغ باندي هيڅ ګناه او تکليف (چي جهاد ته ولاړ نشي ځکه چي دوی څرګنده معذوران دي) ﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ او هر څوک چي اطاعت وکړي د الله (حکم ومني د الله) او د رسول د دغه (الله) نو داخل به کړي الله دی په جنتونو کي چي بهېږي له لاندي (د ونو او ماڼيو) د هغه ويالې (تل به هلته اوسي) ﴿ وَمَن يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ او هر هغه څوک چي وګرزېده (له احکامو د الله نو (الله) به په عذاب کړي دی په عذاب ډېر دردناک سره (په دنيا کي په ذلت او په آخرت کي په اور سره).

الله تعالی فرمايي:

﴿ ۞ لَّقَدْ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ
وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا (١٨) وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا (١٩) وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً
تَأْخُذُونَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِۦ وَكَفَّ أَيْدِىَ ٱلنَّاسِ عَنكُمْ وَلِتَكُونَ ءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا (٢٠)
وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُوا۟ عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرًا (٢١) وَلَوْ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوَلَّوُا۟ ٱلْأَدْبَٰرَ
ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا (٢٢) سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا (٢٣) وَهُوَ ٱلَّذِى
كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا (٢٤) هُمُ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوا۟ وَصَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَٱلْهَدْىَ مَعْكُوفًا أَن يَبْلُغَ مَحِلَّهُۥ ۚ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُونَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنَٰتٌ لَّمْ
تَعْلَمُوهُمْ أَن تَطَـُٔوهُمْ فَتُصِيبَكُم مِّنْهُم مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ لِّيُدْخِلَ ٱللَّهُ فِى رَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوا۟ لَعَذَّبْنَا ٱلَّذِينَ

كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٢٥﴾ إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنزَلَ اللَّهُ
سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ
عَلِيمًا ﴿٢٦﴾ لَّقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِن شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ
وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿٢٧﴾ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ
بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴿٢٨﴾ مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ ۚ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ
رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ ۖ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا ۖ سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ۚ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي
التَّوْرَاةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ
الْكُفَّارَ ۗ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٢٩﴾ الفتح: ١٨ - ٢٩

مناسبت:

کله چې الله تعالی دهغو منافقينو حال کوم چې له رسول الله څخه شاته پاتې شول بيان کړنو دلته الله دهغو مجاهدينو حال راوړي چاچې له رسول الله سره درضوان بيعت وکړاودغه يادونه ددوی دستري کارنامې دتلپاتې يادا و دالله جل جلاله درضاد اثبات لپاره دی په پای کې سورت داصحاب کرامو رضوان الله عليهم په بې ساري ثنا او بې مثله درناوي او تمجيد سره بشپړيږي.

لغتونه:

(اظفركم) غالب موکړی تاسي (١)(معكوفا) ترلی بند,اواعتكاف هم له دغه څخه اخيستل کيږي (معرة) عيب اومشقت چې پهٔ انسان پسي پتلېزوي اوله (عُرّ) څخه اخيستل شوی چې هغه د(جرب) ناروغي اورنځ دي (تزيلوا) تميزاوتوپيرکړي تاسي (الحمية) سخت غضب ننګ اوغيرت ته وايي (سيماهم) نښانه ددوی (شطاه) څانګه دده (٢)(آزره) ملا يې ټينګه کړي مرسته ورسره وکړي اوقوي يې کړي.

دنزول سبب:

انس رضی الله عنه وايی دمکې له خلکو څخه اتيا تنه وسله وال له تنعيم څخه راغلل اوپه رسول الله صلی الله عليه وسلم باندي راوګرزېدل غوښتل يې ويې وژني نوموږ هغوی ونيول اوبنديان موکړل نو الله جل جلاله دا آيت نازل کړ﴿ وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ ﴾ دآيت ترپايه(٣)

تفسير:

﴿ لَّقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ ﴾ خامخا راضي اوخوښ شوی دی الله تعالی له مؤمنانو نه هغه وخت چې له تاسره يې دوني لاندي بيعت کاوو(په حديبيه کې) مفسرين کرام

(١) البحر ٨/ ٨٨
(٢) الصحاح للجوهري
(٣) ٢٨٠--١٢

وايې چي ددغه بيعت سبب داووكله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم حديبې ته ورسېدو حضرت عثمان ﷺ يې دمكې خلګوته ورواستاووچي ورته ووايې رسول الله ﷺ دعمرې داداكولولپاره راغلى اودجنګ اراده نلريٌ كله چي حضرت عثمان ورغى هغوى بندي كړاورسول الله ته خبر ورسېدوچي ګواكي حضرت عثمان وژل شوى دى نورسول الله خپل اصحابان رضوان الله عليهم دبيعت اخيستلولپاره ديوې وني ترسيوري لاندي راټول كړل چي (كه دجنګ وار راغى) مكې ته به داخلېږي اودمرګ ترشېبې يې دجهادكولوبيعت ځني واخيست اودغه ته بيعت الرضوان وايې كله چي مشركانوته داخبره ورسېده نوحضرت عثمان ﷺ خوشي كړ او ويې منله چي راتلونكى كال دي محمد ﷺ دعمرې لپاره مكې ته راشي اودرې شپې ورځي دي پكي واوسي، دغه درسول الله ﷺ سره بيعت د(سمره) وني لاندي ترسره شواوپه بيعت رضوان سره ونومول شو، كله چي مسلمانان دستنېدلوپه وخت كي غمجن اوخواشيني ووالله ﷻ وغوښتل ددوى غم په خوشحالي وربدل كړي اوتسليت وركړي نودحديبې له راګرزېدلوسره سم دغه سورت الله ﷻ نازل كړ ﴿ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴾ دهغوكسانوشمېرچي له رسول الله ﷻ سره يې بيعت وكړ يوزراوڅلورسوه تنه وو اوددوى په هكله نازل شوچي ﴿ لَّقَدْ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ ﴾ له بيعت څخه پرته له (جدبن قيس) منافق څخه بل هيڅوک هم پرشانشول اودغه بيعت ته حضرت جبرائيل (عليه السلام) هم حاضرشوى وو ځكه په قرآن كريم كي ليكل شوي دي ﴿ فَعَلِمَ مَا فِى قُلُوبِهِمْ ﴾ (١) بيامعلوم كړالله (په ظاهري علم سره هم) هغه (اخلاص اووفاد دوى (ددښمنانودجنګ په هكله) چي په زړونوددوى كي وه ﴿ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ ﴾ بيارانښكته كړه (الله) سكينه اوډاډينه پردوى باندي ﴿ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴾ اوعوض وركړالله دوى ته برى نژدې (پدې بيعت باندي چي هغه برى دخيبرفتحه وه چي زيات غنيمتونه ولجې يې لرلې اودغه دآخرت په ثوابونوسربېره يوبل عوض وو ﴿ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ﴾ اوولجې (غنيمت) ډېرچي دوى به هغه واخلي (په خيبركي به يې ترلاسه كړي مفسرين كرام وايې چي الله ﷻ همداسي وكړل ددوى اودښمنانوترمينځ روغه لاس ليک شوه اوپه خيبركي ورته ډېرمالونه په لاس ورغلل بياوروسته ډېرځايونه اوملكونه فتح شول اوددنيا اوآخرت سرلوړي يې په برخه شوه (٢) ځكه نوالله تعالى فرمايې: ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾ اودى الله همېشه قوي غالب ډېر(پخپل حكم كي) حكمت والا (پخپل تدبيراو صنعت كي) ځكه يې تاسوته پردوى برى دركړاوغنيمتونه ولجې يې په لاس دروستلې ﴿ وَعَدَكُمُ ٱللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا ﴾ (وعده كړي ده الله تعالى له تاسي سره دغنيمتونو او ولجوډېروچي وابه يې خلى) يعني اى دمؤمنانوټولى الله ﷻ له تاسوسره ستاسوپه صبراوجهادد ستروفتوحاتواوزياترو ولجوچي له دښمنانوڅخه به يې ترلاسه كړى وعده فرمايلي ده. ابن عباس ﷺ وايې چي داګردي هغه

---

(١) دكيسې تفصيل په قرطبي تفسيركي ولوله.
(٢) دابن كثيرمختصر ٣ /٣٤٥

ولجې دي چي ترقیامته بې مؤمنان ترلاسه کوي (١)په البحرالمحیط کي وایې چي: داسلام قلمرو وغزېدواومسلمانانوبې شمېره فتوحات وکړل اوهمداسي زیاتره ولجې او غنیمتونه بې ترګوتوکړل. ختیزاولویدیزته ورسېدل آن تردې چي هنداوسوډان (تورپوستي آفریقایي دولتونه) بې هم لاندي کړل اودغه دالله تعالی دوعدې تصدیق وو. موږ ته دتکرور دهیوادونو د(غانا) له پاچهانوڅخه یوتن راغی چي دتوریانوپنځه ویشت دولتونه بې فتح کړي اوخلګ بې مسلمانان شوي وواوځیني پاچهان ورسره ملګري دحج داداکولولپاره راغلل (٢)﴿ فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِۦ ﴾ نوالله ژردر کړې تاسي ته دغه ولجې (دخیبرپرته له زیاراوجګړې) ﴿ وَكَفَّ أَيْدِيَ ٱلنَّاسِ عَنكُمْ ﴾ اوالله منع کړل لاسونه دخلکوله تاسي نه چي تاسي ته بې په دښمني دروغزوي. مفسرین کرام وایې چي له دې څخه مقصد د خیبرخلګ اوددوی دترون ملګري دي چي بني أسداوغطفان ووکله چي ددوی د مرستي لپاره راغلل په زړونوکې.بې الله وېره ورواچوله ﴿ وَلِتَكُونَ ءَايَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴾ (اوچي شي دا کار نښه دقدرت دالله لپاره دمؤمنانو) یعني ترڅودغه غنیمتونه ، دمکې فتح اودمسجدحرام دننه ورتلل درسول الله ﷺ دربښتنولي یوه څرګنده نښه شي چي تاسوته بې دالله له لوري دفتح پیغام ورساوو﴿ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴾ اوالله ښیي تاسي ته لاره برابره (چي جنات النعیم ته رسېږي دغه ستاسي دجهاداواخلاص برکت دی. امام فخر رازي وایې چي په آیت شریف کي دې ته اشاره ده چي کوم غنیمتونه اوفتوحات چي تاسي ته درکول شوي دغه ګردثوابونه ندي بلکه دغه یوه عاجله ونډه ده چي تاسوورباندي ګټه واخلی جزاء اوعوض خوپه مخکي دی اوبل داچي دغه دوروسته راتلونکو مؤمنانولپاره یوه نښه وي چي درسول الله دربښتني ژمني اووعدې تصدیق کوي ګڼه دوی ته به هم درسول الله ﷺ کړی شوي وعدې همداسي یوپه بل پسي ترسره اوربښتیا کېږي لکه چي تاسوته ربښتیاشوي (٣)﴿ وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُواْ عَلَيْهَا ﴾ اوبل(غنیمت اوبری درکړي تاسي ته) چي لانه وي قادر تاسي په هغو (خوالله پخپل فضل اوکرم فتح درته نصیب کړه او مقصد له فتح څخه دمکې فتح ده) ﴿ قَدْ أَحَاطَ ٱللَّهُ بِهَا ﴾ په تحقیق (علمي) احاطه کړې ده الله په هغو غنائموباندي (په قدرت خپل سره اوتاسوته بې ښنلي دي لکه چي یوځېزله تولوخواوو راګیرشوی وي اودتللواوضائع کېدلونه وي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا ﴾ اودی الله په هرشي باندي ښه قادر اوتوانا(هیڅوک بې مغلوب کولای نشي الله دخپلودوستانوپه مرسته کولواو ددښمنانو په ځپلوښه قادردی. ابن کثیروایې: معناداچي بل غنیمت اوبله ټاکلي فتح چي تاسوور باندي قادرنه وی الله تاسوته آسانه کړه ځکه الله خپلو متقیانو بندګانوته﴿مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾،روزي ورکوي مقصد پدې آیت کي دمکې فتح ده اوطبري هم غوره

(١) القرطبي ١٢/ ٢٧٨

(٢) کبیرتفسیر.

(٣) کبیر ٢٨/ ٩٢

کړي ده (۱) ﴿ وَلَوْ قَٰتَلَكُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوَلَّوُا۟ ٱلْأَدْبَٰرَ ﴾ (او که جنګ وکړي له تاسي سره هغه کسان چي کافران شوي وو نو خامخا به يې ګرزولي وي شاوي خپلي) دغه ديوبل نعمت يادونه او تذکيردی يعني که کافرانو د مکې درسره جنګ کړی وای او ترمينځ موسوله نه وای شوي نو ارومروبه دوی مغلوب شوي وای او مقاومت به يې نه وو کړی ﴿ ثُمَّ لَا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴾ بيا به يې څوک دوست نه وو موندلی او نه به يې ساتونکی او مددګار پيدا کړی وو (چي دوی يې دالله له عذابه ژغورلي وای) ﴿ سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلُ ﴾ (طريقه ايښي ده الله دغالبېدلو د حق) په طريقې هغي سره چي په تحقيق سره تېرشوي دي پخواله دې نه (له ماتي دکفارو او بری دمؤمنانو څخه. په البحرالمحيط کي وايې معناداچي دغه دالله هغه تېره لاره ده کومه چي دخپلو استازو او پيغمبرانو لپاره يې ټاکلي هغه داوينا چي ﴿ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ ﴾ (۲) ﴿ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ﴾ او له سره به ونه مومې طريقې دالله لره تبديل او اوښتل (دالله لاره تغير او تبديل نه مومي) ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ ﴾ او الله هغه (ذات) دی چي بنديې کړل لاسونه دهغو له تاسو څخه او لاسونه ستاسي له هغوی (کفارو) څخه په مينځ دمکې کي (چي دحديبې کلی وو. ابن کثيروايې چي دادالله هغه امتنان دی چي خپلو مؤمنانو ته يې څرګندوي چي الله دوی دواړه ډلي له جګړې کولو څخه وژغورل او ترمينځ يې سوله وشوه چي دمؤمنانو لپاره پکي خير اود دنيا او آخرت ګټه ده(۳) ﴿ مِنۢ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ﴾ پس له هغه چي غالب يې کړی تاسي په هغو (چي بنديان موترې ونيول او وربانديي برلاسي شوی حلال وايې چي اتيا تنه مشرکان دمؤمنانو په قرارګاه باندي يرغل راوړ چي مؤمنان وربروي مګرمؤمنانو هغوی ونيول او رسول الله ﷺ ته يې (لاس تړلي) راوستل رسول الله ﷺ دهغوپه تېري باندي سترګي پټي او ويې بښل همدغه دسولي دلاس ليک کېدلو سبب شو. په التسهيل کي وايې چي دقريشوپوځ ټولی ځوانانوحديبې ته مخه کړه ترڅوچي مسلمانان وربروي نورسول الله ﷺ خالدبن وليدله يوې ټولی مسلمانانوسره ورواستاووچي هغوی يې مات کړل او ځيني يې ترې ونيول اورسول الله ﷺ ته يې راوستل رسول الله بياهغوی خوشي کړل نود کفارولاس بندول معناددوی ماتي او بندي کېدل دي اودمسلمانانولاس بندول معناداچي کفاريې بېرته پرې ښودل اوويې نه وژل(۴) ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴾ او دی الله په هغه څه چي تاسي يې کوی ښه ليدونکی (ستاسومصالح ورته ښه معلوم دي ځکه يې تاسوله کافرانوڅخه

---

(۱) هغه چي ابن کثيرليکلي هغه څرګند او دطبري او ابوحيان غوره دي او له قتاده او حسن څخه نقل شوي او ددې تائيد دالله جل جلاله داويناهم کوي چي (لم تقدرواعليها) دغه پدې دلالت کوي چي يوځل پخوايې هم دفتح کولوهڅه شوي وه او دغه دمکې په فتح باندي تطبيقېږي چاپياويلي چي مراد له فتحي نه دفارس، روم فتوحات دي اوچاپيادغه دهوازن، حنين فتح ګڼلي خوکوم چي موږليکلي هغه څرګند دي.

(۲) البحرالمحيط ۸/ ۹۷

(۳) دابن کثير مختصر ۳/ ۳۴۲

(۴) التسهيل ۴/ ۵۴

بندکړې اوخپلې بیتې حرمت یې وژغوره چې پکې وینې توی نشوې، بیاالله پاک دمشرکانودعذاب اوهلاکت لپاره استحقاق داسې بیانوي ﴿ هُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّوكُمۡ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ ﴾ دوی هغه کسان دي چې کافران شوي اومنع کړي یې وی تاسې له مسجد حرام څخه(چې عمره اداکړی دحدیبې په کال) ﴿ وَٱلۡهَدۡيَ مَعۡكُوفًا أَن يَبۡلُغَ مَحِلَّهُۥۚ ﴾ او(منع کړي یې وې) قرباني دتاسې په دې حال کې چې بندي کړې شوي وی له دې څخه چې ورسېږي ځای دحلالولوخپلوته (چې حرم دی) قرطبي وایې: قریشودحدیبې په کال مسلمانان دمسجدحرام له ننوتلوڅخه هغه مهال چې رسول الله اومؤمنانودعمرې احرام تړلی وومنع کړل همداسې ددوی قرباني یې نه پرېښودې چې خپل ځای ته ورسېږي . دغه ددوی عقیده نه وه خوبیایې هم دننګ اوغیرت له مخې هغه څه وکړل چې عقیدې یې هم ورته نلرلې الله په همدغه باندې ورته توبیخ وکړدعذاب تهدید یې ورته راواستاوواوپه رسول الله ﷺ باندې یې دډاډینې. اوتسلابیان ولوراوو(¹) ﴿ وَلَوۡلَا رِجَالٞ مُّؤۡمِنُونَ وَنِسَآءٞ مُّؤۡمِنَٰتٞ ﴾ که چېرې نه وای (پټ په کفاروکې) څوسړې ایمان راوړونکې اوښځې ایمان راوړونکې (هغوی (مستضعفین چې له مشرکانوڅخه یې خپل ایمان پټاوو) ﴿ لَّمۡ تَعۡلَمُوهُمۡ ﴾ چې تاسې هغوی نه پېژندل (ځکه چې په مشرکانوکې ګډوو) که داخطره نه وای چې ﴿ أَن تَطَـُٔوهُمۡ فَتُصِيبَكُم مِّنۡهُم مَّعَرَّةُۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۖ ﴾ پایمال کړې ووتاسوهغوی (هم سره له کفارو) پس رسېدلې به وو له هغوی څخه تاسې ته څه ضرراوغم په ناپوهې سره ، د(لو) ځواب محذوف اوهغه دا چې تاسوته به یې دمکې دننوتلواوجهادحکم درکړې وواوتاسوبه یې په مشرکانومسلط کړي وای. صاوي وایې چې ځواب محذوف دی اوجلال هغه داسې مقدرکړی چې الله به دفتح حکم درکړې وو لیکن حکم یې درنکړ(²) ﴿ لِّيُدۡخِلَ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۚ ﴾ (لپاره ددې چې داخل کړي الله په رحمت خپل کې هرهغه چې اراده وفرمایې (دداخلولوېې) یعنې دغه کارېې (دجنګ نه کېدل) ددې لپاره وکړ چې مؤمنان دمشرکانوله مینځ څخه راوباسې اوډېرخلګ اسلام راوړې کوم چې داسلام راوړلو برخه لیک یې لاروا،اوپه جګړه کې لتا،نشي . قرطبي وایې معنادا چې الله دمشرکانوسره په جنګ کولوحکم درنکړترڅوله سولې وروسته هغه کسان چې په تقدیرکې یې اسلام راوړل شته اسلام راوړې همداسې هم وشول چې زیات کسان مسلمانان شول اوداالله په رحمت اوجنت کې ګډشول(³) ﴿ لَوۡ تَزَيَّلُواْ لَعَذَّبۡنَا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ که چېرې جلاشوي وای (دغه مؤمنان له کفارو څخه) نوخامخا به مو په عذاب کړي ووهغه کسان چې کافران شویدي له دغو(اهل دمکې) څخه په عذاب ډېردردناک سره (چې قتل شړل اوبندي کېدل دي ﴿ إِذۡ جَعَلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ﴾ کله چې ګرزولې ووهغوکسانوچې کافران شوي ووپه زړونوخپلوکې ننګ هسې ننګ چې دجاهلیت نا پوهې وه

(¹) دقرطبي تفسیر۱۶/۲۸۳
(²) حاشیة الصاوی علی الجلالین۴/۹۸
(³) دقرطبي تفسیر۱۶/۲۸۶

(په باطل سره يې تکبرته ملاوتړله اونه يې منل چي دسولې په ليک کي بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اوياداچي (محمدرسول الله) وليکل شي دوی ويلي که موږدامنلای چي ته رسول الله يې بيابه موستامتابعت (پلوي) کړي وه ، خپل نوم اودپلارنوم دي وليکه ! ﴿ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ نونازل کړالله ډاډينه اواطمينان خپل په خپل رسول اومؤمنانوباندي (داسي ننګ اوغيرت ورته و.. دربدولکه چي مشرکانوته دربدلی وو(۱) ﴿ وَأَلۡزَمَهُمۡ كَلِمَةَ ٱلتَّقۡوَىٰ ﴾ اوټينګه لازمه يې کړه هغوی لره کلمه دتقوی (خبره دادب ، الزام دتکريم اوتشريف) جمهوروايي دغه دتوحيد کلمه ده چي لااله الاالله دی اوظاهردادی چي مقصدله کلمې دتقوی څخه ددوی اخلاص اوحکم منل دالله اورسول الله دی چي کله د دروغي ليک (صلحنامې) مادې (بندونه) وليکلې شوې نودوی سره له دې چي په ظاهري توګه دمسلمانانوپه زيان معلومېدې سرغړونه ونکړه ، نوالله جل جلاله دوی درسول الله په حکم منلوباندې ثابت اوټينګ کړل اوپه دغه سوله کي دمسلمانانو هراړخيزي ګټي خوندي وي (۲) ﴿ وَكَانُوٓاْ أَحَقَّ بِهَا وَأَهۡلَهَاۚ ﴾ او وودوی ښه لائق ورله دغه سره اواهل ددې (کلمې دتقوی) له کفارود مکې څخه ځکه دوی هغه کسان دي چي الله دخپل دين اوخپل نازولی پيغمبردملګرتياليپاره غوره اوچاڼ کړي دي ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا ﴾ اودی الله په هرشي باندي ښه پوه (چي څوک دفضيلت اهل دی نوزيات خيراوتکريم ورباندي لوروي وروسته الله ﷻ درسول الله ﷺ دخوب (چي رښتونی خوب دی ځکه چي دوحی توته ده بيان داسي فرمايي : ﴿ لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ ﴾ خامخاپه تحقيق رښتياښودلی دی الله رسول خپل ته خوب دده په حقه اورښتيا) (لام) دقسم ليپاره توطئه او(قد) دتحقيق ليپاره دی يعني قسم دی چي الله دپيغمبرخوب رښتيااوثابت کرزولی دغه شيطاني خوب نه ووحقاني خوب وومفسرين کرام وايي: رسول الله يووخت په خوب کي وليدل چي: هغه اواصحابان (رضی الله عنهم) مکې ته دننه شول په بيت الله يې طواف وکړاوبيايي حلق اوتقصير وفرمايودغه بشارت يې اصحابانوته واوراووهغوی خوښ شول اويوله بله يې زېري تبادله کړل کله چي بياحديبې ته راغلل اومشرکانودمکې له ننوتلوڅخه راوګرزول اوبياصلح وشوه نومنافقانوداسي ګنګوسې خپرې کړې چي په والله که موبيابيت الله ليدلی اويامو حلق اوتقصير کړی وي هغه خوب څنګه شو؟ ! دځينو مسلمانانوپه

(۱) سيدقطب رحمه الله په خپل تفسيرالظلال کي ليکي : چي دغه ننګ دکبر، وياړ، تعنت اوسرغړوني ننګ دی چي دوی درسول الله اومؤمنانوپه مخ کي خنډجوړوي نه پرېږدی چي(هدی) دحلالولو ځای ته ورسي اودهرچادوداودستورترپښولاندي کوي هرډول عقيده پايمالوي ددې ليپاره چي عرب ونه وايي محمد اومسلمانان په زوره مکې ته ورننوتل دغه دجاهليت ناره ده دوی دداسي يوی لويې ګناه ترسره کولو ته اړباسي چي هغه په هردوداودين کي نامنلي ده دوی دبيت الله الحرام حرمت اوعزت ترپښولاندي کوي کوم بيت الحرام چي دوی دهغې دسپېڅلتيااوقداست په بيه پکي خپل ژوند بسياکړی دی دوی دحرامو مياشتو حرمت چي نه په جاهليت کي اونه هم په اسلام کي له مينځه وړل شوي له مينځه وړي. الظلال ۲۲/ ۱۱۵

(۲) داهغه څه دي چي الله تعالی ماته ددې آيتونودتفسيرپه وخت کي الهام وفرمايو(صابوني)

زړونو کي هم یوڅه پیدا شول نو دغه آیت شریف نازل شو: ﴿لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ﴾ پوه شه چي د پیغمبر خوب حق دی او هغه څه چي پیغمبر یې ویني هیڅکله هم دروغ کېږي نه خو په خوب کي داسي نه وو ورته ویل شوي چي دغه به د هجرت په شپږم کال وي یوازي د ننوتلو انځور ور لیدل شوی وو او همدغه الله جل جلاله یو کال وروسته رښتیا کړ همدغه د الله جل جلاله وینا ده چي: ﴿لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ﴾ چي خامخا به داخل شي تاسي مسجد حرام ته که الله اراده وفرمایي ﴿ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ﴾ په امن او آرام سره حال دا چي خرېیونکي به وي د سرونو خپلو او لنډونکي به وي (د وېښتانو خپلو وروسته له اداکولو د عمرې څخه ﴿لَا تَخَافُونَ﴾ نه به وېرېږئ تاسي له هیچا څخه دلته تکرار نشته ځکه چي یو ځل ﴿ءَامِنِينَ﴾ د داخلېدلو په وخت کي او بیا د او سېدلو وروسته د بېرته راوتلو په وخت کي بښیي ﴿فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟﴾ نو معلوم دی الله ته (فوائد د دغي سولي هغه چي تاسو ته معلوم نه دي ابن جزي وايي چي مقصد دلته هغه څه دي چي الله د اسلام د خپراوي کومه اراده درلوده هغه ترسره او اسلام خلکو ته مرغوب شو رسول الله ﷺ د حدیبې په وخت کي له یوزراوڅلورسوه اصحابانو سره وو او دوه کاله وروسته چي د فتحي غزاوه ورسره لس زره کسان ملګري وو([1]) ﴿فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا﴾ نو ویې ګرزوله پخوا له دغه داخلېدلو د مکې نه فتحه او بری نژدې (چي د حدیبې صلح ده او ورباندي ستر آثار مرتب شول ښایسته انجام یې درلود ځکه نو امام بخاري له براء رضی الله عنه څخه روایت کوي چي هغه وویل: تاسو خو فتح د مکې فتح ګڼله کومه چي فتح وه او موږ بیا د حدیبې په ورځ (بیعت الرضوان) فتحه ګڼو([2]) د حدیث تر پایه ﴿هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ﴾ دغه (الله) هغه ذات دی چي رالېږلی یې رسول خپل په (ښوونه د) سمي لاري او حق دین سره (چي اسلام دی) ﴿لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ﴾ لپاره د دې چي غلبه ورکړي (پورته کړي هغه دین) پر ټولو دینونو باندي ﴿وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا﴾ او کافي بس دی الله ښه شاهد (پدې چي محمد ﷺ یې رسول دی بیا الله ﷻ د رسول الله په اصحابانو باندي ښایسته ثنالوستلي او د خپل پیغمبر د رسالت تصدیق یې فرمایلی دی چي: ﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ﴾ محمد د الله رالېږل شوی رسول دی (په حقه سره نه داسي لکه چي مشرکان وایي) ﴿وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ﴾ او هغه کسان چي له ده سره دي سخت دي پر کافرانو باندي

([1]) التسهیل ۴/ ۵۲

([2]) د بخاري حدیث او بشپړیې دا چي هغه وخت موږ له رسول الله سره څوارلس سوه تنه وو په حدیبیه کي یو کوهی وو چي موږ یې او به راایستلي او یو څاڅکی هم پکي پاتي نشو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبر ورسېد و هغه راغی د کوهي په غاړه کېناست او د اوبو لوښی یې وغوښت او دس یې تازه کړ مضمضه یې وکړه او اوبه یې په کوهي کي توی کړې یو څه وخت مو کوهی همداسي پرېښود بیا مو هر څومره اوبه چي ترې راایستلي او موږ او زموږ مراکبو څښلې پکي پیدا شوي وې.

مهربان اوزړه سواندي دي پخپلو مينځونو كي لكه چي الله فرمايي ﴿ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ (المائده:٥٤) ابو السعود وايي: معناداچي څوك ددوى ددين مخالفت كوي دوى له هغوى سره سختيااوشدت كوي اوڅوك چي يې په دين كي ورسره ګډوي له هغوى سره مهرباني او لورينه كوي (١)مفسرين كرام وايي داپه دې چي الله ورته له كفاروسره دغلظت حكم كوي چي ﴿ وَلْيَجِدُوا۟ فِيكُمْ غِلْظَةً ﴾ ددوى شدت له كفاروسره هغه اندازې ته رسېدلي ووچي نه به يې غوښتل دكفاروجامې له بدن سره ونښلي اوخپل مسلمانان ورونه به يې بيا په غيږكي نيول اومصافحه به يې ورسره كوله ﴿ تَرَىٰهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا ﴾ وينې به ته هغوى ركوع كونكي اوسجده كونكي يعني اى اورېدونكي دوى به له ډېرولمنځونواوعبادتونوپه ركوع اوسجده كي وينې دشپې عبادت كونكي اودورځي ژمريان دي ﴿ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا ﴾ غواړي دوى په دې عبادت سره فضل اومهرباني له الله څخه اورضامندي يې غواړي. ابن كثيروايي چي دوى يې په ډېرولمنځونو وستايل هغه چي دګردوكارونو بهتردي اوددوى اخلاص چي له الله سره يې لري يادكړچي دالله خوښي اوثواب يې هيله وي اوهمدغه ثواب جنت دى چي دالله په فضل اورضابه مشتمل وي (٢)﴿ سِيمَاهُمْ فِى وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ ٱلسُّجُودِ ﴾ نښي ددينداري ددوى ثابتي دي په مخونوددوى كي له اثره دسجدوڅخه . قرطبي وايي چي ددوى په مخونوكي دتهجد دلمانځه نورانيت اودې خوبي نښي ښكاري وي. ابن جريج وايي چي دغه نښي عبارت له وقار، عزت اونورانيت څخه دي مجاهدوايي چي: داخشوع اوتواضع وي منصور وايي: له مجاهد څخه مي دالله جل جلاله ددې وينا په هكله وپوښتل چي:﴿ سِيمَاهُمْ فِى وُجُوهِهِم ﴾ آيادا هغه نښي دئ چي دسړي په تندي كي وي هغه راته وويل: نه ډېرځله به ديوچاتندي لكه دوزې ښكري غوندي وي خوزړه به يې له تېږي لاهم كلك وي (٣) بلكه دغه نورانيت دى چي له خشوع څخه پيداكېږي ﴿ ذَٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ ﴾ دااوصاف هغه اوصاف دي چي مثالونه يې په تورات كي بيان شوي (چي شدت په كفارو، زړه سوى په مسلمانانو، زيات لمنځونه اوسجدې دي) ﴿ وَمَثَلُهُمْ فِى ٱلْإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْـَٔهُۥ فَـَٔازَرَهُۥ فَٱسْتَغْلَظَ ﴾ اومثال ددوى انجيل كي لكه هغه كښت چي راباسي ځانګي خپلي بيايې ملاخپله ټينګه كړي بياكلكه شي دغه ځانګه ﴿ فَٱسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِۦ ﴾ بياودرېږي دغه (كښت) پس له نرمي اوضعيف والي په پښواوبېخونوخپلو ﴿ يُعْجِبُ ٱلزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ ٱلْكُفَّارَ ﴾ پداسي حال كي چي قوت ددې كښت په تعجب كي اچوي بزګران ، داقوت ددې لپاره دى چي كفارپه قهر راولي په سبب دزياتي ددې اوښكلى منظرسره . ضحاك وايي: دغه يوخوراڅرګندمثال دى كښت محمدرسول الله دى ځانګي يې اصحابان چي لږوو

---

(١) ابو السعود ٥ /٨٦

(٢) دابن كثير مختصر ٣ /٣٥٥

(٣) القرطبي ١٢ /٢٩٣-٢٩٥

بیازیات شول کمزوري وو قوي وګرزېدل اوقرطبي وايي چې: داهغه مثال دی چې الله تعالی د پیغمبرعلیه السلام داصحابولپاره راوړی دی دوی لږکي وو بیازیات شول رسول الله په لومړۍ مرحله کي کله چې بلنه پیل کوله ضعیف وو اوبیایوه دهغه بلنه منله ترڅوچي قوت یې وموندلکه چې کښت وروړو خپل قوت وروسته دزړي له زرغونېدومومي ترڅویې څانګي وغوړېږي تنه یې قوي شي دغه دېرښکلی مثال اوغښتلی بیان دی ﴿ وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنۡهُم مَّغۡفِرَةً وَأَجۡرًا عَظِيمَۢا ﴾ وعده کړي ده الله له هغوکسانوسره چې ایمان یې راوړی اونېک عملونه یې کړي دي (وعده) دبښني اوسترا جر(چې رزق کریم په جنات النعیم کي دی (اللهم ارزقنامحبتهم آمین یارب العالمین).

بلاغت:

پدې سورت کي چې دبیان اوبدیع ګومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱- دطباق صنعت چې د ﴿ مَا تَقَدَّمَ ﴾ .. ﴿ وَمَا تَأَخَّرَ ﴾ ترمینځ اود ﴿ وَمُبَشِّرًا ...وَنَذِيرًا ﴾ ترمینځ اود ﴿ بُكۡرَةً ... وَأَصِيلًا ﴾ ترمینځ اود ﴿ نَّكَثَ... أَوۡفَىٰ ﴾ ترمینځ اود ﴿ أَرَادَ بِكُمۡ ضَرًّا ... أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ نَفۡعَۢا ﴾ ترمینځ اود ﴿ يَغۡفِرُ... وَيُعَذِّبُ ﴾ ترمینځ اود ﴿ مُحَلِّقِينَ ...وَمُقَصِّرِينَ ﴾ ترمینځ اود ﴿ أَشِدَّآءُ ... رُحَمَآءُ ﴾ ترمینځ راغلی دی.

۲- مقابله چې د ﴿ لِّيُدۡخِلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ﴾ ترمینځ اود ﴿ وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ ﴾ ترمینځ شتون لري.

۳- تصریحي مکنیه استعاره لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ ﴾ پدې آیت کي دوې استعارې دي یوه داچې دالله په لارکي هغه دقرباني اوځان جارېدلو وعدې یې مشابه کړې له هغوتوکوسره چې دمال په بدل کي ورکول کېږي اودمشبه به نوم یې دمشبه لپاره استعاره کړچي له بیع څخه مشتق او(يُبَايِعُونَ) یې وفرمایل چې د(یعاهدون) په معنادی یعني دوی دخپلوځانودالله په لارکي دورکولوعهداوپیمان کوي بله استعاره مکنیه ده چې پدې قول کي راغي ﴿ يَدُ ٱللَّهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡۚ ﴾ دلته یې دالله اطلاع اوخبرداری ددوی بیعت باندې اودوی ته ددوی په طاعت باندې ثواب ورکول یې له هغه پاچاسره مشابه کړل کوم چې خپل لاس یې دخپل امیراورعیت په لاس باندې سربېره اېښی وي مشبه به یې ذکرنکړبلکه دهغه له لوازموڅخه یې یوه ته اشاره وکړه چې هغه لاس دی اودغه ګواکي مکنیه استعاره ده.

۴- پدې کلام کي چې فرمايي: ﴿ لَوَلَّوُاْ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ﴾ دلته له ماتي اوشکست څخه کنایه راغلي څکه مغلوب تن شاګرزوي اوتېښته کوي.

۵- دمضارع په صیغه تعبیرچي دمبایعت صورت مستحضرونبیي لکه چې فرمايي ﴿ لَّقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ يُبَايِعُونَكَ ﴾ دآیت ترپایه

۶ – دالتفات صنعت چي له غائب څخه بې مخاطب ته کوي هلته چي وروسته له دې قوله چي ﴿فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ﴾ داسي فرمايي: ﴿وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً﴾ دلته د مؤمنانو دتشريف مقام څرګندوي اوپردوی دالله امتنان ښيي.

۷ – اطناب چي د(حرج) په تکرارسره صورت نيسي هلته چي الله تعالى فرمايي: ﴿لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ﴾ ترڅوچي له دغومعذوروکسانوڅخه دبې ګناهي تاکيدافاده کړي.

۸ – تمثيلي تشبيه دالله تعالى پدې کلام کي چي: ﴿كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ﴾ دآيت ترپايه څکه چي دتشبيه وجه له متعدد څخه اخيستل شوي ده.

۹ – دفواصلو مراعات چي دآيتونو په پای کي راځي اودغه له بديعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي.

دالله جل جلاله په مرسته دالفتح سورت تفسيربشپړشو.

***

دالحجرات سورت مدني اواتلس آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دغه سورت مدني اوله لنډون سره سره خوراستراولوړمفاهيم پکې دي چي په ترڅ کي يې دتلپاتي روزني حقائق خوندي دي اودفضيلت لرونکي ټولني تادوونه ايږدي آن تردې چي ځيني مفسرين کراموخو(سورة الاخلاق) بللی.

دسورت پيل داوچت ادب يادونه هغه چي الله مؤمنانوته ورښودلی چي دالهي شريعت اودپيغمبرداوامروپه هکله يې خپل کړی ترڅودوی هيڅکله هم يوکاراوچاره رايه اويا حکم درسول الله په حضورکي پخپله خوښه غوڅه نکړي ترڅودرسول الله صلى الله عليه وسلم مشوره يې ترلاسه کړي نه وي اوداچي دوی دي همېشه درسول الله صلى الله عليه وسلم له حکمته دکي لارښووني ټينګي په غوږ کي ونيسي اوعمل دي پرې کوي لکه چي فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾.

بيايوبل ادب ته لېږدي هغه داچي درسول الله په وړاندي دي خپل غږ نه اوچتوي ترڅودهغه دستر اوشريف قدردرناوی وشي څکه هغه لکه نورعادي کسان غوندي شخصيت نه دی بلکه دالله استازی اوپيغمبردی په مسلمانانولازم دي چي له هغه سره په خبرو اتروکي ادب وکړي اودهغه ﷺ درناوی تعظيم اوتوقيروشي ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ ..﴾.

هم داسي له خصوصي ادابو څخه عمومي ادابو ته درومي ترڅو ديوې خورا بهترې ټولنې مراندې
ټينګې کړي نو مسلمانانو ته امر کوي چې آوازې افواهات دې نه اوري او چې کله کومه خبره اوري څېړنه
او ګروېړنه دې وکړي په ځانګړي توګه هغه خبره چې له يوه ناکاره او تورن سړي څخه واورېدل شي ځکه
د پرځله يوه خبره کوم فاسق فاجر خپره کړي او دلوى ناورين سبب وګرزي او د پرځله يوه خبره چې په هکله
يې پلټنه ونشي دلوى جنجال او وبال سبب وګرزي نو فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ
فَتَبَيَّنُوٓاْ ... ﴾.

همدا د اول سورت د دووجګړه مارو ډلو ترمينځ د سولې ماړينه کوي ترڅو چې دښمنې دفع او
ورورولي ټينګه شي فرمايي: ﴿ وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَاۖ ﴾ د آيتونو ترپايه.

بيا سورت له ملنډو، ريشخند، پېښاړو، غيبت او دعيب جوړې، جاسوسي کولو، چغلي او په
مسلمانانو له بدګماني څخه نور مسلمانان وېروي او مکارم الاخلاق ته يې رابولي ترڅو ټولنيز فضائل په
ځان کې پيدا کړي او کله چې له غيبت څخه مؤمنان وېروي دغه منع او نهی په يو عجيبه نادر او بديع
تعبير سره چې قرآنکريم ايجاد کړي فرمايي هغه دا چې ديو سړي انځور کاږي چې د خپل مړه ورور په څنګ
کې ناست او د هغه غوښې رابېلوي او خوري يې: ﴿ وَلَا تَجَسَّسُواْ وَلَا يَغۡتَب بَّعۡضُكُم بَعۡضًاۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمۡ أَن
يَأۡكُلَ لَحۡمَ أَخِيهِ مَيۡتٗا فَكَرِهۡتُمُوهُۚ ... ﴾ سبحان الله څومره عجيبه نفرت اوکرکه ده؟!.

په پای کې سورت له هغو صحرايانو څخه د غېږې کوم چې ګمان به يې کاوو ايمان يوازې په ژبه
باندې کلمه ويل دې دوی به راتلل او په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې به يې احسان باراوو چې
ګنه موږ هم ايمان راوړی دی نو د سورت پدې برخه کې د ايمان او اسلام حقيقت څرګند ېږي او د کامل مؤمن
شرطونه بيانېږي هغه څوک چې ايمان، اخلاص، جهاد او صالح نېک عمل يې سره يو ځای کړي وي
رښتونی مؤمن دی فرمايي ﴿ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ
وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ... ﴾ د سورت ترپايه.

تسميه او نو مول يې:

ځکه يې سورت الحجرات بولي چې الله تعالی پکې د پيغمبر عليه السلام د خونو او کوټو عزت
او حرمت ياد کړی هغه حجرې چې أمهات المؤمنين پکې اوسېدلې رضوان الله عليهن اجمعين

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴿١﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ
أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجۡهَرُواْ لَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ أَن تَحۡبَطَ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ
﴿٢﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصۡوَٰتَهُمۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمۡتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡ لِلتَّقۡوَىٰۚ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٌ عَظِيمٌ
﴿٣﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلۡحُجُرَٰتِ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿٤﴾ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ صَبَرُواْ حَتَّىٰ تَخۡرُجَ إِلَيۡهِمۡ لَكَانَ خَيۡرٗا

لَهُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۵﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا
فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ ﴿۶﴾ وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ
وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ ﴿۷﴾ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً وَاللَّهُ
عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۸﴾ وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي
حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿۹﴾ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ
فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿۱۰﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰ أَن يَكُونُوا خَيْرًا
مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَىٰ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ
الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿۱۱﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا
تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ
﴿۱۲﴾ ﴾ الحجرات: ۱ ـ ۱۲

لغتونه:

(يغضون) ټيټوي سوکه اوکراروي (فاسق) له شرعي حدودوڅخه وتلي ته وايي دغه کلمه په اصل اشتقاق کې هغې معناته وايې چې په وتلودلالت کوي لکه چې عربوبه ويل (فسقت الرطبة) کله چې به خرماله خپل پټوکي څخه راووتله اوفاسق چې وبلل شوهم ځکه چې دشريعت له حدودو بهرشوى دى (نبأ) مهم خبرته وايي راغب وايي چې هري خبري ته نبأنشي ويل کېداى څوچې پکې ستره فائده نه وي ترڅوبيا، علم اوغالب ګمان ورباندي حاصل شي(۱)(عنتم) تاسوبه په مشقت کې ولوېږى له (عنت) څخه اخيستل شوى اوهغه هلاکت ته وايي (۲)(الراشدون) دراشدجمع اوهغه چاته ويل کېږي چې دښوکارونوخواته رهبري شوي وي (تفئ) له فاء څخه اخيستل شوي اوهغه رجوع کولو ته وايي (بغت) په ظلم اوطغيان کې تجاوز کول (تلمزوا) چې تاسويې عيب جويې کوى.

دنزول سبب:

أ:-روايت کېږي چې ځيني ساده خلک درسول الله ﷺ دازواج مطهراتو حجروته راغلل اورسول الله ته يې ناري کړې: اى محمده ! راووزه ! نو الله ﷻ داآيت نازل کړ: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴾.

ب:- اوروايت کاوه شي چې رسول الله ﷺ (وليدبن عقبه) حارث بن ضرارته ورواستاوو ترڅو هغه دزکات مال چې له هغه سره دى ځيني واخلي اوله خپل قوم څخه يې راغوندکړي کله چې وليد بن عقبه

(۱) مفردات الراغب.
(۲) لسان العرب.

هلته نژدې ورغی نو ووېرېدو اورسول الله ته بېرته راغی ورته ویل یې یارسول الله هغوی مرتدان شوي اوزکات نه ورکوي رسول الله ﷺ وپتېیله چې څیني اصحابان رضوان الله علیهم دهغوی د سرزنش لپاره وروا ستوي نو دا آیت نازل شو: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ .. ﴾.

ج- له أنس ﷺ څخه روایت کېږي هغه وایي رسول الله ﷺ ته وویل شول که چېرې عبدالله بن أبی (هغه چې دمنافقانوسردار وو) ته ورشي رسول الله ﷺ په مرکب سپورشو او اصحابان رضی الله عنهم ور سره پیاده روان شول کله چې رسول الله ﷺ وروررسېدونو ابن أبی ورته وویل له ما څخه لیرې اوسه زما دي په الله سوګندوي ستا د مرکب بوی ماته تکلیف راکوي نو دانصارو څخه یوتن ورته وویل: قسم په الله دی چې درسول الله ﷺ دمرکب خوشبویې له تا څخه زیاته ده نو دا بن أبی په ملاتړ دهغه دقوم یوتن ودرېدو او دانصاري په ملاتړ نورکسان دانصارو څخه ودرېدل یوله بله یې په څپلیو، لاسونو او د خرماونو په پټوکوسره وارونه وکړل نو دا آیت نازل شو: ﴿ وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَاۖ ... ﴾ دآیت ترپایه([1]).

تفسیر:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ ﴾ (ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی مه وړاندې کوئ مفکورې خپلې په مخکې له صدوره دامرد الله تعالی اورسول دهغه)بلکه دهغوی اوامروته انتظارکوئ) یعني ای هغو کسانو چې دایمان صفت لرې او په کتاب الله موباورد ی مه وړاندې کوئ کارونه او چارې دالله اورسول الله په وړاندې مفعول دتعمیم لپاره حذف شوی دی ترڅو چې هرلوري ته دسامع ذهن ولاړشي یعني کله چې کومه مسئله پېښه شي درسول الله په مجلس کې تاسې په ځواب ورکولو کې تلوارمه کوئ کله چې خواړه کېښودل شي تاسې په خوړلو کې ترپیغمبردمخه پیل مه کوئ او چې چېرته دپیغمبرسره ملګرې په لاره درومی ترهغه علیه السلام دمخه مه ځئ او همداسې نور. ابن عباس ﷺ وایي: معنادا چې دهغه دخبرې کولو په وخت کې تاسې ترهغه دمخه مه غږېږئ، ضحاک وایې : تاسو دخپلو دیني چارو په هکله درسول الله او الله تعالی له حکمه پرته فیصلې مه صادروئ ()، بیضاوي وایې : معنادا چې دالله اورسول الله دحکم تردمخه تاسو حکم مه کوئ چابیاویلي مقصد رسول الله دی دالله پاک نوم یې دتعظیم لپاره ورسره راوړی چې رسول الله ﷺ دالله په نزد دمقام خاوند دی چې درناوی او اجلال یې ضروري او جب دي ([2]) ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ﴾ او ووېرېږئ له الله څخه هروخت الله تعالی ښه اورېدونکی (دخبروستاسې) اوښه پوه دی) (په نیتونو او احوالو ستاسې ، داچې الله داسم یادونه یې وکړه ترڅو دهیبت او اجلال روزنه یې په نفسونو کې وکړي ، ورپسې الله تعالی درسول الله دتوقیراو درناوي وجوب داسې څرګندوي فرمایې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرۡفَعُوٓاْ أَصۡوَٰتَكُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ ٱلنَّبِيِّ ﴾ ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) مه پورته کوئ آوازونه خپل برسېره په

([1]) دشیخینو روایت.
([2]) بیضاوي ۳/ ۳۶۵

آوازد پیغمبر(کله چي ورسره خبري کوی) ﴿ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ ﴾ اوپه لوړه مه پورته کوئ آوازده لره په خبروکي لکه په اوچت آوازخبري دبعضودتاسي له بعضونورو سره (په وخت دمخاطبې کي وي) هغه ته پخپل نامه لکه چي تاسويې يوبل ته کوی آواز مه کوئ چي ورته واياست: ای محمده ! بلکه ورته وواياست چي يارسول الله ، يانبی الله ترڅوچي درناوی يې ترسره شي اوادب يې مراعات شي. مفسرين کرام وايې: چي دغه دځيني صحرايي ناپوهانولپاره چي درسول الله عزت يې نه پېژاندواوپه نامه به يې ناري وروهلې نازل شوی دی ﴿ أَن تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴾ له جهته دويري ددې چي ضائع به شي عملونه دتاسي اوتاسي به پرې خبرنه ياست ، ځکه چي دده په وړاندي په لوړ آوازخبري کول اودهغه په آوازباندي غږ اوچتول دهغه استخفاف اوسپکاوی دی اوسړی کفرته رسوي چي عملونه يې ابته کړي. ابن کثيروايې چي: روايت کېږي ثابت بن قيس دلوړآوازخاوندووکله چي داآيت نازل شونوهغه داسي وګڼله چي دده غږ لوړدی اوويې ويل چي زه دوزخي شوم عملونه مي تباه شول غمجن اوخواشينی په کورکي کېناست رسول الله ﷺ څوخته ونه ليدواوځيني کسان ثابت بن قيس ته ورغلل ورته ويل يې ته رسول الله داځه وخت کېږي ليدلی نه يې څه خبره ده؟! هغه ورته وويل: زه هماغه څوک يم چي په رسول الله مي غږ اوچتېږي زماعملونه ضائع شول اوزه به دوزخي يم نودغه کسان رسول الله ته ورغلل کيسه يې ورته وکړه. رسول الله ﷺ ورته وويل: نه هغه جنتي دی (۱) په بل روايت کي راځي چي رسول الله ﷺ ورته وويل: آياته غواړې چي په ژوندکي خلګ درباندي ثناوايې اوشهادت دي نصيب اوجنتي شې نوهغه وويل: دالله اودرسول الله په بشارت باندي راضي يم اوهيڅکله به خپل غږ درسول الله په آوازباندي اوچت نکړم (۲) ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ ﴾ هرهغه کسان چي ټيټوي آوازونه خپل په نزددرسول الله داډله هغه کسان دي چي ازمويلي دي الله تعالی جل جلاله زړونه ددوی لپاره دپرهېزګاري او وېري له ده څخه ، اودغه تقوی پرهېزګاري يې پکي خوندي کړي ده. ابن کثيروايې معناداچي الله ﷻ دوي خالص ګرزولي اوزړونه يې دتقوی اهل اومحل دي ﴿ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾ دوی لره دي ببننه عوض اوثواب لوی (په جنتونوکي بياالله دصحرايي ساده ګانوبدي بيانوي کوموچي رسول الله ته په ناره کولوکي يې دادب پاملرنه نکوله فرمايي: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ ﴾ ببشکه هغه کسان چي چيغي وهي تالره دکورونودامهات المؤمنينوله هاخوانه ﴿ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴾ اکثرددوی عقل نلري ، ځکه چي عقل دادب غوښتنه کوي اومشرانودرناوی لازم ګڼي په ځانګړي توګه هغه څوک چي ددومره سترمنصب خاوندوي. بيضاوي وايې : هغه څوک چي دغه چيغي يې ورهلې (عيينة بن حصين) اوبل (أقرع بن حابس) ووچي له اويا تنوډلي سره دبني تميم له ټبره دغرمې په وخت کي کله چي رسول الله ﷺ قيلوله آرام

(۱) أخرجه احمد.
(۲) ابن جريرطبری دغه روايت يادکړی دی.

کاووراغلل اودوی ویل: ای محمده ! موږ ته راووزه !(۱) ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا۟ حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴾ (که چیري دوی صبرکړی وای نو دا صبربه دوی لره په خیرتمامېدو) یعني که چیري دغوناري کونکو پیغمبرعلیه السلام ته څورنه ورکولای چي چیغي وروهي اوصبربي کړی وای دغه صبربه ددوی لپاره دالله او خلکو په نزدغوره اوافضل وای څکه چي پدې صبرکولوکي دنبوت دمقام درناوی اود ادب مراعات دی ﴿ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ اوالله تعالی ډېربښونکی اومهربان دی ، په بندګانوخپلو مؤمنانوبندګانوته يې تقريح (مارپينه) اونصيحت وفرمايو،عذاب يې ورباندي نازل نکړ.بیاالله تعالی دهرچا خبري ته غوږنیول اوبې له تثبيت اوڅېړني هغه منل داسي غندي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَإٍ ﴾ ای هغوکسانوچي تاسوايمان راوړی که چېرته تاسولره فاسق اوبدکارپه یوه خبره سره راتګ وکړي ﴿ فَتَبَيَّنُوٓا۟ ﴾ نو تاسو ښه تحقيق پکي وکړئ (چي هغه صحيح دی؟) ﴿ أَن تُصِيبُوا۟ قَوْمًۢا بِجَهَـٰلَةٍ فَتُصْبِحُوا۟ عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَـٰدِمِينَ ﴾ له جهته دوېري ددې چي وبه رسوي تاسویوه قوم لره ضرر او تاوان په ناپوهي سره پس وبه ګرزی تاسوپه هغه څه سره چي تاسو کړي پښېمانه اوخفه (۲) ﴿ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ ٱللَّهِ ﴾ اوپوه شئ تاسي چي بېشکه په مينځ ستاسي کي رسول الله دی چي له ګناهونو معصوم معظم پیغمبردی (نودروغ مه وایاست) ﴿ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِى كَثِيرٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ ﴾ (که چېري پيروي وکړئ تاسي لره حضرت رسول الله په ډېرو أمورو کي چي هغه دواقعيت اوحقيقت خلاف وي نوهروخت به تاسي په مشقت اوګناه کي ولوېږی)ابن کثيروايي : معناداچي پوه شی ستاسوپه مينځ کي دالله پیغمبردی نودهغه درناوی اوتعظيم وکړئ هغه ستاسوپه مصلحتونو ښه خبردار اوپرتاسومهربان دی که تاسو ته په هرڅه کي غوږونيسي اوستاسوپيروي وکړي نودغه به ستاسوپه ضرر تمام شي اودرته به تکليف اوحرج راوړي ﴿ وَلَـٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ ٱلْإِيمَـٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِى قُلُوبِكُمْ ﴾ ليکن الله تعالی ﷻ دوست اومحبوب ګرزولی دی تاسوته ايمان اوښايسته کړي يې دی دغه (ايمان) په زړونوستاسي کي (چي ترهرڅه تاسوته ګران دی) ﴿ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ ٱلْكُفْرَ وَٱلْفُسُوقَ وَٱلْعِصْيَانَ ﴾ اومنفوريې ګرزولی دی تاسوته کفراونافرماني له اوامرودالله نه . ابن کثيروايي مرادله فسوق څخه سترګناهونه اوله عصيان څخه ګردګناهونه دي(۳) ﴿ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ﴾ دغه (تحقيق کونکي په خبرونوکي چي پدې صفتونومتصف وي) هم دوی دي ثابت په حق دين باندي پخپل سېرت اوسلوک کي. جمله دحصرافاده کوي يعني هم دوی راشدين دي نه بل څوک ﴿ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَنِعْمَةً ﴾ (له جهته دفضله له لوري دالله نه اودنعمت دده دطرف

---

(۱) بيضاوي وګوره.
(۲) دنزول سبب وګوره.
(۳) دابن کثيرمختصر ۳/ ۳۶۲

نه) يعني دغه دالله له لوري پردوى باندي فضل اوانعام دى ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله تعالى ښه عالم (په مستحق دهدايت) ښه حکمت والادى (پخپل خلقت، صنعت اوتدبيرکي) اووروسي الله تعالى هغه څه چي له دروغجنوتبليغاتوڅخه زېږى داسي بيانوي چي په پايله کي دخلکوترمينځ بغض، عداوت اوجنګ جګړي پېښېږي فرمايي: ﴿ وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُوا۟ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا ﴾ که چېري دمؤمنانودوه ډلي (پخپلومينځونوکي) سره په جنګ شي پس روغه اوصلح وکړي (اى نورومؤمنانو) په مينځ دهغوى کي (اوددوى ترمينځ روغه وکړئ زياروباسئ چي دالله اورسول الله حکم ته يې راوبولئ اوداچي (اقتتلوا) دجمع په صيغه راوړل شوي ځکه چي دلته دمعنا اعتبارشوى اود(بينهما) په کلمه کي دلفظ اعتبارراغلى دى ﴿ فَإِنۢ بَغَتْ إِحْدَىٰهُمَا عَلَى ٱلْأُخْرَىٰ ﴾ نوکه ظلم اوتېرى وکړ يوې له دغودواړوپه هغې بلې ډلي باندي يعني چي سوله قبوله نکړي اودالله اورسول حکم ته راضي نشي (دتجاوزکولوپې تينګه اراده وه) ﴿ فَقَـٰتِلُوا۟ ٱلَّتِى تَبْغِى حَتَّىٰ تَفِىٓءَ إِلَىٰٓ أَمْرِ ٱللَّهِ ﴾ پس جنګ کوئ تاسي ټول اى مؤمنانوله هغي (ډلي) سره چي ظلم اوتجاوز کوي (پرهغې بلي مظلومي ډلي باندي) ترهغه پوري چي بيرته راوګرزي دوى حکم دالله ته اوغاړه ورته کېږدئ (د اسلام اخوت، وروروليي ومنئ) ﴿ فَإِن فَآءَتْ ﴾ اوکه چېري وګرزېده (دغه بې انصافه ډله له ظلم څخه اودالله حکم يې ومانو) نو ﴿ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا بِٱلْعَدْلِ وَأَقْسِطُوٓا۟ ﴾ پس صلح روغه وکړئ تاسي په مينځ ددوى کي په عدل اوانصاف کوي (ديوې ډلي ملګرتياپه تنګ سره مکوئ اوپه يوددوى دواړوظلم مکوئ بلکه تل دشريعت تابع اوسئ په ګردوچاروکي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴾ ځکه چي بېشکه الله تعالى دوست لري عدل اوانصاف کونکي (په ويناوعمل کي) هغوى چي پخپلوفيصلوکي په چاظلم نه کوي. بيضاوي وايې چي دغه آيت شريف دأوس اوخزرج دوو ډلو ترمينځ درسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کي دجګړې کولوپه هکله نازل شوى هلته چي دغودواړو په يوبل باندي دخرماوودونو پټوکو اوڅپليوارونه کول اودا آيت پردې هم دلالت کوي چي باغي هم مؤمن دى کله چي له جګړې لاس واخلي پرېښودل کېږي اوبل داچي په سوله کي دزياراېستلو اونصيحت کولودنده لازمي ده(۱) ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ بېشکه چي مؤمنان ټول په دين کي سره ورونه دي (نونه ښايې چي ترمينځ يې کينې اوعداوتونه ياجنګ جګړې وي. مفسرين کرام وايې چي: (انما) دحصرکلمه ده يعني وروروليي پرته له مؤمنانودبل چانشته يعني دمؤمن اوکافرترمينځ وروروليي هېڅ نشته اوهمداسي په آيت کي دې ته اشاره ده چي اسلامي وروروليي دنسب ترهغې زياته ټينګه ده ځکه چي که چېري اسلامي اخوت نه وي نسبي اخوت اعتبارنلري ﴿ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ﴾ نوپس صلح اوجوړښت کوئ تاسي (اى مؤمنانو) په مينځ دخپلو وروڼوکي (مه پرېږدئ چي اختلاف اودښمني خپلي ريښې وغزوي اوخپل کاروکړي) ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ او ووېرېږئ له الله تعالى څخه (په

(۱) دبيضاوي تفسير ۳/ ۳۷۱

هرڅېزاوهروخت کي) اوځان وساتئ (له معاصيو) ښايي چي درباندي (دالله له لوري) رحمت وکړی شي (اودجنت اورضايې مستحق شی) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَسۡخَرۡ قَوۡمٞ مِّن قَوۡمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُواْ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ ﴾ (ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی(ای مؤمنانو) ټوکي اوسپکاوی دي نه کوي هيڅ يوقوم له تاسي څخه په بل قوم باندي ځکه ښايې چي وي به دغه (مسخره کړی شوی) بهتره اوغوره (په نزددالله) له دې (مسخره کونکيو) څخه ، ښايې چي يودخبرنوجامو اوانجړښنجړوښتانودرلودونکی سړی به په الله ﷻ ډېرګران وي چي الله يې غوښتنه دعامني ﴿ وَلَا نِسَآءٞ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيۡرٗا مِّنۡهُنَّۖ ﴾ (اونه دي ټوکي اوسپکاوی کوي) يوه ټولۍ ښځي له تاسي په نوروښځوځکه ښايې چي هغه (مسخره کړی شوي) به بهتري وي ترهغو (مسخره کونکوپه نزددالله ﷻ ﴿ وَلَا تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَلَا تَنَابَزُواْ بِٱلۡأَلۡقَٰبِۖ ﴾ اوعيب جوئي مه کوئ ځيني دتاسودځينو نوروځکه چي بيادتاسوعيب جوئي هم کېږي (چي داپهٔ حقيقت کي دځان عيب جوئي ده) اومه غواړئ تاسي يوتربله په بدونومونواوالقابوسره داچي په آيت شريف کي يې وفرمايل ﴿ أَنفُسَكُمۡ ﴾ ځکه چي مسلمانان لکه چي ګرديوتن وي ﴿ بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ ﴾ (بددي دادرې نومونه د(سخريې ، تلمز، تنابز) له جهته دفاسقي وروسته له ايمان لرلوڅخه) يعني بددی داچي انسان ته وروسته له ايمان راوړلوفاسق وويل شي . بيضاوي وايې چي په آيت شريف کي ددې دلالت شته چي تنابزفسق دی اودهغه اوايمان ترمينځ يوځای والی ناوړه اومستقبح دی([1]) ﴿ وَمَن لَّمۡ يَتُبۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ اوهغه څوک چي توبه يې ونه ايستله نودغه کسان همدوی دي ظالمان (پرځانونوخپلوځکه چي ځانونه يې عذاب ته وړاندي کړل) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجۡتَنِبُواْ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلظَّنِّ ﴾ ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) تاسي ځان اوساتئ ډېرله بدګمانيواوتهمتونو (لګولو په خلګو باندي) ﴿ إِنَّ بَعۡضَ ٱلظَّنِّ إِثۡمٞۖ ﴾ بېشکه ځيني بدګمانونه اوتومتونه ګناه دي داچي (کثيرا) يې وفرمايل ددې لپاره چي انسان په هرګمان کي احتياط وکړي اوتلواره ونکړي بلکه سوچ اوتحقيق وکړي ځکه ځيني بدګماني ګناه اوخاوندئ دعذاب مستحق ګرزوي . عمر رضي الله عنه وايې: له مسلمان ورورڅخه چي کومه خبره واروري ترڅوچي دی دخيراوبهتري لپاره دګمان کولوس وي درباندي دخيرګمان کوه ﴿ وَلَا تَجَسَّسُواْ ﴾ اومه پلټئ تاسي پټ عيبونه (دمسلمانانوعورات) ([2]) ﴿ وَلَا يَغۡتَب بَّعۡضُكُم بَعۡضًاۚ ﴾ اوغيبت دي نکوي ځيني ستاسي دځينونورو ﴿ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمۡ أَن يَأۡكُلَ لَحۡمَ أَخِيهِ مَيۡتٗا ﴾ آياخوښوي يوله تاسي څخه داچي وخوري غوښي دورور خپل حال داچي مړی وي) دغه دغيبت کولودبدي بيانولولپاره

([1]) دبيضاوي تفسير ۳/۷۳

([2]) په حديث شريف کي راځي ای هغوکسانوچي په ژبه دايمان نارې وهی اوزړه ته يې ايمان ننوتی نه وي د مسلمانانو غيبت مکوئ پټ عورات اوعيبونه يې مه لټوئ څوک چي دمسلمان ورورعيب لټوي الله به دده عيب ولټوي اودچاعيب چي الله ولټوي هغه به اړومرو الله رسوا کړي که څه هم دخپل کور په انګړکي وي (أخرجه الحافظ ابو يعلى).

يو تمثيل دی چي په بدي او تقبيح کي ترې پورته بدي نشته ﴿ فَكَرِهْتُمُوهُ ﴾ پس بد ګڼی تاسي هغه (نو همدارنګه بدو ګڼئ دمسلمان وروړغيبت او عيب لټول ځکه چي دغيبت عذاب دهغه ترغوښو خوړلو سخت دی ، الله تعالی دمسلمان غيبت کول دمړه وروړ له غوښو خوړلو سره تشبيه کړي که چېري انسان دانسان غوښي خوړل بدګڼي پرته له دې چي هغه يې وروروي او بيامړهم وي نو لازم دی چي غيبت په همدې اندازه بدو ګڼئ چي دسکني مړه وروړ غوښي خوری او ياتردې لاهم زيات ﴿ وَاتَّقُوا اللَّهَ ﴾ او وويرېږئ تاسي له الله څخه (په امتثال داوامرو او اجتناب دنواهيو کي) ﴿ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه الله ښه توبه قبلونکی دستر رحمت خاوند دی (په هغه چاچي له الله وويرېږي او توبه وکاږي پدې کي دتوبې ايستلو او پښېماني کولو لپاره هڅونه ده چي پخپله ګناه دي اعتراف وکړي او دالله له رحمت او مغفرت څخه دي ناهيلی نشي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ
خَبِيرٌ ﴿١٣﴾ ۞ قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا ۖ قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ ۖ وَإِن تُطِيعُوا اللَّهَ
وَرَسُولَهُ لَا يَلِتْكُم مِّنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا
وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴿١٥﴾ قُلْ أَتُعَلِّمُونَ اللَّهَ بِدِينِكُمْ وَاللَّهُ
يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٦﴾ يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا ۖ قُل لَّا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُم ۖ بَلِ اللَّهُ
يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٧﴾ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ
﴿١٨﴾ ﴾ الحجرات: ۱۳ - ۱۸

مناسبت:

کله چي الله مؤمنان مکارم الاخلاق ته وبلل او له ناکاره خويونو څخه يې منع کړل نو دلته يې ګردخلګ دپېژندګلوي او يووالي لوري ته راوبلل چي يوپربل دي ویاړ او افتخار نه کوي په قومونو دي نه نازېږي او وروسته يې دکامل او بشپړ مؤمن ستايلي صفتونه بيان کړل.

لغتونه:

(يلتكم) کم به کړي (قبائل) دقبيلې جمع او هغي ټولۍ ته وايې چي حسب او يانسب يې سره جمع کړی او شعب تردې عام دی په شعب کي قبيلې راځي لکه چي موږ ورته ولس وايو او په قبيلو کي بيا خيلونه او پښې راځي (يرتابوا) شک وکړي (يمنون) احسان باروي يعني خپلي ښېګڼي او ښه کارونه شمېري (من) په اصل لغت کي قطع ته وايې لکه چي الله فرمايي: ﴿ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴾.

دنزول سبب: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي: بنوأسد رسول الله ﷺ ته راغلل ورته ويل يې اى دالله پيغمبره موږ ايمان راوړى عربو درسره جګړې کړې موږ درسره جنګېدلي نه يو اوداسي يې احسانات بيانول نو داآيت نازل شو: ﴿ يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا ﴾ دآيت ترپايه (۱)

تفسير:

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَىٰ ﴾ اى خلګوبېشکه موږ پيداکړي ياست تاسي ټول اصلاً له يوه سړي (آدم) اوله يوې ښځي (حوآء) څخه (نوپه پلرونواونيکونوفخرمه کوئ په حسب اونسب اعتبار نشته ګرددآدم اولاده اوهغه پخپله له خاوروڅخه پيداشوى دى ﴿ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ﴾ او ګرزولي ياست موږ تاسي څانګي اوقبيلې قبيلې لپاره ددې چي يوله بله سره وپېژنى (نه داچي سره مخالفت وکړى اوښکرپه ښکرشي. مجاهدوايې: معناداچي انسان خپل نسب وپېژني چي فلانى دفلاني زوى د فلاني قوم (۲) د(تعارفوا) اصل (تتعارفوا) وو يوه (تا) يې دتخفيف لپاره حذف کړې ده. شيخ زاده وايې معناداچي دقبيلواو ولسونوحکمت دادى چي يوله بله سره وپېژنى اويوڅوک پرته له خپله نسبه بل چاته نه منسوب کوى نه داچي په پلرونواونيکونو فخر کوي وياړي که څه هم چي په عرف کي داعتباروړدي څکه چي دشريف خاندان پېغله دبزګرزوى ته نه ورکوي مګردغه دهغه څه په وړاندي چي خوراګران اودقدرخاونددى هيڅ ګڼل کېږي کوم چي ايمان اوتقوى دى اومثال يې لکه دستوري دغسي دى چي دلمرپه وړاندي بېخي نه ترسترګوکېږي (۳) ﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾ بېشکه چي ډېرمکرم اومعزز له تاسي څخه په نزددالله ډېرمتقي ستاسي دى، څوک چي ددنياشرافت اودآخرت منزلت غواړي متقي اِوادب لرونکى دي جوړشي لکه چي رسول الله فرمايې: که څوک غواړي چي ترخلګوښه عزتمن وي له الله دي ووېرېږي (۴) اوپه حديث شريف کي راځي چي: خلګ په دوه ډوله دي يوهغه نيکوکارمتقي چي په الله عزتمن وي بل هغه فاجربدمرغه چي دالله په وړاندي سپک (اوخوار) وي (۵) ﴿ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴾ (بېشکه چي الله ښه عالم (په بندګانو) ښه خبرداريردوى) چي ظاهراوباطن يې ورته معلوم اوشقي اومتقي يې پېژني ﴿ فَلَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ ﴾ ﴿ قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا ﴾ (وويل صحرايانو ايمان راوړى دى موږ ووايه (اى محمده دوى ته) له سره ايمان نه دى راوړى تاسي وليکن ووايئ اسلام راوړى دى موږ) يعني صحرايانوداسي ګمان کاووچي ايمان يې راوړى اى محمده دوى ته ووايه چي تاسولاايمان ندى راوړى څکه ايمان دباور اوقلبي اطمينان نوم دى اوداتاسوته حاصل نه دى که حاصل واى نوبه موپه پيغمبرعليه السلام باندي داسلام

---

(۱) دابن کثيرمختصر ۳ /۳۶۹

(۲) دابن کثيرمختصر ۳ /۳۷۰

(۳) دشيخ زاده حاشية ۳ /۳۷۵

(۴) البيضاوي ۳ /۳۷۵

(۵) دهغه حديث توټه ده چي رسول الله دمکې دفتح په وخت کي ورباندي خطبه ولوستله.

راوړلو او جنګ نه کولو احسان نه باراوو خو داسي ووایاست چي موږ دمرګ او بندي کېدلو له وېري تسلیم شوي یو. مفسرین کرام وایې چي دغه دبني أسد دقوم دیوې ټولۍ په هکله نازل شوی چي دوی مدینې منورې ته دکاختي په کال راغلل او دشهادت کلمې یې وویلې او رسول الله ته یې وویل: چي موږ تاته درانه اوله عیالونو سره راغلو اولکه فلاني اوفلاني قومونه درسره ونه جنګېدلو، دوی په رسول الله باندي داحسان یادونه کوله آیت شریف پدې دلالت کوي چي ایمان تراسلام پورته مرتبه ده هغه اسلام چي ظاهره دغاړه ایښودلو او استسلام په معناوي ځکه الله تعالی ورپسې فرمایي: ﴿ وَلَمَّا يَدۡخُلِ ٱلۡإِيمَٰنُ فِي قُلُوبِكُمۡۖ ﴾ (اوله سره نه دی ننوتی ایمان ستاسو په زړونو کي) یعني لاتراوسه پوري ستاسو زړونو ته ندی ننوتی او تاسو یې حقیقت ته رسېدلي نه یاست (لمّا) لفظ دتوقع افاده کوي لکه چي وایې: ژر دی تاسو به بشپړ ایمان هله ومومی چي داسلام په محاسنو خبر شی او دایمان حلاوت وڅکی. ابن کثیر وایې چي دغه کسان چي پدې آیت کي یاد شوي منافقین نه وو بلکه داسي مسلمانان وو چي تراوسه یې ایمان په زړونو کي ټینګ شوی نه وو نو دوی دځان لپاره ترهغه کوم چي ورته رسېدلی وو داوچت مقام دعوی کوله نو پدې هکله ورته دادب ښوونه وشوه اوکه چېري منافقان وای لکه چي بخاري رحمه الله ویلي نو بیابه رسوا شوي او ترټل شوي وای(۱) ﴿ وَإِن تُطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ لَا يَلِتۡكُم مِّنۡ أَعۡمَٰلِكُمۡ شَيۡـًٔاۚ ﴾ او که حکم ومنی تاسي دالله اودرسول الله ددغه (الله په صدق اوربښتنولي) او احسان پرېږ وانه چوی نونه پرې کوي نه کموي (الله) له (جزاء د) نېکو عملونو ستاسي څخه هیڅ شی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه چي الله ښه مغفرت کونکی دېر رحم والادی. دفعول فعیل صیغې دمبالغې افاده کوي له دې نه وروسته الله تعالی دمؤمنانو صفتونه داسي بیانوي: ﴿ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ بېشکه چي صادقان مؤمنان هغه کسان دي چي ایمان یې راوړی دی په الله او په رسول ددغه (الله) باندي (په اخلاص او ټینګ باور) ﴿ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ ﴾ بیا شک نه کوي (متزلزل نه دي) په ایمان کي (بلکه په یقین او تصدیق باندي ثابت قدم وي) ﴿ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ﴾ او جهاد کوي دوی په مالونو خپلو سره او په ځانونو خپلو سره په لاره دالله تعالی کي (اولپاره درضا دهغه) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴾ داکسان هم دوی ربښتوني دي (په دعوی دایمان کي. الله تعالی مؤمنان په دریو صفتونو سره وستایل یو داچي په الله تعالی اورسول الله یې ټینګ ایمان او جازم تصدیق وي دوهم داچي په کي شکمن اوزړه نازړه نه وي دریم داچي په نفس او مال سره جهاد کوي څوک چي دغه اوصاف راغونډ کړي نو هغه ربښتونی مؤمن دی ﴿ قُلۡ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمۡ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته!) آیا خبروی پوهوی تاسي الله په دین دتاسي سره (چي په زړونو ستاسي کي دی) ؟ استفهام دانکار لپاره دی ﴿ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ ﴾ حال داچي الله ته معلوم دی هرهغه څېزونه چي په آسمانونو کي دي او هرهغه څېزونه چي په

(۱) دابن کثیر مختصر ۳/۳۶۹

ځمکه کي دي (هيڅ څېز له الله جل جلاله څخه پټ او لونيانه دی) ﴿ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴾ او الله په هرڅېز باندي پوه او خبردار دی (يوه ذره اونه کم ترذرې او يا پورته ترهغې دالله له علم څخه وتلی نه دی ﴿ يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا۟ ﴾ دوی احسان باروي په تا باندي (ای محمده !) چي دوی مسلمانان شوي دي (او پدې سره دثناصفت کتندوی دي) ﴿ قُل لَّا تَمُنُّوا۟ عَلَىَّ إِسْلَـٰمَكُم ﴾ او وايه (ای محمده ! دوی ته) تاسي په ما باندي احسان مه باروئ داسلام راوړلو ستاسي (ځکه چي ګټه يې تاسو ته راجع ده) ﴿ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَىٰكُمْ لِلْإِيمَـٰنِ ﴾ بلکه الله احسان کوي په تاسي باندي ددې چي لاره يې وښودله تاسو ته دايمان راوړلو (او ثابت پاتي کېدلو پرې) ﴿ إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ ﴾ که يې تاسي رښتوني (صادقان په دعوی دايمان کي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ ﴾ بېشکه الله تعالی ته ښه معلوم دي غيب د آسمانونو او د ځمکي ﴿ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾ او الله تعالی ښه ليدونکی دی په هغو کارونو باندي چي تاسي يې کوی (هيڅ ترې پټ نه دي الله جل جلاله دا چي دګردو کائناتو او ټولو مخلوقاتو علم ورته شته مکرر راوړچي دالله دعلم په پراخي او وېروالي دلالت وکړي چي غټ او واړه پټ او ښکاره ، ظاهر او باطن ټول ته يې علم رسېدلی دی.

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱ - تمثيلي استعاره چي ﴿ لَا تُقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ ددوی حال يې هله چي خپله رايه او فيصله مخکي درسول الله تررايه او فيصلې صادروي له هغه چاسره مشابه کړ چي دده له موکب څخه له مخه ځيني کسان روان شي دادب غوښتنه خو داوي چي دپاچاله شاپسي درومي او همدغه دتمثيلي استعارې په توګه راغلي دي

۲ - مرسله مجمله تشبيه چي پدې آيت کي شته : ﴿ وَلَا تَجْهَرُوا۟ لَهُۥ بِٱلْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ ﴾ ځکه چي دتشبيه ادات (توری) پکي راوړل شوی دی.

۳ - دالتفات صنعت چي له خطاب څخه غيبت ته راغلی او فرمايې: ﴿ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ﴾ وروسته له دې وينا څخه چي: ﴿ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ ٱلْإِيمَـٰنَ ﴾ او دغه هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۴ - دمقابلې صنعت چي پدې ويناکي شته ﴿ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ ٱلْإِيمَـٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِى قُلُوبِكُمْ ﴾ کله چي ددې کلام نه وروسته بيا فرمايې: ﴿ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ ٱلْكُفْرَ وَٱلْفُسُوقَ وَٱلْعِصْيَانَ ۚ ﴾.

۵ - طباق لکه دالله د دې کلام ﴿ وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ٱقْتَتَلُوا۟ فَأَصْلِحُوا۟ بَيْنَهُمَا ۖ ﴾ په ترڅ کي راغلی دی.

۶ - اشتقاقي جناس کله چي فرمايې: ﴿ وَأَقْسِطُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴾

۷- تمثيلي تشبيه پدې کلام کې چې: ﴿ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا ﴾ هغه څوک چې غيبت کوي له هغه چاسره يې مشابه کړ چې دمړه ورور غوښې خوري او پدې کې څوځومبالغې شته ترڅو د غيبت ترټولو بدانځور په ذهن کې وکاږي.

۸- سلبي طباق لکه دا چې: ﴿ ءَامَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا ﴾.

۹- انکاري استفهام د توبيخ لپاره پدې آيت کې: ﴿ قُلْ أَتُعَلِّمُونَ ٱللَّهَ بِدِينِكُمْ ﴾؟

۱۰- بليغه تشبيه لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ د کلام اصلي بڼه خو دا چې مؤمنان لکه وروڼه غونډي يو له بله مهرباني زړه سوی او مرسته کوي خو د تشبيه وجه او ادات (توری) يې حذف شوی بليغه تشبيه ګرزېدلې او له دې سره سره پدې جمله کې د حصر افاده هم نغښتې ده.

تنبيه:

سورة الحجرات ته د ادابو او اخلاقو سورت نوم هم ورکړی شوی دی ځکه چې فضائل او مکارم الاخلاق پکې راغلي پنځه ځله پکې دايمان والو (ای مؤمنانو) په نامه غږ شوی دی او په هر ځلي کې يو نېک خوی او سپېڅلي ادب ته اشاره شوې ده چې موږ يې په ځانګړې توګه داسې ارزوو:

لومړی: دالله اورسول الله د حکمونو منل او له هغوی څخه په وينا او عمل کې نه وړاندې کېدل لکه چې فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَيِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ .. ﴾.

دوهم: د رسول الله صلی الله عليه وسلم درناوی او د هغه د سترشان تعظيم کول لکه ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَرْفَعُوٓا۟ أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ ٱلنَّبِىِّ .. ﴾.

دريم: د خبرونو تحقيق او پلټنه کول چې فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوٓا۟ ... ﴾

څلورم: له ملنډو وهلو څخه پرهېز کول او د ځان ساتلو ما رېينه لکه دا چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُوا۟ خَيْرًا مِّنْهُمْ ... ﴾.

پنځم: له غيبته، عيب جوئې او بدګمانې څخه منع کېدل چې پدې آيت شريف کې راغلي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱجْتَنِبُوا۟ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ ... ﴾.

لطيفه:

له ځينو علماوو څخه وپوښتل شول چې د اصحابو رضوان الله عليهم د خپل منځي جګړو په هکله دې معلومات وړاندې کړي هغه ورته وويل داهسې وينې دي چې الله جل جلاله زموږ لاسونه ورباندې ککړ کړي نه دي نو موږ خپلې ژبې هم ورباندې نه ککړوو او کومې ناوړه او نادودې پېښې چې د دوی ترمينځ پېښې شوې داسې دي لکه چې د يوسف عليه السلام او د وروڼو ترمينځ يې پېښې شوې وې د الله جل جلاله په مرسته د الحجرات د سورت تفسير بشپړ شو.

د(ق) سورت مکي دی او پنځه څلوېښت آیتونه لري

د سورت په وړاندي:

دغه سورت مکي دی او د اسلامي عقیدې بنسټونه (اصول) لکه وحدانیت، رسالت او بعث څېړي او محورېې ګواکي همدغه بعث او نشور دی آن تردې چي داسي برېښي لکه چي د دې مبارک سورت دغه ځانګړې او بېوازنې ارزونه وي.

قرآنکریم په کوټلي برهان او ښکاره دلیل سره همدغه را پاځېدل بیان کړي او داهغه سورت دی چي په حواسو ور اغېزمن او زبردسته تاثیرلري زړه خوځوي روح ځنګوي او پکي اعجاب پنځوي او په ترغیب او ترهیب سره یې لړزوي.

د سورت پیل په اساسي پېښه کوي هغه چي قریشي کافران ورڅخه منکر وو او پدې هکله به یې زښته زیات تعجب کاوو چي څرنګه به له ژونده وروسته مړینه او بیابیرته له مړیني راپاځېدل وي؟ فرمایي: ﴿ قٓ وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْمَجِيدِ بَلْ عَجِبُوٓا۟ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا شَىْءٌ عَجِيبٌ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ذَٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيدٌ... ﴾ د آیتونو ترپایه

بیا سورت د مشرکانو هغوی چي له بعث څخه منکردي پام د الله جل جلاله هغه ستر ځواک او قدرت ته چي د کائناتو د وېړاو منظور کتاب په پاڼوکي ځلېږي راوړي هغه چي په آسمانونو او ځمکو، او بو او نباتاتو، مېوو، خرماوو او کښتونو کي له ورایه ښکاري او ټول د الله جل جلاله په سترقدرت باندي پرېکنده دلیلونه دي داسي فرمایي: ﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا... ﴾ د آیتونو ترپایه.

وروسته سورت د پخوانیو اُمتونو لورته چي خپل پیغمبران یې دروغجن ګڼل لېږدي چي پرهغوی څرنګه ډول ډول عذابونه راپرېوتي او څه ډول هلاک شوي دي ترڅو د مکې کفار په دې وېرېږي چي پردوی هم هغه رانشي کوم چي پرهغوی راغلي وو: ﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَٰبُ ٱلرَّسِّ وَثَمُودُ... ﴾ د آیتونو ترپایه.

وروسته د ځنکدن کړاوونه، د حشرګاه پیل، د حساب وېره او هغه څه سختي او تکلیفونه چي مجرم به یې په دغه ورځ ویني او زغمي ترڅو چي دوزخ ته وغورځول شي را اخلي چي ﴿ وَنُفِخَ فِى ٱلصُّورِ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْوَعِيدِ... ﴾ د آیتونو ترپایه.

د سورت پای په (صیحة الحق) باندي کوي کومه چیغه چي د هغې په ذریعه به خلک له قبرونو لکه تیت شوي ملخان غونډي را پاڅېږي حساب او جزا ته به ټول کېږي له الله څخه به یو هم پټېدلای نشي او پدې کي د بعث او نشور هغه اثبات دی کوم چي مشرکانو به دروغ ګڼل فرمایي: ﴿ وَٱسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ ٱلْمُنَادِ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ يَوْمَ يَسْمَعُونَ ٱلصَّيْحَةَ بِٱلْحَقِّ ۚ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُرُوجِ ... ﴾ د آیتونو ترپایه.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ ﴿١﴾ بَلْ عَجِبُوا أَن جَاءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكَافِرُونَ هَٰذَا شَيْءٌ عَجِيبٌ ﴿٢﴾ أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا
ذَٰلِكَ رَجْعٌ بَعِيدٌ ﴿٣﴾ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنقُصُ الْأَرْضُ مِنْهُمْ ۖ وَعِندَنَا كِتَابٌ حَفِيظٌ ﴿٤﴾ بَلْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ فَهُمْ فِي
أَمْرٍ مَّرِيجٍ ﴿٥﴾ أَفَلَمْ يَنظُرُوا إِلَى السَّمَاءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَاهَا وَزَيَّنَّاهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴿٦﴾ وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا
وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ ﴿٧﴾ تَبْصِرَةً وَذِكْرَىٰ لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴿٨﴾ وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً
مُّبَارَكًا فَأَنبَتْنَا بِهِ جَنَّاتٍ وَحَبَّ الْحَصِيدِ ﴿٩﴾ وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ ﴿١٠﴾ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۖ وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً
مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ الْخُرُوجُ ﴿١١﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَابُ الرَّسِّ وَثَمُودُ ﴿١٢﴾ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوطٍ ﴿١٣﴾ وَأَصْحَابُ
الْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۚ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا
الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ ۖ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ﴿١٦﴾ إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾
مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ۖ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ۚ ذَٰلِكَ
يَوْمُ الْوَعِيدِ ﴿٢٠﴾ وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَائِقٌ وَشَهِيدٌ ﴿٢١﴾ لَّقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ
حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾ ﴾ ق: ۱ ــ ۲۲

لغتونه:

(مريج) گډوډ ابن قتيبه وايې (مرج الدين) معنا گډوډ شو او اصل يې له اضطراب څخه اخيستل شوی چي استقرارپکي نه وي وايې (مرج الخاتم فی يدی) کله چي انسان کمزوری اوډنگرشي وايي گوتمۍ مي په گوته کي خوځېږي (فروج) سوړي اوسوري د (فرج) جمع اوهغه شق اوڅېري والي ته وايې (باسقات) لوړي اوچتي (نضيد) يودبل دپاسه اوډلي (لبس) حيرت اوشک اضطراب ته ويل کېږي (عيينا) ستړي شوي يو موږ (عي) عجزته وايې (رقيب) څارونکی داعمالو، ساتندوی دهغو (عتيد) چمتو شوی تيارلکه چي وايې (فرس عتيد) هغه چي دځغاستي لپاره چمتوشوی وي اوله همدې مادې څخه دی چي فرمايې: ﴿ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَأً ﴾ (۱) (حديد) معنا تېزژررسېدونکی.

تفسير:

﴿ قٓ ﴾ له مقطعاتوتوروڅخه يودی اودقرآنکريم په اعجازدلالت کوي چي دې ته اشاره وکړي چي دغه کتاب له همدې هجائي توروڅخه منظوم دی (۲) ﴿ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ ﴾ قسم دی پرقرآن چي لوی شان لري (اوپه گردو آسماني کتابونو مشرف دی) چي تاسوبه راپاخول شی . ابن کثيروايې چي دقسم

---

(۱) الصحاح مادة عتد.

(۲) وگوره تفصيل يې ددې کتاب دالبقره سورت په پيل کي.

جواب حذف شوی او هغه د کلام مضمون دی چي وروسته راځي کوم چي د رسول الله د نبوت او د بعث او نشور اثبات دی او تقديرېي داسي راځي چي: ای محمده ته پيغمبر او بعث او نشور حق دي(۱) او د غه ډول تعبير په قرآنکريم کي زيات دی ابو حيان وايې چي قرآن مقسم به او مجيد يې صفت دی معنادا چي په نورو کتابونو د شرافت خاوند دی ځواب يې حذف شوی چي وروستنی کلام ورباندي دلالت کوي هغه داسي چي: ارو مروته دوی ته له بعث نه وړونکی راغلی يې دوی هغه نه مني(۲) ﴿ بَلْ عَجِبُوٓا۟ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ ﴾ بلکه تعجب کوي دوی له دې نه چي راغی دوی ته وېرونکی له دوی نه (چي بشر دی او دوی د الله له عذابه څخه وېروي) ﴿ فَقَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا شَىْءٌ عَجِيبٌ ﴾ نو وويل (کافرانو) دغه (وېرول) يو عجيب شی دی. د لته اظهار د اضمار په ځای کي پر دوی باندي د کفر د تسجيل لپاره دی او آيت شريف د دوی د تعجب د بد ګڼلو او انکار لپاره راغلی چي دغه کومه عجيبه خبره نه ده څکه دو ی د رسول الله رښتونلي، امانت او نصيحت پېژندلی نو پر دوی لازم داو و چي سمدستي يې ورباندي ايمان راوړی وای نه دا چي ملنډي پرې وهي او تعجب کوي بيا الله جل جلاله د دوی د تعجب سبب داسي څرګندوي وايې: ﴿ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۖ ذَٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيدٌ ﴾ آيا کله چي مړه شو موږ او شو خاوري موږ (بيا به هم ژوندي کېږو ؟) دغه بيرته راتلل د پرلېري دي (له عقله) او محال بريښي) ﴿ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنقُصُ ٱلْأَرْضُ مِنْهُمْ ﴾ (الله د دوی د قول په رد کي فرمايې) په تحقيق سره معلوم دی موږ ته هغه چي کموي يې ځمکه له وجوده د دوی (او خوري يې له غوښو وېښتانو او وينو څخه کله چي مړه شي هيڅ شی له موږ څخه پټ نه پاتي کېږي چي بيرته راپاڅول يې راته مشکل کاندي) ﴿ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظٌۢ ﴾ او له موږ سره يو کتاب دی چي يادساتونکی د هر شي دی (چي هغه لوح محفوظ دی) او په هغه کي هرڅه کنبل شوي دي ﴿ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ﴾ (بلکه نسبت د دروغو کړی دی دوی حق او رښتوني دين ته کله چي راغی دوی ته) دغه کلام هغه لوري ته اضراب او لېږد بدل دي کوم چي تر لومړني تعجب خورا بدتر او شنيع دی هغه د قرآن عظيم څخه انکار دی کله چي دوی ته راغی سره له دې چي آيتونه يې خورا څرګند او بيان يې بې ساري ښکاره دی ﴿ فَهُمْ فِىٓ أَمْرٍ مَّرِيجٍ ﴾ پس دوی په ګډوډ و مختلفو خبرو کي (مضطرب) دي کله وايې چي رسول الله ساحر دی (العياذ بالله) کله وايې شاعر دی کله بيا وايې چي کاهن نجوم ګردی همداسي له قرآنه څخه د دوی برداشت او ارزونه ده چي دغه سحر، شعر، او د رومبنيو خلګو افسانې يې بولي، بيا ورپسې الله تعالی د خپل قدرت نښي نښانې هغه چي د ده په عظمت او وحدانيت څرګند دلائل دي داسي راوړي ﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ ﴾ آيا پس نه ګوري دغه (منکران د بعث) طرف د آسمان ته د پاسه د دوی (په کتلو د عبرت سره چي پدي پوه شي الله په بعث بعد الموت قادر دی څکه) ﴿ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا ﴾ چي څرنګه جوړ کړی دی موږ هغه

---

(۱) د ابن کثير مختصر ۳ /۳۷۱
(۲) البحر المحيط

اوهغه موږ ښايسته کړي دي؟(په ستوروا وبې له ستنومو اوچت کړي دي ﴿ وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴾ اونشته دغه آسمان ته کوم چاودېدل (سوري) ﴿ وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَٰهَا ﴾ اوآيانظرنه کوي دوی)ځمکي ته (چي څرنګه مو) غوړولي ده؟(وېره کړي اوپراخه کړي موده) ﴿ وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ ﴾ اوغورځولي مودي په هغې کي درانه بارونه غرونه محکم (ځای پر ځای ولاړه ده چي په خلګوباندي ونه خوځېږي) ﴿ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ﴾ اوزرغونه کړي مودي په هغې (ځمکي) کي له هره قسمه تازه ګیاوي (چي دليدونكولپاره خوشحالونکی ښکلی اغلی منظرلري ﴿ تَبْصِرَةً وَذِكْرَىٰ لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ﴾ لپاره دښوونې (دقدرت خپل اودپند اونصيحت هرهغه بنده ته چي(الله ته) رجوع کونکی وی(اوپه بديع مخلوقاتوکي فکرچلونکی وي) ﴿ وَنَزَّلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً مُّبَٰرَكًا ﴾ اونازلي کړي موږ له (لوري) دآسمانه اوبه ډېري برکتناکي (ګټوري) ﴿ فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ جَنَّٰتٍ وَحَبَّ ٱلْحَصِيدِ ﴾ نوزرغونه موکړل په دغو(اوبو) سره باغونه (چي هررازمېوې لري) اوداني کښت چي فصل يې رېبل کېږي (لکه غنم، اوربشي اونوري غلې داني ﴿ وَٱلنَّخْلَ بَاسِقَٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ ﴾ (او (زرغونې موکړل په دغواوبوسره ونې د)خرماوو لوړي هغې لره وږي دي لاندي باندي . ابوحيان وايې معناداچي زياتي اوښکي اوډېره مېوه پکې ده دمېوې پيلامه اونښه يې يودبل دپاسه لکه داناردانې غوندي وي تر څو چي همداسي لاندي باندي سره نښتي وي (نضيد) بلل کېږي اوچي له وږي راووزي بيانضيدنه ورته وايي (١) ﴿ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ﴾ رزق روزي لپاره دبندګانو(چي پرې نفع واخلي) ﴿ وَأَحْيَيْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا ﴾ او ژوندي کړل موږ په دغو(اوبو) ښارونه مړه (شاړي ځمکي لامزروع چي بيامو پکي بوټي اوواښه زرغونه کړل) ﴿ كَذَٰلِكَ ٱلْخُرُوجُ ﴾ همداسي دی راوتل (دمړيوله قبرونوڅخه همداسي به تاسو وروسته له مړيني ژوندي راوباسم. ابن کثيروايې چي دغه ځمکه وچه مړه وه کله چي اورښت پرې وشو راوپخسېده اووخوځېده اوله هره ډوله ګلونه اوښايسته نباتات څيني راوتوکېدل چي سړي يې په ليدلوحيرانېږي اوګرده ځمکه تکه شنه زرغونه برېښي همدغه دبعث بعدالموت مثال هم دی لکه څرنګه چي الله تعالی مړه ځمکه راژوندی.کوي همداسي به مړي راژوندي کړي (٢)ورووسته له دې الله تعالی د مکې کفاروته هغه هلاکتونه ورپه يادوي کوم چي پخوانيوامتونوته چاچي دانبياوو تکذيب کاوو رسېدلي ووترڅودوی ووېروي فرمايي: ﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ ﴾ دروغجن کړی ووپخواله دغو (کفارو) قوم دنوح (نوح لره) ﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلرَّسِّ ﴾ اوملګري دکوهي (خپل نبي لره چي دوی دثموديانو پاتي شوني وو اوخپل پيغمبر يې په کوهي کي وغورځاوو) ﴿ وَثَمُودُ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَٰنُ لُوطٍ ﴾ او ثموديانو(صالح لره) اوعاديانو (هود لره) اوفرعون (موسی لره)

---

(١) البحر المحيط ٨/ ١٢٢
(٢) دابن كثير مختصر ٣/ ٣٧٢

او(نوعي) ورونو دلوط (لوط لره) لوط (علیه السلام) لره یې څکه ورونه وبلل چي له هغوی څخه یې واده کړی وو) ﴿ وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ ﴾ اوخاوندانو دځنګله (شعیب لره څکه یې دوی ته دځنګله خاوندان وویل چي پردوی خواوشاباغونه راتاو وواوګڼي وني تیتي او یوپه بل باندي چاپېروې ﴿ وَقَوۡمُ تُبَّعٍۚ ﴾ اوقوم دتبع (خپل نبي لره. مفسرین کرام وایې چي تبع په یمن کي یوپاچاووچي اسلام یې راووړاوبیایې خپل قوم اسلام ته وباله خوهغوی دده تکذیب وکړ دغه (یماني تبع) دي[۱]) ﴿ كُلٌّ كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ ﴾ دوی ټولو نسبت د دروغوکړی وو خپلو پیغمبرانو لره. ابن کثیروایې داچي پیغمبران یې جمع راوړل څکه څوک چي دیوه پیغمبر تکذیب وکړي داسي دی لکه چي دګردو انبیاوو تکذیب یې کړی وي لکه چي الله فرمایې ﴿ كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴾ (الشعراء ۱۰۵)[۲] ﴿ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴾ نوبیاحق اوثابت شو(زماعذاب) پردوی پسته. آیت شریف کي دنبي علیه السلام لپاره تسلیت اودمجرمینو کفارولپاره تهدید شته ﴿ أَفَعَيِينَا بِٱلۡخَلۡقِ ٱلۡأَوَّلِۚ ﴾ پس نوموږ ستړي شوي ووپه لومړني پیدا ایښت باندي؟) یعني آیاموږ له لومړني پیدا ایښت څخه عاجزشوي وو؟ ترڅو چي له بعث بعدالموت څخه عاجزشو(بلکه عاجزشوي نه وو) قرطبي وایې دغه دبعث دمنکرانو لپاره توبیخ دی اوددوی دهغي ویناځواب دی چي ویل یې ﴿ ذَٰلِكَ رَجۡعُۢ بَعِيدٞ ﴾ [۳] مقصدداچي موږ له لومړني پیدا ایښت څخه عاجزنه وو نودوهم خوتر ړومبني ډېرآسان دی نودوی څرنګه فکرکوي چي موږ دي بعث اونشور ترسره نکړای شو؟ ﴿ بَلۡ هُمۡ فِي لَبۡسٖ مِّنۡ خَلۡقٖ جَدِيدٖ ﴾ بلکه دوی په شک کي دي له جوړولو اوژوندي کولونویوڅخه. ألوسي وایې داچي (خلق) یې نکره اوپه (جدید) یې وستایاو داسي یې وڼه ویل چي (من الخلق الثاني) ددې لپاره چي ددوی په استبعاد تنبیه وښیي چي دغه ستر پیدا ایښت دی چي په هکله یې خامخابایداهتمام وشي دغه لره ستره خبره شته[۴] وروسته الله تعالی د خپل پربمانه او وېرعلم اوبشپړقدرت داسي یادونه کوي: ﴿ وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ وَنَعۡلَمُ مَا تُوَسۡوِسُ بِهِۦ نَفۡسُهُۥۖ ﴾ اوپیداکړی دی موږ جنس دانسان په داسي حال کي چي موږ پوهېږو په هغه څېزچي وسوسه کوي په هغه سره زړه دده (له فکرونو عبثو اوناکاروسره) یعني موږ پیداکړی دی جنس دانسان اوپوهېږو په هغوګردورازونوچي په زړه اوسینه کي یې دي هیڅ ډول رازونه اونیت یې له موږ څخه الونیااوپټ نه دی ﴿ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنۡ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ ﴾ حال داچي موږ ډېرنژدې یوده ته په علم سره له رګونودورمېږدده څخه) حبل الورید هغه غټ دغاړې رګ چي له زړه سره نښتی دی. ابوحیان وایې معناداچي موږ په علم سره هغه ته نژدې یوچي هیڅ څیزیې راڅخه پټ نه دی اولکه داچي پخپله ذات دالله همدومره ورته نژدې وي دغه دخورانژدې والي لپاره یوتمثیل دی (لکه چي په پښتوکي وایې دوی

---

(۱) دجمل حاشیه په جلالین باندي ۴/ ۹۱
(۲) دابن کثیرمختصر ۳/ ۳۷۲
(۳) دقرطبي تفسیر ۱۷/ ۸
(۴) روح المعاني ۲۲/ ۱۷۸

دواړه سره نوک او وری دي) یاعرب وايي:(هومني معقدالإزار(۱))ابن کثیر وايي معناداچي زموږ پرښتې هغه ته دغاړې ترشهرګ لانژدې دي، حلول او اتحاد په اجماع سره نشته (تعالی الله وتقدس).

اودغه لکه چي دځنکندن په وخت کي وايي ﴿ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴾ چي پرښتې مراددي (۲)اوداللہ تعالی داوروستی قول هم پدې باندي دلالت کوي چي ﴿ إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴾ او(یادکړه) کله چي اخلی دوه اخیستونکي پرښتې یوه له ښي لوري ناسته وي لیکلودنېکي ته اوبله له کیڼ طرف نه ناسته وي لیکلودبدي ته ، په کلام کي محذوف شته هغه داچي له ښي لوري سره هم ﴿ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾ شته اوحذف شوی دی ځکه چي دوهم ورباندي دلالت کوي.

مجاهدوايي الله تعالی په انسان باندي دوې پرښتې ګومارلي سره له دې چي په احوالويې علم لري دوې پرښتې دشپې اودوې دورځي له مخي چي دوی یې عمل محفوظ کوي اولیکي ترڅوچي ورباندي دحجت الزام وشي یوه یې له ښي لوري چي نېکي یې لیکي بله یې له کیڼ لوري چي بدي یې لیکي همدغه دالله جل جلاله وینا ده چي فرمايي: ﴿ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴾ (۳)الوسي وايي مقصد داچي الله دانسان په حال ترهرچازښته ښه پوه اوخبردار دی (کله چي اخلي دوه اخیستونکي پرښتې هغه څه چي انسان ورباندي تلفظ کوي) اوپدې کي ددې خبرداری دی چي الله پاک دپرښتوله خوندي کولو(ساتني) څخه بې پروادی الله تر دوی ښه ورباندي پوه دی الله ته هغه څه هم معلوم دي چي دغو پرښتوته معلوم نه دي لیکن دحکمت غوښتنه داده چي پرښتې دانسان عمل ولیکي ترڅودقیامت په ورځ وړاندي شي نوکله چي بنده پدې وپوهېږي چي عملنامه یې وړاندي کېږي سره له علمه دالله چي دده په عمل یې لري نوبه په نېکي کولو پسي هڅه کوي اوله بدو اعمالوبه ځان ژغوري(۴) ﴿ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾ نه وايي دغه بنده هیڅ خبره مګر خو وي له ده څخه دوه ساتونکي (چي ویناېي څاري اولیکي) ﴿ عَتِيدٌ ﴾ چمتو حاضراوتیارچي ژرېې ولیکي . ابن عباس وايي :لیکي ټول هغه څه چي بنده یې وايي که خیروي اوکه شر(۵) حسن رحمه الله وايي کله چي انسان مړشي نوصحیفه یې ونغښتل شي اودقیامت په ورځ ورته وویل شي ﴿ اقْرَأْ كِتَابَكَ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا ﴾ (۶) ﴿ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ﴾ او راغلې بېهوښي سختي دمرګ لپاره ددې چي په سترګوېې ووینې په حق سره (څرګند هغه چي ترې منکروو) ﴿ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴾ دامرګ هغه دی چي وې به ته له هغه څخه په څنګ کېدونکی تښتېدونکی وېرېدونکی. په حدیث شریف کي راځي حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنهاوايي: کله چي په رسول

(۱) دالبحرالمحیط تفسیر ۸/۱۲۳
(۲) دابن کثیرمختصر ۳/۳۷۳
(۳) دقرطبي تفسیر ۱۷/۹
(۴) دروح المعاني تفسیر.
(۵) دابن کثیرمختصر ۳/۳۷۴
(۶) البحرالمحیط ۸/۲۲۴

الله (ﷺ) دمرګ خولې راتلې نوبه يې له مخ څخه وچولې او ويل به يې : (سبحان الله ان للموت لسكرات)([1]) پاكي ده الله لره دمرګ خوراسختي دي) ﴿ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيدِ ﴾ او وبه پوكل شي شي په صور(شپېلۍ) كي چي دايوه ورځ ده دوېرولو(دكفاروپه عذاب سره) ﴿ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَشَهِيدٌ ﴾ اوراځي هرنفس پدې ورځ كي چي وي به له ده سره يوشړونكى (محشرته) اوشاهدي وركونكى (په عملونويې) ابن عباس وايي چي: سائق به له پرښتو څخه وي اوشاهد به يې له خپله ځانه وي لكه لاس، پښې اوداسي نورغړي ﴿ يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ مجاهدوايي سائق اوشهيددواړه ملكي دي چي يوه به يې شړي اوبله به پرې شاهدي وايي ([2]) ﴿ لَّقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا ﴾ په تحقيق سره ته وې په غفلت بېخبري كي له دې ورځي دعذاب څخه (په دنياكي اى انسانه) ﴿ فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَآءَكَ ﴾ نوبيرته موكړه له تاڅخه پرده دغفلت ستا(كومه چي ستاپه زړه ، غوږونو او ستركوپه دنياكي خپره وه ﴿ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴾ نوستركي ستانن ډېري تېزي دي (چي هغه.له تاپټ شيان هم ورباندي وينې ځكه په بشپړه توګه دليدلو موانع له مينځه ولاړل.

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾ أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾ الَّذِي جَعَلَ مَعَ اللَّهِ
إِلَٰهًا آخَرَ فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾ ۞ قَالَ قَرِينُهُۥ رَبَّنَا مَا أَطْغَيْتُهُۥ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَٰلٍ بَعِيدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا
لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ إِلَيْكُم بِالْوَعِيدِ ﴿٢٨﴾ مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَا أَنَا بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٢٩﴾ يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن
مَّزِيدٍ ﴿٣٠﴾ وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾ مَّنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ
بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ﴿٣٣﴾ ادْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ﴿٣٤﴾ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴿٣٥﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن
قَرْنٍ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُم بَطْشًا فَنَقَّبُوا فِي الْبِلَٰدِ هَلْ مِن مَّحِيصٍ ﴿٣٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى
السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ
﴿٣٨﴾ فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَٰرَ
السُّجُودِ ﴿٤٠﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ إِنَّا

([1]) دبخاري روايت.

([2]) موږ دلته دمجاهدويناغوره كړي ځكه له آيت څخه څرګنده ده اوطبري هم غوره كړي ابن كثيريې ملاتړكړى دي.

نَحْنُ نُحْيِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا ٱلْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ۚ ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾ نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِجَبَّارٍ ۖ فَذَكِّرْ بِٱلْقُرْءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴿٤٥﴾ ق: ۴۳ – ۴۵

مناسبت:

کله چي الله تعالی په تېرو آيتونو کي له بعث څخه د مشرکانو انکاربيان کړاو په بعث او نشور باندي يې دلائل او براهين وړاندي کړل دلته يې وروسته هغه سختي او کړاوونه چي کافران به په آخرت کي ورسره لاس او ګرېوان وي راوړل او هغه نعمتونه چي الله تعالی په جنت کي دابرارومؤمنانو لپاره تيار کړي دي وستايل د سورت په پای کي بيا د بعث او نشور د دلائلو او د هغه احوال او ډولونه بيانېږي.

لغتونه:

(أزلفت) چي نژدې کړی شي (أوّاب) الله ته رجوع کونکی (بطشا) په سختي سره نيول (نقبوا) ولاړل وګرزېدل د (نقب) اصلاً يو ځای کيندلو او څېړلتولوته وايي :شاعرېدې هکله وايي : نقبوا فی البلاد من حذر الموت * وجالوا فی الأرض کل مجال. يعني په ښارونو کي يې د مرګ له وېري پټ ځايونه ولټول او په مځکه کي هرلوري ته وځغلېدل (محيص) د خلاصون ځای (لغوب) ستوماني ، ستړيا.

د نزول سبب:

قتادة وايي چي يهودانو به ويل چي الله تعالی آسمانونه او ځمکه په شپږ ورځي کي پيدا کړو لومړی يې ديکشنبې او وروستی يې د جمعې ورځ وه او (العياذبالله) هغه ستړی شو نو د هفتې په ورځ يې رخصتي وکړه ځکه دغي ورځي ته د استراحت ورځ وايي نو الله د دوی تکذيب هسي وفرمايو چي:

﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴾ [1]

تفسير:

﴿ وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَىَّ عَتِيدٌ ﴾ او وايي ملګري دده (پرښته) دادی هغه شی چي له ما سره حاضر دی (کوم چي تاور باندي ګومارلی وم بني آدم او دفتر د عملونو دده دادی) ﴿ أَلْقِيَا فِى جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴾ (نو وبه ويل شي دوو پرښتوته) وغورځوئ تاسي په دوزخ کي هر يو کافر عناد کونکی منع کونکی (هغه چي د حساب په ورځ يې ايمان نه درلود) ﴿ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ ﴾ د هر منع کونکی د خير (د هر واجب حق چي دده په مال کي وو) ﴿ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴾ تېرېدونکی له مشروعه چاروظالم او شک کونکی په دين کي ﴿ ٱلَّذِى جَعَلَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ هغه (کافر) چي ګرزولی يې دی له الله سره بل الله (په وحدانيت ايمان نلري) ﴿ فَأَلْقِيَاهُ فِى ٱلْعَذَابِ ٱلشَّدِيدِ ﴾ نو وغورځوئ دی په سخت عذاب د دوزخ) کي د (القيا) کلمه يې مکرر د تاکيد لپاره راوړه ﴿ قَالَ قَرِينُهُۥ رَبَّنَا مَآ أَطْغَيْتُهُۥ ﴾ وبه وايي ملګری دده يعني شيطان ای زموږ ربه ! نه وو ګمراه کړی ما دی

[1]) د ابن کثير مختصر ۳ /۳۷۸

(په زور) ﴿ وَلَٰكِن كَانَ فِى ضَلَٰلٍۭ بَعِيدٍ ﴾ ليکن وو دى پخپله ګمراهي لري کي له حقه څخه (پخپل اختيارسره، هغه ګمراهي په هدايت باندي پخپله خوښه بې له جبراواکراه څخه غوره کړي وه په آيت شريف کي محذوف دى چي سياق ورباندي دلالت کوي هغه دالکه چي کافر وايې اى ربه! زه شيطان تېرايستلى وم اوبياددہ شيطان ملګرى پورتنى وېناکوي چي ماهغه نه دى ګمراه کړى بلکه پخپله يې حق نه مانو اوماورسره مرسته وکړه ﴿ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا۟ لَدَىَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ إِلَيْكُم بِٱلْوَعِيدِ ﴾ وبه وايې (الله قهراً) چي تاسي دلته زماپه وړاندي جګړه مه کوئ (چي ستاسي جګړې پدې ځاى کي فائده نه لري) اوپه تحقيق رومبى لېږلي وو ماتاسي ته وېرول خپل (په ژبودانبياووله عذابه څخه خو تاسو ته نښنانو او وېرونکوهيڅ ګټه هم ونکړه ﴿ مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَىَّ ﴾ نشي بدلېدلى هيڅ خبره پدې باره کي په نزدزما (اونه بدلېږي زماحکم چي کفارومجرمينوته به عذاب ورکول کېږي مفسرين کرام وايې مرادله دې څخه دالله جل جلاله هغه حکم دى چي کافران بې په تل ترتله عذاب باندي تهديدکړي دي لکه چي فرمايې: ﴿ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾ (١) ﴿ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ ﴾ اونه يم زه ظلم کونکى پربندګانو (چي بې ګناه يې په عذاب کړم) ﴿ يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ ٱمْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴾ (ياد کړه هغه ورځ) چي موږ دوزخ ته وايوآياډک اوموړشوې ته؟ هغه به ووايې آيانورهم څه زيات شته؟ يعني لابه موړ شوى نه يم. په حديث شريف کي راځي چي په دوزخ کي کافران پرله پسې غورځول کېږي اوهغه به وايې آيانورهم څه زيات شته ترڅوچي الله جل جلاله خپل قدم پکي کېږدي نوبه هغه و وايې زمادي ستاپه عزت قسم وي قطً قطً يعني نورمي بس دي او له يوه اوبل لوري به راونغښتل شي (٢) ظاهر دادي چي سوال اوځواب دي حقيقتاً ترسره شي اوالله په هرڅه باندي قادردى دجماد اوډبري خبري کول شرعاً جائزدي اوپه قرآنکريم کي راغلي چي مېږي خبري کړي دي اوهرڅه دالله تسبيح وايي اوپه صحيح مسلم کي حديث شريف راځي چي په آخرالزمان کي به مسلمانان له يهودانوسره جنګېږي آن تردې چي يهودي به له وني اوډبري لاندي پټېږي اوالله به دغه وني اوډبري ته ژبه ورکوي (چي ور وبې ښيي) .... چابياويلي چي آيت دتمثيل په توګه دى اودغه ددوزخ دپراخوالي يوانځوردى چي که ګرد کافران پکي وغورځول شي هم هغه به وړته پراخېږي (٣) اولکه چي متل کوي: دهوال مېخ ته وويل: ولي مي څيرې؟ هغه ورته وويل له هغه چاڅخه وپوښته چي ماټک وهي! ورپسې الله تعالى د نېکمرغه خلګوحال داسي بيانوي: ﴿ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴾ اورانژدې به کړى شي جنت لپاره د پرهېزګارانوچي ليري به نه وي (دوى به يې وينې اودغه ددوى لپاره اعزازدى ﴿ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴾ (الله فرمايې چي) داهغه دي چي وعده به يې کول کېده له تاسي سره لپاره دهررجوع کونکي الله ته (اودهرساتونکي دحدودود عهداوأمردالله) ﴿ مَّنْ خَشِىَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُلُودِ ﴾ هرهغه

---

(١) وګوره دجمل حاشيه ۴/ ۹۲.

(٢) دبخاري اومسلم حديث.

(٣) دغه دوروستنيو علماوو ويناده اوقرطبي وايې چي دغه دمجاهد تفسيردى اولومړى دسلفو قول دى.

چي وېرېږي له (عذابه د) رحمان په غیب سره اوراتلونکي وي (الله ته) په زړه رجوع کونکي سره (نو الله به وفرمايي) ننوځئ پکي په سلامتیاسره !(له عذابونو، کړاوونو) داورځ دورننوتوورځ دهمېشه توب دي چي تل ترتله به پکي اوسئ څکه په جنت کي مړينه اوفناء نشته ﴿ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا ﴾ وي به دغو(مؤمنانو) ته په جنت کي هغه څه چي دوی يې غواړي (اوخوښوي يې) ﴿ وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴾ اوله موږ څخه زيادت هم شته په هغو باندي (چي هغه دالله ديدار دی (۱) له دې نه وروسته الله دمکې کفارپه هغه څه وېروي کوم چي د نورو دېروکفاروأمتونو چي دانبياوو تکذيب يې کاووپه برخه شوي دي فرمايي ﴿ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ ﴾ اودېرموهلاک کړي دي پخواله دې څخه له اهله دزمانوپخوانيو ﴿ هُمْ أَشَدُّ مِنْهُم بَطْشًا ﴾ چي هغوی دېرسخت اوقوي وو له دغو (مکې کفارونه) له جهته دقوته (اونيولو څخه) ﴿ فَنَقَّبُوا فِي الْبِلَادِ هَلْ مِن مَّحِيصٍ ﴾ پس دېردپناه ځايونه يې په ښارونوکي ولتول (چي کوندي پيداکړي ځای دساتني له مرګه خوپيدايې نکړ) آياد تېښتي ځای شته؟ (بلکه نشته) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴾ بېشکه په دغو(مذکوره ووشيانو) کي خامخاذکراوپند دی هر هغه چاله چي وي هغه لره زړه (روغ فکرکونکی) ياکېږدي غوږ نصيحت ته پداسي حال کي چي دی حاضرمتوجه وي په زړه سره ، سفيان (رحمه الله) وايي معناداچي داسي نه وی چي دی حاضرخوزړه يې غائب وي. ضحاک رحمه الله وايي عرب هغه چاته چي په ويښ اوحاضرزړه اورېدل کوي وايي چي (القى السمع) يعني غوږ يې کېښود(۲)له عقل څخه يې په زړه تعبيروفرمايولکه چي الله جل جلاله فرمايي ﴿ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴾ (الحج:۴۶) ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴾ اوپه تحقيق پيداکړي دي موږ آسمانونه اوځمکه اوهغه نورمخلوقات چي په مينځ ددغو (آسمانونو او ځمکي) کي دي په شپږوورځو کي اونه وه رسېدلي موږته هيڅ ستوماني ، دغه آيت په يهودوباندي ردکوي دوی هسي ګڼله چي الله آسمانونه اوځمکه په شپږو ورځوکي پيداکړل چي لومړی يې ديکشنبې او وروستي يې دجمعې ورځ وه اوبيا ستومانه شودهفتې ورځ يې داستراحت لپاره وټاکله چي ستوني ستغ په عرش باندي وغزېدو(العياذبالله) الله پاک ددوی تکذيب پدې مذکور آيت سره وکړ(۳)﴿ فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ ﴾ نوصبرکوه (ای محمده !) پرهغه چي دوی وايي (يهودان اويادمکې مشرکان دوی پرېږده په پرېښودلو نېکوسره) ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ ﴾ (اوپه تسبيح ووايه پيوسته له حمد درب خپل پخواله

---

(۱) دغه وينااله أنس اوجابربن عبدالله رضی الله عنه څخه روايت شوی دوی دواړه وايي چي زيادت داالله جل جلاله ديدار(ليدنه) ده چي الله جل جلاله به په دوی تجلی وفرمايي ترڅوچي دوی يې ليدنه وکړي اودغه به دهري جمعې په شپه وي
(۲) وګوره روح المعاني ۲۲/ ۱۹۰
(۳) دغه دقتاده اوکلبي وينا ده القرطبي ۱۷/ ۲۴

راختلو دلمر او پخوا اله لوېدلو دلمر څخه) يعني د سهار او مازيگر لمنځونه کوه داچي په څانگړي توگه يې

يادکړل شوي څکه چي زيات فضل او شرف لري ﴿ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَأَدۡبَـٰرَ ٱلسُّجُودِ ﴾ او په ځيني دشپې کي پس تسبيح وايه د دغه الله يعني لمونځ د تهجد او ماسخوتن کوه او وروسته له سجدو د لمنځونو څخه هم تسبيح وايه. ابن کثير وايي فرضي لمنځونه تر اسراء له مخه دوه ځلي وو دوه رکعته تر لمر ختلو دمخه او دوه تر لمر لوېدلو دمخه او د شپې لمونځ په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي واجب او تريوه کاله پوري يې په امت هم واجب وو مگر بيا يې وجوب د اُمت په باب منسوخ شو او بيا دغه گرد د اسراء په شپه په پنځو لمنځونو باندي منسوخ شول او له هغوى څخه دوه لمنځونه چي د سهار او مازيگر دي پاتي شول

او دغه نو (قبل طلوع الشمس او قبل الغروب) دي (۱) ﴿ وَٱسۡتَمِعۡ يَوۡمَ يُنَادِ ٱلۡمُنَادِ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ﴾ او واوره غوږ کېږده (اى محمده !) هغه ورځ چي آواز و کړي آواز کونکى (اسرافيل) له نژدې ځاى نه (چي هر چاته يې برابر غږ رسېږي. ابو السعود وايي چي پدې کي د خبري د هيبت او سترشان ننبه شته غږ کونکى حضرت اسرافيل عليه السلام دى هغه به وايي: اى ورستو هډوکو، شلېدلي هډونو ټوټه شوي غوښوتيت او

پرک وېښتانو الله درته حکم کوي چي د حساب او قضاء لپاره راټول شئ (۲) ﴿ يَوۡمَ يَسۡمَعُونَ ٱلصَّيۡحَةَ بِٱلۡحَقِّۚ ﴾ هغه ورځ چي واوري دغه خلک) سخته چيغه (د اسرافيل) په حقه سره (چي دوهمه نفخه ده) ﴿ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡخُرُوجِ ﴾ داورځ (د آواز) ورځ د وتلو ده (له قبرونو څخه) ﴿ إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيۡنَا ٱلۡمَصِيرُ ﴾ بېشکه هم داموږ ژوندي کول کوو او مړه کول کوو (په دنياکي) او شته خاص موږ ته را گرزېدل (د ټولو اُمورو په آخرت کي) ﴿ يَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلۡأَرۡضُ عَنۡهُمۡ سِرَاعٗاۚ ﴾ په هغه ورځ چي وچوي ځمکه له دوى څخه په چابکي سره (به د حساب تم ځاى ته ځغلي چي د غږ کونکي استجابت يې کړى وي) ﴿ ذَٰلِكَ حَشۡرٌ عَلَيۡنَا يَسِيرٞ ﴾ دغه (ژوندي کول) ټول دي پر موږ باندي ډېر آسان (تکليف نه غواړي) ﴿ نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَۖ ﴾ (موږ ته ښه معلوم دي هغه چي دوى يې وايي) يعني موږ په هغو ښه پوهېږو کوم چي قريشي کفار يې د بعث په هکله وايي پر تا او ستا په نبوت ملنډي او پېشاړي وهي، په دې کي د رسول الله لپاره

تسلا او ډاډينه او د کفارو لپاره تهديد دى ﴿ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِجَبَّارٖۖ ﴾ او نه يې ته په دوى باندي زور کونکى (په ايمان راوړلو سره بلکه ته يو پند ور کونکى مبلغ يې) ﴿ فَذَكِّرۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴾ نو پند ور کوه په قرآن سره هغه چاته چي وېرېږي له وعيدونو (او وېرولو زما په عذابونو د آخرت سره، د سورت پاى يې هم د قرآن په پند ور کولو و فرمايو لکه چي پيل يې د قرآن په لوړه کړى وو ترڅو چي پيل او پاى سره شايسته او بدلى او متناسق وي.

---

(۱) د ابن کثير مختصر ۳ /۳۷۸

(۲) د ابو السعود تفسير ۵ /۹۲

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبيان او بديع کومې ښکلاوې شته لنډيزيې داسې بيانيږي:

۱ – اظهار د اضمار په ځای کې لکه: ﴿ فَقَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ چې د دې پر ځای چې (فقالوا) راغلی وای او دغه پر دوی باندې د کفر د تسجيل لپاره راغلی دی.

۲ – انکاري استفهام چې بعث ليرې او مستبعد ګڼي لکه: ﴿ أَءِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ﴾.

۳ – لېږد بدل له يخواني کلام څخه هغه ته چې تر لومړي خورازيات بد او ناوړه وي لکه ﴿ بَلْ كَذَّبُوا۟ بِٱلْحَقِّ ﴾ چې دغه تر لومړني تعجب ډېر فظيع او ناوړه دی ځکه چې دالله د آيتونو تکذيب او دهغه د رسول چې په معجزاتو يې ملاتړ شوی تکذيب کول دي

۴ - مرسله مجمله تشبيه چې پدې کلام کې ده ﴿ كَذَٰلِكَ ٱلْخُرُوجُ ﴾ د مړو ژوندي کېدل يې له مړې ځمکې سره د نباتاتو په رازرغونولو کې تشبيه کړي ده.

۵ – تمثيلي استعاره لکه دا چې ﴿ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ﴾ دغه د نژدېوالي لپاره تمثيل دی لکه چې په پښتو کې وايې: (دوی سره نوک او ورې دي).

۶ – ايجاز بالحذف لکه پدې آيت کې ﴿ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴾ اصل يې دا چې (عن اليمين قعيد وعن الشمال قعيد) خوله لومړي څخه يې حذف کړی ځکه چې دوهم ورباندې دلالت کوي ، او همداسې د ﴿ ٱلْيَمِينِ ﴾ او ﴿ ٱلشِّمَالِ ﴾ ترمينځ د طباق صنعت شته چې له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي

۷ – تصريحي استعاره چې فرمايي ﴿ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ ٱلْمَوْتِ بِٱلْحَقِّ ﴾ د بېخودي لفظ يې د هغه شدت او تکليف لپاره استعاره کړی کوم چې ناروغ يې د ځنکدن په وخت کې ګالي.

۸ – ناقص جناس لکه: ﴿ عَنِيدٍ ﴾ او ﴿ عَتِيدٌ ﴾ ترمينځ چې د نون او تا د توروپه تغيير سره دي

۹ – د طباق صنعت لکه چې د ﴿ نُحْيِۦ ﴾ او ﴿ وَنُمِيتُ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۱۰ – د فواصلو يووالی او باريکه غير تکلفي سجع لکه چې پدې سورت کې ډېر ځايه ليدل کېږي مثلا: ﴿ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْوَعِيدِ ﴾ ﴿ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَشَهِيدٌ ﴾ ﴿ فَبَصَرُكَ ٱلْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴾ او دا چې ﴿ إِنَّا نَحْنُ نُحْيِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا ٱلْمَصِيرُ ﴾ ﴿ ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴾ او ډېر نور چې دغه له بديعي محسناتو ګڼل کېږي او په اوريدلو ښه اغيزه پرې باسي.

دالله په مرسته د (ق) سورت تفسير بشپړ شو.

***

د (الذاريات) سورت مكي او شپېته آيتونه لري

د سورت په وړاندي:

دغه مبارک سورت د نورو مكي سورتونو په شان د ايمان ستني ټينگوي او د خلگو پام د واحد قهار ذات قدرت ته رااړوي او د تقوى او ايمان په تادا و (بنسټ) باندي عقيده بناكوي.

سورت په پيل كي له هغو بادونو څخه غږېږي كوم چي دوړي بادوي او بېږي له يو ځاى نه بل ځاى ته په درياب كي چلوي او هغه وريځي چي دباران درنې اوبه په اوږو وړي او هغه بېړى چي داوبو په سر د واحد ذات په څواک او قدرت رواني وي او هغه سپېڅلي پرښتې چي د خلگو د چارو په تدبير گمارلي شوي پدې څلورو شيانو لوړه اخلي چي قيامت ارومروشته او خامخا به بعث او نشور راځي.

وروسته بيا خبره د مكي كفارو لورته لېږدي هغوى چي قرآن او آخرت دروغ گڼي نو د دوى د نيوي ژوند او بيا د آخرت برخه ليک هلته چي په اوركي غور ځول كېږي او په عذاب اخته كېږي بيانوي

بيا د متقيانو مؤمنانو ستاينه كوي چي دوى ته الله څرنگه أخروي نعمتونو تيار كړي ځكه دوى په دنياكي نيكوكار محسنين وو او دغه د قرآن كريم له اسلوب و سره سم راوړى چي ترغيب او ترهيب او اعذار او انذار سره يوځاى بيانوي.

هله د قدرت او وحدانيت له دلائلو غږېږي چي د كائناتو په دغه وېړه او پراخه ساحه مځكه آسمان غرونو او خوړو كي ترسترگو كېږي ياداچي څرنگه يې د انسان په خوراښكلي جوړښت او اغلي تكوين پنځولي (پيداكړي) دي دغه گرد درب العالمين په وتلي قدرت باندي څرگند دلائل دي.

له دې هيسي د انبياو و عليهم السلام كيسې او د هغوى د بد مرغه او نامنونكو اُمتونو د ريزونه راوړي او هغه هلاكتونه چي پر دوى راپرېوتي بيانوي نو د ابراهيم او لوط عليهما السلام كيسه كوي بيا د موسى عليه السلام وروسته د عاديانو. ثموديانو او د نوح عليه السلام د قوم كيسه رااخلي د دغو كيسو په تكرار سره يادونه د پيغمبر عليه السلام تسليت او د پند اخيستونكو لپاره عبرت دى.

د سورت پاى د هغه مقصد او غرض په بيانولو فرمايې كوم چي د انسان او پېري پيدا ينښت د هماغه لپاره شوى دى او هغه د الله معرفت ، پېژندگلوى عبادت اُو توحيد دى چي گرد عبادات ، صدقات او اخلاص بايد يوازي د همدغه ذات لپاره ترسره شي.

***

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلذَّٰرِيَٰتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَٱلْحَٰمِلَٰتِ وِقْرًا ﴿٢﴾ فَٱلْجَٰرِيَٰتِ يُسْرًا ﴿٣﴾ فَٱلْمُقَسِّمَٰتِ أَمْرًا ﴿٤﴾ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ﴿٥﴾ وَإِنَّ ٱلدِّينَ
لَوَٰقِعٌ ﴿٦﴾ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلْحُبُكِ ﴿٧﴾ إِنَّكُمْ لَفِى قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ ٱلْخَرَّٰصُونَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ فِى غَمْرَةٍ
سَاهُونَ ﴿١١﴾ يَسْـَٔلُونَ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿١٢﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى ٱلنَّارِ يُفْتَنُونَ ﴿١٣﴾ ذُوقُوا۟ فِتْنَتَكُمْ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ
﴿١٤﴾ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾ كَانُوا۟ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مَا
يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِٱلْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾ وَفِى ٱلْأَرْضِ ءَايَٰتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ﴿٢٠﴾ وَفِىٓ

أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٢١﴾ وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾ فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ ﴿٢٣﴾
هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ أَهْلِهِ
فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾ فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ
﴿٢٨﴾ فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿٢٩﴾ قَالُوا كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ
﴿٣٠﴾ ۞ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٣١﴾ قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴿٣٣﴾
مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ﴿٣٤﴾ فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا
فِيهَا آيَةً لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٣٧﴾ الذاريات: ١ ــ ٣٧

لغتونه:

(الحبک) لاري د(حبيكة) جمع او هغه لکه (طريقة) لفظاً او معناً دی زجاج وايي چي حبک لاري بولي او محبوک په لغت کي هغه شي ته وايي چي ښايسته کارپرې شوی وي(١) ابن الأعرابي وايي چي هر شی چي ښه او محکم وي هغه محبوک دی (الخراصون) د(خراص) جمع او د ډېر دروغجن ته وايي (غمرة) پټونکی، برغولی (يهجعون) ويده کېږي هجوع د شپې خوب ته وايي (أوجس) احساس او شعورته ويل کېږي (صرة) چيغه او شور ماشور (مسومة) نښاني شوي

تفسير:

﴿وَالذَّارِيَاتِ ذَرْوًا﴾ قسم دی په هغو بادونو چي تيتوي (الوزوي) خاوري او شګي په الوزولو سره (له يو ځای نه بل ځای ته) ﴿فَالْحَامِلَاتِ وِقْرًا﴾ پس قسم دی په اوريځو پورته کونکو داوبو درنو (د بارانونو په کوموکي چي د بشر ژوندوي ﴿فَالْجَارِيَاتِ يُسْرًا﴾ پس قسم دی په کښتيو تلونکو په نرمي سره په سر داوبو (چي ښنيادمان پکي سپاره وي) ﴿فَالْمُقَسِّمَاتِ أَمْرًا﴾ پس قسم دی په پرښتو وېشونکو دکارونو لويوپه حکم دالله سره لکه ارزاق، باران او داسي نور په مينځ دانسانانو کي ځکه هغوی هر يوې دځانګړي چاري لپاره ګمارل شوي حضرت جبريل انبياوو ته وحی راوړي ميکائيل روزي او رحمت وېشي، اسرافيل شپېلۍ پوکي او حضرت عزرائيل ساوي کاږي عليهم السلام جميعا(٢) مفسرين کرام وايي الله په دې څېزونو ځکه قسم اخيستی چي په دوی کي دالله په عجيبه صنع او قدرت باندي دلائل دي او ورپسې دقسم ځواب راوړي چي ﴿إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ﴾ بېشکه هغه چي له تاسو سره يې وعده کاوو شي (چي هغه عبارت دی له ژوندي کولو پس له مرګه) خامخا يو ه رښتوني وعده ده (پکي هيڅ دروغ نشته) ﴿وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ﴾ او بېشکه چي جزاء دعمل خامخا واقع کېدونکي او راتلونکي ده، ورپسې الله تعالي

(١) البحر المحيط ٨/١٣٢
(٢) زاد المسير ٨/٢٩

بله لوړه يادوي چي: ﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلْحُبُكِ ﴾ اوقسم دی په آسمان خاوند دلارو (مزينو ، اوټينګ جوړښت.
ابن عباس رضی الله عنه وايي : معناداچي خاوند دښايسته اومناسب جوړښت دی (۱) ﴿ إِنَّكُمْ لَفِى قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴾ بېشکه تاسي ياست ای مشرکانو خامخاپه يوه خبره مختلفه ګډه وډه کي ! (درسول الله په هکله څوک واياست چي هغه کوډګردی څيني بياواياست چي شاعردی اوځيني نور بيا هغه لېونی بولی اوداسي نوري اپلتي ﴿ يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴾ ګرزول کاووشي له دغه (ايمان په قرآن او محمد ﷺ) هغه څوک چي ګرزولی شوي دي (په علم دالله تعالی کي اوله نېکمرغي څخه محروم دي) ﴿ قُتِلَ ٱلْخَرَّٰصُونَ ﴾ لعنت ويل شوی دی په دروغ ويونکو(اټکل کونکو) باندي (چي وايي نبي ﷺ ساحر، دروغجن اوشاعردی. ابن الانباري وايي : قتل چي دالله له لوري اخبارشي هغه دلعنت په معنادي څکه پرچاچي دالله لعنت وشي هغه دوژل شوي په مرتبه دی (۲) ﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ فِى غَمْرَةٍ سَاهُونَ ﴾ هغه کسان چي دوی په نهايت غفلت کي سهوکونکي غافل اوبېخبره دي (له قيامت نه) ﴿ يَسْـَٔلُونَ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴾ سوال کوي منکران (په ملنډوله محمده څخه) کله به وي ورځ دانصاف (اوجزاء) الله ددوی په ترديدکي فرمايي: ﴿ يَوْمَ هُمْ عَلَى ٱلنَّارِ يُفْتَنُونَ ﴾ هغه ورځ چي دوی په اورباندي معذب شي (ورته وبه ويل شي) ﴿ ذُوقُوا۟ فِتْنَتَكُمْ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تَسْتَعْجِلُونَ ﴾ وڅکئ تاسي (خوندد) عذاب ستاسي دادی هغه (عذاب) چي وی تاسي چي په تلوار(جلتي) سره موغوښت (دغه عذاب په دنياکي په استهزاء سره) دغه وينابه ددوزخ دپرښتوله خواورته وشي وروسته بياالله تعالی دنېکانومؤمنانوحال داسي بيانوي فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴾ (بېشکه وېرېدونکي له الله اوپرهېزګاران به په جنت اوپه چينوکي وي (يعني څښونکي داوبودډ چينوبه وي) معناداچي پرهېزګاران به په داسي باغونوکي وي چي هلته په خورازړه راښکونکي منظرېکي چينې بهېږي ﴿ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ ﴾ اخيستونکي به وي هغو نعمتونو لره چي دوی ته ددوی رب ورکړي وي (له کرامت اوعزت څخه) ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴾ بېشکه دوی وړپخواله دې څخه (په دنياکي) محسنان اونېکي کونکي ، بياددوی څه برخه نېکي : سي بيانوي ﴿ كَانُوا۟ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴾ ووبه دوی چي په لږ برخه دشپې کي به وېده کېدل (و ډېر وخت به يې لمنځونه کول، حسن بصري رحمه الله وايي : معناداچي دوی به دشپې قيام الليل کاوو لږبه ويده کېدل (۳) ﴿ وَبِٱلْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ اوپه وخت دګهيځ (وختي کي) به وو دوی له الله نه به يي د ګناهونو مغفرت غوښت، دوی له خپلي نېکي سره سره ځانونه ګنهګاران بلل څکه به يې استغفارکاوو. ابوالسعودوايي

(۱) دخازن تفسير۴ /۲۰۰
(۲) زادالمسيرلابن الجوزي ۸ /۳۰.
(۳) البحرالمحيط۸ /۱۳۵

دوی له دې سره سره چې خوب یې لږ او تهجد لمونځ یې زیات وو بیاهم په سحرګاه کې استغفار کاوولکه چې کړی شپه یې په ګناهونو تېره کړې وي (١)دغه دنېکانو دوهم صفت دی ﴿ وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ﴾ اوپه مالونو ددوی کې حق اوونده وه سوالګرولره اوصبرکونکولره (یعني مسکین سوال نه کونکي لره) هغه برخه چې دوي دمحتاج سوال کونکي اومسکین سوال نه کونکي لپاره په ځان لازمه کړې وه دغه یې دریم صفت دی (٢)﴿ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ ءَايَٰتٞ لِّلۡمُوقِنِينَ ﴾ او په ځمکې کې نښې دقدرت دالله تعالی دي یقین لرونکیو ته (هغوی چې الله په صنعت پېژني . ابن کثیر وایې : معنا داچې په ځمکه کې دالله سبحانه وتعالی په قدرت اووحدانیت باندې څرګندې نښې شته ځکه چې ډول ډول نباتات پکې دي، حیوانات، غرونه، دښتې بېدیاوې، دریابونه، رودونه اود خلکو درنګونو ، ژبو اوعقلونویوله بله توپېراواختلاف، نېکمرغي اوبدمرغي اوعجیبه نادر پیداینښتونه پکې شته ځکه نو وروسته فرمایې (٣)﴿ وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ﴾ اوپه ځانونونفسونو ستاسې کې هم علامې دعبرت دي آیانو تاسې یې نه وینی چې ترې پندواخلی ؟(اودالله په قدرت مو باورشي چې له مرګه وروسته هم خلګ راژوندي کولای شي . ابن عباس ﷺ وایې چې مقصدله دې نه هغه اختلاف دصورتونو، ژبو، رنګونو، طبیعتونو، غوږونو، سترګواوعقلونو اونوروعجائبودی چې دبنیادم په وجود کې الله تعالی خوندي کړې دي. قتاده وایې: څوک چې دخپل ځان په خلقت کې فکروکړې دابه ورته معلومه شي چې دده اندامونه اومفاصل د عبادت دکولولپاره نرم اوملائم جوړشوي دي﴿ وَفِي ٱلسَّمَآءِ رِزۡقُكُمۡ وَمَا تُوعَدُونَ ﴾ اوپه آسمان کې دُی(سبب د) رزق ستاسې (باران دی) اوهغه چې له تاسې سره یې وعده کړی شوې ده (دثواب او عذاب چې هغه هم هلته لیکل شوي. صاوي وایې: چې په آیت شریف کې امتنان ، وعداو وعیدټول شته (٤)﴿ فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ إِنَّهُۥ لَحَقّٞ مِّثۡلَ مَآ أَنَّكُمۡ تَنطِقُونَ ﴾ اوقسم دی وي زماپه رب د آسمان اوځمکې باندې بېشکه داخبره چې وعده یې کړی شوې ده خامخاحقه اورښتیاده په مثل دهغه حقیقت او واقعیت چې تاسې پرې خبرې کوی (لکه چې تاسې په خبروکولو کې کله چې خبرې کوی شک نلری نو همداسې لازم دي چې په رزق اوبعث کې هم شک ونکړی لکه چې یوڅوک ووایې دغه داسې حق دی لکه چې ته وینې او اورې (٥)دغه دتمثیل اوتشبیه په توګه دی رزق هم لکه نطق له یوچا څخه بېلېدونکی نه دی په حدیث شریف کې راځي : که یوڅوک له خپل رزق څخه وتښتي رزق به لکه مرګ ورپسې ورشي (٦)بیاالله تعالی دابراهیم ﷺ

---

(١)ارشاد العقل السلیم ٥-٢٤٠.

(٢)دغه دابن عباس رضی الله عنه څخه مشهورتفسیردی چې دغه ونډه پرته له فرضي زکات څخه دی هغه چې دمېلمانه اکرام دخپلوانوپالل اودمسکینانولاس نیول پکې راځي چاپیاویلي چې دغه فرضي زکات دی اودغه رایه دابن سیرین اوقتاده رحمهم الله دی.

(٣) مختصرابن کثیر ٣ /٣٨٤.

(٤) دصاوي حاشیه ٤ /١٢٥

(٥) البحرالمحیط ٨ /١٣٧

(٦) قرطبي راوړی اودثعلبي اسناددی.

دمېلمنوکيسه درسول الله ﷺ دتسليت او ډاډيني لپاره داسي بيانوي : ﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ ٱلْمُكْرَمِينَ ﴾ آيا رسېدلی او راغلی دی تاته (ای محمده !) خبر د مېلمنو دابراهيم چي عزتمندوو (په نزدالله) استفهام دتشويق لپاره اوداچي د کيسې شان سترتوب ته اشاره وشي راغلي دي لکه چي څوک وايي: آيا فلانی خبره دي اورېدلې؟ ددې لپاره چي اورېدلوته يې تشويق کړي ابن عباس وايي مرادله مېلمنوڅخه جبرائيل ، مېکائيل او اسرافيل عليهم السلام دي څکه يې عزتمندونومول چي دالله په وړاندي دکرامت خاوندان دي ﴿ إِذْ دَخَلُوا۟ عَلَيْهِ فَقَالُوا۟ سَلَـٰمًا ﴾ کله چي ورغلل دغه (پرښتې) هغه (ابراهيم) ته نوويې ويل سلام کوو موږ ه پر تاپه سلام کولو سره ﴿ قَالَ سَلَـٰمٌ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴾ وويل(ورته ابراهيم چي) سلام دي وي پرتاسو(اوپه زړه کي يې تېره شوه چي دوی) يوقوم ناآشنادی) يعني زه مونه پېژنم چي تاسوڅوک ياست ؟ ابن کثير وايي داچي ويې نه پېژندل څکه هغوی دپېړۍ مخوښايسته زلميانوپه بڼه چي دسترهيبت ننبي ورباندي معلومېدې ورته راغلل(١) ابوحيان وايي دابراهيم عليه السلام له حال سره مناسب دادی چي په مخاطبه کي يې داسي ورته نه وي ويلي چي زه مونه پېژنم څکه پداسي ويناکي بې ميلي اووحشت معلومېږي، ښايي دغه يې په زړه کي ويلي اويايي هم خپلوپلويانواوچوپړيانوته ورو ، ويلي وي چي مېلمانه يې وانه وري (٢) ﴿ فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ ﴾ پس ورغی خپل کورته (په منډه اوله مېلمنوګونښه پټ ؛ څکه چي دکوربه له ادابويودادی چي بې له دې چي مېلمه وغوږوي بايد دهغه دمېلمستياپه چټکي سره اهتمام وکړي چي دمېلمانه په خبرولوکي ښايي مېلمه يې له کولوڅخه مانع شي اوپه څنډ راتلل ښايي په مېلمنو درانه شي ابن قتيبه وايي چي له دوی څخه په پټه ووت او(رواغ) هم دې ته وايي چي تلل راتلل په پټه ترسره شي (٣) ﴿ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴾ نوراېي ووړ خوسی تيار وريت کړی (دابراهيم ﷺ ټوله مالدراي غويان وه نويې يوچاغ خمټ دغواخوسی ددوی دزيات اکرام لپاره غوره او ورته کباب کړ ﴿ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴾ نو ور نژدې يې کړهغوی ته ويې ويل ولي نه خوری ؟(يعني په ورين تندی يې ورته وويل مهرباني وکړئ وخورئ) ابن کثيروايي چي : په آيت شريف کي دتعبيرنرمښت اودحسن ادب تلطف دی بلکه دمېلمستيااداب يې په ښکلي انداز پېيلی دی چي هغه په ژروخت په ناپامه توګه ورته مېلمستياراوړه هسي نه چي يو څل يې پردوی احسان بارکړی وای چي زه درته مېلمستياتيارووم بل داچي هغه ښه غوښن چاغ سخوندر ورته کباب کړاونژدې يې ورته کېښودهسي نه چي يو څل يې دمېلمستياد سترخوان اېښی وای اوبيايې دوی ته ويلای چي ورته راڼژدې شئ بياداچي دوی ته يې حتمي حکم ونکړ چي خورئ !کوم چي په مېلمنو درونډتمامېږي بلکه دهېلي په ډول يې عرض اوتلطف په کلام کي راووړ چي ولي يې نه خوری؟! لکه چي يوڅوک چاته

(١) دابن کثيرمختصر٣/ ٣٨٥
(٢) البحرالمحيط ٨/ ١٣٩
(٣) دابن جوزي تفسير٨/ ٣٦

وايي که غواړې چي احسان اوصدقه وکړې نو ويې کړه (۱) ﴿ فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ﴾ پس پټه کړه (ابراهيم) په زړه کي له دوی نه وېره (کله چي يې ددوی نه خوړل وليدل) ﴿ قَالُوا لَا تَخَفْ ﴾ دوی ورته وويل: مه وېرېږه (موږ ستادرب استازي يو) ﴿ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ ﴾ اوزېری يې ورکړده ته په يو هلک ښه عالم هوښيار سره (چي دده له مېرمنې ساره ﷺ څخه به تولد کېږي ابوحيان وايې چي پدې کي دازېری هم شته چي هغه به لوئېږي اوعالم به شي (۲) جمهور علماء بيا وايي چي دغه اسحاق عليه السلام دی ځکه چي الله دهود په سورت کي فرمايي ﴿ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِن وَرَاءِ إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ ﴾ (هود ۷۱) ﴿ فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ ﴾ پس مخ يې ورواړاوو ښځي دده په حيرانتيا سره. حضرت ساره ﷺ کله چي زېری واوري په زوږ اوشورماشور کي ددوی لوري ته رادرومي. مفسرين کرام وايي چي هغه دانګړپه يوه څنډه کي وه کله چي يې خبر واورېدو په يوه چيغه دوی ته راغله چي دخبري تفسيرځني وپوښتي ﴿ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا ﴾ نو وې واهو مخ خپل (په څپېړه) لکه څرنګه چي دښځودوداو رواج وي چي دتعجب په وخت کي مخ په څپېړه وهي. ابن عباس ﷺ وايي مخ يې له ډېره تعجبه په څپېړه وواهو لکه چي ډېري ښځي له يونادر کارليدلو څخه همداسي کوي (۳) ﴿ وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴾ ويې ويل چي زړه بوډۍ يم شنډه (څنګه به زه زوی وزېږوم ؟) امام جلال وايي چي دبي بي سارې عمرهغه وخت ۹۹ کاله او دحضرت ابراهيم ﷺ يوسل کاله وو (۴) ﴿ قَالُوا كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ ﴾ وويل دغو (ملائکو) همداسي (لکه چي زېری مود رکړ) ويلي دي رب ستا (په ازل کي نو هيڅ تعجب مه کوه (اومه پکي شک شبه لره) ﴿ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴾ بېشکه هغه (الله) ښه حکمت والا (پخپل صنعت کي) ښه خبردار دی (په مصلحتونو دخلګو) ﴿ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴾ وويل: (ابراهيم) نوڅه کار (شان) دی ستاسو ای رالېږل شويو (له جانبه دالله). بيضاوي وايي کله چي دی وپوهېدو دغه پرښتې دي اودوی داسي په اجتماعي ډول نه راښکته کېږي مګرچي کومه ستره پېښه کېدونکي وي نو يې ځکه ترې پوښتنه وکړه (۵) ﴿ قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴾ وويل: دوی بېشکه موږ چي يو رالېږل شوي يو طرف ديو قوم ګنهګار (کافرانو) ته، چي دلوط ﷺ قوم دی هغه چي ترګردوبدا وناولي کارونو ته يې ملا تړلي ده لواطت کوي اوکفر اوعصيان يې خپل کړی دی) ﴿ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴾ لپاره ددې چي ولېږو (وولو) پرهغوی باندي تېږي له خټو (پخوشوو په اور لکه پخې خښتي، دغه تيږی له خټو چي سجيل ورته ويل کېږي. ابوحيان وايي چي هغه خټه چي په اور پخه شي

---

(۱) دابن کثير مختصر ۳ / ۳۸۵

(۲) البحر المحيط ۸ / ۱۸۹

(۳) دابن کثير مختصر ۳ / ۳۸۵

(۴) دجلالين حاشيه ۴ / ۱۲۲

(۵) دبيضاوي تفسير ۴ / ۱۲۷

اولکه د بره وګرزي هغې ته سجّيل وايې (۱) ﴿ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ﴾ نښان داره شوي (په نامه د هغه چاچي پرې ويشتل کېږي) په نزد درب ستا (د هريوه نوم ورباندي کښل شوى دى) ﴿ لِلْمُسْرِفِينَ ﴾ لپاره د حدتېرېدونکو (په کفراو فجور کې. صاوي وايې چي د لوط ﷺ په کليو کي شپږ لکه تنه وو او جبريل عليه السلام خپل کوځر ترځمکه لاندي کړد هغه کلى يې له بېخه راوايستل آسمان ته يې اوچت کړل آن تردې چي غږونه يې آسماني اوسېدونکو اورېدل اوبيا يې سرپه ځېږى له پاسه راوغورځول او په هغو کسانو باندي يې د بري وويشتلې کوم چي له کليو بهر وتلي وو (۲) ﴿ فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ بيا راوايستل موږ هغه ځوک چي وو په دې کليو کي له ايمان لرونکيو څخه (څو هلاک نشي) ﴿ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴾ پس بياونه مونده موږ په دغو کليوکي پرته له يوه کوره د مسلمانانو (چي د لوط ﷺ کورنى وه. مجاهد وايې چي يو لوط ﷺ او دوه يې لوڼي وې ، د آيت شريف مقصد د مسلمانانو لږوالى (قلت) دى چي وژغورل شول او د کفارو ډېروالى او کثرت دى چي هلاک شول. امام جلال ليکي چي دغه ژغورل شوي يې په ايمان او اسلام وستايل يعني دوى هغه ځوک وو چي په زړونو يې ايمان اوباور درلود په اندامونو يې طاعات او عبادات ترسره کول (۳) ﴿ وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً ﴾ او پرېښوده موږ په هلاکت د دغو (کليوکي) يوه نښه (د عبرت چي سرپه ځېږى مو راوغورځول او تراوسه يې لا د تباهي علائم شته) ﴿ لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴾ لپاره د هغو کسانو چي وېرېږي له عذابه دردناک څخه (ترڅو له بدوکارونو څخه ځان وژغوري دوى ورباندي عبرت اخلي. ابن کثير وايې چي ددې کلام ﴿ وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً ﴾ معنادا چي موږ دوى د عبرت وړ وګرزول او ددوى هستوګنځي مو په بدبويه تاپو (جزيره) واړول او په دې کي د هغو مؤمنانو لپاره چي له دردناک عذابه وېرېږي عبرت دى (۴).

تنبيه:

امام رازي ليکي چي د ابراهيم ﷺ د مېلمنو په کيسه کي د رسول الله لپاره ډاډينه او تسليت دى چي له ده پرته نورنبيان هم دغسي وو د ابراهيم عليه السلام غوږ چاڼ يې ددې لپاره وکړچي هغه د انبياوو شيخ او سپين روبى وو نبي عليه السلام په ځيني شيانو کي د هغه په سنت ولاړ دي او په دې کيسه کي د رسول الله د قوم لپاره انذار دى چي څرنګه د لوط ﷺ په قوم ډبري راوورېدې نو دغه د هر ګمراه کافر برخه ليک کېداى شي. (۵)

---

(۱) البحر المحيط ۸ / ۱۴۰ - دغه سجّيل بنايي د (سنګ ګل) معرب وي او هغه ډبره او خته بنيي (ژباړونکى).

(۲) د صاوي حاشيه ۴ / ۱۲۲

(۳) د جلالين تفسير.

(۴) د ابن کثير مختصر ۳ / ۳۸۵

(۵) کبير تفسير ۷ / ۲۲۲

الله تعالی فرمایي:

﴿ وَفِي مُوسَىٰٓ إِذۡ أَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ (٣٨) فَتَوَلَّىٰ بِرُكۡنِهِۦ وَقَالَ سَٰحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٞ (٣٩) فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ
فِي ٱلۡيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٞ (٤٠) وَفِي عَادٍ إِذۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلۡعَقِيمَ (٤١) مَا تَذَرُ مِن شَيۡءٍ أَتَتۡ عَلَيۡهِ إِلَّا جَعَلَتۡهُ كَٱلرَّمِيمِ (٤٢)
وَفِي ثَمُودَ إِذۡ قِيلَ لَهُمۡ تَمَتَّعُواْ حَتَّىٰ حِينٖ (٤٣) فَعَتَوۡاْ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَهُمۡ يَنظُرُونَ (٤٤) فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مِن
قِيَامٖ وَمَا كَانُواْ مُنتَصِرِينَ (٤٥) وَقَوۡمَ نُوحٖ مِّن قَبۡلُۖ إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ (٤٦) وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ
(٤٧) وَٱلۡأَرۡضَ فَرَشۡنَٰهَا فَنِعۡمَ ٱلۡمَٰهِدُونَ (٤٨) وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ (٤٩) فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم
مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ (٥٠) وَلَا تَجۡعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ (٥١) كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّن
رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٌ (٥٢) أَتَوَاصَوۡاْ بِهِۦۚ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ طَاغُونَ (٥٣) فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٖ (٥٤) وَذَكِّرۡ فَإِنَّ
ٱلذِّكۡرَىٰ تَنفَعُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ (٥٥) وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ (٥٦) مَآ أُرِيدُ مِنۡهُم مِّن رِّزۡقٖ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطۡعِمُونِ
(٥٧) إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلۡقُوَّةِ ٱلۡمَتِينُ (٥٨) فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ ذَنُوبٗا مِّثۡلَ ذَنُوبِ أَصۡحَٰبِهِمۡ فَلَا يَسۡتَعۡجِلُونِ (٥٩) فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ
كَفَرُواْ مِن يَوۡمِهِمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ (٦٠) ﴾ الذاريات: ٣٨ – ٦٠

مناسبت:

کله چي الله تعالی دابراهیم علیه السلام دمېلمنو کیسه هغه چي دلوط علیه السلام دقوم دهلاکت لپاره وراستولی شوي وو یاده کړه ورپسې یې دنورو سرکښه قومونو کیسې راوړې چي هغه دفرعون اولښکریانو یې ،دعادیانو اوثمودیانو اودنوح علیه السلام دتېرکیسې دي ترڅوچي درسول الله لپاره تسلیت اوډاډینه اودپنداخیستونکو لپاره عبرت شي چي څرنګه الله له خپلو اودخپلو استازو او پیغمبرانو له دښمنانو څخه کسات اخلي ورپسې الله دخپل قدرت اووحدانیت دلائل یادوي اودسورت پای دظالمانو لپاره په اخطار ورکولو بشپړوي.

لغتونه:

(نبذناهم) غورځولي مودي دوي (الیم) بحر(ملیم) ملامت کړی شوی (الرمیم) وروست اوله مینځه تللی څیز، زجاج وایې چي رمیم وچه پاڼه چي ماته اوزژېدلي کونډي کېروي او(عظم الرمیم) هغه وروست هډوکي ته وایې چي ښخي زوړشوی وي (الماهدون) فرش غوړونکی تمهیددیوشي سمولواوبرابرولو ته وایې (ذنوبا) دذال په زورسره دعذاب ونډي اوبرخي ته ویل کېږي.

تفسیر:

﴿ وَفِي مُوسَىٰٓ إِذۡ أَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ ﴾ (اوپرې ایښي دي موږ وېرېدونکو ته علامې دقدرت) په (کیسه د) موسی کي کله چي وروموله ېږل دغه (موسی) طرف دفرعون ته ﴿ بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴾ په برهان واضح دلیل سره ﴿ فَتَوَلَّىٰ بِرُكۡنِهِۦ ﴾ بیانومخ واړاوو(فرعون) له ایمان راوړلو په موسی) سره له قوت زور

اولښکروخپلو. مجاهدوايې چي دغه دالله دښمن پخپلوملګروغښتلی شو(۱) مقصدداچي فرعون له دې سببه چي په لښکرو درلودلوپیاوړی وو له ایمان راوړلويې مخ واړاووځکه هغه لکه دده لپاره چي دوداني ستني وي اوهغه ته يې لکه تکيه کول داسي حيثيت درلود ﴿ وَقَالَ سَٰحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴾ اوو ويل (فرعون) چي دغه (موسی) کوډګراويالېونی دی) يعني دغه معجزې يې ددې ښکارندوی دي چي دی کوډګردی اودغه دنبوت دعوی کول يې دلېونتوب نښه ده، دغه يې دخپل قوم دسترګوپټولو(تمویه) لپاره وويل هسي نه چي دموسی ﷺ په رښتنولي کي يې شک درلود(۲) ﴿ فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ ﴾ نو ونیوموږ دغه (فرعون) اولښکردده ﴿ فَنَبَذْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ ﴾ نوو غورځول موږدوی په سيند کي (کله چي موږېې په غصه کړواوزموږ دنبي تکذيب يې وکړ﴿ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴾ اوهغه ملامت شوی وو(په کفراوطغيان سره، کله چي د فرعون کيسه پای ته ورسېده د(عاد)کيسه يې ورپسې راوړه چي: ﴿ وَفِى عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلرِّيحَ ٱلْعَقِيمَ ﴾ (اوپرې اينبي دي موږعلامې دقدرت) په کيسه د(عادکي کله چي وموليږه پردوی باندي شنډباد(چي خيراوبرکت يې نه درلود ،نه پکي باران وواونه تلقيح يوازي دبربادي اوهلاکت لپاره ووهغه چي (دَبُور) يې بولي په حديث شريف کي راغلي چي: ماته په (صبآء) باندي برى راکول شوی اوعاديان په (دَبُور) هلاک شوي دي . مفسرين کرام وايې : دغه بادته يې عقيم ځکه وويل چي لکه شنډه ميرمن چي اولادنه زېږوي دغه بادهم بې ښمره اوبې ثمره وو،نه يې وريځي شړلې چي باران واوروي اونه يې هم ونې تلقيح کولې نودغه بې ښېګڼې باد يې له شنډي ښځي سره تشبيه کړ﴿ مَا تَذَرُ مِن شَىْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ ﴾ نه به پرېښودودغه بادهيڅ شي(له نفس وماله) چي وابه الوت په هغه باندي (چي دالله به يې دهلاکت اراده وه) ﴿ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَٱلرَّمِيمِ ﴾ مګرخوبه يې ګرزاوولکه وچ زوړ رژېدلی (وابنه ټوټې ټوټې) ابن عباس ﷺ وايې رميم زوړرژېدلي ته وايې اوسدي وايې هغه دوړو ، ګرد ، غباراوخاورو ته وايې لکه چي الله فرمايې ﴿ تُدَمِّرُ كُلَّ شَىْءٍۭ بِأَمْرِ رَبِّهَا ﴾ (الاحقاف ۲۵). مفسرين کرام ليکي هغه بادچي پردوی الله راالوزولی وو د صرصرسخت بادووچي پرله پسې اته ورځي چلېدوودانی. به يې نرولې اوخلګ به يې آسمان ته اوچتول اوداسي به هغوی معلومېدولکه واړه مرغان چي په هواالوتي وي اوبيابه يې ساره بې سا په ځمکه ويشتل ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴾ (الحاقة) ورپسې الله تعالی دثمود يانود هلاکت پېښه داسي بيانوي چي ﴿ وَفِى ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوا۟ حَتَّىٰ حِينٍ ﴾ اوپرې اينبي مودي علامې دقدرت په) کيسه دثمودکي کله چي دوی ته وويل شو(وروسته له هلاکته داوښي) نفع واخلئ تاسي تريوه وخته(چي درې ورځي دي لکه

---

(۱) المختصرابن عباس وايې (برکنه) يعني په قوت اوسلطان خپل موږپه تفسيرکي دواړه ويناوي ځای کړي دی.

(۲) (او) توری دشک لپاره استعمالېږي اوځيني مفسرينوهغه دواوپه معناخيستی دی يعني هغه کوډګراولېونی دی ځکه لعين دوه شيان سره ملګري کړل چي (ان هذا الساحرعليم) او ويې ويل: (ان رسولکم الذی أرسل اليکم لمجنون) دغه دقرطبي غوره دی الوسي وايې چي دغه تأويل ته حاجت نشته ځکه فرعون لکه (حرباء)غوندي هرډول خان کاوو.

چي په هود کي تېرشو چي: ﴿ فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِى دَارِكُمْ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ ﴾ ﴿ فَعَتَوْاْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ ﴾ نو سرېي وغړاوه له امره حکمه درب خپل (او د پيغمبر له لارښووونوېي څنګ وکړ اوناقه يې ووژله) ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ ﴾ نو ونيول دوی تکي (د تندر عذاب هلاکونکي چيغي دعذاب) ﴿ وَهُمْ يَنظُرُونَ ﴾ او دوی به ورته کتل (اوهغه به يې ليدل څکه چي په رڼا ورځ ورته راغی. ابن کثيروايي دوی درې ورځي دعذاب انتظاروکړ اوځلورمه ورځ په سهارکي ورته عذاب راغی (۱) الوسي وايي صالح عليه السلام دوی ته وروسته له دريوورځود هلاکت وعده وکړه او ورته يې وويل سبا به مومخونه ژېړشي بل سبا به سره شي اوپه دريمه ورځ به تک توروا وړي اوبيابه درته عذاب راورسېږي کله چي دوی دغه نښې نښانې وليدلې نو يې وپتېيله چي صالح عليه السلام ووژني الله تعالی هغه وژغورل اوپه ځلورمه ورځ پردوی باندي تکه راپرېوته چي آسماني اور ووچاپياويلي چي آسماني چيغه وه اوهلاک شول (۲) ﴿ فَمَا ٱسْتَطَٰعُواْ مِن قِيَامٍ وَمَا كَانُواْ مُنتَصِرِينَ ﴾ نو بيانه توانېدل دوی چي پورته شي (له عذابه وتښتي) اونه وو دوی بدل اخيستونکي (له موږه مقابله کونکي دالله له عذابه سره) ورپسې الله تعالی دنوح عليه السلام کيسه داسي بيانوي ﴿ وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ ﴾ (اوهلاک کړي وو موږ) قوم دنوح پخوا له دې (اهلاک دقومونو) ﴿ إِنَّهُمْ كَانُواْ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴾ بېشکه دوی ووقوم فاسقان (وتونکي له حدا وفرمانه چي کفراوطغيان يې خوښ کړی وو) کله چي ددروغجنوګڼونکو قومونودهلاکت بيان وشونو الله دلته د خپل قدرت اووحدانيت بيان داسي فرمايي ﴿ وَٱلسَّمَآءَ بَنَيْنَٰهَا بِأَيْيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴾ اوآسمان مو موجود کړی دی په أيدي (دقدرت خپل) اوبېشکه موږ خامخاپراخونکي يو. ابن عباس وايي (بأيد) معناپه قوت سره (۳) ﴿ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴾ اوموږپراخونکي يوپه پيدايښت دآسمان کي څکه چي ځمکه اوهغه هوااوبه چي ور باندي راچاپېردي آسمان ته لکه يوه کړی غونډي ده چي پراخه ښديا کي لوېدلې وي لکه چي په خينواحاديثوکي هم راغلي دي (۴) ابن عباس وايي چي (لموسعون) معناداچي موږ وس او طاقت لرو له (وسع) څخه اخيستل شوی دی ﴿ وَٱلْأَرْضَ فَرَشْنَٰهَا فَنِعْمَ ٱلْمَٰهِدُونَ ﴾ (اوځمکه مو غوړولي ده نوموږ ښه غوړونکي يو) يعني ځمکه موستاسي داستقرار اومېشت لپاره غوړولي ترڅو تاسي يې له هري لاري ګټه واخلئ، اوډول ډول کښتونه ورباندي وکرئ دغه دځمکي له ګرويت سره منافي نه دی دغه ګرويت دمځکي يومنل شوی حقيقت دی خوله ګرويت سره سره دومره پراخه اوورېږه ده چي غرونه، درې، دښتي اوبېدياوي پکې دي څکه الله فرمايي ﴿ فَنِعْمَ ٱلْمَٰهِدُونَ ﴾ يعني ښه ويړونکي يو دجمعي صيغه دتعظيم

---

(۱) دجمل حاشيه ۴ /۲۰۷
(۲) روح المعاني ۲۷ /۱۲
(۳) نفس المرجع.
(۴) دابن الجوزي تفسير ۸ /۴۰

لپاره ده ﴿ وَمِن كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ ﴾ اوله هر څيز څخه پيدا کړي دي موږ جوړې دوه قسمه مختلفي نراوښځه ، تروه اوخواږه اوداسي نور[1] ﴿ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ دپاره ددې چي تاسي پند واخلی ، دالله جل جلاله عظمت وپېژنی اوورباندي ايمان راوړی چي د ازواجو پيداکونکی واحداو لاشريک ذات دی ﴿ فَفِرُّوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ اووتښتئ (رجوع وکړئ) په طرف د الله (په طاعت سره توحيدېي ومنئ ابوحيان وايي چي امرپه رجوع سره امرپه ايمان کي د داخلېدلو دی اوداچي په تېښته سره يې ترې تعبير فرمايلی چي پدې تنبيه وشي چي دخلګوله شا عذاب اوعقاب دی داسي څېزدی چي تېښته ترې لازمه ده دلته يې پدغه لفظ کي تحذير او استدعادواړه نغښتي دي اومثال يې درسول الله هغه وېناده چي فرمايي : (لاملجأولامنجى منک الا اليک)[2] يعني نه دپناه اونه هم دنجات ځای شته پرته ستاله جنابه) ابن الجوزي وايي معناداچي وتښتئ له هغه څه څخه د چي کفر، عصيان اوعقاب پرې لازمېږي هغه لوري ته چي هلته دطاعت او ايمان ثواب شته[3] ﴿ إِنِّى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ ﴾ بېشکه زه تاسي ته له طرفه دهغه (الله) وېرونکی (دعذاب اوانتقام) يم ﴿ مُّبِينٌ ﴾ ښکاره (زماخبره سپينه ده په تحقيق سره الله تعالی ماته ځرګندي معجزې راکړي دي ﴿ وَلَا تَجْعَلُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ اومه ګرزوئ (مه شريکوئ تاسي له الله سره بل معبود (له بشراوحجرڅخه) ﴿ إِنِّى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴾ بېشکه زه تاسي ته له طرفه دهغه (الله) وېرونکی ښکاره يم، دغه لفظ يې مکررځکه راووړچي تاکيداودشرک د خطر لپاره تنبيه وښيي . خازن وايي چي دغه لفظ دطاعت له امرسره جوخت اودشرک له نهی سره يو ځای ځکه رامکرر کړچي داوښيي ايمان پرته له عمل څخه ګټورنه دی لکه چي عمل پرته له ايمان څخه ګټه نلري اوداچي بشپړبرياليتوب اونجات پدې کي دی چي دواړه سره مل اويوځای وي[4] ﴿ كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُوا۟ سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ ﴾ هم داسي (چي وايي تاته قوم ستاساحراو مجنون اوستا تکذيب کوي) ندی راغلی هغوکسانوته پخواله دوی څخه هيڅ رسول مګرخوهغوی ويل چي دی ساحر (کوډګر) دی يالېونی دی ، دغه درسول الله ﷺ لپاره تسليت اوډاډينه ده ﴿ أَتَوَاصَوْا۟ بِهِۦ ﴾ آياوصيت کړی دوی يوبل ته پدې خبره سره (چي تکذيب به کوي؟) استفهام ددوی له اجتماع څخه دی چي ځرنګه يې پدې ناکاره خبره کي سره

---

[1] دکائناتوعظمت اوسترتوب ته دعقل اوعبرت په سترګه وګوره دغه ځمکه چي موږ ورباندي اوسو دکائناتوپه وړاندي لکه يوه ذرّه غوندي دی دغه ستر کائنات چي پراخوالی يې له الله پرته هيچاته نه دی معلوم يوازي الله چي کائنات يې پنځولي اوانسان يې پيداکړی ورباندي خبردی کله چي دغه آيت (وانالموسعون) لولې پکي عقل وچلوه ترڅوچي په زړه اوژبه له تسبيح کونکو څخه وګڼل شې.

[2] دغه دابن زيد قول دی اومجاهد وايي مرادپه دې کي متقابلات دي لکه نراوښځه ، آسمان اوځمکه ، لمراوسپوږمۍ ، شپه اوورځ ، رڼااوتياره ، خيراوشراونورامثال يې دغه دطبري غوره ده ځکه چي دالله په عظمت خورازيات دلالت کونکي دي

[3] البحرالمحيط ۸/ ۱۴۲

[4] دابن الجوزي تفسير ۸/ ۴۷

غونډه کړي ده؟ وروسته بیا له دغي نفی او توبیخ څخه کلام داسي لېږدي چي نه داسي نه دی ﴿ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴾ بلکه هم دوی دي قوم سرکښان، دوی خپلي سرکشي دغه تکذیب او عصیان ته اړ ایستلي دي ځکه دوی هم هماغسي ویناوي کوي لکه چي پخوانیو مکذبینو به کولې ﴿ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ﴾ پس مخ وګرزوه له دوی څخه (ای محمده!) ﴿ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٍ ﴾ پس نه یې ته هیڅ ملامت کړی شوی (ځکه چي امانت دي اداکړی او رسالت دي تبلیغ کړی په نصیحت او لارښوونه کي دي زیار ایستلی دی) ﴿ وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ تَنفَعُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ او تل نصیحت کوه پس بېشکه چي ذکرپندګته رسوي مؤمنانو ته (د مؤمنانو په زړونو نصیحت اثر کوي، بیا الله تعالی د مخلوقاتو له پیدا ایښت څخه مقصد داسي بیانوي چي ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ او ماندي پیدا کړي پېریانان او انسانان مګر لپاره ددې چي دوی زما عبادت وکړي (په توحید مي ومني نه ددې لپاره چي د دنیا راټولولو لپاره ژوند تېر کړي. ابن عباس رضی الله عنه وایې ﴿ لِيَعْبُدُونِ ﴾ معناداچي مګر لپاره د دې چي زما عبادت وکړي هغه که طوعًا او که کرهًا. مجاهد وایې معناداچي ما وپېژني (۱) امام رازي وایې کله چي الله تعالی د مکذبینو حال بیان کړ ورپسې یې دا آیت شریف وفرمایو چي د دوی ناروا کار بیان کړي ځکه چي د الله تعالی عبادت یې پرېښی سره له دې چي دوی د عبادت لپاره پیدا شوي دي (۲) ﴿ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ ﴾ او اراده نلرم له دوی څخه د هیڅ رزق روزي (ماله او خپلو خانونو ته او یا نورو ته بلکه زه روزي رسان یم) ﴿ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴾ او زه اراده نلرم ددې چي دوی ماله طعام راکړي (یا زما مخلوق له طعام ورکړي زه غني او ستایلی شوی ذات یم. بیضاوي وایې مقصد له دې څخه دا بیانول دي چي زما شان او حال له دوی سره د بادارانو او مریونو په شان نه دی چي کوم باداران خپل مریونه د معاش د پیدا کولو لپاره په کار وي (۳) ګواکي چي الله فرمایې زه نه غواړم له دوی څخه داسي مرسته تر لاسه کړم لکه چي باداران یې له خپلو مریونو څخه لاس ته راوړي نو دوی دي هغه څه ته مخه کړي کوم چي د هغه لپاره پنځول شوي دي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ﴾ بېشکه الله هم دی ښه رزق ور کوونکی دی (بندګانو ته او د دوی حاجت روادی د لته یې د پروردګار هغه سپېڅلی نوم چي د ګرد و کمالیه صفاتو مستجمع (ټولګه) دی راوړ او د جملې تاکید یې په (ان) او منفصل ضمیر سره وفرمایو تر څو د خلګو اوهام د روزي په هکله له نورو څخه راوګرزوي او په الله جل جلاله یې اعتماد او وېسا ټینګه کړي ﴿ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ﴾ څښتن د قوت محکم او مضبوط دی (چي ضعف او ناتواني ورته نه رسېږي. ابن کثیر وایې چي الله ﷻ ددې اخبار و فرمایو چي الله دوی ته

---

(۱) د قرطبي تفسیر ۱۷/۵۵
(۲) تفسیر امام رازي ۷/۲۸۵
(۳) د بیضاوي تفسیر ۴/۱۲۸

اړنه دی بلکه دوی په ټولو احوالوکي ده ته اړاو محتاج دي الله ددوی خالق اورازق دی په حدیث قدسي کي راغلي دي چي: ای بني آدمه زمادعبادت لپاره ځان فارغ کړه ستاسینه به له غنا (بداییي) څخه ډکه کړم اوکه داسي ونه کړې سینه به دي له کاراوزیاره ډکه اوفقربه درسره ملګری وي(۱) ﴿ فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَٰبِهِمْ ﴾ پس بېشکه هغوکسانولره چي ظلم يې کړی دی (په نفسونوخپلواوپه بل چا) حصه د عذاب دی په مثل دحصې دعذاب دیارانوهلاک کړی شوي ددوی (لکه قوم دنوح اوعادیان او ثمودیان) ﴿ فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴾ پس دوی دي په ماباندي تلوارنه کوي (دعذاب که يې چېري وروستی کړم ځکه هغه خامخا راتلونکی دی که ژروي که وروسته ﴿ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا مِن يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴾ پس افسوس هلاکت خرابي سخت عذاب دی هغوکسانوته چي کافران شوي دي له ورځي دعذابه ددوی څخه هغه ورځ چي وعده يې ورسره کړی شوي ده (چي دقیامت ورځ ده).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزيې دادی:

۱ - دطباق صنعت لکه ﴿ وَفِي أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴾ ځکه چي سائل عبارت له غوښتونکي اومحروم بیاعبارت له پټ خولي بېوزله (متعفف) څخه دی.

۲ - دخبرتاکید په لوړه (قسم) (ان) او(لام) سره لکه ﴿ فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ ﴾ دغه ډول ته انکاري تاکیدوايي ځکه چي مخاطب له دې څخه منکردی.

۳ - دتشویق اوتفخیم اسلوب لکه ﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ﴾.

۴ - استعاره لکه چي فرمایي ﴿ فَتَوَلَّىٰ بِرُكْنِهِ ﴾ رکن يې دلښکرلپاره استعاره کړ ځکه چي په هغوی باندي تکیه اوقوت موندل کېږي اویادغه دقوت اوشدت لپاره استعاره دی.

۵ - عقلي مجازچي ﴿ وَهُوَ مُلِيمٌ ﴾ دلته يې په اسم مفعول باندي داسم فاعل اطلاق کړی دی یعني پخپل طغیان ملامت کړی شوی.

---

(۱) ترمذي اوامام احمدروایت کړی مختصرابن کثیروګوره ۳ / ۳۸۷

۶- تبعيه استعاره ﴿ الرِّيحَ الْعَقِيمَ ﴾ په کلام کي ددوی دهلاکت باديې له شنډو مېرمنو سره تشبيه کړی هغه چي مېوه نه نيسي اوبارنه اخلي دمشبه به اطلاق يې په مشبه کړی اوله هغه څخه يې عقيم داستعارې په توګه مشتق کړی اوراايستلی دی

۷- دايجازحذف چي فرمايې: ﴿ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴾ يعني تاسوناآشناقوم ياست اوهمداسي ﴿ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴾ يعني زه بوډاشنډه يم

۸- مرسله مجمله تشبيه لکه ﴿ ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ ﴾ يعني ونډه په مثل دونډي دملګرود دوی چي پخواني هلاک شوي مکذبين وو اودغه تشبيه په شدت اوغلظت کي ده دتشبيه وجه حذف شوي نومجمله پېژندل کېږي

۹- اطناب دفعل په تکرارسره چي فرمايې: ﴿ مَا أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴾ ترڅوچي مبالغه اوتاکيدافاده کړي

۱۰- ښايسته زړه راښکونکي سجع چي بې تکلفه اوداسلوب په ښايست اورونق کي أغېزمنه وي لکه ﴿ وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْيدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ وَالْأَرْضَ فَرَشْنَاهَا فَنِعْمَ الْمَاهِدُونَ ﴾ اودغه هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

لطيفه:

وايې چي يوصحرايې سړي دغه آيت شريف ديوقاري له خولې څخه واورېدوچي ﴿ وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ ﴾ نوويې ويل: سبحان الله چاحضرت جليل ذات په غصه کړی دی چي قسم کوي آيادوی بې په خبرباورنه درلود چي لوړي اوقسم ته يې اړايستلی دی افسوس دخلکوپه حال؟!

دالله جل جلاله په مرسته دالذاريات سورت تفسيربشپړشو.

***

د(الطور) سورت مکي او نه څلوېښت آيتونه لري.

د سورت په وړاندي:

دغه سورت د نورو مکي سورتونو په شان د اسلامي عقيدې موضوع څېړي او د هغې بنسټيز توکي لکه وحدانيت ، رسالت او بعث جزا بيانوي

په پيل کي سورت د آخرت له کړاوونو او ستونزو غږېږي هغه څه چي کافران د حساب په تم ځای کي ورسره لاس او ګرېوان وي بيانوي او پدې لوړه کوي چي عذاب به ارومرو په کافرانو راځي هيڅ څېز به له دوی څخه د عذاب مانع نشي ګرزېدای او دغه قسم په پنځو شيانو اخلي ترڅو چي د موضوع د اهميت څرګندونه وشي.

ورپسې بيا د متقيانو خبر راوړي چي څرنګه به په جنت کي په نعمتونو بسيا او مخامخ په تختونو ناست وي الله به دوی ته حورالعين وربښلي او خپله کورنۍ اولادونه به يې ورسره يو ځای کړي قسما قسم خوراکونه او څښاک به ورکړي ډول ډول غوښې خواړه چي خوندوري او زړه غوښتونکي وي ورباندي لورولي وي او دغه رنګه نور بې شمېره نعمتونه چي نه سترګو ليدلي ، نه غوږونو اورېدلي او نه هم د بشر په زړه کله تېر شوي وي.

بيا د محمد بن عبدالله ﷺ د رسالت خبره راوړي او پيغمبر عليه السلام ته د کفارو د وېرولو او تذکير امر کوي او ورته وايې چي د کفارو په ويناګانو دې هيڅکله هم پروا نکوي کوم چي دوی د رسالت او رسول په باب چټيات وايې محمد ﷺ هغه ذات دی چي الله ورباندي د پيغمبري ورکولو نعمت لورولي دی هغه خو کاهن او مجنون نه دی لکه چي مجرمان فکر کوي

هله سورت د مشرکانو باطل ګمانونه د کوټلي دلائلو او قاطع براهينو په سېلاب وړي د دوی ملاوي ورماتوي او د محمدي رسالت په رښتنولي باندي حجتونه تېروي.

په پای کي سورت په کافرانو باندي د تهکم او استهزاء په ترڅ کي د توبيخ او تقريع په توګه د دوی عناد او سرکښي ته ګوته نيسي او رسول الله ته ماربينه کوي چي د الله په لارکي دي تحمل او زغم ولري ترڅو چي د الله نصرت راورسېږي.

تسميه او نومول:

دغه سورت ته سورت (الطور) وايې ځکه چي الله پدې سورت کي د طور په غره باندي قسم اخلي هغه غرچي الله په هغه غره باندي له موسى عليه السلام سره خبري کړي او دغه غرله انوارو او تجلياتو او الهي فيوضاتو څخه دومره برکت منزلت او لوړتيا وموندله چي د ګردي ځمکي په نورو ګوټونو کي نه شي موندل کېدای

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالطُّورِ ﴿١﴾ وَكِتَابٍ مَّسْطُورٍ ﴿٢﴾ فِي رَقٍّ مَّنشُورٍ ﴿٣﴾ وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ ﴿٤﴾ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ ﴿٥﴾ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ
﴿٦﴾ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾ مَّا لَهُ مِن دَافِعٍ ﴿٨﴾ يَوْمَ تَمُورُ السَّمَاءُ مَوْرًا ﴿٩﴾ وَتَسِيرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ﴿١٠﴾ فَوَيْلٌ
يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١١﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿١٣﴾ هَٰذِهِ النَّارُ الَّتِي كُنتُم

بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿١٤﴾ أَفَسِحْرٌ هَٰذَآ أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ﴿١٥﴾ ٱصْلَوْهَا فَٱصْبِرُوٓا۟ أَوْ لَا تَصْبِرُوا۟ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ
مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ
﴿١٨﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
وَٱتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ أَلَتْنَٰهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَىْءٍ كُلُّ ٱمْرِئٍۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾ وَأَمْدَدْنَٰهُم
بِفَٰكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ﴿٢٣﴾ ۞ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ
مَّكْنُونٌ ﴿٢٤﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٢٥﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِىٓ أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا
عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾ ﴾ الطور: ١ ــ ٢٨

لغتونه:

(رق) په زوراوزېرسره هغه نرى پوستكي اوڅرمني ته وايې چي ليكنه پكي كېږي ابوعبيده وايې چي (الرق) ورقه بولي اوپه صحاح كي راوړي (الرق) هغه نرۍ څرمنه ده چي پكي ليک ليكل كېږي[1] (المسجور) بل كړى شوى اور(تمور) خوځېدونكى تلونكى راتلونكى جريروايې:

ومازالت القتلى تمور دماءها* بدجلة حتى ماء دجلة اشكل ([2]) ترهغوپوري دوژل شووكسانووينې تلې بهېدلې اوپه دجله كي توئېدلې چي داوبورنګ يې دوينوشو(يدعون) په سختي سره پوري وهل چي سپكاوى ورسره مل وي (التاهم) دوى موناقص كړل(رهين) بنديوان(السموم) ګرم باد چي دتن په مسامونو كي ننوزي

تفسير:

﴿ وَٱلطُّورِ وَكِتَٰبٍ مَّسْطُورٍ ﴾ (قسم دى په غره دطورباندي اوپه كتاب ليكل شوي باندي الله تعالى دطورپه غره لوړه اخلي هغه غرچي الله ورباندي له موسى عليه السلام سره خبري وكړې اوپه هغه كتاب چي په رسول الله باندي نازل شوى قرآن اوليكلى شوى دى ﴿ فِى رَقٍّ ﴾ په نري پوستكي ﴿ مَّنشُورٍ ﴾ خوركړى شوي كي (چي نغښتلى شوى اومختوم نه وي) . قرطبي وايې الله تعالى دطورپه غره باندي قسم واخيست هغه چي له موسى عليه السلام سره يې ورباندي خبري كړي وې ترڅوچي دهغه شرافت اوتكريم ونبيي اوددې يادونه وشي چي په هغه كي نښانې وي اوبل يې په ليكلي كتاب قسم واخيست هغه چي قرآن كريم دى مؤمنان يې له مصاحفوڅخه لولي اوپرښتې يې له لوح محفوظ څخه تلاوت كوي چابياويلي چي مقصدله كتاب څخه ګردآسماني كتابونه دي هغه چي په نرۍ څرمن ليكلى شوي اوخلګ يې دلوستلو لپاره غوړوي اوخپروي ([3]) ﴿ وَٱلْبَيْتِ ٱلْمَعْمُورِ ﴾ اوقسم دى په بيت المعمور(كورودان كړى شوي) باندي قسم يې په بيت المعمورباندي واخيست هغه چي دآسماني مخلوقاتولپاره داسي دى لكه

([1]) الصحاح د(رق) ماده.
([2]) دقرطبي تفسير١٧/ ٦٣
([3])دقرطبي تفسير ١٧/ ٥٨

چي په مخکه کي کعبه شريفه ودانه ده اوهلته پرښتې ورباندي طوافونه کوي داسراء په حديث شريف کي راځي چي: بيازه بيت المعمورته پورته کړی شوم ماجبرائيل (عليه السلام) ته وويل داکوم ځای دی؟ هغه راته وويل چي دغه بيت المعموردی هره ورځ اويازره پرښتې وردننه کيږي اوچي کله تري بهرراوزي بياترپايه بيرته ورته نه راستنيږي. ابن عباس رضي الله عنه وايي چي دغه په اووم آسمان کي دکعبې شريفي په برابرودانی ده (ځکه يې ودانه خونه بولي چي پرښتې يې په طاعت سره ودانوي) هره ورځ اويازره پرښتې پکي لمونځ کوي اوبياورته نه راځي (۱)چي نوبت وروړسيږي) ﴿ وَٱلسَّقْفِ ٱلْمَرْفُوعِ ﴾ اوقسم دی په چت پورته کړی شوي باندي چي آسمان دی(بې ستني ولاړدی ځکه يې سقف وباله چي دغه دځمکي لپاره لکه بام او(چت) غوندي دی دليل يې دادی چي الله فرمايي ﴿ وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ﴾ ابن عباس وايي مقصدله (سقف مرفوع) څخه عرش دی اوهغه دجنت چت دی ﴿ وَٱلْبَحْرِ ٱلْمَسْجُورِ ﴾ اوقسم دی په سيندبل شوي په اور(په ورځ د قيامت لکه چي الله فرمايي ﴿ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴾ (التکوير۶)يعني هغه بل شوی په اورغرغنديږي وهونکي چي دموقف په خلگو راچاپيروي ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ ﴾ بېشکه عذاب درب ستاخامخاواقع کيدونکی دی (په کافرانو باندي) دغه دقسم ځواب دی. ابن الجوزي وايي: الله تعالى په نوموړوپنځوشيانوباندي قسم واخيست(چي مشرکانوته عذاب شته) ځکه پدې کي دالله سترقدرت نغښتی دی (۲)﴿ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ﴾ نشته هغه لره هيڅوک دافع ليري کونکی. ابوحيان وايي لومړی اودقسم لپاره اونوربياد عطف لپاره دي اومقسم عليهاجمله بيا ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ ﴾ دی اوداچي دعذاب اضافت يې رب ته کړی په دې کي يوه باريکي داده چي الله جل جلاله خومالک اودبنده دمصلحتونوکتونکی دی نوکله چي يې دعذاب نسبت رب ته وکړاودرب اضافت يې بياد خطاب کاف ته وکړنوپه دې کي درسول الله ﷺ لپاره امان دی چي دغه عذاب به په هغه چانازليږي چي ستاتکذيب يې کړی دی اود(واقع) لفظ له (کائن) څخه ډيرتاثيرلري لکه چي دغه عذاب په اوچت ځای کي چمتوشوی اوپه مستحق کسانو باندي رالويږي (۳)﴿ يَوْمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوْرًا ﴾ هغه ورځ چي وخوځيږي آسمان په خوځيدلو(سختو) سره (دقيامت دورځي له هيبت نه) ﴿ وَتَسِيرُ ٱلْجِبَالُ سَيْرًا ﴾ (اوروان به شي غرونه په روانيدلو سره) يعني غرونه به وران شي لکه دوړي اوغباربه تيت اوالوزي لکه چي الله فرمايي:

---

(۱) دابن کثيرمختصر

(۲) زادالمسير ۸/ ۴۸

(۳) البحرالمحيط ۸/ ۱۴۷ – په آيت شريف کي دداسي کړاوونواوستونزويادونه دي چي دمسلمانانوزړه له ډېرهيبته بې ځايه کوي اولړزوي يې له جبيربن مطعم څخه روايت شوی هغه وايي زه مديني منورې ته دبدردبنديانوپه هکله له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دپوښتلو لپاره راغلم داسي مهال ووچي دماښام دلمانځه جماعت ولاړوو اورسول الله ﷺ داآيتونه لوستل ﴿ وَٱلطُّورِ ۝١ وَكِتَٰبٍ مَّسْطُورٍ ﴾ آن تردې چي ﴿ فِى رَقٍّ مَّنشُورٍ ۝٢ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ ۝٧ مَا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ﴾ بيي ولوست زه دعذاب دنزول له ويري مسلمان شوم، ماگمان کاووچي سمدستي به عذاب راباندي ولويږي.

﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّى نَسْفًا ﴾ (طه:١٠٥) خازن ليكي چي حكمت په خوځېدلو د آسمان او تګ دغرونوكي وېرونه اوددې خبري اعلان دى چي بيرته دنياته ستنېدل نشته ځكه چي ځمكه او آسمان اوددوى ترمينځ غرونه، دريابونه اونورشيان ددې لپاره پيداشوي چي دنياورباندي ودانه اوبنيادم ورباندي ګټه اخلي نوكله چي بيرته ستنېدل نشته نو الله جل جلاله دغه ګردوران كړل اودغه ددنياوراني داآخرت ودانې ده([1]) ﴿ فَوَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ نوخرابي افسوس هلاک دى په دغه ورځ كي دروغجن كونكيو ته ﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ فِى خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ﴾ هغولره چي دوى په چتي خبروجوړولوكي لګيا، لوبي مشغولتياكوي (له آخرت څخه غافل اوبې پرواوي) ﴿ يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ﴾ هغه ورځ چي ټېل وهلى پوري وهلى شي دوى اور ددوزخ ته په ټېل وهلوسره . په البحرالمحيط كي وايې چي ددوزخ ګمارل شوي پرښتې به ددوى (كفارو) لاسونه ورو ترپي اوسرتيټي به يې داورخواته ټېل وهي ترڅوېې هلته ورسوي ([2]) كله چي اورته ورنژدې شي نوپرښتې به ورته وايې ﴿ هَٰذِهِ ٱلنَّارُ ٱلَّتِى كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴾ دا دى هغه اورچي وى تاسي چي پدې به مو دروغ ويل(په دنياكي ترې منكران وى) ﴿ أَفَسِحْرٌ هَٰذَآ أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ﴾ آيا پس كوډي دى (داعذاب) كه يې تاسي چي نه يې وينى(په ستر ګو باندي) لكه چي په دنياكي له ايمانه راوړلو اوښېګني كولو څخه راندوه وى دغه به پرښتې ورته دتوبيخ اوتقريع په توګه ووايې . ابوالسعودوايې دا الله جل جلاله داويناچي ﴿ أَفَسِحْرٌ هَٰذَآ ﴾ دغه ددوى لپاره توبيخ اوتقريع دى ځكه دوى برحق قرآن ته په دنياكي دسحراوكوډونسبت كاوونولكه چي ورته ويل شوي وي آيادغه عذاب چي ګوري هم كوډي دى اوكه يې نه ويني لكه چي په دنياكي موسترګي له حقه ړندې وې ([3]) ﴿ ٱصْلَوْهَا فَٱصْبِرُوٓاْ أَوْ لَا تَصْبِرُواْ ﴾ ځئ ننوزئ په دغه دوزخ كي پس صبروكړئ تاسي ياصبرمه كوئ! (دغه يوبل توبيخ دى) ﴿ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ﴾ برابردي (دغه دواړه كارونه) په تاسي باندي (ځكه تاسوتل ترتله دلته پاتي كېدونكي ياست) ﴿ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ ببشكه هم داخبره ده چي جزادركولى شي تاسي ته دهغو(كارونو) چي وى تاسي چي كول به مو(په دنياكي (له كفراوتكذيب اونوروناوړه عملونو څخه الله جل جلاله درباندي ظلم نه دى كړى، كله چي يې دكفاربدكرداروحال بيان كړورپسې يې دنېكمرغه مؤمنانوحال لكه چي دقرآنكريم دوددى چي ترغيب اوترهيب سره يوځاى راوړي داسي بيان كړچي ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴾ ببشكه وېرېدونكي له الله (په دنياكي په امتثال داوامرو او اجتناب له نواهيو دده په اخرت كى تل ترتله)په جنتونو كى به وى او په نعمتونو كى ﴿ فَٰكِهِينَ

([1]) دخازن تفسير ٤/ ١٠٧

([2]) دابوالسعود تفسيردرازي په حاشيه باندي ٧-٦٩٧

([3]) دابوالسعود تفسيردرازي په حاشيه ٧-٦٩٧

﴿ بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ ﴾ مېوې خوړونکي خوشحالېدونکي به وي په هغو (شیانو) چي ورکړي دي دوی ته رب ددوی (له نعمتونو او کرامتونو څخه چي هغه په جنت کي له خوراک، څښاک، پوښاک او سورليو څخه عبارت دي ﴿ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴾ او ساتلي دي دوی رب ددوی له عذاب د دوزخ څخه (چي له کړاوونو یې ژغورلي دي ابن کثیر وايي چي دغه يو مستقل ځانته بل نعمت دی چي د جنت په نعمتونو هغه نعمتونه چي نه سترګو لیدلي نه غوږونو اورېدلي او نه د چا په زړه باندي تېر شوي سربېره بل نعمت دی(١) ﴿ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ خورئ او څښئ ښه هضمېدونکي (خوراک، څښاک) په سبب د هغو (ښو) اعمالو چي وی تاسي چي په دنیاکي به موکول، ورپسې الله جل جلاله د دوی حال د خوړلو، څښلو په وخت کي داسي بیانوي چي ﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ ﴾ حال دا چي تکیه کونکي به ناست وي پر تختونو (د سروزرو چي په دُرِ یاقوت به ښکلي شوي) برابر به اېښود شوي وي صف، صف.

ابن کثیر وايي چي د ﴿ مَّصْفُوفَةٍ ﴾ معنا دا چي مخامخ به وي لکه چي الله فرمايي ﴿ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَـٰبِلِينَ ﴾ (الحجر: ۴۷) (٢) په یو حدیث شریف کي راځي چي سړی به په څنګوا ښتي (متکاء) باندي څلوېښت کاله موده تکیه وهلي وي نه به ستړی کېږي او نه به خوځېږي هغه څه چي زړه او سترګي یې غواړي هغه به ورته رسېږي (٣) ﴿ وَزَوَّجْنَـٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴾ او په نکاح به ورکړو دوی لره حوري ښې ښایسته غټي سترګي (حور له حَوَرَ څخه اخیستلی شوی او سخت سپین والي ته وايي او عین بیا د عیناء جمع او غټې سترګي ته وايي دغه دواړه چي سره یوځای شي نو د حسن وروستي سرحد ته رسېږي ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَـٰنٍ ﴾ او هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی او د دوی متابعت کړی وي اولادونو ددوی په ایمان سره ﴿ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ ﴾ نو پیوست به کړو په دوی پسي اولاد ددوی (که څه هم چي اولادونو یې د ومره عملونه نه وي کړي مګر د پلرونو د خوښي او سترګو د یخوالي لپاره به یې ذوذات ورسره ملګري کړل شي.

ابن عباس رضی الله عنه وايي چي الله عزوجل به د مؤمن اولاد د پلار درجې او پوړی ته ورسوي که څه هم چي عمل یې لږ وي ترڅو چي د پلرونو سترګي یې په وصال یخي شي او بیا یې دغه آیت شریف تلاوت کړ چي ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم ... ﴾ (٤) زمخشري وايي الله تعالی به جنتیانو ته قسما قسم نعمتونه یوځای جمع ورکړي دوی به پخپله نېکمرغه کړي، حورالعین به په نکاح ورکړي، د مؤمنانو ورونو ملګرتیا او موانست به یې په برخه شي او خپل ذوذات او نسل به یې ورسره یوځای شي (٥) ﴿ وَمَآ أَلَتْنَـٰهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَىْءٍ ﴾ او کم به نکړو مونږ د غو (پلرونو) لره له (جزاء) د عملونو ددوی هیڅ

---

(١) د ابن کثیر مختصر ۳/ ۲۹۰
(٢) نفس المرجع السابق
(٣) أخرجه ابن ابي حاتم .
(٤) د قرطبي تفسیر ۱۷/ ۲۲
(٥) د کشاف تفسیر ۴/ ۲۷۲

شی. په البحرالمحیط کي لیکي معناداچي الله تعالی به مقصرله محسن سره یوځای کړي پداسي حال کي چي د محسن او نیکو کارله اجرڅخه به هیڅ هم کم نشي (۱) ﴿كُلُّ ٱمۡرِيِٕۭ بِمَا كَسَبَ رَهِينٞ﴾ هرسړی به په هغه هغه عمل چي کړی یې وي ګرو اخته وي (دبل چاګناه به وربا ندي نه بارېږي که څه هم پلاریازوی وي) خازن لیکي چي مراد له دې څخه کافردی چي د خپل شرک ګرووي او په اورکي به یې وغورځوي، مؤمن به پخپل عمل ګرواخته نه وي لکه چي الله تعالی فرمایې ﴿كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ رَهِينَةٌ إِلَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡيَمِينِ﴾ وریسې دهغه فضل او نعمت یادونه کوي کوم چي یې ورسره وعده شوي ﴿وَأَمۡدَدۡنَٰهُم بِفَٰكِهَةٖ وَلَحۡمٖ مِّمَّا يَشۡتَهُونَ﴾ اومدد به وکړوله دوی سره په ورکولو دمېوو او دغوښوله هغه چي ددوی زړه یې غواړي ﴿يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا كَأۡسٗا﴾ یوله بله به اخلي دوی په دغه جنت کي پیالې (دشرابو په تلذذ او الفت سره. الوسي وايې معناداچي یوله بله به په لوبو او (لتېپیر) سره پیالې په خوش طبعي یو دبل له لاسه اخلي لکه چي ملګري اندیوالان په دنیاکي دزیاتي خوشحالي له کبله همداسي کوي (۲) ﴿لَّا لَغۡوٞ فِيهَا وَلَا تَأۡثِيمٞ﴾ (داسي شراب چي په څښلو یې) نه وي چتي بېکاره ویل په هغې کي او نه نسبت کول دګناه یوبل ته قتاده وايې الله جل جلاله دآخرت شراب ددنیاله ناولتیاڅخه ژغورلي،نه دسردرد پیداکوي، نه دګېډي اونه سرې بېخوده کوي اوددې اخبارالله فرمایلی چي ددې شرابوله څښلو وروسته به داسي ایلتي اوچتي خبري نه کېږي چي بې ګټي وي اودغه ښایسته منظراو خوندورلذیذ خونداسي ستایي ﴿بَيۡضَآءَ لَذَّةٖ لِّلشَّٰرِبِينَ لَا فِيهَا غَوۡلٞ وَلَا هُمۡ عَنۡهَا يُنزَفُونَ﴾ (۳) وروسته الله تعالی فرمایې ﴿وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ غِلۡمَانٞ لَّهُمۡ كَأَنَّهُمۡ لُؤۡلُؤٞ مَّكۡنُونٞ﴾ اوچاپېربه ګرزي (دخدمت لپاره)پردوی باندي زنکیان ددوی ګواکي دغه (خدمت ګاران په حسن او پاکي کي) ملغلري پټي په غلاف کي ساتلي شوي به وي (چي ددوی دچوپړ لپاره ځانګړي شوي یعني دوی به په حسن اوسپین والي کي لکه دصدف په مینځ کي صفاملغلري داسي وي. قرطبي وايې دغه غلمان دي چاویلي چي دمشرکانو ماشومان دي چي په جنت کي به خدمت کوي جنت خودخدمت اوچوپړوهلوځای نه دی اونه هلته کوم زیارته اړتیاشته خود دې لپاره چي وښیي جنتیان به ښخي دنعمتونو په سمندرکي لامبي ﴿وَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَسَآءَلُونَ﴾ اومخ به کړي ځیني ددوی ځینونوروته چي پوښتني به سره کوي (له دنیوي کړاوونوڅخه چي په خبرواتروخوندواخلي اودنعمتونواعتراف وکړي) ﴿قَالُوٓاْ إِنَّا كُنَّا قَبۡلُ فِيٓ أَهۡلِنَا مُشۡفِقِينَ﴾ وبه وایې چي بېشکه موږ رومبی له دې څخه ووپه خپل اهل کي وېرېدونکي (له عذابه) ﴿فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ﴾ نو احسان وکړ الله په موږ باندي (جنت ته یې راوستو) او وې ساتلو موږ له عذابه دتودوخي ددوزخ). امام فخررازي وایې چي په

(۱) البحرالمحیط ۸ / ۱۴۹

(۲) دغه دابن عباس ﷺ تاویل دی.

(۳) دابن کثیرمختصر ۳ /۳۹۱

آیت شریف کي ددې اشاره شته چي جنتیان به په هغه څه چي په دنیاکي وربانديتېرشوي پوهېږي اوهغه به يې په یادوي اوهمداسې دکفاروبه خپل دنیوي نعمتونه ترسترګوګرزي نومؤمنانوته به دغه نورلاهم لذت ورزیات کړي کله چي وګوري له بندیخانې څخه جنت ته راغلي اوکافربه لازیات غمجن شي چي خپل ځان ویني چي له ډول ډول نعمتونوڅخه محروم اوپه دوزخ کي لوېدلی دی (۱) ﴿ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ ﴾ وو موږ پخوا له دې څخه (په دنیاکي) چي عبادت به موکاووددغه (الله او دعاوي به مو ورته کولې الله مودعاوي ومنلې)﴿ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴾ بېشکه چي دغه (الله) همدی ډېرښه احسان کونکی خوراډېررحم والا یعني الله تعالی دفضل اواحسان خاوندد ی چي په بندګانوباندي رحمت اوغفران لوروي دغه لکه د پخواني لپاره چي تعلیل وي حضرت مسروق له عائشې صدیقې ﷺ څخه روایت کوي چي هغې دغه آیت ولوست چي ﴿ فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴾ نوبې وویل : ای الله په موږ احسان وکړه اودسموم له عذابه موو ژغوره بېشکه ته براورحیم ذات یې (۲).

الله تعالی فرمايي:

﴿ فَذَكِّرْ فَمَآ أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوا۟ فَإِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾ أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ ۚ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴿٣٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُۥ ۚ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٣﴾ فَلْيَأْتُوا۟ بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِۦٓ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٣٤﴾ أَمْ خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا۟ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ ٱلْمُصَيْطِرُونَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ۖ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَهُ ٱلْبَنَٰتُ وَلَكُمُ ٱلْبَنُونَ ﴿٣٩﴾ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٠﴾ أَمْ عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤١﴾ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا ۖ فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ هُمُ ٱلْمَكِيدُونَ ﴿٤٢﴾ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٣﴾ وَإِن يَرَوْا۟ كِسْفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ سَاقِطًا يَقُولُوا۟ سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴿٤٤﴾ فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴿٤٥﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِى عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٦﴾ وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٧﴾ وَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ۖ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَٰرَ ٱلنُّجُومِ ﴿٤٩﴾ ﴾ الطور: ۲۹ - ۴۹

مناسبت:

کله چي الله کفاروته دعذاب په ورکولو باندي لوړه یاده کړه اودمعذبینواوژغورل شوو کسانو له احواله یې څه بیان وفرمایونورسول الله ته یې امروکړچي دپندورکولودنده پرمخ بوزي ترڅود کفارو

(۱) کبیرتفسیر ۷/ ۷۰۵

(۲) دابن کثیرمختصر ۳/ ۳۹۲

لپاره وېرونه او د مؤمنانو لپاره زېرى وي او د سورت پای بې د دروغجن ګڼونکو په بد مرغه عاقبت او انجام باندي او د الله په هغه ساتنه او پاملرنه چي د خپل پيغمبر عليه السّلام په هکله يې لري ونا کل

لغتونه:

(ريب المنون) دزمانې پېښې اوحوادث (منون) دهرته وايي (احلامهم) عقلونه ددوی جمع د (حلم) دی (المسيطرون) مسلط شوي (كسفا) ټوټې (مركوم) يو دبل دپاسه غونډې.

تفسير:

﴿ فَذَكِّرْ فَمَا أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴾ پس پند ورکوه ته (ای محمده خلګو ته) پس نه يې ته په سبب د فضل نعمت د رب خپل سره فال ګر (خبرورکونکی له غيبه) او نه لېونی (لکه چي مشرکان ګمان کوي بلکه ته له وحی څخه غږېږي وروسته ددوی باطل ګمانونه د پيغمبر په هکله داسي ترديدوي چي ﴿ أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ آيا وايي دوی دی شاعردی مونږ ټول په ده باندي دزمانې حوادثو ته منتظريوترڅوچي هلاک يې کړې او مونږ ورڅخه آرام او مستريح شو خازن وايي چي ﴿ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ دزمانې پېښې اوحوادث دي ددوې مقصدداوو چي دی به لکه نور شاعران غوندي هلاک اوومري ، منون دمرګ اودهرلپاره نوم دی او اصل يې قطع او پرېکړي ته وايي په دوی سره هم اجل پرې کېږي (۱) ﴿ قُلْ تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُتَرَبِّصِينَ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته !) تاسي منتظر اوسئ (زما هلاک ته) دغه له تهديد او وعيد سره نغښتي پردوی باندي تهکم او استهزاء ده) ﴿ أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ ﴾ آيا حکم کوي دوی ته عقلونه ددوی پدې (کارچي دروغ اوبهتان ووايي؟ خازن ليکي چي دقريشو سرداران به په هوښيارتوب اوپوهې ستايل کېدو الله جل جلاله ددوی دعقلونو پوچوالی وښودچي دوی له باطل څخه دحق پېژندګلوي ته نه شي رهبري کولای اودغه پر مشرکانو باندي يوبل تهکم دی (۲) ﴿ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴾ يادوی يوقوم دی سرکښه شرخوښونکی تېرېدونکی له حده (په کفر اوطغيان کي) ﴿ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُۥ ﴾ آيا وايي دوی چي له ځانه يې جوړکړی دی دا (قرآن) قرطبي وايي چي (تقوّل) په وينا کي تکلف ته وايي او غالبًا چي په دروغو ويلو کي استعمالېږي لکه چي وايي په ما يې هغه وترل چي ما ويلي نه وو (۳) ﴿ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ ﴾ (دغسي نه ده لکه چي دوی ګمان کوي) بلکه دوی ايمان نه راوړي (په قرآن د تکبر او عناد له مخي وروسته دغه حجت ورباندي تېروي چي ﴿ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِۦٓ إِن كَانُوا صَٰدِقِينَ ﴾ پس رادي وړي دوی يوه خبره (جوړه شوي) په شان ددې (قرآن په فصاحت اوبلاغت کي) که چېري وي دوی رښتوني (په دې وينا کي چي محمد ﷺ قرآن له ځانه جوړکړی دی دغه ددوی لپاره

---

(۱) الخازن ۴/ ۲۰۹.

(۲) پخوانی مرجع.

(۳) دقرطبي تفسير ۱۷/ ۷۳

له توبيخ سره يوځای تعجبېږدی) ﴿ أَمْ خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ ﴾ آیا پیدا کړی شوي دي دوی بې له یو څېزه پیدا کونکي پخپل سر، ابن عباس رضي الله عنه وایې معناداچي: آیابې له خالقه او پالونکي پیدا شوي دي ؟ (١) ﴿ أَمْ هُمُ ٱلْخَـٰلِقُونَ ﴾ یاکه دوی پیدا کونکي دي دخپلو ځانونو ؟(چي ددې جرأت کوي اوداالله جل جلاله له ذاته منکرېږي ﴿ أَمْ خَلَقُوا۟ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ آیا پیدا کړي دي دوی آسمانونه او ځمکي (نه ده داسي خالق دټولو الله دی داچي آسمانونه او ځمکي یې په ځانګړي توګه یادي کړې ځکه چي عظمت اوشرافت لري اوبیاالله ددوی انکارله وحدانیته داسي بیانوي چي ﴿ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴾ بلکه دوی یقین نه کوي ، له خالقه انکارکوي. خازن وایې چي دآیت شریف معناداچي آیادوی بې له پیدا کونکي پیدا شوي؟ اودغه خوناشوني ده ځکه دپیدا شوي (مخلوق) ارومروله پیدا کونکي سره تعلق وي نوکله چي دوی له خالق څخه انکارکوي دا خوروا نه دي چي له خالقه پرته دي مخلوق موجود شي اوآیادوی پخپله دځان پیدا کونکي دي؟ دغه ترلومړني ګمان لاپسي باطل اوناروادی ځکه یوڅوک چي پخپله موجود نه وي هغه به څرنګه بل څوک پیدا کړي ؟ نو کله چي دواړه ډوله ګمانونه باطل شول نو دغه ثابته شوه چي دوی خالق لري په هغه دي ایمان راوړي ، په وحدانیت دي وپېژني اوپه دې باندي دي یقین اوباورولري چي هغه ددوی پالونکی اوپیدا کونکی دی (٢) ﴿ أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ ﴾ آیاله دوی څخه دي خزانې (د نعمت نبوت) درب ستا؟ (چي نبوت یوچاته ورکړي اوله یو چاڅخه یې منع کړي . ابن عباس رضي الله عنه وایې چي ﴿ خَزَآئِنُ رَبِّكَ ﴾ له باران اوروزي څخه عبارت دي.عکرمة وایې چي نعمت هغه نبوت دی (٣) ﴿ أَمْ هُمُ ٱلْمُصَيْطِرُونَ ﴾ آیاهم دوی د ي واکداران ؟(چي په مخلوق کي څرنګه چي یې خوښه شي هغسي تصرف کوي ؟ نه داسي نه ده بلکه یوازي الله غالب واکدارمالک خالق اومتصرف دی. عطاء وایې ﴿ خَزَآئِنُ رَبِّكَ ﴾ معناداچي آیادوی خپلواکه اربابان دي چي هرڅه غواړي هغه کوي دبل چاترامراونهی لاندي نه دي ؟ (٤) ﴿ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ ﴾ آیاشته دوی ته اندرپایه (چي پرې خېږي آسمان ته او) اورېدل کوي په هغه باندي (خبري دملائکو اووحی نودوی پوهېږي چي دوی پرحق دي ځکه نوټینګارکوي؟ ﴿ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَـٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ پس رادي وړي هغه اورېدونکی ددوی یوبرهان ښکاره سند(په اورېدلو دده باندي (لکه چي محمد رسول الله کوټلی برهان لري، وروسته ددوی دهغوباطلو ګمانونو په لړکي هغه ترګردوبد اوناوړه ګمان راخلي کوم چي دوی الله ته دلونونسبت کوي هغه لوڼي چي دوی بې له درلودلوڅخه کرکه اونفرت کوي فرمایې: ﴿ أَمْ لَهُ ٱلْبَنَـٰتُ وَلَكُمُ ٱلْبَنُونَ ﴾ (آیاهغه الله) لره لوڼي دي (په زعم

---

(١) نفس المرجع.
(٢) دخازن تفسیر ٤ /٢١٠
(٣) دقرطبي تفسیر ١٧ /٧٤
(٤) دابن الجوزي تفسیر ٨ /٥٧

ستاسو) اوتاسي لره زامن دي؟) يعني څرنگه الله ته دلونو نسبت کوی سره له دې چي تاسو يې نه خوښوی بلکه زامن غواړی آيا دغه دمنطق اوانصاف خبره ده ؟قرطبي وايې ددوی دعقلونوپوچوالی يې بربنداوهغوی ته يې توبيخ او تقريع وفرمايل چي آياتاسوالله ته لوني ثابتوی اوپخپله لوني نه غواړی اودچاچي همدغه عقل او پوهه وي نوبياله بعث څخه انکارکول هم ورسره مستبعدنه دي . ابوالسعودوايې (دغه ددوی د عقلونو تسفيه اوخام والی ښيي يعني دچاچي دغه هوښياري وي هغه له عاقلانواوپوهانوڅخه نه گڼل کېږي څه خولاداچي عالم ملکوت ته وخېژي اوپه غيبي اسرارو وپوهېږي دلته دالتفات صنعت هم له غيبت څخه خطاب ته دانکاراوتوبيخ دزياتوالي لپاره راغلی دی ﴿ أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ أَجۡرٗا ﴾ آياته غواړې (ای محمده!) له دوی څخه څه اجربدل (په تبليغ درسالت او احکامود دين باندي؟ ﴿ فَهُم مِّن مَّغۡرَمٖ مُّثۡقَلُونَ ﴾ پس دوی له تاوانه دهغه درانه کړی شوي دي (ځکه نو ستاپيروي نه کوي اوايمان نه راوړي هوکي دود اوعادت داسي دی چي کله په يوچاباندي ټيکس اوماليه ولگول شي نوهغه بيادغه مکلفيت دروندوالی احساسوي اوتورخوري خبره نه اوري اوحکم نه مني ﴿ أَمۡ عِندَهُمُ ٱلۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُونَ ﴾ آياپه نزد ددوی علم دغيبو دی چي په دی يې پوهوی چي کوم څه چي رسول الله ورته دحشرنشراواخروي اُمورو په هکله وايې باطل دی؟ قتاده وايې دغه دهغې وينا ترديددی چي دوی به ويل ﴿ شَاعِرٞ نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيۡبَ ٱلۡمَنُونِ ﴾ معناداچي آيادوی خبردي چي محمدبه تر دوی دمخه مري چي دوی دغسي حکم کوی ؟اوابن عباس وايې : معناداچي آيادوی په نزدلوح محفوظ شته چي دوی دهغه له مخه ليکنه کوي او خلگوته بيادهغه له رويه اخبارکوي؟ داسي نه ده په غيبو باندي پرته له الله نه هيڅوک له ځمکني او آسماني مخلوقاتوڅخه علم نلري ﴿ أَمۡ يُرِيدُونَ كَيۡدٗاۖ ﴾ آيادوی اراده لري دمکرکولو ؟(پرتا باندي ای محمده!) مفسرين کرام وايې چي پدې آيت کي هغه ددوی فريب اوچل ته اشاره ده کوم چي الله فرمايلي دي ﴿ وَإِذۡ يَمۡكُرُ بِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثۡبِتُوكَ أَوۡ يَقۡتُلُوكَ أَوۡ يُخۡرِجُوكَۚ ﴾ (الانفال :۳۰) ﴿ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ هُمُ ٱلۡمَكِيدُونَ ﴾ پس هغه کسان چي کافران شوي دي هم پردوی باندي مکر کړی شوی دی (خپله جزابه ومومي ځکه چي جزايې دوی ته راجع ده لکه چي الله فرمايې : ﴿ وَلَا يَحِيقُ ٱلۡمَكۡرُ ٱلسَّيِّئُ إِلَّا بِأَهۡلِهِۦۚ ﴾(فاطر:۴۳) صاوي وايې چي ظاهرېې چي ﴿ فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ دی دضميرپرځای راوړ ترڅوپردوی باندي دکفردصفت دليکلو تشنيع اوتقبيح وښيي[۱] ﴿ أَمۡ لَهُمۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِۚ ﴾ آياشته دوی ته کوم معبودبې له الله (چي خالق اورازق وي ترڅودوی دمشکلاتوپه وخت کي هغه ته پناه وروړي اوهغه له دوی څخه ضرر اوعذاب دفع کړي ﴿ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴾ پاکي ده الله لره له هغه شي چي دوی يې ورسره شريکوي (له بتانواونورومعبودانوڅخه امام جلال الدين وايي چي استفهام په (أم) سره دهغه په پنځلس

---

(۱) دصاوي حاشيه ۴/ ۱۳۴

خايونوكي د توبيخ تقريع اوانكارلپاره دى (١) ورپسې الله تعالى ددوى دبې ساري طغيان سرغړوني او عنادبېلگي داسي بيانوي چي ﴿ وَإِن يَرَوْا كِسْفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ سَاقِطًا ﴾ اوكه ووينې دوى يوه ټوټه له آسمانه رالوېدونكي (هم به له خپله عناده راونه گرزي اودغه ټوټه به دملنډواومسخروپه توگه داسي ستايې:

﴿ يَقُولُوا۟ سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴾ وبه وايې (دا) وريځ ده پرېړه يوپربلي باندي سپره شوي (چي پر موږ راولوېده.

ابوحيان وايې چي دقريشوپه وړانديزونوكي يوداهم وو چي ويل به يې ﴿ أَوْ تُسْقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا ﴾ نوالله جل جلاله ددې اخبارفرمايې چي كه دوى دسر په سترگودغه لكه چي يې وړانديزكوي ووينې هم بيابه له ډېره جهله اوعناده ځان په دې غولوي وايې به چي دغه وريځ ده موږ شوي چي په موږ باران اوروي دغه دعذاب ټوټه نه ده (٢)﴿ فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى فِيهِ يُصْعَقُونَ ﴾ نوپرېږده دوى ترهغه پوري چي يوځاى شي دوى له خپلي ورځي سره هغه چي پكې وبه لوېږي پردوى باندي تكه (چي ورځ دقيامت دى ددوى هوښ به يوسي عقلونه به يې كارپرېږدي)﴿ يَوْمَ لَا يُغْنِى عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا ﴾ هغه ورځ چي دفع به نكړي له دوى نه كيدمكرددوى هيڅ څېز (له عذابه دالله)﴿ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴾ اونه به له هغوى سره څه مرسته مددوكړى شي (چي عذاب په آخرت كي ترې دفع كړي)﴿ وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ ﴾ اوبېشكه هغو كسانولره چي ظلم يې كړى (كافران شوي) دي (اخروي) عذاب دى بې له دې (دنيوي) عذابه. ابن عباس ﷺ وايې دغه د قبر عذاب دى اومجاهدوايې چي دغه هغه اوه كاله وچكالي اوكاختي لوږه ده ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ وليكن اكثره (زياتره) ددوى نه پوهېږي چي عذاب به ورباندي نازل شي (نوځكه له ايمانه مخ گرزوي)﴿ وَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ ﴾ اوصبركوه ته (اى محمده ! فيصلې حكم درب خپل ته (په درسپارل شوي رسالتي دنده كي)﴿ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ﴾ بېشكه ته په خاى دليدلوزموږ كي يې (موږدي له ضررونوڅخه ژغورو او ستاپاملرنه كوو)﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ ﴾ اوتسبيح وايه پيوست له حمده درب خپل سره په هغه وخت كي چي راپاڅېږي (له خوبه اويا مجلسه داسي وايه چي (سبحان الله وبحمده) ابن عباس وايې معناداچي كله له خوابه پاڅې لمونځ كوه (٣)﴿ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَسَبِّحْهُ ﴾ اوپه څيني (برخه) دشپې كي پس تسبيح وايه (الله يادوه اوعبادت كوه كله چي خلگ ويده وي لكه چي الله فرمايي ﴿ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ ﴾ (الاسراء ٧٩)﴿ وَإِدْبَٰرَ ٱلنُّجُومِ ﴾ او وروستودستوروڅخه (يعني دشپې په آخره كي هم تسبيح وايه كله چي دشپې ستوري

(١) دجلالين تفسير ٤ /٢٢١
(٢) البحرالمحيط ٨ /١٥٣
(٣) دابن جوزي تفسير ٨ /٦١

دگهيځ په رڼاکي مخ پټوي ابن عباس ﷺ وايي دغه دسهار دوه رکعته لمونځ دی او په حديث شريف کي راځي چي: دسهار دوه رکعته تر کرده دنيا او مافيها غوره اوښه دي(۱)

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- اشتقاقي جناس د﴿ يَوْمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوْرًا ﴾ او د﴿ وَتَسِيرُ ٱلْجِبَالُ سَيْرًا ﴾ ترمينځ.

۲- اهانت او توبيخ لکه د﴿ ٱصْلَوْهَا فَٱصْبِرُوٓاْ أَوْ لَا تَصْبِرُواْ ﴾ په کلام کي او د﴿ فَٱصْبِرُوٓاْ ﴾ او﴿ لَا تَصْبِرُواْ ﴾ ترمينځ بيا سلبي طباق دی چي هغه هم له بديعي محسناتو ګڼل کيږي.

۳- مرسله مجمله تشبيه چي فرمايي﴿ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ﴾ دتشبيه وجه تري حذف شوي نو مجمله بلل کيږي

۴- تبعيه استعاره چي د﴿ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ په کلام کي ده دزماني حوادث يې له ريب سره مشابه کړي چي شک ته وايي او ترمينځ يې وجه جامع حيرانتيا او لالهاند توب دی چي په دواړو کي سړی په يوحال نه پاتي کيږي او بيا يې دزمانې دحوادثو اوپيښو کړاوونو لپاره دريب کلمه دتبعي استعارې په توګه راوړه.

۵- تهکمي اسلوب لکه﴿ أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ ﴾ دغه يې ددوی دعقلونو په هکله داستهزاء اوسخريې منطق کارولی دی.

۶- دالتفات صنعت له غيبت څخه خطاب ته لکه﴿ أَمْ لَهُ ٱلْبَنَٰتُ وَلَكُمُ ٱلْبَنُونَ ﴾ ترڅو ددوی لپاره زيا ت توبيخ او تکول (تقريع) افاده کړي.

۷- دفرض او تقدير اسلوب لکه﴿ وَإِن يَرَوْاْ كِسْفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ سَاقِطًا ﴾ يعني که چيري دوی دغه ويني نو داسي به ووايي چي﴿ سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴾ دغه بالفرض والتقدير دی.

۸- ښايسته او ګلالی سجع چي بې تکلفه راغلي لکه:﴿ وَٱلطُّورِ وَكِتَٰبٍ مَّسْطُورٍ ﴾ اويا داچي﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ﴾ او دسورت ترپايه نور ځايونه.

فائده:

جبيربن مطعم رضی الله عنه وايي: زه مديني منورې ته دبدر دبنديانو په هکله دپوښتلو لپاره راغلم هغه مهال رسول الله ﷺ دماښام لمونځ په جماعت اداکولو او دغه مبارک سورت يې لوست چي﴿ وَٱلطُّورِ وَكِتَٰبٍ مَّسْطُورٍ ﴾ کله چي يې دغه آيتونه ولوستل چي﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ﴾ ما فکر کاوو چي زړه مي وچاودېدو نودعذاب دراتلوله وېري مسلمان شوم کله چي رسول الله دغه آيت پسي ولوست

---

(۱) دابن کثير مختصر ۳/ ۳۹۵

چي: ﴿ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴾ نژدې وو زړه مې په هواشي والوزي

دالله جل جلاله په مرسته د (الطور) سورت تفسیر بشپړ شو.

***

د (النجم) سورت مکي او دوه شپېته آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالنجم سورت مکي او درسالت موضوع پخپل عام چوکاټ کي څېړي او لکه نورګردمکي سورتونه ایمان په بعث اونشور باندي بیانوي.

سورت په پیل کي دمعراج واقعه هغه چي دانسانیت داستازي محمدبن عبدالله صلوات الله و سلامه علیه معجزه وه راوړي هغه همداسي معجزه چي رسول الله ﷺ دملکوت خوراعجائب او غرائب چي عقلونه هېښنوي پکي ولیدل نوسورت خلګوته پندورکوي چي په دغولیدنودي ایمان راوړي اودغیب اووحی په هکله دي شک اوجګړه نه کوي.

وروسته خبره دبتانواوناروامعبودانوراخلي هغوی چي مشرکانوپرته له الله په ألوهیت منلی وو سورت په هغوی باندي دبطلان کرښه راکاږي هغه که بتان وي اوکه نور مکرم مخلوقات لکه پرښتې اوملائکي.

بیا دجزاء دورځي عادلانه فیصلې بیانوي چي هرچاته به دهغه دکړو وړو سره سمه جزاورکول کېږي که نېکي یې کړي وه دنېکي جزابه مومي اوکه یې بدي کړي وه دبدي جزاء به ورته رسېږي خلګ به په دوو ډلو بېلېږي چي یوه به یې ابرار اوبله به یې فجار اشرار وي.

پدې هکله سورت برهان راوړي چي جزابه ښځي عادلانه وي هیڅ انسان به دبل چاپه ګناه نه نیول کېږي څکه چي جزابه هم پرته له مجرم اوګنهکارڅخه بل چاته نشي ورکولای همدغه الهي شریعت او دالله عادلانه حکم دی چي په قرآنکریم اونوروآسماني کتابونوکي ذکرشوی دی.

له دې وروسته سورت دالله تعالی دقدرت نښې نښانې په ژوندي کولو اومړکولوکي همداسي په بیاي کولو اونېستمن کولوله فناوروسته په بیاراژوندي کولو اودنارینه اوښځینه جوړه پیداکولو کي بیانوي چي څرنګه یې له نطفې څخه پنځولی دی؟

په پای کي سورت دسرغړونکي قومونولکه عادیان ، ثمودیان ، دنوح اولوط علیهما السلام قومونو دهلاکت بېلګي راوړي اودمکې کفارومشرکانوته ورپه یادوي چي دعذاب انتظاردي وکړي څکه چي درسول الله ﷺ تکذیب یې کړی دی همداسي دباغیانوسرغړونکوهغولپاره چي په سرغړونه اوطغیان کي یې دالله دښمني ته ملاتړلي وي زجرفرمایې:

***

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ (١) مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ (٢) وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ (٣) إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ (٤) عَلَّمَهُ شَدِيدُ
الْقُوَىٰ (٥) ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَىٰ (٦) وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ (٧) ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ (٨) فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ (٩) فَأَوْحَىٰ إِلَىٰ
عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ (١٠) مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَىٰ (١١) أَفَتُمَارُونَهُ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ (١٢) وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ (١٣) عِندَ سِدْرَةِ
الْمُنتَهَىٰ (١٤) عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ (١٥) إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ (١٦) مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ (١٧) لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ
الْكُبْرَىٰ (١٨) أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ (١٩) وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ (٢٠) أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ (٢١) تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ
(٢٢) إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْأَنفُسُ
وَلَقَدْ جَاءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ الْهُدَىٰ (٢٣) أَمْ لِلْإِنسَانِ مَا تَمَنَّىٰ (٢٤) فَلِلَّهِ الْآخِرَةُ وَالْأُولَىٰ (٢٥) ۞ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا
تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِن بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَن يَشَاءُ وَيَرْضَىٰ (٢٦) إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ
الْأُنثَىٰ (٢٧) وَمَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا (٢٨) فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكْرِنَا
وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا (٢٩) ذَٰلِكَ مَبْلَغُهُم مِّنَ الْعِلْمِ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدَىٰ (٣٠)
وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى (٣١) الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ
كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي
بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ (٣٢)﴾ النجم: ١ – ٣٢

لغتونه:

(هوى) ښکته غورځېدل (مرة) قوت ، قطرب ليکي چي عربان هرهغه چاته چي ښايسته رأيه او روڼ عقل لري (ذومرة) وايي ([1])(تدلى) ځړېدل له پاسه ترښکته پوري ، وايي (تدلى الغصن) يعني ښاخ راځړېدلى دى (قاب) اندازه په البحرالمحيط کي راوړي چي (قاب، قاد ،قيد) مقدارته وايي ([2]) (ضيزى) ناروااوناحقه ،تاواني (اللمم) وړوکي ګناهونه. زجاج وايي لمم هغه عمل دى چي انسان يې يو واروروسته له بل واره کوي او وربانديي اصرارنه کوي (أجنة) دجنين جمع اوهغه ماشوم ته وايي چي په ګېډه کي وي (جن) پټوالي ته وايي داهم له سترګوپټ اوالونياوي

تفسير:

﴿وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ﴾ قسم دى په ستوريو باندي کله چي پرېوزي (ډوبېږي يا راخېژي) ابن عباس وايي چي الله جل جلاله په هغو ستورو باندي کوم چي دشيطانانو په تعقيب پسي ځغلنده لوېږي قسم

([1]) دقرطبي تفسير ١٧/ ٨٦

([2]) البحرالمحيط ٨/ ١٥٤٠

کوي[۱] او حسن وايې چي مراد په آيت کي هغه ستوري دي چي د قيامت په ورځ به وشيندل شي لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ﴾ (الانفطار ۲) ابن کثير وايي چي الله تعالی چي وغواړي په هرڅه مخلوق باندي قسم وکړي کولای شي مګر مخلوق ته نه ښايي چي پر ته له خالقه په بل څه باندي قسم وکړي (۲) ﴿ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ﴾ (نه دی ګمراه شوی ملګری (رسول) ستاسي او نه يې لاره ورکه کړي ده) يعني نه خوله سمي لاري څخه کوږ شوی او نه يې هيڅکله په باطل عقيده لرلي بلکه په نهايته سمه لار روان دی ابو السعود وايي چي دغه قريشي کفارو ته خطاب دی او تعبير په دې لفظ چي (صاحبکم) راغلی د دې لپاره دی چي دوی دهغه په بشپړ تفصيلي احوالو خبر دي دوی ورسره اوږده ملګرتيا لرلي او دهغه ګردو تلي صفات او ستايلي خويونه ورته معلوم دي نو د دې غوښتنه داده چي ملګری يې وګڼل شي (۳) ﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴾ او خبري نه کوي (محمد) له (خپلي) هوا (او شخصي رايې) څخه ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ﴾ نه دی دغه (قرآن) مګر وحی ده چي ورته لېږل شوي ده (د الله له لوري بيضاوي وايي معنا دا چي دا قرآن نه دی مګر وحی دی د الله له لوري ورته وحی کړی شوي دی (۴) ﴿ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ﴾ ښودلی دی ده ته د سختو قوتونو مالک (جبريل عليه السلام). مفسرين کرام وايي چي هغه څه چي د ده په سخت قوت دلالت کوي دادی چي د لوط عليه السلام د قوم کلي يې له بېخه وايستل او په کوڅري يې دومره لوړ او چت يووړل چي آسمان ته نژدې شول او بيا يې سرپه څېړه را وغورځول په ثمود يانو يې داسي چيغه وکړه چي ساره پرېوتل او انبياء عليهم السلام ته يې دوحی راوړلو لپاره تګ راتګ د سترګو په رپ کي ترسره کېدو ﴿ ذُو مِرَّةٍ فَٱسْتَوَىٰ ﴾ چي خاوند د ښه صورت عقل دی بيا کېناست (پخپل حقيقي صورت) ﴿ وَهُوَ بِٱلْأُفُقِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ او هغه وو په کنارو لوړو له آسمانه (له هغه لوري چي د لمرختيز دی. ابن عباس رضي الله عنه وايي چي: مراد له اعلی افق څخه د لمرختيز دی (۵) خازن وايي: جبريل عليه السلام به رسول الله ته د بنيادمو په شکل راتلو لکه چي پخوانيو انبياوو عليهم السلام ته به هم پدې صورت راتو نو رسول الله ورته وويل چي: ځان دي په هغه ډول لکه چي ورباندي پيدا شوې ورووينې نو يې دوه ځله خپل ځان په اصلي بڼه ورو ښود يو ځل په ځمکه کي او يو ځل په آسمان کي په ځمکه کي هغه مهال چي رسول الله د حراء په غار کي وو نو د ختيز له لوري په اعلی أفق ځرګند شو او دواړه وزري يې وغوړولې د مشرق او مغرب ترمينځ وا ټن يې ونيو رسول الله د بېهوښی په حالت کي پرمخي ولوېدو او جبريل عليه السلام د بنيادم په شکل رانښکته شو رسول الله يې په غېږي کي ونيو او له مبارک مخ څخه يې دوړي پاکول پيل کړل او هغه داوېناده چي: ﴿ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ﴾ بيا نژدې شو (جبرئيل عليه السلام

---

(۱) دغه د ابن عباس رضی الله عنه يو روايت دی بل روايت يې دا چي مراد له ستوري څخه ثريا ده چي له سهاره سره لوېږي.
(۲) د ابن کثير مختصر ۳ /۳ /۳۹۲
(۳) البيضاوي ۴ /۱۷۱
(۴) البيضاوي ۴ /۱۷۱
(۵) د قرطبي تفسير ۱۷ /۸۸

محمد علیه السلام ته) پس ښه نژدې شو. اوهغه چې په آسمان کې وو هغه له سدرة المنتهى سره نژدې يې ځان پخپل اصل شکل وروښودو دیادولو وړ ده چې هیڅ پیغمبر پرته له محمد رسول الله څخه حضرت جبریل پخپله اصلي بڼه لیدلی نه دی (۱)﴿ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ﴾ پس وو په مینځ د نژدې والي د دوو لیندیو یا له دې نه هم ډېر نژدې. الوسي لیکي چې مقصد د خورا نژدې والي افاده ده لکه چې وايې هغه ورته نژدې وو(۲)﴿ فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ﴾ پس وحی وکړه (الله په ژبه د جبریل) بنده خپل ته هغه چې وحی يې وکړه (له احکامو او امرو څخه)﴿ مَا كَذَبَ ٱلْفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ ﴾ نه وو ويلي دروغ زړه (د محمد) هغه (جبریل) چې لیدلی يې وو(په سترګو خپلو په حقیقي بڼه) ابن مسعود ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ پداسي شکل کې ولید چې شپږسوه کوځرېې لرل او هر کوځرېې افق نیولی وو او ورڅخه دُریاقوت ملغلرې او(تهاویل)ګلان چې یوازې یو الله پرې خبر وو راتوېدل﴿ أَفَتُمَٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴾ (آیا پس تاسې جګړه کوئ له هغه (محمد) سره په هغه کې چې ده لیدلي ده (په شپه د معراج کې. په البحر المحیط کې وایې کله چې رسول الله ﷺ قریشو ته د معراج پېښه بیان کړه دوی يې تکذیب وکړ او ملندې يې وګڼلې ترڅو چې د بیت المقدس په هکله يې معلومات ورکړ. او جمهور مفسرین وایې چې له دغه څخه مراد دوه ځله د جبریل علیه السلام لیدل دي. له ابن عباس او عکرمة ؓ څخه روایت شوی چې رسول الله ﷺ پخپلو سترګو خپل رب لیدلی دی خو حضرت عائشة ؓ دا نه مني بلکه وایې چې حضرت جبریل يې پخپله اصلي بڼه دوه ځله لیدلی ابو حیان وایې چې صحیح دادی چې ګرد هغه چې پدې آیتونو کې دي هغه له حضرت جبریل سره دي او دلیل يې دا الله جل جلاله داوینا ده چې﴿ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴾ (ځکه دغه د پخواني لیدلو تقاضا کوي) (۳)﴿ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴾ او خامخا په تحقیق لیدلی وو محمد هغه (جبریل پخپل ملکي شکل) په ښکته کېدلو کې بل ځلې﴿ عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴾ په نزد د ونې د بېرې د سدرة المنتهى (چې منتها د علم د خلګو دی) هغه چې په اووم آسمان کې له عرش سره پورې ده. مفسرین کرام وايې چې سدرة هغه ونه ده چې له بېخه يې نهرونه رابهېږي او د عرش ښي لوري ته دی ځکه يې سدرة المنتهى بولي چې د ګردو مخلوقاتو او ملائکو علم همدلته انتها مومي او له دې ورها خوا پرته له الله جل جلاله څخه هیڅوک هم علم نلري په حدیث شریف کې راځي چې: (ثم صعد بي الى السمآء السابعة ورفعت الیّ سدرة المنتهى فاذا نبقها اى ثمرها مثل قلال هجر، واذا أوراقها كأذان الفيلة (*) بیا زه اووم آسمان ته وخېژول شوم او سدرة المنتهى راته ښکاره شوه مېوه يې لکه د هجر صراحې غوندې او پاڼې يې

(۱) د خازن تفسیر ۴/ ۲۱۳

(۲) دالوسي تفسیر ۲۷/ ۴۸

(*) أخرجه الامام احمد (۱) البحر المحیط ۸/ ۱۵۸ زه وایم چې د البحر المحیط مؤلف ښه پرځای لیکلي چې دلالت هم دغه غوښتنه کوي او د اهل سنتو مذهب دادی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه په پورتني آسمانونو کې پروردګار د سرپه سترګو لیدلی دی او له أحادیثو څخه دلائل لري مګر د آیتونو په باب غوره دادی چې جمهورو مفسرینو لیکلي دي.

دفیل دغوړونو په شان وې ﴿ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴾ په نزدد هغې جنت المأوی دی (یعني جنتي هستوګنځي دی چې ملائکې او د شهداوو او متقینو ارواح ورته راځي ﴿ إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴾ (لیدلی وو محمد ﷺ جبریل ﷺ لره) کله چې پټې کړي هغه ونې د بېرې لره هغه څه چې پټ کړي یې وو (له عجائباتو، حسن رحمه الله وايي یعني د حق تعالی انوارو پدغي ونې باندې پلوشې اچولې وې او هغه ځلېدله، ابن مسعود ﷺ وايي چې د سروزرو پتنګانو پټه کړې وه (۱) په حدیث شریف کې راځي چې: لماغشيها من أمر الله ماغشيها تغيرت فما أحد من خلق الله يستطيع أن يصفها من حسنها) یعني کله چې دالله په حکم په هغه څه پټه کړی شوه چې پټه کړی شوه بیا بدله شوه نو دالله په مخلوق کې هیڅوک نشي کولای دهغې له حسن او ښکلا سره ورستاینه یې وکړي (۲) مفسرین کرام وايي: رسول الله ﷺ د سدرة المنتهی ونه پداسې حال کې ولیدله چې په الهي انوارو کې نغښتې وه چې هیڅانشوای کولای هغې ته وګوري او پرښتو د مرغانو په څېرپټه کړې وه چې هلته یې عبادت کاوو له هغې سره راغونډې شوې وې تسبیحات یې ویل او زیارت یې کاوو لکه چې خلګ د کعبې شریفې زیارت کوي، په حدیث شریف کې راځي چې: ماسدرة المنتهی داسې ولیدله چې د سروزرو پتنګانو اخیستې پټه کړې وه او په هره پاڼه یې یوه پرښته وه چې دالله تعالی تسبیح او پاکي یې بیانوله (۳) ﴿ مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴾ نه وې ګرزېدلې سترګې د (محمد بلې خواته) له دې څخه ښي او کیڼ لوري ته) او نه وې تېرې شوې (له حده (هغه چې ویې لیده) قرطبي وايي معنا دا چې دالله له نښانو نو لیدلو پرته یې بل څه ته سترګې نه دي غړولې او دغه د رسول الله دادب ستاینه ده چې پداسې سترمقام کې چې هلته عقلونه هېښ او حیرانېږي، پښې ښوئېږي او سترګې یوه بل خوا غړېږي مګر رسول الله ﷺ پخپل استقامت او ثبات همداسې په یو حال پاتې کېږي (۴) ﴿ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴾ (په تحقیق لیدلی دی (محمد) له (ځېنو) دلائلو (د قدرت) درب خپل) چې ډېر لوی (دلائل) وو) یعني قسم دی چې محمد ﷺ د معراج په شپه دالله ملکوت ولیدل، سدرة المنتهی، بیت المعمور، جنت او دوزخ او حضرت جبریل یې پخپل ملکي صورت ولید چې شپږ سوه کوڅرې یې لرلې، د جنت زرغون رفرف یې ولید چې افق یې پټ کړی وو (۵) او داسې نور دالله د قدرت ستر دلائل یې وکتل امام رازي رحمه الله وايي په آیت شریف کې د دې دلیل شته چې نبي علیه السلام د معراج په شپه دالله د قدرت دلائل ولیدل او الله تعالی یې ندی لیدلی لکه چې ځیني علماوو ویلي او وجه یې داده چې الله تعالی د معراج کیسه د قدرت د دلائلو په لیدلو پای ته رسولې او په سورت اسراء کې یې فرمایلي دي ﴿ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ﴾ (اسرا ۱) او که چېرې یې خپل رب پروردګار لیدلی وای نو ارومرو به الله

---

(۱) رواه مسلم.
(۲) أخرجه مسلم ایضا.
(۳) دابو السعود تفسیر ۷/ ۷۴۰
(۴) دخازن تفسیر ۴/ ۲۱۲
(۵) دغه وینا ابن مسعود یې روایت کړی حدیث بخاري شریف راوړی دی.

تعالی دهغه اخبارفرمایلی وو(۱) ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلْعُزَّىٰ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلْأُخْرَىٰٓ ﴾ آیا پس وینی تاسي لات او
او عزی او منات (په مرتبه کي) دریم له دغو (یعني دوی هم هغسې عظمت او قدرت لري لکه چي دالله
عظمت او قدرت وستایل شو؟ چي تاسو پرې دمعبودانو گمان کوی؟! خازن لیکي چي دغه دهغو بتانو
نومونه دي کوم چي دوی بې عبادت کاوو اوهغوی ته یې دالله له نومونو څخه نومونه سکښلي وواوله الله
څخه لات، له عزیز څخه (عزی چي لات په طائف کي اوعزی په غطفان کي وو او خالد بن ولید رېز مرېز او
ونړول منات بیاد خزاعه دتېر بت وو چي دمکې خلګو به یې عبادت کاوو(۲) ﴿ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلْأُنثَىٰ ﴾
آیا تاسو لره (ای کفارو) هلکان دي او دغه (الله) لره نجوني دي) دغه توبیخ او تقریع دی یعني تاسو یې
هغه غوره برخه او الله ته موناکاره ونډه (ستاسو په گمان) ورکړه؟ ﴿ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰٓ ﴾ (دا قسمت
داولاد) پدې شان وېش دی ډېر کوږ ناکاره (غیر عادلانه چي پروردګار ته موهغه څه ورکړل چي تاسي
ورڅخه کرکه کوی. امام رازي وایې دوی داسي نه ویل چي زموږ زامن او دالله لوني بلکه الله ته یې
دلونو نسبت کاوو هغه لوني چي دوی هیڅکله نه خوښولې لکه چي الله فرمایې ﴿ وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا
يَكْرَهُونَ ﴾ (النحل:۶۲) نو کله چي یې الله ته دلونو نسبت وکړ هم دغه پخپله یو غیرعادلانه وېش شو
(۳) ﴿ إِنْ هِىَ إِلَّآ أَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم ﴾ ندي دابتان مګر خو(تش) نومونه دي چي تاسي دوی لره
ایښي دي تاسو او پلرونه ستاسي (دغه نه ګټه رسوی او نه تاوان دفع کوی) یوازي دجماداتو لپاره نومول
دي) ﴿ مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ ﴾ ندی نازل کړی الله په دغه (عبادت دبتانو) باندي کوم برهان (علمي
سند) ﴿ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهْوَى ٱلْأَنفُسُ ﴾ متابعت نه کوي دوی مګر خود ګمان خپل او دهغه شي
چي ددوی نفسونه یې غواړي (کوم چي شیطان ورته ښایسته کړي وي) ﴿ وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلْهُدَىٰٓ ﴾
او خامخا په تحقیق سره راغلی دی دوی ته له ربه د دوی څخه هدایت لارښوونه (روښانه بیان او کوټلی
برهان چي بتان معبودان نه دي او داچي عبادت له الله واحد قهار ذات پرته بل چاسره نه ښایې. ابن
الجوزي وایې چي په دې کي تعجیب دی چي دوی له دې روښانه بیان سره سره بیاهم دبتانو عبادت پرې
نښود(۴) ﴿ أَمْ لِلْإِنسَٰنِ مَا تَمَنَّىٰ ﴾ آیا شته (کافر) انسان لره هغه چي غواړي یې (له خواهشاتو یعني آیا انسان
لره شته ګرد هغه څه چي غواړي یې آن تردې چي دبتانو د شفاعت طمع کوي صاوي وایې مراد له انسان
څخه کافر انسان دی اوله دې آیت څخه دهغه چالپاره چي له غیرالله څخه طمع کوي او یاد خپلو
خواهشاتو پیروي کوي معلومېږي چي دغه طمع ترسره کېدونکي نه ده او خواري یې په برخه ده(۵)

---

(۱) کبیر تفسیر ۷/ ۷۴۰
(۲) دخازن نفسیر ۴/ ۲۱۸
(۳) کبیر تفسیر ۷/ ۷۴۳
(۴) دابن جوزي تفسیر ۸/ ۷۴
(۵) صاوي په جلالین باندي ۴/ ۱۳۹

﴿ فَلِلَّهِ ٱلْأٓخِرَةُ وَٱلْأُولَىٰ ﴾ پس خاص الله لره دي (پاچهي سلطنت د) آخرت او دنيا (چاته يې ورکوي او له چاڅخه يې اخلي او منع کوي داسي نه دی لکه چي انسان يې غواړي بلکه الله يې هغه چاته ورکوي چي دالله په لاري سم وي او خپل خواهشات تر پښو لاندي کړي بيا دغه معنی داسي تائيدوي چي ﴿ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ او ډېردي له ملائکو څخه په آسمانونو کي (ابرار او اطهار) ﴿ لَا تُغْنِى شَفَٰعَتُهُمْ شَيْـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعْدِ أَن يَأْذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرْضَىٰٓ ﴾ چي نه دفع کوي سپارښت (شفاعت) ددوی هيڅ شی (مګر په اجازه دالله) دهغه چالپاره چی اراده وفرمايی او راضی وی په شفاعت يی) نو څرنګه به خوار کوتي بتان شفاعت وکړای شي ؟ ﴿ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ ﴾ (الانبياء:۲۸) يعني ملائکي وروسته له اذن دالله جل جلاله بيا داهل ايمان او توحيد لپاره شفاعت کولای شي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ ﴾ ابن کثير وايي مقصد داکله چي دغه خبره دمقربينو ملائکو په هکله ده نو ای جاهلانو تاسو بيا څرنګه دبتانو او د شريکانو دسپارښت او شفاعت هيله کوی؟ ! وروپسې الله دمشرکانو ګمراهي او ضلالتونه داسي شمېري : ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْأٓخِرَةِ ﴾ بېشکه هغه کسان چي ايمان په آخرت نه راوړي (بعث او نشور نه مني) ﴿ لَيُسَمُّونَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ ٱلْأُنثَىٰ ﴾ (خامخا نومونه ايږدي پر ملائکو باندي په نوم اېښودلو دښځو سره) يعني دوی ګمان کوي چي پرښتې ښځې او دالله لوڼي دي ﴿ وَمَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ ﴾ او نشته دوی ته په دې ويناکي هيڅ علم پوهه ، ځکه دوی پخپله د ملائکو پيدا ينت ندی ليدلی او نه دالله له لوري کوم علمي سند او برهان ورته راغلی دی ﴿ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ ﴾ نکوي دوی پلوي مګر د ګمان (يعني دغه ددوی اوهام او ګمانونه دي) ﴿ وَإِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغْنِى مِنَ ٱلْحَقِّ شَيْـًٔا ﴾ او بېشکه نه دفع کوي ګمان له حق څخه هيڅ شی (او نه هم کله د حق پر ځای د رېږي ﴿ فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكْرِنَا ﴾ پس مخ وګرزوه ته له هغه چاڅخه چي مخ يې ګرزولی دی له ذکر پنده زموږ (چي ايمان او قرآن دی) ﴿ وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴾ او اراده نلري مګر خود ژوندون د دنيا (او مافيها له زائلو نعمتونو او فاني لذتونو خوندونو څخه) ابو السعود وايي چي مقصد له آيت څخه داسي کسانو ته د بلني نه ورکول دي ځکه څوک چي دالله له کلام څخه مخ واړوي او هغه ته پام لرنه نکوي او په دنياکي داسي غوپه وي ته به وا هغه يې يوازنی موخه او هدف دی نو دغه دعوت بيا هغوی ته پرته له عناده او پښو خرلو (اصرار) څخه نوره ګټه نه رسوي (۱) ﴿ ذَٰلِكَ مَبْلَغُهُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ ﴾ دا (اختيارول دده دنيا لره) ځای د رسېدلو ددوی دی له علمه پوهي (ددوی نه) يعني ددوی د پوهي منتها او ادراک همدغه دنيا په آخرت باندي غوره کول دي

(۱) دابو السعود تفسير ۵ /۱۷۰

﴿ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴾ بېشکه رب ستا همدی ښه عالم دی په هغه چا باندي چي ګمراه شوی دی له لاري دده څخه (چي اسلام دی) او هم دی دی ښه عالم پوه په هغه چا باندي چي سمه لاره یې موندلي ده (یعني الله په دواړو ډلو ضالینو او مهتدینو باندي ښه پوه دی ددوی په عملونو به جزا ورکړي ﴿ وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ او خاص الله دي هر هغه څه چي په آسمانونو کي دي او هر هغه چي په ځمکه کي دي (خلقًا ملکًا او تصرفًا چي د بل هیچا ورباندي واک نشته)

﴿ لِيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ بِمَا عَمِلُواْ ﴾ لپاره دد چي (الله) جزا ورکړي هغو کسانو ته چي بدي یې کړي وي په سبب د هغه (بد) عمل چي کړی یې وي ﴿ وَيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ أَحْسَنُواْ بِٱلْحُسْنَى ﴾ او جزا ورکړي هغو کسانو ته چي نېکي یې کړي وي په نېکو (اعتقادونو او ښو) عملونو سره (په جنت سره) ابن الجوزي وایې چي پدې آیت شریف کي د الله د پراخي پاچهي سلطنت او ستر قدرت او ځواک اظهار دی او دغه معترض کلام دی

چي د لومړي آیت او ددې چي ﴿ لِيَجْزِيَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ بِمَا عَمِلُواْ ﴾ ترمینځ راغلی ځکه کله چي الله ښه خبردار په نېکوکارا او بدکاروي هریوه ته به ورسره وړ جزا ورکړي او دا به هله دی کولای شي چي مقتدر او د پراخ

سلطنت خاوند وي (١) وروسته الله تعالی د متقیانو او نېکانو صفات هسي بیانوي چي ﴿ ٱلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَٰٓئِرَ ٱلْإِثْمِ ﴾ (نیکوکاران) هغه کسان دي چي ځان له کبائرو ساتي (لکه شرک، قتل او د یتیم مال خوړل)

﴿ وَٱلْفَوَٰحِشَ ﴾ او له لویو فواحشو قبیحو کارونو څخه (فاحشه هغه ناولي کار ته وایې چي عقلًا او شرعًا په بدي کي منتهاته رسېدلی وي لکه زنا او د پلار ارتینه په نکاح اخیستل لکه چي الله فرمایي

﴿ وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً ﴾ او یـــا دا چي ﴿ وَلَا تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ ءَابَآؤُكُم مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَمَقْتًا وَسَآءَ سَبِيلًا ﴾. ﴿ إِلَّا ٱللَّمَمَ ﴾ مګر وړې وړې ګناوي قرطبي وایې دا هغه وړې ګناوي دي چي هر سړی ځان ورڅخه ساتلی نشي مګر هغه چي الله تعالی ساتلی وي دا لکه: حراموته کتل، مچکه (بوسه) اخیستل ستر ګکونه وهل (٢) او په حدیث شریف کي راځي چي: الله بنیادم ته د زنا یوه برخه لیکلي چي ارو مرو به ورته رسېږي نود ستر ګو زنا کتل دي د ژبي زنا خبري کول دي او د نفس زنا بیا چورتونه او حرامي هیلي او غوښتني دي نو فرج بیا یا د غه رښتوني کوي او یا یې هم تکذیبوي (٣) کله چي بنده له غټو ګناهونو څخه ځان وژغوري الله به پخپل فضل او کرم سره وړې ګناوي

وروبښي چي الله فرمایي ﴿ إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ ﴾ یعني که له غټو منهی عنها ګناهونو ځان وژغورل نو وړې ګناوي به دروبښم ﴿ إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلْمَغْفِرَةِ ﴾ بېشکه رب ستا واسع (پراخ کونکی د بښني او) مغفرت دی) یعني الله غفار الذنوب او ستار العیوب دی ځوک چي

(١) د ابن الجوزي تفسیر ٨/ ٧٥

(٢) د قرطبي تفسیر ١٧/ ١٠٢

(٣) د بخاري روایت.

گناه وكړي او توبه وباسي الله يې مني. ابن كثير وايي يعني رحمت يې پراخ دى او چي څوك توبه گارشي مغفرت يې گرد گناهونه ځايوي (١) بيضاوي وايي ښايي چي پدې تعقيب كي چي د گناهگارانو له تهديد او د نيكوكارانو له زېري څخه وروسته راغلى دې ته اشاره وي چي د كبيره گناهونو خاوندان د الله رحمت څخه نا هيلي نشي او دا چي په الله د عذاب د لزوم گمان و نكړاى شي (٢) ﴿هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ﴾ الله ښه عالم دى په تاسي باندي كله چي پيدا يې كړى (پلار د) تاسي د ځمكي څخه ﴿وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ﴾ او كله چي وى تاسي (پټ) بچي په گېډو د ميندو خپلو كي (الله ته شقي او تقي مؤمن او كافر، نيكوكار او فاجر معلوم دي پوهېږي چي تاسو به څه كوى او بر خه ليک به موڅه وي؟) ﴿فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ﴾ نو مه ستايئ، مه پاكوئ تاسي ځانونه خپل (چي په ځان وياړئ څكه نفس د ېرخسيس دى كله چي يې وستايى نو غرور او تكبر وكړي. ابو حيان وايي معنا دا چي تاسو خپل ځانونه له گناه پاک مه گڼئ او صفت يې مه كوئ الله پاک ته پخواله دې چي تاسو د خپل پلار آدم له شاڅخه راووزى گرد معلوم وى چي څوک پاكيزه او څوک په گناهونو لړلى دى هم داسي پخواله زېږېدلو ستاسي چي تاسو د ميندو په گېډو كي وى هم الله ته معلوم واست ﴿هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ﴾ هم دغه (الله) ښه عالم دى په هغه چا باندي چي له الله څخه (په پټه او ښكاره) وېرېږي

الله تعالى فرمايي:

﴿ أَفَرَءَيْتَ الَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴿٣٤﴾ أَعِندَهُ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰ ﴿٣٥﴾ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ
مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ ﴿٣٧﴾ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴿٣٨﴾ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعْيَهُ
سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الْمُنتَهَىٰ ﴿٤٢﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴿٤٣﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ
وَأَحْيَا ﴿٤٤﴾ وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ﴿٤٦﴾ وَأَنَّ عَلَيْهِ النَّشْأَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٤٧﴾ وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ
﴿٤٨﴾ وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ الشِّعْرَىٰ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّهُ أَهْلَكَ عَادًا الْأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَ فَمَا أَبْقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا هُمْ
أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ ﴿٥٢﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ ﴿٥٣﴾ فَغَشَّاهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْأُولَىٰ
﴿٥٦﴾ أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ اللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾ أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمْ
سَامِدُونَ ﴿٦١﴾ فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا ۩ ﴿٦٢﴾ ﴾ النجم: ٣٣ – ٦٢

(١) د ابن كثير مختصر ٣ / ٤٠٣

(٢) د بيضاوي تفسير ٤ / ١٧٣

مناسبت:

کله چي په تېروآيتونوکي الله تعالی دمشرکانوناپوهي اودهغوی دعبادت په هکله ګمراهۍاو ضلالت چي دوی به بتانوته عبادت کاوو، همداسي دمؤمنانواوکفاروتوپېربيان کړنودلته يې د مجرمينو دګناه يوځانګړی ډول راوړ او ورپسې يې سورت په هغوهلاکتونو اوعذابونوچي مکذبينو کفاروته ورکول شوی پای ته ورساووترڅوچي دمشرکانولپاره يادونه وکړي چي الله جل جلاله هروخت له هغوکسانوڅخه چي دالله استازي دروغجن بولي انتقام اخلي.

لغتونه:

(أكدى) دورکړي قطع ،له(أكدية) څخه اخيستل شوی هغه چاته ويل کېږي چي دکوهي دکيندلو په وخت کي يوه تېږه مخي ته ورشي اوله بشپړولوڅخه يې پاتي کړي بياعربودهغه چاپه هکله استعمال کړي چي څه ورکول پيل اوبيايې منع کړي اويايې څوک ديوڅه غوښتل شروع کړي خوپای ته يې ونه رسوي (أقنى) په بشپړه توګه ورکړه اواعطآء ته وايې جوهري ليکي ددې معناچي:(قنى الرجل يقنى) لکه داسي دی چي (غنى الرجل يغنى) يعني الله تعالى هغه ته مال اودولت ورکړی اوچي څوک وايې (أقناه الله) معناداچي (رضاه الله) يعني الله هغه راضي کړی دی ([1])(الشعرى) هغه روښانه ستوری دی چي په سخته ګرمي کي له جوزاوروسته راخېژي (أزفت) نژدې شوه (الآزفة) قيامت ته ويل کېږي ځکه يې (آزفة) بولي چي نژدې راتلونکی دی (سامدون) غافل اوبې پروالوبې کونکی (سمود) لهو اوعبث ته وايې.

دنزول سبب:

روايت کېږي چي وليدبن مغيرة درسول الله ﷺ خواته کېناست اووعظ نصيحت يې واورېدو زړه يې نرم شو نژدې ووچي مسلمان شي نودمشرکانوڅخه يوچاپېغور ورکړچي تادخپلوپلرونو ددين د پرېښودلواراده کړي ته داسي ګمان کوې چي هغوی ګمراهان اوپه اورکي دي؟ وليدورته وويل: زه د الله له عذابه ووېرېدم. هغه مشرک ورته ويل که يوڅه مال ماته راکړې اوشرک ته راوګرزې بيايې دالله عذاب زماپه غاړه نو وليديوڅه مال دولت ورکړاوبيايې ترې منع کړ نوالله داآيت نازل کړچي: ﴿ أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى تَوَلَّىٰ ۝ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰٓ ﴾ ([2])

تفسير:

﴿ أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى تَوَلَّىٰ ﴾ آياپس تاليدلی دی هغه څوک چي مخ يې واړاوو(له ايمانه؟) ﴿ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰٓ ﴾ او وريې کړلږ شی (له مقرر مال څخه) اونوريې منع کړ. مجاهدوايې چي دغه آيت دوليد بن مغيرة په باب کي نازل شوی دی([3]) ﴿ أَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰٓ ﴾ آياشته له ده سره علم دغيبو پس دیويني (نجات خيل چي ملګری يې عذاب په غاړه اخلي؟) ﴿ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِى صُحُفِ مُوسَىٰ ﴾ آيا ندی

([1]) دقرطبي تفسير ۱۷/ ۱۱۹

([2]) پخوانی دنزول سبب

([3]) دابن کثيرمختصر ۳/ ۴۰۴

خبرکړی شوی دی په هغه (شي) چي وو په صحيفو دموسی ﷺ (په تورات) کي ﴿ وَإِبْرَٰهِيمَ ٱلَّذِى وَفَّىٰٓ ﴾ او (په صحيفو پانو) دابراهيم کي هغه (ابراهيم) چي وفايې کړي وه (په احکامو دالله) چي په بشپړه توګه يې دالله دطاعت او امرپرځای کړي او درسالت تبليغ يې سرته رسولی وو حسن وايې چې الله دهرڅ. امر ورته کړی هغه يې پرځای کړی دی لکه چي الله جل جلاله يې په هکله فرمايې ﴿ وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِۦمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ﴾ (البقرة:۱۲۴) ﴿ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ (هلته داوو) چي نه پورته کوي هيڅ نفس پورته کونکی بارپېټی دبل نفس. آيت شريف په هغه چاباندي ردکوي چي څوک داسي ګمان کوي يوڅوک دبل چاعذاب په غاړه اخلي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾ او بله داچي نشته هيڅ انسان لره مګر (جزاء دهغه شي) چي کړي يې دي. ابن کثيروايې يعني لکه چي يوڅوک دبل بار اوپېټی نه وړي همداسي دبل چاثواب او اجرهم ده ته نه ورکول کېږي خوچي پخپله يې کوم کار دځان لپاره نه وي کړی([1]) ﴿ وَأَنَّ سَعْيَهُۥ سَوْفَ يُرَىٰ ﴾ او بېشکه (داچي) جزاد عمل دده ژرده چي ده ته به وښودلي شي (په مېزان کي. خازن وايې په آيت شريف کي دمؤمن لپاره بشارت دی چي الله به يې نېک اعمال وروښيي ترڅوچي ورباندي خوشحاله شي اوکافر ته به بياددې لپاره ورليدل کېږي چي خفګان يې زيات شي([2]).

﴿ ثُمَّ يُجْزَىٰهُ ٱلْجَزَآءَ ٱلْأَوْفَىٰ ﴾ بيابه جزاورکړی شي هغه ته جزادپوره بدل بنه (د نېکي نېکه دبدي بده دغه دمؤمن لپاره وعده اودکافرلپاره وعيددي ﴿ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴾ او بېشکه (داچي) رب ستاته ده انتهاء دګردو (مخلوقاتو پس له مرګه چي دجزاء لپاره ورته ورځي) چاته ثواب اوچاته عقاب ورکوي، ورپسې الله دخپل قدرت آثارهسي بيانوي چي: ﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴾ او (داچي) بېشکه همغه (الله) خندوي اوژړوي (خوښي اوغم يې په واک کي دی نوپه دنياکي څوک خندوي اوڅوک ژړوي. مجاهدوايې جنتيان خندوي اودوزخيان ژړوي([3]) ﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴾ او بېشکه همغه (الله) وژني اوژوندي کوي) يعني يوازي الله په احياو اماتت باندي قادردی ځکه يې په (هو) سره اسنادمکرر راوړچي دغه دالله اختصاص دی ﴿ وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ ﴾ او (داچي) بېشکه همغه (الله) پيداکړي يې دي جوړې نراوښځه (له بنيادمو اوحيواناتو څخه. خازن وايې معنا دا چي الله پاک په يوه ځای کي دضدينو په پيداکولو قادردی، خندا اوژړا، ژوند اومرګ، نر او ښځه اودا هغه څه دي چي دپوهانوعقل هم نه وررسېږي اويوازي دالله جل جلاله په قدرت سره کېږي د طبيعت کارنه دی، په دې کي دالله په بشپړقدرت باندي تنبيه ده ځکه چي نطفه يوڅېزدی خوالله جل جلاله ور څخه مختلف غړي اواندامونه پيداکړي جلاجلا طبائع يې ترې جوړکړي نراوښځه يې ورڅخه پنځولي اودغه دالله دکمال

([1]) دابن کثير مختصر ۳/ ۴۰۴
([2]) خازن ۴/ ۲۲۳
([3]) البحر المحيط ۸/ ۱۶۲

قدرت عجيبه نمونه دي ځکه نوفرمايي ﴿ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ﴾ له يوه څاڅکي اوبو (د مني) څخه کله چي وڅڅاوو شي (دښځي په رحم کي) ﴿ وَأَنَّ عَلَيْهِ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْأُخْرَىٰ ﴾ اوبېشکه په ده باندي دی پيدا کول دوهم ځلي (پس له مرګه ددوی. په البحرکي ليکي څرنګه چي له دغه بعث او نشور څخه د هر کافران منکر وونو الله دهغه په هکله مبالغه راوړه چي د(عليه) په توري يي وستايل لکه چي دغه الله تعالی پخپل ځان باندي واجب ګرزولي وي(۱) ﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴾ اوبېشکه همغه (الله) غني کوي اوخوا روي (چاته چي يې رضاشي (۲) او ابن عباس وايي: معنادا چي غني يې کړي اوبيايې راضي کړي په هغه باندي ﴿ وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعْرَىٰ ﴾ اوبېشکه همغه (الله) رب دشعری دی) هغه روښانه ستوری چي دوی يې عبادت کاوو. ابوالسعود وايي معنادا چي الله ددوی دمعبودرب دی ددغه ستوري عبادت به دخزاعه قوم کاوو چي ددوی يوه تن چي ابوکبشة نومېده دغه دود، سنت او (لاره) ورته پرې ايښي وه ﴿ وَأَنَّهُۥٓ أَهْلَكَ عَادًا ٱلْأُولَىٰ ﴾ اوبېشکه همغه (الله) وژلي هلاک کړي دي عاديان ړومبی (هغوی چي هود عليه السلام ورته رالېږل شوی وو اودوی ترګردو خلګو خمې، قوي اوله الله څخه ترګردو انسانانو زيات سرغړونکي اوباغيان وونو الله په سرکښنه صرصرباد باندي ووژل. صاوي وايي دوی ته يې عادأولی ځکه وويل چي له نوح عليه السلام راوروسته لومړني خلګ چي هلاکت يې په برخه شو همدادوی وو (۳) ﴿ وَثَمُودَا فَمَآ أَبْقَىٰ ﴾ او (هلاک کړي دي) ثموديان پس باقي يې پرې نښود بل هيڅوک (له هغوی نه) ﴿ وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ ﴾ او (هلاک کړی يې دی) قوم دنوح پخواله دوی (عاديانو او ثموديانو) نه ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا هُمْ أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ ﴾ بېشکه چي دوی وو هم دوی د هر سرکښنه د هر ظالمان (يعني دوی تردا نورودوو د لولاپسي زيات ظالمان او سرکښان وو، په البحرکي راوړي چي دوی نهايته سر غړونکي اونوح ته آزار رسونکي وو نوح عليه السلام به يې ترهغووهل د بول چي له خوځېدو به ووت اودنوح عليه السلام وعظ اوپند به ورباندي هيڅ اغېزه نه کوله قتاده وايي ۹۵۰ نه سوه پنځوس کاله يې قوم ته تبليغ وکړچي يوه پېړۍ به له مينځه لاړه بله پېړۍ به راغله آن تردې چي يو سړي به خپل زوی ترلاس نيولی دنوح مخي ته ودراوو چي ځني و يې وېروي او ورته ويل به يې ای زويه زه خپل پلار هم داسي را وستلم اوده ته يې ودرولم لکه چي ماته راوستلې ګوره چي ددغه خبره ونه منې، نو لوی به يې په کفر مړشوا وماشوم به دنوح عليه السلام په بغض اوعداوت لوئېدو (۴) ﴿ وَٱلْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ ﴾ اوهغو کليوا ړول شوي ولړه چي بنکته يې ځمکي ته پس له پورته کېدلو دجبريل راوغورځول ﴿ فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴾ پس راولوېدلې په هغوی باندي هغه څه چي راولوېدل. (له

(۱) البحرالمحيط ۸/ ۱۶۸

(۲) دغه دابن زيد وينا ده چي بيايي داآيت ولوست ﴿ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ﴿٢٦﴾ ﴾ الرعد

(۳) دبيضاوي تفسير ۴/ ۱۷۴

(۴) البحرالمحيط ۸/ ۱۷۰

عذابونو څخه او پدې کې د عذاب هيبت او سترتوب همدا راز تعميم ته اشاره ده. په البحر کې راوړي چې مؤتفکة دلوط عليه السلام هغه کلی دی چې پخپل اهل باندې يې راپرېوتل هسې چې جبريل ﷺ دآسمان لورته اوچت کړل اوبيايې په ځمکه راوويشتل دپخوکټوورېايې ورباندې وکړه همدغه ددې کلام معنا ده چې فرمايي (١) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ﴾ ؟ پس په کومونعمتونو درب خپل ته شک کوې (ای کافر انسانه؟) ﴿ هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ ٱلنُّذُرِ ٱلْأُولَىٰٓ ﴾ دغه (محمد رسول الله هم) وېرونکی له (جملې د) وېرونکيو رومبنيو څخه ده (چې تاسويې دقومونو حال واورېدو) ﴿ أَزِفَتِ ٱلْءَازِفَةُ ﴾ رانژدې شوراتلونکی (قيامت قرطبي وايې ځکه يې (آزفة) بولي چې راتلل يې نژدې دي (٢) ﴿ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ كَاشِفَةٌ ﴾ (نشته هغه لره لره پرته له الله ښکاره کونکی) يعني هيڅوک پرته له الله دهغه کړاوونه اوشدائدپورته کولای نشي کله چې خلک ونغاړي ﴿ أَفَمِنْ هَٰذَا ٱلْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴾ آيا پس له دې خبرې (قرآن) څخه تعجب کوی تاسې (ای مشرکانو چې ملنډې يې بولی؟ استفهام دتوبيخ لپاره دی ﴿ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴾ اوخاندئ تاسې (تمسخرًا) په اورېدلويې اونه ژاړی (خوفًا) کله چې زواجر اوآيتونه يې اوری حق او وړ خودرسره داووچې داوښکوپرځای ويني توی کړی! ﴿ وَأَنتُمْ سَٰمِدُونَ ﴾ اوتاسې غافلان يی (له مطلوبه) چتې ببکاره لوبې کوی ﴿ فَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ وَٱعْبُدُوا۟ ﴾ پس سجده کوئ تاسې (خاص) الله ته اوعبادت کوئ دهمدغه (الله يوازې دبل چاعبادت لکه دلات، عزی، منات اوشعری مه کوئ الله واحد ،فرد، صمد، احدذات دی چې له ده پرته بل څوک د سجدې اوعبادت وړ اولائق نشته.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته لنډيزيې دادی:

١ - دتعظيم اوتهويل لپاره ابهام لکه ﴿ فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ ﴾ اوددې په څېر ﴿ إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴾ اوهمداسې ﴿ فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴾.

٢ - دجناس صنعت چې فرمايي ﴿ وَٱلنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ... وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ﴾ لومړی (هَوَىٰ) د لوېدلو په معنی اودوهمه (هَوَىٰ) دنفسي خواهشاتو نوم دی

٣ - دطباق صنعت لکه د ﴿ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ﴾ اود ﴿ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴾ اود ﴿ ضَلَّ... ٱهْتَدَىٰ ﴾ اود ﴿ ٱلْءَاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰ ﴾ اود ﴿ وَتَضْحَكُونَ ..... تَبْكُونَ ﴾ ترمينځ چې راغلی دغه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي

(١) نفس المرجع السابق.
(٢) القرطبي ١٢٢/١٧

۴- مقابله چې فرمايي ﴿ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ أَسَٰٓـُٔواْ بِمَا عَمِلُواْ وَيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ أَحْسَنُواْ بِٱلْحُسْنَى ﴾ لكه چې دلفظ په تكرار سره اطناب صنعت هم پكې راغلى اودواړه له بديعي محسناتو څخه ګڼلى شي.

۵- استفهام دتوبيخ لپاره اوداچې ددوى په عقلونو پېشاړي ووهي لكه ﴿ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلْأُنثَىٰ ﴾ ....﴿ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰٓ ﴾ .

۶- ناقص جناس چې د ﴿ أَغْنَىٰ ﴾ اود ﴿ أَقْنَىٰ ﴾ ترمينځ راغلى اودځينوتورو اختلاف دى.

۷- اشتقاقي جناس پدې كلام كي ﴿ أَزِفَتِ ٱلْـَٔازِفَةُ ﴾ .

۸- عطف دعام پرخاص باندي كله چې الله فرمايي: ﴿ فَٱسْجُدُواْ لِلَّهِ وَٱعْبُدُواْ ﴾ .

۹- دفواصلواوآيتونودپيل مراعات چې په اوږدلوباندي خوراښه اغېزپرې باسي لكه ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلْعُزَّىٰ ﴾..... ﴿ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلْأُخْرَىٰٓ ﴾..... ﴿ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلْأُنثَىٰ ﴾ اوددې په شان ﴿ أَفَمِنْ هَٰذَا ٱلْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴾..... ﴿ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴾..... ﴿ وَأَنتُمْ سَٰمِدُونَ ﴾ ؟اودغه ته سجع وايي (چې ښكلايي دپېژندو نه ده).

تنبيه:

هغه بتان چې مشركانوبه يې عبادت كاووخوراډېروو چې نږدې درې سوه شپېته بتان كېږي او زياتره يې دكعبې شريفي خواوشادرول شوي وو كوم چې دمكې شريفي دفتحې په كال ونړول شول اوترګردومشهور يې لات، عزى اومنات وو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په همدغه كال خالدبن وليدورواستاووچې عزاونړوي نوهغه يې ونړاوو اوويل يې:

يا عزّ كفرانك لا سبحانك * انى رايت الله قد اهانك

اى عزى دغندلويې دستايلونه يې * زه پدې باور يم چې الله سپك كړې همداسي دمكې له فتحي سره جوخت دبتانوعبادت هم پاى ته ورسېدواوخلكو ټولې ټولې دالله جل جلاله په دين كي داخلېدل پيل كړل.

دالله جل جلاله په مرسته دالنجم سورت تفسيربشپړشو.

***

د(القمر)سورت مكي او پنځه پنځوس آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالقمرسورت چي دمكي سورتونوڅخه يودی داسلامي عقيدې اصول بنيي اوله پيله ترپايه په قرآني آيتونوباندي دتكذيب كونكوسره دجګړې اوشخړې بڼه لري ددغه سورت ځانګړې نښه ګرد سره دوعيد، اخطار اوانذاردی چي په ترڅ كي يې دډول ډول هلاكتونو اوعذابونوڅېرې بربنډه بري.

لومړی داسورت دغه دكائناتومعجزه چي دسپوږمۍ چاودېدل دي راوړي هغه چي درسول الله سيدالبشرله بېشمېره معجزاتوڅخه يوه ده كومه چي مشركانو ورڅخه په وړانديز وغوښتلې اوپه خاصه توګه داچي سپوږمۍ دوه ټوټې كړي نوبيابه يې دوی دنبوت تصديق كوي خوله دې سره سره بيا يې هم ونه مانوالله فرمايي: ﴿ ٱقْتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلْقَمَرُ ‎ وَإِن يَرَوْا۟ ءَايَةً يُعْرِضُوا۟ وَيَقُولُوا۟ سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾ دآيتونوترپايه.

وروسته دقيامت كړاوونه اوسختي راوړي اوداسي يې انځوروي چي خورا وېرونكي اومشاعر خوځوي په زړه كي له دغي سختي ورځي څخه وېره راپاڅوي فرمايي: ﴿ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَىْءٍ نُّكُرٍ ‎ خُشَّعًا أَبْصَٰرُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ‎ مُّهْطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِ يَقُولُ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴾.

له دې په وروسته چي دمكې دكفاروخبري پای ته رسوي ددروغجن ګڼونكوكفاروحال بيانوي چي څرنګه يې په دنيااوآخرت كي عذابونه په برخه شوي اودنوح له قومه يې پيلوي چي ﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا۟ عَبْدَنَا وَقَالُوا۟ مَجْنُونٌ وَٱزْدُجِرَ ﴾.

وروسته دتېرواُمتونوله سرغړونكو، جبابره ووڅخه هغوی چي دانبياووتكذيب يې كاووغږېږي چي الله تعالی هغوی څنګه هلاک كړل اوبېخ اوبكريې وايستل؟ چي پدې لړكي دعاد، ثمود، لوط اوفرعون قومونه اونورباغيان په يوڅه تفصيل سره راوړي اودعذابونوتصويريې ښيي.

وروسته له دغه دردناكه عذابونواونيمه خواهلاكتونوچي محمد رسول الله ته يې بيان وشو سورت دقريشومخاطبې ته مخ را اړوي اودداسي هلاكتونواوعذابونوڅخه يې وېروي بلكه تردغه لازيات اوسخت عذاب لپاره ورته ګوت څنډنه كوي چي: ﴿ سَيُهْزَمُ ٱلْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ‎ بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَٱلسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴾. دآيتونوترپايه

بياوروسته سورت دنېكمرغه متقيانوبرخه ليک را اخلي كله چي دبدمرغه اشقياوو يې پخوا ښودلی دي اودغه قرآني اسلوب دی چي ترغيب اوترهيب سره يوځای راوړي اوپه عجيبه ښكلي اسلوبويې بيانوي فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ وَنَهَرٍ ‎ فِى مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍۭ ﴾.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ﴿١﴾ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ ﴿٢﴾ وَكَذَّبُواْ
وَٱتَّبَعُوٓاْ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَكُلُّ أَمۡرٖ مُّسۡتَقِرّٞ ﴿٣﴾ وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّنَ ٱلۡأَنۢبَآءِ مَا فِيهِ مُزۡدَجَرٌ ﴿٤﴾ حِكۡمَةُۢ
بَٰلِغَةٞۖ فَمَا تُغۡنِ ٱلنُّذُرُ ﴿٥﴾ فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡۘ يَوۡمَ يَدۡعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَيۡءٖ نُّكُرٍ ﴿٦﴾ خُشَّعًا أَبۡصَٰرُهُمۡ يَخۡرُجُونَ مِنَ
ٱلۡأَجۡدَاثِ كَأَنَّهُمۡ جَرَادٞ مُّنتَشِرٞ ﴿٧﴾ مُّهۡطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِۖ يَقُولُ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَسِرٞ ﴿٨﴾ ۞ كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ فَكَذَّبُواْ
عَبۡدَنَا وَقَالُواْ مَجۡنُونٞ وَٱزۡدُجِرَ ﴿٩﴾ فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَغۡلُوبٞ فَٱنتَصِرۡ ﴿١٠﴾ فَفَتَحۡنَآ أَبۡوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٖ مُّنۡهَمِرٖ ﴿١١﴾ وَفَجَّرۡنَا
ٱلۡأَرۡضَ عُيُونٗا فَٱلۡتَقَى ٱلۡمَآءُ عَلَىٰٓ أَمۡرٖ قَدۡ قُدِرَ ﴿١٢﴾ وَحَمَلۡنَٰهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلۡوَٰحٖ وَدُسُرٖ ﴿١٣﴾ تَجۡرِي بِأَعۡيُنِنَا جَزَآءٗ لِّمَن كَانَ كُفِرَ
﴿١٤﴾ وَلَقَد تَّرَكۡنَٰهَآ ءَايَةٗ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿١٥﴾ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٦﴾ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن
مُّدَّكِرٖ ﴿١٧﴾ كَذَّبَتۡ عَادٞ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِي يَوۡمِ نَحۡسٖ مُّسۡتَمِرّٖ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ
ٱلنَّاسَ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٖ مُّنقَعِرٖ ﴿٢٠﴾ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٢٢﴾ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ
بِٱلنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٗا مِّنَّا وَٰحِدٗا نَّتَّبِعُهُۥٓ إِنَّآ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ أَءُلۡقِيَ ٱلذِّكۡرُ عَلَيۡهِ مِنۢ بَيۡنِنَا بَلۡ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٞ
﴿٢٥﴾ سَيَعۡلَمُونَ غَدٗا مَّنِ ٱلۡكَذَّابُ ٱلۡأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرۡسِلُواْ ٱلنَّاقَةِ فِتۡنَةٗ لَّهُمۡ فَٱرۡتَقِبۡهُمۡ وَٱصۡطَبِرۡ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئۡهُمۡ أَنَّ ٱلۡمَآءَ قِسۡمَةُۢ
بَيۡنَهُمۡۖ كُلُّ شِرۡبٖ مُّحۡتَضَرٞ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوۡاْ صَاحِبَهُمۡ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾ فَكَيۡفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ
فَكَانُواْ كَهَشِيمِ ٱلۡمُحۡتَظِرِ ﴿٣١﴾ وَلَقَدۡ يَسَّرۡنَا ٱلۡقُرۡءَانَ لِلذِّكۡرِ فَهَلۡ مِن مُّدَّكِرٖ ﴿٣٢﴾ ﴾ القمر: ١ - ٣٢

لغتونه:

(الاجداث) د جدث جمع او قبرته وايي (مهطعين) چابک تېز ګرځندی(منهمر) په شېبو شېبو اورښت (دُسُر) مېخونه د(دسار) جمع لکه کتب او کتاب غوندي دی په صحاح کي وايي چي دَسَّارد (دسر) مفرددی او هغو مزيوته وايي چي دبېړۍ تختې ورباندي ټينګوي چاپيا مېخونه بللي دي (١)(مدكر) وېرېدونکی پندا خيستونکي ته وايه شي اصل يې (مذتكر) وو(تا) يې په دال بدله او ذال يې په دال کي دننه (مدغم) کړ(مدكر) جوړشو(صرصر) سخت ديخني تند باد دغه له (صرير الباب) څخه اخيستل شوی چي د دروازې غږ ته ويل کېږي (منقعر) له بېخه ايستل شوی (سعر) جنون او لېونتوب ته وايي ويل کېږي (ناقة مسعورة) لکه چي له ډېري مستي لېونۍ وي .(أشر) متکبر هغه چي له ډېره نازاو نعمته متکبروي

تفسير: ﴿ ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ ﴾ رانژدې شو قيامت او څيري دوه ټوټې شوه سپوږمی

﴿ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ ﴾ (او که ووينی دغه (قريشي کفار) کوم دليل (د قدرت) نو پر څنګ به شي (مخ به ترې واړوي) يعني که د قريشو کفار کومه ښکاره معجزه او د رسول الله په رسالت باندي څرګنده نښه

(١) الصحاح مادة (دسر).

چي په رښتنولي يې دلالت کوي ووينې نوله ايمانه به ګرزي ﴿ وَيَقُولُواْ سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾ اووايې به دغه سحرکوډي دي چي له پخواراهيسي راځي (چي محمد زموږ په سترګو باندي جادوکوي مفسرين کرام وايې چي دمکې کفارورسول الله ﷺ ته وويل که ته په رښتيا پيغمبريې نودغه سپوږمۍ راته دوه ټوټې کړه که دي هسي وکړل نوموږ به ايمان راوړو دغه دخورلسم سپوږمۍ اودبدرپه حالت کي وه نورسول الله ﷺ له پروردګارڅخه غوښتنه وکړه چي ددوی داوړاندېزشوي معجزه ورکړي نوسپوږمۍ دوه ځايه شوه نيمه ټوټه يې دصفاپه غره اونيمه پاتي يې دقيقعان په غره چي صفاته مخامخ وو راغله چي دوی يې ترمينځ مسافه وليدله اوبيايې وويل چي محمد پرموږباندي کوډي وکړې اوبيايې وويل :که ده پرموږباندي کوډي وکړې خوهغه نشي کولای چي په ګردو خلګوکوډي وکړي !! ابوجهل وويل تاسوصبروکړئ چي دصحرا خلګ راشي نوکه چېري دوی هم دغه پېښه ليدلي وه بيانوخبره سمه ده او که هغوی نه وه ليدلي نوبياخومحمدراباندي کوډي کړي دي ، کله چي له بيابان څخه خلګ راغلل او دوی دغه هېښوونکي پېښه ترې وپوښتله هغوی هم له بيابان څخه دغسي شاهدي وويله نوهله دوی ويل چي:

(هذاسحرمستمر) نوالله جل جلاله داآيت نازل کړ ﴿ اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾ (۱) خازن وايې چي شق القمردرسول الله ﷺ له ځرګندومعجزاتوڅخه ووچي دشيخينوروايت کړی حديث شريف ورباندي دلالت کوي هغه داچي له حضرت انس ﷺ روايت دی هغه وايې : دمکې خلګوله رسول الله ﷺ څخه وغوښتل چي کومه معجزه وروښيي نويې دوه خله انشقاق القمر(دسپوږمۍ ټوټه کېدل) وروښودل اوبل له ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي هغه وايې: درسول الله په زمانه کي سپوږمۍ دوه ټوټې شوه اورسول الله ﷺ وفرمايل: شاهدان اوسئ (۲)بل هغه دجبيربن مطعم څخه روايت شوی چي هغه وايې درسول الله په زمانه کي سپوږمۍ دوې ټوټې شوه نوقريشوو ويل محمدزموږ په سترګوسحروکړنوځينو وويل: که زموږپه سترګويې سحروکړدګردو خلګوپه سترګوخوسحرنشي کولای !! نودوی به له سپرو پوښتني کولې هغوی به ويل چي په رښتيا موږهم (په صحراکي) وليدله نودوی به دروغجن ګڼل(۳)دغه ګردصحيح احاديث دي چي په دغه ستره معجزه باندي شاهدي وايې اوپردوی سربېره دقرآنکريم شهادت دی چي ترګردوقوي اوغښتلی دليل دی اوددغه انشقاق په امکان لرلومؤمن کله هم شک نه کوي ، دآيت په معناکي ځينوخلګوويلي چي دغه به دقيامت په ورځ ترسره کېږي نودغه ويناباطله ده ثبوت يې هډو نه دی راغلی داجماع هم مخالف دی اودقرآنکريم له تعبيرسره هم سمون نه خوري ځکه چي دماضي په لفظ ﴿ وَانشَقَّ الْقَمَرُ ﴾ باندي ويل شوی اوداچي ماضي په مستقبل اړول کېږي داخوراليري برېښي (۴) ﴿ وَكَذَّبُوا وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ ﴾

(۱) دغه دجمهورومفسرينوويناده اوله ابن عباس رضی الله عنهماڅخه روايت شوی اوانس اوابن عمر رضی الله عنهماهم ورسره ملګري دي ځينوبياولي چي دغه شق القمربه دقيامت په ورځ وي خودغه شاذقول دی اوداجماع سره نه شي پرتله کېدای
(۲) رواه البخاري
(۳) ترمذي اونورو روايت کړی
(۴) دخازن تفسير۴/ ۲۳۲

(او دروغجن کوي دوی (حق لره) او متابعت کوي دوی د خواهشاتو خپلو) يعني دوی د پيغمبر او هغه ځ
چي د الله د قدرت نښي يې په انشقاق القمر کي وليدلې تکذيب وکړ او د هغه څه چي شيطان ورته ښايسته
کړي وو پلوي يې وکړه ﴿ وَكُلُّ أَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴾ او هر کار قرار نيونکی دی (که خيرو و خو خير او که
شر وو بيا نو شر) مقاتل وايي: معنا دا چي هري وينا ته منتها او حقيقت شته چي هلته به رسېږي ، قتاده وايي
معنا دا چي هر کار قرار نيونکی دی (سره له خپله اهله خير له اهل خير سره او شر بيا له اهل شر سره)
([1]) ﴿ وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّنَ ٱلْأَنۢبَآءِ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ ﴾ او خامخا په تحقيق راغلي دي دوی ته خبري
د پخوانيو امتونو هغه شی چي په هغه کي امتناع سرزنش وو (له کفره) ضلالته) ﴿ حِكْمَةٌۢ بَـٰلِغَةٌ ﴾
حکمت دی کامل نهايت ته رسېدلی (د غه قرآن په هدايت او بيان کي) ﴿ فَمَا تُغْنِ ٱلنُّذُرُ ﴾ (پس هيڅ نفع
نه رسوي (دوی ته) وېرونکي) يعني کوم يو شی هم هغه چاته نفع رسوي څوک چي الله هغه ته شقاوت
ليکلی وي په غوږونو او زړه يې مهر لګولی وي؟ مفسرين کرام وايي معنا دا چي: دوی ته قرآن راغی هغه
بشپړ حکمت دی چي نهايت ته رسېدلی دی خو هغه چاته چي غوږونو يې د کلام الله له اورېدلو کاڼه وي څه
ګټه رسوي؟ لکه چي الله فرمايي ﴿ قُلِ ٱنظُرُوا۟ مَاذَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى ٱلْـَٔايَـٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا
يُؤْمِنُونَ ﴾ ﴿ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ﴾ نو مخ وګرزوه ته له هغوی څخه (ای محمده او دوی ته منتظر اوسه !) ﴿ يَوْمَ
يَدْعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَىْءٍ نُّكُرٍ ﴾ (او ياد کړه هغه) ورځ چي راوبولي (دوی لره) بلونکی يو شي نا اشنا ته)
يعني چي اسرافيل دوی هغه څه ته چي له شدت او هيبت سره يې خلک نا اشنا او کرکه لري راوبولي هغه
د قيامت ورځ او د ناورين او کړاوونو درلودونکې دی ﴿ خُشَّعًا أَبْصَـٰرُهُمْ ﴾ حال دا چي وېرېدونکي خړي
خواري به وي سترګي د دوی (له ډېري سختي څخه به يي پورته کولای نشي) ﴿ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ ﴾
راوزي به دوی له قبرونو څخه ﴿ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ﴾ ګواکي دوی به ملخان وي خواره واره (چي له وېري
څخه به نه پوهېږي چېرته درومي ؟ ابن جوزي وايي دا چي له خورو ورو ملخانو سره يې د دوی تشبيه
وکړه ځکه چي ملخان د مقصد لوری نلري همداسي به دوی وېرېدلي له قبرونو راپاځي چي يو به هم داسي
معلوم لوری نلري چي هلته ولاړشي مراد له بلونکي څخه اسرافيل دی([2]) ﴿ مُّهْطِعِينَ إِلَى ٱلدَّاعِ ﴾ تلوار
کونکي به وي په لوري د خپل بلونکي (ځند به نکوي) ﴿ يَقُولُ ٱلْكَـٰفِرُونَ هَـٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴾ وايي به کافران
دا ورځ ده ډېره سخته. خازن وايي: پدې کي دې لوري ته اشاره ده چي د غه ورځ به په کافرانو باندي سخته
وی په مؤمنانو سخته نه ده لکه چي الله فرمايي ﴿ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴾ (المدثر۱۰) بيا الله تعالی
د دروغجن ګڼونکو امتونو عذاب او کړاوونه د رسول الله ﷺ د ډاډينې او د کفارو د وېروني لپاره داسي

([1]) د ابن جوزي تفسير ۸/۸۹

([2]) د ابن جوزي تفسير ۸/۹۷

فرمايي ﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ﴾ دروغجن کړی دی پخوا له دوی څخه قوم د نوح (نوح لره) ﴿فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ﴾ نو دروغجن کړ دوی بنده زموږ او ويې ويل چې دغه (نوح) لېونی دی او منع کړی شوی دی (له دعوته) يعني هغه يې د نبوت له دعوی څخه منع کړ بښکنځل يې ورته کول هغه يې وېراوه او اخطارونه به يې ورکول چې ﴿قَالُوا لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ﴾ په البحر المحيط کې راوړي چې دوی يوازې دهغه په دروغجن ګڼلو بسنه (قناعت) ونکړ آن تر دې چې لېونی يې وباله يعني دی هغه څه وايي چې هوښيار سړی يې هڅونه مني او دغه ګواکې د دوی له خوا د حضرت نوح عليه السلام په تکذيب کې مبالغه ده او داچې الله تعالى حضرت نوح عليه السلام په عبوديت وستايه او ويې ويل (عبدنا) دغه د هغه تشريف او په عبوديت کې ځانګړتيا ښيي[١] ﴿فَدَعَا رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ﴾ پس سوال دعا وکړه (نوح) له خپله ربه (داسې چې) بېشکه زه مغلوب عاجز شوی يم نو بدل مې واخله (له کفارو څخه) يعني ای الله زه د دغو مجرمانو سره د مقابلې کولو توان نلرم له دوی څخه زما کسات واخله او د خپل دين مرسته وکړه. ابوحيان وايي هله يې ښېراورته وکړه چې کله تر پېړۍ ناهيلی شو او دوی په خپله سرکښۍ کې اوج ته رسېدلي وو يو تن د دې ظالمانو به حضرت نوح ترستوني ونيو چې څو به بېخوده شو خو بيا به هم ده داسې ويل: ای الله زما قوم ته ببښنه وکړه دوی نه پوهېږي[٢] ﴿فَفَتَحْنَآ أَبْوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ﴾ نو وپرانستل موږ ورونه د آسمان په اوبو ډېرو راتوی شويو. ابوالسعود وايي دغه د ډېر اورښت او زيات په شېبو شېبو باران څخه يو تمثيل دی[٣] ﴿وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ عُيُونًا﴾ (او وبهولې موږ له ځمکې څخه (هم) چينې) يعني ګرده ځمکه مو راخوټېدونکې چينې وګرزوله ﴿فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ عَلَىٰٓ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ﴾ بيا سره ګډې شوې تولې اوبه (د آسمان او ځمکې) په هغه کار چې پرتاکل شوی وو) په داسې حال کې چې الله يې په ازل کې تقدير فرمايلی او فيصله يې کړې وه چې کافران به ګرد غرقېږي. قتاده رحمه الله وايي: معنا دا چې الله په لوح محفوظ کې ليکلي وو کله چې کافران شي دوی به غرقېږي ﴿وَحَمَلْنَٰهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَٰحٍ وَدُسُرٍ﴾ او سپور کړی وو موږ نوح پر بېړۍ چې خاوند د تختو پلو او مېخونو پر بېړۍ وه. په البحر کې ليکي چې دغه د نوح عليه السلام د بېړۍ صفتونه دي او دغه صفتونه د موصوف پر ځای ولاړ دي لکه چې يو څوک ووايي: زما قميص له اوسپنو څخه ګنډل شوی دی چې مراد ځيني (زغره) وي او دغه د فصيح او بديع کلام نمونه ده که چېرې موصوف او صفت دواړه راوړل شوي وای بيا به فصيح نه ګڼل کېدو (دُسُر) مېخونه بولي[۴] ﴿تَجْرِى بِأَعْيُنِنَا﴾ (چې تلله ګرځېدله په ځای د سترګو د ليدلو زموږ) يعني د اوبو په

---

(١) تفسير البحر المحيط ۸/ ۱۷۶

(٢) پورتني مرجع.

(٣) ابو السعود ۷/ ۷۸۲

(۴) البحر المحيط ۸/ ۱۷۷

سرروانه وه زموږ په ساتنه اورعایت کې وه ﴿ جَزَآءً لِّمَن كَانَ كُفِرَ ﴾ (واقع شوی وودا طوفان) لپاره دامداددهغه چاچي کفران داحسان يې کړی شوی وو (چي نوح وو) الوسي وايي: معناداچي موږ دغه د نوح لپاره په کارولي ووځکه هغه (نوح) دالله يولوی نعمت ووچي قوم ته يې ورکړی وومګرقوم يې قدرونه پېژانده اوکفران يې وکړهوکي هرپيغمبردخپل قوم لپاره يونعمت دی (١) ﴿ وَلَقَد تَّرَكْنَٰهَآ ءَايَةً ﴾ او خامخاپه تحقيق پرېښودله موږ دغه (پېښه دطوفان) يودليل (دقدرت خپل چي پندشي لپاره دخلګو) ﴿ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾ نوآياشته څوک يادوونکی پند اخيستونکی ؟ ﴿ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴾ پس څرنګه ووعذاب زما (په دوی چي ټول مي په طوفان هلاک کړل) اووېرول زما (په ژبه دنوح) دغه استفهام دتهويل اوتعجيب لپاره دی ﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ ﴾ (اوخامخاپه تحقيق آسان کړی دی موږ قرآن لپاره ديادولواوپند اخيستلو) يعني قسم دی چي موږ قرآن دحفظ، تدبراوپنداخيستلولپاره آسان کړی دی ځکه چي ډول ډول نصيحتونه او پندونه پکې دي ﴿ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾ نوآياشته څوک يادونکی پند اخيستونکی ؟ له مواعظوڅخه يې اويااله زواجرو اوکيسونه ؟ خازن ليکي چي پدې کي دقرآنکريم د زده کړي اوپه هغه دمشغولاهڅونه ده ځکه چي الله هغه پخپلوبندګانوچي چاته يې خوښه شي آسانه کړی دی چي يادول يې دکشراومشرلپاره آسان دی عربي اوعجمي يې يادولی شي. سعيدبن جبيروايي معنا داچي دحفظ اولوست لپاره مي آسان کړی دی (٢) اودالله له کتابونوڅخه يوازي همدا قرآن دی چي ټول ظاهرا (په ياد) لوستل کېدلای شي لنډه داچي الله قرآن دهغه چالپاره چي د يادولو او يا پکي سوچ کولوقصدلري ياترې پنداخلي آسان کړی دی هغه ددنيوي اواخروي نېکمرغيومجموعه اوټولګه دی ﴿ كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴾ دروغجن کړی ووعاديانو (هود) نوڅرنګه ووعذاب زماا و وېرول زما (دوی ته په عقاب ورکولو ؟ او ورپسې دهغه پوپناکونکي عذاب تفصيل داسي بيانوي ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِى يَوْمِ نَحْسٍ ﴾ (موږلېږلی ووپردوی باندي باد ډېر سخت په ورځي نحسي (د بدي) کي) يعني موږ پردوی باندي طوفاني ډېرسخت بادچي سخت غږ او زوږ يې درلودرااستولی وو. ابن عباس وايي (صرصر) سخت سوړبادبولي اوسدي وايي چي معنايې سخت آوازلرونکی دی (٣) ﴿ مُّسْتَمِرٍّ ﴾ چي تل دی بدي يې (پردوی باندي چي پکي هلاک شول (٤) يعني په بدمرغه ورځ کي چي بدمرغي اوشوميت يې ورباندي مستمرشوچي يوهم ژوندی پاتي نشو چي هلاک شوي نه وي. ابن کثيروايي: معناداچي بدمرغي يې ورباندي استمرارومومندچي دنيوي عذاب يې له اخروي سره پتليز

---

(١) روح المعاني ٢٧/ ٨٣

(٢) دخازن تفسير ٤/ ٢٢٨

(٣) ابن کثيرچي کله دعلماوو ويناوي راوړي بياوايي زماپه نزددغه بادپدې ټولوصفتونوموصوف وو سخت قوي باد ډېرسخت سوړ اودخورا سخت آواز خاوندوو اوهمدغه ويناموږ هم غوره کړي ده.

(٤) ابن کثيرتفسير

او پيوند كړ﴿ تَنزِعُ ٱلنَّاسَ ﴾ چي راايستل به (باد له پټوژوروكندو(ځايونوخپلونه)خلگ (او ويشتل به يې

سرپه ككرۍ ورمېږونه به يې وربانديې ماتول) ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴾گواكي دوى تنې د خرماوو وې

چي له بېخه راايستل شوي په ځمكه راپرېوتلي وي ، ددوى تشبيه يې له خرماووكجورو سره وكړه ځكه

چي دوى لوړقدقامت اولوى پياوړي بدنونه لرل. خازن ليكي سيلۍ به دوى له ځمكي اوچت كړل اوبيابه

يې په ځمكه وويشتل ورمېږونه به يې مات اوسرونه به يې له تنو بېل شول اوتنې به يې لكه دخرماوو

دونو غوندي په ځمكه پرتې وې(١) ﴿ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴾ نو څرنگه ووعذاب زما او وېرول زما(له بېخه

ايستل ددوى آيا خوراسخت اوهيبتناک نه وو؟ ﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾ او خامخا په

تحقيق آسان كړى دى موږ قرآن لپاره دذكرپنداخيستلو نوآياشته څوک يادونكى پند اخيستونكى ؟

دغه يې مكرر ځكه راووړچي الله په مؤمنانو باندي دخپل فضل اومهرباني يادونه وښيي چي دقرآن كريم

يادول اوفهمول يې آسانه كړي نوآياڅوک شته چي له زواجروڅخه يې پند واخلي؟ بياالله تعالى

دثموديانو يادونه هغوى چي صالح عليه السلام يې دروغجن كړى وودا سي كوي ﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِٱلنُّذُرِ ﴾

(دروغجن كړي ووثموديانو(انبياء اونور) وېروونكي) يعني ثموديانو هغه انذارونه اومواعظ دروغ

گڼلي ووكوم چي ددوى نبي صالح عليه السلام ورته وړاندي كړي وو ﴿ فَقَالُوٓا۟ أَبَشَرًا مِّنَّا وَٰحِدًا نَّتَّبِعُهُۥ ﴾

(پس وويل دوى آيا يوبشرلره له موږ څخه چي يودى متابعت وكړوموږ (چي ډېريو) ده لره) يعني آياموږ

ديوه انسان چي زموږپه شان اويوازي تنهادى متابعت وكړو؟ هغه خو څه داشرافو څخه نه دى موږ يوه

ټولۍ يوهغه يوازى دى. په البحرالمحيط كي راوړي چي دوى دغه خبره درځې اوكينې په توگه كوله

استبعاديې كاووچي څرنگه موږ يوټولگى ديوه سړي متابعت وكړو؟!!) خودوى پدې نه پوهېدل چي

فضل دالله جل جلاله په يدقدرت كي دى چاته چي يې خوښه شي وركوي يې دهدايت پلوشې په هغه

چاځلوي چي ترې راضي وي(٢) ﴿ إِنَّآ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴾ بېشكه موږ په دغه وخت كي خامخابه يوپه

گمراهي اولېونتوب كي (نومتابعت يې نه كوو) ابن عباس ﷺ وايي (سعر) جنون ته وايي لكه چي دوى

به ويل (ناقة مسعورة) كله چي به له ډېري مستي څخه لېونۍ وه (٣) ﴿ أَءُلْقِىَ ٱلذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنۢ بَيْنِنَا ﴾

آيا غورځول شوى دى ذكروحى په ده باندي په مينځ زموږكي (نه ده شوي) استفهام انكاري دى يعني

آيادى زموږ ټولوڅخه په وحى باندي ځانگړى شوى ؟ سره له دې چي ترده بډايان اوسوكاله خلگ په

موږكي شته. امام فخر رازي وايي چي: په آيت شريف كي هغه څه ته اشاره ده چي دوى دمبالغې په توگه

ترې انكاركاووهغه داچي له القاء يې انكاروكړاوالقاء په گړندي والي سره انزال ته وايي لكه چي دوى

ويل: ملائک ستراوآسمان ليري دى نوڅرنگه په يوه شېبه كي وربانديې وحى راوړي اوداچي (عليه) يې

وويل يوبل انكاردى لكه چي ويلي يې وي هيڅ وحى په ده نه ده راغلي اوبالفرض كه راغلي هم وي

(١) دخازن تفسير۴ /۲۲۹

(٢) البحرالمحيط۸ /۱۸۰

(٣) قرطبي ۱۷ /۱۳۸

نوبیابه ولي پرده باندي وي څکه چي زموږ په مینځ کي ترده زیات دشرافت اوذکاوت خاوندان شته اوداچي وایې (ءألقي) هسي یې ونه ویل (ألقی الله) دې ته اشاره ده چي القاء له آسمانه هسي هم غیرممکن دی بې له دې چي دالله تعالی له لوري وي(۱) ﴿ بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴾ بلکه دی ډېردروغجن متکبردی (چي پخپله خان غټوي پرموږباندي اودا چي په (أشر) یې ونوماوودغه دهغه ددعوی دنه منلو په باب مبالغه ده لکه چي دوی وایې دغه هسي دروغ نه دي لکه چي یو کمزوری سړی یې دخان ژغورلولپاره وایې بلکه دی یې دلویني اوتکبردپاره وایې چي پرموږ مشرتوب وکړي نوغواړي چي موږیې متابعت وکړونویې په الله دروغ وتړل دده خبروته اعتبار نشته څکه چي دوه ناکاره خویونه یې دي یو دروغ لوبل تکبردی دواړه ددې مانع دي چي موږیې متابعت وکړو الله ددوی دبهتان دتردیداوددوی لپاره تهدیداسي فرمایې ﴿ سَيَعْلَمُونَ غَدًا مَّنِ ٱلْكَذَّابُ ٱلْأَشِرُ ﴾ ژردی چي پوه به شي دوی سبا(په آخرت کي) چي څوک دی هغه ډېر دروغجن متکبرآیاصالح دی اوکه یې گنهکارقوم؟ الوسي وایې: مقصداچي ژردی دوی به وپوهېږي چي دوی پخپله دروغجنان اومتکبرین دي خودغه یې دابهام په صورت کي انځورکړچي دې ته اشاره وکړي دا هسي څه دي چي له هیچاڅخه هم پټ نه دي(۲) ﴿ إِنَّا مُرْسِلُوا۟ ٱلنَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ ﴾ (بېشکه موږ لېږونکي یو داوښې لپاره دازموږېښت ددوی) یعني موږ دوی ته ددوی له غوښتني سره سم اوښه له تېږي را وایستله چي دوی وازمویو. ابن کثیروایې الله تعالی دوی ته دلسومیاشتو (بلاربه) اوښه له کاڼي تېږي څخه راوایستله لکه چي دوی غوښتي وه ترڅوپردوی باندي دصالح علیه السلام دنبوت په رښتنولي حجت او(دلیل) وي(۳) ﴿ فَٱرْتَقِبْهُمْ وَٱصْطَبِرْ ﴾ (پس منتظراوسه (ای صالحه) اوصبروکړه!) یعني دوی ته انتظار وکړه چي دوی څه کوي؟ اوپردوی څه کېږي ؟ ددوی په تکالیفوباندي صبرکوه الله به تاپردوی غالب کړي ﴿ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ ٱلْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ ﴾ اوخبرکړه دوی (پدې چي اوبه بېشکه وېشلي شوي په مینځ ددوی (ثمودیانواوداوښې کي)لکه چي الله فرمایې ﴿ قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴾ (الشعرآ.۱۵۵) ابن عباس ﷺ وایې: کله چي به ددوی وار وو نو اوښې به هیڅ څاڅکی اوبه هم نه څښلې اودوی ته به یې شیدې ورکولې دوی به په راحت کي وو اوکله چي به داوښې دڅښلو وار شونوبیابه یې گردي اوبه وڅښلې دوی ته به هیڅ نشوې پاتي اوداچي الله تعالی (بینهم) وفرمایل دغه یې دتغلیب په هکله چي هغه یې هم گواکي دعقلاووڅخه وشمېرله ﴿ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴾ هرواردااوبوته حاضرکړي شوي دي(خاوندان داوبوپه خپل وارچي کله به داوبوداوښې واروهغه به راغله او وبه یې څښلې اوچي کله به ددوی وارشودوی به راغلل اووبه یې څښلې ﴿ فَنَادَوْا۟

---

(۱) کبیرتفسیر ۷۹۹/۷
(۲) روح المعاني ۲۷ ۸۸
(۳) دابن کثیرمختصر.

صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴾ (نو راوبالودوی ملگری خپل (لپاره دوژلو داوښې اوتوره یې واخیسته) پس پښې یې وپرې کړې اومړه یې کړه) یعني ثمود یانو دخپل تېرتر ګردوبد مرغه انسان چي (قدار بن سالف) نومېدو راوباله ترڅو چي اوښه ووژني نو هغه هم په توره ووهله اوویې وژله بې پرواله دې چي عواقب به یې څه وي ؟ ﴿ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴾ پس څرنګه وو عذاب زما او وېرول زما (دوی لره آیا دېر سخت نه وو؟!!) ﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَاحِدَةً ﴾ بېشکه موږ لېږلی وو پردوی باندې غږ یو (دجبریل علیه السلام چي بیاکومه رپانده سترګه ژوندی پاتې نشوه) ﴿ فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴾ نوشول دوی لکه وچ مات شوي (توتې خس خاشاک واښه شپول جوړونکی) امام جلال وایي (المحتظر) معنا هغه چي دپسونو لپاره شپول ترې جوړوي چي له څېړونکو څناورولکه لېوانو اونوروڅخه یې ورباندې ژغوري او هغه چي له دې څخه ولوېږي اوپه پښوباندې رېز مرېز شي هغه (هشیم) بولي ﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾ او خامخاپه تحقیق آسان کړی موږ قرآن لپاره دذکر، یادولو، پنداخیستلو آیا څوک پند اخیستونکی شته؟!

الله تعالی فرمایي:

﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا إِلَّا آلَ لُوطٍ نَّجَّيْنَاهُم بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا كَذَٰلِكَ نَجْزِي مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ أَنذَرَهُم بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدْ جَاءَ آلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذْنَاهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾ ﴾ القمر: ۳۳ ـ ۵۵

مناسبت: کله چي الله تعالی دعاد یانو ثمودیانو یادونه وکړه دلته یې دلوط اوفرعون دقومونو خبر راووړ اوهغه عذابونه اوهلاکتونه یې چي پردوی راغلي وو بیان کړل ترڅو چي دمکې دکفارولپاره تذکیر او یادونه وي چي الله تل له خپلو اودخپلو پیغمبرانو له ددښمنانو څخه کسات اخیستونکی دی دسورت پای یې په دې وفرمایل چي دالله دود همداسې دی چي تل مجرمینو کفاروته سزاورکوي

لغتونه: (حاصبا) ډېره اوچاپیاویلي هغه باد چي ډبري اوکاڼي تېرې غورځوي (بطشتنا) زموږ سخت عذاب (الزبر) آسماني کتابونه د(زبور) جمع او هغه آسماني کتاب ته وایي (أدهی) ډېرناوړه کاراوچاره (سعر) تاوان اولېونتوب (سقر) ددوزخ له نومونو څخه یونوم دی الله جل جلاله مودې څني وژغوري

دنزول سبب:

ابوهريرة وايې دقريشومشركان رسول الله ته راغلل اودتقدير په هكله يې ورسره شخړه پيل كړه نو دغه آيتونه نازل شول چي ﴿ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُواْ مَسَّ سَقَرَ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ ﴾ (۱).

تفسير:

﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍۭ بِٱلنُّذُرِ ﴾ (دروغجن كړي ووقوم دلوط وېرونكي انبياء (ع) اندارات) كوم چي لوط دوى ورباندي وېرولي وو) ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا ﴾ (بېشكه لېږلى وو موږ پردوى باندي بادكاني ويشتونكى) يعني دوى دآسمان له لوري په كانوو ويشتل شول ابن كثيروايې چي الله تعالى حضرت جبريل ته امروكړاودوى كلى يې (له بېخه وايستل) آسمان ته يې اوچت كړل اوبيايې ځمكي ته كوز راوغورځول اوبيا په ختي كانوچي پخې شوي وي وويشتل (۲) شول (حاصب) كاڼي ته وايې ﴿ إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ نَّجَّيْنَٰهُم بِسَحَرٍ ﴾ مگركورنى دلوط ومو وژغورله په پيشلمي كي (ترسباله مخه وخت) ﴿ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا ﴾ له جهته د مهرباني له نزده زموږ (مودوى وژغورل) ﴿ كَذَٰلِكَ نَجْزِي مَن شَكَرَ ﴾ همداسي (دلوط دآل په شان) جزا وركوو موږ هغه ته چي شكر وباسي (په نعمت زموږ په ايمان راوړلو اوطاعت كولوسره)

﴿ وَلَقَدْ أَنذَرَهُم بَطْشَتَنَا ﴾ او خامخا په تحقيق وېرولي (لوط) دوى لره له نيولو زموږ څخه (چي له دوى به په عذاب وركولو انتقام واخلو) ﴿ فَتَمَارَوْاْ بِٱلنُّذُرِ ﴾ نوشك وكړ دوى په وېرولو دهغه كي ﴿ وَلَقَدْ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِۦ ﴾ اوخامخا په تحقيق غوښتي وو دوى له دغه (لوط) څخه مېلمانه دهغه چي پرېښتي وې (بد كارى ته) ﴿ فَطَمَسْنَآ أَعْيُنَهُمْ ﴾ نومحو، ړندي كړې موږ سترگي ددوى مفسرين كرام وايې كله چي ملائكي دښايسته زلميانو په شكل لوط عليه السلام ته راغلل اوهغه مېلمانه كړل نودوى (قوم يې) په منډه دبدفعلي لپاره ورته راورسېدل لوط يې په وړاندي دروازه وتړله اودوى هڅه كوله چي دروازه ماته كړي نوحضرت جبريل عليه السلام ورته راووت اودوى يې دخپل كوخرپه څنډه په مخ ووهل سترگي يې ړندي اومحوه شوې (۳) ﴿ فَذُوقُواْ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴾ پس (و فرمايل الله دوى ته دملائكو په ژبه) وڅكئ تاسي (ثمره) عذاب زما اودوېرولو زما (هغه چي لوط تاسي ورباندي وېرولي ياست) ﴿ وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴾ (او خامخا په تحقيق راغلى وو دوى ته عذاب قرارنيونكى ثابت په وخت دسباكي) يعني دوى ته دغه عذاب چي دآخرت له عذاب سره متصل وو دسهار په وخت كي راغلى وو . صاوي وايې داپدې چي جبريل عليه السلام ددوى كلى آسمان ته نژدې اوچت كړل او بياسرپه څېږى راوغورځول

---

(۱) أخرجه الترمذي.

(۲) دابن كثيرمختصر.

(۳) وگوره خازن ۴ / ۲۳۰ – امام رازي ۷ / ۸۰۸

اودختي كاني بې وربandi واورول ددوى دنيوي عذاب له اُخروي سره يو ځاى شو اوترهغوپوري به

ورباندي اخته وي څوچي په اوركي لوېږي (١) ﴿ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴾ نووڅكئ عذاب زمااودوېرولوزما(چي د پيغمبر په ژبه مي درته استولى وو ﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾ اوخامخاپه تحقيق آسان كړى دى موږ قرآن لپاره دذكريادولوپنداخيستلوآياشته څوك پنداخيستلويادونكى؟! مفسرين كرام وايې چي حكمت له تكرارولوددې كلام څخه چي وروسته له هري كيسې راځي دادى ترڅودتېروأمتونوله حاله پند واخيستل شي اوپه هلاكتونوكي بې فكروشي اودې ته اشاره ده چي دپيغمبرتكذيب ددې غوښتونكى دى چي په مكذبينودي عذاب راپرېوزي لكه دالله جل جلاله داقول چي ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ ددې لپاره دى چي دمختلفو ګڼونعمتونو اثبات وښيي اوهركله چي كوم نعمت ياد كړى وروسته بې په تكذيب باندي توبيخ فرمايي (٢) ﴿ وَلَقَدْ جَآءَ ءَالَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴾ اوخامخاپه تحقيق راغلي وو (فرعون او) قوم دفرعون ته وېرونكي (په تكرارخودوى ترې پندوانه خيست. ابو السعود وايې چي ددوى دكيسې په پيل كي بې ټينګ قسم راووړچي په شان كي بې اهتمام وښيي څكه چي پكي خورازيات اوښكاره معجزات اودسخت عذاب يادونه همدا راز دلته دطغيان مخكښ فرعون پكي دى (٣) ﴿ كَذَّبُوا بِـَٔايَٰتِنَا كُلِّهَا ﴾ دروغجن كړل هغوى دلائل دقدرت زموږ ټول (هغه نه (٩) معجزې چي موږ موسى عليه السلام ته وركړي وې (٤) ﴿ فَأَخَذْنَٰهُمْ أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴾ نوونيول موږ دوى په نيولو دذات دېرغالب او قادرسره (چي په درياب كي موغرق كړل دغه دداسي غالب ذات عذاب ووچي د دوى په هلاكولو ښخي قادراوهيڅوک بې مغلوبولاى نشي وروسته دمكې كفاروته داسي تخويف او وېرونه وركوي فرمايي ﴿ أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُوْلَٰٓئِكُمْ ﴾ آياستاسي كفار(اى عربو) غوره دي له ړومبنيو (كفارو) دتاسي څخه) استفهام انكاري اولپاره دتوبيخ اوتقريع دى يعني اى عربوستاسوكفار ترهغو ړومبنيو چي زموږ عذاب وربandi نازل شوى لكه دنوح، عاد ،لوط، اوفرعون قومونوغوره دى چي عذاب به نه وركوم؟ قرطبي وايې استفهام انكاري اومعنابې نفى ده يعني ستاسوكفاروترهغو پخوانيوكفارو چي په كفر هلاک شوي غوره نه دي (٥) ﴿ أَمْ لَكُم بَرَآءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴾ اياتاسي ته حكم د خلاصي دى په (ړومبنيو آسماني) كتابونوكي (كوم چي په انبياوو رانازل شوي دي؟) ﴿ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴾ (آيا وايې دوى (چي)موږ يوټولى مرستي كونكي يوله بل سره بدل

---

(١) دصاوي حاشيه ٤ /١٥٠

(٢) امام رازي تفسير٧ /٨١٠

(٣) دابو السعود تفسير ٥ /١٧٨

(٤) قرطبي وايې چي هغومعجزودالله په توحيداودموسى عليه السلام په نبوت دلالت كاووهغوى عبارت وې له لكړي، يدبيضا، كاختي، طمس محو، طوفان، ملخان، قمل حشرات، چنګښي اووينې.

(٥) دقرطبي تفسير ١٧ /١٤٥

اخیستونکي ؟) یعني بلکه دوی وایې موږ ډیر یو په خپل قوت او کثرت باندي باوري یو په پیغمبر غبنتلي یو الله ددوی په رد کي فرمایي ﴿ سَيُهْزَمُ ٱلْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ﴾ ژر دی چي ماته به کړی شي جمع ددوی او وبه ګرزوي دوی شاوي خپلي (مسلمانانو ته له جنګه مات شوي ,ابن جوزي وایې دا هغه غیبي معلومات او څرګندوني دي چي الله یې خپل نبي ته وایې او دغه شکست د بدر په ورځ وو(۱)) ﴿ بَلِ ٱلسَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ ﴾ (دغه قتل او ماتي دوی ته کافي نه دي) بلکه قیامت دی ځای دوعدې (دعذاب) ددوی ﴿ وَٱلسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴾ او قیامت ډیر سخت دی تر قتل او بند (چي قیامت هیڅ علاج نلري) ﴿ إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى ضَلَـٰلٍ وَسُعُرٍ ﴾ (بېشکه ګنهګاران په ګمراهي او اور ګرم (ددوزخ او لېونتوب) کي دی) یعني مجرمین په دنیاکي په حیرانتیا او په آخرت کي په ګرم بلېدونکي اور کي دي ابن عباس وایې معنادا چي په خسران او لېونتوب کي دي(۲)) ﴿ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِى ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ﴾ هغه ورځ چي راکش کړل به شي دوی په اور (د دوزخ) کي په مخونو ددوی (وبه ویل شي دوی ته زجراً چي ددوی ذلت وشي) ﴿ ذُوقُوا۟ مَسَّ سَقَرَ ﴾ (وڅکئ تاسي مزه دمس کولو (رسېدلو) (داور) ددوزخ یعني ای دروغجن ګڼونکو د جهنم عذاب وڅکئ. ابو حیان وایې چي سقر د جهنم نوم ځکه نو غیر منصرف دی (۳)) ﴿ إِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنَـٰهُ بِقَدَرٍ ﴾ بېشکه موږ هر شی پیدا کړی مو دی (په ازلي) اندازه سره (چي په لوح محفوظ کي لیکل شوي) ﴿ وَمَآ أَمْرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٌ كَلَمْحٍۭ بِٱلْبَصَرِ ﴾ او نه دی امر زموږ (یو شي لره چي اراده مو کړي ده دهغه د پیداکولو) مګر (امر) یو ځل لکه رپول د سترګو (په چټکتیاکي)چي ورته وو ایو (موجود) شه نو (موجود) شي. ابن کثیر وایې معنادا چي موږ یو ځل یوڅېز ته امر کوو دوهم ځل تأکید ته اړتیانشته نو سمدستي د سترګو په رپ کي هغه موجود شي (۴)) ﴿ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَآ أَشْيَاعَكُمْ ﴾ او (قسم دی) خامخا په تحقیق هلاک کړی وو موږ مشابه نظائر ستاسي (په کفر او ضلالت کي له پخوانیو اُمتونو څخه) ﴿ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾ نو آیا شته څوک یادونکی پند اخیستونکی ؟ ﴿ وَكُلُّ شَىْءٍ فَعَلُوهُ فِى ٱلزُّبُرِ ﴾ او هر هغه شی چي هغوی کړی دی (لیکل شوی دی په پاڼو) داعمالنامو ددوی کي . ابن زید وایې (في الزبر) معنادا چي د پرښتو په لیکل شویو دفترونو د یوانونو کي ﴿ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴾ او هر وړوکی او لوی (عمل که خیر وي که شر) لیکلی شوی دی (په لوح محفوظ کي) ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّـٰتٍ وَنَهَرٍ ﴾ بېشکه متقیان به په جنتونو او ویالو کي وي قرطبي وایې یعني داوبو, شرابو ، شاتو او د شیدو ویالي ﴿ فِى مَقْعَدِ صِدْقٍ ﴾ په مجلس

(۱) ابن الجوزي ۸ /۱۰۰
(۲) روح المعاني ۲۷/۹۳
(۳) دابو السعود تفسیر ۵ /۱۷۹
(۴) المختصر ۳ /۴۱۴

(حق) رښتيا د جنت (ښکلي او په زړه پوري ځای کي) ﴿ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴾ په نزد د با چالوی قدرت لرونکي (چي هيڅوک يې نشي عاجزولای او هغه الله او رب العالمين دی.

بلاغت:

پدې سورت کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډون يې دادی:

۱ - تمثيلي استعاره چي فرمايي: ﴿ فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴾ دلته يې په شېبوشېبوله وريځي څخه د باران او رښت له او چتو آسماني دروازو څخه د ويالو له راخلاصولو او پرانستلو سره مشابه کړاو بيايې د ورباندي د زرغونې ځمکي لمن ځېرل د تمثيلي استعارې په توګه راوړل

۲ - اشتقاقي جناس لکه ﴿ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ نُّكُرٍ ﴾.

۳ - کنايه چي کله فرمايې: ﴿ وَحَمَلْنَاهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ ﴾ دغه له هغي بېړۍ څخه کنايه ده چي په تختو او مېخونو باندي جوړه وه.

۴ - مرسله مجمله تشبيه لکه پدې آيت کي ﴿ تَنزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴾ او بل مثال يې ﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَاحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴾.

۵ - د مبالغې صيغه چي وايي ﴿ أَؤُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِن بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴾ يعني خورا زيات دروغجن او زيات متکبر څکه چي فعال او فعيل د مبالغې لپاره وي.

۶ - اطناب د (السَّاعَةُ) لفظ په تکرار سره لکه داچي ﴿ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴾ ترڅو چي زيات تخويف او تهويل افاده کړي

۷ - د مقابلې صنعت چي د مجرمينو او متقينو ترمينځ راغلی چي الله جل جلاله فرمايي ﴿ إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴾ او بيا ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴾ راځي

۸ - طباق لکه د ﴿ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ ﴾ ترمينځ چي راغلی دي.

۹ - مرصع سجع چي بې تکلفه او د لفظ په ښکلا او آهنګ کي زياتوالی راولي د الله جل جلاله دا قول ولوله: ﴿ يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴾ ترپايه.

د الله په مرسته د سورة (القمر) تفسير بشپړ شو.

***

دالرحمن سورت مدني او اته او يا آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالرحمن سورت له مدني سورتونوڅخه يو دی هغه چي دعقيدې اصول ښيي او لکه ناوي غوندي دګردو سورتونو په مينځ کي ښکلی دی په حديث شريف کي راغلي چي هرشی ناوي لري او دقرآن ناوي دالرحمن سورت دی.

دسورت پيل دالهي نعمتونو په يادولو کيږي کوم چي شمېرل او ګڼل يې ممکن نه دي اودنعمتونو په سرکي دقرآنکريم دزده کړي نعمت دی هغه چي آن دانسان ترپيدا ينبت لا هم ړومبی يادشوی دی چي ﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ ۝١ عَلَّمَ ٱلْقُرْءَانَ ۝٢ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ ۝٣ عَلَّمَهُ ٱلْبَيَانَ ﴾ راغلي.

وروسته سورت دهغو موجوداتو چي دالله په سترونعمتونو ګويا او شاهدي ورکوي نومونه اخلي چي لمر، سپوږمی، ستوري، وني، بې ستني اوچت آسمان او هغه څه عجائبات دقدرت اودصنعت نوادرات چي پکي شتون لري بيانوي بيا وروسته ځمکه او هغه مېوې، کښتونه، فصلونه، چي دبشرلپاره الله روزي تياره کړي يادوي ﴿ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۝٥ وَٱلنَّجْمُ وَٱلشَّجَرُ يَسْجُدَانِ ﴾ دآيتونو ترپايه

بيا سورت دالهي قدرت هغه سترد لائل راوړي چي دافلاکو په څرخولو اودستروبېړيو چي دسيند په مخ لکه غرونه غوندي غښتي دي روان دي موجود دي الله فرمايي ﴿ وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ﴾. له دغه ځغلنده کتني وروسته کله چي دغه کائنات پوپناکيږي اودمرګ وږو نکي انځور ورباندي غوړيږي يوازي (الحی القيوم) ذات به تل ترتله وي هله فرمايي ﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝٢٦ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾.

سورت دقيامت کړاوونه راوړي اودمجرمينو حال احوال بيانوي چي څومره سختي او زحمتونه به يې په برخه وي ﴿ يُعْرَفُ ٱلْمُجْرِمُونَ بِسِيمَٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِٱلنَّوَٰصِى وَٱلْأَقْدَامِ ﴾ دآيتونو ترپايه

له دې په وروسته چي دکفارو له عذاب څخه پرده پورته کړي بيا په يوڅه تفصيل سره دهغو نعمتونو يادونه کوي کوم چي متقيانوته الله جل جلاله ورېښلي او په جنات النعيم کي به وي کله چي دوی هلته له حوروا و غلمانو سره اوسي نو فرمايي ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴾ دآيتونو ترپايه.

دسورت پای دالله جل وعلا په تمجيد او ثنا سره کيږي چي پخپلو بندګانو يې څومره زيات ډول ډول انعامونه، اکرامونه کړي دي او دغه دسورت الرحمن مناسبه خاتمه ده ﴿ تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ همداسي پيل او پای په ښايسته پېيلتوب او خوندوراندازکي راغلی دی!

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ٱلرَّحْمَٰنُ (١) عَلَّمَ ٱلْقُرْءَانَ (٢) خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ (٣) عَلَّمَهُ ٱلْبَيَانَ (٤) ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ (٥)
وَٱلنَّجْمُ وَٱلشَّجَرُ يَسْجُدَانِ (٦) وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلْمِيزَانَ (٧) أَلَّا تَطْغَوْا فِى ٱلْمِيزَانِ (٨) وَأَقِيمُوا ٱلْوَزْنَ
بِٱلْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا ٱلْمِيزَانَ (٩) وَٱلْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ (١٠) فِيهَا فَٰكِهَةٌ وَٱلنَّخْلُ ذَاتُ ٱلْأَكْمَامِ (١١) وَٱلْحَبُّ
ذُو ٱلْعَصْفِ وَٱلرَّيْحَانُ (١٢) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (١٣) خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ كَٱلْفَخَّارِ (١٤)
وَخَلَقَ ٱلْجَآنَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ (١٥) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (١٦) رَبُّ ٱلْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ ٱلْمَغْرِبَيْنِ (١٧) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (١٨) مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ (١٩) بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ (٢٠) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٢١) يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ
وَٱلْمَرْجَانُ (٢٢) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٢٣) وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ (٢٤) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
(٢٥) كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ (٢٦) وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ (٢٧) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٢٨) يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ (٢٩) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٣٠) سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ (٣١) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
(٣٢) يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ إِنِ ٱسْتَطَعْتُمْ أَن تَنفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ فَٱنفُذُوا لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَٰنٍ (٣٣)
فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٣٤) يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ (٣٥) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٣٦)
فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَٱلدِّهَانِ (٣٧) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٣٨) فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٌ وَلَا
جَآنٌّ (٣٩) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٤٠) يُعْرَفُ ٱلْمُجْرِمُونَ بِسِيمَٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِٱلنَّوَٰصِى وَٱلْأَقْدَامِ (٤١) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٤٢) هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِى يُكَذِّبُ بِهَا ٱلْمُجْرِمُونَ (٤٣) يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ ءَانٍ (٤٤) فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ
(٤٥)﴾ الرحمن: ١ ــ ٤٥

لغتونه:

(بحسبان) حسبان مصدر او لکه غفران او کفران دغسي وزن لري معنایې حساب دی (الأنام) خلګ او په ځمکه اوسېدونکي خوځېدونکي بولي (العصف) زرغونه پاڼه چي کله وچه شي (ريحان) هروابڼه چي خوشبويي درلونکي وي ريحان باله شي (مارج) هغه لمبې چي په اور د پاسه دی. ليث وايې چي دا هغه اوچتي لمبې او شغلې دي چي له سځته اوره راپاڅېږي ([1]) (الجوار) د جارية جمع او بېړۍ ته وايې (جارية) يې ځکه بولي چي دا وبو په مخ درومي روانه وي (الأعلام) د علم جمع او علم اوږده غره ته وايې شاعر وايې (اذا قطعن علما بدا علمٌ) کله چي يو غربه بې وواهو بل به پيدا شو (تنفذوا) له يو څېز څخه په منډه وتلو ته (نفوذ) وايې (شواظ) هغه سرې لمبې چي لوګی, دود ورسره نه وي (الدهان) سور پوستکی (آن) له ډېره حرارته ايشېدونکي ته (آن) وايې.

([1]) د قرطبي تفسير ١٧/ ١٧١

تفسیر:

﴿ اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ﴾ رحمان ښودلی دی قرآن (او آسانه کړی یې دی لپاره دیادولو او فهمولو،
مقاتل وايي کله چي دالله جل جلاله داقول نازل شو چي: ﴿ اُسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ ﴾ نو دمکې کفارو وويل رحمان
څوک دی؟ له هغه څخه یې انکار وکړاوویې ویل چي موږ رحمان نه پېژنو نوالله تعالی وفرمایل
:(الرحمن) هغه چي ترې انکار کوي هغه ذات دی چي ﴿ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ﴾ او خازن وايي الله جل جلاله خپل
ورکړي نعمتونه بندګانو ته بیانوي او ترګردو ستر نعمت چي قرآن مجید دی ړومبی را اووړ دغه سپېڅلی
کتاب دالله تر ټولو ستره وحی ده چي خپلو پیغمبرانو ته یې رالېږلی او داولیآء الله په نزد تر ټولو اشرف
او داوچتي مرتبې درلودونکی دی دغه مقدس کتاب په دین کي خوراغېزمن باب او دالهي کتابونو
تر ټولو غوره کتاب دي چي په انبیاء علیهم السلام کي ترګردو په غوره نبي باندي راتازل شوی
دی[۱] ﴿ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ﴾ پیدا کړی یې دی انسان (اوریدونکی، لیدونکی، ګرځېدونکی مراد له انسان
څخه یې جنس دی ﴿ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴾ بیایې ورښودلی بیان خبري (چي دزړه مقصدونه یې پرې اداکېږي
او له ګردو حیواناتو څخه وربانديي متمیزدی. بیضاوي وايي چي مقصد له دې څخه دالله دنعمتونو شمېرل
دي ترڅو یې انسان شکر پر ځای کړي او داچي دقرآن زده کړي یې دانسان ترپیدا ایښت لاهم ړومبی ذکر کړه
څکه چي هغه دګردودیني نعمتونو بنسټ دی نو هغه تر ټولو غوره او داهمیت وړ دی[۲] ﴿ اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ
بِحُسْبَانٍ ﴾ لمر او سپوږمۍ (جاري اوروان) دی په حساب سره (په خپلو بروجو کي
دبندګانو د مصلحتونو لپاره له یو ځایه بل ته لېږدي. ابن کثیر وايي معنا داچي په دقیق حساب سره یو په
بل پسي رادرومي نه پکي څه اختلاف راځي او نه هم اضطراب [۳] ﴿ وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدَانِ ﴾ او
ونې او وني سجده کوي دوی دواړه دالله حکم ته غاړه ایښودونکي دي ستوري له یو برج څخه بل ته په
لېږدېدلو او وني په مېوې راوړلو سره[۴] ﴿ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ﴾ او آسمان پورته کړی دی
(الله) هغه (په څمکه باندي) او ایښی یې ده تله دمېزان (دعدل په دنیاکي څو چي هرچاته خپل حق په
ورکړه راکړه کي ورسېږي) ﴿ اَلَّا تَطْغَوْا فِى الْمِيْزَانِ ﴾ لپاره ددې چي ونکړی تاسي تېری په مېزان تله
(دعدل) کي ﴿ وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ ﴾ او برابروي تول په انصاف سره ﴿ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ﴾ او مه

---

(۱) خازن تفسیر ۴/ ۲۴

(۲) دشیخ زاده حاشیة ۳/ ۴۲۷

(۳) دابن کثیر مختصر ۳/ ۴۱۵

(۴) خرګندله (النجم) څخه دآسمان ستوري او دغه دمجاهد وینا او دابن کثیر غوره دی ابن عباس رضی الله عنه وايي چي مراد له (نجم) څخه هغه نباتات دی چي تنه نلري (ویرپراته وی) څکه چي د(الشجر) په مقابل کي راغلی دی او دغه قول ابن جریر غوره کړی خولومړی اظهر دی.

کموئ مېزان تلل (په تول کي کمی مکوئ) لکه چي الله فرمايي ﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴾ (المطففين:١)
﴿ وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ﴾ او ځمکه غوړولې ټيټه کړې ده (الله) لپاره دخلګو(چي ورباندي واوسي اوله محصولاتو يې ګټه واخلي. ابن کثيروايي معنادا چي په ستروغرونو يې ټينګه کړې ترڅو ورباندي دالله ډول ډول مخلوقات چي مختلف اشکال او الوان لري ودان اوواوسي (١) ﴿ فِيهَا فَٰكِهَةٌ ﴾ پدې ځمکي کي (ډول ډول) مېوې دي ﴿ وَٱلنَّخْلُ ذَاتُ ٱلْأَكْمَامِ ﴾ او خرماګاني دي خاونداني د پوښو (هغه چي مېوه ترې راوزي. ابن کثيروايې په ځانګړي توګه يې خرمايادکړه ځکه چي شرافت لري اوګټه وره ده وچه اولمده خوړلی شي. ابن عباس رضي الله عنهما وايې چي اکمام هغه پوښونه دي چي وښکي ترې راوزي او بياتروې خرماوي، ورپسي رطب (تازه) اوبياوروسته بېخي پخې شي(٢) ﴿ وَٱلْحَبُّ ذُو ٱلْعَصْفِ وَٱلرَّيْحَانُ ﴾ (اوپدې ځمکه کي دي ډول ډول داني) خاونداني دوښواو(خاونداني) دښووږمو (خوشبويه) يعني په ځمکه ډول ډول غلې داني راټوکېږي چي پروره لري لکه غنم، اوربشي اوهمداسي بوټي اوداني هم وي چي خوشبويي لري لکه دګلاب او ياسمين ګل اوداسي نور. په البحرالمحيط کي وايې چي الله تعالی لومړی دفاکهې يادونه وکړه اونکره يې ذکرکړه ځکه په هغې پخپله ګټه اخيستل کېږي اوبيايې دخرمايادونه وکړه چي دمېوې نوم يې نه واخيستل ځکه چي هغه سراسرګټوره ده پټوکي يې، بنې يې، وښکي اومېوه يې ورپسې يې غلې داني راوړې چي دانسان ژوندپه همدې دی لکه غنم، اوربشي، جوار اوګردهغه خوشبويه نباتات يې هم په پای کي راوړل چي پيل په فاکهه اوپای په خوشبويه ورمه وشي تول هغه څه چي غذا اوياهم لذت وي راوړل شوورپسې چي کله ددغو نعمتونو يادونه وشوه نوانسانانو اوپېريانانو ته داسي خطاب دی ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يو نعمت دنعمتونو درب دتاسي دروغ وايی؟ (ای انسانانو، پېريانانو اوترې منکرېږی بلکه نشي کېدای) آياد الله نعمتونه دومره ډېرنه دي چي شمېرل کېږي نه؟ ابن عمر رضي الله عنهما وايې رسول الله دالرحمن سورت خپلو اصحابانو رضي الله عنهم ته ولوست هغوی چپ شول نورسول الله ﷺ وفرمايل: ولي پېريان ترتاسو الله ته ښه ځواب ورکونکي وو ماچي به هم کله هم دغه آيت ورته لوست چي ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ نودوی به ويل: (موږستاله نعمتونو په هيڅ څېزباندي دروغ نه وايو ثناتالره ده)(٣) له دې په وروسته الله جل جلاله دخپل قدرت دلائل داسي يادوي چي ﴿ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ كَٱلْفَخَّارِ ﴾ پيداکړی دی (الله) انسان (آدم) له ختي کړنګېدونکي وچي څخه په شان دکودري. مفسرين کرام وايې: الله تعالی پدې سورت کي دانسان پيدابنت داسي ذکرکړی چي ﴿ مِن صَلْصَٰلٍ كَٱلْفَخَّارِ ﴾ اوپه سورت الحجرکي راوړي چي: ﴿ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴾ يعني له توري متغيري ختي څخه په صافات کي بياداسي

(١) مختصرابن کثير ٣/ ٤١٢.
(٢) مختصرابن کثير ٣/ ٤١٢
(٣) أخرجه الترمذي وصححه الحاكم.

فرمايي ﴿ مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴾ يعني سرېښناكي ختې په آل عمران كي بيا راځي چي ﴿ كَمَثَلِ ءَادَمَ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٍ ﴾ (آل عمران ۵۹) خوددې ترمينځ كوم اختلاف نشته ځكه الله هغه د ځمكي له خاوروڅخه اخيستى په اوبوېې اغښلې چي خټه جوړه شوي اوسرېښناكه شوي بيايې پرې ايښى ترڅوتوره بوينه متغيره خټه شوي او بيايې انځورنه شوي لكه چي دلوښوجوړول كېږي بياداسي وچ شوى لكه چي كودرى وي كوم وخت چي يې وكړنګوي غږكوي نودلته يې هغه وروستۍ مرحله راوړل شوي ده(۱) ﴿ وَخَلَقَ ٱلْجَآنَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴾ اوپيداكړى دى (الله) (پلارد) پېريانو(ابليس) له خالصي شغلې داورڅخه (چي لوګى پكي نه وو. مجاهدوايې (مارج) هغه لمبه ده چي داورتوروالى پكي ګډوي په حديث شريف كي راځي چي پرښتې له نورڅخه پيداشوي اوجان (ابليس) له خالصي شغلې څخه اوآدم (عليه السلام) له هغه څه نه چي (په قرآن كي) ذكرشوى دى (۲) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په كوم يونعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وايې (اوترې منكرېږى اى انسانانواوپېريانانو؟ ابوحيان وايې تكرارپه دغوفواصلوكي لپاره دتاكيداوتنبيه دى چي خوځښت او هڅونه افاده كوي اوابن قتيبه وايې چي دغه تكراردنعمتونوله مختلف والي سره تړون لري هركله چي يونعمت ذكركړي بياورسره راوړي چي ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ اودغه آيت دسورت په اوږدوكي يودېرش ځلي ذكرشوى دى استفهام پدې آيت كي دتقريع اوتوبيخ لپاره دى ﴿ رَبُّ ٱلْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ ٱلْمَغْرِبَيْنِ ﴾ رب ددواړومشرقونو (دلمراوسپوږمۍ اورب دى ددواړومغربونو (دلمراوسپوږمۍ)كله چي يې شمس اوقمرپه دې كلام كي چي ﴿ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴾ دى راوړل ورپسې دلته وفرمايل چي الله ددوى دمغرب اومشرق رب دى ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په كوم يوه نعمت دنعمتونودرب دتاسي دروغ وايې(او منكرېږى ترې اى انسانانواوپېريانانوبلكه نشى كېداى) ﴿ مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ﴾(بهولي يې دي دوه بحرونه چي يوځاى ښكارېږي)دوه بحرونه عبارت له تروواوخوږوڅخه دى چي ځنګ په ځنګ روان او نه سره ګډېږي ﴿ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ﴾ په مينځ ددواړوكي يوه پرده (دقدرت) ده چي نه ګډېږي يوپه بل باندي. ابن كثيروايې مقصدله بحرونوڅخه تروه اوخواږه دي تروه دغه سيندونه دي اوخواږه بيانهرونه (رودونه) چي په سېموكي بهېږي اوالله ددوى ترمينځ دمځكي پرده غوړولي چي يويې پربل تجاوزونشي كړاى اويوبل ته تاوان ونه رسولاى شي (۳) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په كوم يوه نعمت دنعمتونو درب دتاسي درواغ وايې او منكرېږى اى انسانانواوپېريانانو؟ ﴿ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ راوزي له دې دواړوڅخه لؤلؤ اومرجان (لكه چي راوزي له خاوروڅخه عصف اوريحان. الوسي وايې لؤلؤ دملغلرو

---

(۱) دشيخ زاده حاشيه ۳ /۴۳۰

(۲) صاوي په جلالين باندي ۴ /۱۵۴

(۳) دابن كثيرمختصر ۳ /۴۲۷

کوچني ډول ته وايي اومرجان يې هغه غټوته دغه دابن عباس ﷺ تعريف دی اوابن مسعود ﷺ وايي چې مرجان هغه تکې سرې دانې بولي (١) په آيت شريف کې دالهي مصنوعاتو دعجائبوبيان دی چې له ترواوبوڅخه ډول ډول ګاڼې اوزينتي شيان راباسي لکه ملغلرې، ياقوت اومرجان فسبحان الله الواحدالمنان ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو درب دتاسي دروغ وايي اومنکرېږی ترې ای انسانانواوپېريانانو(بلکه نشي کېدای) ﴿ وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَـٰمِ ﴾ اوخاص دغه (الله) لره دي بېړۍ تلونکي نوي پيداکړی شوي لوړې اوچتې په بحرکې لکه لوی اوچت غرونه . قرطبي وايي چې د(اعلام) معنااوږده غرونه دي بېړۍ په درياب کې لکه غرونه په ځمکه کي داسي ايسي ، د امتنان وجه داده چې دريابونه اواوبه يې له دې سره سره چې لطيف مائع جسم دی خوبياهم دالله په قدرت ددغه بحرپه مخ باندي درنې بارشوي بېړۍ چې رزق روزي غلې دانې اودسوداګرۍ توکي پکي باروي له يوه ځايه بل ځای ته په آساني درومي، شيخ زاده ليکي: پوه شه چې دګردوشيانو بنسټ له څلوروڅيزوڅخه دی؛ خاوره ، اوبه، هوا، اواور نوالله پدې وبناچې ﴿ خَلَقَ ٱلْإِنسَـٰنَ مِن صَلْصَـٰلٍ ﴾ دی دخپل مکرم اوشريف مخلوق آر(اصل) وښوداوپدې وبناچې ﴿ وَخَلَقَ ٱلْجَآنَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴾ سره يې دبل عجيب الشان مخلوق پېري اصل وښود او پدې وبناچې ﴿ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ يوبل مخلوق چې دقدراوارزښت وړدی بيان کړورپسې يې ددې يادونه وکړه چې هواهم ستري اغېزې اولوی تاثيرات لري چې دغرونوپه شان بېړۍ داوبو په سرله يوځايه بل ځای ته بيايې نويې وفرمايل : ﴿ وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَـٰمِ ﴾ اوپه ځانګړي توګه يې دبېړيو ذکروفرمايوځکه دبېړيو په روانولو کي دبشرواک نشته اودوی پدې اعتراف کاووچي ويل به يې (لک الفلک ولک الملک) يعني تا لره بېړۍ اوتالره پاچهي ده کله چې به له غرقېدلواو ډوبېدلو وېرېدونويوازي الله ته به يې زارۍ جګې کولې ﴿ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾ (٢) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت دنعمتونو درب دتاسي دروغ وايی (او منکرېږی ترې ای انسانانو اوپېريانانو بلکه نشي کېدای ﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴾ ټول هغه څوک چې پدې (ځمکي) کي دي (له انسانه او حيوانه)فاني کېدونکي دي (وبه مري) ﴿ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو ٱلْجَلَـٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ اوباقي به پاتي شي ذات درب ستاچې خاوند دجلال لويي (اوخاوند) دعزت ورکولو عظمت فضل اواحسان دی لکه چې الله فرمايي ﴿ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ﴾ (القصص:٨٨) ابن عباس ﷺ وايي (وجه الله)عبارت دالله جل جلاله له دائم اوباقي ذات څخه دی . قرطبي ليکي چې دنعمت وجه په مړينه کي دغه تسويه اوبرابري ده اوپه مرګ سره له دارالفناء څخه دارالبقاء ته لېږدېدل دي هلته چې داردثواب اوجزاء

(١) روح المعاني.
(٢) دشيخ زاده حاشيه ٣ / ٤٣٠.

دی(١) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونو درب د تاسي دروغ وايې؟!
(او منکرېږی ترې؟ ای انسانانو او پېريانو بلکه نشي کېدای ﴿ يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ سوال
غوښتنه کوي له دغه (الله) څخه (درزق ، مغفرت او نوروا ړتياوو) هرهغه څوک چي په آسمانونو
او ځمکي کي دی (په لسان حال يا قال سره) ﴿ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ ﴾ هره ورځ هر وخت دی په يوه کار کي دی
(د مخلوقاتو ، ځينو ته مغفرت کوي د چاړتياوي پوره کوي ځيني لوړوي او ځيني ټيټوي . مفسرين کرام
وايي داهغه شئون دي چي خلګوته يې څرګندوي هسي نه چي يې پيدا کوي ځکه چي قلم
د ټولو شيانو له ليکلو څخه کوم چي شوي او يا تر قيامته کېږي وزګار شوي او وچ شوي دي . الله تعالی
ځيني قومونه اوچتوي او ځيني چي ورته يې خوښه شي ټيټوي او ذليل کوي يې ناروغه ته روغتيا وربښي
او روغ رمټ سړی ناروغه کوي ، ذليل ته عزت ورکوي او عزيزته ذلت ، بډای ناداره کوي او فقير ته بډايي
وربښي ، مقاتل وايي : دغه آيت د يهودانو په هکله نازل شوی دوی به ويل : الله جل جلاله د شنبې (خالي)
په ورځ هيڅ فيصله نه کوي نو الله د دوی ترديد وفرمايو او دا ياد شوي آيت نازل شو (٢) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت د نعمتونو درب د تاسي دروغ وايی (او منکرېږی ترې ای
انسانانو او پېريانو بلکه نشی کېدای) ﴿ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ ﴾ ژر دی چي فارغ وزګار به شو موږ
(او قصد به وکړو حساب د) تاسي ته ای دوو درنو قبيلو (د انسانانو او پېريانانو) ابن عباس ﷺ وايي :
دغه د الله ﷻ له لوري بندګانو ته وعيد دی او الله خو مشغول نه دی وزګار دی (٣) په البحر کي ليکي : يعني
موږ به ستاسو په امورو کي د قيامت په ورځ کتنه وکړو هسي نه چي الله په کوم شغل لګيا دی چي ترې
فارغ شي ,دغه د عربو د هغي وينا په څېر دی کله چي يو څوک بل ته اخطار ورکوي ورته وايي ژر دی چي زه
به د روزګار شم ستا د انتقام لپاره به له ګردو هغو کارونو چي ما مشغولوي ځان در خلاص کړم (٤) بيضاوي
وايي : معنا دا چي زه به د قيامت په ورځ ستاسي حساب او جزا ته ځان فارغ او خلاص کړم او پدې کي هغه
تهديد شته چي ستا له دغي وينا څخه استعاره شوی کله چي يو څوک تهديدوي ورته وايي ژر دی چي
درفارغ به شم ځکه يو څوک چي کوم کار ته وزګار او فارغ وي بيا ورباندي زيات زورور او غښتلی
پياوړی وي او (ثقلان) بيا انسان او پېري ته وايي ځکه يې (ثقلان) بولي چي په ځمکه باندي درانه
دي (٥) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه له نعمتونو درب ستاسي دروغ وايی (او منکرېږی
ترې ای انسانانو او پېريانانو بلکه نشي کېدای) ﴿ يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ إِنِ ٱسْتَطَعْتُمْ أَن تَنفُذُوا۟ مِنْ أَقْطَارِ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ فَٱنفُذُوا۟ ﴾ ای ټوليه د پېريانانو او انسانانو که چېري قدرت لری تاسي چي بهر ووزی

---

(١) د قرطبي تفسير ١٧/ ١٢٥
(٢) د الوسي تفسير ٢٧/ ١١١
(٣) د ابن کثير مختصر ٣/ ٤١٩
(٤) البحر المحيط ٨/ ١٩٤
(٥) د بيضاوي تفسير ٣/ ٤٣٢

(وتبنتی) له څنډو دآسمانونو او (له څنډو) دځمکي نه پس ووزئ) امر دلته دتعجیز لپاره دی یعني که کولای شی (دالله له قضاء او قدر څخه وتبنتئ نو ووزئ او ځانونه دالله له عذابه وژغورئ ﴿ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَٰنٍ ﴾ وبه نه وزئ وبه نه تبنتئ تاسي مګر په قوت اوزور سره (چي هغه تاسو سره چېرته دی ؟ بلکه نه یې لری) ابن کثیر وایي :دآیت معنادا چي تاسو دالله له حکم او قدر څخه تښتېدلای نشی بلکه (قدرت د) الله پر تاسو باندي محیط دی چي خلاصون نلری او نشی کولای چي له حکمه یې خلاص شی هرچېري چي ولاړشی الله پر تاسو را ګرزېدلی دی دغه دحشرګاه په میدان کي کله چي پرښتې په مخلوقاتو باندي اوه صفونه را ګرزېدلي وي نو هیڅوک نشي کولای له دې ځایه بهر ووزي مګر دالله په امر او اراده سره ﴿ يَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ ٱلْمَفَرُّ ﴾ (القیامة:۱۰)[۱] او دغه به په قیامت کي وي په دنیا کي نه دی او دلیل یې دالله جل جلاله داقول دی چي فرمایي ﴿ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ ﴾ [۲] ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم یوه نعمت له نعمتونو درب دتاسي دروغ وایی (او منکرېږی ترې ای انسانانو او پېریانانو بلکه نشی کېدای ﴿ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ ﴾ وبه لېږلی شي په تاسي باندي خالصي لمبې داور (په ورځ دقیامت کي) ﴿ وَنُحَاسٌ ﴾ او ویلي شوي ژېړ (چي ستاسو په سرونو به توئېږي . مجاهد وایي دنحاس معناهغه معلوم ژېړدي چي ددوی په سرونو به دقیامت په ورځ توئېږي او ابن عباس ﷺ وایي چي (نحاس) هغه لوګی دی چي لمبې پکي نه وي د مجاهد قول څرګند دی ﴿ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴾ بیا به تاسي یو له بله مدد نشی کولای (چي دالله له عذابه سره وژغوروي) ابن کثیر وایي دآیت معنادا چي که تاسو دقیامت په ورځ وتښتی نو د جهنم څوکیداراو نوري پرښتې به مو داور په لمبو او ویلي شوي ژېړو باندي بیرته را وګرزوي بیا به تاسو کوم مرستندوی و نه مومی[۳] ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم یوه نعمت دنعمتونو د رب دتاسي دروغ وایی (او منکرېږی ترې ای انسانانو او پېریانانو بلکه نشي کېدای) ﴿ فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ ﴾

---

(۱) دابن کثیر مختصر ۳ / ۴۱۹

(۲) متأخرینو پدې وروستیو ختونوکي ددې آیت دتفسیر په هکله کجروي کړي او ګمان یې کړی چي انسان کولای شي آسمانونو او ستوروته وخېژي او د (سلطان) تعریف یې په علم کړی دی او دغه دمفسرینو له وینا او څخه مخالفه او دآیت سباق او سیاق یې تردیدوي څکه چي آیت شریف دقیامت ذکر او ونو په باب دی دلیل یې دالله هغه وینا ده چي تردې د مخه تېره شوې ﴿ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ ﴾ او له دې وروسته بیا هغه وینا چي ﴿ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ ﴾ او د مفسرینو پدې اتفاق دی چي دغه ګردشیان به په آخرت کي وي، مونږ له دې څخه منکر نه یو چي د انسان ختل په توغندیو او نویو مخترعاتو باندي سپوږمی ته ممکن دي چي دځمکي په خوا وشا دي وګرزي او په هوا کي دي لوړشي خونشي کولای چي آسمان ته دي ورسېږي خکه الله جل جلاله هغه محفوظ چت (بام) جوړ کړی دی مګر سپوږمی او نور تول ستوري ددنیا تر آسمان را ښکته دي هغوی ته رسېدل ممکن دي خو مونږ هغه چاته تعجب کوو چي په قرآنکریم باندي پرته له پوهي او فهمه یرغل کوي او پخپله رایه یې تفسیربیانوي دمعتمدو مفسرینو اقوالو ته رجوع نه کوي وګوره درابطة العالم الاسلامي مجله کال : ۱۳۸۹ چي مونږ هلته سپوږمی ته دختلو په باب تفصیلي مقاله لیکلی ده.

(۳) دابن کثیر مختصر ۳ / ۴۱۹

بیاکله چي وچوي خیري شي آسمان (چي پرښتې ترې راښکته شي اوپه خلګوباندي له هره لوري راوګرزي) ﴿ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴾ نووبه ګرزي اسمان ګل سوررنګ (داورله تودوخي) لکه سرې څرمني، دغه دابن عباس ﷺ ویناده اودغه به ددې ستري ورځي له شدت اوسختي څخه وي ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم یوه نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وایې (اومنکرېږی ترې ای انسانانو او پېریانانوبلکه نشی کېدای) ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْئَلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٌ وَلَا جَآنٌّ ﴾ نوپه دغه ورځ (دچاودېدلوخیرېدلودآسمان) نه به پوښتېدل کېږي له ګناه ددوی نه) له انسانانو اونه له پېریانانو(ځکه چي دګناهګارنښې به څرګندي وي لکه توروالی دمخ اوشین والی دسترګویې امام فخررازي لیکي هیڅوک به له ګناه نه پوښتل کېږي چي ورته وویل شي آیاته ګنهګاریې که بل څوک؟ یاګنهګارڅوک دی؟ بلکه ګردبه دمخونوپه توروالي اونورونښوپېژندل کېږي (۱) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم یوه نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وایی اومنکرېږی ترې (ای انسانانو او پېریانانوبلکه نشی کېدای) ﴿ يُعْرَفُ ٱلْمُجْرِمُونَ بِسِيمَٰهُمْ ﴾ پېژندل کېږي ګنهګاران (کافران) په علائمونښوددوی سره (په ورځ دقیامت هغه داچي دوی به په خفګان کي نغښتي وي. حسن رحمه الله وایې چي دغه نښې عبارت دي له توروالي دمخ او شین والي دسترګو څخه لکه چي الله فرمایې ﴿ وَنَحْشُرُ ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴾ (طه:۱۰۲) اوداالله داویناچي ﴿ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ﴾ (۲) ﴿ فَيُؤْخَذُ بِٱلنَّوَٰصِي وَٱلْأَقْدَامِ ﴾ نووبه نیولی شي (دغه منکران) په وېښتود(وچولي (تندي) سره اوپه قدمونوسره (اوپه اورکي به وغورځولی شي. ابن عباس ﷺ وایې: مجرم به له پېکي اوپښوونیولی شي اولکه وچ خس اوخاشاک غوندي به مات کړی شي اوپه اورکي به بیا وغورځولی شي ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم نعمت درب دتاسي دروغ وایی(او منکرېږی ترې ای انسانانو او پېریانانوبلکه نشی کېدای) ﴿ هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ دتوبیخ اوتقریع په توګه به ورته وویل شي) داهغه دوزخ دی چي دروغ به یې ویل په ده سره مجرمانو (ابن کثیروایې معناداچي مجرمانوتاسو به دوزخ نه مانو دغه دی حاضردی په سترګویې وینی (۳) ﴿ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ ءَانٍ ﴾ ګرزي به دوی په مېنځ ددوزخ اوپه مینځ داوبوډېروتودوډېرو ګرمو کي. قتاده وایې چي یو واري به حمیم اوبیابه جحیم ته درومي جحیم اوراوحمیم ایشېدلي اوبه دي ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم یوه نعمت له نعمتونودرب خپل دروغ وایی (اومنکرېږی ترې ای انسانانو او پېریانانو بلکه نشی کېدای).

---

(۱) کبیرتفسیر ۲۹/ ۱۱۸

(۲) دقرطبي تفسیر ۱۷/ ۱۷۵

(۳) دابن کثیر مختصر ۳/ ۴۲۱

الله تعالى فرمايي:

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ (٤٦) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٤٧) ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ (٤٨) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٤٩)
فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ (٥٠) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٥١) فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ (٥٢) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٥٣)
مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍۚ وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ دَانٍ (٥٤) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٥٥) فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ لَمْ
يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ (٥٦) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٥٧) كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ (٥٨) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ (٥٩) هَلْ جَزَآءُ ٱلْإِحْسَٰنِ إِلَّا ٱلْإِحْسَٰنُ (٦٠) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦١) وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ (٦٢)
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦٣) مُدْهَآمَّتَانِ (٦٤) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦٥) فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ (٦٦) فَبِأَيِّ
ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦٧) فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ (٦٨) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٦٩) فِيهِنَّ خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ (٧٠)
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٧١) حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِى ٱلْخِيَامِ (٧٢) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٧٣) لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ
قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ (٧٤) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (٧٥) مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِىٍّ حِسَانٍ (٧٦) فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
تُكَذِّبَانِ (٧٧) تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ (٧٨) ﴾ الرحمن: ٤٦ - ٧٨

مناسبت:

كله چي الله تعالى ددوزخيانو احوال بيان كړ وروسته يې هغه څه راوړل كوم چي دابرارو مؤمنانو لپاره الله جل جلاله تيار كړي هغه چي جنتونه حوري او غلمان دي ترڅو چي دمجرمينو او متقينو مرتبې سره بېل او وپېژندل شي همدغه دقرآنكريم اسلوب دى چي ترغيب او ترهيب سره يوځاى راوړي

لغتونه:

(افنان) د (فنن) جمع او هغه بيا ښاخ ته وايې ، شاعر كوتره داسي ستايي:

*رُب ورقاء هتوف في الضحى * ذات شدو صدحت في فننِ * ذكرت إلفا و دهرا خاليا * فبكت شوقا فهاجت حزنِ.*

ډېرځله په څاښت مهال كي نارې وهونكي (كوتره) چي په ښاخ ناسته وي پخوانۍ مينه او وخت يادوي ، بيا له شوقه ژاړي نو زما خواشيني را وپاروي

(استبرق) پريړ وربښم (وجنى) جنى هغه مېوه تولول بولي (يطمثهن) (طمث) په پيل كي هغه كوروالي (جماع) ته ويل كېدو چي دبا كرې (پېغلي)ويني به له هغه څخه څرګندي شوې وروسته بيا هري جماع ته وويل شو ، فرآء وايې طمث هغه جماع ته ويل كېږي چي وينه ترې پيداشي[1] (مدهامتان) له ډېره زرغونوالي تور (دهمة) په لغت كي توروالي ته وايې (نضاختان) په اوبو باندي فوارې چي وچېدل او تم كېدل يې نه وي (عبقري) فرشونه (دعبقرية) جمع او هغو پنډو فرشونو (ناليو) ته وايې چي ډول ډول نقشونه پكې

---

(١) دقرطبي تفسير ١٧/١٨

وي فرآء وايي عبقري پريړ فرشونه دي اوابو عبيد بياوايي هره جامه چي نقشونه ولري عرب ورته عبقري وايي.

تفسير:

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴾ او هغه لره چي وېرېږي (په وخت د ګناه کي) له درېدلو څخه په مخ درب خپل کي (حساب ته) دوه جنتونه دي (يو جنت يې داوسېدلو بل يې دازواجو دخدمتګارانو لپاره لکه چي ددنيا پاچهان يو قصريې دخان اوبل يې دمېرمنو لپاره وي (۱) ابن کثيروايي دغه دوه ددي لپاره چي په انتقال له يوځای نه بل ته يې خونداخيستل دوه چنده شي اوزمخشري وايي چي يوجنت به يې دطاعاتو دکولو په نتيجه کي ورکول کېږي اوبل به دمعاصيو دپرېښودلو لپاره ورکول کېږي په حديث شريف کي راغلي چي: دوه جنتونه به دسپينو زرو چي لوښي اوټول مافيهابه يې هم دسپينو زرو وي اودوه جنتونه به دسرو زرو چي لوښي اوټول مافيهابه يې هم دسروزرو وي دالله دليدلو (ديدار) اوددوی ترمينځ به په جنت عدن کي يوازي دالهي کبريا، رداء (پرده) وي (۲) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم کوم يوه نعمت دنعمتونو درب دتاسي دروغ وايی اومنکرېږی ترې ای انسانانو او پېريانو بلکه نشی کېدای) ورپسي الله جل جلاله دجنتونوستاينه داسي کوي چي ﴿ ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ ﴾ هسي جنتونه چي خاوندان دډېروښاخونو وي ، په البحرالمحيط کي راوړي چي په ښاخونو توګه يې ښاخونه اوښاخونو راوړي ځکه چي هغه پاڼې کوي اومېوه راوړي سيوري خپروي ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونو درب دتاسي دروغ وايی (اومنکرېږی ترې (ای انسانانو او پېريانو بلکه نشي کېدای) ﴿ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴾ پدې دواړو جنتونو کي دوې چينې دي چي بهېږي به (هرچېري چي دوی غواړي) لکه چي الله فرمايي ﴿ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴾ (الغاشية ۱۲) ابن کثيروايي: معنادا چي دغه چينې به نوموړي ښاخونو اووني اوبوي خړوبوي اوبيابه ډول ډول مېوې راوړي (۳) حسن رحمه الله وايي چي دغه چينې به دخوږو اوبووي چي يوه يې تسنيم اوبله سلسبيل ده ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونو درب دتاسي دروغ وايی (اومنکرېږی ترې ای انسانانو او پېريانو بلکه نشی کېدای) ﴿ فِيهِمَا

---

(۱) امام فخررازي ليکي کله چي الله جل جلاله دمجرم په هکله وفرمايل چي: هغه به داوراوايشېدلو اوبو ترمينځ خي اوراخي نو دوېرېدونکي مؤمن په هکله يې داسي ارشادوکړچي: ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴾ اوالله پاک کله جنت کله دوه جنتونه اوکله بياجمع جنات راوړي داسي فرمايي ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٍ ﴾ اوبيافرمايي ﴿ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ﴾ نودغه له دې کبله چي ګڼې ونې اوودانۍ يې سره پټلېزاوښتي جلاوالی نلري نولکه چي ګرد، يوجنت وي اوداچي خورا زيات پراخوالی اوډول ډول ماڼۍ اوودانۍ لري لکه چي جلاجلا جنتونه وي، او له دې کبله چي دروح اوجسم تلذذ وربانددي مرتب دی لکه چي دوه جنتونه وي کبير تفسير ۲۹ / ۱۲۳

(۲) رواه البخاري.

(۳) دابن کثيرمختصر ۳ / ۴۲۲

﴿ مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴾ پدې دواړو (جنتونو) کي به له هرې مېوې (آشناناآشنا) وچې، لمدې) دوه دوه قسمونه وي ابن عباس رضي الله عنهما وايي په دنياکي چې هرډول خوږه اوتروه مېوه شته هغه به په جنت کي هم وي آن تردې چې حنظل به لاهم هورې وي خوهغه به خوږه وي په دنياکي يوازې دآخرت دمېوونومونه شته

﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونودرب د تاسي دروغ وايی (اومنکرېږی ترې ای انسانانواوپېريانانوبلکه نشی کېدای) امام فخر رازي رحمه الله وايې چې دالله جل جلاله داويناچې

﴿ ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ ﴾ او ﴿ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴾ او ﴿ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴾ دغه گرددهغو دوونوموړوجنتونواوصاف دي اوداچې دڅانگواومېوو ترمينځ يې دچينو ذکروفرمايودغه يې دسوکاله اوهوسانعمت دخاوندانوله دودسره سم يادونه کړې ځکه کله چې دغه کسان بڼ اوجنت ته داخل شي نوسمدستي دمېووپه خوړلوپيل نه کوي بلکه يوځل سيل اوتفريح کوي سره له دې چې انسان په دنياکي هم ترهغوڅه نه خوري څويې بنه اشتهانه وي پيداکړې اووږی شوی نه وي نوپه جنت کي به څرنگه خوراک وکړي؟ نو ځکه الله لومړی ونې يادي کړې زرغونه سيمه اوروانې چينې يې وستايلې اوبيايې له ساتېري اوتفريح نه وروسته دمېوودخوړلو دوخت يادونه راوړه (سبحان الله من يأتي بالآيات

بأحسن المعاني في أبين المباني) [1] ﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ﴾ په هسې فرشونوباندي به يې څنگونه لگولي وي چې استرونه دهغوبه له کلکووربښموڅخه وي (چې په زروبه ښايسته شوي وي دغه ددغوفرشونود نهايت شرف څرگندويي کوي کله چې دهغه استرله پنډوپېړرو وربښموڅخه وي نواټکل وکړه چې مخ به يې څرنگه نرم اوپوست وربښمن وي . ابن مسعود رضي الله عنه وايې چې همدغه يې استرونه دي نومخ به يې لا څرنگه وي؟ له ابن عباس رضي الله عنهما څخه ددې آيت په هکله وپوښتل شول هغه وويل داهغه څه دي چې الله فرمايې ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾

(السجدة ١٧) ﴿ وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴾ اوشوکول (دمېوې) ددغوووجنتونوبه ترلاس لاندي وي) يعني ناست ولاړاوځملاستي ټول به يې يوډول ترلاسه کولای شي ددنيادمېوې په ډول به نه وي چې ربړونه اوتکليفونه به يې دلاسته راوړلوپه لارکي گالل کېږي. ابن عباس رضي الله عنهما وايې ونه به ورته رانژدې کېږي

چې دالله ولي يې په هرحال که ولاړوي ، که ناست اوکه پروت مېوه راشوکولای شي [2] ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونودرب ستاسي دروغ وايی (اومنکرېږی ترې بلکه نشی کېدای) ﴿ فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ ﴾ په دغو (جنتونوکي) به بندکونکی دسترگو(حوري) وي چې پرته له خپلوخاوندانوبه بل چاته نه گوري لکه چې دپاک لمنوسپېڅلومېرمنودستوروي ﴿ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴾ چې نه وي مسه کړي دوی لره انسان پخواله دغو (جنتيانومېړوخپلو) اونه پېري (بلکه

---

[1] کبيرتفسير ٢٩ / ١٢٥

[2] روح المعاني ٢٧ / ١١٨

پېغلي تاندي به وي. الوسي ليکي چي طمث په اصل کي دوينو وتلوته وايې ځکه نوحيض ته طمث وايې اوبيايې دپېغلوسره په کوروالي (جماع) باندي اطلاق وشو ځکه چي هلته هم وروسته له جماع ويني ليدل کېږي اوبياوروسته په هرډول جماع باندي يې اطلاق شوکه څه هم ويني وتل ورسره نه وي (١)﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وايی (اومنکرېږی ترې ای انسانانواوپېريانوبلکه نشی کېدای﴿ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ ګواکي دغه (حوري) ياقوت لعل دي(په صفايي) اومرجان وي (په سوروالي کي) قتاده وايې: يعني دوی د ياقوتوغوندي صفااود مرجان غوندي سوربخوني وي که چېري ياقوت په مزي کي وپېل شي اوبيا ورته وګوري نومزي به له ورايه پکي ځرګندوي په حديث شريف کي راځي چي: دجنتي مېرمنو, ساق (لينګی, ورون, پتون) به له اوياوريښمنو جامولاندي داسي معلومېږي چي آن ماغزه به پکي ښکاري(٢)﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وايی (اومنکرېږی ترې بلکه نشی کېدای)﴿ هَلْ جَزَآءُ ٱلْإِحْسَٰنِ إِلَّا ٱلْإِحْسَٰنُ ﴾ نه ده جزا بدل داحسان مګر احسان نېکي ده (په آخرت کي ، ابوالسعودوايې چي جزادعمل داحسان نه ده مګرثواب داحسان دی (٣) اومقصدداچي يو څوک نېکي اواحسان وکړي هغه دانعام اواکرام وړاومستحق دی﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وايی اومنکرېږی ترې بلکه نشی کېدای)﴿ وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴾ اوبې له دغو (دووجنتونو) دوه جنتونه نورهم دي. مفسرين کرام ليکي چي لومړني دوه جنتونه دسابقينولپاره اودغه وروستني جنتونه , باغونه داصحاب اليمين لپاره دي اوښکه چي دسابقينومرتبه لوړه اوچته ده چي الله فرمايي﴿ فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ۝٨ وَأَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ۝٩ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ۝١٠ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وايی (اومنکرېږی ترې ای انسانانواوپېريانوبلکه نشی کېدای)

﴿ مُدْهَآمَّتَانِ ﴾ تک توربه وي (له ډېره شين والي څخه (اوله ډېرواوبو ، الوسي وايې: معناداچي دوی به زښته زيات زرغونه وي اوزرغون والی چي خورازيات شي نوتوربخون ښکاري او دغه دډېرواوبو اوښېرازي نښه ده (٤)﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونود رب دتاسي درواغ وايی (اومنکرېږی ترې بلکه نشی کېدای)﴿ فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ ﴾ وي به په دغو (جنتونو) کي دوه چينې جوش وهونکي (چي پرېکړون به نه لري . ابن عباس اوابن مسعود رضی الله عنهماوايې:

---

(١) دالوسي تفسير ٢٧ / ١١٩

(٢) ترمذي له ابن مسعودرضی الله عنه څخه مرفوع اوموقوف روايت کړی ابن کثيرليکي چي موقوف يې أصح دی.

(٣) ابوالسعود تفسير.

(٤) روح المعاني ٢٧ /١٢١

معناداچي دأولياء الله په جنتي كورونوبه مشک اوعنبرلكه شبنم اونري باران غوندي شيندي (١)
﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په كوم يوه نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وايې (اومنكرېږى
ترې اى انسانانواوپېريانانوبلكه نشى كېداى) ﴿ فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴾ وي به په دغو دوو (جنتونو)
كي هرراز مېوې اوخرما او آنار او داچي خرماواوآنارېې په ځانگړي توگه يادكړل ترخوچي په گردومېوو
يې فضيلت اوشرف وښيي بل داچي دعربوغالبًامېوې همدادوه څيزونه وو. الوسي ليكي چي دجنت
خرماوي اوآنارپرته له هغودي چي موږ يې پېژنو (٢) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په كوم يونعمت له
نعمتونو درب دتاسي دروغ وايې (اومنكرېږى ترې بلكه نشى كېداى) ﴿ فِيهِنَّ خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ ﴾ وي به په
دغو (ټولو جنتونو) كي حوري، پې مخي نېكي ښايسته (نيک خويه صالحاتي كريماتي) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په كوم يو نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وايې (اومنكرېږى ترې اى
انسانانواوپېريانانوبلكه نشى كېداى) ﴿ حُورٌ مَّقْصُورَٰتٌ فِى ٱلْخِيَامِ ﴾ حوري به وي پټي كړى شوي په
خېموكي (نه به راوزي دشرف اوكرامت له مخي. دوى به دملغلرو(لؤلؤ) په خېموكي اوسي.ابوحيان وايې
چي دغه دمېرمنوثنا اوستاينه ده ځكه څوک چي په كوردننه اوسي دغه يې دخوندي توب اوصيانت ننبه
ده ، حسن رحمه الله وايې معنادا: چي په لاروكوڅوكي گرځېدونكي نه دي ،دجنت خېمې
دلؤلؤملغلروواني دى په حديث شريف كي راځي: په جنت كي به يوه خيمه وي چي له مُجَوّف لؤلؤڅخه
به تياره شوې اوپسوربه يې شپېته ميله وي .... (٣) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په كوم يوه
نعمت له نعمتونودرب دتاسي دروغ وايې (اومنكرېږى ترې بلكه نشى كېداى) ﴿ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ
وَلَا جَآنٌّ ﴾ چي نه به وي مسه كړي دوى لره سړو(پخواله دغو (جنتيانو مېړونوخپلو) اونه پېريانو. په
التسهيل كي وايې لومړني يادشوي دوه جنتونه دسابقينولپاره او وروستني يادشوي دوه جنتونه
بياداصحاب اليمين لپاره دي وگوره چي څرنگه يې دلومړنيو دوو جنتونواوصاف تر وروستنيو دوو
جنتونولوړ ذكركړي ؟ هلته يې فرمايې ﴿ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴾ اودلته وايې ﴿ فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ ﴾
اوڅرگنده ده چي بهېدل تر اوربدلو زيات وي ، هلته يې فرمايلي چي ﴿ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴾
اودلته فرمايې ﴿ فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴾ اومعلومه ده چي لومړنى عام اوشامل دى ، همداسي هلته يې
دحوروپه ستاينه كي ويلي چي ﴿ كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ اودلته بيا فرمايې چي ﴿ فِيهِنَّ خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ ﴾
اوهر حسن اوښكلا لكه دياقوت اومرجان غوندي نشي كېداى هلته ستاينه زياته ده ، هلته يې دفرش په

(١) دقرطبي تفسير ١٨٥/١٧
(٢) روح المعاني ١٢١/٢٧
(٣) دبخاري حديث

هکله فرمایلي چي ﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ﴾ اوهغه پربړ ورېښم دي چي دېباج يې بولي او دلته فرمايي: ﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ ﴾ اوپدې کي شک نشته چي هغه دتکيې لپاره چمتوشوى فرش تربالښتونو غوره وي ﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴾ تکيه کونکي به وي دوى پر بالښتونو شين رنګوباندي اوپه عمده نفيسو فرشونوښايسته وو باندي. صاوي وايي چي: دغه پنډي نالي ښايسته فرشونه يې (عبقر) ته نسبت کړى چي په يمن کي يوکلي ده اوخورا ښايسته په نقش او نګار فرشونه پکي اوبدل کېږي نوالله مورږته دجنت فرشونه په همدغو ښايسته فرشونوراوپېژندل (١) ﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾ پس په کوم يوه نعمت له نعمتونودرب دتاسي درواغ وايى (اومنکرېږى ترې اى انسانانو اوپېريانانوبلکه نشى کېداى) ﴿ تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ﴾ برکت ناک دى نوم ذرب ستا(زيات دي فيوضات اوبرکتونه يې) ﴿ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ چي خاوندلويي سترتوب اودعزت ورکولو انعام دى. په البحرالمحيط کي راوړي چي کله الله پاک ددنيادنعمتونو خاتمه پدې قول چي ﴿ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ وفرمايله نودآخرت نعمتونه يې بياپدې ختم کړل چي ﴿ تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِى ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ اوهلته دامناسب ووچي دعالم له فناوروسته دالله جل جلاله دبقااوتلپاتي يادونه وشي، دلته بيا دبرکت (ودي) دزيات والي يادونه ده چي الله يې په مؤمنانوپه دارالنعيم کي احسان فرمايلى دى اوخير، فضيلت يې ورکړى دى(٢).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادى:

١- باريکه مقابله چي فرمايي ﴿ وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا ... ﴾اوداچي ﴿ وَٱلْأَرْضَ وَضَعَهَا ﴾ همدارنګه ددې ويناووترمينځ چي ﴿ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ كَٱلْفَخَّارِ ﴾ او ﴿ وَخَلَقَ ٱلْجَآنَّ مِن مَّارِجٍ مِّن نَّارٍ ﴾ راغلي ده.

٢- مرسله مجمله تشبيه لکه ﴿ وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ كَٱلْأَعْلَٰمِ ﴾ يعني لکه غرونه غوندي په لوى والي کي.

---

(١) دصاوي حاشيه ٤/ ١٢٠

(٢) البحرالمحيط

۳ - مرسل مجازچي فرمايي ﴿ وَيَبۡقَىٰ وَجۡهُ ﴾ يعني مقدس ذات دده اودغه راوړل د جزء اواراده دکل ده چي مرسل مجازيې بولي.

۴ - تمثيلي استعاره لکه ﴿ سَنَفۡرُغُ لَكُمۡ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ ﴾ ددنيافاني کېدل اودهغې دشئونو اوچاروسرته رسېدل اود آخرت راتلل اويوازي ديوه کارچي هغه حساب کتاب دی پاتي کېدل يې له هغه چاسره مشابه کړل چي په کارونولګياوي اوبيا ديوه کارلپاره خان وزګارکړي، الله جل جلاله خوهغه ذات دی چي يو کاريې له بل څخه نه مشغولوي مګردغه دتمثيل په توګه راغلی دی.

۵ - تعجيزي امرلکه ﴿ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ ...فَٱنفُذُواْۚ ﴾ امردلته دتعجيزلپاره دی.

۶ - بليغه تشبيه لکه: ﴿ فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ وَرۡدَةً كَٱلدِّهَانِ ﴾ يعني لکه ګل په سوروالي کي دتشبيه وجه اوادات حذف شوی نوبليغه تشبيه ګڼلی شي.

۷ - ناقص جناس لکه ﴿ وَجَنَى ٱلۡجَنَّتَيۡنِ دَانٖ ﴾ چي دڅينوتورو تغييرراغلی اودغه اشتقاقي جناس دی.

۸ - ايجازبالحذف لکه ﴿ فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ ﴾ يعني هغه مېرمني چي يوازي خپلو مېړونوته ګوري

۹ - مرصع سجع چي تکليف پکي نه ليدل کېږي اولکه پېيلي ملغلري غوندي په يوه مزي کي منظومي وي ولوله دالله داويناچي: ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنُ ۝١ عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ ۝٢ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ ۝٣ عَلَّمَهُ ٱلۡبَيَانَ ﴾ اونورمثالونه يې.

فائده:

سورت الرحمن دقرآن عروس اوناوي بلل شوي ده ، په حديث شريف کي راغلي چي (لکل شئ عروس وعروس القرآن سورة الرحمن).

دالله په مرسته دالرحمن سورت تفسيربشپړشو.

***

د(الواقعة) سورت مكي اوشپږ نوي آيتونه لري

د سورت په وړاندي:

دغه سورت دقيامت دورځي حالات اوهغه کړاوونه بيانوي چي ترمخه بې راځي اوبيا خلک په دريو ډلو وېشل کېږي: (أصحاب اليمين ، أصحاب الشمال اوسابقين).

سورت دهري يوې ډلي برخه ليک اوهغه څه بيانوي چي الله په عادلانه ډول ددوی لپاره پېرزوکړي دي لکه چي دالله په وحدانيت ، وجود، بشپړقدرت ، بديع خلقت اوصنعت باندي دلائل راوړي چي څرنگه يې انسان پيداکړی، نباتات يې راټوکولي (زرغون کړي) اوبه يې اورولي اوپه اور کي يې قوت اوڅواک خوندي کړی دی اوبيايې دقرآن کريم په هکله فرمايلي چي دغه سپېڅلی کتاب دالله رب العالمين له لوري نازل شوی دی ورپسې بيادځنکندن سختي اوکړاوونه بيانوي.

دسورت پای ددريوټولگيوپه يادونه کوي چي هغوی نېکمرغه يابدمرغه اوسابقين دي چي نعمتونه وزکول شوي اودهري ډلي اوټولگي برخه ليک اوعاقبت بيانوي اودغه لکه دسورت دپيل له اجماله وروسته تفصيل غوندي دی راوړي اوداولياء الله مقربينوستاينه په پيل اوپای کي کوي.

بهتري اوفضيلت يې: أ - ابن مسعودرضی الله عنه وايې چي رسول الله وفرمايل: څوک چي د(الواقعه) سورت هره شپه وايې هغه ته به خواري بېوزلي هيڅکله هم ونه رسي.(١)

ب:- حافظ ابن عساکرعبدالله بن مسعودپه سوانحوکي له ابي ظبية څخه داسي راوړي چي هغه وويل: عبدالله ابن مسعودپه هغه رنځ کي چي له هغه څخه ومړ(وفات شو) يوه ورځ يې عثمان بن عفان پوښتني(عيادت) ته ورغی ورته ويې ويل له څه شي څخه شکايت لري؟ هغه ورته وويل له گناهونوڅخه ، هغه ورته وويل: څه شي ته دي اشتهاء کېږي ده ورته وويل: دالله رحمت ته نوحضرت عثمان ورت وويل : طبيب ډاکټردرته راوبولم ؟ هغه ورته وويل: زه همدغه طبيب (ډاکټر) ناروغه کړی يم نوحضرت عثمان ورته وويل: تاته ديوبخشش مارېينه ونکړم ؟ نوده ورته وويل: زماورته اړتيانشته هغه ورته وويل: ستاله مرگه وروسته به ستالوڼي ورڅخه گټه واخلي نوعبدالله رضی الله عنه ورته وويل : آياته زمادلوڼو له خواري اوفقرڅخه وېرېږې؟ ماخپلو لوڼوته امرکړی چي هره شپه دي سورة الواقعه لولي ، بېشکه ماله رسول الله څخه اورېدلي چي ويل يې: څوک چي هره شپه سورة (الواقعة) لولي (فقراو)فاقه ورته نه رسېږي ، ابوظبية به تل هغه سورت تلاوت کاوو.(٢)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ إِذَا وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾ إِذَا رُجَّتِ ٱلْأَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَبُسَّتِ
ٱلْجِبَالُ بَسًّا ﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنۢبَثًّا ﴿٦﴾ وَكُنتُمْ أَزْوَٰجًا ثَلَٰثَةً ﴿٧﴾ فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾
وَأَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿٩﴾ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ﴿١٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿١١﴾ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿١٢﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ

(١) أخرجه الحافظ ابويعلي وابن عساكر.
(٢) دابن كثيرتفسير ٤ /٢٨٧

ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَقَلِيلٌ مِّنَ ٱلْـَٔاخِرِينَ ﴿١٤﴾ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيْهَا مُتَقَـٰبِلِينَ ﴿١٦﴾ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ
بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾ وَفَـٰكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا ﴿١٧﴾
يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾ وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَـٰلِ ٱللُّؤْلُؤِ ٱلْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾
إِلَّا قِيلًا سَلَـٰمًا سَلَـٰمًا ﴿٢٦﴾ وَأَصْحَـٰبُ ٱلْيَمِينِ مَآ أَصْحَـٰبُ ٱلْيَمِينِ ﴿٢٧﴾ فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿٢٨﴾ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴿٢٩﴾ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ
وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴿٣١﴾ وَفَـٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿٣٣﴾ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾ إِنَّآ أَنشَأْنَـٰهُنَّ إِنشَآءً ﴿٣٥﴾ ﴿٣٠﴾
فَجَعَلْنَـٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾ لِّأَصْحَـٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٨﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٩﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْـَٔاخِرِينَ ﴿٤٠﴾ وَأَصْحَـٰبُ
ٱلشِّمَالِ مَآ أَصْحَـٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِى سَمُومٍ وَحَمِيمٍ ﴿٤٢﴾ وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ وَلَا كَرِيمٍ ﴿٤٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ ذَٰلِكَ
مُتْرَفِينَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوا۟ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلْحِنثِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوا۟ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَـٰمًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٤٧﴾
أَوَءَابَآؤُنَا ٱلْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ إِنَّ ٱلْأَوَّلِينَ وَٱلْـَٔاخِرِينَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَـٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ
ٱلْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَـَٔاكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿٥٢﴾ فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا ٱلْبُطُونَ ﴿٥٣﴾ فَشَـٰرِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْحَمِيمِ ﴿٥٤﴾ فَشَـٰرِبُونَ شُرْبَ ٱلْهِيمِ ﴿٥٥﴾
هَـٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الواقعة: ١ - ٥٦

لغتونه:

(رُجَّتْ) ولړزېدله په سخته لړزېدلو سره (بُسَّتْ) میده شوه لکه اوړه غوندي (هبآء) دوړي اوغُبار (ثلة) تولی، ټوټه زجاج وايې ثلة لکه فرقة غوندي په وزن اومعناکي دی (موضوعة) داسي اوبدلي لکه چي یوپربل کي سره دننه شوي وي (يصدعون) صدع دسردروندوالي اودردته وايې (ينزفون) بېهوښه کونکي اوعقل له مينځه وړونکی (مخضود) بې ازغيو، امية بن ابي صلت وايې:

*ان الحدائق فی الجنان ظلیلة * فیها الکواعب سدرها مخضود.*

دجنت باغچې سيوري لرونکي دي ، هلته پېغلې نجوني ،اوبېري يې اغزي نه لرونکي دي.
(طلح) د کېلې ونه (منضود) يو پربل د پاسه (عربًا) د(عرب) جمع او خپلو خاوندانوته محبوبې مېرمني (سموم) سخت تودباد چي دبدن په مسامونو کي دننه کېږي (يحموم) سخت تور (الحميم) ايشېدلي اوبه (الهيم) هغه تږی اوبن چي دکومي ناروغي له کبله نه اوبېږي

تفسير:

﴿إِذَا وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ﴾ کله چي واقع شي واقع کېدونکی دقيامت هغه له هيبته ډکه ورځ چي زړونه لړزوي داسي هول اوهيبت لرونکي چي دانسان خيال يې انځورولی نشي ، واقعه يې ځکه ونوموله چي پېښېدل يې متحقق اوثابت دي ابن عباس رضی الله عنهما وايې چي واقعه دقيامت له نومونوڅخه يو نوم دی لکه چي صاخة ، آزفة اوطامة يې هم بولي اودغه شيان دشان دلوړوالي غوښتنه کوي(١) ﴿لَيْسَ

(١) البحرالمحيط ٨/ ٢٠٢

﴿ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴾ نشته پېښېدلو د هغې لره هيڅ نفس دروغ كونكى (په وخت د پېښېدلو كي يې لكه چي نن يې كفار دروغ ګڼي په هغه ورځ به ګرد خلګ ورباندي باوركوي ځكه چي د سرپه ستركو باندي به عذاب ويني لكه چي الله فرمايي ﴿ فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥ ﴾ (¹) (غافر: ۸۴) ﴿ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴾ (قيامت) ښكته كونكى دى (د كفارو په جحيم كي) پورته كونكى دى (دابرارونعيم ته) حسن رحمه الله وايي : ښكته كونكى دى دځينوجحيم ته كه څه هم چي په دنياكي معززين وي اوپورته كونكى دى ځينوخلګولره اعلىٰ عليين ته كه څه هم په دنياكي ټيټ اووروسته پاتي وي بيا الله فرمايي چي دابه كله وي ؟﴿ إِذَا رُجَّتِ ٱلْأَرْضُ رَجًّا ﴾ كله چي وخوځولى شي ځمكه په لړزولو سختوسره (چي وران شي ټول اوچت ودان كورونه اوقصرونه، مفسرين كرام وايي داسي به وځنګول شي لكه چي ماشوم په خانګوكي ځنګول كېږي اوبيابه يې ټول تعميرات اوودانۍ وراني شي غرونه اوبرجونه به يې ټوټې ټوټې شي (²)﴿ وَبُسَّتِ ٱلْجِبَالُ بَسًّا ﴾ اوورژول شي غرونه په سختورژولوسره (ترڅوټوټې ټوټې شي)﴿ فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنۢبَثًّا ﴾ نوشي به داغرونه يوه دوړه خوره كړى شوي ، ذرې ذرې وروسته له دې چي لوړاوچت دنګ ولاړوو داسي به وګرزي لكه دوړانګي خاشې (منبث) تيت اوپرك ته وايي لكه چي الله فرمايي ﴿ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ ﴾ (القارعة:۵) اويادا چي ﴿ وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴾ (النبا: ۲۰) ﴿ وَكُنتُمْ أَزْوَٰجًا ثَلَٰثَةً ﴾ اوشى به تاسي صنفونه درې (دوه جنتيان اويو دوزخيان) چي هغوى اهل يمين اهل شمال اوسابقين دي سابقين به په لوړو درجاتو كي اوسي اصحاب اليمين به عام جنتيان اوأصحاب الشمال به دوزخيان وي دغه مرتبې په آخرت كي دي ميمون بن مهران وايي دوه ډلي به په جنت كي او يوه به په دوزخ كي وي وروسته يې الله تعالى تفصيل داسي بيانوي چي ﴿ فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴾ پس ياران ملګري دښي لاس څومره ښه دي ياران ملګري دښي لاس، استفهام دتفخيم اوتعظيم لپاره دى يعني آياته پوهېږې چي دميمنې ياران څوك دي څه يې حال اوڅه يې صفت دى ؟ دوى هغه څوك دي چي اعمالنامې به په ښي لاس وركولى شي دغه ددوى له حاله سره تعجب اودشان يې تعظيم اودرناوى دى چي دوى به دجنت نعمتونوته واصل شي ﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴾ (اوياران ملګري دكيڼ لاس څومره بدسپك دي ياران ملګري دكيڼ لاس؟) يعني آياته پوهېږې دوى څوك دي څه يې حال اوڅه يې وصف دى ؟ دوى هغه څوك دي چي اعمالنامې به په كيڼ لاس وركولى شي پدې كي ددوى دوزخ ته په ننوتلو تعجب دى چي څومره بدمرغه دي؟. قرطبي وايي چي تكرار په ﴿ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴾ ﴿ مَآ

(¹) دغه ويناد آيت په تفسيركي راجح اوجمهوروعلماوولكه بيضاوي ابوالسعوداوالوسي غوره كړي ابن كثيروايي : معناداچي دهغې دپېښېدلوچي الله اراده وكړي څوك يې ګرزولى نشي اودامعنايې له حسن اوقتاده څخه روايت كړي خولومړنى قول ښه څرګند اوباريك دى والله اعلم.

(²) دابن كثيرمختصر ۳ /۴۲۸

﴿ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴾ کي دتعجب لپاره دي لکه چي فرمايي ﴿ ٱلْحَآقَّةُ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴾ ﴿ ٱلْقَارِعَةُ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴾ (۱)
(۱) او الوسي وايې چي په لومړني تکرارکي تفخيم (لويوالی) اوپه دوهم کي تقطيع (بدوالی) او اوربدونکي ته ددواړو دلوپه هکله دتعجيب افاده کول دي لکه چي ويلي يې وي دښي لاس ياران په نهايته خوښي اوښه حال کي دي اودکيڼ لاس ملګري په نهايته بدحال کي(۲) ﴿ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ﴾ اوړومبي کېدونکي (حسناتوته) ړومبي کېدونکي دي (جنت ته) اوبياورباندي ثنالولي چي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ هم دوی نژدې کړی شوي دي (الله ته دعرش په سيوري ، کرامت ځای اودالله جل جلاله په جوارکي دي ﴿ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴾ په جنتونو دنعمتونوکي به وي (تل ترتله ، خازن وايې: که ته وپوښتې چي ولي يې سابقين تراصحاب اليمين وروسته راوړل ؟ سره له دې چي دړومبي والي وړ وو ځواب داچي: دلته باريکي ده اوهغه داچي دسورت په پيل کي دقيامت له راتلوسره هيبت ناک ځېزونه يادشول ترڅوچي دبندګانوتخويف وشي نيکوکاران به دثواب رغبت پيداکړي اوبدکاران به له ګناهونوڅخه راوګرزي ځکه يې لومړی اصحاب اليمين ذکرکړل چي واوري اورغبت ومومي اوبيايې اصحاب الشمال يادکړل چي ووېرېږي ورپسې يې سابقين راوړل هغوی چي له فزع اکبرڅخه نه غمګين کېږي ترڅوچي زياروباسي اوکوښښ وکړي (۳) ﴿ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ لويه ډله به وي له اولينوړومبنيوڅخه (چي مقربين سابقين دي) ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴾ اولږدي له آخرينوورووستنيوڅخه. قرطبي وايې چي: لږېې دپخوانيوپه نسبت ونومول ځکه چي دړومبنيوأمتونو انبيآء عليهم السلام ډېر وو اوددوی شمېرزموږ دأمت ترمؤمنانوزيات وو، حسن رحمه الله وايې: پخواني زموږ تر سابقينوزيات دي اوبيايې آيت تلاوت کړ(۴) چابياويلي دي چي مقصدله دې ويناڅخه ﴿ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ﴾ زموږ دأمت لومړني مؤمنان دي اوله آخرينوڅخه هم زموږ دأمت ورووستني مراددي نو دواړه ډلي به له محمدي أمت څخه وي (۵) ﴿ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴾ ناست به وي جنتيان په تختونو اوبدلي شوي جړاو شوي په زرو جواهروباندي ابن عباس

---

(۱) مختصرابن کثير ۳ /۴۲۸
(۲) الوسي تفسير ۲۷ /۱۳۱
(۳) دخازن تفسير ۴ /۱۵
(۴) قرطبي تفسير ۱۷ /۲۰۰
(۵) لومړنی قول دجمهورومفسرينولکه ابن جرير، ابوالسعود، قرطبي، بيضاوي اوالوسي دی ابن کثيردوهم قول ته ترجيح ورکړي اوويلي يې دي چي کومه ويناابن جريرغوره کړي په هغه کي پوښتنه پيداکېدای شي بلکه ضعيف دی ځکه زموږأمت دأمتونو غوره دی اودغه دقرآنکريم منطوق دی نوداليري بريښي چي دنوروأمتونو مقربين دي ددې أمت څخه زيات وي زه وايم چي انبيآء عليهم السلام زيات دي اوتول له سابقينوڅخه دي چي دأمتونو خواص ورسره شي نوبيادي أمت ترخواصوزياتېږي ، خودرسول الله أمت به ترګردوزيات جنت ته دروومي اوپه مجموع کي ترګردوأمتونو بهتردی نوددې پوښتني ځواب وشوالله اعلم.

وایې (موضونة) معنادا چې په سروزرو به اوبدل شوي وي(۱) ﴿ مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيْهَا ﴾ چې تکيه وهونکي به وي جنتيان په هغو(تختونو) باندي (هوساسوکاله) ﴿ مُتَقَـٰبِلِينَ ﴾ مخامخ کېناستونکي يوبل ته (چې يودبل شاته به نه وي اودغه ډول ناستي دخوشحالي لپاره اغېزمنه اودکښېناستلودادابوبشپړونکي دي ﴿ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ ﴾ ګرزي به پردوی باندي (د خدمت لپاره) هلکان تلپاتي کېدونکي (په هلکوالي سره تراوتازه چې نه به مري اونه به زړېږي. ابوحيان وايې چې دوی يې په تلپاتي سره وستايل که څه هم په جنت کي هرڅوک تل پاتي وي ترڅو پدې دلالت وکړي چې دوی به په هلکوالي کي تل ترتله وي اونه به غټېږي اوبياالله ستايلي دي (۲)﴿ بِأَكْوَابٍ ﴾ په ګيلاسونواوپيالو(چې لاستي نلري) ﴿ وَأَبَارِيقَ ﴾ اوپه کوزوسره (چې لاستي لري اوله ډېري صفايي څخه برېښي) ﴿ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴾ اوپه کاسولوښيوسره له صافوپاکوشرابو بهېدونکو څخه . ابن عباس ﷺ وايې ددنيادشرابوغوندي نچوړشوي نه بلکه له بهېدونکوچينو څخه به وي قرطبي وايې د(معين) معنا بهېدونکي اوبه اوشراب دي اودلته هغه شراب مراددي کوم چې له چينوڅخه رابهېږي ددنيادشرابو په څېرنه دي چې له مختلفوتوکيوڅخه ښښتېخل کېږي او وروسته له تکليفه لاس ته راځي ﴿ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا ﴾ چې نه به سرخوږېږي له دغو (شرابو) څخه ﴿ وَلَا يُنزِفُونَ ﴾ او نه به بېهوښه کېږي (چې عقل يې ولاړشي لکه ددنياشراب. ابن عباس ﷺ وايې: په شرابوکي څلور (ناولي) صفتونه دي نشه، دسردرد، استفراق اوبولي کول اوالله تعالی جنتي شراب له دغوناکاره صفتونو څخه پاک وستايل(۳)﴿ وَفَـٰكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴾ (اووي به دوی ته)مېوې له هر رازڅخه چې جنتيان يې خوښوي ﴿ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴾ اوغوښه دمرغانوسره له هغه ډوله چې زړونه يې غواړي. ابن عباس وايې ديوسړي به په زړه کي دمرغه غوښه وګرزي نوسمدستي به هغه مرغه ده ته پداسي ډول راوړاندي کړی شي لکه چې زړه يې غواړي کباب شوی او ياپوخ شوی ؟ په حديث شريف کي راځي چې: په جنت کي به ته مرغه ته ګورې زړه به دي وغواړي چې هغه دي خوړلای وای سمدستي به ستاپه مخ کي وريت شوی کېښودل شي(۴) امام رازي وايې فاکهة يې ترغوښودمخه ياده کړه ځکه چې جنتيان خوله لوږي خوراک نه کوي بلکه دتفکه لپاره يې کوي اوترخوړويې فاکهې ته زړه کېږي لکه چې په دنياکي يي موړسړی غواړي (۵)﴿ وَحُورٌ عِينٌ كَأَمْثَـٰلِ ٱللُّؤْلُؤِ ٱلْمَكْنُونِ ﴾ اوحوري پی مخي غټ سترګي په شان دلؤلؤ ملغلرو ساتلي شوو په پوښوکي (چې لاس وروړل شوي نه وي اونهايته ښايسته وي په التسهيل کي وايې چې دوی يې له لؤلؤملغلروسره په سپين

(۱) مختصرابن کثير
(۲) البحر ۸/ ۲۰۵
(۳) دابن کثيرمختصر ۳ /۴۳۰
(۴) أخرجه ابن ابي حاتم ابن کثير ۳ /۴۳۱
(۵) کبيرتفسير ۲۹ /۱۵۳

والي كي تشبيه كړي ځكه چي د هغوی حسن تغيير نه مومي او كله چي أم سلمه رضى الله عنها له رسول الله ﷺ څخه دد ې تشبيه په هكله پوښتنه وكړه هغه ورته وفرمايل د دوی صفايي د ملغلرو د صفايي په شان ده كوم چي په صدف كي وي او چاورته لاس نه وي وروړی (١)﴿ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴾ جزاء بدل وركول دي په هغوچي وودوی چي كول به يې (له حسناتوپه دنياكي) وروسته الله دجنتي نعمتونو دبشپړتيايادونه هسي فرمايي ﴿ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴾ (نه به اوري دوی په دغه جنت كي چټي بېكاره خبري اونه د ګناه خبري) يعني نه به په غوږونو چټيات اوري اونه به داسي خبري چي دوی ورباندي ګنهګاربېږي ابن عباس ﷺ وايې نه به باطل اوري اونه به دروغ (٢)﴿ إِلَّا قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴾ مګراوري يوه خبره سلام سلام (يعني تل به په جنت كي جنتيان يوبل ته سلام اچوي) په البحرالمحيط كي راوړي څرګنده ده چي دغه منقطع استثناء ده ځكه چي په لغو او تأثيم كي نه ګډيږي (٣) ابوالسعودليكي: معناداچي يوبل ته به سلام اچوي پس له سلام اچولو اويادا چي له بل څخه به نه اوري مګرسلام اويادسلام ځواب چي عليكم دی(٤)وروسته د اصحاب اليمين داحوالوتفصيل داسي بيانوي ﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ ﴾ او ملګري ياران د ښي لاس څومره ښه دي ياران ملګري د ښي لاس؟ استفهام د تعجيب او تعظيم لپاره دی چي د دوی به څه حال وي ؟﴿ فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴾ (لاندي له بېروبې اغزيو كي به وي . مفسرين كرام وايې چي (سدر) د بېري ونه ده (مخضود) يعني داچي اغزي يې تو‌ږل شوي وي په حديث شريف كي راځي چي يو اعرابي رسول الله ته راغی او ورته ويل ای رسول الله صلی الله عليه وسلم پاک الله په جنت كي ديوې وني يادونه كوي چي هغه سړي ته تكليف او ځور وركوي رسول الله ورته ويل چي كومه ونه ده؟ هغه ورته وويل د بېري ونه نو رسول الله په ځواب كي ورته وفرمايل چي آيا الله جل جلاله نه دي فرمايلي؟ چي ﴿ فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴾ الله جل جلاله د دغي وني اغزي پرې كړي دي او دهري اغزي پرځای يې مېوه رازرغونه كړي او مېوه له داسي مېوې څخه ده چي د خوړودوه اويا رنګونه به پكې وي چي يو به يې د بل په شان نه وي(٥)﴿ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴾ او په كېلوله ښخه ترسره د كوكړی شويو كي به وي ﴿ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴾ او په سيورو اوږدو كړی شويو تلپاتي كي به وي (ځكه چي په جنت كي لمرنشته)﴿ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ﴾ په حديث شريف كي راځي چي په جنت كي داسي ونه ده چي سپوربه يې په سيوري كي سل كاله درومي لا به هم پای ته نه رسېږي نو كه غواړی ولولئ ﴿ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴾ (٦)امام رازي ﷺ

(١) التسهيل ٤/ ٨٩
(٢) قرطبي تفسير ١٧/ ٢٠٢
(٣) البحر ٨/ ٢٠٢
(٤) ابوالسعود ٥/ ١٣٠
(٥) أخرجه الحاكم روح المعاني ٢٧/ ١٤٠
(٦) أخرجه البخاري

وايې چي د(ممدود) معنادائم او لازواله دي ﴿ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ﴾ يعني هرڅه به يې دائم وي دغه داسي سيورى نه دى چي لد ونو څخه پيداشوى وي بلكه الله جل جلاله به پيداكړي وي (۱) ﴿ وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴾ اوپه اوبو بهېدونكو توئېدونكو همېشه ووكي به وي. قرطبي وايې عرب په وچه صحراكي اوسېدل رودونه او نهرونه يې نه درلودل اوبه به يې په سلواغه اورسۍ باندي موندلي نوالله په جنت كي دونو او سيورو او بهانده اوبو ژمنه ورسره وكړه ﴿ وَفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ﴾ (اوپه مېوو ډېرو كي به وي چي نه به قطع كولي كېږي په هيڅ وخت اونه به منع كولى كېږي په هيڅ عذرسره) يعني قسماقسم ډېري مېوې به وي نه داسي لكه ددوى په تاتوبي كي چي مېوې يې ښخي لږدي اونه به قطع كېږي لكه چي په ژمي كي ددنيامېوې نه موندل كېږي نه به له هېچاڅخه منع كېږي. ابن عباس وايي: معناداچي كله وشوكول شي تمامېږي نه اوچي څوك يې غواړي ترې منع كېږي نه (۲) په حديث شريف كي كي راغي هره جنتي مېوه چي وشوكول شي پرځاى يې بله رادېره شي (۳) ﴿ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴾ اوپه فرشونو اوچتوكړى شويو كي به وي (په پالنگونوباندي) په حديث شريف كي راغي چي لوړتيابه يې دځمكي اوآسمان د مسافې په شان اودتگ واټن به دپنځوسووكالووي (۴) ألوسي وايې دغه لوړوالي اوچت والى دښكته كېدواوپورته كېدوپه باب څه مستبعدنه دى ځكه هغه گوښى عالم دى چي زموږ عقل ورته نه رسېږي مؤمن ته به چي كله وغواړي راښكته كېږي چي ورباندي كېني اوبيابه يې اوچت كړي والله على كل شئ قدير (۵) ﴿ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴾ بېشكه موږ نوي پيداكړي دي دغه (دجنت مېرمني) په يوه بنه پيدا كولو سره. په التسهيل كي وايې چي د(انشآء) معناداچي الله به يې په جنت كي په يوه بل خورا ښكلي پيدا ايښت پيداكړي چي بوډۍ به ځوانه شي اوبدرنگه به ښايسته شي (۶) دغه دابن عباس ﷺ ويناده هغه وايې بې رنگه شاډوله بوډۍ به الله وروسته له زوړوالي په بل پيدا ايښت سره وپنځوي (۷) ﴿ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴾ نوگرزولي مودي دوى بكري پېغلي (هركله چي جنتي خاوندورسره مجامعت كوي دوى به باكرې وي ﴿ عُرُبًا ﴾ عاشقاني مينه لرونكي (پرجنتي خاوندانو، مجاهدوايې يعني معناداچي دخپلومېړونوبه عاشقاني اوميني وي (۸) ﴿ أَتْرَابًا ﴾ همزولي (هم منگي به وي له خپلومېړونوسره په عمركي چي ددرې دېرش كلونوپه عمربه وي، أم سلمه رضى الله عنهاوايې مادذې آيت په هكله چي:

(۱) كبيرتفسير ۲۹/ ۱۷۴
(۲) دخازن تفسير ۴/ ۱۸
(۳) أخرجه الطبراني
(۴) أخرجه النسائي
(۵) دالوسي تفسير ۲۷/ ۱۴۳
(۶) التسهيل ۴/ ۹۰
(۷) دخازن تفسير ۴/ ۱۸
(۸) دالوسي تفسير ۲۷/ ۱۴۳

﴿ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا عُرُبًا أَتْرَابًا ﴾ دي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه راته
وبې ویل چې: ای أم سلمه ! داهغه ښځې دي چې په دنیاکې بوډۍ شا ډوله سپین سري وفات شوي وي
بیابې الله پاک باکري پېغلې اوهمزولې وگرزوي (۱) اوپه حدیث شریف کې راغلي چې یوه زړه بوډۍ
مېرمن رسول الله (ص) ته راغله ورته ویل یې ای دالله استازي ماته دعاوکړه چې الله مې له جنتیانووګنې
نورسول الله (ص) ورته وفرمایل: ای دفلاني موري جنت ته خوبوډۍ نه ننوزي نوهغه په ژړاروانه شوه
رسول الله وفرمایل چې دې ته خبروركړئ ورته وواياست چې هغه دزړښت اوبوډاتوب په حال کې نه
داخلېږي بلکه الله (يې ځوانوي) چې فرمایي ﴿ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴾ ﴿ لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴾ (۲)
دپاره دملګرودښي لاس (چې په جنت کې ترې خوندواخلي) ورپسې الله داسې فرمایې: ﴿ ثُلَّةٌ مِّنَ
ٱلْأَوَّلِينَ وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴾ اصحاب اليمين به یوه لویه ډله وي له رومبنیوأمتونواو یوه لویه ډله به وي له
وروستنیو دمحمدي أمت نه، په التسهیل کې وایې چې ددې آیت شریف چې ﴿ وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴾ پکې
راغلي له هغه پخواني آیت سره منافات نشته چېرې چې الله فرمایلي وو ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴾ ځکه دغه
داصحاب اليمين په باره کې وي نوځکه یې وفرمایل چې ﴿ وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴾ ورپسې الله تعالی ددریم
ټولګي یادونه هسې کوي چې هغوی داوراوجهنم خلک دي فرمایې ﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴾ او
ملګري یاران دکیڼ لاس څوک دی یاران دکیڼ لاس؟) استفهام دهیبت اوتعجب لپاره دی چې ددوی به
څومره بدحال وي ؟ هغوی چې اعمالنامې به په چپ لاس ورکول کېږي یعني ددوی حال اوعاقبت به څه
وي ؟ نوفرمایې ﴿ فِى سَمُومٍ وَحَمِيمٍ ﴾ په اور تاوده کې به وي اوپه سوځونکواوبو ﴿ وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴾
اوپه سیوري کی به وي دلوګي ډېر تور ﴿ لَّا بَارِدٍ ﴾ چې نه به سوړوي ددغه سیوري چې دانسان د
هوسایي سبب شي اوله ګرمي یې وژغوري ﴿ وَلَا كَرِيمٍ ﴾ اونه به دعزت، راحت وي (چې ښکلی منظر
ولري اوڅوک یې په لیدلوخوشحاله شي. خازن وایې: دسیوري دوې فائدې وي یوه داچې له ګرمي سړی
وژغوري دوهمه بیاداچې ښکلې ښایسته منظره ولري چې انسان یې له لیدلوکېناستلو خوند اخلي
اوددوزخیانو سیوري ددې دواړوپه خلاف دی نه یې له ګرمي څخه ژغوري اونه یې هم له لیدلو څخه
خوند اخیستلای شي هغه به دتک تورلوګي چې سخت به ګرم اوتودوي جوړشوی وي ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ
ذَٰلِكَ مُتْرَفِينَ ﴾ (داعذابونه په سبب ددې دي چې) بېشکه ددوی پخواله دې څخه په دنیاکې وو بسیا په
نعمتونو(چې په لذتونواوشهوتونوکې لوبېدل) ﴿ وَكَانُوا۟ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلْحِنثِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ اووودوی چې اصرار
(دوام) به یې کاووپه لویه ګناه (کفرشرک) باندې. مفسرین کرام وایې اصرار په ګناه باندې مداومت ته

---

(۱) القرطبي ۱۷/ ۲۱۰
(۲) أخرجه الترمذي في الشمائل.

وايي او د (حنث) معنا ستره گناه ده چي دلته مراد ورڅخه کفر دی همدغه د ابن عباس رضی الله عنه وينا ده
﴿ وَكَانُواْ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ﴾ او وو دوی چي ويل به يې آيا کله چي مړه شو موږ او خاوري هډوکي شو آيا بېشکه خامخا به موږ بيا را پورته کړی شو؟ دغه د دوی له لوري د بعث اونشور په هکله استبعاد او تکذيب دی ﴿ أَوَءَابَآؤُنَا ٱلۡأَوَّلُونَ ﴾ او پلرونه زموږ ړومبني هم (به بيا ژوندي را پورته کېږي ؟ بلکه نه کېږي و دغه د انکار لپاره تاکيد او مبالغه ده) ﴿ قُلۡ إِنَّ ٱلۡأَوَّلِينَ وَٱلۡأٓخِرِينَ لَمَجۡمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴾ ووايه ته (ای محمده دوی ته) بېشکه چي ړومبني خلک او وروستني خلک به خامخا گرد به ټول کړی شي وخت د ورځي معلومي ته چي قيامت دی او پکي حساب کتاب به کېږي ﴿ ذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّجۡمُوعٞ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّشۡهُودٞ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٖ مَّعۡدُودٖ ﴾ ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمۡ أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ ٱلۡمُكَذِّبُونَ لَأٓكِلُونَ مِن شَجَرٖ مِّن زَقُّومٖ ﴾ بيا به بېشکه تاسي ای گمراهانو دروغ ويونکيو خامخا خوړونکي به يې په دوزخ کي) له وني د زقوم څخه (کومه چي د دوزخ په بېخ کي شنه کېږي) ﴿ فَمَالِـُٔونَ مِنۡهَا ٱلۡبُطُونَ ﴾ پس ډکونکی به يې له هغي (وني) څخه خپلو گېډو لره (له ډېري ولږي ستاسو) ﴿ فَشَٰرِبُونَ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡحَمِيمِ ﴾ پس څښونکي به یاست په هغه د زقوم خوړولي شوي باندي) له اوبو سوځونکيو څخه ﴿ فَشَٰرِبُونَ شُرۡبَ ٱلۡهِيمِ ﴾ پس څښونکي به يې (په شان) د څښلو د اوښانو ډېر تږو ابن عباس رضی الله عنه وايي (هيم) هغه اوښ ته وايي چي تنده يې د ناروغي له کبله نه ماتېږي ([1]) ابو السعود وايي چي په دوزخيانو به داسي لوږه راشي چي د زقوم خوړلو ته خوړلو ته يې اړ باسي هغه چي لکه (مهل) غوندي خورا تريخ او گرم وي چي گېډي څني ډکي کړي نو بيا به سخته تنده ورباندي راشي چي د (حميم) څښلو ته به يې اړ باسي هغه چي کولمې به يې ټوټه ټوټه ورتوی کړي او دوی به داسي سخت تږي وي لکه چي (هيام) وهلی اوښ تږی وي د غه يوډول ناروغي ده چي اوښ هرڅومره اوبه څښي تنده يې نه ماتېږي ([2]) ﴿ هَٰذَا نُزُلُهُمۡ يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴾ (دا خوړل او څښل) مېلمستيا د دوی دي په ورځ د جزا کي (په دې کي تهکم نغښتی دی. صاوي وايي (نزل) هغه تياري ته وايي چي د مېلمانه د راتگ په وخت کي له سوغاتونو او تکريم څخه ورته چمتو کېږي نو د زقوم د خوړلو تعبير په مېلمستيا کولو سره تهکم او استهزاء ده.

الله تعالی فرمايي:

﴿ نَحۡنُ خَلَقۡنَٰكُمۡ فَلَوۡلَا تُصَدِّقُونَ (۵۷) أَفَرَءَيۡتُم مَّا تُمۡنُونَ (۵۸) ءَأَنتُمۡ تَخۡلُقُونَهُۥٓ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡخَٰلِقُونَ (۵۹) نَحۡنُ قَدَّرۡنَا بَيۡنَكُمُ ٱلۡمَوۡتَ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ (۶۰) عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمۡثَٰلَكُمۡ وَنُنشِئَكُمۡ فِي مَا لَا تَعۡلَمُونَ (۶۱) وَلَقَدۡ عَلِمۡتُمُ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُولَىٰ فَلَوۡلَا تَذَكَّرُونَ

([1]) قرطبي تفسير ۷/ ۲۱۵

([2]) دابو السعود تفسير ۵/ ۱۳۲

﴿٦٢﴾ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾ إِنَّا
لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَآءُ
جَعَلْنَٰهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ
جَعَلْنَٰهَا تَذْكِرَةً وَمَتَٰعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ ۞ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهُۥ
لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ﴿٧٦﴾ إِنَّهُۥ لَقُرْءَانٌ كَرِيمٌ ﴿٧٧﴾ فِى كِتَٰبٍ مَّكْنُونٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُطَهَّرُونَ ﴿٧٩﴾ تَنزِيلٌ
مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ أَفَبِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ أَنتُم مُّدْهِنُونَ ﴿٨١﴾ وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ ﴿٨٢﴾ فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ ﴿٨٣﴾
وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُونَهَآ إِن
كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ
﴿٩٠﴾ فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٩١﴾ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٩٣﴾ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ
﴿٩٤﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٩٦﴾ ﴾ الواقعة: ٥٧ - ٩٦

مناسبت:

کله چي الله تعالى دمجرمينو يادونه وکړه اوددوی حال يې په دوزخ کي بيان کړ نو دلته يې پخپل قدرت او وحدانيت باندي دلائل راوړل چي الله جل جلاله څرنګه دبديع صفت او خلقت خاونددی؟ ترڅو چي دالله له وجود څخه پرمنکراو مکذب باندي حجت او برهان شي دسورت پای يې دنېکمرغه او بدمرغه په يادونه وکړاو سابقين الى الخيرات يي پکي وستايل ترڅو دغه دهغه اجمال کوم چي په سورت کي راغلی تفصيل څرګند او دمقربينو يادونه په پيل او پای کي وشي.

لغتونه:

(تفکهون) تعجب کونکي (المزن) د(مزنة) جمع او وريځي ته وايې شاعرليکي:

ونحن كماء المزن ما في نصابنا * كهام ولافينا يُعد بخيل.

موږ لکه دباران اوبه غوندي يو په موږ کي ناکام او بخيل هډو نشته

(تورون) بلوی اور(المقوين) مسافران پردېسان ويل کېږي (أقوى الرجل) کله چي صحرا ببېديا ته ولاړشي (قوي) لوږي ته وايې (مدهنون) مداهن غوړه مال ته وايې هغه چي ظاهريې دباطن په خلاف وي (مدينين) له دين څخه اخيستل شوی اودين جزاته وايې يعني جزاورکړل شوی (فَرَوْحٌ) دراء په زورسره استراحت ته وايې (ريحان) هغه دنباتاتو خوشبوئي ته ويل کېږي

تفسير:

﴿ نَحْنُ خَلَقْنَٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُونَ ﴾ موږ تاسي پيدا کړي ياست (له نشتوالي) نو ولي تاسي باور نه کوی په بعث بعد الموت باندي؟(څکه څوک چي په لمړي ځل پيدا کولو قادروي هغه په اعاده هم قادروي .

﴿ أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴾ آیاوینی تاسي (خبرراکړئ) له هغه اوبوڅخه چي څڅوی يې تاسي (په رحمونو د ښځو خپلو کي) ﴿ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴾ ()آیاپیداکوی تاسي (له دغه مني څخه بشر؟) که یومونږ پیداکونکي د ټولو موالیدو؟قرطبي وايي دغه په مشرکانوباندي احتجاج اودلومړي آیت لپاره بیان دی معناداچي تاسوپدې اقرار وکړچي زه يې پیداکونکی یم نوپه بعث هم اقرار وکړئ (۱) ﴿ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ ٱلْمَوْتَ ﴾ مونږ مقدرکړی دی په مینځ ستاسي کي (ای مخلوقاتو) مرګ مړینه (یو رنګه ضحاک وايې چي: دآسمان اوځمکي اوسېدونکي ګرددمرګ په هکله برابردي ﴿ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴾ اونه یوموږ عاجزچي څوک تېری راباندي وکړي ﴿ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَٰلَكُمْ ﴾ له دې نه چي پیدا کړوبدل ستاسي (نورخلق) چي ترتاسوزیات دالله طاعت کونکي اومنونکي وي لکه چي الله فرمايې ﴿ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴾ (ابراهيم:۱۹) ﴿ وَنُنشِئَكُمْ فِى مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ (اومونږ به پیداکړو تاسي په هغوصورتونوسره) چي تاسي به علم نه پرې لری) یعني مونږ له دې څخه هم عاجزنه یوچي تاسودقیامت په ورځ په داسي پیدابښت پیداکړو چي تاسوپرې خبر نه یاست اونه موعقل ورته رسېږي ، مقصدداچي الله پدې قادردی چي تاسي هلاک کړي اوبیاموبېرته د قیامت په ورځ را پاڅوي په آیت کي تهدیداو دبعث په هکله احتجاج دواړه نغښتي دي(۲) ﴿ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْأُولَىٰ ﴾ اوخامخا په تحقیق پوهېدلي يی تاسي په پیداکولو ړومبنیوباندي چي هیڅ هم نه وي الله له نطفې څخه پیداکړی چي بیا علقه او وروسته مضغة ورپسې بیاالله زړونه ، غوږونه اوسترګي درکړې ﴿ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ نوولي نه يادوی؟ پندنه اخلی ددغه الله په قدرت باندي اویقین نه کوی په بیاراژوندي کولو باندي چي لومړی ځل الله

---

(۱) شهید سید قطب رحمه الله پخپل تفسیرفي ظلال کي کاږي دغه یوشانداره حقیقت دی چي هره شېبه تکرارېږي خوانسان يې دهمدغه تکرارپه سبب هېروي دغه ترګردوعجائبوعجیب دی کوم چي په خیال کي راځي هغه داچي یوڅاڅکی نطفه وڅڅېږي هغه چي ددغه انساني بدن له افرازاتوڅخه چي لکه خولم ، اوښکي اودپوزي افرازات غوندي دي مګر وروسته له څه مودې بیا اوږېدونکی لیدونکی انسان شي هغه بیانارینه یاښځینه وي څرنګه دغه خلقت بشپړشي چي پخوانه وو؟ دغه انسان له خپلوغړو هډوکوپوستکي نوکانواو وېښتانواوخویونو آخلاقوسره چېرته وو؟ کوم یوبشري زړه دی ددغه عظیم الشان حقیقت په وړاندي تم شي اوبیادي له دې څخه انکاروکړي چي داهمداسي پخپله پیداشو والسلام دانسان د لوبي ونډه په اودغه خوارکی اوبو ته وده اوپیدابښت ورکوي هیکل يې جوړوي سا,پکي پوکوي اوله لومړه ورځي دغه معجزه بشپړېږي هغه چي پرته له الله جل جلاله څخه يې دبل چاتوان نشته اوهمدغه ددې معجزې دمنلولپاره بس دی خود دغه څاڅکي کیسه کله چي وڅڅېږي بیالاعجیبه ده دغه یوه خلیه بیادېري نوري ملیون ملیون خلیې جوړې شي هره ټولګه يې خانله ځانګړتیاوي اوخصوصیات لري دغه دهډوکوخلیې دغه دعضلاتودانوري بیادپوستکي اودغه بیادسترګو نوري بیادغوږونواوپوزي چي هره ټولګه يې خپل ځای پېژني مثلاً دسترګودخلایاوو ټولګه په نس کي نه راځېږي اونه هم په پښوکي رادبره کېږي سبحان الله العظيم القادرالذي يقول ﴿ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴾ .

(۲) التسهيل لعلوم التنزيل ۴/ ۹۱

ځنګه پيدا کړی ؟﴿ أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴾﴿ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴾ آيا پس وينی (چي خبر را کړی ماته) هغه څه چي کری يې تاسي) دغه دالله په قدرت او وحدانيت باندي يو بل دليل دی يعني ماته له هغه تخم خبر را کړئ چي تاسو يې په لمده ځمکه کي اچوئ ﴿ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ ﴾ آيا تاسو زرغونوی هغه (کرل شوی) که موږ يو زرغونونکي ؟ (پخونکي چي تنه او دانه پکي وي کله چي پدې اقرار کوي چي الله جل جلاله يې زرغونوي بيانو څرنګه له ځمکي څخه را پورته کېدل او بعث بعدالموت نه منی؟) ﴿ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا ﴾ که اراده وفرمايو موږ نو خامخا و به ګرزو و هغه کښت (لره چي تاسو کرلی دی بې دانې بې حاصله) وچ وابښه ذره ذره (چي دهيڅ ښمري به نه وي . قرطبي وايې (هشيم) هغه وچ خاوري اېرې وابښه دي چي په خوراک او غذا کي تري کار نشي اخيستل کېدای نودلته يې په دووڅېزونو تنبيه وفرمايله لومړی داچي دوی ته يې کښت او فصل يونعمت ورکړی چي دوی شکرادا کړي بل داچي دوی پخپلو ځانونو کي پندواخلي لکه چي الله پاک فصل او کښت وچ وابښه ګرزولی شي همداسي دوی هم هلاکولای شي نودوی دي له دې څخه عبرت ترلاسه کړي (۱)﴿ فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴾ نو وبه ګرزی تاسي تعجب کونکي (غمجن او خوار وزار چي څرنګه موفصل خاوري ايرې شونو اياست به چي ﴿ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴾ بېشکه موږ خامخا تاواني کړی شوي يو(۲) په خپل فصل او کښت کي چي تخم موهم ضائع شو او کښت موهم له مينځه لاړ ﴿ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴾ بلکه موږ بې برخي محروم کړی شوي يو (له روزي نه چي هم موتخم له مينځه لاړ او هم موکښت ونه شو) ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ﴾ آيا پس وينی (چي خبر را کړی) تاسي او به هغه چي تاسي يې څښی (اوژوند ورسره تړلی دی) ﴿ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ ٱلْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنزِلُونَ ﴾ آيا تاسو نازلي کړي دي هغه خوږې او به له سپينو وريځو څخه او که موږ را نازلونکي يو دهغو او بو؟ (پخپل قدرت سره) خازن ليکي چي الله جل جلاله دوی ته خپل هغه نعمت چي دباران او رښت دی ورو ښود هغه چي پرته له الله څوک ورباندي قدرت نلري ﴿ لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنَٰهُ أُجَاجًا ﴾ که اراده وفرمايو موږ نو وبه ګرزوو دا او به تروې ترخې . حسن رحمه الله وايې چي: (اجاج) هغه بې خونده تروو او بوته وايې چي څوک يې څښلای نشي، ابن عباس يې زښته تروې معنا کوي (چي نه دڅښلو او نه دکښت داوبولووي) ﴿ فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴾ نو ولي شکر نه وباسی په دغونعمتونو باندي) ؟په حديث شريف کي راځي کله چي به رسول الله ﷺ او به وڅښلي ويل به يې : الحمدلله الذي سقاناعذبًافراتًا برحمته ولم يجعله ملحًاأجاجًا بذنوبنا) يعني ګردثناا وصفت هغه ذات لره دی چي پخپل رحمت سره يې

(۱) دقرطبي تفسير ۱۷/ ۲۱۸
(۲) ضحاک وايي دغه له غرم څخه اخيستل شوي او هغه تاوان ته وايې چي ديو چامال بې له عوضه ولاړ شي ابن عباس وايې معناداچي په عذاب شوي يو اوغرام عذاب ته وايې

لطيفي اوخوږې اوبه راباندي وڅښولې او زموږ دګناهونو په سبب يې تروې ترخې نکړې (۱) ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي تُورُونَ ﴾ آياپس وينی(چي خبر راکړی) تاسي داورهغه چي تاسي يې بلوی (اوراوباسی يې له لمدې وني څخه) ﴿ ءَأَنتُمْ أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَآ أَمْ نَحْنُ ٱلْمُنشِـُٔونَ ﴾ آياتاسي پيداکړې ده ونه ددې (اور) اوکه موږ پيداکونکي يو؟ ابن کثير وايې په عربوکي دوې وني وې چي يوې ته مرخ اوبلې ته عُفاروېل کېدو کله چي به تکي شني څانګي يې يوله بل سره وسولول شوې ترې به اورپيداشواوسپرغي به ترې غورځېدل(۲) اوچاپيا ويلي چي ګردي وني ورڅخه مراددي هغه چي ورڅخه اورلګېږي اوبلېږي ځکه چي ابن عباس ﷺ وايې هيڅ يوه ونه نشته چي اورپکي نه وي ماسوی دانګورله تاک څخه (۳) ﴿ نَحْنُ جَعَلْنَٰهَا تَذْكِرَةً ﴾ موږ ګرزولی دی دغه (دنيوي) اورتذکره يادونه (داخروي اورددوزخ) کله چي يې ليدونکي ووينې دوزخ ورپه يادېږي نوله الله جل جلاله څخهووېرېږي په حديث شريف کي راځي: دغه اورچي تاسي يې بلوی ددوزخ له اورڅخه له اويايمي برخې څخه يوه برخه ده)(۴) ﴿ وَمَتَٰعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴾ او ګرزولی وي موږ دا اورګټه ور) په کارراتلو دمسافرانو محتاجانو. ابن عباس وايي (مقوين) مسافران دي اومجاهدوايې مسافراوکه حاضروي ددواړولپاره نفعمن اوګټوردی (۵) خازن ليکي چي (مقوي) هغه څوک دی چي په دښته بېدياکي له آبادي ليري اوسي اومعناداچي په دې اورباندي مسافران اوکوچيان ګټه اخلي ځکه ددوی ګټه ترمقيم خلګو زياته ده دوی اوردډې لپاره بلوي چي ځيرونکي حيوانات وشړي لاروکي ورباندي لاره ومومي اودغه داکثره مفسرينوراېه ده (۶) کله چي الله په انسان کي همدارنګه په نبات اوبو اواورکي دخپل قدرت او وحدانيت دلائل يادکړل نورسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې وفرمايل چي دواحدقهارذات تسبيح دي وايې ﴿ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴾ نووکړه نسبت دپاکي نامه درب خپل ته چي له ګردوڅخه ډېرلوی دی. داسي وايه چي پاکي ده هغه ذات لره چي دغه شيان يې پخپل قدرت پيداکړي اوپخپل حکمت يې زموږلپاره تابع او مسخرګرزولي دي. الله دخپلو نعمتونو شمېرله انسانه پيل کړی چي ﴿ أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴾ بيايې دهغه دودې او معيشت څېزيادونه کړې چي ﴿ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴾ اوبيايې دهغه څه يادونه کړې چي ژوندا و بقاورسره تړلي ده فرمايې ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ﴾ اوبياهغه څيزيادوي کوم چي په هغه سره يې خواړه ،غوښي اوسابه پخېږي چي اوردی فرمايې ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي تُورُونَ ﴾ سبحان المنعم العظيم الكريم وروسي الله تعالى دقرآنكريم

(۱) أخرجه ابن ابي حاتم
(۲) دابن کثير مختصر
(۳) دصاوي حاشيه په جلالين باندي ۴ /۱۶۶
(۴) أخرجه الشيخان ومالک رحمهم الله
(۵) دابن کثير مختصر ۳ /۴۳۸
(۶) دخازن تفسير ۴ /۲۴

په جلال او رفعت سوګند اخلي فرمايي چي دغه دعزيزالحکيم ذات له لوري نازل شوی دی ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ﴾نوقسم خورم زه په ځايونو د پرېوتلودستوروباندي ، لام کلمه دتاکيداوټينګارلپاره راغلی دی د(لا) زياتوالی دعربوپه کلام کي مشهوردی لکه چي وايي:

*تذکرت ليلى فاعترتني * وكاد نياط القلب لا ينقطع* . ليلا راپه يادشوه داسي حالت راباندي راغی تژدې وودزړه رګونه پرې شوي وای. قرطبي وايي داکثرومفسرينو په وينا(لا) صله بلل شوي ده اومعنادا چي نوزه قسم کوم اودليل يې دا چي له ده وروسته راځي چي: ﴿ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ ﴾ اوبېشکه (قسم) خامخاقسم دی. يعني زه قسم کوم په ځايونو دپرېوتلو دستوريو﴿ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ﴾ اودغه قسم که تاسو پوهېږی ډېرلوی قسم دی (١)که يې په لوی والي وپوهېږي نو وربانديي ايمان به راوړي ځکه چي په مقسم به کي په سترقدرت اوبشپړحکمت اوزيات رحمت باندي دلالت شته دالهي رحمت غوښتنه داده چي بندګان به هسي چټي نه پرېږدي ﴿ إِنَّهُۥ لَقُرْءَانٌ كَرِيمٌ ﴾ چي بېشکه (داکتاب لوستی شوی) خامخاقرآنکريم عزت والادی ، سحر کهانت او دروغ نه دی بلکه سترقرآن دنبي عليه السلام ستره معجزه دبرکاتواوخيراتومجموعه اودمنافعو ټولګه ده ﴿ فِى كِتَٰبٍ مَّكْنُونٍ ﴾ په کتاب پټ ساتلي شوي(لوح محفوظ) کي (چي له تغيره اوتبديله خوندي کړی شوی دی. ابن عباس وايي: کتاب مکنون لوح محفوظ دی اومجاهدوايي: داله دې مصحف څخه عبارت دی کوم چي زموږپه لاسونوکي دی(٢) ﴿ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُطَهَّرُونَ ﴾ چي نه يې مسه کوي اونه دي مسه کوي مګرهغه چي پاک کړی شوی وي) يعني نه يې مسه کوي مګر پرښتې هغه چي له شرکه، ګناهونواوبې اودسۍ څخه پاک دي اويادي نه مسه کوي خلګ مګرپه اوداسه باندي. قرطبي وايي مراد له کتاب څخه مصحف دی چي زموږپه لاسونوکي دی ځکه چي ابن عمروايي: قرآن ته په بې اودسي لاس مه وروړه او ياهغه دپيغمبرعليه السلام حکم اومارېينه ده چي عمروبن حزم ته يې وليکل: قرآن ته دي څوک لاس نه وروړي مګرهله چي اودس ولري ﴿ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (هغه قرآن چي ټوټه ټوټه) نازل کړی شوی دی له (طرفه دپالوکي) رب دعالميانو ، کله چي يې دقرآنکريم دلويي ستاينه يې وکړه نودکفاروتوبيخ يې هسي وفرمايو: ﴿ أَفَبِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ أَنتُم مُّدْهِنُونَ ﴾ آيا پدې خبري (د قرآن) باندي تاسي دروغ ګڼونکي يی؟ (کافران کېږی؟ ﴿ وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ ﴾ اوګرزوی تاسي

---

(١) پخوانيو خلګوته دستوروپرېوتلوځايونه لږمعلوم وومګراوسني خلګوته دقرآنکريم معجزه ښخي څرګنده ده د فلکياتو پوهان وايي يوه ټولګه چي پدې عظيم الشان فضاء کي شتون لري هيڅاته يې حدودنه دي معلوم هغه چي (مجرة) يې بولي اوزموږدلمرکورنۍ ورته منسوب ده يوززمليون ستوري پکې دي اوله دغوستوروڅخه چي ترڅوبليونه لازياتېږي يو ستوری داسي وي چي په تشه سترګه يوازي نشي ليدل کېدای بلکه په ميکروسکوب ليدل کېږي دغه ټول په دغه فلک کي لامبي اوددې احتمال نشته چي يودبل سره ټکروکړي اوياخپل ځای غلط کړي دواره په يوه لوري اوپه يوډول سرعت روان وي خودلګېدلواوتېروتلواحتمال يې هيڅ نشي کېدای. الله والعلم الحديث(دالله اونوی علم) له کتاب څخه صفحه: ۳۳

(٢) دقرطبي تفسير ۱۷ /۲۲۵

روزي برخه خپله (له قرآنه داخبره) چي تاسي دروغ کونکي يی؟ يعني تاسو دخپل رزق شکر د خپل رازق پهتکذيب کوی کوم چي په تاسويې انعام فرمايلی دی؟﴿ فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ ﴾ نوولي په هغه وخت کي چي ورسېږي (روح دسړي) ستوني ته (دسکرات الموت په وخت کي)﴿ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴾ (حال داوي چي) تاسي په دغه وخت کي حاضر اوربدونکي نظر کونکي يی (دغه سړي ته چي څه پرې تېرېږي ؟﴿ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴾ اوموږ ډېر نژدې يوهغه ته (په علم او اطلاع) له تاسي څخه مګرتاسي نه وينی اونه هغه پرښتې وينی چي دده د روح اخيستلوليپاره راغلي دي، ابن کثيروايي: معناداچي زموږ پرښتې هغه ته ترتاسونژدې دي خوتاسويې نه وينی لکه چي الله فرمايي ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴾ (الانعام: ٦١)﴿ فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴾ پس ولي که يی تاسي چي جزاء نه درکوله کېږي اونه ژوندی کېږی (لکه چي تاسي ګمان کوی) ﴿ تَرْجِعُونَهَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ نوبېرته راوګرزوئ تاسي دا(روح) که چېري يی تاسي رښتوني (پدې ګمان خپل چي جزاء نشته) ابن عباس ﷺ د﴿ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴾ معناپدې کوي چي حساب نه ورسره کېږي اوجزانه ورکوله کېږي ، خازن تفسير ليکي: ددې قول چي ﴿ فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ ﴾ اووددې ويناچي ﴿ فَلَوْلَآ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴾ دواړوځواب يودی اوهغه داچي ﴿ تَرْجِعُونَهَآ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ د آيت معناداچي که رښتيا هم داسي وي لکه چي تاسي واياست چي نه داالله حساب اوکتاب اونه بعث اوجزاء شته نوبياولي دهغه چاروح چي ډېردرته ګرانِ اوعزيزوي دزنکندن په وخت نه راستنوی؟اوچي دغه درته ممکن نه دی نوپدې ويوهېږی چي دګردوچاروواګي له الله سره دي په هغه ايمان راوړئ[1] بياالله تعالی دخلګوېش دمړيني اوبعث په وخت کي داسي کوي اوددوی درجاتي داسي ستايي: ﴿ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴾ نوکه چېري وي (دغه مړي) له مقربينوڅخه (الله ته) نو(شته ده لره)راحت هوسايي اوښه رزق اوجنت ډک له نعمتونوڅخه، قرطبي وايي: مقصدله مقربينو څخه هغه سابقين دي چي دسورت په پيل کي ړومبی يادشول[2]﴿ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴾ اوکه چېري وي (دامړی) له ملګرودښي لاس ... (چي اعمالنامې يې په ښي لاس اخيستي وي)﴿ فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴾ نوسلامتياده تالره له يارانوملګرودښي لاس څخه (يعني ای محمده! ددوی له لوري داده اوسه دوی په راحت نېکمرغي اونعمت کي دي ﴿ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيمٍ ﴾اوکه چېري وي دغه (مړی) له دروغ ويونکوګمراهانوڅخه نومېلمستياده(ده ته)له سوځونکيو اوبوڅخه(يعني دلومړي ورتللوسره به پدې باندي ددوی نازول کېږي) چي له ډېره جوشه به يې لړمون ويلي کړي په التسهيل کي ليکي (نزل) هغه

---

[1] خازن ۴/ ۲۷

[2] القرطبي ۱۷/ ۲۳۲

لومړنی سوغات او پېشکش ته ویل کېږي چي مېلمانه ته وړاندي کاوه شي (۱) ﴿ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ﴾ او ننه ایستل دي په اور د دوزخ کي (چي يې وګالي) ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِينِ ﴾ بېشکه دا خبره (چي ذکر شوه له جزاد سابقينو، سعدا وو او بد مرغانو) خامخا هم دا حقه يقيني ده (هيڅ شک او شبهه پکي نشته او انکار تري نشي کېدای) ﴿ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴾ پس وکړه نسبت د پاکي نامه درب خپل ته چي له ټولو څخه ډېر لوی دی، کله چي دغه آيت شريف نازل شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دغه تسبيح خپلو رکوع ګانو کي لولئ او کله چي دا آيت شريف نازل شو چي ﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ﴾ نو يې وفرمايل دا تسبيح مو په سجدو کي وايا ست (۲).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي د بدیع او بیان کومي ښکلاوي شته لنډ يزيې دا دي:

۱- اشتقاقي جناس لکه ﴿ إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴾ او ناقص جناس لکه ﴿ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ ﴾.

۲- د طباق صنعت چي د ﴿ الْمَيْمَنَةِ ﴾ او ﴿ الْمَشْأَمَةِ ﴾ ترمينځ راغلی او هم داسي د ﴿ الْأَوَّلِينَ ﴾ او ﴿ الْآخِرِينَ ﴾ او د ﴿ خَافِضَةٌ رَافِعَةٌ ﴾ ترمينځ شتون لري او دا چي دلوړتيا او کوزېدا نسبت يې قيامت ته کړی پدې کي عقلي مجاز دی ځکه په حقيقت کي پورته کونکی او ښکته کونکی الله دی خو قيامت ته يې نسبت کول مجازي دي لکه چي وايې ورځ يې روژه ده يا (ويالې بهېږي).

۳- مرسله مجمله تشبيه چي فرمايې ﴿ وَحُورٌ عِينٌ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴾ يعني په مثال د ملغلرو په حسن او پاکي صفايې کي د شبه وجه حذف شوي نو مرسله مجمله يې بولي.

۴- تفخيم او تعظيم لکه دا چي ﴿ وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ مَا أَصْحَابُ الْيَمِينِ ﴾ دغه يې د استفهام په توګه مکرر راوړ چي د تفخيم افاده وکړي.

۵- دوه ډوله يوه ټولګه يا دول يوځل په ﴿ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴾ او بل ځل په ﴿ أَصْحَابُ الْيَمِينِ ﴾ هم داسي يوځل په ﴿ الْمَشْأَمَةِ ﴾ او بل په ﴿ أَصْحَابُ الشِّمَالِ ﴾ چي دغه د تفنن صنعت دی.

---

(۱) التسهيل ۴/۹۴

(۲) أخرجه ابوداؤد وابن ماجه وصححه الحاكم.

٦- دمدحي تأكيد په هغه څه چي له ذم سره مشابه وي چي فرمايي ﴿ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا إِلَّا قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴾ ځکه چي سلام خود لغو او ګناه له جملې څخه نه دي د دوی مدح يې د سلام په ډېر وا چولو وکړه لکه چي يو څوک وايي (زمانو ره ګناه نشته مګر ستا محبت دی).

٧- تهکم او استهزاء چي فرمايي: ﴿ هَٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴾ يعني دغه عذاب د قيامت په ورځ د دوی لومړنی مېلمستيا ده دغه پر دوی باندي تهکم دی.

٨- د التفات صنعت له خطاب څخه غياب ته چي فرمايي: ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا ٱلضَّآلُّونَ ٱلْمُكَذِّبُونَ ﴾ او وروسته فرمايي ﴿ هَٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴾ او دغه التفات د دوی د شان د تحقير لپاره دی.

٩- اعتراضيه جمله چي د صفت او موصوف ترمنځ راغلې تر څو چي د قسم د شان عظمت او ستر توب وښيي لکه چي فرمايي ﴿ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ﴾ دا د دې لپاره چي د قسم اهميت ته پام راو ګرزوي راوړل شوی دی.

١٠- د فواصلو توافق چي په وروستنيو تورو کي راځي او کلام ته رونق او جمال ، ښکلا ور ښيي لکه ﴿ فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴾ يا لکه دا چي ﴿ فَشَٰرِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْحَمِيمِ فَشَٰرِبُونَ شُرْبَ ٱلْهِيمِ ﴾ دغه ته مرصع سجع وايي او له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

لطيفه:

د مقسم او مقسم به ترمنځ مناسبت چي قرآنکريم او ستوري دي هلته چي الله فرمايي ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ إِنَّهُۥ لَقُرْءَانٌ كَرِيمٌ ﴾ مناسبت يې دا دی چي: په ستوريو سره الله پاک خلګو ته دوچي او سيند په تاريکيو کي لارښوونه کوي همداسي د قرآنکريم په آيتونو باندي د جهل ګمراهي له تورتم څخه هغه چي لومړی محسوسي تياري او وروستنی معنوي تياري دي هدايت موندل کېږي نو قسم دلته د دواړو هدايتونو د يوځای والي لپاره راغلی چي محسوس د ستورو او معنوي د قرآنکريم دی دغه يې د مناسبت وجه ده.

والله أعلم

د الواقعة تفسير ژباړه د الله جل جلاله په مرسته تر سره شوه.

د(الحديد)سورت مدني اونه ويشت آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دغه سورت مدني دی اودتشريع ، اسلامي روزني اوتوجيه ښودني لاري چاري ښيي ، اسلامي ټولنه دسپېڅلي عقيدې په بنسټ ودانوي اوښکلي اخلاق اوله حکمته ډکه تشريع بيانوي.

پدې سورت درې مهم ټکي راځي چي هغه:

- لومړی داچي کائنات ګرددالله تعالی دي الله يې پيداکونکی اومتصرف دی.
- دوهم داچي ددين دلوړتيالپاره دمال اوځان قرباني په هرچالازم دي
- دريم ددنيادحقيقت انځوردی چي دغه غولونکي ځلاوبرېښناده انسان بايدوربانديتېرنه وزي

دسورت پيل دخالق په عظمت باندي کېږي هغه لوړذات چي دکائناتوهرتوکی دهغه تسبيح وايې که ونه ده که تېږه که انسان دی که حيوان اوکه نبات دی که جماد,ګرددالله په عظمت ګواه اوپه وحدانيت يې ګويادي.

وروسته دالله حسنی صفات اوعليااسماء راوړي چي الله بې له ابتدآء اول اوبې له انتهاء آخردی دخپلو مخلوقاتوپه آثاروکي ظاهر اوداچي حقيقت يې هيڅوک نه شي درکولای باطن دی هغه جل جلاله دانسان خالق اودکائناتوتدبيرفرمايونکی دی.

بياآيتونه پرله پسې مسلمانان سخااوخيرات کولو ته رابولي چي داسلام په لارکي ددين د اعتلاء اولوړتيالپاره دي خپل مالونه ولګوي نوهرومرودي مؤمنان په نفس اومال جهادوکړي ترڅو ددنيا نېکمرغي اودآخرت ثواب ترلاسه کړي.

سورت دمؤمنانواومنافقانوحالات رااخلي دمؤمنانونوربه ددوی ترمخه اوپه ښي لوري ځغلي اومنافقان به په تورو تيارو کي تيندکونه خوري کوم چي په دنياکي په تياروکي لکه ځاروي اوسېدل اوپه ګمراهي اوضلالت کي يې شپې سباکولې.

سورت ددنياحقيقت اودآخرت حقيقت په خوراښکلي انځورسره کاږي دنيادفناځای ګڼي او لکه کښت چي دباران په اوربښت سره زرغون شي بياتک ژېړشي اوبيا ورژېږي اوبيايې باد اودوړي هر لوري ته يوسي مګرآخرت بيادبقاء اوخلودځای دی هلته چي نه رېړشته اونه ستوماني نه غم شته اونه هم بدمرغي.

سورت په پای کي دانبيآء عليهم السلام دبعثت مقصد راوړي اودالله عزوجل په تقوی امر کوي لکه چي دانبيآء عليهم السلام دهدايت دپيروي لارښوونه فرمايي.

تسميه اونومول يې:

دغه سورت ته ځکه سورت (الحديد)وايې چي داوسپني يادونه پکي شوي ده اوهغه دانسان لپاره دسولي اوجګړې په وخت کي دزور اوپياوړتياسبب وي ځکه چي په ودانيوکي استعمالېږي غټ پلونه ترې جوړېږي لوړي مانۍ پوړ پوړترې تيارېږي ، زغري، نېزې ، توري،شوبلي اوبټلونه اوتوپونه زغره لرونکي موټري او نور ورڅخه جوړېږي اونوري زياتي ګټي پکې دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (١) لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
قَدِيرٌ (٢) هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (٣) هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ
أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ
وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (٤) لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ (٥) يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي
اللَّيْلِ وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ (٦) آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَنْفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُسْتَخْلَفِينَ فِيهِ فَالَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَأَنْفَقُوا
لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ (٧) وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا بِرَبِّكُمْ وَقَدْ أَخَذَ مِيثَاقَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (٨) هُوَ
الَّذِي يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَإِنَّ اللَّهَ بِكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ (٩) وَمَا لَكُمْ أَلَّا
تُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ
الَّذِينَ أَنْفَقُوا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (١٠) مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا
فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيمٌ (١١) يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَىٰ نُورُهُمْ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ بُشْرَاكُمُ الْيَوْمَ جَنَّاتٌ تَجْرِي
مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (١٢) يَوْمَ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ لِلَّذِينَ آمَنُوا انْظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِنْ
نُورِكُمْ قِيلَ ارْجِعُوا وَرَاءَكُمْ فَالْتَمِسُوا نُورًا فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُورٍ لَهُ بَابٌ بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهُ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ (١٣) يُنَادُونَهُمْ
أَلَمْ نَكُنْ مَعَكُمْ قَالُوا بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ أَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ وَغَرَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ
(١٤) فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَلَا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مَأْوَاكُمُ النَّارُ هِيَ مَوْلَاكُمْ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (١٥)﴾ الحديد: ١ - ١٥

لغتونه:

(سبح) نسبت دپاکي کوي (العزيز) زورور په هرڅېزباندي غښتلی (الأول) لومړنی ترګردو موجوداتو (الآخر) تلپاتي وروسته ترفناکېدلودټولو (يلج) ننې باسي (يعرج) خېژي (الظاهر) څرګند پخپلوآثارواومصنوعاتو کي (الباطن) پټ حقيقت يې له ليدلوڅخه (الحسنی) ښکلی ثواب اومقصدترې نه جنت دی (انظرونا) انتظاروکړئ موږ ته (نقتبس) چي ستاسي له نورڅخه لاره ومومو (سور) دېوال پرده دجنت اودوزخ ترمينځ (الغرور) تېرايستونکی غولونکی.

تفسير:

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ نسبت دپاکي کوي الله ته هغه څه چي په آسمانونوکي دي اوپه ځمکه کي (له انسان ، حيوان اونباته څخه) صاوي ليکي چي دتسبيح معنادمولیٰ تنزيه اوپاکي ده له ګردوهغوشيانوڅخه چي ورسره ورنه وي دغه تسبيح به په وينا ، فعل اواعتقادکي وي (سبح) لامبووهلو ته وايې چي په اوبو کي وړاندي لاړشي دعقل دخاوندانوتسبيح دقال په ژبه اودجماداتوپه لسان الحال

سره وي يعني پخپله دجماداتو ذات دهغوى دصانع په پاكي دلالت كوي اوچابياويلي چي هغوى تسبيح هم دقال په ژبه وي لكه چي الله فرمايي ﴿ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ﴾ (الاسراء:۴۴)(۱) خازن بياوايي چي دعقل دخاوندانوتسبيح دالله پاكي ده له هره بدي اوهغه څه نه چي ورسره نه ښايي اودجماداتو اوغير عاقلانوپه تسبيح كي اختلاف دى ځيني وايي چي ددوى وجودپخپل پيداكونكي (صانع) باندي دتسبيح ويلوپه معناده اوځيني بيا وايي چي هغوى پخپله دتسبيح ويناكوي چي دالله داقول ورباندي دلالت كوي چي فرمايي ﴿ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ﴾ خو حقيقت دادى چي تسبيح هغه قول ته وايي چي له عاقل اودالله له پېژندونكى (عارف) څخه صادرېږي اوهغه چي عاقل نه وي دهغه تسبيح دوه ډوله لري يوداچي دهغه شتون دالله په عظمت او پاكي دلالت كوي بل داچي ټول موجودات الله ته اېل اوتابع دي څرنګه چي يې خوښه شي هماغسي پكي تصرف كوي نوكله چي مونږ له تسبيح څخه ويناواخلو نومقصدبه له دې قول دالله جل جلاله نه چي فرمايي: ﴿ سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ مؤمنان اوپرښتې وي اوكه چېري بيامعنوي تسبيح ورڅخه مرادشي نوبياد آسمانونو ګردتوكي لكه لمر، سپوږمۍ ستوري او دځمكي ګردي ذرې ، غرونه ، وني ، سيندونه ، حيوانات او نورټول دالله تسبيح ويونكي اوهغه ته تابع اومسخردي څرنګه چي الله غواړي هغسي پكي تصرف كوي دغه يې تسبيح دى كه څوك پوښتنه كوي چي دځينوسورتونوپه پيل كي راغلي چي ﴿ سَبَّحَ لِلَّهِ ﴾ اودغه دماضي صيغه ده په ځينوروكي)﴿ يُسَبِّحُ لِلَّهِ ﴾ چي دمضارع صيغه ده ددوى ترمينځ توپيرڅه دى ؟ ځواب داچي پدې كي دااشاره شته چي ټول شيان تل ترتله الله تعالى ته تسبيح وايي په ځانګړي وخت پسي اړه نلري هغوى خوپخوا هم تسبيح ويله اوپه راتلونكي كي به يې هم وايي(۲) ﴿ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ اوهم دغه الله ښه غالب ښه حكمت والادى (هيڅوك يې له هيڅ كار څخه منع كولاى نشي اوهيڅ كار بې له حكمته اومصلحته نه كوي، وروسته الله خپل عظمت اوقدرت داسي يادوي چي ﴿ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُحْيِي وَيُمِيتُ ﴾ خاص دغه (الله) لره ده پاچهي دآسمانونو اوپاچهي دځمكي(هم دغه الله) ژوندي كول كوي اومړه كول كوي (څنګه چي غواړي) قرطبي وايي: معناداچي ژوندي كوي مړي په آخرت كي دبعث اونشورپه وخت اومړه كوي ژوندي په دنياكي (۳) ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ اوهم دغه (الله) په هرشي باندي (چي اراده وفرمايي) ښه قادر دى، د(قدير) لفظ د(قادر) مبالغه ده ﴿ هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ ﴾ همدغه (الله) اول دى (له هرشي څخه چي ابتداء نلري) او آخردى (له هرشي څخه چي انتهاء نلري ﴿ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ﴾ اوظاهردى (په دليلونوسره عقلونوته) او پټ دى (له سترګوڅخه په دنياكي.

(۱) دصاوي حاشيه په جلالين باندي ۴/ ۱۲۸

(۲) دخازن تفسير ۴/ ۲۹

(۳) دقرطبي تفسير ۱۷/ ۱۳۶

اوداچي عقلونه يې دذات دحقيقت ادراک نشي کولای ([1])په حديث شريف کي راځي : (أنت الأول فليس قبلک شئ وأنت الآخرليس بعدک شئ......الحديث) ([2]) شيخ زاده ليکي چي کشاف د(باطن) معنا پدې کړي ده چي په حواسونه مونډل کېږي اودغه داسي تفسيردی چي دده له خوښي سره سم دی چي دده دمذهب ملاتړکوي چي په آخرت کي هم دالله ليدل محال ګڼي .حقيقت دادی چي الله په خپل وجود سره ښرګنداوپه خپل حقيقت سره پټ اوباطن دی اودواړه صفتونه يې ازلي اوابدي دي ([3]) ﴿ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴾ او همدغه (الله) په هرشي باندي ښه عالم ښه پوهېدونکی دی (له علمه څخه يې په ځمکي آسمان کي هيڅ شی هم الونياواوپټ نه دی ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ او دغه (الله) هغه ذات دی چي پيداکړي يې دي آسمانونه اوځمکه په مقداردشپږو ورځوکي (اوکه يې غوښتي وای دسترګوپه رپ کي به يې پيداکړي وو دغه دالله دعزت اودبشپړقدرت ثبوت دی لکه دغه ويناچي ﴿ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ يې دبشپړعلم اوحکمت ثبوت دی ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ بيايې استواء وکړه په عرش باندي (هسي استواء چي له جلال سره يې ښايي يې له تمثيل اوتکييف څخه) ([4]) ﴿ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا ﴾ معلوم دي الله ته هغه څه چي ننوزي په ځمکه کي (لکه مړي او باران) اوهرهغه چي راوزي له دغي زمکي نه (له معدنياتونباتاتو څخه) ﴿ وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ﴾ اومعلوم دي(الله ته) هغه څه چي نازلېږي له آسمانه (له ارزاقو، پرښتو رحمتونو اوعذابونو) او هرهغه څه چي پورته خېژي په دغه (آسمان)کي (له پرښتو او نېکواعمالوڅخه) لکه چي الله فرمايي ﴿ إِلَيْهِ يَصْعَدُ ٱلْكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ ﴾ (فاطر:۱۰) ﴿ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ﴾ اودغه (الله) له تاسي سره دی (په علم او قدرت سره) هرچېري چي تاسي يی . ابن عباس وايي : معناداچي الله په تاسوخبردی چي هرچېري ياست، ابن کثيروايي : معناداچي هغه ستاسودکړو وړو ليدونکی اوڅارونکی دی که هرچېري ياست په سيندکي ياست اوکه په وچه کي په شپه کي ياست اوکه په ورځ کي په کورکي ياست اوکه په بېديا کي ټول دالله پوهي ته يوشان دي ستاسوځای ويني اوکلام مواوري ستاسي پټ رازونه هغه ته ښرګند دي ([5]) ﴿ وَٱللَّهُ

([1]) دغه دظاهر اوباطن په تفسيرکي راجح قول دی چي الوسي اوابوالسعودغوره کړی دی.

([2]) هذاجزء من حديث أخرجه الامام احمد ومسلم.

([3]) په بيضاوي باندي دشيخ زاده حاشيه .

([4]) داستواء تفصيل په سورة اعراف کي وګوره .

([5]) دابن کثيرمختصر ۳ /۴۴۵- په البحرالمحيط کي ليکي چي دګردأمت پدې باندي اجماع راغلي چي ددغه آيت تأويل وکړي اوپخپل ظاهريې چي(معيت بالذات دی) پرې نږدي نود(وهومعکم) معناداچي په علم اوقدرت له تاسوسره دی ، قرطبي وايي : د(وهومعکم) معناداچي په قدرت، سلطان اوعلم له تاسوسره دی ، بيضاوي ليکي : معناداچي علم اوقدرت يې له تاسوڅخه ليري اوګوښی نه دی ، الوسي بياوايي چي آيت دالله دعلم داحاطې تمثيل کوي اوددې تصويرراوړي چي دوی دالله له علم څخه هېچېري هم وتلي نه دي ، زه وايم چي دغه دپخوانيو او وروستنيو علماوو اقوال ګردپه هغه چاباندي ترديد کوي چي دوی وايي په کتاب الله کي مطلقاًتأويل نشته ځکه که داسي وي بيامو ږڅنګه پوهېږوچي دالله دنوح دبېړۍ به

بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ او الله په هرهغه څه چي تاسي کوی ښه ليدونکی دی (که صغيره وي او که کبيره) ﴿ لَّهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ خاص هغه (الله) لره دي پاچهي اوسلطنت دآسمانونو اود ځمکي، ددې تکرار يې دحشراونشرداثبات لپاره دتمهيد په توګه کړی دی يعني الله په حقيقت سره معبوداو هرڅرنګه چي غواړي په مخلوقاتوکي تصرف کونکی دی ﴿ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ ﴾ اوخاص الله لره ګرزول کېږي ټول کارونه (نوبه الله هرچاته ددوی له عمل سره سمه جزاورکړي) ﴿ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ ﴾ ننه باسي (الله) شپه په ورځي کي اوننه باسي (الله) ورځ په شپې کي (پخپل حکمت اوتقدير سره نوکله ورځي اوږدې اوشپې لنډي وي اوکله بياشپې اوږدې اوورځي لنډي وي) ﴿ وَهُوَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ اودغه (الله) ښه عالم دی په پټوخبرو، نيتونو، عقائدوسينوزړونوباندي (او هرڅوک چي دغه صفت ولري له هغه پرته دبل چاعبادت کول روانه دي کله چي يې دعظمت اوقدرت دلائل ذکرکړل نويې دخپل توحيدمنلو او طاعت کولو په هکله امر وفرمايوچي ﴿ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ ايمان راوړئ تاسي (اوپه ايمان همېشه اوسئ) په الله اوپه رسول ددغه (الله) باندي (چي محمدبن عبدالله دی) ﴿ وَأَنفِقُوا۟ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ﴾ اولګوئ (په لاره دالله کي) له هغو(اموالو) څخه چي الله تاسوګرځولي يی خليفګان (خپل) په هغو(مالونو) کي يعني دغه خوپه حقيقت کي دالله مالونه دي ستاسونه دي په التسهيل کي ليکي: معناداچي هغه مالونه چي ستاسوپه لاس کي دي دغه دالله اموال دي ځکه چي هغه پيداکړي دي خوالله تاسوته دمنفعت اخيستلولپاره درسپارلي دي نوتاسولکه چي د الله له لوري وکيلان ورته ټاکل شوي ياست بياهرکله چي مالک درته امرکوي چي دغه دالله په لارکي ولګوئ نوتاسي ممانعت مکوئ[1]) اومقصودله آيت شريف څخه دالله په لارکي دمال لګولولپاره هڅونه ده اوپه دنياپسي زړه نه تړل (زهدکول) دي ځکه وروسته فرمايي ﴿ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَأَنفَقُوا۟ لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ﴾ پس هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی له تاسي اولګولي يې دي (اموال خپل په لاره دالله کي) هغوی لره دی اجراوثواب ډېرلوی (په جنت کي) ابوالسعودوايي چي په آيت شريف څرګنده مبالغه شته چي جمله اسميه يې ﴿ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ ياده کړي اوبيايې دايمان اوانفاق ذکرکړی په مکرر ډول يې دوی ته اسنادکړی چي (لهم) يې راوړی اوبيايې اجرنکره راوړی اوپه کبيرسره يې ستايلی چي (لهم اجركبير) دی ﴿ وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ﴾ اوڅه مانع دی تاسي لره (بلکه هيڅ نشته) چي ايمان نه راوړي په الله اوپه رسول ددغه الله باندي، استفهام دانکاراوتوبيخ لپاره دی ﴿ وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ ﴾ حال داچي رسول رابولي تاسي چي ايمان راوړئ په رب خپل باندي ﴿ وَقَدْ أَخَذَ مِيثَٰقَكُمْ ﴾ اوپه تحقيق اخيستي ده

هکله وايي (تجري باعيننا) اوهمداسي موسی ته يې داويناچي (ولتصنع على عينى) اوداقول يې چي فرمايي (ونحن أقرب اليه من حبل الوريد) اويادغه درسول الله صلى الله عليه وسلم ويناچي فرمايي: (الحجرالاسود يمين الله فى الارض).

[1] التسهيل ۹۵/۴

(الله) کلکه وعده دتاسو(چي ستاسوپه عقلونوکي یې دالله په وجودباندي دلالتونه خوندي کړي دي، خازن وایې: دکلکي وعدې اخیستل معناداچي هغه وخت یې لا وعده درڅخه اخیستې وه چي دآدم له شا څخه یې وایستلی اوپدې یې وپوهولی چي له الله پرته بل معبودنشته همدغه الله ستاسومعبوددی، چاپیاویلي معناداچي هغه وخت یې له تاسوڅخه کلکه وعده واخیستله کله چي یې عقلونه درکړل اودلائل، براهین یې دروښودل چي درسول الله متابعت ته یې وبللی (١)﴿إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ که چیري یی تاسي ایمان راوړونکي ؟، دغه شرط دی اوځواب یې حذف شوی یعني که چیري یی تاسي ایمان راوړونکي په یووخت له وختونو څخه نودغه یې غوره وخت دی ځکه چي دلائل اوبراهین موګردولیدل وروسته الله دأیمان دوجوب دلائل داسي بیانوي فرمایې: ﴿هُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِۦٓ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ﴾ دغه (الله) هغه ذات دی چي نازلوي پربنده خپل باندي دلائل (دقدرت خپل) ښکاره، قرطبي وایې ﴿ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ﴾ قرآنکریم دی چاپیاویلي چي معجزات دي معناداچي په تاسو یې په محمد رسول الله ایمان راوړل لازم کړي ځکه چي له هغه سره معجزات اوترګردولوړه معجزه قرآن کریم دی (٢)﴿لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ﴾ (لپاره ددې) چي وباسي تاسي له تیارو(دکفر) څخه رڼا(د ایمان) ته ﴿وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ اوبېشکه الله په تاسي باندي خامخاښه مهربان دۍ رحم والا دی، چي کتابونه یې درته رانازل کړي اوستاسي دلارښووني لپاره یې پیغمبران راالستولي دي اوپیوازي په عقلي دلیلونویې اکتفاء اوبسنه نه ده کړي ﴿وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَٰثُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ اوڅه مانع عذردی تاسي لره چي نه نفقه کوی (مال خپل) په لاره دالله کي اوخاص الله لره دی میراث دآسمانونواودځمکي) یعني تاسوبه مړه کېږی مالونه به درڅخه پاتي کېږي، امام فخررازي لیکي: معناداچي نژدې دی تاسوبه مړه شی اومال به مودرڅخه پاتي شي نوولي یې دالله د طاعت په لاره کي نه لګوی؟(٣) اودغه دالله په لارکي دمال دولت دلګولوډېره ښه هڅونه ده ﴿لَا يَسْتَوِى مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ ٱلْفَتْحِ وَقَٰتَلَ﴾ ندی برابرله تاسي څخه هغه چي لګولي یې دي (مال خپل په لاره د الله کي) پخواله فتحي دمکې) اوبیایې جنګ کړی دی (له اعداء الله سره) مفسرین کرام لیکي: داچي نفقه پخواترفتحي ځکه سترتوب درلودچي اسلام جهاداوانفاق ته اړتیالرله اوبیاچي فتح ترسره شوه نودالله په دین کي ټولی ټولی خلګ دننه کېدل اومرستندویان یې زیات شول ﴿أُو۟لَٰٓئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ ٱلَّذِينَ أَنفَقُوا۟ مِنۢ بَعْدُ وَقَٰتَلُوا۟﴾ دغه کسان ډېرلوی دي له جهته دمرتبې له هغوکسانوچي لګولی یې دی مال خپل په لاره دالله کي وروسته (له فتح دمکې نه) اوجنګېږي (لپاره داعلاء کلمة الله) کلبي رحمه الله وایې: دغه دابوبکرالصدیق ﷺ په هکله نازل شوی ځکه چي هغه لومړنی تن وو چي ایمان یې راووړ دالله په لارکي یې خپل مال مصرف کړاوله رسول الله ﷺ

(١) دخازن تفسیر۴ /۳۷
(٢) دقرطبي تفسیر۱۷ / ۲۳۹
(٣) کبیرتفسیر۲۹ /۲۱۸

څخه يې دفاع وکړه (۱) ﴿ وَكُلًّا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ اوله دواړو طآئفوسره الله د نېکي وعده کړې ده (چې جنت دى خوددوى درجات متفاوت دي) ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ او الله په هغو کارونو باندي چې تاسي يې کوى ښه خبردارد ى (نوجزابه ورباندي درکړي په آيت کي وعداووعيددواړه نغښتي دي ﴿ مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ څوک دى هغه ذات چې قرض ورکوي الله ته په قرض ورکولو نېکوسره (خاص لپاره درضادده) ﴿ فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ ﴾ بيابه (الله) دوچنده کړي (هغه قرض) ده لره (په ثواب کي) ﴿ وَلَهُۥٓ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴾ اوخاص ده لره اجرثواب دى نيک (دعزت چې جنت دى، کله چې دغه آيت شريف نازل شو نوابو دحداح انصاري وويل اى دالله استازي آيا الله جل جلاله له موږ څخه د قرض اخيستلو غوښتنه کوي رسول الله وفرمايل هو! نوابودحداح پيغمبرعليه السلام ته وويل: لاس دي رااوږد کړه! نورسول الله ﷺ خپل لاس په لاس کي ورکړ ابودحداح وويل: ماخپل بڼ چې شپږسوه دخرماوني لري اوددحداح مور اودهغې ماشومان هلته اوسي الله ته قرض ورکړي دي نوراغى اودباغ په دروازه کي يې نارې کړې اى ددحداح موري له باغه راووزه چې دغه ماالله جل جلاله ته قرض ورکړ (هغې په خوشحالى) ووېل: واه واه څومره ګټه وره سودادي کړي ده نوهغه اوماشومان يې له بڼ څخه بهرراووتل (۲) وروسې الله جل جلاله دنېکانومؤمنانوحال داسي بيانوي چې په پل صراط به يې نورله مخه درومي فرمايې ﴿ يَوْمَ تَرَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ يَسْعَىٰ نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَٰنِهِم ﴾ يادکړه (اى محمده!) هغه ورځ (دقيامت) چې وينې ته مؤمنان سړي اومؤمناتي ښځي چې ځغلي به رڼاددوى مخکښي له دوى څخه اوله ښي لوري ددوى څخه (چې له تولو خواووپل صراط ورته روښانه کړي، مخونه به يې دخورلسم سپوږمى په شان روښانه وي ﴿ بُشْرَىٰكُمُ ٱلْيَوْمَ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ (اووبه ورته ويل شي دوى ته چې) زېرى دتاسي نن ورځ دى (ننوتل په) جنت چې بهېږي له لاندي (دمانيواوونودهغو) ويالې ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ تل به وي دوى په هغو کي ﴿ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ دغه دي همدغه برى موندل دېرلوى چې ترې پورته برى نشته روايات کېږي چې دهرچانوربه دهغه دايمان په اندازه وي دچابه دومره نوروي چې دپېښوتژدې به روښانه کوي دچابه يوځل مړکېږي بيابه بلېږي، زمخشري وايې داچي ويې فرمايل ﴿ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَٰنِهِم ﴾ ځکه نېکمرغه کسانوته په همدغه لوري اعمالنامې ورکول کېږي لکه چې بدمرغه کسانوته دشاله لوري اوپه کيڼ لاس ورکول کېږي (۳) کله چې يې دمؤمنانوحال شرح کړ دمنافقينويادونه کوي چې ﴿ يَوْمَ يَقُولُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ وَٱلْمُنَٰفِقَٰتُ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱنظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِن نُّورِكُمْ ﴾ (يادکړه اى محمده!) هغه ورځ چې وايې به منافقان سړي او منافقاني

---

(۱) دخازن تفسير۴ /۳۲۰

(۲) دابن کثيرمختصر۳ /۴۴۸

(۳) الکشاف ۴/ ۳۴۲

ښځي هغوكسانوته چې ايمان يې راوړى دى (داسي) چې انتظاروكړئ موږته (وګورئ) چې رڼاواخلوله رڼاستاسي څخه. مفسرين كرام وايي: الله تعالى به مؤمنانوته دقيامت په ورځ ددوى د اعمالوپه اندازه نور وركړي چې په پل صراط باندي تېرشي اوكفارمنافقين به بې له نوره څخه وي نو منافقان به دمؤمنانودنورڅخه په استفادې روان شي اوپدې حال كي به الله تياره اوهوارا واستوي چې دوى به پكي رااېسارشي دخپلوپښوځاى به نه ويني نوبه مؤمنانوته وايي ﴿ ٱنظُرُونَا نَقْتَبِسْ ... ﴾ هلته به ورته وويل شي: ﴿ قِيلَ ٱرْجِعُوا۟ وَرَآءَكُمْ فَٱلْتَمِسُوا۟ نُورًا ﴾ نووبه ويل شي دوى ته (تمسخراً) چې وګرزئ شاوو خپلوته(په دنياكي) پسې ولټوئ رڼا(هلته چې دغه رڼاهلته مونده شي. ابوحيان وايي چې دوى ته خو معلومه ده چې دغه كسان رڼالري دغه ددوى ناهيلي ده (١)﴿ فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُۥ بَابٌۢ ﴾ پس وبه وهل شي په مينځ ددغو(منافقانواومؤمنانوكي) يودېوال هغه لره به دروازه وي ﴿ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحْمَةُ وَظَـٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلْعَذَابُ ﴾ دننه لورى (دهغې دروازې به چې دجنت خوادى) رحمت وي (مؤمنانوته) اودباندي لورى دهغه (چې دكفارومنافقانوخوادى) له طرفه دهغه څخه به عذاب وي(چې اوردى. ابن كثير ليكي: چې دابه هغه دېوال وي چې دقيامت په ورځ به دمؤمنانواوكفارو ترمينځ ووهل شي نوكله چې مؤمنان ورورسېږي له دروازې څخه به يې دننه شي اوچې ګردننوزي بيابه دروازه وتړل شي اومنافقان به په حيرانتياتياره اوعذاب كي پرېښودل شي (٢)﴿ يُنَادُونَهُمْ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ ﴾ غږبه وكړي (دغه منافقان) دغو(مؤمنانو) ته آيانه وو موږ له تاسي سره ملګري په دنياكي؟(لمنځونه موكول لكه چې تاسوبه كول روژې مونيولې لكه چې تاسوبه نيولې له تاسوسره به جمعي اوجماعت لمنځونوته حاضرېدلو په غزاګانوكي مودرسره ګډون كاوو﴿ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَلَـٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ أَنفُسَكُمْ ﴾ نووبه وايي (مؤمنان دوى ته چې هو وئ مګر تاسو په فتنه كي اچولي وو ځانونه خپل (چې نفاق موكاوو) ﴿ وَتَرَبَّصْتُمْ ﴾ اوانتظار كاوو تاسي (دآفتونوپه مؤمنانو) ﴿ وَٱرْتَبْتُمْ ﴾ اوشك موكاوو تاسي (په اسلام كي) ﴿ وَغَرَّتْكُمُ ٱلْأَمَانِىُّ ﴾ اوغولولي تېرايستلي وى تاسي آرزوګانو خپلو (په پراخي درحمت دالله باندي) ﴿ حَتَّىٰ جَآءَ أَمْرُ ٱللَّهِ ﴾ ترهغه پوري چې راغى حكم امرد الله (چې ستاسي مرګ دى) ﴿ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ ﴾ اوغولولي ياست تاسي (په كرم د) الله باندي غولونكي (چې شيطان لعين دى درته وايي چې: الله غفوررحيم دى عذاب به نه دركوي، قتاده وايي تر هغوبه يې شيطان تېرباسي ترڅوچې يې الله په اوركي وغورځوي (٣) مفسرين كرام ليكي چې (غرور) د غين په زبرسره شيطان ته وايي ځكه چې هغه خلك تېرباسي اوغولوي يې الله تعالى فرمايي ﴿ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ﴾ وريسې الله تعالى فرمايي

---

(١) البحرالمحيط ٨/ ٢٢٦

(٢) دابن كثيرمختصر ٣/ ٤٥٠

(٣) دخازن تفسير ٤/ ٣٤

﴿ فَٱلْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنكُمْ فِدْيَةٌ وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ پس نن ورځ به وانه خیستل شي عوض فدیه له تاسي ځخه (ای منافقانو) اونه له هغو کسانو څخه چي کافران شوي وو (په الله تعالی او آیتونوبې، په حدیث شریف کي راځي چي الله تعالی به کافرته وواېي: آیاکه ستا ددنیا څوچنده مال دولت وای ددغي ورځي له عذاب څخه دژغورلو په بدل کي به دي ورکړي وو؟ هغه به وواېي هو نو الله جل جلاله به ورته وفرمایي: ماتردې ډېرآسانه چاري درڅخه غوښتنه کړي وه هلته چي ته لاد آدم علیه السلام په ملاکي وې مګر تا ونه منله زما غوښتنه داوه چي له ماسره شریک ونه نیسې مګرتاونه منل اومشرک شوې ([1]) ﴿ مَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ هِىَ مَوْلَىٰكُمْ ﴾ ځای دورتلوستاسي (اوددوی تولو) اور(ددوزخ) دی همغه (اورلائق او) ملګری ستاسي دی، ستاسي مرستندوی دی له ده پرته بل مرستندوی نلري دغه پردوی باندي تهکم دی ﴿ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴾ اوبدځای دورتلودی (دغه دوزخ). ځیني علماء کرام وایي: بختورسړی به په طمع نه تېروزي اونه به تمه کوي دچاچي هیلي زیاتي وي عمل به یې لړوي له اجل څخه به غافل اوبې پرواوي.([2])

الله تعالی فرمایي:

﴿ ۞ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ ٱلْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَـٰسِقُونَ ﴿١٦﴾ ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلْـَٔايَـٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّ ٱلْمُصَّدِّقِينَ وَٱلْمُصَّدِّقَـٰتِ وَأَقْرَضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَـٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿١٨﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَ ۖ وَٱلشُّهَدَآءُ عِندَ رَبِّهِمْ لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ۖ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَآ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٩﴾ ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَـٰدِ ۖ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ ٱلْكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَـٰمًا ۖ وَفِى ٱلْـَٔاخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنٌ ۚ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَـٰعُ ٱلْغُرُورِ ﴿٢٠﴾ سَابِقُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢١﴾ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَـٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَأْسَوْا۟ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا۟ بِمَآ ءَاتَىٰكُمْ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿٢٣﴾ ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبُخْلِ ۗ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٢٤﴾ لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِٱلْبَيِّنَـٰتِ

([1]) دالوسي تفسیردصحاحوحدیث.

([2]) دقرطبي تفسیر

وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَأَنزَلْنَا ٱلْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَٰهِيمَ وَجَعَلْنَا فِى ذُرِّيَّتِهِمَا ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلْكِتَٰبَ ۖ فَمِنْهُم مُّهْتَدٍ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ وَجَعَلْنَا فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۖ فَـَٔاتَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٢٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَءَامِنُوا۟ بِرَسُولِهِۦ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِۦ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٨﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّن فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَأَنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾ الحديد: ١٦ - ٢٩

مناسبت:

کله چي الله تعالی دمنافقینو او کفارو په دنیاباندي دتېروتني یادونه وکړه نومؤمنانو ته یې تنبیه وفرمایله چي دهغوی په شان دي نه کېږي او نه دي هم داهل کتابو په څېرپه فاني دنیاباندي غولېږي وروسته دفاني کېدونکي دنیا لپاره مثالونه راوړي چي څرنګه یې په ظاهري ښکلاخلګ تېروزي دسورت پای یې دتقوی په فضیلت اودنېک عمل په بهتري راوړی اومؤمنانوته درسول الله صلی الله علیه وسلم دپیروي اوزیات اجرترلاسه کولو ښودنه کوي.

لغتونه:

(یأن) نژدې شوی (أنیٰ یأني) لکه (رمیٰ یرمي) غوندي دی اونژدې والي ته وایې (تخشع) چي نرم وو بربېدل شي (الأمد) اجل اومودې ته وایې (یهیج) چي وچه اورژېږي ښکلایي ولاړه شي (حطاما) ټوټه ټوټه رژېدلي (کفلین) دکفل تثنیه وندې اوبرخي ته وایه شي.

دنزول سبب:

کله چي مؤمنان مدیني منورې ته راغلل دسو کاله ژوندانه اوعشرت خاوندان شول نوله ځیني هغو کارونو څخه چي پخوا به یې کول سست شول بیادغه آیت شریف نازل شو چي ﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ ابن مسعود وایې زمونږداسلام اودغه آیت دنزول ترمینځ چي مونږ الله تعالی وربانديو وترټلویوازي څلور کاله موده وه(١).

---

(١) أخرجه مسلم.

تفسير:

﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ آياندى راغلى وخت هغو كسانولره چي ايمان يې راوړى دى (ددې) چي وو يريږي زړونه ددوى (له جهته) دذكرپند دالله نه؟ ﴿ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلْحَقِّ ﴾ او(له جهته دهغه څېزچي نازل شوى له حق څخه (چي قرآن دى) ﴿ وَلَا يَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلُ ﴾ اوندي كېږي په شان دهغو كسانوچي وركړى شوى وو هغوى ته كتاب پخواله دې څخه (چي يهود اونصارا وو الله ورته تورات اوانجيل وركړى وو ﴿ فَطَالَ عَلَيْهِمُ ٱلْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ﴾ (نواوږده شوه پر دوى باندي زمانه نوسخت شول زړونه ددوى) يعني اوږده شوه زمانه په مينځ ددوى اونبيانوكي تر څو چي زړونه يې دډبروپه شان او آن ترهغه لازيات سخت شول . ابن عباس وايې چي ﴿ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ﴾ معناداچي ددنيالوري ته كاږه اوله قرآني ارشاداتواومواعظوڅخه يې څنګ وكړ ابوحيان يې بياداسي معناكوي چي كلك اوسخت شول چي خيرطاعت ورباندي اغيزه نه كوله مقصدترې دادى چي الله مؤمنان له دې څخه وېروي چي له قرآن سره داسي چلندونكړي لكه ديهودواوانصاراوو چي دوخت په تېرېدلويې زړونه سخت شول ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَـٰسِقُونَ ﴾ اودېرله دوى څخه فاسقان نافرمانان دي(چي د خپل دين لارښووني نه مني ځكه چي زړونه يې سخت شوي دي ابن كثيرليكي: معناداچي مؤمنان دي دپخوانيواهل كتابوپه دود نه كېږي كوم چي كتاب وركول شوخودوخت په تېرېدلوسره يې هغه په خپل لاس تحريف كړاوشاته يې وغورځاوو دخپلو احبارو اورهبانيانوپيروي يې وكړه نوزړونه يې سخت شول پنديې نه مانواونه به هم پرې وعد اووعيداغېز كاوو(١) ﴿ ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ﴾ پوه شئ تاسي (اى مؤمنانو) چي الله ژوندى كوي زرغونوي ځمكه وروسته له (وچوالي) له مړيني د هغې (په باران سره) دغه دمړوزړونو دژوندي كولو لپاره يوتمثيل دى چي دارنګه زړونه هم د قرآنكريم په تلاوت اوذكرسره ژوندمومي لكه چي وچه ځمكه يې په باران مومي. ابن عباس ﷺ وايې: سخت زړونه پدې سره نرمېږي اوخشوع خپلوي لكه څرنګه چي مړه زړونه په علم اوحكمت سره راژوندي كېږي(٢) په البحرالمحيط كي كي راوړي داسي بربېني لكه چي دغه دي دزړونودنرمښت لپاره يوتمثيل وي چي څرنګه وروسته له سخت والي ذكرپكي تاثيركوي نولكه چي باران په وچه ځمكه كي اغېزكوي همداسي په ذكرسره هغه تښتېدلي زړونه بيرته راستنېږي اوخشوع طاعات پكي اثر كوي(٣) ﴿ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلْـَٔايَـٰتِ ﴾ په تحقيق ښكاره بيان كړي دي مونږتاسي ته دلائل (دقدرت ، وحدت او عظمت خپل) ﴿ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾ دپاره

(١) دابن كثيرمختصر ٣/ ٤٥١
(٢) دخازن تفسير٤ /٣٥
(٣) البحرالمحيط ٨ /٢٢٣

ددې چې تاسي عقل پکي وچلوی (دقرآن په احکامو کي تدبر وکړی) ﴿ إِنَّ ٱلْمُصَّدِّقِينَ وَٱلْمُصَّدِّقَٰتِ وَأَقْرَضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ بېشکه خيرات ورکونکي سړي او خيرات ورکونکي ښځي او هغه څوک چي قرضونه يې کړي دي له الله سره قرض ښک)يعني دالله د رضالپاره يې فقيرانو ته مالونه ورکړي او دالله په لاره کي يې دخيرښېګڼي لپاره په ښه نيت اوزړه باندي لګولي دي ﴿ يُضَٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴾ دوچنده به کړشي دوی ته (ثواب دقرض ددوی) اووي به دوی ته اجرثواب ډېرلوی (چي جنت دی هره نېکي به يې يوپه لس وليکل شي اوجنت به يې نصيب شي . مفسرين کرام ليکي چي:(مصدقين) په اصل کي (متصدقين)وو تاپه صادکي مدغم شوه نو (مصدقين) جوړشواوقرض حسن هغه ته وايې چي په پاک نيت اودزړه له اخلاصه وي نولکه چي انسان پدغه عمل باندي له الله سره پورکړی وي چي په آخرت کي به يې دوراداکولوور اومستحق وي ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ ﴾ اوهغه کسان چي ايمان يې ر‌اوړی دی په الله (اوپه (ټولو) هغورسولانو د دغه (الله) بشپړايمان چي شک اوشبه ورته لاره نلري) ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصِّدِّيقُونَ ۖ وَٱلشُّهَدَآءُ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ (دغه کسان هم دوی دي ډېرربښتوني اوشاهدان دي په نزددرب خپل) يعني دوی مؤمنان هغه کسان دي چي لوړومرتبودصديقيت اوشهادت في سبيل الله ته رسېدلي دي. مجاهدوايي هرڅوک چي په الله او پيغمبرانوعليهم السلام ايمان راوړي هغه شهيد اوصديق دی[1] ﴿ لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ﴾ وي به دغو (مؤمنانوصديقانو) ته اجرددوی اورڼاددوی (چي په پُل صراط به ورباندي تېرېږي) ځلاونوربه يې له مخي اوله ښي لوري ځغلي ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴾ اوهغه کسان چي کافران شوي دي او نسبت ددروغو يې کړی دی آياتونو زموږته هغوی دي ياران ملګري ددوزخ (چي اصلاددوی لپاره جوړ شوی دی تل ترتله به پکې وي بيضاوي ليکي چي پدې آيت کي دادليل شته چي تل ترتله اوسېدل د کفارولپاره ځانګړی ق خکه چي دغه صيغه چي ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴾ ده په دې دلالت کوي خکه چي صحبت په ملازمت کي وي[2] کله چي الله تعالی دمؤمنانواوکافرانواحوال ذکرکړل له دې په وروسته يې د هغه څه يادونه کړي کوم چي ددنيا په حقارت اوسپکوالي ګواهي ورکوي فرمايې ﴿ ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا لَعِبٌ ﴾ پوه شئ تاسي (ای اورېدونکو) چي بېشکه دغه ژوندون ددنياخوشي بې فائدې لوبي دي (چي خلک پکي بېځايه ستومانه کېږي لکه چي ماشومان په لوبوکي ځانونه ستړي کوي ﴿ وَلَهْوٌ ﴾ اوبېکاره عبث مشغولتيا ده (چي انسان دالله له طاعت اودآخرت څخه مشغولوي) ﴿ وَزِينَةٌ ﴾ اوښايست دی (چي ناپوهان ورباندي ځان سينګار وي لکه ښې جامې ، شانداره دسورلی سامان اولوړي ښګلې اومانې

---

[1] کبيرتفسير ۲۹/ ۲۳۲
[2] دبيضاوي تفسير ۳/ ۴۵۳

﴿ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ ﴾ او وياړ (فخر) لويي كول دي په مينځ ستاسي كي يو په بل باندي (چي د مال ، اولاد ، د حسب او نسب په هكله يې كوى لكه چي شاعر وايي:

اری اهل القصور اذا امیتوا * بنوا فوق المقابر بالصخور * ابوا الامباهاة وفخرا * علی الفقراء حتی فی القبور[1]

لنډه معنا دا چي: بډايان كله چي ومري لاهم په بېوزلانو فقيرانو باندي لويي او فخر كوي هغه دا چي په قبرونو باندي مرمريني لوحې لګوي ﴿ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ ﴾ او زيادت ډېروالى دى په اموالو او اولادو كي، ابن عباس رضى الله عنهما وايي چي: مال له هغو لارو راټولوي چي د الله جل جلاله پكي ناخوښي وي او بيا په اولياء الله باندي په دغه مال سره لويي او وياړ كوي او د الله په قهر او نارضايي كي يې لګوي نو همدغه تياري سربېره په نورو تيارو دي (ظلمات بعضها فوق بعض)[2] ﴿ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ﴾ (دا ژوندون د دنيا په فنا كېدلو كي) په مثل (د نباتاتو) د باران دي چي پر ځمكي اوري ښه ښكاري (نا شكره) كروندګر و ته زرغونه د دغه (باران) ﴿ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ﴾ بيا وچه شي (دا ګياه) نو و به وينې هغه زېړ شوي (پس له شين والي د هغه) ﴿ ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا ﴾ بيا شي هغه (وچ وانښه) مات تار په تار (رژېدلي چي هر لوري ته يې باد الوزوي همداسي د دنيا حال دى. قرطبي وايي مراد له (كفار) څخه دلته كروندګر دى ځكه چي دوى تخم په ځمكه كي پټوي ، د آيت معنا دا چي د غه دنيوي ژوند لكه كښت او فصل غوندي دى چي كتونكى كروندګر كله چي ورباندي په ښېو ښېو باران اوري په ليدلو خوشحالېږي مګر لږ څه وروسته بيا ورژېږي كله چي كروندګر او كتونكي خوشحالوي هغه وخت په نهايت حسن او جمال كي وي[3] ﴿ وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ ﴾ او په آخرت كي سخت عذاب دى (فجارو له چي آخرت ته يې شا كړه يوازي دنيايي غوره كړه) او مغفرت ښښنه لويه ده له جانبه د الله او رضوان رضا خوښي ده (لپاره د ابرارو چي مشغول شي په اُخروي چارو او دنيا ته شا كړي) ﴿ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴾ او نه دى دغه ژوند د دنيا مګر متاع اسباب د غرور غولېدلو دى (چي غافلان ورباندي تېر وزي سعيد بن جبير ﷺ وايي دنيا هغه وخت د غرور اسباب دي چي كله دي د آخرت له طلب او لټولو را وګرزوي مګر كه د آخرت لوري ته يې بېولې او د الله رضوان او خوښي ته يې دعوت او بلنه دركوله بيا ډېره ښه وسيله او خوندور اسباب دي[4] كله چي يې د د دنيا حقارت او سپكاوي بيان كړ وروسته يې د الله د رضا او خوښي لوري ته هڅونه ، هغه رضوان چي د تلپاتي نېكمرغي او سعادت سبب ګرزي دا سي پيل كړه چي ﴿ سَابِقُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ ﴾ تلوار وكړئ وځغلئ (اى مؤمنانو) طرف د مغفرت او ښښني ته چي له جانبه د رب ستاسي ده يعني تلوار وكړئ نېكو اعمالو ته چي د مغفرت موجب

---

(١) دغه دوه بيتونه به ما له شيخ عبد الفتاح ابو غدة څخه اورېدل الله دي عمر زيات كړي.
(٢) د امام رازي تفسير كبير ٢٩/ ٢٣٣
(٣) قرطبي تفسير ١٧/ ٢٥٥
(٤) كبير تفسير ٢٩/ ٢٣٣

وي ، ابوحيان وايي چي دلته تعبيرپه لفظ د(سابقوا) راغلی لکه چي دوی دمسابقې په ډګرکي وي اوديوتاکلي هدف لوري ته ځغلي معنادا چي دمغفرت اسبابوته وځغلئ چي ايمان اوطاعات دي(١) ﴿ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ او(وکړئ ښه عملونه اوتلوار وکړئ وځغلئ تاسي ای مؤمنانو) هغه جنت ته چي پلنوالی يې داسي دی لکه پلن والی دآسمان اوځمکي (چي دواړه سره يوځای شي) سدي وايي الله تعالی دجنت پلن والی (پسور) له اوو آسمانونواوو ځمکوله پلن والي (پسور) سره مشابه کړاوپدې کي شک نشته چي اوږدوالی يې ترپسورخورازيات دی(٢)بيضاوي وايي چي پسوربې دغومره وي بيايې داوږدوالي په هکله څه ګمان کوی ؟(٣) ﴿ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ﴾ (داسي جنت ته چي) تيارکړی شوی دی دپاره دهغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی په الله اوپه رسولانوددغه الله باندي مفسرين کرام ليکي چي: په آيت شريف کيددې دليل شته‌چي جنت پيداشوی او موجود دی څکه کوم څيزچي پيداشوی نه وي په تيارېدلونه ستايل کېږي چي وويل شي چمتوشوی دی ﴿ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ﴾ دغه (موعودجنت، مغفرت، رضاء، لقاء) فضل دالله دی چي عطاکوي يې هغه چاته چي اراده وفرمايي دعطايې (چي مؤمنان دي) اووربادي ايجاب نه دی) ﴿ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ اوالله خاوندد عظيم فضل دی ﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ نه رسېږي هيڅ مصيبت آفت غم په ځمکه کي (لکه کاختي، زلزلې، دکښتونو آفتونه اوذ مېووتباهي) ﴿ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ اونه ستاسي په ځانونو کي (له رنځونو، بېوزليو، دردونوکړاونو اوداولادونو له مړينو څخه) ﴿ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ﴾ مګرهغه خوليکلی شوی دی په کتاب (لوح محفوظ) کي پخواله هغه چي پيداکړی وي مونږ هغه (په دنياکي) په التسهيل کي ليکی معناداچي ټولي چاري په لوح محفوظ کي ترپخواله ايجاده ليکلی شوي دي په حديث شريف کي راغلي چي: (ان الله خلق مقاديرالاشياء قبل أن يخلق السماوات والأرض بخمسين الف سنة وعرشه على المآء) (٤)بېشکه الله تعالی د ګردوشيانومقادير دآسمان اوځمکي ترپيدايښت پنځوس زره کاله پخواپيداکړي چي عرش يې په اوبودپاسه وو ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴾ (بېشکه دا(اندازه پخواله پيداکولو) پرالله ډېره آسانه ده) يعني دغه اثبات سره له کثرته ددوی په الله جل جلاله ډېره آسانه ده که څه هم په بندګانوډېره سخته ده ورپسې مونږ ته ددغي خبري چي ګردي پېښي په قضااوقدرباندي واقع کېدونکی دي حکمت بيانوي چي ﴿ لِّكَيْلَا تَأْسَوْا۟ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ ﴾ لپاره ددې چي تاسوخفه نشی پرهغه څه چي ستاسوله لاسه وتلي

---

(١) البحر المحيط ٨/ ٢٢٥

(٢) کبيرتفسير ٢٩/ ٢٣٤

(٣) بيضاوي ٣/ ٤٥٤

(٤) التسهيل لعلوم التنزيل ٤/ ٩٩

فوت شوي دي(له دنيوي نعمتونوڅخه) ﴿ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا ءَاتَىٰكُمْ ﴾ اوخوشحاله نشی تاسي پرهغه څه چي تاسي ته يې درکړي وي (له دنياوي سوکاليوپه خوشحالتياداکبراوغرور سره . مفسرين کرام کاږي چي مرادله خفګان څخه هغه خواشيني ده چي ناهيلي (قنوط) راولي اومرادله خوښي څخه بياهغه دی چي غرور اوتکبرترې پيداکيږي څکه نوابن عباس ﷺ وايې چي هرڅوک خفګان او خوشحالي کوي مګردمؤمن له خفګان سره صبروي اوله نعمت اوخوښي سره يې شکر(۱) څکه نوځيني عارفانوويلي : څوک چي دالله سِر(راز)دقدرپه هکله وپيژني نومصيبتونه ورته آسان شي(۲) حضرت عمر رضی الله عنه وايي : ماته چي هرمصيبت رسيدلی دي نعمتونه مي پکي موندلي دي لومړی داچي هغه مصيبت به په دين کي نه وو، دوهم داچي هغه به ترخپل ځان غټ نه وو، دريم داچي پوهيږم بېشکه په هغه باندي الله سترثوابونه اولوړاجرونه ورکوي ﴿ وَبَشِّرِ الصَّٰبِرِينَ الَّذِينَ إِذَا أَصَٰبَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَٰتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ﴾ ﴿ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴾ اوالله نه خوښوي هرمتکبر(په نعمت باندي) اوفخر کونکی (په نورو باندي) ور پسې الله ددغوناوليوکسانوخويونه داسي بيانوي ﴿ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ﴾ هغه کسان چي(همدوی پخپله) بخل کوي (له نفقې ورکولوفي سبيل الله) او(هم) امرکوي خلګوته په بخل سره (چي کنجوسي ته يې هڅوي) ﴿ وَمَن يَتَوَلَّ ﴾ اوهرهغه چي مخ يې وګرزاوو (له انفاق کولوڅخه) ﴿ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴾ (نوبېشکه الله همغه غني بې پرواپه صفتونوسره ښه ستايلی شوی دی) يعني الله له دوی اوددوی له انفاق څخه مستغني اوبې پروادی پخپلوصفاتوښه ستايلی شوی دی نه د چامخ ګرزول له شکره څخه ورته ضرر رسوي اونه هم دچاطاعت عبادت ورته ګټه رسوي پدې کي وعيداوتهديدنغښتی دی ﴿ لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَٰتِ ﴾ (خامخاپه تحقيق لېږلي وومونږ پيغمبران خپل سره له ښکار وودلائلو) لام دقسم لپاره توطيه معنادا چي قسم دی مونږ خپل پيغمبران په څرګندو دلائلواوکوتلي براهينوسره را استولي ﴿ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَٰبَ وَالْمِيزَانَ ﴾ (اونازل کړی وو مونږ له هغوی سره کتاب اوميزان تله(دعدل) يعني مونږ له دوی سره آسماني کتابونه نازل کړي وو چي دبشر دنېکمرغي اوسعادت ضامن وو اوهغه قانون چي دخلګوترمينځ به ورباندي حکم کېدومونږ را استولی ووځينو مفسرينودميزان معنی په عدل سره کړي ابن زيدليکي ميزان هغه څه دي چي ورباندي تول کېږي اودخلګوترمينځ ورباندي تعامل کېږي ﴿ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ﴾ لپاره ددې چي ودريږي خلګ په انصاف باندي (پخپلومعاملاتوکي) ﴿ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ ﴾ اوراليږلي ده مونږ او سپنه چي پدې کي سخت جنګ ډېرقوت دی (ګردجنګي آلات اسباب له دې څخه تياريږي لکه زغري ، ډالونه ،

---

(۱) دقرطبي تفسير۱۷/ ۲۵۸

(۲) کبيرتفسير۲۹/ ۲۳۹

شوبلی ، تبانگونه اونور ﴿ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ ﴾ اوپکي د ډېر منافع ګټي دي دپاره دخلګولکه د کرکيلي لپاره تراکتوران ، چاړې، تبرونه اونور لنډه داچي هيڅ سامان به نه وي چي اوسپنه پکي کارول شوي نه وي . ابوحيان وايي چي الله تعالی داوسپني له پيدايښت څخه په انزال تعبيروفرمايولکه چي د حيواناتوپه هکله يې فرمايلي ﴿ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلۡأَنۡعَٰمِ ثَمَٰنِيَةَ أَزۡوَٰجٖ ﴾ ځکه ټول اوامر اواحکام څرنګه چي له آسمانه راځي نويې دګردوپه هکله نزول وفرمايواومقصد له وسپني څخه دهغې معدنونه او کانونه دي لکه چي جمهور مفسرينوليکلي دي(۱) ﴿ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ ﴾ اولپاره ددې چي عالم شي الله (په علم ظاهري سره) په هغه چاباندي چي مرسته کوي له ده اورسولانودده سره په غيبو(بې ليدلو) دغه په مقدرمحذوف باندي عطف دی يعني موږ اوسپنه ددې دپاره رالېږلي ده چي مؤمنان دهغې په وسيله له دښمنانوسره وجنګېږي اودالله دکلمې دلوړتيالپاره جهادوکړي او هغه څوک کوم چي دده ددين اوپيغمبرانومرسته کوي په وسلو ، تورو او نېزو استعمالولو باندي جهادکوي اومؤمنان بالغيب وي الله ته په علم ظاهري سره معلوم شي. ابن عباس وايي معناداچي سره له دې چي الله جل جلاله يې ليدلی نه وي مګردهغه ددين اوپيغمبرانومرسته کوي(۲) ورپسې الله تعالی فرمايي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ﴾ بېشکه الله ډېرقوي دی، ښه غالب دی)يعني قوي دی په انتقام اخيستوله دښمنانواوښه غالب دی څوک ورباندي زورورکېدای نشي ترهرچاپه قدرت اوعزت کي لوړ دی. بيضاوي وايي : معناداچي قوي دی په هلاکولودهغه چاچي دهلاکولو اراده يې وکړي زبردست الله دی چي دچامرستي ته اړنه دی، دجهادامريې ددې لپاره مؤمنانوته کړی ترڅوچي دثواب مستحق شي، ابن کثيروايي : دآيت معناداچي اوسپنه يې دهغه چادټکولو لپاره چي څوک حق نه مني اوله دليل او حجت څخه وروسته هم دحق دښمني کوي رالېږلي ځکه نورسول الله صلی الله عليه وسلم ديرلس کاله په مکه مکرمه کي تېرکړل سورتونه به ورته رانازلېدل اودوی ته به يې دلائل اوبراهين وړاندي کول او کله چي په مخالفينوباندي حجت ودرول شونوالله تعالی دهجرت کولو حکم صادراومؤمنانوته يې له کفاروسره دقتال اوجهادکولو امروفرمايوترڅودکفارو ورمېږونه په تورو غوڅ کړي ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : زه دقيامت په مخ کي په توره رااستولی شوی يم زماروزي دنېزې تر سيوري لاندي ده سپکتيا اوخواري دهغه چاده چي زمادحکم مخالفت وکړي څوک چي له چاسره مشابهت کوي دهغوی له ډلي څخه دی(۳)بياالله فرمايي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ﴾ بېشکه الله قوي زورور دی)هرچاته چي وغواړي مرسته ورکوي پرته له دې چي خلګوته دي محتاج وي اوجهاديې دازموينت لپاره رواکړی دی چي ځيني په ځينونورو وازمويي (۴) ﴿ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحٗا وَإِبۡرَٰهِيمَ وَجَعَلۡنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلۡكِتَٰبَۖ ﴾

---

(۱) البحرالمحيط ۸ /۲۲۲

(۲) دجلالين تفسير۴ /۱۷۲

(۳) أخرجه احمد وابو داؤد.

(۴) دابن کثيرمختصر۳ /۴۵۵

اوخامخاپه تحقيق لېږلي وو موږ نوح او ابراهيم اوګرزولي وو موږ په اولاده د دغه (نوح او ابراهيم) کي نبوت پيغمبري ، لکه چي څلور کتابونه ؛ تورات ، زبور، انجيل اوقرآن مود دوی په اولادنازل کړی اوداچي نوح او ابراهيم عليهما السلام بې په ځانګړي توګه يادکړل ترڅو چي د دوی په يادولودوی درناوی اوتشريف وښيي اوددوی دستايلي خويونو خاطره تلپاتي خوندي کړي ﴿ فَمِنْهُم مُّهْتَدٍ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴾ نوځيني له دوی (دنوح او ابراهيم له اولادې) لار موندونکي دي اوډېرله دوی څخه فاسقان نافرمانان وتونکي دي (له حقي لاري څخه) ﴿ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِرُسُلِنَا ﴾ بياوروسته ولېږل موږ په آثاروقدمونودهغوی باندي نور رسولان خپل (موسی، الياس، داؤد، سليمان ، يونس اونورعليهم السلام ﴿ وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ﴾ او وروسته راووست موږ عيسی زوی دمريمي (څکه هغه دبني اسرائيلو وروستنی پيغمبروو) ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ ﴾ او ورکړ موږ ده ته انجيل (هغه کتاب چي دمحمدصلی الله عليه وسلم په هکله پکي زېری شته) ﴿ وَجَعَلْنَا فِى قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً ﴾ (اوګرزولي وو موږ په زړونودهغوکسانوکي چي ددغه عيسی متابعت يې کړی وونرمي اورحمت مهرباني) يعني دده د اتباعو حوارييونوپه زړونوکي شفقت اونرمي وه لکه چي د سيدنارسول الله داصحابو ستاينه کوي چي ﴿ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ ﴾ (١) ﴿ وَرَهْبَانِيَّةً ٱبْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ ﴾ اوپيداکړی وودوی له ځانه رهبانيت (ترک ددنيا) چي نوی يې له ځانه جوړکړی وو دوی هغه ; نه وو مقررکړی موږ دغه (رهبانيت) په دوی باندي (اونه موفرض کړی وو) ابوحيان وايي رهبانيت داچي ښځه به يې نه لرله ددنيالذتونه يې نه خپلول اوتکيه خانې به يې داعتکاف ځای وې د (ابتدعوها)معناداچي له ځانه يې نوي جوړکړي وو(٢) ﴿ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ رِضْوَٰنِ ٱللَّهِ ﴾ (دوی غوره کړی وو رهبانيت) لپاره دخوښي دالله) يعني موږپه رهبانيت ورته حکم نه ووکړی بلکه دوی له خپله ځانه دالله دخوښي لپاره غوره کړی وواستثناء دلته منقطع ده ﴿ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ﴾ پس ونکړ دوی رعايت ددې لکه چي حق د رعايت يې وو. ابن کثيروايي : دغه ددوی له خواوودبدي څرګندېدل دي يودا چي دوی په دين کي بدعت راوړی بل داچي دوی هغه دغسي لکه چي دثواب ګمان يې کاووترسره نکړ (٣) په حديث شريف کي راځي : (لكل أمة رهبانية ورهبانية أمتى الجهادفي سبيل الله) هرامت ته رهبانيت شته زمادامت رهبانيت في سبيل الله جهاددی (٤) ﴿ فَـَٔاتَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ ﴾ پس ورکړ موږ هغوکسانوته چي ايمان يې راوړی وو(په محمدصلی الله عليه وسلم) له هغوڅخه اجرثواب ددوی (خو چنده) ﴿ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴾

(١) التسهيل لعلوم التنزيل ٤ /١٠٠
(٢) البحرالمحيط ٨ /٣٢٨
(٣) ابن كثير ٣ /٤٥٢
(٤) أخرجه امام احمد.

او ډېر له دوی څخه فاسقان نافرمانان دي يعني ډېر نصاراد الله د طاعت له حدودو وتلي او د محارمو خيال نه ساتي لکه چې الله فرمايي ﴿إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ (التوبة ٣۴) ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَءَامِنُوا۟ بِرَسُولِهِۦ﴾ ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو پرپخوانيو انبياوو) و وېرېږئ تاسي له الله (په امتثال د اوامرو او اجتناب له نواهيو څخه) او ايمان راوړئ پر رسول د د غه الله (چې محمد دی) يعني په ايمان ثابت او ټينګ اوسئ ﴿يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِۦ﴾ چې درکړي تاسي ته دوی حصې له رحمته خپله ﴿وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ﴾ او چې وګرزوي تاسي ته يوه رڼا چې تلل به کوي په هغې سره (په آخرت کې په پل صراط باندي) ﴿وَيَغْفِرْ لَكُمْ﴾ او وبښي تاسي ته (ګناهونه ستاسي) ﴿وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ او الله ښه مغفرت کونکی د خطيئاتو) ډېر رحم کونکی دی ﴿لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ ٱلْكِتَٰبِ أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّن فَضْلِ ٱللَّهِ﴾ لپاره ددې چې وپوهېږي اهل کتاب (په دې) چې قادران نه دي دغه (منکران) په هيڅ شي له فضل دالله نه يعني موږ ددغه بيان په هکله ځکه مبالغه وکړه چې اهل کتاب پدې وپوهېږي چې دالله فضل پر دوی پسې ځانګړی نه دی او نه هم رسالت او نبوت پدوی کې حصر دی د (لا) توری په (لئلا) کې زائد دی او معنا يې دا چې (ليعلم). مفسرين کرام ليکي: اهل کتابو به ويل چې: وحی او رسالت په موږ پسې ځانګړی او کتاب او شريعت په موږ پسې خاص دی الله موږ پر دغه فضيلت باندي نازولي يو نو الله په دغه آيت باندي ددوی ترديد وفرمايو ﴿وَأَنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ﴾ او (چې عالمان شي دغه منکران پدې) چې بېشکه فضل او بهتري په يد (بلاکيف) دالله کې ده ورکوي يې هرهغه چاته چې اراده وفرمايي (دورکولو يې) يعني دنبوت ورکولو، هدايت او ايمان راوړلو چاري دالله په لاس کې دي له مخلوق څخه يې چې هرچاته خوښه شي په هغه يې لوروي ﴿وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ﴾ او الله خاوند د فضل ډېر لوی دی.

بلاغت: پدې سورت کې چې دبيان او بديع کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دا دی:

١ – د طباق صنعت لکه چې د ﴿ٱلْأَوَّلُ﴾ او د ﴿وَٱلْءَاخِرُ﴾ او د ﴿وَٱلظَّٰهِرُ﴾ ﴿وَٱلْبَاطِنُ﴾ ترمينځ شته.

٢ – مقابله کله چې فرمايي ﴿يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا﴾ او دا چې ﴿وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا﴾ ترمينځ راغلي ده.

٣ – ردالعجز على الصدر پدې کلام کې چې ﴿يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِى ٱلَّيْلِ﴾ چې بديعي محسنات دي.

۴- حذف بالایجاز کله چي فرمایي ﴿ لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ﴾ چي دغه جمله دلندون لپاره ترې حذف شوي چي (ومن أنفق من بعد الفتح وقاتل) دغه ددې لپاره چي كلام وربانـدي دلالت کوي اودغه ته (حذف بالايجاز) وايي.

۵- لطيفه استعاره پدې كلام کي ﴿ لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ﴾ یعني ترڅوو باسي تاسي له تاريکيو دشرک څخه نوردايمان ته نودلته یي دظلمات کلمه دکفراوضلالت لپاره استعاره راوړه اودنور کلمه یې بيادايمان اوهدايت لپاره چي دغه پخواهم تېرشوي دي.

۶- تمثیلي استعاره چي فرمایي ﴿ مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ دهغه چامثال چي خپل مال دالله په لاره کي دالله درضالپاره لګوي الله ته پور ورکونکی وباله هغه پورچي واجب الاداء وي اودغه دتمثيلي استعارې په توګه راغلی دی.

۷- تهکمي اسلوب لکه پدې آیت کي ﴿ مَأْوَاكُمُ النَّارُ هِيَ مَوْلَاكُمْ ﴾ یعني ستاسوبل مرستندوی نشته مګرددوزخ اور دي دغه پردوی باندي استهزاء اوتهکم دی.

۸- لطيفه مقابله د ﴿ بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ ﴾ اود ﴿ وَظَاهِرُهُ مِن قِبَلِهِ الْعَذَابُ ﴾ ترمينځ راغلي ده.

۹- تمثيلي تشبيه پدې آيت کي چي فرمايي ﴿ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ﴾ څکه وجه دشبه له متعددڅخه اخيستل شوي نوتمثيلي تشبيه يې ګڼلای شو.

۱۰- ناقص جناس لکه ﴿ لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا ﴾ چي دځينوتورو دشکل په تغيرمونـدل کيږي.

۱۱- لکه پيپلي ملغلري غوندي مرصع سجع چي فرمايي: ﴿ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ ﴾.

اويادغه الهي ويناچي ﴿ فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ لَّهُ بَابٌ بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهُ مِن قِبَلِهِ الْعَذَابُ ﴾ اودغه په قرآن کريم کي زښته ډېرځايه راغلي ده.

دالله په مرسته دالحديد سورت تفسيراوژباړه بشپړه شوه

***

د (المجادلة) سورت مدني اودوه ويشت آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالمجادلې سورت مدني اوتشريعي احکام پکې راغي لکه دظهارکفارت چي په مظاهرباندي اوړي همدغسي دتناجي حکم اودمجالسواويادرسول الله صلى الله عليه وسلم سره دليده کاته په وخت کي دصدقې وړاندي کول اوداچي دالله له دښمنانوسره دي مينه ونکړای شي اوداسي نوري خبري چي ديهودانو اومنافقانو څخه غږېږي.

سورت په پيل کي د(خولة بنت ثعلبة) کيسه رااخلي چي مېړه يې ورسره ظهارکړی ووهغه چي د جاهليت له دودسره سم به ښځه له ظهارڅخه حرامېدله نو(خولة) رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله دخپل خاوند ظلم يې ورته بياناوو ويل يې: ای دالله استازي ! زمامال دولت يې وخوړ ځواني مې خاوري کړه لږمون يې راوشيندل آن تردې چي زه بوډۍ شوم اوداولاد زېږولونه يم نويې ظهار راکړ. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: ماته داسي معلومېږي چي ته وربانديي حرامه شوې يې ! هغې به بياناري سورې پيل کړې ويل به يې: (ای رسول الله ماته يې طلاق نه دی راکړی يوازي ظهاريې کړی دی رسول الله صلى الله عليه وسلم به پخوانۍ خبره ورته تکراروله نوهغې وويل : ای الله زه تاته خپل شکايت وړاندي کوم ! الله يې دعاومنله اوتکليف يې آسانه کړچي ويې فرمايل ﴿ قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّتِى تُجَٰدِلُكَ فِى زَوْجِهَا وَتَشْتَكِىٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ... ﴾ دآيتونوترپايه پوري

وروسته دظهاردکفارت حکم پکي راغي چي فرمايي: ﴿ ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمْ ۖ إِنْ أُمَّهَٰتُهُمْ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔى وَلَدْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ ٱلْقَوْلِ وَزُورًا ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ... ﴾ د آيتونوترپايه.

له دې په وروسته دتناجي په هکله هغه چي ددووتنوترمينځ پټې خبري وي بيان راوړي دغه خوی به ديهودانو اومنافقانووچي ديوبل په غوږکي به يې پټې خبري کولې ترڅومؤمنان وځوروي نوددغسي خواله اورازونوويل يې وغندل اومؤمنان يې له داسي کولوڅخه ووېرول چي ددې کارعواقب اوانجام نيمه خوادی ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ... ﴾ ترپايه.

بيا له ملعونويهودانو څخه غږېږي هغوی چي درسول الله مجلس ته به راتلل اوداسي ژوولی سلام به يې کاووچي په ښکاره به سلام معلومېدو خوپه حقيقت کي به ښکنځل وولکه چي ويل به يې (السام عليک يامحمد ! ددوی به له دغي خبري څخه مقصدمرګ وويعني پرتادي مرګ وي (العياذبالله) الله يې داسي انځوروي ﴿ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ... ﴾.

بیاهمداسي له منافقینوڅخه په تفصیل سره غږېږي هغوی چي یهودان یې په ملګرتیانیولي وو له هغوی سره یې مینه اومحبت درلود دمسلمانانورازونه به یې هغوی ته لېږدول نوالله ددوی له ناولي اعمالوڅخه پرده پورته کړه اوویې فرمایل: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِم ...﴾ دآیتونو ترپایه.

دسورت په پای کي الله تعالی دمحبت في الله اوبغض فی الله حقیقت بیانوي همدغه دایمان ننبه اوددین ټینګ ځنځېردی دایمان په بشپړتوب کي دکفاروسره دښمني کول خوراداهمیت وړخبره ده نوفرمایي: ﴿لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ ...﴾ دسورت ترپایه پوري

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ (١) الَّذِينَ
يُظَاهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَائِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا
وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ (٢) وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ذَٰلِكُمْ
تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (٣) فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ
فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ (٤) إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ
وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَقَدْ أَنزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ (٥) يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا
فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا أَحْصَاهُ اللَّهُ وَنَسُوهُ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ (٦) أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي
الْأَرْضِ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ
مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (٧) أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نُهُوا عَنِ النَّجْوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ
لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَيَتَنَاجَوْنَ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَإِذَا جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ وَيَقُولُونَ فِي
أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللَّهُ بِمَا نَقُولُ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمَصِيرُ (٨) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا
بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ (٩) إِنَّمَا النَّجْوَىٰ مِنَ الشَّيْطَانِ
لِيَحْزُنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيْسَ بِضَارِّهِمْ شَيْئًا إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (١٠)﴾ المجادلة: ١ ـ ١٠

لغتونه:

(تحاورکما) ستاسي دواړو خبري محاوره یوله بله خبري اتري کول له حورڅخه اخیستل شوی چي رجوع ته وایي اوپه ماثوره دعاوو کي راځي چي (نعوذبالله من الحور بعد الکور) عنتره دخپل آس په هکله داسي وایي: لوکان یدری ما المحاورة اشتکی * ولکان لوعلم الکلام مکلمي.

که پدې پوهېدای چې محاوره څه ده ؟ نوبه يې شکايت کړی وواوکه په خبروپوهېدای راسره به ګرېدلی وو (يظاهرون) ظهارله ظهرڅخه مشتق دی وايې (ظاهرمن امرأته) کله چې داسي ويناوکړي چې ورته وواېې ته په ماباندې لکه دمورشاداسي حرامه يې ! (منکرا) منکرهرناولي کارته وايې چې شريعت يې حرام بولي اوترې کرکه کوي دغه دمعروف ضددی (يحادون) چې دښمني کوي محادات مخالفت او دښمني ته وايه شي. زجاج ليکي چې (محادّة) دې ته وايې چې ته دخپل ملګري له حدڅخه په مخالف حد کي يې اواصل يې له ممانعت څخه اخيستل شوی دی (کبتوا) مقهور شوي کبت قهرته وايې (نجوی) ددوو يازياتو کسانوترمينځ پټې خبري کول دي (حسبهم) کافي دی دوی ته.

دنزول سبب:

أ- روايت کېږي چې (خولة بنت ثعلبة) دأوس بن صامت مېرمن يوه ورځ چې خاوندې ورڅخه دکوروالي غوښتنه وکړه هغې ونه منل نومېړه ته يې قهر ورغی ورته يې دظهارويناوکړه (خولة) رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله اوورته يې وويل چې اوس يې له ماسره ظهارکړی دی وروسته له هغه چې زه بوډۍ شوم هډوکي مي ناتوانه شول زماوړې نجوني دده لوڼې دي که يې ده ته ورپرېږدم نوهغوی له مينځه ځي اوکه يې له ځانه سره بيايم وږي کېږي نوته څه حکم کوې؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: ماته داسي معلومېږي چې ته ورباندې حرامه شوې يې ! هغې ورته وويل: قسم دی چې طلاق يې نه دی يادکړی هغه زمااولادونوپلاردی پرماترګردوخلګوګران دی ! رسول الله به خپله وينا تکرارکړه چې: (ماته داسي معلومېږي چې ته ورباندې حرامه شوې يې) هغې به بياخپلې خبرې تکرارولې ترهغوبې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه دحکم پوښتنه کوله څوچې نازل شو: ﴿ قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّتِى تُجَٰدِلُكَ فِى زَوْجِهَا وَتَشْتَكِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ دآيتونوترپايه (۱).

ب – بخاري له حضرت عائشې رضی الله عنهاڅخه روايت کوي چې هغې وويل: تبارک وتعالی ديرکت خاوند دی هغه ذات چې دګردوخلګوآوازونه اوري (خولة بنت ثعلبه) رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله او زه دانګړپه يوه کونج کي ناسته وم چې دده ځيني خبري مي اورېدې اوځيني نوري مي نشوای اورېدلای هغې دخپل خاوند شکايت رسول الله ته کاوو،ويل يې زماځواني يې رابربادکړه ماخپل لړمون ورته غوړولی وو تردې پوري چې زه بوډۍ شوم نورداولادزېږولونه يم نويې (ظهار)راکړ؟ الهي زه تاته خپل شکايت وړاندې کوم هغه ووچې حضرت جبريل عليه السلام ددې آيتونوپه راوړلوسره راورسېدو (۲).

تفسير:

﴿ قَدْ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوْلَ ٱلَّتِى تُجَٰدِلُكَ فِى زَوْجِهَا ﴾ (په تحقيق اورېدله الله خبره دهغې (ښځې) چې سوال اوځواب يې کاووله تاسره په شان د خپل خاوند کي) (قد) يوازې په افعالوداخلېږي اوکله چې له ماضي سره راشي نودتحقيق افاده کوي خوله مضارع سره راتلل يې دتقليل معناورکوي چې وواېې

(۱) دصاوي حاشيه په جلالين باندې ۱۷۹/۴

(۲) أخرجه البخاري وابن ماجه والبيهقي.

(قديجود البخيل) بخيل هم كله كله دسخا لاس اوږدوي او ياداچي (قد ينزل المطر) كله به باران واوري زمخشري ليكي چي مقصدله اورېدلو دوينادهغې ښځه ددعامنل او اجابت دی يوازي دالله علم ترې مرادنه دی اوددې مثال هغه دلمونځ كونكي دوينا په څېردي كله چي وايې (سمع الله لمن حمده)

(١)﴿ وَتَشْتَكِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ اوشكايت يې كاوو طرف دالله ته (په عاجزي سره چي مشكل يې حل كړي)

﴿ وَٱللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَآ ﴾ اوالله اورېده سوال اوځواب ستاسي (چي هغې څه درته وويل اوتاڅرنګه ځواب

وركړ؟) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴾ بېشكه چي الله ښه اورېدونكی دی (چي څوک ورته مناجات اوزاری

كوي) ښه كتونكی دی (داعمالو دبندګانو؛ دغه لكه دماقبل تعليل غوندي دی پورتنی دواړه صيغې

دمبالغې دي[٢]) ورپسې الله دظهارنا سم والی بيانوي دهغه حكم اودفاعل جزايې داسي څرګندوي

فرمايې ﴿ ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمْ ﴾ (هغه كسان چي ظهاركوي (موروايي) له تاسي څخه خپلوښځوته نه كېږي دغه ښځي (په بللو ددوی سره) ميندي ددوی)يعني هغه كسان چي خپلو مېرمنوته وايې چي (تاسي پرموږ باندي لكه دميندوشاګاني دغسي ياست) چي ددوی مقصدپه دې سره دهغوی تحريم وی دغه په حقيقت كي ددوی ميندي نه بلكه ددوی ښځي دي ، امام رازي ليكي چي (ظهار) عبارت دمېره له هغي ويناڅخه دی چي خپلي ښځي ته ووايې چي : ته پرماباندي لكه د خپلي مورشاغوندي يې) معنادا چي په تاباندي زماپورته كېدل (ختل) لكه پخپله موردغسي دي ، عرب دطلاق په هكله وايې له خپلي ښځي كښته شوم مقصديې داوي چي طلاق مي وركړنوله دغه لفظ څخه دهغې دجماع (كوروالي) تحريم دی ځكه چي له مورسره يې تشبيه كړي ده اوداچي فرمايې (منكم) دغه دعربولپاره توبيخ دی ځكه دغه ظهاردجاهليت دوختونوله ځانګړي لوړو(قسمونو) څخه وو له دوی

پرته بل چادغسي لوړه نه ده اخيستي (٣)﴿ إِنْ أُمَّهَٰتُهُمْ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔى وَلَدْنَهُمْ ﴾ نه دي ميندي ددوی مګرهغه

ښځي دي چي دوی يې زېږولي دي ؛ دغه دلومړني لپاره تاكيددی چي فرمايلي يې وو ﴿ مَّا هُنَّ

أُمَّهَٰتِهِمْ ﴾ اودزيات بيان اوتوضيح لپاره راغلی دی ﴿ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ ٱلْقَوْلِ وَزُورًا ﴾

اوبېشكه خامخادوی وايې يوه خرابه (خبره) له خبري اودروغ وايې (چي حقيقت اوشريعت يې نه مني)

﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴾ اوبېشكه الله خامخا ښه عفوكونكی ښه مغفرت كونكی دی هغه چاته چي توبه وباسي اوالله ته رجوع وكړي په التسهيل كي راوړي چي ظهاريې منكراودروغ ونوماوو ځكه چي منكرهغه دی چي حقيقت نلري اودروغ يې ځكه وبلل چي (مظاهر) خپله ښځه مورنوموي او هغه دغسي

نه ده ظهارله څلورو وجوهاتو حرام دی يوداچي دالله داوينا ﴿ مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمْ ﴾ دغه د (مظاهر) تكذيب دی دوهم داچي (منكر) يې وبالو دريم داچي (زور) يې وګڼله ، څلورم داچي په پای كي يې وفرمايل

---

(١) كشاف ١٥٠/٤

(٢) دابوالسعود تفسير

(٣) كبيرتفسيرپه لندون سره ٢٩ /٢٥١

﴿ وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴾ څکه عفو او مغفرت وروسته له ګناه څخه وي، دغه ګناه تر هغو پورې له مظاهر سره ملګرې ده څوچې کفاره یې اداکړي، ورپسې بیاالله تعالی د کفارې بیان داسې فرمایي ﴿ وَالَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ ﴾ او هغه کسان چې (مورواله) ظهار کوي له ښځو خپلو نه ﴿ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا۟ ﴾ بیا راګرزي دوی (ماتولود) هغې خبرې ته (چې ویلې یې وي) پښېماني څرګنده کړي غواړي چې بیرته یې خپلې ارتینې کړي ﴿ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا ۚ ﴾ نو لازم دی دوی ته آزادول د مریې پخوا د هغه چې یو بل سره مسه کړي (په وطی کولو سره) تماس له جماع او د هغې له دواعیو څخه کنایه ده دواعي د جمهورو په نزد لکه مچول او لاس اچول دي. خازن لیکي چې مراد له تماس څخه (جماع) کول دي مظاهر ته روانه دي چې پخوا تر کفارې ورکولو له ښځې سره (کوروالی) وکړي (۱) قرطبي وایي چې مظاهر ته پخوا له کفارې اداکولو مجامعت روانه دی او که یې وکړنو بیا ګنهګار او کفاره یې په ذمه پاتې کیږي او مجاهد بیا وایي چې په دغسې حالت کې دوه کفارې ورباندې اوړي (۲) ﴿ ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِۦ ۚ ﴾ دغه (حکم په کفارت سره) پند درکاوه شي تاسې ته په دغه (حکم) سره (چې ظهار پرېږدئ او بیا دغسې مکړئ) ﴿ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ او الله په هغه څه چې تاسې یې کوی ښه پوهېدونکی دی (ظاهر او باطن ګردو ته معلوم دي نو دالله د حقوقو او د شرعي حکمونو پاملرنه کوئ) ﴿ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا ۖ ﴾ پس هغه چا چې ونه موند (مریی) نو (پرې لازم) روژه نیول دي د دوو میاشتو پرله پسې تر پخوا (له جماع کولو) چې یو بل سره مسه کړي، مفسرین کرام لیکي: که چېرې یوه ورځ هم روژه ونه نیسي نو دغه پرله پسې والی له مینځه ځي او بیا به دوه میاشتې پرله پسې روژه نیسي ﴿ فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ۚ ﴾ پس هغه چې توان نلري (د روژې نیولو) نو (پرې لازم) خواړه ورکول دي شپېتو مسکینانو ته (چې ماړه شي) ﴿ ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا۟ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۚ ﴾ دغه (بیان د احکام د ظهار) د پاره د دې دی چې ایمان راوړی تاسې په الله او په رسول د دغه (الله) باندې (او د جاهلیت په دود و نو عمل ونکړی) ﴿ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ ۗ ﴾ دغه (مذکور احکام) حدونه (مقرر شوي) د الله دي (معین کړی شوي نو ترې تجاوز مکوئ) ﴿ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او کافرانو ته عذاب د ېر دردناک دی) یعني هغه څوک چې د دې حدودو منکر وي دردناک عذاب به یې په برخه شي، الوسي لیکي چې د حدودو متجاوزته یې د تغلیظ په توګه زجرًا کافر وواېو (۳) ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُحَآدُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ﴾ هغه کسان چې مخالفت کوي له الله او له رسول د دغه (الله) څخه (او ورسره دښمني کوي. ابوالسعود وایي: معنا دا چې د الله سره په مخالف حد کې ولاړوي او دغه (محادات) کلمه یې د (معادات) پرځای څکه راوړه چې پخوا (حدود الله) تېر شوي

(۱) د خازن تفسیر ۴/ ۳۸

(۲) د قرطبي تفسیر ۱۷/ ۲۸۳

(۳) د الوسي تفسیر ۲۸/ ۲۰

رونوددغي كلمې او هغې ترمينځ خوراحسينه موقع دى چي ترې پورته نشي موندل كېداى (١) ﴿ كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ خوارهلاک به كړل شي دوى لكه چي خوارهلاک كړى شوي وو هغه كسان چي پخواله دوى څخه وو (له منافقينو او كفارو څخه چي خواراوذليل شول) ﴿ وَقَدْ أَنزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ ﴾ اوپه تحقيق نازل كړي دي موږ دلائل (چي پكي حلال اوحرام اوفرائض احكام دي) روښانه ﴿ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ اوكافرانومنكرانوته عذاب سپكونكى رسواكونكى دى. صاوي ليكي چي: دغه آيت شريف دمكې دكفاروپه هكله نازل شوى دى كله چي يې داحزاب دجگړې په ښښنه كي گردو گوندونوپه رسول الله صلى الله عليه وسلم او مسلمانانوباندي يرغل وكړ اومقصدپې كي درسول الله ﷺ داډينه اومسلمانانوته زبرى وركول دي چي ددوى دښمنان به الله گردسره ذليل او وښويوي مسلمانان دي ورځخه ونه وبرېږي ددوى دښمنان به الله تيت اوپرک ,تارپه تاركړي (٢) ﴿ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا ﴾ يادكړه يادكړه (اى محمده!) هغه ورځ چي ژوندي به پورته كړي الله دوى ټول له قبورو(په يوه ميدان كي) ﴿ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا ﴾ پس خبربه كړي (الله) دوى په هغوكارونوباندي چي كړي يې وي (په دنياكي له گناهونواومعاصيوڅخه) ﴿ أَحْصَاهُ اللَّهُ وَنَسُوهُ ﴾ شمېرلي ساتلي دي الله هغه (اعمال) اوهېركړي دي هغوى هغه اعمال يعني الله د دوى عملونه په صحائفوكي خوندي كړي خودوى پدې چي په حساب اوجزايې باورنه درلودهېركړي وو ﴿ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴾ اوالله په هرشي باندي ښه شاهدښه خبردارد ى (هيڅ څېزورڅخه پټ نه دى وريسې الله دخپل علم پراخي داسي ستايې چي علم يې په گردوشيانومحيط دى الله خلگ ټول هرڅېري اوهرډول چي وي ويني اوخبري يې اوري بيافرمايې ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ ﴾ آيانه وينې ته نه يې خبرچي بېشكه الله ته ښه معلوم دى هرهغه څه چي په آسمانونوكي دي اوهرهغه څه چي په ځمكه كي دي (بلكه خبرېږې) نه به وي پټي خبري (يودبله په غوږونوكي) ددرې تنومگرخودغه (الله) به څلورم دهغوى وي (علمًا) چي ددوى هغه پټي خبري او مشورې به اوري اووينې به يې ﴿ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ ﴾ اونه به وي پنځه تنه (راز ويونكي) مگرخودغه (الله) به شپږم دهغوى وي (په اعتباردعلم سره) ﴿ وَلَا أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ﴾ اونه به وي لږله دې (عدد) نه اونه به وي ډېر (له دې عددنه) مگر خووي به دغه (الله) له هغوى سره په اعتباردعلم سره هرچېري چي وي هغوى (اوهرڅه خبري اتري چي كوي غرض داچي الله تعالى له خپلوبندگانوسره حاضراوناظردى دهغوى په احوالواعمالواوپټودزړه په رازونوخبردارد ى هيڅ شى ورڅخه الونيا(پټ) نه دى ځكه نو وروسته فرمايې ﴿ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ

(١) دابوالسعود تفسير ٥ /١٤٥
(٢) صاوي په جلالين باندي ٤ /١٨٧

ٱلْقِيَـٰمَةِ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴾ بیابه خبرکړي الله دوی په هغو (دنیوي اعمالو) چې کړي یې دي په ورځ د قیامت کي بېشکه الله په هر څېز باندې ښه پوهېدونکی ښه خبردار دی (هغه که نېک وي او که بد الله به ورباندي جزاء ورکړي. مفسرین کرام وایي: الله تعالی دغه آیت په علم پیل کړی ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ ﴾ او پای یې بیا په علم فرمایلی چي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴾ ددې لپاره چي پدې تنبیه وفرمایي چي د الله علم په کلیاتو او جزئیاتو محیط دی او د کائناتو هیڅ شی ورڅخه پټ نه دی، ابن کثیر لیکي چي ډېرو خلکو داسي ویلي چي د علماوو پدې اجماع راغلي ده چي مراد له (معیت) څخه پدې آیت کي د الله د علم معیت دی او پدې اراده کولو کي شک او شبه نشته ځکه چي د الله سمع سره له علمه پر دوی محیط دی او بصر یې پر دوی کي نافذ دی نو الله سبحانه وتعالی پر خپل مخلوق ښه خبردار دی چي هیڅ چاره یې له (الله) څخه پټه نه ده له دې وروسته الله د منافقینو او یهودانو احوال داسي بیانوي ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نُهُوا۟ عَنِ ٱلنَّجْوَىٰ ﴾ آیا نه وینې ته نه یې خبر هغه کسان چي منع کړی شوي وو له پټو خبرو څخه. قرطبي وایي: دغه د منافقینو او یهودانو په هکله نازل شوی چي دوی به پټي خبري سره کولې او د سترګو او سر په اشارو به یې مؤمنان ځورول، مسلمانانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړ او رسول الله هغوی له داسي کولو څخه منع کړل خو دوی له دې سره سره منع نه شول نو بیا دا آیت نازل شو[1] ﴿ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا۟ عَنْهُ ﴾ بیا بیرته وروګرځېدل دوی هغه شي ته چي دوی ترې منع کړی شوي وو. ابو السعود لیکي چي همزه په (ألم تر) کي د دوی د حال د تعجیب لپاره دی او د مضارع صیغه چي ﴿ ثُمَّ يَعُودُونَ ﴾ دی د دوی د بیا بیا راګرځېدلو په تکرار د دلالت کولو لپاره راغلي او د هغه عجیبه تصویر څرګندوي[2] ﴿ وَيَتَنَـٰجَوْنَ بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ ﴾ او پټي خبري کوي دوی په ګناه سره (ځکه چي د دوی خبري د مسلمانانو لپاره د چل ول او مکرونو پلمو بهانو جوړولو لپاره وې، ابو حیان لیکي لومړی یې (أثم) یاد کړ چي عام دی او بیا یې دښمني یاده کړه چي په زړونو کي سترتوب لري او د خلکو ترمینځ پېښېږي ورپسي یې تردې لوړه بیان کړل چي هغه د پیغمبر نافرماني ده او پدې کي د منافقانو لپاره پېغور دی ځکه چي دوی په همدې ډول پټي غونډې او مرکې کولې[3] ﴿ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ ﴾ او کله چي راشي دوی تاته ای محمده نو پېشکشي درکوي سلام اچوي تاته په هغه شي سره چي پېشکشي نه ده مقرر کړې په هغه شي سره الله (په ځای د السلام علیک، السام علیک وایي یعني مرګ دې پرتاوي. مفسرین کرام کاږي یهودان به کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل نو به یې ورته ویل: (السام علیکم) او سام مرګ ته وایي د دوی به همدا مقصد وو او رسول الله به په ځواب کي

---

(1) د قرطبي تفسیر ۱۷/۲۹۱ درمیان انجمن ها حرف سرګوشي زدن درمیان سینه ها تخم نفاق افګندن است.
(2) د ابو السعود تفسیر ۵/۱۴۵
(3) البحر المحیط ۸/۳۶

ورته ويل(وعليكم) بل څه به يې نه پرې زياتول نو يوه ورځ حضرت عائشې صديقې واورېدل ورته ويې ويل: (عليكم السام واللعنة) پرتاسي دي مرګی اولعنت وي ، کله چي دوی بيرته ستانه شول نو رسول الله صلی الله عليه وسلم عائشې رضی الله عنهاته وويل: داسي مه وايه الله جل جلاله فحش نه خوښوي هغې ورته وويل: ای رسول الله تاوانه ورېدل چي دوی څه وويل ؟! رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: آياتاوانه ورېدل چي ماڅه ورته وويل؟! ماورته وويل : (وعليكم) الله جل جلاله زمانبېراپر دوی باندي مني اودوی هغې زماپه باب نه مني ﴿ وَيَقُولُونَ فِىٓ أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُ ﴾ اووايي دوی په نفسونو(زړونو) خپلوکي ولي نه په عذابوي موږ الله په هغه (غلط) څه چي وايوېې (که رښتيامحمد پيغمبروای نود داسي ويناله ويلوسره به پرموږ عذاب راپرېوتی وای ، الله جل جلاله ددوی په ردکي فرمايي ﴿ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ يَصْلَوْنَهَا ﴾ بس دی دوی ته (په تعذيب کي) دوزخ (چي ورننوځي به) ﴿ فَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴾ نوبدځای دورتللودی (دادوزخ) ابن عربي ليکي: دوی به ويل که محمد په رښتيادالله پيغمبروی نوبه موږالله دده د سپکاوي اوښکنځلوپه سبب خوشي نه پرېږدي اوژرترژره به عذاب راکړي نوپدې نه پوهېدل چي الله تعالی حليم ذات دی ژرترژره هغه چاته هم عذاب نه ورکوي کوم چي پخپله الله جل جلاله ته ښکنځل وکړي څه خولادا چي دهغه پيغمبرته يې کړي وي په صحيح حديث شريف کي راځي چي: په ځورولوکي ترالله هيڅوک هم زيات صبرناک (زغمونکی) نشته خلک هغه ته دمېرمني درلودلواوذوذات (اولاد) نسبت کوي خوهغه بياهم دغه نسبت کونکوته روغتيااوروزي ورښني ، هوکي الله جل جلاله دغه آيتونوددوی دپټواسرارو درسوا کولو لپاره نازل کړي اودرسول الله صلی الله عليه وسلم تکريم يې فرمايلی دی ([1]) اوداچي دوی يې په دنياکي له عذابه بېغمه پرې ايښي دي دغه هم درسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل پروردګار باندي يوبل کرامت دی ځکه چي الله تعالی هغه (رحمة للعالمين) رااستولی دی ورپسې الله تعالی مؤمنان له داسي پټوخبرواتروڅخه چي ګناه اومعصيت وي راګرزوي ورته فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَنَٰجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَٰجَوْاْ بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ ﴾ ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو) کله چي تاسي پټي خبري کوی يوله بله سره په (غوږونوکي)پس مکوئ پټي خبري پخپلومنځونوکي په ګناه سره اوپه تجاوز دښمني ظلم اوپه نافرماني درسول (الله) سره ﴿ وَتَنَٰجَوْاْ بِٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ﴾ اوپټي خبري مصلحت کوئ پخپلومنځونوکي په احسان نېکي اوپرهېزګاري سره ، قرطبي ليکي: الله تعالی مؤمنان له دې څخه ووېرول چي دمنافقانواويهودانوپه شان پټي خبري اومصلحتونه وکړي اوپدې يې ورته حکم وفرمايوچي په احسان نېکي اوطاعت تقوي مصلحتونه ترسره کړي دالله له نواهيوڅخه ځان وژغوري ([2]) ﴿ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴾ اووېرېږئ له (عذابه د) الله هغه (الله) چي خاص ده ته به تاسي جمع کړی شی په قيامت کي

---

[1] قرطبي تفسير ١٧/ ٢٩٢

[2] نفس المرجع ١٧/ ٢٩٤

(جزاء ته چي هرچاته به پخپل عمل باندي ورکول شي) ﴿ إِنَّمَا ٱلنَّجْوَىٰ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ لِيَحْزُنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ بېشکه چي پټي خبري (په ګناه) کار د شيطان دی لپاره ددې چي خفه کړي هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی. ابن کثيروايي: معنا داچي کله له پټي خبري کونکو څخه داکار صادرېږي دغه د شيطان له خوا ورته ښايسته کول او وسوسه کېدل دي[١] ﴿ وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ اونه ده دغه (تناجي پټه خبره) ضرر رسونکي دغو (مؤمنانو) ته دهيڅ شي مګرپه حکم اراده دالله ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ اوښايې چي خاص پر الله پس توکل وکړي مؤمنان (اوالله ته دي خپلي ګردي چاري وسپاري دخلګوپه پټ رازويلودي هيڅ پرواهم نه کوي ځکه الله يې دهغوی له ضررڅخه ژغوري په حديث شريف کي راځي: که تاسي درې تنه ملګري وی نودوه تنه دي يوله بله پټي خبري نه سره کوي ځکه چي دريم تن خواشينی کېږي.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا۟ فِى ٱلْمَجَٰلِسِ فَٱفْسَحُوا۟ يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُوا۟ فَٱنشُزُوا۟ يَرْفَعِ
ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا نَٰجَيْتُمُ ٱلرَّسُولَ
فَقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَةً ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ ۚ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾ ءَأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىْ
نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَٰتٍ ۚ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا۟ وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ
﴿١٣﴾ ۞ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ
لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٦﴾ لَّن
تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُۥ
كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ ۖ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ ۚ أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٨﴾ ٱسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ ٱلشَّيْطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمْ ذِكْرَ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ حِزْبُ
ٱلشَّيْطَٰنِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱلشَّيْطَٰنِ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿١٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ٱلْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ ٱللَّهُ
لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾ لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ ٱللَّهَ
وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ كَتَبَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْإِيمَٰنَ
وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ
أُو۟لَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٢٢﴾ ﴾ المجادلة: ۱۱ ـ ۲۲

(١) دابن کثيرمختصر ۳/ ۴۶۳

مناسبت:

کله چي الله مؤمنان له هغه څه نه کوم چي ددوی ترمینځ کرکه اونفرت پیدا کوي وو پرول نو هغوی ته یې دصبراوزغم مارپینه وکړه ځکه چي دميني دزياتوالی سبب ګرزي هغه داچي په مجالسو کي یود بل لپاره ځای پرانيزي پراخي ورته جوړه کړي او ورپسې یې دالله ددښمنانوسره له دوستي کولو څخه منع کړل اودسورت پای یې بیاد کاملو مؤمنانو په اوصافو ستايلو بشپړ کړ.

لغتونه:

(تفسحوا) ځای ارت کړئ لکه چي ویل کېږي (مکان فسیح) یعني ارت ځای (انشزوا) پورته شئ پاځئ له (نشز) څخه اخیستل شوی اوهغه لوړي ځمکي ته وایې (جُنّة) دجیم په ضمه سره ژغورونکی (استحوذ) غالب شوی دی (په عقلونو ددوی) (الأذلین) ذلیلان مغلوبان هغوی چي په ذلت کي غوپه وي.

دنزول سبب:

أ- مقاتل وایې رسول الله صلی الله علیه وسلم به دبدریانو اصحابانو که به مهاجرین اوکه انصار وو درناوی کاوو یوه ورځ ځیني دبدر اصحاب چي ثابت بن قیس هم پکې وو مجلس ته ناوخته راورسېدل او درسول الله صلی الله علیه وسلم خواوشاته په پښوولاړ ودرېدل اوپه مجلس کي دکېناستلولپاره دځای موندلوپه انتظارو و خوچاهم ځان ونه خوځاوه اورسول الله صلی الله علیه وسلم ته دغه حالت لیدل ناخوښه وونویې ځینو هغوکسانو ته چي بدریان نه وو وویل: فلانیه پورته شه! فلانیه پورته شه! څوتنه چي شمېرېې دبدریانوپه شمېر وو له ځایه ولېږول اودغه خبرپه دغوپورته کړی شویوباندي سخته تمامه شوه اودوی غوښتل چي رسول الله ته نژدې کېني خوهغه کسان چي ناوخته راغلي وو تردوی نژدې کېنول شول نوالله جل جلاله داآیت نازل کړ: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُواْ فِى ٱلْمَجَـٰلِسِ فَٱفْسَحُواْ يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ (١).

ب- ابن عباس رضی الله عنه وایې چي: دېروخلګو به له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتني کولې اوپه رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي به زښته زیاته ګنه ګوڼه وه الله جل جلاله وغوښتل چي دوی یوڅه راتم کړي اوپه رسول الله آساني جوړه شي نویې وفرمایل ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَـٰجَيْتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَىْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَةً ﴾ دآیت ترپایه نوکله چي داآیت نازل شو ډېرمسلمانان بې زړه شول اوپوښتني یې پرېښودې (٢).

ج- سدي وایې: (عبدالله بن نبتل) یومنافق وو درسول الله په مجلس کي به کېناست اودهغه خبري به یې یهودانوته رسولې یوه ورځ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله یوه حجره کي وو نو ویې ویل: اوس به یوتن رادننه شي چي دکبرجن زړه به لري اودشیطان په سترګوبه ګوري چي (عبدالله بن نبتل) راغی اوشنې سترګې یې وې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ولي ته او ستا ملګري ماته

---

(١) القرطبي ١٧/٢٩٧

(٢) مختصرابن کثیر ٣/٤٦٥

ښکنځل کوی ؟ هغه لوړه وکړه چي موږ ښکنځل ندي کړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: بلکه تاسو کړي دي نوهغه ولاړ اوملګري يې راوبلل هغوی قسم وخوړچي هغو ښکنځل يې ندي کړي نوالله دا آيت نازل کړ ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ (۱).

تفسیر:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ ﴾ ای هغو کسانوچي ایمان يې راوړی (ای مؤمنانو !) دالله تعالی له لوري په ښایسته لفظ اولطیف عبارت نداراغلي يعني ای په ایمان ښایسته کسانو ! ﴿ إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا۟ فِى ٱلْمَجَـٰلِسِ فَٱفْسَحُوا۟ ﴾ کله چي وویل شي تاسوته چي ځاي ارت کړئ په مجلس کي نو ځاي ارت کړئ (دغه که هرمجلس وي درسول الله اويانورمجالس) ﴿ يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ چي ارتیاوکړی الله تاسي لره (په رحمت اوجنت خپل کي) مجاهدوايي : اصحابانوبه درسول الله مجلس ته يوله بله سيالي کوله نوورته حکم وشوچي ځای ديوبل لپاره ارت کړي (۲) خازن ليکي چي الله تعالی مؤمنانوته دتواضع کولو ماربينه کړي اوداچي دمجلس د ګډون کونکولپاره ځای پرانيزي (۳) ترڅوچي ګرد اصحابان يوشان د رسول الله په مجلس کي بارياب اوله ګټوفيوضاتو يې برخمن شي. په حديث شريف کي راځي هيڅوک دي بل سړی له ځايه نه پاڅوي چي بيادهغه پرځای کښني لکن په مجلس کي پراختياراولئ اوځای ارت کړئ چي الله پرتاسو (دجنت رحمت) ارتياراولي (۴) امام فخر رازي ليکي : چي دالله دغه وينا چي فرمايي ﴿ يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ دغه مطلقاياده شوي چي ټول هغه خلګ يې د پراختيا غوښتونکي وي لکه دځای ، رزق ، روزي سينې (صدر) قبر، جنت اونورپکي راځي اوپدې و پوهېږه چي په آيت شريف کي ددې دلالت شته چي هر څوک دالله په بندګانو دخيراوهوسايي پراختيا راولي الله به ورباندي ددنيااوآخرت پراختياپېرزو کړي په حديث شريف کي راځي: الله ترهغو پوري د يوه بنده په مرسته کي وي څوچي بنده دخپل ورور په مرسته کي لګياوي (۵) ﴿ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُوا۟ فَٱنشُزُوا۟ ﴾ اوکله چي تاسوته وويلی شي چي پورته شئ (له

---

(۱) تفسیرخازن ۴ /۵۲

(۲) القرطبي ۱۷ /۲۰۴

(۳) خازن ۴ /۵۰

(۴) أخرجه البخاري ومسلم.

(۵) تفسیرالرازي ۲۹ /۲۶۹ (۳) علامة ابن کثیرددغه آیت سره دراتلونکي سړي لپاره دپورته کېدلو حکم داسي ليکلي دي وايې: فقهاء رحمهم الله ديوچادراتلوپه وړاندي دپورته کېدلو (قيام) په هکله ټول يوه خوله (متفق) نه دي ځيني وايې: پورته کېدل روادي اودليل راوړي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم يووخت وفرمايل: (قوموا لسيدكم) ستاسو د مشر لپاره پورته شئ ! اوځينو بياهغه ممنوع بللي اودليل راوړي چي رسول الله فرمايي: څوک چي داخوښوي دهغه دراتلوپه وخت کي خلګ ورته ولاړشي نوپه دوزخ کي دي خپل ځای جوړکړي ، څوک بياوايې : په ځانګړي حالاتوکي پورته کېدل روادي لکه چي يوڅوک دمسافردراتلولپاره ورته ولاړشي اويادوخت دحاکم په وړاندي دهغه دولايت په وخت کي لکه چي سعدبن

مجلس څخه څوچي نوروته ځای پیدا شي) نوپورته شئ !، ابن عباس رضی الله عنه وايې: معناداچي کله درته وويل شي چي پورته شئ نو پورته شئ په البحرالمحيط کي راوړي چي لوړی ځل په مجلس کي دارتيااوپراخي کولو ورته وويل شول اوبياکله چي ورته امروشي دهغه د امتثال په هکله يادونه وشوه چي پدې هکله دې نه خواشيني کېږي ﴿ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ﴾ پورته کوي الله هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی له تاسوڅخه (په امتثال د اوامرودالله اورسول الله) او(خاص هغه کسان)چي دوی ته علم ورکړی شوی دی (پورته کوي يې لوړو مرتبودجنت ته . ابن مسعودﷺ وايې: الله پدغه آيت کي دعلماوو ستاينه کړې اوبيايې وويل: ای خلکوپه دې آيت وپوهېږئ اودغه مودعلم په هکله دترغيب ذريعه جوړه کړي ځکه چي الله تعالی وايې: عالم مؤمن په هغه مؤمن چي عالم نه وي په درجاتوپورته دی، قرطبي ليکي: چي پدې آيت کي ددې څرګندونه شته چي لوړوالی دالله په نزدپه ايمان اوعلم دی نه پدې چي يوڅوک دمجلس په سرکي ناست وي ، په حديث شريف کي راځي چي دعالم فضل اوبهتري په نوروخلګولکه دڅورلسم سپوږمۍ بهتري په نورو ستوروباندي ده اوهمداسي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايې چي: دآخرت په ورځ به درې ډلې شفاعت کوي: نبيان، بياعلماء او ورپسې شهيدان) نودنبوت او شهادت ترمينځ واسطه د رسول الله په شاهدي سره دغه ستره دعلم واسطه ده (۱) ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ اوالله په هغو(کارونو) چي تاسويې کوی ښه خبردار دی (چي جزابه پرې در کړي يعني الله ستاسو دفضل اوثواب په مستحقو کسانوښه خبردار دی) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيْتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَىْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَةً ﴾ ای هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو) کله چي اراده کوئ دپټو خبروله رسول (دالله) سره نو وړاندي کړئ په مخ کي درازخپل څه صدقه خيرات (فقراوو لره) الوسي وايې: پدې حکم کي درسول الله دمقام تعظيم اودرناوی اودفقراوو لپاره ګټه ده اوددې لپاره ترڅوچي مخلص مؤمن اومنافق سره بېل کړي اوهمداسي هغه کسان چي دنياخوښوي اوهغوی چي آخرت غواړي سره جلاشي (۲) ﴿ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ ﴾ دغه (ورکول دصدقې مخکي له پټوخبرونه) خيربهتر دېرغوره اوپاکيزه دی تاسو لره (په نزددالله ځکه چي دالله دحکم امتثال دی او ستاسي ګناوي پاکوي ﴿ فَإِن لَّمْ تَجِدُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ نوکه بيانه مومی (تاسي هغه شی چي صدقه يې کړئ) پس بېشکه الله ښه مغفرت کونکی د(خطيئاتو) دېررحم والادی (په انعام داجراوثواب سره) چي ناوسه کسان پدې حکم باندي نه مکلف کوي ﴿ ءَأَشْفَقْتُمْ

معاذرضی الله عنه ته پاځېدل کله چي رسول الله هغه دبني قريظه ووپه هکله دفيصلې کولولپاره وګمارواوکله چي راورسېدونو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دخپل مشرلپاره پاځئ اودغه ددې لپاره ووچي دهغه حکم ښه اغېزناک شی اوبياليکي هغه څوک چي همدغه دودستورجوړوي نودغه دعجموشعاردی ، په سنتوکي داسي څرګندوني شته چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به چي کله کوم ځای ته راغي هغلته به کېناست او همغه ځاي به دمجلس صدرمقام شو....

(۱) القرطبي ۱۷/۳۰۰

(۲) دالوسي تفسير ۲۸/۳۰

أَن تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَٰتٖۚ ﴾ آيا وېرېږئ تاسي (له فقره) چي وړاندي کړئ په مخکي دپټي خبري ستاسي صدقات خيراتونه دغه مؤمنانوته نرم اوخوږ عتاب دئ اوغرض ورڅخه دادئ چي له فقره مه وېرېږئ! دالله په لاس کي د ځمکي، آسمان خزانې دي چاته چي يې خوښه شي ورکوي يې ورروسته بيادغه حکم منسوخ شو اودغه دالله له لوري په مؤمنانوباندي دآساني پېرزوينه ده نوفرمايي: ﴿ فَإِذۡ لَمۡ تَفۡعَلُواْ وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ ﴾ پس په هغه وخت کي چي ونکړتاسي دغه (خيرات) او رجوع په رحمت سره وکړه الله پرتاسي باندي (چي دغه صدقه ورکول يې درته معاف کړل) ﴿ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ نوقائم کړئ (سم ودروئ سره له ټولوحقوقو) لمونځ او ورکړئ تاسي زکات (کوم چي فرض دئ) ﴿ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ ﴾ اوحکم ومنئ تاسي دالله (اوحکم ومنئ تاسي) درسول الله (په ټولو حالاتو کي) ﴿ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴾ اوالله ښه خبردار دئ په هغو اعمالوباندي(هم) چي تاسي يې کوئ (نوجزاء به ورباندي درکړي) يعني الله ستاسو په اعمالو او نيتونو خبردار دئ. مفسرين کرام وايي: الله تعالى پخپلوبند ګانو دتخفيف له مخي دغه صدقه ورکول منسوخ کړل، ابن عباس وايي: دورځي يوڅه برخه لانه وه تېره شوي چي دغه حکم منسوخ شو[1] قرطبي ليکي فرضي زکات دغه صدقه منسوخ کړه اودغه ددې رواوالى ښيي چي يوکار دمخه ترکولو منسوخ شي اوهغه چي له علي رضى الله عنه څخه روايت راغلى چي وايي: په قرآنکريم کي يوآيت دئ چي له ماپرته بل هيچاترماد مخه او وروستهورباندي عمل نه دئ کړى ما يو دينار درلودهغه مي صدقه کړاودرسول الله مناجات مي وکړ دغه ضعيف بريښي ځکه چي الله فرمايي ﴿ فَإِذۡ لَمۡ تَفۡعَلُواْ ﴾ او دغه پدې دلالت کوي چي هيچاهم هيڅ صدقه ورکړي نه ده[2] ﴿ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوۡاْ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم ﴾ آيانه ګورې ته (اى محمده!) هغو (منافقانو) ته چي دوستي کوي له هغه قومه (ديهودانو) سره چي الله پرهغوى غضب کړى دئ؟ دغه رسول الله ته دمنافقانوپه حال باندي تعجب ورکول دي چي آياته د دغوله حاله تعجب نکوې چاچي د ايمان دعوه کړي اوبياله يهودانوسره دوستي پالي دمسلمانانو اسرار هغوى ته رسوي. امام فخر الاسلام وايي: منافقانوبه له يهودانوسره دوستي پالله هغه کسان چي الله ددوى په هکله فرمايلي: ﴿ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيۡهِ ﴾ اوهم دوى ته به يې دمؤمنانواسرار اوپټ رازونه ويل[3] ﴿ مَّا هُم مِّنكُمۡ وَلَا مِنۡهُمۡ ﴾ نه دي دغه منافقان له تاسو اونه له دوى څخه (بلکه څپ څپانده مذبذب دي لکه چي الله جل جلاله فرمايي ﴿ مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِۚ ﴾ (النساء ۱۴۳) صاوي ليکي: معنادا چي دوى له خالصومؤمنانوڅخه نه دي اونه هم له خالصو

---

(۱) خازن ۴/ ۵۳
(۲) قرطبي ۱۷/ ۳۰۳
(۳) کبيرتفسير ۲۹/ ۲۶۹

کفاروڅخه دي نونه بيې دوی. نه يې هغوی ته نسبت کېږي (۱) ﴿ وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ اوقسمونه خوري (منافقان په دعوی داسلام) په دروغو باندي حال داچي دوی پوهېږي (پخپلو دروغو) ابوالسعودليکي چي دغه تعبيرددوی د خورابدعمل افاده کوي ځکه په هغه څه قسم خوړل چي پوهېږي دغه دروغ دي خوراناده ره بدکاردی (۲) ﴿ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ﴾ تيارکړی دی الله دوی ته عذاب ډېرسخت (په سبب دنفاق ددوی چي په درک أسفل د دوزخ کي به اوسي) ﴿ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴾ ﴿ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾ بېشکه دوی لره بددی هغه شی چي وو دوی چي کول به يې (له ګناهونو) ﴿ ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً ﴾ ګرځولي دي دوی قسمونه خپل ډال (چي سراومال خپل پرې خوندي کړي چي څوک يې ونه وژني او مال يې لوټ نه کړي، په التسهيل کي ليکي ډال هغه څه ته وايې چي سرې ورباندي ځان ژغوري اودلته يې داستعارې په توګه راوړي يعني دوی اسلام ددې لپاره څرګند اوو چي ځان اومال ورباندي وژغوري (۳) ﴿ فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ پس منع ستانه کړل دوی (په دغو قسمونو سره مؤمنان له لاري دالله نه (چي په زړونو کي يې شکوک اوشبهات ورواچول بهاني پلمې يې ورته جوړي کړې ﴿ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ پس دوی لره دی عذاب سپکونکی (اوسخت) ﴿ لَّن تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ ﴾ له سره به دفع نکړي له دوی څخه (په قيامت کي) مالونه ددوی او نه اولادددوی له (عذابه د) الله څخه هيڅ څېز ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴾ دغه کسان ياران ملګري ددوزخ دي دوی به پدې دوزخ کي تل اوسېدونکي وي (چي نه به ترې وزي) ﴿ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا ﴾ (يادکړه ای محمده !) هغه ورځ چي ژوندي پورته کړي (دوی) الله ټول (په قيامت کي د حساب لپاره) ﴿ فَيَحْلِفُونَ لَهُۥ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ ۖ ﴾ نو قسمونه به خوري دوی هغه (الله) ته لکه چي قسمونه خوري دوی تاسي ته (په دنياکي ای مسلمانانو ! ابن عباس وايې: دغه ددوی هغه وينا ده چي وايې ﴿ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ (۴) ﴿ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ ۚ ﴾ (اوګمان به کوي (دوی) چي ېېشکه دوی په يوشی دي(نفعمن اوپه ښه لاره درومي) يعني دوی به ګمان کوي چي په قيامت کي هم قسمونه خوړل ورته ګټه رسوي او له عذابه يې ژغوري لکه چي دوی يې په دنياکي ژغورل اوچابه نه وژل چي مسلمانان دي. ابوحيان وايې: دتعجب ځای دادی چي دوی څرنګه داسي عقيده لرله چي ددوی کفرعلام الغيوب ذات ته ندی معلوم اوالله داسي ګڼي لکه مسلمانان چي ددوی کفر ورته نه معلومېږي مقصدداچي دوی په دروغو داسي

(۱) دصاوي حاشيه په جلالين ۴ /۱۸۴
(۲) دابوالسعود تفسير
(۳) التسهيل ۴ /۱۰۵
(۴) قرطبي ۱۷ /۵

رو رېدی شوي چي په آخرت کي به يې هم داسي وايې لکه چي په دنيا کي يې ويل(١) ﴿أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴾ واورئ! خبردار شئ! چي بېشکه دوی همدوی دروغجنان دي (چي له الله سره هم دروغ چلوي هغه چي علام الغيوب ذات دی) ﴿ٱسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ ٱلشَّيْطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمْ ذِكْرَ ٱللَّهِ﴾ غالب شوی دی پردوی باندي شيطان نو هېر کړی دی شيطان له دوی نه ذکر ياد د الله (يعني د دوی په زړونو او وجودونو باندي واکمن شوی چي د الله ياد يې تر يې هېر کړی دی ﴿أُوْلَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱلشَّيْطَٰنِ﴾ دغه (هېرونکي کسان) لښکر د شيطان دي (دهغه پيروان ملګري او مرستندويان دي) ﴿أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱلشَّيْطَٰنِ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ﴾ خبردار شئ بېشکه لښکر تابعان د شيطان هم دوی دي زيانکاران (چي ابدي نعمتونه يې له لاسه ورکړل او په تلپاتي زحمت کي يې ځانونه وغورځول ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ فِى ٱلْأَذَلِّينَ﴾ بېشکه هغه کسان چي مخالفت کوي له الله او له رسول د دغه (الله) څخه دغه (د مخالفانو ټولی) په (جملې د) ذليلانو مغلوبانو کي ده (د الله له رحمت څخه دوی ليري دي) ﴿كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ﴾ ليکلي دي الله (په لوح محفوظ کي)چي خامخا به غلبه بری وکړم هرومرو زه او رسولان زما (يعني الله د خپلو انبياوو اولياوو پيغمبرانو او مؤمنانو په بريالي کولو غښتلی، قوي او پياوړی دی ﴿إِنَّ ٱللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ﴾ بېشکه الله ډېر قوي ښه غالب دی قوي دی چي انبياوو او اولياوو ته بری ورکړي او ښه غالب په دښمنانو دی ، مقاتل رحمه الله وايې: کله چي الله جل جلاله مؤمنانو ته د مکې ، خيبر او طائف فتح ورکړه نو دوی وويل: موږ هيله من يو چي الله به مو په فارس او روم هم غالبه کړي عبدالله بن سلول وويل: آيا ګمان کوی چي فارس او روم هم داسي کلي ، ښارګوټي دي لکه چي تاسو ورباندي بری موندلی قسم دی چي تر هغه چي تاسي پرې ګمان کوی هغوی ډېر ځواکمن او په شمېر کي زيات دي نو دا آيت نازل شو چي ﴿كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ﴾ (٢) ﴿لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ﴾ او نه به مومې ته (ای محمده! او نه ښايې چي بيا مومې) يو قوم چي ايمان يې راوړی وي په الله او په ورځي د آخرت (قيامت) چي دوستي به کوي له هغه چا سره چي مخالفت کوي له الله او له رسول د دغه (الله) څخه (څکه څوک چي له الله سره دوستي کوي نو د الله د ښمنان بدا يسوي په يوه زړه کي د الله او د هغه د دښمن دواړو مينه نه ځائېږي لکه چي رڼا او تياره نه يو ځای کېږي همداسي مثال د دغه د الله مينه او د دښمن مينه يې ده . مفسرين کرام وايې چي: د آيت شريف څخه مقصد له کفارو او مجرمينو سره مينه نه کول دي خو دغه د اخبار په ښه ځکه راوړل شو چي په نهی او تحذير کي مبالغه افاده کړي امام فخر رازي ليکي: معنا دا چي ايمان او د الله د دښمنانو مينه سره يو ځای کېدای نشي ، کله چي د الله د دښمنانو مينه زړه ته ورننه

---

(١) البحر المحيط ٨ / ٢٣٨

(٢) البحر المحيط ٨ / ٢٣٨

شي نوبياهلته دايمان ځاى نشته (١) ﴿وَلَوْ كَانُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ﴾ اګر که وي دغه (مخالفين) پلرونه ددوى اوزامن د دوى ياورونه ددوى يا(نورقبيله) خپلوان ددوى (ځکه چي دايمان غوښتنه داده چي دالله له دښمنانوسره دي عداوت وکړي په البحرالمحيط کي ليکي چي: پيل يې له پلرونو کړى ځکه چي ددوى طاعت په اولادونوواجب دى ورپسې يې دزامنو کړى چي په هغوى باندي د سړي مڼ اووزرقوي کيږي اوبيايې دقبيلې اوخپلوانونوم اخيستى ځکه چي د دښمنانوپه وړاندي دخپلوقومونواوقبيلوله وګروڅخه مرسته غوښتل کيږي لکه چي شاعروايي: لايسألون اخاهم حين يندبهم * في النائبات على ماقال برهانا. دوى له خپله وروره څخه کله چي هغه يې مرستي اومددکولو ته دمشکلاتوپه وخت کي وبولي کوم دليل نه غواړي. ابن کثيرليکي: دغه آيت چي ﴿وَلَوْ كَانُوٓا۟ ءَابَآءَهُمْ﴾ دى دابوعبيده په هکله رانازل شوى کله چي (جراح) پلاريې دبدرپه ورځ ووواژه، اوداچي ﴿أَوْ أَبْنَآءَهُمْ﴾ دى دغه بياد ابوبکرصديق رضى الله عنه په باب کله چي دخپل زوى عبدالرحمن بن ابي بکردوژلوقصديې وکړ ﴿أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ﴾ بيادمصعب بن عميرپه باره کي دى کله چي يې ورور عبيدبن عميرووواژه ﴿أَوْ عَشِيرَتَهُمْ﴾ بيادحضرت حمزه، علي، عبيدة بن حارث په هکله دى کله چي يې عتبه اووليدبن عتبه وواژه (٢) ﴿أُو۟لَٰٓئِكَ كَتَبَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْإِيمَٰنَ﴾ دغه (قوم چي له اعداء الله سره دوستي نه کوي) ليکلى دى (الله) په زړونوددوى کي ايمان يعني په کي تثبيت کړى يې دى دوى مخلص مؤمنان دي ﴿وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ﴾ اوقوي کړى يې دي دوى په غيبي فيض مددله نزده خپله. ابن عباس رضى الله عنه وايي: معناداچي په دښمن يې برى ورکړى اودغه مددته يې روح ځکه ويلي چي دوى ورباندي ژوند اوحيات مومي (٣) ﴿وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ﴾ اوداخل به کړي الله دوى په جنتونو کي چي بهيږي له لاندي دونواومانيودهغوويالې ﴿خَٰلِدِينَ فِيهَا﴾ تل به وي دوى په هغو(جناتو) کي ﴿رَضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ﴾ راضي شوالله له دوى څخه (ددوى عملونه يې قبول کړل) اوراضي شو دوى له الله څخه (چي دخپلونېکواعمالوثواب يې جنت وموند اوداچي رضايې د جنت له دخول څخه وروسته ذکرکړه ځکه هغه دنعمتونو خوراسترنعمت فضل اوزښته لوړه مرتبه ده. ابن کثيرليکي چي: په آيت شريف يوعجيبه رازپروت دى هغه داچي کله دوى پخپلوخپلوانودالله په وجه په غصه شول نوالله دوى ته په دغه عوض کي خپله رضاورکړه اودوى يې هم په مقيم نعيم باندي راضي کړل چي ستربرى يې ورپه برخه کړ (٤) ﴿أُو۟لَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱللَّهِ﴾ دغه (خلک) دالله لښکردي (دالله خاصان اواولياء دي) ﴿أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ

(١) کبيرتفسير ٢٩/ ٢٧٦

(٢) مختصرابن کثير ٣/ ٤٢٧

(٣) کبيرتفسير ٢٩/ ٢٧٧

(٤) مختصرابن کثير ٣/ ٤٢٨

ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ واورئ ! خبردار شئ ! چي بېشكه لنبكرد الله چي دى هم دوى دي په مرادرسېدونكي (بريالیان په دنیااو آخرت كي) اودغه دالله جل جلاله ددې وینا په مقابل كي چي ﴿ أُولَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱلشَّيْطَٰنِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱلشَّيْطَٰنِ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴾ (المجادلة :١٩) دى راورل شول.

بلاغت:

پدې مبارك سورت كي چي دبديع اوبيان كومي ښكلاوي شته لنډيزيې دادى:

١ – دمبالغې صيغې لكه ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴾ او ﴿ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ او ﴿ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴾ چي راغلي دي.

٢ – اطناب چي دمیندوپه تكرارپدې كلام كي شته چي ﴿ مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمْ ۖ إِنْ أُمَّهَٰتُهُمْ ﴾ دغه په تقريراوبیان كي زیاتوالى دى.

٣ – دطباق صنعت چي فرمايي ﴿ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ ﴾ ځكه دأدنىٰ معنالږ دى اوداكثرپه وړاندي طباق ګڼل كېږي.

٤ – عطف دخاص په عام باندي چي په شرافت يې تنبيه وښيي لكه ﴿ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ﴾ ځكه دغه كسان چي ﴿ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ ﴾ دي دمؤمنانوپه ډله كي لومړى يادشول اوبيايې په خاص ډول يادول دتعظيم دافادې لپاره راغلي دي.

٥ – استعاره چي فرمايي: ﴿ فَقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَةً ﴾ دلته يې ديومعنوي څېزلپاره چي هغه مناجات دى د لاسونواستعاره راوړه يعني ترپخواله مناجاته خپله صدقه وركړې.

٦ – استفهام چي مرادورڅخه تعجيب دى لكه پدې كلام كي ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم ﴾.

٧ – ناقص جناس چي د ﴿ يَعْمَلُونَ ﴾ او ﴿ يَعْلَمُونَ ﴾ ترمينځ راغلى دى اويوازي ليك دودېې تغيرلري.

٨ – مقابله چي د ﴿ أُولَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ او ﴿ أُولَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ ترمينځ شتون لري.

٩ – دجملې ښكلا په ډېروتاكيداتوباندي لكه ﴿ أَلَآ ، إِنَّ ، هُمُ ﴾ چي كله فرمايي ﴿ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾.

١٠ – دفواصلوتوافق اويووالى چي په وروستني توري كي ليدل كېږي لكه ﴿ ٱلْخَٰسِرُونَ ، ٱلْكَٰذِبُونَ ، خَٰلِدُونَ ، يَعْمَلُونَ ﴾.

لطيفه:

امام احمد له ابو طفيل څخه روايت کوي چي نافع بن عبد الحارث له عمر بن الخطاب سره په عسفان کي وليدل عمر (رضى الله عنه) هغه په مکه باندي والى گمارلى وو، عمرورته وويل څوک دي په خپل ځاى خليفه وټاکل هغه ورته ويل (ابن ابزى) مي خپل خليفه ټاکلى عمرورته وويل داڅوک دى هغه وويل زموږله موالينو څخه يوڅوک دى عمر رضى الله عنه ورته وويل مولى دي ورته خليفه کړى؟ هغه په ځواب کي ورته وويل: اى اميرالمؤمنينه هغه دقرآن کريم قاري اوپه ميراث علم باندي پوه د قضاء کولوجوگه اوورږ دى عمر رضى الله عنه وويل: ستاسونبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (ان الله يرفع بهذالكتاب اقوامًا، ويضع به آخرين).

دالله جل جلاله په مرسته د (المجادلة) سورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

دالحشر سورت مدني اوخليرويشت آياتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالحشر سورت مدني دى اودتشريع دبيانولو په هکله لکه نورمدني سورتونه غوندي انځورلري خوبنسټيزمحوريې کوم چي سورت ورباندي څرخي راڅرخي دبني نضيردغزاء څخه بيان دي بني نضيرهغه يهودان ووچي له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې خپله ژمنه اووعده ماته کړه هغه وو چي رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دوى له مدينې منورې څخه وايستل اوله دې کبله به عبدالله بن عباس ﷺ دغه سورت ته دبني نضيرسورت نوم هم ورکاوو.

همداسي په دغه سورت کي دمنافقينويادونه هم شوي کوم چاچي له يهودانوسره يې لاس يوکړى وو، په لنډه توگه دغه سورت دجهاداوغزاء په باب دى چي غنيمتونه اوولجې هم پکي يادېږي

دسورت پيل دالله جل جلاله په تمجيد، لويې اوپاکي سره کېږي چي گرد کائنات که انسانان دي که حيوانات، نباتات، جمادات اويانوردالله جل جلاله په وحدانيت، قدرت اوجلال شاهدان اوپه عظمت اوسلطان يې گويادي فرمايې: ﴿ سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾.

ورپسې په سورت کي ځيني دالله دقدرت آثاراودعزت څرگندوني دي چي يهودان يې له خپلو هستوگنځيو، اوچتومانيوبرجونو اوکلاگانو څخه وايستل دوى خوگمان کاوو چي هيڅوک دوى له دغه ځايه ايستلاى نشي دوى خورا ژغورلي اولوړ، محکم داوسېدلو ځايونه لرل خودالله عذاب له داسي لوري ورباندي راپربوت چي هېڅ دوى يې گمان هم نه کاوو ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمْ لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ... ﴾ دآيتونوترپايه.

بياسورت دغنيمتونو اوولجويادونه کوي شروط اوحکمونه يې ښيي اودفئ ځانگړتيا تخصيص فقيرانوته حکمت بيانوي څوچي غنيان اوبډايان يې په بډه ونه وهي اوداچي دټولني دگردو طبقاتوترمينځ يوانډول توب موجودوي چي ددواړو ډلوعام مصلحتونه خوندي اودواړوته پکي خيروي ﴿ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ ... ﴾ دآيتونو ترپايه.

دسورت په ترخ کي درسول الله ﷺ په اصحابانو باندي دثناباران دی چي دمهاجرينو فضائل نبيي اودانصاروپېرزوينه، مهاجرينو خپل هيوادونه پرې ايښي اودالله جل جلاله مينه اومحبت يې غوره کړی اوانصاروبيادالله ددين مرسته کړي اودخپلومهاجرينوورونوپه وړاندي يې دخپلو مالونو او ملکونولورينه منلي وه که څه هم چي دوی پخپله ورته اړتيالرله اوفقيران هم وو آيتونه فرمايي ﴿لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا ...﴾ دآيتونوترپايه.

همداسي دمهاجرينواوانصاروپه وړاندي يې دمنافقينواواشراروپادونه هم کړي ده کوم چي د اسلام په خلاف يې له يهودانوسره تړون کړی وو ددوی لپاره يې زښته بدمثال راوړی هغه داچي دوی لکه دشيطان غوندي هغه چي انسان تېرباسي اوکفرضلالت ته يې وهڅوي اوچي هغه کافراوګمراه شي بيانوشيطان ورڅخه لاس پرېمنځي اوپښېمانه شي همداسي دمنافقينوحال له يهودانوسره هم وو ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُوا۟ يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ ...﴾ دآيتونوترپايه.

همداسي مؤمنانوته دهغي هيبتناکي ورځي په يادونه پندورکوي کوم چي هلته حسب اونسب ګټه نه رسوي مال اورتبه منصب چاته په ښه نه ورځي.

بيادجنتيانو اودوزخيانوجلاوالی فرمايي دنېکمرغه کسانواوبدمرغانوبرخه ليک هلته دعدل اوجزا په ورځ څرګندوي چي فرمايي ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ...﴾ د آيتونوترپايه.

دسورت پای دالله جل جلاله په حسنی نومونو اوعُلياصفاتو کېږي اوله نقصانه څخه پاکي يې ستايې چي ﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ...﴾ همداسي پيل اوپای يې په يوښکلي تناسق اوترتيب سره پېيي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مِن
دِيَٰرِهِمْ لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ ۚ مَا ظَنَنتُمْ أَن يَخْرُجُوا۟ ۖ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا۟ ۖ
وَقَذَفَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعْبَ ۚ يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِى ٱلْمُؤْمِنِينَ فَٱعْتَبِرُوا۟ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٢﴾ وَلَوْلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ
عَلَيْهِمُ ٱلْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ﴿٣﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۖ وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ
شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٤﴾ مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ وَلِيُخْزِىَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٥﴾ وَمَآ
أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْهُمْ فَمَآ أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ
كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٦﴾ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ

كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ ۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلْعِقَابِ ﴿٧﴾ لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ
وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَٰنَ مِن قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِى
صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُوا۟ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٩﴾ وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَٰنِ
وَلَا تَجْعَلْ فِى قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾ ﴾ الحشر: ١ - ١٠

لغتونه:

(الحشر) جمع اوټولولوته وايي قيامت ته ځکه حشروايي چي هلته هم دانسانانوستره ټولنه او اجتماع دحساب اوجزاء لپاره راغونډېږي اوهمداسي پدې آيت کي چي ﴿ وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ ﴾ يعني لښکرورته راغونډکړی شو (قذف) په سختي سره له پاسه راغورزول (الجلآء) له اهل اولادسره له هيواده وتلوته وايي (شاقوا) دښمني اومخالفت يې وکړ (لينة) دلام په زېرسره هغه دخرماوني ته وايي چي ځمکي ته لنډه اونژدې اودخوندوري مېوې درلودوونکي وي ځکه يې لينه بولي چي مېوه يې خورانږدې وي (أوجفتم) وجيف ګړندي تګ ته وايي ويل کيږي: (أوجف البعير) کله چي اوښ ګړندی تګ ته وهڅوي (دولة) ددال په پېښ سره هغه څه ته وايي چي لاس په لاس شي (خصاصة) فقراواړتيابولي (غِلًا) رخه اوکينې (حسد) ته وايي.

دنزول سبب:-

کله چي دبني نضيريهودانوله رسول الله صلى الله عليه وسلم سره کړی عهداوپيمان مات کړنو رسول الله صلى الله عليه وسلم دوی محاصره کړل ددوی دونودسوځولو اوپرېکولوامريې وفرمايو ترڅوددوی په زړونوکي وېره واچوي اوددوی سپکاوی وشي نودوی وويل: ای محمده! آياته داسي ګمان نکوې چي ته پيغمبريې ؟ اوته له فسادڅخه خلک راګرزوې ؟ نوبياولي زرغونې وني سوځوې اوپرېکوې يې ؟! نوالله جل جلاله داآيت نازل کړچي: ﴿ مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ ... ﴾ ([1]).

تفسير:

﴿ سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ نسبت دپاکي کوي الله ته هرهغه چي په آسمانونوکي او هرهغه چي په ځمکه کي دي (له پرښتو، انسانانو، جماداتواوونوڅخه، لکه چي الله فرمايي ﴿ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ ﴾ (الاسرآء: ۴۴) ابن کثيرليکي چي: الله ددې اخبارفرمايې چي ګردمخلوقات د ځمکي

([1]) کبيرتفسير ۲۹/ ۲۸۳

اوآسمان دالله تسبيح وايې تقديس اوپاكي يې بيانوي اودتوحيد څرګندونه يې كوي (١) ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ او همدغه الله ښه غالب دی ښه حكمت والا دی (پخپله پاچهي اوصنعت كي) ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمْ ﴾ دغه الله هغه ذات دی چي ايستلي دي هغه كسان چي كافران شوي وو له اهل كتابو څخه له كورونو خپلو څخه ، دغه دالله دقدرت دځينوآثاروبيان دی يعني الله جل جلاله هغه ذات دی چي بني نضيريې دمديني منورې له خپلوكورونوڅخه په لومړي ځل ټولونه كي پسي واخيستل ځكه دوی ته داسي سپكتيا اوخواري كله هم نه وه رسېدلي ، بيضاوي ليكي: كله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته راغی نوله بني نضيرسره يې داسي سوله روغه وكړه چي نه به ورسره ملاتړي اونه به يې په خلاف دريږي خوكله چي دبدرورځ راغله اودمسلمانانوبری په برخه شونودوی وويل: داهغه پيغمبردی چي صفت يې په تورات كي راغلی چي دده بيرغ به كله هم نسكور نشي خوكله چي مسلمانانو دأُحُد په ورځ ماتي وخوړله نودوی شكمن اوله خپلي وعدې واوښتل كعب بن اشرف سره له څلوېښت تنه سپرومكې ته راغی اوله ابوسفيان سره يې تړون لاس ليک كړنورسول الله صلى الله عليه وسلم محمد بن مسلمه ته دكعب دوژلوووېل: اوهغه هم درسول الله ماربينه پرځای اوكعب يې له مينځه يووړاوبيادمسلمانانولښكري پردوی راوګرزېدې ترڅوچي دوی داسي روغي ته غاړه كېښوده چي له مديني منورې څخه دي دباندي ووزي ,اكثره يې شام ته وكوچېدل اويوه طائفه خيبرته ورغلل همدادالله ويناده چي ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمْ لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ ﴾ (٢) الوسي ليكي چي ددې قول چي ﴿ لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ ﴾ دی معناداچي دغه ددوی شام ته لومړنی حشراوټولنه ده اوپدې (اول) سره پدې تنبيه ده چي تردې له مخه كله هم دوی ايستل شوي نه وو(٣) ﴿ مَا ظَنَنتُمْ أَن يَخْرُجُوا۟ ﴾ ګمان نه كاووتاسي (ای مؤمنانو) چي دوی به (له مديني منورې) څخه ووزي(خپل كورونه او وداني به په داسي سپكتياپرېږدي ځكه دوی خوراغښتلي په عزت اوپرتم كي اوسېدل ډېري ځمكي ،كښتونه ، فصلونه ، دخرماوو اومېوو وني اوټينګي اوچتي كلاګاني يې درلودې ﴿ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ اوګمان به كاوودوی چي بېشكه دوی لره منع كونكي، ساتونكي دي ګلاكاني ددوی له (عذابه د) الله (اوانتقام څخه يې. بيضاوي ليكي چي په اصل كي داسي ووچي ووېل شي دوی ګمان كاووچي ددوی كلاګاني دوی دالله له عذابه منع كوي خودغه ترتيب په اوښتي ډول داسي راوړل شوچي خبرومبی راوړل شوي اودجملې اسناد ضمير ته شوی دی ترڅوددوی هغه پوخ باور افاده كړي چي دوی به درلودچي هيڅوک نشي كولای دوی له دغودنګومانيواوټينګوكلاګانوڅخه وباسي ځكه دوی خوراپه قوت ځواک اوعزت كي اوسېدل

(١) مختصرابن كثير ٣ /٤٢٩
(٢) البيضاوي ٣ /٤٢٩ .
(٣) تفسيرالوسي ٢٩ /٢٨٣

(۱) ﴿فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا۟﴾ پس راغی پردوی (عذاب د) (الله) له هغه ځایه چي دوی ګمان نه کاوو ﴿وَقَذَفَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعْبَ﴾ اوواچوله (الله) په زړونو ددوی کي وېره (چي قوت يې په کمزوري بدل شواوامن يې په وېره واوښت ترڅوچي درسول الله صلی الله علیه وسلم په حکم راښکته شول. په حدیث شریف کي راځي (نُصِرتُ بالرعب من مسيرة شهر) ماته ديوې مياشتي واټن په اندازه د وېرېدلوبري راکول شوی دی (۲) ﴿يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِى ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾ چي ورانول به يې کورونه خپل په لاسونوخپلوسره (دننه له خوا) اوپه لاسونو دمسلمانانو(له بهر اوباندي څخه) مفسرين کرام ليکي چي بني نضيرمخکي له دې نه چي له خپلو کورونو وشړل شي خپل کورونه يې ورانول باموښه يې اړول اودېوالونه يې نړول ترڅوچي بيامسلمانان پکي هستوګنه ونه کړي اومسلمانانوبياددوی کورونه دباندي له خواله هره لوري ورانول ترڅو وردننه شي او ورباندي يرغل وکړي ﴿فَٱعْتَبِرُوا۟ يَـٰٓأُو۟لِى ٱلْأَبْصَـٰرِ﴾ پس عبرت واخلئ تاسي ای خاوندانود سترګو (عقلونو په احوالو ددوی) ﴿وَلَوْلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمُ ٱلْجَلَآءَ﴾ اوکه نه وی (مقررکړی) ليکلی الله په دوی باندي وتل (فرارکول) له وطنه (له کور کهول سره) ﴿لَعَذَّبَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا﴾ نوخامخاپه عذاب کړي به وو(الله) دوی لره په دنياکي (په وژلو او بندي کولو سره(لکه چي ددوی له ورونويهودودبني قريظه سره چلندوشو) ﴿وَلَهُمْ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ﴾ اودوی لره دی په آخرت کي عذاب داور (دجهنم تل ترتله) ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۖ وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ﴾ دغه (تعذيب ددوی) په سبب ددې ووچي بېشکه دوی ووچي مخالفت به يې کاووله الله اوله رسول ددغه (الله) سره اوهرهغه چي مخالفت کوي له الله څخه نو بېشکه دالله سخت عذاب دی. ﴿وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلْقُرَىٰ وَهِىَ ظَـٰلِمَةٌ ۚ إِنَّ أَخْذَهُۥٓ أَلِيمٌ شَدِيدٌ﴾ وروسي الله جل جلاله دهغه څه يادونه کوي کوم چي دمسلمانانو په لاس ترسره شوي چي ځيني وني يې غوځي کړي اوځيني مېوه لرونکي وني يې سوځولي دي چي دغه کاردالله په حکم اواراده باندي صورت نيولی نوفرمايي ﴿مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ﴾ هغه چي پرې کوی تاسي له تنو دونو (دکم اصلوخرماوو) ياپي پرېږدی هغه ولاړي په بېخونو خپلوباندي نودغه (ټول) په اذن حکم دالله سره دي ﴿وَلِيُخْزِىَ ٱلْفَـٰسِقِينَ﴾ او(بل لپاره ددې) چي (الله) رسواکړي فاسقانو نافرمانو(يهودانو) لره يعني ترڅو دوی سپک او وقهروي ,افسوس يې يوپه دوه کړي. امام رازي ليکي: معناداچي الله دغه اذن ځکه ورکړی چي دکفارو قهر اوکاوړزيات اوحسرت يې څوچنده شي ځکه چي ددوی دښمنان ددوی په خورا

---

(۱) شيخ زاده دبيضاوي حاشيه ۳/ ۳۷۰

(۲) أخرجه الشيخان.

گرانومالونوکي تباهي کوي (۱)مفسرين کرام ليکي : کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم بني نضير محاصره کړل نودغه وخت ځينواصحابانورضوان الله عليهم ددوی د خرماوو په وهلو اوسوځولو پيل وکړ ترڅو دوی ووېروي اوسپکاوی بې وکړي نو دوی وويل : ای محمده ! دغه خو تباهي اوفساد دی تاخوبه دفساد مخنيوی کاوو نواوس بياولي (زرغونې مېوه لرونکي) ونې غوځوی ؟! چي الله جل جلاله يادشوی آيت نازل کړ ﴿ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡهُمۡ ﴾ اوهغه مال چي راګرزولی دی الله په خپل رسول باندې (غنيمت) له مالونوددوی (بني نضيريهودانو) ﴿ فَمَآ أَوۡجَفۡتُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ خَيۡلٍ وَلَا رِكَابٍ ﴾ پس نه ووځغلولی تاسي پردوی هيڅ آس اونه هيڅ اوښ (يعني ستړی نشوی په لاسته راوړلو يې) قرطبي وايې چي: (وجف البعيروجيفا) معناداچي ګړندی ولاړ اوښ په تللوکي او(أوجف صاحب البعير) معناداچي اوښبه اوښ چټک تګ ته وهڅاووا ود(رکاب) معناهغه دسپرلۍ وړ اوښان دي يعني داچي نه تاسوکوم مشقت اوسختي وګالله اونه موکوم جنګ جګړه وکړه بلکه مديني ته دوه ميله نژدې ورغلی اورسول الله هغه ځای په سوله سره فتح کړدوی بې وايستل اومالونه يې ترې واخيستل نوپه ځانګړې توګه دغه درسول الله صلی الله عليه وسلم لاس ته را ورنه وه الله هغه رسول الله ته خاص کړی چي هرچاته وغواړي ورويې بښي(۲) ﴿ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ﴾ (ليکن الله مسلط کوي (برى وركوي) رسولانوخپلوته پرهغه چاباندي چي اراده وفرمايې) يعني دالله له سنتو(طريقو)څخه يودادی چي ددښمنانو په زړونوکي وېره غورځوي اوانبياووته وربانديبری ورکوي پرته له دې چي دجنګ سختي اوکړاوونه وګالي ﴿ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴾ اوالله په هرڅيزباندي ښه قادر دی (چي هيڅوک يې مغلوبولای نشي ، ورپسې الله د(فئ) بې جګړې ولجوعمومي حکمونه داسي بيانوي فرمايې ﴿ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰ ﴾ هغه شی چي راګرزولی دی الله په رسول خپل باندي له (مالونود)اهل دکليو(يعني هغه څه چي الله رسول الله ته بې له جنګه غنيمت په لاس وروستلی له مالونودکليودکفاروڅخه ابن عباس ﵄ وايې چي: دغه کلي عبارت دي له قريظه ، نضير ، فدک ، او خيبرڅخه (۳) ﴿ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ ﴾ نوهغه دي الله اورسول (دالله) لره يعني دهغوحکم دادی چي دغه دالله جل جلاله اودرسول الله دي چي هرچاته يې ورکوي، رسول الله يې ځانته اخلي اود مسلمانانو په مصلحتونوکي يې لګوي ﴿ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ ﴾ اودغه اموال دي خپلوانو درسول الله لره (له بني هاشم اوبني عبدالمطلب څخه)اويتيمانولره (هغه چي پلرونه يې وفات شوي وي)او مسکينانو لره (چي اړتيا ولري) ﴿ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ ﴾ اومسافرانولره ,په التسهيل کي ليکي: چي ددغه آيت شريف او دسورت انفال په آيت کي څه توپيرنشته هلته چي کوم غنيمت راغلي هغه دجنګ په کولو دآسانو

---

(۱) کبيرتفسير ۲۹/ ۲۸۳
(۲) دقرطبي تفسير ۱۸/ ۱۰
(۳) خازن تفسير ۴/ ۶۰

اوښانوپه ځغلولو لاسته راوړل کېږي او پنځمه برخه ترې بېلولای شي نورپه غنيمت کونکو وېشل کېږي
اودغه د(فئ) حکم لري کوم مال چي له کافرانو څخه پرته له جنګ کولو څخه لاس ته راوړل کېږي نوددې
آيتونوترمينځ توپيراونسخ نشته ځکه نوفقهاوورحمهم الله ددې دواړوله لاس ته راوړنو حکمونه بيان
کړي چي (غنيمت) يې هغه مال ګڼلی چي دجګړې په نتيجه کي دمسلمانانولاس ته ورسېږي او(فئ)
بياهغه مال اوشتمني ده چي بې له جګړې اوپه سوله سره مسلمانانوته رسېدلی وي همدغه توپيردالله

جل جلاله په دې ويناووکي وګوره چي دلته فرمايي ﴿ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ ﴾ اوپه انفال کي فرمايي

﴿ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمْتُم ﴾ (۱)﴿ كَىْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ ﴾ (مقررکړی دی داقسمت الله)لپاره ددې
چي ونه ګرزي (دغه مالونه) دولت په مينځ دغنيانو کي (لاس په لاس بې) له فقيرانوچي هغوی ورته
سخته اړتياهم لري. قرطبي ليکي: معناداچي موږ داهسي وېش کړی ترڅودغه مالونه سرداران اوبډايان
ترخپل مينځ ونه وېشي اوفقيران بېوزله محروم پاتي نشي ځکه دجاهليت په زمانه کي به کله چي غنيمت
لاسته ورغی نورئيس به څلورمه ونډه دځان لپاره واخيسته چي (مرباع) به يې بالواونوربه يې هم چي
خوښه شوه هغومره ترې اخيستل (۲) مفسرين کرام ليکي چي: رسول الله صلی الله عليه وسلم دبني
نضيرمالونه په مهاجرينوباندي ووېشل ځکه دوی هغه وخت سخته اړتيا درلوده انصاروته يې هيڅ هم
ورنه کړل ځکه چي هغوی په خپلو پښو ولاړ اوغنيان وو، ځينو انصارو ﷺ وويل چي: موږته دې هم له

دغي ولجې څخه څه برخه وای (!) نو الله دغه آيت نازل کړ چي ﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ

فَٱنتَهُواْ ﴾ اوهغه څه چي درکړي تاسي ته رسول (دالله) نوواېي خلئ ويې نيسئ ويې منئ اوهغه څه چي
منع کوي (رسول الله) تاسي له هغه څخه نوترې بيرته شئ (مه يې غواړئ !) مفسرين کرام ليکي چي: آيت
شريف که څه هم چي دَ(فئ) په مالونوکي رانازل شوی دی مګردغه درسول الله په ګردواوامرواو
نواهيوپوري اړوندڅيزونه ښيي هغه که واجب وي، مستحب اوياحرام وي نو(فئ) اونورټول څېزونه
پکي داخل دي (۳)له ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي هغه وويل: (لعن الله الواشمات و المستوشمات،
والمتنمصات، والمتفلجات للحسن المغيرات خلق الله) نودبني أسدد ټبر يوې مېرمني ته دغه خبره ورسېده چي (أم
يعقوب) يې بلله اودقرآنکريم تلاوت به يې کاوو هغه راغله ابن مسعود ﷺ ته يې وويل: چي ستاڅخه
داسي خبره ماته رسېدلي او هغه يې ورته وويله، ابن مسعود ﷺ وويل: زه به ولي په هغه چالعنت نه وايم
چي رسول الله ورباندي لعنت ويلی اود الله په کتاب کي راغلي ، أم يعقوب ورته وويل: ماخوټول قرآن
کريم تلاوت کړی لوستلی خودامي پکي نه دي ليدلي ابن مسعود ﷺ ورته وويل: که دي لوستلی وای
موندلي به دي وو آيادالله جل جلاله داقول دي نه دی لوستلی ؟ چي ﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا

---

(۱) التسهيل لعلوم التنزيل ۴/ ۱۰۸

(۲) قرطبي تفسير ۱۸/ ۱۲

(۳) کبيرتفسير ۲۹/ ۲۸۶

نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ﴾ (۱)﴿ وَاتَّقُوا اللَّهَ ﴾ اوو ېرېږئ له (عذابه د) الله په ځان ساتلوله معاصيو (اوامتثال داوامرو يې) ﴿ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴾ بېشكه الله سخت دی عذاب دده (هغه چا لره چي تري سرغړونه كوي اوحكمونه يې نه مني ﴿ لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا ﴾ (دغه اموال دي) لپاره دفقيرانو هجرت كونكيو (هغوی) چي ايستل شوي دي دوی له كورونو كليوخپلو څخه اوله اموالوخپلوڅخه پدې حال كي چي طلبوي دوی فضل بښنه مهرباني له الله اورضا (دده) دغه په پخواني حكم پسي اړونددی يعني دغه فئ اوغنيمت ددغوكسانودپاره دی چي كفارو دهيواد پرېښودلوته اړايستلي وي اودوی خپل مال اوجايداددالله دخوښي اورضوان لپاره پرې ايښی وي ﴿ وَيَنصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ﴾ اومرسته كوي له الله اوله رسول ددغه (الله) سره (په دغه هجرت سره) ﴿ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴾ دغه (مهاجرين) هم دوی دي صادقان رښتيني (په ايمان اوجهاد كي) قتاده وايي : دغه مهاجرين هغه كسان دي چي هيوادونه اومالونه ، خپلوان يې دالله اورسول الله په مينه كي ترشاكړي دي آن تردې چي يوه تن به له لوږي په ګېډه پوري ډبره وتړله ترڅوچي وتوانېږي له دې په وروسته الله دانصارو ﷺ يادونه داسي كوي ﴿ وَالَّذِينَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ اوهغوانصارولره دي (دغه اموال) چي ځای يې نيولی دی (پدي) كور (مدينه) كي اوخاص كړی يې دی خپل ايمان پخواله دغو (مهاجرانو) څخه (يعني هغه كسان چي مدينه يې خپل منزل او مسكن نيولی اوتردېرومهاجرينو پخوا يې ايمان راوړی دی . قرطبي وايي : معناداچي دوی مدينه پخواترمهاجرينو خپل مسكن غوره كړی او دايمان عقيده يې خپله كړي اواخلاص يې لرلی دی ﴿ تَبَوَّءُو ﴾ استقرارته وايي دامقصدنه دی چي انصاروترمهاجرينودمخه ايمان راوړی بلكه مقصد دا دی چي دنبي عليه السلام ترهجرت دمخه يې ايمان راوړی دی(۲)﴿ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ ﴾ خوښوي (محبت كوي) دوی لهٔ هغه چاسره چي هجرت يې كړی دی دوی ته . خازن ليكي داپدې كله چي مهاجرين راغلل نودوی پخپلوكورونو كي ورته ځای وركړاوپخپلومالونوكي وركډ كړل (۳)﴿ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِّمَّا أُوتُوا ﴾ اونه مومي دوی په زړونوسينوخپلوكي څه تنګي (حسد) له هغه شي څخه چي وركړی شوی وي (مهاجرينوته له غنيمت څخه)مفسرين كرام ليكي چي : رسول الله صلی الله عليه وسلم دبني نضيرمالونه دمهاجرينو ترمينځ ووېشل اوانصاروته يې پرته له دريوتنو څخه هيڅ هم ورنكړل خوله دي سره دانصارورضوان الله عليهم لخواپدغه وېش هيڅ ګوت نيونه اوانتقادونشو ﴿ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾ او غوره

---

(۱) دبخاري اومسلم روايت دی علماء وايي چي (وشم) خالونه دي او(مستوشمه) هغه ښځه ده چي دغه دخالونوايښودل غواړي (نامصة) هغه مېرمن ده چي دخپل مخ وېښتان او وروځي كاږي او(متفلجة) بياهغه ښځه ده چي دغاښونوترمينځ دحسن اوښكلالپاره ببل والی اودرز جوړوي دغه ټول ناروادي ځكه چي دالله دپيدا ايښت (خلق الله) تغيراولي.

(۲) دقرطبي تفسير ۱۸/ ۱۹

(۳) دخازن تفسير ۴/ ۲۲

کوي (مهاجران مقدموی یې پرخپلوځانونواګرکه وي پردوی باندي تنګي (فاقه اوحاجت او همدغه خوراغتې ایثاراوغوراوی دی) ﴿ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ اوهرهغه څوک چي وساتل شي له بخل د نفس دده نه (اوله حرص نه په مال باندي) نوهمدغه کسان دي دوی مراد موندونکي ,په مراد رسېدونکي) یعني څوک چي الله له بخل څخه وژغوري هغه په مرادورسېدو(شح) هغه خوراسخت بخل ته وایې چي طمع ورسره ملګري وي اودغه دنفس غریزه ده ځکه یې ورته نسبت شوی دی. ابن عمر رضي الله عنه وایې (شح) دې ته نه وایې چي خپل مال له ورکولوڅخه راوګرزي بلکه (شح) هغه ته وایې چي دبل په مال کي یې سترګي ښخي کړي وي (۱) په حدیث شریف کي راځي ﴿ واتقوا الشح فانه أهلک من کان قبلکم ، حملهم علی أن سفکوادماء هم واستحلوا محارمهم ﴾ (۲) له شح څخه ځانونه وژغورئ ځکه شح پخواني خلګ هغوی یې دیوبل وینې تویولوته وهڅول اودبل حرام مالونه یې ځانونو ته حلال وبلل ﴿ وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعْدِهِمْ ﴾ او(اموال) هغو(کسانولره دي) چي راغلي دي راځي وروسته له دغو (مهاجرو اوانصارو) نه ,دغه دمؤمنانومستحقینودریم ټولګی دی چي دوی ترقیامته تابعین بالاحسان رحمهم الله دي ﴿ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلْإِيمَٰنِ ﴾ وایې دوی چي ای ربه زموږ مغفرت وکړه موږ ته اوهغو(دیني) وروڼوزموږ ته چي ړومبی داخل شوي دي (له موږڅخه) په ایمان کي . ابوالسعودلیکي چي : ددوی صفت یې په ړومبني ایمان راوړلوسره ددې لپاره وکړچي دیني ورورګلوي ددوی په وړاندي ترنسبي وروړګلوي ډېره ګرانه ده (۳) ﴿ وَلَا تَجْعَلْ فِى قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ اومه ګرزوه په زړونوزموږ کي بغض کینه دهغو کسانوسره چي ایمان یې راوړی دی ﴿ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه ته (یاالله) ښه مهرباني کونکی خوراډېررحم والایې (زموږدعاومنه . ابن کثیرلیکي چي امام مالک رحمه الله له دې آیته څومره ښکلی استنباط کړی دی هغه وایې چي روافض له غنیمته څخه برخه نلري ځکه دوی اصحابانوته ښکنځل کوي اودمؤمنانو صفات پکي نشته شیخ زاده لیکي الله بیان کړی چي دهغوکسانوچي له مهاجرینواوانصاروڅخه وروسته راغلي شان دادی چي پخواني کسان به په مهرباني او دعاسره یادوي ,اوڅوک چي پخواني مؤمنان په بدي سره ستایي هغوی دمؤمنانوله ډلي ددغه آیت په استدلال سره نشي ګڼل کېدای ، له شعبي څخه روایت شوی چي ویل یې یهوداونصارا په روافضوباندي په یوه خوی بهتري لري ځکه کله چي له یهودوانو څخه وپوښتل شول ستاسودملت تر ګردوغوره کسان څوک دي؟ دوی وویل دموسی علیه السلام اصحابان دي اوچي له نصاراوو څخه وپوښتل شوستاسوددین غوره کسان څوک دي وبې ویل د عیسی علیه السلام اصحابان مګرکله چي له روافضوڅخه وپوښتل شول چي ستاسوددین بدمرغه

(۱) دصاوي حاشیه ۴/ ۱۹۰
(۲) أخرجه مسلم
(۳) دابوالسعودتفسیر ۵/ ۱۵۲

کسان څوک دي ويې ويل چې د رسول الله اصحابان (معاذالله) الله دغوته د استغفار کولو حکم وکړ څو
دوی ورته ښکنځل کوي نو د دغو په وړاندي تر قيامته پوري دا يستلي توري حکم دی.
اللهم ارزقنا محبة أصحاب نبيک الکريم آمين يارب العالمين.

***

الله تعالی فرمايي:

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ
مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنْ أُخْرِجُواْ لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ
وَلَئِن قُوتِلُواْ لَا يَنصُرُونَهُمْ وَلَئِن نَّصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ ٱلْأَدْبَٰرَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾ لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِي صُدُورِهِم
مِّنَ ٱللَّهِ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَٰتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَآءِ جُدُرٍ بَأْسُهُم
بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾ كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًا
ذَاقُواْ وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَٰنِ ٱكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّنكَ إِنِّيٓ
أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِي ٱلنَّارِ خَٰلِدَيْنِ فِيهَا وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ
نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِيٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ
هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾ لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ
نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ
﴿٢٢﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُ
سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٢٣﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾ ﴾ الحشر: ١١ - ٢٤

مناسبت:

کله چي الله تعالی د مخلصو مؤمنانو صفتونه ياد کړل وروسته يې د تېر ايستونکو فريبګرو منافقانو
يادونه وکړه هغه کسان چي د مسلمانانو مرسته يې پرېښوده اوله يهودانو سره يې ترون لاس ليک
کړ تر څو د مسلمانانو په خلاف سره يو موټی وي او ورسره وجنګېږي بيايې هغه اوږد واټن (مسافه) کوم
چي د جنتيانو او دوزخيانو ترمينځ دی بيان کړ چي دوی سره برابر نه دي نه اوس سره يو شان دي او نه په
راتلونکي کي د سورت په پای کي د خپل اسماء الله الحسنی او علياء صفاتو يادونه کېږي

لغتونه:

(شتى) تيت اوپرک (خاشعًا) ذليل اومتواضع (متصدعًا) خيري اوتوتې کله چي دېوال درزونه وکړي نوويل کېږي (تصدع البنيان) (القدوس)منزه له هره نقصه اوعيبه (المؤمن) په معجزاتوسره دخپل پيغمبرتصديق کونکی (المهيمن) په هرشي څارونکی (العزيز) قوي اوغالب(الجبار) ستر، عظيم اوقاهرذات چي د جبروت خاوندوي (المتكبر) په عظمت اوکبرياکي مبالغ(البارئ) مخترع اوپيداکونکی (المصور) دانځورونو تصويرونو خالق اوپنځونکی.

تفسير:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُوا۟﴾ (آيانه ګورې ته هغوکسانوته چي منافقان دغابازان شوي دي ؟دغه دالله له لوري رسول الله ته تعجيب ورکول دي يعني اى پيغمبره ته ددغومنافقينوله شانه څخه تعجب نه کوې چي دوى دظاهر په خلاف په باطن کي نورڅه پټ ساتې؟﴿يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ﴾ هغوى وايې هغو ورونوخپلو(يهودانو) ته چي کافران شوي دي له اهل کتابوڅخه(چي يهودان دبني قريظه اوبني نضيردي ﴿لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ﴾ قسم دى که خامخاوايستل شى تاسي (له مدينې څخه) نوخامخاوبه وزو موږ هرومرو له تاسي سره. په التسهيل کي ليکي چي دغه دعبدالله بن سلول اودهغه دمنافقي ډلګۍ په هکله نازل شوى دى کوم چي دبني نضيريهودانوته يې پلاوي واستول او ورته يې ويل تاسو پخپلو کلاګانو کي ټينګ شئ موږ له تاسوسره يوهږدول چي ستاسوبرخه ليک وو موږبه هم ستاسي ملګري يو(۱) اوداچي منافقان يې ددوى ملګري وستايل څکه دوى هم دهغوى په شان کافران وو.﴿وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا﴾ اونه به منو موږ (خبره په ضررد تاسي کي) دهيچاهيڅکله ، يعني موږ به دپيغمبرخبره ستاسوسره په جنګ کولو کي ونه منواونه به ستاسي دخذلان فيصله له چا څخه قبوله کړو ﴿وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ﴾ اوکه چېري جنګ شروع کړى شي له تاسي سره نوخامخامددبه وکړو موږ هرومرو له تاسي سره (په څنګ کي اوله دښمن سره به موو جنګېږو)﴿وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ﴾ اوالله ګواهي ورکوي چي بېشکه خامخادوى دروغجنان دي (په همدې خبرو کي چي وعدې ورکوي ، وروسته الله دمنافقانو دحال تفصيل بيانوي فرمايي ﴿لَئِنْ أُخْرِجُوا۟ لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ﴾ قسم دى که وايستل شي دغه يهودان (له کورونو خپلوڅخه) نه وزي دغه منافقان له يهودانو سره (له کورونو خپلونه) ﴿وَلَئِن قُوتِلُوا۟ لَا يَنصُرُونَهُمْ﴾ اوکه جنګ وکړى شي له هغو(يهودانو) سره نو مرسته نه کوي دغه منافقان له هغوى سره. قرطبي ليکي پدې کي درسول الله صلى الله عليه وسلم د نبوت درښتنولي دليل دى چي همداسي وشول بني نضيروايستل شول مګردوى ورسره ونه وتل هغوى ووژل شول منافقانوېې مرستي ته ور ونه

(۱) التسهيل ۴/ ۱۱۰

دانګل دقرآنکريم پېشګويي رښتياشوه ([1]) ﴿ وَلَئِن نَّصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ ٱلْأَدْبَٰرَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴾ او که (اراده د)مرستي وکي دغه منافقان دغو (يهودانو) لره خامخا وبه ګرزوي دغه منافقان په تېښته سرا شاوي خپلي بيابه مددونه مومي ، وبه نکړی شي (منافقان يهودانوسره مرسته وروسته له ماتي) يعني بياهم که بالفرض والتقديردهغوی مرستي ته راشي نو ماتي به خوري دمنافقانو مرسته به ورته ګټه ونه رسوي. امام فخررازي ليکي: الله تعالی ددې اخبار فرمايلی که چېري يهودان وايستل شي منافقان به ورسره ونه وزي اوهمداسي وشول کله چي بني نضير وايستل شول منافقان ورسره ونه وتل او ورسرا جګړه وشوه مګرمنافقانوېي مرسته ونکړه او دا چي الله تعالی فرمايي ﴿ وَلَئِن نَّصَرُوهُمْ ﴾ دغه دفرض اوتقديرپه توګه دي([2]) يعني که چېري منافقان د دغويهودانود مرستي کولواراده هم وکړي خامخابه ورته شاکوي مرسته به بې نکوي اوماتي به خوري ﴿ لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِى صُدُورِهِم مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ (خامخاتاسو(ای مؤمنانو) ډېرسخت يی له جهته د وېري په سينوزړونو ددغو(منافقانو) کي له(وېري د) الله يعني دوی له الله څخه دومره نه وېرېږي لکه چي له تاسوڅخه وېرېږي ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴾ دغه (وېره دمنافقانوله مؤمنانوڅخه) په سبب د دې دی بېشکه چي دوی داسي قوم دی چي نه پوهېږي (په عظمت اولويې دالله چي ترې و وېرېږي. قرطبي ليکي:معناداچي دوی دالله دعظمت قدراوقدرت نه پېژني([3]) وروسته الله تعالی ديهودانواو منافقانو بې زړه توب ښکاره کوي چي دوی دومره ډارن دي چي له مؤمنانوسره دجګړې توان نلري مګر هغه وخت چي په دنګو کلاګانواودهغو په برجانوکي ناست وي الله فرمايي ﴿ لَا يُقَٰتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِى قُرًى مُّحَصَّنَةٍ ﴾ جنګ به ونکړي دغه (يهودان) له تاسي سره (ای مؤمنانو) ټول په ګډه سره مګرپه کليو کلک کړی شويو(په دېوالونواوخندقونوباندي) ﴿ أَوْ مِن وَرَآءِ جُدُرٍۭ ﴾ ياوروسته له دېوالونو سنګرونه څخه (چي دهغوی له شادرته پټ وي اودغه ددوی له بې زړه والي څخه دی ﴿ بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ ﴾ جنګ ددوی په مينځ ددوی کي ډېرسخت دی (يعني ددوی ترمينځ سخته دښمني ده) ﴿ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ﴾ (ګمان به کوې ته په دوی چي سره يودي او(حال دا چي)زړونه ددوی سره جلادي) يعني ته به ظاهره خيال کوې چي دوی په يوه خوله يوه سلادي الفت او اتحادلرې مګر دوی يوله بله سره سخت اختلاف لري څکه يوله بله يې رايه ګوښي بېه لري زړونه يې سره بېل بېل دي قتاده وايې دباطل پرستانورايې ، خواهشات اوشهادتونه ګواهي مختلفي اوتيت او پرک وي مګرد حق په دښمني کي ګردسره يوموټی دي([4]) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴾ دغه (پرېشاني اختلاف د زړونوددوی) په سبب ددې دی چي بېشکه دوی

([1]) قرطبي ۱۸/ ۳۴
([2]) کبيرتفسير ۲۹ / ۲۸۹
([3]) تفسيرقرطبي ۱۸/ ۳۵
([4]) خازن تفسير ۴ /۲۶

داسي يوقوم دى چي نه پوهېږي (داسي عقل نلري چي دالله حکم ور باندي وپېژني په البحر کي ليکي چي ددغه تفرق موجب ددوى دعقلونو نېستي ده دوى لکه ځلوربول ځاروي غوندي دي چي په يوه حال سره متفق نه دي (١)) ﴿ كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ﴾ (مثال ددوى په ايمان نه راوړلو کي) لکه مثال کيسه دهغوکسانوده چي وو دوى پخواله دوى نه په نژدې زمانه کي) يعني مثال دبني نضيروپه سپکتيا اوايستلو کي لکه مثال دمکې دکفارو غوندي دى هغوى چي دبدرپه غزاکي ووژل شول اوبنديان شول بيضاوي ليکي: معناداچي مثال ددغو يهودانولکه دمکې دکفاروغوندي دي چي په بدرکي تارومارشول اويالکه دهغونژدې هلاک شوي امتونوغوندي دى (٢)) ﴿ ذَاقُواْ وَبَالَ أَمْرِهِمْ ﴾ چي وڅکله هغوى سزادبدو چارو خپلو (په دنياکي په بند اوقتل سره) ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ اوشته هغوى ته عذاب دردناک (په آخرت کي) ﴿ كَمَثَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَٰنِ ٱكْفُرْ ﴾ (مثال دمنافقانوپه مخالفت دوعدې کي) لکه مثال د شيطان داسي دى کله چي وايې انسان ته چي کافرشه !(اوبياترې بېزاره شي اوهغه وبنوېوي) ﴿ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّنكَ ﴾ نوکله چي (انسان) کافرشي وايې (شيطان) زه له تاڅخه بېزاره يم (اووايي) ﴿ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ بېشکه چي زه وېرېږم له الله چي پالونکى دټولوعالميانودى) يعني زه دالله له عذاب او انتقام څخه که چېري ورباندي ايمان نه راوړم وېرېږم. په التسهيل کي ليکي: چي داهغه مثال دى چي الله دمنافقانولپاره راوړى دى هغه کسان چي يهودان يې تېرايستلي اوهغوى يې سپکه سپانده کړل لکه چي شيطان يوځل بني آدم تېرباسي (وغولوي) اوبياترې بېزاره شي مرادله شيطان اوانسان څخه دلته جنس دى اودشيطان دغه ويناچي ﴿ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ ﴾ دهغه رياکاري اودروغ دي ځکه که چېري هغه په رښتياله الله څخه وېرېدلاى نوبه يې سرغړونه نه کوله دهغه الله جلت عظمته دحکم امتثال به يې کړى وو(٣)) ﴿ فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِى ٱلنَّارِ خَٰلِدَيْنِ فِيهَا ۚ ﴾ پس دى انجام ددواړو منافقينواويهودانو يعني ګمراه کونکواوګمراه شويو شيطانانو او انسانانو) داسي چي بېشکه هغوى دواړه به په اورکي وي تل ترتله به په هغه (اور) کي اوسېږي ﴿ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ اودغه خلوددااورددوزخ جزا د ظالمانو (کافرانو) ده) هغه کسان چي دالله ددين اوحرماتوپابندي نه کوي ، کله چي دمنافقينو او يهودانوصفتونه يادشول اودهغوى لپاره يې مثالونه وړاندي کړل نو ورپسې يې دمؤمنانولپاره يو ښکلى نصيحت راووړچي دتېروکسانوپه خبرونګرزي ويې فرمايل: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ﴾ اى هغوکسانوچي ايمان يې راوړى دى (يعني اى مؤمنانو ،ځان وساتئ له ګناهونو)

(١) البحرتفسير ٨/ ٢٤٩

(٢) البيضاوي

(٣) ابن کثيرليکي : يعني داچي ددغويهودانودتېروتلومثال داسي دى لکه چي کله شيطان انسان ته کفرښايسته کړي اوبياورڅخه بېزاره شي همداسي منافقان يهودان تېرباسي اوبيا ورسره ملګرتيانه کوي المختصر ٣ /٤٧٢ .

وو يره يږئ له (عذابه د) الله (په امتثال كولو د اوامرو دالله او اجتناب له نواهيو څخه ﴿وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ او ښايي چي ودي ګوري هرنفس هغه څه ته چي رومبى يې لېږلي دي لپاره دسبا (قيامت دورځي) ابن كثير ليكي: معنادا چي وګورئ دسبالپاره موله نيكو اعمالو څه لېږلي دي؟ كله چي الله ته وړاندي كېږئ؟ قيامت يې سبا څكه وبالوچي نژدې دى لكه داچي ﴿وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ ٱلْبَصَرِ﴾ او تنكيرپه (غد) دتهويل او تفخيم لپاره دى (۱) ﴿وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ﴾ او و يره يږئ له الله (په ځان ساتلو له ګناهونو تكرار يې څكه راووړچي تاكيدافاده كړي او داچي دتقوى رتبه او منزلت وښيي چي دغه دالله وصيت دى چي رومبنيو او وروستنيو ته يې فرمايلي دي (۲) ﴿إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ بېشكه چي الله ښه خبردارد ى په هغو عملونو چي تاسي يې كوى (نوجزابه ورباندي دركړي) ﴿وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ﴾ او مه كېږئ تاسي (اى مؤمنانو) په څېر دهغو كسانوچي الله يې هېر كړى دى (طاعت، ياد او مراقبت يې نكوى) بيا هېر كړي الله پردوى حق دنفسونو ددوى (چي مصلحتونه ددوى يې ترې هېر كړي دي ابو حيان ليكي: چي دغه مجازات دګناه پر ګناه دى دوى دالله عبادت او داوامرو امتثال پرېښود نو په دې مجازات باندي اخته شول چي دخپلو ځانونو مصلحتونه او ښېګړي ترې هېري شوې چي دځان لپاره يې هيڅ دښمرې او ګټې كار ترسره نكړ (۳) ﴿أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَٰسِقُونَ﴾ دغه خلګ هم دوى دي فاسقان (نافرمانه فاجران وتلي له طاعته درب خپل) ﴿لَا يَسْتَوِىٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ﴾ نه دي سره برابر (په ورځ دقيامت په بهتري او مرتبه كي) ياران ملګري داور (بد مرغه كسان) او ياران ملګري دجنت (نېكمرغه كسان) ﴿أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ﴾ ياران ملګري د جنت هم دوى دي مرادموندونكي په مراد رسېدلي چي په تل ترتله سعادت نازېدلي چي دار النعيم جنت دى له دې په وروسته الله دقرآن كريم هيبت او اغېزبيانوي چي او چت او دنګ غرونه يې هم له وېري ويلي كېږي فرمايي ﴿لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ﴾ كه نازل كړي واى موږ (احكام ددغه) قرآن په يوه غره باندي (په مثل دانسان چي عقل، تميز او فهم مو وركړى واى لكه د انسان نو خامخا ليدلى به دې تا هغه غر وېرېدونكى فرمان منونكى ټوټې ټوټې كېدونكى له وېري (دعذابه د) الله دغه دقرآن كريم دعظمت انځور دى چي قوت او اغېزيې دومره دى چي كه غرېې سره له سختي كلكوالي او لوى والي مخاطب شي نوهغه به له ډېري وېري وچوي مقصد له دې څخه د انسان توبيخ دى چي ولي يې دتلاوت په وخت كي خشوع او خضوع نه كوي بلكه له هغو عجائباتو او عظائمو څخه يې چي پكې دي ښنګ كوي، دغه آيت دقرآن عظمت او دانسان وروكتوب (دنائت) بيانوي په البحر المحيط كي ليكي چي په آيت شريف كي دانسان زړه د كلكتيا (قسوت) په هكله توبيخ دى چي داهسي قرآن ورباندي

(۱) دابو السعود تفسير ۵/ ۱۵۴ (۲) ﴿وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ﴾ النساء: ۱۳۱
(۳) تفسير البحر المحيط ۸/ ۲۵۱

اغېزنه کوي کوم چي که چېري په غره نازل شوی وای له وېري څخه به يې ټوټې ټوټې شوی وای سره له دي چي خوراټينګ اولوی هم دی نودبنيادم لپاره چي خورا بېوزله اوناتوانه دی دابېخي سمه وه چي قرآنکريم وربانديي اغېزه کړي وای مګرهغه سره له حقارت اوضعفه له قرآنکريم څخه نه متأثرکېږي

(۱)﴿وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ اودامثالونه بيانوو اورووموږ هغه خلګوته (لپاره ددې)چي دوی فکر غور پکي وکړي (ګټه ترې پوره کړي دالله دقدرت او وحدانيت آثاراونښي ووينې او ايمان پرې راوړي کله چي الله تعالی دقرآنکريم ستاينه وکړه ورپسې يې دالله دعظمت اوجلال دڅېرلو په هکله داسي وفرمايل ﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ دغه (الله) هغه ذات دی چي نشته با هيڅ معبودبرحق مګرخوهم دی (دی له ده پرته بل برحق معبوداورب نشته) ﴿عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ﴾ عالم دی په غيبوباندي او (عالم دی) په ښکاره ووباندي) يعني په ټولو هغوپټواوښکاره وودبندګانوپرګردوعالم دی ﴿هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ﴾ همغه (الله) دی خورامهربان ډېر رحم والا(په دنيااوآخرت کي) ﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ دغه الله (هغه ذات دی) چي نشته هيڅ معبودبرحق خوهم دی دی ، دغه لفظ يې ددې لپاره مکرر راووړچي دتوحيد په هکله پاملرنه افاده کړي ﴿ٱلْمَلِكُ﴾ (يوازي) بادشاه دی (مالک دی دټولو مخلوقاتواوتصرف کونکی دی پخپل مخلوق کي په امر اونهی کولو اوايجاد (پيداکولو)اواعدام (پناه کولو) کي) ﴿ٱلْقُدُّوسُ﴾ ښه پاک دی (له ټولو قبائحواودحوادثوله صفاتو څخه ، په التسهيل کي ليکي چي قدوس له تقديس څخه مشتق اوهغه دمخلوقاتوله صفاتواو ګردو عيوبو څخه دمنزه په معنی دي اولکه (سبوح) غوندي دمبالغي صيغه ده په احاديثوکي راغلي چي ملائکي خپل تسبيحات داسي لولي :(سبوح ، قدوس ، رب الملائکة والروح) ﴿ٱلسَّلَٰمُ﴾ سالم دی (له ګردو عيوبو) هغه ذات دي چي خلک يې له ظلمه خوندي دي ﴿وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾ بيضاوي ليکي: معناداچي سالم دی له هره نقص اوآفته څخه دغه مصدر دی دمبالغې لپاره وربانديي موصوف شوی دی(۲)﴿ٱلْمُؤْمِنُ﴾ امان ورکونکی دی ،تصديق کونکی دی دنبيانوخپلوپه اظهاردمعجزاتوپه لاسونو ددوی ﴿ٱلْمُهَيْمِنُ﴾ ساتونکی څارونکی دی (په اعمالودبندګانواوهرڅېزباندي ابن عباس رضی الله عنه وايي معناداچي شاهددی په اعمالود بندګانو هيڅ څېزترې پټ نه دی (۳)﴿ٱلْعَزِيزُ﴾ ښه زبردست دی ، قاهراوقادردی هيڅوک ورباندي برلاسی کېدای نشي او نه ورته ذلت رسېږي ﴿ٱلْجَبَّارُ﴾ دوېري خاونددی (عاليجناب دی چي له ده پرته ګردټيټ دي. ابن عباس وايي: معناداچي دومره عظيم ذات دی که هرڅه وغواړي هغه کوي دالله جبروت

(۱) البحرالمحيط ۸ /۲۵۱
(۲) الخازن ۴ /۷۲
(۳) القرطبي ۱۸ /۴۷

يعني دهغه عظمت (۱) ﴿ ٱلْمُتَكَبِّرُ ﴾ لوی څښتن دی چي لويوالی له ده پرته له بل چا سره نه ښايي په قدسي حديث کي راځي چي :(العظمة ازاري والكبرياء رداءي فمن نازعنى فيهما قصمته ولا أبالي (۲) عظمت زما ازار او کبرياء مي څادر دی څوک چي په دغو دواړو کي له ما سره شخړه کوي هغه به مات کړم او پروا به يې ونلرم . امام فخررازي ليکي: پوه شه چي تکبر په خلگو کي دذم صفت دی ځکه چي متکبرهغه څوک دی چي خپل ځان لوی گڼي اودغه دمخلوق په باب کي نقص دی ځکه چي هغه خو دلويي او لوړتيا خاوندنه دی بلکه هغه ته پرته له مسکنت اوذلت څخه بل څه نشته او کله چي ځان لوی وبولي دروغجن دی نوځکه دخلگو په هکله دغه مذموم صفت دی اوحق تعالی سبحانه خودگردو انواعوکبرياء،علواوعظمت خاوند دي او کله چي يي څرگندکړي نو خپلو بندگانو ته دخپل جلال ،علواوعظمت ښودنه اوارشادکوي دغه دالله جل جلاله په باب نهايته مدح اوصفت دی (۳) ځکه په پای کي الله فرمايي ﴿ سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ پاک دی ذات دالله له هغو شيانو چي (مشرکان يې) ورسره شريکوي (له اندادوامثالوڅخه) ﴿ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَـٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ﴾ دغه الله (هغه ذات دی) چي پيداکونکی دی راويستونکی دی (له عدمه وجودته) ﴿ ٱلْمُصَوِّرُ ﴾ صورت ورکونکی دی (په خپله اراده باندي) ﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُصَوِّرُكُمْ فِى ٱلْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ﴾ خازن ليکي معنا دا چي مخلوق په داسي پيداښت پيداکوي لکه څنگه چي يي غواړي (۴) ﴿ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ﴾ هم دغه (الله) لره دي نومونه نيک عمده مخصوص (لوړچي په ښکليوحسينو معناگانودلالت کوي ﴿ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ په پاکي سره يادوي هغه (الله) لره هرهغه څه چي په آسمانونوکي دي او (هر هغه څه چي په ځمکه کي دي (په زبان حال ياقال سره . صاوي ليکي: چي سورت يې په تسبيح سره پای ته ورساوولکه چي په تسبيح يې پيل کړی وو ترڅودي ته اشاره وشي چي همدغه خوراستر مقصوددی اوهمدغه پيل اوپای اودالله دپېژندگلوي غايه اوموخه ده همدغه دالله دعظمت له هغه څه نه تنزيه او تقديس دی کوم چي عقلونودالله په هکله انځورکړی وي (۵) ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ اوهم دغه (الله) ښه غالب دی ښه حکمت والادی په خپله پاچهي اوخلق اوصنعت کي .

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډ يزيې دادی:

۱- سلبي طباق لکه ﴿ مَا ظَنَنتُمْ أَن يَخْرُجُوا۟ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ ... ﴾.

---

(۱) خازن تفسير ۴ /۷۲

(۲) القرطبي ۱۸ /۴۷

(۳) کبيرتفسير ۲۹ /۲۹۴

(۴) خازن تفسير ۴ /۷۳

(۵) دصاوي حاشيه ۴ /۱۲۴

۲ - لطيفه مقابله چي د ﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ ﴾ او د ﴿ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ﴾ ترمينځ راغلي ده.

۳ - دمبتداء اوخبرترمينځ دضمير راوړل چي حصرافاده کړي لکه داچي فرمايي: ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴾.

۴ - لطيفه استعاره پدې آيت کي چي ﴿ وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَٰنَ ﴾ هغه په دې چي ايمان يې هم له قرارګاه سره تشبيه کړی کوم چي ددوی په زړونوکي مېشت دی لکه چي انسان په هستوګنځي اومستقرکي اوسي اوهغه يې ځای وي نو دغه لطيفه باريکه استعاره ده.

۵ - استفهام چي انکاري اوتعجب دافادې لپاره وي لکه داچي فرمايي ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُوا۟ ﴾ دآيت شريف ترپايه.

۶ - دطباق صنعت کوم چي د ﴿ جَمِيعًا ﴾ او ﴿ شَتَّىٰ ﴾ ترمينځ په دې مبارک کلام کي راغلی دی چي ﴿ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ﴾.

۷ - تمثيلي تشبيه هلته چي فرمايي: ﴿ كَمَثَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَٰنِ ٱكْفُرْ ﴾ دلته دشبه وجه له متعددڅخه راايستل شوي نوتمثيلي تشبيه بلل کېږي.

۸ - لطيفه کنايه چي پدې قول دالله جل جلاله کي راغلي چي ﴿ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ﴾ له قيامت څخه يې په سبا کنايه راوړي ځکه چي نژدې دی.

۹ - دطباق صنعت چي د ﴿ ٱلْغَيْبِ ﴾ او ﴿ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ ترمينځ راغلی اوياهم د ﴿ ٱلْجَنَّةِ..ٱلنَّارِ ﴾ ترمينځ شته.

لطيفه:

بخاري اومسلم يو حديث شريف له ابي هريرة ﷺ څخه روايت کوي چي يوه ورځ يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی ورته ويل يې ای پيغمبره زه ډېر سخت وږی يم نورسول الله صلی الله عليه وسلم ځينومېرمنوته څوک واستاوو چي آيا په کورکي څه خواړه شته؟ هغوی په ځواب کي ورته وويل: زمادي په هغه الله سوګندوي چي ته يې په حقه رالستولی يې له اوبو پرته بل هيڅ نشته بيايې بلي مېرمني ته ورواستاووهغې هم داسي ځواب ووايو اوګردوأمهات المؤمنين رضی الله عنهن همداسي وويل نورسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک به داسړی نن شپه مېلمه کړي الله دي وربانديي مهربانه شي ؟له انصاروڅخه يوتن پاڅېدوچي ابو طلحة يې بالو ويې ويل ای رسول الله زه به يې مېلمه کړم! هغه يې کورته بوت اوخپلي مېرمني ته يې وويل: دغه درسول الله صلی الله عليه وسلم مېلمه دی ښه عزت يې وکړه څه چي په کورکي دي هغه ورڅخه مه سپموه ! هغې ورته وويل: زموږ کره يوازي دماشومانو خواړه شته نوابوطلحة ورته وويل: هغوی يونه, يوډول آرام اوويده کړه اوکله چي مېلمه دننه راشي ډډوۍ تياره

کړه او بيا يې پلمه چې ځراغ سموې ځراغ وو ژنه هغه به داسي انګېري چې موږ هم ورسره يو ځاى ډوډۍ خورو نو خپله به په بېغمي ډوډۍ وخوري هغې هم دغسي وکړل او مېلمانه ډوډۍ وخوړه دوى ورږي ويده شول کله چې سهار شو او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم چې ورته وکتل په موسکا شو او ويې ويل ستاسو له مېلمانه سره بېګاني چلند الله جل جلاله ته خوند ورکړ په تعجب شو او دا آيت يې نازل کړ چې ﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ د آيت ترپايه.
دالله جل جلاله په مرسته دالحشر سورت د تفسير ژباړه بشپړه شوه.

***

د(الممتحنة) سورت مدني او ديارلس آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دغه مبارک سورت له مدني سورتونو څخه يو دى چې دتشريع په هکله ارشادات کوي دسورت محور د(الحب في الله والبغض في الله) په خواوشا راڅرخي هغه چې دايمان مضبوطه کړى ده دسورت پيل دحاطب بن ابي بلتعه دترټلو په هکله دى کله چې يې دمکې خلګو ته ليک واستاو وچې رسول الله ددوى دغزا پاره چمتو کېږي ، لکه چې الله پدې سورت کي دکفارو سره ددوستي نه کولو حکم راوړي او الله پاک دحضرت ابراهيم عليه السلام او مؤمنانو مثال ياد وي چې څرنګه له مشرکانو څخه بېزاره وو او د هغو کسانو حکم بيانوي چې له مؤمنانو سره جنګېدلي نه دي او دمؤمناتو مهاجراتو مېرمنو دازموينې حکم او دا رنګه نور تشريعي احکام رااخلي.

دسورت پيل پدې وېرونه او تحذير شوى چې دالله له دښمنانو سره دي موالات او دوستي ونکړي شي هغوى مؤمنانو ته دېر آزاروونه رسولي ترڅو چې هيواد پرېښودلو(هجرت) ته يې اړ ايستلي فرمايي ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ ...﴾ دآيت ترپايه ، ورپسې داڅرګندوي چې ددغه ژوندانه خپلوي ، قرابت او دوستي ملګرتيا په قيامت کي هيڅ چاته ګټه نه رسوي هلته پرته له ايمان او صالح عمل څخه بل څه چاته نه په کار ېږي ﴿لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ...﴾ د آيتونو ترپايه.

بيا دحضرت ابراهيم عليه السلام او دهغه دپلويانو مؤمنانو مثال راوړي چې له خپله مشرکه قومه او تبره څخه بېزاره شول ترڅو دګردو مؤمنانو لپاره هڅونکى پيغام وي چې دانبياوو په پلارپسې هغه چې دالله خليل وو اقتداء وکړي الله فرمايي: ﴿قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُواْ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا ...﴾ د آيتونو ترپايه.

له دې وروسته سورت دهغه چا حکم راوړي چې له مؤمنانو سره يې دښمني او جنګ جګړه نه وي کړي فرمايي: ﴿لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓاْ إِلَيْهِمْ﴾ او همدا راز دهغه چا حکم بيانوي چې مؤمنانو ته يې کړاوونه رسولي او هغوى يې ځورولي وي فرمايي ﴿إِنَّمَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ ...﴾ دآيتونو ترپايه.

همداسي سورت دمؤمنومېرمنو کله چي هجرت وکړي ازموينه لازمه ګڼلي ترڅو بيرته يې کفاروته له ايمان سره ونه سپاري اوهمداسي نبي چي کافرعصمت نلري اوبياله رسول الله صلی الله عليه وسلم سره دمېرمنوبيعت اودهغه شرطونه بيانوي فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ... ﴾ دآيتونوترپايه اوداچي فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِٱللَّهِ شَيْـًٔا ﴾ دآيتونوترپايه

دسورت په پای کي دمؤمنانولپاره دکفارو له موالات اودوستي څخه تحذيرراغلی اوداسي فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَوَلَّوْاْ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُواْ مِنَ ٱلْـَٔاخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْقُبُورِ ﴾ اوهمداسي سورت لکه چي پيل شوی ووپای ته رسېږي پيل اوپای يې له کفاروسره دوستي نه کول څرګندوي اودغه دپيل اوپای تناسق اونظم په ښه پېيلتوب کي شته دی

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلْحَقِّ
يُخْرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَن تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمْ إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَٰدًا فِى سَبِيلِى وَٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِى تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَأَنَا۠
أَعْلَمُ بِمَآ أَخْفَيْتُمْ وَمَآ أَعْلَنتُمْ وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١﴾ إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُواْ لَكُمْ أَعْدَآءً وَيَبْسُطُوٓاْ إِلَيْكُمْ
أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم بِٱلسُّوٓءِ وَوَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ ﴿٢﴾ لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ وَٱللَّهُ بِمَا
تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣﴾ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُواْ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن
دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ
وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٤﴾ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ وَٱغْفِرْ
لَنَا رَبَّنَآ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٥﴾ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُواْ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ
ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٦﴾ ۞ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً وَٱللَّهُ قَدِيرٌ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٧﴾ لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ
عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓاْ إِلَيْهِمْ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴿٨﴾ إِنَّمَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ
عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٩﴾
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى
ٱلْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَلَا تُمْسِكُواْ
بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ وَإِن فَاتَكُمْ شَىْءٌ مِّنْ
أَزْوَٰجِكُمْ إِلَى ٱلْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَـَٔاتُواْ ٱلَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَٰجُهُم مِّثْلَ مَآ أَنفَقُواْ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ

إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ
يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۲﴾
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوا مِنَ الْآخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُورِ ﴿۱۳﴾
الممتحنة: ۱ - ۱۳

لغتونه:

(أولياء) د (ولي) جمع او دوستانو ملګروته وايي هغه چي مرستندوی او کومک کونکی وي (يثقفوكم) چي پرتاسو بريالي شي، (ثقف) په اصل کي په يوشي ښه پوهېدل او د يو کار په ښه توګه سرته رسول دي لکه چي وايي: (رجل ثقف لقف) او بيا وروسته په بري موندلو او لاس ته راوړلو کي مستعمل شو(۱) (أسوة) اقتداء کول (أرحامكم) ستاسو قرابتونه د رحم جمع او په اصل کي د ښځي رحم ته وايي خو بيا په قرابت او خپلوي کي داسي مستعمل شو لکه چي حقيقت يې هم داوي (ظاهروا) دوی مرسته کوي (عصم) د عصمت جمع او هغه څه ته وايي چي انسان ورباندي منګولي لګوي هغه که رسۍ، پړی او يا غوټه وي او دلته مقصد نکاح ده (الكوافر) د (كافرة) جمع او هغه مېرمن ده چي په الله تعالی ايمان نلري

د نزول سبب:

کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې د فتحي لپاره ترتيبات نيول نو حاطب بن ابي بلتعه د مکې خلګوته ليک واستاوو او پدې يې خبر کړل چي رسول الله صلی الله عليه وسلم غواړي پر تاسو يرغل وکړي تاسو خپله چاره وکړئ دغه ليک يې د يوې مسافري مېرمني په واسطه ولېږل هغه وو چي په رسول الله صلی الله عليه وسلم وحی نازله شوه او دغه خبره يې ورته څرګنده کړه نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت علی، حضرت زبير، او حضرت مقداد ﷺ واستول او ورته ويل يې چي تاسو به د مکې معظمې په لوري په (روضة خاخ) نومي ځای کي له يوې مسافري مېرمني سره مخامخ کېږی او له هغې څخه يو ليک به ترلاسه کوئ هغه ترې واخلئ او ماته يې راوړئ (دوی وايي:) موږ همغه ځای ته راغلو او هغه مېرمن موو ليده له ليک غوښتنه موځني وکړه هغې ډېر وروسته وړاندي وکړل ويل يې له ماسره هډو ليک نشته! موږ ورته وويل: يا به ليک راکوې او که نه جامې دي پلټو هغه وو چي ليک يې له کوڅيو څخه راوکيښ او موږ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راووړ چي پکي ليکلي وو: (د حاطب بن ابي بلتعه له لوري د مکې مشرکانو ته چي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ځينو چارو څخه خبرورکوي) نو رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت حاطب رضی الله عنه ته وويل چي داڅه دي؟ هغه وويل: يارسول الله ته په ماتلوار مکوه زما خپلوان عيال په مکه کي اوسېدل زه د قريشو له ټبرڅخه نه يم ما غوښتل زما د خپلو خپلوانو اهل او عيال په هکله د هغوی خواخوږي ځان ته راجلب کړم زه مرتد او کافر شوی نه يم حضرت عمر رضی الله عنه وويل يارسول الله! ماته اجازه راکړه چي د دغه منافق ورمېږ ووهم رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دا هغه څوک دی چي بدريې ليدلی او تاسي ته نه دی معلومه چي الله تعالی د بدر د اصحابانو ګرد ګناهونه بښلي دي؟(فرمايي: هرڅه چي کوی ما

(۱) دالوسي تفسير ۲۸/ ۲۸.

ستاسو گناهونه ببنبلي دي) وروسته دا آيت نازل شو ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ ﴾ ([1]).

تفسير:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ ﴾ اى هغو كسانو چي ايمان يې راوړى دى (اى مؤمنانو) مه نيسئ دښمنان زما او دښمنان ستاسي دوستان (ځكه چي دايمان ننبه هم داده چي د الله د دښمنانو سره كركه او نفرت وكړى نه دا چي ورسره مينه او محبت پالى په التسهيل كي ليكي چي دغه آيت شريف د حضرت حاطب لپاره ترتنه او دهرهغه چالپاره چي داسي كوي زجردى همداسي پدې كي د حضرت حاطب لپاره تشريف هم شته ځكه چي الله يې دايمان ګواهي وركوي چي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ ([2])﴿ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ ﴾ پداسي حال كي چي غورځوى (لېږى تاسي خبرونه) هغوى ته په سبب د دوستي سره ، قرطبي وايې : معنادا چي دوى ته دمسلمانانو اسرار او رازونه ورښيا ست او پندونه ور كوى ([3])﴿ وَقَدْ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلْحَقِّ ﴾ حال دا چي په تحقيق كافران شوي دي هغوى په هغه شي چي راغلى دى تاسي ته له حق څخه (چي قرآن دى په ښكاره حق نازل شوى دى) ﴿ يُخْرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ ﴾ چي باسي دوى رسول (د الله) او هم تاسو (له خپله هيواده مكې مكرمې څخه په ظلم او دښمني سره . په البحر المحيط كي ليكي : رسول الله صلى الله عليه وسلم يې ځكه ړومبى يادكړى چي تشريف يې وشي ([4]) او دا چي هغه د مسلمانانو پيل او سردى دا يستلو معنادا چي هغوى يې وځورول او وكړول ترڅو يې ايستلو ته اړكړل چي مدينې منورې ته ولېږدي ﴿ أَن تُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمْ ﴾ ځكه چي تاسو ايمان راوړى دى په الله چي ستاسي رب دى ، لكه چي الله بل ځاى فرمايې ﴿ وَمَا نَقَمُواْ مِنْهُمْ إِلَّآ أَن يُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴾ (البروج:٨) ﴿ إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَٰدًا فِي سَبِيلِي وَٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِي ﴾ كه چېري يى تاسي چي راوتلي ياست (له وطنو خپلو) لپاره دجهاد په لاره زما كي او لپاره درضا خوښي غوښتلو زما) نو مه نيسئ زما او ستاسي دښمنان په دوستي سره. الوسي وايې چي : د شرط ځواب محذوف دى چي پخوانى ورباندي دلالت كوي لكه چي وايي : كه تاسو زما دوستان ياست نو زما دښمنان په دوستي سره مه نيسئ ([5])﴿ تُسِرُّونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعْلَمُ بِمَآ أَخْفَيْتُمْ وَمَآ أَعْلَنتُمْ ﴾ چي په پټه (خبري) لېږى تاسي هغوى ته (په سبب د) دوستي سره او زه ښه عالم يم په هغه څه چي پټوى يې تاسي او په هغه څه چي ښكاروى يې (ستاسو يو حال هم له ما څخه پټ

([1]) التسهيل ٤/١١٢

([2]) نفس المرجع.

([3]) دقرطبي تفسير ١٨/٥٢

([4]) البحر المحيط ٨/٢٥٣

([5]) الوسي تفسير ٢٨/٦٨

اوالونیانه دی) مقصد له دې وینا څخه توبیخ اوعتاب دی) ﴿ وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴾
(اوهرڅوک چي دغه کاروکړي له تاسوڅخه نوپه تحقیق ورکه کړي یې ده سمه صافه لاره) یعني هرڅوک
چي دالله دښمنان په دوستي ونیسي اودرسول الله رازونه هغوی ته وسپړي هغه له سمي لاري کوږ شوی
اوحق یې پرې ایښی دی ، ورپسې الله دکفارو سخته دښمني مؤمنانوته ور څرګندوي چي دهغوی په
زړونوکي څومره سخت عداوت دی فرمایي ﴿ إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا۟ لَكُمْ أَعْدَآءً ﴾ که چېري بری ومومي
(کفار) پرتاسوباندي نوشي به دوی تاسي لره دښمنان (دزړه دښمني به رابرسېره کړي) ﴿ وَيَبْسُطُوٓا۟ إِلَيْكُمْ
أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُم بِٱلسُّوٓءِ ﴾ اواوږده به کړي تاسوته لاسونه خپل (په وهلواووژلو ستاسي) اوژبي خپلي)په
ښکنځلواوبدي ویلوستاسي ﴿ وَوَدُّوا۟ لَوْ تَكْفُرُونَ ﴾ اوخوښوي به دوی (دغه) چي کافران شی تاسي (لکه
چي دوی دي زمخشري راوړي چي دماضي په صیغه یې دلته تعبیر وفرمایوچي (وَوَدُّوا۟) وروسته له هغه
چي دشرط ځواب یې دمضارع په لفظ راووړچي (لوتکفرون) څکه دوی (کفارو) ترهرڅه له مخه ددوی
(مؤمنانو) کفرغوښتل لکه چي الله بل ځای فرمایلي ﴿ وَدُّوا۟ لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا۟ فَتَكُونُونَ سَوَآءً ﴾ (النساء
۸۹) ﴿ لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ ﴾ له سره به ګټه درونه رسوي تاسي ته خپلوي (دخپلوانو) ستاسي
اونه اولادستاسي (هغه چي تاسوددوی په سبب دکفارو سره دوستي پالی په ورځ دقیامت کي به تاسوته
ګټه درونه رسوي او ضرربه درڅخه دفع نکړي. صاوي لیکي : چي دغه دحاطب درأیي خطا بریندوي لکه
چي وایې تاسودي ستاسواولاد اواهل اوعیال دې ته اړنه باسي چي کفاروته درسول الله اسراراورازونه
لوڅ کړی اوله مؤمنانواورسول الله سره خیانت وکړی اودکفارو سره موالات وښیی څکه تاسوته دغه اهل
اوعیال چي ددوی په سبب مودالله عصیان ته مخه کړه دقیامت په ورځ نفع نه در رسوي (۱) ﴿ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ
يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ﴾ په ورځ دقیامت کي فیصله به وکړي (الله) په مینځ ستاسي (مؤمنانواوکافرانو) کي
(مؤمنان به جنت النعیم اوکافران به جحیم ته بوزي) ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ اوالله په هغه عملونو چي
تاسي یې کوی ښه لیدونکی دی (نوجزاء به ورباندي درکړي) ﴿ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ
مَعَهُۥٓ ﴾ په تحقیق شته تاسي ته (ای مؤمنانو) طریقه ښه (چي اقتداء پسي کولای شی) په قول اوفعل) د
ابراهیم اوپه (قول اوفعل) دهغه چاکي چي وو له ده سره (له مؤمنانوڅخه) ﴿ إِذْ قَالُوا۟ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا۟ مِنكُمْ
وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ کله چي وویل (دغه ابراهیم او مؤمنانومشرکانود) قوم ددوی ته چي بېشکه
موږ بېزاره یوله تاسي څخه اوله هغه څېزه چي تاسویې بې له الله عبادت کوی ﴿ كَفَرْنَا بِكُمْ ﴾ منکران شوي
یو موږ(ستاسي په باطل دین باندی) ﴿ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا ﴾ اوښکاره شوي ده په

(۱) دصاوي حاشیه په جلالین باندي ۱۹۵/۴

مینځ زمونږ اوتاسي کي دښمني عداوت تل ترتله (ځوچي تاسي په دغه حال دکفرکي یاست) ﴿ حَتَّىٰ تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ ﴾ ترهغه پوري چي یوازي په الله باندي ایمان راوړی (اوشرک اودبتانو عبادت پرېږدی.
مفسرین کرام لیکي: الله تعالی مؤمنانوته امر کړی چي دابراهیم خلیل الله اودهغه د پلویانومؤمنانو په پله پل کېږدي اوله مشرکانوڅخه بېزاره اوله هغوی سره دښمني وپالي ځکه دایمان همدا غوښتنه ده چي کفاروسره شلون اومقاطعه وشي ﴿ إِلَّا قَوۡلَ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ ﴾ مگرخو (اقتداء مکوئ د) (یوې خبري دابراهیم (چي ویلي یې وو ترامتناع له مخه) خپل پلارته چي خامخازه تاته ښښنه غواړم (هغه دخپل پلاردایمان راوړلو هیله من وو) ﴿ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُ ﴾: التوبة۱۱٤ ﴿ وَمَآ أَمۡلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٍ ﴾ اومالک نه یم زه تالره له عذابه دالله دهیڅ څیز، دغه دابراهیم علیه السلام دکلام پاتي برخه ده یعني زما له استغفار غوښتلو پرته ستالپاره هیڅ وس نه رسېږي چي دالله عذاب درڅخه دفع کړم ﴿ رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ﴾ ای زماربه په تا مونږ توکل کړی دی او(خاص) تاته مونږ رجوع کړي ده او(خاص) تاته بیرته گرزېدل دټولودی)په آخرت کي مفسرین کرام راوړي چي حضرت ابراهیم علیه السلام له خپل پلارسره داستغفار غوښتلو ژمنه او وعده کړي وه لکه چي په سورت مریم کي راځي ﴿ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيّٗا ﴾ (مریم ۴۷) اوداستغفارویناېې هم کړي لکه چي د شعراء په سورت کي یې یادونه کېږي چي ﴿ وَٱغۡفِرۡ لِأَبِيٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ اودغه گردي هڅي دهغه داسلام راوړلوپه تمه کېدلي اوبیایې له دې څخه ځکه مخ واړاووچي دهغه په کفرېې پوخ یقین شولکه چي دتوبې په سورت کي فرمايي ﴿ وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوّٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ ﴾ (التوبه ۱۱٤) ﴿ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ وویل ابراهیم اواتباعویې) ای زمونږربه مه گرزوه مونږفتنه ځای (دازمویلو هغوکسانولره چي کافران شوي دي یعني دوی ته په مونږ بری مه ورکوه ترڅودوی موپه داسي عذاب کي واچوي چي مونږېې توان ونلرو([1])اومجاهدوایې: معناداچي ته مونږته ددوی په لاس یاله خپله لوري عذاب مه راکوه ترڅوچي دوی ووایې که دغه کسان پرحق وای نوولي به یې عذاب لیدل ﴿ وَٱغۡفِرۡ لَنَا ﴾ اوښښنه وکړه مونږته (دگناهونو) ﴿ رَبَّنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴾ ای زمونږ ربه بېشکه هم ته یې ښه غالب قوي(هغه چي څوک پناه وروړي نه ذلیل کېږي) ښه حکمت والا(چي هرکارپه تدبیراومصلحت سره کوي دنداء تکرارد تضرع لپاره راغلی دی ﴿ لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِيهِمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ ﴾ خامخاپه تحقیق دی تاسولره (ای مؤمنانو) په دغوخبرو(دابراهیم اواتباعودده) کي طریقه نیکه حسنه ده چي اقتداء پسي وکړی (له کفاروبېزاره شی) ابوالسعودلیکي چي تکراردمبالغې

([1]) لومړی وینا له ابن عباس څخه روایت شوي اودوهمه وینادمجاهدده خولومړی قول برلاسی دی ځکه چي هغه دعاده چي خپلو ځانونوته یې کوي چي کفاروته وس مه ورکوه چي پرمونږ بری وموموي دغه دابن عطیه هم غوره ده.

لپاره راغلی څکه يې په قسم پيل کړی دی چي فرمايلي يې دي(لقد كان لكم)(١) ﴿ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَۚ ﴾ (دغه اقتداء ده) لپاره د هغه چاچي اميدلري د (ثواب د) الله او(وېرېږي له جزاد) ورځې د(قيامت)آخري ﴿ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ ﴾ اوهرهغه څوک چي مخ وګرزوي (له ايمان اوطاعته) نوبېشکه الله غني بې پروابنه ستايلی شوی (ذات) دی ﴿ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجۡعَلَ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ عَادَيۡتُم مِّنۡهُم مَّوَدَّةٗۚ ﴾ ښايي چي الله پيداکړي په مينځ ستاسي اومينځ دهغو(کافرانو) کي چي تاسي ورسره دښمني لری دوستي (اومحبت وروسته له کرکي اونفرت څخه . په التسهيل کي ليکي : کله چي الله مؤمنانو ته دکفاروسره ددښمني اوپرېکړون امر وکړاوددوی اوهغوی ترمينځ خپلوي اوقرابتونه موجودوو نوچي الله دمؤمنانو صداقت او رښتنولي وکتله بيايې ددوی دلاسايني لپاره دغه آيت نازل کړچي ددوی ترمينځ به بيرته مينه اومحبت راولي اوهمدغه مينه اومحبت دمکې دفتحي په وخت خپل بشپړپړاوته ورسېدو کله چي ګردقريش په اسلام مشرف شول (٢) اوالله تارپه تارتېربېرته سره يوموټی کړامام رازي ليکي چي (عسی) دالله تعالی له لوري ژمنه اووعده ده اوالله همدغه وعده ترسره کړه چي دمکې کفارېې له مسلمانانوسره يوځای او مکه مکرمه فتح شوه(٣) ﴿ وَٱللَّهُ قَدِيرٞۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ اوالله ښه قادردی (دزړونو په اړولو اودحالاتوپه بدلولوباندي) اوالله ښه مغفرت کونکی ډېررحم والادی (په هغه چاچي توبه ګارشي او الله ته رجوع وکړي) ﴿ لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ أَن تَبَرُّوهُمۡ ﴾ نه منع کوي الله تاسي (ای مؤمنانوله (دوستي د) هغوکسانوچي جنګ يې نه دی کړی له تاسوسره په (کارد) دين کي اونه يې ياست ايستلي تاسي له کورونوخپلو څخه (له دي نه) چي دوستي کوي تاسي له دوي سره ، دغه کسان لکه ماشومان اومېرمني ' دغه کلمه چي ﴿ أَن تَبَرُّوهُمۡ ﴾ دی مجرور واقع شوي اود(عن) مدخول دی يعني الله جل جلاله موله دي څخه نه منع کوي چي له دغوکسانوسره نېکي اواحسان وکړی ﴿ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ ﴾ اوچي عدل اوانصاف کوی تاسي له هغوی سره ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ﴾ بېشکه چي الله خوښوي دوست لري انصاف کونکي (پخپلو کارونو اوچاروکي) ابن عباس رضی الله عنهما وايې چي دغه دخزاعة په هکله نازل شوی چي دوی له رسول الله سره سوله روغه وکړه چي نه به ورسره جګړه کوي اونه به دده په خلاف له بل چاسره ملاتړ ښيي نوالله ددوی سره داحسان کولو اجازه ورکړه (٤)له اسماء بنت ابي بکررضی الله عنهماڅخه روايت شوی چي زمامشرکه مورهغه وخت چي قريشوله رسول الله صلی الله عليه وسلم سره معاهده وکړه (مقصديې دحديبې صلح وه) راغله نوزه رسول الله ته راغلم ورته ومي ويل ای رسول الله زمامور راغلي دروغي سولي رغبت لري آيازه ورسره

---

(١) ابوالسعود ٥/ ١٥٧

(٢) التسهيل ٤/ ١١٤

(٣) کبيرتفسير ٢٩/ ٣٠٣

(٤) کبيرتفسير ٢٩/ ٣٠٤

پخلاشم ؟ رسول الله راته وويل هوله مورسره دي خپلوي وپاله (۱) بيا دغه آيت نازل شو ﴿ لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَـٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ .. ﴾ ترپايه ﴿ إِنَّمَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَـٰتَلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَـٰرِكُمْ وَظَـٰهَرُوا۟ عَلَىٰٓ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ﴾ بېشکه همدا خبره ده چي منع کوي تاسي الله له (دوستي د) هغو کسانو څخه چي جنګ يې کړی دی له تاسي سره په (کارد) دين کي اوچي ايستلي يې ياست تاسي له کورونو ستاسي څخه اوکومک مرسته يې کړي ده له دښمنانو ستاسي سره په ايستلو ستاسي کي له دې څخه چي دوستي کوی تاسي له هغوسره (اوملګري خپلوان يې غوره کوی) ﴿ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴾ اوهرهغه چي دوستي کوي له هغوی سره دغه خلګ هم دوی دي ګنهګاران ظالمان (پخپلوځانونوچي عذاب ته يې چمتوکړي دي) ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَـٰتُ مُهَـٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ﴾ ای هغو کسانوچي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) کله چي راشي تاسي ته مؤمناني ښځي هجرت کونکي نوويې ازمويئ (ربښتنولي اوايمان ددوی . مفسرين کرام ليکي چي: دحديبې سوله کومه چي درسول الله اودمکې دکفاروترمينځ لاس ليک شوه په هغې کي راغلي وو که له مسلمانانوڅخه يوڅوک مکې ته راغی بيرته به مسلمانانوته نه ورستنول کېږي اوکه له مشرکانو څخه يوڅوک مسلمانانوته ورغی هغه به بيرته کفاروته په لاس ورکول کېږي نودعقبة بن أبي معيط لور(أم كلثوم) رسول الله ته مهاجره راغله له شاورپسي دهغې دوه ورونه (عمارة) او(وليد) راغلل رسول الله ته يې وويل چي: دهغه شرط په اساس دغه (أم كلثوم) بيرته مونږته راستنه کړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل شرط يوازي دنارينه خلګوپه هکله وو دمېرمنوپه هکله په پرېکړه کي څه نه ووراغلي نوالله جل جلاله دغه آيت نازل کړ ابن عباس وايي چي : مېرمني ته به لوړه ورکول کېده چي د مېړه له بغض اوعداوته خوبه نه وي راښتېدلي هغې خوبه دفقراونېستي له مخه هجرت نه وي کړی؟ هغه يوازي دالله اورسول الله سره دمحبت اوداسلام په دين دمشرف کېدلولپاره خپل وطن پرې اينبی دی(۲) ﴿ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَـٰنِهِنَّ ﴾ الله ته ښه معلوم دی ايمان ددوی) يعني الله ته ددوی دايمان ددعوی ربښتنولي ښه څرګنده ده الله يې په زړونوخبردی دغه معترضه جمله ده يعني دهغوي دايمان ازموينت دمؤمنانو په نسبت دی که نه هسي خوالله جل جلاله ددوی په اسراروا وپټو رازونو هم خبردار دی له الله څخه هيڅ پټ نه دي ﴿ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَـٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ﴾ نوکه وپېژنی تاسي دوی (په قسم سره) مؤمناني نوهغوی بيرته کفارو(مېړونو) ته مه لېږئ ! ﴿ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ﴾ نه دي دغه (مؤمناني ښځي) حلالي هغو (کفاروسړيو) ته اونه دي هغه (کافران) حلال دغو(ښځومؤمنانو) لره . الوسي ليکي چي تکراردتاکيدلپاره راغلی دی چي دغه حرمت اوقطع علاقه دمؤمنانوښځو او کفارو ترمينځ مبالغه افاده

(۱) البحر المحيط ۸ /۲۵۲
(۲) اخرجه الشيخان.

کړي (¹) ﴿ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْ ﴾ اوورکړی تاسي هغو(کافرانو) ته (چي مېړونه دهغو ښځودي) هغه څه چي لګولي يې دي له (مهره ولوره) په البحرکي راوړي چي آيت داسي امرکوي چي کفارو مېړونوته دي دهغوی لګولي مهرونه ورکول شي ترڅوچي پردوی دوه تاوانه چي يودمېړمني او بل دمال له لاسه ورکول دي وانه وړي (²) ﴿ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ﴾ اونشته هيڅ ګناه پرتاسي باندي چي نکاح وتړی تاسي له دې ښځو سره پدي شرط کله چي ورکړی تاسي هغوښځوته مهرونه ددوی . خازن ليکي چي الله تعالی دمؤمنانو مهاجرومېرمنونکاح چي له دارحرب څخه داراسلام ته راشي که څه هم چي کفار مېړونه لري رواکړي ده ځکه چي اسلام ددوی اوکفاروتر مينځ بېلتون کوي اودغه تفريق له عدت تېرولوڅخه وروسته واقع کېږي (³) ﴿ وَلَا تُمْسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ ﴾ اومنګولي مه لګوئ په عصمتونود ښځوکافرانو (اوپخپله نکاح کي يې مه ساتئ) ځکه چي ستاسواوددوی ترمينځ دزوجيت تړون نشته ، مرادله عصمت څخه دلته نکاح دی ، معناداچي ديوچا په مکه کي کافره ښځه وي هغه يې نوره مېرمن نه ده ددوی ترمينځ دنکاح تړون ددارحرب اوداراسلام په سبب وشلېدو (⁴) ﴿ وَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْ ﴾ (اووغواړئ تاسي هغه څه چي خرڅ کړي دي تاسو (پر دغوکافرانوښځو) اوودي غواړي (دغه کفارهم) هغه څه چي خرڅ کړي وي هغوی) يعني ای مؤمنانو وغواړئ هغه څه چي تاسوپردغوښځوله ولورونوڅخه خرڅ کړي وي کله چي دوی کفاروته بيرته ستنې شي اوهم داسي دوی (مشرکان) دې وغواړي هغه څه چي دوی په خپلوښځوله ولورونو څخه لګولي وي. ابن عربي وايي: هغه چي مسلماني اوبيامرتدي شوي اوکفاروته ورغلي وي نوکفارو ته ويل کېږي چي ولورونه يې مسلمانانوته ورکړي اوکله چي کومه مېرمن له کفاروڅخه مسلمانانوته په ايمان راوړلوهجرت وکړي له مسلمانانوڅخه ددغوولورونه غوښتل کېږي اودغه ددواړو حالتونو ترمينځ د نياو ، اوعدالت فيصله ده (⁵) ﴿ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ﴾ (دا(مذکوره احکام) حکم دالله دي حکم کوي (الله په دغه سره) ستاسي په مينځ کي) يعني دغه دالله شريعت اوعادلانه حکم دی چي ستاسواوستاسو ددښمنانوتر مينځ يې کوي ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ (اوالله ښه علم والاښه حکمت والا دی) يعني الله دبندګانو په مصلحتونو ښه عالم اودهغوی لپاره په شريعت رااستولوکي ښه حکمت والادی هغه څه ورته شريعت ټاکي چي دده بالغه حکمت يې غوښتنه کوي ﴿ وَإِن فَاتَكُمْ شَىْءٌ مِّنْ أَزْوَٰجِكُمْ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ﴾ اوکه چېري فوت شي له تاسي نه (ای مؤمنانو) يوشی له ښځوستاسي په طرف دکفارو (يعني که دکوم مسلمان ښځه دکفارولوري ته وتښتي ﴿ فَعَاقَبْتُمْ ﴾ پس غزامووکړه (اوغنيمت موتر لاسه کړ) ﴿ فَـَٔاتُواْ ٱلَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَٰجُهُم مِّثْلَ مَآ أَنفَقُواْ ﴾ پس

(¹) دالوسي تفسير ٢٨/ ٧٢

(²) البحرالمحيط ٨/ ٢٥٧

(³) دخازن تفسير ٤/ ٧٩

(⁴) دقرطبي تفسير ١٨/ ٦٥

(⁵) دقرطبي تفسير ١٨/ ٦٨

وركړئ تاسي هغوكسانوته چي تللي ښځو دهغوی (كفاروته) په مثل دهغه (مهر) چي وركړی دی دوی (هغو ښځولره له مهر اوولورڅخه) يعني له دغه غنيمت څخه يې وركړي. ابن عباس وايې معناداچي كه چېري دمهاجرسړي مېرمن كفاروته وروتښتي نورسول الله به حكم وكړي چي دغنيمت له مال څخه دي دومره څه وركول شي څومره چي ده دهغې په ولوركي لګولی وي (١) قرطبي وايې كله چي ړومبنی آيت نازل شوچي ﴿ وَسْـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقُوا۟ ﴾ نومسلمانانوومنل چي موږ دالله په حكم راضي يواو مشركانوته يې ليک واستاوو دغه فيصله يې ورته وړاندي كړه هغوی ممانعت وكړبيادغه آيت نازل شو(٢) ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ﴾ اووېرېږئ تاسي له الله څخه (پخپلو اقوالوافعالوكي دالله له عذاب اوانتقام څخه ووېرېږئ (كه موږهغه له حكم څخه مخالفت وكړ) ﴿ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴾ هغه (الله) چي تاسي پرهغه باندي ايمان راوړونكي يی ځكه چي دايمان له مستلزماتوڅخه يوهم دالله څخه وېرېدل دي ، كله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم مكه فتح كړه نودمكې مكرمې مېرمني هم دسړوپه شان له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت كولوته راغلې نودغه آيت نازل شوچي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِٱللَّهِ شَيْـًٔا ﴾ ای نبي ! كله چي راشي تاته مؤمناني ښځي چي بيعت كوي له تاسره پردې شرط چي دوی به نه شريكوي له الله سره هيڅ شی (نوبيعت وكړه له دوی سره پدغوشپږومهموشيانوچي دهغوی په پيل كي شرک نه كول دي اوداچي ﴿ وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ ﴾ اودوی به غلانه كوي اونه به زناكوي (هغه چي د فواحشوافحش دی) ﴿ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ ﴾ اونه به وژني دوی اولاد خپل (لكه چي به دجاهليت په زمانه كي خلګودلوږي اوعارله سببه وژل. ابن كثيروايې چي: ددغه آيت حكم دهغه اولادپه هكله دی چي له موجوديت څخه وروسته يې وژني لكه چي به دجاهليت دزمانې خلګوخپل اولاد دلوږي اوعارله وجهي واژه نودغه دجنين وژلوته هم ورشامل دی لكه چي ځيني ناپوهه ښځي يې وژني اوقصداً سقط كوي ، ياځان غورځوي چي اميدواره نشي اويادا سي نور(٣) ﴿ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَٰنٍ يَفْتَرِينَهُۥ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ ﴾ اونه به راتله كړي په دروغوسره چي جوړوي يې دوی په مينځ دلاسونواوپښوخپلوكي (يعني له خپله ځانه، چي پردی لقيط اولادبه خپل مېړه ته نسبت كوي او ورته وايې به چي دغه مي له تاڅخه پيدا شوی زوی دی. مفسرين كرام وايې: كله چي به كومه ښځه دمېړه له طلاقه وېرېدله اولادبه يې نه كېدو نوبه يې پردی زېږېدلی ماشوم خپل مېړه ته نسبت وكړچي همدغه يې زوی دی په آيت كي مقصد لقيط دی اوزنا ورڅخه مقصدنه ده ځكه هغه ړومبی صراحتًاياده شوه (٤) ابن عباس وايې: معنا داچي پخپل مېړه پسي به دبل چازوی نه تړي ،فراء وايې يوې ښځي به پردی ماشوم وموندہ او هغه به يې

(١) مختصرابن كثير ٤٨٢/٣

(٢) قرطبي له قتاده څخه روايت كوي چي دغه حكم په سورة براءة منسوخ شوی دی.

(٣) دابن كثيرمختصر ٤٨٢/٣

(٤) وګوره دصاوي حاشيه پرجلالين باندي.

بیاخپل میړه ته نسبت کاوو ویل به یې چې دغه مې له تاڅخه اولاد دی، اوداچې ویې فرمایل ﴿ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ ﴾ ځکه چې ولد کله وزېږي نو دمور دلاسونو او پښو ترمینځ لوېږي [۱] ﴿ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ ﴾ اونه به کوي نافرماني له تاڅخه په ښو چارو کي (کله چې ورته حکم وکړې او یا یې له منکرڅخه منع کړې بلکه ستاحکم به مني اوخبري ته به دي غوږ ایږدي ﴿ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ ﴾ نو ته بیعت وکړه له دوی سره (په تېروشرطونو) اوبښنه وغواړه لپاره ددغو ښځو (ای پیغمبره د تېروګناهونو ددوی) ﴿ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾ بېشکه چې الله ښه مغفرت کونکی ډېر رحم والا دی. ابوحیان لیکي چې: دمېړمنو بیعت دفتحي په دوهمه ورځ دصفادغونډۍ دپاسه کله چې د نارینه وو بیعت پای ته ورسېدو په داسي حالت کي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دصفاپه سر او حضرت عمرښکته ناست ووترسره شو حضرت عمر رضی الله عنه به درسول الله په امرله دوی سره بیعت کاوو اودوی ته یې درسول الله بلاغ رساوو، درسول الله صلی الله علیه وسلم لاس دبیعت په وخت کي هیڅ پردۍ ښځي ته ندی غزېدلی (أسماء بنت السکن) وایي: زه دبیعت کونکو ښځوله ډلي څخه وم ورته ویل مي ای پیغمبره لاس رااوږد کړه چې درسره بیعت وکړم راته ویل یې: (زه ښځوته لاس نه ورکوم هغه وعده ترې اخلم کومه چې الله ترې اخیستي ده) هند دعتبه لورهغه چې دسیدناحمزه لړمون یې داحد په ورځ څیرلی وو په ښځوکي پټه راغله اوکله چې دغه آیت یې ورباندي ولوست چې ﴿ عَلَىٰ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ ﴾ نوهغې وویل: ای دالله پیغمبره ابوسفیان بخیل سړی دی اوزه ده له مال څخه یوڅه ورڅخه ګوښه کوم آیا دغه ماته حلال دی اوکه نه؟ ابوسفیان وویل: هغه چې پخوادي اخیستی درته حلال دی (مابښلی دی) رسول الله صلی الله علیه وسلم وخندل اوهغه یې وپېژنده ورته ویل یې ته هند دعتبه لوریې؟! هغې وویل هو! ماته دتېرو خطاوو بښنه وکړه الله دي تاته بښنه وکړي، نوکله چې یې داورته ولوستل چې ﴿ وَلَا يَزْنِينَ ﴾ نوهغې وویل چې آیااصیله مېرمن (حُرّه) هم زناکوي؟ کله چې یې ورته ولوستل چې ﴿ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ ﴾ هغې وویل موږ کوچني وروزل اوتاپه لویوالي کي ووژل تاسواوهغوی ښه سره پوهېږۍ (دهغې زوی حنظله دبدرپه ورځ وژل شوی وو) حضرت عمررضی الله عنه په زوره وخندل اورسول الله صلی الله علیه وسلم وموسکل اوکله چې یې داآیت ولوست چې ﴿ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ ﴾ نوهندۍ ویل قسم په الله دی چې بهتان ډېربداوقبیح کاردی الله پرته له ښو کارونو اوښکلو اخلاقو حکم نه کوي اوکله چې یې داآیت ورته ولوست چې ﴿ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ ﴾ نوهغې وویل: قسم په الله دی موږ دلته ددې لپاره نه یو کېناستلي چې په زړونوکي موله تاڅخه دهیڅ

---

[۱] روح المعاني ۲۸/۸۰

ښځوته نافرماني وي[1] امام احمد رحمه الله له (اميمة بنت رقيقة ښځه روايت کوي هغه) چي د خديجې رضى الله عنها خور وه او د حضرت فاطمې رضى الله عنها خاله (توره) وه هغه وايې: زه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته له نورو ښځوسره د بيعت کولولپاره راغلم هغه څه چي په قرآنکريم کي دي د هغه وعده يې راڅخه واخيستله چي موږ به له الله سره شريک نه نيسو.....دآيت ترپايه او ويې ويل ترڅوموتوان اوطاقت وي نوموږورته وويل: الله او پيغمبر پر موږ باندي زموږله خپلوځانونولاهم زيات مهربانه دی اوموږورته ويل ای دالله استازي له موږسره مصافحه نه کوې؟ هغه وفرمايل زه له ښځوسره مصافحه نه کوم بلکه خبره داده چي زماوينا ديوې مېرمني لپاره د سلومېرمنولپاره وينا ده (٢) ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ﴾ (ای هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) مه کوئ دوستي له هغه قومه سره چي الله په قهر شوی دی پردوی باندي) يعني ای مؤمنانو دالله له دښمنانوسره دوستي مه پالئ چي دهغوی رايه اخلی دوی هغه څوک دي چي الله ورباندي غضب کړی اولعنت يې ورباندي استولی دی. حسن بصري رحمه الله وايې: چي دغه کسان يهودان دي ځکه چي الله فرمايې ﴿ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ ﴾ (الفاتحه ٧) اوابن عباس رضى الله عنهما وايې چي: دغه قريشي کفار ښيي ځکه په هرکافرباندي دالله قهرشوی دی (٣) ځرګنده اوظاهره وينادادا چي دغه دي عام وي لکه چي ابن کثيرليکلي دي يعني يهوديان ، نصرانيان او ګرد کافران هغه چي پردوی الله غضب کړی اوپه لعنت يې اخته کړي دي (٤) ﴿ قَدْ يَئِسُوا۟ مِنَ ٱلْـَٔاخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَـٰبِ ٱلْقُبُورِ ﴾ په تحقيق دوی (يهودان) نااميده شوي دي له (ثوابه) دآخرته لکه چي نااميده شوي دي کافران (له خيره داخرت)له تولګيوملګرودهديروڅخه) يعني لکه چي کفاردبعث اونشورمکذبين له خپلو مړو څخه ناهيلي شوي دي چي دوی دي بيرته راپاڅي ، په تحقيق سره ددوی چي به کوم نژدې خپلوان ، يا ملګري وفات شو نودوی به ويل همدغه يې وروستی پېره اووارو بيابه هيڅکله هم راژوندي نشي(٥) الله تعالی دغه مبارک سورت په هغه ډول پای ته رسولی په کوم چي يې پيل کړی وو اوهغه دالله له دښمنانوکفاروسره دوستي نه کول دي اودغه دکلام دتاکيدپه مثال دي اودپيل اوپای ښه پېيلتوب او تناسق ښيي اودبلاغت يوه برخه ده.

---

(١) البحرالمحيط ٨/ ٢٥٨ – وګوره کبير تفسير ٢٩/ ٣٠٧

(٢) أخرجه امام احمد والترمذي والنسائي.

(٣) البحر المحيط.

(٤) دابن کثيرمختصر.

(٥) دآيت شريف په تفسيرکي همدغه راجح وينا اودغه دابن عباس ، قتاده اوحسن رضى الله عنهم دوينالنډيزدی. مجاهد وايې معنادا چي دوی دآخرت له ثوابه اونيکي څخه داسي ناهيلي شوي لکه چي هغوی دقبرونو دمړوله هرخيرښېګڼي څخه نااميده دي لومړی ويناښه ځرګنده ده والله أعلم.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لندون يې دادی:

١- دطباق صنعت کله چې فرمايې ﴿ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ أَعۡلَنتُمۡ ﴾ ځکه چې اخفاء داعلان طباق دی.

٢- پدې آيت کې چې فرمايې ﴿ تُسِرُّونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ ﴾ دلته عتاب اوتوبيخ نغښتی دي.

٣- تقديم د ماحقه التاخير لکه ﴿ رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ﴾ پدې مبارکو کلماتو کې اصل خوداوو چې ويل شوي واى (توکلنا عليک وأنبنا اليک...) خو تقديم يې دحصرد افادې لپاره کړی دی.

٤- دمبالغې صيغې لکه ﴿ قَدِيرٌ ، غَفُورٌ ، رَّحِيمٌ ﴾ اودا په قرآنکريم کې ډېردي لکه ﴿ عَلِيمٌ ، حَكِيمٌ ﴾ اوداسي نور.

٥- سلبي طباق پدې کلام کې چې ﴿ لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ ﴾ اوبيا فرمايې ﴿ إِنَّمَا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ.. ﴾ دآيت ترپايه

٦- اعتراضيه جمله کله چې فرمايې ﴿ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ ﴾ ددې لپاره چې دې ته اشاره وکړي چې انسان ظاهري ښه لري او الله ته پټ رازونه هم معلوم دي

٧- عکس اواپوته پيوند لکه چې پدې کلام کې شته ﴿ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمۡ وَلَا هُمۡ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ﴾ اوداهم له بديعي محسناتو څخه دی.

٨- لطيفه کنايه دالله تعالى پدې کلام کې ﴿ وَلَا يَأۡتِينَ بِبُهۡتَٰنٖ يَفۡتَرِينَهُۥ بَيۡنَ أَيۡدِيهِنَّ وَأَرۡجُلِهِنَّ ﴾ چې پدې سره له لقيط څخه کنايه راغلې او هغه دکناياتو له لطائفو څخه ګڼل کېږي.

٩- مرسله مجمله تشبيه پدې ويناکې چې ﴿ قَدۡ يَئِسُواْ مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلۡكُفَّارُ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡقُبُورِ ﴾ همداسي پدې کې دبديعي محسناتو هغه صنعت هم شته چې (ردالعجز علي الصدر) يې بولي اودغسي دسورت پيل اوپاى په خورا ښکلي پېيلتوب اوتناسق شوی دی.

د(الممتحنة)سورت دتفسير ژباړه دالله په مرسته بشپړه شوه.

***

د(الصف) سورت مدني او څوارلس آيتونه لري

دسورت په وړاندې:

دالصف سورت له مدني سورتونو څخه يو دی هغه سورتونه چي تشريعي احکام راوړي دغه مبارک سورت دجګړې يعني دالله له دښمنانو سره دجهاد خبري کوي اودالله په لارکي دالله ددين داعزاز لپاره اودکلمې دلوړتيا په خاطر قرباني اوځان تېرېدنه ستايي اوله هغه ګټور تجارت څخه کوم چي دمسلمان په دنيا او آخرت کي دنېکمرغي سبب ګرزي يادونه کوي هغه محور چي سورت ورباندي راڅرخي هغه هم دغه قتال دی ځکه دالصف په سورت ونومول شو.

دسورت پيل له تسبيح او تحميدنه وروسته پدې کېږي چي مؤمنان له وعده خلافي څخه وېروي اودهغه څه چي دوی يې ژمنه کړي وه بې وفايي دي ونکړي فرمايي ﴿ سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾ ؟.

وروسته دالله له دښمنانو سره په زړورتيا له جهاد څخه غږېږي او هغه ستايي ځکه چي مجاهدين ديوسترهدف اواوچتي موخې لپاره چي دحق اوکلمة الله لوړتيا ده جنګېږي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَٰنٌ مَّرْصُوصٌ ﴾.

له دې نه وروسته آيتونه ديهودانو دريز دحضرت موسی او عيسی عليهما السلام دبلني او دعوت په وړاندې را اخلي چي پدې لارکي نوموړو نبيانو عليهما السلام څومره ربړونه ګاللي او پدې کي درسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره تسليت اوډاډينه ده چي هغه هم دمکې له کفارو څخه په ځور او تکليف کي وو آيتونه فرمايي ﴿ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُونَنِي ... ﴾ دآيتونو ترپايه.

هله بيا الله تعالی دخپل دين اوليا وو او انبياوو دنصرت په هکله خپل سنت بيانوي او مشرکانو ته ددوی يو مثال وربښيي چي ددوی مثال داسي دی لکه چي يو څوک دلمر وړانګي دخولې په پوکي وژني اوله مينځه يې وړي ﴿ يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾.

سورت دګټه وري سوداګري لوري ته مؤمنان رابولي او في سبيل الله جهاد ته يې هڅوي چي په ځان اومال قرباني ته چمتو شي ترڅو چي دآخرت تلپاتي نېکمرغي اوژرترژره نصرت يې په دنياکي په برخه شي هغوی ته دترغيب په اسلوب بيان فرمايي چي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ دآيتونو ترپايه

په پای چي سورت مؤمنان دالله ددين نصرت ته رابولي لکه چي حواريونو (دعيسی عليه السلام ملګرو) کله چي عيسی عليه السلام دالله ددين مرستي ته راوبلل نو دهغه بلنه يې ومنله اودحق اوپيغمبر مرستي ته يې راودانګل فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوٓا۟ أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّـۧنَ مَنْ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ﴾ همداسي دسورت پيل او پای په خوراښکلي بيان او آغلي تينګښت سره پېيل شوی دی.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ
﴿٢﴾ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُوا۟ مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴿٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفًّا
كَأَنَّهُم بُنْيَٰنٌ مَّرْصُوصٌ ﴿٤﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُونَنِي وَقَد تَّعْلَمُونَ أَنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ
إِلَيْكُمْ ۖ فَلَمَّا زَاغُوٓا۟ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٥﴾ وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ
ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِي ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٦﴾
وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰٓ إِلَى ٱلْإِسْلَٰمِ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِي ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧﴾ يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ
وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨﴾ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ
﴿٩﴾﴾ الصف: ١ - ٩

لغتونه:

(سبح) دالله تسبیح اوتمجید یې کړی وو دالله پاکي یې بیان کړي وه له ګردوهغونواقصوچي ورسره نه ښايي (العزيز) زبرځواک هغه چي مغلوب کېږي نه (الحکیم) دحکمت خاوند هغه چي هرڅه پخپل ځای کي ايږدي اوهغه کوي چي دحکمت یې غوښتنه اومقتضاوي (مقتا) بغض ، کرکه زمخشري وایې چي (مقت) دبغض خورالویې پېماني اوسخت نفرت ته وایي ([1])(المرصوص) یوله بله پتلېز پیوسته پیوند فراء وایې (رَصَصْتُ البِناءَ) معناداچي دېوال مي داسي یوله بله کوشیراو ، واوډل ته به وایې چي یوه توته ده ([2])(زاغوا) له حق څخه مائل شول(البینات) ښکاره ښکاره دلیلونه ښکاري معجزې.

دنزول سبب:

روایت کېږي چي مسلمانانوبه ویل که موږته معلومه شوه چي دالله په دربارکي ترټولو ښه کارکوم یودی نوځانونه اومالونه به یې په لاره کي ځارکړوخوکله چي جهادفرض شونوځینوبې هغه ناخوښه وګڼله بیاآیت نازل شوچي ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴿٢﴾ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُوا۟ مَا لَا تَفْعَلُونَ﴾ ([3]).

تفسیر:

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ﴾ نسبت دپاکي کوي الله لره هرهغه څېزونه چي په آسمانونوکي دي او(هرهغه څېزونه چي) په ځمکه کي دي (له پرښتو ، انسان ، نبات اوجماد څخه) ﴿وَإِن

([1]) الکشاف ۴/ ۳۱۴
([2]) کبیرتفسیر ۲۹/ ۳۱۱
([3]) دابوالسعود تفسیر ۵/ ۱۵۹

مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ﴾ امام فخررازي ليکي: معنادا چي ګرد ځمکني او آسماني مخلوقات دالله په ربوبيت ، وحدانيت اونورو کماليه صفاتو شاهدي وايي (١) ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ اوالله ښه غالب قوي (په پاچهي کي) ښه حکمت والادی (پخپل صنعت کي هغه چي هرڅه دحکمت له غوښتني سره سم ترسره کوي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾ ای هغو کسانو چي ايمان يې راوړی (يعني ای مؤمنانو) ولي وايا ست تاسو(هغه خبره)چي نه يې کوی) يعني ولي په ژبه يوڅه واياست خوعمل پرې نکوی؟ اوڅه لپاره واياست چي موږ به له خيراوښېګني څخه کووهغه څه چي نه يې کوی ؟ دغه استفهام انکاري او توبيخ افاده کوي. ابن کثيروايي : دغه انکارپه هغه چادی چي وعده کوي خووفاور باندي نه کوي په صحيحينو کي يو حديث شريف راغي چي فرمايي : دمنافق درې نښي نښانې دي کله چي وعده وکړي خلاف ورزي کوي چي ويناکوي دروغ وايي اوچي څوک ورته امانت وسپاري پکي خيانت کوي(٢) بياورپسې آيتونه دانکارتاکيدداسي فرمايي ﴿ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ ﴾ لويه ده له جهته دغضبه په نزد دالله (داخبره) ﴿ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفْعَلُونَ ﴾ چي واياست تاسي هغه څه چي نه يې کوی (اوداسي وعده کوی چي بياورباندي وفانه کوی. ابن عباس وايي دجهادترفرضيت له مخې ځيني مؤمنانوداسي ويل موږداخوښوو چي الله جل جلاله ترګردو اعمالوغوره کوم عمل راوښيي چي موږ يې ترسره کړو نوالله جل جلاله خپل نبي ته داسي وحی وکړه چي ترټولو ښه عمل په الله باندي رښتونی ايمان راوړل ، اوله هغوکسانوسره چي ايمان نه راوړي جهاد کول دی خوکله چي دجهادحکم نازل شونوځينوخلګوته هغه سخت اوناخوښه معلوم شو(٣) نودغه پورتنی آيت نازل شوچابياويلي چي معنادا چي يوڅوک بل چاته دنېکي امراوحکم کوي خوپخپله يې نه ترسره کوي اويا له کوم يوشيزڅخه يې منع کوي خوپخپله نه ورڅخه منع کېږي لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ ﴾ (البقرة:٤٤) بياالله تعالی مؤمنانوته دفي سبيل الله جهادفضيلت هسي بيانوي چي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفًّا ﴾ بېشکه الله خوښوي هغه کسان چي جنګ کوي په لاره د (دين ددغه) الله کي صف تړونکي (ټينګ درېدونکي) ﴿ كَأَنَّهُم بُنْيَٰنٌ مَّرْصُوصٌ ﴾ ګواکي دغه بناده پټلېزاوډلي (په قلعي سره ټينګه کړی شوي يعنې دوی په جنګ کي داسي صف تړونکي ټينګ محکم درېدونکي وي ته به وايوه بناده چي ځيني په ځيني نوره کي اوډلي شوي اوکوشيرده چي يوځېزترې جوړشوی دی قرطبي ليکي: معنادا چي الله هغه څوک خوښوي چي دجهادپه صف کي داسي ټينګ ودرېږي لکه چي ودانۍ ولاړه وي اودغه دالله له لوري مؤمنانوته تعليم ورکول دي چي څرنګه د

---

(١) کبيرتفسير ٢٩/ ٣١٠

(٢) مختصرابن کثير ٣/ ٤٩١

(٣) المختصر٣/ ٤٩٢ دغه قول دطبري هم غوره دی.

دښمنانو په وړاندې بايد محکم ودرېږي (١)...کله چې الله تعالی د جهاد يادونه وکړه نو ورپسې دا بيان فرمايي چې موسی او عيسی عليهما السلام خلکو ته د توحيد ماربيينه او حکم وکړ دالله په لاره کې يې جهاد وکړ او په دې هکله يې کړاوونه وګالل ﴿ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَـٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُونَنِى ﴾ (او ياد کړه ای محمده ! هغه وخت) کله چې وويل: موسی (عليه السلام) خپل قوم ته داسې چې ای زما قومه ولې ما ته أذيت رسوئ ؟! (په بد ويلو سره) يعني ای محمده خپل قوم ته دې د کليم الله (موسی بن عمران) کيسه ورياده کړه کله چې يې خپل قوم بني اسرائيلو ته وويل چې ولې داسې کارونه کوئ چې زه ورباندې خورېږم ؟!(٢) ﴿ وَقَد تَّعْلَمُونَ أَنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ ﴾ (حال دا چې په تحقيق پوهېږئ تاسې په دې چې بېشکه زه تاسې ته دالله رسول يم) يعني حال دا چې تاسې په قطعي توګه پوهېږئ ځکه چې ځرګندې معجزې مو وليدې چې زه رښتونی پيغمبر يم پدې کې درسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره تسليت او ډاډينه نغښتې ده ځکه چې د مکې له کفارو څخه به يې ربړونه او کړاوونه ليدل ﴿ فَلَمَّا زَاغُوٓا۟ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ ﴾ نو هر کله چې وګرځېدل دوی (له حق څخه) نو وګرځول الله د دوی زړونه (له هدايت او يقين څخه) ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴾ او الله نه ښيي سمه صافه لاره فاسقانو نافرمانو ته يعني الله فاسقان او د الله له طاعته وتلي کسان دخير او هدايت لارې ته نه برياليي کوي امام رازي ليکي چې: پدې کې د پيغمبرانو د کړولو او ځورولو د ګناه لويوالي ته تنبيه ده چې دا هغه څه دي چې کفر ته رسېږي او زړونه له هدايت څخه کږوي (٣) له دې نه وروسته آيتونه د حضرت عيسی عليه السلام کيسه رااخلي ﴿ وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم ﴾ (او ياد کړه ای محمده ! هغه وخت) کله چې وويل: عيسی زوی د مريمې داسې چې ای بني اسرائيلو (اولادې د يعقوب) بېشکه زه رسول لېږلی شوی دالله يم تاسې ته) يعني ای محمده ! خپل قوم ته دې د حضرت عيسی کيسه ولوله کله چې يې بني اسرائيلو ته وويل: ای بني اسرائيلو زه لکه چې په تورات کې مولوستي په هغه شان تاسې ته دالله پيغمبر رااستول شوی يم قرطبي ليکي دا چې (ياقوم) يې ورته ونه ويل ځکه چې د ده نسب له دوی څخه نه وو چې دوی يې قوم وي ځکه هغه پلارنه درلود ﴿ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ﴾ (حال دا چې) تصديق کونکی يم د هغه کتاب چې وړاندې له ما دی له تورات څخه) يعني حال دا چې زه په تورات معترف او د هغه تصديق کونکی يم او د غه رنګه په ګردو کتابونو او انبياوو عليهم السلام اقرارکوم تاسو ته مې د تورات مخالف کوم حکم نه دی راوړی چې تاسې ورڅخه وترهېږئ او له ما څخه وتښتئ ﴿ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ﴾ او زېری

---

(١) القرطبي ١٨/٨٢

(٢) قرطبي وايي خورول يې پدې چې ويل به يې هغه په داسې ناروغي اخته دی چې (خصيه)يې پړسېدلې ده او بل داچې يو ځل ورڅخه يې وهڅوله چې وايي موسی عليه السلام له دې سره زنا کړې ده بل دا چې دوی ورته ويل (اجعل لنا الها کمالهم آلهة)، بل دا چې ورته ويل يې (اذهب أنت وربک فقاتلا...).

(٣) کبير تفسير ٢٩/٣١١

کونکی یم په هغه رسول سره چي رابه شي وروسته له ماڅخه چي نوم دده احمد دی. الوسي ليکي چي: دغه متبرک عزتمن اسم درسول الله لپاره علم (نوم) دی لکه چي حسان بن ثابت رضی الله عنه وايي:

صلى الاله ومن يحف بعرشه * والطيبون على المبارک احمد[1]

الله جل جلاله اوهغوپرښتوچي دعرش په خواوشاراتولي دي او پاکيزه خلګ په مبارک احمدباندي درود لوستلی دی ، په حديث شريف کي راځي چي: زماپنځه نومونه دي زه محمداوزه (احمد) اوزه حاشر) هغه چي خلګ به زماپه پله راټولول کېږي اوزه (ماحي) هغه چي الله زماپه سبب کفر ورک کړاوزه (عاقب) يم ، دعاقب معنی هغه چي وروسته ترې بل پيغمبرنه وي روايت کاوه شي چي اصحابانو(رضوان الله عليهم) وويل: ای دالله پيغمبره موږ ته ستاپېژندنه وکړه نورسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زه دحضرت ابراهيم دعااودحضرت عيسی عليه السلام زېری يم مورمي کله چي زه يې په تن کي جنين وموندلم داسي خوب وليده چي يونور ورڅخه پيداشي اودشام مانۍ ورته رڼاکړي

[2]){ فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ } (الله وايي) بياکله چي راغی هغه (رسول عيسی) دوی ته په ښکاره وومعجزوسره (چي دمړوژوندي کول ، دمورزاده ړندواوپيس ناروغانو درملنه کول وو او داسي نوري معجزې چي دده دنبوت په ربښتنولي يې دلالت کاوو([3])){ قَالُواْ هَـٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ } (وويل (بني اسرائيلو) دغه ښکاره کوډي دي) يعني دوی وويل چي: دغه عيسی کوډګر دی دغه ښکاره کوډي يې راوړي او ددوی اشاره کوډوته دهغه معجزاتي وې چي دده په لاس څرګندېدلې، مفسرين کرام وايي هر پيغمبر خپل قوم ته زموږدپيغمبرمحمدرسول الله صلی الله عليه وسلم دراتلو زېری ورکړی دی او دلته چي يوازي دحضرت عيسی عليه السلام دبشارت يادونه شوي ځکه چي هغه وروستنی پيغمبروو چي تررسول الله دمخه تېرشوی وو نومعلومه شوه چي دغه زېری عام اوهرپيغمبر بل ته رسولی ووځوچي دعيسی عليه السلام وار راغی چي دبني اسرائيلوآخري پيغمبروو { وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰٓ إِلَى ٱلْإِسْلَـٰمِ } (اوڅوک دی ډېرظالم (بلکه هيڅوک نشته) له هغه چاڅخه چي له ځانه په الله پسي دروغ تړي (حال دا) چي دی بللی شوی دی طرف داسلام ته) استفهام دنفی په معنادی يعني تردې بل زيات ظالم هيڅوک نشته څوک چي دپيغمبرپه ژبه اسلام ته بلل شوی خو دوی پرځای ددې چي بلنه يې ومني هغه ته کوډګروايي اودالله آيتونه کوډي نوموي { وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ } اوالله نه ښيي سمه صافه لاره قوم دظالمانو(فاجرانو) ته{ يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ } اراده لري (غواړي) منکران چي مړه کړي رڼادالله (محمدي شريعت) پخپلو خولوسره. امام فخررازي ليکي چي دالله دنوروژل پر دوی پسي يوتهکم دی چي دوی داسلام بطلان پدې کوي چي وايي قرآن کوډي دی ددوی حال يې له هغه چاسره مشابه کړچي

---

[1]) الوسي تفسير ۲۸/ ۸۴
[2]) دابن اسحاق سيرت- ابن کثيروايي چي اسناديې جيد دی.
[3])دغه ظاهردی چي ضميردي عيسی ته راجع وي ځکه چي دهغه په هکله بيان دی چابياويلي چي دغه ضميراحمدته راجع دی هغه چي په باب دبشارت يادونه ده خولومړی قول دبيضاوي اوتفسيرالوسي اوالبحرالمحيط دمؤلفينوغوره اوښه

دلمرورانګي اوروښنايي په پوکي وژني اوپدې کي استهزاء اوسخريه نغښتي ده ﴿ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ اوالله پوره كونكى درنا خپلي دى اګركه بدګني دغه كافران منكران (يعني الله په ګوټ ګوټ نړۍ كي خپل دين څرګندونكى او لوړونكى دى لكه چي په حديث شريف كي راځي چي: الله ماته ځمكه راونغښته اومايې ختيځ او لويديځ وليدل اوبېشكه زما د امت پاچهي ترهغه قلمروه رسېږي كوم چي ماته رانغاړل شوي وه ...د حديث ترپايه(١) كه څه هم كفار مجرمان يې نه خوښوي دبيضاوي په حاشيه حاشيه كي راځي: دمكې كفاروله دغه برحق دين څخه كركه درلوده ځكه دوى په شرك اوضلالت كي غوپه وونوددوى دسپكتيا سره دا مناسب ووچي كوم څېز دوى نه خوښوي الله يې خپوركړي اومراد له خپراوي اواظهارڅخه دانه دى چي په ګرده نړۍ كي به چېري هم كفارنه وي بلكه مقصددادى چي دغه دين به په ګردواديانوباندي په حجت اوبرهان اوتوره او لسان كي لوړوي ترڅوچي آخر الزمان راځي (٢) ﴿ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ ﴾ (دغه (الله) هغه (ذات) دى چي رالېږلى يې دى رسول خپل په هدايت سمه لاره اوپه حق دين) يعني الله هغه ذات دى چي پخپل قدرت اوحكمت يې محمدصلى الله عليه وسلم په واضح قرآن اوښكاره دين باندي را استولى دى ﴿ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ ﴾ لپاره ددې چي غلبه وركړي (الله) دغه حق دين ته په ټولو اديانو باندي (چي مخالف دي ورڅخه لكه يهوديت، نصرانيت اونور) ﴿ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴾ اګركه بده ګني (دغه غلبه) كافران (مشركان دالله دښمنان ابوالسعودليكي چي الله دااسلام ددين اوغلبې دغه وعده پرځاى كړه داسي چي هيڅ دين نشته چي ددغه دين په وړاندي مغلوب شوى نه وي (٣).

***

الله تعالى فرمايي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (١٠) تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِكُمْ
وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (١١) يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ
عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ (١٢) وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ (١٣) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُوٓاْ أَنصَارَ
ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّۦنَ مَنْ أَنصَارِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ
وَكَفَرَت طَّآئِفَةٌ ۖ فَأَيَّدْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُواْ ظَٰهِرِينَ (١٤) ﴾ الصف: ١٠ ـ ١٤

مناسبت:

(١) دغه داوږد حديث ټوټه ده چي مسلم روايت كړى اوپه حديث كي (زُوِىَ) معناجمع كول نغښتل دي يعني دامكن شوه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وليدله.

(٢) دشيخ زاده حاشيه په بيضاوي باندي ٣/ ٤٩٠.

(٣) دابو السعود تفسير ١٥/ ١٢١

كله چي الله ددې بيان وفرمايو چي مشركان غواړي دالله دنورشغله مړه كړي نومسلمانانوته يې حكم وكړچي دالله د دين د دښمنانوسره په جهادكولو كي ځان او مال قربان كړي اووايې ورته وښودله چي دغه ګټوره سوداګري ده كه څوک غواړي په دنيااوآخرت كي نېكمرغه شي همدغه تجارت دي پر مخ بوزي.

(لغتونه)

(تنجيكم) چي تاسي وژغوري (الحواريون) خواص دعيسى عليه السلام ملګري هغه كسان چي دده مرسته يې وكړه (أيدنا) مو ږقوي كړ (ظاهرين) غالبان په حجت اوبرهان باندي

دنزول سبب:

روايت كېږي چي ځيني اصحابانوووېل: يارسول الله موږ غواړوپدې وپوهېږو چي الله ته كوم تجارت اوسوداګري غوره ترڅوموږخپل وخت اومال پكي ولګوو نودا آيت نازل شو ﴿ يٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ... ﴾.

تفسير:

﴿ يٰأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ ﴾ (اى هغو كسانو چي ايمان يې راوړى دى (يعني اى مؤمنانو) آيادروښيم تاسي ته هسي تجارت) يعني اى هغو كسانو چي په الله اوپيغمبرموږښتونى ايمان راوړى آياتاسوته يوخوراستر تجارت دروښيم ؟ استفهام دتشويق لپاره دى ﴿ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ چي نجات دركوي خلاصوي تاسوله دردناک عذاب څخه ، بيايې دتجارت داسي تشريح فرمايلي ﴿ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ﴾ ښه ټينګ اوسئ په ايمان باندي چي لرى يې په الله اورسول الله باندي (داسي ايمان راوړئ چي شک اونفاق پكي نه وي) ﴿ وَتُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ﴾ اوجهادكوئ تاسي (اى مؤمنانو له دښمنانودالله سره) په لاره دالله كي په مالونواونفسونوخپلوسره (لپاره داعلاء كلمة الله) مفسرين كرام وايي چي ايمان اودالله په لاره كي جهاديې تجارت وباله ځكه چي له تجارت سره مشابه دى كوم چي يومال په بل مال باندي بدلېږي ترڅوپكي ګټه وكړي نوڅوک چي ايمان راوړي اوپه ځان اومال جهادوكړي نوده هغه څه چي له ده سره وودهغه څه په مقابل كي وركړل چي له الله سره دي چي هغه ثواب اونجات له عذابه دى نودغه ثواب اوژغورنه دعذاب يې له تجارت سره مشابه كړه چي الله فرمايې ﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾ امام فخررازي وايې: جهاددرې دوله دى يوجهادله نفس سره دى چي هغه له لذاتو شهواتوڅخه راوګرزوي بل هغه دى چي د ده اوخلګوترمينځ وي هغه داچي طمع اوحرص پرېږدي اوپرخلګورحم اوشفقت وكړي ، دريم دالله له دښمنانوسره جهاددى چي دالله ددين دلوړتيالپاره په نفس اومال جهادوكړي [1] ﴿ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ

---

[1] كبيرتفسير ۲۹/ ۳۱۲

تَعْلَمُونَ ﴾ دغه (جهاد) بهتردی تاسي ته ای مؤمنانو(له هرڅه نه) که چېري یی تاسي چي پوهېږی (په حقیقي تجارت بأندي) ﴿ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ﴾ وبه ببنبي (الله) تاسوته گناهونه ستاسي دغه دخبریه جملې ځواب دی کوم چي رومبی تېره شوه هغه چي ﴿ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴾ وه ځکه چي معنايي دامرمعناوه يعني په الله جل جلاله ایمان راوړئ اودهغه جلت عظمته په لارکي جهادوکړئ اوکله چي مودغسي وکړل نو الله به موګناهونه دروبښي يعني پټ به يې کړي اوپه خپل فضل سره به يې محوه کړي ﴿ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ اونني باسي به مو(په داسي) جنتونوكي چي بهېږي به له لاندي د(مانیواوونو) دهغو ويالې (دجنت چي شراب ،شيدې ، شات اوخوږې خوندوري اوبه دي) ﴿ وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ﴾ (اوداخل به موکړي) په ځايونوښايسته وو پاکيزه ووکي (چي لوړي دنګي دنګي مانۍ دي) په جنتونو دهمېشه اوسېدلوكي ﴿ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴾ دغه (مغفرت اوداخلېدل جنت ته) ستر برى اوپه مراد رسېدل دي (يعني داسي نېکمرغي اوسعادت دی چي ترې پورته بله نېکمرغي او سعادت نشته ﴿ وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ﴾ بل (دنيوي نعمت) چي تاسويې خوښوی ﴿ نَصْرٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ﴾ مددكومک حفاظت دي له (جانبه د) الله اوبرى نژدې دی) معناداچي په دښمنانوبه برى درکړي مکه به درته فتح کړي ابن عباس رضى الله عنه وايي: مراد له دې څخه دفارس اوروم فتح ده ﴿ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوبشارت زېرى ورکړه (ای محمده!) مؤمنانوته (په دغه ښکاره فضل سره. په البحرالمحيط كي ليكي: كله چي الله ددې يادونه وکړه چي دوی ته به په آخرت کي ثوابونه ورکول كېږي نوهله يې ورته ددې جهان دخوښي بيان هم وفرمايوچي دوی ته به هيوادونه فتح كړي دغه دنيوي ښېګنه ده چي دآخرت ثوابونوته رسېږي نوبه په دنياکي فتح اونصرت په آخرت کي مغفرت اوجنت دواړه سره یوځای شي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوٓا۟ أَنصَارَ ٱللَّهِ ﴾ ای هغوكسانوچي ايمان بې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو) شئ تاسومرسته کونکي (ددين) د الله (اومناريې اوچت کړئ لکه چي مرسته کړي ده حوارييننو) ﴿ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّۦنَ ﴾ لکه چي ويلي ووعيسى زوی دمريمې حوارييننو(ملګروخپلو) ته ﴿ مَنْ أَنصَارِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ څوک دی مدد کونکی زماپه لاره کي دالله؟ (يعني څوک له ماسره دالله دتبليغ اودعوت په لاره کي مرسته کوي چي دالله د دين نصرت وشي ﴿ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ﴾ نوووېل حوارييننوموږ يومرسته کونکي (ددين) دالله. بيضاوي ليكي چي حوارييين هغه ځانګړي مخلص مؤمنان وو چي دده بلنې ته يې لبيک ووايودغه له (حور) څخه مشتق دی اوهغه سپين والي ته وايي دوی دوولس تنه وو[1] امام رازي ليكي چي په آيت شريف كي تشبيه په معناباندي محموله ده يعني دالله ددين داسي مرستندويان شئ لکه چي حوارييين

---

[1] البيضاوي ٤٩٢/٣

ﮊ فَئَامَنَت طَّآئِفَةٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٌ ﮋ نو ایمان راووړیوې ډلې له بني اسرائیلوڅخه (په عیسی علیه السلام) اوکافره شوه پرې بله ډله) یعني دوی په دوو ډلو ووېشل شول ځینو ورباندې ایمان راووړاوځینې ورباندې کافران شول هغه یې نه مانو (اوسره په جګړه شول) ﮊ فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ ﮋ نوقوت موورکړهغوته چې ایمان یې راوړی ووپردښمنانودوی باندې ﮊ فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ ﮋ پس وګرزېدل دوی(مؤمنان) بریالي (پرکفاروپه حجت اوبرهان باندې ابن کثیروایي: کله چې حضرت عیسی دالله رسالت بني اسرائیلوته ابلاغ کړیوې ډلې بني اسرائیلودغه رسالت ومانواوبله ډله منکره اوګمراه شوه عیسی علیه السلام ته اودهغه مورته یې ډېرې لویې اوسترې ښکنځلې اوبدې ردې وویلې دغه یهودان علیهم اللعنة وو دده له اتباعوڅخه ځینې نوروبیادده په هکله دومره زیاته غلو اواستغراق وکړ چې هغه یې دالوهیت مرتبې ته اوچت کړاودوی بیاګرډپه یوه خوله نه ووځینوویل چې دی دالله زوی دی (معاذالله) ځینوګمان کاوو چې هغه ددریوڅخه یودی چې هغوی درې پلار،زوی، اوروح القدس دي ځینوبیاویل چې: هغه پخپله الله دی (تعالی الله عن ذلک علواکبیرا) نوالله جل جلاله مؤمنانو نصاراووته په کافرانوباندې بری اونصرت ورکړ.

بلاغت:

پدې سورت کې چې دبدیع اوبیان کومې ښکلاوې شته لنډیزیې دادی:

۱- توبیخي اسلوب لکه ﮊ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ﮋ مادااستفهام لپاره ده اوالف یې دتخفیف لپاره حذف شوی اومقصدله استفهام څخه توبیخ دی.

۲- اطناب چې دِلفظ په تکرارسره راغلی اوددوی دبدعملي دزیات تقبیح افاده کول پکې نغښتي دي چې فرمایي ﮊ كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ﮋ همداراز د ﮊ تَقُولُواْ ، تَفۡعَلُونَ ﮋ ترمینځ دطباق صنعت هم شته

۳- مرسله مفصله تشبیه چې وایي ﮊ بُنۡيَٰنٞ مَّرۡصُوصٞ ﮋ یعني په ټینګ والي او اوډلوکې.

۴- دترغیب لپاره استفهام لکه ﮊ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ تِجَٰرَةٖ ﮋ چې راغلی دی.

۵- لطیفه استعاره چې فرمایي ﮊ يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ ﮋ دالله نوریې ددین اوروښانه شریعت لپاره استعاره کړی اوهغه کسان چې ددین باطلول غواړي هغوی یې له هغه چاسره چې دخولې په پوکې دلمررڼاورکول یې مقصدوي مشابه کړل دغه تمثیلي استعاره اوله لطافته ډکه ده.

۶- دطباق صنعت کله چې فرمایي ﮊ فَئَامَنَت طَّآئِفَةٌ وَكَفَرَت طَّآئِفَةٌ ﮋ.

(۱) کبیرتفسیر ۲۹/ ۳۱۹

۷- مرصع سجع ته به وادملغلرودانې دي چي په يوه تاركي پهيل شوي وي لكه ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴾ ﴿ هَـٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴾ ﴿ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اودغه له بدېعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

تنبيه:

داچي دموسی اوعیسی علیهماالسلام کیسه يې په سورت کي سره يوځای راوړه څکه چي دوی دواړه دبني اسرائيلوانبياء دي اودهغوی ترګردودستري مرتبې خاوندان اواولوالعزم پيغمبران دي چي الله تعالی پخپل کتاب کي په ثناسره ستايلي دي.

دالله په مرسته دالصف سورت تفسيربشپړشو.

***

د(الجمعة)سورت مدني اويوولس آيتونه لري:

دسورت په وړاندي:

دغه سورت مدني سورت دی اوتشريع بيانوي هغه محورچي سورت ورباندي راڅرخي دجمعې لمونځ دی کوم چي الله تعالی په مؤمنانوفرض کړی دی.

سورت درسول الله خاتم الانبيابعثت رااخلي اودانبيي چي هغه عليه السلام يوالهي رحمت دی دهغه په وسيله الله تعالی عرب دشرک له ګمراهيوڅخه وژغورل اوګردانسانيت يې ورباندي ونازاوو دهغه بعثت دبشري ټولني درنځونولپاره کوم چي دجهل په تورتم کي اوسېده درمل اوعلاج وو.

ورپسې له يهودانوڅخه رغېږي هغوی چي دالله له شريعت څخه منحرف شوي ووکوم چي الله ورباندي دتورات په حکمونوعمل کول فرض ګرزولي وو خودوی هغه شاته وغورځاوو. آيتونه ددوی لپاره دخره مثال راوړي هغه چي ورباندي ګټور کتابونه باروي خوهغه پرته له درونډوالي اوتکليف څخه هيڅ ډول ګټه ورڅخه اخيستلای نشي اوهمدغه دبدمرغي اوشقاوت وروستی پړاودی.

بيادجمعې دلمانځه حکمونه راوړي اومسلمانانوته بلنه ورکوي چي دلمانځه دادا کولو لپاره چټکتياوکړي د آذان په وخت کي پلورل ، پېرودل منع کوي اوداسي فرمايې چي دلمانځه په وخت کي دي په تجارت اولهوکي نه بوختېږي لکه منافقين چي لمانځه ته وبلل شي نوسست کشال راپاڅېږي

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ٱلْمَلِكِ ٱلْقُدُّوسِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ۝١ هُوَ ٱلَّذِى بَعَثَ فِى ٱلْأُمِّيِّـۧنَ رَسُولًا مِّنْهُمْ
يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَـٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ۝٢ وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا
يَلْحَقُوا۟ بِهِمْ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ۝٣ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ۝٤ مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُوا۟
ٱلتَّوْرَىٰةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًۢا ۚ بِئْسَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى
ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ۝٥ قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓا۟ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ

صَٰدِقِينَ ﴿٦﴾ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧﴾ قُلْ إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُۥ
مُلَٰقِيكُمْ ۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا نُودِىَ
لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ فَٱسْعَوْا۟ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ وَذَرُوا۟ ٱلْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩﴾ فَإِذَا قُضِيَتِ
ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَٱبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠﴾ وَإِذَا رَأَوْا۟ تِجَٰرَةً أَوْ لَهْوًا
ٱنفَضُّوٓا۟ إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا ۚ قُلْ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ ٱللَّهْوِ وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِ ۚ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿١١﴾ ﴾ الجمعة: ١ - ١١

لغتونه:

(الأميين) هغه عرب چي د رسول الله معاصر وو دوی ته ځکه أميين وويل شول چي ليک او لوست يې نه ووزده (يزكيهم) له تزکيې څخه اخيستل شوی او هغه د شرک او معاصيو څخه پاکوالي ته وايې (أسفارا) د سفر جمع او ستر کتاب ته ويل کېږي (هادوا) د يهوديت دين يې منلی وو (انفضوا) تيت او پرک به شول.

د نزول سبب:

حضرت جابر رضی الله عنه روايت کوي يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم د جمعې په ورځ خطبه لوستله ولاړ وو چي ناڅاپه مدينې منورې ته قافله راورسېده او اصحابان د قافلې لوري ته ووتل چي له دوولس تنو څخه پرته نور پاتي نشول په هغو پاتي کسانو کي زه او حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنه) وو نو الله جل جلاله دا آيت نازل کړ: ﴿ وَإِذَا رَأَوْا۟ تِجَٰرَةً أَوْ لَهْوًا ٱنفَضُّوٓا۟ إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا ۚ.. ﴾ ([1]).

تفسير:

﴿ يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (نسبت د پاکي کوي خاص الله لره هر هغه څه چي په آسمانونو کي دي او هر هغه څه چي په ځمکي کي دي) يعني د الله تنزيه او پاکي بيانوي تمجيدې کوي او تقديس يې ستايي ګرد هغه څه چي په کائناتو کي دي له انسان ، حيوان نبات او جماد څخه د مضارع صيغه چي (يسبح) ده ددې لپاره راوړل شوي چي تجدد او استمرار افاده کړي دغه تل ترتله تسبيح ده ﴿ ٱلْمَلِكِ ﴾ چي باچا ټولواک دی (د هر څېز مالک او پخپل مخلوق کي د ايجاد او اعدام (هستي او نېستي) تصرف کونکی دی ﴿ ٱلْقُدُّوسِ ﴾ ډېر پاک دی له هره عيبه (متصف) دی د کمال په صفاتو سره ﴿ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ (ښه غالب قوي ښه حکمت والا دی) يعني ښه غالب او زبردست دی پخپله پاچهي کي او ښه حکمت والا دی په خپل صنعت کي ﴿ هُوَ ٱلَّذِى بَعَثَ فِى ٱلْأُمِّيِّۦنَ رَسُولًا مِّنْهُمْ ﴾ (دغه (الله) هغه ذات دی چي لېږلی يې دی په اميانو کي يو رسول (محمد) له دوی څخه) يعني دغه الله پخپل حکمت او رحمت سره په عربو کي يو استاذی د دوی له ډلي رااستولی د دوی په شان أمي دی چي نه لولي او نه ليکي. مفسرين کرام ليکي چي عرب يې ځکه أميان ونومول ځکه دوی ليک لوست نه لري په دوی کي أمي توب مشهور شوی

([1]) أخرجه البخاري ومسلم - روح المعاني تفسير ٢٨ / ١٠٤.

لکه چي رسول الله فرمايي: (نحن أمة أمية لانكتب ولانحسب) موږ أمي أمت يو نه ليکل کوو اونه حساب کوو) ([1]) اوداچي درسول الله بعثت يې داميينولپاه يادکړسره له دې چي هغه دگردبشريت لپاره پيغمبردی پدې کي دعربودشرافت ښودل دي چي درسول الله نسبت يې هغوی ته وکړ اوددوی همدغه شرافت بس دی ﴿ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ ﴾ چي لولي پردوی باندي آيتونه ددې (قرآن) ﴿ وَيُزَكِّيهِمْ ﴾ اوپاکوي دوی (له کفره اوگناهونوڅخه ابن عباس وايې معناداچي ددوی زړونه په ايمان پاکوي([2]) ﴿ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ ﴾ اوښيي دوی ته کتاب (قرآن) اوحکمت (نبوي پاکيزه سنت) ﴿ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ (اګرکه وودوی پخوا (ترمحمدي بعثته) په ګمراهي ښکاره کي) يعني حال اوشان دادی چي دوی درسول الله له بعثته پخواپه ښکاره ګمراهي کي اوسېدل چي سمه لاره يې ورکه کړې وه. ابن کثيرليکي: الله جل جلاله محمد رسول الله پداسي وخت کي راواستاووچي دفترت زمانه وه ديني لاري ليکي ورکي شوي وې ديولاړښوونکي استازي خوراسخته اړتياوه عرب دابراهيم عليه السلام ددين پلويان ووخوهغه يې بدل کړی ووتوحيديې په شرک اويقين يې په شک اړولی وو داسي شيان يې له ځانه جوړکړي ووچي الله ورته حکم نه ووکړی همداسي اهل کتابوخپل کتابونه تحريف کړي اوبدل کړي ووچي الله محمد رسول الله راواستاووستراوبشپړشريعت يې ورکړکوم چي هدايت اوبيان پکې وو اوګردهغه څه چي خلک ورته دمعاش اومعادپه هکله اړتيالري پکي موجودوو الله پاک هغه ته ټول محاسن وربښلي اوهغه څه يې ورکړي چي نه پخوانيواونه وروستنيوته ورکول شوي وو([3]) ﴿ وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا۟ بِهِمْ ۚ ﴾ اوالله پورته کړی لېږلی دی محمدلره په مينځ دنورو راتلونکيو کي) له مؤمنانوچي نه دي رسېدلي دوی هغو (مؤمنانو) ته يعني رسول الله يې نورو قومونو ته هم رااستولی دی چي ددوی په زمانه کي نه وواوله دوی نه وروسته به راځي اودغه ګردهغه اقوام اوخلک دي چي ترقيامته پوري مسلمانېږي صاوي ليکي معناداچي پيغمبريې دهغه په زمانه کي د موجودخلکولپاره مبعوث کړی اودهغوکسانولپاره چي تردوی وروسته راځي دده استازيتوب يوازي دهغه ترزمانې پوري محدودنه دی بلکه ددوی عربواونوروکسانولپاره هم دی چي تر قيامته راتلونکي دي ([4]) په يوحديث شريف کي چي ابوهريرة رضی الله عنه يې روايت کوي وايې: موږله رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست ووچي په پيغمبرعليه السلام سورت الجمعة نازل شو ﴿ وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا۟ بِهِمْ ۚ ﴾ نو اصحابانورضی الله عنهم رسول الله ته ووېل: دغه څوک دی؟ (زموږسره سلمان فارسي هم ناست وو) نورسول الله خپل لاس په سلمان رضی الله عنه کېښوداوبيايې وفرمايل: (لوکان الايمان عند الثرياء لناله رجال من هؤلاء) ([5]) که

([1]) متفق عليه.
([2]) الوسي تفسير ١٨/ ٩٣
([3]) دابن کثيرمختصر ٣/ ٤٩٧
([4]) دصاوي حاشيه ٤/ ٢٠٤
([5]) متفق عليه واللفظ لمسلم.

ايمان په ثريا(پروين)کي (اوچت هم) وی نو ددغو خلکو کسانه به يې ترلاسه کوي، مجاهد ددغه آيت په تفسيرکي ليکي چي دغه عجميان اوګرد هغه خلک دي چي له عربو پرته يي درسول الله تصديق کړی دی[1] ﴿ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ اودغه الله ښه غالب (پخپله پاچهي) کي ښه حکمت والا (پخپل صنعت کي دی) ﴿ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ﴾ (دغه (نبوت) دالله لوی فضل دی چي ورکوي يې هغه چاته چي د ورکولواراده يې ورته وفرمايې) يعني دغه شرافت چي الله تعالى سيدالبشرورباندي ونازاووا وګردي بشري ټولني ته يې واستاوو اوهغه چي عرب يې ددوی په ژبه په قرآن کريم رالېږلو اوخاتم الانبياء ورته مبعوث کولوښايسته کړل دغه دالله يو فضل دی هغه چاته يې ورکوي چي ورته دورکولو اراده يې وشي ﴿ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ اوالله خاوند دفضل دېرلوی دی (په دنيااوآخرت کي) له دې په وروسته الله ديهودانو، هغو چي الله جل جلاله تورات ورته را استولی ووبدي بيانوي ځکه چي دوی په هغه سپېڅلي کتاب کومه ګټه ونه موندله او په ژوندانه کي يې دهغه حکمونه پلي نه کړل ځکه نوالله هغوی له خره سره تشبيه کوي چي غټ کتابونه پرې باروي فرمايې ﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ ﴾ مثال دهغو کسانوچي مکلف کړی شوي وو په تورات (چي عمل پرې وکړي) ﴿ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا ﴾ بيابارنکړ هغوی هغه تورات (عمل يې پرې ونکړ دهغه په هدايت او رڼايې ګټه ونه موندله) ﴿ كَمَثَلِ ٱلْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًۢا ﴾ (مثال دهغوکسانو) په مثل دخره دی چي په شاوړي کتابونه (اوګټه ترې نشي اخيستی) يعني ددوی مثال دهغه خره دمثال په شان دی چي غټ کتابونه ور باندي باروي هغه چي ګټور معلومات لارښووني اومواعظ لري خوخر پرته له دروندوالي او کړاوڅخه هيڅ فائده ورڅخه نه شي اخيستلای هغه يې په پورته کولو ستړی ستومانه وي خوله زېرمو او نصحيتونوڅخه يې هيڅ ګټه نه مومي[2] بيضاوي حاشيه ليکي چي الله ديهودانو بدي په دې بيانوي چي دوی تورات لوستل په هغه څه پوهېدل چي په دغه تورات کي دمحمد صلى الله عليه وسلم دنبوت دربښتنولي په هکله راغلي اوايمان راوړل ورباندي واجب نبيي مګر دوی په هغه څه عمل ونکړ کوم چي دوی يې دداړينوله بدمرغي څخه ژغورلي وای نو دوی يې له خره سره يوډول وارزول اوتشبيه کړل هغه چي دعلم اوحکمت کتابونه يې په شاباروي خوپخپله دی له دغه علم اوحکمت څخه هيڅ برخه نلري د شبه وجه ددوی ترمينځ ګټه نه اخيستل دي سره له دې چي تکليف اوزحمت هم تېروي[3] ﴿ بِئْسَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ ﴾ (بد دی مثال دهغه قوم چي دروغ وايې دوی په دلائلو(دقدرت) دالله) يعني دغه مثال چي موږ ديهودانولپاره بيان کړی بدمثال دی لپاره دهغه قوم چي دالله په آيتونو دروغ تړي هغه آيتونه چي دمحمد عليه السلام دنبوت دربښتنولي په هکله

---

[1] دابن کثيرمختصر ۴۹۸/۳
[2] قرطبي تفسير ۹۵/۱۸
[3] حاشيه شيخ زاده ۴۹۴/۳

راغلي دي (۱) ﴿ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ او الله نه ښيي سمه صافه لار قوم د ظالمانو (كافرانو) ته يعني الله هغوى دايمان او ښېګڼي لاري ته نه رهبري كوي . عطآء وايي : دوى هغه كسان دي چي پخپلو ځانونو باندي او انبياوو عليهم السلام په دروغجن ګڼلو ظلم كړى دي (۲) ورپسي الله تعالى ديهودانو ددغي دعوى تكذيب بيانوي كوم چي دوى به ويل دالله دوستان هم دوى دي الله فرمايي ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ ﴾ ووايه (اى محمده!) اى هغو كسانو چي يهودان شوي يئ (يهودي ملت مو منلى) كه ګمان كوئ چي بېشكه تاسي دالله دوستان ياست پرته له نورو خلكو ﴿ فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ نو آرزو وكړئ د مرګ كه چېري ياست تاسي رښتوني (په دغه ادعاكي ترخو چي ژر تر ژره دالله جنت ته چي دخپلو دوستانو لپاره يې تيار كړى دى ورشئ ابوالسعود ليكي چي يهودانو به ويل : ﴿ نَحْنُ أَبْنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ ﴾ او دوى به دغه دعوى هم كوله چي آخرت او ښېګڼي يې يوازي ددوى لپاره دي ويل به يې ﴿ وَقَالُواْ لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا ﴾ نو الله جل جلاله رسول الله ته حكم وكړچي د دوى د دروغو د سپينولو لپاره دي ورته ووايي : كه تاسو د غسي ګمان كوئ نو د مرګ آرزو وكړئ ترخو چي د كړاو او زحمت له نړۍ د سوكالي او رحمت مقام ته ولېږدئ ځكه څوك چي دا يقين كوي چي جنتي دى هغه داهيله لري چي له دغه تكليفونو څخه وزګارشي (۳) الله جل جلاله ددوى په رسوايي كي چي د دوى دروغ له ورايه ځرګندوي داسي فرمايي ﴿ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ﴾ حال دا چي وبه نكړي دوى آرزو د دغه (مرګ) هيڅېري هم په سبب د هغو (ګناهونو) چي مخكي لېږلي دي لاسونو د دوى (له كفره، معاصيو او محمدي تكذيب څخه. په يو حديث شريف كي راغلي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : زما دي په هغه ذات سوګند وي چي زما روح يې په يد (د قدرت) كي دى كه چېري يې د مرګ آرزو كړي واى د ځمكي په سر به يو يهودي هم پاتي شوى نه وو چي مړشوى نه واى ، الوسي ليكي هيڅ دا دوى هم د مرګ آرزو ونكړه ځكه دوى د رسول الله په صدق او رښتنولي باور درلود او پدې پوهېدل كه چېري هم د مرګ آرزو وكړي سمد ستي به ومري او دغه هم د پيغمبر عليه السلام يوه معجزه وه په البقرة سورت كي د دغي آرزو او تمنا نفى شوي ده چي ﴿ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ ﴾ راغلي او دغه د مشهور قول په بنا تفنن بولي (۴) ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ (او الله ښه عالم دى (په احوالو د ګردو ظالمانو) يعني الله د دوى په ډول ډول ظلمونو او ګناهونو ښه خبردار دى او دا چي ظاهر يې د ضمير پرځاى راوړى چي داسي يې نه دي فرمايلي چي (عليم بهم) د غه ددې لپاره چي د دوى بدي وښيي او دا چي ظلم پر دوى

(۱) زه وايم پدې كي زمونږ مسلمانانو لپاره كه د قرآن احكام تطبيق نكړو هم تعريض دى لكه چي ويل كېږي تا ته وايم ا ګاونډى دي واوري (صابوني).
(۲) كبير تفسير ۲۹ / ۵.
(۳) ابوالسعود تفسير ۵ / ۱۲۳
(۴) روح المعاني ۲۸ / ۹۶

باندي تسجيل اوثبت کړي (١) ﴿ قُلْ إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ ﴾ ووايه (اى محمده دغويهودانوته) بېشکه هغه مرګ چي تاسي ورڅخه تښتى له هغه نه (اوترې وېرېږی آرزويې نه کوی) ﴿ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمْ ﴾ پس بېشکه هغه مرګ تاسي ته رسېدونکی دی (خامخا،تېښته درته ګټه نه رسوي لکه چي الله بل ځای فرمايي: ﴿ أَيْنَمَا تَكُونُوا۟ يُدْرِككُّمُ ٱلْمَوْتُ وَلَوْ كُنتُمْ فِى بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾ (النساء ٧٨) ځکه چي مرګ ليکلی مقدر دی اوله مقدرڅخه حذرګټه نلري ﴿ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ بيابه بوتلی شی تاسي په لوري د(هغه) ښه پوهېدونکي په پټواوښکاره ووباندي (چي هيڅ شی ورڅخه پټ اوالونيانه دی ﴿ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ پس خبربه کړي تاسي په هغو(کارونوباندي) چي کول به تاسو(په دنياکي نوجزاء به ورباندي درکړي ، په دې کي وعيد او تهديدی له دې په وروسته الله تعالى دجمعې حکمونه داسي بيانوي فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ ﴾ اى هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (اى مؤمنانو) کله چي آذان وويلی شي دپاره دلمانځه په ورځي د جمعې ﴿ فَٱسْعَوْا۟ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ وَذَرُوا۟ ٱلْبَيْعَ ﴾ نوځغلئ منډي وهئ طرف دذکرالله ته اوپرېږدئ بيع اوشراء (پلورل اوپېرودل يعني له تاواني تجارت څخه ګټه ورتجارت اوسوداګري ته وځغلئ په التسهيل کي وايې چي په آيت کي سعى دتللوپه معناده نه دځغاستلو (٢) ځکه چي په حديث شريف کي راځي: کله چي لمونځ ودرېږي نو تاسي ورته منډي مه راوهئ بلکه ورته رادرومئ په داسي حال کي چي سکينه اوآرام درسره وي (٣) حسن رحمه الله وايې قسم دی چي دغه سعى دپښوسعى نه بلکه دزړونو سعى نيت اوخشوع ده ځکه چي په حديث شريف کي لمانځه ته له منډي وهلوڅخه منع راغلي اودسکينې اووقارمارېينه شوي ده (٤) ﴿ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ دا(لمانځه ته تګ) بهتره برغوره دی تاسي ته که چېري يې تاسي چي پوهېږی (په اخروي نفع اونقصان خپل) يعني دغه دالله درضالپاره سعى اوخرڅول رانيول پرېښودل ستاسولپاره ګټور اوتردنيوي) تجارت اخروي بهتراوتلپاتي دی که تاسي دربښتوني پوهي اوسليم عقل خاوندان ياست ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ ﴾ نوهرکله چي لمونځ اداکړل شي (اوتاسوفارغ شی) ﴿ فَٱنتَشِرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ پس خواره شئ په ځمکه کي (اوخپل تجارتونه اومصالح پرمخ بوزئ) ﴿ وَٱبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ ﴾ اوولټوئ تاسي له فضله دالله ؛ ځکه چي رزق، روزي دالله په لاس کي ده هغه د فضل اواحسان خاوندی دعمل کونکواجرنه زيانوي اونه هم غوښتونکي محرروموي ﴿ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴾ اوتاسو الله

---

(١) ابوالسعود ٥ / ١٢٣

(٢) التسهيل ٤ / ١١٩

(٣) په تولوصحاحوکي راغلي.

(٤) قرطبي تفسير ١٨ / ١٠٣

ډېريادوئ(په زړه اوژبه نه يوازې دلمانځه پروخت) ﴿لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ (ښايي چې ومومئ تاسې ښېګڼې ,خلاصي اومراد) يعني ترڅوددارينوښېګڼې مو په برخه شي، سعيد بن جبير رضى الله عنه وايي دالله يادونه دالله طاعت دى څوک چې دالله اطاعت کوي لکه چې الله يادوي او څوک چې دالله اطاعت نه کوي که څه هم ډېرذکراوتسبيحات وايي خوبياهم ذاکرنه دى(١) وروسته الله جل جلاله ددې بيان فرمايي

اسې چې يوه ډله دخلګو فاني دنياترباقي غوره کوي اوښه يې ګڼي نوفرمايي ﴿ وَإِذَا رَأَوْا تِجَـٰرَةً أَوْ لَهْوًا ٱنفَضُّوٓا۟ إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا ﴾ اوکله چې ووينې دوى تجارت سوداګري ياکومه لهوتماشاننداره نو خورېږي دوى په لوري دهغې اوپريږدي دوى تا ولاړ(خطبه ويونکى پرمنبر) دغه دځينې اصحابانورضوان الله عليهم لپاره عتاب دى کوم چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پداسې حال کې چې هغه دخطبې دايرادولو (لوستلو) لپاره ولاړ وو دوى ځينې تيت اوپرک شول اومعنايې داچې که دوى دکوم ګټور تجارت خبرواوري اويادډنيوي ننداري اوزينت تماشې خبرې وي رسول الله پرېږدي اوهلته ورځي دلته ضميرتجارت ته راجع دى ځکه چې هغه ترګردو زيات داهميت وړمقصوددى. مفسرين کرام وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعې په ورځ په منبرولاړاوخطبه يې لوستله چې دشام له لوري د(دحية الکلبي) په مشرتابه د خوراکي توکوقافله راورسېده اودمدينې منورې خلګ له کاختي اوګراني څخه سخت کړېدل ، ددوى دوداوعادت داسې وو چې کله به مدينې منورې ته قافله راورسېدله نوبه يې دخوښې څخه ډول واهو اوچيغې نارې به پورته کېدلې نوکله چې قافله راورسېده دمسجد خلګ ورته راووتل اورسول الله صلى الله عليه وسلم يې په منبردپاسه ولاړپرېښودېوازې دوولس تنه اصحابان ورسره پاتې شول جابربن عبدالله وايي چې يوهم زه وم (٢) بيادغه آيت نازل شوابن کثيرليکې چې ښايي پدې وپوهېږې چې داپېښه هغه وخت وه چې رسول الله به دجمعې لمونځ ترخطبې لوستلودمخه اداکاوولکه چې داخترونو لمونځ ترخطبې وړاندې اداکېږي اوددې روايت ابوداؤدهم کړى دى(٣)﴿ قُلْ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ ٱللَّهْوِ وَمِنَ ٱلتِّجَـٰرَةِ ﴾ (ووايه (اى محمده دوى ته !) هغه څه (ثواب) چې دالله په نزددى ډېرغوره بهتره دى له لهوي تماشې ننداري اوله تجارت سوداګري څخه) يعنې دالله ثواب اونعمتونه تردغوننداراواو سوداګريوغوره دى﴿ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴾ اوالله ډېربهترغوره له ګردو روزي ورکونکيو دى ،روزي له هغه څخه وغواړئ ! له هغه څخه دخپلو مقاصدو دترسره کېدلومرسته طلب کړئ !

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته لنډيزيې په لاندې ډول دى:

---

(١) په بيضاوي باندې دشيخ زاده حاشيه ٣ /٤٩٢

(٢) وګوره دنزول سبب.

(٣) دابن کثيرمختصر ٣ /٥٠٣

١-تمثيلي تشبيه چي فرمايي ﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ حُمِّلُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ ٱلْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًۢا ﴾ دلته دشبه وجه له متعدد ځخه اخيستل شوي يعني دوی له تورات څخه په ګټه نه اخيستلو کي داسي دي لکه هغه خرچي سترسترکتابونه وربانديي باروي خو هغه پرته له زحمته اوکړاوه بله ګټه ورځخه نشي اخيستلای.

٢-دسلبي طباق صنعت چي پدې آيت کي دی ﴿ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ أَبَدًۢا ﴾.

٣-دطباق بله بېه چي د ﴿ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ﴾ ترمينځ شتون لري اودغه له بديعي محسناتو څخه شميرل کيږي.

٤-تفنن چي هغه خورامهم ړومبی راوړل شي لکه دالله تعالی په دې ويناکي چي ﴿ وَإِذَا رَأَوْا۟ تِجَـٰرَةً أَوْ لَهْوًا ﴾ ځکه چي اساسي مقصود تجارت دی نو يې ړومبی راووړيادالله پدې کلام کي چي ﴿ قُلْ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ ٱللَّهْوِ وَمِنَ ٱلتِّجَـٰرَةِ ﴾ لهويې په تجارت دمخه ياده کړه ځکه چي دهغې تاوان خورا زيات دی چي پکي له سره ګټه نشته نوپه دواړو ځايونو کي يې هغه خورامهم ړومبی يادکړی دی.

٥-مرسل مجازچي فرمايي ﴿ وَذَرُوا۟ ٱلْبَيْعَ ﴾ بيع يې ياده کړه اومقصودورځخه دبيع، شراء، اجاره اونورګرد معاملات دي ذکر دجزء مراد ترې کل دی.

تنبيه:

دغه ورځ دجمعې ورځ ځکه ونومول شوه چي مسلمانان دلمانځه لپاره پکي رايوځای کيږي تولېږي دغه به دجاهليت په وخت کي (يوم العروبة) بلل کيده چي معنايې رحمت دی اوړومبی څوک چي دغه ورځ يې جمعه ونوموله هغه (کعب بن لؤی) وواوړومبی تن چي مسلمانانوته يې دجمعې د لمانځه امامت وکړ هغه (أسعد بن زرارة) وو دوه رکعته لمونځ يې ورکړ اونصيحت يې ورواوراوو همدغه په اسلام کي لومړنی جمعه وه[1].

فائده: (عراک بن مالک) چي به کله دجمعې لمونځ اداکړنوبه دمسجدپه دروازه کي ودريدواوويل به يې: (ای الله ماستابلني ته لبيک وواپوستا، فريضه مي اداکړه اوخوريږم لکه چي تاراته حکم کړی نو ماته روزي راکړې له خپله فضله څخه ته خوراغوره روزي ورکونکی يې[2]).

لطيفه: دالله جل جلاله پدې ويناسره تعبيرفرمايل چي: ﴿ فَٱسْعَوْا۟ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ پدې کي لطيفه نغښتي ده اوهغه داچي له مسلمان سره ښايي په عزيمت اوقصد، نشاط اوهمت سره راپاځي له دې امله چي د سعی کلمه زيار او عزم افاده کوي ځکه حسن بصري رحمه الله وايي قسم دی که دسعی معناد پښو منډه اوځغستاوي بلکه سعی په نيت اوزړونو سره ده.

دالله په مرسته دالجمعة سورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

---

(١) روح المعاني ٢٨/١٠٠

(٢) دقرطبي تفسير

دالمنافقون سورت مدني دی او يوولس آيتونه لري:

دسورت په وړاندي:

دالمنافقون سورت مدني دی اولکه نورمدني سورتونه تشريعات او احکام څېړي اوداسلام عملي زاويې ته کتنه کوي کومه چي تشريعي قضاياوي يې جوړښت دی.

هغه محورچي دغه مبارک سورت ورباندي راڅرخېږي هغه دنفاق اومنافقينوبيان دی چي ښه په تفصيل سره يې يادوي څکه نودغه سورت هم پدغه رسواکونکي نامه (المنافقون) ونومول شوڅکه چي له نفاق څخه پرده پورته کوي.

دسورت په پيل کي دمنافقينوخويونه اوبدافعال اوصفتونه بيانېږي چي ترګردوڅرګنديږي درواغ ويل اوظاهراوباطن مخالفت دی دوی په ژبه هغه څه وايې کوم چي په زړونوکي ورباندي باور نلري بل داچي دوی تل درسول الله ﷺ اومسلمانانولپاره دسيسې جوړوي نوسورت ددوی له دغو ناولو عملونواوجرمونوڅخه پلو پورته کوي، دوی خوپه ظاهري بڼه ځان مسلمانان ښيي اوپه دغه بڼه داسلام دبلني اوالهي دين دلاري داسي مخنيوی کوي چي بربنډکافريې هغسي نشي کولای څکه نوددوی خطراوضرر خوراسترا وبېردی ﴿ إِنَّ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا ﴾.

همداسي سورت ددوی له هغوبدوخبرو اوناوړوخه بيان کوي کومي چي دوی به درسول الله ﷺ په هکله کولې اوداسي باوريې درلودچي دغه دعوت به ژرترژره له مينځه ځي اودوی کله چي د(بني المصطلق) له غزاراستانه شي نوبه رسول الله ﷺ اومؤمنان له مدينې منورې څخه وشړي اودغسي نوري خوشي خبري اوچتي اپلتي ويناوي.

دسورت پای په دې شوی چي مؤمنان له دې څخه وېروي چي ددنياپه ظاهري ښکلااوزرق اوبرق وغولېږي اودالله له طاعت څخه يې لکه منافقين راوګرزوي اوداسي بيان فرمايې چي همدغه دخسران اوتاوان زېرنده ده لکه چي مؤمنانوته دالله په لاره کي دخپل مال دلګولوحکم کوي ترڅودمرګ له راتلو دمخه دالله درضااوخوښي لپاره في سبيل الله انفاق وکړي څکه دمرګ دراتګ په وخت کي بياانسان ته ندامت اوحسرت ګټه نه رسوي

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَـٰفِقُونَ قَالُوا۟ نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ
لَكَـٰذِبُونَ ﴿١﴾ ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَـٰنَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ ثُمَّ
كَفَرُوا۟ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٣﴾ ۞ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ۖ وَإِن يَقُولُوا۟ تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۖ كَأَنَّهُمْ
خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۖ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۚ هُمُ ٱلْعَدُوُّ فَٱحْذَرْهُمْ ۚ قَـٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ ۖ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٤﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ يَسْتَغْفِرْ
لَكُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ لَوَّوْا۟ رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴿٥﴾ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ
لَهُمْ لَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَـٰسِقِينَ ﴿٦﴾ هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُوا۟ عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ

ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا۟ ۗ وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٧﴾ يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى
ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ ۚ وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ
﴿٩﴾ وَأَنفِقُوا۟ مِن مَّا رَزَقْنَٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَآ أَخَّرْتَنِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن
مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠﴾ وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١١﴾ ﴾ المنافقون: ١ - ١١

لغتونه:

(جنة) د ال ساتونکی ، ژغورونکی په حديث شريف کي راغي چي روژه د ال دی يعني دالله له عذابه سړی ژغوري (طُبِع) مهرلګول شوی (يؤفکون) ګرزولی شي له حق څخه ګمراهي ته له افک څخه اخيستل شوی اوهغه ګرزولوته وايې (لووا) ويې پېچل (لوی رأسه) يعني سريې وپېچل تاويي کړ (ينفضوا) خواره شي (تلهکم) مشغوله دي نکړي تاسي (لهو) هغه کاراووينا ته وايې چي هيڅ ګټه پکي نه وي

دنزول سبب:

روايت کېږي چي رسول الله ﷺ دبني المصطلق غزاته ولاړ هلته داوبويوکوهی وود خلګوګڼه ګوڼه ورباندي زياته شوه يوتن (جهجاء بن سعيد) دعمربن خطاب مزدور اوبل (سنان الجهني) د عبدالله بن سلول ملګری سره لاس اوګرېوان شول جهجاء سنان په چپلاخه وواهواوهغه په قهرشواو غږ يې وکړ چي ای انصارو ! همداسي جهجاء غږ وکړچي ای مهاجرينو ! نوعبدالله بن سلول وويل دوی هغه څه چي موږ احساسول ترسره کړل قسم دی چي زموږ اوددې (مهاجرينو) مثال هغه دپخواني متل په شان دی چي ويلي يې دي سپی دي څاغ کړه وبه دي خوري زمادي قسم په الله وي که مدينې ته ستانه شونو عزتمن به هغه خوارکوټی له مدينې څخه وباسي عزتمن يې خپل ځان باله اوخوارکوټی يې رسول الله ﷺ اواصحابان بللو(العياذ بالله) اوبيايې خپل تبرته وويل : دغه مهاجرينوته تاسي مرستي او کومکونه ورکول چي درسره مېشت شول که مودغه مرستي اوکومکونه ځني قطع کړل ستاسوله ښاره به وتښتي (زيدبن ارقم) دغه خبري واورېدې اورسول الله ﷺ ته يې وويل: اودغه خبره عبدالله بن سلول ته ورسېدله نوهغه قسم وخوړچي دغسي يې ويلي نه دي اوزيد دروغ وايې نودغه مبارک سورت نازل شودالله تردې قوله پوري چي: ﴿ يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ ﴾ .(١)

تفسير:

﴿ بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴾ شروع کوم په نامه دالله چي ډېرزيات مهربان پوره رحم کونکی دی ﴿ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَٰفِقُونَ ﴾ کله چي راشي تاته (ای محمده !) منافقان (لکه عبدالله بن سلول اوملګري يې) ﴿ قَالُوا۟ نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ﴾ نووايې دوی (په ژبو خپلو پرته له زړونو ددوی په رياکاري

(١) التسهيل ٤ /١٢٢ وګوره بخاري !

او نفاق سره چي) شاهدي ورکوو موږ چي بېشکه ته خامخا دالله رسول يې، ابو السعود ليکي چي: دوی خپله خبره په (ان او (لام) سره مؤکده (ټينگه) کړه چي ويې ويل (انک لرسول الله) ترڅو داسي وښيي چي دغه ددوی گواهي دزړه له کومي صادره شوي ده او دوی په دې هکله زيات رغبت، خالص باور او خوراد لچسپي لري[1] ﴿وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ﴾ او الله ته معلوم دی چي ته خامخا رسول دغه الله يې (ځکه چي دغه الله را استولی يې)، دغه جمله اعتراضيه ده ددې لپاره راوړل شوي ترڅو ددوی د تکذيب توهم دفع کړي کوم چي د رسول الله د رسالت د دعوې په هکله يې د رلود ترڅو اورېدونکي داسي و نه انگېري چي ددوی دغه خبره چي (انک لرسول الله) پخپل ځای دروغ دی، په التسهيل کي راوړي چي ﴿وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ﴾ د منافقينو د کلام څخه نه دی بلکه د الله جل جلاله کلام دی او که دغه يې ذکر کړي نه وای نو به داسي توهم کېدو چي داويناچي ﴿وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ﴾ د رسالت بطلان دی نو يې د منافقانو د حکايت او ددوی د تکذيب ترمينځ راووړ ترڅو چي رسالت ثابت کړي او بيا الله فرمايي: ﴿وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ﴾ او الله شاهدي ورکوي چي بېشکه منافقان خامخا دروغجنان دي (په هغه شهادت کي چي دوی يې ښکاره کړي او په ژبو قسم اخلي ځکه څوک چي په ژبه يو څه وايي او په زړه کي يې بل څه وي هغه دروغجن دی او داچي د اضمار پر ځای اظهار راغلی چي ﴿إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ﴾ ترڅو ددوی بدي وښيي او دغه د نفاق ناولی صفت پر دوی ترلي او ليکلی بيان کړي لکه چي دغه کلام په (ان) او (لام) سره مؤکد هم راغلی چي زيات تقرير او بيان افاده کړي ﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً﴾ نيولي دي دوی قسمونه خپل ډالونه (چي له قتل څخه وربانديځان وژغوري. ضحاک وايي چي: دغه ددوی هغه قسم او لوړه ښيي چي دوی به ويل موږ مسلمانان يو ﴿فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ پس اړوي (دوی خلک په دغو قسمونو سره) له لاري دالله څخه (چي جهاد او ايمان په محمد رسول الله دی، طبري وايي معناداچي دوی له هغه دين څخه چي رسول الله ﷺ ورباندي رااستول شوی او هغه شريعت چي الله د خپل مخلوق لپاره راليږلی ځنډ او اعراض وکړ[2] ابن کثير وايي چي: منافقينو خلک په دروغجنو قسمونو باندي تېرايستلي وو او هغه څوک چي ددوی سره يې د پرسرو کارنه وو پدې باور وو چي دغه مسلمانان دي خو په حقيقت کي منافقانو اسلام او مسلمانانو ته د زيان په رسولو کي زيار ايستل او پدې سبب مسلمانانو ته ډېر تاوان ورسېدو[3] ﴿إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴾ بېشکه دوی چي دي بد دی هغه عمل چي دوی يې کوي (ځکه دوی اسلام ښکاره کړي او د نفاق او عصيان خاوندان دي دروغ وايي او قسمونه خوري خلک دالله له لاري اړوي، صاوي وايي چي (ساء) لکه (بئس) غوندي د بدي او ذم په معنا دی

---

[1] ابو السعود ۵/ ۱۲۴
[2] د طبري تفسير ۲۸/ ۶۹
[3] د ابن کثير مختصر ۳/ ۵۰۳

اوپدې کي د تعجب معنا هم نغښتي ده چي دا وربډو نکو لپاره د دوی د چاري اهمیت څرګندوي (۱) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ ثُمَّ كَفَرُوا۟ ﴾ دا بدي د عمل د منافقانو په سبب د دې دی چي) بېشکه دوی ایمان راوړی دی (په ژبه) بیا کافران شوي دي (په زړه باندي په کفر ټینګ ولاړدي، ابو السعود لیکي: یعني دوی د مسلمانانو په وړاندي د شهادت کلمه لولي او بیا چي مجرمینو شیطانانو سره ملګري شي نو د کفر کله لولي، دلته اشاره په (ذلک) بعید سره لپاره د دې دی چي د شر په کارونوکي د دوی منزلت ډېر لیري او بعید دی (۲) ﴿ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾ بیا مهر وهل شوی دی په زړونو د دوی (چي لا رښوونکي او رڼا ور ته لاره نه مومي) ﴿ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴾ پس دوی نه پوهېږي (په ښېګڼه او ایمان باندي او خیر او شر نه پېژني ځکه چي په زړونو یې الله مهر لګولی دی ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ ﴾ (او کله چي ووینې ته دوی په تعجب کي اچوي تا جوثې بنې (د دوی) یعني کله چي ته منافقین وینې د دوی هیئت او منظر به تا په تعجب کوي چي دوی ښایسته قد او قامت او وجود و نه لري ﴿ وَإِن يَقُولُوا۟ تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ﴾ او که دوی خبري کوي ته يې اوري غوږ ورته ایږدې (ځکه دوی د فصاحت خاوندان او غوړ ژبي دي. ابن عباس ﷺ وايي چي: د منافقانو مشر ابن سلول غټ سړی، فصیح اللسانه او غوړ ژبی وو چي څه به یې وویل: رسول الله ﷺ او اصحابانو به اورېدل او منل یې د غه منافقان چي به مجلس ته راغلل خلک به د دوی ښایست او جوړښت ته حیرانېدل (۳) الله فرمايي: ﴿ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ﴾ (حال دا چي په واقع کي ګواکي دوی وچ لرګي دي د یوال ته درول شوي) یعني دوی داسي بې علمه تش بي روحه کالبوت غوندي دي، اجسام لري خو احلام یي نشته ابو حیان وايي: دوی یې ځکه له لرګیو سره مشابه کړل چي دوی فهم او فکر نلري او زړونه یې له ایمانه تش او خالي دي د غه تشبیهي جمله د دوی بې زړه توب او ضعف ناتواني ښیي (۴) ځکه نو الله فرمايي ﴿ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ﴾ (ګڼي دوی هر غږ (چي بلا راغله) پر دوی باندي) یعني دوی له ډېره بې زړه توبه هر غږ داسي ګڼي چي مقصد یې دوی دي دوی تل په وېره او ډار کي اوسي چي هسي نه د دوی پرده الله څېري او د دوی و شرموي اسرار یې خلکو ته څرګند کړي ابن کثیر وايي: معنا دا چي هر وخت کومه تکه وېره او عذاب و اوري دوی له خپله بې زړه توبه داسي انګېري چي همد غه پر دوی راپرېوزي (۵) مقاتل وايي: که یو څوک د خپلي ورکي د پیدا کولو غږ کوي او یا کومه بله چیغه و شي د دوی عقلونه والوزي او داسي ګمان کوي چي هم دوی یې مقصد دي (۶) ﴿ هُمُ ٱلْعَدُوُّ فَٱحْذَرْهُمْ ﴾ (هم دوی دي د ښمنان (د مؤمنانو) نو ځان وساته ته له دوی نه) یعني دوی ستا او د مسلمانانو د ښمنان دي د دوی په ظاهري

(۱) د صاوي حاشیه ۴ /۲۰۸
(۲) د ابو السعود تفسیر ۵ /۱۲۵
(۳) د صاوي حاشیه ۴ /۲۰۸
(۴) مختصر ابن کثیر ۳ /۵۰۴
(۵) مختصر ابن کثیر ۳ /۵۰۵
(۶) الوسي تفسیر ۲۸ /۱۱۷

اسلام څرګندولو مه تېروزه اودوی ته رازونه مه وايه څکه دوی ستاد دښمنانو لپاره جاسوسان دي ﴿ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ الله دي دوی هلاک کاندي دغه دعائيه جمله ده يعني الله دي رسوا کړي لعنت دي ورباندي وکړي اوله رحمته دي وشړي ﴿ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴾ څرنګه ګرزول شوي دي (له سمي صافي لاري نه ؟) يعني دوی څرنګه ګمراه کېږي په دې کي ددوی له جهل او ضلالت څخه تعجب دی چي څه ډول سره له دليل اوبرهان راتلوبياهم له ايمان څخه مخ اړوي، امام احمدله ابي هريرة ﷺ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چي دمنافقينو پېژند ګلوي دا نښې دي چي سلام يې لعنت، اوخوراک يې نهبت، غنيمت يې خيانت، مسجدونو ته نه راځي مګر د بد ګوئي لپاره لمنځونو ته نه راځي مګر وروسته راځي، تکبر کونکي دي نه دوی له چاسره الفت کوي اونه نور خلګ له دوی سره، د شپې وچ لرګي اوددورځي د شورماشور خلګ دي(۱) ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا۟ يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ ﴾ اوکله چي وويل شي دوی ته راشئ (په عذرغوښتلو سره) چي بښنه وغواړي تاسي ته دالله استازی محمد رسول الله ﴿ لَوَّوْا۟ رُءُوسَهُمْ ﴾ تاوکړي دوی سرونه خپل (مخ ترې واړوي په استهزآء اوتکبرسره) ﴿ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴾ اووينې ته چي څنګ کوي(له هغه څه چي ورته بلل شوي دي) حال داچي وي دوی لويې کونکي (له استغفاردرسول الله ﷺ نه ددوی لپاره دلته يې د مضارع په صيغه باندي يادونه کړي ترڅوددوی داعراض اوعناد په استمرار دلالت وکړي (۲) مفسرين کرام ليکي: کله چي دغه آيتونه نازل شول اومنافقان يې رسواکړل له څېرويې پردې پورته شولې اورازونه يې ربربنډ شول نوددوی مؤمنان خپلوان ورته راغونډ شول اوورته ويل يې: افسوس ستاسي په حال تاسو په نفاق خپل ځانونه هلاک کړل راشئ رسول الله ته توبه وباسئ اوترې وغواړئ چي ستاسو لپاره له الله جل جلاله څخه بښنه وغواړي نودوی ونه منل اودملنډو او استهزاء په توګه يې سرونه وخوځول بيادغه آيت نازل شو بياابن سلول ته راغلل هغه ته يې وويل: درځه رسول الله ﷺ ته ولاړ شه !پخپله ګناه اعتراف وکړه هغه به درته له الله څخه بښنه وغواړي هغه دانکارپه توګه سروخوځاوو او دوی ته يې وويل: يوځل موراته ويل چي ايمان راوړه ماايمان راووړبيامو ويل چي: زکات ورکړه د خپل مال زکات مي ورکړ تاسو ته بل څه پاتي نه دي مګرداچي راته حکم وکړئ چي محمد ته سجده وکړم !! ورپسې الله تعالی داستغفارد نه ګټې رسول په هکله بيان فرمايې چي دوی تل ترتله په نفاق کې دي نو وايې ﴿ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ﴾ (برابره خبره ده پردوی باندي چي بښنه غواړې ته (ای محمده !) دوی ته اوکه بښنه نه غواړې ته (ای محمده !) دوی ته) يعني دوی ته استغفار اونه استغفاردواړه يوشی دي څکه دوی فاسقان دالله له طاعته وتلي دي صاوي ليکي په آيت شريف کي ددوی له ايمان نه راوړلو څخه ناهيلي ده يعني ای محمده ستااستغفاراونه استغفار دواړه برابردي دوی ايمان نه راوړي ازلي بدمرغه اوشقيان

(۱) أخرجه امام احمد کذافي ابن کثير ۳ / ۵۰۴
(۲) دالبحرالمحيط تفسير ۸ / ۲۷۳

دي (۱) ﴿لَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ﴾ له سره به بښنه نه کوي الله دوی ته (ځکه چي په کفر کي پاخه دي او تل ترتله په عصيان کي اوسي بيا يې علت داسي بيانوي چي ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ﴾ بېشکه الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم فاسقانو نافرمانو ته، ور پسې الله د دوی د زياتو قبائحو او جرائمو بيان داسي فرمايي ﴿هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُوا۟ عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا۟﴾ دوی هغه کسان دي چي وايي (خپلو ملګروته) مه ورکوئ نفقه هغه چاته چي په نزد د رسول الله دي (له مهاجرينو څخه) ترڅو چي متفرق خواره واره شي دوی (ترې) په البحر المحيط کي راوړي چي پدې کي ابن سلول او د ده د تبرپلويانو ته يې اشاره ده چي دوی دومره ناپوهان دي فکر کوي چي د مهاجرينو روزي د دوی په لاس کي ده او پدې نه پوهېږي چي روزي رسان يوازي الله تعالی دی او دا چي وايي ﴿عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ﴾ دغه د استهزاء او ملنډو په توګه وايي ځکه که چېري په رښتوني دوی د غه اقرار کولای او رسالت يې منلای نو بيا به يې د غسي خبري نه کولې ظاهره خو داسي بريښي چي دوی به د غسي لفظ نه وي ويلی خو الله ﷻ د خپل پيغمبر د اجلال او اکرام لپاره پدې لفظ باندي تعبير فرمايلی دی (۲) ﴿وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ (او خاص الله لره دي خزانې د آسمانونو او د ځمکي) يعني د الله په لاس کي د روزي خزانې دي چاته چي يې اراده شي ورکوي يې او له چا څخه يې منع کوي هيڅوک نشي کولای چي د الله له بندګانو څخه د الله فضل منع کړي ﴿وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ﴾ وليکن منافقان نه پوهېږي (په حکمت او تدبير د الله او رازقيت د هغه ځکه نو دغه د کفر او ضلالت ويناوي کوي ور پسې الله د دوی ځيني قبائح او ناولي خبري شمېري نو فرمايي ﴿يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ﴾ وايي منافقان که چېرته بېرته وګرځو موږ طرف د مدينې ته (له دغي غزا د بني المصطلق څخه) ﴿لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ﴾ (نو خامخا به و باسي هرومرو ډېر عزتمن له دغي مدينې د ډېر خوار کمزوري خلګ) يعني موږ به خامخا محمد او ملګري يې و شړو د دې ويناکونکی ابن سلول وو د ډېر عزتمن يې ځان او ملګري بلل او د ډېر خوار يې محمد ﷺ او د هغه اصحابان ﷺ بلل (۳) مفسرين کرام ليکي: کله چي ابن سلول دغه ويناوکړه او مدينې ته راستون شونو زوی يې عبدالله رضي الله عنه د مدينې منورې په دروازه کي له تېکی ايستلي توره و دربدو او خلګ ورباندي تېرېدل کله چي پلار يې راغی زوی يې ورته وويل: ودرېږه! قسم په الله دی که مدينې ته ترهغو داخل شې خو چي ونه وايې چي: رسول الله د ډېر عزتمن دی او زه د ډېر خوار کمزوری يم نو هغه همداسي وويل او بيا نو موږی صحابي رسول الله ﷺ ته راغی او ورته ويل يې ما ته داسي خبر رسېدلی چي ته غواړې زما پلار ووژنې که هم داسي وي نو ما ته حکم وکړه چي زه يې ککری درته راوړم!! نو رسول الله ﷺ ورته وويل: بلکه موږ ور سره ترڅو چي له موږ سره وي نرمي کوو او له هغه سره

---

(۱) د صاوي حاشيه پر جلالين باندي ۴ / ۲۹

(۲) البحر المحيط ۸ / ۲۷۴

(۳) د نزول سبب وګوره !.

ښه چلند کوو (¹) ﴿وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ﴾ (او خاص الله لره دي عزت غلبه او رسول د دغه (الله) لره او مؤمنانو لره دي) يعني غلبه او عزت خاص الله لره دي او هغه چاته چي دغه الله عزت ورکړی له پيغمبره او له مؤمنانو څخه نه بل چا ته دغه صيغه د حصر افاده کوي قرطبي ليکي دوی داسي خيال کاوو چي عزت د مال او اتباعو په ډېروالي کي دی نو الله جل جلاله د دوي بيان و فرمايو چي عزت غلبه يوازي الله، پيغمبر او مؤمنانو لره دی(²) ﴿وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ ولیکن منافقان نه پوهېږي (پر دې چي عزت او غلبه د الله د دوستانو ده نه د دښمنانو يې) ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ﴾ (ای هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو) غافل مشغول دي نکړي تاسي مالونه ستاسي او نه اولادونه ستاسي له ذکره ياده د الله څخه) يعني تاسي دي د الله له طاعته او عبادته څخه هغه طاعت او عبادت چي الله پاک پر تاسو باندي له لمانځه، زکات او حج څخه فرض کړی دی غافل نکړي لکه چي منافقان ورڅخه غافل شوي داسي مه کېږئ. ابو حيان وايي: معنادا چي ستاسي مالونه دي په وده ورکولو او راټولولو باندي او يا اولادونه مو په هغوی د خوښي او خوشحالي او د هغو په چارو کي د فکر کولو په موخه د الله له ذکر، ياد څخه غافل نکړي او دغه عام دی لمانځه، تسبيح ، تحميد او گردو طاعاتو ته ورشامل دی(³) ﴿وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ﴾ او هغه څوک چي دا کار وکړي نو هم دغه کسان هم دوي دي زيان کاران (چي تر باقي يې فاني دنيا غوره کړه) ﴿وَأَنفِقُوا۟ مِن مَّا رَزَقْنَٰكُم﴾ او ولگوئ تاسي له هغو مالونو چي درکړي مو دي تاسو ته (په رضا د الله تعالی کي) ﴿مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ﴾ پخوا له هغه چي راشي يو ستاسي ته مرگ (او اسباب يې يعني ځنکندن يې را ورسېږي) ﴿فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَآ أَخَّرْتَنِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ﴾ نو وبه وايي ای زما ربه ولي دي وروسته نکړ ماله (يعني څه وبه وشي که مي مرگ تأخير کړې تر اجل نېژدې پوري)! ﴿فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ﴾ چي زه صدقه وکړم او شم له نيکانو صالحانو څخه (پرهېزگار شم او نيک عملونه ترسره کړم خوافسوس دغه وخت د چاري نه وي (⁴) ﴿وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا﴾ (او له سره به نه وروسته کوي الله هيڅ نفس لره (مرگ) کله چي نېته يې راشي) يعني الله هيچا ته مهلت نه ورکوي کله چي يې نېټه راورسېږي او هيڅکله د چا عمر نه اوږدوي ، پدې کي ژر تر ژره د ښو عملونو په ترسره کولو هڅونه شته هسي نه چي مرگ يې راورسېږي او ده د الله د لقاء (پيوستون) لپاره څه زېرمه نه وي برابره کړي او چمتو نه وي ﴿وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾ او الله ښه خبردار دی په هغه څه (د خير او شر) چي کوی يې تاسي، نو جزا به پرې درکړي

(¹) سيرت ابن اسحاق وگوره هلته په تفصيل سره دا کيسه راغلي ده.
(²) مختصر ابن کثير ٣ /٥٠٢
(³) البحر المحيط ٨ /٢٧٤
(⁴) مختصر ابن کثير ٣ /٥٠٢

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته لندېزيې دادی:

۱- تاکيد دقسم په (ان) او(لام) سره لکه چې فرمايي: ﴿ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ﴾ او داددې لپاره چې زيات بيان اوتقرير افاده کړي

۲- اعتراضيه جمله چې فرمايي ﴿ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ ﴾ دغه جمله دشرط اوځواب ترمينځ معترضه راغلي چې ددې څرګندونه وکړي چې ددوی وينادعقيدې اوباورله مخې نه ده اصل خو دا وو چې ﴿ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَٰفِقُونَ قَالُوا۟ نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ... وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ﴾ خو نوموړې جمله ددوی دواړو ترمينځ اعتراضيه راغلې ده.

۳- استعاره پدې کلام کې چې فرمايي ﴿ ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً ﴾ اصلاخو(جنة) هغه څېزته وايي چې سرې ورباندې ځان ژغوري لکه ډال اوبيادلته استعاره شوچې دوی داسلام څرګندول پدې کوي چې خپلې وينې اومالونه ورباندې وژغوري.

۴- دطباق صنعت چې کله فرمايي ﴿ ءَامَنُوا۟ ثُمَّ كَفَرُوا۟ ﴾ اوبيا ﴿ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ ﴾ اودغه د بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۵- مرسله مجمله تشبيه پدې کلام کې ﴿ وَإِن يَقُولُوا۟ تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۖ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۖ ﴾ اودغه له خورا ښايسته تشبيهاتو څخه ده.

۶- سلبي طباق دالله جل جلاله پدې وينا کې ﴿ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ﴾.

۷- دعائيه جمله چې کله فرمايي ﴿ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ اودغه دوی ته دلعنت، هلاکت اورسوائي ښېرا ده.

۸- دفواصلو موافقت دآيتونو دپيل يووالی چې په قرآن کريم کې زيات شته اود کلام رونق زياتوي

تنبيه:

په مکه مکرمه کې نفاق نه بلکه يوازې کفروو خو کله چې الله اسلام ته برې ورکړاو پيروان يې زيات شول نوپه مدينه منوره کې نفاق څرګند شواومنافقينو دسراومال دساتلو لپاره داسلام څرګندونه کوله شاعروايي: وما انتسبوا الى الاسلام الا * لصون دمائهم ان لا تسالا. دوی يوازې ددې لپاره اسلام څرګنداووچې وينې يې له تويولو څخه وژغورلي شي.

فائده:

عزت له کبر څخه بېل دی مسلمان ته په کارنه دی چې خپل ځان ذليل کړي عزت دانسان دخپل ځان پېژندګلوی دی اوکبردانسان دخپل حقيقت په باب جهل اوناپوهي ده، يوچاحسن بن علي رضي الله عنهما ته وويل چې خلک ګمان کوي ته کبرجن يې هغه ورته وويل دغه کبرنه بلکه دمسلمان عزت دی اوبيايې دغه آيت تلاوت کړچې ﴿ وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ ﴾.

لطيفه:

له ابن عباس ﷺ څخه روایت شوی چي ويل يې دچاچي مال وي اوحج ته يې رسولای شي مگرحج ونکړي اويايې په مال کي زکات وي خوادايې نکړي دځنکندن په وخت کي به دنياته دبيرته تللو خواست کوي يوسړي ورته وويل ای ابن عباسه له الله ووېرېږه داخوکافران غواړي چي بيرته دنياته ستانه شي اونيک عملونه وکړي!! ابن عباس ورته ويل: زه به آيت شريف درته تلاوت کړم اوبيايې دغه آيت ولوست ﴿ وَأَنفِقُوا۟ مِن مَّا رَزَقْنَـٰكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَآ أَخَّرْتَنِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ ﴾ دآيت ترپايه

دالله په مرسته دالمنافقون سورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

دالتغابن سورت مدني اواتلس آيتونه لري:

دسورت په وړاندي:

تغابن مدني سورت دی تشریع څېړي خوبنه يې لکه دمکي سورتونوغوندي ده چي دعقيدې بنستونه ټينګوي

سورت دالله دجلال ، عظمت اوقدرت نښي نښانې بيانوي اوبيادانسان موضوع رااخلي چي څوک يې پخپل رب اعتراف کوي اوځيني ورڅخه منکران کافران دي.

دتېرو امتونومثالونه راوړي هغوی چي خپل پيغمبران يې دروغجن ګڼل اوعذابونه وربانديې راپرېوتل اودغه ددوی دخپل کفراوطغيان پائله اونتيجه وه.

سورت لوړه اخلي قسم کوي چي بيرته راپاڅېدل حق دي که مشرکان يې مني اوکه تري انکار کوي؟

بيادالله اورسول الله دطاعت ماربينه کوي اودالله له بلني څخه دغاړي غړولو څخه مسلمانان وېروي

لکه چي دځينومېرمنو، اولادونوله دښمني څخه هم وېرونه کوي څکه دېرځله دوی خلګ له جهاد اوهجرت څخه راګرزوي اومنع کوي يې.

دسورت پای دالله په لاره کي داعلاء کلمة الله لپاره دخپل مال لګولو حکم کوي اوله بخل او کنجوسي څخه خلګ منع کوي څکه چي دمؤمن له ستايلي صفتونوڅخه يودادی چي دالله په لاره کي دي خپل مال ولګوي اودالله رضادی ترلاسه کړي دغه هم دفي سبيل الله جهاديوه څانګه ده.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (١) هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ فَمِنكُمْ
كَافِرٌ وَمِنكُم مُّؤْمِنٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ (٢) خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَإِلَيْهِ
الْمَصِيرُ (٣) يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ (٤) أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَأُ الَّذِينَ
كَفَرُوا مِن قَبْلُ فَذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (٥) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالُوا أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُوا
وَتَوَلَّوا وَّاسْتَغْنَى اللَّهُ وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ (٦) زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ وَذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ
يَسِيرٌ (٧) فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالنُّورِ الَّذِي أَنزَلْنَا وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ (٨) يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذَٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ
وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا
ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (٩) وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ خَالِدِينَ فِيهَا وَبِئْسَ
الْمَصِيرُ (١٠) مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (١١) وَأَطِيعُوا
اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ (١٢) اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَعَلَى اللَّهِ
فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ (١٣) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ
وَإِن تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (١٤) إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ وَاللَّهُ عِندَهُ أَجْرٌ
عَظِيمٌ (١٥) فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ
هُمُ الْمُفْلِحُونَ (١٦) إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ (١٧) عَالِمُ الْغَيْبِ
وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (١٨) ﴾ التغابن: ١ ـ ١٨

لغتونه:

(صوركم) صورتونه يې ترلي ستاسي ، تصوير هغه انځوراو تشكيل ته وايې چي يو صورت او هيئت له بل څخه بېلوي او توپير كوي (نبأ) مهمي خبري ته وايې (وبال) عذاب (زعم) ګمان او عرب داسي متل كوي چي (زعموا مطية الكذب) ګمان يې كړى وو د دروغو پيلامه ده شريح وايې چي هرشى يو كنيه لري او د دروغو كنيه نوم (ګمان مي كړى وو) (زعموا) دى (التغابن) غبن ته وايې او معنا يې نقص او تاوان دى ويل كېږي چي (غبنه غبنًا) كله چي بې له خپلي بيې يو شى رانيسي د قيامت ورځ د تغابن ورځ بولي ځكه هغه ورځ د كافر تاوان چي ايمان يې نه وي راوړي څرګند بږي او همدا رنګه د مؤمن تاوان چي په احسان كي يې تقصير كړى ښكاره كېږي

دنزول سبب:

روايت کېږي چي دمکې څوکسانو ايمان راووړ او غوښتل يې چي مديني منورې ته دعليه السلام ملګرتياته هجرت وکړي مګرمېرمنو اولادونو يې هغوی منع کړل اوورته ويل يې موږ ستاسو اسلام راوړل وزغمل خوستاسو په فراق (بېلتون) زغم نلرو! نوهغوی هم ددوی خبره ومنله اوله هجرت څخه پاتي شول چي الله جل جلاله دا آيت نازل کړ ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنْ أَزْوَٰجِكُمْ وَأَوْلَٰدِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَٱحْذَرُوهُمْ ﴾ دآيت ترپايه (۱).

تفسير: ﴿ يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ (الله ته نسبت د پاکي کوي هرهغه څه چي په آسمانونوکي دي اوهرهغه څه چي په ځمکي کي دي) يعني ګردهغه مخلوقات چي په آسمانونوکي دي اوکه په ځمکه کي تل ترتله دالله تمجيداو تنزيه کوي دمضارع صيغه يې داستمرار اوتجدد دافادې لپاره راوړي ﴿ لَهُ ٱلْمُلْكُ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ ﴾ (همدغه (الله) لره دي پاچهي (دټول جهان) اوهمدغه الله لره دی ټوله ثنا ستاينه) يعني الله جل وعلا لره بشپړه پاچهي اوپخپل مخلوق کي کامل تصرف دی اوهمدغه الله يوازي دثناصفت وړدی ځکه چي ګردنعمتونه همده ورکړي دي جار اومجرور يې ددې لپاره ړومبی راوړي چي حصرافاده کړي ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ اوهمدغه (الله) په هرڅېزباندي چي اراده يې و فرمايې ښه قادردی، څوک بډای اوڅوک فقيرکړي چاته عزت ورکړي اوڅوک ذليل کړي کله چي ديو کارترسره کېدل وغواړي نوورته وايي (کن !،فيکون) يعني :(موجودشه !هغه موجود شی) دغه دپخواني لپاره يودليل دی چي پاچهي اوستاينه خاص الله لره دي ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ فَمِنكُمْ كَافِرٌ وَمِنكُم مُّؤْمِنٌ ﴾ همدغه (الله) هغه ذات دی چي پيداکړي يې ئی تاسي ځيني له تاسي کافردي ځيني له تاسي مؤمن دی، دغه دالله د قدرت دځيني آثاروا ونښانوتفصيل دی چي ای خلګوالله هغه ذات دی چي تاسويې په دغه محکم او بديع شکل پنځولي ياست نوپه هريوستاسودالازم دي چي ورباندي ايمان راوړئ خوځيني ستاسي ايمان نه راوړي اوځيني يې په خالقيت پېژني او ورباندي ايمان راوړی. طبري ليکي معناداچي ځيني له تاسو په خپل خالق باندي هغه ذات چي دوی يې پيداکړي کافران دي اوځيني له تاسي هغه مني او پدي باور لري چي الله ددوی خالق دی نوايمان ورباندي راوړي (۲) دلته يې کفار ترمؤمنانودمخه يادکړی ځکه چي کفاره ډېردي اومؤمنان لږلکه دا چي فرمايي ﴿ وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِىَ ٱلشَّكُورُ ﴾ ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ اوالله په هغه څه چي تاسي يې کوی ښه ليدونکی دی (نو جزابه ورباندي درکړي) وروسې الله دخپل قدرت نښاني اودوحدانيت دلائل

(۱) دصاوي حاشيه په جلالين باندي.
(۲) طبري تفسير ۲۸ /۷۸

په داسي تفصيل بيانوي چي ﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ﴾ (پيدا کړي يې دي آسمانونه اوځمکه په حق تدبيرسره) يعني په بالغه حکمت يې پيدا کړي چي د دين او دنيا مصلحتونه پکې دي خوشي او چټي يې ندي پيدا کړي ﴿ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ﴾ اوصورتونه يې تړلي ستاسي بيايې ښه ښايسته کړي دي ستاسي صورتونه (په امتداد د قامت او اعتدال د خلقت سره لکه چي الله فرمايي ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾ (التين:۴) ځکه څوک چي د انسان په پيدا ينبت کي نظر وکړي نو به پدي پوه شي چي تر ګردو حيواناتو يې په ښه او ښکلي هيئت پيدا کړی دی او دهغه د ښکلا څخه يو دادی چي په ولاړو درومي نه داسي چي پړمخي روان وي ﴿ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴾ او الله ته بيرته ورتلل دي (چي بيا به هرچا ته د خپل عمل سره سمه جزاء ور کړي) ﴿ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ښه معلوم دی الله ته هغه څه چي په آسمانونو او ځمکي کي دي (له اجرامو او مخلوقاتو څخه) ﴿ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴾ او الله ته ښه معلوم دي هغه څه چي پټوی يې تاسي او هغه څه چي ښکاره کوی يې تاسي (له نيتونو او عملونو څخه) ﴿ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ او الله ته ښه معلوم دي هغه پټي خبري چي په سينوزړونو ستاسي کي دي (له رازونو څخه نو ستاسي ظاهري عملونه به څرنګه ترې پټ شي؟ په البحر کي ليکي چي: الله تعالی په خپل علم چي په ټولو آسماني او ځمکني موجوداتو يې لري لوړی تنبيه وفرمايله ورپسې يې د بندګانو په پټو او ښکاره وود علم لرلو ذکروکړ ورپسې په هغه څه چي په سينوکي پټ اسرار او خفايا خوندي دي يادونه وکړه يعني له الله څخه هيڅ شی هم پټ نه دی هغه که کلي وي او که جزئي نو يې ړومبی شامل علم ياد کړ ورپسې د بندګانو په پټو او ښکاره وو بيا يې دهغوی په سينوکي د پټو رازونو د علم يادونه وکړه او دغه ګرد د وعيد په معنا دی ځکه چي الله تعالی په ثواب او عقاب جزاء ورکونکی دی له دې په هسته الله تعالی د هغه عذابونو يادفرمايي کوم چي د تېرو وختونو په کفارو راغلي وو فرمايي ﴿ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا۟ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَبْلُ ﴾ آياندی راغلی تاسو ته (ای قريشو) خبرد هغو کسانو چي منکرشوي دي پخواله دې نه (لکه قوم د عاد او ثمود چي څرنګه عذابونه ورباندي راغلل؟!) ﴿ فَذَاقُوا۟ وَبَالَ أَمْرِهِمْ ﴾ پس وېې څکل وبال سزا د کار خپل (په دنيا کي) ﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ او شته دوی ته دردناک عذاب (په آخرت کي) ﴿ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ دا عذاب دوی ته د دې لپاره دی چي وو به دوی چي راتلل به ورته رسولان د دوی په ښکاره وو دلائلو سره) يعني دغه عذاب چي دوی په دنيا کي وڅکل او وژردی چي په آخرت کي به يې هم وڅکي دا پدې سبب دی چي راتلل به دوی ته پيغمبران په ښکاره معجزاتو او د دوی د رښتنولي په څرګندو دلائلو سره ﴿ فَقَالُوٓا۟ أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا ﴾ نو ويل به دوی (د تعجب او ملنډو په توګه) چي آيا بشر (سړي) موږ ته لاره ښيي؟ امام رازي ليکي: دوی له دې څخه انکارکاو و چي پيغمبر دي بشروي خوله دې څخه يې انکارنه درلود چي د دوی معبود دي ډبره وي ځکه دوی عقلونه نه درلودل او نه پوهېدل

(¹) ﴿ فَكَفَرُواْ وَتَوَلَّواْ ﴾ بیابه کافران شول (په رسولانو) اومخ به یې وګرزول (له ایمانه او هدایت څخه) ﴿ وَّٱسْتَغْنَى ٱللَّهُ ﴾ (اوبې پرواغني دی الله له طاعت اوعبادت ددوی نه ,طبري لیکي : معنا داچې :اوبې پرواغني دی الله (له ایمان راوړلو ددوی پرالله اورسولانو دهغه (²) ﴿ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴾ اوالله غني بې پروادی (له خپل مخلوق نه) اوډېرستایلی شوی دی (پخپلوصفاتواوذات کي نه د مخلوق طاعت ګول ورته ګټه رسوي اونه یې معصیت ورته څه زیان رسوي ځکه هغه له عالم څخه بې پروادی له دې نه وروسته الله ددوی هغه انکارچې له بعث څخه یې درلودداسې بیانوی ﴿ زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبْعَثُواْ ﴾ دعوی کوي هغه کسان چې کافران شوي دي (کفاردمکې) چې له سره به دوی بیا ژوندي راپورته نکړی شي (له قبرونوڅخه) ﴿ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ﴾ ووایه (ای محمده دوی ته!) هو قسم دی په رب زماچې بیابه ژوندي راپورته کړی شئ هرومروتاسي (له قبرونو) ﴿ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ﴾ بیابه خامخا خبرکړی شی تاسي هرومروپه هغه څه چې تاسې عمل کړی دی په دنیاکې (که کوچنی عمل دی ، که غټ ، که لوړدی اوکه خوږ اوجزابه ورباندې ذرکړې) ﴿ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴾ اودغه (بعث او جزاء) په الله باندې ډېرآسان دی (ځکه چې اعاده ترابتداء هروخت آسانه وي امام رازي وایې چې : دوی کله چې خاوري شي بیاله ژوندي راپورته کېدلوڅخه منکردي نوالله ددوی اخباروکړچې په عقلونوکې هم اعاده ترانشاء اونوي پیداینبت آسانه دی (³) الله تعالی کله چې دبعث بعدالموت په هکله اودتېروأمتونودهلاک خبري واورولې نویې په قرآن دمنګولي لګولواوپه قرآن اوایمان د تمسک کولو مارېینه وکړه چې ﴿ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلْنَا ﴾ (نوایمان راوړئ په الله اوپه رسول دده (محمد) باندې اوپه هغه رڼا(قرآن) چې موږ نازل کړی دی) یعني په الله اوپیغمبر او قرآن باندې ایمان راوړئ دغه قرآن لکه ځلانده رڼاغوندي دی چې تیارې اوشبهات له مینځه وړي ﴿ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ اوالله په هغه څه چې تاسې یې کوی ښه خبردار دی (نوجزاء به درکړي) ﴿ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ ٱلْجَمْعِ ﴾ (یادکړئ) هغه ورځ چې راجمع به کړي (الله) تاسولره په ورځ دجمع کېدلو(چې ورځ دقیامت ده هلته چې ګرد خلک به په یوه میدان دحساب اوجزاء لپاره راټول وي ابن کثیرلیکي چې(یوم الجمع) یې ځکه وبلله چې الله تعالی به پدې ورځ اولین اوآخرین په یوه ډګرراغونډ کړي اودبلونکي غږ به وروااوروي لکه الله فرمایې ﴿ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴾ (هود:١٠٣) ﴿ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلتَّغَابُنِ ﴾ (داورځ (چې ده) ورځ دنفعي او نقصان ده) یعني داهسې ورځ ده چې دکافرتاوان به پکې ښکاره شي چې هغه د ایمان په نه راوړلو خومره خساره لیدلې؟ اودابه ښکاره شي چې مؤمن ددنیاپه پرهېښودلوسره سره جنت پېرودلی اوګټه یې کړي ده اوکافربیادوزخ

(¹) دالرازي تفسیر٣٠/ ٢٣
(²) الطبري ٢٨/ ٧٨
(³) کبیرتفسیر٣٠/ ٢٣

رانیولی دی نودهغه تاوان ښکاره شو. خازن لیکي چې د(تغابن) اصل له (غبن) څخه اخیستل شوی اوهغه دیوشي بې له خپله قیمته اوبیې څخه اخیستل دی نومغبون هغه څوک دی چې خپل اهل اومنزل دجنت بې له لاسه ورکړي وي څکه چې هرکافرته که چېري ایمان راوړي په جنت کي اهل اومنزل شته نوپدغه ورځ به دکافرغبن ښکاره شي اوهمداسي دهرمؤمن غبن پدې ښکاره شي چې په نیکي اواحسان کي بې تقصیرکړی دی (۱) ﴿وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ﴾ اوهغه چې په الله ایمان راوړي اونیک عمل وکړي لیري به کړي (الله) له ده څخه بدي (د ګناه) دده ﴿وَيُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ﴾ اوداخل به کړي(الله) دغه (صالح مؤمن) په هغو جنتونو کي چې بهېږي له لاندي (دماڼیواوونودهغو) ویالې (دجنت) ﴿خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا﴾ تل به وي دوی په هغه کي همیشه (نه به مړه کېږي اونه به راایستل کېږي) ﴿ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ﴾ دغه (مغفرت او جنت)بری خلاصي ده برلوی دی(چې ترې پورته بل سعادت نشته) ﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ﴾ (اوهغه کسان چې کافران شوي دي اونسبت ددروغوکوي آیتونو زموږته)یعني هغوی چې د الله له وحدانیته منکراوپه هغودلائلوچې په بعث اونشورکي راغلي تکذیب ترې اودقرآنکریم آیتونه دروغ ګڼي ﴿أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ خَٰلِدِينَ فِيهَا﴾ دغه کسان دي یاران ملګري داور(ددوزخ) تل به وي دوی په هغه (دوزخ) کي ﴿وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ﴾ اوبدځای دورتلو دی دادوزخ (کفاروګمراهانوته)بیا وروسته الله تعالی ددې سپیناوی کوي چې که په کائناتوکي هرڅه پېښېږي دغه ټول دالله په قضا اواراده صورت نیسي نوفرمایي ﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ﴾ (نه رسېږي هیڅ مصیبت (غم درد) هیڅا ته مګرخو(رسېږي)په حکم دالله سره) یعني هیچاته دهغه په مال، ځان اواولاد کي کوم غم او دردنه رسېږي مګردالله په قضاوتقدیرسره رسېږي ﴿وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُۥ﴾ (اوهغه څوک چې ایمان يې راوړی دی په الله باندي لاره ښیي (الله) زړه دده ته) یعني اوهرڅوک چې الله مني اوپدې پوهېږي چې هره پېښه دالله په قضا اوقدرپېښېږي نوزړه ته يې الله دصبراوزغم لاره ښیي اوپه ایمان يې ثابت ګرزوي. ابن عباس ﷺ وايي چې: زړه ته يې دیقین لاره ورښیي ترڅوچې پدې پوهېږي کوم څه چې ورته رسېدل يې لیکلي له هغه څخه نه خطاکېږي اوڅه چې ورته نه رسېدل يې لیکلي هغه ورته رسېدونکي نه دي(۲)علقمة وايي چې داهغه څوک دی کله چې مصیبت ورته ورسېږي نو دی پوهېږي چې دغه دالله له لوري دی نوپه هغه رضاشي اودالله قضاء ته غاړه کېږدي (۳) ﴿وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ﴾ اوالله په هرڅېزباندي ښه پوه دی (هیڅ شی په ځمکه کي اوپه آسمان کي له الله څخه پټ نه دی) ﴿وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ﴾ اوتاسي حکم

(۱) الخازن ۴/ ۱۰۴

(۲) طبري تفسیر ۲۸ / ۸۰

(۳) دابن کثیر مختصر ۳ / ۵۱۰

ومنئ دالله اودرسول ددغه (الله) (په ګردو هغو شيانو کي چي تاسو ته يې امر کړی او يا يې ورڅخه منع کړي يا ست امريې دتاکيدلپاره مکرر راوړی دی اوچي دا خبره افاده کړي چي درسول الله طاعت هم لکه دالله طاعت غوندي واجب دی ﴿ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴾ پس که مخ وګرزاو و تاسي (له اجابت درسول نه په هغه څه کي چي تاسي هدايت اوايمان ته رابولي نوستاسوزيان دی رسول الله ته څه نقصان نه رسېږي ځکه چي) نوبېشکه په رسول زموږ باندي ښکاره رسونه ده (اوهغه يې اداکړي ده. نوالله هغه چاته سزا ورکوي چي له حکم څخه يې غاړه غړوي اوعصيان کوي ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ الله (يودی) نشته هيڅوک ورډعبادت مګرخو هم دی دی (نه له ده پرته بل معبوداو نه بل خالق شته په هغه توکل کول دي اوهغه ته بيرته ورتلل دي ﴿ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴾ اوخاص يوازي پرالله باندي پس توکل دي وکړي مؤمنان (چي دايمان غوښتنه هم داده چي مؤمنان دي ګردي چاري الله ته وسپاري صاوي ليکي چي: پدې کي رسول الله ته په الله باندي دتوکل کولو هڅونه ده چي الله ته دي پناه يوسي اوهمداسي دامت لپاره دابښوونه ده چي الله ته دي التجاء وکړي اودهغه په نصرت اوتائيددي باورولري ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنْ أَزْوَٰجِكُمْ وَأَوْلَٰدِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَٱحْذَرُوهُمْ ﴾ ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) بېشکه ځيني له ښځوستاسي (اوځيني له) زامنوستاسي تاسي لره دښمنان دي (تاسودالله له لاري بندوي اودالله له طاعت څخه موراګرزوي) نوله دوی څخه ووېرېږئ ، ځان وساتئ نه دا (چي ددوی خبره ومنی اواطاعت يې وکړی. مفسرين کرام ليکي چي: يوه ټولۍ خلګوايمان راووړاوغوښتل يې چي هجرت وکړي مګرمېرمنواوزامنويې دوی له هجرت کولوڅخه پاتي کړل اوهغوی څه موده وروسته بياهجرت وکړکله چي رسول الله ﷺ ته راغلل نوويې ليدل چي خلګ په ديني پوهه اوعلم کي رسېدلي دي نويې پښېماني کوله اوقصديې وکړچي خپلي ښځي اولادونه وترټي بيادغه آيت نازل شو[1]) دغه آيت هرهغه چاته شامل دی چي دښځواولادونو په سبب دالله له طاعته پاتيږي شي ﴿ وَإِن تَعْفُواْ وَتَصْفَحُواْ وَتَغْفِرُواْ ﴾ اوکه عفووکړی اومخ وګرزوی اومغفرت وکړی تاسو (هغوی ته چي تاسويې دخير له کارونوڅخه ځنډولي وی) ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ پس بېشکه الله ښه مغفرت کونکی (د ګناهونو) ډېررحم والادی (په انعام داجراوثواب سره چي تاسوته به هم جزاء بالمثل درکړي ﴿ إِنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ ﴾ بېشکه همدا خبره ده چي مالونه ستاسي اواولادستاسي يوه فتنه ازموېښت دی (چي الله پرې خلګ ازمويي چي څوک اطاعت کوي اوڅوک ترې سرغړوي ؟ مال يې تراولاددمخه يادکړچي په هغه کي تراولادسخت ازموېښت شته ﴿ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾ اوالله چي دی په نزدده اجرثواب ډېرلوی دی (نوتاسي دي مالونه اواولادونه ستاسي دالله له طاعته منع نکړي په آيت شريف کي دآخرت ترغيب اوددنياتزهيد شته اوداچي مالونه اولادونه هغه څه دي چي الله ور باندي خلګ ازمويي ﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسْتَطَعْتُمْ ﴾ نو ووېرېږئ له الله څومره چي توانېږی تاسي (يعني د الله

---

(۱) دنزول سبب وګوره.

دطاعت په لاره کي خپل زيار وباسئ څومره چي مو وس اوتوان وي څانونه دومره تکليف اوکړاو ته مه ورکوئ چي ستاسو طاقت نه وي مفسرين کرام وايې چي دغه دمأموراتو اوفضائل اعمال په هکله دي مګرپه منهياتو اومحذوراتو کي بيا خامخا بالکليه څان ساتل دي اودغه روايت ورباندي دلالت کوي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايې: کله چي زه ديو څېزد کولو حکم درته وکړم چي څومو توان وي هغه ترسره کوئ اوله کوم شي څخه چي مومنع کړم تري منع شئ(۱) ﴿ وَٱسْمَعُواْ وَأَطِيعُواْ ﴾ او واورئ (خبري دنصيحت په سماع دقبول سره) اواطاعت کوئ (داحکامو دالله چي امراونهی دي) ﴿ وَأَنفِقُواْ خَيْرًا لِّأَنفُسِكُمْ ﴾ (اونفقه کوئ ښه شيان لپاره (دنفعي) دڅانونو خپلو) يعني دالله په لاره کي خپل مالونه لګوئ څوچي ستاسو دڅانونو لپاره خيراوښېګڼه شي ﴿ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴾ اوهغه څوک چي وساتلی شوله حرص بخيلي دنفس خپل څخه نوداکسان هم دوی دي بريالیان! (په هرمطلوب باندي په دنيا اوآخرت کي) ﴿ إِن تُقْرِضُواْ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَٰعِفْهُ لَكُمْ ﴾ (که چېري قرض پور ورکړی تاسي الله لره قرض پورنيک نودوچنده به کړي (الله ثواب د) هغه تاسي ته) يعني که تاسو دالله په لاره کي په محبت اواخلاص سره مال ولګوئ الله به يې درته اجراوثواب دوچند کړي، داچي صدقه يې په پورسره انځور اوتصويرکړي پدې کي په بېوزلانوباندي داحسان کولو زيات تلطف شته ﴿ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ﴾ اومغفرت به وکړي الله تاسي ته (ګناهونه به مومحوکړي) ﴿ وَٱللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴾ اوالله ښه قدردان ښه تحمل والادی (چي دمحسن داحسان قدرکوي اوانسان دهغه له ډېروګناهونوسره سره بياهم ژرترژره نه په عذاب کوي) ﴿ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ (الله) پوهېدونکی دپټ اوښکاره دی(چي هيڅ تري الونيانشته) ﴿ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ ښه غالب قوي دی (پخپله پاچهي کي) ډېرحکمت والادی (په خپل صنعت کي) بلاغت: پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱-په اسم کي دطباق صنعت لکه چي ﴿ فَمِنكُمْ كَافِرٌ وَمِنكُم مُّؤْمِنٌ ﴾ اوهمداسي د ﴿ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ﴾ ترمينځ چي راغلی دی.

۲-دجار اومجرور ړومبی راوړل چي حصرافاده کړي لکه داچي ﴿ لَهُ ٱلْمُلْكُ وَلَهُ ٱلْحَمْدُ ﴾ چي (له وحده الملک والحمد) يې معناده.

۳-لطيفه استعاره چي فرمايې ﴿ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلْنَا ﴾ قرآنکريم ته يې نور ،رڼا وويله څکه چي په هغه سره شکوک اوشبهات ليري کېږي لکه چي په رڼا سره تياري له مينځه ځي.

---

۱ اخرجه الشيخان

۴ - مقابله چي دمؤمنانو او کافرانو دجزاء ترمینځ راغلي او فرمايي ﴿ وَمَن يُؤْمِنۢ بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ ﴾ او بيا داچي ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِـَٔايَٰتِنَآ أُولَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ النَّارِ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ د آيتونو ترپايه

۵ - ناقص جناس لکه ﴿ وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ﴾ چي يوازي د حركاتو او شكل توپير دى.

۶ - اشتقاقي جناس لکه ﴿ أَصَابَ ..... مُّصِيبَةٍ ﴾ او ﴿ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ﴾ چي راغلى دى.

۷ - اطناب دفعل په تکرارسره چي دطاعت په هکله زيات تأکيداو اعتناء افاده کړي لکه داچي ﴿ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ﴾ .

۸ - دمبالغې صيغه لکه ﴿ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴾ ځکه چي فعول او فعيل دمبالغې له صيغو څخه دي

۹ - تمثيلي استعاره چي فرمايي ﴿ إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَٰعِفْهُ لَكُمْ ﴾ دالله په لاره کي انفاق او فقيرانو ته خيرات ورکول يې له هغه چاسره تشبيه کړچي الله ته پور ورکوي هغه چي واجب الوفآء وي او دغه يې د تمثيل په توګه راوړل چي لطيفه او باريکه استعاره ، او ښکلى عبارت دى.

۱۰ - مرصع سجع چي د فواصلو توافق پکې وي لکه ﴿ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴾ ﴿ عَٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَٰدَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ او دغه هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

دالله جل جلاله په مرسته دالتغابن سورت د تفسير ژباړه بشپړه شوه.

***

د(الطلاق) سورت مدني او دوولس آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالطلاق سورت مدني اوځيني تشريعي احكام چي دخاوندا و مېرمني په هكله وي راوړي لكه دسنت طلاق څرنګوالى اوياهغه چي په طلاق باندي مرتب وي لكه عدت، نفقه، دسكونت حق (سكنى) اودتي وركولو(رضاع) مزدوري اوداسي نورحكمونه.

سورت په پيل كي دطلاق احكام راوړي اودسنت طلاق اوبدعت طلاق بيان كوي مؤمنانوته لارښونه كوي كه چېري يې له مېرمني سره دګډ ژوندتېرولوامكان نه وي نوهغه بهترينه لاره دي غوره كړي اوپه مناسب وخت كي دي ښځي ته طلاق وركړي هله چي هغه پاكه وي اوپه هغه پاكوالي كي يې ورسره كوروالى (جماع) نه وي كړي اوبيادي دعدت ترتېرېدلوپوري وخت وركړي.

په دغه الهي لارښوونه كي دنارينه وولپاره بلنه ده چي دزوجيت تړون دي ژرترژره نه شلوي ځكه چي طلاق په حلالوشيانوكي ترټولو كركجن شېزدى اوكه چېري اضطراري اودمجبوريت حالات نه واى هيڅكله به طلاق رواشوى نه ووځكه هغه دكورنۍ تادو(بنسټ) نړول دي.

سورت دعدت دورځوشمارل په ګوته كوي ترڅوچي دانسابوله ګډون اودښځي له متضرر كېدلوڅخه مخ نيوى وشي اوخلګ دالله دحدودو پاملرني اوداوامروامتثال اوپرځاى كولو ته رابولي.

بياسورت دعدت احكام راوړي دبوډۍ ، ياهغي چي حيض يې دناروغي له امله درېدلى وي او دوړې نجلۍ ، اودهغي ښځي چي اميدواره وي ښكاره بيان كوي اولاري چاري يې شمېري.

ددغوحكمونوپه ترڅ كي دالله تقوى ته باربار بلنه كوي چي كله دترغيب له مخي اوكله بيادترهيب په توګه ترڅودمېړه ارتيني له لوري يوبې هم ظلم ته زړه ښه نكړي او ورسره دسكونت اونفقې دحق په باب يادوني راوړي.

دسورت پاى دالله له حدودوڅخه په تجاوز نه كولويوتحذيردى اودتېروسركښو امتونومثالونه راوړي هغوى چي دالله حكمونه يې نه منل نوڅرنګه عذابونه اوهلاكتونه وربانديي را غلل بيادالله جل جلاله دقدرت مثال چي پوړپه پوړاوه آسمانونه يې پنځولي اوهمداسي يې ځمكي پيداكړي اودغه ګرددالله رب العالمين په وحدانيت دلائل دي بيانوى

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا۟ ٱلْعِدَّةَ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ رَبَّكُمْ ۖ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنۢ
بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَتِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥ ۚ لَا
تَدْرِى لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا ﴿١﴾ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا۟
ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنكُمْ وَأَقِيمُوا۟ ٱلشَّهَٰدَةَ لِلَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل
لَّهُۥ مَخْرَجًا ﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمْرِهِۦ ۚ قَدْ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ
شَىْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾ وَٱلَّٰٓـِٔى يَئِسْنَ مِنَ ٱلْمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمْ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشْهُرٍ وَٱلَّٰٓـِٔى لَمْ يَحِضْنَ ۚ وَأُو۟لَٰتُ

ٱلْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مِنْ أَمْرِهِۦ يُسْرًا ﴿٤﴾ ذَٰلِكَ أَمْرُ ٱللَّهِ أَنزَلَهُۥٓ إِلَيْكُمْ ۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ
يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعْظِمْ لَهُۥٓ أَجْرًا ﴿٥﴾ أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا۟ عَلَيْهِنَّ ۚ وَإِن كُنَّ
أُو۟لَٰتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا۟ عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۖ وَأْتَمِرُوا۟ بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ ۖ وَإِن تَعَاسَرْتُمْ
فَسَتُرْضِعُ لَهُۥٓ أُخْرَىٰ ﴿٦﴾ لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِۦ ۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُۥ فَلْيُنفِقْ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَآ
ءَاتَىٰهَا ۚ سَيَجْعَلُ ٱللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴿٧﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبْنَٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَٰهَا
عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ ۚ قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿١٠﴾ رَّسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٍ لِّيُخْرِجَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ
إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ قَدْ أَحْسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ رِزْقًا ﴿١١﴾
ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ
بِكُلِّ شَىْءٍ عِلْمًۢا ﴿١٢﴾ ﴾ الطلاق: ١ – ١٢

لغتونه:

(العدة) هغه موده چي دمېرمني درحم پاکي اوتش والی ورباندي معلومېږي اوهغې ته بیادبل مېړه کولو اجازه ورکول کېږي(احصوا) وشمېرئ(حسبه) دده کافي دی (وجدکم) طاقت ستاسو (ارتبتم) شکمن شوی تاسي(کأین) ډېر(عتت) چي تکبریې کړی اومخ یې اړولی وي(نکرا) بد، ناولی (خسرا) هلاک او تاوان.

دنزول سبب:

أ-بخاري رحمه الله روایت کوي چي عبدالله بن عمر ﷺ ښځه طلاقه کړه پداسي حال کي چي د هغې میاشتنی ناروغي (حیض) ووا وحضرت عمر ﷺ دغه خبره رسول الله ته یاده کړه اورسول الله ته قهرورغی بیایې وفرمایل بیرته دي ورته مراجعت وکړي اومېرمن دي کړي خوچي پاکه شي اوبیایې د حیض موده ورته راشي بیاپاکه شي وروسته که یې غوښتل په پاکوالی کي پداسي حال کي چي ورسره کوروالی مجامعت یې نه وي کړی طلاق دي ورکړي داهغه عدت دی چي الله عزوجل ورباندي حکم کړی دی[1].

ب:- له حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ حضرت حفصه ﷺ ته طلاق ورکړ اوهغه خپل پلرکنی ته راغله نوالله دغه آیت نازل کړچي﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ ﴾ نوورته وویل شول چي بیرته یې خپله مېرمن کړځکه چي هغه (صوامة قوامة)ده ډېري روژې نیسي او ډېرلمنځونه کوي اوهغه دي دجنتي مېرمنو (ښځو)څخه یوه مېرمن ده[2].

---

(1) متفق علیه.
(2) مختصرابن کثیر ۳/ ۵۱۲

ج: او روايت کېږي کله چي د الله دا قول نازل شو چي ﴿ وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ﴾ نوځيني اصحابانو رضوان الله عليهم وويل: يارسول الله دهغې ښځې چي حيضونه نلري له وړوالي اويازوړوالي دهغې عدت به څه وي؟ نو دا آيت نازل شو چي ﴿ وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسْنَ مِنَ ٱلْمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمْ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشْهُرٍ ﴾ دآيت تر پایه([1]).

تفسير:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ ﴾ ای نبي کله چي اراده وکړئ طلاقوئ ښځي خپلي، خطاب پيغمبر عليه السلام ته دی او حکم يې عام دی د رسول الله او ټول امت لپاره دی نداء يې په ځانګړې توګه رسول الله ته د تعظيم لپاره کړي ده لکه چي د يو قوم رئيس او مشر ته غږ کېږي چي ای فلانيه داسي وکړئ يعني ته او قوم دي داسي وکړي نو دغه نداء د تعظيم او تکريم په ډول شوي ده چي (طلقتم) يې فرمايلی ځکه چي د تفخيم او تعظيم افاده کوي([2]) يعني ای نبي او ای مؤمنانو کله چي ښځو ته د طلاق ورکولو اراده وکړئ ﴿ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ ﴾ نو طلاقوئ يې په (وخت د) عدت ددوی کي (په طهر کي او په حيض کي يې مه طلاقوئ. مجاهد وايي: يعني هغه طهر چي جماع پکي نه وي ځکه چي رسول الله فرمايلي: چي طلاق دي ورکړي طاهراً تر پخوا له دې چي ور سره صحبت وکړي دا هغه عدت دی کوم چي الله تعالی ور باندي حکم کړی دی چي په هغه سره دي ښځو ته طلاق ورکول شي([3]) مفسرين کرام ليکي او چي په حيض کي د طلاق له ورکولو څخه منع شوي دا په دې چي عدت يې ور باندي اوږد نشي نو به هغه متضرره شي بل دا چي د حيض حالت د کرکي او نفرت حال د ی او مېړه دې ته هڅوي چي د طلاق په ورکولو کي بېړه او تلوار وکړي په خلاف د پاکي د حالت چي دغسي نه دی او دا چي په هغه طهر کي دي طلاق ور کوي چي ور سره کوروالی يې نه وي کړی تر څو چي له دغه کوروالي څخه حمل ونشي([4]) نو بيا به عدت له حيض څخه د اولاد و وضع او زېږولو ته ولېږدي او پدې کي ښکاره ضرر دی ﴿ وَأَحْصُوا۟ ٱلْعِدَّةَ ﴾ او و شمېرئ و ساتئ تاسو عدت (د خپلو ښځو چي درې حيضونه بشپړ کړي تر څو اختلاط د انسابو ونشي) ﴿ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ رَبَّكُمْ ﴾ او وبېرېږئ تاسي له الله چي رب (پالونکی) ستاسي دی (په امتثال د اوامرو او اجتناب له نواهيو څخه يې) ﴿ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ ﴾ مه وباسئ (ای مېړو) دغه (ښځي خپلي) له کورونو خپلو څخه (تر څو چي يې عدت تېر شي) ﴿ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾ او نه دي وزي دغه (ښځي پخپله هم له کورونو تر څو چي ددوی عدت تېر شي مګر هلته چي راشي دوی په فاحشه بې حيايي

([1]) روح المعاني ٢٨/ ١٣٧

([2]) القرطبي ١٨/ ١٤٨

([3]) د صحيحينو حديث، شان نزول وګوره.

([4]) حکمت د تشريع زموږ په کتاب روائع البيان کي وګوره.

ښكاره سره (لكه زنا، نوهلته به ورباندي د حد د جاري كولو لپاره راوزي (۱) په التسهيل كي ليكي چي الله تعالى له دې څخه منع كړي چي سړى خپله طلاقه كړي ښځه له هغه ځايه څخه وباسي په كوم كي چي يې طلاق وركړى دى او دا يې هم منع كړي چي پخپل اختيار ووزي نو هغې ته روانه دي چي له خپله كوره بهرشپه وكړي او يا دورځي بې له ضرورته بهرپاتي كېږي او دغه حكم د نسب د خوندي ساتلو لپاره او دا چي عفت وژغورل شي راغلى دى، دفاحشې په هكله كومه چي هغې ته دوتلوروا والى وركوي چاويلي چي دغه عبارت له زناء څخه دى نو بيا به راوزي ترڅو ورباندي حد جاري شي چا بيا ويلي چي دغه له خسر كنۍ سره بدي خبري او ښكنځل ښيي نو بيا به ايستل كېږي او د سكونت حق يې له مينځه ځي او د دغي وينا تائيد دا قرائت هم كوي چي فرمايي ﴿الاان يفحشن عليكم﴾ (۲) دا چي تاسي ته فحش وايې ﴿وَتِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ﴾ او دا (أحكام) حدود اندازه كړى شوي د الله دي (شرائع او محارم دي) ﴿وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥ﴾ او هرهغه چي تېرېږي له حدودو د الله څخه نو په تحقيق ظلم يې كړى دى پخپل ځان باندي (چي عذاب ته يې چمتو كړي او ورته تاوان يې رسولى چي د ښځي د رجعت امكان يې په ځان درولى دى، امام رازي وايي چي: دا دهغه چالپاره تشديد دى څوك له سنت طلاق څخه تجاوز كوي او يا هم بې عدت ته ښځه طلاقوي ﴿لَا تَدْرِى لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا﴾ (ښايي چي الله پيدا كړي وروسته له دې طلاقه كوم ښه كار او نوى صورت لكه رجوع له طلاقه څخه) يعني اى اورېدونكى! ته نه پوهېږې چي الله له دغه طلاقه وروسته كوم كار پېښوي ښايي چي الله يې زړه له بغض د دې څخه محبت او ميني د دې ته واړوي چي بيرته يې له نفرت څخه وروسته ورسره الفت پيدا شي. ابن عباس وايي: مقصد له دې څخه په طلاق باندي ندامت او په عدت كي بيرته د هغې رجعت ته محبت دى (۳) ﴿فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ﴾ (بيا نو كله چي ورسېږي دغه (ښځي) نېټې خپلي ته) يعني كله چي يې عدت په تېرېدو او نېټه يې نږدې شي ﴿فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ﴾ (نو وساتئ تاسي (اى مېړو) دوى په معروف نېكي ښه شان سره يا جلا شئ تاسي له دوى څخه په ښه شان معروف سره) يعني يا خويي په ښه شان سره بيرته خپلي مېرمني كړئ لكه چي الله درته حكم كړى او يا يې پرېږدئ چي عدت يې تېرشي نو به خپلواكه شي مفسرين كرام ليكي چي: امساك بالمعروف، ښه گذاره او نفقه وركول دي بې له قصده

---

(۱) دفاحشې تفسيرپه زنا سره دابن عباس، ابن مسعود، عكرمة او مجاهد وينا ده او له ابن عباس څخه بل روايت دا دى چي د مېړه له خپلوانو سره بده ژبه چلوي او دغه د أبى بن كعب قول دى.

(۲) التسهيل ۴/ ۱۷۲

(۳) ابن قيم ليكي: دا چي الله ته طلاق أبغض دى ځكه چي د كورنۍ تړون پرې كېږي (غوڅېږي) او دابليس لعين موافقه تر لاسه كېږي چي هغه د مېړه او ماينې په بېلتون خوشحاله كېږي خو سره له دې كله كله مېړه او يا ارتينه ورته اړتيا مومي نو د مصلحت سره سم يې روا كړى چي فساد ورباندي دفع شي او له ضرورته پرته يې حرام وباله دا سي يې روا كړچي هغه په طهر كي چي هغه طهر له جماع څخه خالي وي طلاق وركړي (يو طلاق) أو بيا دي پرېږدي چي عدت يې تېرشي كه چېري د خلاف اسباب له مينځه لاړل او موافقت راغى نو د بيرته رجوع لاره به يې موجوده وي او عدت درې قروء ځكه تاكل شوي چي د مهلت او اختيار موده اوږده شي دا هغه څه دي چي په شريعت كي راغلي او اجازه وركول شوي ده. محاسن التأويل ۱۲/ ۵۸۳۸.

دضررسولو چي په رجعت سره يې عدت اوږد شي اوفراق بالمعروف دمهرورکول اود طلاق په وخت کي متعه ورکول، په شرطونو وفاکول اوټول حقوق پرځای کول دي ﴿ وَأَشْهِدُوا۟ ذَوَىْ عَدْلٍ مِّنكُمْ ﴾ او شاهدان نيسئ تاسي (په دغه رجوع باندي) دوه خاوندان دعدل له تاسي څخه (هغوی چي تاسو يې په عدالت اوپه دين اوامانت کي په استقامت باورلرئ په البحرکي ليکي چي: دغه شاهدان نيول دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد مستحب دي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَأَشْهِدُوٓا۟ إِذَا تَبَايَعْتُمْ ﴾ (البقرة:۲۸۲) اوامام شافعي رحمه الله وايي چي: دغه په رجعت کي واجب دي اوپه فرقت کي مستحب دي(۱) ﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلشَّهَٰدَةَ لِلَّهِ ﴾ اوښه اداکړئ تاسي شاهدي (ای شاهدانو) لپاره دثواب اورضاء د) الله يعني خاص دالله لپاره شاهدي اداکړئ دچاپلوي مه کوئ يعني خاص دالله درضالپاره يې له تغييراوتبديله شاهدي واياست دمشهود له اوياد مشهود عليه مراعات مه کوئ ﴿ ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ﴾ (دا(ساتنه په نيکي سره) نصيحت کاووشي په دې سره هغه چاته چي وي له تاسونه چي په الله اود قيامت په ورځي يې ايمان راوړی وي) يعني دا احکام چي موږ شريعت ګڼلی هغه چاته ګټه رسوي چي ورباندي ايمان لري اوله الله څخه وېرېږي د قيامت دورځي دحساب اوکتاب په فکرکي وي) ﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ (اوهغه څوک چي له الله ووېرېږي (ځان وساتي له ګناهونو) و به ګرزوي ده ته يوځای دوتلو(له غمونو) اوروزي به ورکړي (الله) ده ته له هغه ځايه چي دی به ګمان نه کوي) يعني څوک چي دالله دحدودو ساتنه کوي الله به ورته له هره غمه دخلاصون يوه لاره پرانيزي اوله داسي مدرکه به روزي ورکړي چي هلته دی به يې ګمان هم نه کوي اونه به پرې خبروي. مجاهد وايي: زه له ابن عباس ﷺ سره وم چي يوسړی ورته راغی چي ښځه يې په درې طلاقه سره طلاق کړي وه نوابن عباس پټه خوله شو چي ماګمان کاووهغه ته يې بيرته وردکړه بيايې وويل: تاسو پخپل حماقت يو کار وکړی اوبيا واياست ای ابن عباس ! ای ابن عباس ! الله جل جلاله فرمايي ﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ﴾ خو ته له الله څخه وېرېدلی نه يې زه به کومه دخلاصون لاره درپيداکړم د الله نافرماني دي کړي او ښځه درباندي طلاقه شوي ده (۲) مفسرين کرام ليکي چي: آيت عام دی اود عوف بن مالک اشجعي په هکله نازل شوی هغه چي مشرکانو يې زوی بندي کړ اوهغه رسول الله ته راغی دلوږې او نهستي شکايت يې ورته کاووويل يې مشرکانو مي زوی بندي کړی اومور يې بدي ورځي کوي ته څه راته فرمايې ! عليه السلام ورته وويل:(لاحول ولاقوة الابالله) ډېر واياست هغوی هم دغسي وکړل که ګوري يوه ورځ چي پخپل کورکي ناست دی چي زوی يې دروازه وټکوله اوسل اوښان ورسره ووچي له دښمنانو څخه يې راوستي وونو دا آيت نازل شو چي ﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ (۳) ﴿ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ

---

(۱) البحر ۸/ ۲۸۲

(۲) محاسن التاويل ۱۲/ ۵۸۳۸

(۳) وګوره قرطبي ۱۸/ ۱۲۰ - اوطبري ۲۸/ ۹۰

﴿ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ﴾ او هغه څوک چې په الله توکل وکړي نو دغه (الله) ده لره کافي بس دی (په دواړو جهانونو کې) يعني هغه څوک چې په کومه ورته رسېدلي چاره کې يې په الله جل جلاله اعتماد او باور وکړي الله يې کافي دی صاوي وايې: معنادا چې څوک الله ته خپل کاروسپاري الله به يې کفايت وکړي، خوله اسبابو څخه کار اخيستل د توکل منافي نه دی ځکه چې دهغوی په هکله امرشوی دی خو اعتماد او توکل به په اسبابو نه وي (١) په حديث شريف کې راځي: که تاسو په الله جل جلاله باندې داسې توکل وکړی لکه چې د توکل حق دی نو داسې روزي به درته ورسوي لکه چې مرغانو ته يې رسوي سهار وږي روان شي او ماښام ماړه راستنېږي (٢) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمْرِهِۦ ﴾ (بېشکه الله رسېدونکی دی امر کار خپل ته) يعني رسېږي هغه ته چې غواړي يې هيڅ څيزيې عاجز کولای نشي په التسهيل کې ليکي چې دغه د توکل په هکله هڅونه او تاکيد دی ځکه کله چې بنده ته دا ثابته شي چې ګردې چارې د الله جل جلاله په لاس کې دي نو بيا وزي په هغه الله باندې توکل کوي او بل چا ته نه کرېږي (٣) ﴿ قَدْ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَىْءٍ قَدْرًا ﴾ په تحقيق ګرزولې ده الله هر څيزلره اندازه (معلومه او محدود وخت لکه چې څرنګه يې دازلي حکمت غوښتنه وه، قرطبي ليکي: معنادا چې هرڅېزته يې له نرمي او سختي يوه ټاکلې موده ايښې چې دهغې په رسېدلو سره پای ته رسېږي (٤) وروسته الله تبارک وتعالى دهغې طلاق شوې ښځې حکم چې مياشتنی عادت دوړوکوالي او يا زوړوالي په سبب نلري داسې بيانوي ﴿ وَٱلَّٰٓـِٔى يَئِسْنَ مِنَ ٱلْمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمْ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ ﴾ او هغه ښځې چې نا اميده شوې وي (په سبب د زړوالي يا ناروغي) له حيضه له ښځو ستاسو که چېرې په شک کې ياست تاسو (او پدې نه پوهېږی چې عدت به يې څنګه وي نو حکم يې دادی: ﴿ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشْهُرٍ ﴾ نو عدت ددوی درې مياشتې دی (يعني عدت دهرې يوې درې مياشتې دی چې هره مياشت يې د حيض پرځای درېږي ﴿ وَٱلَّٰٓـِٔى لَمْ يَحِضْنَ ﴾ او همداسې ښځې چې حائضې شوې نه وي (دوړوکوالي په سبب نو هغه دي هم درې مياشتې عدت تېروي) ﴿ وَأُو۟لَٰتُ ٱلْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾ او ښځې خاوندانې د بارګيډې (بلاربې) عدت د دوی دادی چې کېږدي دوی بارخپل (يعني مولود وزېږوي هغه که طلاق شوې وي او که (کونډه) چې مېړه يې مړشوی وي ﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مِنْ أَمْرِهِۦ يُسْرًا ﴾ او هغه څوک چې له الله وويرېږي (په اقوالو افعالو کې او ځان وژغوري له حرامو) نو وبه ګرزوي الله کار دده ته آساني (چې د هرخير ښېګڼې لپاره به يې بريالی کړي) ﴿ ذَٰلِكَ أَمْرُ ٱللَّهِ

---

(١) صاوي په جلالين باندې ۴/ ۲۱۵

(٢) أخرجه الترمذي

(٣) التسهيل ۴/ ۱۲۸

(۴) قرطبي ۱۸/ ۱۲۸

﴿أَنزَلَهُۥٓ إِلَيْكُمْ﴾ دا (چي ويـل شـوي دي) امـر حكم د الله دى چي نـازل كـړى يـې دى تاسـي تـه (اى مؤمنـانو ترڅو چي وربانـدي عمل وكړى) ﴿وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعْظِمْ لَهُۥٓ أَجْرًا﴾ او څوک چي لـه الله و يـريږي خان ساتي له معاصيو ليري به كړي الله له ده څخه گناهونه دده او لوى به كړي الله ده لره اجر ثواب (دده) صاوي وايې دغه يې څكه مكرر راوړ چي ښځي ناقصات العقل والدين دي د دوى په امورو كي له منفيانو پرته بل څوک زغم نشي لرلاى (١) په البحر المحيط كي راوړي چي څرنگه چي كلام د مطلقاتو په هكله وو او دغه طلاق له نفرت او كركي څخه پېښيږي او ښايي چي ميړه به هغې ته د اسي نسبتونه كوي چي د هغې لپاره به پېغور وي نو ځكه يې باربار په تقوى سره امر وكړ او د شرط او جزاء په بڼه يې راووړچي ﴿وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل ...﴾ (٢) ﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ﴾ واوسوئ دا (ښځي طلاقي شوي) په هغه ځاى كي چي پكي اوسيږى تاسي (سم) له طاقت د تاسي (لكه چي توانيږى كه بډايان ياست ښه ځاى او نفقه او كه فقيران ياست له خپله وسه سره ورسره گذاره وكړئ). ﴿وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا۟ عَلَيْهِنَّ﴾ او مه كوئ اراده د ضرر تاسو د دغو (مطلقاتو) چي تنگوى به (ځايونه او نفقې) پر دوى باندي (ترڅو يې وتلو ته اړ باسى) ﴿وَإِن كُنَّ أُو۟لَـٰتِ حَمْلٍ﴾ او كه چيري وي دغه (ښځي) خاوندانى د بار گېډي (بلاربي) ﴿فَأَنفِقُوا۟ عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ نو نفقه كوئ تاسي پر دوى باندي ترهغه پوري چي كيږدي دوى بار (حمل د گېډو) خپلو (په زيږيدلو سره د ماشومانو يعني ميړه مكلف دى ترڅو چي د هغې ماشوم زيږي هغې ته نفقه وركړي كه څه هم د زيږيدو نيټه اوږده شي) ﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ﴾ (او كه تى يې وركاوو دوى (له طلاقه وروسته) اولاد (ستاسو ته) يعني كله چي يې تولد وشي او بيا پدې راضي شي چي هغه ماشوم ته تى وركړي نو ﴿فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ (پس وركړئ تاسي هغوى لره مزدوري د هغوى) يعني په سړي باندي دي چي هغې ته د تي وركولو اجرت وركړي څكه چي د اولاد نسبت پلار ته كيږي. په التسهيل كي راوړي: معنادا چي كه دغو مطلقاتو ستاسو اولادونو ته تى وركاوو بيا نو د رضاع اجوره وركړئ چي هغه عبارت له نفقې او نورو گردو اړتياوو څخه دى(٣) ﴿وَأْتَمِرُوا۟ بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ﴾ او مصلحت مشوره كوئ (اى ښځو ميړو!) پخپلو مينځونو كي په معروف نيكي سره) يعني يو بل ته د خير، د نرمي، احسان او آسانتيا مار بينه كوئ قرطبي ليكي: معنادا چي ديو بل د خبري كله چي د نېكي او احسان خواته مو بولي منئ ځيني له معروف څخه دادي چي پرته له اجوري تى وركول دي او ځيني بيا دا چي اجوره دي ورزيا ته كړي(٤) ﴿وَإِن تَعَاسَرْتُمْ﴾ او كه سختي وكړى تاسي (په تي وركولو او اجرت كي) يعني ميړه له هغه اجرت څخه دده كوي كوم چي ښځه يې غواړي او يا ښځه وايې چي تردې په لږ اجوره سره تى نه وركوي ﴿فَسَتُرْضِعُ لَهُۥٓ أُخْرَىٰ﴾ نو لپاره

---

(١) دصاوي حاشيه ٤/ ٢١٧
(٢) البحر المحيط ٨/ ٢٤٨
(٣) التسهيل ٤/ ١٢٩
(٤) القرطبي ١٨/ ١٢٩

دتي ورکولودي طلب کړي هغه (مولود) لره بله ښځه ، دغه ظاهراً خبره خود امرپه معناده. ابوحیان لیکي چي په دې کي دمور لپاره باریک غوندي عتاب نغښتی دی لکه چي یو څوک له چاڅخه دیو کار ترسره کېدل غواړي خوهغه سستي کوي نوورته وايي نژدې ده بل څوک به يې ترسره کړي مقصد يې داوي چي هغه کاربه ترسره شي خوته به ملامت يې (١) ضحاک رحمه الله وايي که چېري مورممانعت کاووچي تی ورکړي نوبيادي بله ښځه په اجوره ددې کارلپاره وګماري چي تی ورکړي اوکه ماشوم نه منله (تی يې نه رودل) بيادي خپله مورپه جبري توګه په اجوره باندي تي ورکولته وتاکي

(٢) ﴿ لِيُنفِقۡ ذُو سَعَةٖ مِّن سَعَتِهِۦۖ ﴾ (نفقه دي ورکوي خاوند دطاقت له طاقت شتو خپلو نه) دغه دانفاق داندازې بيان دی يعني مېړه دي په خپل مېرمن او په واړه ماشوم دخپل وس په اندازه له طاقت سره سم انفاق کوي په التسهيل کي راغي چي دغه امرپدې دی چي هرڅوک دخپل حال سره سم انفاق کوي مېړه پدې ندی مکلف چي له وسه پورته بار ورباندي کېښودل شي اونه دي دښځي حقوق پايمال شي بلکه عادلانه حال دي غوره شي په آيت شريف کی ددې دليل شته چي نفقه دخلګوله احوالو سره برابرسمه تاکل کېږي (٣) ﴿ وَمَن قُدِرَ عَلَيۡهِ رِزۡقُهُۥ ﴾ اوهغه چي په تنګ کړشي په ده باندي رزق دهغه (اوله کفايت نه کم ﴿ فَلۡيُنفِقۡ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُۚ ﴾ پس نفقه دي کوي له هغه څني چي الله هغه لره ورکړي وي (په اندازه دطاقت دده

﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا مَآ ءَاتَىٰهَاۚ ﴾ نه ورکوي الله تکليف هيڅ نفس لره مګرخو په هغه اندازه چي الله ورکړی وي هغه لره (له ماله) نوفقيرداډول نه مکلف کوي لکه بډای غوندي. ابوالسعودليکي چي: پدې کي دفقيردزړه دخوښي لپاره يوڅه شته اوداچي هغه دي خپل زيار جاري وساتي دغه زېری په دې وينانورهم تأکيد پيدا کوي چي: ﴿ سَيَجۡعَلُ ٱللَّهُ بَعۡدَ عُسۡرٖ يُسۡرٗا ﴾ ژربه ښکاره کړي الله پس له سختي تنګي څخه آساني پراخي. پدې کي دفقيرانولپاره زېری دی چي الله به دروزي دروازې ورته راخلاصي کړي له دې وروسته الله جل جلاله هغه کسان وېروي چي دالله دحدودو خيال نه ساتي اوله احکامو څخه يې غاړه غړوي اودتېرو امتونو مثالونه بيانوي چي ﴿ وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ ﴾ اوډېرووله کليوڅخه (دتېرو امتونو)

﴿ عَتَتۡ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ ﴾ چي سرکښي يې کړي وه له حکم درب خپل اوله حکمه درسولانو ددغه (الله) څخه ﴿ فَحَاسَبۡنَٰهَا حِسَابٗا شَدِيدٗا ﴾ نو حساب به وکړو موږ له هغوی سره حساب سخت يعني هغوی ته موددوی په عصيان اوطغيان باندي دردناک عذاب وروليد چي لوړه ، کاختي او هلاکت وو ﴿ وَعَذَّبۡنَٰهَا عَذَابٗا نُّكۡرٗا ﴾ اوپه عذاب به کړو موږ هغوی په ناآشنا سخت عذاب سره (چي له تصورنه به پورته عذاب وي) ﴿ فَذَاقَتۡ وَبَالَ أَمۡرِهَا ﴾ نو وڅکله هغوی سزادکارخپل (چي کفر، طغيان وو) اودالله په احکامو يې

---

(١) البحرالمحيط ٨/ ٢٨٥

(٢) القرطبي

(٣) التسهيل ٤/ ١٢٩

تمردکاوو) ﴿ وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴾ او دی عاقبت آخرد کار ددوی زیان (داسي زیان او خسران چي ترې پورته بل نشته. او کله چي ددغو سرغړونکو امتونو حال شو نو مؤمنانو ته يې امرو کړچي له الله جل جلاله څخه وویریږي ترڅو هغه څه ورته ونه رسیږي کوم چي تېروأمتونو ته رسېدلي وو فرمايي ﴿ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ﴾ تيار کړی دی الله هغوی ته عذاب سخت (په آخرت کي چي دجهنم عذاب دی او تل ترتله به وي) ﴿ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ (نو وویریږئ له الله ځان وساتئ ای خاوندانو دعقلونو) یعني دی دسالموعقلونو خاوندانو دالله له عذابه، انتقامه اونیولو څخه ځان وساتئ ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ هغه کسان چي ایمان يې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو هغو کسانو چي په الله اورسول مو ایمان راوړی ﴿ قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴾ په تحقیق نازل کړی دی الله تاسو ته ذکر نصیحت (وحی چي لوستل کېږي او قرآنکريم دی) ﴿ رَّسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٍ ﴾ رسول (چي محمد دی) لولي پرتاسي باندي آيتونه دالله چي ښكاره ظاهرکونکي دي (داحکامو چي حلال، حرام او ستاسو مايحتاج پکې دي په البحر المحيط کي ليکي چي: ظاهردادی چي له ذکر څخه مقصد قرآن دی او له رسول څخه مقصد محمد صلی الله علیه وسلم دی[1] ﴿ لِّيُخْرِجَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ﴾ دپاره ددې چي وباسي الله هغه کسان چي ایمان يې راوړی او کړي يې دي ښه عملونه (متقيان وي) له تيارو (دجهل او کفر) څخه رڼا (دعلم او ایمان) ته ﴿ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ او هغه چي ایمان راوړي په الله او وکړي ښه عمل نو داخل به کړي (الله) ده لره په جنتونو کي چي بهېږي له لاندي (دمانیوونو) دهغه ویالې (دجنت) ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾ تل به اوسېدونکي وي دوی په هغو کي ابدي همېشه (چي نه به ترې ایستل کېږي او نه به مړه کېږي) ﴿ قَدْ أَحْسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ رِزْقًا ﴾ په تحقیق ښه ورکړی دی الله هغه ته رزق روزي (په جنت کي او پراخه کړي يې ده دوی ته څکه چي دجنت نعمتونه تل ترتله دي انقطاع او زوال نلري. طبري ليکي: معنادا چي الله په جنت کي ورته روزي پراخه کړي او دا هغه څه دي چي دخوراک څښاک توکي او نور گردخوند ورشيان چي اولياوو خپلو ته يې چمتو کړي پکې راځي او هغه يې دوی ته ښه او طيب گرزولي دي په آيت کي د تعجب او تعظيم معنا هم شته چي مؤمن ته يې څومره ثواب ور روزي کړی دی؟ ورپسې الله دخپل قدرت نښي او دستر جلال او سلطان داسي يادونه کوي چي ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ ﴾ الله هغه (ذات) دی چي پیدا کړي يې دي اووه آسمانونه (او پیدا کړي يې

---

[1] خینو مفسرینو له ذکر څخه مقصد رسول الله صلی الله علیه وسلم بللی او دليل يې داچي مبدل منه يې داقول دی چي (رسولا یتلو) او دغه رايي ته طبري او ابو السعود ترجيح ورکړي خو کوم چي موږ يادونه وکړه هغه ترگردو اقوالو راجح دی چي مراد له ذکر څخه قرآن او له رسول څخه محمد صلی الله علیه وسلم دی او دغه په حذف شوي فعل سره منصوب دی چي تقدیریې داسي دی (وارسل رسولا) دغه دابن عطيه او البحر المحيط دمؤلف غوره شوي رايه ده.

دي) له ځمکي څخه په مثل ددې (اووآسمانونواوه ځمکي) يعني الله هغه عظيم اوستر ذات دی چي پخپل قدرت سره يې اووه آسمانونه پوړپه پوړپيدا کړي اوهمداسي يې ځمکي يوه دبلي دپاسه پيدا کړي مگرد ځمکي ترمينځ د آسمانونو په خلاف جلا والی نشته ﴿ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ ﴾ نازلېږي امرحکم (دالله) په مينځ ددغو (آسمانونواو ځمکو) کې ﴿ لِتَعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ (پوهوي مو) ترڅو چي وپوهېږی تاسو چي بېشکه الله په هرڅېزباندي ښه قادردی) يعني ترڅو تاسي پدې وپوهېږی چي څوک ددې شيانو خالق او پيداکونکی دی هغه په ټولو شيانو ښه قادردی ﴿ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًۢا ﴾ (او پوه شی) بېشکه چي الله په تحقيق احاطه فرمايلي رسېدلی دی هرشي ته له جهته دعلمه قدرته) يعني ترڅو تاسي پدې وپوهېږی چي الله په هرڅه عالم دی له هغه څخه هيڅ هم پټ نه دي.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي دبديع اوبيان دوجوهاتو لنډيز په لاندي ډول دی:

۱- دطباق صنعت چي: ﴿ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ ﴾ همداسي ﴿ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴾.

۲- داضمار په ځای کي اظهار چي تهويل افاده کړي لکه ﴿ وَتِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ ﴾.

۳- التفات چي دزيات اهتمام څرگندوی شي لکه داچي ﴿ لَا تَدْرِى لَعَلَّ ٱللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا ﴾ دلته خطاب راغلی اصل داوو چي دغائب په صيغه يادشوی او(لايدري) راغلی وای

۴- ايجاز بالحذف لکه ﴿ وَٱلَّٰٓـِٔى لَمْ يَحِضْنَ ﴾ خبرتري حذف شوي يعني (فعدتهن ثلاثة أشهر ايضا) يې محذوف دی.

۵- دوعيد تکرار دوېروني اوفظاعت لپاره لکه داچي فرمايي ﴿ فَحَاسَبْنَٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا ﴾ دآيت ترپايه پوري

۶- مرسل مجاز ﴿ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ ﴾ ډير له کليو چي مرادتري کليوال دي اودغه تسميه دحال په نوم دمحل دی ځکه چي قريه ياده شوي اومقصد دقريواوسېدونکي دي.

٧-لطيفه استعاره چي فرمايي ﴿ لِّيُخْرِجَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ﴾ دلته يې ظلمات دکفراوضلالت څخه اونور له هدايت او ايمان څخه استعاره کړاودغه دقرآن کريم دلوړ تعبيراوښکلي بيان يوه نمونه ده.

٨-مرصع سجع چي لکه ملغلري اوياقوت ځلېږي ﴿ قَدْ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَىْءٍ قَدْرًا ﴾ ﴿ يَجْعَل لَّهُۥ مِنْ أَمْرِهِۦ يُسْرًا ﴾ ﴿ وَيُعْظِمْ لَهُۥٓ أَجْرًا ﴾ ﴿ وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴾ اودغه له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

يادونه:

دعلماء کرامو ترمينځ پدې کي اختلاف نشته چي آسمانونه اوه دي خودځمکي په هکله اختلاف شته چاويلي چي هغه هم اوه دي چي دآيت ظاهريې ښکارندوی دی اوپه صحيح حديث کي راځي: څوک چي يوه لويښت ځمکه غصب اوپه ظلم ونيسي نواوه سره ځمکي به يې دغاړي طوق شي اوڅوک بيا وايې: چي ځمکه يوه ده اومماثلت په عدد کي مرادنه دی بلکه په پيدا ينښت اوابداع کي يې مثل بلل شوي خولومړی ويناظهراوښه څرګنده ده والله اعلم.

دالله جل جلاله په مرسته دالطلاق سورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

دالتحريم سورت مدني اودوولس آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

التحريم مدني سورت اوتشريعي احکام بيانوي اودلته دنبوت دکورنۍ سره اړوندپېښې څېړي دأمهات المؤمنين دپيغمبرﷺ دازواج مطهراتوپه اړوندخبري کوي اودمسلماني کورنۍ اونېکمرغه تولني درشل جوړوي

سورت په پيل کي درسول الله ﷺ هغه پېښه بيانوي چي خپلي مينځي (ماريه قبطيه) يي پرځان حرامه اودهغې له معاشرت څخه يې دځينونورو زوجاتورضى الله عنهن دخوښي ترلاسه کولوپاره ممانعت وکړ نويونرم اوباريک عتاب نازل شوچي دالله جل جلاله خپل بنده اورسول ته دعنايت او پاملرني څخه ډک دی او ورته وايې ولي هغه پراخي چي الله درباندي پېرزوکړي په ځان تنګوي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ ... ﴾ دآيت ترپايه

ورپسي يوډېرمهم اوخطرناک کارراخلي چي هغه دمېرمني اوخاوندترمينځ درازلوڅول دي هغه چي کورنۍ تهديدوي اودلته په رسول الله ﷺ مثال راوړي چي کله يې حضرت حفصې رضی الله عنهاته يوراز وويل او ورته ويل يې چي چاته مه وايه مګرهغې رضى الله عنهابياحضرت عائشې رضي الله عنها ته هغه راز افشاء کړاوبياشهرت ته ورسېدوچي رسول الله يې په قهرکړاوآن تردې چي قصدېې وکړځيني مېرمني طلا قی کړې ﴿ وَإِذۡ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعۡضِ أَزۡوَٰجِهِۦ حَدِيثٗا ... ﴾ دآيت ترپايه

سورت درسول الله ﷺ په زوجاتوسخت بريدکوي چي خوراناڅېزه خبري وي دوی ديوې اوبلي دغيرت له مخي سيالی کوی چي بيابی تر مينځ داسی پيښش شول اودوی تهديدوي چي رسول الله ته به الله جل جلاله تردوی-ښې نوري مېرمني ورکړي اوپدې کي درسول الله صلى الله عليه وسلم ملاتړاعلانوي فرمايي ﴿ عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبۡدِلَهُۥٓ أَزۡوَٰجًا خَيۡرٗا مِّنكُنَّ مُسۡلِمَٰتٖ مُّؤۡمِنَٰتٖ قَٰنِتَٰتٖ تَٰٓئِبَٰتٍ... ﴾ دآيت ترپايه

په پای کي سورت دوه مثالونه راوړي چي يودکافري مېرمني مثال دی چي دمؤمن مسلمان اوصالح سړي په عصمت کي وه اوبل مثال دمسلماني مؤمني ښځي چي دکافرفاجرپه نکاح کي وه ترڅوچي بندګان تنبيه کړي چي په آخرت کي هلته چي خپل عمل يې ښه نه وي هيڅوک له بل چاڅخه بارنشي سپکولای اونه هم حسب نسب ګټه ورته رسوي ﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱمۡرَأَتَ نُوحٖ وَٱمۡرَأَتَ لُوطٖۖ كَانَتَا تَحۡتَ عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَٰلِحَيۡنِ فَخَانَتَاهُمَا ﴾ (يعني ايمان يې رانه ووړ) ﴿ فَلَمۡ يُغۡنِيَا عَنۡهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَقِيلَ ٱدۡخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ چي دغه خورانښايسته بشپړتوب اودسورت له ښي سره ښځي مناسب دی چي مقصديې دفضيلت اوايمان بنستونه ټينګول دي

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ (١) قَدۡ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمۡ تَحِلَّةَ أَيۡمَٰنِكُمۡۚ وَٱللَّهُ
مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡحَكِيمُ (٢) وَإِذۡ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعۡضِ أَزۡوَٰجِهِۦ حَدِيثٗا فَلَمَّا نَبَّأَتۡ بِهِۦ وَأَظۡهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ عَرَّفَ بَعۡضَهُۥ وَأَعۡرَضَ
عَنۢ بَعۡضٖۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتۡ مَنۡ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ (٣) إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدۡ صَغَتۡ قُلُوبُكُمَاۖ وَإِن
تَظَٰهَرَا عَلَيۡهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوۡلَىٰهُ وَجِبۡرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ (٤) عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ
أَن يُبۡدِلَهُۥٓ أَزۡوَٰجًا خَيۡرٗا مِّنكُنَّ مُسۡلِمَٰتٖ مُّؤۡمِنَٰتٖ قَٰنِتَٰتٖ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٖ سَٰٓئِحَٰتٖ ثَيِّبَٰتٖ وَأَبۡكَارٗا (٥) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ
أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا
يُؤۡمَرُونَ (٦) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَعۡتَذِرُواْ ٱلۡيَوۡمَۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ (٧) يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ
تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يَوۡمَ لَا يُخۡزِي
ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥۖ نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ
كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ (٨) يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ
(٩) ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱمۡرَأَتَ نُوحٖ وَٱمۡرَأَتَ لُوطٖۖ كَانَتَا تَحۡتَ عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَٰلِحَيۡنِ
فَخَانَتَاهُمَا فَلَمۡ يُغۡنِيَا عَنۡهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَقِيلَ ٱدۡخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ (١٠) وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ
ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ
ٱلظَّٰلِمِينَ (١١) وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا
وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ (١٢) ﴾ التحريم: ١ ـ ١٢

لغتونه:

(تحلة) دقسم کفاره اداکول (صغت) له حق څخه مائل شول کله چي وويل شي: (أصغى الإناء) يعني لوښى يې کوږ کړ (قانتات) له قنوت څخه اخيستل شوى يعني مطيعات تل ترتله له خشوع سره طاعت کونکي ښځي (نصوحا) خالصه اورښتوني (نصوحا) توبه هغي ته وايې چي بيا راګرزېدل پکي نه وي څکه يې نصوحا، بولي چي رښتنولي او اخلاص پکي شته ويل کيږي (هذا عسل ناصح) يعني دغه پاک ستره شات دي چي شمع پکي نشته (١) (اغلظ) له غلظت څخه او هغه شدت ته وايې (أحصنت) ځان يې له فحاشي څخه وژغوره.

(١) القرطبي ١٨/١٩٩

دنزول سبب:

أ – روايت شوی چي رسول الله ﷺ به دخپلو مېرمنوترمينځ په وېش اوقسم عمل كاووكله چي د حفصې رضی الله عنهااروو هغې له رسول الله ﷺ څخه دخپل مورا وپلار دليد لولپاره اجازه وغوښته رسول الله هم اجازه وركړه اوماريه قبطيه يې راوغوښتله اودحضرت حفصې په كوركي يې ورسره كور والي وكړ... حضرت حفصه چي راغله حضرت ماريه يې پخپل كوركي وليدله اوسخت غيرت ورته و دريدو اوويې ويل چي تازماپه غياب كي هغه زماكورته راوبلله اوزماپه بستركي دي ورسره معاشرت وكړاخوماته داسي معلومېږي چي زه درته ګرانه نه يم نورسول الله ﷺ ورته وويل: هغه مي په ځان نوره حرامه ده بل چاته مه وايه كله چي رسول الله ﷺ بهرراووت نوهغې هغه دېوال   چي ددې او حضرت عائشې ﵄ ترمينځ وو- وټكاوو اوهغه درسول الله ﷺ رازيې ورته ووايورسول الله ﷺ ته قهر ورغی اوپه غضب شوسوګندېې واخيست چي تريوې مياشتي پوري به خپلو مېرمنوته ورنشي اوله هغوی څخه ګوښه شونوالله جل جلاله دا آيت نازل كړچي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ ﴾ دا آيت ترپايه(١).

ب – اوروايت شوی چي رسول الله ﷺ به دحضرت أم المؤمنين حضرت زينب رضی الله عنهاكره چي كله ورغی هغې به شات (عسل) ورڅښول نوحضرت عائشې اوحضرت حفصې رضی الله عنهمايوبل ته سر ه وويل: كله چي زموږكره راشي موږبه په اتفاق ورته ووايوچي تا(مغافير) څښلي (مغافيرخوارېږه مائعات دي چي ښه بوی نلري) نوكله چي رسول الله دحضرت حفصې ﵂ كورته ورغی هغې ورته دغسي وويل اوبياچي دحضرت عائشې ﵂ كره ورغی هغې هم ورته دغسي وويل: اورسول الله ﷺ دانه خوښوله چي بدبوی ځني پورته شي نو ويې ويل: نه بلكه مادزينبي كره عسل څښلي اوبيابه يې له سره ونه څښم اوقسم يې يادكړ، بيادا آيت نازل شوچي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ ﴾ (٢).

---

(١) الطبري ٢٨/ ١٠١

(٢) لومړی روايت دمفسرينوپه نزددشان نزول په هكله خورامشهوردی هغه داچي رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت ماريه په ځان حرامه كړه دغه روايت دارقطني له ابن عباس رضی الله عنه څخه راوړی دی اودوهم روايت په بخاري اومسلم كي تردې زيات اوږدراغلی اوترلومړني يې اسنادأصح دی خوداچي دنزول سبب وبلل شي دغه ليري خبره ده اوهغه چي لومړني روايت ته ترجيح وركوي ځوشيان دي يوداچي تحريم دځينوښځولپاره دمرضي دنوروښځودی نه څښل دعسلو او يانه څښلودهغودوهم داچي انزال دسورت پداسي اهتمام چي پكي درسول الله دمباركوزوجاتولپاره په طلاق باندي تهديداووعيدشته چي ددوی په بدل كي به الله ورته نوري تردوی بهتري اوښې ښځي وركړي اوداچي الله ملائكي اوصالح مؤمنان درسول الله مرستندوی دي داپدې دلالت كوي چي دأمهات المؤمنين ترمينځ تنافس موجودوو يوله له بله يې سيالی كېده اوغيرت يې درلودچي رسول الله ته يې تكليف ورساوو آن تردې چي ځيني مينځي يې په ځان حرامي كړې چي دوی خوښي شي اوله هغوی څخه يې رازپټ ساتل غوښتل مګرهغوی ښكاره كړدغه دترجيح سبب دی ابن كثيرهم وايې چي دشاتوڅښل دنزول دسبب لپاره دپوښتني وړدی. والله أعلم

تفسير:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ﴾ اى نبي ولي حراموې ته چي حلال کړي دي الله تاته ، غواړې ته (پدې حرامولوسره) خوښي دښځوخپلو؛ خطاب دنبوت په لفظ سره دتعظيم او توقيرڅرګندونکی دی چي رسول الله دلوړاوچت مقام ښودنه کوي هغه يې پخپل نامه يادنکړلکه چي نورانبياء عليهم السلام يې يادکړي چي (ياابراهيم ، يانوح ، ياعيسى بن مريم) بلکه دنبوت او رسالت په لفظ يې ورته خطاب کړی اودغه خوراستردليل اوبرهان دی چي هغه عليه افضل الصلوة والتسليم ترګردوانبياووا ومرسلينوغوره اوبهتردی دآيت معناداچي اى هغه ذاته چي له آسمانه ورته حضرت جبريل امين عليه السلام وحى راوړي ولي ځان له هغه څه منع کوې کوم چي الله جل جلاله تاته له مېرمنوڅخه رواکړي دي؟ مفسرين کرام وايې چي : رسول الله دخپلي (أم ولد) حضرت ماريه سره د حفصې رضى الله عنهاپه کورکي خلوت کړی اوحضرت حفصه ورباندي خبره شوه نورسول الله حضرت حفصې ته وويل چي: دغه خبره چاته مکوه هغه مي نوره په ځان حرامه کړه نوآيت شريف نازل شوچي ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ﴾ دخطاب په پيل کي داسي ښکاره حسن تلطف شته چي انکارتري نشي کېدای ځکه چي هغه ته يې په دې عتاب وفرمايوچي په ځان باندي تکليف او ستوماني راولي چي دمېرمنورضايت وګټی لکه چي ورته وايې دمېرمنولپاره دي ځان مه کړوه ستا مېرمني ستادخوښي لپاره زيارباسي نو ته له دغه تکليف څخه ځان هوساکړه! ﴿تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ﴾غواړې ته (پدې حلالوحرامولو سره) خوښي دښځو خپلو؟ په التسهيل کي ليکي يعني په حرامولود(ماريه قبطيهِ رضى الله عنها) سره خوښي دحفصې رضى الله عنهاغواړې اوداهم پدې دلالت کوي چي دمينځي دحرامولوپه هکله آيت نازل شوی دی اوهغه چي دشاتوتحريم دی په هغه کي د ښځودخوښي مقصدنه بلکه دناخوښه بوی درلودلوله کبله يې پرې ايښی وو(۱).﴿وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ او الله ښښونکی دی (ستاقسم لره دستر رحمت خاونددی چي ته يې د(ماريې قبطيې) څخه په امتناع کولو وبښلې اودرحمت له مخي يې درته عتاب وکړاوپدې کي دااشاره شته چي پدې هکله ورته عتاب دده دکرامت اوعزت لپاره دی چي ده پرځان باندي هغه څه نارواکړي اوترې منع يې کوله کوم چي دده لپاره په هغه کي انس الفت اومينه وه. زمخشري پرځایَ نه دي ويلي چي دغه درسول الله ﷺ څخه ښوئېدل ګڼلي چي دالله حلال يې پرځان حرام ګرزولي وو...ځکه دغه خبره دنبوت له مقام سره بې ادبي ده او همداسي دمعصوم دصفاتوپه هکله ناپوهي بلل کېږي ځکه درسول الله له لوري دحلال څېزتحريم نه وو لکه چي زمخشري ګمان کوي ترڅو چي هغه مخالفت اومعصيت وګڼل شي بلکه له ځينومينځوڅخه يې دځينوازواجودخاطردخوښي لپاره ممانعت وکړ نوالله ورته دنرمي عتاب راواستاوواودده دلوړ مقام اوقدرتنويه يې وفرمايله دده دمنصب اورتبې اجلال اوسترتوب يې څرګندکړچي هغه دخپلو مېرمنودخوښي په خاطرپه ځان سختي مني اودغه دالله جل جلاله له لوري تل ترتله دلطف ورباندي

(۱) وګوره سبب دنزول

پېرزوينه ده ﴿ قَدْ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَٰنِكُمْ ﴾ په تحقيق مقرر كړى دى الله تاسي ته حلال والى د قسمونو ستاسو (په كفارت سره) ﴿ وَٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْ ﴾ اوالله دوست مولامددګارستاسي دى ﴿ وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ اوهمدغه (الله) ښه عالم دانا (پرمخلوق دى ښه حكمت والادى (په صنعت خپل كي نونه امر كوي او نه نهى مګرهغه څه چي دده دحكمت اومصلحت غوښتنه وي، له دې وروسته الله جل جلاله هغه كيسه بيانوي كومه چي رسول الله ته دځينومېرمنوسره ورپېښه شوي وه فرمايي ﴿ وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا ﴾ كله چي پټ رازووايونبي پيغبرښځوخپلوته يوه خبره (چي تحريم د(ماريې قبطيې وو) يعني په يادكړه هغه وخت چي پيغمبرعليه السلام خپلى مېرمني حضرت حفصې ته يوه خبره وويله اوغوښتنه يې ترې وكړه چي چاته دي ونه وايې، ابن عباس وايې: دغه خبره هغه ده چي حضرت حفصې ته يې وويله چي حضرت ماريه يې په ځان حرامه كړي ده لكه چي ورته يې وويل له ده وروسته خلافت بهٔ دابوبكر اوعمررضى الله عنهماوي[1] ورته يې وويل: چي داخبره به هيچاته نه كوي ﴿ فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ ﴾ نوكله چي خبروركړى هغې (حفصې) په دې (خبري) سره (عائشې) ته ﴿ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ﴾ اوښكاره كړه (الله) هغه خبره پردغه (خپل نبي) باندي (په واسطهِ دجبريل عليه السلام چي حفصې سِرافشاء كړ) ﴿ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍ ﴾ نوور وپېژندله (نبي حفصې ته) له ځينوهغو (خبرو) اواعراض يې وكړله ځينوڅخه (چي په تولويې دحيآء اوكرم له مخي ونه پوهوله چي د فضلاوو دود دستور داوي چي دخلګوله ښوئېدلواوزلاتوڅخه اغماض كوي اوپه ملامتيااوعتاب كي تساهل فرمايي، حسن بصري رحمه الله وايې عزتمن خلګ هيڅكله هم ملامت كسان يومخ ايزه نه لوځوي او سفيان رحمه الله وايې چي تغافل تل دكرام الناس خلګوعادت وي، خازن ليكي معناداچي رسول الله حفصې ته هغه خبره وكړه كومه چي هغې حضرت عائشې رضى الله عنهاته كړي وه چي د(ماريه قبطيه) تحريم وواوله هغې بلي څخه يې څنګ وكړكوم چي دخلافت په هكله يادونه وه ځكه نه يې خوښوله چي داخبره دخلګوترمينځ خپره شي[2] ﴿ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ ﴾ نوكله چي خبروركړ (نبي حفصې ته) په هغه (راز افشاء كولوده) ﴿ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَا ﴾ وويل دې (حفصې) چاخبركړې ته پدې باندې؟! ابوحيان وايې حفصې رضى الله عنهاداسي ګمان كاووچي حضرت عائشې رضى الله عنهابه ورته ويلي وي او دې خوهغې ته ويلي ووچي چاته مه وايه خودادى چي دا (حفصه) يې رسواكړه داچي پوښتنه يې وكړه چاخبردركړدې لپاره چي ځان ته معلومات ترلاسه كړي اوكله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: چي الله جل وعلاخبر راكړنو پټه خوله اوتسليم شوه ﴿ قَالَ نَبَّأَنِىَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴾ ويل (نبي) خبر كړى يم زه ښه عالم دانابښه خبردار په

---

(۱) امام رازي ليكي چي: حضرت رسول الله د حضرت حفصې په تنده كي دغيرت نښي وليدلې نو ويې غوښتل چي هغه خوښه او راضي كړي بيادوه څېزونه يې پټ رازونه ورته وويل يوداچي مينځه يې په ځان حرامه كړي اوبل يې دازېرى وركړچي له ده وروسته به خلافت دابوبكراوعمررضى الله عنهماوي. كبيرتفسير ۳۰/ ۴۳ اوورته يې وويل چي: دغه به هيچاته نه وايې

(۲) خازن ۴/ ۱۱۷

اسرارودكائناتوچي هيڅ شى هم ورڅخه پټ نه دى ﴿ إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ كه توبه وباسى تاسي دواړه (اى بيبيانو) (حضرت حفصې اوعائشې) الله ته (داستاسو لپاره غوره دى) خطاب هغوى ته دالتفات په توګه شوى ترڅوپه عتاب كي أبلغ وي اودهغه تكليف او څور چي سيدالانبيآء ته يې رسولى توبې ايستلوته يې وهڅوې ځواب يې محذوف اوهغه داچي كه تاسو نبي عليه السلام ته په تكليف رسولو كي له يوبل سره دمرستي كولو څخه توبه وباسى داستاسو لپاره بهتراوغوره دى ﴿ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ نوپه تحقيق كاږه شوي دي زړونه ستاسي دواړو (له هغه لازم اخلاص درسول الله پرتاسوچي تاسوبايد محبت وكړي دهغه چي رسول الله يې مينه لري اونفرت وكړي دهغه چي رسول الله يې نه خوښوي (۱) ﴿ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ ﴾ اوكه مرستي وكړى تاسي دواړه يوله بلي سره (په ضرردغه نبي باندي چي دده اونوروزوجاتوترمينځ خنډاچوى) ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوْلَىٰهُ ﴾ نوبېشكه الله همغه مددګاردى دهغه (نبي چي ستاسوله يوبلي سره مرسته كول ورته ضررنشي رسولاى) ﴿ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوجبريل اوصالح دمؤمنانو (يې هم مددګاران دي ابن عباس رضى الله عنه وايې چي مقصديې له صالح دمؤمنانوڅخه ابوبكراوعمردي ځكه چي هغوى درسول الله صلى الله عليه وسلم مرستندويان وو پردوى دواړو (عائشي اوحفصې) باندي په التسهيل كي راوړي: معناداچي كه تاسي دواړه يوله بله پيغمبرته په زيات غيرت ځرګندولواودهغه په رازونولوڅولوسره مرسته كوى او هغه ته تكليف رسوى نوالله دهغه صلى الله عليه وسلم مرسته كوي اوهغه يې مددګاردى په صحيح حديث كي راځي: كله چي داپېښه مينځ ته راغله نوحضرت عمررضى الله عنه رسول الله ته راغى او ورته ويل يې اى دالله استازي دښځوچاري دي په تاسختي نه شي كه ته يې طلاق كړې الله له تاسره ملګرى دى پرښتې اوجبريل دي مرسته كوي اوابوبكراوعمردرسره دي نوآيت شريف دحضرت عمرله ويناسره سم جوخت نازل شو (۲) ﴿ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ﴾ (اوملائكي يې هم وروسته له دې مدد ګاراني دي) يعني دالله، جبريل اوصالح مؤمنانوله حضورڅخه وروسته پرښتې هم ډرسول الله كومكياني دي نوڅوك چي دغه ټول يې مرستندويان وي ددوى په وړاندي ددوومېرمنويوله بلي سره مرسته څه ګټه لري؟ اوداچي (جبريل) يې يوازي يادكړچي تعظيم يې وشي اوهغه رتبه چي دالله په نزديې لري ځرګنده شي نوبه هغه دوه ځله يادشوى وي يوځل يوازي اودوهم واردعام لفظ په ترڅ كي او داچي ﴿ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ يې دجبريل اوپرښتوترمينځ راوړل چي ددوى تشريف وښيي اود صلحيت بهتري په ګوته كړي اوپه پاى كي چي يې دملائكوياد راووړچي دنبي عليه السلام مرستندويان دي ځكه چي هغوى ترګردومخلوقاتوستردي اوكله چي درسول الله مددګاران شي نولكه چي خوراغښتلي لښكري هغه چي بېدياوي يې په سراخيستي وي اودرسول الله مرستي ته رادرومي نوبياڅوك كولاى شي چي دغه پيغمبرعليه السلام

---

(۱) دابوالسعود تفسير ۵/ ۱۷۴
(۲) التسهيل ۴/ ۱۳۱

وخوروي ؟!([1]) ورپسې الله دپيغمبرپيبياني پدې ويناوېروي ﴿ عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبْدِلَهُۥٓ أَزْوَٰجًا خَيْرًا مِّنكُنَّ ﴾ نژدې دی (اوقادردی) رب ددغه (نبي) که چېرې طلاق در کړي تاسي ټولوته پدې چې بدل ورکړي ده لره نوري ښځې بهتري له تاسي څخه (په سېرت اوصورت کي) مفسرين کرام وايي چې (عسى) دالله په کلام کي دحق اوواجب په معنادی يعني داپه الله واجب دي که تاسوته پيغمبرطلاق درکړي چې هغه ته به ستاسوپه بدل کي ترتاسوغوره ښځې اوافضلې مېرمني ورکوي. قرطبي ليکي: دغه دالله لوري له پيغمبرعليه السلام سره وعده اوژمنه ده که چېرې دغه ښځې په دنياکي طلاقي کړي چې تردوی ښځې اوغوره به په نکاح ورکوي، اوالله پدې عالم دی چې نه بې طلاقوي خودخپل قدرت اخبارکوي اوهغوی وېروي ([2]) ورپسې الله دهغومېرمنو چې ددوی په بدل کي به وي وتلي صفات داسي ستايي ﴿ مُسْلِمَٰتٍ مُّؤْمِنَٰتٍ قَٰنِتَٰتٍ تَٰٓئِبَٰتٍ ﴾ حکم منونکي (دالله او رسول حکمونوته غاړه ايښودونکي) مؤمنانې (په الله اوپيغمبرباورکونکي) لمونځ کونکي (د اوامرو اطاعت کونکي) توبه ايستونکي (له ګناهونوچې اصراربه وربانديې نه کوي) ﴿ عَٰبِدَٰتٍ ﴾ عبادت کونکي (الله لره په زيات عبادت سره چې دزړه له اخلاصه به وي اوددوی به دغه خوی خاصيت وي ﴿ سَٰٓئِحَٰتٍ ﴾ هجرت کونکي (الله اورسول ته ([3])روژه نيونکي ﴿ ثَيِّبَٰتٍ وَأَبْكَارًا ﴾ کونډې اوپېغلې. ابن کثير وايي چې په دووډولونويي ووېشلې اودغه نفس ته ښه خوندورکونکی ايسي څکه چې تنوع نفس خوښوي اوداچې دعطف واويې دلته راوړ ﴿ ثَيِّبَٰتٍ وَأَبْكَارًا ﴾ چې تنويع اوتقسيم افاده کړي اوکه واونه وای معنابه ګډوډه شوي وای څکه کونډتون اوپېغلتوب سره نه يوځای کېږي اودغه دِقرآنکريم سراورازدی بايدورته غوراوفکروشي کله چې بې د پيغمبرپيبيانوته وعظ وکړورپسې بې عام نصيحت دعامومؤمنانولپاره داسي ابلاغ کړ ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا ﴾ ای هغوکسانو چې ايمان بې راوړی دی (ای مؤمنانو)وساتئ تاسي څانونه خپل اوکورکهول خپل له اورڅخه په طاعت دالله اوترک د معاصيو او تاديب تعليم ددوی سره. مجاهدوايي معناداچې له الله ووېرېږئ اوکورکهول ته دتقوی مارېينه او توصيه وکړئ ، خازن ليکي: يعني هغوی ته دخيرحکم ورکړئ اوله شرڅخه بې منع کړئ او هغوی ته علم ادب وروښيئ ترڅوچې له اورڅخه بې

([1]) بې له شکه چې داکلام دمبالغې دپاره راوړل شوی چې فرمايي ﴿ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ اوکه نه يوازې الله مرستندوی اومددګاربس دی.

([2]) دقرطبي تفسير ۱۸/۱۹۳

([3]) ابن عباس وايي چې (سائحات) معناروژه نيونکي اودليل بې داويلي چې په حديث کي راغي: ددې امت سياحت روژه ده اوزيدبن اسلم وايي (سائحات) معناهجرت کونکي اودالله داقول يې تلاوت کړ ﴿ ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلْعَٰبِدُونَ ٱلْحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ ﴾ التوبة: ۱۱۲ يعني هجرت کونکي ښايي دغه وروستی معناغوره وي څکه چې دغه دسياحت له لغوي معناسره هم اړخ لګوي کوم چې په څمکه کي دعبرت لپاره سفر کولوته وايي ابن کثيرلومړی معنااخيستي والله أعلم.

وساتئ (۱)اومقصدله (اهل) ښځه بنځي او ماشومان اود دوی اړوندکسان دي ﴿ وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ ﴾ (داسي اور) چي خس اوخاشاک بې خلګ اوتيږي دي.مفسرين کرام وايې چي: مرادله ډبروڅخه ګوګړدي ځکه هغه تر ګردوشيانوژراوسخت اور اخيستونکي دي يعني دغه اورخوراسخت دی ددنياداورپه شان نه دی چي يوازي په خسو بلېږي ، ابن مسعود رضی الله عنه وايې چي: هغه ازوغه اوحطب چي ورغورځول کېږي هغه به بنيادمان اودګوګړو ډبري وي چي ترمرداروبه يې لابدبوی خي(۲)﴿ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ ﴾ په دې اورباندي مقرري دي پرښتې کلک زړونه قوتناکي زبردستي) چي پرچاږړه سوی نلري اود کفارودتعذيب لپاره ټاکلي شوي دي قرطبي ليکي چي مرادپه پرښتوسره(زبانية) دي چي سخت زړونه لري اوچي مجرمان ورڅخه رحم غواړيورباندي نه رحمېږي ځکه دوی له غضب څخه پيداشوي اود خلګوعذاب يې داسي خوښ دی لکه دانسانانوچي خوراک څښاک خوښ وي(۳)﴿ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ ﴾ نه کوي نافرماني (دغه پرښتې په هيڅ حال کي) له الله څخه (هغه څه چي امريې کړی دی دوی ته ﴿ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾ اوکوي دوی هغه کارچي پرې ماموري وي (دالله له لوري بې له کوم ځنډ او تاخيره ، له دې وروسته هغه څه فرمايې کوم چي کفاروته به ددوزخ دننوتونلوپه وخت کي ويل کېږي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَعْتَذِرُوا۟ ٱلْيَوْمَ ﴾ ای هغوکسانوچي کافران شوي ياست (يعني ای کافرانو) عذرمه کوئ تاسي نن ورځ (له ګناهونوخپلوځکه چي ګټه نه رسوي اونه منل کېږي له دې امله چي تاسي ته مخکي انداردرکول شوی وو ﴿ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ بېشکه همداخبره ده چي بدلِ جزابه درکړ شي تاسي ته دهغه څه چي وی تاسي چي کول به مو،په دنياکي له بدواعمالوڅخه پرتاسوبه هيڅ ظلم ونکړی شي لکه چي الله فرمايې ﴿ ٱلْيَوْمَ تُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۚ لَا ظُلْمَ ٱلْيَوْمَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴾ وروسې الله جل جلاله مؤمنان رښتوني داخلاص توبې ته رابولي فرمايې:﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ تُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا ﴾ ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) توبه وباسئ تاسي الله ته توبه خالصه رښتيادزړه له کومي . له ابن عمررضی الله عنه څخه دنصوحاتوبې په هکله پوښتنه وشوه په ځواب کي يې ابن عمروويل چي داهغه توبه ده چي بيرته راګرزېدل پکي نه وي لکه شيدې چي بيرته غولانځي ته نه راګرزي ()علماء کرام وايې د نصوح توبه هغه توبه ده چي درې شرطونه پکي راشي يوداچي له ګناه لاس واخلي، دوهم داچي په تېر باندي پښېمانه شي ، دريم داچي بيابه ورته نه راګرزي اوکه دانسانانوپه حقوقوتېری ځيني شوی وو څلورم شرط به هم ترسره کړي هغه داچي دهغوی حقوق به بيرته ورته وسپاري ﴿ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ ﴾

(۱) خازن ۴/ ۱۲۶
(۲) دابن کثيرمختصر ۳/ ۵۲۳
(۳) قرطبي ۱۸/ ۱۹۶

اميددی چي رب ستاسي به ورڅوي له تاسي څخه ګناهونه ستاسي (او درباندي به ورحم‌ېږي مفسرين کرام وايي (عسی) چي د الله په قول کي راشي وجوب يې معنادی اودغه دالله له لوري دوی ته تمه (طمع) ورکوي) چي ددوی توبه به په فضل اوکرم خپل سره ومني ځکه عظيم اوستر ذات چي کله وعده وکړي ورباندي وفاکوي لکه چي دپاچهانودادستوروي کله چي اراده وکړي نو وايي (عسی) پس هدغه (عسی) لکه ثابت داسي دی[1] ﴿ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ اوداخل به کړي تاسي هغو جنتونوته چي بهېږي له لاندي دونواومانيود) هغو ويالې (د جنت) ﴿ يَوْمَ لَا يُخْزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ ﴾ (داننې ايستل ستاسي جنت ته) په هغه ورځ کي چي وبه نه شرموي الله نبي اوهغه کسان چي ايمان يې راوړی له ده سره (دکفاروپه وړاندي بلکه عزت به ورکړي اواکرام به يې ترسره کړي، ابوالسعودليکي چي :پدې کي هغوکسانوته چي الله شرمولي لکه کفاراوفساق تعريض دی[2] ﴿ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَٰنِهِمْ ﴾ (رڼادوی به زغلي وړاندي ددوی څخه اوپه ښی خواددوی) يعني ددغومؤمنانو رڼابه دوی ته پل صراط روښانه کوي اوله ښي لوري، له مخه، له شااوله کيڼ لوري به لکه چي سپوږمۍ په توره شپه کي رڼاکوي داسي ځلېږي[3] ﴿ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا ﴾ دوی به وايي ای زموږ ربه پوره کړې باقي ولره موږلره رڼازموږ (اوموږمه پرېږده چي په تاريکيو کي وغورځېږو، ابن عباس رضی الله عنه وايي چي دغه دمؤمنانوله لوري دعاده کله چي دمنافقينونور اورڼامړه شي نودوی به دغه دعاله وېري کوي ترڅوچي يې جنت ته ورسوي ﴿ وَٱغْفِرْ لَنَآ ﴾ اووبښه موږلره (ګناهونه زموږ) ﴿ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ بېشکه ته په هرشي باندي (چي اراده وفرمايې) ښه قادريې (چي مغفرت اوعقاب اورحمت اوعذاب دی) وروسته الله جل جلاله دالله له دښمنانوسره چي کفاراو منافقين دي دجهادکولوپه هکله داسي فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾ ای نبي جهادکوه له کفارو سره (په توره) اوله منافقينوسره (په ژبه ،دليل او برهان سره) ځکه چي منافقين کفرپټوي اواسلام ښکاره کوي نودوی خوظاهره مسلمانان برېښي او رسول الله ته له دوی سره دقتال امرنه دی شوی ﴿ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ﴾ اوپردوی باندي سختي کوه (په خطاب کي په نرمي اورأفت سره چلند مه کوه ترڅوچي دوی ووېرېږي اوذليل واوسي (دبدبه يې له مينځه لاړه شي اوشوکت يې مات شي ﴿ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ﴾ اوځای دورتلود دوی جهنم دی (په آخرت کي) ﴿ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴾ اوبدځای د ورتلودی (دادوزخ

---

(١) روح المعاني ٢٨ / ١٦٠

(٢) دابوالسعود تفسير ٥ /١٧٥

(٣) له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چي دقيامت په ورځ به خپل امت دنوروامتونو څخه څنګه پېژني؟ ويې فرمايل چي: دوی به دقيامت په ورځ داسي راشي چي داوداسه له کبله به يې اندامونه ځلېږي اوپدې به يې رسول الله پېژني.

دمجرمانو لپاره ورپسې الله دكفارولپاره يومثال راوړي چي دوی ته به خپلوي نكاح اونور اسباب دقيامت په ورځ ګټه ونه رسوي څكه هلته له صالح اعمالوپرته هيڅ څېزچاته په كار نه ورځي فرمايي
﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱمْرَأَتَ نُوحٍ وَٱمْرَأَتَ لُوطٍ ﴾ بيان كړی دی الله جل جلاله يومتل لپاره دهغوكسانوچي كافران شوي دي ښځه دنوح اوښځه دلوط(چي دوی ته به د مؤمنانو خپلوي ګټه ورونه رسوي لكه چي دنوح اولوط عليهما السلام ښځوته يې ورونه رسوله) ﴿ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَٰلِحَيْنِ ﴾ چي وې (دادواړه ښځي ترنكاح) لاندي ددوو بندګانو صالحانوزموږ، دا چي دوی يې په عبوديت وستايل ددوی تشريف اوتكريم يې وكړچي نسبت يې خان ته وفرمايو ﴿ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ﴾ بياخيانت وكړدوی دواړو ښځو(۱) (له دغودواړومېړونو سره په كفراوبېماني سره) نودفع نكړدغوپيغمبرانوله دغوخپلوښځو څخه له عذاب داالله څخه هيڅ شی. ﴿ وَقِيلَ ٱدْخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ﴾ اوورويل شوننوځئ تاسي دواړه (دوزخ) ته سره له نورو ننوتونكيو(كافرانو).قرطبي ليكي چي: الله دغه مثال ددې لپاره راووړچي پدې تنبيه وفرمايي چي په آخرت كي هيڅوك له قريب اوخپل څخه عذاب نه دفع كوي څكه چي ددوی ترمينځ دين بېلتون راولي لكه چي نوح اولوط له خپلوښځوڅخه پداسي حال كي چي داالله نازولي انبياء ووخوكله چي ښځوبې عصيان وكړدوی ورڅخه هيڅ شی عذاب دفع نكړای شو(۲) ﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱمْرَأَتَ فِرْعَوْنَ ﴾ اوبيان كړی دی الله يومثل لپاره دهغوكسانوچي ايمان يې راوړی دی ښځه دفرعون ؛ دغه بل مثال دمؤمن لپاره راغلی چي هغه ته د هغه كافرخپلوان ضررنشي رسولای ابوالسعودليكي: يعني حال د' هغې'لپاره دحال دمسلمانانومثال دی چي دكفرخپلوي ورته ضررنشي رسولای لكه چي دفرعون ښځه په دنياكي داالله جل جلاله دسرسخت دښمن ترنكاح لاندي وه چي فرعون ووخوپه خوراسترو مانيودجنت كي به اوسي(۳).
مفسرين كرام ليكي چي: دهغې نوم(آسيه بنت مزاحم) ووپه موسى عليه السلام يې ايمان راووړ اوفرعون خبرشونوبې دهغې دوژلوامرصادركړالله دغه يې دفرعون له شرڅخه وژغورله چي دفرعون پيوستون هغې ته ضرر ونه رساوو سره له دې چي فرعون دكافرانوستر كافر وو اودنوح اولوط عليهما السلام ښځوته دنومړو نبيانوپيوستون ګټه ونه رسوله سره له دې چي دوی د رب العالمين پيغمبران وو ﴿ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ٱبْنِ لِى عِندَكَ بَيْتًا فِى ٱلْجَنَّةِ ﴾ كله چي وويل دې ای زما ربه جوړكړه ماته په نزدخپل يوكورپه جنت كيَ (چي ستاد رحمت په جواركي وي ځينوعلماء كراموويلي چي څومره ښه

---

(۱) دلته خيانت په دين كي مراددی اوپه عرض كي خيانت مقصدنه دی ځيني مفسرين تېروتلي چي دغودواړوښځوته يې دزنا نسبت كړی څكه چي الله جل جلاله انبياء عليهم السلام ته داكرامت وركړی چي ښځي يې فجورنه كوي ابن عباس رضى الله عنهماوايي چي دهيڅ نبي ښځي زنانه ده كړي اوخيانت ددغودواړوداووچي دخپلومېړونودين يې نه مانواومشركاني وې ، دغه په غورسره ولوله چي باريک مطلب دی،
(۲) قرطبي ۱۸/ ۲۰۱
(۳) ابوالسعود ۵ /۱۷۲

وينايې کړي هغې تردارله مخه جارغوره کړی چي ويلي يې دي ﴿إِذْ قَالَتْ رَبِّ ٱبْنِ لِي عِندَكَ بَيْتًا فِي ٱلْجَنَّةِ﴾ څکه هغه دمانۍ ترطمع له مخه دالله دجوار طمع کوي په دې آيت کي ددې دليل شته چي هغې ايمان راوړی اوپه بعث بعدالموت يې باوردرلود ﴿وَنَجِّنِي مِن فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِۦ﴾ او ومي ژغوره خلاصه مي کړه له عذابه دفرعون اوعمل دده (چي کفراوطغيان دی) ﴿وَنَجِّنِي مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ او ومي ژغوره خلاصه مي کړه له قومه ظالمانوڅخه (چي اقباط دسرکښ فرعون پلويان دي)حسن رحمه الله وايي: کله چي يې دنجات دعاوکړه الله په ښه نجات سره وژغورله چي جنت ته يې اوچته کړه هلته خوري ،څښي اوپه نعمتونوکي اوسي(١)﴿وَمَرْيَمَ ٱبْنَتَ عِمْرَٰنَ﴾ او(مثل بيان کړی دی الله) دمريم لوردعمران ﴿ٱلَّتِيٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا﴾ هغه چي ساتلی يې وو ځای دشهوت خپل(له فواحشو څخه يعني عفيفه اوطاهره وه داسي نه وه لکه يهودوعليهم لعنة الله چي پرې ګمان کاووچي هغې زناکړي اوعيسی حرامزاده دی (معاذالله)﴿فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا﴾ (نو وموپوکل (په ګريوان د هغې)کي له روح خپل څخه) يعني زمونږ استاذي جبريل دهغې په ګريوان کي وروپوکل اودغه اثر هغې ته ورسېدواوپرعيسی عليه السلام باندي اميدواره شوه . ابن کثيرليکي چي الله تعالی حضرت جبريل ورته راواستاوواودبني آدم په بڼه شوالله ورته حکم وکړچي دکميس په ګريوان کي يې ورپو کړي هغه ووچي دغه پوکل يې وجودته ولوېدل اوپه عيسی عليه السلام باندي اميدواره شوه(٢) ﴿وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ﴾ اوتصديق باورکړی ووهغې په خبرو د رب خپل اوپه کتابونودده باندي (چي دالله شرائع اوآسماني کتابونه دي) ﴿وَكَانَتْ مِنَ ٱلْقَٰنِتِينَ﴾ (اووه داله فرمان منونکو څخه) يعني هغه له هغوڅخه وه چي حکم منونکي فرمان وړونکي عبادت کونکي وي دغه دهغې ستاينه ده چي زيات عبادت طاعت اوخشوع يې کوله په حديث شريف کي راځي چي له نارينه وو ډېربشپړاوکامل کسان تېرشوي اوله ښځوڅخه دفرعون له ښځي آسيه رضی الله عنهااومريم دعمران لوراوخديجة دخويلد لورپرته کمال ته څوک ندي رسېدلي دعائشي رضی الله عنهافضل اوبهتري په نوروښځولکه دښوروا ډوډۍ په نورو خوراکونو غوندي دی(٣).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي دبديع اوبيان ښکلاوې په لاندي ډول لنډېز کېږي.

---

(١) البحرالمحيط ٨ /٢٩٥

(٢) دابن کثيرمختصر ٣ /٥٢٥

(٣) أخرجه البخاري

۱- دطباق صنعت چي دحرام اوحلال ترمينځ پدې کلام کي شته ﴿ لِمَ تُحَرِّمُ ﴾ اوهمداسي د ﴿عَرَّفَ.....وَأَعۡرَضَ﴾ ترمينځ چي ګرديږي بديعي محسنات اود کلام جمال زياتوي.

۲- التفات له غيبت څخه خطاب ته لکه ﴿ إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ ترڅوچي په ملامتيااوعتاب کي زياتوالی افاده کړي

۳- دمبالغې صيغې لکه داچي ﴿ ٱلۡعَلِيمُ ٱلۡخَبِيرُ ،نَّصُوحًا ،قَدِيرٌ ،ظَهِيرٌ ﴾ ترپايه پوري

۴- دعام يادونه وروسته له خاص نه پدې کلام کي ﴿ وَجِبۡرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ﴾ دلته يې جبريل په خانګړي توګه دهغه دتشريف لپاره يادکړاودوهم ځل يې په عموم کي بيايادونه وشوه چي درسول الله په شان کي اهتمام شوی وي همداسي يې مؤمنان دمقربوپرښتوپه مينځ کې راوړي چي دصالحانومؤمنانورتبه په ډاګه کړي

۵- مرسل مجازچي فرمايې ﴿ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارًا ﴾ ذکردمسبب اومرادځيني سبب دی يعني تل طاعت کوئ ترڅوځانونه اوکورکهول له الهي عذابه وساتی.

۶- مقابله چي دمؤمنانواوسرغړونکوترمينځ دی لکه چي فرمايې ﴿ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ اوداچي ﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ راغلي دي

۷- دتغليب صنعت چي فرمايې ﴿ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ﴾ چي نارينه يې په ښځينه باندي تغليب ګڼلی دی.

۸- مرصع سجع لکه ملغلري اومرجان غوندي چي په ټول قرآنکريم کي د ېرځايونه ترسترګو کېږي په غوراودقت يې وګورئ

دالله جل جلاله په مرسته دالتحريم سورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

دالملک سورت مکي اودېرش آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالملک سورت مکي دی اولکه نورمکي سورتونه غوندي دعقيدې ستراصول اوبنسټونه څېړي پدې سورت کي بنسټيزدرې هدفونه راځي چي هغه يودالله جل جلاله عظمت اودقدرت اثبات دی چي هستي اونېستي راولي بل دالله په وحدانيت باندي دلائل دي اودريم دبعث اودمنکرينواو دروغجن ګڼونکوعاقبت اوانجام بيانېږي

دسورت پيل دلومړي هدف په توضيح کولوشوی اووايې چي دالله جل جلاله په لاس کي پاچهي اوسلطنت دی هغه دګردو کائناتومتصرف اوټول کائنات هغه ته غاړه ايښودونکي دي الله دهغوی په ژوندي کولواومړه کولوبرلاسی دی ﴿ تَبَٰرَكَ ٱلَّذِي بِيَدِهِ ٱلۡمُلۡكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ.. ﴾ دآيتونوترپايه

وروستي دآسمانونو له پيداينښت څخه غږېږي او هغه څه چي پدې آسمانونو کي له ځلانده ستورو څخه شته او دغه ټول دالله په قدرت او وحدانيت باندي دلائل دي ﴿ اَلَّذِی خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ...... ﴾ دآيتونو تر پايه.

بيا په تفصيل سره دمجرمينو خبرراوړي چي کله هغوی جهنم ته ګوري او دهغه اورلمبې وهي او له قهره چوي هغه قهرچي دالله په دښمنانو باندي ورته راوړاندي شوی وي دلته دکافرانو او مؤمنانو برخه ليک يوله بل سره پرتله کوي لکه څرنګه چي دقرآنکريم اسلوب دی چي ترغيب او ترهيب يو په بل پسي راوړي ﴿ اِذَاۤ اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا وَّهِیَ تَفُوْرُ.. ﴾.

کله چي دالله په عظمت او قدرت دلائل وړاندي کړي وروستي دالله له عذابه او قهر څخه خلګ وېروي هغه عذاب چي په منکرانو کفارو به راپرېوزي ﴿ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِی السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِیَ تَمُوْرُ.. ﴾ دآيتونو تر پايه.

دسورت پای ددروغجن ګڼونکو هغو کسانو چي درسول الله بلنه (دعوت) يې نه مانو په وېرولو او اخطار باندي کېږي چي پردوی به په هغه وخت کي عذاب راځي چي هغه وخت دوی درسول الله د مړيني آرزو لرله او يا يې دمسلمانانو هلاکت ته ستر ګي په لاروې ﴿ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِیَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِیَ اَوْ رَحِمَنَا فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴾ خو مره سخت تهديد او ګوت څنډنه ده چي له وېري څخه بې اندامونه رېږدي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ تَبٰرَكَ الَّذِیْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱﴾ الَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ
﴿۲﴾ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا مَا تَرٰی فِیْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰی مِنْ فُطُوْرٍ ﴿۳﴾ ثُمَّ ارْجِعِ
الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ﴿۴﴾ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيْحَ وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا
لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ ﴿۵﴾ وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۶﴾ اِذَاۤ اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا وَّهِیَ تَفُوْرُ ﴿۷﴾
تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ كُلَّمَاۤ اُلْقِیَ فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَاۤ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ ﴿۸﴾ قَالُوْا بَلٰی قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ
مِنْ شَیْءٍ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِیْ ضَلٰلٍ كَبِيْرٍ ﴿۹﴾ وَقَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِیْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴿۱۰﴾ فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْ
فَسُحْقًا لِّاَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴿۱۱﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۱۲﴾ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ
اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۳﴾ اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۴﴾ هُوَ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِیْ
مَنَاكِبِهَا وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿۱۵﴾ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِی السَّمَآءِ اَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِیَ تَمُوْرُ ﴿۱۶﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ فِی
السَّمَآءِ اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿۱۷﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۱۸﴾ اَوَلَمْ

بَرُوٓاْ إِلَى ٱلطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍۭ بَصِيرٌ ﴿١٩﴾ أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى هُوَ جُندٌ لَّكُمْ
يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحْمَٰنِ ۚ إِنِ ٱلْكَٰفِرُونَ إِلَّا فِى غُرُورٍ ﴿٢٠﴾ أَمَّنْ هَٰذَا ٱلَّذِى يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُۥ ۚ بَل لَّجُّواْ فِى عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾
أَفَمَن يَمْشِى مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِى سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾ قُلْ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ
وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ
﴿٢٥﴾ قُلْ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم
بِهِۦ تَدَّعُونَ ﴿٢٧﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِىَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِىَ أَوْ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ ٱلْكَٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ هُوَ
ٱلرَّحْمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍۭ
﴿٣٠﴾ ﴾ الملك: ١ - ٣٠

دسورت فضیلت:

دغه سورت ته (الواقية) ژغورونکی او (المنجية) هم ویل شوي ځکه چي لوستونکی د قبرله عذاب څخه ژغوري، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايې: هی المانعة هی المنجية من عذاب القبر [1] یعني دغه سورت د قبرله عذاب نه منع کونکی او ساتونکی دی.

لغتونه:

(طباقا) ځيني په ځينو نورو سربېره او مطابق دیو بل (لکه چي وايي (طابق النعل بالنعل) يعني نعل له نعل سره برابر شوی) کله چي يې موافق ورسره پرې کړي او وربانديې ووهي (فطور) چاودېدل له فطر څخه اخيستل شوی او د چاودلو په معنا دی شاعر ليکي: بنى لكم بلا عمد سماء * وسواها فما فيها فطور.

تاسو ته يې له ستني پرته آسمان جوړ کړی او برابر کړی يې دی چي هيڅ درز پکي نشته (حسير) ستړی ستومانه له (حسور) څخه اخيستل شوی او هغه ستوماني ستړيا ته وايې (شهيقا) بد او ناسم غږ لکه د خره هنګاره (تميز) چو دل کېږي تو ته کېږي په اصل کي دغه کلمه (تتميز) وه يوه تاء يې په بله کي دننه (مدغم) شوه او (تميز) لوستل کېږي (مناكبها) اطراف او څنډي دهغې ځمکي منکب په اصل کي جانب ته وايې او د ښري منکب (اوږه) هم له دې څخه اخيستل شوی دی (لجوا) اصراريې وکړ او ټينګ يې خرلي وي (تمور) لړزېږي (زلفة) نژدې له دوی نه (غورا) ښکته د ځمکي په تل کي تلونکي.

تفسير:

﴿ تَبَٰرَكَ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ ﴾ (ډېر برکت کوي هغه (الله) چي په لاس (بلاكيف) دده کي ملک سلطنت دی) يعني ستر او لوړ دی هغه ذات چي په مخلوقاتو ډول ډول نعمتونه اوروي هغه (الله) چي په لاس بلاكيف دده کي پاچهي دځمکي او آسمانونو دي او په هغه کي څرنګه چي يې اراده شي داسي تصرف کوي ابن عباس رضی الله عنه وايې: معنا دا چي پاچهي يې په لاس کي ده چاته عزت او چاته ذلت ورکوي

[1] أخرجه الترمذي

، مړه کوي خلګ اوژوندي کوي يې ، بډای کوي انسانان اوفقيران کوي يې ، چاته څه ورکوي اوله چانه
يې منع کوي(۱) ﴿ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴾ اوهم دغه (الله) په هرڅيزباندي (چي اراده وفرمايي) ښه قادردی
، يعني هغه په هرڅه باندي دبشپړقدرت اوپوره تصرف خاونددی هيڅوک يې منازع او مدافع نشته
وروسته الله دخپل قدرت آثاراودحکمت نښي داسي بيانوي ﴿ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ ﴾ هغه (الله) چي
پيداکړي يې دي مرګ اوژوند (نوژوندي کوي هغه چي ورته اراده يې شي اووژني هغه خلګ چي ورته
اراده يې شي هغه واحد قهارذات دی، مرګ يې په ژوندله مخه راووړځکه چي هغه هيبتناک اوويرونکی
دی، علماء کرام وايې چي مرګ له ژوندانه څخه دبېخي فنااوانقطاع نوم نه دی بلکه له يوه جهان څخه بل
ته لېږدېدل (انتقال) دی ځکه نوپه صحيحينوکي يوحديث راغلی چي فرمايې مړي په قبرکي اوري
اووينې او احساس لري لکه چي رسول الله داسي فرمايلي کله چي يو ستاسوپه قبرکي کېښودل شي
اوملګري ترې راستانه شي مړي ددغو خلګو دپښو(څپليو) غږ اوري (۲) بل ځای رسول الله فرمايې زمادي
په هغه الله سوګندوي چي زماروح يې په لاس کي دی چي تاسو تر دوی زماوېناښه نه اوری خودوی ځواب
نشي ورکولای ، نومرګ له بدنه دروح وتل بولي ﴿ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ (لپاره ددې چي وازمويي
تاسي چي کوم يوله تاسي ډېرښه دی دعمل له مخي) يعني لپاره ددې چي وازمويي تاسي ای خلګوچي
کوم يومحسن نيکوکاراوکوم يومسئ بدکرداردی قرطبي وايې : معناداچي داسي معامله لکه چي
ازمويونکی يې کوي ورسره وکړم که نه الله ته خو عاصي او مطيع په ازل کي هم معلوم دي (۳) ﴿ وَهُوَ
ٱلْعَزِيزُ ﴾ اوهم دغه (الله) ښه غالب قوي دی (په انتقام اخيستلو له ګناهګاروڅخه) ﴿ ٱلْغَفُورُ ﴾ ډېرمغفرت
کونکی دی (دهغه چالپاره چي توبه وباسي او رجوع وکړي) ﴿ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا ﴾ هغه (الله)
چي پيداکړي يې دي اوه آسمانونه طبقې طبقې لاندي باندي (هرآسمان لکه يوه قبه غوندي لپاره دبل
آسمان دي) ﴿ مَّا تَرَىٰ فِى خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍ ﴾ وبه نه وينې ای کتونکي ! په پيدايښت درحمان کي
هيڅ تفاوت خلل، عيب، فرق (اواختلاف بلکه نهايته محکم او ټينګ دی اوداچي ويې فرمايل
﴿ خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ ﴾ اوهسي يې ونه ويل چي: (فيهن) ترڅوددوی د پيدايښت تعظيم اودالله په سترقدرت
تنبيه افاده کړي ﴿ فَٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ﴾ بياواړوه (خپلي) سترګي چي آياوينې ته (پکي) څه
چاودښېري والی نقصان ؟ ﴿ ثُمَّ ٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ ﴾ بياوګرزوه سترګي (خپلي) آسمان ته ای کتونکيه) دوه
دوه ځلي (دعبرت په توګه) ﴿ يَنقَلِبْ إِلَيْكَ ٱلْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ﴾ بيرته به راوګرزي سترګي (ستا)بيرته
ګرزېدونکي اودغه سترګي به وي ذليلي ستړي ستومانه (له ليدلودهغه خلل نه چي ته يې لټوې)

---

(۱) القرطبي ۱۸/ ۲۰۶
(۲) دمتفق عليه حديث يوه برخه.
(۳) قرطبي تفسير ۱۸/ ۲۰۷

﴿ وَهُوَ حَسِيرٌ ﴾ معناسترې به وي نهايته زياتي امام فخر رازي ليكي: معناداچي كه ته كتل مكرر كړې بياهم ستاسترګي به هغه خلل ونهويني چي ته يې غواړې بلكه سترګي به دي ستړي ستومانه درته راستني شي اوكوم عيب اوخلل به يې پيداكړى نه وي (١) قرطبي وايې: معناداچي څوځله وګوره اوپه آسمان كي سترګي وغړوه (كرتين) يوځل وروسته له بل ځل نه سترګي به دي ذليلي درته راوګرزي چي هيڅ عيب اوخلل به يې نه وي موندلى اوداچي دوه ځله يې دكتلوحكم وزته كړى ځكه كله چي يوځل انسان يوڅېزته وګوري نودهغه عيب نشي په ګوته كولاى ترڅويې دوهم ځلي په څېرنه وي ورته كتلي اومقصدله (كرتين) څخه باربار كتل (تكثير) دى دليل يې داچي ﴿ يَنقَلِبْ إِلَيْكَ ٱلْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ﴾ 19
دغه پخپله په زياتوكتلودلالت كوي ورپسې الله جل جلاله هغه څه بيانوي چي آسمان يې په ستوروښايسته كړى دى فرمايې ﴿ وَلَقَدْ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ ﴾ (اوخامخاپه تحقيق ښايسته كړى دى موږ آسمان نژدې (ځمكي ته) په ډېرو ستوروسره) يعني قسم دى چي په تحقيق موږ دغه تاسوته نژدې آسمان چي له ټولوآسمانونوڅخه ځمكي ته ډېر نژدې دى لومړنى آسمان دى په ځلانده ستوروسره ښايسته كړى دى مفسرين كرام ليكي ستوروته يې ډېوې ويلې ځكه چي دوى هم دشپې داسي رڼاكوي لكه ډېوې اوڅراغونه ﴿ وَجَعَلْنَٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيَٰطِينِ ﴾ او ګرزولي مودي دغه (ډېوې ستوري) ويشتونكي شيطانانولره) يعني بله ګټه يې داچي موږ ستوري د شيطانانوكوم چي دآسمانونوخبري غلاكوي دويشتلولپاره ګمارو. قتاده وايې: دستورودرې ګټي دي يوداچي د آسمان ښايست، بل داچي دشيطانانوويشتونكي، دريم داچي په بحراوبركي لارښوونكي دي (٢) خازن ليكي: كه څوك پوښتنه كوي چي كه ستوري دښايست لپاره وي نوهغه دي تلپاتي اوباقي وي څرنګه د ويشتلولپاره په كارېږي؟ ځكه چي په ويشتلوسره له مينځه ځي دغه دوه حالتونه خوسره نه يوځاى كېږي؟ ځواب داچي ښايي دويشتلولپاره به يوه شغله وي چي له ستوري جلاكېږي اود شيطان د ويشتلولپاره ترې كاراخيستل كېږي ستوري به هماغسي پخپل حال پاتي وي لكه چي له اور څخه يوه سكروټه واخيستل شي اوپخپل ځاى پاتي وي (٣) زه وايم چي ددې خبري تائيد پدې آيت هم كېداى شي ﴿ إِلَّا مَنْ خَطِفَ ٱلْخَطْفَةَ فَأَتْبَعَهُۥ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴾ نوله دې معلومېږي چي په ستوري نه بلكه په شغلو باندي ويشتل كېږي ﴿ وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ ٱلسَّعِيرِ ﴾ اوتيار كړى دى موږدوى لره عذاب ډېر سوځونكى (ددوزخ، په آخرت كي وروسته له ويشتلودشغلود ستوروپه دنياكي) ﴿ وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ﴾ اوشته لپاره د هغوكسانو چي كافران شوي وي په رب خپل باندي عذاب د دوزخ ﴿ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴾ اوبدځاى دورتلودى (هم نه يوازي دا چي د شيطانانولپاره دي بلكه دهركافرلپاره كه انسي وي اوكه جني ددوزخ

(١) قرطبي تفسير ١٨/٧٠.
(٢) البحرالمحيط ٨/٢٩٩
(٣) خازن ٤/١٢٥

عذاب دی وروسته دوزخ او د هغه عذابونه داسي بيانوي ﴿ إِذَآ أُلۡقُواْ فِيهَا سَمِعُواْ لَهَا شَهِيقٗا ﴾ کله چي وغورزولی شي (کافران) په دغه (اوردوزخ) کي (لکه ازوغه چي په ستراورکي لوېږي) وابه وري دوی دغه (دوزخ لره) آوازلوی بد (لکه دخره غوندي چي له سختو لمبو او ايشېدو به وي[1]) ابن عباس رضی الله عنه وايې چي: شهيق ددوزخ هغه دکفارودورغورځولو په وخت کي غږته وايې داسي هنګېږي لکه چي خچر اوربشوته ناري وهي وروسته دزفيرآوازکوي چي هرخوک به ورڅخه وېرېږي ﴿ وَهِيَ تَفُورُ ﴾ اوهغه به خوټېږي (له ډېره قهر او غضبه اوله ډېرو لمبو لکه چي ګډوه (کټو) خوټېږي مجاهدوايې: په دوی باندي به 19/19

داسي خوټېږي لکه چي لږ داني په ډېرواوبوکي خوټېږي ﴿ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۖ ﴾ نږدې به وي (دا دوزخ) چي ټوټې شي له جهته دقهره (غضبه پردښمنانو دالله کفاروباندي) ﴿ كُلَّمَآ أُلۡقِيَ فِيهَا فَوۡجٞ سَأَلَهُمۡ خَزَنَتُهَآ ﴾ هرکله چي وغورځوله شي پکي يوه ډله (دمنکرانو کفارو) پوښتنه به وکړي (توبيخًا او تقريعًا) له هغوی نه خازناني ددوزخ (داسي چي) ﴿ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَذِيرٞ ﴾ آيانه وواغلی تاسي ته (ای منکرانو وېرونکی ؟ (پيغمبرپه دنياکي) مفسرين کرام ليکي چي: دغه پوښتنه دزياتي ملامتياپاره دی ترڅو ددوی آرمان اوافسوس په حسرت باندي زيات شي اوعذاب يې يوپه دوه شي ﴿ قَالُواْ بَلَىٰ قَدۡ جَآءَنَا نَذِيرٞ فَكَذَّبۡنَا ﴾ نووبه وايې: منکران (داسي چي) هوپه تحقيق راغلی موږ ته وېرونکی (پيغمبرپه موږبې آيتونه لوستلي وو) نودروغجن وبالوموږدی (اوله رسالت څخه يې منکرشوو ﴿ وَقُلۡنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَيۡءٍ ﴾ اوووېل موږ (هغوی ته) چي نه دی رالېږلی الله هيڅ شی (له وحی په چاباندي) امام رازي ليکي: دغه ددوی له لوري دالله په عدل باندي اعتراف دی[2]) چي الله ددوی عذرونه دپيغمبرانو په لېږلوليري کړي دي خودوی دپيغمبرانوتکذيب کړی اوويلي يې دي چي الله په هيچاوحی نه ده رانازل کړي ﴿ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ كَبِيرٖ ﴾ نه يی تاسي مګر په ګمراهي لويه کي ياست (دغه دکفارودويناپاتي برخه ده يعني ای پيغمبرانو تاسوله حق څخه ليري اوپه ژوره ګمراهي کي ياست) ﴿ وَقَالُواْ لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ أَوۡ نَعۡقِلُ ﴾ او وبه وايې (منکران) که چېري وی موږچي اورېدلی مو (خبري دانبياوو په دنياکي په سماع د قبول سره) (او) ياموعقل درلودی (په خيراوشرخپل) يعني کفاربه ووايي که موږداسي عقل درلودی چي ور باندي موګته اخيستلای شوای اوياموا ورېدلای په سماع د طلب دحق اودهدايت غوښتلونو ﴿ مَا كُنَّا فِيٓ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ نه به وومووږ (نن) په اهل ملګرودوزخ کي ﴿ فَٱعۡتَرَفُواْ بِذَنۢبِهِمۡ ﴾ نو اقرار يې وکړ دوی په ګناه خپلي باندي (چي دپيغمبرانو تکذيب وو) ﴿ فَسُحۡقٗا لِّأَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ نو (ليري کړي دي دوی لره الله له

([1]) په التسهيل کي ليکي چي شهيق هغه دخره بدآوازته ويل کېږي مقصدترې هغه دجهنم دسخت هيبت دبلېدواو ايشېدلو غږدی. التسهيل ۴/۱۳۴

([2]) کبيرتفسير ۳۰/۲۴

رحمته) لیري والی دی خاوندانو ددوزخ لره) دغه دعائیه جمله ده یعني الله دي دوی له رحمته لیري اوهلاک کړي، وروسته دبدمرغه کفارو له حال څخه دنېکمرغه مؤمنانو حال داسي بیانوي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ ﴾ (بېشکه هغه کسان چي وېرېږي له خپل رب څخه په غیب سره) یعني دوی پداسي حال کي چي پروردګاریې لیدلی نه دی ترې وېرېږي اوګناهونه نکوي ځوچي دالله خوښي او رضاترلاسه کړي ﴿ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴾ شته دوی ته مغفرت (دګناهونو) اواجرثواب ډېرلوی، چي دغه اندازه له الله پرته چاته معلومه نه ده ﴿ وَأَسِرُّواْ قَوْلَكُمْ أَوِ ٱجْهَرُواْ بِهِۦٓ ﴾ اوکه پټوی تاسي خپله خبره او که ښکاره کوی هغه (خبره) دغه خطاب خلګوته دی یعني که تاسوخپله وینا پټوی اوکه یې ځرګندوی دغه دواړه برابردي الله ته ستاسوپټ اوځرګند یوډول دي ورباندي خبردی ﴿ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ بېشکه هغه (الله) ښه عالم دانادی په پټوخبرودسینوباندي هم. ابن عباس رضی الله عنه وایې دغه دهغومشرکانوپه هکله نازل شوی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې ښکنځل کول اوبیابه جبریل علیه السلام رسول الله ورباندي خبراوو نوځینوددوی ځیني نوروته وویل چي په پټه خوله یې ښکنځئ چي دمحمد (ﷺ) الله ورباندي خبرنشي اونه یې واوري نودوی ته وویل شوچي له الله څخه هیڅ هم پټ نه دي[1] ﴿ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ﴾ آیانه پوهېږي (په پټورازونو) هغه (الله) چي پیداکړي یې دي ټول شیان اود مخلوق پټ اوښکاره ګرددده مخلوق دي؟ ﴿ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ﴾ او همغه (الله) دی علیم دانا (په پټواسرارو) ښه خبردار دی (په ظواهرودموجوداتو هم) چي هیڅ ذره (دوړانګي خاشه) نه خوځېږي اونه هم ساښکته پورته کېږي مګرالله جل جلاله ورباندي خبردی، ورپسې الله دخپل قدرت اووحدانیت دلائل اوهمداراز دفضل اواحسان نښي چي پخپلوبندګانویې پېرزوکړي داسي بیانوي چي ﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا ﴾ دغه (الله) هغه ذات دی چي ګرزولي یې ده تاسي ته ځمکه پسته (تابعداره چي تګ کول پکي آسان وي) ﴿ فَٱمْشُواْ فِى مَنَاكِبِهَا ﴾ نوځئ تاسي په اوږو اطرافولارود هغې (ځمکي) ابن کثیرلیکي: معناداچي ځئ سفروکړئ په هغې کي چېري چي مو خوښه شي دهغې ګوټ ګوټ دتجارت اوکسب کارلپاره ولټوئ[2] ﴿ وَكُلُواْ مِن رِّزْقِهِۦ ﴾ اوخورئ تاسي له حلال رزق ددغه (الله) نه یعني دالله له هغونعمتونوڅخه چي پرتاسویې د کسب اورزق پېرزوکړي ګټه واخلئ الوسي وایې چي: ډېروخت له ګټي اخیستلوڅخه په خوړلوتعبیر شوی وي ځکه چي هغه شامل اومهم دی اوپه آیت شریف کي دکسب اوسبب استحباب شته اوله توکل سره منافي نه دی یووخت حضرت عمر رضی الله عنه په یوټولی خلګوتېربدواوورڅخه یې وپوښتل تاسي څوک یاست؟ هغوی وویل: موږ متوکلین یوعمررضی الله عنه ورته وویل: چي تاسومتوکلین نه

(1) خازن ۱۳۲/۴ - الوسي ۱۳/۲۹
(2) مختصرابن کثیر ۵۲۸/۳

بلکه متواکلین یاست متوکل هغه څوک دی چي دانې تخم په ځمکه کي وشیندي اوبیاپه الله توکل وکړي (١) ﴿ وَإِلَيۡهِ ٱلنُّشُورُ ﴾ اوخاص دغه (الله) ته بیاستاسي راپورته کېدل دي (پس له مرګه) لپاره دحساب اوجزاء، له دې وروسته الله دمکې کفارچي درسول الله تکذیب یې کاوو داسي وېروي فرمایي: ﴿ ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ ﴾ آیاډاډه شوي یی تاسي له هغه (الله) څخه چي په آسمانونوکي دی (په زعم ستاسي) چي راپورته به کړي پرتاسي باندي ځمکه (اوپکي ډوب به موکړي وروسته له هغه چي درته پسته کړي یې وه اوتاسي یې په اطرافوکي ګرزېدلاست؟ ﴿ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ﴾ بیابه (ناڅاپه) هلته بیاداځمکه ولړزېږي (په سخت لړزېدلوخوځېدلوباندي، امام رازي لیکي: معناداچي الله به ددوی ډوبېدلو په وخت کي ځمکه و لړزوي اوپردوی به راپورته شي دوی به ډوب کړي دوی به پکي درومي اوځمکه به ورباندي لړزېږي تر څوچي اسفل السافلین ته ورسېږي(٢) ﴿ أَمۡ أَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبٗاۖ ﴾ (آیامأمون ډاډه شوي یی تاسي له هغه (الله) څني چي په آسمانونوکي دی(په زعم ستاسو) چي ونه لېږي په تاسي باندي کاڼي ویشتونکی باد) یعني آیاتاسوله هغه العلي القدیرذات څخه بېغمه ډاډه یاست چي په تاسي به کاڼي له آسمانه ونه اوروي لکه چي په قوم دلوط علیه السلام اواصحاب الفیل یې واورول؟! ﴿ فَسَتَعۡلَمُونَ كَيۡفَ نَذِيرِ ﴾ (نوژردی چي پوه به شی تاسي چي څرنګه وو وېرول زما؟) یعني تاسوبه د عذاب دلیدلوپه وخت کي وپوهېږی چي دروغجن ګڼونکوته زماوېرول اوعذاب څنګه دی ؟ په دې کي وعیداوتهدیدنغښتی دی اصل یې(نذیري)دی اویاء یې لکه(نکیر) حذف شوي دآیتونودپیل مراعات شوی دی ﴿ وَلَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ ﴾او خامخاپه تحقیق دروغجن کړي وو(کفاروخپل انبیآء) چي پخوا له دغو(کفارودمکې) څخه وو(لکه قوم دنوح ،عاد، ثمود، اوامثال یې دغه وینادرسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ډاډینه او د مشرک قوم لپاره یې تهدیددی ﴿ فَكَيۡفَ كَانَ نَكِيرِ ﴾ نو څرنګه وو انکاردعذاب زما؟(پردوی باندي آیا هغه خورا سخت او هیبتناک نه وو؟ وروسته له دې چي دوی یې په خسف اوکاڼي ویشتلووېرول نوددې تنبیه یې ورته وکړه چي دوی دې له مرغانوڅخه عبرت واخلي چي الله جل جلاله یی په څومره اتقان او محکم والي خلقت فرمایلی اودخپلوګماني معبودانو کمزورتیاته دي وګوري چي دهیڅ شمرې نه دي نوفرمایي ﴿ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صَٰٓفَّٰتٖ وَيَقۡبِضۡنَۚ ﴾ آیانه ګوري دوی مرغانوته (په هوا کي) له پاسه (دسرونو) ددوی (خپروي پرانیزي وزرونه اوټولوي (وزرونه خپل کله چي په هواالوزي؟ آیاعبرت ترې نه اخلي؟) اوداچي غالبًاوزرونه یې پرانیستي وي اودغه لکه چي ثابت وي نویې داسم په کلمه ور څخه تعبیروکړ(صافات) یې وویل او څرنګه کي ټولول دوزرونونوی نوی (متجدد) وي نویې په (یقبضن) دفعل په کلمه سره

(١) الوسي تفسیر ١٥/٢٩
(٢) کبیرتفسیر ٧٠/٣٠

تعبیروفرمایو. په التسهیل کي لیکي: که څوک دا پوښتنه کوي چي د (صافات) سره سم (قابضات) یې ولي نه راوړ؟ ځواب داچي دوزرونوغوړول په الوتلوکي داسي اصل اوداهمیت وړدی لکه په لامبو وهلوکي چي د اندامونوغزول وي ځکه یې داسم فاعل په لفظ سره ورڅخه تعبیروکړچي په دوام او کثرت باندي دلالت وکړي اود وزرونوټولول خو مرغان داستراحت او مرستي ترلاسه کولولپاره کوي ځکه یې د لړوالي له امله دفعل په صیغه راوړل(۱) ﴿مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ﴾ نه نیسي نه ساتي دوی (په هواکي له پرېوتلوڅخه) مګر خورحمن (یې ژغوري په رحمت او قدرت خپل سره چي رحمت یې ګردوکائناتوته شامل دی، امام رازي لیکي: معناداچي دهغوی دروندوالی اوغټ بدنونه ددې امکان نلري چي پرته دالله له ساتلودي په هواکي له رالوېدلو وژغورل شي دغه دالله له لوري هغوی ته الهام دی چي څرنګه دي خپل وزرونه غوړوي راټولوي اودغه ددوی دمنفعت لپاره درحمن ذات له لوري رحمت دی(۲)﴿إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيْءٍۭ بَصِيرٌ﴾ بېشکه هغه (الله) په هر څېزباندي بیناښه لیدونکی دی) یعني پوهېږي چي څرنګه خلق اوابداع دخپل حکمت له غوښتني سره سم ترسره کړي، ورپسې مشرکان په هغو عبادتونوچي دوی یې دخپلوداسي معبودانوکوي چي نه ګټه رسوي نه هم اوري داسي ترټي او توبیخ ورته کوي فرمایي ﴿أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ الرَّحْمَٰنِ﴾ آیاڅوک دی هغه (ذات) چي هغه لښکرستاسي شي کومک مرسته وکړي له تاسي سره بې له رحمانه؟ (هیڅوک مددګار نشته) ابن عباس رضی الله عنهماوایي: معنا دا چي که زه ستاسي دعذاب اراده وفرمایم څوک به موله ماڅخه خلاص کړي اوستاسي مرسته به وکړي؟ ﴿إِنِ الْكَافِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ﴾ (ندي کافران مګر خوپه غرور غولېدلوکي دي) یعني ندي کافران په دې عقیده اوباورکي چي د دوی معبودان ګټه اوتاوان رسوي مګرپه سترجهالت اوروښانه ګمراهي کي دي له دې امله چي خیالات (اوهام) یې حقائق ګڼلي ځکه نو په بتانوباندي تېروتلي دي ﴿أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُۥ﴾ آیاڅوک دی هغه (ذات) چي رزق در کړي تاسي ته؟ که چېري بند کړي (الله) رزق خپل(هیڅوک) موله الله پرته رازق نشته، خطاب په دواړه آیتونوکي کفاروته د توبیخ په توګه دی چي هغوی تهدید کړي اودلیل ورباندي ودروي(۳)﴿بَل لَّجُّوا فِي عُتُوٍّ وَنُفُورٍ﴾ بلکه ننوتلي اومحکم شوي دي دوی په سرکشي، عناداوتېښته نفرت کي (له حقه او ایمان څخه) ورپسي الله دمؤمن اوکافر لپاره داسي مثال راوړي فرمایي ﴿أَفَمَن يَمْشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِي سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ (آیاپس هغه څوک چي نسکورځي په خپل مخ باندي ښه لار موندونکی وي یاهغه څوک چي ځي برابرسم په لاري سمي باندي) یعني آیاهغه څوک چي سرځرولی په لاره درومي لاره نهویني لکه ړوندهره شېبه لوېږي یاخېږي دغه به سم لاره پیداکونکی وي اوکه هغه چي سم په ولاړه په

(۱) التسهیل ۴/ ۱۳۶
(۲) کبیرتفسیر ۳/ ۷۷
(۳) خازن تفسیر ۴/ ۱۳۶

لاره درومي خپله لاره ويني اوګام په ګام نه لوېږي څکه چي په رڼه لاره سم روان وي؟ مفسرين کرام وايي چي داهسي مثال دی چي الله دکافراومؤمن لپاره بيان کړی دی نو کافرلکه ړوندلاروی بې سترګو په ړنده لاره روان وي لاره ورته نه معلومېږي تيندکونه خوري اوپرزي پرمخي لوېږي دمؤمن مثال لکه دهغه سم روغ بيناسړي دی چي په روښانه لاره سم سيخ روان وي دغه ددوی په دنياکي مثال دی اودغسي به ددوی دواړوحال په آخرت کي هم وي مؤمن به سم سيده راپاڅي اوپه صراط المستقيم به روان وي کافربه پرمخ روان راپاڅي اودوزخ ته به درومي قتاده وايي: کافرپه دنياکي په ګناهونوپرمخي نسکوروو نوالله په مخ راپاڅاوو اومسلمان په روښانه دين تګلاره درلوده نوالله دمحشرپه ورځ په سمه لاره راپاڅاوو(۱) اوابن عباس رضی الله عنه وايي چي: دغه دهغه چالپاره چي دضلالت اوياهدايت لاره ونيسي يومثال دی (۲) وروسته الله تعالی دوی ته دخپلوسترو نعمتونو يادونه کوي ترڅودوی دخپل کفراوشرک بدي

وپېژني نو فرمايي ﴿ قُلۡ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَكُمۡ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۖ ﴾ ووايه (ای محمده !) دغه (الله) هغه ذات دی چي پيداکړي يې يی تاسي درکړي او ګرزولي يې دي تاسي ته غوږونه (دحق اورېدلو لپاره) اوسترګي (دحق ليدلولپاره) اوزړونه (دحق پېژندلولپاره) يعني ای محمد ﷺ ! دوی ته ووايه چي الله جل وعلاهغه ذات دی چي تاسوېې له عدم څخه وجودته را ايستلي ياست اوتاسوته يې دغومره نعمتونه درکړي لکه غوږونه سترګي اوزړونه اوپه ځانګړي توګه يې دغه نعمتونه ځکه يادکړل چي دغه

دعلم اوفهم اسباب دي ﴿ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴾ (تاسي ډېرلږ شکر وباسی) (۳) يعني تاسوپه دغوډېرو نعمتونوباندي چي شمېرېې نشي کېدای ډېرلږشکرکاږی. طبري ليکي: معناداچي تاسوخپل په دغوډېرونعمتونوباندي لږشکرکوی ﴿ قُلۡ هُوَ ٱلَّذِي ذَرَأَكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ و وايه (ای محمده دوی ته) چي دغه

الله هغه (ذات) دی چي پيداکړي (خواره کړي) يې يی تاسي په ځمکه کي ﴿ وَإِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴾ اوخاص ده ته

به راټول کړی شی تاسي (لپاره دحساب اوجزاء) ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴾ او وايي دغه (کفارمؤمنانوته په تمسخرسره) کله به وي داوعده (دحشر) که چېري يی تاسي صادقان ربښتيني (په دغه

ويناکي نوموږېې دراتلوپه مهال پوه کړئ) ﴿ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ ووايه (ای محمده ! دغومنکرانوته) بېشکه (ددې خبري) علم (چي قيامت به کله قائمېږي) په نزددالله دی (له الله پرته بل چاته خبرنشته)

﴿ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴾ اوبېشکه (خبره داده چي) زه وېرېدونکی يم ښکاره (چي خلګ دالله له عذابه وېروم ترڅوچي د الله دحکم امتثال وکړی ويې منی ، بياالله دمشرکانوحال پدغه بده ورځ کي داسي بيانوي

---

(۱) ابن کثيرليکي دايومثال دی چي الله دکافراومؤمن لپاره بيان کړی دی دکافرمثال دګمراهي له حاله سره دهغه چاپه څېردی چي کوږ نسکورپه مخ باندي روان وي نه پوهېږي چي په کوم لوري درومي اوياڅرنګه څي؟ هغه حيران لالهاند وي، اومسلمان بيالکه هغه څوک چي سم ولاړپه سيخه لاره روان وي آياکوم يوددوی به سمه لاره موندونکی وي دغه که هغه؟ ابن کثيرمختصر۳ / ۳۰.

(۲) ابن عطيه ليکي چي ددې څخه مقصددشکرنفي ده عرب له نفي څخه په قلت تعبيرکوي مثلاوايي: هذه الارض قلماتنبت) يعني دغه ځمکه ده چي هيڅ بوټی نه زرغونوي. البحر۸ / ۳۰۳.

(۳) الطبری.

﴿فَلَمَّا رَأَوۡهُ زُلۡفَةٗ﴾ پس کله چي ووينې دوی هغه (عذاب قيامت) د برنژدې ﴿سِيٓـَٔتۡ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ (نو بد شکله توربه شي مخونه دهغو (کسانو) چي کافران شوي دي) يعني ددوی په مخونوبه دخفگان ،غم او حسرت نښې نښانې څرگندې شي او ذلت خواري به وربانديې خوره شي. په البحرکي راوړي: معنادا چي دعذاب ليدل به ددوی په مخونو کي دغم اوخفگان نښې رادبره کړي لکه چي يوسړی وژلوته بېول کېږي([1]) ﴿وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِي كُنتُم بِهِۦ تَدَّعُونَ﴾ اووبه ويل شي (دوی ته) داهمغه (عذاب) دی چي وی تاسوچي دغه موژرغوښتلو (په دنيا کي) يعني پرښتې به دوی ته دتوبيخ اوتبکيت په توگه ووايې چي داهغه عذاب دی چي تاسوپه دنيا کي دروغ گڼل اودملنډواواستهزاء په ليکه به مو ژرغوښتل ﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَهۡلَكَنِيَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِيَ أَوۡ رَحِمَنَا﴾ ووايه (ای محمده دغومنکرانوته) آياوينی خبرراکړئ تاسي ماته که چېرې هلاک مې کړي الله او هغه څوک چي له ماسره دي (لکه چي تاسي ددې قصدکړی دی) يا رحم وکړي (الله) پرموږباندې(په طول دعمرسره) ﴿فَمَن يُجِيرُ ٱلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ﴾ (پس څوک دی چي وبه ژغوري خلاص به کړي کافران له دردناکه عذابه څخه؟) يعني تاسوبه څوک له دردناکه عذابه وژغوري ؟دلته د (الکافرين) دلفظ اينبودل (يجيرکم) پرځای ددې لپاره راغلی چي ددوی تشنيع وکړي اوکفرور باندې تسجيل وکړي مفسرين کرام ليکي: کفاروبه درسول الله صلی الله عليه وسلم او مؤمنانودهلاکت آرزوکوله نوالله جل جلاله رسول الله ته امروکړچي دوی ته ووايې چي زمااو مسلمانانوله هلاکت څخه تاسوته څه گټه رسېږي؟ اوبيابه تاسي څوک له دردناک عذاب څخه و ژغوري ؟آيادغه بتان به تاسي له دردناک عذاب څخه خلاص کړي؟([2]) ﴿قُلۡ هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيۡهِ تَوَكَّلۡنَا﴾ووايه (ای محمده دغومنکرانو ته الله) رحمان دی چي ايمان موراوړی دی پرهغه (رحمان) باندې اوپرهغه (رحمان) باندې موږتوکل کړی دی(په ټولوکارونوکي ،توکل په مال اوسړيونه کوو) ﴿فَسَتَعۡلَمُونَ مَنۡ هُوَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ﴾ نوژربه پوه شی تاسي په (وخت دليدلودعذاب کي) چي څوک دی هغه چي لوېدلی دی)په گمراهي ښکاره کړي؟(موږيواوکه تاسو؟ پدې کي دمشرکانولپاره تهديدنغښتی دی) ﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُمۡ إِنۡ أَصۡبَحَ مَآؤُكُمۡ غَوۡرٗا﴾ ووايه (ای محمده دغومنکرانوته) آياوينی خبرراکړئ تاسي ماته که چېرې(کهيځ) وگرزي اوبه ستاسي ښکته (په ځمکه کي) ژورې ننوتلي (چي تاسوبې دراايستلوتوان نلری) ﴿فَمَن يَأۡتِيكُم بِمَآءٖ مَّعِينِۭ﴾ نوڅوک دی چي راولي تاسي ته اوبه رواني شفافي رڼې پاکي جاري په ځمکه ؟آياله الله پرته بل څوک يې درته راايستلای شي؟ نوبياولي له خالق رازق الله سره نوربتان شريک نيسی؟!

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته لنډيزيې دادی:

([1]) البحر ٨/٣٠٨

([2]) کبيرتفسير ٣٠/٧٢

۱ – دطباق صنعت چي د ﴿ ٱلْمَوْتَ.. وَٱلْحَيَوٰةَ ﴾ او د ﴿ وَأَسِرُّواْ.. أَوِ ٱجْهَرُواْ ﴾ او د ﴿ صَـٰٓفَّـٰتٍ.. وَيَقْبِضْنَ ﴾ ترمينځ شتون لري

۲ – دموصول راوړل د تعظيم او تفخيم لپاره لکه ﴿ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ ﴾ يعني الله لره پاچهي، سلطان او په کائناتو کي د تصرف واک او ځواک دی.

۳ – داطناب صنعت د جملې په تکرار سره چي تنبيه او تذکير زيات کړي لکه ﴿ فَٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ... ثُمَّ ٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ ﴾ او داسي ﴿ مَاكُنَّا فِىٓ أَصْحَـٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴾ او ﴿ فَسُحْقًا لِّأَصْحَـٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴾.

۴ – انکاري استفهام د توبيخ او تقريع لپاره لکه ﴿ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ ﴾ ؟

۵ – د مقابلې صنعت چي فرمايي ﴿ وَلِلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ﴾ چي مقابله يې کړي په دې کلام سره چي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴾ او دا هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

۶ – مکنيه استعاره هلته چي راځي ﴿ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلْغَيْظِ ﴾ جهنم يې له سخته ايشېدلو څخه له هغه انسان سره مشابه کړچي په دښمن باندي سخت قهرېدونکی وي نژدې وي چي له زياته قهره او غصې وچوي مشبه به يې حذف کړي او دهغه له لوازمو څخه چي سخت قهردی، د مکنيې استعارې په توګه راوړی دی.

۷ – تمثيلي استعاره لکه داچي ﴿ أَفَمَن يَمْشِى مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِى سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ او دغه د تمثيل په توګه چي مؤمن يې له هغه چاسره چي سم ولاړ په سمه لاره درومي او کافرېې بياله هغه پرمخي نسکورسره چي دوزخ ته ځي مثال راووړ څو مره له خونده ډکه استعاره ده.؟(!)

۸ – مرصع سجع چي د آيتونو د پيل مراعات کوي لکه ﴿ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴾ ﴿ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴾ ﴿ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍۭ بَصِيرٌ ﴾ او يا داچي ﴿ إِنِ ٱلْكَـٰفِرُونَ إِلَّا فِى غُرُورٍ ﴾ ﴿ بَل لَّجُّواْ فِى عُتُوٍّ وَنُفُورٍ ﴾ ترپايه پوري چي دغه مرصع سجع هم په قرآنکريم کي ډېره ترسترګو کېږي او خورا اغېزمنه ده.

دالله جل جلاله په مرسته دالملک سورت د تفسيرژباړه بشپړه شوه

***

د (القلم) سورت مکي دی او دوه پنځوس آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالقلم سورت مکي دی او دعقيدې او ايمان اصول ښيي په دغه سورت کي درې بنسټيزي چاري راځي چي هغه:

أ - درسالت موضوع او هغه شکوک او شبهات دي چي دمکې کفارو به دمحمدبن عبدالله ﷺ درسالت او دعوت په هکله خپرول

ب - دبڼ دخاوندانو کيسه او دهغه چابرخه ليک چي دالله دنعمتونو کفران کوي

ج - آخرت او دهغه کړاوونه او هلته چي دمؤمنانو او کفارو ددواړو ډلو لپاره الله تعالی څه تيار کړي

خودسورت محورکوم چي سورت ورباندي راتاوېږي دمحمدصلی الله عليه وسلم دنبوت اثبات دی.

سورت درسول الله صلی الله عليه وسلم په سترمنزلت اومقام باندي قسم اخلي دهغه شرافت اوقدرستايي اوله هغه څه څخه کوم چي مشرکانو به ورباندي تورن کاوو درسول الله برائت څرګندوي هغوی به رسول الله ته لېونی وايو همداسي درسول الله عليه السلام دسترواخلاقو اوچتوصفاتو يادونه کوي چي ﴿ نٓ ۚ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ، مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ ، وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ، وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾ دآيتونو ترپايه

وروسته درسول الله دبلني او دعوت په وړاندي دکفارو دريزښکاره کوي او بيا هغه عذاب او نکال چي ددوی لپاره چمتو دی راوړي فرمايي ﴿ فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ ، وَدُّوا۟ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ، وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ﴾ دآيتونو ترپايه.

بيا دمکي کفارو دهغه کفران په هکله چي دالله دنعمتونو په مقابل کي يې درلود کوم چي درسول الله ﷺ بعثت ترګردو سترنعمت دی ددوی لپاره هغه دبڼ دخاوندانو مثال راوړي کوم چي ښايسته دونو ميوو باغ يې درلود خو دوی دنعمت شکرادانکړاو دفقيرانو او مساکينو په حق يې خېټه واچوله نو الله د دوی باغ وسوځاوو او ددوی کيسه يې دعبرت اخيستونکو لپاره سبق کړه ﴿ إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا۟ لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ، وَلَا يَسْتَثْنُونَ ، فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُونَ ، فَأَصْبَحَتْ كَٱلصَّرِيمِ ﴾ دآيتونو ترپايه.

وروسته سورت دمؤمنانو او کفارو ترمينځ دقرآنکريم په اسلوب پرتله کوي ترڅو ترغيب او ترهيب يو پربل پسي راشي ﴿ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ، مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴾ دآيتونو ترپايه.

سورت دقيامت حالات او کړاوونه او دمجرمينو تم ځای (موقف) داسي ښيي چي دوی ته به وويل شي رب العالمين ته سجده ولګوي مګروبه نکړای شي فرمايي: ﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴾.

په آخرکي سورت په هغه حکم چي رسول الله ته دمشرکانو له لوري په ځوراوکړولو دصبرلپاره صادرشوی پای ته رسېږي او هغه ته مار بيننه کوي چي دهغه تکليف او ځورونی په وړاندي کوم چي دده

دبلني اودعوت په لاره کي دمشرکانوله خواورسره مخامخ کېږي بې صبري ونکړي لکه چي له يونس
عليه السلام څخه پېښه شوه چي قوم بې پرېښوداوهغه په سمندرکي دسفرکولولپاره په بېړۍ کي
سپورشوفرمايي ﴿ فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴾ دآيتونوترپايه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ نٓ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ (١) مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ (٢) وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ (٣) وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ
(٤) فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ (٥) بِأَييِّكُمُ ٱلْمَفْتُونُ (٦) إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ (٧)
فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ (٨) وَدُّوا۟ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ (٩) وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ (١٠) هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ (١١) مَّنَّاعٍ
لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ (١٢) عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ (١٣) أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ (١٤) إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ
ٱلْأَوَّلِينَ (١٥) سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلْخُرْطُومِ (١٦) إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا۟ لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ (١٧) وَلَا يَسْتَثْنُونَ (١٨)
فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُونَ (١٩) فَأَصْبَحَتْ كَٱلصَّرِيمِ (٢٠) فَتَنَادَوْا۟ مُصْبِحِينَ (٢١) أَنِ ٱغْدُوا۟ عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰرِمِينَ
(٢٢) فَٱنطَلَقُوا۟ وَهُمْ يَتَخَٰفَتُونَ (٢٣) أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا ٱلْيَوْمَ عَلَيْكُم مِّسْكِينٌ (٢٤) وَغَدَوْا۟ عَلَىٰ حَرْدٍ قَٰدِرِينَ (٢٥) فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوٓا۟ إِنَّا لَضَآلُّونَ
(٢٦) بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ (٢٧) قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ (٢٨) قَالُوا۟ سُبْحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ (٢٩) فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ
بَعْضٍ يَتَلَٰوَمُونَ (٣٠) قَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ (٣١) عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ (٣٢) كَذَٰلِكَ ٱلْعَذَابُ وَلَعَذَابُ
ٱلْءَاخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ (٣٣) إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ (٣٤) أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ (٣٥) مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ
(٣٦) أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ (٣٧) إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ (٣٨) أَمْ لَكُمْ أَيْمَٰنٌ عَلَيْنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ
(٣٩) سَلْهُمْ أَيُّهُم بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ (٤٠) أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ فَلْيَأْتُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ (٤١) يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى
ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ (٤٢) خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ وَقَدْ كَانُوا۟ يُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمْ سَٰلِمُونَ (٤٣) فَذَرْنِى وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا
ٱلْحَدِيثِ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ (٤٤) وَأُمْلِى لَهُمْ إِنَّ كَيْدِى مَتِينٌ (٤٥) أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ (٤٦) أَمْ
عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ (٤٧) فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ (٤٨) لَّوْلَآ أَن تَدَٰرَكَهُۥ نِعْمَةٌ
مِّن رَّبِّهِۦ لَنُبِذَ بِٱلْعَرَآءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ (٤٩) فَٱجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَجَعَلَهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ (٥٠) وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَٰرِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا۟
ٱلذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجْنُونٌ (٥١) وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ (٥٢) ﴾ القلم: ١ - ٥٢

لغتونه:

(يسطرون) چي دوى بې ليکي (سطرالعلم) معناعلم بې په قلم وليکل (ممنون) غوځ (پرېکړى) شوي (عتل) سخت زړه، شريراوله (عتل) څخه اخيستل شوى چي کشولوته وايي لکه (خذوه فاعتلوه) په

الصحاح کي وایې چي: په زوره کشول دعتل معناده (١)(زنیم) په یوقوم پوري تړل شوی چي دهغوی څخه نه وي، هغه چاته وایې چي پلارېې معلوم نه وي شاعروایې: زنیم لیس یعرف من ابوه * بغی الام ذوحسب لئیم. هغه حرامزاده دی پلارېې نه دی معلوم مورېې بې لاري اوخپلوان یې لئیمان بخیلان دي (صارمین) پرې کونکي لانبونکي(حرد) قصداوعزم(زعیم) کفیل اوضامن (مکظوم)ډک له غمه.

تفسیر:

﴿ نٓ ۚ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ﴾ (نون) له مقطعاتو توروڅخه دی چي په قرآني اعجازباندي دتنبیه لپاره راوړل شوي) (٢) قسم دی په قلم اوپه هغه څه چي دوی یې لیکي (له علوموا ومعارفوڅخه څکه چي قلم دڅېي ورور دی اوپه بندګانو باندي دالله یوسترنعمت دی یعني قسم دی په قلم اوهغه څه چي کاتبان لیکوالان یې لیکي په رښتنولي دمحمدصلی الله علیه وسلم چي هغه له هغه څه نه چي مجرمین ورته دناپوهي اولېونتوب نسبت کوي سالم اوروغ دی، داچي په قلم اولیکنه قسم راغلی ددې لپاره تر څو چي دلیک اولوست فضیلت په ډاګه کړي چي انسان یې له ګردومخلوقاتوڅخه ددغه قلم په نعمت نازولی ترڅو چي دزړه خبري په لیکنه ښکندي کړي ﴿ عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾ دقلم د شرافت همدابس دی چي الله ورباندي په دغه سورت کي قسم اخیستی ترڅوچي دلیکوالانواوپوهانو تمجید اوستاینه وشي څکه چي دقلم په واسطه هم دغسي لکه دژبي بیان کېږي اودقلم په ذریعه علوم اوفنون خوندي کېږي ابن کثیروایې چي دالله له دې ویناڅخه چي فرمایي ﴿ نٓ ۚ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ﴾ دقلم جنس مراددی هغه قلم چي ورباندي لیکنه کېږي اودغه قسم اولوړه دالله له لوري خلګوته تنبیه ورکول دي چي دغه قلم دالله له لوري پردوی یوانعام دی چي دلیک زده کړه یې ورکړي کوم چي ورباندي علوم ترلاسه کېږي (٣)﴿ مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ ﴾ (چي نه یې ته (ای محمده!) په نعمت (نبوت انعام) دربّ خپل سره لېونی) یعني ای محمده ته دالله په هغه نعمت، فضل چي نبوت یې درکړی لېونی نه یې لکه چي جاهلان وایې ته الحمدلله هوښیارېې هسې نه لکه چي دوی وایې چي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِى نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ ﴾ (الحجر:٦) ابن عطیه وایې چي دغه دقسم څواب دی اوداقول چي ﴿بِنِعْمَةِ رَبِّكَ﴾اعتراض دی لکه چي ته یوچاته وایې چي ته الحمدلله فاضل عالم یې (٤)﴿ وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ﴾(اوبېشکه دی خاص تاله خامخا اجربدل ثواب بې انتهاء) یعني اوتاله په هغه تکالیفواو خورونو چي دالله دتبلیغ په لاره کي درته ورسېدل بشپړثواب دی چي انقطاع یې نشته﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾اوبېشکه ته چي یې

---

(١) الصحاح دعتل ماده.

(٢) ددې تحقیق دالبقرة سورت په پیل کي وګوره!.

(٣) مختصرابن کثیر ٣/ ٥٣٢

(٤) البحرالمحیط ٨/ ٣٠٧ ابوحیان لیکي چي په آیت شریف کي دنبوت ددعوې په رښتنولي باندي غوښ دلیل شته څکه چي نعمت درسول الله په حق کي ښېڅي ښکاره اوڅرګند ووچي ښکلی فصاحت، بشپړعقل، ښایسته خویونه اواخلاق اوټول سپېڅلي صفات یې لرل

هرومروپه خويونولويوبي (په تحقيق سره الله په تاكي سترصفات اوفاضل كمالات جمع كړي څومره سترشرافت دى چي هيڅ انسان دغي مرتبې ته رسېدلاى نشي الله رب العزت خپل پيغمبر (محمدصلى الله عليه وسلم پدې صفت سره ستايې چي) ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾ اودهغه له خويونوڅخه حلم وو علم وو حياء وه زيات عبادت اوسخاوه صبروواوصدق وو,شكروو تواضع وه زهدوو رحمت اومهرباني وه شفقت ، امانت ، معاشرت اونيک اخلاق وو اوداسي نورښايسته ښكلي خويونه اواخلاق شاعرڅومره ښه ويلي چي:

اذ الله أثنى بالذى هوأهله * عليک فمامقدارماتمدح الورى.

كله چي الله له خپله شانه سره سمه ستاشناويلي نوبيادنوروخلكودثناڅه قدر شته؟ ﴿ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ ﴾ (پس ژربه و وينې ته (اى محمده!) اودغه (منكران) به هم ووينې) يعني اى محمده ژردي چي ته به اوستاقوم اومخالفين دمكې كفاربه كله چي ورباندي عذاب نازل شي ووينې چي ﴿ بِأَييِّكُمُ ٱلْمَفْتُونُ ﴾ په كوم يوه له تاسي څخه لېونتوب دى؟ (آيالكه چي دوى وايي ته لېونى يې اوكه دوى لېوني دي چي له حق اوهدايت څخه يې غاړه غړولې ده ؟ قرطبي وايې چي دمفتون معناهغه دشيطان په واسطه لېونى دى. دلته دسورت دېره برخه دوليدبن مغيرة اوابوجهل په باب كي راغلي مشركانوبه ويل چي له محمدسره شيطان دى قصدبه يې اداووچي ګواكي هغه لېونى دى نوالله جل جلاله وفرمايل چي دوى به سباته ووينې چي لېونى څوک دى ؟ يعني هغه څوک دى چي شيطان يې عقل له سره بېل كړى او لېونتوب ته يې رسولى وي([2]) ﴿ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ ﴾ ببشكه رب ستاچي دى همغه ته دېرښه معلوم دى دى هغه څوک چي ګمراه شويد ى له لاري دده څخه ﴿ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴾ اوهمغه (الله) ته ښه معلوم دى لاره موندونكي(چي مؤمنان دي، دغه دپخواني لپاره تعليل اودوعداو وعيد لپاره تأكيددى لكه چي وايې په حقيقت كي دوى لېونيان دي ته لېونى نه يې ځكه چي دوى عقلونه درلودل خوورباندي ګټه يې نه اخيستله اونه يې په هغه لاره ليكه وچلول چي دوى وژغوري او نېكمرغي ورپه برخه كړي ﴿ فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴾ (نوته مه منه خبره ددروغجن كونكو) يعني ته د هغوكسانوچي ستادرسالت اوقرآن تكذيب كوي يعني دكفر اوضلالت دسردارانو كله چي دوى دي يوې چاري ته بولي خبره مه منه. امام رازي ليكي چي : دمكې دخلكو مشرانو محمد صلى الله عليه وسلم ته دخپلو پلرونوددين دمنلودعوت وركاوو الله

([1]) حضرات شيخين له انس رضى الله عنه څخه روايت راوړى چي هغه وايې: مالس كاله درسول الله صلى الله عليه وسلم خدمت وكړپه دې ټوله موده كي يې ماته دزجركلمه نه ده ويلي اونه يې هيڅكله دكوم كارپه هكله چي مابه كړى وو راته ويلي دي چي ولي دي كړى؟ اوياچي نه به مي كړى ووراته ويلي دي چي ولي دي نه دى كړى ؟ هغه ترګردوخلكودښواخلاقوخاوندوو مادرسول الله ترلاس پاسته ورېښم نه دي ليدلي اونه مي درسول الله تر خولم (عرق) خوشبوئي مشک اوعطرخوشبويه احساس كړى متفق عليه اوپه بخاري كي له حضرت عائشي رضى الله عنهاڅخه دپيغمبرعليه السلام دخويونوپه هكله وپوښتل شول هغې ورته وويل خويونه يې قرآن وو. يعني دقرآن خويونه اواخلاق يې خپل كړي وو.

([2]) القرطبي ۱۸/ ۲۲۹

جل جلاله له دغه دعوت منلو څخه منع کړ او دغه دالله له لوري ددوی دمخالفت لپاره راپاروونه او هڅونه ده([1]) ﴿ وَدُّوا۟ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ﴾ خوښوي دوی چي که ته نرمي کوې (له دوی سره) نو دوی به هم نرمي کوي (له تاسره) يعني ددوی دا خوښه ده چي ته ورسره نرمي وکړې او هغه چي دوی يې نه خوښوي پرېږدې نو دوی به هم له تاسره نرمي غوره کړي او بالمثل عمل ته به غاړه کېږدي . په التسهيل کي ليکي چي (مداهنت) هغي غوره مالي نرمي او مدارات ته ويل وايي چي په نه ښائېدونکي ځايونو کي ترسره شي، روايت کېږي چي کفارو نبي عليه السلام ته ويل که ته زموږ دمعبودانو عبادت وکړې نو موږ به ستا دمعبود عبادت وکړو نو دا آيت نازل شو([2]) ﴿ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ ﴾ نو ته مه منه (خبره) دهرډېر قسم خوړونکي (په حق او باطل هغه چي دالله دعظمت سپکتيا کوي) ﴿ مَّهِينٍ ﴾ سپک فاجر حقير ﴿ هَمَّازٍ ﴾ عيب ويونکي (غيبت کونکي) او په غيبت دخلکو غوښي خوړونکي پېغور ورکونکي او عيب لټونکي ﴿ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ ﴾ تلونکي په چغلي سره (دخلکو ترمينځ چي ديوه خبره بل ته وړي ترڅو يې په مينځ کي درز واچوي او همدغه فتنه ګر او چغلي ګردي په حديث شريف کي راځي (لايدخل الجنة نمام) ([3]) جنت ته چغلي ګر نه داخلېږي ﴿ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ ﴾ منع کونکی دخير (بخيل او ممسک چي د الله په لاره کي مال نه لګوي) ﴿ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴾ (له حده تېرېدونکی (په ظلم کي) ډېر ګنهګار بدخوی دغه اوصاف چي ﴿ حَلَّافٍ، هَمَّازٍ، مَّشَّآءٍ ،مَّنَّاعٍ ﴾ دي ګرد دمبالغې په صيغه راغلي ترڅو چي په کثرت دلالت وکړي ﴿ عُتُلٍّۭ ﴾ بدخوی سخت ويونکی (قاسي القلب او ناپوه) ﴿ بَعْدَ ذَٰلِكَ ﴾ وروسته له دې ټولو عيوبو (چي مخکي تېرشو) ﴿ زَنِيمٍ ﴾ حرامزاده (او دغه تر ټولو سخت عيب دی چي هغه په چا پسي تړل شوی اصلي پلاريې نه وي معلوم،مفسرين کرام وايي چي دغه دوليدبن مغيرة په هکله نازل شوی ځکه هغه په قريشو پسي ځان تړلی وو او قريش نه وو دهغه پلار مغيرة وليد له اتلس کلنۍ وروسته په زويوالي نيولی وو او تردې له مخه دوليد پلار چانه پېژانده ، ابن عبّاس رضی الله عنه وايي چې: هيڅوک الله په دغومره عيوبو نه دی ويشتلی لکه چي دغه (بدمرغه) يې ويشتلی داسي پېغور يې ورکړی چي هيڅکله ترې بېلېدونکی نه دی او چي پدې وروستني يې وستايو معنا دا چي کله نطفه پليته او فاسده شي نو بيا زوی هيڅکله هم سم نه وي او روايت کېږي کله چي آيت شريف نازل شو نو وليد خپلي مور ته راغی ورته ويل يې چي محمد زه په نهو صفتونو باندي ستايلی يم چي ګردما ته معلوم دي او په ماکي شته خو نهم صفت مقصدېي (زنيم) ووکه رښتيا راته ونه وايې په توره به دي ورمېږ غوڅ کړم هغې ورته وويل : ستا پلار رنځی (عنين) وو له ښځو سره کوروالی يې نشوای کولای زه په مال دولت وو بېرېدم نو مي له شپانه سره (جماع کوروالی) وکړه نو ته دهغه شپانه زوی يې ترهغو چانه پېژانده خو دا آيت شريف يې په

([1]) کبير تفسير ۳۰ /۸۳
([2]) التسهيل لعلوم التنزيل ۴ /۱۳۸
([3]) أخرجه مسلم

هکله نازل شو(١)﴿ أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ﴾ ددې لپاره چې دی وو خاوند دمال اوزامنو (نو یې دقرآنکریم په هکله هغه څه وویل چې وېې ویل هغه داسي انګېرله چې دغه پخوانی کیسې دي ، مناسب خوداوه چې دنعمت شکرېې اداکړی وای مګرهغه انکاروکړاوتکذیب یې څرګند کړ ﴿ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ کله چې ولوستل شي پرده باندي آیتونه (دقرآن) زموږ نو وايي: دانګلونه دي دپخوانیو (خلګو) یعني کله چې په دغه فاجر باندي قرآني آیتونه ولوستل شي نو هغه دملنډواواستهزآء په توګه وايي چې دغه دپخوانیو خلګو کیسې دي چې محمد له ځانه جوړي کړي اوپه الله پسي يې تړلي دي الله تعالی هغه ته په عذاب تهدید ورکوي ورته وايي ﴿ سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلْخُرْطُومِ ﴾ ژردی چې داغ به کېږدوده لره په پوزه (خلتم) باندي (تحقیراً) چې ترمرګه به وورباندي پېژندل کېږي داچې له پوزي څخه یې په خلتم تعبیروکړچې سپکاوی یې وشي ځکه چې خلتم دفیل اوخنزیروي نوکله چې دانسان پوزه له هغه سره تشبیه شي دغه دهغه نهایته سپکتیااوذلت دی لکه چې دانسان اندامونه دحیوان له اندامونوسره تشبیه شي. ابن عباس وايي: معناداچې پوزه به یې په توره نښاني کړو اوترڅوژوندی وي دغه نښه به ولري اوپه رښتیاچې دبدرپه ورځ یې پوزه په توره نښاني شوه (٢) امام فخر رازي لیکي څرنګه چې مخ په بدن کي ترټولو اندامونو دعزت خاونداوپوزه بیاپه مخ کي عزتمنه ده چې لوړتیالري ځکه نودوی هغه دعزت اوغیرت نښه وبلله چې (أنفة) يې ور څخه مشتق کړه اوهمداسي ذلیل په هکله وايي (رغم أنفه) نوپه پوزه داغ ورکول نهایته اذلال اواهانت دی ځکه چې په مخ باندي لادپېغورداغ عیب دی اوچې په پوزه وي داخو بېخي ستر عیب دی ولي به نه وي چې په مخ کي عزتمن ځای هم داپوزه ده (٣) ورپسې الله تعالی دباغ دخاوندانو کیسه رااخلي چې څرنګه الله ددوی دمېوواوکښتوفصلونه وسوځول ؟اودغه یې دمکي دکفاروپاره مثال راووړچې ﴿ إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ ﴾ بېشکه موږ وازمویل دغه (دمکي کفارپه کاختي سره) لکه چې ازمویلي وو موږ خاوندان دباغ) یعنی موږ دغه مکیان درسول الله په دعاسره په کاختي اولوړه وازمویل لکه چې دباغ خاوندان هغه چې قسماقسم مېوې پکې وې موږ ازمویلي وو موږ دمکې خلګ پدې مکلف کړل چې د نعمتونو شکر وکړي لکه چې دباغ خاوندان په شکرکولوازمویلي ووچې دفقیرانوبرخه دي ورکړي. مفسرین کرام لیکي چې: په یمن کي دیومسلمان سړي له صنعآءسره نژدې یوباغ ووچې پکې ډول ډول خرماوي مېوې اوکښتونه ووکله چې به یې مېوې ټولېدې اوکښت به یې رېبل کېدونوبه یې فقیران راوغوښتل اوپه پراخه پېمانه به یې هغوی ته ونډه ورکړه اواکرام عزت به یې وکړخوکله چې سړی وفات شونودغه باغ په ترکه کي دریوزامنوته پاتي شوهغوی وویل چې :اولادونه موزیات اومال لږدی دپلارپه شان موږ دغه مېوې دانې مسکینانوته نشو ورکولای لکه چې پلارمو ورکولې نوبې داسي وپتېیله چې چاته به هیڅ نه ورکوي اودغه مېوه به داسي وخت ټولوي چې څوک نه وي اوپدې یې لوړه واخیسته نو الله جل جلاله دشپې اور

---

(١) دجلالین تفسیراوپرهغه دصاوي حاشیه ٤ /٢٣٣

(٢) وګوره تفسیرکبیر٣٠ /٨٧

(٣) البحرالمحیط ٨ /٣١١

وریاندي راواستاوو وني يې وروسوځولې اومېوې يې له مينځه يوورې کله چي دوی سباون مهال خپل باغ ته ورغلل هلته يې ونه اومېوه ونه ليدله گمان يې وکړچي لاره يې ورکه کړي خو بيا ورته معلومه شوه چي همدغه ددوی باغ دی اوپدې وپوهېدل چي الله تعالی دوی ته عذاب ورکړ اوددوی په بدنيت يې وازمويل اوپداسي وخت کي پښېمانه اوتوبه گارشول چي هغه وخت تېرشوی اوگټه يې نه لرله (١) ﴿ إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ﴾ کله چي قسمونه وخوړل دوی ټولو چي هرومرو پرې به کړو مېوې دهغه باغ په اول وخت دسباکي (پخواله دې چي مسکينان راووزي) ﴿ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ﴾ اواستثناء يې ونکړه، انشاء الله يې ونه ويل (لکه چي دوی پخپله چاره باوري وو) ﴿ فَطَافَ عَلَيْهَا طَائِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَائِمُونَ ﴾ پس نازله شوه پردغه باغ يوه طواف کونکي (سوځونکي بلا) په شپه کي (له طرفه د) رب ستاحال داچي دوی ويده وو، کلبي وايي چي: چي دوی ويده وو الله له آسمانه اورورته راواستاوو هغه اوريې گردکښت اومېوې وروسوځولې ﴿ فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ﴾ پس ترگهېځ وختي پوري وگرزېدوهغه باغ لکه له بېخه رېبلی شوی کښت، ياتک تورلکه توره شپه) يعني دغه باغ او کښت لکه رېبلی اووچ تو کرتو کرشوی وو. ابن عباس رضی الله عنه وايي لکه چي توري ايرې غوندي گرزېدلی وودوی دخپلي گناه له امله دباغ له خيرښېگڼي څخه بې برخي شوي وو ﴿ فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ ﴾ بيايې يوبل ته دسباپه وخت کي ورغږکړ (چي له وعدې سره سم باغ ته ولاړشي) ﴿ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴾ چي سباله وخته ورشئ کښتوخپلوته که يی تاسي پرې کونکي (دمېوې اولو کونکي د کښت فصل) ﴿ فَانطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ ﴾ نو ولاړل دوی اودوی پخپل مينځ کي پټي خبري سره کولې ؛ تر څوچي مسکينان ورخبرنشي داسي يې ويل: ﴿ أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُم مِّسْكِينٌ ﴾ چي داخل نشي هرومرو هغه باغ ته نن ورځ پرتاسي باندي هيڅ مسکين محتاج اړسړی ﴿ وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ قَادِرِينَ ﴾ اوسهار لاړل په قصداوقدرت سره (باغ ته) حال داچي قادروو په منع دفقيرانو (پخپل زعم سره) ابن عباس رضی الله عنه وايي (علی حرد) معناپه قدرت اوقصدسره اوسدي وايي چي په قهراوغصه سره يې معناده حسن رحمه الله وايي چي معنايې په فقراواړتياسره دي(٢) خودابن عباس رضی الله عنه وينا ترگردو څرگنده ده ﴿ فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوا إِنَّا لَضَالُّونَ ﴾ بياهرکله چي وېې ليدهغه باغ (تک تورسوځېدلی) ويې ويل بېشکه موږ خامخالاره ورکه کړې ده (دغه زموږباغ نه دی، ابوحيان وايي: دغه ددوی هغه ويناوه چي لومړی باغ ته ور ورسېدل نودوی ته نااشناڅرگندشو ويل يې لاره موورکه کړې ده بياورته څرگنده شوه چي همدغه ددوی باغ دی خودالله دعذاب په نتېجه کي همداسي شوي نوپدې

---

(١) تفسير کبير ٣٠/ ٨٦

(٢) طبري وايي معنايې ترټولوغوره داده چي دوی سهاروختي په هغه چاره چي قصديې کړی وواوچمتووالی يې ښودلی اوپه تصميم يې نيولی ووتل اودغه دابن عباس ويناته ورته دی هغه چي موږهم غوره کړې ده.

وخت کي بې ووېل : (۱)﴿ بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ﴾ بلکه موږ پخپله محروم بې برخي شوي يو(له مېوې کښتونو دهغه څخه په سبب دمنع کولو دفقيرانو دغه موږ پخپله په ځان ودراوو. ﴿ قَالَ أَوۡسَطُهُمۡ أَلَمۡ أَقُل لَّكُمۡ لَوۡلَا تُسَبِّحُونَ ﴾ ووېل منځني بهتر(هوښيار) ددوی آياماتاسي ته نه وو ويلي ولي تاسي په پاکي الله نه يادوی؟ (چي سبحان الله ياانشاء الله وواياست په البحرالمحيط کي ليکي چي دوی بې وترټل اوتنبيه بې کړل چي دوی هغه دده ويناپه ډاګ واچوله اوکه چېري بې دالله يادکولای اويايې احسان منلای نودالله هغه حکم به يې چي له مسکينانوسره ښه کول دي پرځای کړي وای اودپلار په پله به روان شوي وای نوکله چي دوی دالله له ياده غافل شول اوداسي پخه اراده يې وکړه چي مسکينان به منع کوي نوالله جل جلاله دوی وازمويل (۲) امام رازي ليکي: کله چي خلګو دزکات دنه ورکولو عزم وکړ اوپخپل مال غره شول په خپل قوت تېروتل نومنځني دراېې خاوند هوښيار ورورېې ورته ووېل چي: ترعذاب راتلودمخه له دې ګناه څخه توبه وباسئ کله چي بې دباغ (بترحالت وليد نوروميي وينايې ورپه يادکړه دوی هم توبه ايستل پيل کړل مګرهغه وخت چي بصره تباه شوي وه ګټه بې نه درلوده. (۳)﴿ قَالُواْ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴾ و ووېل دوی پاکي ده رب زموږ لره بېشکه موږ ووپخپله ظالمان (په منع دفقيرانوکي) يعني دوی ووېل چي: بېشکه الله جل جلاله له ظلم کولوڅخه پاک دی بلکه موږ پخپله پرخپلوځانونوظلم کړی چي دمساکينوحق مونه ورکاوو﴿ فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَلَٰوَمُونَ ﴾ بيامخ واړاوو ځينودوی ځينو نوروته چي يوبل بې ملامتاوو(يوه به ووېل تاهمدغه رايه راکړه هغه بل به ووېل نه دغه ستارايه وه ته وې چي موږ دي له لوږي اوفقرڅخه وېرولواو دمال راټولولولپاره دي رغبت راکاووهمدغه ملامتي وه (۴)﴿ قَالُواْ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ ﴾ ويې ووېل دوی ای هلاک افسوس خرابي ده موږ لره بېشکه موږ ووله حده تېرېدونکي (چي فقيرانوته مو ونډه نه ورکوله اوپه الله موتوکل نه کاوو امام رازي واېي چي : ددې معناداده چي دوی خپله ګناه غټه وګڼله (۵)﴿ عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبۡدِلَنَا خَيۡرٗا مِّنۡهَآ ﴾ ښايي چي رب زموږبدل راکړي موږلره خيرغوره له دې نه (زموږدتوبې او دګناه داقرار په سبب باندي) ﴿ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ ﴾ بېشکه موږ رب خپل ته رغبت کونکي يو(يعني موږ دالله دعفوي ، فضل اواحسان هيله منديو ، دغه کيسه الله جل جلاله ددې لپاره راوړي چي موږ پدې وپوهوي چي دبخل اودزکات دنه ورکولو انجام تلف او ضياع دی کله چي في سبيل الله دلږڅه مال دنه ورکولو په سبب ټول ګرد مال له مينځه ځي اودالله غضب هم ورپسي وي ځکه نوالله له دې کيسې وروسته پسي فرمايي﴿ كَذَٰلِكَ ٱلۡعَذَابُۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴾ (همداسي راځي آفت عذاب

---

(۱) البحرالمحيط ۸/ ۳۱۳.
(۲) البحرالمحيط ۸/ ۳۱۳
(۳) کبيرتفسير۳۰/ ۹۰
(۴) روميي مرجع .
(۵) القرطبي ۱۸/ ۲۴۲

(په دنیاکي مخالفانو ته له حکم درب نه) او خامخا عذاب آفت د آخرت د هرلوی دی که چېري وي دوی چي پوهېدلای (په سختي د عذاب د آخرت نو مخالفت به یې نه وو کړی) یعني لکه دغه عذاب چي د باغ په خاوندانو نازل شوی وو همداسي به په قریشو باندي نازل شي. ابن عباس رضی الله عنه وایې چي: دغه مثال د مکې د خلګو لپاره دی کله چي بدرته راووتل لوړه یې واخیسته چي مکې ته به بیرته نه راستنېږي څو چي یې محمد او اصحابان نه وي وژلي ، هلته به دوی شراب څښي او ډمې به ورته ناڅي او سندري به بولي خو الله د دوی ګمان باطل کړ او دوی ووژل شول ، بندیان شول او تارپه تار دجګړې په ډګرکي مات شول لکه چي د باغ خاوندان پدې نمت (اراده) راووتل چي مېوه به ټولوي مګر ګمان یې وران شو او مقصد یې ترسره نشو (¹) وروسته الله جل جلاله د مؤمنانو حال له دې وروسته داسي بیانوي فرمایي:

﴿ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴾ بېشکه (له الله) وېرېدونکو پرهېزګارانو ته په نزد درب د دوی جنتونه ډک له نعمتونو دي (هسي نعمتونه چي د دنیاد نعمتونو په شان به ګډوډ نه وي) ﴿ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ آیا پس وبه ګرزوو موږ مسلمانان (حکم منونکي) په شان د مجرمانو ګنهګارانو ؟ (په خلاصي او ثواب کي بلکه نه یې ګرزوو استفهام د توبیخ او انکار لپاره دی) ﴿ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴾ څه شوي دي تاسو ته څرنګه حکم کوی تاسي؟ (چي خبره غوته کوی په برابري د مؤمن او کافر دغه خبره خو هوښیار سړی نه کوي) ﴿ أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ تَدْرُسُونَ ﴾ آیا له تاسي سره کوم کتاب شته چي په هغه (له آسمانه نازل شوي کتاب) کي تاسي داسي لولی ﴿ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴾ چي بېشکه تاسي لره دي په هغه (کتاب) کي خامخا هغه څه چي خوښوی یې تاسي، دغه جمله د (تدرسون) لپاره مفعول دی او دغه یو بل توبیخ دی مشرکانو ته چي دوی باطل ګمانونه کوي وایي که چېري بعث او جزاء هم وي نو موږ ته به هلته هم تر مؤمنانو ښه جزاء او ثواب راکول کېږي لکه چي په دنیا کي مو د سوکالي او راحت اسباب تر دوی زیات دي طبري لیکي چي دا د دغه قوم لپاره توبیخ او تقریع ده چي دوی به د باطل خبري کولې او په دروغجنو آرزوګانو به هیله من وو (²) ﴿ أَمْ لَكُمْ أَيْمَٰنٌ عَلَيْنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ آیا شته تاسي لره قسمونه پر (وعدود) موږ باندي چي رسېدلي وې ترورځي د قیامت پوري؟ ﴿ إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ ﴾ بېشکه چي شته تاسي ته هغه چي پرې تاسي حکم کوی (دغه یې ځواب دی ، ابن کثیر لیکي: معنا دا چي آیا له تاسو سره داسي ټینګي وعدې او معاهدې شته چي تاسو ته به هغه ستاسي له خوښي او غوښتني سره سم هرڅه درکول کېږي؟ (³) ﴿ سَلْهُمْ أَيُّهُم بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴾ پوښتنه وکړه له دوی نه چي کوم یو له دوی نه په دغه (حکم چي کوي یې) ضامن ذمه وار دی (دوی ته پدې کي یو ډول استهزآء او سخریه نغښتي ده چي دوی له عقله وتلي خبري کوي چي عدل او منطق یې نه

(¹) القرطبي ۱۸/ ۲۴۲
(²) طبري ۲۹/ ۲۳
(³) مختصر ابن کثیر ۳/ ۵۳۷

منې ﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ فَلْيَأْتُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴾ آيا شته دوی لره شريكان (په دغه دعوى كې په زعم (ددوى) نو رادې ولې هغه شريكان خپل كه چېرې دوى رښتيني وي (په خپله دعوى كې په التسهيل كې راوړي چې دغه د كفارو لپاره تعجيزدى مقصد دا چې كه چېرې تاسو سره شريكان وي چې په يوځه خواك اوواك لرې نو رابې ولې چې موږيې حال ووينو(۱) اوكله چې ددوى گمانونه يې باطل اوآرزوگانې يې

خوشې وبللې د آخرت دكړاوونوبيان يې پيل كړچې ﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ ﴾ (اوياد كړه) هغه ورځ چې بربنډوالى به وكړى شي له پنډۍ نه (اوسخت وخت به راشي دقيامت) يعني هغه سخته ورځ چې ديوې سختې چارې چې شدت اوهيبت يې تمام نلرې لوڅوالى به راشي(۲)ابن عباس رضى الله عنه وايې چې: دغه دقيامت ورځ ده چې دغم اوسختې ورځ ده قرطبي ليكي : څرنگه چې په هرسخت كاركې بدې

راغرلوته اړتياوې نودلته يې پنډۍ اوبربنډوالى يې د سختي په ورځ استعاره كړ﴿ وَيُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا

يَسْتَطِيعُونَ ﴾ او را وبه بللى شي دا(كافران) طرف دسجدې كولوته (دازموينت لپاره) پس توان به يې ونشي (سجدې كولوته)(ځكه چې ملابه يې سيخه يوطبق گرزېدلي وي په حديث شريف كې راځي: معنايې داده چې: ټول مؤمنين اومؤمنات به په سجده پرېوزي مگرهغه سړي چې په دنياكې به يې درياء

لپاره سجدې كولې دهغه ملابه سمه سيخه وچه پاتې كېږي اودسجدې كولو لپاره به نه كړېږي (۳)

﴿ خَٰشِعَةً أَبْصَٰرُهُمْ ﴾ حال دا چې ذليلې ښكته به وي (له شرمه) سترگې ددوى (چې پورته به يې نشي غړولاى)

﴿ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ﴾ راگيركړې به وي دوى ذلت خوارې ﴿ وَقَدْ كَانُوا۟ يُدْعَوْنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمْ سَٰلِمُونَ ﴾ اوبېشكه وو دوى (په دنيا كې) چې بلل كېدودوى طرف دسجدې كولوته اودوى به روغ رمټ وو(نوسجده به يې نه كوله)امام فخر رازي ليكي : دوى به هلته سجدې كولو ته دعبادت اومكلفيت له مخې نه رابلل كېږي بلكه دغه بلنه به ددوى دتوبيخ اوترټلولپاره وي چې ولې يې په دنياكې سجده نه كوله پدې وخت كې به الله ور څخه توان اوقدرت هم واخلي چې دسجدې كولووس به نلري څوچې حسرت اوندامت يې زيات

شي چې ولې يې په دنياكې سجده نه كوله چې هلته روغ رمټ هم وو ؟(۴) ﴿ فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ ﴾ پرېږده ما(اى محمده !) اوهغه څوک چې دروغ وايي په دې خبرې (قرآن) باندې (چې زه ستاانتقام ور

څخه واخلم دغه دتهديد اووعيد وروستنى پړاودى) ﴿ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (ژر دى چې و به نيسو موږ دوى ورو ورو له هغه ځايه چې دوى پرې نه پوهېږي) يعني ژر دى چې دوى به په نعمتونو كې داستدراج په توگه دهلاكت لورې ته پداسې ډول چې نه به پوهېږي ورسوم حسن رحمه الله وايي: ډېركسان په ځناويلوسره په امتحان كې راغلي اوډېركسان په ستراوپټوالي كې مغروره شوي او

(۱) التسهيل ۴/ ۱۴۰

(۲) القرطبي ۱۸/ ۲۴۹

(۳) داوړه حديث شريف يوه برخه متفق عليه.

(۴) كبيرتفسير ۳۰/ ۹۲

تېروتلي دي([1])امام رازي ليکي چې: استدراج معناداچي زينه په زينه يې عذاب ته ورنژدې کړي کله چې دوى يوه ګناه وکړي نوالله نعمت ورزيات کړي اواستغفارځني هېرشي نواستدراج دوى ته په نعمتونوکي نغښتى وي ځکه دوى خپل ځانونه ترمؤمنانو بهترګني اوپه حقيقت کي دغه ددوى دهلاکت سبب وي([2])﴿ وَأُمْلِي لَهُمْ ﴾ اوتال ورکوم دوى ته (عمرونه يې اوږدوم چي ډېري ګناوي وکړي) ﴿ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴾ بېشکه زماکيد(مکر) وارکلک دى (اوتدبيرپوخ دى) په حديث شريف کي راځي : الله تعالى ظالم ته وخت ورکوي ترڅوچي يې ونيسي بيايې هيڅکله خلاصون نه وي ورپسې رسول الله صلى الله عليه وسلم داآيت ولوست چي : ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ﴾ ([3])اوداچي الله خپل احسان (کيد) وباله لکه چي استدراج ونوماووځکه چي دکيداومکرپه بڼه کي دى هغه چي دوى ته پراخه روزي ، اوږدعمر، روغ بدن په ظاهرکي احسان خوپه باطن کي هلاکت اوعذاب دى ځکه چي مقصدورڅخه ددوى عذاب اوعقاب دى ﴿ أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴾ آياته غواړې له دوى څخه (په تبليغ درسالت)څه اجرمزدوري نودوى (هغه له زيان تاوان څخه درونه باركړى شوي دي ؟ (نوځکه مخ درڅخه اړوي بلکه نه يې غواړې)؟ غرض له دې څخه ددوى دايمان نه راوړلوپه هکله توبيخ دى ځکه پيغمبرعليه السلام له دوى څخه هيڅ مزدوري نه غواړي) خازن ليکي: معناداچي آيا ته له دوى څخه مزدوري تنخواغواړې چي پردوى باندي دغه بار درونډشي اوايمان نه راوړي؟ ([4])﴿ أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴾ آياشته په نزد ددوى علم الغيب پس دوى يې ليکي(له هغه څخه دغه حکم چي دوى ترمؤمنانوبهتردي؟) يعني آياددوى په مخ کي لوح محفوظ دى هغه چي علم الغيب پکې دى نودوى له هغه څخه راتقلوي چي دوى ترمؤمنانوغوره دي؟ نوځکه په کفراوطغيان باندي اصرار کوي دغه استفهام دانکاراو توبيخ لپاره دى ﴿ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ ﴾ نوصبرکوه حکم درب خپل ته (اى محمده ! په آزاراوځورددوى اودخپل رسالت چاري په مخ بوزه) ﴿ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ ﴾ نومه کېږه ته (په تنګدلي اوتلوار کي) لکه خاوندد(کب) ماهي (يونس بن متى عليه السلام) کله چي پخپل قوم باندي غصه شوځکه هغوى ايمان نه راووړنودوى يې پرېښودل اوپخپله يونس عليه السلام په بېړۍ کي سپورشواوبياماهي وخوړ اوهغه څه ورپېښ شول چي کيسه يې تېره شوې ده ﴿ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴾ کله چي غږيې وکړ (دماهي په ګېډه کي) له غصې ډک (غمجن) وو(داسي يې ويل: ﴿ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴾ (الانبياء: ۸۷) ﴿ لَّوْلَا أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ ﴾ که چېري نه وي داچي مونډلى وي ده نعمت

[1] قرطبي تفسير ۱۸/ ۲۵۱
[2] کبيرتفسير ۳۰/ ۹۲
[3] متفق عليه .
[4] دخازن تفسير ۴/ ۱۴۰

احسان له لوري د رب دده ﴿ لَنُبِذَ بِٱلْعَرَآءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴾ نو خامخا به پرې وتی وو (له ګېډې د ماهي نه) په سپېره ډاګ ډګر کي اودی به ملامت کړی شوی وو په هغه څه چي ترسره کړي يې وو ، خو الله جل جلاله د توبې ايستلو توفيق ورته عنايت کړ او ملامت نشو ﴿ فَٱجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَجَعَلَهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ پس غوره کړ دغه (يونس) لره رب دده (په نبوت سره) نو ګرزولی يې وو دی (له کاملانو صالحانو انبياوو څخه) ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: الله بيرته ورته وحی راواستوله اود خپل قوم لپاره يې سپارښت کونکی (شفيع) وټاکل(۱) ﴿ وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَٰرِهِمْ ﴾ (او بېشکه نژدې وو هغه کسان چي کافران شوي دي خامخا و به ښويوي تا (په ځمکه به دي وغورځوي) په خپلو سترګو سره) يعني نژدې دی چي کافران له سخته دښمني اوعداوته څخه تا په خپلو سترګو نظر کړي ابن کثير ليکي چي له آيته شريفه دا څرګندېږي چي د سترګو اغېزاو تاثير حق دی اودغه دالله جل جلاله په حکم وي په حديث شريف کي راغي چي: که ترالهي قدراو حکم يو څېز رومبی کېدلای شوای نود سترګونظر به شوی وای (۲) ﴿ لَمَّا سَمِعُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجْنُونٌ ﴾ هر کله چي واورېدو دوی قرآن (ستا له ژبي چي تالوستل) اووايي دوی (له سخته بغض اوکينې څخه) بېشکه دغه (محمد) لېونی دی (الله جل جلاله) ددوی په ردکي فرمايي ﴿ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴾ اوحال دادی چي نه دی دغه قرآن مګر خوذکر پند دی ټولو عالميانو لره (له انسانانو او پېريانانو څخه نو څرنګه دوی هغه چا ته چي ورباندي را نازل شوی لېونی وای؟ الله جل جلاله د سورت پای د قرآنکريم په عظمت سره لکه چي پيل يې د رسول په عظمت سره کړی وو را وو ړ ترڅو چي پيل او پای په ښکلي پېيلتوب سره بشپړ شي.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي فصاحت او بيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- ناقص جناس چي ﴿ بِمَجْنُونٍ ﴾ او ﴿ مَمْنُونٍ ﴾ ترمينځ شته چي دوهم توری يې يوله بله مخالف دی.

۲- وعيداو تهديد لکه چي فرمايي ﴿ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ . بِأَييِّكُمُ ٱلْمَفْتُونُ ﴾ اودمفعول حذف دهيبت او هَوَل دافادې لپاره راغلی دی.

۳- دمبالغې صيغې لکه پدې کلماتو کي چي ﴿ حَلَّافٍ ، هَمَّازٍ ، مَّشَّآءٍ ، مَّنَّاعٍ ﴾ او همدارنګه په ﴿ أَثِيمٍ ﴾ او ﴿ زَنِيمٍ ﴾ کي راغلی.

(۱) کبيرتفسير ۳۰ / ۹۹

(۲) رواه احمد وقال الترمذي حسن صحيح

۴-اوچته اولوړه استعاره چي د الله جل جلاله پدې کلام کي راغلي چي ﴿ سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلۡخُرۡطُومِ ﴾ خلتم يې دپوزي لپاره استعاره کړي اصلاً خوخلتم دفيل لپاره وي اوچي دانسان پوزه خلتم وبلل شي دغه نوخوراعجيبه ده اومقصد له دې څخه دده استخفاف اوسپکتيا ده

۵-دطباق صنعت چي د ﴿ ٱلۡمُسۡلِمِينَ.....كَٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴾ اود ﴿ ضَلَّ.....بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴾ ترمينځ شتون لري اوله بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي

۶-اشتقاقي جناس لکه پدې آيت کي ﴿ فَطَافَ عَلَيۡهَا طَآئِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمۡ نَآئِمُونَ ﴾.

۷-تقريع اوتوبيخ چي فرمايي: ﴿ مَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ أَمۡ لَكُمۡ كِتَٰبٞ فِيهِ تَدۡرُسُونَ ﴾ اوهمدارازنوري جملې چي له دې وروسته راغلي دغه ترټنه اوتوبيخ افاده کوي

۸-مقلوبه (اپوټه) تشبيه کله چي مشبه به 'مشبه وګڼل شي اوبرعکس يې امشبه ته مشبه به وويل شي لکه چي پدې کلام کي شته: ﴿ أَفَنَجۡعَلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ كَٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴾ اصل خوداووچي آيامونږ به کافران په مثل دمؤمنانو په اجر اوثواب کي وګرزوو؟ مګرهغه يې سرچپه رااخيستي ترڅوخوندوره اواغېزه ناکه وي

۹-ښکلي اولوړه کنايه چي فرمايي ﴿ يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ ﴾ دغه له سخت هول اوهيبت څخه کنايه راغلي چي دقيامت په ورځ به سخت زيات کړاوونه وي

۱۰-مرصع ښايسته اوپه زړه پوري سجع چي لکه پېيلي ملغلري غوندي اېسي دغه آيتونه ولوله ﴿ نٓۚ وَٱلۡقَلَمِ وَمَا يَسۡطُرُونَ مَآ أَنتَ بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ بِمَجۡنُونٖ وَإِنَّ لَكَ لَأَجۡرًا غَيۡرَ مَمۡنُونٖ ﴾ ترپايه پوري اود قرآنکريم ښکلا اوسپېڅلتيا ته په غور اوسوچ سره ګوره.

د الله جل جلاله په مرسته د القلم سورت د تفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

د(الحاقة) سورت مکي دی او دوه پنځوس آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

الحاقة مکي سورت دی او دنورو مکي سورتونو په شان دعقيدې او ايمان ټينګولوته پام کوي او دهرموضوعات پکې راغلي لکه دقيامت ورځ او دهغې کړاوونه ددروغجن ګڼونکو حالات او د هغوی سرنوشت او برخه ليک، د عاديانو، ثموديانو کيسې دلوط عليه السلام دقوم او دنوح عليه السلام دقوم اوفرعون او داسي نوروسرغړوونکو او مفسدينو کړه وړه را اخلي لکه چي پدې سورت کي دنېکانو سعداوو اوبدانو اشقياوو يادونه هم شوي ده خودسورت محورچي دغه موضوعات وربانديراڅرخي هماغه دقرآن دربښتنولي اثبات دی چي دغه دحکيم او عليم ذات کلام دی رسول الله صلی الله عليه وسلم له هغه تورونو او تهمتونو څخه چي کفارېي وربانديتپي مُبرّا او پاک دی.

دسورت پيل دقيامت په کړاوونو کېږي او داچي الله کفاروته څرنګه عذابونه ورکړي نو فرمايي ﴿ ٱلْحَآقَّةُ مَا ٱلْحَآقَّةُ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحَآقَّةُ كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌۢ بِٱلْقَارِعَةِ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا۟ بِٱلطَّاغِيَةِ وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا۟ بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ... ﴾ دآيتونوترپايه.

وروسته هغه مشکلات اوکړاوونه رااخلي کله چي دصورشپېلۍ دپوکلوپه وخت کي هغه وخت چي عالم فناکېږي غروته نړېږي اوآسمانونه چوي ښېنېږي فرمايي ﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِى ٱلصُّورِ نَفْخَةٌ وَٰحِدَةٌ وَحُمِلَتِ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَٰحِدَةً... ﴾ دآيتونوترپايه.

بياپدغه ورځ کي دنېکمرغه اوبدمرغه خلګودحال بيان کوي چي نېکمرغانوته به په ښي لاس اعمالنامه ورکول کېږي اوانعام اکرام به ترلاسه کوي مګرکافرته به په کيڼ لاس اعمالنامه ورکول کېږي اوله سپکتيا اوخواري سره به مخامخ وي ﴿ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقْرَءُوا۟ كِتَٰبِيَهْ... وَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِى لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ... ﴾ دآيتونوترپايه.

له دې وروسته چي دابرارو او فجاروحال يې بيان کړنودالهي استازي په رښتنولي باندي سخت قسم اخلي چي هغه کلام چي ده راوړي هغه حق دی او دمشرکانوافتراء ګاني چي کهانت اوسحريې ګڼي دروغ دی نوفرمايي ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ... ﴾.

وروسته دقرآنکريم په رښتنولي باندي غوڅ اوکوټلی دليل راوړي چي قرآن رښتونی دی او استازی رسول امانت کاردی چي څرنګه ورته وحی شوي هغسي يې تبليغ کړي په داسي انځورونه چي

زړه لړزوي او وېره پيدا کوي دغه چاحال بيانوي چي په الله دروغ وتړي نو فرمايي ﴿ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ... ﴾ دآيتونو تر پايه

په پای کي سورت دقرآنکريم ثنا او تمجيد راوړي چي دغه دمؤمنانو لپاره رحمت او دکافرانو لپاره حسرت دی ﴿ وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِلْمُتَّقِينَ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنْكُمْ مُكَذِّبِينَ وَإِنَّهُ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكَافِرِينَ وَإِنَّهُ لَحَقُّ الْيَقِينِ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ... ﴾.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الْحَاقَّةُ (١) مَا الْحَاقَّةُ (٢) وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ (٣) كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌ بِالْقَارِعَةِ (٤) فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ
(٥) وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ (٦) سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى الْقَوْمَ
فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ (٧) فَهَلْ تَرَىٰ لَهُمْ مِنْ بَاقِيَةٍ (٨) وَجَاءَ فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهُ وَالْمُؤْتَفِكَاتُ بِالْخَاطِئَةِ
(٩) فَعَصَوْا رَسُولَ رَبِّهِمْ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَابِيَةً (١٠) إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاءُ حَمَلْنَاكُمْ فِي الْجَارِيَةِ (١١) لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَا أُذُنٌ
وَاعِيَةٌ (١٢) فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ (١٣) وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً (١٤) فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ (١٥)
وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ (١٦) وَالْمَلَكُ عَلَىٰ أَرْجَائِهَا وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ (١٧) يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا
تَخْفَىٰ مِنْكُمْ خَافِيَةٌ (١٨) فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ (١٩) إِنِّي ظَنَنْتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ (٢٠) فَهُوَ
فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ (٢١) فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ (٢٢) قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ (٢٣) كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ (٢٤)
وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ (٢٥) وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ (٢٦) يَا لَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ (٢٧) مَا أَغْنَىٰ عَنِّي
مَالِيَهْ (٢٨) هَلَكَ عَنِّي سُلْطَانِيَهْ (٢٩) خُذُوهُ فَغُلُّوهُ (٣٠) ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ (٣١) ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ (٣٢)
إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ (٣٣) وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ (٣٤) فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هَاهُنَا حَمِيمٌ (٣٥) وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ
(٣٦) لَا يَأْكُلُهُ إِلَّا الْخَاطِئُونَ (٣٧) فَلَا أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ (٣٨) وَمَا لَا تُبْصِرُونَ (٣٩) إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ (٤٠) وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ
قَلِيلًا مَا تُؤْمِنُونَ (٤١) وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ (٤٢) تَنْزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٤٣) وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ (٤٤) لَأَخَذْنَا
مِنْهُ بِالْيَمِينِ (٤٥) ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ (٤٦) فَمَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ (٤٧) وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِلْمُتَّقِينَ (٤٨) وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنْكُمْ
مُكَذِّبِينَ (٤٩) وَإِنَّهُ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكَافِرِينَ (٥٠) وَإِنَّهُ لَحَقُّ الْيَقِينِ (٥١) فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ (٥٢) ﴾ الحاقة: ١ ـ ٥٢

لغتونه:

(الحاقة) دقيامت نوم دی ځکه يې الحاقة بولي چي راتلل يې حق دی شک پکي نشته (صرصر) سخت آوازکونکی او سخت يخني درلودونکی (حسومًا) پرله پسې چي پرېکړون يې نه وي (رابية) زيات په شدت او عذاب کي (واهية) کمزوري او کاواکه لکه چي دوی دهغې بنا په باب چي لوېدلو ته نژدې وي

وايي (بناء واهية) (هاؤم) اسم دفعل أمردى چي په معناد(ونيسئ) راځي (قطوفها) دمېوو ټولولوته وايي (صديد) دزخمونوويني زوو(الوتين) دزړه رګ کله چي پرې شي سړى مړکېږي او(ابهر) يې هم بولي په حديث شريف کي راځي (مازالت تعاودني أكلة خيبرفهذاأوان انقطاع أبهري) يعني تل مي دخيبردمسمومو خوړوګوله ځوروى نودغه دزړه درګ دپرېکېدووخت دى([1]) (حسرة) غټه پښېماني.

تفسير:

﴿ ٱلْحَآقَّةُ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴾ هغه (قيامت) حق واقع کېدونکى دى څه شي دى حق واقع کېدونکى ؟الحاقة دقيامت نوم دى ځکه يې الحاقة بولي چي واقع کېدل يې حق اوراتلل يې يقيني دي هيڅ شک اوشبه پکي نشته ﴿ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴾ تکراريې دهغې ورځي دشان دتفخيم لپاره راوړى اصل خوداووچي ويل شوي واى چي (ماهى) ليکن ظاهريې دضميرپرځاى راووړچي دهيبت اوتعظيم ښکارندوى شي ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴾ اوڅه شي پوه کړى يې ته (اى محمده !) چي څه شى دى هغه (قيامت) حق واقع کېدونکى ؟تاته ترليدلوله مخه نه معلومېږي چي قيامت څه شى دى ؟ اوکړاوونه اهوال يې څه دي؟ ځکه هغه له ډېره سختي اوشدته دومره ستراوچت دى چي خيال اوفکرورته رسېدلاى نشي ([2]) دغه دعربوپه دود اودستورباندي بيان دي چي کله به دوى غوښتل مخاطب اورېدلوته تشويق کړي نوبه يې داستفهام په صيغه وپوښتل لکه آياته پوهېږې چي څه پېښ شول ؟ نودغه آيت هم له دغه بابه دى چي دفظاعت ترهونکي چاري دي وروسته له دې چي سترتوب اوهيبت يې وښودنوهغه ځوک چي ددغه قيامت تکذيب کوي بيانوي اودهغوى هلاکتونه چي دتکذيب په نتيجه کي ورته رسېدلي يادوي ترڅودمکې کفاروته نصيحت شي اوهغوى ووېروي نوفرمايي ﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌۢ بِٱلْقَارِعَةِ ﴾ دروغ ويلي وو ثموديانواو عاديانو(په هغه قيامت)ټکوونکي دزړونوپه کړاوونو سختيوسره) ﴿ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا۟ بِٱلطَّاغِيَةِ ﴾ پس هرڅه چي ثموديان (قوم دصالح عليه السلام وونوهلاک کړل شول هغوى په سخت آواز (هلاکونکي هغه چي له حده وتلى سخت ووقتاده (رحمه الله) وايې چي: دغه داسي آوازووچي له حده وتلى سخت وو([3]) ﴿ وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا۟ بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴾ اوهرڅه چي عاديان وو نو هلاک کړى شوو (دوى) په بادسخت آوازکونکي (ياپه ډېرسخت له حده تېرېدونکي يخ باد) يعني کوم چي عاديان د هودعليه السلام قوم ووهغوى په تندبادچي (دَبور) يې بولي هلاک شول ، په حديث شريف کي راځي (نصرت بالصباء وأهلكت عادبالدبور) يعني ماته په صبابادمرسته راکول شوي اوعاديان په دَبور باد

([1]) کبيرتفسير٣٠ /١١٢

([2]) کبيرتفسير٣٠ /١١٢

([3]) اوله مجاهدڅخه روايت کېږي چي معناداچي هلاک شول په سبب دسرکښي خپلي خولوړى يې أرجح دى ځکه چي دعاديانو دعذاب په مقابله کي راغلى دى ابوالسعود٥ /١٨٨.

هلاک شول)(١) ﴿ عَاتِيَةٍ ﴾ يعني له حده وتلی په يخني اوالوتلوکي لکه چي دهغومقررو پرښتوله واکه هم ددغه بادراتينګول وتلي وو اوهغوی نشوای کولای پخپل واک کي يې راولي. ابن عباس رضی الله عنه وايي: الله جل جلاله چي هروخت بادرااستوي په يوه مقرره پېمانه وي اوهروخت چي اوربښت باران کوي هم په يوه تاکلي اندازه وی پرته دنوح عليه السلام له طوفانه اودعاديانو بادڅخه ځکه دحضرت نوح عليه السلام دقوم دهلاکت په وخت داوبواوربښت دپرښتوله واکه هم ووت هغه يې په واک کي راوستلای نه شوبيايې داآيت ولوست ﴿ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلْمَآءُ حَمَلْنَٰكُمْ فِى ٱلْجَارِيَةِ ﴾ اوبادهم دعاديانودهلاکت په وخت دپرښتوله واکه ووت بيايې داآيت ولوست ﴿ بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴾ (٢)﴿ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا ﴾مقرر کړی وو(الله) دغه (باد) پردوی باندي اوه شپې اواته ورځي پرله پسې برابر (چي پرېکړون يې نه درلود) ﴿ فَتَرَى ٱلْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ ﴾ نوليده به تا(ای مخاطبه) هغه قوم (دعاد) په هغه وخت کي لوېدلي (مړه پراته په ځمکه باندي چي خوځېدلای به نشوای) ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴾ ګواکي دوی (بېخونه) دډونه دخرماوو (ونودي) مفسرين کرام ليکي چي: بادبه سرونه ورڅخه غوڅ کړل لکه چي دونوسرونه پرې شي دغه بادبه ددوی له خولې وردننه اودګېډي څخه به يې له بېخه ووت ځوبه يې دوی راوپرزول نولکه دخرماوهلي شوي ونې غوندي به راپرېوتل ﴿ فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٍ ﴾ نوآياوينې ته کوم يو(نفس) له دوی څخني باقي پاتي شوی (بلکه هيڅ يې نه وينې) ټول تباه اوفنا شول لکه چي الله فرمايي ﴿ فَأَصْبَحُوا۟ لَا يُرَىٰٓ إِلَّا مَسَٰكِنُهُمْ ﴾ (الاحقاف: ٢٥) ﴿ وَجَآءَ فِرْعَوْنُ وَمَن قَبْلَهُۥ ﴾ اوراغی فرعون اوهغه چي پخواله هغه څخني وو(کوم چي سرغړونکي اُمتونه وو اوپخپلورسولانو کافران شوي وو ﴿ وَٱلْمُؤْتَفِكَٰتُ ﴾ اواهل دکليوچپه کړی شويو(لکه دلوط عليه السلام قوم چي پورته يې الله نښکته کړل صاوي ليکي (مؤتفکات)اړول شوي چي هغه دلوط قوم ووچي جبريل عليه السلام يې کلی په کوڅرباندي دځمکي څخه رااوايستل آسمان ته نژدې يې پورته کړل اوبيايې بيرته سرپه څېړی راوغورځول داپنځه کلي وو (٣)﴿ بِٱلْخَاطِئَةِ ﴾ (په ګناه سره (چي کفراوعصيان وو) ﴿ فَعَصَوْا۟ رَسُولَ رَبِّهِمْ ﴾ (نوحکم ونه مانودوی درسول درب ددوی) يعني دالله درسول موسی عليه السلام اودلوط قوم دلوط عليه السلام خبره ونه منله ﴿ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَّابِيَةً ﴾ (نو(الله) ونيول هغوی په سختونيولوسره) يعني الله پاک دوی ترنوروپخوانيو اُمتونوپه سخت عذاب اخته کړل ځکه چي ددوی جرائم اوګناهونه تر نورو کفاروپه شناعت اوبدي کي زيات وو ﴿ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلْمَآءُ حَمَلْنَٰكُمْ فِى ٱلْجَارِيَةِ ﴾ بېشکه موږهرکله چي طغيان وکړاوبوراپورته شوې په هرشي باندي پورته کړي وومورتاسي په تلونکي بېړۍ (دنوح) کي ﴿ لِنَجْعَلَهَا

---

(١) متفق عليه

(٢) طبري تفسير اوقرطبي دغه دابن عباس روايت مرفوع ګڼلي خوصحيح دادی چي په ابن عباس موقوف دي

(٣) دصاوي حاشيه ٤ /٢٤٠

لَكُمْ تَذْكِرَةً ﴾ لپاره دديٰ چي وګرزوو مونږ دا پېښه تاسي ته پند (او خلګو ته د عبرت سبق چي الله څرنګه
د پيغمبرانو له تکذيب کوونکو څخه انتقام اخلي؟ ﴿ وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ ﴾ او په يادولړئ دا (نصيحت) غوږونه
يادونکي (پندونو. او ګټه اخيستونکي په نصيحتونو باندي قرطبي ليکي چي: مقصد له دغو
کيسو د پخوانيو اُمتونو او هلاکتونو د دوی څخه د دغه اُمت زجر او وېرونه ده چي د خپل پيغمبر سر غړونه
دي نکوي[1]) او د پخوانيو هلاک شويو اُمتونو په پله دي پل نه اېږدي ځکه آيت شريف پدې تورو پای ته
رسوي چي ﴿ وَتَعِيَهَآ أُذُنٌ وَٰعِيَةٌ ﴾ قتاده ليکي چي: (واعية) معنا دا چي هغه غوږونه چي پوهه لري او هغه څه
چي د الله له کتابه واوري ورباندي ګټه اخلي[2]) څرنګه چي الله د مکذبينو کيسې بيان کړې نو ورپسې بې
د قيامت کړاوونه ذاسي راوړل چي ﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِى ٱلصُّورِ نَفْخَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴾ (بيا کله چي پوکی وشي په
صورشپېلۍ کي يو پوکی) يعني کله چي حضرت اسرافيل په صورشپېلۍ کي يو پوکی وکړي چي نړۍ
ونړېږي. ابن عباس وايې دغه لومړۍ نفخه ده هغه چي دنيا خرابېږي ﴿ وَحُمِلَتِ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً
وَٰحِدَةً ﴾ او پورته کړی شي ځمکه او غرونه (له خپلو ځايونو) نو مات به کړل شي دا دواړه (ټوټې ټوټې) په
يوه ماتولو سره چي ﴿ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴾ وګرزي) ﴿ فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ﴾ نو په دغه ورځ کي به واقع شي
(هغه) واقع کېدونکی (قيامت چي ستره پېښه او هيبتناکه واقعه ده) ﴿ وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِىَ يَوْمَئِذٍ وَاهِيَةٌ ﴾
او وبه چوي (څېري به شي) آسمان بيا هغه (آسمان) په دغه ورځ کي سست ضعيف وي (چي ټينګوالی
او پتليزيه نه لري) ﴿ وَٱلْمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرْجَآئِهَا ﴾ او ملائکي پرښتې به وي په څنډو (غاړو) د هغه آسمان.
مفسرين کرام ليکي: دا پدې چي آسمان د پرښتو هستوګنځی دی نو کله چي آسمان وچوي دوی به هلته
ددې ورځي او د الله جل جلاله له عظمت، جلال او کبريا څخه په وېره کي وي ﴿ وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ
ثَمَٰنِيَةٌ ﴾ او پورته به کړی عرش د رب ستا د پاسه د دوی په هغه ورځ کي اته (پرښتې) يعني د الله عرش به په
دغه ورځ اته ستري پرښتې په سر د پاسه واخلي ابن عباس وايې چي: اته صفونه د پرښتو به وي چي
شمېرې له الله پرته بل چا ته معلوم نه دی[3]) ﴿ يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ ﴾ په دغه ورځ کي به
تاسي حاضرورواندي کړی شی (الله ته د حساب لپاره) پټه به نه پاتي کېږي (له اعمالو ستاسي) هيڅ پټه
خبره (ځکه چي الله په هر څه باندي عالم دی که ښکاره وي او که پټه ورپسې الله د نېکمرغه او بدمرغه
کسانو حال په دغه ورځ کي بيانوي نو فرمايې ﴿ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴾ نو هر هغه څوک چي ورکړ

---

(1) القرطبي ۱۸/۲۶۳
(2) البحر المحيط ۸/۳۲۲.
(3) لومړی قول د ابن زيد دی او هغه څرګند دی او تائيد يې پدې حديث شريف سره هم کېږي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايې او س د عرش او چتونکي پرښتې څلور دي او د قيامت په ورځ به يې څلور نوري مرستي ته الله راو استوي نو به اته شي طبري وګوره ۲۹/۳۹.

شي کتاب اعمالنامه دده په ښي لاس دده (ځکه چي له نېکمرغه خلګوڅخه دی) ﴿ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ ﴾نو وبه وايي(له خوشحالي څخه)راشئ(واخلئ)اوولولئ تاسي داکتاب اعمالنامه زما(ها) په (کتابیه) اوهمداسي په (حسابیه) او(مالیه) او(سلطانیه) کلماتو کي دسکتې لپاره ده امام رازي ليکي چي: دده دغه وينا چي وايي ﴿ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ ﴾ ددې لپاره ده چي دی زښته زيات خوشحاله دی چي بريالیتوب يې په برخه شونو غواړي چي دغه برى نوروته څرګند کړي څوچي هغوى هم دده په نېکمرغي خوښ شي (١) ﴿ إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَٰقٍ حِسَابِيَهۡ ﴾ بېشکه مايقين کاوو(په دنيا کي) چي بېشکه زه له خپل حساب سره پیوسته کېدونکی یم (په قيامت کي نومي دهغه لپاره تیاری ونیوایمان مي راوور اوصالح عمل مي غوره کړ. حسن رحمه الله وايي : مؤمن په الله باندي نیک يقين کوي نو نیک عملونه کوي اومنافق په الله باندي بدګمان کوي نوعمل هم بد ترسره کوي ، ضحاک وايي: هر (ظن) چي په قرآنکريم کي دمؤمن له لوري راشي معنايې يقين دی اوچي دکافرله خوا وي شک يې معناده(٢) له دې نه وروسته الله دهغه جزاداسي ښيي ﴿ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ﴾ نوهغه (سړی) دی په ښه عيش کي چي دی به پرې راضي وي ,په حديث شريف کي راغي دوی به تل ژوندي وي مړه کېږي به نه او تل به روغ رمټ وي ناروغه کېږي به نه تل ترتله به په نعمتونو کي وي چي هيڅکله فقيران کېږي به نه ﴿ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ﴾ په جنت عالي لوی اوچت کي به وي ﴿ قُطُوفُهَا دَانِيَةٞ ﴾ چي مېوې به يې نږدې وي ، ناست ، ملاست اوولاړ سړي به يې خوړلای اوترلاسه کولای شي. په التسهيل کي راغي (قطوف) د قطف جمع ده اوهغه دمېوې تولول دي لکه اوښکي پرېکول روايت کېږي چي جنتيان به دغه مېوې په خوله باندي په ولاړي، ناستي اوملاستي باندي خوړلای شي(٣) ﴿ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا ﴾ (ورته وبه ويل شي) خورئ اوڅښئ په اشتهاء هضم سره) يعني دوی ته به تفضلاً اوانعاماًوويل شي چي خورئ او څښئ داسي خوراک اوڅښاک چي له هره تکليفه څخه پاک اوله هره کړاوه څخه ليري اوسوچه وي ﴿ بِمَآ أَسۡلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡأَيَّامِ ٱلۡخَالِيَةِ ﴾ په بدل دهغوخپلو(صالح) عملونو کي چي مخکي لېږلي ووتاسي په ورځوتېري شويودنیا کي ، کله چي الله ددغونېکمرغانو حال وستايوورپسې يې دبدمرغه خلګو د حال بيان هسي وفرمايوچي ﴿ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ ﴾ اوهرڅوک چي ورکړشي کتاب عملنامه دده په کيڼ لاس دده (چي دغه دخسران اوشقاوت نښاني ده) ﴿ فَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُوتَ كِتَٰبِيَهۡ ﴾ نو وبه وايي (کله چي خپل بدعملونه ويني) ای کاشکي نه وای راکړی شوی ماته داکتاب اعمالنامه زما. مفسرين کرام ليکي: دادې لپاره چي هغه ته به رسوائي اوشرمندګي ورسېږي نودی به پدې وخت کي آرزو کوي چي کاشکي خودغه

---

(١) کبير تفسير ٣٠/ ١١٧

(٢) قرطبي ١٨/ ٢٧٠

(٣) التسهيل ٤/ ١٤٣

عملنامه ورکړی شوي نه وای او سخت به پښېمانه شي ﴿ وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴾ او نه وم پوه شوی زه چي زما حساب څه دی ، استفهام د تعظيم او تهويل لپاره دی ﴿ يَٰلَيْتَهَا كَانَتِ ٱلْقَاضِيَةَ ﴾ ای کاشکي وی (ړومبني مرګ زما په دنياکي) خلاصونکی (زما له دوهم ژوندنه څخه چي بيرته نه راپاڅول کېدای او عذاب مي نه ليدلای ، قتاده رحمه الله وايي : دی د مرګ آرزو کوي او تر مرګ زياته کرکه او نفرت يې له بل هيڅ شي څخه نه درلود(۱) دغه تمنا دده دې لپاره کوي چي دغه عذاب تر مرګ ډېر تريخ او بدتر دی ﴿ مَآ أَغْنَىٰ عَنِّي مَالِيَهْ ﴾ هيڅ دفع ونکړه له ما څخه مال زما (کوم چي ما راټول کړی وو او د الهي عذاب مخنيوی يې ونکړ) ﴿ هَلَكَ عَنِّي سُلْطَٰنِيَهْ ﴾ برباد شوله ما څخه حکومت سلطنت زما (جاه او رتبه ، نسب او خپلوان هيڅوک زما مرستندوی نشته) ﴿ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ﴾ (ونيسئ دی پس په ځنځير سره يې وتړئ دی) يعني الله تعالى به دجهنم مؤکلينو پرښتوته ووايي چي دغه مجرم ونيسئ او په ځنځيرانويې وتړئ قرطبي وايي نو په تلوار به يې يو لک پرښتې راونيسي او لاسونه به يې له غاړې سره وروتړي همدغه دالله جل جلاله داوينا ده چي (فغلوه)(۲) ﴿ ثُمَّ ٱلْجَحِيمَ صَلُّوهُ ﴾ بيا (اورد) دوزخ ته دی وغورځوئ (هغه سترا اورته چي په غرغنډ و دی ترخوېږي وسوځوي) ﴿ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَٱسْلُكُوهُ ﴾ بيا په يوه ځنځير کي يې چي ګزونه د هغه اويا ګزه دی پس ننه باسئ دی (په دوزخ کي . ابن عباس رضی الله عنه وايي چي دغه د پرښتې په ګزه باندي چي دغه ځنځير به يې له مقعده ننوتلی او تر خولې راوتلی وي بيا به يې تنده او پښې سره تړي ځنځير هغه پېيلي کړې ده چي يوه تربله به راوتلي وي دی به پکي راونغښتل شي چي ونه خوځېږي ، هر کله چي الله جل جلاله يې عذاب بيان کړ وروپسې يې سبب داسي بيانوي ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ (بېشکه دی وو (په دنياکي) چي ايمان يې په لوی الله نه راووړ) يعني د الله په وحدانيت او عظمت يې باور نه درلود. په البحر المحيط کي راوړي چي ترټولو غټ سبب يې ړومبی بيان کړ چي هغه دده کفر دی دغه لکه تعليل غوندي دی چي يو څوک به پوښتنه کوي چي ولي ورته عذاب ورکول کېږي ځواب يې دا چي هغه په لوی الله جل جلاله ايمان نه راووړ(۳) ﴿ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴾ او تاکيد تېزوالی به يې نه کاوه په طعام ددې ورکولو اړو محتاجانو مسکينانو ته . مفسرين کرام ليکي چي : تاکيد او هڅونه يې راوړه فعل يې يادنه کړ تر څو په دې تنبيه شي چي د هڅوني تارک په دې منزلت کي دی نو پخپله د احسان او صدقې تارک به څرنګه وي؟ ﴿ فَلَيْسَ لَهُ ٱلْيَوْمَ هَٰهُنَا حَمِيمٌ ﴾ نو نشته ده ته نن ورځ پدې ځای کي کوم دوست (دفع کونکی د عذاب (څکه دوستان ورڅخه تښتي او منډې وهي) ﴿ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴾ او نشته هيڅ

---

(۱) الطبري ۲۹/ ۳۹
(۲) القرطبي ۱۸/ ۲۷۲
(۳) البحر ۸/ ۳۲۲

طعام (چي وئي خوري) مګر خو (د دوزخيانو د زخمونو) له وينو اوزوو څخه (۱) ﴿ لَّا يَأْكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلْخَٰطِـُٔونَ ﴾ چي نه خوري دغه (غسلين) مګر ګناهګاران يې خوري . مفسرين کرام ليکي چي (الخاطئون) دخاطئ جمع او هغه چاته وايې چي په قصد سره ګناه کوي مګر (مخطئ) بيا هغه څوک دي چي په خطا ور څخه ګناه صادره شي اوقصد يې نه وي ځکه (خاطئون) راوړل شوي (مخطئون) ونه ويل شول ، څرنګه چي نېکانو خلکو احوال بيان شو ورپسې دبدانو دحال يادونه وشوه اوس دقرآنکريم په تعظيم باندي کلام پای ته رسوي فرمايې : ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴾ (نو قسم خورم زه په هغو شيانو چي وينی يې تاسي او په هغو شيانو چي نه يې وينی تاسي) يعني قسم دی په مشاهداتو او مغيباتو د (لا) توری په دې کلام کي چي (لاأقسم) دی دقسم دتاکيد لپاره راغلی اودنفی لپاره نه دی ، امام فخر رازي ليکي چي: آيت شريف په عموم اوشمول باندي دلالت کوي ځکه ګردشيان له دوو دولونو څخه خالي نه وي ، يا ليدونکی اويا هم نه ليدونکی وي نو خالق اومخلوق ، ددنيا او آخرت ، اجسامو او ارواحو، انسانانو او پېريانانو او ظاهري ، باطني نعمتونو ټولو ته شامل دي. قتاده وايې چي دغه دالله ټولو مخلوقاتو ته عام دی، عطاء رحمه الله وايې معنا دا چي دقدرت په هغو آثارو او نښانو چي تاسو يې وينی او په هغو چي نه يې وينی (۲) ﴿ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴾ بېشکه دا (قرآن) خامخا خبره درسول مکرم (عزتمن) ده يعني دغه درحمان (الله) کلام او عزتمن رسول يې لولي (چي محمد عليه افضل الصلوة والتسليم دی قرطبي وايې چي: مراد له رسول څخه دلته محمد صلی الله عليه وسلم دی او چي ده ته يې دوينا نسبت شوی ځکه چي دی لوستونکی او دالله له لوري مبلغ دی (۳) ﴿ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ﴾ اونه ده دا خبره دکوم شاعر (لکه چي تاسي ګمان کوی ځکه دشعر له اوزانو سره بېخي مخالف دی نو نه شعر اونه نثر دی) ﴿ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ ﴾ بېخي لږ ايمان راوړی تاسي (بلکه نه مؤمنان کېږی . مقاتل وايې چي مقصد له (قليل) څخه دا چي تاسو دې باور نه لري چي دغه قرآن دي دالله کلام وي نو بېخي ايمان نه راوړی اوعرب کله چي ووايې (قلما يأتينا) معنا يې داوي چي هيڅکله موږ ته نه راځي (۴) ﴿ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ﴾ اونه ده دا خبره دکاهن (لکه چي تاسي ګمان کوی کوم چي هغه دغيبو دپوهېدلو دعویٰ لري ځکه چي قرآن دکاهنانو له مسجع اسلوب څخه ګوښي طريقه لري (چي اعجاز دی) ﴿ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ لږ پند اخلی تاسي (بلکه نه يې اخلی) ﴿ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ دغه (قرآن) نازل شوی دی له جانبه د پالونکي) رب دعالميانو (لکه چي الله فرمايې ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴾ (الشعراء ۹۲-۹۵) له آيت شريف څخه مقصد درسول الله تبرئه او پاکي ده له هغه څه نه کوم چي مشرکانو يې ورته

(۱) دغه طبري له ابن عباس څخه رانقل کړي او قتاده وايې تر ټولو بدناولي او پليت خواړه دي چي غسلين بلل کېږي.
(۲) الوسي تفسير ۲۹/ ۵۲
(۳) القرطبي ۱۸/ ۲۷۴
(۴) کبير تفسير ۳۰/ ۱۱۷

دسحراو کهانت نسبت کاوو) بیادغه تاکید په خورا اوچت اوستردلیل سره کوي چي قرآن الهي کتاب دی فرمایي ﴿ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ ٱلْأَقَاوِيلِ ﴾ او که له ځانه جوړولی (محمد) پرموږباندي ځیني خبري (چي موږورته نه وي ویلي) ﴿ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِٱلْيَمِينِ ﴾ (نو هرومرو موږبه بدل اخیستی وو له ده نه په یمین قوت، عذاب سخت سره) یعني موږبه پخپل قوت او قدرت له ده نه انتقام اخیستی وو(۱) ﴿ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ ٱلْوَتِينَ ﴾

بیابه خامخاپرې کړی وو موږله ده رګ دزړه (اووژلی به مووو) قرطبي لیکي چي: (وتین)هغه دزړه سره متصل رګ دی چي کله غوڅ شي انسان مړ کېږي (۲) مقصد دا چي الله به ژرترژره عذاب ورکړی وای اومهلت ډیل به یې نه ورکولای اوداچي له اقوالوڅخه (اقاویل) تعبیرراغلی چي په تصغیراوتحقیردلالت وکړي یعني که لږ وړوکی خبرهم وي چي الله ته یې نسبت وکړي اوله ځانه یې جوړکړی وای موږ به دغه عذاب ورکړی وو ﴿ فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَٰجِزِينَ ﴾ پس نه به وو هیڅوک له تاسي څخه (یعني نه یی تاسي له قتل د) هغه (محمد) څخه منع کونکي (مالره) خازن لیکي معنادا چي محمد ﷺ ستاسي لپاره په موږ دروغ نه تړي هغه پدې پوه دی که چېري په موږپسي خبره وتړي موږ عذاب ورکووا او هیڅوک به زموږ عذاب له هغه څخه دفع نکړي (۳) ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ اوبېشکه دغه (قرآن) خامخا تذکره پندی وېرېدونکیولره (چي نفع ترې واخلي) یعني دغه قرآن متقیانو مؤمنانولره پندی هغه کسان چي له الله وېرېږي دوی یې ښکه ځانګړي یادکړل چي دوی ورڅخه ګټه اخلي ﴿ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴾ (اوخامخا بېشکه موږته خامخامعلوم دي دا چي بېشکه ځیني له تاسي څخه دروغجن ګڼونکي دي (قرآن لره) یعني موږ پوهېږو چي ځیني له تاسو څخه دغه قرآن دروغ بولي اونه یې مني پخوانی کیسې یې ګڼي سره له دې چي آیتونه یې روښانه دي په آیت شریف کي دمکذبینو لپاره وعیددی ﴿ وَإِنَّهُۥ لَحَسْرَةٌ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ اوبېشکه دغه (انکارله قرآنه) خامخاسبب دحسرت دی پرمنکرانو کافرانو باندي (۴) (په آخرت کي کله چي دمصدقینو ثواب و ویني نو به پښېماني کوي) ﴿ وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴾ اوبېشکه دغه (قرآن) خامخا حق یقین دی (چي شک او شبه پکي نشته هوښیاران پکي شک نلري چي دغه دي درب العالمین کلام وي ﴿ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴾ پس پاکي تسبیح ووایه په نامه درب خپل چي له ټولوځني عظیم ډېرلوی دی(اوشکروباسه په هغوسترونعمتونوچي تاته یې درکړي اوترټولو سترهم دغه قرآن عظیم الشان دي).

---

(۱) دغه دمجاهد اوابن عباس رضی الله عنهم وینا ده.
(۲) قرطبي ۱۸/ ۲۷۶
(۳) خازن ۴/ ۱۴۸
(۴) ظاهرداچي ضمیرقرآن ته راجع دی اوطبري لیکي چي دغه تکذیب په کافرانو باندي حسرت اوندامت دی دغه وینا مقاتل هم غوره کړي ده.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومې ښکلاوي شته په لاندې ډول لنډيز کېږي:

١-اطناب چې تکرارلپاره دتعظيم اوتهويل راغلی لکه ﴿ ٱلْحَآقَّةُ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴾ ترپايه پورې

٢-له اجمال څخه وروسته تفصيل چې دبيان زياتوالی وښيي لکه ﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌۢ بِٱلْقَارِعَةِ ﴾ اوورپسې تفصيل يې هسې فرمايي ﴿ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا۟ بِٱلطَّاغِيَةِ وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا۟ ﴾ دآيت ترپايه اوپدې کې مرتب لف اونشر راغلی دی.

٣-مرسله مجمله تشبيه لکه ﴿ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴾ چې ادات يې ذکرکړی اوشبه وجه يې حذف کړې ده.

٤-ښه په زړه پورې باريکه استعاره چې پدې کلام کې ده ﴿ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلْمَآءُ حَمَلْنَٰكُمْ فِى ٱلْجَارِيَةِ ﴾ طغيان دانسان له صفتونو څخه دی خوداوبولوړوالی اوزياتوب يې دانسان له سرغړوني اوطغيان سره داستعارې په توګه مشابه کړی دی.

٥-اشتقاقي جناس لکه ﴿ وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ﴾ او ﴿ لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ ﴾ چې راغلی دی.

٦-بديعه مقابله چې پدې کلام کې ده ﴿ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقْرَءُوا۟ كِتَٰبِيَهْ ﴾ چې په مقابل کې يې ﴿ وَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ... ﴾ راغلی اودغه له بديعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي

٧-سلبي طباق لکه ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴾ چې راغلی دی.

٨-دکنايه صنعت چې پدې کلام کې دی ﴿ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِٱلْيَمِينِ ﴾ چې يمين له قدرت اوقوت څخه کنايه راغلی دی

٩-دفواصلوتوافق چې دآيتونودپيل مراعات پکې شوی دی لکه ﴿ فَهُوَ فِى عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ، فِى جَنَّةٍ عَالِيَةٍ، قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴾ اولکه داچې ﴿ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ثُمَّ ٱلْجَحِيمَ صَلُّوهُ ثُمَّ فِى سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَٱسْلُكُوهُ ﴾ او دې ته دبديع په علم کې مرصع سجع وايي والله اعلم

تنبيه:

حافظ ابن کثيرله عمربن الخطاب رضی الله عنه څخه روايت راوړی چې هغه وايي تراسلام راوړلودمخه مې درسول الله خارنه کوله چې ترمادمخه مسجدته ولاړاوزه يې له شاودرېدم چې هغه دالحاقة سورت لوستل پيل کړل زه دقرآنکريم له جوړښت څخه په تعجب کې ولوېدم اوپه زړه کې مې ويل چې قسم په الله دغه لکه چې قريش وايي شاعردی نوهغه داسې ولوستل ﴿ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴾ نوماوويل چې کاهن دی رسول الله داکلام تلاوت کړچې ﴿ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ دسورت ترپايه

الله تعالی ما ته پوري هغه وایې چې زما په سینه کې د اسلام لپاره هرکوټ کوټ پرانستل شو ترڅو چې
هدایت او لارښوونه وکړه.

د الله تعالی په مرسته د الحاقة سورت د تفسیر ژباړه بشپړه شوه.

***

د(المعارج)سورت مکي دی او څلور څلوېښت آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالمعارج سورت مکي دی او د اسلامي عقيدې اصول څېړي پدې سورت کي د قيامت دورځي او په هغې کي دکړاوونو بيان دی او دا چي تل ترتله سعادت او شقاوت زحمت اوراحت دمؤمنانو او کافرانو به هلته وي هغه آخرت او دجزاء سرای دی ، هغه محورچي دغه سورت ورباندي راڅرخي دمکې کفاراو دهغوی له بعث اونشور څخه انکار دی او دا چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په بلنه اودعوت يې ځرنګه استهزآء کوله او ملنډي يې ورباندي وهلې.

دسورت پيل دمکې دکفارو په طغيان شوی دی چي په څه ډول يې د رسول الله له اطاعت څخه غاړه غړوله او په انذار او عذاب يې څه رنګه استهزآء کوله؟ ددوی دطغيان لپاره يې يومثال راوړی کوم چي ځيني مشرانو چي هغه (نضربن حارث) وو له الله يې ژرترژره په ځان اوخپل ټبرباندي دعذاب راتللو دعاکوله ترڅو چي تر آخرت له مخه په دنياکي ورباندي خوند واخلي(١) دغه ددوی دانکار او عناد په هکله مکابره وه﴿ سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٖ وَاقِعٖ ‌ لِّلۡكَٰفِرِينَ لَيۡسَ لَهُۥ دَافِعٞ مِّنَ ٱللَّهِ ذِي ٱلۡمَعَارِجِ ﴾ دآيتونو ترپايه

وروسته ددغي ورځي دمجرمينو خبر راوړي چي پدغه ورځ کي چي آسمانونه چوي او غرونه يو بل لوري ته لکه رنګه نداف وهلي وړی الوزي راالوزي نو دوی به دعذاب دڅورني هيله کوي فرمايي ﴿ يَوۡمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلۡمُهۡلِ ، وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ، وَلَا يَسۡـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمٗا ، يُبَصَّرُونَهُمۡۚ يَوَدُّ ٱلۡمُجۡرِمُ لَوۡ يَفۡتَدِي مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِئِذِۭ بِبَنِيهِ ، وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ ، وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِي تُـٔۡوِيهِ ، وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ يُنجِيهِ ﴾.

بيا د انسان طبيعت ښيي چي کله سختي ورته ورسېږي نو جزع او فرياد کوي خو کله چي نعمت ورته ورسېږي نو بيا تکبر غوره کوي او دفقيرانو مسکينانو حق نه ورکوي ﴿ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ، إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعٗا ، وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ﴾.

له دې په هيسته دمؤمنانو غوره او وتلي لوړصفات را اخلي دهغوی بهترين اوفاضل اخلاق راوړي او هغه دالله نعمتونه ښيي چي ستر اجرونه او ثوابونه يې په تل ترتله جنات الخلد کي ورته چمتو کړي دي ﴿ إِلَّا ٱلۡمُصَلِّينَ ، ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ ، وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ ، لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ﴾ د آيتونو ترپايه پوري

نو وروسته دملنډي وهونکو کفارو حال بيانوي چي تمه لري دوی دي هم جنات النعيم ته ننوزي ﴿ فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهۡطِعِينَ ، عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ ، أَيَطۡمَعُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٖ ، كَلَّآۖ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّمَّا يَعۡلَمُونَ ﴾.

دسورت پای په ستر قسم او لوړه شوی چي درب العالمين په ذات اخيستی شوی چي بعث او جزاء حق دي هيڅ شک او شبه پکي نشته بل دا چي الله جل جلاله پدې قادر دی چي تر دوی غوره وپنځوي

(پيدا كړي) فرمايي ﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ وَٱلۡمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ، عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ﴾ آن تردي پوري چي ﴿ خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۚ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴾.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٖ وَاقِعٖ (۱) لِّلۡكَٰفِرِينَ لَيۡسَ لَهُۥ دَافِعٞ (۲) مِّنَ ٱللَّهِ ذِي ٱلۡمَعَارِجِ (۳) تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥ خَمۡسِينَ أَلۡفَ سَنَةٖ (۴) فَٱصۡبِرۡ صَبۡرٗا جَمِيلًا (۵) إِنَّهُمۡ يَرَوۡنَهُۥ بَعِيدٗا (۶) وَنَرَىٰهُ قَرِيبٗا (۷) يَوۡمَ
تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلۡمُهۡلِ (۸) وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ (۹) وَلَا يَسۡـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمٗا (۱۰) يُبَصَّرُونَهُمۡۚ يَوَدُّ ٱلۡمُجۡرِمُ لَوۡ يَفۡتَدِي مِنۡ
عَذَابِ يَوۡمِئِذِۭ بِبَنِيهِ (۱۱) وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ (۱۲) وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِي تُـٔۡوِيهِ (۱۳) وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ يُنجِيهِ (۱۴) كَلَّآۖ إِنَّهَا لَظَىٰ
(۱۵) نَزَّاعَةٗ لِّلشَّوَىٰ (۱۶) تَدۡعُواْ مَنۡ أَدۡبَرَ وَتَوَلَّىٰ (۱۷) وَجَمَعَ فَأَوۡعَىٰٓ (۱۸) ۞ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا (۱۹) إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعٗا
(۲۰) وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا (۲۱) إِلَّا ٱلۡمُصَلِّينَ (۲۲) ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ (۲۳) وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ
(۲۴) لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ (۲۵) وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ (۲۶) وَٱلَّذِينَ هُم مِّنۡ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشۡفِقُونَ (۲۷) إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمۡ غَيۡرُ
مَأۡمُونٖ (۲۸) وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ (۲۹) إِلَّا عَلَىٰٓ أَزۡوَٰجِهِمۡ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَإِنَّهُمۡ غَيۡرُ مَلُومِينَ (۳۰) فَمَنِ ٱبۡتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ
فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡعَادُونَ (۳۱) وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِأَمَٰنَٰتِهِمۡ وَعَهۡدِهِمۡ رَٰعُونَ (۳۲) وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمۡ قَآئِمُونَ (۳۳) وَٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ يُحَافِظُونَ
(۳۴) أُوْلَٰٓئِكَ فِي جَنَّٰتٖ مُّكۡرَمُونَ (۳۵) فَمَالِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قِبَلَكَ مُهۡطِعِينَ (۳۶) عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ عِزِينَ (۳۷) أَيَطۡمَعُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ
مِّنۡهُمۡ أَن يُدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٖ (۳۸) كَلَّآۖ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّمَّا يَعۡلَمُونَ (۳۹) فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ وَٱلۡمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ (۴۰) عَلَىٰٓ أَن
نُّبَدِّلَ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ (۴۱) فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي يُوعَدُونَ (۴۲) يَوۡمَ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ سِرَاعٗا كَأَنَّهُمۡ
إِلَىٰ نُصُبٖ يُوفِضُونَ (۴۳) خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۚ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ (۴۴) ﴾ المعارج: ۱ ــ ۴۴

لغتونه:

(معارج) زينې هغه چي انسان ورباندي لوړ ختېږي (عروج) دآسمان لوري لوړتياته وايي (معراج) هم له دغه توري څخه اخيستل شوى دى (المهل) ويلي شوي ژېړ، قلعي (العهن) نداف وهلي وړۍ (فصيلة) خپلوان هغه كسان چي دوى ورڅخه تولد شوى اوزېږېدلى دى (لظى) دجهنم نوم دى ځكه بې پدې نامه بولي چي اوريې لمبې وهي بلېږي (الشوى) د (شواة) جمع اود سرپوستوكي ته وايي (هلوعا) ډېر ژړا او فرياد كونكى ابوعبيدة ليكي چي هلوع هغه دى چي نعمت ورته ورسېږي شكرنه اداكوي اوچي زحمت ورته ورسېږي صبرنه لري (عزين) تيت اوپرك ټولى (يوفضون) تلواره كونكي وايي (أوفض البعير) يعني اوبن ګړندى شو[1]

[1] روح المعاني ۲۹/ ۶۴

دنزول سبب:

ابن عباس رضی الله عنه وايي: کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم نضربن حارث ووېراوو چي دالله عذاب راتلونکی دی نوهغه وويل: ﴿ وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ ﴾ نو الله دا آيت نازل کړي چي ﴿ سَأَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ۝١ لِّلْكَافِرِينَ لَيْسَ لَهُ دَافِعٌ ﴾.

تفسير:

﴿ سَأَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ﴾ (وغوښت غوښتونکو يو عذاب واقع کېدونکی لوېدونکی) يعني د مکې له کافرانو څخه يوه دځان اوقوم لپاره خامخا واقع کېدونکی عذاب پرېوتل لوېدل وغوښتل مفسرين کرام وايې چي دغه (نضربن حارث) چي دمکې له سرکښو سردارانو اوياغی مشرانو څخه يو وو کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه دالله له عذابه څخه ووېراوو نويې داستهزآء په توګه وويل ﴿ وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ نوهغه وو چي الله تعالی دبدرپه ورځ هلاک کړاوهلته په رسوايي سره ووژل شو اوآيت شريف د ده په بدي باندي نازل شوی ﴿ لِّلْكَافِرِينَ ﴾ کافرانو له) يعني دغه عذاب يې دکافرانو لپاره وغوښت ﴿ لَيْسَ لَهُ دَافِعٌ ﴾ (چي نشته هغه ته دفع کونکی) يعني چي کله الله وغواړي عذاب ورباندي راولي څوک يې بيا ترې دفع کولای نشي خامخابه ورباندي راځي که دوی يې وغواړي اوکه يې ونه غواړي ﴿ مِّنَ اللَّهِ ذِي الْمَعَارِجِ ﴾ له طرفه دالله چي څښتن دلويو لوړو زينو دی (هغه چي پرښتې لپاره داوامرواووحی دالله ورباندي ورخېژي او راښکته کېږي تفصيل يې داسي فرمايې چي ﴿ تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ ﴾ چي خېژي پرښتې اوروح (جبريلؑ) په طرف دهغه (مأموربه ځای) يعني خېژي ابرارپرښتې او جبرائيل امين هغه چي الله جل جلاله دوحی رسولو لپاره ځانګړي کړي هغه عزوجل ته [١] ﴿ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ﴾ په هغه ورځ چي وه اندازه دهغې پنځوس زره کاله (په نسبت سره کافرانو ته) يعني قيامت پنځوس تم ځايونه اومواقف دي چي هرموقف زرکاله دی خودغه به مؤمنانو ته دومره لنډه وي لکه چي يو فرضي لمونځ ګذاري [٢] ﴿ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا ﴾ نوصبر کوه (ای محمده!) صبر جميل نيک (په استهزآء او کړاوونو دقوم خپل اودلتنګه کېږه مه ! ځکه چي ارومرو الله جل جلاله تاته پردوی باندي بری درکوي؛ دغه دپيغمبر عليه السلام لپاره ډاډينه اوتسلی ده ځکه چي په تلوار عذاب غوښتل ددوی ملنډي او استهزآء وه چي په رسول الله صلی الله علیه وسلم يې کوله نو الله ورته دزغم اوصبر کولو حکم وفرمايو، قرطبي

---

[١] جبرائيل عليه السلام يې خکه يوازي ياد کړچي دمنزلت شرافت اوفضيلت لري او الله په روح سره نومولی دی چي ﴿ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ ﴾.

[٢] أخرجه امام احمد عن أبي سعيد الخدري قال: قيل يارسول الله ماأطول هذااليوم فقال صلی الله علیه وسلم والذي نفسي بيده انه ليخفف على المؤمن حتى يكون أخف عليه من صلوة مكتوبة يصليهافي الدنيا).

وایې چې صبر جمیل هغه ته وایي چې له الله پرته بل چاته جزع او شکوی پکې نه وي(¹) ﴿إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُۥ بَعِيدًا﴾ (بېشکه دوی (منکران) ويني هغه (قيامت (يا عذاب) ليري) يعني دغه استهزاء کونکي د الله عذاب ليري ګڼونکي دي او پدې باوردي چې عذاب نه نازلېږي او دوی له بعث او حساب څخه منکردي ﴿وَنَرَىٰهُ قَرِيبًا﴾ او موږيې وينو هغه (عذاب يا قيامت) نږدې څکه هر راتلونکی نږدې دی ، وروسې الله عذاب هيبت او د قيامت دورځې کړاوونه داسې ښيي فرمايي ﴿يَوْمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلْمُهْلِ﴾ هغه ورځ (به عذاب پرمنکرانو واقع شي) چې وګرزي آسمان په شان د قلعي ژېرويلې شوي (توري ختمې دتېلو) ابن عباس رضی الله عنه وايې چې (مهل) دتېلو هغه ورسته پاتې ختو تلچټوته وايې(²) ﴿وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ﴾ او وبه ګرزي غرونه په شان دوړې نداف وهلي رنګارنګ الوزونکي په هرلور. قرطبي وايې (عهن) سرو وړيو اويارنګ په رنګ وړيوته وايې غرونه يې څکه ورسره مشابه کړل چې هغه هم ډول ډول رنګونه لري د غرونو رومبی تغيربه داوي چې شګې غوندې به شي او بيابه نداف وهلي رنګارنګ وړۍ غوندې شي وروسته به بيا دوړې او ګردونه شي (۲) دغه د ځمکې او آسمان حال دی او د مخلوقاتو حال به هسې وي لکه چې الله فرمايي ﴿وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا﴾ او نه به پوښتنه کوي يو دوست له بل دوسته (څکه چې پخپل ځان به مشغول وي هيبت او وېرې به راپرزولي وي ﴿يُبَصَّرُونَهُمْ﴾ اګر که په نظور ځي دوی ته هغوی او ښه به يې پېژني ، آن تردې چې سړی به خپل پلار ، ورور ، خپلوان او قوم قبيله ويني مګر ورسره به خبره نه کوي بلکه تري تښتي به لکه چې الله فرمايي ﴿يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ﴾ (عبس ۳۴-۳۷) ابن عباس وايې چې ﴿يُبَصَّرُونَهُمْ﴾ معنا دا چې خيني د دوی به خيني نور پېژني او سره پېژندګلوی به کوي مګر بيرته به يو له بله تښتي (³) ﴿يَوَدُّ ٱلْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِى مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍۭ بِبَنِيهِ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ﴾ (خوښوي به مجرم ګنهګار (کافر) چې فديه ورکړي له عذابه د دغې ورځې په زامنو خپلو سره او ملګري ښځې خپلې سره او وروړ خپل سره) يعني کافر به د دغې ورځې له عذابه ددې تمناکوي چې په دنياکې ترګردو په ګرانو خپلوانو ځان وژغوري او هغوی يې په بدله کې قربان کړي ﴿وَفَصِيلَتِهِ ٱلَّتِى تُـْٔوِيهِ﴾ او خپلوانو قبيلو خپلو هغو سره چې ځاې ونه يې ورکول دوی ته (په دنياکې) او په مشکلاتو کې به يې مرستندويي کوله نه يوازې دغه بلکه ددې تمناکوي چې د ځمکې د سرې په ټولو خلګو فديه کولو ځان وژغوري ﴿وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ﴾ او هغه څوک چې په ځمکه کې دي ټول بيا وژغوري ځان خپل ، ليکن افسوس چې مجرم د ژغورلو نه دی چې څوک يې د الله له عذابه او سخته زحمته او کړاوه وساتي. امام فخر رازي ليکي چې (ثم) د نجات د استبعاد لپاره راغلی يعني ددې تمناکوي

(¹) قرطبي ۱۸/ ۲۸۴

(²) همدغه د مجاهد وينا ده لکه چې په طبري کې راغې. ۲۹/ ۴۶

(³) قرطبي تفسير ۱۸/ ۲۸۵

که دغه گرد مذکور خلگ دده په واک کي وي او بيايې د خپل ځان د خلاصولو په غرض فديه کړي او ځان وژغوري مگر افسوس دی چي نه ژغورل کېږي (١) ﴿ كَلَّآ إِنَّهَا لَظَىٰ ﴾ بېشکه دا (اور د دوزخ) لمبې وهونکی دی (کلا) د زجراو ترټلو توری دی چي دغه کافر به له دغو آرزوگانو او تمنيا تو څخه راوگرزي د الله له عذاب څخه يې فديه خلاصولای نشي بلکه دده په مخ کي داسي لمبې وهونکی دوزخ دی چي ﴿ نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ﴾ ايستونکی دی (له کفارو څخه) د سرپوستوکی (٢) هر کله چي وباسي بيرته به راوتوکېږي او دغه به د زيات عذاب څکلو لپاره وي دا چي په ځانگړي توگه يې راوور څکه چي دا ور په ورانديز ترټول بدن همدغه سخت حساسيت لرونکی او اغېزمنونکی دی ﴿ تَدْعُوا۟ مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴾ رابولي (دا دوزخ) هغه څوک چي شايې کړي وی او مخ يې گرزولی وي (له ايمانه څخه) يعني دغه دوزخ هغه چاته چيغې او نارې وروهي چي کافران دي او له ايمانه يې څنگ کړی وي. ابن عباس وايې چي کفارو او منافقانو ته به دوی په نومونو په فصيح ژبه ويناکوي چي ماته راشه ای کافره ماته راشه! ای منافقه ماته راشهٔ! او بيا به يې داسي ترکومي تېروي لکه چي مرغان دانې تېروي (٣) ﴿ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰٓ ﴾ او ټول کړی يې وي (مال) او ساتلی يې وي (د الله حق يې ترې نه وي ورکړی د مسکينانو خيال يې نه وي ساتلی. مفسرين کرام ليکي چي په آيت شريف کي دهغه چا لپاره چي په مال کي بخل کوي او په راټولولو کي يې حريص وي د خير ښېگڼي په لاروکي يې نه لگوي او د الله او مسکينانو حقوق نه ورکوي وعيد دی. حسن رحمه الله وايې ای بنيادمه! د الله وعيد دي واورېدو او بيا هم د نياله حلال او حرامو سره راټولوې!! او ورپسې الله د انسان طبيعت او هغه څه چي دده په فطرت کي د مال په راټولولو کي شته داسي بيانوي ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴾ بېشکه انسان حريص بې صبره پيدا شوی دی چي په تکليف صبرنلري او په نعمت شکرنه کاږي مفسرين کرام ليکي چي (هلع) د حرص شدت او د صبرلږوالي ته وايې (٤) مراد له انسان څخه د استثناء راتلو په دليل سره عام بني آدم دی څکه چي استثناء د عموم معيار دی ورپسې الله د (هلوعا) تفسير داسي فرمايې ﴿ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ﴾ (کله چي ورسېږي ده ته شر، خرابي صبر نکوي ډېر فرياد کوي) يعني کله چي ورته فقر، ناروغي او وېره ورسېږي نو ښتنه زيات فرياد کوي او دغه کړاو ونه زيات گڼي ناهيلي او قنوط ورباندي غالب شي ﴿ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ مَنُوعًا ﴾ (او کله چي ور سېږي ده ته ښېگڼي فائدې نو منع کونکی شي) يعني کله چي بډائي، روغتيا او درزق روزي پراخي ور ته ورسېږي نو بيا بخل کوي معنادا چي د فقرپه وخت کي صبرنلري او کله چي يې الله غني او بډای کړي بيا د الله په لارکي مال نه لگوي. ابن کيسان وايې الله تعالی انسان داسي پيدا کړی چي هغه شی چي دده محبوب وي ورباندي خوشحالېږي او چي ترې کرکه او نفرت کوي بيا څني تښتي نو هغه چي خوښ يې وي د الله په لارکي يې نه لگوي او هغه چي ناخوښ يې وي

---

(١) کبير تفسير ٣٠/١٢٧

(٢) دغه د ابن عباس وينا ده او مقاتل وايې چي ککرې او خواو شاسوځوي نه به غوښې او نه پوستوکی بې له سوځولو پاتي شي

(٣) قرطبي تفسير ١٨ / ٢٨٩

(٤) تفسير الرازی ٣٠ - ١٢٨

ورباندي صبرنلري (۱) ﴿ إِلَّا ٱلْمُصَلِّينَ ﴾ مګر نه (دی پیدا کړی شوی هلوع) هغه) لمونځ کونکی، دغه استثناء دبني آدم څخه دی چې په هلع باندي وستایل شول اوددوی لمونځ دوی ته ددنیا په هکله دزړه ترلو اجازه نه ورکوي چې دشرپه وخت کي زيات فريادوکړي اودخيرپه وخت کي بخل وکړي ﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ ﴾ هغه چې دوی په لمانځه خپل دائم قائم دي چې بل څيزيې له لمانځه څخه نه مشغولوي ځکه دوی دژوندانه له کدورتونو پاک سپېڅلی او په الهي نفحاتو ښکلی دی ﴿ وَٱلَّذِينَ فِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴾ او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې په مالونو دهغوی کي معلومه ونډه شته (چې فرضي زکات دی) ﴿ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴾ لپاره دغو ښتونکو (فقيرانو) او محروموفقيرانو (چې سوال نکوي خلک ورباندي دبډای خيال کوي نو محروم پاتي شي لکه الله جل جلاله فرمايي ﴿ يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ ﴾ (البقرة ۲۷۳) ﴿ وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴾ او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې باور کونکي وي په ورځ دجزاء باندي (په بېشکه باوراو تصديق سره نو دهغې ورځي لپاره چمتوالی نيسي) ﴿ وَٱلَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴾ او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې دوی له عذابه درب خپل نه وېرېدونکي وي (په ځانونو خپلو باندي اود ثواب هيله من وي ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ ﴾ بېشکه له عذاب درب څخه دوی ندي په امن کړی شوي (بلکه تل ترې وېرېږي) ځکه چې نه ښايي دالله له عذابه دي انسان بېغمه شي ددې لپاره چې اعتبار وروستۍ خاتمې لره دی دغه باورکونکی وېرېدونکی ددنيا په زرق اوبرق نه تېروزي او نه يې ددنيا نعمتونه له لاري باسي نه ددنيا له بايللو وېرېږي ځکه ددوی سوچ اوفکردالله په جلال او دراتلونکي معاد په هکله وي نو دشرپه وررسېدلو کي زيات فريادنه کوي اودنعمتونو ترلاسه کولو په وخت کي دالله په لاره کي له لګولو څخه ممانعت نه کوي، وروسته الله دپنځم ټولګي بيان کوي هغه کسان چې دخيرښېګنو او طاعاتو عباداتو په لاره کي يې توفيق موندلی اوبريالي کسان دي فرمايي ﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَٰفِظُونَ ﴾ (او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې دوی دخپل شهوت دځايونو ساتونکي دي) يعني دوی په محرماتو کی ندي ککړ، ځانونه يې له زنا او فواحشو ساتلي دي ﴿ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُمْ ﴾ (مګرپخپلو ښځوباندي او په هغي وينځو باندي چې يې مالکان شوي دی ښي لاسونه ددوی) يعني دوی يوازي له خپلو منکوحاتو اووينځو مملوکاتو سره کوروالی کوي ﴿ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴾ نو بېشکه دوی ندي ملامت کړی شوي، (ځکه چې دشهوت اشباع له هغو ځايونو چې الله جل جلاله روا کړي لکه خپلي مېرمني اووينځي حلال بلکه داجر او ثواب موجب دی ځکه چې پرې دنسل اوذوذات تکثير کېږي ﴿ فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْعَادُونَ ﴾ (نو هغه چې غواړي پرته له دغو (حلالو ښځو او

---

(۱) تفسير البغوي ۴/ ۱۵۱

وينځوخپلو) څخه پس هم دوی دي له حده تېرېدونكي) يعني اوهغه څوك چي پرته له خپلو حلالو ښځواو مينځوبل ځای دشهوت قضاء ترسره كړي هغوی دالله له حدودو تجاوز كړی او د الله عذاب ته يې ځان وراندي كړی دی. طبري ليكي معنا دا چي څوك دخپل ځان دشهوت لپاره پرته له خپلي ښځي اووينځي بل څوك وغواړي اوويې كړي نو دالله له حلالو حدودو څخه يې محرماتو ته تجاوز كړی نو دوی ملامت كړی شوي دي([1]) ﴿ وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَٰنَٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَٰعُونَ ﴾ او هغه كسان (هم هلوع نه دي) چي دوی امانتونه خپلو اووعدو خپلو لره ساتونكي وي (اوسرته يې رسوي) كله چي امانت ورته كېښنودل شي خيانت پكي نكوي اوچي وعده وكړي خلاف ترې نه كوي) ﴿ وَالَّذِينَ هُم بِشَهَٰدَٰتِهِمْ قَآئِمُونَ ﴾ او هغه كسان (هم هلوع ندي) چي هم دوی پخپله شاهدي باندي سم ولاړوي (نه يې پټوي اونه تزئيد اوتنقيص پكي كوي بلكه په بشپړه توگه يې سرته رسوي دخپل اوپردي توپير پكي نه كوي ترڅوچي دخلگو حقوق او مصالح خوندي پاتي شي دغه شاهدي كه څه هم په اماناتوكي شامل وه خو په ځانگړي ډول يې ددې لپاره ياده كړه چي په فضيلت يې تنبيه راشي څكه ددې په سبب حقوق ژوندي كېږي اوپه پرېښودلوكي يې حقوق له مينځه ځي﴿ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴾ او هغه كسان هم(هلوع نه دي) چي هم دوی پر لمانځه خپل باندي ساتنه كوي (پخپلو وختونوكي يې اداكوي اوپه ښه توگه اودس تازه كوي دوختونو مراعات يې كوي تول حقوق يې له سنتو اوواجباتو او آدابو سره په نظركي نيسي) نوتل ترتله كول په لمنځونو پسي اومحافظت ساتنه يې په احوالو پسي تعلق نيسي([2]) وروسته له هغه چي الله تعالى د متقيانو مؤمنانو اوصاف وستايل ددوی عاقبت او انجام دا سي بيانوي ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى جَنَّٰتٍ مُّكْرَمُونَ ﴾ همدغه كسان (چي په دغولوړو صفاتو موصوف دي) په جنتونوكي به وي عزتمن كړی شوي) يعني دغه دسترو صفاتو اولوړو اخلاقو خاوندان به په جنات النعيم كي اوسي هلته چي الله جل جلاله به په ډول ډول كراماتو انعاماتو نازولي وي اوخوند ورښايسته ملذات اومشتهيات به يې ورباندي پېرزو كړي وي څكه چي دوی په مكارم الاخلاق باندي موصوف دي ﴿ فَمَالِ الَّذِينَ كَفَرُوا۟ قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ ﴾ (نو څه شوي دي هغو كسانو لره چي كافران شوي دي چي طرف ستا ته راځغاستونكي دي ؟) يعني دغو كفارو مجرمانو ته څه ورپېښه ده (ای محمده !) چي ستالوري ته غاړه غزونكي اوسترگي اړونكي په منډه را درومي ؟مفسرين كرام ليكي: مشركان به كړی كړی د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خوا وشا تولېدل اودهغه خبري به يې اورېدلې بيا به يې په ده صلى الله عليه وسلم او اصحابانو رضى الله عنهم ملنډي او استهزاگاني كولې ويل به يې كه دغه كسان جنت ته لكه چي دمحمد صلى الله عليه وسلم گمان دی ولاړ شي نوموږ به تردوی پخوا الاجنت ته تللي يو بيا دغه آيت نازل شو([3]) ﴿ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِينَ ﴾ له ښي لوري اوله كيڼ لوري څخه ناست ډلي ډلي چي تعجب كونكي اوخبري كونكي دي؟ ابوعبيده وايي (عزين)

[1] الطبري ۲۹/ ۵۳
[2] قرطبي تفسير ۱۸/ ۲۹۲
[3] دابو السعود تفسير ۵/ ۱۹۵

معنا جلا جلا تولی تولی. او په حديث شريف کي هم راغي چي: (مالي أراكم عزين؟ الا تصفون كما تصف الملائكة عند ربها)[1] يعني زه ولي تاسو جلا جلا تولی تولی ګورم؟ ولي داسي صفونه نه تړی لکه چي پرښتي يې د الله په وړاندي تړي؟! ﴿ أَيَطْمَعُ كُلُّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ أَن يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ﴾ آيا تمه کوي هر سړی له دوی څخه چي داخل به کړی شي په جنت د نعمتونو کي؟) استفهام انکاري دی چي توبيخ او تقريع هم ورسره شته يعني د دغو کفارو هريو داسي تمه لري چي الله به يې د نعمتونو جنت ته بوزي حال دا چي دوی د خاتم المرسلين تکذيب کړی دی؟ ﴿ كَلَّآ ﴾ نه ده داسي (چي دوی طمع کوي) بلکه دوی به هيڅکله هم جنت ته نه بېول کېږي بيا فرمايي ﴿ كَلَّآ إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ ﴾ بېشکه موږ پيدا کړي دي دوی له هغي (نطفې) څخه چي دوی پرې پوهېږي (چي خواره او ضعيفه ده يعني موږ دوی له داسي څيز نه چي هغه ناخوښه او مستقذره ده پيدا کړي چي هغه لومړی نطفه وروسته علقه او بيا مضغة ده نوله کومه به دوی جنات النعيم ته تر مؤمنانو د مخه ولاړ شي دوی خو د جنت د دخول لپاره داسي کومه بهتري نلري بلکه د جنت د دخول مستوجب خو د الله جل جلاله اطاعت دی. قرطبي ليکي: دوی به د مسلمانانو په فقيرانو او بېوزلانو باندي تکبر کاوه او وړباندي ملنډي به يې وهلې نو الله پاک (د کائناتو خالق جل جلاله و فرمايل ﴿ كَلَّآ إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ ﴾ يعني له پليتي څخه نوله دوی سره دغه تکبر نه ښايي[2] ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِرَبِّ ٱلْمَشَٰرِقِ وَٱلْمَغَٰرِبِ ﴾ (نو قسم مي دی په رب (مالک) د مشرقونو او مغربونو) يعني زه قسم خورم د لمر، سپوږمۍ او نورو ستورو په ختيزونو او لوېديزونو چي ﴿ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ ﴾ (بېشکه موږ خامخا قادر يو په دې باندي چي بدل راوړو خير ډېر غوره له دوی څخه) يعني دوی هلاک کړو او په بدل کي يې تر دوی د فضيلت خاوندان او د الله د حکم منونکي نور کسان راولو ﴿ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴾ او نه يو موږ عاجز کړی شوي (له دې څخه) ﴿ فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا۟ وَيَلْعَبُوا۟ ﴾ نو پرېږده دوی (ای محمده!) چي ننوزي او مشغولېږي په باطلو کي (او ته په هغه څه کي مشغول او سه چي در ته امر شوی، دغه داسي امر دی چي مشرکانو ته پکي وعيد او تهديد نغښتی دی) ﴿ حَتَّىٰ يُلَٰقُوا۟ يَوْمَهُمُ ٱلَّذِى يُوعَدُونَ ﴾ تر هغه پوري چي پيوست شي دوی له هغي ورځي خپلې سره چي له دوی سره يې وعده کړی شوي ده (هلته چي توبه او ندامت به ورته ګټه نه رسوي) ﴿ يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ ٱلْأَجْدَاثِ سِرَاعًا ﴾ هغه ورځ چي بهر راوايستل شي دوی له قبرونو څخه چي ځغلېدونکي به وي (ځمکي د محشر ته) ﴿ كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴾ (لکه چي دوی په طرف د نښو چابک ځغلي) يعني لکه چي دوی به خپلو هغو بتانو ته چي دوی د عبادت لپاره درولي چابک منډي وهي د دوی حال يې کله چي د حساب تم ځای ته په چټکتيا درومي له هغه حاله سره مشابه کړ چي دوی به خپلو بتانو او طاغوتانو ته په دنيا کي منډي ور

---

(۱) أخرجه مسلم - تفسير قرطبي
(۲) د قرطبي تفسير ۱۸/۲۹۴

وهلې اوپه دغه تشبيه کي استهزاء اوددوی دعقلونوپه بې کاره توب باندي تعريض دی چي دوی دهغه چاعبادت کاووچي هغه دعبادت ورنه وو اودواحداحد ذات عبادت يې پرې ايښی وو ﴿ خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ ﴾ حال داچي ذليلي خواري به وي سترګي ددوی (له شرمه به ښکته ځمکي ته ګوري ﴿ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٌۚ ﴾ (چي پټ کړي به وي دوی لره ذلت خواري) يعني له هره لوري به ور باندي سپکتيااوذلت راتاو وي په مخونوبه يې دخواري نښي نښانې ښکاريږي ﴿ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴾ داورځ ده (هغه دقيامت) چي وودوی چي وعده ورسره کړی شوي وه) په دنياکي) اودوی به ور باندي ملنډي وهلې دروغ يې ګڼله نونن به يې عذاب اوجزاووينې.

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته داسي يې لنډيزکوو.

١- دطباق صنعت چي د ﴿ بَعِيدٗا... قَرِيبٗا ﴾ اود ﴿ ٱلۡيَمِينِ... ٱلشِّمَالِ ﴾ اود ﴿ ٱلۡمَشَٰرِقِ ...وَٱلۡمَغَٰرِبِ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

٢- اشتقاقي جناس لکه د ﴿ سَأَلَ سَآئِلُۢ ﴾ اوداسي ﴿ تَعۡرُجُ ٱلۡمَعَارِجِ ﴾ په کلماتوکي چي شتون لري

٣ - دخاص ذکروروسته له عام څخه ترخوبې فضل اوشرافت وښيي لکه داچي ﴿ تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ ﴾ چي مراله روح څخه جبريل عليه السلام دی.

٤- مرسله مجمله تشبيه چي فرمايي ﴿ يَوۡمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلۡمُهۡلِ وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ﴾ چي د مشابهت وجه ترې حذف شوې ده.

٥- دعام يادونه وروسته له خاص څخه چي دالله جل جلاله پدې کلام کي شته ﴿ لَوۡ يَفۡتَدِي مِنۡ عَذَابِ يَوۡمِئِذِۭ بِبَنِيهِ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَأَخِيهِ ...وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا ثُمَّ يُنجِيهِ ... ﴾ دلته عموم وروسته له خصوص څخه راوړل شوی ترڅوچي دمحشردورځي هول اوهيبت وښيي.

٦- لطيفه مقابله لکه د ﴿ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعٗا ﴾ چي په مقابل چي يې راځي ﴿ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ﴾.

٧- انکاري استفهام چي دتقريع اوتوبيخ دافادې لپاره راځي لکه ﴿ أَيَطۡمَعُ كُلُّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ أَن يُدۡخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٖ ﴾.

٨- اوچته اولوړه کنايه لکه چي فرمايي ﴿ كَلَّآۖ إِنَّا خَلَقۡنَٰهُم مِّمَّا يَعۡلَمُونَ ﴾ چي له ناولي (مني) څخه يې کنايه راوړي خوپه تعبيرکي بالکل په ښايسته اسلوبوراغلی اوپنداخيستلواوويښولولپاره په خوراباريک اوبليغ اشارت وراندي شويدی

۹ - مرسله مجمله تشبيه چي فرمايي ﴿ كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴾ پدې تشبيه کي پردوی باندي تهکم اوددوی په بې عقلي باندي تعريض دی اوداچي پردوی دناکاره ناپوهي تسجيل وکړي چي هغه چاته چي دعبادت له سره ورنه دی بياهم دوی به منډي ورو هلې.

۱۰ - مرصع سجع چي لکه ملغلري اوياقوت څرګند ېږي اوهغه داسي ﴿ كَلَّآ ۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ، نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ ، تَدْعُوا۟ مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ، وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰٓ ﴾ اونور دېرځايونه.

تنبيه:

الله تعالی پدې قول کي چي فرمايي ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴾ ترپايه پوري په بشري طبيعتونو تنبيه فرمايلي اوداپې څرګنده کړي چي انسان دخپلي هوااوخواهش په لوردېرګرندی درومي هغه ډېر حرصناک دی کله چي ورته بهتري ښېګنه اوخيرورسېږي نوبخل کوي اوچي کله بياورته رنځ کړاو او فقرورسېږي بيانوخورا فريادا وجزع کوي له دوی څخه يې بياځانګړي ټولګي وايستل هغوی چي ايمان يې راوړی اونيک صالح عملونه ترسره کوي.

دالله تعالی په مرسته دالمعارج سورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه

***

دنوح سورت مکي دی اواته ويشت آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دنوح سورت لکه نور مکي سورتونه دعقيدې اصول اوتاداوونه بيانوي اودايمان بنسټونه ټينګوي پدې کي دانبياوودشيخ حضرت نوح عليه السلام کيسه په تفصيل سره ياده شوي اوله کومي ورځي چي يې دعوت پيل کړی بيادطوفان ترپېښې پوري هغه ستره پېښه چي الله تعالی دده دټبر دروغجن ګڼونکي (مکذبين) ټول په کي هلاک اوډوب کړل نوځکه يې سورت نوح بولي په سورت کي د الله جل جلاله دهغه تېري لاري (سنت) بيان دی کوم چي دالله له دعوت څخه منحرف ملتونه هلاکوي اوهمداسي دمرسلينواودمجرمينووروستنی برخه ليک چي دزمانې اوتاريخ په اوږدوکي يې لرلې په ډاګه کېږي

دسورت پيل دالله له لوري دنوح عليه السلام په رااستولوشوي چي الله هغه خپل قوم ته د دعوت دتبليغ اووېروني لپاره ګمارلی فرمايي ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ ترپايه.

وروسته دنوح عليه السلام دجهاداوصبر زغم يادونه کوي چي څرنګه دخپل تبليغ دبلني او دعوت په لاره کي قرباني ته چمتو ووشپه اوورځ په پټه اوښکاره به يې هغوی رابلل مګرله دغه سره دده دعوت هغوی لانورزيات په ګمراهي اوسرغړونه کي غوپه کول ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّى دَعَوْتُ قَوْمِى لَيْلًا وَنَهَارًا ، فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَآءِىٓ إِلَّا فِرَارًا ﴾.

بیادالله جل جلاله انعامونه اوپېرزويني ورپه يادوي ترڅو دالله په طاعت کي زيار وګالي او د الله دقدرت اورحمت نښي په دغه کائناتو کي وګوري فرمايي: ﴿ أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ، وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ، وَاللَّهُ أَنْبَتَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا ، ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ﴾ .

سره له دې ګردو پندونو ،نصيحتونو او وعظونو دهغه قوم اوتېر په کفراوطغيان کي لاهو وود خپل پيغمبرپه بلنه يې ملنډي وهلې ترڅو چي الله جل جلاله په طوفان باندي هلاک کړل ﴿ قَالَ نُوحٌ رَبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَنْ لَمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ، وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ، وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ... ﴾ ترپايه پوري

په پاى کي سورت دنوح عليه السلام دښېرا يادونه کوي چي هغه خپل قوم ته وروسته له هغه چي نه نيم سوه (۹۵۰) کاله يې دالله لوري ته بلنه ورکړه خوددوى زړونه پاسته نشول اوڼه يې هم په وعظ اونصيحت ګټه واخيستله اونه هم ووهرېدل نويې ورته دغسي بددعاوکړه چي ﴿ وَقَالَ نُوحٌ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ، إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ، رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴾ .

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ أَنْ أَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (۱) قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ
(۲) أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ (۳) يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى ۚ إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ
لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۴) قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا (۵) فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا (۶) وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ
لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا (۷) ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا (۸)
ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا (۹) فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (۱۰) يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا
(۱۱) وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا (۱۲) مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا (۱۳) وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا (۱۴)
أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا (۱۵) وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا (۱۶) وَاللَّهُ أَنْبَتَكُمْ مِنَ
الْأَرْضِ نَبَاتًا (۱۷) ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا (۱۸) وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا (۱۹) لِتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا
(۲۰) قَالَ نُوحٌ رَبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَنْ لَمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا (۲۱) وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا (۲۲) وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ
آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا (۲۳) وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ۖ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا (۲۴) مِمَّا
خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْصَارًا (۲۵) وَقَالَ نُوحٌ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ

دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَّبِّ ٱغْفِرْ لِى وَلِوَٰلِدَىَّ وَلِمَن دَخَلَ
بَيْتِىَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًۢا ﴿٢٨﴾ ﴾نوح: ١ ــ ٢٨

لغتونه:

(استغشوا)ځانونه يې ونغښتل پټ كړل(مدرارا) پرله پسې په شپږو شپږو (اطوارا) مختلف يو ډول وروسته له بله شاعروايي (والمرء يخلق طورابعدأطوار)([1])سړى يو ډول وروسته له نورو ډولونو پنځول كېږي (فجاجا) پراخي لاري(كُبارا) په كبركي وروستي پړاوته رسېدلى (ديار) دځمكي په سر ګرځېدونكي خوځېدونكى (تبارا) هلاكت اوفنا كېدل

تفسير:

﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ ﴾ (بېشكه موږ راستولي وو نوح قوم دده ته) يعني موږ دانبياووشيخ حضرت نوح دعربي جزيرې خلګو ته ورلېږلى وو. الوسي ليكي: مشهوره داده چي هغه عليه السلام په كوفه كي اوسېدواو هلته رااستول شوى دى([2]) ﴿ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ پدې سره چي ووېروه ته قوم خپل پخواله هغه ځني چي راشي دوى ته عذاب دردناك (كه يې ايمان نه راووړ په دنياكي اوعذاب داورپه آخرت كي) ﴿ قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴾ (وويل (نوح) اى زماقومه زه بېشكه تاسي ته ښكاره وېرونكى يم) يعني هغوى ته يې بلنه وركړه او ورته يې وويل چي: زه ستاسولپاره وېرونكى يم دحقيقت څرګندونكى يم تاسو دالله له عذابه وېروم زمابلنه څرګنده اوكار چاره مي واضح دي مفسرين كرام ليكي : نوح عليه السلام لومړنى نبي دى چي قوم ته مبعوث شوى اوپدې يې شيخ الانبياء بولي ځكه چي داوږده عمرخاوندوو اوډېروخت يې پخپل قوم كي تېر كړى لكه چي قرآنكريم يې كيسه كوي ﴿ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا ﴾ هغوى يې دالله لوري ته رابلل خو سره له دومره اوږدې مودې په هغه باندي ډېرخي لږكسانو ايمان راووړنو قرآنكريم دده ګرده كيسه كله چي يې قوم په طوفان هلاک شو يوازي په دغه سورت كي له پيل څخه بيا ترپايه بيان كړي ؛ حضرت نوح عليه السلام دپنځو أولوالعزم نبيانو څخه يو دى چي حضرت ابراهيم ، موسى ، عيسى اومحمد عليهم السلام دي دده په زمانه كي كفر شهرت موندلى اودده قوم دبتانو په عبادت اوزياته سرغړونه ، طغيان، ظلم اوعصيان باندي مشهورشو نوالله جل جلاله ورته نوح عليه السلام رااستاوو چي كيسه همدغه ده چي قرآن يې بيانوي ﴿ أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ﴾ چي بندګي كوئ تاسي الله ته او ووېرېږئ له الله څخه او زماخبري (دالله داطاعت اوبتانو دعبادت دپرېښودلو په هكله) ومنئ ﴿ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ﴾ (چي وبښي الله تاسي ته ګناهونه ستاسي) يعني كه موهغه څه چي زه درته وايم ترسره كړل نوالله به ستا سي كړي ګناوي درمعاف كړي اوداچي (من ذنوبكم) يې وفرمايل مقصد داچي ځيني ګناوي ستاسي ،كومي چي تراسلام راوړلو دمخه

([1]) البحرالمحيط ٨ /٣٣٧
([2]) الوسي تفسير ٢٩ /٧٩

دي ځکه چي ايمان راوړل تېري ګناوي معافوي وروستني نه معافوي (۱) ﴿ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ (او وروستى به کړي الله تاسي (بې له عذابه) ترنښتې په نامه کړى شوي پوري (چي اجل دى) يعني الله به ستاسو عمرونه اوږده کړي ترهغه پوري چي دالله په علم کي مقدر او مقرردى چي په ښايسته ژوند اوپرېمانه عيش اوروزي کي به اوسى. مفسرين کرام وايې چي مراد له تاخير څخه هغه تاخيردى چي بې له عذابه وي يعني په دنيا کي به مو داجل تر ټاکلي مودې پوري بې له عذابه پرېږدي او هرچي اجل دى هغه نه وړاندي کېږي اونه هم وروسته کېږي ﴿ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ ځکه يې وروسته پسي وفرمايل ﴿ إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ﴾ (بېشکه چي اجل نېټه دالله کله چي راشي نه وروسته کېږي) يعني دانسان عمرمحدوددى نه زياتېږي اونه کمېږي اودا چي داجل نسبت يې الله ته وکړ ځکه چي الله جل جلاله يې ټاکي اوليکي(۲) ﴿ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ (که چېري يى تاسي چي پوهېږى) يعني که تاسو پدې پوهېداى نو به مو دايمان په راوړلوکي تلوارکړى وو ځنډ به مو نه کاوو. ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّى دَعَوْتُ قَوْمِى لَيْلًا وَنَهَارًا ﴾ وويل(نوح) اى زماربه بېشکه ماوبالوقوم خپل (توحيدته) شپه اوورځ تل (بې له سستي اوستوماني) يعني کله چي يې ګردي چاري په کارکړې اوتر وروستي پړاوه يې خپل زيارونه سپماوو نوبيايې دغسي وويل ﴿ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَآءِىٓ إِلَّا فِرَارًا ﴾ نو زيات نه کړدوى ته دعوت زمامګرتېښته (له ايمانه اوطاعته څخه) يعني دوى ته زمابلني پرته له دې چي له حق څخه وتښتېدل اوځنګ يې وکړبل څه ورزيات نکړل او ورپسې يې ددغه تېښتې اوځنګ کولوانځور په داسي تصويرسره چي ترې پورته بل نشته راوړچي ﴿ وَإِنِّى كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ ﴾ اوبېشکه زه چي هرکله دوى وبولم (وحدت اوطاعت ته) ددې لپاره چي ته دوى وبښې. په التسهيل کي ليکي چي مغفرت يې پدې يادکړ چي هغه دايمان په سبب وي نوددې لپاره چي ددوى داعراض بدي ښکاره شي ځکه چي دوى له خپلي نېکمرغي څخه اعراض اوځنګ کړى دى ﴿ جَعَلُوٓا۟ أَصَٰبِعَهُمْ فِىٓ ءَاذَانِهِمْ ﴾ نونني باسي دوى ګوتي خپلي په غوږونو خپلوکي (تر څوزمادعوت وانه وري ﴿ وَٱسْتَغْشَوْا۟ ثِيَابَهُمْ ﴾ او چاپېر کړي نغښتلي يې وي ځانونه خپل په جامو خپلو(چي ماونه ويني اوخبري مي وانه وري په البحر المحيط کي راوړي چي ظاهره دادى چي دغه به حقيقت ووچي غوږونه به يې بندول ترڅودنوح عليه السلام بلنه وانه وري اوپه جاموکي به يې ځانونه نغښتل ترڅوهغه ته ونه ګوري ځکه چي دنصيحت له اورېدلو اودناصح له ليدلوېې کرکه کوله او ورسره بغض اوکينه يې درلوده اوداهم کېداى شي چي دغه دي ددوى له اعراض څخه دمبالغې يوه کنايه وي چي دوى دهغه چا په ډول دي چي غوږونه بندوي اوسرونه ځانونه نغاړي (۳) ﴿ وَأَصَرُّوا۟ وَٱسْتَكْبَرُوا۟

---

(۳) داهغه څه دي چي ابوحيان په البحر المحيط کي ليکلي اوطبري بيا وايې چي (من) دتبعيض لپاره نه دى بلکه د(عن) په معنادى چي دلته يې معنا ګردي ګناوي ستاسي کېږي خولومړى أرجح دى.

(۱) دصاوي حاشيه په جلالين باندي ۴/ ۲۴۹

(۲) البحرالمحيط ۸/ ۳۳۸

أَسْتِكْبَارًا ﴾ اوهمېشه والى كوي (پخپل كفر) اوسركښي كوي (زماله متابعته) په سركښي كولو (لوى عظيم) سره (پدې كي ددوى له زيات عناداو دښمني څخه كنايه راغلي چي دوى تردې اندازې په گمراهي كي غوپه دي ﴿ ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ﴾ بيابېشكه ما ښكاره ويناوكړه دوى ته (دخلكوپه ورانديې له وېري) ﴿ ثُمَّ إِنِّيٓ أَعْلَنتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ﴾ بيا بېشكه ماښكاره ويناوكړه دوى ته اوپه پټه مي ويناوكړه دوى ته (په هره لاره ددعوت ورسره ولاړم . مفسرين كرام ليكي چي :دغه راوړل (ثم) په توري سره ددې څرگندوى دى چي دغه وروستى ښكاره او پټه ويناد ريمه لاره وه چي نوح عليه السلام ددعوت اوبلني په هكله خپله كړي وه چي نه يوازي ښكاره اونه يوازي پټه بلكه هغه وخت چي دوى ته به په اعلان كولوكي مصلحت ووپه ښكاره به يې ورته دعوت كاوواوكه به چېري دپټي خبري داغېزي گټه ورته معلومېده په پټه به يې ورته دعوت كاوو او بيايې دهغه پټ اوښكاره دعوت دتوضيح په هكله داسي وفرمايل ﴿ فَقُلْتُ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارًا ﴾ نوومي ويل دوى ته ښښنه وغواړئ له ربه خپله (له شركه) بېشكه هغه (الله) ډېرښښونكى دى (توبه كونكولره له كفره اوگناهونو څخه) ﴿ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ﴾ راوبه لېږي آسمان پر تاسوباندي ډېراوربدونكى دباران پرله پسې په شپبوشپبو) ﴿ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ ﴾ اودرډېروي كومك كوي له تاسي سره په مالونواوزامنو (ستاسي كي) ﴿ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّٰتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَٰرًا ﴾ (اووبه گرزوي تاسي ته باغونه اووبه گرزوي تاسي ته ويالې) يعني تاسي ته به پراخ دمېوې اوسايي لرونكو ونوپراخ باغونه دركړي چي په مينځ كي به يې ويالې رواني وي نوح عليه السلام دوى ته دآسمان او ځمكي دبركتونو اوښېگړوتمه وركړه كه چېري دوى په الله تعالى ايمان راوړي هغه الله چي دهغه په يدد قدرت كي دآسمان اوځمكي دخزانوكلياني دي دلته يې ددوى دزړه عواطف وخوځول اودايې بيان كړل چي دا وچكالي اودغه دروزي اوذوذات څخه محرومېدل دغه گردپه سبب دكفرددوى دي چي په هغه الله ايمان نه راوړي چي په لاس كي يې اورول دبارانونو ، پراخي دروزي او ورزياتول د اولادونودى، نو دوى ته نه ښايي چي په داسي ځواكمن اومقتدرالله كافران شي او دداسي معبودانوعبادت وكړي چي دوى له خپله لاسه جوړكړي نه گټه رسوي اونه تاوان دفع كوي، بياراگرزي اوددوى نفسونه خوځوي په بل ډول اسلوبويې دايمان خواته رابولي ورته وايي ﴿ مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ﴾ (څه شوي دي په تاسي باندي چي هيله نه لرى له الله څخه دوقار ، لويي ، عزت) يعني پرتاسوڅه شوي دي چي دسترعظيم دسلطان خاوند الله څخه نه وېرېږي ؟ ابن عباس وايي : معناداچي تاسي ولي دالله عظمت داسي لكه چي ښايي نه كوى ([1]) ﴿ وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴾ او(حال دادى چي)پيدا كړي يې ياست راز راز (په مختلفو اطواراو اداروكي چي يوځل نطفه اوبياعلقه اوبيامضغة وي فتبارك الله أحسن الخالقين) وريسې يې دوى ته دالله دقدرت اووحدانيت په هغونښانوتنبيه وركړه كوم چي په كائناتوكي شتون لري

([1]) الطبري ۲۹/ ۵۹

نوبيې وفرمايل ﴿ أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَوَٰتٍ طِبَاقًا ﴾ آيا نه گورى تاسي څرنګه پيدا کړي دي الله اوه آسمانونه لاندي باندي (يو دبل د پاسه) يعني اى قومه تاسو دالله عظمت او قدرت نه ويني او دعبرت په سترګو ورته نه ګورى سوچ او فکرپکي نه کوى ؟ چي څرنګه دغه عظيم لو جليل الشان الله اوه آسمانونه يو دبل د پاسه پوړ په پوړ په خورا مضبوطي او کلکتوب پيدا کړي دي ! ! ﴿ وَجَعَلَ ٱلْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا ﴾ او ګرزولي يې ده سپوږمۍ په دې آسمانونو کي رڼا روښانه لپاره دمخ دځمکي په شپه کي امام فخررازي ليکي چي سپوږمۍ ددنيا په آسمان کي ده او په ګردو آسمانونو کي نه ده او دا يو داسي مثال دى لکه چي روايې باچا په عراق کي دى دا معنا نلري چي باچا د عراق په ګوټ ګوټ کي دى بلکه معنا يې دا چي هغه دعراق په يو ځاى کي دى همداسي د سپوږمۍ مثال دروا خله (¹) په البحر کي ليکي چي سپوږمۍ (قمر) ددنيا په آسمان کي ده او دآسمانونو ظرفيت د سپوږمۍ لپاره صحيح دى ځکه چي دا لازم نه دي چي ظرف به ټول مظروف ډکوي ته وايې زيد په ښار کي دى معنا دا چي زيد د ښار په يوه ځاى کي دىٔ (²) ﴿ وَجَعَلَ ٱلشَّمْسَ سِرَاجًا ﴾ او ګرزولى يې دى لمر ډېره بله روښانه (چي د دنيا خلګ ورڅخه رڼا مومي لکه چي خلګ په ډېر و خپل کورونه روښانه کوي او څرنګه چي دلمر رڼا بشپړه او تر سپوږمۍ په ګټه اخيستلو کي زياته وه نو يې له هغه څخه په ډېره تعبير وکړ چي پخپله بلېږي او سپوږمۍ يې رڼا وګڼله هغه چي له بل شي څخه اخيستل شوي وي او ددې مدعا تائيد دفلکي علوم وڅخه هم کېږي چي دوى ثابته کړي دلمر رڼا خپله او ذاتي ده او دسپوږمۍ رڼا له لمرڅخه اخيستل شوي او عارضي ده پاکي ده هغه الله لره چي علم يې په هرڅه احاطه کړي ده ﴿ وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ نَبَاتًا ﴾ (او الله راززغونه کړي يې تاسي (يعني ستاسو پلار يې پيدا کړى) له ځمکي څخه زرغونېده پيدا کېده) کله چي يې دآفاقو ذکروکړ نودلته ورپسي دانفسو يادونه کوي ددې لپاره چي پدې څېزونو کي دالله په عظمت ، قدرت او عجيبه مصنوعاتو کي ښکاره دلائل او نښاني شته ، معنا دا چي تاسي يې له ځمکي داسي پيدا کړى لکه چي نباتات پيدا کوي داسي يې له خاورو راوايستلى لکه چي نبات ترې راوباسي . مفسرين کرام وايې: څرنګه چي راوتل اولوئېدل ددوى دځمکي په حيواني او نباتي غذاګانو ترسره کېږي نوله دې پلوه له نباتاتو سره مشابهت لري هغه چي خپله غذاله ځمکي څخه ترلاسه کوي ځکه يې نو دانسانانو پيدا اينبت زرغونېدل وبلل او يا دا چي پدې کي

(¹) کبير تفسير ۳۰ / ۱۴۰

(²) البحر المحيط ۸ / ۳۴۰ زه وايم چي پدې هکله چي سپوږمۍ په آسمانونو کي دننه ده له دې آيته پرته بل دليل نشته او دغه تأويل تا وپيژاند او که چيري سپوږمۍ ترګردو کواکبو ځمکي ته نژدې وي او په قاطع نص سره دا هم ثابته شوي وي چي الله ستوري دآسمان دښايست لپاره پيدا کړي او ددنيا په آسمان کي يې ګرزولي ﴿ وَلَقَدْ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ ﴾ نو بيا دا لېري نه ده چي خلګ دي سپوږمۍ ته وخېژي ځکه چي هغه ترټولو لومړي آسمان را دلاندي ده لکه چي اوس فضايي بېړۍ زموږ په وخت کي ورختلي اونوى علم هم ددې امکان ويني او ثابتوي يې نوله ديني پلوه دستوروا وفضاء تسخيرول ممنوع نه دى او دا چي آسمان ته خوک وخېژي دغه محال او غير ممکن دى ځکه چي الله جل جلاله فرمايې ﴿ وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۖ وَهُمْ عَنْ ءَايَٰتِهَا مُعْرِضُونَ ﴾ . صابوني رحمه الله .

دي ددوی پلار آدم علیه السلام ته اشاره وي هغه چي له خاوري څخه یې پیدا کړ اوبیایې اولادونه وریسي راغلل نوزرغونېدل له ځمکي پدې معنادي ﴿ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ﴾ بیابه تني باسي تاسي (پس له مرګه) په هغې (ځمکي) کي بیابه راوباسي تاسي (له قبرونو څخه) راایستل یعني له مرګه وروسته موځمکي ته بیایي اوهورې به خښېږی وروسته به موبیا دبعث اوحساب په وخت کي ترې راباسي ددې تاکیدېې په مصدر (اخراجًا) سره وکړترڅودا افاده کړي چي دغه چاره اورومرو کېدونکې ده دغه آیت لکه دا الله هغه وینا دغسي ده چي ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾ (طه:۵۵)

﴿ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا ﴾ (او الله ګرزولي ده تاسي ته ځمکه غوړولی فرش) یعني الله ځمکه تاسي ته داسي لکه فرش وېره کړي چي ورباندي اوړی رااوړی لکه چي یوڅوک د غولي فرش استعمالوي په التسهیل کي لیکي چي: ځمکه یې له فرش سره په اوږدوالي او غوړېدلو کي تشبیه کړي اوځینوله دې څخه داهم اخیستي چي ځمکه کروي نه ده خوپدې کي پوښتنه پیدا کېږي (۱) الوسي لیکي چي په آیت کي دا دلالت نشته چي مځکه هواره سطح غیر ګروی ده ځکه دلویې ګړې په مخ هرڅوک هغه خپل ځان ته نژدې مسطح ویني بیادځمکي دګرویت اویانه ګرویت عقیده په شریعت پسي اړه نلري خوګرویت یې لکه یقیني داسي بربښي اوداچي فرش یې ګڼلي یعني تاسولکه دفرش غوندي ورباندي کېنی ، ګرزی ، ویده کېږی لاندي باندي یې استعمالوی ﴿ لِتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴾ ترڅوچي لاړشی تاسي له دغه (ځمکي) نه پرلارو ارتو باندي (په سفرونو) نوکله چي دوی په عصیان اصرار وکړ اوبد اقوال افعال ترې صادرشول قرآن عظیم الشان یې داسي حکایت کوي ﴿ قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي ﴾ وویل نوح ای ربه زمابښکه دوی نافرماني وکړه له ماڅخه (چي زما په تکذیب کي وروستي پړاوته ورسېدل) ﴿ وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴾ اومتابعت یې وکړ د هغه چاچي نه یې دي زیات کړی ده ته مال دده اواولاد دده پرته له ګمراهي) یعني دوی دخپلو هغومشرانو اوبدایانو متابعت وکړکوم چي په مالونو اولادونوغره شوي وو اوهغوی هلاک شول اوددواړه دارینو سعادت یې وبایلود نوددوی لپاره په خسران کي مقتدایان شول ﴿ وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ﴾ اومکر وکړ دغورئیسانو ددوی مکرډېرلوی آلوسي لیکي چي (کبارًا) په تکبر کي مبالغې ته وایې هغه داچي د دین په هکله یې چم اوچل جوړکړ خلک یې له دین څخه راوګرزول دنوح علیه السلام په ځورولویې وهڅول (۲) ﴿ وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ ﴾ او وویل (مشرانو کشرانو ته) چي مه پرېږدئ تاسي عبادت دمعبودانو خپلو (د نوح خبره ونه منئ) ﴿ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴾ (اومه پرېږدئ (عبادت دهغه بت چي) وَدّ (نومېږي) اوهغه چي سُوَاعْ (نومېږي) اوهغوی چي یغُوث اویعُوق اونسر (نومېږي) یعني په ځانګړي ډول ددغو پنځوبتانو عبادت مه پرېږدئ. صاوي لیکي چي داهغه بتان ووچي دوی به یې عبادت کاوو اوترګردو بتانو غټ اوددوی په نزد ستروو ځکه یې په خاص

---

(۱) التسهیل ۴/ ۱۵۱

(۲) روح المعاني ۲۹/ ۷۶

ډول يادونه وکړه اودغه د دوی دکفرپه ټينګ والي اوسخت عداوت دلالت کوي چي دوی به له دين څخه دراګرزولولپاره ډول ډول مکرونه په کارول دمخلص واعظ اونصيحت کونکي بڼه به يې غوره کړه اوکشران به يې دپلرونو اونيکونوپه دين باندي ټينګول ﴿ وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ﴾ اوپه تحقيق ګمراه کړي دي (دغومشرانوپه سبب د عبادت دبتانو) (کشران اونورخلګ چي دګمراهي اوطغيان لاري يې ورته ښايسته کړي دي اوبيا نوح عليه السلام ورته دنوري ګمراهي ښېرا وکړه ﴿ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴾ اومه زياتوه (اې پروردګاره زما) ظالمانو ته مګرګمراهي هلاک عذاب)يعني اې الله دوی ته ددوی په دښمني اوطغيان مه ورزياتوه مګر ګمراهي په ګمراهي برسېره. مفسرين کرام وايي : دغه ښېرايې هله وکړه کله چي ددوی له ايمان راوړلو څخه بېخي ناهيلی اومأيوس شوچي الله ورته وفرمايل ﴿ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ ﴾ نوالله يې ښېرا ومنله اودوی يې غرق کړل څکه الله فرمايي ﴿ مِّمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا ﴾ په سبب د ګناهونو خپلوسره ډوب کړل شول (په دنياکي په ډېرو اوبو کي) نو داخل به کړل شي (أخروي) اورته، په التسهيل کي راوړي چي دغه دالله جل جلاله کلام دی چي ددوی له حاله اخبارفرمايي او(ما) په (مما) کلمه کي زائدچي دتأکيدلپاره راوړل شوي ده اوهمداسي دمجرور راتلل ترجاردمخه هم دتأکيدلپاره شوی ترڅوددې بيان وکړي چي ددوی غرقېدل اواورته لوېدل ددوی دکفراوعصيان په پايله اونتېجه کي راغلي دي([1]) ﴿ فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا ﴾ بيانه موندل دوی دخپلوځانونولپاره مددګاران پرته له الله (چي له عذابه يې وژغوري . ابوالسعودوايي پدې کي ددوی حالت ته تعريض دی چي دوی پرته له الله نورمعبودان نيولی اوهغوی ددوی دمرستي کولوتوان نلري اودغه يوډول پردوی باندي تهکم هم ګڼل کېږي([2]) ﴿ وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ﴾ او وويل نوح اې زماربه مه پرېږده پرځمکه باندي له کافرانوڅخه هيڅ اوسېدونکی (ګرزېدونکی اوټول هلاک کړه. په التسهيل کي ليکي چي(ديار) دنفي عام له آسماووڅخه دی لکه چي ويل کېږي (مافي الداردیار) يعني په سرای کي هيڅوک نشته([3])اوبيايې علت هسي بيانوي چي ﴿ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ ﴾ بېشکه که چېري ته پرېږدې دوی نوګمراهان به کړي (مؤمنان)بندګان ستا(له حقي لاري څخه) ﴿ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴾ اونه به زېږي دوی مګرخوفاجر ناشکره بدکاره له حق څخه منکره.امام فخررازي ليکي که څوک و پوښتي چي حضرت نوح ته څرنګه دغه خبره معلومه شوه؟ ځواب داچي هغه ته په استقرائي ډول دغه معلومات شوي ووځکه چي نه نيم سوه کاله يې پکي تېرکړي وو ددوی طبيعتونه يې تجربه کړي وو چي يوسړي به خپل زوی ترلاس نيولی ده ته راووست اوبيابه يې خپل زوی ته وويل اې زويکيه اله دغه دروغجن څخه ووېرېږه ! ماته خپل پلار همدغسي وصيت کړی وو اوبياچي

([1])التسهيل ۴ /۱۵۷

([2])دابوالسعودتفسير ۵ /۱۹۹

([3])التسهيل نفس المرجع

به کله دغه بو دا مړشوا و ماشوم به زنې شو دغه خبره به يې په غوږ کې وه څکه يې نوو ويل چې ﴿ وَلَا يَلِدُوٓاْ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴾ او کله چې يې کفاروته ښېرا وکړه ورپسې يې مؤمنانو ته داسي دعاوکړه چې ﴿ رَّبِّ ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ﴾ ای زماربه وبښه ما او مور او پلار زما او هغه څوک چې ننوزي کور، بېړۍ او مسجد زما ته حال دا چې ايمان لرونکي وي او له پاره د نارينه مسلمانانو او ښځينه مسلماتو وبښنه وکړه او ورپسې يې ګرد مؤمنان ياد کړل تر څو دغه ښه أبلغ او اجمع وي ﴿ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴾ او مه زياتوه ای زما پروردګاره ظالمانو (کافرانو) له مګر خو برباد ي هلاکت (په دنيا او آخرت کې).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې د بديع او بيان کومې ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- د طباق صنعت چې د ﴿ أَعْلَنتُ وَأَسْرَرْتُ ﴾ ترمينځ او د ﴿ إِسْرَارًا ....جِهَارًا ﴾ ترمينځ او د ﴿ لَيْلًا وَنَهَارًا يُعِيدُكُمْ.... وَيُخْرِجُكُمْ ﴾ ترمينځ راغلی دی

۲- مرسل مجاز چې پدې کلام کې راغي ﴿ جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمْ فِيٓ ءَاذَانِهِمْ ﴾ مقصد د ګوتو سرونه دي چې په غوږونو کې يې ننباسي د لته اطلاق د کل راغلی او مراد ورڅخه جزدی

۳- تبعيه استعاره چې فرمايي ﴿ وَٱللَّهُ أَنۢبَتَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ نَبَاتًا ﴾ د دوی پيدا ښت يې د نباتاتو له راتوکېدلو سره تشبيه کړ کوم چې له ځمکي راز غونېږي نو له نبات څخه يې (انبات) د تبعيي استعارې په توګه مشتق کړيدی.

۴- د مصدر راوړل د تأکيد لپاره لکه ﴿ وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ﴾ او ﴿ وَٱسْتَكْبَرُواْ ٱسْتِكْبَارًا ﴾ او ﴿ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ﴾ او دغه ته په علم بديع کې د اطناب صنعت وايي:.

۵- ذکر د خاص وروسته له عامه لکه دا چې ﴿ وَقَالُواْ لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا ... ﴾ د آيت ترپايه او همداسي ددې برعکس چې عام وروسته له خاصه راوړي لکه دا چې ﴿ رَّبِّ ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ﴾ چې دغه دواړه د اطناب څخه ګڼل کېږي او بديعي محسنات دي

۶- مرصع سجع چې د آيتونو د پيل مراعات پکې شوی لکه ﴿ مِّدْرَارًا ،أَنْهَٰرًا ، وَقَارًا، أَطْوَارًا ﴾ ترپايه پوري

فائده او نکته:

علماء کرامو د قبر د عذاب د ثابتولو لپاره په دغه آیت شریف دلیل نیولی چې الله تعالی فرمایي ﴿مِّمَّا خَطِيٓـَٔـٰتِهِمْ أُغْرِقُوا۟ فَأُدْخِلُوا۟ نَارًا﴾ دوی وایي چې مقصد له اور څخه هغه د قبر اور دی ځکه چې الله د (فا) په توري سره عطف فرمایلی او دغه توری لپاره د هغه ترتیب دی کوم چې تعقیب ورسره وي او د آخرت او ر خو به تراوسه لاندی شکلی نو داپدې دلالت کوي چې مراد ور څخه د قبر عذاب دی او دغه یو نرم او باریک استدلال دی.

د الله جل جلاله په مرسته د نوح د سورت د تفسیر ژباړه بشپړه شوه.

***

د (الجن) سورت مکي او اته ویشت آیتونه لري

د سورت په وړاندې:

د (الجن) سورت لکه نور مکي سورتونه د عقیدې بنسټونه لکه وحدانیت، رسالت او بعث جزا بیانوي د سورت محور د پېریانو په هکله دی او د هغوی ځانګړې چارې او امور بیې چې د قرآنکریم له اورېدلو څخه یې پیلوي تر څو چې په ایمان راوړلو مشرف کېږي، په سورت کې ځیني د دوی عجائبات هم راوړل کېږي لکه استراق السمع (د ملائکو خبرو ته غوږ نیول) او په ستورو ویشتل کېدل همداسې په ځینو اسرارو او رازونو د دوی خبرتیا او نور هېښوونکي او حیرانونکي خبرې.

د سورت پیل دیوې ډلې پېریانو له خوا د قرآنکریم په اورېدلو کېږي او داچې دوی د قرآنکریم له شکلي بیان څخه اغېزمن کېږي آن تردې چې سمدستي ورباندې ایمان راوړي او نور قوم هم د ایمان لوري ته رابولي ﴿قُلْ أُوحِىَ إِلَىَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓا۟ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ۝ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ﴾ د آیتونو تر پایه وروسته دوی د الله جل جلاله تمجید او تنزیه ستایي او یوازې د الله جل جلاله عبادت خوښوي د هغو کسانو په عقلونو خاندي څوک چې الله لره یې (معاذالله) زوی ثابت کړی وي ﴿وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةً وَلَا وَلَدًا ۝ وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا﴾ د آیتونو تر پایه

بیا آیتونه د پېریانو هغه استراق السمع د پرښتو پټو خبروته د دوی غوږ نیول او د آسمانونو څوکېداري د ملائکو په واسطه او په دوی پسي اور غورځونکي ستوري راویشتل چې دغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثته وروسته نوي چارې دې نو دوی له دغو نویو پېښو څخه تعجب کوي داسې بیانوي ﴿وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ۝ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٔانَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا﴾ د آیتونو تر پایه

له دې نه وروسته سورت پېریانان په دوه ټولګیو وېشي چې یوه یې مؤمنان او بله کافران او بیا د دواړو وروستی انجام بیانوي چې ﴿وَأَنَّا مِنَّا ٱلْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا ٱلْقَٰسِطُونَ ۖ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ تَحَرَّوْا۟ رَشَدًا ۝ وَأَمَّا ٱلْقَٰسِطُونَ فَكَانُوا۟ لِجَهَنَّمَ حَطَبًا﴾.

دغسي سورت درسول الله صلی الله علیه وسلم ددعوت لورته لېږدي اوهغه دپېریانانو خواوشا راټولېدل بیانوي چي درسول الله چاپېریې هلته چي قرآن عظیم الشان یې لوستل احاطه کړي وو فرمایي ﴿ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيۡهِ لِبَدٗا ، قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدٗا ﴾ .

وروسته پیغمبرعلیه افضل التحیة والسلام ته حکم کوي ترڅوالله جل جلاله ته غاړه اېښودل او خضوع اعلان کړي اویوازي دالله جل جلاله عبادت په اخلاص ترسره کړي اوداسي ونښيي چي (لاحول ولاقوة الابالله) نوفرمایي ﴿ قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدٗا ، قُلۡ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا ، قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا ﴾ .

په پای کي سورت داڅرګندوي چي یوازي الله تعالی په غیبو خبردار دی هغه ته دګردو کائناتو اسرارڅرګند دي نووایي ﴿ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا ، إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ مِن رَّسُولٖ فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ رَصَدٗا... ﴾ دسورت ترپایه پوري آیتونه.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ قُلۡ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسۡتَمَعَ نَفَرٞ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَقَالُوٓاْ إِنَّا سَمِعۡنَا قُرۡءَانًا عَجَبٗا (١) يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ
بِرَبِّنَآ أَحَدٗا (٢) وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةٗ وَلَا وَلَدٗا (٣) وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطٗا (٤) وَأَنَّا ظَنَنَّآ
أَن لَّن تَقُولَ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا (٥) وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَزَادُوهُمۡ رَهَقٗا (٦) وَأَنَّهُمۡ ظَنُّواْ
كَمَا ظَنَنتُمۡ أَن لَّن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ أَحَدٗا (٧) وَأَنَّا لَمَسۡنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدۡنَٰهَا مُلِئَتۡ حَرَسٗا شَدِيدٗا وَشُهُبٗا (٨) وَأَنَّا كُنَّا نَقۡعُدُ
مِنۡهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمۡعِۖ فَمَن يَسۡتَمِعِ ٱلۡأٓنَ يَجِدۡ لَهُۥ شِهَابٗا رَّصَدٗا (٩) وَأَنَّا لَا نَدۡرِيٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ أَرَادَ بِهِمۡ رَبُّهُمۡ
رَشَدٗا (١٠) وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدٗا (١١) وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن نُّعۡجِزَ ٱللَّهَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَن نُّعۡجِزَهُۥ
هَرَبٗا (١٢) وَأَنَّا لَمَّا سَمِعۡنَا ٱلۡهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦۖ فَمَن يُؤۡمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخۡسٗا وَلَا رَهَقٗا (١٣) وَأَنَّا مِنَّا ٱلۡمُسۡلِمُونَ وَمِنَّا
ٱلۡقَٰسِطُونَۖ فَمَنۡ أَسۡلَمَ فَأُوْلَٰٓئِكَ تَحَرَّوۡاْ رَشَدٗا (١٤) وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ فَكَانُواْ لِجَهَنَّمَ حَطَبٗا (١٥) وَأَلَّوِ ٱسۡتَقَٰمُواْ عَلَى
ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسۡقَيۡنَٰهُم مَّآءً غَدَقٗا (١٦) لِّنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَمَن يُعۡرِضۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِۦ يَسۡلُكۡهُ عَذَابٗا صَعَدٗا (١٧) وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا
تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا (١٨) وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيۡهِ لِبَدٗا (١٩) قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدٗا
(٢٠) قُلۡ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا (٢١) قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا (٢٢) إِلَّا بَلَٰغٗا مِّنَ
ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦۚ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا (٢٣) حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوۡاْ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعۡلَمُونَ
مَنۡ أَضۡعَفُ نَاصِرٗا وَأَقَلُّ عَدَدٗا (٢٤) قُلۡ إِنۡ أَدۡرِيٓ أَقَرِيبٞ مَّا تُوعَدُونَ أَمۡ يَجۡعَلُ لَهُۥ رَبِّيٓ أَمَدًا (٢٥) عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ فَلَا

يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ﴿٢٧﴾ لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ
أَبْلَغُوا۟ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًۢا ﴿٢٨﴾ ﴾ الجن: ١ ـ ٢٨

لغتونه:

(الرشد) حق اوصواب ته وايي (جد) په لغت کي عظمت ته اوجلال ته وايي اوهمداسي (جد)زيار او کوښښ اوډيلارپلارنيکه ته هم وايي (حرسا) جمع اوهغه څوکيدارته وايي ياخواسم جمع دی لکه (خدم) ويل کيږي (حرس، حرّاس، حارس)هغه چي څارونکی اوساتندوی وي (قددا) متفرق،ډلي ډلي (غدقًا) ډيرپراخ (القاسطون) ظالمان له سمي لاري څخه کاږه شوي (صعدًا) سخت مشکل هغه چي دانسان له توانه وتلي وی (يسلکه) دنني کوي يې (لبدا) اوډلي يودبل دپاسه وايې(تلبد الشئ) کله چي يودبل دپاسه واوړل شي (ملتحدًا) دپناه ځای ژغورنتون.

تفسير:

﴿ قُلْ أُوحِىَ إِلَىَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) چي وحی راغلي ماته چي ښيشکه شان داچي واورېدو(قرائت زما) يوه ټولی له پېريانو څخه (نو وربانداي ايمان يې راووړاو تصديق يې وکړ) ﴿ فَقَالُوٓا۟ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ﴾ نو وويل دوی (نورقوم خپل ته کله چي بيرته ور ستانه شول چي) ښيشکه موږ يو عجيب قرآن واورېدو(چي په ښکلي نظم اوبليغ اسلوبو کي زړه راښکونکي پندونه اوښايسته حکمتونه يې درلودل(عجبًا) مصدردی اود قرآن عظيم الشان لپاره دده وصف کېدل دمبالغې لپاره راغلي. مفسرين کرام ليکي چي دوی هغه وخت درسول الله صلى الله عليه وسلم تلاوت واورېدو کله چي هغه عليه السلام دسهارپه لمانځه کي قرآنکريم لوستل اوددوی په شتون اواورېدلو خبرنه وو(١) اوده ته دغه خبرپه وحی سره ورکول شوه ځکه چي الله فرمايي ﴿ أُوحِىَ إِلَىَّ ﴾ اوددې تائيد په هغه کيسه سره هم راځي کومه چي الله جل جلاله په سورت احقاف کي بيان کړي چي ﴿ وَإِذْ صَرَفْنَآ إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ ٱلْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ ٱلْقُرْءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓا۟ أَنصِتُوا۟ فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْا۟ إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴾مقصد له دې اخبارڅخه دقريشو اونوروعربو توبيخ اوټکول دي ځکه چي دوی له ايمان راوړلو څخه ځنډ کړی وواوتردوی پېريان لابهتراوغوره وو له دې امله چي کله يې قرآن واورېدو سمدستي يې دهغه عظمت وستايو ايمان يې وربانډي راووړاوخپل قوم اوتبرته يې انذار اوويرونه ور کړه اوعرب دپېريانانو څخه برخلاف چي قرآن مجيد ددوی په ژبه هم رانازل شوی مګردوی يې تکذيب کاوي، وربانډي ملنډي يې وهلي اوښه پوهېدل چي دغه معجزکلام دی، محمدصلى الله عليه وسلم خوامي اونالوستی دی چي ليک اولوست يې نه دي زده نوڅرنګه به يې قرآن حکيم له ځانه جوړکړی وي؟ اهود انسانانو اوپېريانانو موقف ډېرسره ليري دی ﴿ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ﴾ چي هدايت کوي لاري

(١) دغه دابن عباس ويناده اودبخاري اومسلم هغه حديث يې تاکيد کوي کوم چي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم پېريانو ته تلاوت ندی کړی اونه يې ليدلي دي اوابن مسعود يې پرخلاف بل روايت کړی دی

ښې (رشد) ایمان او حق ته نو موږ په غه (قرآن) ایمان راوړ ﴿ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴾ او له سره به شریک نکړو (وروسته له ننه) له خپل رب سره بل هیڅوک (له مخلوق دده څخه خازن لیکي چي: په آیت شریف کې د دې دلیل شته چي دغه کسان پخوا مشرکان وو(١) ﴿ وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا ﴾ او بېشکه شان دادی چي لوی دی شان لوئي درب زموږ ﴿ مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةً وَلَا وَلَدًا ﴾ نه ده نیولي (الله) ښځه او نه اولاد(ځکه چي ښځه خود اړتیا او ضرورت لپاره اولاد د استئناس او الفت لپاره او الله جل جلاله خو له نقصونو او عیبونو څخه پاک دی ﴿ وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا ﴾ او ویل(پېریانو خپل قوم ته داسي)بېشکه شان دادی چي ویل به ناپوه زموږ پر الله باندي خبري لوېي له حق او صواب څخه لیري. مجاهد لیکي چي ناپوه احمق ابلیس ښیي هغه چي دوی یې دغیر الله عبادت ته بلل ﴿ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴾ او بېشکه موږ گمان کاوو چي هیڅکله به نه وایې انسانان او پېریانان په الله باندي دروغ (چي الله ته نسبت د ښځي او اولاد کوي او کله چي مو دغه قرآن واورېدو او وربانديمو ایمان راوړ نو پدې وپوهېدو چي دوی په الله باندي پدې کې درواغ ترلي(٢) او طبري لیکي معناداچي دوی هله وپوهېدل کله چي قرآنکریم یې واورېدل او تر دې دمخه چي قرآن واوري اویا پدې وپوهېږي چي هغه کسان چي الله تعالی لره یې د ښځي او زوی نسبت کاوو دروغجن وو تر دې پخوا دوی داسي انګېرله چي ابلیس به رښتیا وایې: خو کله چي یې قرآن واورېدو پدې یې یقین شو چي هغه دروغجن دی او ځکه یې ابلیس لعین احمق او ناپوه ونوماوو ﴿ وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ او بېشکه شان دادی چي و وبه د بر سړي له انسانانو څخه چي پناه به یې غوښتله په سړیو له پېریانو څخه ﴿ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴾ نو زیاته کړه دغو انسانانو دغو پېریانو ته سرکشي (په سبب د پناه غوښتلو د دوی له جنیاتو څخه چي پېریانان لازیات گمراه او سرکشه شول ابو السعود لیکي پخوا چي به کله څوک په وچ خوړ، یا بېدیاکي د شپې پاتي شول نو به پر ځان و بېرېدل ویل به یې موږ د دغي کندي (خوړ) د پېریانو له مشر څخه پناه غواړو تر څو مو د نورو پېریانو له شر څخه وژغوري نو کله چي به پېریانو او رېدل لا به پسي یاغي مغروره شول او ویل به یې موږ د انسانانو او پېریانانو واکمن او باداران شوو نو سد به یې له سره ووت دغه د قرآنکریم وینا ده چي فرمایې ﴿ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴾ (٣) ﴿ وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا۟ كَمَا ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَبْعَثَ ٱللَّهُ أَحَدًا ﴾ او بېشکه دوی (کفارو) داسي گمان کړی دی لکه چي گمان کړی دی تاسي (ای جني کفارو) چي هرگز به پورته نکړي الله هیڅوک (پس له مرگه له قبرونو)دوی هم داسي له بعث څخه منکر دي لکه چي تاسو یاست(٤) ﴿ وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ

---

(١) خازن ١٨٥/٤

(٢) دغه دابن کثیر درایي لند یز دی چي موږ و لیکو.

(٣) ابو السعود ٥/ ٢٠٠

(٤) دآیت له سیاق څخه همداسي ظاهرېږي چي دغه دي د پېریانو وینا وي چي خپل قوم ته وایې او طبري هم غوره کړي او ځیني مفسرینو دا معنا اخیستي چي دغه الهي وحی ده چي پیغمبر ته شوي او معنادا چي پېریان هم لکه تاسي قریش له بعث څخه منکر دي او چي قرآن یې واورېدو هدایت یې و موند آیا تاسو هدایت منی؟! -

﴿فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا﴾ (پېريان وايي) او بېشکه موږ ورسېدو آسمان ته (لپاره د غوږ نيولو خبرو د پرښتو ته) نو وموموندو هغه (آسمان) ډک کړی شوی له څوکيدارانو (د ډېرو هغه چي د آسمان څارنه يې کوله) او له ستورو سوځونکو څخه (هغه چي ولي هغه کسان کله چي ورنژدي کېږي) ﴿وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ﴾ او بېشکه وو موږ کېناستو پخوا له لېږلو د دې پيغمبر له دي آسمانه په ځايونو د کېناستلو کي (چي خبري واورو او کاهنانو ته يې راوړو) ﴿فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا﴾ نو هغه څوک چي اوس اورېدل غواړي نو مومي لپاره د ځان لمبه منتظره (چي سوځوي او هلاکوي يې) ﴿وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْٓ اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا﴾ او بېشکه موږ نه پوهېږو (چي د غه منع کېدل زموږ له آسمانه) آيا شر دی چي اراده کړی شوی دی په هغه چا باندي چي په ځمکه کي دي يا اراده کړي ده رب د دوی پر دوی باندي لارښوونه (او رشد) يعني موږ پېريانان نه پوهېږو چي دغه آسمانونه چي په څوکيدارانو ډک شوي او دغه اور غورځونکي ستوري د عذاب لپاره دي چي الله يې په ځمکني اوسېدونکيو راولي ﴿اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا﴾ يا يې ورته د خير اراده دی چي لارښوونکی پيغمبر يې ورته رااستولی ترڅو يې حق لاري ته رهنمايي کړي؟ او دغه د پېريانانو ادب دی چي د خير نسبت يې الله تعالی ته وکړ خو د شر نسبت يې ورته ونکړ چي ويې ويل ﴿اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا﴾ ابن کثير ليکي چي دغه د ستورو ويشتل د مخه وو او بيا دوی د هغو د سبب په لټه کي شول لو يديز او ختيز ته يې ځانونه ورسول هلته چي بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم يې په سترګو شو کله چي د اصحابانو امامت يې کاوو او قرآنکريم يې لوست نو دوی وپوهېدل چي همدا خبره ده چي آسمانونه يې له کبله ساتل کېږي او بيا يې د نبي اورېدني لپاره هڅه وکړه ورنژدې شول او ايمان يې راوړ(۱) ﴿وَّاَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ وَمِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ﴾ او بېشکه موږ چي يو ځيني له موږ څخه نيکان دي او ځيني له موږ غير له دوی دي په التسهيل کي راوړي چي دوی په دې ويناچي (دون ذلک) يې وويل مقصد دا دی چي بشپړه صلاح نلري او يا يې بېخي صلاح او نيکي نشته (۲) ﴿كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا﴾ وو موږ فرقې مختلفي (ځيني نيکمرغه او ځيني بدمرغه) ﴿وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِي الْاَرْضِ وَلَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا﴾ او بېشکه موږ يقين کاوو چي له سره به موږ عاجز نکړو الله په ځمکه کي (چي تري پټ شو) او له سره به نه عاجزکوو موږ د غه (الله) په تېښتي سره (که تري وتښتو) قرطبي ليکي: معنا دا چي موږ په استدلالي توګه پدې وپوهېدو کله چي مو د الله په آياتونو کي فکر وکړ چي موږ له الله څخه خلاصېدونکي نه يو او نه تري تښتېدای شو(۳). وروسته بيا په الله باندي د ايمان راوړلو شکر ايستلو ته راوګرزېدل چي کله يې د عظيم الشان قرآن تلاوت

(۱) مختصر ابن کثير ۳/۵۵۷
(۲) التسهيل ۴/۱۵۳
(۳) القرطبي ۱۹/۱۵

واورېدو دوی ته دهدايت سبب شونو وايي ﴿ وَأَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا ٱلْهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦ ﴾ اوبېشکه موږچي کله واورېدو هدايت(دقرآن) نوموږپه هغه باندي ايمان راووړ (اوپه هغه چاچي دغه قرآن يې نازل کړی اوپه هغه چاچي دغه قرآن ورباندي نازل شوی مؤمنان شو) ﴿ فَمَن يُؤْمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَلَا رَهَقًا ﴾ نوهغه چي ايمان راوړي په رب خپل باندي نونه وېرېږي له نقصانه (دخپلي نېکي) اونه له زيادت څخه (په تزئيد دبدي) ابن عباس وايي: يعني نه دنېکيو په نقصان وېرېږي اونه دبدي په زياتوالي باندی ﴿ وَأَنَّا مِنَّا ٱلْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا ٱلْقَٰسِطُونَ ﴾ (اوبېشکه موږچي يو ځيني له موږ څخه مسلمانان دي اوځيني له موږ څخه ظالمان) يعني اوبېشکه موږچي کله قرآن واورېدو ځيني مو مسلمانان شو درسول الله رسالت يې ومانواوځيني نور بياله حق څخه راوګرزېدل او کافران شول، مفسرين کرام ليکي چي (قسط الرجل) معناداچي منحرف شوسړی او(أقسط الرجل) معناداچي عدل يې وکړ له لومړي صيغې څخه اسم فاعل قاسط راځي اوله دوهمي څخه مقسط همداسي دالله جل جلاله په دې کلام کي راغلي چي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ﴾ ﴿ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ تَحَرَّوْا۟ رَشَدًا ﴾ نوهرهغه چي الله ته غاړه کېږدي (او ايمان راوړي) نو دوی قصد کړی دی دسمي صافي لاري (اودسعادت اوفلاح لاره يې موندلي) ﴿ وَأَمَّا ٱلْقَٰسِطُونَ فَكَانُوا۟ لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴾ او هرهغه چي کږېدونکی له سمي لاري وي نووي به دوی دوزخ لره لرګي (دسوځولو چي لکه دانسانانو کفاراوربه ورباندي بلېږي) تردې ځايه پوري دپېريانو کلام بشپړ شوکوم چي ددوی په زوروړ ايمان اوربشتنولي او اخلاص يې دلالت کاووروسته الله دمکې له خلکو داسي اخبارفرمايي:

﴿ وَأَلَّوِ ٱسْتَقَٰمُوا۟ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ ﴾ (اوبله وحی راغلي ده ماته) داچي که دا(خلک دمکې) برابرشي پرلاري (سمي داسلام اوشريعت ومني) ﴿ لَأَسْقَيْنَٰهُم مَّآءً غَدَقًا ﴾ (نوهرومروبه وڅښوو دوی ته اوبه ډېري (پس له کاختي) يعني هغوی ته به پرېمانه ارزاق په دنياکي هم ورکړو اودغه به دآخرت په تل ترتله نعمتونو سربېره وي نودوی به ددنيااوآخرت نېکمرغي اوبرياليتوبونه ترلاسه کړي په التسهيل کي راوړي ﴿ مَّآءً غَدَقًا ﴾ يعني ډېري اوبه اودغه له پراخي روزي څخه کنايه ده اوله (على الطريقة) څخه مرادطريقه داسلام اودالله طاعت دی معناداکه چېري دوی په دغه لاره داسلام سم برابر شي نوالله به يې روزي ورپراخه کړي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ (الاعراف: ۹۶)[۱] ﴿ لِّنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ﴾ ترڅوو ازمويو موږدوی په دغه نعمت کي (چي آياشکرکاږي اوکه کفران کوي؟) ﴿ وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِۦ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴾ اوهغه څوک چي مخ واړوي له ذکره (قرآنه) درب خپل نوداخل به يې کړي الله عذاب سخت ته) يعني څوک چي دالله له طاعت اوعبادته مخ واړوي الله جل جلاله به يې سخت شاقه عذاب ته وردننه کړي هغه عذاب چي راحت پکي نه وي قتاده

[۱] التسهيل ۴/۱۵۴

وايي (صعدًا) معنا هغه عذاب چي راحت پکي نه وي او عکرمه وايي چي (صعدًا) يوه ښوئه ډبره په دوزخ کي ده چي الله به دوزخيانو ته د ورختلو حکم کوي او چي کله ورو خېژي نو له هغه ځايه به بيرته دوزخ ته په تېزي راښويېږي (١) ﴿ وَأَنَّ ٱلْمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا ﴾ (او بله وحی راغلي ده ماته) داچي بېشکه مسجدونه د پاره (دياد) د الله دي نو مه بولئ تاسي (په دغو مساجدو کي) سره له الله بل هيڅوک. مجاهد وايي: يهود او نصارا چي کله به خپلو عبادتخانو ته د ننه شول نو له الله سره به يې شريکان نيول نو الله جل جلاله نبي او مؤمنانو ته حکم وکړ چي کله مساجدو ګردو ته داخلېږي له الله سره دي بل څوک په عبادت کي شريک نه ګڼي او يوازي د الله عبادت دي کوي ﴿ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ يَدْعُوهُ ﴾ (او بله وحی کړی شوي ده ماته) داچي بېشکه کله چي ودرېدو (لمانځه ته) بنده د الله (محمد صلی الله عليه وسلم) چي بالوېي دغه (الله) ﴿ كَادُوا۟ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴾ نږدې وو دغه (پېريان) چي کېدل به پرده باندي سر په سر پرېوتونکي (له جهته د از دحامه او له جهته د حرص د اورېدلو د قرآنه ابن عباس وايي: دوی د قرآن د اورېدلو لپاره ورباندي رامات وو (٢) د لته چي الله تعالی محمد صلی الله عليه وسلم په عبوديت وستايو او په نامه يې يادنکړ ترڅو چي تشريف او تکريم يې وشي ﴿ قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا۟ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ﴾ (و وايه (ای محمده دوی ته) په تحقيق زه بولم (عبادت کوم د) رب خپل او شريک نه نيسم له دغه (الله) سره هيڅوک) يعني ای محمده دغو کفارو ته کوم چي له تا څخه د دين د اوښتلو غوښتنه کوي و وايه چي زه يوازي د الله عبادت کوم له هغه سره بل بت او بشر نه شريکوم. صاوي ليکي چي: د راتلونکي آيت شريف د نزول سبب داچي قريشي کفارو رسول الله ته وويل: تاسو ډېره ستره پېښه را مينځ ته کړه او د ګرو خلکو دښمني ته دي ملا وتړله له دې څخه را وګرځه نو موږ به دي مرسته وکړو او پناه به درکړو چي بيا دا آيت نازل شو ﴿ قُلْ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴾ و وايه (ای محمده دوی ته) بېشکه زه مالک نه يم نه توانېږم تاسي لره د څه ضرر (ګمراهي) او نه د څه رشد خير خواهي (بلکه هغه ذات چي دغه يې په قدرت کي دي هغه الله رب العالمين دی) ﴿ قُلْ إِنِّى لَن يُجِيرَنِى مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا ﴾ و وايه (ای محمده دوی ته) بېشکه زه چي يم هرګز به مي هيڅوک خلاص نکړي له (عذابه) د الله (که چېري مي په عذاب کړي) او له سره به بيا نه مومم له دغه (الله) څخه ځای د پناه (نو څرنګه ستاسي غوښتنه ومنم؟ قتاده وايي (ملتحدًا) پناګاه او مرستندوی دی (٣) ﴿ إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦ ﴾ مګر خو (مالک يم د) د تبليغ (د شريعت تاسو ته) له (طرفه د) الله او (تبليغ د رسالت د دغه) (الله) يعني زه پناهګاه نه شم موندلای مګر هغه وخت چي د رسالت تبليغ وکړم او تاسي ته هسي لار ښوونه وکړم لکه چي الله راته حکم کړی دی نو د لته به د الله پناهګاه پيدا کړم چي له عذابه مي وژغوري لکه د الله جل جلاله دا وينا چي فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ﴾

---

(١) البحر المحيط ٨/ ٣٥٢

(٢) البحر ٨/ ٣٥٣

(٣) طبري تفسير ٢٩/ ٧٢

﴿وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ﴾ (المائدة: ۶۷) ابن کثير ليکي معنا دا چي له الله څخه مي نه ژغوري مګر دهغه درسالت ابلاغ چي پر ما باندي يې اداء واجب کړي ده (۱) ﴿وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا﴾ او هر هغه څوک چي نافرماني کوي د الله او د رسول (صلى الله عليه وسلم) د دغه (الله) نو بېشکه هغه لره دی اور د دوزخ حال دا چي تل به وي په هغه کي همېشه او دا چي (خالدين) يې جمع راوړ څکه چي د (من) معنا جمع او لفظ يې مفرد دی ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْاْ مَا يُوعَدُونَ﴾ تر هغه پوري چي وويني دوی (مشرکان) هغه (عذاب) چي وعده يې ورسره شوي ده ﴿فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا﴾ نو ژر به پوه شي دوی (په وخت د تعذيب کي) چي څوک دی ډېر ضعيف له جهته د مدد ګاره او ډېر لږ له پلوه د شمېره (آيا مؤمنان دي که کافران؟ بلکه کافران دي او بېشکه چي الله د خپلو مؤمنانو مرستندوی دی او دوی زورور دي له جهته د مرستندوی چي الله يې ناصر دی او زيات دي له جهته د شمېره څکه چي پر ښتې ورسره دي ﴿قُلْ إِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ﴾ ووايه (ای محمده دوی ته) نه پوهېږم چي آيا نژدې دی هغه (عذاب) چي وعده يې درسره کړی شوي ده ﴿أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّىٓ أَمَدًا﴾ او که يې مقرره کړي ده ده لره رب زما يوه زمانه ليري مفسرين کرام ليکي: کله چي به رسول الله صلى الله عليه وسلم دوی له عذابه وېرول او د قيامت کړاوونه به يې ورپه ياد ول نو دوی به ملنډي پرې وهلې او هغه به يې چټيات ګڼل ويل به يې دغه عذاب به کله وي؟ قيامت به کله راځي؟ نو الله جل جلاله ورته حکم وکړ چي دوی ته ووايې: ما ته د دغه عذاب د راتلو وخت معلوم نه دی چي آيا نژدې دی او که ليري؟ ﴿عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا﴾ (الله) عالم دی پر غائبو (شيانو) باندي نو نه خبروي په غيبو خپلو باندي هيڅوک (له خپل مخلوق څخه) ﴿إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ﴾ مګر هغه څوک چي راضي وي ترې (او غوره کړی يې وي په اطلاع د مغيباتو) له رسول خپل څخه مفسرين کرام وايي الله په غيبو هيڅوک هم نه خبروي مګر هغه څوک چي الله يې د نبوت او رسالت لپاره غوره کړي نو بيا ورته له غيبو هغه څه څرګند کړي چي اراده يې شي تر څو چي د هغوی لپاره معجزه وي او د غه د دوی د نبوت د رښتنولي لپاره راځي لکه چي الله له حضرت عيسى عليه السلام څخه داسي وينا راوړي چي ﴿وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِى بُيُوتِكُمْ﴾ .

(آل عمران: ۴۹) ﴿فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا﴾ نو بېشکه هغه (الله) روانوي په مخه د هغه (رسول) کي او وروسته له هغه څني ساتونکي څوکيداران له هر طرفه (له پرښتو چي ژغوري يې له پېريانانو او ساتي يې پر پوهېدلو د غيبو کي. طبري وايي: معنا دا چي الله جل جلاله يې له مخه او له شا څوکيداران او ساتونکي رالېږي تر څو چي له پېريانو يې وساتي (۲) ﴿لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُواْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ﴾

---

(۱) مختصر ابن کثير ۳ / ۵۲۰

(۲) طبري ۲۹ / ۷۷

ترخوچي پوه شي (الله په علم ظهورسره) په دې چي بېشکه پوره رسولي دي (رسولانو) پيغامونه درب خپل (بې له نقصانه اوتزئيده) ابن کثير ليکي معنا داچي الله خپل استازي دپرښتوپه واسطه ساتي اوژغوري ترڅو وکولای شي دالله رسالت اداکړي او هغه وحی چي ورته راځي وساتي ترڅوچي الله وپوهېږي په علم ظهورسره چي دوی دخپل رب رسالت سرته رسولی دی سره له دې چي الله تعالی خوپه تولوشيانوپخوا ترپيدا ابينست يې لاقطعي علم لري(١) ﴿وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ﴾ اوچاپېر دی(علم دالله تعالی) په هغه(علم) باندي چي په نزد ددغو(استازو رسولانو) دی (هيڅ شی له الله څخه پټ نه دی) ﴿وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا﴾ اوشمېرلی ساتلی دی (الله) هر شی دشمېراوعدد له مخي) يعني الله تعالی په ګردوشيانوچي په ځمکواوآسمانونوکي دي علم لري داسي علم چي دهغوی ضبط اواستقصاء پکې وي تول شيان هغه که دباران څاڅکي وي: که شګي، که دونوپاڼي اوکه ددريابونوځګونه دغه هيڅ شی له الله څخه پټ او الونيانه دي نوڅرنګه به درسولانو په رسالاتواووحی علم ونلري چي آيا دوی رسولی اوکه نه؟ اوڅرنګه به رسولانوته ممکن وي چي د رسالاتوپه رسولوکي تقصيروکړي او يا پکې تزئيد اونقصان يا دتحريف اوتغيير لاس وهنه وکړي په داسي حال کي چي دالله علم پردوی چاپېر دی اوټول شيان که غېب دي اوکه واره الله ته معلوم دي ﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ﴾ (الانعام:۵۹).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١- په مصدرسره ستاينه دمبالغې لپاره لکه ﴿قُرْءَانًا عَجَبًا﴾ يعني عجيب په ايجازاواعجازکي.

٢- سلبي طباق لکه ﴿فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا﴾ چي ايمان دشرک نفی ده.

٣- اشتقاقي جناس لکه ذاچي ﴿نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ﴾ چي ددواړوترمينځ ښايسته جناس دی

۴- خوندورپه زړه پوري اسلوب چي دخيرنسبت الله ته شوی اودشرنسبت ورته نه دی شوی ترڅوچي له خالق سره دادب مراعات شوی وي لکه ﴿وَأَنَّا لَا نَدْرِىٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا﴾ او همداسي دشراورشد ترمينځ معنوي طباق هم شته

۵- دطباق صنعت چي د ﴿ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ﴾ اود ﴿ضَرًّا رَشَدًا﴾ اود ﴿ٱلْمُسْلِمُونَ ٱلْقَٰسِطُونَ﴾ ترمينځ راغلی دی.

---

(١) مفسرين کرام کله چي په قرآن کي دالله د علم تعليل راغلی وي لکه: ﴿إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ﴾ اويا داچي: ﴿وَلِيَعْلَمَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَآءَ﴾ داسي ليکي چي دغه علم ظهوردی اوعلم بدانه دی ځکه چي دالله تعالی علم په ګردوشيانوازلي دی, بلکهددې لپاره يې راوړي چي بندګانوته دغه علم وربنکاره کړي

٦- لطيفه استعاره چي فرمايي ﴿ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴾ طرائق يې دمختلفومذاهبولپاره استعاره كړي چي لطيفه استعاره يې بللاى شو.

٧- دفواصلوتوافق چي دآيتونودپيل مراعات پكي شوى وي لكه ﴿ أَحَدًا ،وَلَدًا ،رَصَدًا ،رَشَدًا ،صَعَدًا ،عَدَدًا ﴾ اوداسي نورچي په علم بديع كي يي مرصع سجع بولي والله اعلم.

دالله په مرسته دسورت الجن دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

د(المزمل) سورت مكي اوشل آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالمزمل سورت مكي اودرسول الله صلى الله عليه وسلم دژوندانه يوارخ بيانوي چيْ هغه څرنګه خلوت، طاعت، قيام الليل اودكتاب الله عزوجل تلاوت كاووسورت محوركوم چي سورت ورباندي راڅرخي رسول الله صلى الله عليه وسلم دى ځكه يې نومزمل ونوماوو.

دسورت پيل رسول الله ته په نداكولو كيږي باريكه شفافه اوله الهي لطفه اومرحمته ډكه نداء چي په خپل بنده باندي يې درحمت اومهرباني ښكارندوى دى هغه بنده چي دالله درضالپاره دهغه په عبادت كي زياركاږي نو ورته داسي فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ① قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ② نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلًا ③ أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ﴾.

وروسته دوحى ددروندوالي موضوع په ګوته كوي هغه چي الله خپل پيغمبرورباندي مكلف كړي ترڅوچي خلګوته يې ابلاغ كړي اوپدې لاره كي شپې په عبادت كولورڼې كړي چي دغه روحي استعدادورسره مرستندوى شي نوفرمايي ﴿ إِنَّا سَنُلۡقِي عَلَيۡكَ قَوۡلٗا ثَقِيلًا ،إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـٔٗا وَأَقۡوَمُ قِيلًا ، إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحٗا طَوِيلٗا ﴾.

همداسي سورت رسول الله ته حكم كوي چي دمشركانوپه تكاليفوباندي زغم اوصبروكړي هغوى په ښه پرهېښودلوسره دالله انتقام ته پرېږدي اوورته وايي ﴿ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرٗا جَمِيلٗا ، وَذَرۡنِي وَٱلۡمُكَذِّبِينَ أُوْلِي ٱلنَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيلًا ﴾.

بيا الله تعالى مشركانوته دقيامت دورځي دعذاب تهديدوركوي هلته چي هيبت اودهشت به داسي پراوته رسېدلى وي چي ماشومان به بوډاګان كيږي وايي ﴿ إِنَّ لَدَيۡنَآ أَنكَالٗا وَجَحِيمٗا ،وَطَعَامٗا ذَا غُصَّةٖ وَعَذَابًا أَلِيمٗا ،يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ كَثِيبٗا مَّهِيلًا ﴾ دآيتونوترپايه.

په پاى كي الله تعالى له پيغمبرعليه السلام اومؤمنانوڅخه دقيام الليل تخفيف فرمايي ترڅو چي پيغمبراواصحابان دژوندانه ځيني چاروته وزګارشي نوداسي ارشادفرمايي ﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن

ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ وَطَائِفَةٌ مِّنَ الَّذِينَ مَعَكَ ﴾ آن تردې پورې چې ﴿ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ هُوَ
خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾.

***

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ (١) قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا (٢) نِّصْفَهُ أَوِ انقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا (٣) أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا (٤) إِنَّا
سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا (٥) إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْئًا وَأَقْوَمُ قِيلًا (٦) إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا (٧) وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ
وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا (٨) رَّبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا (٩) وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا
(١٠) وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا (١١) إِنَّ لَدَيْنَا أَنكَالًا وَجَحِيمًا (١٢) وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا (١٣) يَوْمَ
تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا (١٤) إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا
(١٥) فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا وَبِيلًا (١٦) فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا (١٧) السَّمَاءُ
مُنفَطِرٌ بِهِ كَانَ وَعْدُهُ مَفْعُولًا (١٨) إِنَّ هَٰذِهِ تَذْكِرَةٌ فَمَن شَاءَ اتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِ سَبِيلًا (١٩) ۞ إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ
تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ وَطَائِفَةٌ مِّنَ الَّذِينَ مَعَكَ وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوا
مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي
سَبِيلِ اللَّهِ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ
اللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (٢٠) ﴾ المزمل: ١ – ٢٠

لغتونه:

(المزمل) په جامو کې دځان نغښتونکی (سبحًا) مشغولا او اصل یې له سبح څخه اخیستل شوی چې لامبو وهلو ته وایې او بیا د تصرف او د ژوندانه مشغولتیا لپاره استعاره شوی دی (انکالا) د (نکل) جمع او هغه درانه قید او ځنځیرته وایې چې مجرم وربانډې تړل کېږي (کثیبًا) د شګو غونډۍ (مهیلا) بهېدونکې تیت اوپرک دلغت پوهان لیکي (مهیل) هغه ته وایې چې په پښه یې ووهي نوسره تیت شي او ښوئېږي او صل یې (مهیول) دی لکه چې مکیل په اصل کې (مکیول) دی (وبیلا) سترسخت او د خطرناک عاقبت خاوند.

تفسیر:

﴿ يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴾ ای نغښتونکي دځان په جامه کې (له هیبته د وحی خطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی او هغه ته په دغه وصف چې ﴿ يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ﴾ د تأنیس او ملاطفت له مخې دی سهیلي لیکي چې عرب به کله چې یو چا ته د لطف او مهرباني خطاب کاوونو د هغه له حالت څخه به یې ورته نوم

جوړ او مشتق کړ لکه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يو وخت حضرت علي كرم الله وجهه ته كله چي يې حضرت فاطمه رضى الله عنها خوابدي کړي وه او په خاوروکي ويده وو داسي وويل (قم يا اباتراب) چي هغه ته يې داسي خبرتيا ورکوله چي ورسره لطف کوي عتاب يې مقصد نه دی او دوهمه فائده دا چي هرهغه چاته چي ځان يې په جامه کي نغښتی وي د شپې ويده وي تنبيه شي ترڅو د الله د ذکر لپاره قيام الليل ته راپورته شي ځکه دغه داسي اسم دی چي له فعل څخه مشتق دی نو مخاطب او هرهغه څوک چي په دغه صفت موصوف وي پکي مشترک دی او د دغه تزمل سبب لکه چي په صحيح البخاري كي روايت شوی چي: رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه وخت چي په غار حراء کي معتکف وو او جبريل عليه السلام دوحی په پيل کي ورته راغی نو رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت خديجې رضى الله عنها ته راستون شو زړه يې درېږد وهغې ته يې وويل (زملوني، زملوني لقد خشيت على نفسي) يعني ما په جامه کي پټ کړئ ما په جامه کي پټ کړئ او هغه کيسه يې ورته وکړه چي ورپېښه شوي وه نو دغه آيت نازل شو[1] ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ﴾ ای په څادر کي نغښتل شوي او دانګړ په يوګوټ کي ځملاستلي! رسول الله صلى الله عليه وسلم يې له هغه چاسره مشابه کړ چي راحت او سکون ته ترجيح ورکوي او له هغو مهمو چارو څخه کوم چي ورباندي مکلف شوی ځان خلاصوي ﴿ قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴾ و درېږه (لمانځه ته) په شپه کي مګر خو په لږ (له ټولي شپې نه) څو چي ديو ستر امر لپاره چمتو شې هغه چي د خپل رب له لوري خلګو ته بلنه ورکړي او په نوي دين يې وپوهوي ورپسې يې هغه اندازه وښود له کوم چي ښايي د الله په عبادت کي يې تېره کړي ويې فرمايل ﴿ نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلًا أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ ﴾ چي هغه نيمه برخه د شپې ده يا لږ کړه له هغې لږ څه (چي ثلث دی) يا زياته کړه په هغې نيمي شپې) باندي چي ثلثان دي ابن عباس رضى الله عنهما وايي چي: قيام الليل په رسول الله باندي فرض وو ځکه چي الله حکم کړی (قم الليل) او بيا پدې قول سره منسوخ شو چي ﴿ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنۡهُ ﴾ او د لومړني وجوب او نسخ ترمينځ يو کال وو[2] او دا هغه سورت دی چي وروستی برخي يې لومړنۍ منسوخ کړي دي کله چي الله په مؤمنانو رحم او مهرباني وفرمايله او د دغه حکم يې څيني پورته کړچي ويې فرمايل ﴿ إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَۚ ﴾ د آيت ترپايه ﴿ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ﴾ او ښکاره واضح لوله قرآن په ښکاره لوستلو سره (چي د قرآنکريم په فهم کولو او تدبر کي درسره مرسته وکړي. خازن ليکي: کله چي الله تعالى په قيام الليل باندي ورته حکم وکړ ورپسې يې د قرآنکريم ترتيل لوستل وفرمايل ترڅو لمونځ ګذاره د زړه له حضوره او د آيتونو د معانيو په هکله له تفکر او تدبر څخه برخمن شي نو کله چي د الله جل جلاله

---

(1) البخاري باب نزول الوحی.

(2) کبيرتفسير ۳۰ /۱۷۱ کله چي رسول الله صلى الله عليه وسلم او اصحابان په قيام الليل مکلف شول ترڅو چي دد عوت دښمنانو ته بشپړ استعداد وکړي او دوی جسمي او روحي روزنه ترلاسه کړي وي دکړاوونو او تکاليفو زغم او صبر ولري غټ کارونه او مهمي چاري ترسره کړای شي او له دغي مبارکي روزني څخه د هرمشکل او سخت کار په وړاندي بريا ليتوب ترلاسه کړي او د هغه دې ښکلي روزني اغيزه وه چي مسلمانانو ختيز او لوېديز لاندي کړل ځکه دوی په جهاد کي صبر درلود او د الله په لاره کي يې د ډول ډول مشکلات په ورين تندي زغمل

یادپکي راشي دده په زړه کي به د الله عظمت او جلال وځلېږي او کله چي بیا وعدا و وعید راشي هله به بیا خوف او رجاء ورته ښکاره شي او چي قصص او امثال پکي راشي نو به عبرت او پند تري واخلي او زړه به يې د الله په معرفت روښانه او نوراني شي او چي په تلوار سره د قرآنکریم تلاوت کیږي نو په معنا یې سړی نه پوهیږي نو له دی څخه ځرګندیږي چي د ترتیل د تلاوت په وخت کي قلبي حضوروی (١) او رسول الله صلی الله علیه وسلم به قرائت توری توری پرې کاوو یعني قرآن به یې په کرار آرام سره تلاوت کاوو تر څو هر توری ښکاره او واضح اداء شي کله چي به یې د رحمت آیت ولوست نو به یې له الله څخه غوښتنه کوله او چي کله یې د عذاب آیت تلاوت کاوو نو به ودرېدو او له عذابه څخه به یې پناه غوښتله (٢) له دې نه وروسته کله چي الله ورته د خوب پرېښودلو، قیام اللیل او په تدبر او تفکر سره د قرآنکریم د تلاوت کولو حکم وکړ نو د دغو درې ګونو حکمونو چي د هر له تکلیفه ډک او سخت دي سبب بیانوي

چي ﴿إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا﴾ بېشکه مونږ غورځونکي یو په تا باندي (ای محمده!) قول درونډ د قرآن چي په اوامرو او نواهیو مشتمل دی او پر مکلفینو باندي سخت دی، هیبت او جلال لري ځکه چي د الملک العلام کلام دی. امام فخر رازي لیکي چي مقصد له درونډوالي څخه ستر قدرت او لوړ جلال دی هر څېز چي نفیس وي او مقام یې اوچت وي هغه درونډ وي او دغه د ابن عباس معناهم ده چي وایې

﴿قَوْلًا ثَقِيلًا﴾ یعني ستر کلام، چا بیا ویلي چي مراد ور څخه هغه قرآني اوامر او نواهي دي کوم چي په مکلفینو باندي ثقیل او شاق دی، او زما په نزد د قرآني نظم او ترتیب وجه داده چي کله یې د شپې په لمانځه کولو مأمور کړ لکه چي وایې چي ما د دې لپاره په قیام اللیل درته امر وکړ ځکه چي پر تا درونډ قول نازلوم او ارومرو باید ته د دغه ستر کلام لپاره ځان چمتو کړې او دغه د شپې په لمانځه کولو سره، ځکه کله چي انسان په تکه توره شپه کي د الله په عبادت کي مشغول شي او د الله په ذکر کي غرق شي د الله په وړاندي تضرع او عاجزي غوره کړي نو بیا په انساني نفس کي د الله د جلال د ځلېدلو استعداد پیداشي (٣) زه وایم چي دا هغه باریک تړون دی چي د قیام اللیل او قرآني تلاوت تر مینځ راغلی ځکه الله خپل استازی په دې مکلف کوي چي خلک نوي دین ته راوبولي هغه چي په نفس باندي د هغه او امر او نواهي شاقه تکالیف دي او بې له شکه دغه تکلیف نفسي مجاهدې او صبر زغم ته اړ دي تر څو چي دوی دې ته ژمن (متعهد) کړي چي هغه پخواني عقائد پرېږدي د اسلافو میراثي دودونه او عادات ترشا کړي نو ته ای محمده صلی الله علیه وسلم د دغه دعوت په لاره کي له ډېرو ستونزو او خطرونو سره مخامخ یې څو خلک په دغو چارو باندي راضي کړې او پر دوی یې ومنې نو ته به پداسي حال کي چي ځان دي په جامه کي نغښتلی او راحت سکون دي غوره کړی څرنګه وکولای شې دا کار ترسره کړې؟! پاځه له خپله ځایه پورته شه! زیاتره شپه د خپل پروردګار په مناجات کي رڼه کړه تر څو د دعوت د ستونزو لپاره چمتو او آماده شې او دغه نوي دین زبری خلګو ته ورسوې عجیبه د مهرباني ډکه پام را اړونه ده چي د رسول الله صلی الله

(١) خازن ۴/ ١٢۵
(٢) وګوره هغه لیکنه چي علامه ابن کثیر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تلاوت او د قرآنکریم د لوستلو په فضیلت کي کړي ده ٣۵/ ۵٢٣
(٣) کبیر تفسیر.

عليه وسلم مبارک زړه یې رابیدارکړاو دزیاراو کارلپاره یې بډي راوغوړلې دالله په عبادت کې ترهغوپوري لګیاشوچي پښې یې وپړسېدې ... او ورپسې الله دشپې دلمانځه فضیلت داسې ښیي ﴿ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ ﴾ (بېشکه پورته کېدل دشپې (له خوبه) یعني دغه دشپې شېبې اووختونه اوپه هغوکې د عبادت لپاره دریدل اوداچي یوڅوک یې دعبادت اوطاعت لپاره په کاروي له خپله ځایه پاڅېږي وروسته له هغه چي آرام بیده شوی وي ﴿ هِىَ أَشَدُّ وَطۡـًٔا ﴾ دغه پاڅېدل ډېرسخت دي له پلوه دپائمال کېدو دنفس (د لمونځ ګذاره اودروند دی پرهغه دورځي ترلمانځه ځکه چي شپه دخوب اوراحت لپاره وي نوپه هغې کي راپورته کېدل په نفس خوراسخته وي اوددغه قیام اللیل له برکته نفوس قوي کېږي ارادې غښتلي کېږي بدنونه زورمومي اوپدې کي شک اوشبه نشته چي دالله له دښمنانوسره جګړه غښتلي اوزورورو بدنونوته اړتیالري ﴿ وَأَقۡوَمُ قِيلًا ﴾ اوډېرښه ثابت محکم دی لپاره دویلودقرآن، ځکه په شپه کي غږونه کرارېږي خوځښتونه اوحرکات آرام مومي ،نفسونه سپېڅلي وي ذهن جمع وي چوپه چوپتیا دشپې اودبشرسکون هغه څه دي چي نفس ته په سوچ اوتدبرکولوکي مرسته ورکوي ترڅودقرآن په اسرارواومقاصدوکي تأمل وکړي ﴿ إِنَّ لَكَ فِى ٱلنَّهَارِ سَبۡحًا طَوِيلًا ﴾ بېشکه تالره (ای محمده !) په ورځي کي شغل دی په کارونو اوږدوکي (له چاروخپلوڅخه) نودشپې پاڅېدل دتهجداوعبادت لپاره غوره کړه په التسهیل کي لیکي چي له (سبح) څخه عبارت دلته په اعمالوکي تصرفات اومشغولاده معنادا چي ستالپاره ورځ دکارونواومشغولتیالپاره کافي ده شپه دعبادت لپاره وټاکه (١)..اووروسته له دغه الهي خطابه چي ددعوت اوبلني لپاره لکه تمهیداوسریزه غوندي ده رسول الله ته ددعوت اوبلني حکم کوي اودا ورزده کوي چي په دغه لاره څرنګه کړنه اوعمل وکړي فرمایي ﴿ وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ تَبۡتِيلًا ﴾ (اویادوه نوم درب خپل اوجلاشه له هرشي څخه په لوري ددغه (رب خپل) بشپړ جلاکېدل) یعني د دعوت په لاره کي دالله په ذکرشپه اوورځ استعانت کوه اوالله ته پخپل توکل اوعبادت کي بېخي جلا شه په هیڅ چاره له چاروڅخه په بل چااعتماد اوباورمکوه. ابن کثیرلیکي: معناداچي دالله ذکرډېرکوه اوهغه جل وعلاته ځان یوازي کړه کله چي له کارونووزګارشې نوپه اخلاص عبادت ترسره کړه (٢) ﴿ رَّبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذۡهُ وَكِيلًا ﴾ (همدغه الله) رب دلمرختو او(رب) دلمرپرېوتودی (بلکه پروردګاردګروکائناتودی)نشته بل هیڅوک حقاني معبود مګر خو هم دی دی (لااله غیره ولارب سواه) نوونیسه دغه الله وکیل ،پرهغه اعتمادوکړه اوهغه ته خپلي چاري وسپاره ﴿ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ ﴾ اوصبرکوه (ای محمده !) په هغه څه باندي چي دوی وایې (چي شاعر، مجنون اوساحردی بېشکه الله پردوی باندي تاته مرسته درکوي) ﴿ وَٱهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرًا جَمِيلًا ﴾ اوپرېږده دوی پرېښودل نېک (دوی ته ښکنځل مه کوه مخې ته یې مه درېږه ! مفسرین کرام وایې چي (هجر جمیل) هغه پرېښودلو ته وایې چي

---

(١) التسهیل لعلوم التنزیل

(٢) مختصرابن کثیر ۳/ ۵۲۴

عتاب پکي نه وي (۱) ښکنځل او ربړول پکي نه وي او دغه حکم د قتال تر حکم دمخه وو لکه چي الله فرمايلي دي ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾ او وروسته يې له دوی سره په قتال کولو ورته امر کړی او پدې کي حکمت دا وو چي په مکه مکرمه کي مسلمانان لږکي (اقليت) وو بېوزله (مستضعفين) وو نو الله ورته د صبر او زغم خپلو لو حکم وکړ او د شپې دلمنځونو او مجاهدې ترسره کولو ماربينه يې ورته وکړه ترڅو په دغه سپېڅلي روحي روزنه ځانونه د دښمنانو د مقابلې لپاره چمتو کړي او شمېر يې زيات شي چي د طغيان په وړاندي مقاومت وکړای شي او تردغي مرحلې له مخه ښايي چي يوازي په لساني بلنه او دعوت بسنه (کفايت) وکړي او صبر خپل کړي بيا الله تعالی د مشرکانو مشرانو ته داسي تهديد فرمايې ﴿ وَذَرْنِى وَٱلْمُكَذِّبِينَ أُو۟لِى ٱلنَّعْمَةِ ﴾ (او پرېږده ما او دروغ کونکي چي خاوندان د نعمت دي) يعني ای محمده ما پرېږده او دغه دروغجن ګڼونکي د آيتونو زما هغه چي د نعمت خاوندان دي په دنيا کي سوکاله او آرام ژوند لري زه به تاد دوی له شر څخه و ژغورم. صاوي ليکي: معنا دا چي ما پرېږده له دوی څخه انتقام واخلم د دوی سپارښتنه (شفاعت) ما ته مکوه او دغه يوډول د رسول الله صلی الله عليه وسلم زيات درناوی او تعظيم دی او دده د قدر اجلال ښيي ﴿ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا ﴾ او مهلت ورکړه دوی ته مهلت لږ (ترڅو چي سخت عذاب ته ورسېږي. مفسرين کرام ليکي چي الله تعالی لږ مهلت ورکړ ترڅو چي رسول الله صلی الله عليه وسلم له مکې څخه هجرت کاوه او کله چي هغه مدينې منورې ته مهاجر شو نو الله د کاختي کالونه وربانډي راوستل او دغه عام عذاب وو او وروسته يې بيا مشران په بدر کي ووژل شول چي دغه خاص عذاب وو (۲) او بيا الله هغه عذاب بيانوي ګوم چي دوی به په آخرت کي ورسره مخامخ شي نو فرمايي ﴿ إِنَّ لَدَيْنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا ﴾ بېشکه په نزد زموږ دی (لپاره د کافرانو په آخرت کي) ځنځيرونه درانه (او سخت بليدونکی اور چي ور باندي سوځول کېږي په التسهيل کي راوړي چي (انکال) جمع د (نکل) ده او هغه دا و سپني قيد ته وايې او روايت شوی چي دغه دا ورتور ځنځيران دي (۳) ﴿ وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ ﴾ او خواړه نښتونکي په مرۍ کي (چي د زقوم او ضريع څخه عبارت دی ابن عباس وايې چي دغه داورازغي (ځوځان) دي چي په حلق کي به يې ونښلي نه به راوزي او نه به هم ننوزي (۴) ﴿ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴾ او عذاب دردناک (زيات په دغه مذکور ځنځيرانو او قيودو باندي ورپسې الله د هغه عذاب وخت داسي ښيي ﴿ يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ ﴾ (دا عذاب په هغې) ورځې کي دی چي وخوځېږي ولړزېږي ځمکه او غرونه (په لړزيدلو سختو سره د قيامت په ورځ) ﴿ وَكَانَتِ ٱلْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴾ او شي به دا غرونه لکه شګو ډيرۍ رواني شوي (تيت پيت خواره واره له ډېره هيبته (وروسته له هغه چي ټينګ مضبوط وو. ابن

---

(۱) هم داسی ابن کثير ويلی دی.
(۲) دصاوي حاشيه ۴ /۲۶۰
(۳) التسهيل لعلوم التنزيل ۴ /۱۵۸
(۴) البحر المحيط ۸ /۳۶۴

کثیرلیکي: معنا دا چي غرونه به لکه د شګو غونډۍ ډېرې غونډي شي وروسته له هغه چي کلک او جامد وو او بیا به وشیندل شي (¹) ګرد او غبار به ترې جوړ شي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّى نَسْفًا ، فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ،لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَآ أَمْتًا ﴾ (طه ۱۰۵-۱۰۷) یعني نه به څه پکې پورته وي او نه ښکته... الله د هغه دردناک عذاب کوم چي د مشرکانو لپاره يې تيار کړی یادونه وکړه چي ځای يې جحیم او آسباب يې ځنځیران او خواړه يې زقوم دي وخت يې د ځمکي د خوځېدلو وخت دی په دې باندي مقصد د مکذبينو تخويف دی چي دوی تهدید وي چي الله به دوی ته که چېري هم داسي ترپايه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تکذیب کوي او ایمان نه راوړي عذاب ورکوي او بیا ورته د تېرو اُمتونو هلاکتونه ورپه یاد وي کله چي هغوی د الله له حکمونو سرغړونه کړې وه نو الله پخپل حکم ورباندي هغه عذابونه راپرې ایستل کوم چي پرې يې ایستل او د فرعون سرکښي مثال يې راوړ چي ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَٰهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴾ (بېشکه موږ لېږلی دی تاسي ته (ای محمدي امته !) رسول (محمد) شاهد پر (اعمالو) ستاسو باندي (په ورځ د قیامت کي) یعني ای د ځمکي خلګو موږ تاسو ته محمد صلی الله علیه وسلم در استولی چي ستاسو په اعمالو له کفر او عصیان څخه په ورځ د محشر ي شاهد دی ﴿ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴾ لکه لېږلی وو موږ فرعون ته رسول (موسی علیه السلام) چي یو له اولو العزمه پیغمبرانو څخه وو. خازن لیکي او دا چي فرعون او موسی علیه السلام يې د ګردو اُمتونو او نبیانو څخه خاص کړل ځکه چي رسول الله محمد صلی الله علیه وسلم ته د مکي خلګو ډېر تکلیفونه ورولیدل او د هغه استخفاف يې وکړ پدې چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوی کي زېږېدلی وو همداسي فرعون په موسی علیه السلام باندي ملنډي وهلې او کړاوونه يې ورلیدل ځکه چي هغه روزلی وو (²) ﴿ فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ ٱلرَّسُولَ ﴾ نو نافرماني وکړه فرعون له هغه رسوله (موسی علیه السلام څخه او ایمان يې ورباندي نه راوړ لکه چي تاسو ای قریشو له محمد علیه السلام څخه سرغړونه وکړه او د هغه رسالت مو تکذیب کړ) ﴿ فَأَخَذْنَٰهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴾ پس ونیو موږ د غه (فرعون) په نیولو سختو سره (چي د تصور له حدود و وتلی وي هغه داسي چي له خپله قومه سره مو په بحر کي غرق کړ. ابو السعود لیکي چي: په آیت شریف کي د دې تنبیه شته چي خامخا به په د غو کسانو باندي ژر دی چي همد غسي عذاب راتېښت شي (وبیل) درانه ته وايي (³) وروسته له هغه چي الله جل جلاله د فرعون د نیولو وبیل او دا چي د هغه پاچهي او جبروت له ده څخه عذاب دفع نکړای شو نو بېرته را وګرزېد او د مکي کفارو ته يې د قیامت یادونه وکړه د هغه ستونزي يې بیان کړې تر څو دوی وپوهوي چي له سره به له عذابه خلاص نشي لکه چي فرعون هم نشو خلاص نو فرمايي ﴿ فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا

(¹) مختصر ابن کثیر ۳ /۵۹۵

(²) خازن ۴ / ۱۲۹

(³) د ابو السعود تفسیر ۵ /۳۰۵

﴿يَجۡعَلُ ٱلۡوِلۡدَٰنَ شِيبًا﴾ پس څرنګه به وساتی (ځانونه خپل) که چېري کافران منکران شی (تاسي په دنیاکي ای د مکي کفارو !) له (عذاب د) هغي ورځي څخه چي له هیبته به وګرزي هلکان (واړه) سپین ږیري .طبري لیکي او داچي هلکان بوډا ګان کېږي له سختي او هیبته دا هغه وخت دی کله چي الله تعالی آدم علیه السلام ته حکم وکړي چي راوباسه له اولادې څخه دي داور، وړاومستحق کسان له هرزرو تنو څخه نه سوه نه نوي تنه داورته ولی. ده نو دلته به ماشومان زاړه بوډاګان شي(١) وروپسې د دغي ورځي نورهیبت اوصفت داسي ښیي چي ﴿ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرُۢ بِهِۦ﴾ آسمان به وچوي په سبب د هیبت شدت د دغي ورځي) ﴿كَانَ وَعۡدُهُۥ مَفۡعُولًا﴾ وه وعده د هغه (الله په راتلونکي د دغي ورځي سره) خامخا کېدونکي (او الله له وعدې څخه خلاف نکوي) ﴿إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞ﴾ بېشکه دا (آیتونه وېرونکی پند دی (خلګولره) ﴿فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا﴾ نو هرهغه څوک چي اراده کوي (چي) نیسي خپل رب ته لاره (دایمان په دغه نصیحت سره ودي نیسي او د رحمان طاعت دي پیل کړي اسباب یې تیار او لاره یې هواره ده. مفسرین کرام لیکي چي: مقصد په ایمان راوړلو او طاعت کولو باندي د ښو اعمالو د هڅوني په هکله ترغیب دی ترڅو د آخرت توښه تري برابره کړي، اوس بیرته خبري هغه د سورت پیل ته راګرزي کوم چي د سورت شروع ورباندي شوي وه او هغه قیام اللیل و وفرمایې ﴿إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ﴾ (بېشکه رب د تا عالم دی په دې بېشکه ته چي یې پاڅېږې لمانځه ته په شپه کي لږ له دوو برخو د شپې څخه او نیمه برخه د شپې او دریمه برخه د شپې (او همدا رنګه پورته کېږي لمانځه ته) یوه طائفه له هغو کسانو څخه چي له تا سره دي (له اصحابانو رضوان الله علیهم څخه) یعني ای محمده بېشکه ستا رب عالم دی چي ته او اصحابان پورته کېږي تهجد او د شپې عبادت ته لږ له دوو دریو برخو د شپې او کله پورته کېږی نیمه د شپې او کله دریمه د شپې لکه چي الله فرمایې ﴿كَانُواْ قَلِيلٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ مَا يَهۡجَعُونَ ، وَبِٱلۡأَسۡحَارِ هُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ﴾ (الذاریات ١٧، ١٨) ﴿وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ﴾ (او الله اندازه کوي ساتي شپه او ورځ) یعني الله جل جلاله د شپې او ورځي په اندازه او اجزاوو، ساعاتو، شېبو ښه خبردار دی تاسو چي پکي هرڅه کوی الله ته معلوم دي که تاسو په توره شپه کي د الله د رضا او خوښي لپاره قیام اللیل ته پورته کېږی الله ته چي د شپې او ورځي د امورو تدبیر فرمایې معلوم دي ﴿عَلِمَ أَن لَّن تُحۡصُوهُ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ﴾ پوه دی (الله) په دې شان چي هرګز به طاقت ونلری تاسي د هغې (شپې چي پورته کېږی پکي په هغه ټاکلي وخت) نو معافی یې ولیږله پر تاسو یعني الله ته معلومه ده چي له سره به د ګردي شپې او یا زیاتره د شپې د قیام اللیل توان ونلری نو یې پر تاسو رحم وکړ او د غه لمونځ یې درڅخه تخفیف کړ. طبري وایي: معنا دا چي الله ته علم دی چي تاسو به د قیام اللیل توان له سره ونلری نو یې تاسو ته معافي وفرمایله

(١) طبري ٢٩/ ٨٢

او درته تخفيف يې وكړاو د قيام فرضيت يې ساقط كړ[1] ﴿ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِۚ ﴾ (پس ولولئ (په لمانځه كې) هومره چې آسان وي له قرآنه) يعني څومره چې موتوان وي صلوة الليل اداكړئ اوداچې له لمانځه څخه يې په لوستلو او قرائت باندې تعبير وكړ ځكه چې قرائت دلمانځه جزء دی. ابن عباسؓ وايي: درسول الله صلی الله عليه وسلم له اصحابانو رضوان الله عليهم څخه د قيام الليل فرضيت ساقط شواونفلي وګرځېد او په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې فرض وو[2] وروسته الله د دغه تخفيف حكمت داسې بيان كړچې ﴿ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرۡضَىٰ ﴾ پوه دی (الله) شان دادی چې ژر به شي ځيني له تاسې څخه ناروغان (چې د قيام الليل توان به ونلري ،نو يې درباندې رحمت وكړاو درته يې معاف كړ

﴿ وَءَاخَرُونَ يَضۡرِبُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَبۡتَغُونَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ ﴾ او وي به نورله تاسې څخه چې سفر مزل به كوي په ځمكه كې لټوي به دوی له فضله رزقه څخه د الله تعالی (تجارت به كوي او حلاله روزي به ترلاسه كوي)

﴿ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ او وي به نورله تاسې څخه چې جنګونه به كوي دوی د الله په لاركې (لپاره د اعلاء كلمة الله او خپراوي د دين چې دغه درې سره دلې قيام الليل وورباندې سختېږي نو ځكه الله درته معاف كړ ، الله په دې آيت كې هغه عذرونه بيان كړل كوم چې بندګان له قيام الليل څخه منع كوي يو يې ناروغي بل د تجارت لپاره سفر او بل في سبيل الله جهاد وروسته يې بيا هومره چې آسانه وي د دومره قرآئت لوستل حكم تكرار كړترڅو چې د تخفيف لپاره تاكيد شي. امام فخر رازي ليكي چې: ناروغان دخپلې ناروغي له امله نشي كولای تهجد اداء كړي او مجاهدين او مسافرين خو د ورځې په سختو چارو لګيا وي كه ويده نشي نو به يې سختي يو په بل د پاسه شي ځكه الله ورته تخفيف

وفرمايو او د تهجد وجوب د دوی په حق كې منسوخ شو[3] ﴿ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنۡهُۚ ﴾ نو ولولئ تاسې (په لمانځه كې) هومره چې آسانه وي له دغه (قرآنه) يعني څومره چې درته آسانه وي هومره صلاة الليل اداكړئ او په

هغه كې ولولئ څومره چې درته آسانه وي له دغه قرآنه ﴿ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ او قائموئ سم ودروئ لمونځ (سره له ټولو حقوقو او واجباتو يې) وركوئ زكات (فرضي مستحقينو ته يې. مفسرين كرام وايي په قرآنكريم كې ډېرې لړبه داسې ځايونه وي چې هلته دې لمونځ ذكرشوی او ورسره زكات دې نه وي يادشوی ځكه چې لمونځ د دين ستنې ده او دبنده او پروردګار ترمينځ مناجات دی زكات هم دارنګه دبنده او دهغه دورونو ترمينځ پيوستون دی لمونځ په بدني عباداتو كې ترګرد وستر عبادت دی همداسې زكات

په مالي عباداتو كې ترګرد واوچت او غوره عبادت دی ﴿ وَأَقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنًاۚ ﴾ او قرض كوئ تاسې له الله سره قرض ښه ، مال وركوئ په لاره د الله كې (په خوښې له حلالو څخه) ابن عباس رضی الله عنه وايي چې په دې سره ګردې صدقې او خيراتونه مقصد دي كوم چې ماسوی له زكات څخه وي لكه له

---

[1] طبري تفسير ٢٩/ ٨٨

[2] كبير تفسير ٣٠/ ١٨٧

[3] كبير تفسير ٣٠/ ١٨٧

خپلوانو سره زړه سوی ،مېلمه پالنه او نور [1] ﴿ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ او هر هغه چي وړاندي لېږی تاسي د پاره د ځانونو خپلو له څه خير نېکي څخه نو بيا به مومی تاسي هغه خير په نزد د الله (چي اجر او ثواب به يې د ر کول کېږي) ﴿ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ﴾ دا (پخوا لېږل د حسناتو) خير دېر غوره دی او ډېر لوی دی له پلوه د اجر او ثواب) يعني تاسو به د غه اجر او ثواب تر هغو نېکو اعمالو چي په دنيا کي مو کړي غوره و مومی ځکه چي د نيا فاني او آخرت تلپاتي دی او هغه چي په نزد د پر ورد ګار دي هغه د نېکانو لپاره خير دی ﴿ وَٱسْتَغْفِرُوا۟ ٱللَّهَ ﴾ او بښنه وغواړئ له الله (په هر حال کي) ځکه چي انسان د ډېر لږ له تقصير او ګناه څخه پاک وي) ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ بېشکه الله دی ښه مغفرت کونکی (پراخ دی رحمت د ده ، د سورت پای د الله جل جلاله پدې لار ښوونه چي محسنينو متقيانو ته يې فرمايلي تر څو له الله جل جلاله څخه عفو او بښنه وغواړي ځکه کېدای شي کله يې هم په مال لګولو کي د نيت اخلاص نه وي او يا هم په صدقه ورکولو کي سم چلند و نکړي چي مستحقينو ته يې ورنکړي او يا يې د نامه او شهرت په خاې کي ولګوي او د غه د اسي خاتمه ده چي د انفاق سره پېيلي ده (سبحان الله منزل القرآن بأوضح البيان) !!

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډ يزيې داسي کوو:

۱- د طباق صنعت چي د ﴿ ٱنقُصْ.... أَوْ زِدْ عَلَيْهِ ﴾ او د ﴿ ٱلْمَشْرِقِ ....وَٱلْمَغْرِبِ ﴾ او د ﴿ ٱلَّيْلَ ....وَٱلنَّهَارَ ﴾ ترمينځ راغلی دی .

۲- اشتقاقي جناس لکه ﴿ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا ﴾ چي راغلی دی.

۳- د فعل تاکيد په مصدر سره لکه چي فرمايي ﴿ وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا ﴾ ﴿ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ﴾ ﴿ فَأَخَذْنَٰهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴾ تر څو د بيان زيات وضاحت او ځرګند توب افاده کړي

۴- التفات له غيبت نه خطاب ته لکه چي پدې آيت کي راځي ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا ﴾ که په اصلي بڼه وای نو به داسي ووچي (ارسلنا اليهم). او مقصد له التفات څخه د ايمان په نه راوړلو تقريع او توبيخ دی.

۵- مرسل مجاز چي فرمايي ﴿ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ ﴾ مقصد له قرآئت څخه لمونځ کول دي د لته يې د جزء اطلاق په کل کړی ځکه چي قرائت د لمانځه يو جزء دی

۶- ذکر د عام وروسته له خاص څخه لکه داچي ﴿ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ ﴾ چي وروسته له لمانځه ، زکات او صدقې څخه يې راوړي تر څو ګرد صالحات پکي شامل شي.

---

(1) خازن تفسير ۱۷۱/۴

۷- تبعیه استعاره چي پدې کلام کي شته چي ﴿ وَأَقْرِضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ له فقیرانو، مساکینو او بېوزلانو سره لاس نیوی او مرسته ورکول یې رب العالمین ته پورورکول وګڼل او دغه باریکه استعاره ده.

۸- مرصع سجع لکه ﴿ إِنَّ لَدَيْنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا، وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴾ او دغسي نورچي له بدیعي محسناتو څخه شمېرل کېږي

دالله جل جلاله په مرسته د المزمل سورت د تفسیر ژباړه بشپړه شوه.

***

د المدثر سورت مکي دی او شپږپنځوس آیتونه لري.

دالمدثرسورت مکي دی اودپخواني المزمل سورت په شان درسول الله صلی الله علیه وسلم دزندګي ځیني اړخونه څېړي ځکه یې المدثرهم بولي.

دسورت پیل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددعوت مکلفیت وړپه غاړه کېدل بنیي چي په بیداري سره پاځي اوکفاروته انذاروړسوي دفاجرانوله لوري په تکلیفونو باندي صبروکړي ترڅوچي الله دده اوده ددښمنانوترمینځ فیصله صادره کړي فرمایي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ، قُمْ فَأَنذِرْ، وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ، وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ، وَٱلرُّجْزَ فَٱهْجُرْ، وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ، وَلِرَبِّكَ فَٱصْبِرْ ﴾.

وروسته سورت دغه مجرمین دسختي ورځي له کړاوونوڅخه وېروي هلته چي هیڅ راحت نشته اوډېرهیبت اوترهه به وي فرمایي ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِى ٱلنَّاقُورِ، فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ، عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴾.

وروسته له دغه بیانه چي دانسان اندامونه له اورېدلوړېږدي بیادهغه بدبخته فاجر(ولیدبن مغېرة) داخطاریادونه کوی هغه چي قرآن یې واورېدواوپدې وپوهېدوچي دغه الهي کلام دی مګردریاست اومشرتوب سره دمیني اومحبت له مخي یې هغه سحراوکوډي وباله نوالله فرمایي ﴿ ذَرْنِى وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا، وَجَعَلْتُ لَهُۥ مَالًا مَّمْدُودًا، وَبَنِينَ شُهُودًا، وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمْهِيدًا، ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ، كَلَّآ إِنَّهُۥ كَانَ لِـَٔايَـٰتِنَا عَنِيدًا، سَأُرْهِقُهُۥ صَعُودًا، إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ، فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴾ آن تردې چي فرمایي ﴿ سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴾.

وروسته بیاسورت له هغه اورڅخه غږېږي کوم چي الله کفاروته ورباندي انذاروکړی دهغه اورڅارونکي پرښتې چي خوراسختي زوروري اودکفارودتعذیب لپاره ګمارل شوي دهغوی شمېراو په شمېرکي یې حکمت بیانوي فرمایي: ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ، لَا تُبْقِى وَلَا تَذَرُ، لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ، عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ، وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَـٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَـٰٓئِكَةً وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ دآیتونوترپایه

بیاسورت لوړه اخلي په سپوږمۍ اودهغې په رڼاسهاراودهغه په ښکلاقسم کوي چي جهنم یوله سختوازمویښتونوڅخه دی فرمایي ﴿ كَلَّا وَٱلْقَمَرِ ، وَٱلَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ، وَٱلصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ ، إِنَّهَا لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ ، نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ، لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴾.

وروسته بیاهغه خبري اتري راوړي کوم چي دمؤمنانواومجرمینوترمینځ ترسره کیږي مؤمنان ورڅخه پوښتنې چي ولي دوزخ ته لویدلي یاست ؟فرمایي ﴿ إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ، فِى جَنَّٰتٍ يَتَسَآءَلُونَ ، عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ، مَا سَلَكَكُمْ فِى سَقَرَ ، قَالُوا۟ لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ ، وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ ، وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلْخَآئِضِينَ ﴾.

اودسورت پای بیادمشرکانوپه ایمان نه راوړلوشوی چي فرمایي ﴿ كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلْءَاخِرَةَ ، كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذْكِرَةٌ ، فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ، وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ ٱلتَّقْوَىٰ وَأَهْلُ ٱلْمَغْفِرَةِ ﴾.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ (١) قُمْ فَأَنذِرْ (٢) وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (٣) وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (٤) وَٱلرُّجْزَ فَٱهْجُرْ (٥) وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ (٦)
وَلِرَبِّكَ فَٱصْبِرْ (٧) فَإِذَا نُقِرَ فِى ٱلنَّاقُورِ (٨) فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ (٩) عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ (١٠) ذَرْنِى وَمَنْ خَلَقْتُ
وَحِيدًا (١١) وَجَعَلْتُ لَهُۥ مَالًا مَّمْدُودًا (١٢) وَبَنِينَ شُهُودًا (١٣) وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمْهِيدًا (١٤) ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ (١٥) كَلَّآ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ
لِءَايَٰتِنَا عَنِيدًا (١٦) سَأُرْهِقُهُۥ صَعُودًا (١٧) إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ (١٨) فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ (١٩) ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ (٢٠) ثُمَّ نَظَرَ (٢١) ثُمَّ عَبَسَ
وَبَسَرَ (٢٢) ثُمَّ أَدْبَرَ وَٱسْتَكْبَرَ (٢٣) فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ (٢٤) إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ (٢٥) سَأُصْلِيهِ سَقَرَ (٢٦) وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا
سَقَرُ (٢٧) لَا تُبْقِى وَلَا تَذَرُ (٢٨) لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ (٢٩) عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ (٣٠) وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةً ۙ وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا
فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَيَزْدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِيمَٰنًا ۙ وَلَا يَرْتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۙ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِى
قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِىَ إِلَّا
ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ (٣١) كَلَّا وَٱلْقَمَرِ (٣٢) وَٱلَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ (٣٣) وَٱلصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ (٣٤) إِنَّهَا لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ (٣٥) نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ (٣٦) لِمَن
شَآءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ (٣٧) كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ (٣٨) إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ (٣٩) فِى جَنَّٰتٍ يَتَسَآءَلُونَ (٤٠) عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ
(٤١) مَا سَلَكَكُمْ فِى سَقَرَ (٤٢) قَالُوا۟ لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ (٤٣) وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ (٤٤) وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلْخَآئِضِينَ
(٤٥) وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ (٤٦) حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلْيَقِينُ (٤٧) فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ (٤٨) فَمَا لَهُمْ عَنِ ٱلتَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ (٤٩)
كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ (٥٠) فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍۭ (٥١) بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً (٥٢) كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ
ٱلْءَاخِرَةَ (٥٣) كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذْكِرَةٌ (٥٤) فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ (٥٥) وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ ٱلتَّقْوَىٰ وَأَهْلُ ٱلْمَغْفِرَةِ
(٥٦) ﴾ المدثر: ١ ـ ٥٦

لغتونه:

(المدثر) په جامه کي نغښتل شوی (دثار) هغه برسېرن څادرته وايي اوشعارهغه جامه چي په تن پوري وي په حديث شريف کي راځي (الأنصارشعاروالناس دثار) (الناقور) هغې شپېلۍ ته وايي چي پکې پوکل کيږي (نقر) په عربي کي صوت ته وايي اوځکه شپېلۍ ته ناقوروايي چي له شپېلۍ څخه ستراوهيبت ناک غږ راوزي چي خلک بېهوښه کوي اومړه کېږي (عبس) تندی تريوول (بسر) دمخ کوتان اودرنګ بدلول ، ليث وايي (عبس) کله چي دسترګوترمينځ تريووالی راوړي اوکه چېري يې غابنونه هم ورسره سپين کړل نو(کلح) يې بولي او که يې بيافکراوسوچ هم ورسره ملګری کړچاويلي چي دغه (بسر) دی اوکه غصه هم ورسره مل وه بيادوی وايي چي (بسل) دی ([1]) (أسفر) روڼ شي (الکبر) لويې بلاګاني اومصيبتونه عذابونه (قسورة) زمری له (قسر) څخه اخيستل شوی کوم چي قهردی اوځکه ورته (قسورة) وايي چي دځنګل په ځناورو واکمن دی چابياويلي چي دغه ويشتونکي ښکاريان ښبيي الازهري ليکي چي دغه دويشتونکولپاره اسم جمع دی چي له خپله جنسه واحد نلري.

دنزول سبب:

کله چي دالله تعالی داقول نازل شوچي ﴿ عَلَيۡهَا تِسۡعَةَ عَشَرَ ﴾ نوابوجهل قريشوته وويل موردي در باندي بوره شي دابوکبشه زوی (مقصديې محمدرسول الله وو) موږپه دوزخ وېروي اووايي چي نولس تنه څوکيداران لري اوتاسوستره ټولی خلک ياست آياتاسوهرلس تنه نشی کولای چي يويې ونيسی!! (ابوالاسد الجمحي) وويل زه به اوولس ونيسم اوتاسي يوازي دوه ونيسئ نوالله جل جلاله داآيت نازل کړچي ﴿ وَمَا جَعَلۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةٗۙ وَمَا جَعَلۡنَا عِدَّتَهُمۡ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ دآيت ترپايه پوري ([2])

تفسير:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ، قُمۡ فَأَنذِرۡ ﴾ ای په څادرکي نغښتونکيه (چي خوب اوراحت کوې) پورته شه !(له ځايه دخوبه خپله (په عزم اوتصميم سره) نو ووېروه (خلک دالله له عذابه که ايمان رانه وړي ، رسول الله ته په دغه تعبيرسره خطاب کول لکه څرنګه چي يې په (المزمل) ورته خطاب فرمايلی وو دمؤانست اوتلطف له مخي دی.مفسرين کرام ليکي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به دحراء په غارکي عبادت کاووچي جبريل امين ورته ددغوآيتونووحی راوړه چي ﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ﴾ (العلق:۱) دآيتونو ترپايه اوهمدغه دقرآنکريم لومړنی وحی وه چي ورباندي نازله شوه نودرسول الله صلی الله عليه وسلم زړه دربېدو اوراستون شوحضرت خديجې رضی الله عنهاته يې وويل: (زملوني، زملوني) بيادا آيت نازل شوچي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴾ (المزمل ۱ – ۲) دآيتونو ترپايه اوبياوحی يوڅه وځنډېدله اورسول الله خواشينی شوچي يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم په لاره روان ووچي له آسمانه يې غږواورېدو اوچي سريې راپورته کړهمغه پرښته وه چي دحراء په غارکي ورته راغلي وه اوداوس په يوه کرسی

([1]) کبيرتفسير۳۰/ ۲۰۱
([2]) کبيرتفسيردامام رازي۳۰ / ۲۰۳

باندي تشريف درلودچي دآسمان اوځمکي ترمينځ وه له دغه حالته رسول الله ته وېره اوترهه ورپېښه شوه نوكورته راغی او ويل يې (دثروني، دثروني) (۱) نو الله جل جلاله داآيت نازل كړچي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ، قُمْ فَأَنذِرْ ﴾ قرطبي ليكي چي په دې نداكي تلطف نغښتی دی چي دكريم له لوري حبيب ته خطاب دی اوپه وصف سره يې وستايواوداسي يې ورته ونه ويل چي (يامحمدقم...) ترڅوچي رسول الله له خپله پروردګاره دنرمي اوملاطفت پېرزوينه احساس كړي اوددې مثال درسول الله صلى الله عليه وسلم هغه وينا ده چي (حذيفة بن اليمان) ته يې دخندق په ورځ وكړه ورته ويل يې (: قم يانومان) يعني ای خوبولي پاڅه !(۲) ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾ اورب خپل پس په لويې سره يادوه (تقديس اوتمجيد يې كوه، عظمت او كبرياء يې ستايه ترالله لوړاوسترهيڅوک نشته. الوسي ليكي: معناداچي الله په تكبير لويې سره ځانګړی كړه اودغه دالله جل جلاله دكبرياء اوعظمت وصف دی قولا اواعتقاداً(۳) اوداچي وروسته له انذار څخه يې دغه جمله ياده كړه ترڅورسول الله دكفارولهٔ ډېروالي څخه بې پرواكړي ځكه دخلګووچولي، تندی (نواصي) دجبارذات په يد دقدرت كي دي اورسول الله ته ښايي چي پرته له الله هيڅ څخه هم ونه وېرېږي اونه هم دچاپرواوكړي ځكه هرستراولوی دالله جل جلاله تر لويي لاندي اومقهوردی ﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾ اوكالي جامې خپلي پس پاک وساته (له نجاساتواوپليتيوڅخه، ځكه چي مؤمن پاک سپېڅلی وي اوورسره مناسب نه دي چي چټل ناپاک وي ، ابن زيدوايې چي مشركانوبه دنظافت خيال نه ساتلو نورسول الله صلى الله عليه وسلم ته حكم وشوچي ځان اوجامې پاكي وساتي (۴) اوابن عباس رضی الله عنهماوايې چي جامې كنايه له زړه څخه دي اومعناداچي زړه دي له ګناهونوڅخه پاک وساته (۵) عرب وايې : دفلاني جامې پاكي ذي مطلب يې داوي چي هغه له عيبونو اوبدوصفاتوڅخه پاک دی اووايې: دفلاني سړي جامې لړلي دي كله چي دهغه اخلاق اوخويونه ناولي وي امام رازي ليكي چي: ددغي كنايي ښكلاپه دې كي ده چي جامه لكه يوشی چي تل له سړي سره ملازم وي داسي دی ځكه نوجامه له انسان څخه كنايه راوړي (المجد في ثوبه والعفة في ازاره)(۶) ﴿ وَٱلرُّجْزَ فَٱهْجُرْ ﴾ (اوبتان پس ترک كړه) يعني دبتانو عبادت پرېږده !مه ورنژدې كېږه (الرجز) هغوبتانوته وايه شي كوم چي دمكې خلګواونورو مشركانوبه يې عبادت كاوو نوالله ورته امروكړچي هغوی ته رانشي اونه ورنژدې شي . امام فخررازي ليكي (الرجز) د ناولي شي نوم دی لكه (الرجس) چي الله تعالى فرمايې ﴿ فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ مِنَ ٱلْأَوْثَـٰنِ ﴾ اودا كلام چي الله جل جلاله فرمايې ﴿ وَٱلرُّجْزَ فَٱهْجُرْ ﴾ دغه يوجامع كلام دی چي

---

(۱) دغه روايت طبري له جابربن عبد الله څخه رانقل كړی دی الطبري ۲۹/ ۹۰.

(۲) قرطبي تفسير۱۹/ ۶۰

(۳) روح المعاني ۲۹/ ۱۱۲

(۴) ابن كثيرتفسير ۳/ ۵۲۸

(۵) طبري تفسير.

(۶) تفسيركبيرامام رازي رحمه الله ۴/ ۱۹۲ (ياداچي په پښتوكي وايې فلانی پاک لمنی دی يعني هغه عفيف دی)ژباړن

ګردو اخلاقو ته شامل وي لکه چي ورته ويلي يې وي چي جفا، سفاهت او هر بېکاره چټي خوى پرېږده دغو مشرکانو خويونه مکوه او مراد له هجرانه څخه په دغه هجران باندي مداومت او همېشه توب دى لکه چي مسلمان وايې ﴿ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴾ (الفاتحة ۲) معنايې دا نه ده چي هغه په سمه لاره روان نه دى بلکه معنادا چي: موږ پر دغه سمه لاره ثابت او دائم ولرې([۱])﴿ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ﴾ او مه کوه داسي (لږ) احسان چي بدل يې ډېر غواړې) ځکه چي د کريم داخوى وي چي ډېره ورکړه هم لږ ګڼي. ([۲]) داسي عطاء او نورکړه مکوه چي غوره ترې هيله لرې ([۳]) پدې معناچي داسي څه مه ورکوه چي بيازيات درکول شي او ددغي نهى رازپه دې کي دى چي ورکړه بايد دعوض او بدلې له انتظاره خالي وي او دغه د تعفف او کمال نوم دى ځکه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو په غوره او شريفو آدابو اخلاقو باندي مأمور شوى دى ﴿ وَلِرَبِّكَ فَٱصْبِرْ ﴾ او د پاره درب خپل صبر کوه په تکاليفو د قوم خپل چي د دعوت په لاره کي يې درر سوي او ورپسې د قيامت ستونزي داسي بيانوي چي ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِى ٱلنَّاقُورِ ﴾ کله چي پو کړى شي په صور شپېلۍ کي (نفخة) د بعث او نشور له شپېلۍ څخه يې په ناقور تعبير و فرمايو ځکه چي د عربو په کلام کي د (نقر) معنا صوت آوازدى او کله چي سخت آواز ولګېږي ورسره هيبت وي نو لکه چي ورته وايې ته ددوى له خوا په اذيتونو درر سېدلو زغم او صبر کوه ددوى په وړاندي د قيامت سخته ورځ ده چي دوى به ددغو خپلو اعمالو نتيجه هلته ويني او ته به دخپل صبر پايله هم وګورې نو ځکه وروسته پسې فرمايې ﴿ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴾ (نو دغه (وخت) په دغه ورځ کي ورځ سخته ده) يعني دغه خوراسخته ورځ ده چي پر دوى به چاره ډېره سخته وي او په بعيد سره اشاره چي (ذلک) دى ددې لپاره راغلي چي دهغې منزلت په هيبت او سختي کي لېري دى ﴿ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴾ په کافرانو باندي به آسانه نه وي؛ ځکه چي ور سره حساب کتاب به کېږي مخونه به يې توراو سترګي به يې شنې شي د خلګو په وړاندي به رسوااو و شرمېږي. صاوي ليکي چي: په آيت شريف کي ددې دليل شته چي دغه ورځ به په مؤمنانو آسانه وي ځکه چي سختي به يې په کافرانو پسې وتړله او پدې کي د کافرانو لپاره زيات وعيد او قهر دى او د مؤمنانو لپاره ډاډ او زېرى شته ([۴]) ورپسې دهغه بدبخته کافر(وليدبن مغيرة) کيسه راځلي چي هغه بد مرغه د قرآن کريم په هکله خرنګه چټي ببځايه وينا کوله الله فرمايې ﴿ ذَرْنِى وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴾ پرېږده ما او هغه څوک چي پيدا کړى مي دى يوازي (د مور په ګېډه کي چي نه يې مال او نه يې اولاد وو، نه يې توان او ځواک درلود او نه يې مدد ګاران وو بيا پر ما باندي کافر شو او زما آيتونه يې دروغ وګڼل. مفسرين کرام وايې: دغه دوليدبن مغيرة په هکله نازل شوى هغه چي د قريشو سردار وو او هغه ته د قريشو ريحانة او وحيد و يل کېدو، الله تعالى په هغه باندي د دنيا نعمتونه او مال او اولاد لورولى وو پرېمانه روزي يې

([۱]) کبير تفسير ۳۰ /۱۹۳

([۲]) التسهيل لعلوم التنزيل ۴ /۱۷۰

([۳]) مختصر ابن کثير ۳ /۵۲۸

([۴]) حاشية الصاوي على الجلالين ۴ /۲۲۵

ورکړې وه چې لکه رودبهېدله، ولید په طآئف کې باغ درلودچې ژمی، اوړی به یې مېوې نه خلاصېدلې نوردالله نعمتونو کفران یې وکړدالله جل جلاله له آیتونو څخه منکرشواوپه الله جل جلاله یې دروغ وتړل نودغه آیت یې په هکله نازل شوچې ﴿ ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴾ دغه دتهدیدپه هکله بلیغ اسلوب دی اودده په هکله د(نون) په سورت کې هم آیتونه پخوا اولوستل شول (١)چې ﴿ وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ، هَمَّازٍ مَّشَّاءٍ بِنَمِيمٍ، مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ، عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ، أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ، إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ،سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ ﴾ (القلم ١٢-١٠)داهغه کافروو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې خوراوو اوهغه ته یې پلمې بهانې جوړولې او ورسره مکرفرېب یې چلاووځکه کله چې به قریشي مشرانو ته کومه پلمه بهانه پاتې نشوه چې درسول الله ددعوت په وړاندې یې خنډ کړې اودبلنې شغله یې وړژنې نوبه یې ولیدبن مغیرة ته پناه وروړه هغه به ورته داسې مشوره ورکړه چې کوډګرېې بولئ اوخپلو مریدانواوماشومانو ته وواياست چې په دغه نامه باندې دمکې په کوڅوکې چیغې نارې ووهې نوبه هغوی دغه جاروا هوچې محمدصلی الله علیه وسلم کوډګردی اورسول الله صلی الله علیه وسلم پدې غمجن شونودغه آیتونو دنوموړې کافردتهدیدپه هکله نازل شول چې دکبر او غرور شان یې مات کړي وریې الله جل جلاله وفرمایل ﴿ وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَّمْدُودًا ﴾ اوبیامې وګرزاوو ده ته مال ډېرزیات (له اوښانو، آسانو، مېږو ، وزو اوزرغونو باغونو. بیضاوي لیکي (ممدودا) یعني وېړاخ ځکه چې کښتونه، فصلونه ، حیوانات اوتجارت یې درلودل (٢)ابن عباس وایې چې : دده مال دمکې اوطآئف ترمینځ غوړېدلی وواومقاتل وایې : هغه یوباغ درلودچې ګټه یې سراوکال یعني ژمی، دوبی ورته رسېدله(٣)﴿ وَبَنِينَ شُهُودًا ﴾ اوزامن حاضر(کېناستونکي) له ده سره په مجلس کې)حاضرپه ښارکې چې هغه به یې په لیدلوډاډمن وواودبېلتون په سبب یې غمجن نه وو. مفسرین کرام لیکي چې ده لس زامن درلودل چې هیڅ وخت په سفرنه تلل اونه به له ده بېلېدلودی به یې په لیدلوخوښ راضي وواودعزت اوسرلوړې سبب یې بلل کېدودرې زامن یې مسلمانان شول چې هغوی خالد، هشام، او ولیدوو(٤)وروسته له دې چې دمال اولادیادونه یې وشوه په عامه توګه ګردې دنیوي ښېګڼې یې داسې یادوي چې ﴿ وَمَهَّدتُّ لَهُ تَمْهِيدًا ﴾ (اوتیاری مې وکړه فراخي مې وکړه ده لره تیاري) یعني دنیامې دده په وړاندې تیاره اووغوړوله دژوندانه له مشقتونو څخه مې وژغوره هغه ته مې دمشرتوب ، خاني، اولوېې ګدۍ ورکړه چې هغه بیاپه قریشو کې سرلوړې سردارووخبره یې هرچامنله ﴿ ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ ﴾بیاطمع کوي امیدلري دی لابه ښه زیات کړم(ده لره دغه ټول شیان په داسې حال کې چې پرما کافردی؟فخررازي

(١) د(نون) په سورت کې دد غه تفسیرکیسه ولوله
(٢) البیضاوي٢/٤٩٢
(٣) کبیرتفسیر٣٠/١٩٨
(٤) خینې مفسرینو دزمخشري پیروي کړې اولیکلې یې دي چې دهغه مسلمان زامن (خالد، ، عمارة او هشام) دي خوسمه خبره داده چې دعمارة پرځای ولیددی او(عمارة) په کفرکې مرشوی دی په دې هکله دشهاب حاشیه وګوره. ٨/٢٨٤

ليکي چي (ثم) پدې ځای کي دانکاراو تعجب لپاره دی لکه چي ته خپل ملګري ته وايې ماخپل انګړته راوستې ومي نازولې، مېلمستيامي درکړه عزت مي دي وکړيا هم ته راته بښکنځل کوې؟ !(۱) يعني سره له دغه ګرداکرام اوعزته هغه کافراو منکرشو پرځای ددې چي شکر وکاږي دنعمت قدردان شي هغه انکاروکړاو پرځای ددې چي داحسان په وړاندي ايمان خپل کړي هغه برعکس انکاراو کفران ته مخه کړه

﴿كَلَّآ﴾ نه کوم داسي (چي مال اولادېې ډېرکړم) دغه حرف (ردع)دی ترڅو دغه فاجرګنهګارله دغي فاسدې طمعې اوهيلې څخه وګرزوي اوبيادې علت داسي څرګندوي چي ﴿إِنَّهُۥ كَانَ لِءَايَٰتِنَا عَنِيدًا﴾ بېشکه هغه زموږ وآيتونو زموږ لره عناد کونکی (دپيغمبرعليه السلام تکذيب يې کاوونوڅرنګه دغه بدمرغه دزياتوالي هيله من دی اودغه خيال پلاو پخوي ؟﴿سَأُرْهِقُهُۥ صَعُودًا﴾ ژردی چي مکلف به يې کړم په سخت عذاب سره (چي توان به يې اوبه کړي لکه چي دهغه چاتوان اوبه کېږي کوم چي لوړغره ته خېژي. قرطبي ليکي (صعوداً) بنوی ډبره ده چي په ختلو به يې ورته حکم کېږي او کله چي ور وخېژي نوبه دجهنم مينځ ته راورغړي اوبيوزرکاله وروسته به دجهنم په ګېډه کي تم شي (۲) اوپه حديث شريف کي راغي چي (الصعود جبل من ناريصعد فيه سبعين خريفاثم يهوي فيه كذلک أبدا)يعني (صعود) په اورکي کي ديوه غره نوم دی چي په هغه باندي اويا کاله کافرخېژول کېږي اوبيرته رارغړول کېږي اودغه عذاب به يې تل ترتله وي (۳)﴿إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ﴾ بېشکه هغه فکروکړ(چي په قرآن کي څرنګه طعن ولګوم) او(پخپل زړه کي يې) اندازه ولګوله(چي ويې ويل: دغه قرآن کوډي دي اومحمد صلى الله عليه وسلم ساحردی، په آيت شريف کي پرده باندي تهکم اواستهزاء دی چي ده هغه څه اندازه ولګوله چي هيڅ سمون نلري اونه دغسي هوښيارسړی وايي په البحرکي راوړي عرب کله چي يوڅيزډېرلوړوګڼي اوتعجب يې وبولي نووايي (قاتله الله) مقصديې داوي چي دغه هغه ځای ته رسېدلی چي ورسره حسد کېږي اوحاسدان ورته ښېراکوي اواستفهام پدې کلمه کي چي ﴿كَيْفَ قَدَّرَ﴾ دتعجب په معناکي دی چي څومره عجيب اوغريب تقديراو اندازه يې لګولي ده ؟لکه چي دوی وايي (أی رجل هذا) يعني څومره عجيب سړی دی دغه؟ !

﴿فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ﴾ ووژل شو(ملعون کړی شو) څرنګه يې اندازه کړه؟ بيا دی ووژلی شی (ملعون دی کړی شی) څرنګه يې اندازه کړه؟ تاکيد يې دحال دتقبيح لپاره راوړی او چي زيات تهکم افاده کړي لکه چي ووايې: الله دي ووژني (هلاک کړي) څرنګه عجيبه فکرېې وکړ؟ او خپله سپکه رايه يې څرګنده کړه (۴) چي قرآنکريم يې سحروباله چي اغېزناک دی. مفسرين کرام ليکي چي وليديوه ورځ په رسول الله صلى الله عليه وسلم تېرېدوچي رسول الله په لمانځه ولاړ اوقرآنکريم يې تلاوت کاوونودرسول الله تلاوت يې واورېدوتأثيرېې پکي وکړوليد دخپل قوم بني مخزوم مجلس ته راغی

---

(۱) کبيرتفسير۳۰/ ۱۹۹

(۲) قرطبي تفسير۱۹/ ۷۲

(۳) أخرجه الترمذي والحاکم وصححه

(۴) دغه لکه څنګه چي زمخشري ليکي دوليدبن مغيرة ثنادتهکم په اسلوب دی اوتهکم پدې معنادی چي څه ده ويلي نهايته سپک اوبې ارزښته دي.

اوورته ویل یې زمادي په الله سوګندوي همدااوس مي له محمد څخه یو کلام واورېدوچي نه دانسان کلام وو اونه هم دپېري زمادي په الله قسم وي چي دهٔ برخوندېي درلوداو ښایسته ووسرترپایه له ښېګڼواولذتونو ډک وو داسي کلام ووچي پرګرځدو وېناوو دپاسه وو بل کلام ورباندي لوړېدای نشوای اوبیاخپل کورته ستون شو قریشو وویل : داسړی که چېري له دینه واوړي نوټول قریش به خپل دین پرېږدي اوابوجهل وویل: زه به دده چاره وکړم هغه ته ورغی اوله څنګه یې کېناست غمګیني اوخواشیني په یې خپله کړه نوولیدورته وویل: ای وراره ولي داسي خوابدی یې هغه ورته وویل: چي ولي به خوابدی نه یم دغه قریش دي چي تاته مال راټولوي ترڅوچي ستاپه بوډاتوب کي مرسته وکړي دوی داسي انګېري چي تاته دمحمد کلام خوند درکړی اولکه چي له دینه اوښتی یې ترڅوچي دمحمد دخوړوپاتي شوني درته ورسېږي اویایې له ماله څخه څه استفاده وکړې ! ! ولید ته قهرورغی او ویې ویل: آیا قریش په دې نه پوهېږي چي زه تر دوی زه ټولو مالدار ه اوسرېوواليم !؟ آیامحمد اواصحابان یې په ډوډۍ ماړه شول چي پاتي شوني لري؟ ! بیاله ابوجهل سره پاڅېدو ترڅوچي دخپل قوم مجلس ته راغی اودوی ته یې وویل: تاسوګمان کوی چي محمدلېونی دی آیاتاسولیدلی چي خلګ ترمری نیسي؟دوی ویل نه هیڅکله نه بیایې وویل: آیاتاسوګمان کوی چي هغه کاهن دی؟ آیاکله هم دهغه کهانت مولیدلی؟ دوی ویل نه مودی لیدلی ویل یې چي آیاګمان کوی هغه شاعردی آیاکله موهم لیدلي چي هغه شعرویلی دی دوی ویل له سره مونه دي لیدلي نو یې وویل : تاسوګمان کوی چي دروغجن دی؟دوی ویل هیڅکله موهم دهغه له خولې څخه دروغ نه دي اورېدلي نوقریشوولیدته وویل نوته آخرڅه فکرکوې چي دابه څوک وي؟ ده چورت وواهو اوبیایې وویل : دغه کوډګردی بل هیڅ شی نه دی آیاتاسونه ګوری چي دسړي اومایني ترمینځ یې اودارنګه دزوی اوپلارترمینځ بېلتون راولي اوداچي لولي یې له اغېزمن سحر څخه پرته بل شی نه دی ، همدغه دالله وېناده چي فرمایې ﴿ إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴾ دآیتونوترپایه ولید پرېږده چي چورت ووهي اواندازه ولګوي راځوګوروچي بیایې څه وکړل؟ الله تعالی فرمایې ﴿ ثُمَّ نَظَرَ ﴾ بیایې وکتل(بل ځل په فکرسره دقرآن په هکله) ﴿ ثُمَّ عَبَسَ ﴾ بیایې مخ تریو کړ(خوله یې ورانه کړه) ﴿ وَبَسَرَ ﴾ اووچولی یې غوټه تریو کړ(لکه چي یو څوک دیوکارپه هکله سوچ اوچورت وهي په التسهیل کي راوړي چي(بسور) دمخ غوټه کولوته وایي اوتر(عبوس) زیات دی ﴿ ثُمَّ أَدْبَرَ وَٱسْتَكْبَرَ ﴾ بیایې شاواوړو له (له ایمان اومحمده) اوتکبریې وکړ(دحق له اتباع اوهدایته) ﴿ فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴾ نو ویې ویل نه دی دا(قرآن) مګرخوسحردی چي نقل کاووشي (له نورو ساحرانو څخه) ﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ ٱلْبَشَرِ ﴾ (نه دی دا(قرآن) مګرخو خبره دبني آدم بشردی) یعني دغه قرآن دالله کلام نه دی بلکه دبنیادم وېناده چي محمدصلی الله علیه وسلم دخلګوزړونه ورباندی غولوي او ورباندي لکه دکوډو اغېزه پرې باسي. الوسي لیکي : دغه لکه د لومړۍ جملې لپاره چي تاکیدوي ځکه مقصدله دواړوڅخه نفی دقرآن اوکلام الله دی ځکه یې نو ورباندي په واوتوري عطف نه دی راوړی اوپه راوړلو ددغه بېځایه وېناله ده څخه پرده استهزآء ده اودې ته اشاره ده چي دی له حق څخه ګوښه پاتي شوی اوداحوال له څېړني داسي

معلومېږي چي وليد دغه خبري دعناداوجاهلي تنګ ځخه کولې دحال په حقيقت باندي دغسي ناپوه نه
وو آيا نه ګوري چي په قرآن يې څرنګه ثناويلي ده تول هغه شيان يې چي قريشوورته نسبت کاوو ځني نفي
کړي دي لکه شعر، کهانت اوجنون!!؟﴿ سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴾ (الله فرمايي) ژر به داخل کړم دى سقر (اوردوزخ
ته) (چي عذاب يې وڅکي) ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴾ او څه شي پوه کړې ته چي څه دى اورد سقر؟ استفهام
دتهويل اوفظاعت لپاره دى ﴿ لَا تُبْقِى وَلَا تَذَرُ ﴾ (چي نه پاتي کېږي ترې هيڅ شى (له غوښوبې سوځولو)
اونه پرېږدي (هډوکي بې سوځولو) يعني هرڅېزته چي ورسېږي له مينځه يې وړي اوله فجاروڅخه
هيڅوک نه پرېږدي مګرسوځوي يې.ابن عباس رضى الله عنهماوايي: معناداچي له غوښو،
وينو اوهډوکوڅخه هيڅ څېز(توکى) هم نه پرېږدي مګرسوځوي يې اوکله چي يې بيرته نوي تخليق وشي
نوترو مبني حالت يې سخت وسوځوي اوهمداسي تل ترتله ورباندي بلېږي ﴿ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴾ ظاهرېدونکى
خلګولره (له ليري مسافې څخه چي غټ اوهيبت درلودونکى به وي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ
لِمَن يَرَىٰ ﴾ (النازعات:۳۶) حسن رحمه الله وايي: دوى ته به دپنځه سوه کاله موده له مسافې څخه برېښي
ترڅوچي يې عيان ووينى (۱) نوهغه ددوى سترګوته عيان دى بې له دې چي غاړي ورته اوږدې کړي دوى
به يې ويني ﴿ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴾ په هغه (اوردسقرباندي مؤکلي نولس پرښتې لکه چي الله تعالى بل ځاى
فرمايي ﴿ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴾ (التحريم:۶) ابن عباس رضى
الله عنهماوايي دهري پرښتې داوږوترمينځ به ديوکال مسافه وي اوديوي توان اوځواک به دومره وي
چي په يووار دګرز، څټک به اويازره انسانان ددوزخ په تل کي ننې باسي. الوسي له ابن عباس رضى الله
عنه څخه روايت راوړى وايي: کله چي دغه آيت نازل شونوابوجهل قريشوته و ويل: ميندي دي درباندي
بوري شي ابن ابي کبشه (محمدصلى الله عليه وسلم) وايي چي ددوزخ مؤکلي پرښتې نولس دي
اوتاسو غښتلي تولي ياست آيا په لسوتنويوه پرښته نه شى نيولاى؟ نو ابو الاسد الجمحي وويل (چي
سخت غيرايستونکى وو) اوولس پرښتې يوازي ماته راپرېږدئ اوتاسو ددووپرښتومخه ونيسئ (۲)
نوکله الله جل جلاله داآيت نازل کړچي ﴿ وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةً ﴾ اونه دي ګرزولي موږ خازناني
مؤکلي ددوزخ مګرپرښتې (ډېري قوتناکي له بشرڅخه مونه دي ګرزولي چي دوى ورسره زور
آزمايي وکړي ﴿ وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ اونه دي ګرزولي موږ (دالږ) شمېرددوى مګرفتنه

---

(۱) خينومفسرينوداغوره کړي چي سوځوونکى تورونکى دااورچي پوستوکى يې توروي داسي تورچي ترتکه توره شپه
لاتوراوپه (لواحة للبشر) کي د(البشر) دبشرة جمع اوهغه دانسان ظاهري پوستوکي ته وايي خوظاهره اوڅرګنده هغه ده چي
موږليکلي ځکه الله جل جلاله يې وصف داسي راوړى (لاتبقي ولاتذر) نوله دې وروسته بيادپوستوکي دتورېدلوڅه فائده
کېداى شي ؟ کوم مطلب چي موږترې اخيستى هغه ته قرطبي ترجيح ورکړې اوابن عباس ته يې نسبت کړى همداسي امام
رازي هم دغه ژباړه خوښه کړي ده والله اعلم
(۲) الوسي تفسير ۲۹/ ۱۲۲

ازموینه دپاره دهغو کسانو چي کافران شوي دي (چي تيوکي پرې کوي لږ يې بولي آن تردې چي ابوجهل وايې: آيا تاسو نو سل تنه نشواى كولاى چي يوه پرښته ونيسى اوله اورځخه يې بهروباسى(۱)؟ طبري ليکي: او دا چي الله د دوزخ د خازنانو شمېر د کفارو لپاره فتنه، ازموينه ګرزولي چي دوى د دې تکذيب کوي او ځيني کسان ځينو نورو ملګروته وايې او ملنډي وهي چي دغه پرښتې ماته راپرېږدى زه يې مخنيوى كوم(۲) ﴿لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ﴾ ترڅو چي يقين وکړي هغه کسان چي کتاب ورکړى شوى دى (په رښتنولي د محمد صلى الله عليه وسلم او دا چي قرآنكريم د الله له لوري څخه نازل شوى دى ځکه چي ددوى په کتابونو کي داورد خازنانو دغه عدد موجود دى ﴿وَيَزْدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِيمَٰنًا﴾ او (بل لپاره ددې) چي زيات کړى ايمان دهغو کسانو چي ايمان يې راوړى دى) يعني دمؤمنانو باور په الله اورسول الله باندي زيات کړي چي دوى ګوري ددوى دپيغمبرو پنا اهل کتابو تسليم کړي ځکه چي په قرآنكريم كي دهغوى له کتابونو تورات او انجيل سره سم اخبار راغلي دي ﴿وَلَا يَرْتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ﴾ (اولپاره ددې) چي شک ونکړي هغه کسان چي دوى ته کتاب ورکول شوى او مؤمنان ؛ (دغه دپخواني لپاره تاکيد دى ځکه کله چي يې يقين ذکر کړنو شک يې ځيني نفى کړنو دغه قول چي (ولا يرتاب) دى دمبالغې او تاكيد لپاره راوړل شوى(۳) او دغه ته دبلاغت علماء اطناب وايي ﴿وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا﴾ او چي ووايې هغه کسان چي په زړونو ددوى كي ناروغي (د شک او نفاق) ده او (ووايي) کافران (اهل مکه) څه شى اراده کړى دى الله پر دغه شمېر (د ملائكو) سره له جهته دمثاله؟) يعني داسي عجيب او غريب قول يې راوړى چي په عجيبه توب سره متل ګرزېدلی او ولي موپه هغه باندي دسقرله مالکانو خازنانو څخه وېروي چي نولس دي؟ ! امام رازي ليکي چي: په ځينو احوالو کي ديقين اثبات دشک له حصول سره منافي نه وي نو مقصد له دې وينا اعاده کولو را ګرزولو څخه دادى چي دوى ته داسي جازم يقين ثابت شو چي له وروسته شک ورپسې نه راځي او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا معلومه وه چي كله قريشو ته دغه دپرښتو شمېر ووايې نودوى به ور باندي ملنډي وهي او خاندي به ځکه الله تعالى له دې څخه په ښکاره بيان سره توضيح وفرمايله چي دغه شمېر ددې لپاره دى(۴) چې : ﴿لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ﴾ ترپايه ﴿كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ﴾ همداسي (په شان دګمراه كولو د منكرانو) ګمراه كوي الله هرهغه څوک چي اراده وفرمايي دضلالت يې او سمه لاره ښيي هرهغه چاته چي اراده وفرمايي (دهدايت يې) يعني لكه چي الله ابوجهل اوملګري يې له هدايت او ايمان راوړلو څخه ګمراه کړي همداسي هغه څوک چي دګمراه كولو يې ورته اراده شي ګمراه کوي او هدايت کوي هغه چاته چي ورته دلارښوونې اراده و فرمايې دالله په دغه ګمراه كولو او په هدايت وركولو كي حكمت نغښتى

---

(۱) قرطبي ۱۹/۷۹
(۲) الطبري ۲۹/۱۰۱
(۳) التسهيل عن الزمخشري
(۴) کبير تفسير ۳۰/۲۰۶

اوحجت پټ دی ﴿ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ﴾ اونه پوهېږي په لښکرو درب ستامگرهمدغه (الله پرې پوهېږي) يعني دپرښتوشمېر، قوت ، سترخلقت اوكثرت ټول الله ته معلوم دي هغه چي رب العالمين دی په آيت كي په ابوجهل باندي ردراغلی دی چي هغه به ويل چي د محمد دپروردگارمرستندويان يوازي نولس دي ؟ ﴿ وَمَا هِىَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴾ اونه دی دا (سقركوم چي الله وستايو) مگرخوذكرپند دی خلگوته (چي ووېرېږي اودالله اطاعت وكړي) ﴿ كَلَّا وَٱلْقَمَرِ ﴾ ندی داسي (چي خوک به له سقره انكاري شي) اوقسم دی په سپوږمۍ باندي (كلا) دزجركلمه ده اووروسته الله په سپوږمۍ لوړه اخلي چي سقرحق دی معناداچي دغه استهزاء كونكي په وحی اوقرآن باندي دي له خپلوكړو وړوڅخه ووېرېږي ﴿ وَٱلَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴾ اوپه شپې باندي كله چي شاواړوي (درومي) ﴿ وَٱلصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ ﴾ اوپه گهيځ (سحر) باندي كله چي رون شي (اوروښنايي يې خپره شي) ﴿ إِنَّهَا لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ ﴾ بېشكه دا (اوردسقر) خامخايوله (بلاگانو) لويو څخه دی (نوځرنگه وړباندي ملنډي وهي اودروغ يې گڼي؟! ابوحيان ليكي الله په دغوځېزونوڅخه قسم اخيستی چي دهغوی شرافت وښيي اوپدې تنبيه وفرمايي چي په دغوكي دالله دقدرت عجائبات دي اودوجودقوام هم پردوی راځي نوپردوی يې لوړه واخيسته چي جهنم يوله ستروبلاگانوڅخه دی چي مثل يې نشته [1] اوپه آيت كي دې لوري ته اشاره ده چي لمر سپوږمۍ دالله مخلوق دي اودوی په تگ راتگ اوشپې ورځي پيداكولوكي دالله جل جلاله دفرمان تابع دي دالله جل جلاله دقدرت اوقهرپه وړاندي سرپه سجده ايږدي نوځرنگه بنيادم ته وړ اومناسب دي چي ددوی عبادت وكړي؟! اوددوی دخالق الله جل جلاله څخه منكرشي ؟! بياالله له جهنم څخه داسي بيان فرمايي ﴿ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴾ وېرونكی دی (دغه سقر) بنيادمانوته (چي له الله څخه دي ووېرېږي) ﴿ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴾ هغه چاله چي غواړي له تاسي څني چي وړاندي شي (نېكي جنت ته په ايمان سره) ياوروستی شي (شرته په كفرسره په البحرالمحيط كي راوړي چي: مرادله وړاندي توب او وروستي والي څخه خيرته وړاندي كېدل اوله هغه څخه وروسته كېدل دي لكه چي الله فرمايي ﴿ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ﴾ [2] ابن عباس رضی الله عنهماوايي: معناداچي څوک غواړي دالله طاعت وكړي اوچي څوک غواړي له طاعت څخه دي په شاشي معصيت دي وكړي [3]) ﴿ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴾ هرنفس په سبب دهغه چي كړي يې وي گرو(بندي) به وي (په سقركي) يعني هرنفس په خپل عمل باندي پېر اودالله په وړاندي گرو دی ترهغوبه خلاص نشي ترڅوچي گردحقوق اوعقوبات يې اداكړي نه وي ﴿ إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ﴾ مگرخوخاوندان دښي لاس (مؤمنان چي دوی ځانونه له بنده او عذابه دايمان اوالله دطاعت په وسيله ژغورلي دي ﴿ فِى جَنَّٰتٍ يَتَسَآءَلُونَ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾

([1]) البحرالمحيط ۸ / ۳۷۸

([2]) البحرالمحيط ۸ / ۳۷۹

([3]) طبري تفسير ۲۹ / ۱۰۳

وي به په جنتونوکي چي پوښتني به سره کوي يوله بله له حاله دمجرمانو(هغوی چي په اورکي دي اودغه پوښتني به دهغوی د زيات تبکيت اوتوبيخ لپاره کوي ترڅوورباندي نورحسرت اوآرمان هم وربارکړي هغوی ته به داسي وايي: ﴿ مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ﴾څه شي داخل کړي ياست تاسي (ای منکرانو) په دوزخ کي؟ په البحر المحيط کي ليکي: دغه غوښتنه ددوی دتحقير اوتوبيخ لپاره ده که نه دوی خو ښه خبردي چي په څه دغه کسان اورته لوېدلي دي([1]) ﴿ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ ﴾ وبه وايي مجرمان (په ځواب کي چي) نه وو موږ (په دنياکي) له لمونځ کونکيو(رب العالمين ته) ﴿ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ ﴾اونه وو موږ چي خواړه مو ور کړي وای مسکينانوته ابن کثيرليکي: په دواړوآيتونوکي ددوی مقصددادی چي نه خومودالله عبادت کړی اونه مودهغه له بندګانوسره څه احسان اونېکي کړي ده([2]) ﴿ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلْخَآئِضِينَ ﴾ او وو به موږ چي ننوتلو شغل به موکاووپه (باطلو)خبروکي سره له ډېروخبروکونکيو ! په التسهيل کي راوړي چي (خوض) په چټياتو اونامناسبو زياتوخبروکي ګډېدلوته وايي ([3]) ﴿ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴾ او وو به موږ(په دنياکي) چي دروغ به مو ويل په ورځ دجزاء (قيامت) باندي اوداچي دغه تکذيب يي تر ګردوګناهونو وروسته راووړترڅوچي دهغه عظمت وښيي چي دغه ترټولوستره اوبده ګناه ده﴿ حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلْيَقِينُ ﴾ (ترڅوچي راغی موږته هغه يقيني خبره (مرګ) يعني موږتر هغوپه دې ګمراهي کي وو ترڅومرګ راغی الله جل جلاله ددوی ددغه اعتراف څخه وروسته فرمايي﴿ فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴾

پس ګټه به ونه رسوي دوی ته شفاعت دشفاعت کونکيو ؟ (چي دالله له عذابه يي خلاص وژغوري که د ګردي ځمکي دسرخلګ يي سپارښتنه وکړي هم وبه نه منل شي ځکه شفاعت اوسپارښتنه هغه وخت د بري پړاوته رسېږي چي (مشفوع له) دسپارښت وړاوقابل وي اوڅوک چي کافرتردنياتېرشي هغه به تل ترتله په دوزخ کي وي([4]) کله چي الله ددوی ناوړه خويونه اوبدافعال ذکرکړل نوبيايي دهغوی توبيخ او تکونه داسي وفرمايله: ﴿ فَمَا لَهُمْ عَنِ ٱلتَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴾(پس څه شوي دي پردوی باندي چي له پنده (قرآنه) مخ ګرزونکي دي؟) يعني دغومشرکانوته څهِ ورپېښه ده چي دقرآنکريم له آيتونوچي پکي بليغ نصيحتونه، وعظونه او ارشادات موجوددي مخ اړونکي دي ؟ ﴿ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴾ ګواکي دوی (صحرائي خره) ګوره خره دي تښتېدونکي ﴿ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ﴾ چي تښتي له زمري څخه (له ډېري وېري. په البحرکي راوړي چي ددوی تشبيه يي له دغوخروسره ددوی دسپکاوي لپاره کړي ده([5]) اوابن عباس

([1]) البحر ۸/ ۳۸۰
([2]) مختصرابن کثير ۳/ ۵۷۳
([3]) التسهيل ۴/ ۱۲۲
([4]) مختصرابن کثير ۳/ ۵۷۳
([5]) البحرالمحيط ۸/ ۳۸۰

رضی الله عنهما وایي چي: ګوراخره کله چي زمري وويني ځغلي همداسي دغه مشرکان کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ووینی داسي ځني تښتي لکه هغه خرونه له زمري تښتي او(قسورة) زمري ته وايي (١)﴿ بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴾(بلکه غواړي هريو سړی له دوی نه داچي ورکړی شي ده ته پاڼي خپرې شوي)یعني دوی مجرمين هريو غواړي چي دغسي کتاب وحی لکه چي په پیغمبرانو نازل شوي ورکول شي اوداسي غوښتنه کوي چي دغسي وحی لکه چي په پیغمبرانو نازلېدله پردوی هم نازله شي، مقصد له آیت څخه داچي دوی په ګمراهي کي دومره زورتللي اولکه چي وايي پربېږده داچي دوی خومره نااهله دي چي لکه حيوانات غوندي له پنده تښتي بلکه هغه څه ته غوږ کېږده کوم چي ډېر عجيب اوغريب دی هغه داچي دوی هريو غواړي چي پیغمبروي او وحی دي ورته را نازلېږي لکن چېرته هم بدمرغه کسان دانبیاووځای ته رسېدلای نشي ؟ بیاالله تعالی فرمایي ﴿ كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلْءَاخِرَةَ ﴾ داسي نه ده (دوی دي دغه طمع نکوي له دې غوښتني دي لاس واخلي) بلکه نه وېرېږي دوی له(عذابه د)آخرته(په بعث اوحساب باورنلري اونه هم په عذاب اونعمتونوایمان لري همدالامل دی چي دقرآنکريم له پندونوڅخه مخ اړوي ﴿ كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذْكِرَةٌ ﴾نه دی داسي چي دوی وايي (قرآن ته چي سحراوکهانت دی) بېشکه دا(قرآن) پند دی (چي که دوی نېکمرغي غواړي همدغه قرآن يې کافي دی) ﴿ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴾ پس هرهغه څوک چي غواړي پند دي واخلي له دغه (قرآنه) نفع دي ترې يوسي) ﴿ وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ اونه اخلي پند(له قرآنه) دوی مګرکه اراده وفرمايي الله (دوی ته دهدايت نوبه پندواخلي پدې درسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ډاډينه اودزړه خوښي ده چي هغه به ددوی په تکذيب اوايمان نه راوړلو خواشينی کېدو ﴿ هُوَ أَهْلُ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ همغه الله دی وړ لائق دوېري (چي ترې ووېرېږو عذاب يې)سخت دی اوأهل دبښني (چي ببښنه ترې وغواړو چي رحمت او کرم يې پراخ دی) آلوسي ليکي: معناداچي الله ددې اهل دی چي له عذابه يې ووېرېږی اواطاعت يې و کړی شي اوددې أهل دی چي هغه چاته چي ورباندي ايمان راوړي اواطاعت يې وکړي ببښنه وکړي (٢). په حديث شريف کي له حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت راغلی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه آيت تلاوت کړچي ﴿ وَأَهْلُ ٱلْمَغْفِرَةِ ﴾اوبيايي وفرمايل (قال ربکم أنا أهل أن أتقى ، فمنِ اتّقاني فلم يجعل معي الِهاًفأنا أهل أن أغفِرلَهُ) (٣) ستاسو پروردګارفرمايلي زه ددې وړ لائق يم چي رانه و وېرېږی څوک چي له ماسره بل معبودونه نيسي نوزه ددې وړ لائق يم چي وي ببښم.

بلاغت:

پدغه مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنديزيې دادی:

---

(١) کبيرتفسير ٣٠/ ٣١٢

(٢) روح المعاني ٢٩/ ١٣٥

(٣) رواه احمدوالترمذي وحسنه

۱- د طباق صنعت چي د ﴿ عَسِيرٌ... يَسِيرٍ ﴾ ترمينځ راغلی او همداسي د دوی دواړو ترمينځ اشتقاقي جناس هم شته.

۲- د مقابلې صنعت چي د ﴿ وَالَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴾ او ﴿ وَالصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۳- د اطناب صنعت چي د جملې په تکرار سره ترسره شوی دی چي فرمايي ﴿ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴾ ترڅو چي د ده زيات توبيخ وکړي او نا ولتيايي وستايي.

۴- اشتقاقي جناس چي پدې کلام کي شته ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ﴾.

۵ د مفعول رومبی راوړل چي اختصاص افاده کړي لکه چي پدې آيت شريف کي راغلی ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ، وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ، وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴾.

۶- د طباق صنعت چي فرمايي ﴿ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ﴾ او همداسي د ﴿ يَتَقَدَّمَ ﴾ او د ﴿ يَتَأَخَّرَ ﴾ ترمينځ هم طباق شته

۷- د استفهام په بڼه د توبيخ او ټکولو اسلوب لکه چي پدې کلام کي راغلی: ﴿ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴾ ؟.

۸- تمثيلي تشبيه د الله تعالی په دې کلام کي ﴿ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ، فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ﴾ ځکه چي د شبه وجه له متعدد ډخه اخيستل شوي او پداسي وخت دغي تشبيه ته تمثيلي تشبيه وايي.

۹- ايجاز بالحذف چي پدې آيت شريف کي راغلی فرمايي ﴿ يَتَسَآءَلُونَ ، عَنِ الْمُجْرِمِينَ ، مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ﴾ ؟! يعني ورته وايي څه شي داخل کړي ياست په دوزخ کي او دغه کلماتي حذف شوي ځکه چي د مخاطبينو په فهم اعتماد شوی دی

۱۰- استفهام چي تهويل او توبيخ پکي نغښتی وي لکه دا چي ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴾ ؟!

۱۱- ذکر د خاص وروسته له عام څخه هلته چي فرمايي ﴿ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴾ دغه يې په ځانګړي توګه بيا ياد کړي که څه هم چي په ﴿ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَآئِضِينَ ﴾ کي داخل وو د دې لپاره چي د دغي ګناه لويوالی وښيي.

۱۲- مرصع سجع لکه ﴿ كَلَّا وَالْقَمَرِ، وَالَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ، وَالصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ، إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ ﴾ او همداسي ﴿ وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَآئِضِينَ ، وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ ، حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا الْيَقِينُ ﴾ ترپايه پوري.

د الله جل جلاله په مرسته د المدثر سورت د تفسير ژباړه بشپړه شوه.

سورة القيامة مكية وآياتها أربعون

دقيامت سورت مكي دي او څلويښت آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالقيامة سورت مكي دى اودبعث اونشورموضوع هغه چي دايمان له ركنونوڅخه يوركن دى رااخلي اوپه ځانګړي توګه دقيامت په هكله اودهغوكړاوونو په باب چي انسان ته دځنكدن په وخت كي رسېږي اويا كافرته په آخرت كي پېښېږي غږېږي.

دسورت پيل په قيامت اوملامت كونكي نفس باندي په قسم خوړلو سره شوى دى چي بعث اوجزاء حق دي هيڅ شک اوشبهه پكي نشته فرمايي ﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ۝١ وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ۝٢ أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ۝٣ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ﴾.

وروسته ددغي هيبتناكي ورځي ځيني نښي نښانې راوړي چي دسپوږمۍ رڼا به ولاړه شي سترګي به حيراني لالهاندي شي لمراوسپوږمۍ به يوځاى كړى شي انسان به هلته وايي چي دتېښتي ځاى چېرته دى ؟ ﴿ فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ ۝٧ وَخَسَفَ ٱلۡقَمَرُ ۝٨ وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ۝٩ يَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذٍ أَيۡنَ ٱلۡمَفَرُّ ۝١٠ كَلَّا لَا وَزَرَ ۝١١ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمُسۡتَقَرُّ ﴾.

بيا سورت درسول الله صلى الله عليه وسلم هغه دقرآن دتلاوت په وخت كي اهتمام بيانوي چي كله به حضرت جبريل عليه السلام ورته لوستل او عليه السلام به دهغه دپيروي لپاره تلواره كوله ترڅو چي حفظ يې كړي نو الله ورته حكم كوي چي دقرآن تلاوت ته دي غوږ ونيسي اوژبه دي ورباندي نه خوځوي ﴿ لَا تُحَرِّكۡ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعۡجَلَ بِهِۦٓ ۝١٦ إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهُۥ وَقُرۡءَانَهُۥ ۝١٧ فَإِذَا قَرَأۡنَٰهُ فَٱتَّبِعۡ قُرۡءَانَهُۥ ۝١٨ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا بَيَانَهُۥ ﴾.

سورت په آخرت كي دخلګودوه ډلي ښيي چي يوه يې دنېكانوډله اوبله دبدانو ، دنېكانوبه مخونه له ځلا بريښي خپل پروردګارجل وعلاته به ګوري اودبدمرغانواشقياووبه مخونه تک تور اسكېرلي وي خواري سپكتيا به ورباندي خپره وي ﴿ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ ۝٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٞ ۝٢٣ وَوُجُوهٞ يَوۡمَئِذِۭ بَاسِرَةٞ ۝٢٤ تَظُنُّ أَن يُفۡعَلَ بِهَا فَاقِرَةٞ ﴾.

له دې وروسته دسړي دځنكدن شېبې انځوروي كله چي داسي سختي اوتكاليف ورباندي راتاوي چي ده به يې ګمان هم نه كاوو ﴿ كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ۝٢٦ وَقِيلَ مَنۡۜ رَاقٖ ۝٢٧ وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلۡفِرَاقُ ۝٢٨ وَٱلۡتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ۝٢٩ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمَسَاقُ ۝٣٠ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ۝٣١ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ۝٣٢ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴾ د آيتونو تر پايه.

دسورت پای دحشراومعادپه عقلي دلائلوکوي فرمايي: ﴿ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴿١﴾ وَلَآ أُقْسِمُ بِٱلنَّفْسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّىَ بَنَانَهُۥ ﴿٤﴾ بَلْ يُرِيدُ ٱلْإِنسَٰنُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُۥ ﴿٥﴾ يَسْـَٔلُ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴿٦﴾ فَإِذَا بَرِقَ ٱلْبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ ٱلْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ ٱلْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُا۟ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ ٱلْإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ بَصِيرَةٌ ﴿١٤﴾ وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ﴿١٥﴾ لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾ كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ ٱلْءَاخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِىَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَٱلْتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴿٣٣﴾ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِىٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾ ﴾ القيامة: ١ - ٤٠

لغتونه:

(بنانه) دګوتو سرونه یاګوتي (برق) حیران، وبرېدلی او اصل یې دبرېښنا کتلو ته وایي هغه چي سترګي حیرانوي. (وزر) پناهګاه (ناضرة) ښایسته تازه ځلېدونکي (باسرة) تریو بدخېره (فاقرة) لویه بلاچي دشا دملاهډوکي به یې ماتوي (یتمطی) په نازاونخرو درومي.

تفسیر:

﴿ لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ قسم خورم زه په ورځي دقیامت باندي (چي ورځ دحساب او جزاء ده) ﴿ وَلَآ أُقْسِمُ بِٱلنَّفْسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴾ او قسم خورم زه په نفس ملامت کونکي (هغه چي خپل خاوند ملامت کوي او دغه دمؤمن متقي نفس دی چي خپل څښتن دطاعاتو په ترک او یاد ګناهونو په ارتکاب ملامت کوي مفسرین کرام لیکي چي (لا) دقسم دتاکید لپاره راغلي او دعربو په کلام کي دغه ډېره لیدله کېږي چي ترقسم له مخه یې راوړي چي دکلام تاکید شي لکه چي له وضاحت څخه قسم ته ښځي ارتیانلري او دقسم ځواب محذوف چي تقدیریې داسي دی تاسو به خامخا راپاڅول شي او پردې باندي راتلونکی کلام دلالت کوي

چي ﴿ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ ﴾(۱) آيا گمان کوي(کافر)انسان چي موږ به نه ټولو وهډوکي (خواره واره) دده، الله جل جلاله د قيامت په ورځي له جهته د ستر توب او هيبته قسم اخيستی او په هغه نفس يې لوړه کړي کوم چي خپل خاوند د الله په وړاندي په تقصير کولو باندي ملامت کوي او استغفار وايي سره له طاعت او نېکيو بيا هم الله ته رجوع کوي حسن بصري رحمه الله وايي چي د غه د مؤمن نفس دی ځکه چي مؤمن هر وخت خپل ځان ملامت ګڼي وايي زما په دې دنيا کي څه مقصد وو؟ له دې کاره مي څه اراده وه؟

هغه کافر دی چي يو وخت هم ځان ملامت نه ګڼي او نه يې ترټي (۲)﴿ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ ﴾ پدې کلام کي استفهام د توبيخ او تکولو(تقريع) لپاره دي مفسرين کرام ليکي چي د غه آيت شريف د(عدي بن ربيعة) په شان کي راغلی هغه چي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ورته ويل يې ای محمده ماته د قيامت حال راکړه څه وخت به قيامت وي؟ او څه به پکي پېښېږي؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته بيان وفرمايو او هغه وويل: که د غه ورځ ووينم هم به ستا تصديق ونکړم او نه به درباندي ايمان راوړم

څرنګه به الله هډوکي راټولوي؟ نو بيا د غه آيت نازل شو(۳) او الله د نوموړي په ترديد کي وفرمايل: ﴿ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ﴾ هو !(بلکه جمع به يې کړو) حال دا چي قادر يو موږ پدې باندي چي برابر کړو هډوکي او بندونه د ګوتو دده (هغه چي ترټولو واړه او نرم باريک دي نو غټ هډوکي به څرنګه ونکړای شو چي راټول کړو؟ او دا چي الله تعالی (بنان) د ګوتو سرونه يادکړل ځکه چي د هغوی جوړښت يو عجيب او غريب داستان دی هغه نرۍ کرښې او لوړې ژوري چي د يو انسان د ګوتو په سرونو کي دي له نورو کرښو او ليکو سره بېخي ورته والی نلري چي د بل انسان په ګوتو کي وي ځکه نو په او سنۍ زمانه کي

ديو چا د پېژند ګلوي لپاره د هغه د ګوتو له نښانونو څخه استفاده کېږي (۴)﴿ بَلْ يُرِيدُ ٱلْإِنسَٰنُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُۥ ﴾ (بلکه اراده لري(کافر) انسان چي دروغ ووايي (په هغه څېزباندي چي) په مخ دده کي دي) يعني کافرانسان په دغه انکارباندي غواړي چي خپل فسق او فجور هم دا سي جاري وساتي پخپلو شهواتو او ګناهونو کي ډوب وي چي اخلاق او دين يې مخنيوی ونکړي او لکه څاروی څلوربول پرته له حيواني خواهشاتو ورسره بل غم او فکر نه وي ځکه نو له قيامته انکار کوي چي عيش يې منغص او تريخ

نکړي او په لذت کي يې څه خلل پېښ نه شي ﴿ يَسْـَٔلُ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾(پوښتنه کوي کله به وي قيامت؟)

---

(۱) التسهيل۴ /۱۷۳-الوسي ۲۹ /۱۳۵ دصاوي حاشيه ۴ /۲۷۰ په دې هکله کتلای شی.

(۲)خازن۴/۱۸۲

(۲)کبير تفسير ۳۰- ۲۱۷

(۲) په علمي توګه دا ثابته شوي چي د ګوتو په پټوکي په خورا باريکو او نريو کرښو سره انځورشوی چي خيني يې لکه ليندی او خيني يې حلزوني او کړې وړې ليکي وي دغه ديوانسان له بل انسان سره هيڅکله هم يو دول نه وي ځکه نو د انسانانو په پېژندلو کي په رسمي توګه دا منل شوي چي د بټو ګوتو په نښانونو دي انسانان يو له بل څخه توپير او وپېژندل شي فتبارک الله احسن الخالقين هغه څه وګوره کوم چي موږ پخپل کتاب (التبيان في علوم القرآن) کي ليکلي دي چي د غه علمي معجزه څومره حيرانونکي ده مخ ۱۳۶

يعني دغه کافرفاجرانسان داسي پوښتنه داستهزآء ملنډواوتکذيب په توګه کوي چي هغه ستاسوقيامت به کله وي؟ امام رازي وايې دغه پوښتنه به دتکبراوبې حيايي له مخي کوي اودوی دقيامت راتلل مستبعد ګڼي مثال يې لکه داچي ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ ﴾ ځکه نوله معادڅخه انکار کوي اوبعث اونشورنه مني مقصدله آيت شريف څخه پدې آيت کي چي ﴿ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُۥ ﴾ دی دادی چي دانسان په خته کي داشته چي تل ترتله بې شهوات اوملذات په برخه وي ځکه نوپه حشراونشرباندي اقرارنه کوي چي دغه جسماني خوندونه وباندي تريخ نشي نوتل له دغه قيامته انکارکوي اوډملنډو په توګه وايي ﴿ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾(١) الله تعالى ددوی په ردکي داسي فرمايي ﴿ فَإِذَا بَرِقَ ٱلْبَصَرُ ۝ وَخَسَفَ ٱلْقَمَرُ ۝ وَجُمِعَ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ﴾ کله چي خړي متحيري شي سترګي(له هيبته) اوتوره شي سپوږمۍ (رڼايي لاړه شي) او جمع شي لمراوسپوږمۍ (په قيامت کي اوپه اورکي وغورځول شي ترڅوپه کفاروباندي يوعذاب شي)عطاءليکي چي لمراو سپوږمۍ به دقيامت په ورځ سره جمع شي اوپه بحرکي به وغورځول شي او د الله ستراوربه ترې جوړشي (١)﴿ يَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ ٱلْمَفَرُّ ﴾ وبه وايي (کافر) انسان په دغي ورځي کي چېرته ځای دتېښتي شته ؟ (له دغي وراني پېښي څخه چېرته لاړشودغه دناهيلي اوناأميدي په توګه وايي ځکه وبه پوهېږي چي دخلاصون ځای هډو نشته ﴿ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴾ نه دي مناسب طلب دتېښتي نشته ځای دپناه (له عذابه دالله څخه) ﴿ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمُسْتَقَرُّ ﴾ خاص(مېشت د)رب ستاته په دغي ورځي کي ځای دقراردخلګو دی . الوسي ليکي يوازي الله ته دبندګانودپناهوړ ورلوځای دی له هغه پرته بل چېرته دخلاصون اوپناه ځای نشته (٢) له آيت شريف څخه مقصد دآخرت اوقيامت دورځي کړاوونه اوربړونه دي چي سترګي به خړي شي حيراني لالهاندي اوذليلي به وګرزي اوله داسي سختيولويوهېښونکو، حيرانونکوپېښوڅخه چي انسان يې دقيامت په ورځ ويني عقل اوحواس به يې له سره ووزي اود تېښتي دځای په لټه کي به شي ليکن افسوس چي ژوندنورپای ته رسېدلی اوقيامت رارسېدلی دی ﴿ يُنَبَّؤُا ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴾ (خبربه کړی شي انسان په دغي ورځي (دقيامت) کي په هغو(اعمالو) چي مخ کي يې لېږلي دي اوپه هغوچي وروسته يې پرې ايښي دي) يعني انسان به په دغه ورځ په ګردوخپلوعملونوکه غټ وي اوکه واړه عظيم وي اوکه حقير نيک وي اوکه بدکه په ژوندانه کي يې تر سره کړي اويا له مرګه وروسته يې پرې ايښي چي ښه نوم اوسمعت دی اوکه بدنوم اوسمعت پدې ګردو به خبرکړی شي. په حديث شريف کي راغلي (من سن سنة حسنة فله أجرها وأجرمن عمل بهاالى يوم القيامة من غيرأن ينقص من أجورهم شئ ومن سن سنة سيئة فله وزرهاووزرمن عمل بهاالى يوم القيامة من غيرأن ينقص من أوزارهم شئ)يعني څوک چي کومه نيکه لاره اوطريقه جوړه کړي نوهغه ته اوهغه چاته چي ورباندي عمل

---

(١) دطبري تفسير ۲۹ /۱۱۳ اوله مجاهد څخه روايت شوی چي مراديې تکويردی لکه دالله جل جلاله داويناچي (اذاالشمس کورت) چاپياويلي چي مقصدهغه اجتماع ده چي له مغربه راوخېژي اودغه مناسب نه دي ځکه چي کلام دقيامت په هکله دی.
(٢) روح المعاني ۲۹ /۱۴۰

کوي ترقيامته پوري ثواب رسېږي بې له دې چي دعمل کونکوله ثواب ښخه څه کم شي اوڅوک چي ناکاره اوبده لاره طريقه جوړه کړي هغه ته اوهغه چاته چي ورباندي عمل کوي ترقيامته پوري يې سزاوبال ورکول کېږي پرته له دې چي دعمل کونکوله سزاڅخه يوڅه کم کړی شي(۱) ﴿ بَلِ ٱلْإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ بَصِيرَةٌ ﴾ بلکه انسان په ځان ځپل باندي حجت ليدونکی شاهد دی (چي بل ګواه اوشاهدته اړتيا نلري لکه چي الله فرمايي ﴿ كَفَىٰ بِنَفْسِكَ ٱلْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيبًا ﴾ (الاسراء: ۱۴) او(ها) په بصيرة کلمه کي دمبالغي لپاره راغلی لکه چي په (راوية) او(علامة) کلماتوکي راځي ابن عباس ﷺ وايې چي: انسان پخپل ځان يوازنی شاهد دی چي خپل غوږونه، سترګي، پښې اونورغړي يې ورباندي ګواهي اداکوي(۲) ﴿ وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ﴾ که څه هم وړاندي کړي عذرونه خپل (وبه نه منل شي) يعني که ټول عذرونه راټول کړي ترڅوخپل ګناهونه ورباندي معاف کړي ورته به ګټه ونه رسوي ځکه چي پرده باندي خپل ځان شاهد اوورباندي ښکاره حجت دی امام فخر رازي ليکي: معناداچي که انسان څه هم معذرت وړاندي کړي اوله خپلي ګناه اوتجاوزڅخه دفاع وکړي اوټول عذرونه راجمع هم کړي خودابه ورته ګټه ونه رسوي ځکه چي دی پخپله پخپل ځان شاهد دی چي دومره اوداډول ګناهونه يې کړي دي (۳) اوله دې وروسته بيادقرآن په لوربيان راګرزي دجبريل عليه السلام په وسيله رسول الله ﷺ ته دوحی دراتلوبيان اوځرنګوالي ښيي رسول الله ته داسي خطاب فرمايي ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴾ مه خوځوه په دې (قرآن) سره (ای محمده پخواله لوستلودجبريل عليه السلام پرتا باندي (وحی) ژبه خپله چي تعجيل به کوي په دې (قرآئت سره له دې وېري چي درنه هېربه شي) ﴿ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴾ بېشکه پرموږباندي دي جمع کول يې (په سينه ستاکي) اولوستل يې (په ژبه ستا ای محمده ځوچي حفظ يې کړې) ﴿ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴾ (بياموکله چي ولوست داقرآن (په ژبه د پرښتې) نو متابعت کوه ته دلوستلودده) يعني کله چي يې جبريل عليه السلام درته لولي ورته غوږ نيسه ترڅوچي هغه يې بشپړکړي اودهغه دلوستلوپه وخت کي ورباندي ژبه مه خوځوه ﴿ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴾ بيا بېشکه په موږباندي دی ښکاره بيانول دهغه (په اعتباردفهم سره چي معاني او احکام يې زده کړي ، ابن عباس رضی الله عنه وايي چي رسول الله به دقرآنکريم دنزول په وخت پرځان کړاو تېراوو ژبه اوشونډان به يې ورباندي ښورول چي ژرترژره يې يادکړي اوترې هېرنشي نوالله جل جلاله داآيت نازل کړ ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ ... ﴾ دآيت ترپايه نوبياوروسته کله چي به حضرت جبريل عليه السلام ورته راغی اووحی به يې ور اوروله نوبه رسول الله صلی الله عليه وسلم لکه څنګه چي الله ورته حکم کړی په غور اورېدواوچي حضرت جبريل به ستون شونوبه يې هغسي

---

(۱) الصحاح الستة.

(۲) الطبري ۲۹-۱۱۵ (۳) کبيرتفسير ۳ /۲۲۲

لوستل لكه چي الله ورسره وعده فرمايلي وه . ابن عباس ﷺ وايې چي ﴿ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴾ معناداچي وايې وره اوغوږورته كېږده ﴿ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴾ معناداچي ستاپرژبه به يې بيان كړو(١) اوابن كثيرليكي چي: رسول الله به دقرآن زده كولو يادولوته تلواره كوله اوترپرېښتې به په قرآئت لوستلو كي رومبی دو الله ورته حكم وكړچي غوږورته كېږدي اوددې تكفل يې الله وكړچي په سينه كي به يې جمع اوده ته به يې واضح اوبيان كړي نولومړی حالت په سينه كي جمع كېدل اودوهم يې تلاوت اودريم يې تفسيراودمعناوضاحت دی بيادقيامت د ورځي دمكذبينوبيان ته راګرزي اودمكې كفارو ته خطاب كوي فرمايې ﴿ كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ وَتَذَرُونَ ٱلْءَاخِرَةَ ﴾ ندی داسي لكه چي انكاركوی(له بعث اوحساب څخه) تاسي (ای مشركانو) بلكه خوښوی تاسي ژر (فاني كېدونكي دنيا) اوپرېږدئ تاسي آخرت (چي باقي اوتل ترتله دي نوځكه دآخرت لپاره صالح عمل نه كوي كوم چي غوره اوتلپاتي وي ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴾ مخونه (دمؤمنانوبه) په دغي ورځي (د قيامت) كي ښايسته تازه روښانه وي كله چي الله ددې بيان وكړچي خلګ دفاني دنيا لذائذ او ژوند ترتلپاتي آخرت اولذائذوېې غوره ګڼي نوددې وېش يې وښودچي ځيني خلګ به ابرار او ځيني به فجاروي دابرارومخونه به دنعمت اوسوكالي له امله ښايسته تراوتازه وي ځكه چي خوښي او نعمتونو به پكي اغېزكړی وي لكه چي الله تعالى فرمايې ﴿ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴾ (المطففين:٢٤) ﴿ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾ (كتونكي به وي خاص ذات درب خپل ته) يعني الله جل جلاله ته به ګوري اوپه جمال كي به يې يو مخ سترګي خښي كړي وي چي دغه ديدارد جنتيانولپاره ترګردونعمتونوافضل اوغوره وي حسن بصري وايې: اوور سره ښايي چي مخونه دي تراوتازه وي ځكه چي خپل مولی ﷻ ته ګوري چي هيڅ حجاب ترمينځ نشته دی(٢)اوپدې هكله صحيح احاديث هم واردشوي دي(٣) ﴿ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴾ اومخونه (دكفارو) به په دغي ورځي (دقيامت) كي تريوبدڅېره وي (چي دوی اهل ددوزخ دي) ﴿ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴾ يقين به كاووشي چي واقع كېږي په دغو(مخونو) باندي دوی ته بلالويه چي ماتوونكي وي هډوكود شالره. ابن كثيرليكي چي: دغه دكفاروفجارومخونه دي چي تريوبدشكله به وي چي يقين به پرې كېږي چي دغه هلاكېدونكي دي(٤)اوددې هيله به كېږي چي داسي بلابه ورباندي راپرېوزي چي دملاهډوكي يې ورمات كړي ﴿ كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِىَ ﴾ (نه ده داسي(چي

---

(١) دغه روايت له ابن عباس څخه په صحيحينو كي منقول دی

(٢) الطبري ٢٩/ ١٢٠

(٣) دغه داهل سنت والجماعت مذهب دی اوهغه څه چي صحيحينو كي راغلي ددې تائيد كوي چي فرمايې ژردی چي تاسوبه خپل پروردګارداسي ښكاره ووينی لكه چي دغه سپوږمۍ وينی ... دحديث ترپايه په مسلم شريف كي راځي چي حجاب به پورته شي او دوی ته به تردغه ديدارغوره هيڅ كوم بل نعمت نه وي وركول شوی اومعتزله دالله له ديداره څخه په قيامت كي منكردي اود(ناظرة) معنايې په منتظرة سره كړي ده چي دالله له لوري ثواب ته به سترګي په لاروي اودغه باطل دی ځكه چي نظرچي دانتظارپه معناوي په حرف جرسره نه متعدي كېږي. دغه تفصيل په خازن كي وګوره چي كافي دلائل يې راوړي دي

(٤) دابن كثيرمختصر ٣/ ٥٧٨

دنیاپه آخرت خوښوی) کله چي ورسېږي (سا) هډوکي ستوني ته) یعني ای مشرکانو داچي فاني په باقي باندي غوره ګڼئ له دې څخه تېرشئ او دهغه څه په هکله چي ستاسو په وړاندي راتلونکي دي سوچ وکړئ خامخابه تاسو دځنکندن سختي وګالی کله چي ساد سینې پورتنۍ برخي ته راورسېږي او انسان دمرګ په کومي کي وي[1] ﴿ وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ ﴾ او وبه ویلی شي (له لوري دخپلوانو او اهل دده چي) څوک دی دم کونکی ؟په البحرکي لیکي چي الله جل جلاله دوی ته د مرګ په کړاوونو یادونه وکړه او دغه دآخرت له مراحلو او پړاوونو څخه لومړی پړاو دی چي سا مرۍ ته را ورسېږي (تراقي) دسیني پورتنی هډوکی دی[2] ﴿ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴾ او یقین وکړي (هغه ناروغ) چي بېشکه په ده باندي راغلی) دی وخت دفراق جدائي (له دنیا او خپلوانو څخه ځکه چي دمرګ پرښتېویني) ﴿ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴾ او تاوېږي یوه پنډۍ (دده) له بلي پنډۍ (دده) سره له هیبته دمرګه: حسن بصري رحمه الله وایې چي دغه دواړه دده پنډۍ دي چي په کفن کي سره تاوېږي[3] او له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت شوی: معناداچي مقصد ددنیا څخه د جدائي شدت دمرګ له کړاوونو سره یوځای شوی دی نو دغه دیو سخت هیبت ناک حال دتمثیل په توګه راوړل شوی یعني کله چي ددنیاد سختیو او د آخرت دسختیو بهېرسره یوځای شي لکه چي وایې (شمرت الحرب عن ساقها) یعني جنګ پایڅې راوغړلي چي دسختوالي څخه یې استعاره راوړل شوي ده ﴿ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴾ په لوري درب ستا په دغي ورځي چي ورتله دي (دټولو مخلوقاتو لپاره دجزامونډلو) یعني ابرار او فجار به ګرد دده په وړاندي راجمع کړی شي او بیابه جنت او دوزخ ته بېول کېږي. خازن لیکي چي: دخلکو مرجع الله ته دی الله ته به راوستل کېږي ترڅو چي ددوی په مینځ کي فیصله وکړي ، ورپسې الله دمنکر مکذب حال داسي بیانوي ﴿ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴾ بیا یې یقین ونکړ (په مؤمن به باندي) او نه یې لمونځ وګذارو. ابوحیان لیکي چي جمهورعلماء داسي وایې چي دغه د ابوجهل په هکله نازل شوی دی او نژدې به پردې باندي په راتلونکي کلام کي تصریح هم وشي چي ﴿ يَتَمَطَّىٰ ﴾ ځکه دده تګ او دده دقوم بني مخزوم همدغه تګ وو[4] ﴿ وَلَٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴾ مګر دروغجن یې کړ (قرآن) لره او مخ یې وګرزاوو (له ایمانه) ﴿ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰ أَهْلِهِ يَتَمَطَّىٰ ﴾ بیا لاړ اهل خپل ته (له مجلس څخه) په تکبر سره او دغه عبارت له تکبر، لویي او نازنخرو څخه دی ﴿ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴾ (وړ لائق ده تالره (ای کافرانسانه هغه شی چي بدیې بولي سختي دمرګ) بیا وړ لائق ده تاته (هغه شی چي بدیې بولي چي سختي دقبر ده) ﴿ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴾ پس

---

(1) دطبري تفسیر ٢٩/ ١٢٣

(2) البحرالمحیط ٨/ ٣٩٠

(3) امام رازي وایې چي دغه دسارارسېدل دستوني هډوکي ته دمرګ له نژدېوالي څخه کنایه ده او ابن الصمة پدې هکله وایې: ورب عظیمة دافعت عنهم * وقدبلغت نفوسهم التراقي. یعني ډېرځله مي ستري بلاوي ځیني دفع کړې چي ددوی ساوې تر ستوني پوري رارسېدلي وي

(4) البحرالمحیط ٨/ ٣٩١

ورڅانقه ده تالره (هغه شی چي بديې بولي سختي د ورځي دقيامت) پس ورڅانقه ده تالره (هغه شی چي بديې بولي هميشه عذاب ستا په قيامت کي) يعني افسوس اوهلاک دی تالره ای بدمرغه بیاتالره هلاک دی! مفسرين کرام وايې چي دغه تعبيردعربو په اصطلاح کي دتهديداوتخويف لپاره لکه چي متل گرزېدلی وي اواصل يې اسم تفضيل له (ولية الشئ) څخه راغلی چي کله ورنژدې اوپيوسته شي معنا داچي نژدې دی شربه درته ورسېږي نوپدې پوه شه اوځان اوچاره دي سمه کړه روايت کېږي چي يووخت رسول الله صلی الله عليه وسلم ابوجهل ترلاس ونيو(اوبيايې ورته وويل ﴿أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ﴾ نوابوجهل په ځواب کي ورته وويل: ای محمده ته ماوېروې اوتهديدوې ؟ قسم په الله چي ته اوستارب په ماهيڅ هم نشي کولای قسم په الله چي زه ددغي وادي ترټولومعزز شخصيت يم اوبياهغه ووچي په بدرکي په بېدردي سره ووژل شو ﴿ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ﴾ ددې لپاره مکرر راغلی چي په تهديد کي مبالغه افاده کړي لکه چي ورته وايې: زه تاته تخويف اوتهديد تکراروم ووېرېږه اودځان چاره دي وکړه پخواتردې چي عذاب درته راورسېږي ... څرنگه چي دسورت په پيل کي يې دبعث په هکله امکان يادکړ دسورت په پای کي پردې باندي دلائل راوړي فرمايې ﴿أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى﴾ آيا گمان کوي (کافر) انسان چي دی به چتي بېکاره پرېښودی شي ؟ (چي بعث اوحساب جزابه ونلري او لکه چارپای غوندي به بې سوال اوځوابه پاتي شي دغه گمان کول له ده سره نه ښايي اونه يې وړدی) ﴿أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِىٍّ يُمْنَىٰ﴾ آيا نه وو دغه (انسان اول) يوڅاڅکی له مني څخه چي تويوه شي (په ارحامو د ښځوکي غرض دلته دده حقارت دی لکه چي وايې: دغه انسان له مني څخه پيدا شوی هغه چي دبولوله مجراء څخه راوزي ﴿ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ﴾ بياوو دی يوه ټوټه دويني نوپيدا کړل الله (اندامونه يې) پس برابريې کړ (صورت ښکلی اوروح يې په کي وپو کله) ﴿فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ﴾ نوپيدا يې کړله هغه (اوبود مني) څخه جوړه نارينه اوښځه (پخپل قدرت سره) دغه دانسان اصل اوجوړښت دی نوڅرنگه له داسي کمزوري مخلوق سره ښايي چي دالله له طاعته غاړه وغړوي اوتکبرو کړي؟ ﴿أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ﴾ آيانه دی دغه ذات قدرت لرونکی ددغو افعالو قادرپه دې باندي چي ژوندي کړي مړي (بلکه ښه قادراوتوانادی) يعني دغه دحکمت خاوندپروردگارچي داسي عجيبه شيان يې پيداکړي اوانسان يې له خوارواوبو څخه پيداکړی آياپدې به ونه توانېږي چي وروسته له فنايې بيا راپاخوي؟ بلکه الله په هرڅه قادردی روايت کېږي چي رسول الله به کله داآيت ولوست نوبه يې ويل (سبحانک اللهم بلی).

بلاغت: پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنديزيې دادی:

۱- دطباق صنعت چي د ﴿قَدَّمَ ...وَأَخَّرَ﴾ اوهمداسي د ﴿صَدَّقَ ...كَذَّبَ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۲- انکاري استفهام چي دتوبيخ په مقصد راغلی لکه ﴿أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ﴾ او همداسي بل مثال يې ﴿أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى﴾ څکه دغه دتقريع اوتوبيخ وروستنی پړاودی.

۳ – ديوې چارې استبعاد او ليرې ګڼل لکه پدې کلام کې ﴿ يَسْـَٔلُ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾ چې غرض له دې استفهام څخه استبعاد او انکار دی.

۴ – غیرتام جناس لکه ﴿ بَنَانَهُۥ...... بَيَانَهُۥ ﴾ چې ځینې توري یې مختلف دي.

۵ – لطیفه مقابله چې دمؤمنانو په تراوتازه مخونو او دمجرمانو په تروو بدشکله څېرو کې لیده شي چې فرمايي ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾ او دا چې ﴿ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ... ﴾ دا آيت ترپايه

۶ – ناقص جناس چې د ﴿ ٱلسَّاقُ ﴾ او ﴿ ٱلْمَسَاقُ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۷ – مرسل مجاز چې فرمايي ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ ﴾ چې په مخ سره له ټول تن څخه تعبير کړی او دغه دجزء راوړل او دکل اراده کول دي.

۸ – التفات چې فرمايي ﴿ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴾ دلته له غياب څخه خطاب ته التفات راغلی ترڅو چې تقبيح او تشنيع افاده کړي

۹ – دفواصلو موافقت چې په بديع علم کې يې مرصع سجع بولي لکه ﴿ وَخَسَفَ ٱلْقَمَرُ...... وَجُمِعَ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ يَقُولُ ٱلْإِنسَـٰنُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ ٱلْمَفَرُّ ﴾ او دغه دقرآنکريم له ځانګړتياوو څخه دی کوم چې دمحمد عليه الصلوة والسلام ستره معجزه ده.

دالله په مرسته دالقيامة سورت تفسير ژباړه بشپړه شوه.

دالانسان سورت مدني او یو دېرش آیتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالدهرسورت له مدني سورتونو څخه دی اوهغه چاري چي په آخرت پوري اړونددي څرګندوي اوپه ځانګړي توګه دمتقیانو ابرارو له حاله چي په تل ترتله جنتي نعمتونو کي به اوسي غږېږي اوددې سورت په نږدې مکي سورتونو ته ورته ده چي دښوونی اسلوب اوبېلابېل اړخونه يې سره يو رنګه دي

دسورت پیل دانسان په پیدا ینښتي پړاوونو کي دالله جل جلاله قدرت ښيي چي بیا وروسته يې په ډول ډول عبادتونو مکلف کوي څکه چي الله تعالی انسان ته غوږونه، سترګي اونورګرد حواس ورکړي دي نو فرمایي ﴿ هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا مَّذْكُورًا إِنَّا خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴾.

وروسته ددغو ابرارونعمتونه کوم چي په جنت کي يې ورته تيارکړي شمېري ﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴾.

ورپسې ددغو نېکانو اوصاف په يوڅه تفصيل سره بيانوي نوددوی صفت راوړي چي دوی په نذرباندي وفاکوي مسکينانو ته دالله تعالی دخوښي لپاره خواړه ورکوي دالله له عذابه وېرېږي او بيا راوړي چي الله تعالی دوی ددغي سختي ورځي له کړاوونو څخه بېغمه کوي ﴿ يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُۥ مُسْتَطِيرًا وَيُطْعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَلَا شُكُورًا ﴾ د آيتونو ترپايه

بيا ددوی دخويونو له ستايلو وروسته هغه اجر اوثواب چي الله تعالی دوی ته چمتو کړی او په جنات النعيم کي يې اجراو کرامت ورباندي پېرزو کړی داسي بيانوي ﴿ وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُوا۟ جَنَّةً وَحَرِيرًا مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا ﴾.

همداسي پرله پسې دجنتيانو نعمتونه چي ددوی دخوړو، څښو، لباسونو او چوپړيانو خدمتګارانو چي سبا بېګا ددوی په خدمت کي لګياوي راوړي فرمايي ﴿ وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِـَٔانِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا۠ قَوَارِيرَا۟ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴾.

دسورت پای په دې ارشاد سره کوي چي دغه قرآن دهغه چالپاره چي ويښ زړه او روښانه فکرولري پندد ی چي دهغه په رڼا لاره مومي نو فرمايي ﴿ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا يُدْخِلُ مَن يَشَآءُ فِى رَحْمَتِهِۦ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًۢا ﴾.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا مَّذْكُورًا ﴿١﴾ إِنَّا خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ
فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴿٢﴾ إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴿٣﴾ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۟
وَأَغْلَٰلًا وَسَعِيرًا ﴿٤﴾ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴿٥﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا
تَفْجِيرًا ﴿٦﴾ يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُۥ مُسْتَطِيرًا ﴿٧﴾ وَيُطْعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ
لِوَجْهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴿١٠﴾ فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمِ وَلَقَّىٰهُمْ نَضْرَةً
وَسُرُورًا ﴿١١﴾ وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُوا۟ جَنَّةً وَحَرِيرًا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ
ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِـَٔانِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا۠ ﴿١٥﴾ قَوَارِيرَا۟ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴿١٦﴾
وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ﴿١٨﴾ ۞ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا
مَّنثُورًا ﴿١٩﴾ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾ عَٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوٓا۟ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَىٰهُمْ
رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا ﴿٢١﴾ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا ﴿٢٢﴾ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ تَنزِيلًا ﴿٢٣﴾ فَٱصْبِرْ
لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴿٢٤﴾ وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَٱسْجُدْ لَهُۥ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا
طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيلًا ﴿٢٧﴾ نَّحْنُ خَلَقْنَٰهُمْ وَشَدَدْنَآ أَسْرَهُمْ وَإِذَا شِئْنَا
بَدَّلْنَآ أَمْثَٰلَهُمْ تَبْدِيلًا ﴿٢٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿٢٩﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ إِنَّ
ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٣٠﴾ يُدْخِلُ مَن يَشَآءُ فِى رَحْمَتِهِۦ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًۢا﴾ الإنسان: ١ – ٣١

لغتونه:

(امشاج) دمشیج جمع او هغه خلیط اوګډ ته وايي (مستطيرا) ویرعذاب (قمطريرا) ډېرسخت تریو مخی غمجن ، أخفش وايې چي (قمطرير) هغه خوراسخت اودروند مصیبت دی چي خورااوږدوي (۱)(دانية) نژدې (ذللت) مسخرې تيټې کړی شوي (سلسبيلا) لذيذخوندوراوله ډېره لذته اوصفايي آسانه په مری کي تېرېدونکو دخنباک توکوته وايي (سندس) نرم نري وريښم (استبرق) پنډ وريښم چي دېباج يې بولي (أسرهم) په اصل کي ترلواوټينګولوته وايې وروسته بيايې په پيدايښت باندي اطلاق وشوچي ويل کېږي (شددأسره) يعني مضبوط يې کړ پيدايښت دهغه

تفسير:

﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا مَّذْكُورًا﴾ آيا راغلی دی (په تحقيق سره راغلی دی) په انسان څه وخت له زمانې څخه چي نه وودی يوشی يادکړی شوی (په نامه سره)؟ ابن کثيروايې: الله جل

(۱) قرطبي تفسير ۱۹/۱۳۳

جلاله له انسان څخه ددې اخبارفرمايي چي الله هغه له عدم څخه موجودکړی دی هغه یووخت دده له حقارته اوضعفه ښځي دیادېدلونه وو(۱) مفسرین کرام لیکي چي (هل أتی) د(قدأتی)په معنادی لکه چي ته وايې آیادفلاني کاردي ولیداوپه داسي حال کي چي ته ښه خبرېږ چي هغه يې لیدلی اویاووايې چي آیامادرته وعظ وکړ؟ اوعزت مي درکړ؟ مقصددی داچي ددغه کارونوتقریروکړي چي بېشکه ماپندرکړماعزت درکړ، اومرادله انسان څخه جنس دی اومرادله (حین) څخه هغه موده ده چي دموږپه ګېډه کي وو(۲)اومقصدله آیت څخه انسان ته پندورکول دي چي اصل نشأت يې یوداسي څېزووچي هېرکړی شوی اودیادولونه ووپه هغه وخت کي چي عدم وودپلارپه شاکي دخوارو اوبوڅاڅکی ووچي پرته له هغه ذاته چي دده دپیدا ایښت اراده يې لرله هیڅانه پېژانده اوڅه وخت دزماني داسي تېرشوچي دځمکي کره له ده څخه تشه وه بیاالله جل جلاله پیدا اکړاوپیدا ایښت يې ټینګ اوپه زړه پورې کړ وروسته بیاله هغه چي دده دپیدااینبت او دوجودي نعمت پیر زوکول اوبیاوربانديي دشرعي مکلفیتونوازموینبت کول هلته چي دعقل اوحواسو نعمتونه يې رومبی ورباندي لورولي قرآنکریم داسي تشریح کوي فرمايي ﴿إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ﴾(بېشکه موږپیدا اکړی دی انسان له نطفې څخه چي ګډوډه شوي ده (دنراودښځي) یعني موږ پخپل قدرت سره دغه انسان له خواروابوچي (مني) دي هغه چي دنارینه له ملا(شا) څخه راوړي اود ښځینه اوبو(مني)سره ګډه شي اوبیادغه عجیب مخلوق ترې پیداکوو. ابن عباس وايي چي د(امشاج) معنا اخلاط دی اودغه دسړي اوښځي اوبوته وايي کله چي سره ګډي شي اوبیاله یوه حاله بل ته دروميي (۳) ﴿نَّبْتَلِيهِ﴾ موږيي ازمايو(په شرعي تکالیفواوالهي اوامروترڅو وګوروآیاهغه شکرګاري اوایمان راوړي اوکه کافرکېږي انکارکوي آیاهغه سم تګ کوي اوکه انحراف غوره کوي؟ ﴿فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾نوموګرزاوودغه انسان اورېدونکی،لیدونکی)یعني هغه ته موسترګي ورکړي چي د کائناتودلائل ووینې هغه رونبانه دلائل چي دحکیم خالق ذات په وجوددلالت کوي اوغوږونه مو ورکړي چي تنزیلي آیتونه واوري امام فخر رازي لیکي چي: الله جل جلاله هغه څه ورکړي چي ازموینبت ورسره نبائېدونکی وي چي اورېدل اولیدل دي اودغه دواړه له فهم اوتمیزڅخه کنایه راغلي ده لکه چي الله تعالی له حضرت ابراهیم علیه السلام څخه حکایت کوي فرمايي ﴿لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ﴾ اوکله کله وربانديي دغه دوه پېژندل شوي حواس چي غوږونه اوسترګي دي اراده کېږي اوداچي یوازي يې دوی ځانګړي راوړل څکه چي دغه دحواسوافضل اواشرف دي (۴) ﴿إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ﴾ بېشکه موږ ورښودلي ده دغه (انسان) ته (سمه لاره(اوکږه لاره خیراوشرمو ور ښودلي چي انبیاء علیهم السلام مو ورته رااستولي اوکتابونه مو ورته رانازل کړي دي الله جل جلاله دلته دهغه څه بیان فرمايي چي کله يې دهغه پیدا ایښت وکړاوظاهري

(۱) مختصرابن کثیر۳ /۵۸۰
(۲) کبیرتفسیر۳۰ /۲۳۵
(۳) مختصرابن کثیر۳ /۵۸۰
(۴) کبیرتفسیر۳۰ /۲۳۷

باطني حواس يې ورکړل نو يې سمه اوکړه لاره وروښودله عقل يې ورکړاو اختياريې ده ته پرېښود بيا به وروسته له دې ياشکر کونکی جوړشي اويابه کفرغوره کړي ځکه وروسته فرمايې ﴿ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴾ (يابه وي شکر کونکی(مؤمن) يابه وي دی ناشکره (کافر) يعني ياخوبه دالله دنعمتونوشکرپرځای کړي دخير ښېګڼي لاره به ونيسي اويابه دشراوفجورلاره خپله کړي مفسرين کرام ليکي چي: مقصدله دې کلام څخه چي ﴿ هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ ﴾ دادی چي الله انسان ته دشکراوکفرلاري ښودلي دي نوردانسان دنده ده چي دغه غوره کوي اوکه هغه اودغه آيت له هغوډېروآيتونوڅخه دی چي انسان ته داختيار اوارادې واک ورکول ښيي هغه اختيار چي ورباندي دتکليف داراومداردی لکه دالله جل جلاله داويناچي ﴿ مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ ﴾ (الاسرآء:۱۸) ﴿ وَمَنْ أَرَادَ ٱلْءَاخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا ﴾ (الاسرا:۱۹) اودالله جل جلاله داويناچي ﴿ وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ﴾ (الکهف:۲۹) نوپه هيڅ باندي اکراه اواجبارنشته بلکه دهغه لپاره اراده اواختياردی ... وروسته له دې ځرګنده بيانه هغه څه الله بيانوي چي دابرارواوفجارولپاره يې په تل ترتله هستوګنځي کي ورته تيارکړي دي فرمايي ﴿ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۟ وَأَغْلَٰلًا وَسَعِيرًا ﴾ (بېشکه موږتيارکړي مودي کافرانوته ځنځيرونه او طوقونه اوتوداور) يعني موږکفارومجرمانوته ځولنې تياري کړي چي په پښوکي ور اچوواوطوقونه اتکړې مو ورته چمتوکړي چي لاسونه يې له غاړو سره ورباندي وتړواولمبې وهونکی اور ورته تيار دی چي ورباندي وسوځي لکه چي الله فرمايې ﴿ إِذِ ٱلْأَغْلَٰلُ فِىٓ أَعْنَٰقِهِمْ وَٱلسَّلَٰسِلُ يُسْحَبُونَ فِى ٱلْحَمِيمِ ثُمَّ فِى ٱلنَّارِ يُسْجَرُونَ ﴾ ﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴾ (پېشکه نېکان ابرار څښي(په جنت کي) له جامونودشرابوڅخه چي وي ګډله هغوسره (جنتي) کافور) يعني هغه کسان چي په دنيا کي نېکان ابرارو نودوی به دشرابو داسي جامونه په سراړوي چي خوراښه ډول خوشبويي د کافور به ورسره ګډوي. مفسرين کرام وايې چي: کافورهغه معروف خوشبويه طيب دي چي دهنداو چين له ونوڅخه لاس ته راځي اودعربولپاره ترګردوعطوراتوغوره دي مقصداچي څوک دغه شراب وڅښي نوداسي خوشبويي به ورباندي ولګېږي ته به واکافوردي(۱) ابن عباس وايې: کافوردجنت داوبونوم دی هغه چي دکافورچينه يې بولي نوجام به ددغي چينې په اوبوګډاوپه مشکوبه يې ختم کړي نوتر ګردوبه خوندورشراب وي ځکه الله فرمايې ﴿ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ ﴾ چينه چي څښي څښي به له هغې څخه (نېک) بندګان دالله) (ددوی صفت يې دالله په بندګي ددې لپاره راووړچي تکريم او تشريف يې وشي اومرادورڅخه مؤمن متقيان دي ﴿ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴾ (چي بيايې به (مؤمنان) دغي (چينې) لره (هرچېري چي يې خوښه شي) په بهولو سره) يعني هري مانۍ اوسرای ته چي يې دوروستلو خوښه شي هلته به يې ور روانوي. صاوي ليکي: معنا داچي هغه ورڅخه ممانعت نه کوي هر چېرته چي

(۱) قرطبي تفسير۱۹/۱۲۳

بې بیاېږ ښولای یې شي داسي راغلي چي مؤمن به خپل کورانګړ او خپلي مانۍ ته هغه څېژوي په لاس کي به یې یوه لښته وي چي او بوته به یې ښوروي او هغه به هم هغه لوري ته ورسره درومي کوم لوري ته چي مؤمن خي آن تر دې چي لوړي مانۍ ته به ورسره څېژي (١) کله چي یې د ابرارو ثوابونه راوړل ورپسې یې د دوی وتلي صفات او خویونه چي د دوی یې د داسي نعمتونو او ستر اجور او مستحق ګرزولي بیانوي

فرمايې: ﴿ يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ ﴾ وفاکوي (ابرار) په (هغه) نذر سره (چي ټول هغه څه دي چي انسان یې پخپل ځان واجب کړي او چي نذریې کړي نو ورباندي وفاکوی هغه چي د الله له طاعاتو څخه وي لکه لمونځ، زکات، حج او صدقه. مفسرین کرام لیکي چي: دغه د دوی د هغه صفت په هکله چي د واجباتو اداکوي مبالغه ده ځکه یو څوک چي په هغه څه وفاکوي چي پخپله یې پرځان واجب کړي نو په هغه باندي خو خامخا وفاکوي

کوم چي الله ورباندي واجب کړي وي (٢) ﴿ وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ مُسۡتَطِيرٗا ﴾ (او وېرېږي ابرار له هغې ورځي چي شريې ښکاره اوتيت دی) یعني اودوی وېرېږي له سختیو دهغې ورځي چي کړاوونه رېږونه یې ستر دي کله چي آسمانونه چوي، ستوري شینډل کېږي، غرونه الوزي او نوري ستري پېښي پکي رادبره کېږي وېري ستونزي اوتیت غمونه پکي پېښېږي. قتاده وایې: قسم په الله چي د دغي ورځي شرد و مره تیت

اوخپور دی چي ځمکي او آسمان ته رسېدلی دی (٣) ﴿ وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا ﴾ (او ورکوي (ابرار) طعام خواړه په محبت میني د دغه (طعام او حاجت د هغه) مسکین اړ او یتیم پلارمړي ته او اسیر بندي ته) یعني سره له دې چي دوی پخپله هم طعام ته وږي او اړ وي خوبیایې هم محتاج او فقیر ته چي څه نلري او ماشوم پلارمړي یتیم ته چي مرستندوی نلري او اسیر بندي ته چي (له مشرکینو څخه په جنګ کي نیول شوی وي ورکوي. حسن بصري رحمه الله وایې چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به ځیني بندیان راوستل او ځینو مسلمانانو ته به یې ور وسپارل ورته ویل به یې له دې سره ښه کوئ دوې شپې، یادري به له هغه سره وونو هغه به ترځان هم ورسره ښه کول او په ځان یې غوره ګڼه (٤) نو الله پردوی تنبیه وفرمایله چي دغه ابرار سره له دې چي دوی او د دوی عیالونه خوړو ته وږي وي لیکن دوی

دنوموړیو دریو ټولګیو غوراوی کوي او ترځانونو یې له مخي کوي لکه چي الله تعالی فرمایې ﴿ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞ ﴾ (الحشر:٩) ﴿ إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ ﴾ (ابرار وایې) بېشکه چي

موږ خواړه درکوو تاسي ته خاص د الله (د ثواب د پاره) ﴿ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءٗ وَلَا شُكُورًا ﴾ نه غواړو موږ له تاسي څخه جزا بدل او نه شکر ایستل (حمد او ثنا ویل پر موږ باندي. مجاهد وایې: په الله لوړه چي دغه خبري دوی په خوله نه دي ویلي مګر الله تعالی د دوی په زړونو خبرو نو یې په دوی ثناوویله ترڅو چي رغبت

---

(١) د صاوي حاشیه ٤ / ٢٧٤
(٢) کبیر تفسیر ٣٠ / ٢٤١
(٣) طبري ٢٩ / ١٢٩
(٤) روح المعاني ٢٩ / ١٥٥

کونکي ددوی په لاره ولاړشي (۱) ﴿ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴾ موږ وېرېږو له ربه خپله له عذابه دورځي تريومخي (غمجني) ډېري تريومخي (ترڅوچي الله موددغي ورځي له کړاوونو څخه وژغوري) ﴿ فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمِ ﴾ نو وبه ساتي الله دوی لره (په سبب دنېکيو ددوی) له شره سختي ددغي ورځي ﴿ وَلَقَّىٰهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا ﴾ او وربه کړي دوی ته تازه ګي اوحسن د مخونواوخوشحالي دزړونو؛ (داچي (سرور) يې نکره راوړی مقصد پکي تعظيم اوتفخيم دی) ﴿ وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُوا۟ جَنَّةً وَحَرِيرًا ﴾ اوجزاء به ورکړي دوی ته (الله) په سبب دصبرددوی (په طاعاتواو ايثار بالمال باندي) جنت (پراخ) او(ور وابه غوندي جامې) وربښميني لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴾ (الحج ۲۳) په آيت شريف کي دايجازصنعت راغلی دی هغه داچي لومړی يې جنت يادکړی هغه ځای چي دغه ابرار به پکي په ډول ډول مېوو بېلابېلو خوراکونواو خوندوروشرابواونورو توکو نازول شوي وي ځکه جنت ترهغو ورته نه ويل کېږي څوچي دسوکالی او راحت ګرداسباب پکي نه وي لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ ٱلْأَنفُسُ وَتَلَذُّ ٱلْأَعْيُنُ ﴾ بيا (حريرا) راغلي اوپدې قول سره چي (وحريرًا) دې ته اشاره ده چي ددوی پوښاک ترګردوله غوره پوښاکونوڅخه دی کوم چي وربښمين دی اوهغه عربوته ترټولولباسونوښه اوغوره دی نودخوراک څښاک اولباس ډولونه يې هغه چي د انسانانو دزړه له کومي غوښتنه ده راټول کړي دي اوله دې په وروسته فرمايي ﴿ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ ﴾ حال داچي تکيه کونکي به وي په هغه (جنت) کي پرتختونو باندي (دپاچهانو چي په غوره پردو اوجامو به پوښلي وي مفسرين کرام ليکي چي (ارائک) دأريکة جمع اوهغه تخت ته ويل کېږي چي پوښونه ورباندي هوار وي اودغه دسوکاله ژوند دبشپړتوب مرحله ده ﴿ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ﴾ نه به ويني دوی هلته لمر (ګرمي) اونه زمهريرساړه (ځکه چي دجنت هوامعتدله ده نه ګرمي اونه يخني احساس کېږي بلکه دعرش معلی څخه به راالوزي اوپه جنتيانوبه لګېږي ﴿ وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَٰلُهَا ﴾ حال داچي نژدې به وي پردوی سيوري (دونو دهغه ﴿ وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا ﴾ اومُسخري ټيټي کړی شوي به وي مېوې دهغوپه مُسخريدلو ټيټېدلو سره (چي شوکول به يې آسان وي چي ويې خوري ابن عباس رضی الله عنه وايي: کله چي وغواړي کومه مېوه وخوري هغه به ورته رانژدې شي ترڅوچي څومره يې خوښه وي ترې وخوري اوکله چي يې دجنت خوراک، پوښاک اومسکن بيان کړ وروسته يې د هغه څښاک داسي بيانوي ﴿ وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِـَٔانِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ ﴾ اوګرزولی به شي پردغو(ابرارو) باندي (په جنت کي) جامونه له سپينوزرو (چي خوراک څښاک به پکي وي لکه چي په دنياکي دسوکاله خلګوهم دارواج وي نوبه هريوپخپله خوښه څومره چي يې اړتياوي ځيني خوري اوڅښي اودغه لوښی عبارت له کاسوڅخه دي چي ځيني به دسپينوزرو اوځيني دسروزرو وي لکه چي

(۱) مختصرابن کثير ۳/ ۵۸۲

الله فرمايي ﴿ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ ﴾ (الزخرف: ۷۱) امام رازي ليکي چي ددواړو آيتونو ترمنځ کوم منافات نشته کله کله به په دې کي او کله به په هغوکي ورڅښول کېږي ﴿ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا ﴾ او ګيلاسونه صراحي چي وي به (دغه لوښي) په شان دښيښو (په صفائي او ښکلاکي) په البحر کي ليکي چي (كانت) معنادا چي الله پخپل قدرت پيداکړي ترڅو ددغو ظروفو تفخيم او تعظيم وشي چي دغه عجيبه پيدايښت دی چي دسپينو زرو سپين والی د ښيښې له روڼ والي او شفافيت سره يوځای شوی دی[1] ﴿ قَوَارِيرَا مِن فِضَّةٍ ﴾ هسي ښيښې چي له سپينو زرو به وي (يعني دښيښې روڼوالی او دسپينو زرو سپينوالی به پکي ايښودل شوی وي

ابن عباس رضی الله عنه وايي: په دنيا کي هيڅ هغه شی نشته کوم چي به په جنت کي وي مګر يوازي نوم بې شته يعني هغه چي په جنت کي دي خوراغوره، اعلی او ښايسته دي که ددنيا سپين زر دومره باريک هم شي لکه دمچ وزر بيا به هم او به ترې له ورايه ښکاره نشي ليکن دجنتي ښيښو سپين والی د سپينو زرو او روڼوالی دښيښې دی (چي ظاهرېې له باطن او باطن يې له ظاهره ښکاري) ﴿ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴾ چي اندازه کړي به وي (ساقيانو د جنت جنتيانو ته چي څومره يې ورته حاجت وي) اندازه کول (چي دغه به خوراخوندور او په زړه پوري وي ابن عباس وايي: داسي به يې په کچه راوړي وي چي نه به څه ترې زياتېږي او نه به يې نوره اشتهاء او غوښتنه پاتي وي[2]) ﴿ وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴾ او ورڅښول کېږي به جنتيانو ته په جنت کي جامونه دشرابو چي وي به ګډ له (پاکو شرابو) هغه سره (لپاره د خوشبوئي جنتي) زنجبيل (ځکه چي عرب هغه شراب ډېرخوندور ګڼي چي زنجبيل ورسره ګډوي ځکه چي خوشبويي يې لګېږي- قرطبي ليکي: دوی ته يې دآخرت دنعمتونو ترغيب ورکړی کوم چي دوی ته له نعمتونو او خوشبويي څخه خوښ او مرغوب وي[3]) قتاده وايي چي زنجبيل په جنت کي ديوې چينې نوم دی چي له هغې څخه به مقربين څښاک کوي او دنورو جنتيانو په شرابو کي به هم ددوې ګډون کاووشي ﴿ عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ﴾ چينه په دغه (جنت کي چي) نوم يې ايښودل شوی دی په سلسبيل سره (ځکه چي له حلقه څخه آسانه تېرېږي. مفسرين کرام ليکي چي: سلسبيل خوږې سپکي اوبه دي چي له حلقه لذيذه او آسانه تېرېږي او خوندوري دي او داچي ددې او بو په خوند کي يې دزنجبيل وصف راوړ داباه يوازي په خوند کي وي خو په تريخوالي او سوځېدلو به يې څښونکي نه پوهېږي يوازي خوند به يې ځکي چي دزنجبيل (سوند) په شان به وي نو به شراب خوندور آسانه په حلق کي تېرېږي.. ورپسې دجنتي خدمتګارانو حال داسي بيانوي ﴿ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ﴾ او ګرزي به پر دغو جنتيانو هلکان تلپاتي شوي (په حال دځواني کي تر او تازه. قرطبي وايي: معنادا چي دوی به تل هغسي په ځواني ښکلا تازه ګي

[1] البحر المحيط ۸/۳۹۷
[2] الوسي تفسير ۲۹/۱۲۰
[3] قرطبي ۱۹/۱۴۰

جمال اوحسن کي وي کله به هم نه زړېږي اونه به تغيرمومي په يوه غانښ به ګرد عمراوسي (١) ﴿ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴾ کله چي ووينې ته دوی ګنې به هغوی (له ډېري صفايي او ځلادمخونو) لکه ملغلري خورې شوي. امام رازي ليکي چي دغه يوه عجيبه تشبيه ده ځکه ملغلري کله چي خورې ورې وي خورانښکلی منظرلري اوکله دځينورڼاپه ځينونورولوېږي نوزړه راښکونکی منظرپيداکوي (٢) ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴾ (اوهرکله چي وګورې ته دغه (جنت) ته نو وبه وينې ته نعمتونه (ډېرچي صفت يې نشي کېدای) اوپاچهي لويه (لازواله) يعني کله چي ته هلته په جنت کي هغه د خوښي اوخوشحالي مناظر اونعمتونه وګورې نو دومره به وي چي صفت يې ممکن نه وي هلته به پراخه پاچهي وي چي نهايت به نلري لکه چي په قدسي حديث شريف کي راځي: (ماد خپلوصالحانو بندګانو لپاره هغه څه چمتوکړي چي نه سترګوليدلي ، نه غوږونو اورېدلي اونه دبشر په زړه تېرشوي دي ابن کثيرليکي چي په صحيح حديث شريف کي راغلي چي دأدنی مرتبې جنتي به لکه دادنيا اولس ځله نوره ددې دنياوي نوچي دأدنی مرتبې جنتي لپاره دالله جل جلاله دغه ورکړه وي ستابيادأعلی مرتبې جنتي په هکله څه خيال دی؟(٣) ورپسې الله تعالی دجنت دنعمتونو يادونه داسي کوي ﴿ عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ ﴾ دپاسه پر دوی باندي به کالي (جامې) دنري ورېښمو زرغونو او دپريروورېښمو نولباس دجنتيانوبه ورېښمين وي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴾ (الحج ٢٣) مفسرين کرام ليکي چي (سندس) نري ورېښم او(استبرق) پنډورېښم دي اودغه دابراروپه جنت کي جامې وي اوداچي ويې فرمايل چي (عاليهم)-ترڅوپه دې تنبيه وفرمايې چي ددوی جامې څوڅودي خوهغه چي سربېره وي نوهغه دادي اوغوره دي ﴿ وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ ﴾ اووابه غوسته شي (دوی ته) باهوګان له سپينوزرو (لپاره دښکلااوزينت، تعبيرېې په ماضي سره فرمايلی چي وقوع يې دتحقق اوثبوت افاده وکړي.

صاوي ليکي که څوک پوښتنه کوي چي څرنګه يې دلته وفرمايل چي ﴿ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ ﴾ اوپه سورة کهف کي يې داسي چي ﴿ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ ﴾ اوپه سورة فاطرکي ﴿ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ﴾ فرمايلي دي ځواب داچي کله به يوازي سره زر اوکله کله به سپين زر اوکله کله به ملغلري هرډول چي ددوی خواهش وي اغوندي اوداهم امکان لري چي ديوپه لاس کي دي درې سره هم جمع وي (٤) ﴿ وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا ﴾ او ور وبه څښي دغو(جنتيانوته) رب ددوی شراب طهور، ښه پاکيزه څښاک يعني پردغونعمتونو سربېره الله داسي ښه پاکيزه څښاک وروڅښوي چي په لاسونوبه ککړشوي نه وي اونه به هم ددنياد شرابو په ډول ناولي وي طبري ليکي الله به دغو ابراروته داسي ښه پاکيزه شراب وروڅښوي

---

(١) قرطبي تفسير ١٩/ ١٤١

(٢) کبيرتفسير ٣٠/ ٢٥١

(٣) مختصرابن کثير ٣/ ٥٨٣

(٤) دصاوي حاشيه ٤/ ٢٧٨

چي دهغه له پاکيزه توب څخه يودادی چي بول (ادرار) به نه ورڅخه توليد ېږي بلکه لکه د مشکو غوندي عرق (خولم) به ورباندي راځي) روايت کېږي چي د جنتيانو يوه سرې به د دنيا د خلګو د سلو تنو شهوت ورکول شي او کله چي خوراک څښاک وکړي نو هغه به خولې شي او له بدن څخه به يې د ښايسته مشکو د بوی په توګه راوزي(۱) ﴿إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً﴾ (او وبه فرمايي (الله دوی ته چي) بېشکه دغه (نعمتونه) ستاسي لره جزاء بدل (د اعمالو ستاسي) يعني کله چي دوی جنت ته داخل شي او دهغه نعمتونه ويني نو به ورته وويل شي چي داموددنيا دنيکو اعمالو بدل دی ﴿وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا﴾ او دی عمل زيارستاسي مشکور مقبول (چي تاسو ته ورباندي ښه جزاء له ثناء سره درکول شوه، په تېرو آيتونو کي تېرشول چي الله دوزخيانو ته طوقونه او ځنځيران تيار کړي لکه چي ابرارو ته تختونه اونري او پرېړورېښم ورکوي او په لاسونو کي يې د سپينو زرو وښي او باهوګان اچوي او په ورباندي به يې پېمخي هلکان وي تل ترتله په يوه عمرچي لکه خورې ملغلري داسي به اېسي او پردوی باندي به ګرزي په لاسونو کي به يې جامونه د سپينو زرو وي او پاکيزه شفاف ګيلاسونه به وي چي په شرابو به ډک وي هغه چي د زنجبيل اوکافور په خوندبه ګډشوي وي او دغه ټول د ترغيب او ترهيب لپاره لکه چي د قرآن اسلوب دی چي دابرارو او فجارو ترمينځ پرتله کوي خوله دې ښکاره بيانه وروسته به هم مشرکانو دغه ټول په مخ اړولو او اعراض باندي استقبالول او په قرآنکريم او رسول الله به يې استهزاء او ملنډي وهلې او رسول الله ﷺ به ددوی له دغه څنګ کولو او رېړولو څخه سخت ځورېدونو داوروستني آيتونه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ډاډيني لپاره راغلی ترڅو چي دده غم خواشيني او خفګان سپک کړي فرمايي ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ تَنزِيلًا﴾ بېشکه موږهم داموږ نازل کړی مودی په تا باندي (ای محمده!) قرآن نازل کول (ترڅو ته دوی ته يې په وعدا و وعيد پند ورکړې او ترغيب ترهيب يې ورته بيان کړې نو ته غم مه کوه قرآن حق دی او وعده يې رېښتوني ده ﴿فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ﴾ نو صبر کوه حکم امر درب خپل ته (خامخا به الله له دوی څخه کسات واخلي او ددوی په هلاکت به ستاسترګي که ژر وو او که وروسته يخي کړي ﴿وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا﴾ او مه منه خبره له دوی څخه د هيڅ يو ګنهګار (چي په ګناهونو او شهواتو کي غوپه وي) ﴿أَوْ كَفُورًا﴾ او ناشکره (هغه چي په کفر او ضلالت کي وروستي پړاو ته رسېدلی وي او له سره پندنه مني (کفور) د مبالغې صيغه ده او په کفر او انکارکي وروستي پړاو ته رسېدلي ته وايي. مفسرين کرام ليکي چي دغه آيتونه د (عتبه بن ربيعة) او (وليد بن مغيرة) په هکله راغلي دي چي دوی دواړو رسول الله ﷺ ته وويل: که چېري ته مال، دولت او ښځي غواړې نوله دې خپلي لاري واوړه موږ دي دغه آرزوګاني پوره کوو عتبه ورته وويل چي: زه خپله لور درکوم او پرته له مهراو ولوره يې درواده کوم او وليد ورته وويل: زه دومره مال دولت درکوم چي څومره دي خوښه وي نو بيا دا آيت نازل شو(۲) خوښه خبره داده چي دغه دي

---

(۱) طبري ۲۴/ ۱۳۷
(۲) کبير تفسير ۳۰/ ۲۵۸، قرطبي ۱۹/ ۱۴۷، صاوي حاشيه ۴/ ۲۷۸.

پخپل عموم پاتي وي ځکه چي لفظ يې عام دی او هرفاسق فاجر ته شامليږي ﴿ وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ ﴾ (او ياد وه نوم درب خپل) يعني دخپل پروردګار لپاره لمونځ کوه طاعت او عبادت يې کوه ﴿ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾ ګهيځ او ماښام ﴿ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَٱسْجُدْ لَهُۥ ﴾ او په څه برخه دشپې کي نوسجده کوه هغه (الله) ته (مناجات تهجد کوه) ﴿ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا ﴾ او نسبت دپاکي کوه دغه الله ته په شپه اوږده کي (کله چي خلګ ويده وي لکه چي الله بل ځای فرمايي: ﴿ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا ﴾ مقصد دا چي په ګردو اوقاتو کي الله لره عبادت کونکی او ذکر کونکی وي په شپه په ورځ، په سبا بېګاه په زړه او په ژبه ترڅو چي ددښمنانو مقابله وکړای شي او وروسته درسول الله ﷺ له ډاډيني بيرته دکفارو مجرمينو حالات داسي بيانوي فرمايي ﴿ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ ﴾ بېشکه دا (کفار) خوښوي ژر تېرېدونکي (دنيا په آخرت باندي او فاني لذائذو رته غوره دي) ﴿ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيلًا ﴾ او پرېږدي وروسته له ځانه ورځ سخته (دعقبی چي قيامت دی) ﴿ نَّحْنُ خَلَقْنَٰهُمْ وَشَدَدْنَآ أَسْرَهُمْ ﴾ موږ پيدا کړي دي دوی او بيا مو مضبوط کړل پيدا اېښت اندامونه ددوی ترڅو چي ښه قوي ، زورور شول ﴿ وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ أَمْثَٰلَهُمْ تَبْدِيلًا ﴾ (او کله چي اراده وفرمايو بدل به راوړو موږ (مثال ددوی (په پيدا اېښت کي) بدل) يعني که موږ وغواړو دوی به هلاک کړو او تر دوی غوره بندګان به چي دالله ښه فرمان منونکي او عبادت کونکي وي پيدا کړو په آيت شريف کي تهديد او وعيد نغښتی دی ﴿ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ ﴾ (بېشکه دغه (آيتونه) پند دی) يعني دا آيتونه چي ښکلی لفظ او خوندور مضمون لري د هوښيارانو لپاره پند دی او جاهلان ور څخه منزجر کېږي ﴿ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴾ نو هر هغه څوک چي اراده کوي نيسي طرف درب خپل ته لاره (په خير او طاعت سره پس ودې نيسي ،چي لاره ورته جوړه شوي اود نيکمرغي اسباب ورته چمتو دي ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ او اراده نشی کولای تاسي (دهيڅ لاري دطاعت) مګر هغه چي اراده وفرمايي الله (تاسو ته) ابن کثير ليکي : معنادا چي هيڅوک نشي کولای چي ځان ته هدايت وکړي او يا په ايمان کي داخل شي او ځان ته ګټه ورسوي مګر دالله جل جلاله په اراده پوري اړه لري[1] ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾ (بېشکه الله دی (په هر څيزباندي) ښه عالم دانا ښه حکمت والا دی په تدبير او صنعت خپل کي هغه څوک ورته معلوم دی چي دهدايت وړوي نو ورته لاره ښيي او هغه هم ورته معلوم دي چي دضلالت مستحق دي نو اسباب يې ورته مهيا کوي او هغه الله پدې کي بالغ حکمت لري ﴿ يُدْخِلُ مَن يَشَآءُ فِى رَحْمَتِهِۦ ﴾ داخلوي (الله) هغه څوک چي (اراده دد خول يې) و فرمايي په رحمت خپل کي) يعني داخلوي هغه بندګان چي ورته اراده دد خول يې شي جنت او رضوان خپل ته چي مؤمنان دي سم له

---

(١) مختصر ابن کثير ۴ /۴۵۸

حکمت او مشیت سره ﴿ وَالظَّالِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ او ظالمان (کافران چي دي) تیار کړی دی (الله) دوی ته عذاب ډېر دردناک (په دوزخ کي دسورت پای یې دمتقیانو او مجرمانو په وروستي برخه لیک سره ختم کړ.

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبیان او بدیع کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی.

۱- دطباق صنعت چي د ﴿ شَاكِرًا ... كَفُورًا ﴾ ترمینځ او د ﴿ بُكْرَةً ...وَأَصِيلًا ﴾ ترمینځ او د ﴿ شَمْسًا ...زَمْهَرِيرًا ﴾ ترمینځ راغلی دی.

۲- غیرمرتب لف اونشرلکه داچي ﴿ إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ سَلَاسِلَا وَأَغْلَالًا وَسَعِيرًا ﴾ څکه لومړی یې شاکریادکړی اوبیایې کافر راوړی ووچي ﴿ شَاكِرًا ... كَفُورًا ﴾ راغلی وو وروسته یې ددوهم یادونه رومبی وکړه پرته له لومړي څخه چي دغه ته غیر مرتب یامشوش لف اونشروایې.

۳- عقلي مجازلکه ﴿ يَوْمًا عَبُوسًا ﴾ دتریومخي نسبت یې ورځي ته وکړچي دغه نسبت دشي زماني ته دی لکه چي وایې (نهاره صائم) ورځ یې روژه نیونکي وي.

۴- غیرتام جناس چي پدې کلام کي دی ﴿ فَوَقَاهُمُ ....وَلَقَّاهُمْ ﴾.

۵- اشتقاقي جناس چي پدې کلام کي دی ﴿ وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ ﴾.

۶- دطباق صنعت لکه ﴿ يُحِبُّونَ ....وَيَذَرُونَ ﴾ چي راغلی دی

۷- ایجازبالحذف چي فرمایې ﴿ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَاءً ﴾ یعني دوی ته به وویل شي چي (ان هذاکان..).

۸- ښکلي په زړه پوري تشبیه چي پدې کلام کي شته ﴿ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴾ یعني لکه شیندلي ملغلري غوندي به ښکلي ابسي.

۹- لطیفه مقابله چي پدې کلام کي شته ﴿ يُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَاءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيلًا ﴾ چي دمحبت او پرېښودلو او دعاجل او باقي ترمینځ مقابله راغلي ده.

۱۰- مرصع سجع لکه ﴿ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ..شَرَابًا طَهُورًا ..سَعْيُكُم مَّشْكُورًا.. آثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴾ ترپایه پوري چي دغه هم له بدیعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

دالله جل جلاله په مرسته دالدهرسورت دتفسیرژباړه بشپړه شوه.

***

دالمرسلات سورت مکي او پنځوس آيتونه لري.

دالمرسلات سورت له مکي سورتونو څخه دی او دعقيدې او آخرت له اُمورو، دقدرت او وحدت له دلائلو او نورو غيبي چارو څخه غږېږي.

دسورت په پيل کي دهغو پرښتو په نوم باندي کومي چي دکائناتو د چارو په تدبير مکلفي دي قسم اخيستل کېږي چي قيامت حق دی او هلاکت به اورو مرو په کافرانو راپرېوزي فرمايي ﴿ وَٱلْمُرْسَلَٰتِ عُرْفًا ﴿١﴾ فَٱلْعَٰصِفَٰتِ عَصْفًا ﴿٢﴾ وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشْرًا ﴿٣﴾ فَٱلْفَٰرِقَٰتِ فَرْقًا ﴿٤﴾ فَٱلْمُلْقِيَٰتِ ذِكْرًا ﴿٥﴾ عُذْرًا أَوْ نُذْرًا ﴿٦﴾ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٌ ﴾.

بيا دعذاب وخت ښيي کوم چي مجرمينو ته يې وعده ورکول شوي ده فرمايي ﴿ فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴿٩﴾ وَإِذَا ٱلْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتْ ﴿١١﴾ لِأَىِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ﴿١٢﴾ لِيَوْمِ ٱلْفَصْلِ ﴿١٣﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ ﴾.

له دې په وروسته دالله جل جلاله دستر قدرت دلائل سپړي چي انسان به وروسته له مرګه راستنوي او له فنا وروسته به بيا ژوندور کوي نو فرمايي ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٥﴾ أَلَمْ نُهْلِكِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ ٱلْءَاخِرِينَ ﴿١٧﴾ كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٩﴾ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴾.

او نورو مجرمينو برخه ليک او هغه عذاب را اخلي چي دوی به په آخرت کي ورسره لاس او ګرېوان وي ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾ ٱنطَلِقُوٓا۟ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾ ٱنطَلِقُوٓا۟ إِلَىٰ ظِلٍّ ذِى ثَلَٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِى مِنَ ٱللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرْمِى بِشَرَرٍ كَٱلْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴾.

وروسته له دې چي دمجرمينو حال بيان کړي ورپسې دمتقيانو څخه غږېږي او هغه انعامات او جائزې يادوي کومي چي الله ﷻ ددوی لپاره چمتو کړي وي فرمايي ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٤٢﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾.

او دسورت پای دالله له عبادت څخه دکفارو دامتناع په سبب بيانولو کېږي چي هغه دواحد قهار ذات څخه طغيان او سرغړونه ده فرمايي: ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾ كُلُوا۟ وَتَمَتَّعُوا۟ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرْكَعُوا۟ لَا يَرْكَعُونَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ فَبِأَىِّ حَدِيثٍۭ بَعْدَهُۥ يُؤْمِنُونَ ﴾.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلْمُرْسَلَٰتِ عُرْفًا ﴿١﴾ فَٱلْعَٰصِفَٰتِ عَصْفًا ﴿٢﴾ وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشْرًا ﴿٣﴾ فَٱلْفَٰرِقَٰتِ فَرْقًا ﴿٤﴾ فَٱلْمُلْقِيَٰتِ ذِكْرًا ﴿٥﴾ عُذْرًا أَوْ
نُذْرًا ﴿٦﴾ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٌ ﴿٧﴾ فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴿٩﴾ وَإِذَا ٱلْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتْ
﴿١١﴾ لِأَىِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ﴿١٢﴾ لِيَوْمِ ٱلْفَصْلِ ﴿١٣﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ ﴿١٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٥﴾ أَلَمْ نُهْلِكِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾

ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ ﴿١٧﴾ كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿١٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٩﴾ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلْنَاهُ
فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿٢١﴾ إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢٢﴾ فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقَادِرُونَ ﴿٢٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٤﴾ أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ أَحْيَاءً
وَأَمْوَاتًا ﴿٢٦﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ شَامِخَاتٍ وَأَسْقَيْنَاكُم مَّاءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾ انطَلِقُوا إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ
﴿٢٩﴾ انطَلِقُوا إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ اللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ
صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٤﴾ هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٧﴾ هَٰذَا
يَوْمُ الْفَصْلِ جَمَعْنَاكُمْ وَالْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ فَإِن كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ
﴿٤١﴾ وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٤٢﴾ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ
لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾ كُلُوا وَتَمَتَّعُوا قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ ﴿٤٨﴾
وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٠﴾ ﴾ المرسلات: ١ - ٥٠

تفسير:

﴿ وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا ﴾ قسم دی په هغو بادونو چي لېږلي شوي دي (دالله له لوري) پی درپی پرله پسې ([1]) مفسرین کرام لیکي چي دغه دعذاب بادونه دي چي الله جل جلاله ورباندي ظالمان هلاکوي ﴿ فَالْعَاصِفَاتِ عَصْفًا ﴾ بیا قسم دی په هغو سختو خوځونکیو بادونو باندي چي الوزي په زور سره (چي وني له بېخه کاږي اوهیوادونه ویجاړوي تنبي (ځلي) ورانوي ﴿ وَالنَّاشِرَاتِ نَشْرًا ﴾ (پس قسم دی په هغوملائکو خورونکو دوریځو (باران لره) (پورته کول خورول) یعني قسم دی په هغو پرښتو چي دوریځو په شړلو باندي ګمارل شوي ترڅو یې هغه ځای ته بوزي چېرته چي دالله اراده وي چي بیاهلته باران واوري او خلګ اوښارونه ورباندي ژوندي کړي ﴿ فَالْفَارِقَاتِ فَرْقًا ﴾ بیا (قسم دی) په هغو ملائکو چي جدائي کوي (په مینځ دحق اوباطل اوحلال حرام کي) ([2]) جدائي کول ﴿ فَالْمُلْقِيَاتِ ذِكْرًا ﴾ پس (قسم دی په هغو پرښتو چي) راښکته کونکي دذکروحی پند دی (چي دالله کتابونه انبیاوو علیهم السلام ته راوړي) ﴿ عُذْرًا أَوْ نُذْرًا ﴾ لپاره دلیري کولو دعذر (ترڅو چي دالله په وړاندي دوی ته دلیل پاتي نشي) اولپاره دوېرولو (له

([1]) مفسرینو ددې پنځو آیتونو په تفسیر کي زیات اختلاف کړی ځینو له تولو څخه بادونه مرادکړي اوځینو تول عبارت له پرښتو څخه ګڼلي اوځینو بیا جلا کړي دي. امام ابن جریر رحمه الله هکله توقف کړی دی اومورد ابن کثیر رایه اوهغه چي د التسهیل مؤلف غوره کړي راوړي ده کله چي وایي: خوراځرګند په (المرسلات والعاصفات) کي دا چي داعبارت له بادونو دی اوخوراځرګند په (الناشرات. والفارقات) کي دا چي هغه پرښتې دي ځکه چي (فالملقیات ذکرا) وروسته راغلي چي هیڅاهم دغه بادونه نه دي بللي ځکه نو د متجانسینو عطف په فا سره راغلی اووایي (والمرسلات فالعاصفات) اوبیا یې غیرجنس په واو عطف کړی چي (والناشرات) وروسته په فا عطف راوړی چي دغه ښه وینا ده.

([2]) البحرالمحیط ٨/ ٤٠٤

جانبه دالله په غضب اوعذاب سره) ﴿ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٌ ﴾ بېشكه څه وعده چي له تاسي سره كړى شوي ده (دقيامت) خامخاواقع كېدونكي ده (دغه دقسم ځواب دى چي قيامت اودحساب اوجزاچاري برحق دي هيڅ خلاصون ترې نشته. مفسرين كرام ليكي چي الله تعالى په پنځوشيانولوړه كړي ترڅوچي دمقسم به دشان لوړوالى څرګند كړي نوقسم اخلي په بادونوچي رحمت اوعذاب لېږدوي اوبندګانوته خيراوشر راوړي اوپه ابراروملائكوقسم دى هغوى چي دعذردليري كولو او وېرولولپاره وحى راوړي چي دقيامت راتلل اورومروكېدونكي اوحق دي هيڅ شک اوشبه پكي نشته لكه چي الله دروغجن ګڼونكوته وعده وركړي چي قيامت راتلونكي اوثواب عقاب شته دى نوپكي شبه كول نه ښايي (١)... وروسته دهغه دراتلووخت داسي بيانوي فرمايي: ﴿ فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتۡ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتۡ ﴾ نوكله چي ستوري تورشي رڼايي وركه شي اوكله چي آسمان څېري كړى شي ﴿ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ نُسِفَتۡ ﴾ اوكله چي غرونه والوزول شي (لكه دوړي ګردونه چي بادونه يې والوزوي لكه چي الله فرمايي ﴿ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡجِبَالِ فَقُلۡ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسۡفٗا ﴾ (طه ١٠٥: ﴿ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتۡ ﴾ او كله چي دپيغمبرانووخت وټاكلى شي (اوجمع كړى شي لپاره دشهادت اوترڅوددوى اوامتونو تر مينځ فيصله وكړاى شي چي دغه دقيامت ورځ ده لكه چي الله تعالى فرمايي ﴿ يَوۡمَ يَجۡمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبۡتُمۡ ﴾ (المائدة:١٠٩) د(أُقِّتَتۡ) اصل (وُقِّتت) ووچي له وقت څخه اخيستل شوى معناداچي ورته وخت وټاكل شي. طبري وايي: معناداچي داجتماع لپاره يې وخت مقرر شي چي د قيامت ورځ ده (٢) او مجاهدوايي چي داهغه وخت دى چي دوى پرخپلوامتونودګواهي (شاهدي) لپاره حاضرېږي (٣) ﴿ لِأَيِّ يَوۡمٍ أُجِّلَتۡ ﴾ دپاره دكومي ورځي وروستى كړى شوي دي (داځيزونه؟) استفهام دتعظيم اوتعجيب لپاره دى چي پدې ورځ كي څومره هيبت اوشدت دى؟ چي پيغمبران ورته وروستى كړى شوي دي؟ ﴿ لِيَوۡمِ ٱلۡفَصۡلِ ﴾ لپاره (دشهادت) دورځي دفيصلې (په مينځ دخلګوكي هغه ورځ چي الله دپيغمبرانواوددوى دامتونوترمينځ كوم چي تكذيب كونكي امتونه وي عادلانه فيصلې كوي ﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ﴾ اوڅه شي پوه كړى يې ته چي څه دى ورځ دفيصلې؟ استفهام لپاره دتعظيم اوتهويل دى يعني اى انسانه ته څه شي پوه كړې چي دفيصلې دورځي هيبت اوسختي به څومره وي دغه ورځ تردې غټه ده چي دهغې چاري دانسان په عقل كي راشي، دلته دضميرپرځاى ظاهراغلى چي فرمايلي يې دي ﴿ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ﴾ اوداسي يې ندي ويلي چي (ماهو) ترڅودنوموړي ورځي په هيبت اوسختي باندي تنبيه وفرمايي. امام فخر رازي ليكي چي بندګانوته ددې تعجب وركول دي چي دغه څومره ستره ورځ ده؟ نويې وفرمايل ﴿ لِأَيِّ يَوۡمٍ أُجِّلَتۡ ﴾ چي دكومي ورځي لپاره له پيغمبرانوسره دغه

---

(١) كبيرتفسير ٣٠/ ٢٢٥
(٢) طبري ٢٩/ ١٤٣
(٣) كبيرتفسير ٣٠/ ٢٢٥

اړوندي چاري وخنډېدي کوم چي دمکذبينوتعذيب اودمؤمنانوتعظيم دی اوترڅوهغه څه څرګندشي کوم چي دوی به خلګ ورباندي ايمان راوړلوته رابلل چي کړاوونه، حساب اوکتاب دي وروسته الله تعالی فرمايي ﴿ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ﴾ چي هغه دفيصلې ورځ ده کوم چي رحمان ذات دخلګوترمينځ فيصلې فرمايي اوبيايي دهغې تعظيم دوهم ځلي داسي وفرمايو چي ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ﴾ چي په څه پوهېدي چي دفيصلې دورځي سختي اوهيبت به څومره وي؟ ځواب دشرط چي فرمايي ﴿ فَإِذَا النُّجُومُ ﴾ محذوف دی ځکه چي کلام ورباندي دلالت کوي اوتقديريې داچي: (هغه تاسوته وعده درکړی شوي واقع شواوکوم چي پيغمبرانوبه تاسوته دقيامت دراتلوويل هغه راغی) اوپه داډول حذف دبياني ايجازله طريقوڅخه دی چي قرآنکريم يې امتيازلري ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده په دغي ورځي کي دروغ ويونکولره (په ورځ دقيامت باندي) مفسرين کرام وايي چي دغه جمله يې پدې سورت کي لس ځله مکرره راوړي ده ترڅوچي زيات ترغيب اوترهيب افاده کړي په هره جمله کي دآخرت له چاروڅخه يادونه اودنياله حالاتوڅخه بيان شوی دی نومناسب داچي له هري جملې وروسته دي دهلاکت اوافسوس وعيد د کفاروفجارو لپاره راوړل شي اوڅرنګه چي دالدهرپه سورت کي چي ترديې له مخه وودکفارو ځيني حالات په آخرت کي يادشول خو د مؤمنانوپه تفصيل سره هلته حالات بيان شوي وو نوپدې سورت کي دکفاروحالات په تفصيل سره بيان اود مؤمنانوپه لنډه توګه راغلی دی.. وروسته له دې چي دقيامت دخبرتينګاريې وفرمايو چي هغه خامخا حق دی راځي اوپس له دې څخه چي دروغجن ګڼونکي يې ددغه ورځي له سختيواو کړاوونو څخه وېرول بيرته دې ته راستون شوچي دوی دالله له نيولواو انتقام څخه په نورو طريقوسره ووېروي نوفرمايي: ﴿ أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ ﴾ آياندي هلاک کړي موړ مجرم خلګ ړومبني؟(لکه دنوح ﷺقوم، عاديان اوثموديان بلکه هلاک کړي مودي) ﴿ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ ﴾ بياورلېږوپه هغوپسي وروستني (مکذبان لکه قوم دلوط(ﷺ) ،شعيب(ﷺ) اوقوم دموسی(ﷺ) (فرعون اوپلويان يې) اونورچي ددوی په پله روان وي ﴿ كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴾ همداسي کارکوو موږ له ټولو مجرمانو، ګنهګارانوسره (چي دغه دمکې کفارهم دسيدالمرسلين تکذيب کړي نوله دوی سره به هغسي چلندوشي)﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده په دغي ورځي کي دروغ ويونکولره آيانه يی پيداکړي موږ تاسي له اوبوسپکو(دمني څخه،دغه دمکذبينو لپاره يادونه اوددوی له غفلت څخه تعجب دی چي دوی څرنګه له يومعلوم خيزڅخه سترګي پټوي هغه داچي دوی يي له خواري نطفې څخه پيداکړي نوبياهغه ذات چي داسي پيداښت کولای شي پردې قادر دی چي دوی دبعث اوحساب لپاره راپاڅوي معناداچي ای کفارو آياتاسوبې دنارينه له خوارو اوبو (مني) څخه پيداکړي نه ياست؟ اوپه قدسي حديث شريف کي راځي

(ای بنیادمه چېري به مي ته مغلوب کړې حال داچي له داسي څېزڅخه مي پیدا کړی یې)(۱) ﴿ فَجَعَلْنَٰهُ فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴾ نو وموساتلې هغه (اوبه) په ځای دقراري ټینګ کي (چي دښځي رحم دی) ﴿ إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴾ ترښتې معلومي (په نزدد الله اوهغه وخت (ولادت) پوري ﴿ فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ ٱلْقَٰدِرُونَ ﴾ (پس قادریوموږ په دغو(کارونو) باندي پس ښه قادران یوموږ) یعني موږ له نطفې څخه په پیدا کولوتوان لرو اوښه قادران یوچي په ښکلي صورت اوښایسته قداوقامت مو پیدا کړي دي ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده په دغي ورځي کي دروغ ویونکیولره (په قدرت زموږ باندي صاوي لیکي چي پدې آیت شریف کي کفاروته ددې یادونه ده چي الله څومره سترنعمت ورباندي کړی اوالله څومره دلوړقدرت خاونددی چي دوی یې لومړی ځل پیداکړي اوڅوک چي په لومړني پیدایښت قادر وي هغه په بیرته راپاڅولواوبعث باندي هم قادر دی اوپدې کي دبعث په منکرانوباندي رد راغلی دی..(۲) له دې وروسته دیوبل نعمت یادونه ده چي دوی په ژوند کي په ځمکه برسېره بسیاکړي اوپه مرګ به یې په ګېډه دځمکي کي خښوي نوفرمایي ﴿ أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ كِفَاتًا أَحْيَآءً وَأَمْوَٰتًا ﴾ آیاموږ نده ګرزولې ځمکه جمع کونکي (په شاخپلي) ژوندیولره اومړیولره (په ګېډه خپله کي) یعني ځمکه لکه چي ددوی موروي ژوندي په شاګرزوي او مړي په نس کي. مفسرین لیکي(کفت) جمع اوراټولولو ته وایي ځمکه هم ټول بشرسره راټولوي او ددوی لپاره ځمکه لکه مور غوندي ده ژوندي انسانان دهغې په شاباندي په کورونواوځایونوکي اوسي اومړي یې په ګېډه کي په قبرونوکي دي ﴿ مِنْهَا خَلَقْنَٰكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴾ شعبي وایي: معناداچي ګېډه دځمکي لپاره د مړیوستاسي اوشایې لپاره دژوندیو ستاسي (۳) ﴿ وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَٰسِىَ شَٰمِخَٰتٍ ﴾ اوپیداکړي مودي پدې (ځمکه) کي غرونه لوی لوړ و (ترڅو

(۱) دغه حدیث شریف امام احمدپه خپل مسند کي راوړی اوابن ماجه په سنن کي اودځیني حدیث معناداچي: رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په خپل ارغوي کي ناړه وتوکله اوپه هغې یې ګوته کېښودله بیایې وویل: الله عزوجل وایي: ای بنیادمه چېري به مي ته مغلوب کړې چي له داسي څېزڅخه مي پیداکړی یې بیامي سم جوړښت درکړ... دحدیث ترپایه

(۲) صاوي حاشیه په جلالین باندي ۴/ ۲۸۰

(۳) مختصرابن کثیر ۳/ ۵۸۸ قرآنکریم دغرونودشتون حکمت ترپخواله دې چي علم یې کشف کړي څرګند کړی دی، غرونه لکه د ځمکي مېخونه داسي حیثیت لري چي هغه له خوځښت اوښوریدلو څخه ژغوري لکه چي دخېمې مېخونه خېمه له خوځېدلورا ګرزوي اووحی دغه معناداسي افاده کړي چي په سورة النحل کي فرمایي ﴿ وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ ﴾ اوکه دغه اوچت غرونه نه وای نوځمکه به په هغوګازونو او بخاراتوچي په ګېډه (تل)کي یې شته تل په خوځښت او زلزال کي وه‌هسي لکه بېړه چي په هواکي الوتلې وي نوالله لره ثنااو صفت دی چي آسمان څک غرونه یې ورباندي پیداکړل اوپه هغوکي یوبل نعمت داچي وریځي ورباندي راځي او بارانونه واوري ورباندي اوري چي بیاچینې او رودونه ترې را بهېږي بیاوني اوکښتونه ورباندي اوبېږي اووده مومي غرونه دواوروااوبارانونوذخیرې دي ځکه الله داوبونعمت ورسره بل یوځای کوي چي ﴿ وَأَسْقَيْنَٰكُم مَّآءً فُرَاتًا ﴾ .دغه دقرآن کریم په زړه پوري رازونه دي.

نغو خبرې پر تاسو باندي)(۱) ﴿ وَأَسۡقَيۡنَٰكُم مَّآءٗ فُرَاتٗا ﴾ او درو موڅښلې تاسي ته خوږې اوبه تنده ماتونکي (له وريځو اوله چينو اونهرونوڅخه مودرته راوايستې ترڅوتاسواوستاسوڅاروي يې وڅښي وني اوکښتونه ور باندي اوبه کړی ﴿ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده په دغه ورځ کي لپاره ددروغ ويونکيو (په دغو مخلوقاتواونعمتونوباندي) ﴿ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴾ ځئ لاړشئ هغه څېزته چي وی تاسي چي په هغه (عذاب داور) به مودروغ ويل (په دنياکي داهغه وينا ده چي داور پرښتې به دوی ته دتقريع اوتوبيخ په توګه وايې بيادد غه عذاب تفصيل داسي بيانوي چي ﴿ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلّٖ ذِي ثَلَٰثِ شُعَبٖ ﴾ ځئ لاړشئ تاسي ! هغه سيوري ته چي خاوند دد ريو ښاخونو (ښاخونو) دي يعني ولاړشئ هغه سيوري ته چي ددوزخ له دود,لوګي څخه جوړدی اودرې ښانګي ورڅخه جلاشوي دي ﴿ لَّا ظَلِيلٖ وَلَا يُغۡنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ﴾ چي نه به وي داسيوري يخ اونه به دفع کوي(له دوی نه هيڅ شی) له لمبې داور څخه) يعني نه خوبه په لاندني تن باندي سيوری کوي چي دلمرله وړانګوبې وساتي لکه چي به دسيوري حال وو اونه به اورلمبې ورڅخه دفع کړي کومي چي له هره لوري پورته کېږي طبري ليکي: معناداچي نه خوبه له ګرمي ورباندي سيوری کوي اونه به يې له لمبوڅخه ژغوري ځکه چي دغه ددوزخ داور دود(لوګی) دی کله چي لوړپورته شي نوبه درې ښاخونه ځني پيداشي. مفسرين کرام ليکي چي د معذبينوعذاب ته يې سيوری دتهکم اواستهزاء په توګه وويل نومؤمنان به په سيورو اوچينوکي وي مجرمان به په ګرمي اودغه دلوګي په سيوري کي وي دغه خوسيوری نه ګڼل کېږي بلکه پردوی باندي تهکم اواستهزاء ده ورپسې الله تعالی دجهنم کړاوونه داسي بيانوي چي ﴿ إِنَّهَا تَرۡمِي بِشَرَرٖ كَٱلۡقَصۡرِ ﴾ بېشکه هغه (اور) ويشتل کوي په هسي بڅرکو سکروټو سره (چي هره يوه سره سکروټه به يې وي لکه (لوړه) غټه مانۍ. ابن کثيروايي: له لمبوڅخه به يې داسي سرې سکروټي الوزي لکه برجونه (۲) ﴿ كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٞ صُفۡرٞ ﴾ ګواکي هغه (بڅرکي سکروټي قطارد) اوښانوژېړودي (په رنګ اوګړندي تګ کي. امام رازي ليکي : الله تعالی بڅرکی په لويوالي کي له غټو مانيو سره اوپه رنګ اوډېروالي کي له ژېړواوښانوسره مشابه کړل(۳)او دغه خوراپه زړه پوري تشبيه ده ځکه کله چي داوربڅرکي لکه غټه مانۍ غوندي وي نودلمبو به يې څه حال وي ؟ الله جل جلاله مودي دجهنم له اوره پخپل فضل اومرحمت سره وژغوري ﴿ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده په دغي ورځي کي دروغ ويونکيولره (په آيتونود الله) ﴿ هَٰذَا يَوۡمُ لَا يَنطِقُونَ ﴾ دا هغه ورځ ده چي(ګټوري) خبري به نکوي (کفار) يعني دغه داسي هيبتناکه ورځ ده چي دغه دروغ ويونکي کفاربه پکي داسي خبري چي ورته ګټه ورسوي نه کوي دوی به لکه ګونګيان اوکانه غوندي وي ﴿ وَلَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ

(۱) مختصرابن کثير ۳ /۵۸۸
(۲) کبيرتفسير ۳۰ /۲۷۷

فَيَعْتَذِرُونَ ﴾ اوحكم به ونكړشي دوى ته چي عذروغواړي (اونه به معذرت ورته ګټه ورسوي چي ترې ومنل شي لكه چي الله تعالى فرمايي﴿ يَوْمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ ﴾(غافر:۵۷) ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده دروغ ويونكيولره (په دغي ورځ دقيامت باندي) ﴿ هَٰذَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ جَمَعْنَٰكُمْ وَٱلْأَوَّلِينَ ﴾ دغه ورځ دفيصلې ده (چي الله دنېکمرغه اوبدمرغه خلګو ترمينځ فيصلې كوي) ټولو موږ تاسي (اى مكذبانو) اوپخواني خلګ هم ﴿ فَإِن كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴾ پس كه وي تاسي لره څه كيدمكرچل (په دفع كولو دعذاب كي) نووكړئ دغه مكرچل مو (ترڅو چي ځانونه دالله له انتقام او بطش څخه وژغوري دغه ددوى لپاره توبيخ اوتعجيزدى) ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده په دغه ورځي كي دروغ ويونكيولره(په ورځي دجزاء باندي) وروسته له دې چي دمجرمينواحوال يې ذكركړل نو وروسته دنېکمرغه متقيانوحال داسي راوړي چي ﴿ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ﴾ خامخا پرهيزګاران وپرهېزونكي به (دجنت دونودلاندي) په مېوو كي وي اوپه (غاړه) دچينوكي به وي (چي په دارخلدكي به په نعمتونواوكرامتونونازول شوي وي) برعكس دمجرمينواومكذبينوهغه چي داور د لوګي په سيوري كي به اوسي كوم چي نه به ګرمي دفع كوي اونه به تنده ماتوي اونه به يې اوسېدونكي پرته داورله بخركوڅخه بل څه راحت مومي ﴿ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴾ اوپه مېنځ دمېووكي به وي له هغه ډوله چي دوى يې غواړي (اوخوښوي يې) ﴿ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ اوپرښتې به مؤمنانوته وايې چي)خورئ تاسي اوڅښئ تاسي پداسي حال كي چي لذت اخيستونكي ياست په بدل دهغو اعمالوكي چي كول به مو(په دنيا كي) يعني دوى ته به دپېرزويني په توګه چي تعظيم اودرناوى پكې وي وويل شي چي دغه خوندور اولذيذخوراک څښاک كوئ په سبب دهغونيكواعمالوچي په دنياكي موترسره كړي وو ﴿ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾(لكه چي جزاء مومتقيانوته وركړه ستره) بېشكه موږ همداسي ښه بدل وركوو نيكانوته (كوم چي دخالص نيت خاوندان اوله الله څخه وېرېږي) ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده په دغي ورځي كي دروغ ويونكيولره (په يوم الدين باندي) ﴿ كُلُوا۟ وَتَمَتَّعُوا۟ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴾ خورئ تاسي اونفع اخلئ (اى مكذبانوله نعمتونودفاني دنيا) لږي ورځي بېشكه يى تاسي مجرمان (په عقبىٰ كي يعني كفاروته به دتهديداووعيدپه توګه وويل شي چي د څارويوپه شان ددې دنياپوخوورځي لذت واخلئ ګېډي مړې كړئ شهوتونه ترسره كړئ ترڅو مواجل را رسېږي تاسي دانعام اوتكريم ورنه ياست تاسي مجرمان ياست ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک خرابي ده په دغي ورځي كي دروغ ويونكيولره (په نعمتونودالله) ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرْكَعُوا۟ لَا يَرْكَعُونَ ﴾ اوكله چي وويل شي (په دنياكي) دغو(مكذبينو) ته چي ركوع وكړئ لمونځ وكړئ تاسي (الله ته) نه كوي دوى ركوع لمونځ (الله ته) بلكه استكبار كوي. مقاتل وايې: دغه آيت شريف دثقيف قوم په هكله نازل شوى دى كوم چي له لمانځه څخه

بې ممانعت وکړ اورسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل چې له موږ څخه لمونځ ساقط کړه موږ کړېدلای نشو دا پرموږ ډېره ګرانه ده خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ونه منله او ورته یې وویل: (په هغه دین کي ښېګڼه نشته په کوم کي چې لمونځ نه وي (۱) ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ هلاک افسوس خرابي ده په دغي ورځي کي دروغ ویونکیو لره (په اوا مرو او نواهیو دالله) ﴿ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴾ پس په کومي خبري باندي وروسته له دې قرآنه به ایمان یقین راوړي (دغه منکران؟) یعني پرته له دغه قرآنه په بل کوم کلام اوکتاب باندي ایمان راوړي چې پدې یې رانه وړی؟ کله چې دوی په قرآن کافران شي سره له دې چې په اعجازکي وروستي پړاوته رسېدلی دلیل یې خوراڅرګند اوبیان یې ښخي په زړه پوري دی نوله دې وروسته به دوی په څه شي ایمان راوړي؟ قرطبي لیکي چې دغه قول ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ لس څله مکرر دتخویف اووعید لپاره راغلی، چاپیاویلي چې دغه تکرارنه دی بلکه هریویې له بل څخه بیله معنا افاده کوي لکه چې یو څېزېې یاد کړی وي او ویلي وي چې هلاکت دی هغه چالره چې دروغ یې ګڼي همداسي ترپایه پوري

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چې دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱- تاکید په مصدرسره چې دبیان زیاتوالی اودکلام ټینګښت افاده کړي لکه ﴿ فَالْعَاصِفَاتِ عَصْفًا وَالنَّاشِرَاتِ نَشْرًا فَالْفَارِقَاتِ فَرْقًا ﴾ اودغه له لفظي محسناتو څخه هم شمېرل کېږي.....

۲- دطباق صنعت چې د ﴿ عُذْرًا أَوْ ...نُذْرًا ﴾ اود ﴿ أَحْيَاءً ....وَأَمْوَاتًا ﴾ اود ﴿ الْأَوَّلِينَ.....الْآخِرِينَ ﴾ ترمینځ راغلی اوله بدیعي محسناتو څخه دی.

۳- دضمیرپرځای دظاهر راتلل اوهمداسي داستفهام په صیغه راوړل چې ﴿ لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ لِيَوْمِ الْفَصْلِ وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ﴾ ترڅو چې ددغي ورځي فظاعت اوهیبت وښیي.

۴- تقریري استفهام چې فرمایې ﴿ أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ ﴾ اوهمداسي ﴿ أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ ﴾.

۵- غیرتام جناس چې د ﴿ مَّهِينٍ ﴾ او ﴿ مَّكِينٍ ﴾ ترمینځ شتون لري

۶- مرسله مجمله تشبیه لکه ﴿ إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ ﴾ اومرسله مفصله تشبیه لکه ﴿ كَأَنَّهُ جِمَالَتٌ صُفْرٌ ﴾ چې راغلي ده.

۷- مقابله چې دابرارو دنعمتونو اودفجارو دعذابونو ترمینځ راغلي لکه دالله تعالی پدې کلام کي ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ چې په مقابل کي یې راځي ﴿ كُلُوا وَتَمَتَّعُوا قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴾.

(۱) البحرالمحیط ۸/ ۴۰۸

۸ – د تهکم اسلوب چي فرمايي ﴿ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَٰثِ شُعَبٍ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ﴾ عذاب ته يې سيوری پردوی باندي د سخريې او استهزاء کولو په توګه وو ايو.

۹ – مرسل مجاز لکه داچي ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرْكَعُواْ لَا يَرْكَعُونَ ﴾ رکوع يې راوړه اولمونځ يې مقصد دی نو دغه اطلاق د جزء او اراده د کل ده يعني کله چي ورته وويل شي لمونځ وکړئ لمونځ نه کوي

۱۰ – د فواصلو توافق چي په وروستني توري کي راغلی دی لکه ﴿ هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴾ ترپايه پوري او دغه ته مرصع سجع وايې چي له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي

د الله په مرسته د المرسلات سورت د تفسير ژباړه بشپړه شوه.

***

د نبأ سورت مکي دی او څلوېښت آيتونه لري

د سورت په وړاندي:

د(عم)سورت چي د نبأ سورت يې هم بولي څکه چي پدې کي د قيامت دورځي مهم خبرچي د بعث اونشور په هکله دی راغلی ، د سورت محور د بعث د عقيدې اثبات دی هغه چي د ډېرځله به مشرکانو ور څخه انکار کاوو.

سورت د قيامت په موضوع پيلېږي او د پاڅېدلو او جزآء خبري هغه چي د مکې د زياتره کافرانو ذهنونه يې مشغول کړي وو آن تردې چي چابه منل او چابه دروغ ګڼل راوړي فرمايي ﴿ عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ او نور آيتونه.

ورپسې د رب العالمين په قدرت باندي دليلونه راوړي څکه هغه ذات چي عجيب او غريب مخلوق يې پيدا کړی نو د انسان له پيدا کېدلو وروسته بيرته ژوندي کول ورته ډېر آسانه دي ﴿ أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا وَخَلَقْنَٰكُمْ أَزْوَٰجًا وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴾ او نور آيتونه

بيا د بعث او پاڅېدلو يادونه کوي وخت او ټاکلي موده يې ښيي چي په دغه ورځ د خلکو ترمينځ فيصلې کېږي او ړومبني او وروستني به ګرد د حساب لپاره راغونډ کړی شي ﴿ إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ كَانَ مِيقَٰتًا يَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴾ د آيتونه ترپايه.

وروسته بيا د هغه دوزخ خبري کوي کوم چي الله جل جلاله د کفارو لپاره تيار کړي دي او ډول ډول عذابونه پکې دي فرمايي ﴿ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابًا لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا ﴾ د آيتونو ترپايه

کله چي د کافرانو خبر واوروي بيا نو د متقيانو پرهېزګارانو خبر راوړي او هغه قسما قسم نعمتونه چي الله جل جلاله تيار کړي بيانوي او دغه شان د قرآنکريم ځانګړی اسلوب دی چي ترغيب او ترهيب سره يو ځای راوړي فرمايي ﴿ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴾ د آيتونو ترپايه.

په پای کي دقيامت دورخي هيبت راخي هلته چي کافربه ددې آرزو او تمناکوي چي کاشکي ورسره حساب او کتاب نه کېدلای او خاوري ايرې وای ﴿ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴾

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ﴿١﴾ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٢﴾ ٱلَّذِى هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴿٣﴾ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٥﴾ أَلَمْ نَجْعَلِ
ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا ﴿٦﴾ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقْنَٰكُمْ أَزْوَٰجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلْنَا
ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلْمُعْصِرَٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾
لِّنُخْرِجَ بِهِۦ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّٰتٍ أَلْفَافًا ﴿١٦﴾ إِنَّ يَوْمَ ٱلْفَصْلِ كَانَ مِيقَٰتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾
وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ أَبْوَٰبًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابًا ﴿٢٢﴾
لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ لَا
يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَىْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ كِتَٰبًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا۟ فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾
إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ
عَطَآءً حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلرَّحْمَٰنِ لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا لَّا
يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ
عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴿٤٠﴾ ﴾ النبأ: ۱ - ٤۰

لغتونه:

(سباتا) (سبت) په لغت کي قطع او غوڅېدلو ته وايي شپې ته ځکه (سبات) ويلی شوي چي هغه هم کار او روزګار قطع کوي (وهاجا) ځلېدونکي پرکېدونکي ته وايي لکه چي عرب وايي (وهجت النار) اور وځلېدو کله چي رڼاشي (ثجاجا) سخت توئېدونکي ته وايي په حديث شريف کي راځي (أفضل الحج العج والثج) ترټولو غوره حج هغه دی چي زياته تلبيه پکي وويله شي او زياته وينه پکي وبهول شي (عج) په تلبيه کي غږ پورته کولو ته وايي او (ثج) دوينو تويولو هدايا وو حلالولو ته وايي (کواعب) دکاعب جمع او هغې ته ويل کېږي چي تی يې راپورته شوی وي (دهاقا) ډک پيمانه لکه چي وايي (أدهقت الکاس) جام مي ډک کړ.

تفسير:

﴿ عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ﴾ له څه شي څخه پوښتنه کوي (کفار) يو له بله يا له مؤمنانو څخه؟) اصل د (عم) عن ما، وو ميم په نون کي مدغم شوی او الف حذف شوی دی (عما) ليکل کېږي (ما) د استفهام توری دی او دلته يو ازي استفهام نه بلکه دچاري لوی والی او عظمت مرادشوی دی، مشرکانو به خپل مينځ کي د

بعث اوپاڅېدلو په هکله يوله بله پوښتل اوبيابه يې استهزآء اوانکارکاوڅکه نوداستفهام په بڼه د امر لوی والی وښودل شوچي اورېدونکوته دمشرکانودحال څخه تعجب ورکړي او ورپسې الله تعالی دغه سترامر داسي توضيح کوي چي﴿ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ﴾ (پوښتنه کوي (کفار) دلويې خبري) يعني له يو ستر اومهم امرڅخه چي بعث اوپاڅېدلو امردي(۱)پوښتنه کوي ﴿ ٱلَّذِى هُمۡ فِيهِ مُخۡتَلِفُونَ ﴾(هغه چي دوی پکي مختلف دي)(۲)يعني هغه چي دوی دهغه په هکله سره يوله بله اختلاف لري څوک يې نه مني ترې انکارکوي دروغ يې ګڼي اوڅوک پکي شکمن دي﴿ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ﴾(ندي کوي دااختلاف)ژربه وپوهېږي) (کلا)دزجرکلمه ده يعني دوی دي له دې و ېرېږي چي دبعث په هکله پوښتني کوي دوی به ژردحال په حقيقت وپوهېږي کله چي قيامت ويني هلته به دوی دخپلو ملنډواواستهزاء ګانو په سزا ورسېږي ﴿ ثُمَّ كَلَّا سَيَعۡلَمُونَ ﴾ بياهيڅکله دي نه کوي پوښتني او اختلاف ژربه وپوهېږي ، دغه دپخواني وعيدتاکيددی معناداچي دوی به ژروپوهېږي چي کوم عذاب وربانديي نازلېږي ؟ بياالله پخپل قدرت باندي ددلائلولوري ته اشاره فرمايې ترڅوپه کفارو باندي د دوی دانکارپه هکله حجت شي اولکه چي وايې هغه الله چي ددې سترومخلوقاتوپه پيدا کولوقادر دی هغه يې په بيرته راپاڅولو اوژوندي کولو هم قادر اوتوانادی فرمايې ﴿ أَلَمۡ نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ مِهَٰدٗا ﴾(آيانده ګرزولي موږځمکه فرش) يعني هغه ځمکه چي تاسو وربانديي اوسی آياموږهغه ستاسي لپاره لکه فرش غوړولي نه ده چي له پراخوديښتو څخه يې د ډول ډول کښتونولپاره کار واخلی؟ ﴿ وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ﴾ اوآياندي ګرزولي موږ غرونه مېخونه ؟ (ترڅو چي ځمکه پرتاسوباندي ونه لړزېږي (۳)بلکه ګرزولي مودي ﴿ وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ﴾ اوپيداکړي موږ تاسي جوړه(نراوښځي)يعني تاسو مونږ او ښځي پيداکړی ياست ترڅودتناسل نظام وپايي اوددغه ځمکني سيارې له مخي دژوندانه ټغرټول نشي ﴿ وَجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتٗا ﴾ اوګرزولی مودی خوب ستاسوقطع دکارونو (راحت) يعني موږستاسوخوب ستاسولپاره دراحت اوهوسايي سبب ګرزولی ترڅودورځي له کارونو آرام اوله کړاوونو څخه وزګارشی ! ﴿ وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِبَاسٗا ﴾ اوګرزولي مو ده شپه لباس يعني هغه مولکه جامه پخپله تاريکي کي نغاړي په التسهيل کي ليکي چي شپه يې څکه له جاموسره تشبيه کړي چي داهم لکه جامه له سترګو څخه پټول کوي (۴)﴿ وَجَعَلۡنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشٗا ﴾ اوګرزولي موده ورځ (طلب دمعاش) يعني ورځ مودمعاش موندلولپاره درته ګرزولي ترڅوتاسو دخپلواړتياووپوره کولولپاره

---

(۱) البحرالمحيط ۴۰۹/۸-القرطبي ۱۸۱/۱۹

(۲) راجح دادی چي مرادله نبأ عظيم څخه بعث اونشوردی څکه چي له دې وروسته دالله دقدرت دلائل راغلي چي دبعث اونشور امکان ښيي اوفرمايې (ألم نجعل الارض مهادا) اونه (۹)څېزونه يادوي چابياويلي چي مرادترې قرآن اونبوت دی خوهغه چي موږ وليکل راجح دي اوابوالسعودغوره کړي ده.

(۳) التسهيل ۱۷۳/۴

(۴) نفس المرجع السابق

پکي ووزی . ابن کثیرلیکي : معناداچي روښانه مو ګرزولي ترڅوچي وکولای شي په تګ راتګ سوداګري اوتجارت کي لګیاشی[١] ﴿ وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴾ اوجوړ کړي مودي په تاسي دپاسه اوه محکم (آسمانونه) (چي داسي ټینګ جوړښت لري چي دوخت په تېرېدلو نه زړېږي دغه مولکه د ځمکي بام غوندي پیدا کړي لکه چي الله فرمايي ﴿ وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا وَهُمْ عَنْ آيَاتِهَا مُعْرِضُونَ ﴾ او یا داچي ﴿ وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴾ ﴿ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴾ اوګرزولي پیدا کړي ده موږ (په آسمان کي) ډېوه روښانه یعني موږ لمرستاسو لپاره په آسمان کي بله ډېوه پیدا کړي چي ځلا او رڼا کوي اوتل ترتله حرارت اوتودوخه تولیدوي مفسرین کرام لیکي چي: (وهاجا) هغه سخت ځلېدونکي ته ویل کېږي چي تودوخه یې اوربلونکي وي اوابن عباس وایې چي (وهاج) ځلاند ته وایې ﴿ وَأَنزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا ﴾ (اونازلي کړي مودي له نښتېځونکیواواورونکواوریځو) څخه اوبه ډېري توئېدونکي پاکي صافي) یعني موږ له هغي وریځي څخه چي د اورښت وخت یې نژدې شوی وي په شېبوشېبواوبه رااورولي دي په التسهیل کي لیکي چي (معصرات) وریځوته وایې ځکه وریځي نچوړ کېږي اوبه ځیني راوزي[٢] باراني وریځ یې له هغي پېغلي سره تشبیه کړي چي دحیض وخت یې نژدې شوی وي ﴿ لِّنُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴾ لپاره ددې چي راوباسو موږ په هغو (اوبو) سره دانې او واښه) یعني ډول ډول غلې دانې مېوې اوبېل بېل واښه وربانديزرغونه کړوچي دانسانانواو حیوانانو دمړښت اوتغذیې لپاره په کار شي ﴿ وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا ﴾ اوباغونه یوله بل سره ګڼ نژدې .(چي ګڼي اوتتي وني ولري اوښاخونه یې یو په بل تاو راتاوشوي وي، دلته الله جل جلاله نه(٩) دلائل دخپل قدرت ذکر کړل اودالکه په بعث اوپاڅېدلو یو ښکاره دلیل غوندي دی ځکه هغه ذات چي داسي کولای شي هغه بیاپه بعث اونشورهم قادردی نوځکه وروسته فرمايي ﴿ إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴾ بېشکه ورځ د فیصلې (په مابین دخلګو کي قیامت) دی وخت (مقررلپاره دحساب په حکم درب ستاچي نه به وروسته اونه به ړومبی شي) ﴿ ذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ وَمَا نُؤَخِّرُهُ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعْدُودٍ ﴾ قرطبي لیکي دې ته دجلاوالي اوبېل والي ورځ وویل شوه ځکه الله جل جلاله پکي خلګ سره بېلوي اووایې د ړومبنیواو وروستنیولپاره میعاد ټاکلی[٣] دی ﴿ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴾ هغه ورځ چي وپو کل شي (دوهم ځل) په شپېلۍ کي نوراځی به تاسي ډلي ډلي (دحساب لپاره وړاندې الله جل جلاله ددغي ورځي دوېرونکواوصافو په هکله فرمايي ﴿ وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴾ (او پرانستل څېري به شي آسمان نوشي به دروازې دروازې) یعني آسمانونه به له هرلوري څېري شي آن تردې چي داسي سوړي اوسوري به پکي پرانستل شي لکه چي دروازې په دېوالونو کي وي دابه ټول دهمدې ورځي له هیبت څخه وي لکه

---

[١] مختصرابن کثیر ٣ / ٥٩٠

[٢] التسهیل ١٩ / ١٧٣

[٣] قرطبي تفسیر ١٩ / ١٧٣

چي الله فرمايي ﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتْ﴾ او دا چي په (فتحت) ماضي صيغه سره يې تعبير کړی ځکه چي دغه
پېښه يقيني کار دی ﴿وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا﴾ (او وران به کړل شي غرونه نو شي به لکه سراب) يعني
غرونه به له بېخه وايستل شي چي کتونکي به ګمان کوي دلته څه شته خو هيڅ به هم نه وي لکه د سراب په
شان چي ليدونکی ګمان کوي تکي شنې او به دي خو هيڅ هم نه وي. طبري ليکي چي غرونه به له بېخه
ايستلو روسته د کتونکو په سترګو لکه ګرد او غبار غونډي اېسي، د سراب (شګي ګل) په شان به وي چي
ليدونکی يې او به ګڼي خو په حقيقت کي هيڅ هم نه وي[1] ﴿إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا﴾ بېشکه دوزخ چي
ځای د انتظار (دی) سرکښانو لره) يعني جهنم به د خپلو مېلمنو داسي انتظار باسي لکه چي انسان خپل
دښمن ته په کمين کي سترګي په لاروي ترڅو ورباندي حمله وکړي مفسرين کرام ليکي چي (مرصاد)
هغه ځای ته وايي چي هلته د دښمن انتظار کاوو شي او جهنم هم د الله د دښمنانو په انتظار وي څو يې په
عذاب خپل اور ته کش کړي ﴿لِّلطَّٰغِينَ مَـَٔابًا﴾ سرکښانو لره د ورتلو ځای دی) يعني هغه
د مجرمينو او سرغړونکو ځای دی ﴿لَّٰبِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا﴾ څنډ کونکي به وي دغه (سرکښان) په هغه (دوزخ)
کي ډېري زمانې (بلکه همېشه به پکي پاتي کېږي ځکه چي د آخرت د پېړيو نهايت او آخر نشته[2]) ربيع
او قتاده وايي چي دغه (احقاب) هغې مودې ته وايي چي انقطاع، تېرېدا او بشپړېدا نلري[2]) ﴿لَّا يَذُوقُونَ
فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا﴾ نه به څکي دغه (سرکښان) په هغه (دوزخ) کي سړه (هوا، او به) او نه د څښلو (يخ
څيز) يعني نه خو به دوی په دوزخ کي يخ والی مومي چي دا تودوخه او ګرمي له مينځه يوسي او نه به
د څښاک څه مومي چي تنده يې ماته کړي ﴿إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا﴾ مګر پرته له ډېرو
تودو او بو او بهېدونکو زوو له وينو سره (هغه چي د دوزخيانو له ټپونو څخه بهېږي) ﴿جَزَآءً وِفَاقًا﴾ جزاء
(ورکوله شي دغو سرکښانو ته) موافقه (له اعمالو د دوی سره) ﴿إِنَّهُمْ كَانُوا۟ لَا يَرْجُونَ حِسَابًا﴾ بېشکه وو
دوی (په دنيا کي) چي نه وېرېدل هيله يې نلرله د حساب) يعني دوی د حساب او جزاء تمه نلرله او د الله په
ملاقات کولو يې ايمان او باور نه وو ځکه الله پدې عادلانه جزاء مجازات کړل ﴿وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا كِذَّابًا﴾
او دروغ يې ګڼل آيتونه زموږ (چي په بعث او نشور يې دلالت کاوو او نور قرآني آيتونه چي دوی يې سخت
تکذيب کاوو ﴿وَكُلَّ شَىْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ كِتَٰبًا﴾ او هر څيز (له طاعته او معصيته) موږ شمېرلي دي هغه په
ليکلو سره (ترڅو ورباندي جزاء ورکړو ﴿فَذُوقُوا۟ فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا﴾ (پس وڅکئ (سزا خپله) چي له

---

(۱) الطبري ۳۰/ ۷

(۲) په آيت شريف کي داسي څه نشته چي د دغي زمانې په ورستي نهايت دلالت وکړي ځکه د عربو په کلام کي حقب په داسي زمانه دلالت کوي چي نهايت نلري او دغه ګواکي له تل ترتله اوسېدلو څخه کنايه ده څوک بيا وايي چي دغه د ګنهګارو مؤمنانو د پاره ده خو دغه خطا خبره ده ځکه چي د کفارو په هکله راغلي پدې دليل چي په ورستني آيتونو کي داسي راځي چي (وكذبوبآياتنا كذابا). قرطبي ۱۹/ ۱۷۵

سره نه زیاتوو موږ پرتاسي پرته له عذابه (د پاسه پر بل عذاب) یعني وڅکئ ای کافرانو موږ به ستاسو په زرازار یو له سره بل څه درزیات نکړو پرته له عذابه. مفسرین کرام لیکي په قرآنکریم کي بل تردې سخت آیت دکفارو په هکله نشته ځکه کله چي هغوی دیو عذاب ددفع کېدلو لپاره خواست او غوښتنه کوي نو هغه سخت عذاب به ورباندي نازل شي، کله چي الله تعالی ددوزخیانو حال وو ایوو رپسي دجنتیانو نیکانو حال داسي بیانوي فرمایي: ﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا﴾ (بېشکه خاص متقیانو لره ځای د خلاصي بري کامیابي دی) یعني په تحقیق سره نیکانو مؤمنانو ته هغوی چي په دنیاکي یې دخپل پروردګار اطاعت کړی وي په جنت کي دبریالیتوب ځای دی او پخپله جنت موندل او له دوزخ څخه ژغورل کېدل لویه کامیابي ده او بیا دغه بری داسي تفسیر کوي ﴿حَدَآئِقَ وَأَعْنَـٰبًا﴾ باغونه (دمېوې) او دانګورو ونې دي یعني داسي باغونه (چي هر ډول ونې او ګلان به پکې وي هر ډول خوندور دانګورو تاکونه به وي کوم چي انساني طبیعت یې غوره ګڼي ﴿وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا﴾ (او پېغلي به وي چي تي یې رابرسېره شوي او سره همزولي به وي په التسهیل کي لیکي چي کواعب دکاعب جمع او هغې پېغلي ته وایې چي تي یې راپورته شوي وي ([1]) ﴿وَكَأْسًا دِهَاقًا﴾ (او وي به دوی ته هلته) پیالې ډکي ترځندو (له سپېڅلي پاکو شرابو چي صفا شوي او چڼل شوي ډک شوي وي ﴿لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا﴾ نه اوري په دغه (جنت کي متقیان) لغوچتي (بېکاره خبري) او نه دروغ (ځکه چي هغه دارالسلام دی او هرڅه چي پکې وي هغه له هرتاوان او بطلان څخه سالم دي ﴿جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا﴾ (جزاء به ورکول شي متقیانو ته) جزا ورکول له ربه ستانه عطا ډېره په حساب داعمالو سره ﴿رَّبِّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلرَّحْمَـٰنِ﴾ چي رب دآسمانونو او (رب) دځمکي او (رب) دهغو شیانو دی چي په مینځ ددغي ځمکي او آسمان کي دي ډېر مهربان دی) یعني دغه جزاء دهغه رحمان ذات له لوري ورکول کېږي چي دهغه رحمت هر څېز ته شامل دی ﴿لَا يَمْلِكُونَ مِنْهُ خِطَابًا﴾ نه به مالکان کېږي (دشفاعت نه به توانېږي خلک) له دغه الله سره دخبرو کولو) یعني هیڅوک به ونه شي کړای هغه ته دعذاب دلیري کولو په هکله څه وو ایي (له جهته دهیبت او جلاله) ﴿يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ صَفًّا﴾ (په هغه ورځي (دقیامت) کي چي ودرېږي روح او د ملائکو صفونه) یعني پدغې ورځي کي چي حضرت جبریل علیه السلام او پرښتې په عاجزي سره ودرېږي ﴿لَّا يَتَكَلَّمُونَ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَـٰنُ وَقَالَ صَوَابًا﴾ نه به کوي خبري (هیڅوک له وېري په باب دشفاعت کي مګر) پرته له هغه چي اذن ورکړی ده ته رحمان (په کلام او شفاعت کولو) او ویلي یې وي ښه خبره (په دنیاکي چي طیبه کلمه :لااله الاالله ده) صاوي لیکي معناداچي ملائکي هغه چي د مخلوقاتو غوره هم دي دشفاعت کولو پرته له حکم او اجازې واک نلري نو نور څوک به یې څرنګه ولري؟ ([2]) ﴿ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ﴾ (دا هغه ورځ ده حقه) یعني

([1]) التسهیل ۴/ ۱۷۴

([2]) په جلالین باندي دصاوي حاشیه ۴/ ۲۸۲

دغه ورځ يقيني راتلونکي ده ﴿ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴾ پس هرهغه چي اراده وکړي نيسي طرف درب خپل ته مرجع (ځای دورتلوپه دې کي دنيک عمل کولو لپاره هڅونه ده يعني نوودي نيسي ترڅوچي له عذابه وژغورل شي) ﴿ إِنَّآ أَنذَرْنَـٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا ﴾ بېشکه موږچي يووېروو موږ تاسي (ای کفارو) له يوعذاب راتلونکي نژدې څخه (چي د آخرت عذاب دی) دغه دقريشوکفارولپاره خطاب دی هغوی چي دبعث اونشورڅخه منکر وواو عذاب چي يې نژدې وبالوځکه هر راتلونکی نژدې دی ﴿ يَوْمَ يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ ﴾ (هغه ورځ چي وبه ويني هرسړی هرهغه څه چي په مخکي يې لېږلي دي دواړولاسونوده) يعني هغه ورځ چي هر انسان به دخپل خيراوشردکارونوپخپلواعمالناموکي ليکلي اوثبت شوي وګوري لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرًا ﴾ (الکهف۴۹) ﴿ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَـٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًا ﴾ اوواييي به کافر(په ورځ دقيامت کي) کاشکي چي زه خاوري وای يعني کافربه آرزولري چي کاشکي زه هډومکلف نه وای پيدا شوی ترڅوراسره حساب نه کېدای اوراته عذاب نه وای مفسرين کرام ليکي: داهغه وخت کله چي الله تعالی ،حيوانات راپاڅوي اوښکرلرونکي له بې ښکروڅخه کسات واخلي اوبياخاوري شي نوکافر هيله کوي کاشکي دی هم دهغوڅارويوپه څېروای ترڅوعذاب نه ورکول کېدای.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کوم صنائع اوښکلاوي شته لندېزيې په لاندي ډول دی:

۱ – داطناب صنعت چي دجملې په تکرارسره راغلی اوتهديدوعيدترې څرګندېږي لکه ﴿ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴾.

۲ – ايجازچي دفعل په حذف کولوترسره شوی ځکه لومړنۍ کلمه وروباندي دلالت کوي لکه:

﴿ عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ يعني (يتساءلون عن النباء العظيم).

۳ – بليغه تشبيه لکه ﴿ أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَـٰدًا وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴾ چي بشپړکلام داچي :(وجعلنا الارض کالمهادالذي يفترشه النائم) يعني ځمکه مي لکه فرش غوندي درته غوړولي چي خوب کونکي يې ورباندي پرېوزي (څملي) اوغرونه مي لکه مېخونه غوندي ورباندي وهلي چي ځمکه آرام ومومي دلته دتشبيه ادات اوتوری حذف شوی دی همدارنګه دتشبيه وجه نه ده ذکرشوي ځکه يې بليغه تشبيه ګڼو همدارنګه په ﴿ وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا ﴾ کي هم دتشبيه ادات حذف شوی معناداچي شپه يې دلباس په ډول ګرزولي لکه چي په لباس (جامه) کي سړی پټېږي همداسي په شپه کي پټېږي.

۴ – لطيفه مقابله کله چي فرمايي ﴿ وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِبَاسًا وَجَعَلْنَا ٱلنَّهَارَ مَعَاشًا ﴾ دلته دشپې اوورځي تقابل اوهمدارنګه داستراحت اوکارمقابله ده چي له بديعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي

۵- بليغه تشبيه پدې كلام كې ﴿ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴾ يعني لكه دروازې غوندې دلته بياد تشبيه توري اووجه شباهت حذف شوي ده چې بليغه تشبيه يې بولي.

۶- داهانت اوتحقيراسلوب لكه چې فرمايي ﴿ فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴾ همدارنګه پدې ويناكې له غياب څخه خطاب ته التفات هم راغلى دى.

۷- دطباق صنعت چې ﴿ بَرْدًا ....حَمِيمًا ﴾ ترمينځ راغلى دى.

۸- له خاص نه وروسته دعام يادونه لكه چې پدې آيت شريف كې فرمايي ﴿ يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ وَالْمَلَٰٓئِكَةُ.. ﴾ مرادله روح څخه حضرت جبريل عليه السلام دى چې په ملكوكې داخل دى اوګواكې دوه خلې ذكرشوى يوه پلاد ملائكوپه ضمن كې اوبل ځل يوازې اودايادونه دحضرت جبريل عليه السلام دقدردلوړوالي اوتعظيم په هكله تنبيه ده.

۹- مرصع سجع لكه ﴿ أَلْفَافًا، أَفْوَاجًا، أَبْوَابًا، مَآبًا، أَحْقَابًا ﴾ اوداهم دبديع دعلم له محسناتوڅخه ګڼل كيږي

دالله جل جلاله په مرسته دسورة النبأ دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

دالنازعات سورت مكي دى اوشپږڅلويښت آيتونه لري

دسورت په وړاندې:

دالنازعات سورت مكي دى اودنورو مكي سورتونوپه شان دعقيدې په اصولولكه وحدانيت، رسالت اوبعث اوجزاء غربيږي دسورت محوردقيامت ورځ اودهغې كړاوونه دي اوپه ترځ كې يې دمتقينواومجرمينووروستنى هستوګنځى بيانيږي.

دسورت لومړنى پيل دالله په هغه لوړه كيږي چې دپرښتوپه نوم يې كوي هغه پرښتې چې د مسلمانانوارواح په لطف اونرمې سره قبض كوي اواخلي اودكفاروګنهګاروپه سختې اوغلظت سره او هغوى چې دخلګودكارونوتدبيردالله جل جلاله په حكم ترسره كوي فرمايي: ﴿ وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرْقًا ۝١ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشْطًا ۝٢ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبْحًا ۝٣ فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبْقًا ۝٤ فَٱلْمُدَبِّرَٰتِ أَمْرًا ﴾ دآيتونوترپايه پورې

بيادمشركينواوهغوكسانوچې له قيامت اوپاڅېدلومنكروي حال بيانوي چې ﴿ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ۝٨ أَبْصَٰرُهَا خَٰشِعَةٌ ۝٩ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِى ٱلْحَافِرَةِ ۝١٠ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا نَّخِرَةً ﴾ دآيتونوترپايه

وروسته دمكې دخلګوهغه سرغړونه اوطغيان بيانوي كوم چې درسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندې يې درلوداودوى ته وروپه يادوي چې تاسو دالله دپرناتوانه مخلوق ياست فرمايي ﴿ ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ ۚ بَنَىٰهَا ۝٢٧ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ۝٢٨ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ﴾ دآيتونوترپايه.

بالآخره دامبارک سورت دقیامت دوخت بیان کوي هغه قیامت چي مشرکانو دروغ ګڼلو او ځیني منکروو یا یې ببخي لیري بالوفرمایي ﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴾.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشْطًا ﴿٢﴾ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبْحًا ﴿٣﴾ فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبْقًا ﴿٤﴾ فَٱلْمُدَبِّرَٰتِ أَمْرًا ﴿٥﴾ يَوْمَ
تَرْجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَٰرُهَا خَٰشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِى
ٱلْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا۟ تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِىَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ
﴿١٤﴾ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذْ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ
﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَرَىٰهُ ٱلْءَايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ
أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْءَاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴿٢٥﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ﴿٢٦﴾ ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ بَنَىٰهَا ﴿٢٧﴾ رَفَعَ
سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴿٣١﴾
وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا ﴿٣٢﴾ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٣﴾ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ
ٱلْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلْجَحِيمَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى
ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ
مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾ ﴾ النازعات: ۱ ـ ۴۶

لغتونه:

(واجفة) وېرېدونکي اولړزېدونکي (وجف القلب وجیفا) زړه ولړزېدو په لړزېدلو کله چي وو ېرېږي له سختي څخه په لړزېدو شي (الحافرة) پخواني حال ته رجوع او ګرزېدلو ته وايي (رجع فلان الى حافرته) یعني بیرته هغه ځای ته ستون شو چي ترې راغلی وو (الساهرة) مخ د ځمکي عرب د ځمکي مخ او ېېديا ته ساهره وايي څکه خلګ ورباندي بیداري تېروي (سمكها) سمک لوړتیا او چتوالي ته وايي او کله چي وویل شي (بناء مسموک) معنايې لوړه ماڼۍ ده (أغطش) یعني تاریکه کړه (دحاها) هغه يې وغوړوله ، هواره يې کړه (الطامة) هغه لوی آفت چي څوک يې دزغملو توان نلري لکه چي شاعر وايي:

(ان بعض الحب یعمي ویصم* وکذاک البغض أدهی وأطم یعني ځیني میني سړی ړوند او کوڼ کړي همدا رنګه کرکه او بغض لويه بلاده.

تفسیر:

﴿ وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرۡقٗا ﴾ قسم دی په (ملائکو) سختووښکونکیو(ارواحودکفارولره) سخت وښکل ﴿ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشۡطٗا ﴾ اوقسم دی (په ملائکو) آسان وښکونکیو(ارواحودمؤمنانولره) آسان وښکل. ابن مسعودرضی الله عنه وايي چي ملک الموت اودهغه مرستندويان دکافرروح داسي کاږي لکه چي اغزن سيخ له لمدووړيوڅخه راباسي نودکافرروح داسي راوزي لکه چي په اوبوکي ورپسي ډوبيږي اودمؤمن بيلااسانه کاږي(۱)ابن کثيروايي: الله جل جلاله په ملائکولوړه کوي کله چي دبني آدم روح کاږي ځيني داسي بنيادمان دي چي روح يي په ډېرتکليف راايستل کيږي اوپه راښکلوپسي يي غوپه کيږي اوځيني بياداسي دي چي روح يي آسانه قبض کوي اولکه چي بنديي پرانيزي(۲) ﴿ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبۡحٗا ﴾ اوقسم دی په تېزوغوټه وهونکودملائکو په تعميل داحکامودالله) تېزغوټه وهل. هغه چي دالله په امر اووحی له آسمانه راکوزېږي اولکه چي په اوبوکي غوټه کيږي ﴿ فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبۡقٗا ﴾ اوقسم دی په وړاندي کېدونکي ملائکوباندي وړاندي کېدل (په ارواحانود مؤمنانوجنت ته) ﴿ فَٱلۡمُدَبِّرَٰتِ أَمۡرٗا ﴾ پس (قسم دی) په تدبيرجوړونکو(ملائکو) دحکم دالله (يعني دلوی الله په امر (بادونو، بارانونو، روزي (ارزاقو) اوعمرونوسرپرستي کوي الله په پنځوپورتنيوډولونولوړه کوي چي قيامت حق دی ځواب دقسم محذوف شوی چي هغه داچي (لتبعثن ولتحاسبن) يعني خامخابه را پاځول شي اوهرومروبه درسره حساب وشي په دغه ځواب باندي دالله جل جلاله داويناډليل کېدای شي چي فرمايي ﴿ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ تَتۡبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ﴾ هغه ورځ چي ولړزيږي لړزېدونکي (کله چي لومړی شپېلۍ پوکړی شي) پس راځي وروسته له دې نه هغه وروسته راتلونکي (چي دوهمه شپېلۍ ده ابن عباس رضی الله عنهما وايي (راجفة)او(رادفة) دواړه نفخوته وايي لومړی به ګردشيان دالله جل جلاله په حکم ووژني او دوهمه به ټول دالله په حکم راژوندي کاندي(۳)ورپسي الله ددروغجن ګڼونکوحال بيانوي چي دوی به هلته په څومره تکليفونواخته وي؟ فرمايي: ﴿ قُلُوبٞ يَوۡمَئِذٖ وَاجِفَةٌ ﴾ زړونه (دمنکرانو دبعث) په هغې ورځي کي به بېقراره رپېدونکي وي ﴿ أَبۡصَٰرُهَا خَٰشِعَةٞ ﴾ سترګي دهغوی به سپکي ذليلي وي (له وېري څخه ځکه دوی به دقيامت کړاوونه ويني ﴿ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرۡدُودُونَ فِي ٱلۡحَافِرَةِ ﴾ (وايي به دغه (منکران په ملنډو) آياموبه بياوګرزولی شوپه ړومبني حالت (بيابه ژوندي کيږو؟ قرطبي ليکي کله چي به دوی ته ويل شول چي تاسوبه بياراژوندي کيږی هغوی به له تعجب سره جوخت داسي انکارکاوو ويل به يې آيا بيابه دلومړي ځل په شان راژوندي کيږو؟ او عرب وايي (رجع فلان في حافرته) يعني فلانی سړی له کومه چي

---

(۱) الخازن ۴ /۲۰۴
(۲) مختصرابن کثير۳ /۵۹۵
(۳) قرطبي ۱۹ /۱۹۳

راغلی وو په همغه لاره(١) ﴿ أَءِذَا كُنَّا عِظَـٰمًا نَّخِرَةً ﴾ آيا کله چي موږ و ګرزو هډوکي رژېدونکي زاړه (نو بيا به هم ژوندي کېږو؟) ﴿ قَالُوا۟ تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴾ (وويل (منکرانو) تمسخرًا) دغه (ګرزېدل زموږ ژوندته) په هغه وخت کي ګرزېدل زيانمن دي) يعني که چېري راپاڅېدل حق وي او موږ راپاڅېږو نو دغه ګرزېدل تاواني دی ځکه موږ به هله دوزخيان يو ﴿ فَإِنَّمَا هِىَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴾ پس بېشکه دا نفخه ثانيه خو يو کل يو دی (د برآسان چي ګرد خلګ پرې ژوندي کېږي ﴿ فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ﴾ پس ناڅاپه وي به دغه (خلګ ټول) په مخ د ځمکي (وروسته له هغه چي په ګېډه د ځمکي کي وو وروپسې الله جل جلاله د موسی عليه السلام کيسه چي فرعون ته يې وراستولی وويادوي ترڅو د رسول الله صلی الله عليه وسلم لپاره تسلا او ډاډينه وي او د قوم لپاره يې تخويف او وېرونه وی معنا پردوی به هم هغه څه راځي کوم چي د فرعون سرکښ او دروغ ګڼونکي قوم په سر راغلل ﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴾ آيا راغلي ده (تا ته (ای محمده! بلکه بېشکه رسېدلي ده تا ته ای محمده) خبره د موسی (دغه د ترغيب او تشويق اسلوب دی يعني آيا تا ته د موسی کليم الله خبره رسېدلي ده؟ ﴿ إِذْ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ﴾ کله چي ورغږ کړ دغه (موسی) ته رب د ده په پاکه کنده ميدان د طوی کي (طوی د طورسينا په وروستۍ برخه کي ده) ﴿ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴾ لاړ شه (په رسالت زما) طرف د فرعون ته چي بېشکه ده سرغړولی (تجاوزيې کړی او ظلم طغيان يې له حده وتلی دی) ﴿ فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴾ نو ورته ووايه آيا ته مينه لري په طرف ددې چي پاک شې (له شرک او معاصي نه) ﴿ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴾ (او رغبت لرې دې ته چي) لاره دروښيم تا ته طرف د رب ستا ته پس ووېرېږې ته (له عذابه؟ زمخشري وايي وېره يې ځکه ياده کړه ځکه د هرشي دارومدار په هغې ده او ځوک چي له الله څخه ووېرېږي هغه ګرد د خير کارونه کوي، او په کلام کي نرمښت ددې لپاره راغلی چي ورته وړانديز کوي لکه چي څوک مېلمانه ته وايې آيا ته غواړې چي له موږ سره پاتي شې؟ هله يې پسته او نرمه ژبه استعمال کړه ترڅو چي له سرغړوني او طغيان څخه يې راوګرزوي لکه چي الله ورته فرمايي ﴿ فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا لَّيِّنًا ﴾(٢) ﴿ فَأَرَىٰهُ ٱلْـَٔايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴾ پس وښود له (موسی فرعون ته) معجزه لويه) دلته په کلام کي حذف راغلی يعني موسی عليه السلام هغه ته ورغی او ورسره يې خبري اتري وشوې بلنه يې ورکړه او کله چي يې له ايمان راوړلو څخه سروغړاوونو يې ستره معجزه ورښکاره کړه چي هغه دده لکړه وه کومه چي (د موسی عليه السلام په غوښتنه) په ښامارځيني جوړشو. ابن عباس رضی الله عنه وايي چي لويه معجزه له لکړي څخه عبارت دی ﴿ فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴾ پس تکذيب وکړ (فرعون د موسی) او وويې نه مانه (که څه هم چي معجزه يې وليده له مګر بيا يې هم د الله جل جلاله له امر څخه سروغړاوو) ﴿ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴾ بيا يې شاکړه

(١) قرطبي ١٩/١٩٣

(٢) الکشاف ٤/٦٩٥

لاړ په ډېره بيړه سره (له ښامارښخه وويرېدو) ﴿ فَحَشَرَ فَنَادَىٰ ﴾ پس (فرعون ګرد ساحران) راټول کړل پس غږيې وکړ ﴿ فَقَالَ أَنَا رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ بيايې وويل زه ستاسي ډېرلوی اولوړپالونکی يم (دغه يې په لوړآوازوويل) ﴿ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْآخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴾ (پس ونيو دغه (فرعون لره) الله په عذاب (دحرق) دآخرت او(په عذاب دغرق) ددنيا) يا الله جل جلاله ونيوفرعون په عذاب دوروستی کلمې چي داده ﴿ أَنَا رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ اولومړی کلمې لومړی کلمه يې داده چي ويل يې ﴿ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي ﴾ (۱) ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ﴾ بېشکه پدې (کيسه دفرعون) کي خامخاعبرت دی هغه چالره چي (له الله) وېرېږي (کله چي دفرعون دکيسې بيانول پای ته ورسېدل نو بيرته دهغوکسانوچي د محشر اوقيامت څخه منکرقريش دي خطاب ته راګرزي اودخپل قدرت لوري ته يې متوجه کوي د خپل عظمت اوجلال مظاهروربښيي فرمايي ﴿ ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ ﴾ آيا تاسي ډېرسخت ياست د پيدا ښت له امله که آسمان؟ جوړکړی دی (الله) دغه (آسمان) دااستفهام د توبيخ اوترټني لپاره دی يعني هغه ذات چي آسمان يې سره له دومره لوی والي پورته کړی نو ستاسو بيرته راژوندي کول هغه ته آسانه دي بياولي له قيامت څخه منکرياست؟ امام رازي ليکي دوی يې د مشاهدې له مخي متوجه کړل څکه دانسان پيدا ښت سره له دې چي کوچنی اوضعيف دی نسبتا هغه آسمان ته چي ډېرلوی لوړاوچت اوټول احوال يې خوراسترددي ډېرآسانه دي نوبياولي دوی انکار کوي؟ (۲) لکه چي الله تعالی فرمايي: ﴿ لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ ﴾ يعني خامخاد آسمانونوپيدا ښت دخلګوتر پيدا ښت زيات ستردی ﴿ بَنَىٰهَا ﴾ جوړکړی دی (الله) دغه (آسمان) يعني داسي يې اوچت کړی دی چي ستني نلري اوخورامحکم دی بيايې دزياتي توضيح لپاره وفرمايل ﴿ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴾ پورته کړی دی (الله) چت لوړوالی دهغه (آسمان) نوسم صاف بې عيبه يې کړ(چي هيڅ تفاوت پکي نه ښکاري اونه پکي درزونه اوسوري شته ابن کثيرليکي: معناداچي آسمان يې لوړاوليري جوړکړټول يې داسي تياراوبرابرکړچي په شپه کي په ستوروځلېدونکی وي (۳) ﴿ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ﴾ توره تياره يې کړه شپه ددغه (آسمان) اوراويې ايسته ورځ رڼاددغه (آسمان) (۴) ﴿ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴾ اوځمکه وروسته له دغه (پيدا ښت د آسمان) صافه وغوړوله (الله) دا (ځمکه اوداوسېدونکولپاره يې چمتو کړه ﴿ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴾ راايستلي دي (الله) له دغي (ځمکي) اوبه ددې اوورشوددې) يعني له ځمکي څخه يې بهېدونکي اوبه

(۱) داابن عباس مجاهداوعکرمة وينا ده ابن عباس رضی الله عنه وايي چي دده ددغه دوونارواکلموترمينځ څلوېښت کاله موده وه چي الله ورته مهلت ورکړی وواوبيايې هلاک کړ.
(۲) کبيرتفسير ۴۳/۳۱
(۳) مختصرابن کثير ۵۹۲/۳
(۴) کبيرتفسيرپخوانی مخ.

راایستلي ، رودونه یې ترې روان کړي اوبیایې خوراکي توکي اودڅارویولپاره ورشو، واښه ترې رازرغون کړي دي ﴿ وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا ﴾ اوغرونه (په مخ دځمکي) ودرول ثابت محکم کړل(الله)هغه (غرونه چي ځمکه له لړزېدلوڅخه ژغوري) ﴿ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴾ لپاره دنفعي ستاسي اولپاره دنفعي دڅارپایانو ستاسي) یعني دغه هرڅه یې کړي چینې یې بهولي اورودونه یې جاري کړي، کښتونه اووني یې شنې کړي دغه ګرد د انسانانو دمنفعت اومصلحت لپاره اوداچي ددوی دڅارویوشومه ورڅخه ترلاسه کېږي امام رازي لیکي چي مرادله (مرعاها)څخه ګردهغه څه دي چي انسانان اوحیوانات یې خوري اوداپدې دلیل چي الله فرمایي ﴿ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴾ وګوره چي څرنګه یې پدې کلام چي ﴿ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴾ په ټولو ځمکنیو استخراجاتو دلیل راوړی چي هغه دانسانانو اوڅارویولپاره غذاء دي چي هغه واښه، وني ، مېوې ، دانې، وچ ، لامده ، جامې اودواء آن تردې چي اوراومالګه هم له دغي ځمکي څخه لاس ته راځي مالګه له اوبوڅخه اورله ونولرګیوڅخه ترلاسه کېږي[1]... کله چي الله تعالی دآسمانونو او ځمکي دپیدا ایښت یادونه وکړه اوپه هغې کي دخلق اوتکوین عجائبات یې بیان کړل ترڅوپه عقلي توګه دحشرپه راتلوددلیل نیولو امکان وښیي نووروسته له هغه نه یې دهغې واقعې پېښېدل داسي بیان کړل ﴿ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ ٱلْكُبْرَىٰ ﴾ پس کله چي راشي آفت بلالویه دقیامت چي ټول څېزونه یې په هول هیبت کي اخته کېږي اوپه ګردوبرونکوپېښو اوحوادثوسترلولړدي ابن عباس رضی الله عنه وایې چي (طامة) قیامت ته ویلی شي ځکه هغه په ټولو آفتونوسترلولړدی ﴿ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴾ په هغه ورځ به یادکړي انسانان هغه څه چي کړي یې دي (له خیراوشر څخه په خپله اعمالنامه کي به یې لیکلي ومومي) ﴿ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ ﴾ او څرګندبه کړی شي دوزخ هرهغه چاته چيویني یې (یعني ټول بینااولیدونکي به یې په څرګنده ووینې، وروسته له دې چي دقیامت اودهغه دوېرې او ترهې حال یې بیان کړوریسې دخلګوبېش بد مرغه اونېکمرغه ته کوي فرمایې ﴿ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ وَءَاثَرَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴾ پس هرهغه چي سرکشي یې کړې وي (په کفرسره) اوغوره کړی یې وي ژوندددنیا(په آخرت باندي) هغه چي پخپلو خواهشاتو اوشهواتو کي غوپه شوی وي دآخرت لپاره یې دښو اعمالوهیڅ توښه هم نه وي تیاره کړې ﴿ فَإِنَّ ٱلْجَحِيمَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴾ پس بېشکه دوزخ همدا(دوزخ دده) دهستوګني ځای دی (بل ځای به ونلري) ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ ﴾ اوهرهغه څوک چي وېرېږي له درېدلو(په مخ د)رب خپل کي (چي په مبدأاومعادایمان لري اوله دې څخه وېرېږي چي ورسره حساب به کاوه شي ﴿ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴾ اومنع کړی یې وي ځان له خواهشاتوبدوغوښتنوڅخه ﴿ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴾

---

[1] کبیر تفسیر ۳۱/ ۴۹

نو بېشکه جنت همدا (جنت دده) دهستوګني ځای دی (بل ځای نلري(۱))له دې وروسته الله جل جلاله ددروغ ګڼونکو دريز بيانوي هغوی چې دقيامت راتلل به يې ملنډې ګڼلې نو الله فرمايي: ﴿ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا ﴾ پوښتنه کوي له تاڅخه (ای محمده !) دقيامت په هکله چې کله به وي وقوع دهغه (قيامت)؟ مفسرين کرام ليکي چې مشرکينو به دقيامت خبري اورېدې چې په درنو هيبت ناکونومونو به ستايل کېدو مثلا (طآمة) (صاخة) او (قارعة) نو به دوی داستهزآء او ملنډو په توګه ويل: الله به دغه قيامت کله راولي؟ او کله به قيامت واقع کېږي؟ نو دغه آيت شريف نازل شو ﴿ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴾ په څه کې يې ته (ستاڅه کار دی) له ذکره پوهېدلو دهغه څخه؟ (يعني تالره علم نشته چې دوی ته يې وروښيې ځکه دا هسې غيب دی چې الله دځان لپاره غوره کړی بل هيڅوک ورباندې خبردار نه دی نو دوی ولې په اصرار سره له تاڅخه پدې هکله پوښتني کوي؟ ﴿ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴾ خاص رب ستا ته ده انتهاء ددغه علم (چې بل هيڅوک ورباندې علم نلري) ﴿ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ مَن يَخْشَىٰهَا ﴾ (بېشکه ته (ای محمده !) وېرونکی يې دهغه چاچې وېرېږي له (عذاب د) هغه (قيامت) نه) يعني ستا واجب يوازې دهغه چا وېرول دي څوک چې له قيامت څخه وېرېږي او دوی يې ځکه ځانګړي ياد کړل چې دوی ته وېرونه ګټه رسوي، نو ستا دا کار نه دی چې تاکلی وخت يې وروښيې چې کله به وي؟ ﴿ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴾ ګواکې دغه (منکران) په هغې ورځې کې چې ويني دغه (قيامت نو داسې به ګڼي) لکه چې نه يې وي کړی ځنډ (په دنيا يا قبرونو کې) مګر (په قدرد) ماښام آخر دورځې يا په قدرد څاښت) ابن کثير ليکي چې دوی به ددنيا ژوند دومره لنډ او کوتاه ګڼي لکه دورځې ماښام يا څاښت غوندي.

الله جل جلاله دغه مبارک سورت هم په هغه څه بشپړ کړی په کوم چې په پيل کې يې ورباندې قسم اخيستی وو چې هغه دقيامت راتلل وو او دغه دکلام ښه تنسيق او اوبدل دی.

بلاغت:

پدې سورت کې چې دبديع او بيان کومې ښکلاوې شته لنډيزيې په لاندې ډول دی:

۱- دطباق صنعت چې د ﴿ ٱلْـَٔاخِرَةِ ﴾ او ﴿ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴾ په کلماتو کې راغلی هلته چې الله تعالی فرمايي ﴿ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْـَٔاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ ﴾ ځکه مراد ورڅخه دفرعون هغه دوې نيمه خواکلمې دي چې لومړی او ورستی ويلي شوي او همدارنګه د ﴿ عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴾ په کلام کې دغه صنعت ليدل کېږي.

(۱) دغه آيتونه دانسان دځان پېژندلو لپاره يې ساری معيار او ميزان دی تر څو انسان خپل ځان وپېژني چې آيا جنتي دی او که دوزخي؟ نېکمرغه دی او که بدمرغه؟ هغه څوک چې سرکشي کوي دنيوي ملذات او شهوتونه دالله په طاعت او ثواب لوړ او غوره بولي هغه به دوزخ ته درومي او څوک چې دالله عبادت او پرهېزګاري کوي او نفس له خواهشاتو راګرزوي هغه دجنت مستحق دی تل تر تله به په جنت کې وي انسان ته ښايي په دغه تله ځان وتلي

۲ - جناس چي د الله تعالی پدې کلام کې راغلی ﴿ تَرْجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ ﴾ او دې ته اشتقاقي جناس وايي.

۳ - د مقابلې صنعت هلته چي الله تعالی فرمايي ﴿ ٱلسَّمَآءُ بَنَىٰهَا ﴾ او دا چي ﴿ وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴾ او همدا رنګه د دې کلام چي ﴿ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ وَءَاثَرَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴾ او د دې ترمينځ چي ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ ﴾ چي راغلي دي.

۴ - د تشويق اسلوب چي فرمايي ﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴾ ځکه پدې اسلوب سره د کيسې د پوهېدلو لپاره تشويق افاده کېږي.

۵ - د طباق صنعت چي د جنت او دوزخ ترمينځ او يا هم د ځمکي او آسمان ترمينځ په آيتونو کي شتون لري.

۶ - مرسله او مجمله تشبيه کله چي فرمايي ﴿ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴾.

۷ - تصريحي استعاره پدې کلام کي ﴿ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴾ دلته يې د انسانانو خوراک ته هم ورشوويلي ځکه انسانان او حيوانات له وښو او نباتاتو څخه خوراک کوي او دغه باريکه استعاره ده.

۸ - د فواصلو توافق چي مرصع سجع ګڼل کېږي لکه ﴿ ضُحَىٰهَا، دَحَىٰهَآ ، وَمَرْعَىٰهَا ﴾ او نور چي دا هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي

د الله جل جلاله په مرسته د (النازعات) سورت د تفسير ژباړه بشپړه شوه .

***

دعبس سورت مكي او دوه څلويښت آيتونه لري

دسورت په وړاندي

دعبس سورت له مكي سورتونو څخه يو دى اوپكي دعقيدې اورسالت په هكله رڼاچول كيږي، همداسي دالله جل جلاله دقدرت په اړه چي څرنګه يې انسان،نبات اوخوراكي توكي پيداكړي دي، همدارازدقيامت دورځي اودهغي دهيښووونكواوهيبت لرونكوشېبو څخه غږيږي.

پدې سورت كي ديوه مبارك ړانده صحابي حضرت عبدالله ابن أم مكتوم رضى الله عنه كيسه بيان شوي ده هغه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغى اوورته ويل يې ماته هغه څه رازده كړه كوم چي الله تاته ښودلي دي خورسول الله صلى الله عليه وسلم دقريشوله مشرانواواعيانوسره په خبرو اترولګياووهغوى ته يې داسلام راوړلوبلنه وركوله اودنوموړو اصحابي په باربارغوښتنه يې تندى تريوكړاومخ يې تري واړاووداووچي قرآنكريم دعتاب په توګه نازل شوويې فرمايل ﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴾دآيتونوتر پايه.

بياوروسته دالله په ډېرونعمتونوباندي دانسان كفراوانكاربيانوي فرمايي ﴿ قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ مِنْ أَىِّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴾دآيتونوتر پايه پوري.

وروسته دالله جل جلاله دقدرت دلائل بيانېږي چي څرنګه يې انسان ته هغه لاري چاري آسانه كړي چي پدې ځمكه كي واوسي نوارشادكوي چي ﴿ فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا وَعِنَبًا وَقَضْبًا وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴾دآيتونوترپايه پوري

په پاى كي دغه مبارك سورت دقيامت دورځي كړاوونه چي هلته به خپلوان له خپلوانو څخه تښتي اوهمدارازدمؤمنانواوكفاروحال بيانوي فرمايي ﴿ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴾.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١﴾ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ ﴿٤﴾ أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ﴿٥﴾
فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴿٦﴾ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخْشَىٰ ﴿٩﴾ فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ﴿١٠﴾ كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾
فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾ فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ﴿١٣﴾ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ ﴿١٤﴾ بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾ قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ ﴿١٧﴾ مِنْ أَىِّ
شَىْءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴿١٩﴾ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ
أَمَرَهُۥ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ﴿٢٤﴾ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا

﴿ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَٰكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٢﴾ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾ ﴾ عبس: ۱ - ۴۲

لغتونه:

(عبس) وچويلی يې تريو کړ (تصدى) هغه ته قصد کوې اوخبره يې اورې (سفرة) کرام الکاتبين کومې پرښتې چې د خلګو اعمال ليکي د (سافر) جمع دی لکه چې (کتبة) د کاتب جمع راځي (أقبره) په قبرکې يې کېښود، ده لره (قضبا) ترکاري هرهغه څه چې له نباتاتوپرې کول کېږي اوتنه يې بيرته را زرغونېږي لکه شفتله، ګندنا اونور (غلبا) هغه ګڼې ډېرې ونې چې ښاخونه يې يوتربل تېراوبيروې (أبا) ورشوهغه واښه چې حيوانات يې وچ اولامده خوري (صاخة) هغه درنه سخته چيغه چې غوږونه يې په اورېدلو کاڼه شي (مسفرة) ځلېدونکې پرکېدونکې (غبرة) په دوړوککړلو غړن ګردجن (قترة) تک تور.

دنزول سبب:

روايت کېږي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دقريشوله مشرانوسره ددعوت اوبلنې په هکله مشغول ووهيله يې درلوده څوهغوی مسلمانان شي بيا ورپسې ددوی اتباع هم ايمان راوړي چې پدې ترڅ کې عبدالله بن أم مکتوم رضی الله عنه چې په سترګوړوندووراغی اورسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې ويل: هغه څه رازده کړه چې تاته الله درزده کړي دي اوداخبره يې څوځله تکرارکړه هغه ﷺ پدې نه ووخبرچې رسول الله صلى الله عليه وسلم دقريشوپه دعوت بوخت دی نورسول الله صلى الله عليه وسلم داخبره ښه نه ګڼله چې خبرې يې غوڅې شي تندی يې تريو اومخ يې ځينې واړاوو اوپه زړه کې يې وروګرزېدل چې دغه کسان به وايي چې: پلويان يې مريان، ړانده اودټيټ پوړخلګ دي نوبې بياله قريشي مشرانوسره په خبروپيل وکړ چې داآيت نازل شو ﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ﴾ دآيتونوترپايه

تفسير:

﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ﴾ وچولی (تندی) يې تريو کړ (محمد) اومخ يې وګرزاووله دې امله چې ده ته ړوندراغی (چې دده نبي چاروپوښتنې يې کولې) صاوي وايي چې دغياب په ضمائرويې يادکړچې:

﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴾ داپه رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې تلطف اومهرباني ده اودهغه داجلال او عظمت څرګندويه ده ځکه په خطاب کې شدت اوصعوبت وي اود (أعمى) نوم عبدالله بن أم مکتوم دی) کله چې دغه آيتونه نازل شول نوبيا چې به رسول الله صلى الله عليه وسلم نوموړی صحابي ﷺ وليدورته ويل به يې هرکله دې راشي هغه څوک چې الله تعالی زه دده په هکله ترعتاب لاندې کړم اوهله به يې څادر ورته ويرکړ[1] ﴿ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴾ اوڅه شي پوه کړی يې ته (ای محمده له حاله دده) ښايي چې هغه (ړوند)

---

[1] حاشية الصاوي على الجلالين ۴/۲۹۱

به پاک شي (په تعلیم ستاله ګناهونو څخه) ﴿أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ﴾ یا به پند واخلي پس نفع به ورسوي ده ته ذکر پند ﴿أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ﴾ او هغه څوک چي (مستغني دی) استغنایي کړي وي (د هدایت پروانه کوي ځکه چي بډای او مالدار دی) ﴿فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ﴾ نو ته هغه ته قصد کوې (او د هغه خبري اوري او د بلني یې زیات اهتمام کوې) ﴿وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ﴾ او نشته پر تا باندي هیڅ الزام چي هغه پاک نشي، په اسلام سره له کفر او عصیانه ،ځکه له تا د هغه د هدایت غوښتنه نه ده شوي پر تا باندي یوازي تبلیغ او رسول دی.
الوسي لیکي چي پدې کي زیاته کرکه او تنفیر دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی له ملګرتیا څخه وژغوري ځکه که یو څوک نه غواړي او هغه بل لا نور هم پسي درومي او ټینګار کوی د غه د مروت او مېړاني څخه لیري خبره ده. ﴿وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ﴾ او هر هغه څوک چي راشي تا ته په تلوار سره (لپاره د طلب د علم چي ډېر یې حریص وی) ﴿وَهُوَ يَخْشَىٰ﴾ حال دا چي دی ویرېږي (له الله څخه او له محرماتو څخه ځان ژغوري) ﴿فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ﴾ پس ته (ای محمده) له هغه څخه مخ ګرزوې (مشغولېږې، تغافل کوې او له ګمراه سردارانو سره خبري کوې) ﴿كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ﴾ مه کوه بیا داسي (ځکه چي) بېشکه دا (آیتونه) پند دي (له جانبه د الله ټولو خلګو ته او لازم دی چي ور باندي پند واخلي) ﴿فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ﴾ نو هغه څوک چي غواړي ودي مني د غه پند د قرآن او له لارښوونو او ارشاداتو څخه دي ګټه پورته کړی. مفسرین کرام لیکي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې وروسته د هیڅ بېوزله په وړاندي تندی تریو کړی نه دی او نه یې هم د بډای څه زیات پام ساتلی دی او فقرآء بېوزلان به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مجلس امیران وو او چي ابن أم مکتوم به کله مجلس ته راغی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به څادر ور ته ویړ کړ او ورته ویل به یې (مرحبًا بمن عاتبني فیه ربي...) وروسته له دې څرګندونو الله تعالی د قرآن عظیم الشان د ستر منزلت او مقام داسي خبرورکوي فرمایي ﴿فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ﴾ (د غه قرآني آیات لیکلي شوي دي) په پاڼو عزتناکو (عندالله په لوح محفوظ کي) ﴿مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ﴾ چي پورته دي په قدر او عظمت کي پاک کړی شوي دي (له رسېدلو د لاسونو د شیطانانو او نورو ګردو عیوبو څخه ﴿بِأَيْدِى سَفَرَةٍ﴾ (په لاسونو د (پرښتو) لیکونکیو) یا په لاسونو د هغو ملائکو چي الله د خپل ځان او انبیاوو علیهم السلام ترمینځ سفیران ګرزولي دي ﴿كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ﴾ لیکونکیو عزتمنو نیکو ﴿قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ﴾ لعنت کړی شوی دی په (کافر) انسان چي څه شي کافر کړی دی د کفر باعث یې څه دی ؟) یعني ملعون دی کافر انسان سره له دې چي الله ډېر نعمتونه ورکړي احسانات یې ورسره کړي څه شی د هغه د کفر باعث وګرزېدو؟
الوسي رحمه الله لیکي چي ګواکي هغه ډېره بده ښېراده او همدارازد هغه د کفر په هکله تعجب دی چي هغه څرنګه په کفر او عصیان کي افراط کړی دی؟ دا کلام په خوراپه زړه پوري ایجاز او بیان باندي

مشتمل دی(۱) ﴿ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُۥ ﴾ له څه شي څخه پيدا کړی دی (الله) هغه (انسان؟ چي دومره تکبرکوي اوبيا يې توضيح هسي فرمايې ﴿ مِن نُّطْفَةٍ ﴾ له نطفې (څاڅکي دمني) څخه (يې پيدا کړی) ﴿ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴾ پيدا کړی دی الله دغه (انسان) پس اندازه يې کړه لره دهيئت اواندامونه دموره په نس کي چي يوځل نطفه بياعلقه ترڅوبې خلقت تکميل شو. ابن کثيرليکي چي (قدره) معناداچي اندازه يې کړرزق روزي دهغه اجل اوعمل دده اوداچي نيکمرغه اوکه بدمرغه دی (۲) ﴿ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴾ بيايې لاره ورآسانه کړه (لاره دتلودمورله ګېډي نه. حسن بصري رحمه الله وايې چي انسان څرنګه تکبرکوي په داسي حال کي چي دوه ځلي دمتيازوله لاري څخه راوتلی دی(يعني دنارينه له ذکراودښځي له فرج څخه)(۳) ﴿ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ﴾ بياالله مړ کړهغه (انسان) لره نوپه قبرکي يې کېښوده لره (چي درناوی تعظيم يې وشي او څېرونکوحيواناتو وحوشواومرغانوته يې په ډګر،ونه غورځاووهغه دبني آدم په نوروحيواناتوباندي حرمت اوفضيلت دی ﴿ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ﴾ بياهرکله چي اراده وفرمايې (الله دانسان دبياژوندون نويې) ژوندی کوي ده لره (لپاره دحساب اوجزاء (۴) اوداچي ويې فرمايل (اذاشآء) ددې لپاره چي دبعث او پورته کېدلووخت چاته ندی معلوم اودغه دالله مشيت ته سپارل شوی دی کله چي وغواړي بيايې ژوندی کوي ﴿ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ ﴾ (بېخي ندي کړی (کافر) هغه شی چي امرحکم کړی دی ده ته (دغه الله دهغه څيز) (کلا) حرف ردع اوزجردی ترڅودغه کافرله تکبراو تجبرڅخه راوګرزي بېشکه ده هغه څه ندي پرځای کړي چي ورباندي فرض شوي وو اونه يې هم هغه څه اداکړي دي چي الله ورباندي مکلف کړی وو چي هغه عبارت له ايمان اوطاعت څخه دی... کله چي الله تبارک وتعالی دانسان خلقت وښودنوبياورپسې يې درزق يادونه کوي ترڅوچي دالله له بېلابېل نعمتونو څخه پندواخلي شکرو باسي اودالله اطاعت وکړي نوفرمايې ﴿ فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ﴾ نوودي ګوري (منکر) انسان طرف دطعام خپل ته (په کتلودفکراوعبرت باندي لکه چي هغه ته لازم دی چي دخپل پيدااېښت اوخلقت په هکله فکروکړي چي څه ډول الله پاک پخپل بشپړ قدرت باندي پيدا کړ اودراتلو لاره يې ورته آسانه کړه څه رنګه يې دمعاش اسباب ورته برابرکړل خوراک يې ورته مهياکړ ترڅودژوند قوام يې ممکن کړي او بيايې ددي تفصيل هسي وفرمايوچي ﴿ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ﴾ بېشکه موږتوی کړي اوبه (له وريځو څخه عجيبه) تويول ﴿ ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا ﴾ بياڅيري کړي ده موږځمکه څيرول (ترڅونباتات ترې رازرغونه او وتوکېږي ﴿ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴾ بياموزرغوني کړي دي په هغې (ځمکي) کي داني دانګوراو منې،

(۱) روح المعاني ۳۰/ ۴۳
(۲) دابن کثيرمختصر۳ /۶۰۰
(۳) القرطبي ۱۹/ ۲۱۲
(۴) خازن ۴ /۲۱۰

ترکاري (هغه چي خلک يې خوري اوزېرمه کوي يې يا هغه چي تازه خوړل کېږي ﴿ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴾ (اوزيتون اوخرما) يعني همداسي مو دزيتون اوخرماوني پيداکړې چي له هغو څخه تېل، لمده مېوه او خرمالاس ته راځي ﴿ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴾ اوباغونه ګڼ (له جهته دډېروالي دونونه) هسي چي ښاخونه يې يوله بله جاروتي وي ﴿ وَفَٰكِهَةً وَأَبًّا ﴾ او (تازه) مېوې او (وچي مېوې يا) واښه قرطبي ليکي چي (أب) هغو ښوته وايې چي بوده ګان حيوانات يې خوري (١) ﴿ مَّتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴾ (پيدامو کړل دغه څېزونه) لپاره دنفعي ستاسي اوحيواناتوستاسي) ابن کثيرليکي چي پدې آيتونو کي په بندګانوباندې دالله جل جلاله داحسان څرګندول دي اوداچي دنباتاتورازرغونېدل له وچي ځمکي څخه پدې دلالت وکړي چي له مړيني وروسته ژوندون حق دی که څه هم هډوکي رژېدلي او وراسته شوي وي (٢) وروسته بيا الله تعالی دقيامت دورځي هيبت داسي بيانوي: ﴿ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴾ نوکله چي راشي سخت آوازغوږ کڼونکي ﴿ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴾ هغه ورځ چي تښتي به سړی له خپله وروره، له خپلي موره اوپلاره، خپلي ملګري ښځي اوله خپلوزامنو څخه (چي هرسړی به دخپل ځان په غم ککړ وي، الله تعالی دانسان تېښته په داسي ترتيب ذکرکړه چي په مهرباني شفقت کي له ښکتني پوړ څخه پيل شوي اوپه پورتني پوړچي ترټولواوچت اولوړدی پای ته رسېدلي ده ځکه چي انسان ترهرچازيات په خپل اولاداوزامنو شفقت کوي ﴿ لِكُلِّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴾ هرسړي لره له هغوی څخه به په دغي ورځي کي يو حال وي چي بې پرواکوي يې (له نورو څخه اوله خپله ځانه پرته دهيچاپه خيال کي هم نه وي آن تردې چي انبياء عليهم السلام به پدې ورځ کي د (نفسي، نفسي) چيغي وهي (٣) کله چي الله ﷻ دقيامت دورځي اودهغې دمشکلاتو حال بيان کړوروسته دنيکمرغه اوبدمرغه کسانو وېش داسي ښيي ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴾ ځيني مخونه به پدغي ورځي کي روښانه وي ﴿ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴾ خندېدونکي خوشحاله به وي (چي دالله جل جلاله کرامت يې وموند چي مؤمنان دي اوپدې تل ترتله نعمت باندي به راضي اوخوښ وي) ﴿ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴾ اوپه ځيني مخونوباندي به پدې ورځ ګرد اوغباروي ﴿ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴾ پټ کړي به وي هغه مخونه (ګرد) ظلمت اوتوروالي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴾ دغه ټول (تورمخي) هم دوی دي کافران فاجران (صاوي ليکي الله ددوی له تورو مخونو سره ګرد اوغباريوځای وفرمايولکه چي له کفرسره يې فجورجوخت راوړ (٤).

---

(١) قرطبي تفسير ١٩/ ٢٢٠
(٢) مختصرابن کثير ٣/ ٦٠٧
(٣) التسهيل لعلوم التنزيل
(٤) حاشية الصاوي على الجلالين ٤/ ٢٩٤

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته لنډيزيې دادی:

۱- دالتفات صنعت چې له غياب څخه خطاب ته راغلی اوددې لپاره چې زيات عتاب افاده کړي نو فرمايي ﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ﴾ اوبيا فرمايي ﴿ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴾ دغه التفات ددې لپاره دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دراندده سره په مهرباني کولو او عنايت باندې تنبيه کړي

۲- اشتقاقي جناس لکه پدې کلام کې چې ﴿ يَذَّكَّرُ ﴾ او ﴿ ٱلذِّكْرَىٰٓ ﴾.

۳- په زړه پورې کنايه چې فرمايي ﴿ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴾ دلته دهغه دتولد حالت بيان شوی او د راوتلو په لار سره دهغه دمور له فرج څخه کنايه راوړل شوې ده.

۴- دتعجب اسلوب چې پدې کلام راغی ﴿ قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ ﴾ دلته چې دکافر دکفر په هکله تعجب دی هغه دا چې الله جل جلاله پرېمانه نعمتونه ورباندې لورولي دې خودی بيا هم کافرشوی دی

۵- دطباق صنعت چې پدې کلماتو کې شتون لري چې ﴿ تَصَدَّىٰ ﴾ او ﴿ تَلَهَّىٰ ﴾ دي چې د(تصدي) معنا قصد کول او د(تلهی) معنا تغافل غوره کول او مشغولېدل دي

۶- له اجمال څخه وروسته تفصيل چې کله فرمايي ﴿ مِنْ أَىِّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ ﴾ اوبيايې داسې تفصيل بيانوي چې ﴿ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ﴾.

۷- باريکه او خوندوره مقابله لکه دا چې دبدمرغه اونيکمرغه کسانوترمينځ ده چې فرمايي ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴾ اوددې په مقابل کې راغي ﴿ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴾.

۸- مرصع سجع چې داهم دبديعي محسناتو څخه دی لکه چې پدې آيتونوکې يې لوستلی شو ﴿ عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴾ يالکه پدې آيتونوکې ﴿ فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ بِأَيْدِى سَفَرَةٍ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴾ دآيتونوترپايه پورې

لطيفه:

ځيني دادب پوهانو دالله له دې وينا څخه اقتباس کړی چې وايې: ﴿ قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ مَآ أَكْفَرَهُۥ ﴾ نو ويلي يې دي

يتمنى المرء في الصيف الشتاء • فاذا جاء الشتاء أنكره • فهو لا يرضى بحال واحد • قتل الانسان ما أكفره

معنا دا چې سړی په اوړي کې دژمي هيله کوي خو کله چې ژمی راشي هغه نه خوښوي انسان په يوه حال هم خوښ نه وي هلاک دې شي انسان څه شي کافر کړ؟

دالله جل جلاله په مرسته دعبس سورت تفسير ژباړه بشپړه شوه.

***

دتکویر سورت مکي اونه ویشت آیتونه لري:

دسورت په وړاندي:

دتکویر سورت له مکي سورتونو څخه یو سورت دی اودوه مهم حقیقتونه څېړي چي یو یې دقیامت اوبل یې دوحی اورسالت حقیقت دی.

پدې مبارک سورت کي لوموړی دقیامت دورخي اودکائناتودیومخ ایزاوښتون بیان دی چي لمر، ستوري، سیندونه، ځمکي، آسمانونه، حیوانات، ژوي اوانسانان ټول پکي شامل دي، هغه قیامت چي ټول کائنات خوځوي اوګردموجودات تیت اوپرک کېږي هیڅ څیزبه پخپل حال پاتي نشي اوټول به بدلون ومومي الله فرمایي ﴿إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ۝١ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ۝٢ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ۝٣ وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ۝٤ وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ ۝٥ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ﴾ دآیتونوترپایه.

وروسته دوحی حقیقت بیانوي اوهغه ملائک ستایي چي وحی رالېږدوي اوبیاهغه استازی اوپیغمبرښیي چاته چي وحی راځي اوبیادهغه دقوم اوتېریادونه کوي اوهمدارازهغه څوک چي ددغي وحی مخاطبین دي دهغوی بیان کوي څوهغوی دکفراوشرک له تیاروڅخه دعلم اوایمان نوراوځلاته راوباسي فرمایي ﴿فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ۝١٥ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ۝١٦ وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ۝١٧ وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ۝١٨ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ﴾ دآیتونوترپایه پوري.

په پای کي سورت دمشرکانو په هغوغلطوګمانونوکوم چي دقرآنکریم په هکله یې درلودل دبطلان کرښه راکاږي اوداسي څرګندوي چي دغه قرآن دالله جل جلاله له لوري خپلوبندګانوته پند دی فرمایي ﴿فَأَيۡنَ تَذۡهَبُونَ ۝٢٦ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ۝٢٧ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ ۝٢٨ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ۝١ وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ ۝٢ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ۝٣ وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ۝٤ وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ
حُشِرَتۡ ۝٥ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ۝٦ وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ ۝٧ وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ ۝٨ بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ ۝٩ وَإِذَا
ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ ۝١٠ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتۡ ۝١١ وَإِذَا ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ ۝١٢ وَإِذَا ٱلۡجَنَّةُ أُزۡلِفَتۡ ۝١٣ عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّآ أَحۡضَرَتۡ ۝١٤
فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلۡخُنَّسِ ۝١٥ ٱلۡجَوَارِ ٱلۡكُنَّسِ ۝١٦ وَٱلَّيۡلِ إِذَا عَسۡعَسَ ۝١٧ وَٱلصُّبۡحِ إِذَا تَنَفَّسَ ۝١٨ إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ۝١٩ ذِي قُوَّةٍ
عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ ۝٢٠ مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ ۝٢١ وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجۡنُونٖ ۝٢٢ وَلَقَدۡ رَءَاهُ بِٱلۡأُفُقِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢٣ وَمَا هُوَ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ
بِضَنِينٖ ۝٢٤ وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٖ ۝٢٥ فَأَيۡنَ تَذۡهَبُونَ ۝٢٦ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ۝٢٧ لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ ۝٢٨
وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢٩﴾ التکویر: ۱ - ۲۹

لغتونه : (انکدرت) راولوېږي وپاشل شي(العشار) دعشراء جمع اودلسومیاشتوبلاربې اوښې ته ویل کېږي (کشطت) له بېخه ایستل داسي ویل کېږي (کشطتُ جلدالشاة) یعني دپسه پوستکی مي وایستل (الخنس) روښانه ستوري کوم چي دورځي له مخه له سترګو څخه پټېږي (الکنس) پټېدونکي ستوري کناس هغهِ ځای ته ویل کېږي چېري چي هوسۍ پټېږي (عسعس) کله چي راوخېژي رادبره شي خلیل وایيٖ(عسعس اللیل) معناداچي شپه راوختله اویاشپه تېره شوه دغه کلمه له اضدادوڅخه ګڼل کېږي ځکه چي دشپې راتګ اوتګ دواړوته (عسعس) ویل کېږي لکه چي شاعرلیکي:

حتی الصبح لهاتنفسا* وانجاب عنهالیلهاوعسعسا. یعني کله چي سپېدې وچوي اوشپه ترې مخ واړوي اوتېره شي.

تفسیر: ﴿إِذَا ٱلشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ﴾ کله چي دلمر(رڼا) ونغښتله شي (نورېې ولاړشي)پدې آیتونوکې دقیامت د سختیواو کړاوونوبیان دی کوم چي ټول کائنات اوموجودات به دوراني اوبدلون په لوري درومي ﴿وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتۡ﴾ اوکله چي ستوري خړشي (یاپه ځمکه راولوېږي (تیت شي) ﴿وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ﴾ اوکله چي غرونه روان کړل شي (له خپله ځایه څخه وخوځېږي اوپه هواکي دوړې دوړې شي لکه چي بل ځای الله جل جلاله فرمایې ﴿وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ بَارِزَةٗ﴾ (الکهف۴۷) ﴿وَإِذَا ٱلۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ﴾ اوکله چي دلسومیاشتوبلاربې اوښې خوشي کړی شي چي هیڅوک یې نه غواړي اونه یې څروي، دغه بلاربې اوښې یې پدې ځانګړې یادي کړې ځکه چي دعربولپاره دغه ډېرې غوره اوخوښې وي ﴿وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ﴾ اوکله چي وحشي ځناوران راټول کړی شي (پداسي حال کي چي سخت دقیامت له وېرې څخه ترهېدلي وي) ﴿وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ﴾ اوکله چي بحرونه اور واخلي سره لمبه شي ﴿وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتۡ﴾ اوکله چي نفسونه جوړه کړل شي (یعني کله چي انساني نفسونه له خپلوسیالانوسره نژدې شي فاجرله فاجرسره اوصالح له نیکوکاره سره طبري وایې:معناداچي صالح سړی به له بل صالح سړي سره په جنت کي یو ځای شي اوبد کرداره سړی به له بل بد سړي سره په دوزخ کي ملګری شي ﴿وَإِذَا ٱلۡمَوۡءُۥدَةُ سُئِلَتۡ﴾ ؟اوکله چي له ژوندۍ ښخې شوي نجلۍ څخه وپوښتل شي چي په کومي ګناه وژلي شوي ده؟(دانجلۍ)دادهغې دقاتل لپاره توبیخ دی په التسهیل کي لیکي چي(موؤدة)هغې ماشومې نجلۍ ته وایې چي عربانوبه دشرم اوغیرت له مخي کله چي به وزېږېدله ژوندۍ ښخوله دا پوښتنه به دقیامت په ورځ له هغې څخه کېږي چي ﴿بِأَيِّ ذَنۢبٖ قُتِلَتۡ﴾ چي په کومي ګناه وژلي شوي ده؟ دابه دهغې دقاتل لپاره دتوبیخ په توګه پوښتله کېږي ﴿وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتۡ﴾ اوکله چي اعمالنامې وغوړولي خپرې کړی شي (دحساب په وخت کي) ﴿وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتۡ﴾ اوکله چي آسمان (دپوستکي په شان) وایستلی شي(لکه چي له پسه څخه پوست ایستل کېږي) ﴿وَإِذَا ٱلۡجَحِيمُ سُعِّرَتۡ﴾

اوكله چي دوزخ بلي لمبې كړى شي (كافرانو ته) ﴿ وَإِذَا ٱلْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ﴾ اوكله چي جنت نژدې كړى شي (مؤمنانو ته) ﴿ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ ﴾ پوه به شي هرنفس په هغه شي چي حاضركړى يې وي (له خيراوشرځني) داجمله چي (علمت نفس) ده دتېرشوي آيتونو ځواب دى كوم چي د(اذا الشمس كورت) له پيله ترديې ځايه دي معنا داچي:كله داعجيب اوغريب واقعات پېښ شي نوبه هرڅوك پخپلواعمالوپوهېږي چي ښه يې راوړي دي اوكه ناكاره ، له دې وروسته الله تعالى دقرآن اورسالت دربښتنولي اوصحت په اړه قسم اخلي فرمايي ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلْخُنَّسِ ﴾ نوقسم خورم زه په ستوريو(چي دورځې پټېږي اودشپې ښكاره كېږي) ﴿ ٱلْجَوَارِ ٱلْكُنَّسِ ﴾ په ستوريوپټېدونكوباندې هغه چي له لمراوسپوږمۍ سره درومي اوبياتو د ډوبېدلو په وخت كي پټېږي لكه چي هوسۍ پخپل غاركي پټېږي[2] چي هغه ته كناس وايي ﴿ وَٱلَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴾ (اوقسم خورم زه) په شپې كله چي راوخېژي مخ راوګرزوي (كائنات پخپله تياره كي ونغاړي (۳) ﴿ وَٱلصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴾ اوقسم خورم زه په سباكله چي ساووهي راوخېژي (اوبيايې روښنايي ويړه او پراخه شي چي سپينه ورځ شي) ﴿ إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴾ (بېشكه دا(قرآنكريم) خامخاويناد رسول عزتمن (جبريل) ده) يعني دغه قرآن مجيد دالله جل جلاله كلام چي دهغه ګران اوعزتمن استازي په واسطه نازل شوى دى لكه چي الله پاك بل ځاى فرمايي: ﴿ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ عَلَىٰ قَلْبِكَ ﴾ مفسرين كرام ليكي چي مرادله رسول څخه حضرت جبريل عليه السلام دى اودقرآن نسبت يې هغه ته كړى خوپه حقيقت كي داد الله جل جلاله قول دى او وروستني ويناهم پدې دلالت كوي چي مرادله رسول څخه حضرت جبريل دى څكه چي الله تعالى فرمايي ﴿ ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى ٱلْعَرْشِ مَكِينٍ ﴾ چي خاونددزوروقوت په نزدد خاوندد عرش مرتبه والادى ﴿ مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴾ منلى شوى دى هلته امين دى (يعني په ابراروپرښتوكي منلى شوى اودوحى په راوړلوكي امين دى) ﴿ وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴾ اونه دى ملګرى ستاسي (محمد) لېونى(لكه چي تاسو پرې ګمان كوى بلكه ښه پوه هوښياردى اى قريشوتاسي خودده ملګرتياازموېلې ، دده رښتنولي موليدلي ، دده پاكي تاسوته څرګنده ده اودهغه دعقل تول هم درته معلوم دى دامحمدصلى الله عليه وسلم لكه چي تاسي پرې ګمان كوى لېونى نه دى. خازن ليكي: الله جل جلاله قسم كړى چي دغه قرآن حضرت جبريل راوړى اوداچي محمدلېونى نه دى لكه چي دمكې خلك ګمان كوي دلته الله جل جلاله هغه دواړه دروغجن قولونه يوداچي قرآنكريم محمدصلى الله عليه وسلم له ځانه جوړكړى او بل داچي هغه لېونى دى نفى كړل[4] ﴿ وَلَقَدْ رَءَاهُ بِٱلْأُفُقِ ٱلْمُبِينِ ﴾ اوخامخاپه

---

(۱) داقول دحضرت علي، ابن عباس رضى الله عنهم، مجاهد اوحسن رحمهم الله دى اوطبري غوره كړى دى.
(۲) قرطبي تفسير۱۹/ ۲۳۵
(۳) دغه وينا أرجح ده څكه چي دسهارپه مقابله كي راغلي اوابن كثيرهم دغه وينا غوره كړي ده.
(۴) تفسيرخازن۴ /۲۱۵

تحقیق لیدلی وو(محمد) هغه (جبریل دآسمان) په څنډه (غاړه) روښانه کي) الله جل جلاله قسم کوي چي محمد رسول الله حضرت جبریل (پخپل ملکي صورت سره)دآسمان په لوړه روښانه څنډه چي دمشرق لوری وو لیدلی وو په البحرالمحیط کي لیکي چي دغه لیدل دغارحراء له لیدلووروسته وو اوجبریل دآسمان اومځکي ترمینځ په کرسۍ دپاسه په داسي حال کي چي شپږسوه کوځري درلودل اوختیزلویدیزیې سره نښلولي وو محمدرسول الله ولید[1] ﴿ وَمَا هُوَ عَلَى ٱلْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴾ اونه وودغه (محمددوحی) په پټوخبرو باندي بخیل (چي له تاسوڅخه یې تعلیم اوتبلیغ وسپموي بلکه ښخي په بشپړامانت اوربښتنولي سره یې تاسوته دررسوي ﴿ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ ﴾ اونه دی دا(قرآن) خبره دشیطان رټلي شوي (اوملعون لکه چي مشرکان وایې) ﴿ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴾ نوچېرته تاموځی (ای کافرانوپداسي حال کي چي دقرآن آیتونه واضح اودلائل یې څرګنددي نوولي تاسوهغه ته کوږي اوکهانت وایی اویایې شعرګڼی ! ددې مثال داسي دی لکه چي ته هغه ته چي سمه لاره یې پرې ایښي وي وایې داسمه سیخه لاره ده ته چېرته ځې؟ ﴿ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴾ نه دی دا(قرآن) مګرذکرپندی (له جانبه دالله) لپاره د(ګردو)خلګو ﴿ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَسْتَقِيمَ ﴾ (هغه چاته چي غواړي قصدکوي له تاسي دسمېدلو خپلو) یعني هغه چاته چي غواړي دحق متابعت وکړي په شریعت برابرشي اودنیکانولاره غوره کړي ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ (اونه شی قصدکولای تاسي(دسمي لاري) مګر هغه چي اراده وفرمایې الله (دقصدد تاسي دسمي لاري) چي رب پالونکی (دټولو) عالمیانودی) نوله الله جل جلاله څخه دسمې لاري د موندلو توفیق وغواړئ !

بلاغت: پدې سورت کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لندیزیې دادی:۱-ناقص جناس لکه د ﴿ بِٱلْخُنَّسِ ﴾ او ﴿ ٱلْكُنَّسِ ﴾ ترمینځ چي راغلی دی.۲-تصریحي استعاره چي فرمایې ﴿ وَٱلصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴾ دورځي راتګ یې له خوندورشمال را الوتلو سره مشابه کړي هغه چي زړونه ژوندي کوي اودساکښلو لفظ یې دشپې دتیارې دټولېدلو اورڼا اخستلولپاره استعاره کړی چي داخوراباریکه اوښکلي په زړه پوري استعاره ده چي دسهارپه سا اخیستلویې انځورکړي ده.۳-باریکه کنایه چي ﴿ وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴾ په کلام کي راغلي هلته چي محمد رسول الله یې ددوی دملګري په نوم یادکړی دی.۴-دطباق صنعت چي د ﴿ ٱلْجَحِيمُ.....ٱلْجَنَّةُ ﴾ په کلماتو کي راغلی ۵-غیرتام جناس لکه د ﴿ مَكِينٍ .....أَمِينٍ ﴾ په کلماتو کي چي شته دي ٦-مرصع سجع لکه چي په ﴿ كُوِّرَتْ ، سُيِّرَتْ ، سُجِّرَتْ ، سُعِّرَتْ ، بِٱلْخُنَّسِ ، ٱلْكُنَّسِ ، تَنَفَّسَ ، عَسْعَسَ ﴾ او نورو کلماتو کي چي راغلي اوله بدیعي محسناتو څخه شمېرل کېږي. دالله جل جلاله په مرسته دکُوِّرَتْ سورت دتفسیرژباړه بشپړه شو.

---

(۱) البحرالمحیط ۸/۴۳۱

(٨٢)

دانفطار سورت مكي او نولس آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دانفطار سورت مكي او دتكوير د سورت په شان دكائناتو له اوښتون څخه بحث كوي او دقيامت
ستر او خطرناك حوادث او پېښي څېړي او بيا د نيكانو او فاجرانو احوال ښيي چي هلته به ورسره مخ وي
دسورت پيل دهغه انقلاب مناظر ښكاره كوي كوم چي په كائناتو كي به پېښېږي كله چي به آسمان
چوي، ستوري به تيت كېږي ، سيندونه به سره ګډېږي ،قبرونه به لاندي باندي كېږي او بيا به حساب
او جزاء وي فرمايي ﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتْ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ فُجِّرَتْ وَإِذَا ٱلْقُبُورُ بُعْثِرَتْ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا
قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴾ تر پايه پوري.
بيا وروسته دانسان انكار او كفران بيانوي هغه انسان كه څه هم الله تعالىور باندي دنعمتونو باران
اورولى دى خودى يې حق نه پېژني او قدر يې نه پرځاى كوي دنعمتونو شكر نه اداكوي نو فرمايي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلْإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلْكَرِيمِ ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴾.
وروسته بيا دا خبره په ګوته كوي چي په هر انسان باندي الله تعالى پرښتي ګمارلي چي اعمال يې
وليكي او كړه وړه يې وڅاري فرمايي ﴿ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَٰفِظِينَ كِرَامًا كَٰتِبِينَ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴾
پدې سورت كي دآخرت خلګ په دوو ډلو وېشل شوي يوه ډله ابرار او بله ډله فجار دي او پدې هكله داسي
ارشاد كوي ﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ وَإِنَّ ٱلْفُجَّارَ لَفِى جَحِيمٍ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴾ دآيتونو تر پايه پوري
په پاى كي الله جل جلاله دقيامت دورځي دهيبت او سختيا انځوركاږي او دا بيانوي چي هلته
دخلګو هيڅ وس هم نه رسېږي يوازي الله جل جلاله به دحكم او سلطان خاوندوي فرمايي ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا
يَوْمُ ٱلدِّينِ ثُمَّ مَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا وَٱلْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴾.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتْ ﴿١﴾ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴿٣﴾ وَإِذَا ٱلْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴿٤﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا
قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلْكَرِيمِ ﴿٦﴾ ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾ فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ
رَكَّبَكَ ﴿٨﴾ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ﴿٩﴾ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَٰفِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَٰتِبِينَ ﴿١١﴾ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴿١٢﴾ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ
لَفِى نَعِيمٍ ﴿١٣﴾ وَإِنَّ ٱلْفُجَّارَ لَفِى جَحِيمٍ ﴿١٤﴾ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِينَ ﴿١٦﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَآ
أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴿١٨﴾ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا وَٱلْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴿١٩﴾ ﴾ الانفطار: ١ – ١٩

لغتونه:

(انفطرت) څیري شي وچوي انفطار انشقاق ته وايي (انتثرت) تیت او پرک شي (بعثرت) شاوامخ کېدل لکه چي وايي جامه يې لاندي باندي کړه (غرک) تېرایستلی مغروره کړی یې ته! (سوّاک) برابر کړی يې ته، ستااندامونه یې په مناسب جوړښت تیار کړي دي (یصلونها) ننوزي دوی په هغه دوزخ کي.

تفسیر:

﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ ﴾ او کله چي آسمان وچوي څیري شي لکه چي الله تعالی بل ځای فرمايي ﴿ وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ﴾ ﴿ وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ ﴾ او کله چي ستوري راولوېږي (تيت په تيت به شي له خپلو برجونو او ځايونو څخه راجلا شي ﴿ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ ﴾ او کله چي دريابونه (يوبل ته ورګډ شي (مالګين او خواږه سره ټول يو درياب شي) ﴿ وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ بُعۡثِرَتۡ ﴾ او کله چي قبرونه سره لاندي باندي کړی شي (مړي ژوندي ترې رابهرشي او خبر شوي هرڅه رااوزي) ﴿ عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ وَأَخَّرَتۡ ﴾ پوه به شي هرنفس (په دغه وخت کي) په هغه خیراوشرخپل باندي چي وړاندي یې لېږلی وي اوچي وروسته يې پرې ایښی وي، دادتېرو خبرو لپاره ځواب دی. طبری وايي: معنايې داده چي پوه به شي په هغه نیک عمل چي پخوايې لېږلی او په هغه نیک عمل چي ده یې طریقه پرې ایښي او ورباندي عمل کېږي([1]). له دې وروسته چي الله تعالی دآخرت سختي اوکړاوونه بیان کړل نو هله یې انسان خپل غفلت ته متوجه کړ چي دده په وړاندي څومره ربړونه نورهم شته نويې وفرمایل ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ﴾ ای (کافر) انسانه څه شي مغروره کړی يې ته پخپل رَب کریم باندي (هغه چي حلیم دی تاله هغه څخه سرغړونه کړي دهغه امردي نه دی منلی کافرشوی یې سره له دې چي هغه تاته نعمتونه درکړي او احسانات یې درباندي لورولي دي) داتوبیخ اوترټنه ده لکه چي ویلي یې وي څرنګه تادخپل رب احسان په عصیان ولمانځه اودهغه رحمت اورأفت دي په طغیان استقبال کړ؟([2]) ﴿ هَلۡ جَزَآءُ ٱلۡإِحۡسَٰنِ إِلَّا ٱلۡإِحۡسَٰنُ ﴾ آیا د احسان بدله پرته له احسان بل څه کېدای شي؟! نه هیڅکله نه وریسې الله خپل نعمتونه ورباندي داسي شمېري چي ﴿ ٱلَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ ﴾ هغه رب چي پیدا کړی یې یې ته نوبرابر کړی یې یې ته (یعني ټول اندامونه یې پوره درکړي دي تاته یې عقل درکړی او پوهېږې په

([1]) طبري تفسیر ۳۰/۵۴

([2]) دغه آیت دتوبیخ په توګه راغلی هم دارازیکي تعجب شته دی چي څرنګه انسان دخپل رب دنعمتونو په مقابل کي کفران کوي اوداسي نه دی لکه چي یوچاویلي چي پدې سره انسان ته دحجت تلقین ورکوي چي ګواکي انسان وواېي چي زه ستاکرم مغرور کړی یم اوزمورډ خبري تائید دحضرت عمررضی الله عنه ویناهم کوي چي هغه وايي: انسان خپل جهل اوناپوهي مغروره کړی دی.

ستر گووينې او په غوږونو اورې ﴿ فَعَدَلَكَ ﴾ پس برابر معتدل کړی يې يې ته (چي ترگردو مخلوقاتو په ښه خلقت او شکل يې پيدا کړی يې ﴿ فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴾ په هرشان کامل صورت سره چي ويې غوښته ترکيب پيوندېې کړې ته (اودبوده گانو په شکل يې نه يې جوړ کړی) لکه چي الله فرمايي ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾ بيا مشرکانو ته پدې توبيخ ورکوي چي دوی دقيامت او جزاء په ورځ ايمان نه راوړي او هغه دروغ گڼي نو فرمايي ﴿ كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ﴾ نه دی دا (غرور ستامناسب) بلکه دروغ وايي تاسي په ورځ دجزآء باندي يعني ای دمکې کفارو وو بېربېږئ له الله جل جلاله څخه اودالله په حلم باندي مه مغروره کېږئ تاسي خوپه ورځ دجزاء باندي ايمان نه راوړی او هغه دروغ گڼی ﴿ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَـٰفِظِينَ ﴾ حال دا چي بېشکه په تاسي باندي خامخا ساتونکي (ملائکي داعمالو مقرري) دي (چي ستاسو اعمال ليکي او دهغو څارنه کوي قرطبي د(حافظين) معنا په څارونکو کوي([1]) ﴿ كِرَامًا كَـٰتِبِينَ ﴾ عزتمني (په نزد دالله) ليکونکي (داعمالو ستاسو) ﴿ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴾ پوهېږي دغه (پرښتې) په هغه چي تاسي يې کوی (دخير او شر څخه او ستاسو داعمالو په پانو کي يې ليکي ترڅو دقيامت په ورځ باندي الله جزاء درکړي ،بيا الله جل جلاله دخلگو وېشل چي دقيامت په ورځ به په دوه ډلو ووېشل کېږي بيانوي چي يوه ډله به ابرار نيکان او بله به فجار کفاروي ددوی دواړو هستوگنځيو په باب يې داسي فيصله فرمايلي چي ﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴾ بېشکه چي ابرار (نيکان) خامخا په نعمتونو کي دي (دجنت) ځکه چي دوی په دنيا کي له خپل پروردگار څخه وېرېدل نو هغوی به په جنت کي په داسي نعمتونو کي اوسي چي نه به سترگو ليدلي وي، نه به غوږونو اورېدلي وي اونه به دچا په خيال او خاطر کي گرزېدلي وي چي تل ترتله به په دغه ډول نعمتونو کي اوسي ﴿ وَإِنَّ ٱلْفُجَّارَ لَفِى جَحِيمٍ ﴾ . اوبېشکه چي فجار بدکاران (کفار) خامخا په دوزخ کي دي دهغوی چي په دنيا کي دخپل پالونکي رب څخه سرغړاوو نو به تل ترتله ددوزخ په سوځونکي اورکي اوسي ﴿ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴾ ننوزي دوی په هغه کي په ورځي دجزاء کي (هغه ورځ چي دوی به دروغ گڼله) ﴿ وَمَا هُمْ عَنْهَا بِغَآئِبِينَ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴾ اونه دي دوي له دغه دوزخ څخه پټېدونکي غائبان ، څه شي پوه کړی يې ته څه ده ورځ دجزاء انصاف؟ دا ددغي ورځي دتعظيم او هول لپاره ويل شوي چي دا خومره سخته او شديده ورځ ده؟ ﴿ ثُمَّ مَآ أَدْرَىٰكَ مَا يَوْمُ ٱلدِّينِ ﴾ بيا څه شي پوه کړی يې ته څه ده ورځ دانصاف جزاء؟ (دغه تکرار يې ددې لپاره راغلی چي دنوموړي ورځي تعظيم وښيي او دهغي له سختيو خبر گندونه وکړي لکه چي بل ځای الله تعالی فرمايي ﴿ ٱلْحَآقَّةُ مَا ٱلْحَآقَّةُ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴾ معنا دا چي دغه دجزاء ورځ داسي ستره ده چي له سختي او هيبت څخه يې له الله جل جلاله پرته هيڅوک هم خبر نه دی او دا تر اندازه او بيان لوړه ده دا هغه ورځ ده چي:) ﴿ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْـًٔا ﴾ هغه ورځ

([1]) القرطبي ۱۹/۲۴۵

چي نه به وي مالک نشي کولای هیڅوک له هیڅاسره هیڅ شی (دنفعي اوضررچي يې ورته ورسوي اويايې ترې دفع کړي) ﴿وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ﴾ اوامرحکم په هغې ورځ کي خالص الله لره دی (هيڅوک له ده سره ېکي ګډون نلري).

بلاغت: پدې سورت کي دبديع اوبيان ډېري ښکلاوي شته چي په لاندي ډول يې لنډيزليکو:

۱- دطباق صنعت چي په ﴿قَدَّمَتۡ﴾ او ﴿وَأَخَّرَتۡ﴾ کلماتوکي راغلی دی.

۲- دمقابلې صنعت چي پدې کلام کي چي ﴿إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ﴾ کي دابرارواو فجاروترمينځ اوهمداسي دنعيم په مقابله کي دجحيم راتلل دمقابلې صنعت دی.

۳- مکنيه استعاره دالله جل جلاله پدې کلام کي چي فرمايي ﴿وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ﴾ دلته يې ستوري له هغو ملغلروسره مشابه کړي چي تارېې وشلېږي اوخواره واره تيت شي مشبه به يې څرګنده نکړه اودهغې له لوازموڅخه يې يوازي يولازم راوړ کوم چي تيت کېدل دي نودې ته مکنيه استعاره ويلای شو.

۴- استفهام دتوبيخ لپاره لکه داچي ﴿مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ﴾ راغلی دی....

۵- تنکيرچي دتعظيم اوتهويل لپاره وي چي پدې کلماتوکي چي ﴿نَعِيمٖ....جَحِيمٖ﴾ دي شته

۶- داطناب صنعت کله چي يوه جمله په تکراري توګه راوړل شي لکه داچي ﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ﴾ چي پدې کي هم دقيامت دورځي عظمت، سترتوب او وېرونکي حالت ته اشاره ده لکه چي دغه ورځ له خيال اووصف څخه بهروي.

۷- مرصع سجع لکه چي فرمايي ﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ﴾ اوبيا ﴿وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ كِرَامٗا كَٰتِبِينَ﴾ اوهمداسي په ﴿إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ﴾ کي چي ليدل کېږي

لطيفه:

وايې چي سليمان بن عبدالملک يوه ورځ ابوحازم مزني ته وويل چي: کاشکي خبرواى چي موږبه دقيامت په ورځ چېري يو؟ نوابوحازم ورته وويل: چي خپل عمل ته دي دقرآنکريم په هينداره کي وګوره نوهله به خپل ځای درته معلوم شي خليفه ورته وويل: چي چېري به يې پيدا کړم؟ چي ويې ګورم ابوحازم ورته وويل: دالله په دې ويناکي چي فرمايي ﴿إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ وَإِنَّ ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ﴾ سليمان بن عبدالملک ورته وويل: چي نودالله جل جلاله رحمت چېرته شو؟ ابوحازم ورته وويل: ﴿إِنَّ رَحۡمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ﴾.

دالله جل جلاله په مرسته دانفطارسورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

د مطففين سورت مکي او شپږ دېرش آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دغه مبارک سورت مکي دى او هغه موخي او اهداف چي مکي سورتونه يې څېړي په ده کي هم راځي په ځانګړي توګه دعقيدې په هکله ددعوت او د اسلامي بلني چاري ښيي کوم چي دسرسخته دښمنانو سره مقابله او مخامخ توب راځي.

دسورت پيل دهغو کسانو سره دجنګ اعلان دى چي په پېمانه او تول کي لږ ورکوي اوزيات غواړي ، دغه کسان له آخرت څخه نه وېرېږي اونه دهغه لپاره څه حساب په نظر کي ساتي چي دوى به هلته احکم الحاکمين ته ډرېږي فرمايي: ﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكْتَالُوا۟ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسْتَوْفُونَ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ أَلَا يَظُنُّ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ يَوْمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾.

بيا وروسته دبد مرغه او شقيانو خلګو دجزاء خبر ورکوي کله چي جحيم ته کشول کېږي نو ارشاد کوي چي ﴿ كَلَّآ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْفُجَّارِ لَفِى سِجِّينٍ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سِجِّينٌ كِتَـٰبٌ مَّرْقُومٌ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ د آيتونو تر پايه.

له دې وروسته دنيکانو او پرهېزګارانو پانه رااړوي هغوى چي په ابدي نعمتونو به په جنت کي چي دعزت او کرامت ځاى دى و نازول شي او د انازاو اعزاز د بد مرغه اشرارو په مقابله کي لکه چي د قرآنکريم اسلوب دى چي ترهيب او ترغيب جوخت سره راوړي راغلى دى فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ خِتَـٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَـٰفِسُونَ ﴾.

په پاى کي سورت دګمراهانو بدبختانو هغه دريزونه بيانوي کوم چي د الله جل جلاله دغوره بندګانو په وړاندي يې خپلوي هغوى چي په دنياکي په مؤمنانو پسي خاندي دهغوى په ايمان او پرهېزګاري استهزاء ګاني کوي او ملنډي وهي الله جل جلاله فرمايي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ كَانُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَضْحَكُونَ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴾ د آيتونو تر پايه پوري.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴿١﴾ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكْتَالُوا۟ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ﴿٢﴾ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ﴿٣﴾ أَلَا يَظُنُّ
أُو۟لَـٰٓئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ ﴿٤﴾ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥﴾ يَوْمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٦﴾ كَلَّآ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْفُجَّارِ لَفِى سِجِّينٍ ﴿٧﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ
مَا سِجِّينٌ ﴿٨﴾ كِتَـٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿١١﴾ وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ إِذَا
تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَـٰتُنَا قَالَ أَسَـٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾
ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا۟ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَـٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ كَلَّآ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْأَبْرَارِ لَفِى عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ
﴿١٩﴾ كِتَـٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ
ٱلنَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَـٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَـٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ

عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ كَانُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَضْحَكُونَ ﴿٢٨﴾ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ ﴿٢٩﴾
يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمُ ٱنقَلَبُوا۟ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ أُرْسِلُوا۟ عَلَيْهِمْ
حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ ٱلْكُفَّارُ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ
﴿٣٦﴾ ﴾ المطففين: ١ - ٣٦

لغتونه:

(المطففين) دمطفف جمع اوهغه چاته وايې چې پېمانه اوتول کموي تطفيف نقصان ته ويل کېږي ځکه چي له طفيف څخه اخيستل شوی اوهغه ناچېزشي ته وايې اومطفف هم اروموره په تول او پېمانه کي غلاکوي(ران) يعني پټ کړی يې دی لکه چي زنګ په توره باندي ولوېږي اوهغه پټه کړي (ران) په اصل کي غلبې ته وايې لکه چي وايې شرابويې په عقل باندي غلبه کړي ده يعني عقل يې مغلوب کړی(اوځه تميزنشي کولای)شاعروايې:(وکم ران من ذنب علی قلب فاجر(١)اوڅومره ډېرد فاجرپه زړه باندي دګناهونو زنګ پرېوتي دي (رحيق) صفااوډېرښه شراب، په صحاح کي ليکي (رحيق) دشرابوغوره اوصفاډول دي، أخفش وايي (رحيق) هغه شراب دي چي ملاوټ پکي نه وي ، نبوي شاعرحضرت حسان رضی الله عنه وايې : (بردی يصفق بالرحيق السلسل) (٢)يعني غوره خرماله خالصوشاتوسره ګډېږي(فكهين)په استهزآء خوند اخيستونکي اوپه مسلمانانوپسي خبري جوړونکي (يتغامزون) دملنډوپه ډول دسترګوپه کونجانواشارې کونکي (ثُوِّب) جزاورکول شوه (تسنيم) لوړه چينه چي شراب يې ترتولوښه وي، تسنيم په اصل کي له لوړتياڅخه اخيستل شوی لکه داوښ کومي ته (سنام) وايې.

دنزول سبب:

ابن عباس رضی الله عنهماوايي: کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم مديني منورې ته راغی نودمديني منورې خلک ترټولوخلکوپه تول اوپېمانه کي زيات درغلي کونکي وو ، بيا الله جل جلاله دغه سورت نازل کړاوله دې نه وروسته بياهغوی ښه لاره ومونده اوپه تول پېمانه کي به يې لږوالی نه کاوو(٣).

تفسير:

﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴾ هلاکت خرابي ياکنده ددوزخ ده کم کونکو(فاجرانو) ته (په پېمانه اوتول کي وروسته يې صفت داسي بيانوي چي ﴿ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكْتَالُوا۟ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ﴾ هغه کسان چي هرکله چي ځان ته

---

(١) البحرالمحيط ٨ /٤٣٨
(٢) القرطبي ١٩ /٢٦٣
(٣)دابن کثيرمختصر ٣ /٦١٣

اخلي پېمانه نو پوره بشپړه يې اخلي ﴿ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ﴾ او کله چې پېمانه ورکوي يا يې تلي هغوی ته نو کمی کوي (پوره بشپړه يې نه ورکوي) مفسرين کرام ليکي چې: دا آيتونه ديوه سړي په هکله چې (ابوجهينه) نومېده نازل شوي دی هغه به دوې پېمانې درلودې په يوه پېمانه به يې اخيستل او هغوی ته به يې په بله پېمانه ورکول، دا آيت د هر هغه چالپاره وعيد دی څوک چې په پېمانه او تول کې کمی کوي الله تعالی د حضرت شعيب عليه السلام قوم هم پدې ګناه هلاک کړی دی او په حديث شريف کې راځي (ولاطففوا الکيل الامنعوا النبات وأخذوا بالسنين) يعني هغوی چې په تول او پېمانه کې درغلي پيل کړ دځمکې وابنه ترې منع شول او په کاختي اخته شول[1] ﴿ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ آيا يقين نه کوي (دغه مطففين) چې بېشکه دوی به راپورته کړی شي دپاره د(حساب) ديوې ورځې ستری (چې قيامت دی؟) ﴿ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ هغه ورځ چې وبه درېږي خلګ (ايبلي لوڅ لغړ وېرېدونکي او عاجز) لپاره درب د ټولو مخلوقاتو. په البحر کې ليکي چې پدې انکار او تعجيب کې چې ورځ يې په لوی والي وستايله او درب العالمين په وړاندې د خلګو په عاجزي درېدل يې وښودل داپدې دليل دي چې تطفيف خورا لويه ګناه ده[2] په يو حديث شريف کې له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت شوی چې رسول الله وفرمايل ﴿ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴾ دا هغه ورځ ده چې پدې ورځ کې به يو څوک پخپلو خولو کې د غوږونو ترنيمايې پورې ډوبېږي[3] له دې نه وروسته الله تعالی دفجارو او ابرارو دا وسېدلو په هکله فرمايي: ﴿ كَلَّا إِنَّ كِتَابَ الْفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٍ ﴾ (داسې په کار نه دی) بېشکه ليکلی شوي دي اعمال دفاجرانو (کافرانو) خامخا په سجين کې) يعني مطففين بايد له خپل دغه ناولي عمل څخه لاس واخلي او له خپل غفلت او بې خبرۍ څخه دې وويرېږي کوم چې دقيامت دراتلو او بيرته پاڅېدلو په باب يې لري ځکه د بد مرغه کفارو او فجارو خلګو اعمال په تنګ او زښته ښکته پوړ کې ليکل شوي دي ﴿ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سِجِّينٌ ﴾ او څه شي پوه کړې ته (ای محمده!) چې څه دی سجين؟ استفهام لپاره دتعظيم او هيبت افاده کولو راغلی يعني ته پوهېږې چې سجين څه دی؟ ﴿ كِتَابٌ مَّرْقُومٌ ﴾ يو دفتر دی ليکلی شوی (دفجارو د اعمالو لکه چې په جامه کې رقم وي چې نه هېرېږي او نه ورکېږي ددوی اعمال به هم داسې خوندي وي. ابن کثير ليکي (سجين) له سجن څخه اخيستل شوی او هغه تنګي ته وايي او څرنګه چې دفجارو دهستوګنې ځای دوزخ دی او هغه زښته ژوردی ځکه نو پکې تنګسيا او ژوروالی دواړه شته الله دوی ته خبرورکړ چې کتاب د اعمالو يې بشپړ ليکلی شوی نورنه څوک پکې څه زياتولای شي او نه يې هم کمولای شي[4] ﴿ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴾ افسوس هلاک او خرابي يا کنده د دوزخ ده پدغې ورځې کې دروغ

[1] دغه ديو حديث شريف څه برخه ده چې حاکم او طبراني له ابن عباس رضی الله عنه څخه مرفوع نقل کړی دی الوسي ۷۷/۳۰
[2] البحر المحيط ۴۴۰/۸
[3] مسلم او بخاري رحمهما الله روايت کړی دی همدارازروايت هم مالک رحمه الله کړی دی
[4] مختصر ابن کثير ۷۱۴/۳

دروغ ویونکوته ﴿ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ﴾ هغه کسان چي دروغ وايي په ورځي دجزاء باندي ﴿وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ﴾ او دروغ نه ګڼي دغه ورځ دحساب اوجزاء مګرهر يوله اندازې تېرېدونکی ګنهګارهغه چي په کفرګمراهي اوعصيان کي لوړحدته ختلی وي،اوبيادغه ګنهګارپېژندګلوی داسي کوي ﴿إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ﴾ کله چي ولوستلی شي په ده باندي آيتونه(دقرآن)زموږنو وايي(عناداً چي)داچتي کيسې دي دپخوانيو(چي هغوی پخپلوکتابونوکي ليکلي دي) ﴿كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ﴾ نه ده داسي(لکه چي منکران وايي)بلکه زنګ اچولی دی پر زړونو ددوی هغوګناهونوچي دوی به کول ددوی زړونه يې ړانده کړي ځکه نوسمه اوکږه لاره بېلولای نشي([1]) مفسرين کرام وايي: يوه ګناه په بله باندي ترسره کول ترڅوچي زړه يې تک تورکړي دغه ته(ران) وايي ﴿كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴾ (رښتياده چي بېشکه دوی به له(لقاء د) رب خپل څخه پدغي ورځي(دقيامت کي) هرومرو په حجاب کي وي)يعني دغه دي له خپلي ګمراهي اوسرغړوني څخه وو ېرېږي ځکه چي دوی به دقيامت په ورځ درب العالمين له لقاء څخه په حجاب کي وي اونه به يې ويني امام شافعي رحمه الله وايي چي: دغه آيت مؤمنانوته دالله دليدلودليل دی اوامام مالک رحمه الله وايي: څرنګه چي الله خپل دښمنان له ديدارڅخه محروم کړل نودمؤمنانواولياوو دوستانو په وړاندي به متجلی شي اوپه لقاء اوليدلوبه يې مشرف کړي ﴿ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا۟ ٱلْجَحِيمِ﴾ (پس بېشکه دوی چي دي خامخاننوتونکي دي دوزخ ته) يعني دوی به له دغه حرمان څخه وروسته دوزخ ته ننوتونکي وي ﴿ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ﴾ بيابه وويل شي (دوی ته له لوري ددوزخ څارونکو پرښتونه چي) دا هغه(عذاب) دی چي وی تاسي چي هغه به مودروغ ګڼه اوترې انکاربه مو کاوو؟ دا به دتوبيخ اوترټني په توګه وي ﴿أَفَسِحْرٌ هَٰذَآ أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ﴾ وروسته له دې چي الله تعالی د فجاروبدکردارو حال بيان کړورپسې دنيکانودنعمتونو په هکله داسي فرمايي ﴿كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلْأَبْرَارِ لَفِى عِلِّيِّينَ﴾ (بېشکه کتاب ليکلي اعمال دابرارو نيکانوخامخاپه عليين کي دي) کلادزجر لپاره ده يعني خبره داسي نه ده لکه چي بدکاران فکرکوي چي دفجارواوابراروبه په قيامت کي يوحال وي بلکه ددوی کتاب په سجين اودابرارو په عليين کي دی ، عليين دجنت په سرکي لوړځای ته وايي په التسهيل کي ليکي چي د(عليين) لفظ دمبالغې لپاره دی اوله علو څخه اخيستل شوی اودابه په جنت کي دمرتبودلوړتياسبب وي اويادا پخپله لوړاوچت ځای دی اوداسي روايت شوی چي داله عرش نه لاندي دی([2]) ﴿وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ﴾ اوڅه شي پوه کړې ته (ای محمده!) چي عليين څه دی؟ يوذفتردی ليکلی شوی (دابرارودعملونو

([1]) دترمذي شريف حديث دی کله چي بنده ګناه وکړي يوتورټکی يې په زړه باندي پيداشي که توبه اواستغفاريې وکړنودا ټکی ليری کېږي اوکه توبه ونکړي نوري ګناوي کوي په همغه اندازه داټکی پسي پلنېږي ترڅوچي په زړه يې وخپرېږي اودا هغه (ران) دی چي الله تعالی فرمايلی دی(کلابل ران علی قلوبهم).

([2]) التسهيل لعلوم التنزيل ۴/ ۱۸۵

اوهغه په عليين کي دی چي هغه په جنت کي ترګردولوړو درجاتو ته وايي ﴿ يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ چي ګوري حاضرېږي هغه ته مقربين (دالله پرښتې اونور بندګان) مفسرين کرام ليکي کله چي دمؤمن روح راخيستل شي آسمانونوته يې اوچتوي اوهغې ته د آسمانونو دروازې پرانستل کېږي اوملائکي يې په خوشحالي اوزيري سره استقبال کوي اوبياورسره ملګري راوزي ترڅوعرش ته ورسېږي اوبياورته نرى ځرمن (رقّ) ورته راوايستل شي اوپه هغه کي وليکل شي مهروربانديولګېږي چي داله حساب اوعذاب څخه وژغورل شوه اومقربين يې ګوري (¹) ﴿ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴾ بېشکه ابرارنيکان خامخاپه لوی نعمت (دجنت) کي دي (هلته چي ونې يې ويرسيوری لري دوی به خوندونه ترې اخلي ﴿ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴾ پر (مکللو) تختونوباندي به ناست ګوري (دالله لقاء اودجنت نعماء به ور رسيږي). ﴿ تَعْرِفُ فِى وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴾ (پېژني به ته (ای کتونکيه!) په مخونودوی کي تازه ګي (دنعيم) يعني کله چي يې وويني نوبه يې پېژنې چي داکسان په نعمتونوکي ډوب دي ځکه ددوی په مخونوکي به نور، ښکلا، سپين والی موجودوي اوخوښي به له ورايه وربانديخپره وي ﴿ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴾ اوبه کېږي به دوی له هغوخالص شرابو څخه چي مهرکړی شوي به وي (اومهربه يې نه خلاصوي مګرابرارنيکان، داشراب به صاف پاک اوسپين وي لاسونه به ورسره نه وي لګېدلي ﴿ خِتَٰمُهُۥ مِسْكٌ ﴾ (چي مهربه يې مشک وي) يعني دشرابوله پای څخه به د مشکوږمه پورته کېږي ﴿ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَٰفِسُونَ ﴾ اوپه دغه (شرابواونوروجنتي نعمتونو) باندي پس بايده دي چي رغبت وکړي رغبت کونکي (په طاعت اوعبادت دالله کي اوسيالي کونکي بايدسيالي ترسره کړي. طبري ليکي: تنافس له نفيس څيزڅخه اخيستل شوی هغه چي خلګ يې په لاس ته راوړلوکي حريصان وي او زړونه يې غواړي معناداچي خلګ بايدد دغونعمتونوپه ترلاسه کولوکي يوتربله سره وړاندي والی وکړي (²) ﴿ وَمِزَاجُهُۥ مِن تَسْنِيمٍ ﴾ (اوګډون دغه (شراب دي له اوبود) تسنيم څخه) يعني ګډېږي دغه شراب له اوبود تسنيم سره هغه چي ترټولوښه ښناک دجنتيانودی اولوړه اوچته چينه ده ځکه وروسته فرمايي: ﴿ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴾ دا (تسنيم) يوه چينه ده (په جنت کي) چي څښي به له هغې څخه د(الله) مقربان (بندګان) يوازي او نوروجنتيانوته به ورګډول کېږي په التسهيل کي ليکي چي تسنيم دهغي چينې نوم دی کومه چي په جنت کي ده اويوازي مقربين ورڅخه څښاک کوی اوله رحيق سره به ګډېږي چي ابراربه يې څښي داخبره پدې کوي چي دمقربينومرتبه ترابرارولوړه ده. (³) کله چي الله د نيکانوخلګونعمتونه بيان کړل وروسته يې دفجاروبدکردارووروستی برخه ليک وښود ددې لپاره چي دمسلمانانوډاډينه وشي

(¹) قرطبي له کعب الاحبارڅخه روايت کړی دی.
(²) طبري تفسير ۳۰/ ۶۸
(³) التسهيل لعلوم التنزيل ۴/ ۱۸۵

اوپرهغوی یې زړه یخ شي فرمایي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضۡحَكُونَ ﴾ (بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي وودوی په هغو کسانو باندې چې ایمان یې راوړی وو خندل به یې (مسخرې به یې پرې کولې) یعني دامجرمین چې جرم اوخیانت یې په خټه کې اغښل شوی دی دوی به په دنیاکې په مسلمانانوپسې خندل اوملنډې به یې پرې وهلې. په التسهیل کې لیکي چې داآیت دقریشودمشرانو په هکله نازل شوی دی لکه ابوجهل اونورچې کله یوه ورځ علی بن أبی الطالب اویوه ډله مسلمانان ورباندې تېرېدل دغو کفارو ورباندې وخندل اوسپکاوی یې وکړ (۱) ﴿ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمۡ يَتَغَامَزُونَ ﴾ اوکله چې تېرېږي منکران پرمؤمنانوباندې هغوی ته پخپلومنځونو کې سره سترګکونه وهي (اوپرمؤمنانوریشخندوهي) مفسرین کرام لیکي چې کله به درسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابان دمشرکانوله وړاندې تېرېدل نومشرکانوبه په سترګکونووهلوسره هغوی ته اشارې کولې اودهغوی دسپکاوي اوتحقیرلپاره به یې ویل: دادی ددنیاپاچهان راغلل(۲) پردوی به یې ددوی دایمان راوړلواوپه هغه دعمل کولوله امله ملنډې وهلې ﴿ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمُ ٱنقَلَبُواْ فَكِهِينَ ﴾ اوکله چې وګرزي خپلوکورونوته (نو)ګرزي دوی خوشحاله(خبرې جوړونکي په مؤمنانوپسې له ملنډووکې اوددوی په سپکاوي خوندې اخلي.په البحرکې لیکي معناداچې دوی دمسلمانانوپه یادولوپرهغوی باندې دخندلواوپه مؤمنانو باندې په ملنډووهلوخونداخلي (۳) ﴿ وَإِذَا رَأَوۡهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴾ اوکله چې به ولیدل (کفارو) دغه (مؤمنان) نوویل به یې پخپل مینځ کې چې بېشکه دغه (مؤمنان)خامخابې لارې دي (ځکه دوی پرمحمدصلی الله علیه وسلم ایمان راوړي اوددنیا خوندونه اوشهوتونه یې پرې اېښي دي الله پاک ددوی په ردکې فرمایي ﴿ وَمَآ أُرۡسِلُواْ عَلَيۡهِمۡ حَٰفِظِينَ ﴾ حال داچې نه دي لېږلي شوي (کافران) پردغو(مؤمنانو) باندې ساتونکي څارونکي(چې ددوی عملونه و څارې اودسمې اویاچپې لارې شاهدي پرې ووایي اوپدې ویناکې په کفاروباندې تهکم اواستهزاء ده چې مادوی پرمسلمانانوڅارونکي ندي ګمارلي اونه مې دمؤمنانوداعمالود ساتنې لپاره وکیلان ټاکلي ترڅوهغوی سمې لارې ته راوګرزوي نودوی ولې داسې کارته بدې راغړلي چې دهغه دنده دوی ته نه دی سپارل شوې ؟ ﴿ فَٱلۡيَوۡمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنَ ٱلۡكُفَّارِ يَضۡحَكُونَ ﴾ نونن ورځ (د قیامت کې به)هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی) په کفارو باندې خاندي (لکه چې کافرانوپه دنیاکې پردوی باندې خندل او دغه موافقه جزاء ده ﴿ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴾ پرمکللو تختونوباندې (چې دملغلرواو یاقوتو به جوړوي) ناست ګوري (دالله لقاء اودجنت نعماووته (اویا ګوري کفاروته او ورباندې خاندي. قرطبي لیکي چې: کله دوزخیان په اورکې وي ورته به وویل شي چې راووزئ اوکله چې دوزخیان دروازې پرانستې ووینې نوبهرته دراوتلوهڅه به وکړي اومسلمانان به په مکللوتختونوناست هغوی ته ګوري خوکله چې کفار دروازوته

---

(۱) التسهیل۴/۱۸۲

(۲)التسهیل ۴/۱۸۲

(۳) البحرالمحیط ۸/۴۴۳

راورسېږي هغه دروازې به يې په مخ وتړل شي او مسلمانان به ورباندې خاندي(۱) ﴿ هَلۡ ثُوِّبَ ٱلۡكُفَّارُ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴾ (بېشکه چې جزاء ورکړه شوه کفاروته همغسې چې کول يې (په دنياکې له ګناهونوڅخه) يعني آيا جزاء ورکړه شوه کافرانو ته همغسې چې لکه دوی په دنياکې په مؤمنانو ملنډې وهلې؟ هو بېشکه چې جزاء ورکول شوه.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبلاغت کومې ښکلاوې شته لنډيزيې په لاندې ډول دی.

۱-تنکير دهيبت او سترتوب لپاره لکه ﴿ وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ﴾.

۲-دطباق صنعت چې د ﴿ يَسۡتَوۡفُونَ ﴾ او د ﴿ يُخۡسِرُونَ ﴾ په کلماتو کې راغلی دی.

۳ دمقابلې صنعت چې دفجارو او ابرارو ترمينځ پدې کلام کې راغلی چې ﴿ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡفُجَّارِ لَفِي سِجِّينٖ ﴾ او ﴿ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡأَبۡرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴾ ترپايه پورې.

۴-دمراتبو تعظيم او سترتوب چې الله نېکانو ته ورکړی لکه داچې ﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴾.

۵-اشتقاقي جناس لکه پدې کلام کې چې فرمايي ﴿ فَلۡيَتَنَافَسِ ٱلۡمُتَنَٰفِسُونَ ﴾.

۶-اطناب چې دمتقيانو دنعمتونو داوصافو يې يادونه کې راغلې چې ﴿ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِهِمۡ نَضۡرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴾.

۷-بليغه تشبيه لکه چې فرمايي ﴿ خِتَٰمُهُۥ مِسۡكٞ ﴾ يعني لکه مشک غوندې ورمه او خوشبويي لري خو دلته دتشبيه ادات او وجه دشبه حذف شوي نو ورته بليغه تشبيه ويل کېږي.

۸ - دفواصلو موافقت کوم چې دآيتونو په پيل کې راځي لکه ﴿ كَانُواْ يَضۡحَكُونَ ، يَنظُرُونَ ، يَكۡسِبُونَ ، يَفۡعَلُونَ ﴾ او نورچې مرصع سجع بلل کېږي.

دالله جل جلاله په مرسته دمطففين سورت تفسير بشپړ شو.

***

(۱) قرطبي تفسير ۱۹/۲۲۸

دانشقاق سورت مکي او پنځه ويشت آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دانشقاق سورت مکي دی او د نورو مکي سورتونو په شان دقيامت دورځي کړاوونه بيانوي او په دې ترڅ کي داسلامي عقيدې بنسټونه ټينګوي.

دسورت پيل دقيامت دورځي په ځينو نندارو کېږي او هغه او ښتون ښيي کوم چي پدې ورځ په کائناتو کي پېښېږي فرمايي ﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتْ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ وَإِذَا ٱلْأَرْضُ مُدَّتْ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ﴾.

وروسته دانسان له هغو زيارونو او تکليفونو څخه پرده پورته کوي کوم چي درزق روزي په لاس ته راوړلو کي يې کاږي ترڅو دآخرت لپاره هغه څه چي خوښه يې شي له نيکي او بدي څخه واستوي چي بيا هلته عادلانه جزاء ورکول کېږي ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَٰقِيهِ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا﴾ دآيتونو تر پايه پوري.

وروسته دقرآنکريم په هکله دمنافقينو دريځ ښيي او لوړه اخلي چي دوی به سختي او کړاوونه ويني پدغه ورځ کي به له ډېرو وېروونکو حالاتو سره لاس او ګرېوان شي داهسي ورځ ده چي پکي سړي ته مال اولاد ګټه نشي رسولای ﴿فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلشَّفَقِ وَٱلَّيْلِ وَمَا وَسَقَ وَٱلْقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ﴾ دآيتونو تر پايه.

وروسته آيتونه مشرکانو ته توبيخ ورکوي چي ولي په الله جل جلاله باندي ايمان نه راوړي سره له دې چي روښانه دلائل او څرګند براهين شته؟ او بيا په جحيم کي د دردناک عذاب زېری ورکوي فرمايي ﴿فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍۭ﴾.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتْ ﴿١﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلْأَرْضُ مُدَّتْ ﴿٣﴾ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا
وَحُقَّتْ ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَٰقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ
حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُوا۟ ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا
﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴿١٣﴾ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ﴿١٥﴾ فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيْلِ
وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَٱلْقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا
يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍۭ ﴿٢٥﴾﴾ الانشقاق: ١ - ٢٥

لغتونه:

(کادح) زیارایستونکی کارکونکی په پوره سعی سره (یحور) رجوع اوبیرته راګرزېدلوته وایې او دغه رنګه په حدیث شریف کي راځي (أعوذبک من الحوربعد الکور) یعني زه په تاباندي پناه غواړم له هغې رجوع څخه چي له زیادت څخه دنقصان په لوروي (الشفق) دلمرډوبېدلوورووسته هغه سوروالي ته وایې چي دآسمان په لمن کي وي (وسق) راټولېدل نغړدل (اتسق) راټولېدل دځلابشپړېدل (ممنون) غوڅ پرې کړی شوی.

تفسیر:

﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ ﴾ کله چي آسمان څېري شي وچوي ، دغه آیتونه دقیامت دسختي ورځي دهغو پېښوانځوردی چي له هغې سره به یوځای راځي هغه پېښې چي فکراوخیال پکي حیرانېږي ، کوم وخت چي آسمان وچوي اوددې خبري ښکارندوی دی چي نورکائنات هم نړېدونکي دي الوسي لیکي چي دآسمان چاودېدل به دقیامت له وېري اوهیبت څخه وي(۱) ﴿ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ﴾ او واوري ومني حکم دړب خپل او(دآسمان) لائق وړدی (دهغه الله حکم منلوته یاداچي ده لره وړدي چي وچوي دقیامت له هول څخه ﴿ وَإِذَا ٱلۡأَرۡضُ مُدَّتۡ ﴾ اوکله چي ځمکه وغوړوله شي یعني غرونه بې هواراوګردې بناګاني بې ونړېږي او ځمکه هواره ویره شي ﴿ وَأَلۡقَتۡ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتۡ ﴾ اودباندي وغورځوي هغه چي دننه پکې وي له مړیو او خزانوڅخه اوښه خالي شي له ټولوشیانوڅخه . قرطبي لیکي : معنادا چي مړي اوخزانې یانوري زېرمې راوباسي کوم چي ددې په ګېډه کي دي لکه بلاربه مېرمن چي ماشوم وزېږوي اودغه هم دقیامت د ورځي په هول اوهیبت ګواهي ورکوي(۲) ﴿ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ﴾ اوواوري ومني حکم دړب خپل او دا ځمکه وړ اولائق ده دهغه الله حکم منلوته د(اذا) ځواب حذف کړی شوی دی یعني کله چي دا پورته یادي شوي پېښې ګردي واقع شي نوبه انسان له هغه څه سره مخامخ شي چي په خیال کي به یې نه راځي دغه حذف دقیامت دورځي لویوالی اوهیبت افاده کوي وروسته الله تعالی فرمایي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ﴾ ای انسانه بېشکه ته عمل کونکی یې په پوره سعی کوښښ سره تروخته درسېدلورب خپل ته په عمل کي سعی کولوسره نوته یوځای کېدونکی یې له دغه (خپل عمل اوسعی سره اوجزاء یې مومې که خیروي اوکه شردلته خطاب عام اوټولوانسانانوته متوجه دی معنادا چي ای انسانه ته پخپلوکړو وړوکي زیار ایستونکی یې آن تردې چي خومرګ ته رسېږې وخت دي په چټکي تېرېږي هره شېبه ته له خپله کوتاه ژوندانه څخه یوڅه بایلې نولکه چي ته مرګ ته په تلواره وردرومې اوبیابه ستاپروردګارتاته په خپلو کړو وړوجزادرکړي که دي ښه عملونه کړي ووښه جزابه ومومې اوکه دي بدکړي وو بدبه مومې په البحرکي لیکي چي (کادح) په ټول ژوندکي په روزګارکي زیارایستونکي

(۱) روح المعاني ۳۰/ ۷۸
(۲) قرطبي تفسیر ۱۹/ ۲۶۸

ته وايې ترڅو چې الله ته پيوسته شي او ډخپل نيک او بد عمل جزاء ومومي (۱) له دې نه وروسته الله جل جلاله دخلګو وېش نيکمرغه او بدمرغه ته په داسې ډول فرمايې چې نيکمرغه انسان به خپله داعمالو پاڼه په ښي لاس او بدمرغه به يې په کيڼ لاس اخلي او داسې ارشاد کوي چې ﴿ فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴾ پس هغه څوک چې ورکړل شي کتاب اعمالنامه دده په ښي لاس دده کې نوژر دی چې حساب به وکړه شي له ده سره حساب آسانه چې دنيکيو ثواب به يې ورکړل شي او له ګناهونو څخه به يې ورتېر شي او دغه ته عرض وايې لکه چې په صحيح حديث شريف کې راغلي ﴿ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴾ او وبه ګرزي اهل خپل ته (په جنت کې) خوشحاله کړی شوی (په هغه څه چې الله تعالی ورته له خپل فضل او کرامت څخه ښنلي دي (۲) ﴿ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ﴾ او هر هغه څوک چې ورکړه شي کتاب عملنامه دده وروسته ترشادده (په کيڼ لاس کې او دغه دشقاوت او بدمرغي نښه ده) ﴿ فَسَوْفَ يَدْعُوا۟ ثُبُورًا ﴾ پس ژر به ناري کړي دی ای هلاکه ! ای هلاکه ! راحاضرشه دغه دي وخت دی (يعني دی به دمرګ او هلاکت آرزو کوي) ﴿ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ﴾ او ننه به وزي دی بل اور (د دوزخ) ته چې وبه څکي عذاب او ګرمي دهغه ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴾ چې بېشکه وودی (په دنيايې) اهل خپل کي خوشحاله (دچارو عواقب يې نه سنجول آخرت يې په پام کې هم نه ورګرزېد و غافل وو. ابن زيد ليکي: الله جل جلاله دجنتيانو صفت په ژړا، وېره، خواشيني او خفګان کړی چې دوی به په دنيا کې کول نو په آخرت کې يې نعمتونه او خوشحالي ورپه برخه کړل او ددوزخيانو صفت يې په دنيا کې په خوښي خندا او خوشحالي سره کړی په آخرت کې يې اوږدغم او ناورين ورپه برخه کړی دی ﴿ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴾ بېشکه ده به يقين کاوو په دنياکې داسې چې دی به له سره بېرته نه ګرزي (الله ته او له بعث څخه منکروو څکه يې بد کارونه کول) ﴿ بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ﴾ هو دی رجوع کوي (هرومرو الله ته) بېشکه رب دده دی په ده ښه پوه ليدونکی بينا (هغه به بېرته وروسته له مرګه راژوندی کړي او په ټول اعمالو که خيروي او که شر جزاء به ورکړي الله په خپلو بندګانو ښه خبردار دی هيڅ شی ځني پټ نه دی ﴿ فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴾ (لا د قسم د تاکيد

---

(۱) البحر المحيط ۸ / ۴۴۲

(۲) مقصد له حساب يسير څخه کوم چې په آيت شريف کې ذکر شوی (عرض) دی لکه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت شوی چې ويې فرمايل له چاسره چې حساب وشي عذاب به ورکړل شي عائشې رضی الله عنها ورته وويل چې آيا الله جل جلاله داسې ندي فرمايلي چې (فسوف يحاسب حسابًا يسيرًا) رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: دغه ته عرض (ورانلدي کول) وايه شي خو که په حساب کې ورسره دقت وشي عذاب به مومي متفق عليه په بل حديث شريف کې راغلي چې رسول الله فرمايې: الله تعالی دقيامت په ورځ خپل بنده ته دومره ورنژدې شي چې پخپل حفظ او کنف کې به يې واخلي بيا ورته وايې داسې دې کړي او داسې دې کړي او دده ګناهونه ورته وشمېري بيا ورته وايې په دنياکې مې ستا دغه ګناهونه پټ کړي وو او ننن يې در بښم او له حساب يسير څخه هم دغه مراد دی.

لپاره دی) پس قسم خورم په شفق سپينوالي دعشاء پس له سوروالي دماښام ﴿ وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ ﴾ اوپه شپه اوپه هغو(څيزونو) چي جمع کړي وي (شپې هغه پخپلو تيارو کي) هغه که انسانان وي که حيوانات اوياڼورخزندګان. مفسرين کرام ليکي چي په شپه هرمخلوق آرام کوي اودورځي ټول هغه چي تيت اوخواره وي بيګاه بيرته خپلو کورونو او ځالو ېنډ غالواوغارونوته راستنېږي ځکه الله جل جلاله دغه احسان پدې ويناکي يادوي فرمايي ﴿ وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنًا ﴾ کله چي ورځ شي نودوی يوه بله خوا خپاره اوتيت شي اوکله چي شپه راشي بيانوهرمخلوق خپل هستوګنځي ته راستون شي ﴿ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴾ او(قسم خورم) په سپوږمۍ کله چي پوره کامل شي (نور اوځلايي اوکامل بدرتري جوړشي) ﴿ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴾ خامخاسواره به شی وبه رسېږی تاسي ای خلګويو حال وروسته له بل حال نه (دغه دقسم ځواب دی يعني دآخرت کړاوونه به درته ورسېږي ، الوسي ليکي: معناداچي سواره به شی په حالاتووروسته له نوروحالاتوچي دغه به په سختي کي طبقي او پوړۍ وي څه به يي ترڅه نوروسخت وي اودغه عبارت له مرګ اودقيامت دورځي له نورو تکليفونو څخه دي[1]) طبري ليکي معناداچي دوی به دقيامت وېرونکي اوترهونکي حالت وار په وارووينې ([2]) ﴿ فَمَا لَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴾ پس څه دي (دغوانسانانوته) چي ايمان نه راوړي؟ (دااستفهام دی اومرادور څخه توبيخ اوترټنه ده معناداچي پس څه دي چي دغه کسان ايمان نه راوړي اودغه مشرکان په بعث او نشورباندي باورنلري سره له دې چي دېبېنېدلودلائل يې ټول موجوددي ﴿ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقُرۡءَانُ لَا يَسۡجُدُونَ ﴾ اوکله چي ولوست شي پردوی باندي قرآن نوغاړه نه ايږدي سجده نه کوي (لپاره دلوستلو يې) ﴿ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُكَذِّبُونَ ﴾ بلکه هغه کسان چي کافران شوي دي په الله دروغ ګڼي (قرآن) ځکه چي دغه تکذيب اوعناديې په خټه کي اغښلی نود تلاوت په وړاندي يې غاړه نه ايږدي ﴿ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴾ اوالله ته ښه معلوم دی هغه څه چي دوی يې پټوي (په زړه کي يې ساتي له کفره اونفاق څخه ابن عباس رضی الله عنهماوايي چي (يوعون) معناداچي پټوي دښمني درسول الله صلی الله عليه وسلم اومؤمنانو[3]) ﴿ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ پس بشارت (زېری) ورکړه دوی ته په دردناک عذاب سره (په آخرت کي په سبب دکفراوګمراهي ددوی دغه بدخبريې دزېري په ځای ور واورول په التسهيل کي ليکي چي زېری دوېروني اوانذارپرځای راوړل په کفاروباندي ملنډي اوتهکم دی ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ مګرخوهغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي ښه (عملونه) يعني ايمان يې له صالح عمل سره مل کړي ﴿ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونِۭ ﴾ هغوی ته بې نهايته اجردی چي خلاصي اوکمی نلري (تل ترتله به وي الله تعالی دغه سورت

---

[1] روح المعاني ۳۰/۸۲
[2] قرطبي ۳۰/۸۰
[3] البحرالمحيط ۸/۴۴۸

دنیکانو خلګو په نعمتونو وروسته له هغه چي د فاجرانو حال یې بیان کړ بشپړ کړاو دا ګواکي د هغه اجمال تفصیل دی چي الله جل جلاله د سورت په پیل کي بیان کړی وو چي هرڅوک به د خپل عمل جزا و مومي هلته یې داسي فرمایلي وو ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا فَمُلَٰقِيهِ ﴾.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي د بدیع او بیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱ - د طباق صنعت چي د ﴿ ٱلسَّمَآءُ ﴾ او ﴿ ٱلۡأَرۡضُ ﴾ ترمینځ راغلی دی.

۲ - مقابله پدې کلام کي چي فرمایې ﴿ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴾ او ﴿ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهۡرِهِۦ ﴾ کي راغلی ده.

۳ - کنایه پدې آیت شریف کي چي ﴿ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ ﴾ دغه له شدت او سختي څخه کنایه راوړل شوي ده.

۴ - ناقص جناس چي د ﴿ وَسَقَ ﴾ او ﴿ ٱتَّسَقَ ﴾ ترمینځ شتون لري.

۵ - تهکمي اسلوب چي په ﴿ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ جمله کي راغلی ځکه دلته زېری د وېرولو پرځای راغلی دی او دغه تهکم او سخریه افاده کوي.

۶ - د فواصلو توافق چي د آیتونو له پیل سره پدې آیتونو کي راغلی چي ﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلشَّفَقِ وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ ﴾ دې ته د سجع صنعت وایې چي له بدیعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

د الله جل جلاله په مرسته د الانشقاق د سورت تفسیر بشپړ شو.

***

د(البروج)سورت مکي اودوه ويشت آيتونه لري

دسورت په وړاندې:

دغه سورت دمکي سورتونو څخه دی اوداسلامي عقيدې حقائق څرګندوي اوهغه محور کوم چي دغه مبارک سورت وربانديي راتاوېږي هغه دکندي دخاوندانوکيسه ده اوداګواکي هغه دسر بښندني اوفداکاري داستان دی چي يوڅوک يې دايمان په لارکي پخپل ځان مني.

دغه سورت پداسي تکوپيل شوی چي په هغه آسمان لوړه اخيستل شوي کوم چي بې شمېره سترستوري اوغټ غټ مدارونه لري هغه چي دغه افلاک پکي ګرزي راګرزي همداسي په وعده ورکول شوي ورځ چي دقيامت ورځ ده قسم اخيستل شوی اوهمداراز په رسولانواوأمتونو يې لوړه ده چي مجرمين به هلاکېږي هغه کسان چي مؤمنان به يې په اورکي غورځول ترڅوچي له دينه يې واړوي نوفرمايي ﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُودٞ وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ ﴾ دآيتونو ترپايه.

له دې وروسته دهغوبدکارانولپاره وعيداوېرونه راوړي کوم چي ددې کار نوښتګر (مخترعين) ووفرمايي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ ﴾.

بياد الله جل جلاله دقدرت اوځواک خبرراکوي چي همغه زبردست الله دمؤمنانوپه کسات او غچ اخيستلوکي له کفاروڅخه ښه تواناومقتدردی ارشادکوي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ ﴾.

په پای کي دغه مبارک سورت دهغه سرغړونکي جابرطاغوت (فرعون) کيسه يادوي کوم چي پخپله دی اوتبرېې دسرغړوني اوبغاوت له امله په څرنګه هلاکت له مينځه لاړل فرمايي ﴿ هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡجُنُودِ فِرۡعَوۡنَ وَثَمُودَ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي تَكۡذِيبٖ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطُۢ بَلۡ هُوَ قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۭ ﴾ اوداهغه مناسبه خاتمه ده چي دسورت له موضوع سره ښېخي سمه ده.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ (١) وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ (٢) وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ (٣) قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ (٤) ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ
(٥) إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُودٞ (٦) وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ (٧) وَمَا نَقَمُواْ مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ

﴿٨﴾ ٱلَّذِي لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُوا۟ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا۟
فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ ٱلْحَرِيقِ ﴿١٠﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ذَٰلِكَ
ٱلْفَوْزُ ٱلْكَبِيرُ ﴿١١﴾ إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴿١٣﴾ وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو ٱلْعَرْشِ ٱلْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ
لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِي تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطٌۢ ﴿٢٠﴾ بَلْ
هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍۭ ﴿٢٢﴾ ﴾ البروج: ١ - ٢٢

لغتونه:

(الأخدود) هغه ستري اوږدې كندې ته وايي چې دخندق په شان وي او جمع يې (اخاديد) راځي (قتل) په سخت لعنت ملعون شوى (مانقموا) عيب يې نه ليد و كركه يې نه كوله (بطش) په سختئ سره نيول (يبدئ) په لومړي پيل كې پخپل قدرت سره پيدا كوي (المجيد) ستر، لوى اولوړ.

تفسير:

﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلْبُرُوجِ ﴾ (قسم په آسمان چې خاوند دبرجونو دى) يعني زه په هغه آسمان لوړه كوم هغه چې دا وچتو منزلو نوښتن دى چې هلته ستوري دخپل تګ په وخت كې ښكته كيږي. مفسرين كرام ليكي چې دغو منازلو ته بروج ځكه وويل شو چې څرګند دي اوله لويو دنګو مانيو سره مشابهت لري.

﴿ وَٱلْيَوْمِ ٱلْمَوْعُودِ ﴾ او قسم دى په هغې ورځې وعده كړى شوي (چې دقيامت ورځ ده) هغه چې الله خلګو ته ورباندې وعده وركړې ده او داسي ارشاد كوي ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ﴾ (النسآء:٨٧) ﴿ وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ﴾ او قسم دى په محمد صلى الله عليه وسلم او انبيآوو او په هغو اُمتونو چې حاضريږي دقيامت په ورځ لكه چې الله تعالى فرمايي ﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ﴾ (النسآء:٤١) چا بيا ويلي چې شاهد دغه محمدي اُمت دى او مشهود نور ګرد اُمتونه دي دليل يې دا ښودلى چې الله فرمايي: (١) ﴿ لِّتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ﴾ (البقرة: ١٨٣) ﴿ قُتِلَ أَصْحَٰبُ ٱلْأُخْدُودِ ﴾ وژلي شوي دي خاوندان دكندي، دغه دعائيه جمله او د قسم ځواب دى يعني الله وژلي او ملعون كړي دي هغه داوردخندقونو خاوندان چې ځمكې يې كيندلي

---

(١) مفسرينو رحمهم الله د (الشاهد) (او المشهود) په هكله لوى اختلاف ښودلى آن تردې چې شپاړس اقوال يې ياد كړي دي چا بيا ويلي چې شاهد د جمعې ورځ او مشهود دعرفې ورځ ده چا ويلي چې شاهد محمد صلى الله عليه وسلم او مشهود دقيامت ورځ ده څوك وايي: شاهد انساني اعضآء او غړي دي او مشهود عليه بنيادم دى.. ترپايه خوصاوي ليكي چې ترټولو غوره اوښه داده چې عام او شامل وګڼل شي تر څو هر شاهد او مشهود پكي ګډ شي.

اوریې پکي بل کړي ووترڅومؤمنان پکي وسوځوي . قرطبي لیکي چي (أخدود)لکه خندق غونډي کنډي ته وايي اود(قُتِلَ) معنالعنت کړی شوی دی ابن عباس رضی الله عنه وايي هرځای چي په قرآن کي (قُتِلَ) راغلی وي معنايې ملعون کړی شوی دی (۱)ورپسې الله تعالی د(أخدود)تفصيل داسي بيانوي چي مراد ور څخه ﴿ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلْوَقُودِ ﴾ خندقونه داور(په ځمکه کي) چي خاوندد بلیدلووو (کفارو دمؤمنانودسوځولولپاره بل کړي ووابوالسعودلیکي چي دغه ددې اورصفت دی چي زښته لوی اور اوچتي لمبې يې ختلې اوډېره ازوغه پکې وه (۲)اوله دې څخه ددې اورهيبت اوهول افاده کېږي ورپسې الله دمجرمانوپه وصف کي زياتوب اومبالغه فرمايي ﴿ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ﴾ کله چي دوی(په غاړو) داورناست وو(۲) ﴿ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ ﴾ اودوی په هغه چي کول به يې په مؤمنانو باندي حاضروو(اوپخپلوسترګويې ورته کتل دمؤمنانوپه سوځېدلوبه يې زړه يخېدو(۳) غرض له دې نه دقريشي کفارو وېرول دي څکه دوی به هم دځپل تېرخلګ چي کله مسلمانان شول ځورول ربړول ترڅو له ايمانه وګرزي نوالله جل جلاله داصحاب الأخدودکيسه ورته ياده کړه ترڅوددوی کفارو لپاره اخطار اودمسلمانانولپاره ډادينه اوتسلاشي بيافرمايي ﴿ وَمَا نَقَمُوا۟ مِنْهُمْ إِلَّآ أَن يُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴾ او عيب يې نه ليده له هغو (مسلمانانو) څخه مګرداچي ايمان لرونکي ووپه الله ډېرغالب ډېرستايلي شوي باندي(هغه ذات چي څوک هغه ته پناه وړي هغه تل ترتله خوندي ساتي مقصدداچي د مسلمانانوپه اورسوځولو سبب يوازي داوچي دوی په واحداولاشريک الله باندي ايمان راوړی وو او داخوکومه ګناه نه ده چي دعذاب ورکولووړ وګڼل شي بلکه يوازي دغه دکفاروطغيان اواجرام دی ﴿ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴾ هغه (الله) چي خاص ده لره ده باچاهي کامل سلطنت دآسمانونو اود ځمکي (اوګردوکائناتوکوم چي دڅاصفت ورڅي ، په البحرکي راوړي چي دالله جل جلاله دغه صفتونه يې يادکړي چي په هغوباندي الله تعالی ددې وړاو لائق ګرزي چي ورباندي ايمان راوړل شي څکه هغه (عزيز) زبردست غالب ،توانااوقادردی دهغه له عذابه بايدويره وشي هغه ستايلی شوی ذات دی زښته ډېرنعمتونه يې په بندګانولورولي بايد حمداوثنا يې ولوستل شي ﴿ ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ ﴾ هغه (الله) چي خاص ده لره ده پاچهي کامل سلطنت دآسمانونو او د ځمکي يعني اوهرڅه چي پدې ځمکه اوآسمان کي موجوددي هغوی ته ښايې چي دالله عبادت وکړي او الله ته غاړه کېږدي ، دايې

---

(۱) قرطبي ۲۸۴/۱۹

(۲) دغي کيسې ته يوه څغلنده کتنه داسي کېدای شي چي پخوازمانه کي يوکافرظالم باچاووچي دښارخلګ يې ديوې عجيبي واقعې په ليدلومسلمانان شول نوده امروکړچي دکوڅوپه سرونوکي کندي وکنئ اوورنه پکي بل کړئ اوبيايې لښکريانوته وفرمايل چي هرنارينه اوښځينه مسلمانان دي دغه اورته راوبلل شي هرڅوک چي له ايمان څخه نه اوړي پدغه اورکي دي وغورځوي همداسي يې وکړل ترڅويوه ښځه يې راوستله چي کوچنی دتي ماشوم يې په غېږکي ووهغه زړه نازړه شوه خوماشوم ورته ويل : مورکی صبرکوه ته پرحق يې ! دکيسې تفصيل په صحيح مسلم کي وګورئ

(۳) البحرالمحيط ۸ /

ددې لپاره يادکړل چي له داسي حق څخه کرکه کول او يا په داسي ذات باندي دايمان راوړل عيب ګڼل هيڅوک هم نکوي مګر هغه چي په باطل او سرغړونه کي سرترپايه ډوب وي ﴿ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ﴾ (او الله په هرشي باندي شاهددی) يعني الله تعالی دخپلو بندګانو په اعمالو باندي ښه خبردار دی هيڅ شی هم څني پټ نه دی پدې کي دکفارو لپاره وعيد او دمسلمانانو لپاره وعد او بشارت نغښتی دی، وروسته الله تعالی دکفارو دزياتي رسوايي لپاره فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ﴾ بېشکه هغه کسان چي په فتنه کي غورزولي وي ضررېي رسولی وي ايمان لرونکو سړيو ته او ايمان لرونکو ښځو ته (يعني په عذاب کړي او په اورکي يې غورزولي ترڅو چي له ايمانه وګرزي) ﴿ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ ﴾ بيايې توبه نه وي ايستلي (او له کفره نه وي ګرزېدلي) نو دوی ته دي (په آخرت کي) عذاب ددوزخ او دوی ته عذاب داور سوځونکی (يعني دوی لره جهنم رسواکونکی عذاب دی او همدارنګه دوی لره سوځونکی عذاب دی کله چي دوی به په دنيا کي مؤمنان په اورکي سوځول، دکفارو مجرمينو دحال بيانولو وروسته دمؤمنانو حال داسي بيانوي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ ﴾ (بېشکه هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه) چي ايمان او صالح عمل يې يوځای کړی شته دوی ته جنتونه چي بهېږي له لاندي (دمانيو اوونو) دهغو ويالې) يعني دوی لره باغونه دي چي په ګلانو او مېوو سمسور او ترمانيو اوونو لاندي څلور ډوله ويالې دشرابو، شيدو، شاتو او اوبو رواني وي[1] ﴿ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡكَبِيرُ ﴾ دا نجات دی مراد موندل لوی (ستره کاميابي ده چي له دې پورته بله نشته وروسته الله تعالی دهغه سخت انتقام يادونه کوي کوم چي دخپلو انبياوو عليهم السلام او خپلو دوستانو مؤمنانو له دښمنانو څخه يې اخلي فرمايي ﴿ إِنَّ بَطۡشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ﴾ بېشکه نيول درب ستا خامخا ډېر سخت دي يعني دالله کسات اخيستل او انتقام له ظالمانو او جابرانو څخه ډېر سخت دي ابو السعود وايي (بطش) په سختي سره نيولو ته وايې او کله چي يې په سختي سره هم وستايو نو ګواکي څو چنده زيات شو چي الله دکافرانو څخه په عذاب باندي انتقام اخلي (٢) ﴿ إِنَّهُۥ هُوَ يُبۡدِئُ وَيُعِيدُ ﴾ بېشکه همدغه (الله) دی ظاهروونکی (دبطش خپل په کفارو) اول ځلي او بيا ظاهروونکی دی (دبطش خپل په کفارو) دوهم ځلي (په آخرت کي) يا بېشکه چي همدغه (الله) دی پيداکونکی اول ځل له نطفي څخه او بيايې راګرزونکی دی (دوهم ځلي) پس له مرګه ﴿ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلۡوَدُودُ ﴾ او همدی دی ښه ښنونکی (دګنهګارو مؤمنانو) لطيف او احسان کونکی (له خپلو اوليا وو سره) او همدارنګه له دوی سره مينه او محبت کونکی. ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: الله له خپلو اوليا وسره داسي مينه او محبت لري لکه چي يوڅوک له خپل وروړ سره په مينه او ورين

---

(١) قرطبي تفسير ٣٠/ ٨٨

(٢) ابو السعود تفسير ٥/ ٢٥٣

تندي مودت كوي ﴿ ذُو ٱلْعَرْشِ ﴾ څښتن دعرش دى اوله دې كبله يې الله دعرش دڅښتن په صفت ياد كړاو ورته دعرش نسبت يې وكړچې عرش سره له دومره لويوالي پيدا كول دالله جل جلاله په لويوالي اوعظمت دلالت كوي ﴿ ٱلْمَجِيدُ ﴾ لوى دى (پخپلوصفاتواوذات كي يعني الله جل جلاله په ټولومخلوقاتولوړدى اودكمال اوجلال په صفتونوستايلى دى ﴿ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴾ دېرښه كونكى دى دهرهغه شي چي اراده وفرمايې (نه دهغه حكم څوك منع كولاى شي اونه يې هم فيصله ماتولاى شي.
قرطبي ليكي چي دهغه دارادې او غوښتني په وړاندي هيڅ شى مانع كېداى نشي(١) روايت كېږي چي حضرت ابوبكرصديق رضى الله عنه كله چي دمړګوني ناروغۍ په حال كي وو يوچاورته وويل چي آياطبيب كتلى يې؟ هغه ورته ويل هو! نويې بياترې وپوښتل چي طبيب څه درته وويل ابوبكر رضى الله عنه ورته وويل چي راته ويل يې: ﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ ﴾ (٢) آياراغلى دى تاته (اى محمده!) خبرد(هغو)لښكرو(چي كافران وودپيغمبرانو اونبيانوسره يې جنګ ته ملاوي تړلي وې آياداخبردرته رسېدلى چي هغوى څرنګه الله پخپل عذاب هلاک كړل؟ قرطبي ليكي چي الله تعالى پدې باندي خپل پيغمبرته داداوتسلاوركوي بيافرمايې: ﴿ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴾ چي فرعونيان او ثموديان وودوى دېرغښتلي اودجګړې اومقابلې اتلان وو دوى ستاترټبرپه جګړواو جنګونودېرمېړني اوزورور ووخوله دې سره سره الله هغوى پخپلوګناهونوباندي ونيول اوهلاک يې كړل ﴿ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ فِى تَكْذِيبٍ ﴾ بلكه هغه كسان چي كافران شوي دي (له قومه ستا)په دروغجنوكي دي اوعبرت نه اخلي له پخوانيوهلاک شوي دروغجنوكفاروڅخه بلكه تل ترتله په تكذيب كي دي اوترهغوى په كفراو طغيان كي اوښتي دي ﴿ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطٌۢ ﴾ اوالله په هرلوري ددوى احاطه كونكى دى (په علم او قدرت خپل سره نوترې خلاصېدى نشي ﴿ بَلْ هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ﴾ بلكه داقرآن دى شانداره لوى (لفظًامعنًا اعجازًا دوى دداسي كتاب تكذيب كوي چي هغه په شرف اولوړوالي كي ېېخي زيات دى اوتر ګردو آسماني كتابونوپه اعجاز، نظم اود معانيوپه صحت كي پورته اولوړدى داسي نه دى لكه چي كافران وړباندي دشعر، سحرياكهانت ګمان كوي ﴿ فِى لَوْحٍ مَّحْفُوظٍۭ ﴾ ليكلى شوى دى په لوح محفوظ كي(هغه چي په آسمانونوكي دى اوله زياتوالي ،نقصان تحريف اوتبديل څخه خوندي اومحفوظ دى).

---

(١) قرطبي تفسير۱۹ /۲۹۵
(٢) دابن كثيرمختصر۳ /۲۲۵

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته لنډيزيې په لاندې ډول دی:

۱- دطباق صنعت چې د ﴿ يُبْدِئُ ﴾ او ﴿ وَيُعِيدُ ﴾ ترمينځ شته دی.

۲- اشتقاقي جناس چې د ﴿ وَشَاهِدٍ ﴾ او ﴿ وَمَشْهُودٍ ﴾ ترمينځ دی.

۳- دهغې مدحې تاکيد چې له ذم سره ورته وي لکه داچې ﴿ وَمَا نَقَمُوا۟ مِنْهُمْ إِلَّآ أَن يُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴾ لکه چې وايې ددوی جرم اوجنايت پرته له ايمان څخه بل څه نه وواوداخوپه حقيقت کې ترستروسترويار اوفخردی.

۴- دمقابلې صنعت کوم چې دمؤمنانواوکافرانو دهستوګنځيوترمينځ دي لکه ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَتَنُوا۟ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ. ﴾ دآيتونو ترپايه اوپه مقابل کې يې ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ جَنَّٰتٌ... ﴾ دآيتونوترپايه راغلی دی.

۵- دکيسې داوريدلو لپاره تشويق اودراښکون اسلوب لکه چې فرمايې: ﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ ﴾

۶- دمبالغې صيغې لکه ﴿ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴾ او ﴿ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴾ اونورمثالونه يې.

۷- دفواصلو موافقت لکه ﴿ وَٱلْيَوْمِ ٱلْمَوْعُودِ ..... وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ ..... قُتِلَ أَصْحَٰبُ ٱلْأُخْدُودِ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلْوَقُودِ ﴾ اودې ته دسجعې صنعت ويل کېږي چې دبديعي محسناتوڅخه دی.

دالله جل جلاله په مرسته دالبروج سورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

دالطارق سورت مكي او اوه لس آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:-

دغه مبارک سورت مكي اوځيني هغه چاري چي په اسلامي عقيده پسي اړونددي خبري د سورت محوردبعث اونشورپه هكله دى اودالله جل جلاله په بشپړقدرت اوځواک يي روښانه دلائل او كوټلي براهين وړاندي كړي دي ځكه هغه ذات چي له نېستي څخه يي انسان پنځولى (پيداكړى) هغه يي په بيرته راژوندي كولوقادردى.

دسورت پيل په آسمان اوروښانه ستوروباندي په قسم اخيستلوكېږي هغه ستوري چي خلگو ته دشپې لاري رڼاكوي ترڅو دبحراوبرلاري په توره شپه كي ومومي اوسربېره پردې په هرانسان باندي الله يوداسي مبارک پربنته گمارلي چي ساتنه اوڅارنه يي وكړي فرمايي ﴿ وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ﴾.

بيا دالله جل جلاله دقدرت هغه دلائل بيانوي چي څرنگه به انسان وروسته له مرگه راژوندى كړي فرمايي ﴿ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ﴾.

ورپسي بياهغه وخت يادوي چي پټ رازونه وسپړل شي ، پردې پورته شي اوالونياكارونه راڅرگند شي هغه ورځ چي انسان به هيڅ ځواک مرستندوى اوخواخوږى ونلري: ﴿ يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ﴾.

سورت پدې خبروپاى ته رسېږي چي قرآنكريم دمحمدصلى الله عليه وسلم تلپاتي معجزه او خلگوته دهغه له لوري بَليغ حجت دى، بيادقرآن رښتنولي بيانوي او كفاروته ددردناک عذاب خبر ور كوي فرمايي: ﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا وَأَكِيدُ كَيۡدٗا فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ﴾.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ۝٢ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ۝٣ إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ۝٤ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ۝٥ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ۝٦ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ۝٧ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ۝٨ يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ۝٩ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ۝١٠ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ۝١١ وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ۝١٢ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ۝١٣ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ۝١٤ إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ۝١٥ وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ۝١٦ فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ۝١٧ ﴾ الطارق: ۱ - ۱۷

لغتونه:

(الطارق) له طرق څخه اخيستل شوى چي په زوره وهلوټكولوته وايي اومطرقه هم له دغي كلمې څخه ده همداسي دشپې هرراتلونكي ته طارق ويل كېږي (دافق) په سختي سره توى شوي لكه چي ويل كېږي

اوبه په شدت سره را اوري (الترائب) د سينې هډوكي د (تريبة) جمع لكه (فصيلة) چي جمع يې فصائل راځي امرء القيس پدې باب وايې: (ترائبها مصقولة كالسجنجل) يعني د سينې هډوكي يې صيقل شوي لكه د سروزرو تختې ياهنداره غوندي (١) (الرجع) باران ځكه ورته راجع ويل شوچي وارپه وار ځمكي ته رادرومي رجوع كوي (الصدع) هغه ګياه چي ځمكه يې په راټوكېدلو چوي (رويدًا) لږ او يا نږدې

تفسير:

﴿ وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ﴾ (قسم دى په آسمان اوپه راتلوكي دشپې) يعني قسم دى په آسمان اوځلانده ستوروچي په شپه كي څرګندېږي اودورځي پټېږي اوهرراتلونكي دشپې ته طارق وايې ﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ﴾ اوڅه پوه كړى يې ته (اى محمده) چي څه دى راتلونكى دشپې؟ استفهام د تعظيم اوتفخيم لپاره دى، وروسته يې تفسير داسي فرمايې ﴿ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ﴾ ستورى ځلېدونكى دى (څېرونكى دشپې دتيارو. صاوي ليكي دالله جل جلاله په كلام كي د هرڅله دلمر، سپوږمۍ اوستورويادونه شوي ده ځكه دهغوى حالات په شكلونو، تګ راتګ، ختلو، ډوبېدلوكي عجيب اونادردي چي ديوه خالق په كمالاتو باندي دلالت كوي ځكه چي هرمصنوع په صانع باندي دال وي(٢) ﴿ إِن كُلُّ نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ﴾ چي ندى هيڅ نفس مګرپه هغه باندي څارونكى ساتونكى شته، دادقسم ځواب دى يعني په هغه باندي ساتونكي ملائكي شته چي دعمل خيراوشريې ساتي اوشمېري لكه چي الله تعالى فرمايې ﴿ وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ كِرَامٗا كَٰتِبِينَ ﴾ (الانفطار:١٠ ١١) ابن كثيرليكي چي په هرنفس باندي دالله له لوري ساتونكى ګمارل شوى چي له آفاتوڅخه يې وژغوري (٣) بيا الله جل جلاله حكم كوي چي انسان بايد پخپل خلقت اوپيدا اېښت كي سوچ اوفكروكړي ترڅوپدې وپوهېږي چي دبعث اوپاڅېدلو امكان شته نوفرمايې ﴿ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ﴾ نوودي ګوري انسان چي (اصلا) له څه شي څخه پيداكړى شوى دى (دغه كتنه دي په غور اوسوچ سره وكړي) ﴿ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ﴾ پيداكړى شوى دى (انسان) له اوبوتوپ وهونكوڅخه (هغه مني چي په قوت اوشدت سره له نارينه اوښځي څخه راغورزي اودالله په حكم ورڅخه ماشوم پيداكېږي ﴿ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ﴾ هسي اوبه چي راوزي له شا (د سړيو) اوله هډوكو د سينو (د ښځو) څخه (٤) ﴿ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ﴾ بېشكه دغه (الله) په بيابيرته راژوندي كولو دهغه خامخاقادر دى. ابن كثيرليكي الله جل جلاله انسان ته دهغه دلمړي پيدا اېښت دضعف اوناتواني په هكله تنبيه وفرمايله اوپه معادباندي په اعتراف

---

(١) روح المعاني ٣٠/ ٩٧

(٢) دصاوي حاشيه ٤/ ٣٠٩

(٣) مختصرابن كثير ٣/ ٦٢٩

(٤) صلب شمزۍ اودشا هډوكي ته وايې له صلب څخه كنايه له نارينه وواوپه ترائب سره كنايه له ښځوڅخه راغلي ده.

کولوېږ ورته ارشاد او لارښوونه وکړه ځکه يوڅوک چي په لومړني پيداکولو قادراوتواناوي هغه په بيرته راپاڅولو هم ښه قادردی ﴿ يَوْمَ تُبْلَى ٱلسَّرَآئِرُ ﴾ په (هغه ورځي کي چي ښکارولی به شي پټ څيزونه) يعني هغه ورځ چي دزړونو امتحان اوازموينه به کيږي اوهغه څه به يې څرګنديږي کوم چي ددوی پټ نيتونه اوياعقائدوي پاک اوناپاکه به سره بېلېږي ﴿ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٍ وَلَا نَاصِرٍ ﴾ نونه به وي دغه (انسان) ته هيڅ قوت زور(چي له عذابه ځان خلاص کړي) اونه هيڅ ناظر مددګار(چي مرسته يې وکړي)په التسهيل کي ليکي څرنګه چي په دنياکي دکوم عذاب څخه د ژغورلولپاره ياخوکوم زور اوقوت په کاروي اويادبل مرستندوی مرسته اوکومک نوالله جل جلاله خبر ورکړچي په قيامت کي به دغه دواړه ونلري[1] نه به خپل توان اوزور لري اونه به يې بل مرستندوی له الله څخه ژغوري ..کله چي الله تعالی دمبدأ اومعادپه هکله بيان وفرمايوورپسي يې ددغه معجز کتاب په رښتنولي داسي قسم اولوړه وکړه چي :﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجْعِ ﴾ قسم دی په آسمان خاونددبيرته را ګرزېدلو(چورلېدلو) ياقسم دی په آسمان اوربښت کونکي کوم چي وخت په وخت انسانانوته راګرزي ابن عباس رضی الله عنه وايي (الرجع) باران دی اوکه داباران نه وای نوخلګ اوخاروي به ګرد هلاک شوي وای[2] ﴿ وَٱلْأَرْضِ ذَاتِ ٱلصَّدْعِ ﴾ اوقسم دی په ځمکه خاونددچاودلو(دسوري چي نباتات، وني، ګلان اواوبه ترې راوزي . ابن عباس رضی الله عنه وايي چي: دغه دهغې دنباتاتواومېوودراټوکېدلوپه وخت کي چاودېدلوته وايي[3] الله تعالی په هغه آسمان سوګندواخيست چي پرموږباران اوروي اوالله تعالی په هغه ځمکه يې لوړه وکړه چي موږته مېوې اونباتات رازرغونوي آسمان دخلګولپاره لکه پلار اوځمکه يې لکه مورغوندي ده اوددوی دواړوترمينځ سترنعمتونه اوښېګړي هغه چي دبشريت بقا ورپوري اړه لري اودارنګه دنورو ژويوژوندتامينوي پيداکيږي ﴿ إِنَّهُۥ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴾ ببشکه دغه (قرآن) ويناده بېلونکي (دحق اوباطل داسي روښانه چي اعجاز، تشريع اوبيان يې خپل وروستي سرحدته رسېدلی دی) ﴿ وَمَا هُوَ بِٱلْهَزْلِ ﴾ اونه دی دغه (قرآن) لوبي عبث خبري ، ټوکي ټکالي بلکه دغه داحکم الحاکمين ذات کلام دی نو لوستونکي ته يې ښايي چي عبرت اوپندترې واخلي اوله ارشاداتو او لارښوونوڅخه يې نفع مندشي ﴿ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴾ دغه (مشرکين دمکي کفار) چل کوي په چل کولوسره ترڅودالله دنورمشال ووژني اومحمدي شريعت له مينځه يوسي ﴿ وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴾ او وربه کړم زه هم دخپل کښښ سزا(دوی ته) سزا ورکول (چي مهلت به ورکړم اوبيابه يې ونيسم په سخته نيولوسره لکه چي الله فرمايي ﴿ سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (القلم ۴۴)ابوالسعودليکي : معناداچي زه به له دوی سره پداسي ټينګ چل مقابله وکړم چي دوی به يې ردولی

---

[1] التسهيل لعلوم التنزيل۴ /۱۹۲
[2] مختصرابن کثير ۳ /۲۲۸
[3] الطبري ۳۰/۹۵

نشي اوله داسي لاري به يې راولم چي دوی به ورباندي پوه هم نشي(۱) ﴿ فَمَهِّلِ ٱلْكَٰفِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًۢا ﴾ (پس مهلت ورکړه کافرانو ته مهلت ورکړه دوی ته لږ موده) يعني ددوی د هلاکت په هکله تلوار مه کوه اومه هم له دوی څخه د انتقام او کسات اخيستلو ژر ترژره غوښتنه کوه څه وخت يې پر ېږده ژر دی چي ته به هغه څه ووينې چي زه يې پر دوی راولم او دا ګواکي ددوی لپاره خوراسخت وعيد او اخطار دی

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- د تفخيم او تعظيم لپاره استفهام لکه ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ﴾.

۲- د طباق صنعت چي د ﴿ وَٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ ترمينځ او د ﴿ فَصْلٌ ﴾ او ﴿ بِٱلْهَزْلِ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۳- اشتقاقي جناس لکه پدې کلام کي چي ﴿ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴾.

۴ - اطناب دفعل په تکرارسره چي دوعيد په هکله مبالغه افاده کړي لکه د الله تعالی پدې ارشاد کي ﴿ فَمَهِّلِ ٱلْكَٰفِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًۢا ﴾.

۵- لطيفه کنايه ګله چي فرمايي ﴿ يَخْرُجُ مِنۢ بَيْنِ ٱلصُّلْبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ﴾ چي په (صلب) سره يې له نارينه او په (ترائب) سره يې له ښځو څخه کنايه راوړي او دغه له باريکو کناياتو څخه ګڼل کېږي.

٦- ښکلي او په زړه پوري سجع چي د اسلوب په جمال ښايست او تازګي کي زياتوالی راوړی لکه ﴿ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجْعِ وَٱلْأَرْضِ ذَاتِ ٱلصَّدْعِ ﴾ او دې ته ورته ﴿ إِنَّهُۥ لَقَوْلٌ فَصْلٌ وَمَا هُوَ بِٱلْهَزْلِ ﴾ چي دغه رنګه سجع له بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي

د الله جل جلاله په مرسته د الطارق سورت تفسير بشپړ شو.

***

(۱) ابو السعود تفسير ۴۳۸/۸

د(الأعلى) سورت مكي او نولس آيتونه لري

دسورت په وړاندې:

* دالاعلى سورت له مكي سورتونوڅخه يودى اوپه لنډ ډول له لاندنيو ثيزونوڅخه غږېږي:

۱- دالله جل جلاله لوړذات او ځيني صفات يې همدارازدالله جل جلاله په قدرت او وحدانيت باندي دلائل راوړي

۲- وحى او دقرآنكريم نزول چي په خاتم الانبيآء نازل شوى او همداسي په هغه ﷺ باندي يې دحفظ آسانولو په هكله بيان كوي.

۳- نيک پنداووعظ چي دژونديوزړونوڅښتنان اودنيكمرغي اوايمان خاوندان ځني برخمن كيږي

* دسورت پيل دالله جل جلاله پاكي اوتنزيه بيانوي هغه الله چي دشيانوپيدايښت يې په ښكلي صورت اوابداع سره فرمايلي ،وانښه،كښتونه يې په بندګانوباندي دنعمت په توګه لورولي اوددوى د ګتي لپاره يې رازرغون كړي دي فرمايي ﴿ سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ۝١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ۝٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ۝٣ وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ﴾ دآيتونوترپايه

* بيا له وحى او قرآن عظيم څخه بيان فرمايي اورسول الله صلى الله عليه وسلم ته دقرآن عظيم الشان دياداوحفظ په هكله ډاډينه اوزيرى وركوي چي دغه سپيڅلى كتاب به ورته ديادولو لپاره آسانه كړي چي بيابه هيڅكله هم تري هېرنشي وايي: ﴿ سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفَىٰ ﴾.

* وروسته دقرآنكريم څخه دپنداخيستلويادونه كوي هغه سپيڅلى كتاب چي له ځلااونورانيت څخه يې مسلمانان ګټه اخلي اوپرهېزګاران يې له وعظ او پند څخه مستفيد كېږي ﴿ فَذَكِّرۡ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكۡرَىٰ سَيَذَّكَّرُ مَن يَخۡشَىٰ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلۡأَشۡقَى ﴾ دآيتونوترپايه

* په پاى كي الله دهغوكسانوبرى ستايي چاچي ځانونه له ګناهونوڅخه پاک كړي اوپه نيكو اعمالويې ښايسته كړي دي فرمايي ﴿ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴾ دسورت ترپايه پوري

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ۝١ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ۝٢ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ۝٣ وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ۝٤ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ
۝٥ سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ۝٦ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفَىٰ ۝٧ وَنُيَسِّرُكَ لِلۡيُسۡرَىٰ ۝٨ فَذَكِّرۡ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكۡرَىٰ ۝٩
سَيَذَّكَّرُ مَن يَخۡشَىٰ ۝١٠ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلۡأَشۡقَى ۝١١ ٱلَّذِي يَصۡلَى ٱلنَّارَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ۝١٢ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ۝١٣ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ
۝١٤ وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ۝١٥ بَلۡ تُؤۡثِرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ۝١٦ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ۝١٧ إِنَّ هَٰذَا لَفِي ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ
۝١٨ صُحُفِ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ۝١٩ ﴾ الأعلى: ۱ - ۱۹

لغتونه:

(غثآء) هغه څيزته وايي چې سېلاب يې په سرراوړي او د کندي په خواوشايې وغورځوي هغه چې وچ وابښه ،پاڼې اويانورخس اوخاشاک وي(احوى) تورنسواري له (حوة)څخه اخيستل شوي هغه توربخون والي ته وايي(يصلى) ننى به وزي اوګرمي به يې وځکي.

تفسير:

﴿ سَبِّحِ ٱسْمَ رَبِّكَ ٱلْأَعْلَى ﴾ پاکي بيان کړه دنامه درب خپل چې(له ټولوڅخه) د هرلوى اوبنه غالب دى؛ هغه ذات چې دنقص له صفاتو اوظالمانو له نازيباستاينوڅخه پاک دي په حديث شريف کي راځي کله چي به رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه آيت لوستل نوبه يې وويل﴿ سبحان ربى الاعلي ﴾[۱] وروسته دالله جل جلاله له لويو صفاتو دقدرت له مظاهرواودوحدانيت له دلائلوڅخه داسي بيان فرمايي﴿ ٱلَّذِى خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴾ هغه چي (ټول مخلوقات يې) پيداکړل اوأعضاء اجزاء يې برابراوبې نقصانه کړل) يعني دهغوى يې په زړه پوري جوړښت،هيئتونه اواشکال تيارکړل په البحرالمحيط کي ليکي: معنادا چي هريو څيزيې پيداکړاوبيايې برابرکړ چي متفاوت به نه وي بلکه په ټينګښت اومحکم والي کي به متناسب وي ترڅوپدې دلالت وکړي چي دغه دحکيم اوعليم ذات صنع ده(۲)﴿ وَٱلَّذِى قَدَّرَ فَهَدَىٰ ﴾(اوهغه (رب)چي اندازه يې کړل (ټول شيان دهغوى)نولاره يې ورو ښوده) يعني اندازه يې کړل په هر شي کي دهغه خواص اومزاياوي ترڅوعقول اوافهام يې روښانه شي اوانسان ته يې دهغه څه لارښودنه وکړه کوم چي ورباندي نفع اخلي اوهمداراز ځارويوته يې دهغوى ورشو(علفچر)څرځاى وروښودترڅوپکي وڅري، که دي ته وګوري ! چي په نباتاتوکي څومره خواص اوپه کانونومعدنونوکي څومره مزاياوي شته؟اودا چي انسان ته يې پدې هکله لارښوونه وکړه چي له نباتاتوڅخه ګټوري دواګاني جوړي تياري کړي اوله معادنوڅخه شوبلي، توپونه اوالوتکي تياري کړي نوتاته به دمقتدرذات هغه چي دحکمت خاوندى حکمت وبريښي هوکه چېرته ددغه رب تقدير اولارښوونه نه واى نوموږ به دڅارويوپه څېر ناپوهي په تياروکي اوسېدلو. مفسرين کرام ليکي چي دلته يې مفعول ددې لپاره حذف کړى چي عموم افاده کړي يعني اندازه کړى يې دى دهرمخلوق او حيوان لپاره هغه څه چې دده لپاره پکي مصلحت وي اوبيايې دګټي اخيستلو لاري چاري ورښودلي دي(۳)﴿ وَٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلْمَرْعَىٰ ﴾ اوهغه (ذات) چي راايستلى يې دى تازه ګياه له ځمکي نه (چي حيوانات يې خوري) ﴿ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحْوَىٰ ﴾ پس وبې ګرزوله هغه (شنه ګناه) وچه توره (وروسته له هغه چي شنه زرغونه وه) اوڅرګنده ده چي زرغونه ګياه کله چي وچه شي ګټوره ده ځکه چي دهرو حيواناتولپاره په زړه پوري خوراک جوړوي (فسبحان من أحكم كل شئ وأعطى كل شئ خلقه ثم هدى) کله چي دالله رب العزت دقدرت اووحدانيت دلائل ذکرشو نوبيا په خپل استاذي

(۱) أخرجه أمام احمد عن ابن عباس
(۲) البحرالمحيط ۴۵۸/۸
(۳) روح المعاني ۱۰۴/۳۰

باندي دفضل اولوريني يادونه کوي فرمايي ﴿ سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ﴾ ژردی چي وبه لولو موږ پرتا باندي (په ژبه دجبريل قرآن ای محمده!) بيابه يې ته نه هېروې ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ ﴾ مګرهغه چي اراده وفرمايي الله دهېرولويې له تانه په منسوخ کېدلو بېشکه هغه به بيرته هېرکړي، پدې آيت شريف کي درسول الله صلی الله عليه وسلم معجزه شته ځکه هغه خونه څه ليکلی اونه لوستلای شوای د(أمي) خطاب ورته کېدوخوله دې سره سره چي کله به جبريل عليه السلام ورته وحی راوړه نه به يې هېرېدله اودغه سپېڅلی کتاب يې بې له لوستلواوتکرارڅخه په يادوو اوهيڅکله به يې نه هېرېدلواودغه دهغه دنبوت په رښتنولي ستردليل دی. ابن کثيروايي دادالله له لوري خبرتيااوپيغمبرعليه السلام ته زېری دی چي په هغه باندي به قرآن لولي اوهيڅکله به ترې هېرنشي (١) ﴿ إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفَىٰ ﴾ (بېشکه دغه الله ته معلوم دی ښکاره او هغه څه چي پټ دي) يعني الله جل جلاله په هغواقوالواوافعالوچي بندګان يې ترسره کوي خبرداردی اوله هغه څه په ځمکه اوآسمان کي هيڅ شی هم پټ اوالونيانه دی ﴿ وَنُيَسِّرُكَ لِلۡيُسۡرَىٰ ﴾ اوآسانووډ تالپاره دشريعت آساني، ياتاته دآسانه شريعت هغه چي ترګردوآسماني شرائعو نرم اوآسانه دی دلاري موندلو توفيق اوبری درکووچي هغه داسلام شريعت دی ﴿ فَذَكِّرۡ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكۡرَىٰ ﴾ (پس ذکرپندورکړه ته ای محمده! پدې قرآن سره چېرته چي پندګټه رسوي لکه چي الله فرمايي ﴿ فَذَكِّرۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ﴾ (ق: ۴۵) ابن کثيرليکي: له دغه ځايه څخه دعلم دخپراوي ادب ترلاسه کېږي چي نااهلوته دي ونه ويل شي لکه چي حضرت علي کرم الله وجهه وايي: هغه قوم ته چي عقول يې ستاخبري نشي منلای خبري مکوه ځکه دغه به ددوی ځينوکسانولپاره فتنه شي بيا وايي خلګوته داسي خبري کوئ چي وربانديي پوهېږي آياتاسوداخوښوی چي په الله تعالی او دهغه په پيغمبرعليه السلام دي دروغ وويل شي؟ ﴿ سَيَذَّكَّرُ مَن يَخۡشَىٰ ﴾ ژردی چي پندبه واخلي هغه څوک چي له الله وېرېږي ﴿ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلۡأَشۡقَى ﴾ او ځني ډډه کوي لوی بدبخت کافر(پندبه نه مني) ﴿ ٱلَّذِي يَصۡلَى ٱلنَّارَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴾ هغه (لوی بدبخت) چي ننوزي به اور لوی ته (ددوزخ په آخرت کي. (٢) ﴿ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ﴾ بيابه نه مري په هغه (اور) کي (چي راحت ومومي) اونه به ښه ژوندي وي (چي راحت ولري) بلکه هغه به تل ترتله په عذاب کي اخته وي (٣) ﴿ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴾ په تحقيق بری موندلی په مرادرسېدلي دي هغه څوک چي پاک شوي دي (په ايمان سره له معاصيواوله الله سره يې په عمل کي اخلاص شته ﴿ وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴾ اويادبې کړنوم درب (خپل په عظمت اوجلال سره) بيايي (دالله له امرسره سم په خشوع او تواضع سره) لمونځ وکړ (چي

---

(١) البحرالمحيط ۸/ ۴۵۹

(٢) البحرالمحيط ۸/ ۴۵۹

(٣) طبري ليکي عرب هغه چاته چي په سخت مصيبت کي اخته شي داسي اصطلاح کاروي وايي چي هغه نه مړدی اونه ژوندی، الله جل جلاله هم ددوی له دودسره سمه ورسره مخاطبه وکړه.

داسلام نښاني ده) ﴿ بَلْ تُؤْثِرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ۝ وَٱلْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴾ بلکه تاسي غوره کوئ ژوندون ددنيا(په آخرت باندي) حال داچي آخرت تردنيا ډېرښه غوره اوتل ترتله دئ (ځکه هغه ژوند تلپاتي اوددنيافاني دئ باقي اوتلپاي تل ترفاني اوتېرېدونکي غوره وي نوځرنګه به هوښيارسړی فاني ترباقي غوره ګڼي اوځرنګه به په دارالغرور اهتمام اودارالبقاء ته به شاکړي؟ ابن مسعودرضی الله عنه دغه آيت ولوست اوبيايې ملګروته وويل: آياپوهېږئ چي موږولي دنيوي ژوند په اُخروي باندي غوره کړئ هغوئ وويل: نه نويې وويل: داپدې چي دنيوي ژوندزموږ په مخ کي اود خوراک ،څښاک ،مېرمنو اولذتونوخاوند دی اودآخرت ژوندله موږ څخه پټ اوله ستر ګوڅخه الونياواو پناه دی ځکه موږ دغه (عاجل) دنيوي ژوندته په أخروي (آجل) باندي ترجيح ورکړي ده(۱) ﴿ إِنَّ هَٰذَا لَفِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ۝ صُحُفِ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴾ بېشکه داخبري خامخاپه صحيفوړومبنيوکي دي چي صحيفې دابراهيم او(د) موسی دي يعني داهغه داديانومتفقه پندونه دي کوم چي په آسماني کتابونوکي ليکل شوي لکه چي پدې کتاب کي دي

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱-دطباق صنعت په ﴿ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴾ اوهمدارنګه په ﴿ ٱلْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ ﴾ کي راغلی دی ۲-اشتقاقي جناس په دې کلام کي چي ﴿ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ﴾ او ﴿ فَذَكِّرْ... ﴾ او ﴿ ٱلذِّكْرَىٰ ﴾ په کلماتوکي راغلی دی.

۳-دمقابلې صنعت لکه ﴿ سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ ﴾ او ﴿ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلْأَشْقَى ﴾ په کلماتوکي راغلی دی

۴-دمفعول حذف چي عموم افاده کړي لکه پدې کلام کي ﴿ خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴾ او ﴿ قَدَّرَ فَهَدَىٰ ﴾ چي مراد ځني داچي پيدايې کړهرڅيزاوبيايې برابرکړاواندازه يې کړهرشی بيايې ورته لاره وښوده.

۵-بې تکلفه سجع چي په قرآنکريم کي ډېرځايه راغلي ده لکه داچي ﴿ أَخْرَجَ ٱلْمَرْعَىٰ ۝ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحْوَىٰ ۝ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ﴾ اوداسي نورچي داهم له بديعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي

تنبيه: دموسی عليه السلام صحيفې له تورات نه پرته نوري صحيفې وې اوداسي روايت شوی چي په موسی عليه السلام باندي لس صحيفې چي ټول پندونه وو راغلي دي حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي: ماله رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وپوښتل چي دموسی عليه السلام صحيفې څه وې؟ راته ويل يې: هغه ټول عبرتونه اوپندونه ووچي: تعجب کوم هغه چاته چي په مرګ باورلري بياځنګه خوشحالي کوي؟ تعجب کوم هغه چاته چي په اوريقين لري ځنګه خاندي؟ تعجب کوم هغه چاته چي ددنيابدلون اوښتون يې ليدلی وي بياهم بېغمه کېږي؟ تعجب کوم هغه چاته چي په تقديرايمان لري بياهم خوابدی کېږي؟ تعجب کوم هغه چاته چي په حساب ايمان لري اوبياهم عمل نه کوي؟.

دالله جل جلاله په مرسته دالأعلی سورت دتفسيرژباړه بشپړه شوه.

---

(۱) خازن ۴/ ۲۳۶

د(الغاشية)سورت مكي او شپږويشت آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

الغاشية سورت مكي او دوه اساسي موضوع ګاني څېړي:

١-دقيامت ورځ او دهغې ورځي سختي او كړاوونه همداراز هغه څه چي كافرا و مسلمان به په هغه ورځ ورسره لاس اوګرېوان وي كافربه زحمتونه ګالي اومؤمن به نيكمرغي اونعمتونه بيامومي.

٢ - درب العالمين په وحدانيت دلائل اودهغه دقدرت مظاهرچي څرنګه عجيب مخلوقات يې پنځولي ، اوښ يې پيدا كړى، آسمان يې بې ستني درولى ، اوچت اودنګ غرونه يې پيدا كړي، مځكه يې غوړولې اوپه كړي ده چي داټول دالله جل جلاله په وحدانيت اوپه بې ساري جلال اوسلطان ګواهي وركوي په پاى كي سورت خلګوته دالله جل جلاله لوري ته درجوع كولو يادونه كوي څو حساب ورسره وشي اوجزاء وركړي

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْغَٰشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقَىٰ مِنْ
عَيْنٍ ءَانِيَةٍ ﴿٥﴾ لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴿٦﴾ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِى مِن جُوعٍ ﴿٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ
﴿٩﴾ فِى جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَٰغِيَةً ﴿١١﴾ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾ وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴿١٤﴾ وَنَمَارِقُ
مَصْفُوفَةٌ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِىُّ مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾ أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى ٱلْجِبَالِ
كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا
مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾ ﴾ الغاشية: ١ - ٢٦

لغتونه:

(الغاشية) پټونكي قيامت ته ځكه پټونكى وايې چي خلګ پخپلو كړاوونوكي نغاړي (خاشعة) ذليل اوخواري(ناصبة)له نصب څخه اخيستل شوى اوستړياستوماني ته وايې(ضريع) داورخوځان چي ترخه اوبدبويه وي (ناعمة) ښكلى تراوتازه (نمارق) بالښتونه اوتكيې زهيروايې:

كهولا وشبانا حسانا وجوههم • على سرر مصفوفة ونمارق

زاړه ځوانان به تراوتازه مخونه په كتار تختونوناست اوبالښتونو ته به يې تكيې لګولي وي (زرابي) فاخر فرشونه فراء وايې چي (زربية)هغه فرش ته وايې چي نرى بخمل پوښ ولري (مبثوثة) غوړول شوي (ايابهم) بيرته راتګ اورجوع ددوى

تفسير:

﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْغَـٰشِيَةِ ﴾ آيا راغلى دى تاته (اى محمده!) خبر دپټونكي (دخلګو په سختيو خپلو سره چي قيامت دى. استفهام دخبري داوريدلو دتشويق لپاره دى چي دهغه دشان دلويوالي په هكله تنبيه وركړي. مفسرين كرام وايي چي: غاشيه ځكه ونومول شوه چي خلګ په سختيو كي نغاړي اوپه ګردو خلګو به چاپېروي اوربړونه زحمتونه به يې ورباندي هوارېږي ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَـٰشِعَةٌ ﴾ (ځيني) مخونه به پدغه ورځ ذليل، سپك او وېرېدونكي وي ﴿ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴾ تكليف ايستونكي رنځ راښكونكي به وي (په اوردوزخ كي. مفسرين كرام ليكي: چي دغه آيت دكفارو په هكله دى چي دوى به په دوزخ كي دځنځيرانو اوطوقونو په كشولو ستوماني ګالي اوپه اوركي به داسي ځنبېږي ښوئېږي لكه چي اوبښ په خټوكي اوهمدارنګه داورپه لوړو ژورو به خېژي كوزېږي لكه چي الله تعالى فرمايي ﴿ إِذِ ٱلْأَغْلَـٰلُ فِىٓ أَعْنَـٰقِهِمْ وَٱلسَّلَـٰسِلُ يُسْحَبُونَ فِى ٱلْحَمِيمِ ثُمَّ فِى ٱلنَّارِ يُسْجَرُونَ ﴾ اودغه ددوى دهغه تكبر جزادى چي دوى به په دنياكي دالله له عبادت څخه سرغړونه كوله اوپه لذتونو شهوتونو كي به غوپه وو ﴿ تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴾ ننوزي به اورد ډېر ګرم ته. (ابن عباس رضى الله عنه وايي چي: داسي به سخت ګرم وي چي دالله په دښمنانو به يې لمبې خېژي ([1]) ﴿ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ ءَانِيَةٍ ﴾ ورڅښل كېږي به له چينې ډېر ګرمي څخه (چي ګرمي به يې خپل وروستي سرحد ته رسېدلي اوايشېدلي به وي) ﴿ لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴾ نه به وي دوى ته خواړه مګر له أغزي لرونكي ترخې ونې څخه (هغه چي قريش ورته (شبرق) وايي هغه ډېربد خوراك اوژونكي زهردي. قتاده وايي چي: داډېرناوړه طعام اوناكاره خوراك دى ([2]) دلته الله تعالى ددې يادونه وكړه چي ددوى خواړه به له (ضريع) نه پرته بل څه نه وي خو په الحاقة سورت كي الله فرمايلي چي:

﴿ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴾ پدې دواړوكي مخالفت اومنافات نشته ځكه عذاب خوډول ډول وي اوهمدارازدتعذيب وړكسان هم ډول ډول وي دځينو خوراك به زقوم وي ، دځينو نوروبه ضريع وي اوبياد ځينو نوروبه غسلين خواړه وي همداسي به ددوى دډلو په څېرعذاب هم ډول ډول وي ﴿ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِى مِن جُوعٍ ﴾ نه به څربوي (دغه بدن) اونه به ليري كوي هيڅ لوږه (ددوزخي نه) ابو السعود ليكي: معنادا چي له دغه خوړلو څخه چاغښت نه پيداكېږي اومړښت نه راولي لكه ددنيا خواړه اوداسي روايت هم راغلى دى چي پردوى به سخته لوږه مسلطه شي ترڅوبې (ضريع) خوړلوته اړباسي اوچي كله ضريع وخوري نوبه يې سخت تږى كړي اوبيابه يې دحميم څښلوته مجبوركاندي چي هغه يې كولمې وريت

[1] خازن تفسير ۴/ ۲۳۷
[2] مختصرابن كثير ۳/ ۲۳۲

اوبوته كړي[1] لكه چي الله فرمايي ﴿ وَسُقُوا مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴾ كله چي الله تعالى د بدبختانو حال بيان كړبيايي دنېكمرغه كسانوچي جنتيان دى دهغوپه باب داسي يادونه وكړه ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴾ (ځيني) مخونه به پدغي ورځي كي ښايسته اوتازه وي (چي هغه دمؤمنانو مخونه دي لكه چي بل ځاى الله فرمايي ﴿ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴾ (المطففين:٢٤) ﴿ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴾ پخپل زيارباندي به راضي اوخوشحاله وي (ځكه دوى خپل عمل دغه فردوس ته چي دمتقيانو ځاى دى راوستلي دي ﴿ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴾ په جنت لوړاوچت شانداره كي به وي ﴿ وَهُمْ فِي ٱلْغُرُفَٰتِ ءَامِنُونَ ﴾ بيافرمايي ﴿ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَٰغِيَةً ﴾ نه به اوري په هغه جنت كي كومه چټي بېكاره خبره (ښكنځل) اوفحش ابن عباس رضى الله عنهماوايي چي چټي اوځورونكي خبري به نه وي[2] ﴿ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴾ په دغه جنت كي چينه ده جاري بهېدونكي (چي سلسبيل اوبه تل ترتله پكي بهېږي هيڅكله هم نه وچېږي. زمخشري ليكي چي تنوين په (عينٌ) كلمه كي دتكثيرلپاره دى معنادا چي ډېري چيني دي تل بهېږي[3] ﴿ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴾ پدغه جنت كي دي تختونه لوړ اوچت عالي شانه (لپاره ستاسي جنتيانومكلل په زبرجداوياقوتوچي حور العين به ورباندي ناستي وي كله چي دالله وليان وغواړي چي پردې لوړوتختونوكېني هغه تختونه به ورته راښكته شي[4] ﴿ وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴾ اوجامونه ايښودلى شوي دي (په اندازه دڅښونكوخپلوپه څنډودچينوڅك چمتوچي دچاډكولوته يې ضرورت نه وي ﴿ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴾ اوبالښتونه ايښودل شوي څنګ په څنګ (جنتيانوته ترڅوورباندي تكيې ولګول شي ﴿ وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ﴾ او(په دغه جنت كي دي) فرشونه فاخره غوړول شوي (چي نرم وريښم بخمل ورباندي وي.، ورپسې الله جل جلاله پخپل قدرت او وحدانيت باندي دلائل راوړي فرمايي ﴿ أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴾ (آياپس نه ګوري (منكران په كتلودعبرت سره) اوښ ته چي څرنګه پيداكړى شوى دى) يعني آيادغه كسان دعبرت اوپند اخيستلوپه نظرسره اوښانوته نه ګوري چي الله په څرنګه عجيبه اونادرپيدا ايښت سره پيدا كړى؟ چي دخپل خالق په قدرت دلالت كوي؟ په التسهيل كي ليكي چي په آيت شريف كي داوښ دخلقت په هكله دكتلو هڅونه شته ځكه هغه دعجائباتوټولګه ده هغه خورادقوت خاوندى خوله دې سره سره بيا ښخي دهر ضعيف لپاره منونكى اوغاړه ايښودونكى دى، هغه په تنده كي زيات زغم لرونكى دى او زښته زياتي ګټي پكي شته چي سورلى، بارول، دغوښي خوړل يې اوشيدوڅښل يې ځيني له هغو ګټوڅخه ګڼلاى شو[5]

---

[1] ابوالسعودتفسير ٥ /٢٥٩

[2] دطبري تفصير ٣٠ /١٠٤

[3] روح المعاني

[4] مختصرابن كثير ٣ /٢٣٣

[5] التسهيل ٤ /١٩٢ – الله تعالى اوښ په نوروحيواناتوكي ځكه ځانګړى يادكړچي هغه دعرب ترګردوڅارويوغوره او ورته ډېره ګټه رسوونكى دى ځكه دوى ورته دبېدياكښتى. ياببېړى. وايي دهغه خلقت ته وګوره څومره قوي اوبياڅومره فرمان=

﴿ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ رُفِعَتۡ ﴾ او (آیا نه ګوري منکران) آسمان ته چي څرنګه بلند او چت کړی شوی دی (بې له ستنو څخه) ﴿ وَإِلَى ٱلۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ ﴾ او آیا نه ګوري غرونو ته چي څرنګه درولی شوي دي؟ (څومره لوړ او بیا په ځمکه څومره محکم سخت درول شوي چي هیڅ نه خوځېږي؟ ﴿ وَإِلَى ٱلۡأَرۡضِ كَيۡفَ سُطِحَتۡ ﴾ او آیا نه ګوري منکران) ځمکي ته چي څرنګه غوړولي شوي ده؟ یعني آیا دوی هغې ځمکي ته چي وربانديي هستوګنه لري نه ګوري چي څرنګه ویړه پراخه غوړول شوي چي دوی وربانديي اوسي او کښتونه، فصلونه وربانديي کري؟ الوسي لیکي چي دغه ویناد ځمکي د ګرویت سره هیڅ منافات نلري ځکه چي ځمکه خورالویه ده (١) دالله جل جلاله حکمت د دغو شیانو په ذکر کولو کي دادی چي قرآن کریم په عربو نازل شوی هغوی به په دښتو، بېدیاوو کي مسافرتونه کول له خلګو به ګوښی او تنهاوو او کله چي انسان یوازي وي نو فکر او سوچ کوي نو ددوی به لومړی نظر په اوښ لګېدلو هغه چي وربانديي به سپاره وو نو یو عجیب منظر به یې لیدو او که به یې لوړ و کتل له آسمانه پرته بل څه به یې نه لیدل، ښي او کیڼ اړخ ته به یې وکتل غرونه به په نظر ور غلل او چي ښکته به یې وکتل له ځمکي بغیر بل څه به یې نه لیدل ځکه د دغو څیزونو یادونه وشوه. ابن کثیر لیکي: الله تعالی کوچیانو پوند ګانو ته په هغه څه استدلال ورکړ کوم چي هغه یې ګوري ویني، او ښ هغه چي دی وربانديي سپوروي، آسمان هغه چي دده په سروي، غر هغه چي ورته مخامخ وي، ځمکه هغه چي ترده دلاندي وي د دغه څیزونه یې دد ې شیانو د خالق دقدرت په هکله ورته وړاندي کړل چي هغه ستر خالق، مالک، او متصرف دی هغه ذات چي له ده پرته بل څوک دعبادت وړ او لائق نشته (٢) کله چي الله تبارک وتعالی د توحید دلائل بیان کړل او کفار و پدې باندي عبرت نه واخیست نو الله جل جلاله خپل ګران پیغمبر ته حکم وکړ تر څو دوی ته وعظ او نصیحت وکړي ورته وېي فرمایل ﴿ فَذَكِّرۡ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٞ ﴾ (نو ته یې د پوهولو (پندورکړه دوی ته ای محمده!) بېشکه همدا ته پند ورکونکی یې) یعني ته دوی وو بروه دد ې پروامکوه چي دوی ولي نه ګوري او فکر نه کوي؟ بېشکه ته لارښود او پند ورکونکی یې ﴿ لَّسۡتَ عَلَيۡهِم بِمُصَيۡطِرٍ ﴾ نه یې ته پر دوی باندي مسلط کړی شوی (چي په زور یې مسلمانان کړي) ﴿ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴾ مګر هغه څوک چي وګرزېدو له ایمانه او کافر شو (په لوی او مقتدر الله یې ایمان نه راوړ) ﴿ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَكۡبَرَ ﴾ نو په عذاب به کړي دی الله جل جلاله په عذاب لوی (د دوزخ په قیامت کي) قرطبي وایې چي عذاب اکبرېې ونوماوو ځکه دوی په دنیاکي په

= منونکی دی چي یو ماشوم یې هم بېولای شي، کله چي وربانديي پېټی باروي نو هغه چو، خې او کېني ترڅو وربانديي بار کېږدي بیا ولاړېږي او دومره بار په اوږه وړي چي یوه ډله خلګ یې وړلای نشي بیا په لوږه او تنده کي دومره تحمل لري چي خوړرخي صبر کولای شي، لیري واټونه او مسافې وهلای شي په صحراکي ټول نباتات دهغه غذادي او دغسي نور دخلقت او تکوین عجائبات پکي شته، فسبحان الله الحکیم العلیم.

(١) زموږ علماوو داثابته کړي چي ځمکه کروي الشکله ده هغوی لکه امام فخررازي، ابو السعود، الوسي او نوروایې چي دغه غوړېدل او تسطیح یې دځمکي دلویوالي له سببه دی او یادا چي کتونکي ته دغسي ایسي، په قرآنکریم کي داسي څه نشته چي له علمي حقائقو سره دې په ټکر او مخالفت کي وي، دغه وینا په سورة لقمان کي هم څېړل شوي ده.

(٢) مختصر ابن کثیر ٣ /٦٣٤

لوړه تنده ،کاختي وژلواوبندي کېدلو هم معذب شوي وو(١) ﴿ إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴾ بېشکه خاص موږته دی بيرته راتګ ددوی (په قيامت کي وروسته له مرګه) ﴿ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴾ بيابېشکه زموږپه غاړه دی حساب ددوی (نوله اعمالوسره سم به جزاورکړو).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١- دتشويق اسلوب لکه ﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْغَٰشِيَةِ ﴾.

٢- مرسل مجازچي جزء ذکرشوی اومراد ځني کل دی لکه ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ﴾.

٣- په حروفواوتوروکي دطباق صنعت لکه ﴿ إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ...إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴾.

٤- اشتقاقي جناس لکه ﴿ فَذَكِّرْ .... مُذَكِّرٌ ﴾ اود ﴿ فَيُعَذِّبُهُ ....ٱلْعَذَابَ ﴾ ترمينځ

٥- مقابله چي دابراراوفجارو ترمينځ راغلی دی لکه ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴾ چي ددوی اودپخوانيوترمينځ دمقابلې صنعت شته څکه هلته فرمايي وو ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ ﴾ ٦- مرصع سجع چي بې تکلفه اوروانه وي لکه ﴿ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ فِى جَنَّةٍ عَالِيَةٍ لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَٰغِيَةً ﴾.

تنبيه:

وايي چي عمربن خطاب رضی الله عنه کله چي شام ته ولاړهلته هغه ته يونصراني تورعالم چي لوی شيخ وو راغی. نوعمر رضی الله عنه يې په ليدلووژړېدوچاورته وويل : ای اميرالمؤمنينه دژړېدوسبب دي څه دی؟ داخويونصراني دی نوهغه رضی الله عنه وويل چي: ماته دالله عزوجل هغه ويناراياده شوه چي هغه فرمايي: ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَٰشِعَةٌ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴾ نومادزړه سوي لپاره ورباندي وژړل(٢).

دالله جل جلاله په مرسته دالغاشية سورت تفسيرژباړه بشپړه شوه.

***

(١) قرطبي ١٩/ ٣٧

(٢) مختصرابن کثيررحمه الله ٣/ ٢٣٢

دالفجر سورت مکي او دېرش آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

الفجرسورت مکي اوله دريو مهمو څيزونو څخه غږېږي:

١-دځيني دروغجن ګمونکو قومونو کيسې بيانوي کوم چي دالله داستازيو تکذيب يې کاوو هغوی لکه عاديان،ثموديان اودفرعون قومونه ووچي بياوربانديي دالله جل جلاله عذاب نازل شونو فرمايي ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ﴾ دآيتونوترپايه پوري

٢ – دالله جل جلاله هغه سنت چي دبندګانوپه ازمويلوکې لري خير،شر،بډايي ،نېستي اوداچي انسان دمال پيداکولواو راټولولوسره پرېمانه مينه لري بيانوي اوداسي ارشادکوي: ﴿فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ﴾ دآيتونو ترپايه.

٣ – دآخرت ورځ اودهغې کړاوونه اوداچي خلګ به په دووډلووېشل کېږي نېکمرغه کسان اوبدمرغه انسانان دبدبختانواواشرارو هستوګنځی اودنېکمرغه اوغوره نفسونودخاوندانو هستوګنځی په ګوته کوي فرمايي ﴿كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ وَأَنَّىٰ لَهُ الذِّكْرَىٰ﴾ دسورت ترپايه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ
فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾ وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ
ذِي الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا فِيهَا الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ
لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ
فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴿١٦﴾ كَلَّا بَل لَّا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿١٨﴾ وَتَأْكُلُونَ
التُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾ وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾ كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ
صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِيءَ يَوْمَئِذٍ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ وَأَنَّىٰ لَهُ الذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي ﴿٢٤﴾
فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾
فَادْخُلِي فِي عِبَادِي ﴿٢٩﴾ وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾﴾ الفجر: ١ – ٣٠

لغتونه:

(حجر) عقل ته وايې فراء پدې هکله ليکي چي عرب يوچاته وايې چي (انه ذوحجر) يعني هغه په واک کي سړی دی خپل ځان يې په قبضه کي دی اوحجرپه اصل کي منع ته ويل کېږي عقل ته ځکه حجر وايې چي هغه هم له سفاهت څخه خپل خاوندمنع کوي (جابوا)غوځي کړي يې وې لکه چي ويل کېږي فلانی سړی (يجوب البلاد) يعني ښارونه اوځمکه پرې کوي (تراث) ميراث(لمّا) شديداوسخت او راټولولوجمع کولوته وايې لکه چي ويل کېږي (لم الله شمله) الله جل جلاله دهغه تيت اوپرک راټول کړل (جمّا) ډېرلوی اوسترلکه چي شاعروايې: ان تغفر اللهم تغفرجما‌ وأی عبدلک لا ألما) يعني ای الله چي ببښندکوې ستره ببښنه کوې ستابه کوم بنده وي چي ګناه يې نه وي کړي؟

تفسير:

﴿وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ (قسم دی په سبااوشپولسوباندي)دالوړه ده يعني زه قسم کوم دسهارپه روښنايې کله چي دشپې تاريکي شړي اوپه لسومبارکوشپوچي دذی الحجې له لومړۍ څخه پيل کېږي ځکه داشپې د حج اوسپېڅلواعمالولپاره دي [1]مفسرين کرام ليکي داچي الله تعالی په سهار باندي لوړه وکړه ځکه چي پدې وخت کي زړه دالله جل جلاله په حضورکي ډېرخاشع وي ا وبل په لسو سپېڅلوشپوچي هغه د لوی اخترد مياشتي لومړۍ لس شپې دي ځکه دغه دګردکال غوره اوبهتره دي لکه چي په صحيح البخاري کي راغلي چي :(مامن أيام العمل الصالح أحب الى الله من هذه الايام) يعني عشرذی الحجة..)الحديث يعني تردې (دذی الحجې لومړنۍ لس شپې) زيات غوره دنيک عمل شپې ورځي الله ته نوري نشته اصحابانورضوان الله عليهم ورته وويل ايانه هم جهادفي سبيل الله؟رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي نه هم جهادفي سبيل الله مګرهغه څوک چي په خپل مال اونفس جهادته ووزي اودواړه دالله جل جلاله په لارکي ځارکړي اوهيڅ يويې ونه ژغورل شي ﴿وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ﴾ (اوپه جفت باندي(قسم دی)اوپه طاق باندي) يعني په جفت اوطاق دهرشي لکه چي الله په هرڅيزباندي قسم اخيستی دی ځکه ګردشيان خويا جفت وي اوياهم طاق اويادغه قسم په خالق اومخلوق باندي دی ځکه چي الله واحد(وتر) طاق دی اومخلوقات نارينه اوښځينه يعني جفت دي [2] ﴿وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ﴾(اوپه

---

[1] دغه دجمهوروعلماوو وينا ده اوله ابن عباس رضی الله عنه څخه يې روايت کړی شوی دی چابياويلي چي دغه درمضان المبارک وروستۍ لس شپې دي ځکه چي دقدرشپه په هغوکي پټه ده اودغه هم له ابن عباس رضی الله عنه څخه بل روايت دی خولومړنی أرجح دی.

[2] دغه وينا له مجاهداوابن عباس رضی الله عنه څخه روايت شوي اوله ابن عباس څخه داسي روايت هم راغلی چي مرادله (شفع) څخه دنحر ورځ ده ځکه چي لسم دی او(وتر) دعرفات ورځ ده ځکه چي نهم راځي اوپدې هکله نوري هم ډېريويناوي شته

شپه باندي کله چي راځي(توره تیاره کېږي)یعني قسم کوم په شپه چي د کائناتو په عجیبه حرکت سره رادرومي اوداچي په راتګ یې وستایله ځکه چي په راتلويې دالله جل جلاله د بشپړقدرت اوسترنعمت دلیل په سترګوکېږي ﴿ هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ﴾ آیاشته پدې قسمونوکي لوی قسم قانع کونکی پوره خاوند دعقل ته ؟ استفهام تقریري دی چي دمقسم به عظمت اوسترتوب څرګندوي لکه چي وايي دغه لوی قسم دی دعقلونو خاوندانولره اوڅوک چي دعقل اوپوهې خاوندوي هغه ته معلومېږي چي پدې کوموشیانوچي الله لوړه اخیستي پدې کي دالله دقدرت عجائب اوپه توحید باندي دلائل شته نودغه حق خبره ده چي ور باندي لوړه وکړی شي ځکه دغه شیان په سترپیدا کونکي الله جل جلاله دلالت کوي قرطبي لیکي : کله کله الله جل جلاله پخپلو اسماوو اوصفاتو دهغه د علم له مخي قسم کوي اوکله په افعالو دهغه د قدرت له مخي قسم اخلي لکه چي فرمایي ﴿ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴾(اللیل:۳)اوپخپلو ترسره کړوچاروچي دصنعت عجائب دي لوړه کوي لکه چي ارشاد کوي: ﴿ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ..... وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ..... وَالْفَجْرِ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴾ (۱)دقسم ځواب محذوف دی تقدیریې داچي قسم په پالونکي ددې څیزونوچي کفاربه معذب کړی شي اوپدې ځواب باندي داوینادلالت کوي چي ﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴾ آیانه وینې نه یې خبرته (ای محمده!) چي څه کړی دي رب ستادعادیانو سره؟چي هغوی قوم دهودعلیه السلام وو)﴿ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴾ چي ارم ووخاوندان دقوت قامتونولويو (یا خاوندان دلویو ستنو وو)هغوی چي لوړي مانۍ یې درلودې اوپه احقاف کي دحضرموت اوعمان تر مینځ اوسېدل ﴿ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ﴾ هسي (قبیله) چي نه وه پیدا کړی شوي په مثل دهغې(په قوت قدرت کي) په ټولوښارونوکي) یعني ددوی دلویو بدنونو اوقوت په شان هیڅوک هم نه وو له دې څخه مقصد دمکې دخلګوېرول دي چي څرنګه الله جل جلاله عادیان هلاک کړل سره له دې چي اوږده عمرونه یې لرل اودمکې ترکفاروډېرغښتلي هم وو. ابن کثیرلیکي : دغه عاداولی قبیله وه هغه چي الله تعالی هودعلیه السلام ورته رالېږلی وو او دوی ورڅخه سر غړونه وکړه هغه یې دروغ وګڼاته او نافرماني یې څرګنده کړه دوی زیات کبرجن سرکښه اودالله له طاعت څخه وتلي د پیغمبرانو تکذیب کونکي وو نوالله ددوی یادونه وکړه چي څرنګه یې هلاک کړل ؟ ددوی هلاکت یې دراتلونکي نسلونو لپاره عبرت ګرزولی دی(۲)﴿ وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴾(اوڅه کړي وو رب دتاله) ثمودیانو هغو سره چي کنستلي غوڅي کړي یې وې لویې تیږې په کنده کي (چي وادی القری بلل کېده) ﴿ وَكَانُوا يَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا آمِنِينَ ﴾ ددوی هستوګنځي دریاض اوتبوک ترمینځ غروا وډبروکي وو. مفسرین کرام لیکي چي لومړني هغه خلک چي پرېښي اوتیږې یې توږلې دثمودیانو قبیله(توکم) وو ؛ دوی داسي پیاوړي، غښتلي او مېړني ووچي لویې

(۱) قرطبي تفسیر ۱۹/ ۴۱
(۲) ابن کثیر مختصر ۳/ ۶۳۲

تیري به یې راایستلې غرونه یې سوري کول او سکښتل چې د ځانونو لپاره به یې مضبوطې او محفوظې مانۍ پکې جوړولې دوی یوزراوه سوه ښارونه ټول په تیږو په وادی القری کې جوړ کړي وو[1] ﴿وَفِرۡعَوۡنَ ذِى ٱلۡأَوۡتَادِ﴾ (اوڅه کړي وورب دتاله) فرعون چې خاوندد (ډېرو لښکرو اویا) مېخونو وو؛ (هغه چې دده پاچهي یې ټینګوله ابوالسعود لیکي: الله تعالی د فرعون صفت په (ذی الاوتاد) وکړځکه چې زیات شمېر لښکري یې درلودې او زیاتې خېمې او کیږدۍ به یې درولې چې مېخونو ته به یې اړتیاوه او یادا چې فرعون به مسلمانانو ته په مېخونو ټکوهلو سره عذاب ورکاوو (۲).

﴿ٱلَّذِينَ طَغَوۡاْ فِى ٱلۡبِلَـٰدِ﴾ (هسې (سړي وودوی ټول) چې سرکشي یې کړې وه په ښارونوکې) یعني دغه عاد، ثمود او فرعون چې د الله له امر څخه یې سرغړونه کړې او ظلم طغیان یې غوره کړی وو. ﴿فَأَكۡثَرُواْ فِيهَا ٱلۡفَسَادَ﴾ بیایې ډېرکړی وو په هغوښارونوکې فسادورانی (ظلم، قتل او نورګناهونه) ﴿فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ﴾ (نونازله کړه پردوی باندې رب ستاقمچینه دعذاب) یعني ډول ډول عذابونه یې وورباندې واورول او داټول ددوی دسرغړونې او ګناهونولامل وو مفسرین کرام لیکي: دا چې الله دعذابونو دراتلو په هکله (صبّ) لفظ استعمال کړترڅو دغه په نزول کې سرعت بیان کړي لکه چې شاعروایي: (صببنا علیهم ظالمین سیاطنا) یعني په دوی ظالمانو موخپلې قمچینې واورولې، نازلې کړې، مقصد دا چې الله جل جلاله په هره ډله یو ډول عذاب نازل کړ عادیې په باد، ثمود یې په سخته چیغه، فرعون یې په ډوبېدلو او غرقېدلو هلاک کړ ﴿فَكُلًّا أَخَذۡنَا بِذَنۢبِهِۦۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا وَمِنۡهُم مَّنۡ أَخَذَتۡهُ ٱلصَّيۡحَةُ وَمِنۡهُم مَّنۡ خَسَفۡنَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ وَمِنۡهُم مَّنۡ أَغۡرَقۡنَا﴾ (العنکبوت: ۴۰) (۳) ﴿إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ﴾ (بېشکه رب ستا په ځای د انتظار کې دی) یعني الله جل جلاله یې عملونه څاري او په هغو جزاء او سزا ورکوي. په التسهیل کې لیکي چې مرصاد هغه ځای ته ویل کېږي چې پکې څارنه کاوه شي او مراد دادی چې الله تعالی د هرانسان څارونکی دی له هغه جل جلاله څخه هیڅ سرغړونکی کافر خلاصېدلای نشي او پدې کې قریشي کفاروته تهدید دی (۴) کله چې الله تعالی هغه عذابونه یاد کړل چې په سرکښانو کفارو نازل شوی وو نو د کافرانسان طبیعت یې هم بیان کړ هغه چې د آساني او سوکالي په وخت کې کبر او غرور کوي او کله چې تکلیف ورته ورسېږي نو مأیوس او ناهیلی شي فرمایي ﴿فَأَمَّا ٱلۡإِنسَـٰنُ إِذَا مَا ٱبۡتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ﴾ پس هر انسان بنیادم چې کله وازمویو رب دده (په راحت سره یې امتحان کړی) ﴿فَأَكۡرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ﴾ پس عزت یې ورکړده ته او نعمت یې ورکړده ته (او په دنیاکې یې په زامنو، رتبې او حکم

---

(۱) روح المعاني ۳۰/ ۱۲۲
(۲) ابوالسعود تفسیر ۵/ ۲۷۲
(۳) حاشیة الصاوي علی الجلالین
(۴) التسهیل لعلوم التنزیل ۴/ ۱۷۹

سره ونازاوو) ﴿ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَكْرَمَنِ ﴾ نو وايي رب زما عزت راكړ ماته (يعني هغه څه يې راكړل چي زه يې وړ او مستحق يم. خو په دې نه پوهېږي چي دغه يوازمويښت دی چي د كفران او شكران امتحان يې اخلي ﴿ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُۥ ﴾ او كله چي الله وازمويې دی (په زحمت سره) پس تنګه يې كړه پرده باندي روزي دده (مسكين او فقيريې كړ) ﴿ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَهَٰنَنِ ﴾ نو وايي زما رب زه سپک كړم (هغه داالله له حكمت څخه غافل دی چي دغه داالله يوازمويښت دی چي زما روزي يې تنګه كړه قرطبي ليكي چي دغه د كافرانسان صفت دی هغه چي په قيامت اوبيرته راپاڅېدلو ايمان نلري دهغه په آند او فكر سپكتيا د روزي په تنګسيا او عزت د روزي په پراختيا كې دی مګر كرامت او عزت هغه دی چي الله ورته د طاعت توفيق ور كړی وي هغه چي د آخرت توښه جوړوي او كله چي الله پراخه روزي وركړي نو د الله حمد او ستاينه كوي شكريې پرځای راوړي. هو الله چي د انسان دا دواړه خبري چي (اكرمن) او (أهانن) دی بدي وګڼلې دا پدې چي لومړی خبره يې د كبر، غرور، فخراوو يارله مخي وكړه نه د شكر پر ځای كولو لپاره همدا سي دوهمه يې بيادشكايت او بې صبري په توګه وكړه پده باندي لازم خو دا وو چي په پراخ رزق او روزي يې شكرايستلی وای او په محنت او سختي يې صبر او زغم درلودلای وای څكه نو الله جل جلاله هغه ترټي او فرمايي ﴿ كَلَّا ۖ بَل لَّا تُكْرِمُونَ ٱلْيَتِيمَ ﴾ داسي دي نه وايي بلكه تاسي اكرام احسان د پلار مړي يتيم نه كوی) يعني اكرام په غنا او اهانت په فقر سره نه دي لكه چي تاسو فكر كوی بلكه عزت او سپكتيا دالله په طاعت او معصيت كي ده خو تاسو نه پوهېږی سره له دی تاسو ته چي الله تعالی مال دولت هم دركړي د يتيم اكرام نه كوی ﴿ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴾ او نه تېزوی تاسي يو بل په خواړه وركولو محتاجانو ته ﴿ وَتَأْكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴾ او خورئ تاسي مال د ميراث په خوړلو د بېرو سره (ددې پوښتنه نه كوی چي دا روا دي او كه ناروا؟ په التسهيل كي ليكي معنادا چي تاسي په ميراث كي خپله او د بل ونډه دواړه واخلی ؟ عربانو به ښځو او كوچنيانو ته ميراث نه وركاوو بلكه يوازي نارينه وو به ميراث ترلاسه كاوو(۱)) ﴿ وَتُحِبُّونَ ٱلْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴾ او مينه كوی تاسي له مال سره په ميني د بېري سره(يعني حرص لری داددوی بدوالي بيانوي چي دوی په مال راغونډولو او ټولولو كي خورا د بېر حريصان وو او په لګولو او نفقه كولو خرڅولو كي يې زيات بخيلان وو ﴿ كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴾ نه ده داسي او مكوئ (داسي بدكارونه)كله چي وټكوله ماته شي ځمكه په ټكولو ماتولو سختو سره (كلا) دردع توری دی يعني داسي مكوئ ستاسي په وړاندي سخته ورځ او د بېر كړاو ونه شته دا به هغه وخت وي كله چي ځمكه ولړزېږي او په پرله پسې توګه سره وخوځېږي د جلالين شريف مؤلف ليكي : معنادا چي كله ټولي ماني او تعمېرات ونړېږي او له خاورو سره خاوري شي (۲).

---

(۱) التسهيل لعلوم التنزيل ۴ / ۱۹۸

(۲) جلالين تفسير

﴿وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾ او راشئ پروردګار ستا (ای محمده! چي د بندګانو ترمنځ فیصلې وکړي) او (راشئ) پرښتې صف صف (کتار کتار یو په بل پسي ودرېږي په التسهیل کي راوړي چي منذر بن سعید وایي: معنا دا چي رب به هلته خلګو ته ښکاره شي او دا آیت شریف او نور همداسي آیتونه وربانديِ ایمان راوړل واجب دی خو کیف او تمثیل یې نشي کېدای(۱) ابن کثیر لیکي: معنا دا چي خلګ به له قبرونو راپاڅي د خپل پروردګار په وړاندي به ودرېږي الله به راشي ترڅو د دوی ترمنځ د قضاء فیصلې وکړي او دا وروسته تر هغه چي د آدم علیه السلام نا زولی زوی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته د شفاعت خواست وکړي بیا به الله (هغسي چي له ده سره وړاندي وعده کړې ده) راشي څو فیصله وکړي پرښتې به کتار کتار د هغه په وړاندي صف صف ودرېږي(۲)) ﴿وَجِاْىٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ﴾ او را به ووست شي په هغي ورځي کي دوزخ (ترڅو یې ګنهګاران وویني لکه چي الله بل ځای فرمایي ﴿وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِمَن يَرَىٰ﴾ په حدیث شریف کي راځي چي د دوزخ په دې ورځي کي اویا زره ملوني (زمام) وي او له هري ملوني (زمام) سره به اویا زره پرښتې وي چي هغه دوزخ به راکش کاږي (۳)) ﴿يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ﴾ په دغه ورځ کي به پند واخلي یاد به کړي انسان (افراط خپل) او څه ګټه به و نه رسوي ده ته په دغه وخت کي پند اخیستل (ور په یاد پدل ځکه چي وخت یې تېر شوی دی ﴿يَقُولُ يَٰلَيْتَنِى قَدَّمْتُ لِحَيَاتِى﴾ وایي به څنګه به ښه وو ما له که څه مي مخکي لېږلی وای د پاره د ژوند د آخرت خپل (چي تلپاتي دی) ﴿فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ﴾ نو په دغي ورځي کي به نه په عذابوي الله (په مثل) د عذاب د دغه (الله) هیڅوک ﴿وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ﴾ او نه به قیدول کوي (په مثل) د قیدولو د دغه (الله) هیڅوک) یعني هیڅوک به د الله په شان تړونکی کله چي کافر په ځنځیرانو تړي نه وي دغه د مجرمینو او ګنهګارانو په هکله راغلی دی او کوم چي پاکیزه او مطمئن النفسه وي د هغه په باب فرمایي ﴿يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ﴾ ای نفسه د الله په وعده آرام نیونکیه (هغه چي نن به ورته وېره او خفګان نه رسېږي) ﴿ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً﴾ وګرزه (له دنیا نه) په طرف د رب خپل حال دا چي راضي خوښ یې ته له الله څخه او الله جل جلاله راضي خوښ وي له تا څخه. مفسرین کرام لیکي دغه خطاب او غږ به د مړیني په وخت کي وي او مسلمان بنده ته به د مرګ په نژدې شېبو کي دغه زېری ور اورول کېږي ﴿فَٱدْخُلِى فِى عِبَٰدِى﴾ داخل شه زما (د صالحو) بندګانو (په ډله) کي ﴿وَٱدْخُلِى جَنَّتِى﴾ او ننوزه جنت زما ته (سره له نورو مقربانو او صالحانو بندګانو چي دغه یې ځای دی).

---

(۱) التسهیل ۴/ ۱۹۸
(۲) د ابن کثیر مختصر ۳/ ۲۳۸
(۳) د مسلم شریف مرفوع روایت

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته په لاندې ډول يې لنډيزليکو:

۱- تقريري استفهام لکه د ﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ﴾ په کلام کې چې راغلی.

۲- دطباق صنعت چې د ﴿ وَٱلشَّفْعِ ﴾ او ﴿ وَٱلْوَتْرِ ﴾ ترمينځ ليدل کېږي

۳- اشتقاقي جناس لکه پدې کلماتوکې چې ﴿ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ ﴾ او ﴿ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ ﴾ او ﴿ يَتَذَكَّرُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴾ کې راغلي دي

۴- دمقابلې صنعت لکه ﴿ فَأَمَّا ٱلْإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكْرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ ﴾ او ﴿ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُۥ ﴾ کې شتون لري ځکه دلته يې د ﴿ أَكْرَمَنِ ﴾ او ﴿ أَهَٰنَنِ ﴾ ترمينځ مقابله اوهمداسې دروزي دتنګسيا اوپراخې ترمينځ مقابله راوړې ده.

۵- باريکه اوپه زړه پورې استعاره کله چې فرمايي ﴿ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴾ دلته يې سخت عذاب له شدلو قمچينو سره مشابه کړی اوبيايې دنازلولو لپاره داورولو او(صبّ) کله راوړې ده.

۶- دالتفات صنعت چې فرمايي ﴿ كَلَّا ۖ بَل لَّا تُكْرِمُونَ ٱلْيَتِيمَ ﴾ چې له غائب څخه يې مخاطب ته التفات فرمايلی دی ددې لپاره چې په ترټنه اوتوبيخ کې زياتوالی راولې ځای خوددې ووچې ويل شوي وای (بل لايکرمون).

۷- روانه سجع چې پکې تکلف نه وي لکه چې ارشادکوي ﴿ وَلَيَالٍ عَشْرٍ وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَسْرِ ﴾ اوهمدارنګه ﴿ وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُوا۟ ٱلصَّخْرَ بِٱلْوَادِ وَفِرْعَوْنَ ذِى ٱلْأَوْتَادِ ٱلَّذِينَ طَغَوْا۟ فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴾ دآيتونوتر پايه پورې

دالله جل جلاله په مرسته دالفجر سورت تفسير بشپړ شو.

***

د(البلد)سورت مکي اوشل آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دغه سورت کټ مټ دنورو مکي سورتونو په شان هدف اومرام لري چي دعقيدي او ايمان پخول په حساب اوجزاء باندي باور کول اود مؤمنانو او کافرانو ترمينځ ښېلتون بيانوي

په پيل کي سورت په بلدحرام باندي په قسم کولو شروع شوی هغه چي دنبي عليه السلام دشان تعظيم اوسترمقام چي دالله په نزديې لري درناوی وکړي اود کفاروپام دې لوري ته راوګرزوي چي دامن په ښارکي دالله استازي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ضرررسول دالله جل جلاله په نزد دګردوغټوګناهونوغټه ګناه ده.

بيادمکې دځينوکفارويادونه کوي کوم چي پخپل توان مغرور اودحق څخه يې انکارکاوو، پيغمبرعليه السلام يې دروغجن ګڼه اوخپل مالونه يې دفخر اوويارپه توګه لګول، دوی داسي ګمان کاوه چي دغه دمالونوخرڅول به دوی دالله له عذابه وژغوري خوآيت شريف په غوڅه توګه اوڅرګنده دليل ددوی دغه سوچ ردوي

وروسته بياسورت دقيامت له کړاوونو څخه خبري کوي اوهغه مشکلات ځنډونه اوربړونه بيانوي چي انسان نشي کولای پرته له ايمان اوصالح عمل څخه له هغوځنډونو ،مشکلاتواوربړونو څخه تېرشي.

په پای کي سورت دمؤمنانواوکافرانوترمينځ په همدې ورځ ښېلتون بيانوي اودهري ډلي هستوګنځی په دارالجزاء کي ټاکي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿لَا أُقْسِمُ بِهَٰذَا الْبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنتَ حِلٌّ بِهَٰذَا الْبَلَدِ ﴿٢﴾ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴿٣﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي كَبَدٍ ﴿٤﴾ أَيَحْسَبُ
أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾ يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾ أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُ أَحَدٌ ﴿٧﴾ أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا
وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ
ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ
﴿١٧﴾ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾﴾ البلد: ١ – ٢٠

لغتونه:

(كبد) رنځ، کړاو ،مشقت ته وايې اصل يې له کبد کلمې څخه اخيستل شوی کوم چي اينې (ځيګر) ته وايي اوکله چي به دسړي اينه خوږېدله دوی به ويل : (كبد الرجل كبدا) بياوروسته دهررنځ اومشقت لپاره استعمالېږي (اقتحم) اقتحام په تېزي اوسختي سره ننوتلوته وايي لکه چي وايي (اقتحم الحصن) چي معنايي ده کوم مهم کاراويا(برج)ته يې پرته له دې چي سوچ وکړي ورودانګل (العقبة) په غره کي ناهمواري لاري ته ويل کېږي (فک) خلاصول لکه چي وايي (فككت الحبل) يعني رسۍ مي خلاصه کړه (پرانسته) يا(فككت الاسير) يعني بندي مي خلاص کړ(مسغبة) لوږي ته ويل کېږي راغب ليکي چي له

ستوماني سره سره لوړي ته (مسغبة) وايي (١)(متربة) فقراوبېوزلي ته وايي ځکه بېوزله تل په خاورو سپېره وي (٢)(مؤصدة) سرپوښ کړی شوی تړلی،لکه چي وايي (أوصد الباب) يعني دروازه يې وتړله اوبنده يې کړه.

تفسير:

﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴾قسم خورم پدې ښاربانديي) دالوړه ده چي الله جل جلاله په بلد حرام(مکې) باندي قسم اخيستی هغه چي الله په (بيت العتيق) سره شرف ورکړی کوم چي دختيزاولوېديزد خلکو قبله اودرحمتونوداوربدلوځای دی هرڅه مېوې دهرځای ورته رادرومي هغه يې دامن ځای گرزولي اوله کومي ورځي چي الله دنياودانه کړي له هغه ترننه يې حرمت اوعزت په برخه دی (٣)نوځرنگه چي داټولي ځانگړتياوي اومزاياوي پکې دي الله پاک ورباندي قسم واخيست .په التسهيل کي ليکيّ چي له بلد حرام څخه دگردومفسرينوپه اتفاق مکه مرادده اوقسم يې دتشريف لپاره ورباندي کړی دی(٤)﴿ وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴾اوته(ای محمده !) ساکن اومقيم يې پدې ښارکي چي مکه اودامن ښاردی بيضاوي ليکي چي الله تعالی په بلدحرام قسم واخيست اوبيايي درسول الله صلی الله عليه وسلم هستوگنه په همدې ښارکي بيان کړه ترڅونور زياته بهتري ځرگنده شي ځکه دمکان شرافت دهغه په اهل سره وي (٥)﴿ وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ ﴾اوقسم دی په پلاراوپه هغه باندي چي له هغه څخه زېږېدلی دی يعني قسم دی په آدم عليه السلام اودهغه په صالحينوزامنو. مجاهدليکي چي (والد) آدم عليه السلام (وماولد) دهغه ټول اولادښيي، ابن کثيرليکي چي کوم تفسيرچي مجاهداودهغه ملگرو کړی هغه په زړه پوري اوقوي دی ځکه چي الله کله چي آلله په (أم القری)قسم واخيست اوهغه داوسېدلوځايونه دي نووروسته يې بياپه اوسېدونکوقسم واخيست چي هغه (ابوالبشر) آدم عليه السلام اودهغه زامن دي خازن ليکي الله په مکه باندي دهغې دعزت اوشرف له مخي قسم واخيست اوپه آدم عليه السلام اوصالحينوزامنو او نبيانويې لوړه وکړه ځکه کافرکه څه هم دآدم عليه السلام له اولادې څخه وي بياهم حرمت اوعزت يې نشته چي ورباندي قسم وکړی شي (٦)﴿ لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ ﴾چي خامخاپه تحقيق پيداکړی دی موږانسان بني آدم په رنځ اومشقت کي دغه مقسم عليه دی يعني انسان له زېږېدلوتروفات کېدلوپوري تل په مشکلاتوکي اخته وي ابن عباس رضی الله عنه وايي (کبد) معناداچي ډول ډول تکليفونه او ربړونه گالي چي کله دموريه نس کي وي ياوزېږي اوبياتی روي وروسته له تي جلاشي اوبيايې ژوند د

(١) روح المعاني ۳۰ /۱۳۸
(٢) البحرالمحيط ۸ /۴۷۳
(٣) په حديث شريف کي راځي چي: ان الله حرم مکة يوم خلق السماوات والأرض فهی حرام الی أن تقوم الساعة لم تحل لاحد قبلي، ولن تحل لأحد بعدي ولم تحل لی الاساعة من نهار.الحديث رواه الشيخان .
(٤) التسهيل لعلوم التنزيل ۴/ ۱۹۹
(٥) تفسيرالبيضاوي ۳ /۲۲۰
(٦) خازن ۴ /۲۴۸

کړاو وي وروسته بیایې مرګ دکړاو وي (۱) ابو السعود لیکي چي پدې آیت شریف کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره ډاډینه او تسلا ده ځکه هغه صلی الله علیه وسلم دمکې له کفارو څخه ډېر ربړونه او تکالیف لیدل (۲) وروسته الله دهغه انسان چي دالله له قدرته منکروي او بعث او نشور نه مني داسي بیان کوي ﴿ أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴾ (آیا ګمان کوي (کافر انسان) چي بېشکه له سره به قادر نشي په ده باندي هیڅوک) یعني آیا دغه شقي انسان چي پخپل قوت مغروروي داسي ګمان کوي چي الله تعالی به پر ده باندي قدرت ونلري؟ مفسرین کرام لیکي چي دغه آیت د (ابو الأشد بن کلدة) په هکله نازل شوی هغه چي پخپل قوت ډېر زیات مغرور وو هغه ته به څرمن هواره شوه او دی به ورباندي له پاسه ودرېدو او ویل به یې هرچاچي دا زماله پښو څخه لیري کړه هغه ته به د ومره انعام ورکوم بیا به لسو کسانو هغه کش کوله څرمن به ټوټې ټوټې شوه أبو الاشد به هماغسي ورباندي ولاړوو اوله ځایه به خوځېدلی هم نه وو. دآیت شریف معنا داچي آیا دغه سرکښه پیاوړی چي په مسلمانانو ځان غښتلی ګڼي آیا دی ګمان کوي چي هیڅوک له ده څخه دکسات اخیستلو جوګه نه دی ؟﴿ يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴾ وایې (په ویاړسره) ما خرخ کړی دی خوراډېر مال (دمحمد په دښمني کي) الوسي لیکي: دغه به دفخر په توګه وایې مقصد به یې هغه مال دولت وي چي دریا او سمعت له مخي یې لګولی او له لګولو څخه یې په هلاکت سره ځکه تعبیر کړی چي ګواکي پروایې نه لرم او دغه کارمي دکومي ګټي ترلاسه کولو په هیله نه دی کړی نو ګواکي چي ډېر مال یې ضائع کړی دی او چابیاویلي چي دغه یادونه یې د رسول الله دسختي دښمني دخرګندولو لپاره کړې ده (۳) ﴿ أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُ أَحَدٌ ﴾ آیا ګمان کو ي دی چي بېشکه ندی لیدلی دی هیچا (په وخت دخرڅولو دمال په دښمني د رسول الله کي؟) آیا هغه له الله تعالی څخه پټ دی دغسي نه دی لکه چي دی ګمان کوي بلکه الله تعالی دهرڅه لیدونکی او په هرڅه خبردار دی دقیامت په ورځ به ورڅخه پوښتنه وکړي او جزا به ورکړي؛ بیا الله جل جلاله ددې لپاره چي پند او عبرت واخلي خپل نعمتونه داسي ورته بیانوي ﴿ أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ﴾ آیا نه دي ورکړي موږ ده ته دوې سترګې؟ (چي پرې ووینې بلکه ورکړي مو دي) ﴿ وَلِسَانًا ﴾ (او آیا ندی ورکړي موږ ده ته) ژبه (پوه چي د زړه راز ورباندي څرګندوي او خبري کوي) ﴿ وَشَفَتَيْنِ ﴾ او (آیا نه دي ورکړي موږ ده ته) دوه شونډان (چي ورباندي خوله پټوي او په خوراک څښاک او پو کلو کي ترې ګټه اخلي) خازن لیکي چي: دالله جل جلاله نعمتونه خوڅرګند دي خو الله یې ددې لپاره بنده ته ورپه یادوي چي ورباندي شکروباسي (۴) ﴿ وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ ﴾ او ښودلي دي موږ ده ته دوې لاري (دخیر او شرچي پرې جنت یا دوزخ ته لاړشي) او یا هدایت او ضلالت چي دجنت لاره غوره کړي او له دوزخ څخه ځان وژغوري. ابن مسعود رضی الله عنه وایې چي (نجدین) عبارت له خیر او شر څخه دی لکه چي

---

(۱) خازن ۴ /۲۴۸

(۲) ابو السعود ۵ /۲۲۵

(۳) الوسي تفسیر ۳۰ /۱۳۶

(۴) خازن تفسیر ۴ /۲۴۹

الله تعالی فرمایي ﴿ إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴾(الانسان:۳)[۱] ﴿ فَلَا ٱقْتَحَمَ ٱلْعَقَبَةَ ﴾ نوربې يې ونه ایست په ختلو دغونډۍ(عقبې) کي یعني ولي یې داما ل دغونډۍ دختلو لپاره ونه لګاو وکوم چي عقبه هغه سخت کارته وایې چي په نفس ډېر مشکل وي لکه چي دمال خرڅول یې غونډۍ ته په ختلو مشابه کړل هغه هم سخت وي او د (اقتحم) معنا په تېزي او ګړندي توب په سختي سره ورداخلېدو ته وایې[۲] دا هغه مثال دی چي الله د نفس او شیطان سره دمجادلې او مجاهدې لپاره راوړی دی په هغه مجاهده چي د الله جل جلاله رضا او خوښي ترلاسه کېږي ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْعَقَبَةُ ﴾ او څه شي پوه کړې څه دي ختل دغونډۍ (عقبې) ؟ پدې کي دهغې دشان ستروالی او تهویل دی ﴿ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴾ خلاصول دغاړي دي؛ (پدې سره یې دهغې تفسیر وفرمایو چي دعقبې (غونډۍ) ختل خود غاړي خلاصول مریې آزادول او بندیان خلاصول دي هغه چي سړی له اوره ورباندي ژغورل کېږي ﴿ أَوْ إِطْعَٰمٌ فِى يَوْمٍ ذِى مَسْغَبَةٍ ﴾ یا ورکول دډوډۍ دی (بېوزلانو ته) په هغې ورځي کي چي خاونده دلوږي وي (صاوي لیکي دلوږي ورځ یې ځکه راوړله چي په هغې کي دمال ورکول په نفس خوراسخت وي)[۳] ﴿ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴾ یتیم ته چي خاوند دخپلوي وي ﴿ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴾ اویا مسکین ته چي په خاورو سپېره وي ، دغه له زیاتي بېوزلي څخه کنایه راوړل شوی دی ابن عباس رضی الله عنهما وایې چي دا هغه دلاري په غاړه پروت دی چي هیڅ شی یې له خاورو څخه نه ژغوري ﴿ ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ بیاوي له هغو کسانو نه چي ایمان یې راوړی وي؛ یعني دغه خاص د الله لپاره آزادونکي او طعام ورکونکی ربښتونی مؤمن او مسلمان وي مفسرین کرام لیکي چي پدې آیت شریف کي دې ته اشاره ده چي نېک عملونه او طاعت له ایمان څخه پرته ګټه نلري ﴿ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْمَرْحَمَةِ ﴾ او وصیت کوئ یوله بله سره په صبر سره (په ایمان او طاعت) او وصیت کوئ یوله بله په مهرباني او شفقت سره (دبېوزلانو او مسکینانو په هکله) ﴿ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴾ دغه کسان (چي پدې غوره صفتونو موصوف دي) خاوندان دښي طرف لویې برخي دي(او جنتیان دي چي عملنامې به په ښي طرف ورکولی شي او جنت ته په داخلېدلو به نېکمرغه شي ﴿ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴾ او هغه کسان چي کافران شوي دي په آیتونو زموږ هم دوی خاوندان دکیڼ طرف (بدي خبري) دي ، دلته دابرارو او فجارو یو په بل پسي راوړل د قرآنکریم هغه طریقه څرګندوي کومه چي دترغیب او ترهیب په هکله یې په کاروي او ترڅو هغه زیات توپیر بیان کړي کوم چي دجنتیانو او دوزخیانو ترمینځ او یاد نېکمرغه او اشرارو ترمینځ هغه اشرار چي دمحمد صلی الله علیه وسلم نبوت نه مني او قرآن دروغ ګڼي دوی دشمال خاوندان دي دوی به خپلي اعمالنامې په کیڼ لاس

---

(۱) الوسي تفسیر ۳۰/ ۱۳۲

۲ البحر المحیط ۸/ ۴۷۲

(۳) حاشیة الصاوي علی الجلالین ۴/ ۳۲۲

مومي او دوزخ ته به د رومي له دوی څخه يې د غائب په صيغه څکه يادونه وکړه چې دوی د الله جل جلاله به له قدسي حضور څخه غائب او له أنسي کرامت څخه ليري دي ﴿ عَلَيۡهِمۡ نَارٌ مُّؤۡصَدَةُۢ ﴾ وي به پر دوی باندي اور سرپوښ کړی شوی چې هلته به روح او ريحان نه ورځي او نه به کله هم دوی ترې راوزي . اللهم لاتقتلنا بغضبک ولاتهلکنا بعذابک ونجنا من ذ لک يارب العالمين آمين ثم آمين.

بلاغت:

پدې سورت کي چې د بلاغت کومي ښکلاوي شته په لاندي ډول يې لنډيز ليکو:

۱ - د(لا) توري زياتوالی د کلام د تاکيد لپاره راغلی او دا د عربو په کلام کي شهرت لري ﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ ﴾ معنايې دا چې قسم کوم پدې ښار باندي او د(لا) فائده د قسم تاکيد دی لکه چې وواييې: (لاوالله ماذاک) او يا لکه چې وايې: (ای والله) أمرء القيس وايې: (لاوأبيک امرأة العامری).

۲ - اشتقاقي جناس لکه ﴿ وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ ﴾ چې هر دواړه له ولادت څخه مشتق دي

۳ - د توبيخ او ترټني لپاره استفام لکه ﴿ أَيَحۡسَبُ أَن لَّن يَقۡدِرَ عَلَيۡهِ أَحَدٞ ﴾ او ﴿ أَيَحۡسَبُ أَن لَّمۡ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ ﴾ چې راغلی دی

۴ - تقريري استفهام د دې لپاره چې د الله تعالی نعمتونه ورپه ياد کړي لکه ﴿ أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ﴾.

۵ - د تعظيم او تهويل لپاره استفهام لکه چې فرمايې ﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡعَقَبَةُ ﴾ څکه پدې استفهام کي د عقبې (غونډۍ) د عظمت ښودلو مقصد دی.

۶ - لطيفه استعاره لکه دا چې ﴿ وَهَدَيۡنَٰهُ ٱلنَّجۡدَيۡنِ ﴾ چې معنايې ده د خير او شر لاري موورو ښودلي څکه چې د نجد اصلي معنا لوړه لاره ده خو بيا د نيکمرغي او بدمرغي د دو لارو لپاره استعاره شوی دی.

۷ - همداسي بله استعاره لکه چې فرمايې ﴿ فَلَا ٱقۡتَحَمَ ٱلۡعَقَبَةَ ﴾ چې د عقبې معنا غونډۍ او په غره کي ناهواره لاره دی او د لته يې د نېکو عملونو لپاره استعاره کړی هغه چې په نفس باندي سخت وي او په دې کي تبعيه استعاره راغلي ده.

۸ - ناقص جناس لکه ﴿ ذَا مَقۡرَبَةٍ ﴾ او ﴿ ذَا مَتۡرَبَةٖ ﴾ چې يې فرمايلي چې په دې کي د ځينو تورو تغيير دی.

۹ - لطيفه مقابله چې د ﴿ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَيۡمَنَةِ ﴾ او ﴿ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ﴾ په مينځ کي راغلي.

۱۰ - د فواصلو رعايت لکه ﴿ لَآ أُقۡسِمُ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ وَأَنتَ حِلُّۢ بِهَٰذَا ٱلۡبَلَدِ وَوَالِدٖ وَمَا وَلَدَ لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ ﴾ او لکه ﴿ أَلَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ عَيۡنَيۡنِ وَلِسَانٗا وَشَفَتَيۡنِ ﴾ چې دا هم د علم بديع له محسناتو څخه ګڼل کېږي.

د الله په مرسته د سورة البلد تفسير بشپړ شو.

د (الشمس) سورت مکي او پنځلس آيتونه لري.

د سورت په وړاندي:

دالشمس سورت مکي سورت دی او له دوو اساسي موضوع ګانو څخه رغېږي:

۱ – دانساني نفس موضوع او هغه څه چي الله جل جلاله هغه له خيره ،شره ، ګمراهي اوهدايت څخه ورباندي پيدا کړی دی.

۲ – د سرغړوني او طغيان موضوع کومه چي په ثمود يانو کي راغلي وه او ناقه يې ووژله بيا الله ﷻ دوی هم هلاک کړل

دا سورت دالله جل جلاله له مخلوقاتو څخه په اووشيانو قسم اخيستلو پيل شوی:

لومړی الله جل جلاله په لمراو دهغه په روښنايې باندي لوړه کوي اوله هغه وروسته چي سپوږمۍ راخېژي پرې قسم اخلي بياپه ورځي باندي کله چي دشپې تياره پټوي اوبياپه شپه باندي کله چي دورځي رڼاغاړي اوکائنات په توره تياره کی پېچي ، بياپه هغه مقتدرذات چي آسمان يې بې ستني درولی اوځمکه يې په اوبوغوړولي خوره کړي اووروسته بياپه بشري نفس باندي چي الله پاک بشپړکړی اوپه فضائلويې سينګارکړی دی لوړه کوي په دې ټولويادوشوي شيانوقسم اخلي چي که چېري انسان له الله څخه وېرېږي بريالی کېږي اوکه سرغړونه اوطغيان وکړي بيابدمرغه اوپه خسران کي دی

بياالله جل جلاله دثموديانوچي دصالح عليه السلام توکم (قوم) وو کيسه بيانوي کله چي يې خپل پيغمبردروغجن وګاڼه اوپه ځمکه کي يې بغاوت پيل کړهغو دالله جل جلاله پيداکړي اوښه (دصالح عليه السلام معجزه) چي له ډبري څخه راوتلي وه ووژله اووروسته ددوی دهلاکت حال بيانوي ترڅودهغه چالپاره چي عبرت اخلي پندشي اوداهرسرغړونکي کافرفاجرسزاده هغه څوک چي دالله پيغمبرنه مني اودالله له اوامروڅخه غاړه کاږي

په پای کي الله تعالی داسي يادونه کوي چي هغه دسرکښانوله هلاکولوڅخه نه وېرېږي ځکه هغه داسي ذات دی چي څوک ورڅخه پوښتنه نه کوي ا ومخلوق هغه کسان دي چي په ټولوکړو وړو کي به پوښتل کېږي ﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴾.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ﴿١﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا ﴿٢﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا جَلَّاهَا ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا
﴿٤﴾ وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا ﴿٥﴾ وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا ﴿٦﴾ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ﴿٧﴾ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ﴿٨﴾ قَدْ أَفْلَحَ مَن
زَكَّاهَا ﴿٩﴾ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا ﴿١٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَاهَا ﴿١١﴾ إِذِ انبَعَثَ أَشْقَاهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ نَاقَةَ
اللَّهِ وَسُقْيَاهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنبِهِمْ فَسَوَّاهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَاهَا ﴿١٥﴾ ﴾
الشمس: ۱ – ۱۵

لغتونه: (ضحاها) رڼاد هغه يعني قسم کوم په لمراو دهغه په رڼاباندي (ضحی) دورځي په لومړيو کي د لمردراوچتېدلو وخت ته وايي. مبردوايي (ضحی) له ضح څخه مشتق او دلمررڼاته وايي[1] (طحاها)

---

[1] روح المعاني للألوسي ۳۰ / ۱۴۰

غورول دهغې، جوهري وايي (دحوته) او (طحوته) دواړه په يوه معنادي يعني وير کړي مي وو او غوړولي مي وو (۱) (دساها) پټ يې کړ دا کلمه په اصل کي (دسسها) دوهم سين يې په الف باندي دتخفيف لپاره بدل کړ نو (دساها) کلمه تري جوړه شوه (فدمدم) دم دم اصلا دراتلو په معنادی لکه چي وايي (دمدم عليه القبر) يعني قبرورباندي کېووت اودلته مراددوی په عذاب اخته کېدل دي کوم چي ددوی بېخ اوبکرېې وايستل (عقباها) عاقبت اوانجام دهغه

تفسير:

﴿ وَٱلشَّمْسِ وَضُحَىٰهَا ﴾ (قسم دی په لمر اورڼا دهغه باندي) يعني قسم کوم په لمراودهغه په څلاباندي کله چي تاريکي ورکه کړي اوکائنات رڼاکړي ﴿ وَٱلْقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ﴾ اوقسم کوم په سپوږمۍ کله چي راځي په دغه (لمر) پسي ، يعني کله چي لمرډوب شي سپوږمۍ ورپسي رادبره شي. مفسرين کرام وايي چي دغه دمياشتي په لومړنۍ نيمايي کي وي کله چي لمرولوېږي سمدستي سپوږمۍ راوخېژي اوکائنات رڼاکړي په دې لوړه اوقسم کي حکمت دادی چي کله لمرولوېږي نوعالم ټول دمړوپه شان شي اوکله چي لمراوخېژي نوبياخوځښت پيل شي اولکه چي له مرګه وروسته ژوندته راستانه شي او د څانبت په مهال کي بياټول خپلوکارونو،روزګارونوته درومي دغه حالت لکه دقيامت غونډي ايسي اود ضحا وخت لکه چي جنتيان په جنت کي مېشت شي هوکي لمراوسپوږمۍ دواړه دبشرد مصالحو لپاره پيدا شوي دي اوپه هغوی باندي لوړه کول دې ته اشاره کوي چي دغه دواړه خورا سترڅېزونه او پکي ډېري ګټي دي ﴿ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ﴾ (اوقسم دی) په ورځ باندي کله چي ښکاره کاندي (دغه) لمر (په رڼااو څلا خپله) ابن کثيرليکي: معنادا چي لمرپه خپلوپلوشوباندي ځمکه روښانه اووځلوي (۲) ﴿ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰهَا ﴾ (اوقسم دی) په شپه باندي کله چي پټ کړي هغه (لمر) په تياره خپله کي) يعني قسم دی په شپه کله چي هغه کائنات پخپله تياره کي ونغاړي ځمکه ورځ يې لوځوي اوشپه يې نغاړي اوپټوي. صاوي ليکي: چي دلته يې دمضارع دفعل صيغه ځکه راوړه چي دفواصلو مراعات شوی وی ځکه يې داسي ندي ويلي چي: (والليل اذاغشيها) (۳) ﴿ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ﴾ او (قسم دی) په آسمان اوپه هغه (ذات باندي) چي جوړکړی يې دی هغه (آسمان هغه مقتدرذات چي آسمان يې بې ستني درولی. مفسرين کرام وايي چي دغه (ما) موصوله اود(من) په معناده يعني قسم په آسمان او په هغه (مقتدر) ذات چي آسمان يې جوړکړی دی اومرادتري الله دی ځکه وروسته راځي چي ﴿ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَىٰهَا ﴾ لکه چي فرمايلي يې وي هغه عظيم اومقتدرذات چي آسمان يې جوړکړی اود آسمان دغه جوړښت دهمدغه ذات په وجودباندي شاهددی اودهغه په قدرت ګواهي ورکوي ﴿ وَٱلْأَرْضِ وَمَا طَحَىٰهَا ﴾ او (قسم دی) په ځمکه او په

---

(۱) دابن کثيرمختصر ۳/ ۶۴۴

(۲) مختصرابن کثير ۳/ ۶۴۴

(۳) حاشية الصاوي ۴/ ۳۲۱

هغه (ذات چي غوړولي يې ده هغه (ځمکه له هره لوري وېره او خپره او د هستوګنې او سکونت لپاره تياره ده ، دغه غوړېدل له (ګرويت) سره څه منافات نلري او مفسرين كرام ليكي چي له دغه آيت څخه مراداو غرض دادی چي الله جل جلاله خپلو بندګانو ته دهغه احسان ورپه يادول كوي كوم چي ددوی د هستوګنې او وزراعت ، كروندې لپاره يې دوی ته ځمكه چمتو كړې ده (۱) ﴿ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّىٰهَا ﴾ او قسم دی په نفس او په هغه (ذات) چي برابر كړې يې دي (اندامونه د) هغه ، همداراز دهغه باطني او ظاهري قواوي يې سمي كړي اود سموالي بشپړتوب يې پدې كېږي چي داسي عقل يې وربښلی چي دخيراو شرتميز وربانډې كولای شي ﴿ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَىٰهَا ﴾ پس ور ښودلي يې ده په زړه دده كي بدي دده او نېكي دده ، ابن عباس رضى الله عنهما وايې : معناداچي خيراوشر ، طاعت او معصيت يې ورته بيان كړي دی او كول اونه كول يې ورته څرګند كړي دي مفسرين كرام ليكي چي الله جل جلاله په اوو شيانو قسم كړی چي هغه لمر ، سپوږمۍ ، شپه اوورځ ، ځمكه ، آسمان او بشري نفس دی ترڅود الله جل جلاله دقدرت سترتوب ښكاره اووحدانيت يې وپېژندل شي بل داچي پدې شيانوكي دمصالحو او منافعو كثرت دی چي دغسي څېزونه خامخا يوپيداكونكي ذات ته اړدي او بياددوی تدبيراو چلول اوددوی دحركاتو څارل دهغه په تصرف كي وي .امام رازي رحمه الله ليكي :څرنګه چي لمرترګردو محسوساتو سترو نوالله جل جلاله هغه له خپلو څلورو هغو صفتونو سره چي دده په لويوالي يې دلالت كاوو يادكړ او بيايې خپل سپېڅلي ذات جل جلاله يادكړ او دې صفتونه يې وښودل ترڅو چي عقل دالله دجلال داسي ادراک وكړي لكه چي ورسره ښايې نو په همدغه طريقه يې عقل دمحسوساتو له ټيټي دنياګۍ نه كبريايې اوج ته اوچت اووخېژاوو ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴾ په تحقيق سره نجات وموند هغه چاچي پاک يې كړ دغه (نفس له ګناهونو څخه؛ دغه دقسم ځواب دی يعني په تحقيق سره خامخا هغه څوک چي ځان يې دالله په طاعت دګناهونو له خيرو او چټليو پاک كړ هغه په مرادو ورسېدو ﴿ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ﴾ او په تحقيق زيانمن شو هغه چي پټ يې كړ دغه نفس په كفراو معاصيو خوار او سپک يې كړ او د هلاكت كندې ته يې وغورځاوو چاچي د خپل نفس ومنله او دپروردګار له اوامرو يې غاړه وغړوله نو هغه د هوښيارانو له ډلي څخه ووت او په ناپوهانو او جاهلانو كي وګڼل شو ، بيا الله جل جلاله دداسي كسانو مثال چي هغوی د الله څخه سرغړونكي او نفس يې په ګناهونو لړلی وي د حضرت صالح عليه السلام دقوم په شان چي ثموديان وو يادوي چي ﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوَىٰهَا ﴾ دروغجن كړی وو ثموديانو (رسول خپل) په خپلي سركښي سره ﴿ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشْقَىٰهَا ﴾ كله چي پورته شو لوی بدبخت دهغوی (چي اوښه ووژله ابن كثير ليكي چي هغه (قذار بن سالف) وو هغه چي الله دهغه يادونه بل ځای داسي كوي ﴿ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴾ هغه پخپل قوم كي منلی او عزتمن ، دشرف څښتن او ترټولو بدبخته وو(۲) ﴿ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ ﴾ وېې ويل دوی ته

---

(۱) دمفسرينو وينا وي دلقمان سورت په تفسير كي ولوله

(۲) دامام رازي كبير تفسير

رسول الله (هغه چي صالح عليه السلام وو) ﴿ نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقْيَٰهَا ﴾ خبردار اوپرېږدئ اوښه دالله مه يې وژنئ اوله اوبو څښلو يې مه راګرزوئ لکه چي الله تعالى فرمايلي دي ﴿ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴾ (الشعرآء: ۱۵۵) ﴿ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا ﴾ پس دروغجن کړ دغه قوم صالح عليه السلام اوناقه يې ووژله دحضرت صالح عليه السلام (اخطار) ته يې څه التفات ونکړ ﴿ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴾ نو سخت عذاب يې ولېږه په دوی باندي رب ددوی (چي ټول پکي مړه شول) په سبب دګناه ددوی (چي تکذيب درسول اووژل داوښي دی) نوبرابر يې کړل سره دغه (ټول په هلاک کي) يعنی واړه، زاړه، ښوزله ،بډای بې ټول ووژل. خازن ليکي چي (دمدم) هغه پرېکنده (کوټلی) اوشامل عذاب ته ويل کېږي چي د هلاک شويو رېښې اوجرړي وايستل شي معنا يې داچي داسي شامل عذاب وړباندی راغی چي هيڅوک ورڅخه خلاص نشول ﴿ وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴾ اونه وېرېږي (الله) له عقوبت او جزاء ـ ————— هلاک ددوی څخه؛ لکه چي نوړپاچهان اوپارئيسان دعذاب اوهلاک له پايلو څخه په وېره کي وي څکه الله جل جلاله هغه ذات دی چي څوک څني پوښتنه نکوي اودوی هغه دي چي ترې پوښتل کېږي

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې په لاندي ډول ليکو:

۱ - دطباق صنعت لکه چي د ﴿ وَٱلشَّمْسِ ﴾ او ﴿ وَٱلْقَمَرِ ﴾ اود ﴿ وَٱلَّيْلِ ﴾ ﴿ وَٱلنَّهَارِ ﴾ اود ﴿ فُجُورَهَا وَتَقْوَىٰهَا ﴾ په کلماتو کي راغلی.

۲ - باريکه مقابله د ﴿ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ﴾ او ﴿ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰهَا ﴾ اوهم داراز ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴾ او ﴿ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ﴾ اودغه طباق اومقابله دواړه دبديعي محسناتو څه ګڼل کېږي.

۳ - اضافت دتکريم اوتشريف لپاره لکه چي فرمايي ﴿ نَاقَةَ ٱللَّهِ ﴾ چي الله جل جلاله ته يې دعزت لپاره نسبت شوی داهغه دصالح عليه السلام معجزه اوښه وه چي له ډبري څخه راوتلي وه.

۴ - تهويل اوفظاعت چي بوږنونکی اووېرونکی تعبيراداشي لکه چي فرمايي ﴿ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴾ دغه تعبيرد عذاب په سخت والي دلالت کوي.

۵ - مرصع سجع چي دفواصلو مراعات پکي راغلی دی اودغه صنعت پدې سورت کي ښېخي له ورايه څرګند ېږي.

دالله جل جلاله په مرسته دوالشمس سورت تفسيربشپړ شو.

***

د(الليل)سورت مكي او يو ويشت آيتونه لري

د سورت په وړاندي:

دالليل سورت مكي او دانسان له كړو، وړو ،هڅو ،زيار او ربړڅخه غږېږي ترڅو بالآخره جنت او يادوزخ ته يې ورولي.

د سورت پيل په شپه باندي قسم كول شوى كله چي ګرد مخلوقات پخپله تياره كي ونغاړي او بيا په ورځ باندي كله چي نړۍ په روښنايي او ځلا ودانه كړي او په هغه پالونكي پروردګار ذات باندي قسم دى چي دوه انواع او دولونه يې نراوښځي پيداكړي دي هغه پدې قسم كوي او لوړه اخلي چي دخلګو كړه وړه مختلف دي او لاري يې ګوښي ګوښي دي ﴿ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ۝١ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ۝٢ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ۝٣ إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ﴾.

وروسته دبدمرغي او نېكمرغي لاري څرګندوي او هغه دبېلتون كرښه په ګوته كوي چي په هغې خلاصون مونډل كېږي ، دنېكمرغه او بدمرغه انسانانو صفتونه بيانوي او دجنتيانو او دوزخيانو يادونه كوي چي ﴿ فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ۝٥ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ۝٨ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ۝٩ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ﴾.

له دې نه وروسته هغو كسانو ته كو موچي مالونه راغونډ كړي او ورباندي مغرورشوي خبرداري وركوي چي دغه مالونه راتولول به دقيامت په ورځ دوى ته كوم ګټه ونه رسوي ، وروسته دالله ﷻ دحكمت يادونه كوي چي څرنګه يې بندګانو ته دسمي لاري او ګمراهي څرګندونه كړي ده فرمايي:

﴿ إِنَّ عَلَيۡنَا لَلۡهُدَىٰ ۝١٢ وَإِنَّ لَنَا لَلۡأٓخِرَةَ وَٱلۡأُولَىٰ ﴾.

بيا وروسته دمكې خلګ دالله جل جلاله له عذاب او كسات اخيستلو څخه وېروي هغوى چي دالله آيتونه دروغ ګڼي او پيغمبرنه مني هغوى په سخت اورچي له ډېره سخت والي په غرغنډووي وېروي او ترهوي داهسي اوردى چي پرته له كافر او بدمرغه انسانه بل څوك پكي نه اچول كېږي هغه بدمرغه چي دالله له لارښووني څخه يې سرغړونه كړي وي ارشاد كوي چي ﴿ فَأَنذَرۡتُكُمۡ نَارٗا تَلَظَّىٰ ۝١٤ لَا يَصۡلَىٰهَآ إِلَّا ٱلۡأَشۡقَى ۝١٥ ٱلَّذِي كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴾.

او بالآخره سورت پدې ټكو پاى ته رسېږي چي دصالح او نېكمرغه انسان څېره انځوروي هغه څوك چي خپل مال دولت دخيرښېګڼي په كارونو كي لګوي ترڅو خپل ځان پاك كړي او دالله له عذابه څخه يې وژغوري او دغه مثال دحضرت ابوبكرصديق رضى الله عنه په شان كي راغلى چي حضرت بلال رضى الله عنه يې وپېرودل او بيا يې دالله درضا لپاره آزاد كړ فرمايي ﴿ وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلۡأَتۡقَى ۝١٧ ٱلَّذِي يُؤۡتِي مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ۝١٨ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٖ تُجۡزَىٰٓ ۝١٩ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ۝٢٠ وَلَسَوۡفَ يَرۡضَىٰ ﴾.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ﴿١﴾ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ﴿٣﴾ إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ﴿٤﴾ فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴿٥﴾
وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ﴿٦﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ﴿١٠﴾ وَمَا يُغۡنِي عَنۡهُ
مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيۡنَا لَلۡهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلۡأٓخِرَةَ وَٱلۡأُولَىٰ ﴿١٣﴾ فَأَنذَرۡتُكُمۡ نَارٗا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾ لَا يَصۡلَىٰهَآ إِلَّا ٱلۡأَشۡقَى ﴿١٥﴾ ٱلَّذِي
كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلۡأَتۡقَى ﴿١٧﴾ ٱلَّذِي يُؤۡتِي مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٖ تُجۡزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ
رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوۡفَ يَرۡضَىٰ ﴿٢١﴾﴾ الليل: ١ - ٢١

لغتونه:

(تجلّی) روښانه اوڅرګنده (شتّی) رازرازقسم قسم (الحسنی) دتوحيد کلمه (اليسری) دآساني عمل چي سرې جنت ته بيايي (العسری) هغه عمل چي سرې سختي اوجهنم ته رسوي (تردّی) په کنده کي لوېدل او هلاکېدل (تلظی)اصل يې (تتلظی) يعني هغه اورچي لوخړي اولمبې يې خېژي (يصلاها) ورننوزي او تودوخه يې څکي.

دنزول سبب

روايت کېږي چي حضرت بلال رضی الله عنه دأميه بن خلف مريی ووبادار به يې هغه ځوراوو داسي سخت عذابونه يې ورکول چي کله به سوځنده لمرتودشونودمکې په ځوړوکي به يې ستوني ستغ وغورځاوواويوه لويه تيږه به يې په سينه ورکښېښوده.

هوتيږه به يې په سينه ورکېښوده اوبيابه يې ورته ويل ترهغوبه ته په دغه حالت کي يې څوومرې اويا په محمدباندي کافرشه ! حضرت بلال رضی الله عنه به په دغه حال کي أحدٌ أحدٌ ويل؛ نويووخت حضرت ابوبکررضی الله عنه وربانديي تېرېدواوداحال يې وليدنوأميه بن خلف ته يې وويل: آيادديې بېوزله په هکله له الله جل جلاله څخه نه وېرېږې ؟! نوهغه به په ځواب کي ورته ويل داخوتادغسي راته خراب کړی اوفاسد کړی دی اوس يې نوته له دغه تکليف څخه وژغوره ! هغه ووچي حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه حضرت بلال له نوموړي (کافر) څخه وپېرودل اوبيايې دالله د خوښي لپاره آزاد کړ، نوکافرانوبه ويل چي حضرت ابوبکر رضی الله عنه بلال رضی الله عنه دهغه نعمت په بدل کي چي په ابوبکريې پېرزو کړی ووآزاد کړچي بيادغه آيت نازل شو: ﴿وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٖ تُجۡزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوۡفَ يَرۡضَىٰ﴾[1]

---

(١) حاشية الصاوي على الجلالين ٤ /٣٢٢

تفسير:

﴿ وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَغۡشَىٰ ﴾ قسم دی په شپه کله چي (کائنات) په تیاره خپله سره اوټول موجودات په تاريکي کي ونغاړي ﴿ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴾ اوقسم دی په ورځ باندي کله چي روښانه شي (اوګرده نړۍ وځلوي؛ مفسرين کرام وايي: الله جل جلاله په شپه باندي لوړه وکړه ځکه هغه دټولو مخلوقاتو لپاره سکون دی اوانسانان اوځاروي ټول خپلوځايونوته په شپه کي ځان رسوي اوآرام کوي بيايي په ورځ باندي لوړه وکړه ځکه چي ورځ دخلګو دهلوځلولپاره وي وي ټول خلګ دروزي موندلولپاره له ځايه خوځېږي اوله دغي لوړي اوقسم څخه حکمت هغه دشپې اوورځي په اوښتون کي منافعوته اشاره ده کوم چي شمېرېي غيرممکن دی ځکه که چېرته ژوندټول شپه اوتاريکه وای نودمعاش موندل به مشکل وو او که ټول عمراوژوندورځ وای بيابه انسان هډوراحت اوآرام نه ليدواود بشريت منافع اوګټي وتې به ګډي وډي شوي وای ﴿ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰٓ ﴾ اوقسم دی په هغه ذات چي پيدا کړی يې دی نارينه او ښځينه مخلوق (له نطفې څخه) پدې کي داتنبيه شته چي الله متعال او مقتدر ذات دی چي دغه دوه نوعي يې پيداکړي هغه دابداع اوحکمت خاوند دی ځکه دغه دښځينه اونارينه مخلوقاتو پنځول خويوازي په نابېره توګه مېنځ ته ندی راغلی چي دطبيعت محصول اوپيدااواري وګڼوځکه طبيعت هيڅ شعورنلري. بېشکه چي دغه دنطفې اصلي اجزاوي خوسره برابري دي مګرکله چي له همدغوعناصروڅخه ماشوم کله نارينه اوکله ښځينه پيداشي داددې دليل دی چي ددغه نظام جوړونکی په هغه څه چي ترسره کوي يې ښه پوه دی اوپه هغه څه چي جوړوي يې خوراماهر دی ﴿ إِنَّ سَعۡيَكُمۡ لَشَتَّىٰ ﴾ بېشکه چي ستاسي عملونه راز راز دي؛ ځيني طاعت کوي اوځيني معصيت دغه دقسم ځواب دی يعني ستاسوبه څوک صالحان او څوک طالحان وي بيايې پدې کلام تفسيروفرمايو چي ﴿ فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴾ پس هغه چي ورکړه يې کوله اوله الله جل جلاله څخه وېرېدواودهغه جل جلاله له محرماتو څخه يې ځان ژغوره. ابن کثيروايي: هغه څه يې ورکول چي دورکړي امرورته شوی وواودالله په چاروکي له الله څخه وېرېدو(١) ﴿ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ﴾ اويقين يې کړی ووپه جنت هغه چي الله جل جلاله دابرارولپاره تيارکړی دی ﴿ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ﴾ نوژردی چي تيار به يې کړولپاره دآساني؛ يعني دخيردعمل لپاره به يې تيارکړواوهغوی ته به هغه خوی خصلت چي آساني ته رسېږي وروښيوچي هغه دطاعاتوپرځای کول اوله محرماتو څخه ځان ژغورل دي ﴿ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ﴾ اوهرهغه چي بخيلي يې وکړه(په اداء دحقوقو) اوبې پروايي يې وکړله (له الله نه چي عبادت يې ونکړ. ابن عباس رضی الله عنهماوايي: معناداچي دمال په ورکولو کي يې بخل وکړاوله الله عزوجل څخه بې پرواشو ﴿ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ﴾ اودروغ يې وګڼل جنت (اونعمتونه يې) ﴿ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ ﴾ نوژردی چي

---

(١) مختصرابن کثير ٣ /٦٤٢

تیارېږي کړو دپاره دلاري سختي چي هغه بدعمل دی اوپه دنیااوآخرت کي بده لاره چي دشرلاره ده ، مفسرین کرام لیکي دخیرلاري ته یې آسانه لاره ووېل ځکه چي عاقبت او انجام یې یسرااوراحت آسانتیااودجنت نعمتونه دي اودشرلاري ته یې دسختي لاره ووېله ځکه عاقبت اوپایلي یې سختیااو کړاوونه چي دوزخ ته ورګډېدل اولوېدل دي ﴿ وَمَا يُغْنِي عَنْهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ﴾ اوڅه دفعه کوي له ده څخه عذاب) مال دده کله چي هلاک شي په کنده کي ولوېږي، دغه کلمه داستفهام انکاري ده یعني مال به یې څه ګټه ورته ورسوي کله چي هلاک شي اوپه کنده ددوزخ کي ولوېږي ؟ آیابیابه یې مال ورته ګټه ورسوي؟ اوله عذابه څخه به یې وژغوري؟ ﴿ إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴾ بېشکه پرموږدی خامخا هدایت سمه صافه لاره ښودل(انسانانوته اوناسمه لاره له سمي څخه بېلول لکه چي بل ځای فرمایي:

﴿ وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ﴾ (الکهف ۲۹) ﴿ وَإِنَّ لَنَا لَلْـَٔاخِرَةَ وَٱلْأُولَىٰ ﴾ اوبېشکه موږ ته دی خامخاآخرت اودنیا(یعني زه دداواړومالک یم څوک چي یې له ماپرته له بل چاڅخه غواړي هغه خطاکاردی لاره تري ورکه ده ﴿ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴾ نوووېرولی ماتاسي (ای منکرانو) له اوره چي له ډېره شدته دګرمي لمبې به وهي، دغه خطاب اهل مکې ته دی ﴿ لَا يَصْلَىٰهَآ إِلَّا ٱلْأَشْقَى ﴾ نه به ننوزي (په طریقه ددوام سره) په هغه(اورددوزخ)کي مګرلوی بدبخت (کافر) بیایې تفسیرداسي فرمایي ﴿ ٱلَّذِى كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴾ هغه چي دروغ ګڼي (پیغمبران) اومخ اړوي(له ایمانه څخه) ﴿ وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلْأَتْقَى ﴾ اوژردی چي ګوښه (بېل)به شي له هغه اوره ښه وېرېدونکی(مؤمن)چي له شرک اومعاصیوڅخه ډېرپاک وي.. بیا یې تفسیرداسي فرمایي ﴿ ٱلَّذِى يُؤْتِى مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ﴾ (هغه چي ورکوي مال خپل لپاره ددې ورځي چي پاک شي)یعني هغه څوک چي خپل مال دخیرښېګڼې په لاروچاروکي لګوي ترڅویې ځان پاک شي ﴿ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰٓ ﴾ اونه ووهیچالره په نزد دده هیڅ نعمت احسان چي بدل یې ورکاووشي بلکه د الله درضالپاره یې لګوي مفسرین کرام وایې چي : دغه آیت شریف دابوبکرصدیق رضی الله عنه په شان کي راغلی کله چي بلال رضی الله عنه یې وپېرودل اوبیایې دالله درضالپاره آزاد کړنو مشرکانو ووېل چي دغه یې دهغه نعمت په بدل کي آزاد کړچي بلال ورکړی ووالله یې تردیدوکړ ﴿ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ مګرلپاره دطلب درضادرب خپل چي ډېرلوی دی ﴿ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴾ اوخامخاژردی چي دی به راضي شي (له الله په موندلودنعمتونودجنت اولقاءدرب العزت ، دغه وعد(زیری)کریم له جانبه درب رحیم څخه ده.

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډ يزيې دادي:

۱- دطباق صنعت چي د ﴿ ٱلۡأَشۡقَى ﴾ او ﴿ ٱلۡأَتۡقَى ﴾ او د ﴿ لِلۡيُسۡرَىٰ ﴾ ﴿ لِلۡعُسۡرَىٰ ﴾ کلماتو ترمينځ راغلی دی.

۲- لطيفه مقابله چي فرمايي: ﴿ فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ﴾ او د ﴿ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ﴾ ترمينځ راغلي ده.

۳- اشتقاقي جناس چي په ﴿ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ﴾ کلام کي شته ځکه يسرله تيسيرڅخه اخيستل شوی او ترمينځ يې مجانست ليدل کيږي

۴- دمفعول حذف کول دتعميم په غرض لکه چي ارشادکوي ﴿ فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ﴾ چي مفعول يې ذکرشوی نه دی ځکه نود اوربدونکي هرلوري ته ذهن درومي اوعموم افاده کوي

۵- غيرمتکلفه سجع لکه ﴿ لَا يَصۡلَىٰهَآ إِلَّا ٱلۡأَشۡقَى... وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلۡأَتۡقَى... ﴾ اونور.

لطيفه:

وايي چي حضرت عمربن الخطاب رضی الله عنه به ويل چي: (اعتق سيدُنا ، سيدَنا) يعني حضرت ابوبکررضی الله عنه حضرت بلال رضی الله عنه آزادکړی دی ، څومره پاک سپېڅلي نفسونه يې درلودل؟ اللهم أرزقنا محبة أصحاب الرسول جميعا آمين.

دالله په مرسته دالليل سورت تفسيرپشپړشو.

***

د (الضحی) سورت مکي او یوولس آیتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالضحی سورت مکي اودنازولي پیغمبرصلی الله علیه وسلم په شخصیت رڼاچوي چي الله ﷻ څومره دهٔ پرنعمتونه ورباندي پېرزوکړي دي په هغه يې په دنیا اوآخرت کی څومره زیات فضل اواحسان لوروولی ترڅودالله جل جلاله ددغوسترونعمتونوشکرادا کړي

دسورت پیل درسول اکرم صلی الله علیه وسلم په قدراومنزلت قسم اخیستلوشوی داچي الله تعالی هغه ندی پرېښی اونه يې مبغوض ګڼلی دی لکه څرنګه چي مشرکان يې ګمان کوي بلکه د هغه صلی الله علیه وسلم مرتبه دالله په نزد ډېره لوړه اوقدريې خوراستردی فرمايي ﴿ وَٱلضُّحَىٰ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ﴾.

وروسته الله تعالی خپل پیغمبرته په آخرت کي دسترانعام اولوړوکراماتویادونه کوي چي له هغو څخه شفاعت عظمی هم دی ارشادکوي ﴿ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰ ﴾.

بیاورته په ماشوم توب کي دهغه یتیم والی ،بېوزلي، ورکه لاره وروپه یادوي چي څرنګه الله تعالی هغه وناز اوواوپخپل پرېمانه عنایت اوکرم کي يې ونغښت فرمايي ﴿ أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ﴾.

دسورت په پای کي الله تعالی خپل نازولي استازي ته ددغونعمتونوپه مقابل کي وصیتونه فرمايي داچي دیتیمانواوښکي پاکي کړي اوپرې مهرباني وکړي په محتاجه اوبېوزله کسانو ورحمېږي دفقیرانواومسکینانولاس ونیسي فرمايي ﴿ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ﴾ اودادسي پای اوخاتمه ده چي دبیان ښکلاله لفظي خوندسره مل پکي څرګنده ده.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلضُّحَىٰ ۝١ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ۝٣ وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ۝٤ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ۝٥ أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ۝٦ وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ ۝٧ وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ۝٨ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ۝٩ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ۝١٠ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ۝١١ ﴾ الضحی: ۱ - ۱۱

لغتونه:

(سجى) ویل کېږي (سجى اللیل) کله چي یې تیاره زیاته شي (قلى) بغض اودښمني کولوته وایې راغب لیکي (قلى) دبغض شدت لکه: (قلاه یقلوه ویقلیه) یعني بغض او کینه یې ورسره کړي[۱] (آوى) ځای دپناه یې درکړ ویې روزلې (عائلا) فقیراوتاداره هغه چي هیڅ نلري جریروایي:

الله نزل في الكتاب فریضة * لابن السبیل وللفقیر العائل

یعني الله پخپل کتاب کي دمسافر پردېس اوبېوزله فقیرلپاره فریضه زکات ټاکلی دی (لاتقهر) قهرمه کوه (لاتنهر) مه رټه ، ستغي سپوري ورته مکوه.

دنزول سبب: وایي چي یووخت رسول الله صلى الله علیه وسلم دکومي ناروغي له کبله په بسترکي پرېووت یوه خبیثه ښځه (چي أم جمیل نومېده دابولهب مېرمن وه) راغله نوېي وویل ای محمده ! داسي ښکاري چي ستاشیطان له تاځخه مرورشوي دی اوته یې پرې ایښی یې وینم چي دادوه که دري شپې ندی درته راغلی نو الله جل جلاله دا آیتونه نازل کړل چي ﴿ وَٱلضُّحَىٰ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴾[۲].

تفسیر: ﴿ وَٱلضُّحَىٰ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ﴾ قسم په ځاښت (چي روښانه دی) دی اوقسم دی په شپه کله چي تیاره شي الله تعالى په ضحى یې قسم واخیست هغه چي دورځي لومړی پېل دی کوم چي لمرښه رااوچت شي او قسم یې واخیست په شپه کله چي تیاره یې ښخي زیاته شي اوټول شیان پټ کړي ابن عباس رضى الله عنهما وایي د(سجى) معنادا چي تیاره یې راخوره شي[۳] ابن کثیرلیکي چي دادالله سوګند دی چي د ځاښت په وخت یې کړی هغه وخت چي روښنایې یې پکي خوندي کړي ده او همداسي په شپه یې قسم کړی کله چي تیاره یې خپره شي اودغه دالله جل جلاله په قدرت ځرګند دلیل دی ﴿ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴾ چي نه یې پرې ایښی رب ستااونه یې ته دښمن نیولی یې (ای محمده !) له هغه وخته چي رااستولی او غوره کړی یې دغه دمشرکانو په ردکي ویل شوي دوی به ویل چي محمدصلى الله علیه وسلم خپل رب یوازي پرې ایښی دی اودادقسم ځواب دی ﴿ وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ﴾ او خامخاآخرت بهتردی تاته (ای محمده) له دنیاځخه ځکه آخرت تلپاتي اودنیافاني ده اودا سبب ووچي رسول الله صلى الله علیه وآله وسلم به ویل: اللهم لاعیش الاعیش الآخرة ﴿ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ﴾ او خامخاژردی چي دربه کړي تاته رب ستا (ای محمده لویه برخه په آخرت کي او اختیاردشفاعت) پس ته به راضي شې ابن عباس رضى الله عنهما وایي چي: دغه برخه رسول الله ﷺ ته کرامت اودشفاعت واک ورکول دی روایت کېږي چي رسول الله صلى الله علیه وسلم خپل أمت یادکړ ویل یې چي زماأمت زماأمت اوویې ژړل الله

---

(۱) مفردات القرآن للراغب الاصفهاني .

(۲) حدیث په صحیحینوکي راغلی اودښځي نوم یې ندی یادکړی .

(۳) تفسیر الخازن ٤/۲٥۸ .

تبارک وتعالی حضرت جبریل ته وفرمایل ورشه محمدوپوښته چي ولي ژاړې؟ (اوالله خوښه پوه وخبردی)نوجبریل علیه السلام راغی اوله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې وپوښتل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه څه یادونه ورته وکړه کوم چي ویلي یې وو کله چي جبریل علیه السلام الله ته دغه ویناورسوله الله تعالی ورته ارشادوکړچي ورشه محمدصلی الله علیه وسلم ته وو ایه موږبه تادأمت په هکله خوښ اوراضي کړونه دي خفه کوو (^1^)په یوبل حدیث شریف کي راځي رسول الله فرمایي : چي هرپیغمبرلره قبوله شوي منلي اومستجابه دعاشته اوهرپیغمبرخپله دعا سمدستي کړي مادآخرت دورځي لپار ه خوندي ساتلي ده ترڅودأمت لپاره دشفاعت اذن اواجازه له الله تعالی څخه وغواړم(^2^)خازن لیکي بهتره داده چي آیت شریف پخپل ظاهرباندي پرېښودل شي تر څوددنیااوآخرت دواړوکرامتونواوښېګړوته شامل وي ځکه چي الله تعالی پیمغبرته په دنیاکي په دښمنانوبری اوفتح ورکړي پلویان یې زیات کړي اودین یې لوړکړی دی أمت یې دنوروأمتونوڅخه غوره اوبهترګرزولی دی په آخرت کي یې شفاعت اومقام محمودورکړی اوداسي نورددنیااوآخرت ښېګڼي یې ورکړي دي...

وروسته له دې چي دغه ستره وعده اوژمنه یې ورسره وکړه بیایې دوړکتوب نعمتونه ورپه یادکړل څویې شکرپرځای کړي فرمایي ﴿ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴾ آیانه یې وې موندلی یتیم (وړوکی، بې پلاره بلکه موندلی یې وې) پس ځای یې دپناه درکړ(چي ابو طالب ته یې ورکړې ابن کثیروایي درسول الله صلی الله علیه وسلم پلارهله ومړچي محمدصلی الله علیه وسلم دموریه نس کي جنین ماشوم وو ،بیایې مورهله وفات شوه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دشپږو کالو وو اوبیا د خپل نیکه عبد المطلب په کفالت کي ترهغوپوري ووچي هغه هم وفات شوداوخت دمحمدصلی الله علیه وسلم عمراته کاله واوبیاابو طالب دمحمدصلی الله علیه وسلم تره دده کفالت په غاړه واخیست او ترهغوی یې مرستندوی اوملاتړووڅوچي ځلوېښت کلني ته ورسېدواوالله تعالی په استازیتوب غوره کړابوطالب لاهماغسي دبتانوعبادت کاووخوله دي سره سره یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دکفاروربړونه اوضررونه دفع کول اودغه ګرددالله جل جلاله له لوري له رسول الله صلی الله علیه وسلم سر ه عنایت ،پناه اوساتنه وه (^3^)﴿ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴾ اوموندلی یې وې ته چي نه پوهېدلې (په شرعي احکامو)نودرویې ښودل تاته شرعي احکام اونبوت یې درکړ، لکه چي الله تبارک وتعالی بل ځای هم فرمایلي دي ﴿ مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ ﴾ (الشوری:۵۲)امام جلال الدین د جلالین تفسیرمؤلف لیکي : معنادا چي ته الله وموندلې داسي چي نه پوهېدې له شریعت څخه په هغه څه چي اوس پرې پوهېږې اوبیایې دهغه لوري ته هدایت کړې ، اوچابیاویلي چي په کوچنیوالي کي رسول الله دمکې په څینوکندوکي ورک شوی وو اوبیاالله جل جلاله دهغه نیکه عبد المطلب ته ور پیدا کړ،ابوحیان وایي چي دغه ضلالت په ګمراهي باندي هغه چي دهدایت مقابل دی نشي ژباړلی ځکه انبیاء علیهم السلام له ضلالت څخه معصوم اوپاک

(^1^) مسلم

(^2^) متفق علیه

(^3^) دابن کثیرمختصر ۳/ ۶۵۰

دي ، ابن عباس وايي: چي مراد له دي څخه هغه لاره ورکېدل دی چي په ورکتوب کي د مکې په کندوکي ورک شوی وو(۱) ﴿ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنَىٰ ﴾ او موندلی يې وې ته فقيرپس غني يې کړې (له خلګو څخه په مال د تجارت د خديجې رضی الله عنها او... څرنګه چي الله تعالی درې نعمتونه ورته یاد کړل نو په درې وصيتونو سره په مقابل کي ورته وصيت وفرمايو چي: ﴿ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ﴾ نو يتيم ته قهرمکوه (يعني يتيم سپک مه ګڼه اومال ترې په زوره مه اخله مجاهد وايي (لاتقهر) معناداچي خواراوسپک يې مه ګڼه اوسفيان وايي معناداچي مال يې مه ضائع کوه اوظلم ورباندي مکوه ،مقصدځني داده چي ديتيم لپاره لکه مهربان پلارغوندي اوسه ځکه ته هم پخپله يووخت يتيم وې اوالله پناه درکړه ﴿ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ﴾ اوسوالګرمه رټه (څه شی ورکړه يايې په ورو ردکړه سپکي سپوري ورته مکوه. قتاده وايي: معناداچي مسکين په نرمي اوخوږه ژبه رخصت کړه ﴿ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ﴾ اوپه نعمت درب خپل خلګوته بيان کوه ځکه تحدث په نعمت د نعمت شکردی، الوسي ليکي: معناداچي ته يتيم اولار ورکی وې بياالله پناه درکړه درته يې ښوونه وکړه مال ،دولت يې درکړنوته دغه درې نعمتونه مه هېروه يتيم باندي ظلم مکوه په سوالګر ورحمېږه ځکه تادفقراوديتيم والي خوندڅکلی اوخلګ سمي لارې ته داسي لکه چي ته الله رهبري کړی يې رهبري کړه(۲).

بلاغت: پدې مبارک سورت کي چي دبلاغت له مخي کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱- دطباق صنعت چي د ﴿ وَلَلۡأٓخِرَةُ ﴾ او ﴿ ٱلۡأُولَىٰ ﴾ ترمينځ شته.

۲- لطيفه مقابله کله چي فرمايي: ﴿ أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ..... وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ﴾ چي پدې قول يې مقابله فرمايلي ﴿ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ﴾ اودغه دعلم بديع له لطائفوڅخه ګڼل کېږي

۳- ناقص جناس د ﴿ تَقۡهَرۡ ﴾ اود ﴿ تَنۡهَرۡ ﴾ کلماتوترمينځ چي ددوهم توري په تغييردواړه کلمې متجانسي بللای شو.

۴- مرصع سجع چي لکه په ښکلي هارکي پېيلي ملغلري غوندي ايسی اوداپدې آيتونوکي له ورايه څرګنده ده چي ﴿ أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ﴾ دآيتونوترپايه پوري

دالله تعالی په مرسته د(والضحی) سورت تفسيرپشپړشو.

***

---

(۱) جلالين ۴ /۳۳۰

(۲) الوسي تفسير ۳۰ /۱۲۴

د (الشرح) سورت مکي او اته آيتونه لري

۱ دسورت په وړاندې:

د (الشرح) سورت مکي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ستر مقام او و یاړلي منزلت څخه غږېږي، د الله هغه نعمتونه چې پخپل نازولي استازي او بنده حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یې لورولي بیانوي لکه چې سینه یې د ایمان لپاره پرانستلي، زړه یې په حکمت او عرفان روښانه کړي له ګناهونو او عیبونو څخه یې پاک سپېڅلی ګرزولی دی د غه ټول د رسول الله صی الله علیه وسلم د تسلا او ډاډينې لپاره یادوي ترڅو یې شریف خاطر ډاډه شي څکه هغه صلی الله علیه وسلم له کفارو فجارو څخه ډېر ربړونه او تکالیف لیدلي وو الله جل جلاله فرمایي ﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ﴾.

بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم ستر منزلت او په دنیا آخرت کي لوړ مقام او هغه څه بیانوي چې د هغه علیه السلام نوم یې له خپل نامه سره یوځای کړی فرمایي ﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾.

هله بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت او بلني ستونزمني شېبې او له تکالیفو ډکه دوره چې مسلمانانو او رسول الله د مکې د کفارو له خوا کوم ربړونه او مشکلات لیدلي وو رااخلي او د نژدې مرستي او بریالیتوب زېری ورکوي چې هغه به په دښمنانو بری مومي ارشاد فرمایې: ﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾.

په پای کي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغه د واجب وظیفي او وندې یادونه کوي چې کله هم د رسالت له تبلیغ څخه فارغ شي نو د الله عبادت ته دې مخه کړي او د ادنعمتونو شکرانه ده چې الله ورباندې لوروليي ده فرمایې ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَب﴾.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾ الَّذِي أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾ فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٥﴾ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٦﴾ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ ﴿٧﴾ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَب ﴿٨﴾﴾ الشرح: ۱ - ۸

تفسیر:

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ﴾ آیا نده پراخه کړي موږ تا له سینه ستا؟، دغه تقریري استفهام دی یعني بېشکه موږ ستا سینه پراخه کړې ده په هدایت د ایمان او قرآني نور لکه چې الله تبارک وتعالی بل ځای فرمایي ﴿فَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ﴾ (الانعام: ۱۲۵) ابن کثیر وایي: یعني روښانه کړي موده او پراخه ارته مو ګرزولي، او لکه څرنګه چې یې سینه پراخه کړي هماغسي یې شریعت پراخ، آسانه

اوبې تکلفه رااستولی دی چې هیڅ حرج اوتنګسیاپکې نشته (۱) اوابوحیان وایې دشرح الصدر معنا په حکمت سره دسینې روښانه کول دی ترڅودوحی خوندي کولو لپاره چمتووي اودغه دجمهورو علماوو وینا ده چاییاویلي چې دغه عبارت له هغې واقعې څخه دی چې درسول الله صلی الله علیه وسلم تړحضرت جبریل علیه السلام څیري کړی وواودغه وینا له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت شوي ده (۲) ﴿ وَوَضَعۡنَا عَنكَ وِزۡرَكَ ﴾ اوکوزکړمونږ له تاڅخه درون بارستا ﴿ ٱلَّذِيٓ أَنقَضَ ظَهۡرَكَ ﴾ هغه چې ستاشایې درنه (کږه) کړي وه. مفسرین کرام لیکي چې له (وِزر) څخه مراد خلاف أولی چاري دي چې رسول الله ترسره کړي اوالله ورته مغفرت کړی دی دغه یې دکوزولواو اېښودلو مقصد دی لکه چې الله تعالی فرمایې ﴿ لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ﴾ (الفتح:۲) اوپه (ذنب) کې مرادګناهونه ندي ځکه انبیاء علیهم السلام له ګناهونوڅخه معصوم دي او هغه څه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داجتهادپه توګه صادرشوي اوپه هغوی باندي ترعتاب لاندي راغلي وي لکه چې کله متخلفینوله جهادڅخه دپاتي کېدلوپه باب ورته عذرونه ویل اورسول الله صلی الله علیه وسلم هم ورته دپاتي کېدلواجازه ورکړه اویایې دبدرله بندیانوڅخه فدیه قبوله کړه اویاهم دعبدالله بن أم مکتوم (أعمی) په وړاندي یې تندی تریوکړاوداسي نور. په التسهیل کي لیکي څرنګه چې دانبیاوو ذنوب درونداروګڼل شواوسره له دې چې هغه صغایراوبخښل شوي دي ځکه چې هغوی ورباندي زیات خفه اومغموم شوي وو اودا ګواکي هغوی ته درانه ووچې هغوی له الله جل جلاله څخه سخت وېرېدل اودا له چې په اثرکي هم راغلي چې مؤمن خپل ګناهونه لکه غرغوندي ویني چې ورباندي رالوېدونکی وي اومنافق یې بیا لکه مچ غوندي ګڼي چې په پوزه یې الوزي (۳) (نقیض) هغه غږته ویل کېږي چې له کجاوې څخه دبار ددروندوالي په سبب اورېدل کېږي ﴿ وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ﴾ اوپورته کړ مونږ تالره ذکرستا) یعني ستاشان مولوړکړاوستا مقام موپه دنیااوآخرت کي اوچت اوستانوم مي له خپل نامه سره یوځای کړ. مجاهدوایې: معناداچې چېرته زمایادونه کېږي هلته ستاذکرهم راځي، قتاده لیکي چې درفع الذکرمعناداچې په دنیااوآخرت کي یې الله جل جلاله نوم لوړکړی. ځکه هیڅ خطیب ، لمونځ کوونکی اومؤذن به نه وي چې داسي ونه وایې (أشهدأن لآ اله الاالله وأشهدأن محمدارسول الله) په یوحدیث شریف کي راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې: چې جبریل علیه السلام راغی راته ویل یې: ای محمده !ستاپروردګاروایې چې آیاپوهېږې ستاذکرمي څه ډول لوړکړی دی ماویل چې الله ښه پوهېږي

(۱) مختصرابن کثیر ۳ /۶۵۲
(۲) البحرالمحیط ۸ /۴۸۷ هغه روایت چې ورته اشاره شوي په صحیح مسلم کي راغلي اوأنس رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه آله وسلم په وړوکوالي کي له ماشومانوسره لوبې کولې اوحضرت جبریل علیه السلام ورته راغی سینه تړ یې ورڅېري کړاویوڅه یې ځیني رابهرکړل اوویې ویل چې داداشیطان برخه ده اوبیایې دزروپه طشت لګن کي په زمزم اوبوولمباوو (ومینځل) اوبیرته یې سینه وروګنډله اوخپل ځای ته یې راستون کړملګروماشومانویې مورته (حلیمه سعدیه چې تی ورکونکي موریې وه) په منډه راوځغستل ورته ویل یې چې: محمدووژل شواوچې دوی بیرته ورغلل دهغه رنګ الوتي اوژېړبخونه وه انس بن مالک رضی الله عنه وایې چې دګنډلونښې یې ماپه تټرکي لیدلي دي
(۳) التسهیل ۴ /۲۰۲

ویل یې چي کله زه یادشم ته هم یادېږې[1] په البحر کي لیکي چي الله پاک د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر له خپل ذکر سره یوځای کړ لکه د تشهد په کلمه، آذان، اقامت، تشهد، خطابت او د قرآنکریم په زیاتره آیتونو کي او له انبیاوو علیهم السلام او د هغوی له أمتونو څخه یې وعده (ژمنه) اخیستي چي ورباندي ایمان راوړي او د غه رنګه د نبوي دربار شاعر حضرت حسان رضی الله عنه وایي:

وضم الاله اسم النبي الی اسمه * اذا قال فی الخمس المؤذن اشهد. وشق له من اسمه لیجله * فذو العرش محمود وهذا محمد

یعني: الله خپل نوم د خپل نبي سره یوځای بیان کړ * په پنځه وخته چي مؤذن په منبر وایي (أشهد) همداسي نوم یې له خپل نوم څخه پرې ولوراوو * د عرش خاوند په نوم محمود او پیغمبر محمد دئ[2]

﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾ نو بېشکه له سختي سره آسانتیا شته یعني ژردی چي الله به پراخي راولي او له سختي وروسته به خلاصون وي، مفسرین کرام لیکي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم او ملګري یې په مکه شریفه کي د کفارو او مشرکینو له آزار څخه ډېر په تکلیف وونو الله جل جلاله دوی ته د آسانۍ وعده ورکړه لکه چي یې د سورت په پیل کي نعمتونه وریاد کړل تر څو ورته ډاډینه او تسلاوي زړه یې خوښ او امید یې غښتلی او قوي شي، الله ورته فرمایي هغه څوک چي تاته یې دا هومره نعمتونه درکړل هغه به په مشرکانو باندي بری او فتح هم درکړي او دا تکلیف به دي په آسانۍ بدل شي او د مبالغې لپاره یې تکرار هم راوړ چي فرمایي ﴿إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾ او بېشکه سره له سختي آسانتیا شته خواشیني مکوه او خفه کېږه مه په حدیث شریف کي راځي چي هیڅکله به یو تکلیف په دوو آسانتیاوو غلبه ونه مومي[3] ﴿فَإِذَا فَرَغْتَ فَانصَبْ﴾ کله چي (د خلګو له بلني) فارغ شې نو بیا د خالق په عبادت کي ځان ستړی کړه او کله چي د دنیوي چارو څخه وزګار شوې بیا ځان په أخروي چارو او د آخرت په غوښتلو ستومانه کړه ﴿وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَب﴾ پس رغبت او زاري کوه خپل رب ته؛ یعني خپل مقصد هغه څه وګڼه چي د الله جل جلاله په نزد شته نه د دې فاني دنیا مال او متاع. ابن کثیر لیکي: معنادا چي کله د دنیا له کارونو څخه وزګار شوې او علاقه دي ترې غوڅه شوه نو د الله عبادت ته ودرېږه او خپل رب ته خالص نیت او رغبت متوجه کړه[4].

([1]) مختصر ابن کثیر ۳/ ۶۵۲

([2]) ژباړن

([3]) مختصر ابن کثیر ۳/ ۶۵۳

([4]) أخرجه الحاکم

بلاغت:

پدې سورت کې چې دبدیع اوبیان کومې ښکلاوې شته لنډیزېې دادی:

۱ – تقریري استفهام چې دالله دنعمتونودپه یادولواواحسان منلولپاره یې فرمایې ﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴾ ګناهونه یې له درنوبارونوسره مشابه کړل هغه چې له پورته کولوڅخه یې دانسان اوږې ستومانه کېږي اوددغه درانه پېټي له پورته کولوڅخه عاجزکېږي اودغه دتمثیلي استعارې یوډول دی.

۲ – تنکیردتفخیم لپاره لکه: ﴿ فَإِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ چې یُسرېې نکره وباله ګواکې دهغه تعظیم ته یې اشاره وکړه اولکه چې وایې دغه لویه اوستره آساني ده.

۳ – ناقص جناس لکه ﴿ يُسْرًا ﴾ اود ﴿ ٱلْعُسْرِ ﴾ لفظونوترمینځ چې راغلی دی.

۴ – دجملې تکرار ددې لپاره چې په زړه کې ځای ونیسي لکه داچې ﴿ إِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ اودغه صنعت ته اطناب ویل کېږي چې له بدیعي محسناتوڅخه ګڼل کېږي.

۵ – مرصع سجع چې دآیتونودپیل مراعات پکې شوی دی لکه ﴿ فَإِذَا فَرَغْتَ فَٱنصَبْ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرْغَب ﴾ اوددې په شان ﴿ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴾ چې داهم دبدیع له ښکلاوو څخه شمېرل کېږي دالله جل جلاله په مرسته دالشرح سورت تفسیرپشپړشو.

***

د(التین)سورت مکي اواته آیتونه لري.

دسورت په وړاندې:

التین مکي سورت دی اودوه اساسي موضوع ګاني څېړي:

۱ – دالله له لوري بشري نوع ته تکریم.

۲ – په حساب اوجزاباندې دایمان موضوع.

سورت په سپېڅلوځایونو اومشرفواماکنوباندې په قسم کولوپیل شوی هغه ځایونه چې الله جل جلاله دوحی دنزول لپاره ځانګړي کړي اوټاکلي دي لکه بیت المقدس، دطورغراومکه مکرمه. الله پاک پدې مبارکوځایونولوړه اخلي چې انسان یې مکرم پنځولی اوپیداکړی دی په ښکلي شکل اوصورت یې جوړکړی اوپه عجیبه اونادره توګه یې تخلیق کړی دی اوکه چېرې انسان دالله دنعمتونو شکرانه ادانکړي نوددوزخ ښکتني پوړته به ورلوېږي.

بیاکافرته پدې توبیخ اوترټنه ورکول شوې چې له دې سره سره چې دالله په قدرت زیات ځرګند دلائل ورته شته خوبیاهم په قیامت اوبیرته راپاڅېدلو(حشر) ایمان نه راوړي.

په پای کي دالله جل جلاله دعدل بیان راځي چي مؤمنانوته به ثواب او کافرانوته به عذاب ورکوي فرمايي ﴿ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِٱلدِّينِ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴾ اوپدي کلام کي دجزاء موندلواو معاد خبره سپينه شوي ده.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ ۝١ وَطُورِ سِينِينَ ۝٢ وَهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ ۝٣ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ۝٤ ثُمَّ رَدَدْنَٰهُ أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ۝٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۝٦ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِٱلدِّينِ ۝٧ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ۝٨ ﴾ التين: ۱ - ۸

لغتونه:

(طورسينين) داهغه دطورغردی چي الله جل جلاله له حضرت موسی کليم الله سره ورباندي خبري کړي وې اود(سنين) معنامبارک دی (تقويم) تعديل ته ويل کېږي لکه چي وايي(قوم العود)يعني لرګی يې سم اوسيخ کړيالکه چي وايي (قومه الدهر) يعني زمانې هغه سم کړاوعقل تجربه يې پخه شوه (ممنون) پرېکړی اومقطوع (الدّين) جزاء ته ويل کېږي اوله (دان) څخه اخيستل شوی دی لکه چي په حديث شريف کي راځي (کماتدين تدان) يعني لکه څرنګه چي کوې جزابه مومې؛ لکه چي په پښتوکي وايي چي کړې هغه به رېبې.

تفسير:

﴿ وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ ﴾قسم دی په انځراوزيتون باندي، څرنګه چي انځراوزيتون مبارکي اود ډېري ګټوري مېوې دي نوالله جل جلاله ورباندي قسم واخيست . ابن عباس رضی الله عنهماوايي چي داهغه انځردی چي تاسويې خوری او داهغه زيتون دی چي تاسويې زبېښی اوغوړي يې نچوړوی[1] عکرمة رضی الله عنه وايي چي الله جل جلاله ددې دوو مېوودونودشنه کېدلوپه ځای قسم اخلي څکه انځرپه دمشق کي زيات شنه کېږي اوزيتون په بيت المقدس کي...[2] اوپردې باندي داماکنوعطف کول هم دلالت کوي چي هغه طوراوبلدأمين دی نو په مقدسواماکنوقسم شو هغه چي الله تعالی په آسماني رسالاتو اووحی باندي شرافت وربښلی دي ﴿ وَطُورِ سِينِينَ ﴾اوقسم دی په (هغه مبارک غره چي نوم يې) طوردی هغه چي الله تبارک وتعالی ورباندي له موسی عليه السلام سره مکالمه کړي وه کوم چي ډېري ونې لري ښکلی اومبارک دی خازن ليکي چي (سينين) پدې ونومول شوچي ښکلی اوسپېڅلی دی او هرغرچي زياتي مېوه لرونکي ونې لري (سينين اوسيناء) بلل کېږي[3] ﴿ وَهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ ﴾اوقسم دی پدې ښاراماڼ ورکونکي (دمکې) باندي څکه هرڅوک چي وردننه شي دهغه ځان اومال په امن وي لکه

---

[1] قرطبي تفسير ۱۹/ ۱۱۰
[2] البحرالمحيط ۸/ ۴۸۹
[3] خازن تفسير ۴/ ۲۲۲

چي الله تعالی فرمايي ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ﴾ الوسي ليکي چي: د هرو علماوو داد سپېڅلو ځايونو په نومونو قسمونه ګڼلي؛ څکه بلد امين خومکه مکرمه ده (الله دي وساتي) چي د هيچا هم خلاف پکي نشته او طور سينين هغه غردی چي الله تعالی له موسی عليه السلام سره ورباندي خبري کړي وې او طور سيناء ورته ويل کيږي او تين اوزيتون له قتاده رضی الله عنه څخه روايت شوی چي مراد څني دوه غرونه دي يو په دمشق او بل په بيت المقدس کي دی اوله تين اوزيتون څخه مراد ګواکي دهغوی د شنه کېدلو ځايونه دي او چاېياويلي چي له دوی څخه مقصد دوه پېژندل شوي وني دي دغه وروستی ويناد عبد الله بن عباس او مجاهد رضی الله عنهم ده او غرض له قسم اخيستلو پدې شيانو دادی چي د دوی شرافت څرګند شي او داچي هلته انبياء عليهم السلام را لېږلی شوي مبعوث شوي او خير، برکت پکي زيات دی(۱) ابن کثير وايي: ځيني علماوو امامانو داسي رايه څرګنده کړي چي دغه دري ځايونه دي چي الله جل جلاله په هريوه کي د أولوالعزم مرسل انبياوو څخه پيغمبران راواستولي چي دسترو شريعتونو څښتنان وو لومړی د تين اوزيتون ځای دی چي هلته الله جل جلاله حضرت عيسی عليه السلام را لېږلی او دوهم د طور سينين ځای چي طور سيناورته وايې چي هلته الله تعالی له حضرت موسی بن عمران سره خبري کړي او دريم بلد أمين دی هغه چي څوک ور داخل شي امان ورکوي او داهغه ځای دی چي الله تعالی پکي حضرت محمد صلی الله عليه وسلم را استولی دی او د تورات په پای کي دغه دري سره ځايونه ذکر شوي دي چي وايي: نور د طور سينا څخه راغلی (هغه غر چي موسی عليه السلام له الله سره ورباندي خبري کړي) او په (ساعير) کي بربښېدلی (چي د بيت المقدس غردی هغه چي دعيسی عليه السلام مبعث وو) اوله (فاران) څخه خپور شوی (چي د مکې غرونه دي او الله تعالی هلته محمد صلی الله عليه وسلم راواستولی دی، دغه وروستی والی د زماني په ترتيب سره ذکر شوی او قسم په هغه ترتيب اخيستل شوی چي لومړی د شرافت خاوند دوهم تر هغه زيات شرف لرونکی او دريم تر ګردو دزيات شرافت څښتن(۲) او دقسم ځواب داچي ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾ خامخا په تحقيق موږ پيداکړی دی انسان په ډېرښه اعتدال سره ټول ښه او غوره صفتونه ورکول شوي ښکلی صورت، دنګه ونه، متناسب اندامونه او په علم او فهم باندي ښايسته په عقل او تميز باندي سينګار او په نطق او ادب باندي پسوللی دی. مجاهد وايي له احسن تقويم څخه مراد ښکلی صورت او ښايسته بدن دی(۳) ﴿ ثُمَّ رَدَدْنَٰهُ أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ﴾

بيا وګرزاوو موږ هغه (انسان) ډېر ښکته تر ښکتونه چي لاندي پوړ، ددوزخ ده هغه د خپل خلقت له وجائبو سره سم يې رفتار ندی کړی او هغه ورکړي مزاياوي يې زموږ په طاعت عبادت کي ندي لګولي څکه به يې دوزخ ته اچوو. مجاهد او حسن رحمهما الله وايي چي: (اسفل سافلين) داو رښکتنی پوړ ته وايي، ضحاک رحمه الله ليکي چي زاړه عمرته رسېدل ترې مراد دی(۴) چي له ځواني وروسته زوړ شي

(۱) روح المعاني ۳۰/ ۱۷۳
(۲) مختصر ابن کثير ۳/ ۶۵۴
(۳) تفسير طبري ۳۰/ ۱۵۶
(۴) قرطبي تفسير ۱۹/ ۱۱۵

اوله قوته وروسته ناتوانه اوضعيف شي ، الوسي ليکي چي دسياق په لحاظ متبادرله کلام څخه خودادی چي پدې کي به دکافرانسان حال ته اشاره وي هغه چي ترټولو په بدحالت کي به وي وروسته له هغه چي په ډېرښه حالت کي وو(۱) ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ مګرهغه کسان چي ايمان يې راوړی دی اوکړي يې دي ښه عملونه ؛ يعني پرته له متقيانومؤمنانوهغوی چي ايمان او صالح عمل يې سره يوځای کړي دي ﴿ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴾ نووي به دوی ته اجرثواب بې انتهاء بلاانقطاع چي پرېکړون به نلري اودغه ثواب جنت چي د پرهېزګارانوځای دی ﴿ فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِٱلدِّينِ ﴾ پس څه شی دی چي تاباعث کوي په دروغ ګڼلودورځي دجزاء؛ خطاب دانسان لپاره دالتفات په توګه شوی يعني ای منکردبعث انسانه ستادِدروغ ګڼلو سبب څه شی دی ؟ سره له دې چي دومره زيات واضح اوڅرګند دلائل درته شته ځکه دانسان پيدا ينبت له نطفې څخه پداسي ښکلي شکل اوصورت دالله جل جلاله په قدرت له ډېرو څرګندو دلائلوڅخه دی چي دغه الله کولای شي انسان بياهم راژوندی اودحساب لپاره يې راپاڅوي نوسره له دې زياتودلائلو بياڅه شي وهڅولې چي دقيامت ورځ دروغ ګڼې؟ ﴿ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴾ آياندی الله.ښه اولوی حاکم دټولوحاکمانو؟ بلکه ښه لوی حاکم دی پرټولوحکم کونکوباندي) يعني دغه الله چي داسي ښکلی خلقت يې دانسانانوکړی ترټولوعادلانوښه عادل په حکم ،قضااوفيصله کي نه دی؟ په حديث شريف کي راځي کله چي به رسول الله صلی الله عليه وسلم داآيت ولوست نوبه يې ويل: (بلی وأناعلی ذلک من الشاهدين) يعني هو ! الله أحکم الحاکمين اوزه پدې باندي له شاهدي ورکونکوڅخه يم

بلاغت

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لندېزيې دادی:

۱ – عقلي مجازکله چي حال ذکرشوی اومحل ترې مرادوي لکه ﴿ وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ ﴾ چي ذکرشوی مرادځني دهغودشنه کېدلوځايونه يعني شام اوبيت المقدس شي.

۲ – دطباق صنعت چي د ﴿ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾ اود ﴿ أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۳ – اشتقاقي جناس کوم چي د ﴿ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴾ په کلمه کي شته

۴ – له غياب څخه خطاب ته التفات کوم چي په ترټنه اوتوبيخ کي زيات مؤثراوکاري وي کله چي فرمايي ﴿ فَمَا يُكَذِّبُكَ ﴾ ؟-

(۱) تفسيرالوسي ۳۰/ ۱۷۷

۵- تقريري استفهام لکه ﴿ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴾؟

۶- مرصع سجع لکه ﴿ ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ.. أَسْفَلَ سَٰفِلِينَ ..بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴾ والله أعلم

لطيفه:

امام قرطبي ليکي چي (عيسى هاشمي) ته خپله مېرمن خوراګرانه اومحبوبه وه يوه ورځ يې ورته ويل چي که ترسپوږمۍ ښايسته نه يې ته دي په درې طلاقونو طلاقه يې نوهغه ترې ګوښه شوه ويل يې ماته دي درې طلاقه راکړه اوپخپله دی هم زيات خفه اوخواشينی شو ، منصورخليفه ته ورغی صورت حال يې ورته بيان کړهغه علماء راوغوښتل اوفتوای يې ترې وغوښتله ټولوپه يوه خوله وويل چي ښځه طلاقه شوي ده خويوتن داامام ابوحنيفه رحمه الله له ملګروڅخه پټه خوله ناست وو منصورترې پوښتنه وکړه چي ته ولي څه نه وايې ؟ هغه وويل ای أمير المؤمنينه الله فرمايي ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِىٓ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ﴾ نوهيڅ شی ترانسان ښکلی اوښايسته نشته هغه ورته وويل: رښتياوايې اوبيرته يې خپله مېرمن کړ.

دالله جل جلاله په مرسته دالتين سورت تفسيربشپړشو.

***

د(العلق) سورت مکي اونولس آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالعلق سورت چې دأقرأ په سورت نومول کېږي مکي اولاندني قضاياوي څېړي:

لومړی: په محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم باندي دوحی دنزول پيل.

دوهم: دانسان دسرغړوني موضوع چي کله دمال دولت په سبب دالله له اوامروطغيان کوي

دريم: دبدمرغه ابوجهل کيسه چي کله يې پيغمبرعليه السلام له لمانځه څخه منع کاوو.

دسورت پيل دالله جل جلاله په هغه فضل چي په رسول الله باندي شوی اوقرآنکريم يې چي تلپاتي معجزه ده په غارحراء کي ورباندي نازل کړی دی هلته چي ويې فرمايل ﴿ ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ ﴾ تر ﴿ عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾ پوري

وروسته دانسان هغه سرغړونه چي دمال اوقدرت درلودلوپه وجه يې کوي اودالله له حکمونو څخه غاړه غړوي رااخلي ،لازم خوداووچي دالله دفضل اومهرباني شکريې پرځای کړی وای نه داچي انکاراوکفران يې کوي بيايي دالله لوري ته دورتلو ورته يادونه کوي څوخپله جزاء ومومي ارشادکوي

﴿ كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَيَطْغَىٰٓ أَن رَّءَاهُ ٱسْتَغْنَىٰٓ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجْعَىٰٓ ﴾.

وروسته دابوجهل لعين کيسه رااخلي هغه چي ددغه أمت فرعون وو اورسول الله ته به يې وخت په وخت اخطار اوتهديدورکاووله لمانځه څخه به يې منع کاووترڅوچي دبتانوحمايت يې کړی وي نوالله فرمايي ﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴾ دآيتونوترپايه پوري

دسورت پای ددغه بدمرغه کافرلپاره چي که همداسي پخپل ضلالت اوطغیان کي پاتي شي په وعیداورولوکېږي اوهمداسي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم کوي چي ددې مختبورن ګنهګار تهدیدونوته دي غوږنه اېږدي فرمایي ﴿ كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴾.دسورت ترپایه چي ﴿ كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب ﴾.

دسورت پیل دلوست اوزده کړي لورته په بلنه اودعوت شوی اوپای یې په لمانځه اوعبادت ترڅوعلم اوعمل سره یوځای اوپیل اوپای سره پېیلی اومتناسق وي

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ﴿١﴾ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴿٢﴾ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ﴿٣﴾ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿٤﴾ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾ كَلَّا إِنَّ الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰ ﴿٦﴾ أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰ ﴿٧﴾ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰ ﴿٨﴾ أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ ﴿٩﴾ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰ ﴿١٠﴾ أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَىٰ ﴿١١﴾ أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوَىٰ ﴿١٢﴾ أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٣﴾ أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ ﴿١٤﴾ كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب ۩ ﴿١٩﴾ ﴾ العلق: ۱ - ۱۹

لغتونه:

(علق) دعلقة جمع اوتېنګيويني ته وايې اوعلقه يې ځکه بولي چي په رحم پوري ټېنګه نښتي وي(نسفعا) (سفع) په زوره سره راکښولوته ويل کېږي اهل لغت وايې (سفعت بالشئ) يعني شی مي ټېنګ راونيواو(سفع بناصية فرسه) معناداچي خپل آس يې ټېنګ ونيو(ناصية) دتندي وېښتانوته وايې (چي پېکی يې بولي) (الزبانية) له زبن څخه اخيستل شوی اودفع کولوته وايې اومقصدورڅخه دعذاب پرښتې دي،هغه چي سختي نيونکي دي عرب داهغه چاته وايې چي سخت نيونکی وي

دنزول سبب:

روايت کاووشي چي ابوجهل يوه ورځ خپلوملګروته وويل چي آيامحمدکله ستاسي په وړاندي تندی په خاوروابږدي ؟ معناداچي ستاسي په مخ کي سجده لګوي اولمونځ کوي؟!) هغوی وويل هو ! نوهغه په لات اوعُزی قسم واخيست که دی يې ووينې نوبه يې په غاړه کي پښه (لغته) ورکېږدي اومخ به يې په خاورو ورولړي! يوه ورځ کله چي يې رسول الله صلی الله عليه وسلم په لمانځه اداکولو وموندنويي وغوښتل چي په غاړه کي يې پښه ورکېږدي خونابېره بيرته شاته وخوځېدواو لاسونه يې د خوندي کېدلوپه شان ښورول چاورته وويل څه دروشوو؟ اهغه ويل: زمااودهغه ترمينځ داورخندق پيداشو ، دهيبت نه ډکه شېبه وه (دپرښتو)کوڅرمي ليدل.

نورسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل که ماته نژدې شوی وای ملائکوبه ټوټې ټوټې تښتولای وای وريسې الله جل جلاله داآيت شريف نازل کړ[1] ﴿ أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰ... ﴾دسورت ترپايه.

[1] أخرجه مسلم دابن کثير مختصر ۳ /۲۵۸او خازن ۴ /۲۷۰ وګوره

تفسیر:

﴿ اَقۡرَأۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الَّذِی خَلَقَ ﴾(ولوله (ای محمده !قرآن) په برکت دنامه درب خپل هغه رب پالونکی چي پیداکړي یې دي (ټول مخلوقات) دالومړنی الهي خطاب دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته متوجه شوی اوپکي دلیک لوست اوپوهي لوري ته بلنه ورکړل شوي ده ځکه نودغه داسلامي دین شعاردی یعني ولوله ای پیغمبره په مرسته دنامه دسترب خپل هغه چي ټول کائنات اوعالم یې پیدا کړي دی، وروسته یې د مخلوق څخه دانسان دشان دلوړوالي په خاطرداسي تفسیروفرمایو ﴿ خَلَقَ الۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ﴾(پیدا یې کړانسان له ټوټودتړلیوشوووینوڅخه)یعني دغه انسان چي اشرف المخلوقات دی له علقه څخه یې پیدا کړی، علقه کوچني حیوان ته وایه شي اوسني عصري علوموداثابته کړي چي کومي مني چي له انسان څخه راوزي په وړووړوحیواناتومشتمل وي چي په سترګونه لیدل کېږي بلکه دمیکروسکوب په مټه لیدل کېدای شي هغه داسي ژوندي ساري دي چي سراوپای لري، فتبارک الله أحسن الخالقین[1] قرطبي لیکي: انسان یې ځانګړی یادکړچي: دادهغه دشرافت نښه ده اوعلقه لده وینه ده علقه ورته ځکه وایې چي که هغه په هرڅه تېرېږي ورسره دلمدوالي په سبب نښلي[2]﴿ اَقۡرَأۡ وَرَبُّكَ الۡأَكۡرَمُ ﴾ولوله(ای محمده !قرآن)حال داچي رب ستالوی کریم دی، هسي لوی کریم دی چي بل کریم ورسره ساری اوبرابرنشته دهغه په کرم باندي همدادلالت کوي چي بندګانوته یې هغه څه ورزده کړل چي پخوایې نه وو زده کړي ﴿ الَّذِی عَلَّمَ بِالۡقَلَمِ عَلَّمَ الۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ یَعۡلَمۡ ﴾هغه ذات چي ښوولی یې دی خط انسان ته په قلم سره ،ښوونه یې کړي ده انسان ته دهغوشیانوچي دی (پخوا) پرې نه پوهېدو یعني هغه خط او کتابت په قلم سره انسان ته وروښوداوله علوماو معارفو څخه یې هغه څه وروښودل چي پخواانسان پرې نه پوهېدواودجهالت له تورتم څخه یې دعلم اوپوهي روښنایې ته ولېږداوونوڅرنګه چي الله لیک دقلم په واسطه ورزده کړهمداراز پرته له کومي واسطې تاته علم درکوي که څه هم چي ته (أمی)په لوست اولیک نه پوهېږي ، قرطبي لیکي: الله تعالی دکتابت په بهتري تنبیه فرمایلي ځکه چي په هغه کي خورازیاتي ګټي خوندي دي اودغه علم کتابت ،دنوروعلومو، حکمتونو،تواریخو، اخبارونود پخوانیو اولومړنیو خلګو کارنامې اوحالات خوندي ساتي اوترمونږ یې رارسوي که دغه علم کتابت نه وای ددین اودنیاچاري به ویجاړي وای[3] دغه پنځه آیتونو د قرآنکریم دپیل آیتونه دي لکه چي په صحیح احادیثوثابت شوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په غارحراء کي په عبادت لګیاوو چي پرښته (ملائک) ورته راغله اوورته یې وویل: (اقرأ) رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل (ماأنابقارئ)

---

[1] الطب محراب الایمان ج۲ /۵۳

[2] قرطبي تفسیر ۱۹/ ۱۱۹

[3]قرطبي تفسیر ۱۹/ ۱۲۰

[4] متفق علیه أخرج الشیخان عن عائشة رضی الله عنهاقالت: أول مابدئ رسول الله صلی الله علیه وسلم من الوحی الرؤیا الصادقة، فکان لایری رؤیاالاجاءت مثل فلق الصبح ثم حبب الیه الخلاء فکان یأتي حراء فیتحنث (أی یتعبد) فیه اللیالی

ابن کثیرلیکي: لومړی دقرآنکریم نازل شوي آیتونه همدغه دي هغه لومړنی رحمت اونعمت دی چي الله تعالی پخپلوبندګانولورولی دی اوپدې کي هغه څه ته تنبیه ده چي لومړی ځل انسان له علقې څخه پیداشوی اولومړنی کرم چي الله ورباندي کړی داچي دهغه څه علم اوپوهه یې ورکړي چي پخواپرې نه پوهېدو، انسان یې په علم او پوهه مکرم اومشرف کړی اوداهغه څه دي چي دحضرت آدم علیه السلام امتیازاوغوراوی یې په ملائکوکړی دی.(۱)وروسته الله تعالی دانسان دسرغړوني اوطغیان سبب بیانوي چي ﴿ كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَيَطْغَىٰٓ ﴾ رښتیاده داخبره بېشکه انسان خامخاسرکشي کوي ،له الله جل جلاله څخه بې پرواکېږي اودهوا هوس پیروي کوي ﴿ أَن رَّءَاهُ ٱسْتَغْنَىٰٓ ﴾ (ددې له امله چي ویني،ځني خپل ځان بې پروا(په مال سره) یعني کله چي خپل ځان غني اوبډای ویني له الله څخه بې پرواکېږي الله جل جلاله ورته داسي تهدید او وعیدفرمايي ﴿ إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجْعَىٰٓ ﴾ بېشکه رب ستاته دی (ای انسانه) ورتلل (ترڅوپه اعمالوجزا درکړي په آیت شریف کي ددې تهدیددی چي دطغیان انجام اوعاقبت ډېرنیمه خواوی. مفسرین کرام لیکي چي دغه آیتونه اونور دسورت ترپایه پوري راتلونکي مبارک آیتونه دابوجهل په باب کي رانازل شوي دي دسورت دپیل له آیتونوڅخه ښه ډېره موده وروسته بیادغه آیتونه رانازل شول ځکه چي ابوجهل دډېرمال درلودلوپه سبب طغیان کاوواوله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې خورازیاته دښمني پالله ددې حکم عام دی اوترده پوري خاص نه شمېرل کېږي(۲) ﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴾ آیاوینې ته هغه (ابوجهل) چي منع کوي بنده (محمد) کله چي لمونځ کوي ،پدې کي ددغه فاجربدکرداره په حال باندي تعجب دی یعني ای محمده ! ددغه مجرم اوګنهګارله حاله خبر راکړه چي هغه یوبنده دالله له بندګانوڅخه له لمانځه راګرزوي دی څومره ناپوه اوبدعمله دی؟! ابوالسعودلیکي چي پدغه آیت کي ددغه سرغړونکي دبدحال څرګندول دي اوپه عین حال کي دهغه په حال تعجب کول دی اوګواکي دادومره بداوناکاره عمل دی چي دتعجب وړکېږي (۳)اودمفسرینو کراموپدې اتفاق دی چي لمونځ کونکی بنده حضرت محمدصلی الله علیه وسلم اومنع کونکی لعین ابوجهل دی چي ده ویلي ووکه مي محمدولیدچي لمونځ کوي په ورمېږ(غاړه) به یې پښه ورکېږدم (۴) ﴿ أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ﴾ آیاوینې ته که چېري وی (دغه بنده)په لاري سمي یعني خبرراکړه که چېري دغه لمونځ کونکی بنده (چي نبي علیه السلام دی) چي ته یې له لمانځه کولوراګرزوې په سمه لاره او پخپلوکړوکي دصلاح خاوندوي !! ﴿ أَوْ أَمَرَ بِٱلتَّقْوَىٰٓ ﴾ یاامرکوي خلګوته په تقوی سره چي توحیداو اخلاص ورښيي او سمي

ذوات العدد...) الحدیث.عائشه رضی الله عنهاوایی دپیغمبرﷺدوحی لمړی پیل رښتونی خوبونه ووچی خوب به یی ولیدد سهار په شان به روڼ رښتیاوخوت بیاورته یوازیتوب غوره شو حراء ته به تلوشمیرلی شپی به یی اعتکاف یی کاوو.

(۱) دابن کثیرمختصر ۳/ ۵۲۵

(۲) دصاوي حاشیه ۴/ ۳۳٦

(۳) ابوالسعودتفسیر ۵/ ۲۷۴

(۴) شان نزول وګوره -

لاري ته يې رابولي آيا ته هغه ترټې اوله لمانځه يې راګرزوې؟(۱) ته ځومره أحمق اوناﻻئق يې چي دداسي سپېڅلي خويونو خاوند چي دالله منونکی دخلګوسمي لاري ته بلونکی اوښوونکی منع کوې؟ دا ځومره دتعجب خبره ده ؟! بیارسول الله صلی الله علیه وسلم ته خطاب راګرزي فرمايي ﴿ أَرَءَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴾ آیاوینې ته که دامنع کونکی وي چي درسول الله تکذیب کوي اومخ اړوي له ایمانه ﴿ أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ يَرَىٰ ﴾ آیانه پوهېږي دغه (منکر کافر) چي بېشکه الله يې ويني؟ اودهغه احوال افعال څاري او ژر دی چي جزابه ورباندي ورکړي !! افسوس دده په حال چي ځومره ناپوه اوبې عقل دی بیایې دده داسي ترټنه وکړه چي ﴿ كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًۢا بِٱلنَّاصِيَةِ ﴾ (داسي (ور) نه دی قسم دی که منع نشو (له بدعمله) نو خامخابه يې سخت راکاږوپه وېښتودتندي سره) اواورته به يې بوزوهلته به يې پکي وغورزوو ﴿ نَاصِيَةٍ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴾ (په داسي تندي چي دروغجن خطاکاردی) يعني خاونددغه وچولي (تندي دهر فاجر اوګنهکاردی په التسهيل کي ليکي چي تندي ته ددروغجن اوخطانسبت کول مجازدی په حقيقت کي دتندي (وچولي) خاونددروغجن اوګنهکاردی ، خاطئ هغه چاته وايې چي په قصدګناهونه کوي او مخطئ بیاهغه څوک دی چي بې له قصده ګناه ځني صادرېږي(۲) ﴿ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُۥ ﴾ پس راودي بولي اهل دمجلس خپل (اومرسته دي ورڅخه وغواړي) ﴿ سَنَدْعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ﴾ ژردی چي موږبه هم راوبولوملائکي سختي دعذاب (ددوزخ هغوی چي غلاظ شداددي؛ روايت کېږي چي يوه ورځ حضرت محمدصلی الله علیه وسلم په مسجدحرام کي له مقام ابراهیم سره په لمانځه اداکولو ولاړوواوابوجهل يې له خواسره تېرېدونويې ورته وويل: ای محمده ! ماته له دې څخه منع کړی نه وې ؟ نورسول الله صلی الله علیه وسلم سختي خبري ورته وکړې ابوجهل په ځواب کي ورته وويل : ماپه څه شي باندي وېروې زمادي په الله سوګندوي زمادمجلس ملګري په دې وادي کي ترهرچازيات دي هغه ووچي داآيت نازل شو ﴿ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُۥ سَنَدْعُ ٱلزَّبَانِيَةَ ﴾ ابن عباس رضی الله عنهماوايي که چېري ابوجهل دخپل مجلس ملګري راغوښتي وای سمدستي به د عذاب پرښتوهغه اوملګري هلاک کړي وای (۳) ﴿ كَلَّا لَا تُطِعْهُ ﴾ نه دی داسي لکه چي وايې دده فرمان مه وړه (چي له لمانځه څخه دي منع کوي ﴿ وَٱسْجُدْ وَٱقْتَرِب ﴾ سجده لمونځ

(۱) ځرګنده خبره داده چي هغه څوک چي په هدايت اوتقوی دی هغه محمدرسول الله دی اودغه ويناابن عطيه اوجمهوروعلماوو غوره کړي ده اوزمخشري بياليکي چي دغه ويناد نهی کونکي منع کونکي په هکله راغلي ده اوداضعيفه خبره ده.

(۲) التسهيل لعلوم التنزيل۴/ ۲۰۹

(۳) قرطبي تفسير۱۹/ ۱۲۷

کوه او نژدې شه الله ته په طاعت سره) په حدیث شریف کې راغلي چې د بنده تر ټولو نژدې حالت د الله په وړاندې د سجدې حال دی (أقرب ما یکون العبد من ربه وهو ساجد).

بلاغت:

پدې مبارک سورت کې چې د بدیع او بیان کومې ښکلاوې شته لنډیزیې دا دی:

۱- اطناب د فعل په تکرار سره چې فرمایې ﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ... ﴾ بیا وایې ﴿ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ﴾ چې پدې کې د لوست او پوهې په هکله اهتمام ته اشاره ده.

۲- ناقص جناس لکه د ﴿ خَلَقَ ﴾ او ﴿ عَلَقٍ ﴾ ترمینځ چې راغلی دی.

۳- د سلب طباق چې فرمایې ﴿ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ﴾.

۴- کنایه چې د الله جل جلاله پدې کلام کې راغلي ارشاد کوي چې ﴿ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يَنۡهَىٰ ۝٩ عَبۡدًا ﴾ چې په بنده باندې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه کنایه راغلې ده او داسې یې ندي فرمایلي چې (ینهاک) تر څو د علیه السلام د شان تعظیم او قدر تفخیم ترسره شي.

۵- استفهام د تعجب لپاره کله چې د منع کونکي له شان څخه تعجب ښکاره کوي او فرمایې ﴿ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يَنۡهَىٰ عَبۡدًا... ﴾ ﴿ أَرَءَيۡتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلۡهُدَىٰٓ ﴾.

۶- عقلي مجاز پدې کلام کې ﴿ نَاصِيَةٖ كَٰذِبَةٍ خَاطِئَةٖ ﴾ یعنې کوم تندی چې خاوندیې دروغجن او خطاکاروي دروغجن کېدل یې و چولي (تندي) ته نسبت کړی.

۷- مرصح سجع کوم چې په قرآن کریم کې زیاته راغې او پدې سورت کې له وړایه څرګنده ده.

د الله جل جلاله په مرسته د العلق سورت تفسیر بشپړ شو.

***

د (القدر) سورت مکي او پنځه آیتونه لري

د سورت په وړاندې:

د القدر سورت مکي او د قرآنکریم د نزول له پیل څخه خبري کوي، د قدر د شپې فضیلت بیانوي هغه سپېڅلي شپه چې پکې د برقدسي انوار او تجلیات شته او د الهي رحمت وږمې پکې چلېږي کومې چې د الله تعالی یې په خپلو مؤمنو بندګانو لوروي او د قرآنکریم د تکریم په هکله دی، په سورت کې د ابرارو پرښتو د راکوزېدلو خبره راغې او تر سباد ک سهاره پورې امان او سلامتیا بیانوي، څومره د عظمت او لویې خاونده بختوره شپه چې د الله پاک په نزد تر یو زرو میاشتو بهتره ده!!

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ۝٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ۝٣ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ۝٤ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ۝٥ ﴾ القدر: ۱ - ۵

تفسير:

﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ﴾بېشکه مونږنازل کړي دي دغه قرآن په شپه د قدر کي) يعني مونږنازل کړی دغه قرآنکريم د قدر او شرف په شپه کي او مراد له انزال څخه هغه دی چي له لوح محفوظ څخه يې د دنيا آسمان ته نازل کړی دی او بيا حضرت جبريل عليه السلام د درويشت کاله په اوږدو کي مځکي ته را ښکته کړی دی لکه چي عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روايت کوي وايي: الله تعالی قرآنکريم يوځل له لوح محفوظ څخه بيت العزت ته راواستاووچي د دنيا په آسمان کي دی وروسته بيا په تفصيلي توګه د پېښو د رادبره کېدلو سره سم په درويشت کاله موده کي په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندي نازل شو(۱)﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ﴾او ته شي پوه کړې ته چي څه شی دی ليلة القدر؟ پدې کي تعظيم اوتفخيم دی. خازن ليکي دا اسلوب په تعبيرکي ددې لپاره راوړل شوی چي د تعظيم وجه يې بيان اوده ته د پېژندګلوي لپاره تشويق پيداشي لکه چي ورته وايې د هغې د بهتري په هکله ته څومره پوهېږې؟ !(۲) بيا الله جل جلاله د دغه د شرف خاوند د شپې بهتري له دريو وجوهاتو بيانوي فرمايي﴿ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ﴾شپه د قدر تر زرو مياشتو بهتره ده ځکه پدې شپه کي د قرآنکريم نزول راغلی دی .مفسرين کرام ليکي: په شپه د قدر کي نېک عمل تر زرو هغو مياشتو چي پکي د قدر شپه نه وي غوره او بهتره دی. روايت کاوه شي چي په تېرو امتونو کي به يوه سړي وسله راواخيستله او د الله په لار کي به يې زر مياشتي جهاد کاوو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم اونور مسلمانان متعجب شول هغه وو چي رسول الله د خپل امت لپاره هم داسي تمنا او آرزو کوله اوويل يې : ای زمار به زمامت دې تر ګردو امتونو د لنډ عمر خاوندان ګرزولي او څکه يې تر ټولو نېک عملونه هم کم دي!! نو هغه وو چي الله تعالی د قدر او شرف شپه ورباندي پېرزو کړه او ورته يې وويل چي د قدر شپه ستا او ستا د امت لپاره تر زرو مياشتو بهتره او غوره ده کوم چي هغه سړي به پکي جهاد کاوو(۳) مجاهد وايي: چي د دغې شپې عمل، روژه او قيام تر زرو مياشتو غوره او بهتر دی دغه يې د غوراوي او فضيلت لومړی وجه ده بيا الله فرمايي﴿ تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمۡرٖ ﴾ نازلېږي ملائکي او روح د جبريل (امين) پدغه پدغه شپه کي په حکم درب ددوی د پاره د هر کار تاکلی شوی (پدغه کال ترراتلونکي کال پوري) اودغه د فضيلت دوهمه وجه ،دريمه يې داچي﴿ سَلَٰمٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطۡلَعِ ٱلۡفَجۡرِ ﴾د سلامتيا شپه ده دغه تر وختـه د ختلو د سبا پوري؛ پرښتي په مسلمانانو سلام استوي او پدې شپه کي له خيرڅخه پرته بل څه الله تعالی د تاسو په هکله نه فرمايي.

بلاغت:

پدې سورت کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

---

(۱) مختصرابن کثير ۳/ ۲۵۳
(۲) دخازن تفسير ۴/ ۲۷۵
(۳) دابن عباس اومجاهد روايت .

۱- داطناب صنعت چي ليلة القدر يې درې ځله تکرار کړی او دا دهغې د تعظيم او شان دلوړوالي وجه ده.

۲- استفهام د تفخيم او تعظيم لپاره لکه ﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ﴾.

۳- ذکر د خاص وروسته له عام څخه لکه دا چي ﴿تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذۡنِ رَبِّهِم﴾ چي حضرت جبريل عليه السلام يې له ملائکو وروسته بيا ذکر کړ تر څو دهغه د ستر قدر په هکله يې تنبيه فرمايلي وي.

۴- د فواصلو توافق لکه: ﴿لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ، أَلۡفِ شَهۡرٖ ، مِّن كُلِّ أَمۡرٖ﴾ چي دا هم له بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي.

دالله جل جلاله په مرسته دالقدر سورت تفسير بشپړ شو.

***

دالبينة سورت چي (لم يکن) يې هم بولي مدني دی او اته آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دغه سورت چي مدني دی لاندي قضايا وي څيړي:

۱- د محمدي رسالت په وړاندي داهل کتابو دريز.

۲- په عبادت کي دالله لپاره اخلاص.

۳- په آخرت کي دنېکمرغه او بدمرغه کسانو هستوګنځی.

په پيل کي سورت ديهودانو او نصرانيانو خبر راوړي او د محمدي رسالت په وړاندي ددوی دريز کله چي حق او حقيقت څرګند او ځلايې خوره شوه بيانوي؛ سره له دې چي هغوی دآخري پيغمبر صفات پېژندل او دهغه دبعثت يې تو دانتظار کاو وخو کله چي خاتم النبيين مبعوث شو نو دوی يې په رسالت کافران شول او ورسره دښمني يې پيل کړه او هغه يې دروغجن وګاڼه.

بيا دغه مبارک سورت د ايمان له برخو څخه ديوې مهمې برخي خبره کوي چي هغه دالله جل جلاله لپاره دعبادت اخلاص دی هغه اخلاص چي دګردوا ديانو پيروانو ته ورباندي امر کوي تر څو يوازي دالله جل جلاله لپاره ذکرو کړي الله ته مخ کړي او په ټولو کړو وړو کي يوازي له الله پاک سره اخلاص ولري نه بل چا سره.

لکه چي دانسانانو د شريرو خلګو هغه چي مجرمين او د اهل کتابو او مشرکينو کفار دي په دوزخ کي دتلپاتي کېدو او خلود خبرور کوي او همدارنګه دمسلمانانو هغوی چي دمخلوقاتو تر ټولو غوره او بهتردي دنګي مانۍ په جنت کي ښيي چي دوی به له انبياوو عليهم السلام صديقينو ،شهداوو ، او صالحينو سره ملګري وي دا تل ترتله جنت او نعمتونه به د دوی د طاعاتو او اخلاص له امله وي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿١﴾ رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا
مُّطَهَّرَةً ﴿٢﴾ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿٣﴾ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴿٤﴾ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا
لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ ﴿٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ
الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ أُولَٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ﴿٧﴾ جَزَاؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا
عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴿٨﴾ ﴾ البينة: ۱ - ۸

لغتونه:

(منفكين) جلاکېدونکي (فک) په اصل کي پرانستلوته وايي اوله دې څخه داوينا اخيستل کېږي چي (فک الکتاب) کتاب يې پرانستل (فک الخلخال) پايزېب يې پرانستل (البينة) څرګند دليل حجت او کوټلی برهان (مطهرة) له باطلو او شبهاتو څخه پاک سوتره او منزه (حنفاء) له باطل څخه حق ته مائل (حنف) ميل ته وايه شي (البرية) خلګو ته وايي او له دې څخه (البارئ) اخيستل شوی چي خالق تعالی ته وايي کوم چي د مخلوق پنځوونکی دی.

تفسير:

﴿ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ نه وه هغه کسان چي کافران شوي دي (په الله او پيغمبر و روسته يې تفسير وفرمايو ﴿ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ ﴾ له اهل کتابو او مشرکانو (چي د بتانو عبادت کوي) ﴿ مُنفَكِّينَ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴾ جلاکېدونکي (له کفره) ترهغه پوري چي راغی دوی ته حجت روښانه ([1]) چي پيغمبري بعثت وو څکه يې وروسته تفسير فرمايي: ﴿ رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ ﴾ چي رسول دی له طرفه د الله ﴿ يَتْلُو صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴾ لولي (دغه رسول الله پر دوی) صحيفې پاکي کړی شوي (له باطل او شبهاتو څخه) او دا هم په ياده لولي څکه نبي عليه السلام خوليک او لوست نه وو زده کړي أمي وو([2]) ابن عباس رضی الله عنهما وايي چي (مطهرة) معنا دا چي له دروا غو، شک، نفاق او ضلالت څخه پاکي دی، قتادة رحمه الله وايي چي

([1]) په سورت کي هغه څه ذکر شوي نه دي چي دوی له څه شي څخه جلاکېدونکي نه وو خو دغه خبره معلومه ده څکه دوی په کفر او ضلالت کي وو او رسول الله صلی الله عليه وسلم په څرګند قرآن باندي ورته راغی او د دوی ضلالت او کفريې ورونبود د دوی جاهليت يې ورپه ګوته کړ او ايمان ته يې راوبلل بيا هغو چي ايمان يې راوړ هدايت يې په برخه شو نو الله له ګمراهي او جهالت څخه سمي لاري ته رهبري کړل دوی تر دغه بعثت د مخه له خپل کفرنه بېلېدونکي نه وو آيت شريف د مشرکانو او اهل کتابو د واړو لپاره راغلی دی.

([2]) قرطبي تفسير ۲۹ /۱۴۲

معنا داچي له باطل څخه پاکي دي([1]) ﴿ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴾ په هغوى كي ليكلي شوي دي سم احكام (چي خطايي پكي نشته او حق له باطل څخه بېلوي ، صاوي ليكي چي مقصد له (صحف څخه هغه كاغذونه دي چي قرآنكريم پكي ليكل كېږي او مراد په (كتب) سره هغه ليكلي شوي احكام دي او دا چي وېې فرمايل ﴿ فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴾ څكه قرآنكريم د الله جل جلاله د پخوانيو كتابو نو راټوله شوي مېوده([2]) له دې وروسته الله تعالى دهغو كسانو يادونه كوي چي هغوى اهل كتاب مگر ايمان نلري فرمايي ﴿ وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَةُ ﴾ او نه ووجلا شوي (بلكه ټول د محمد په حقانيت كي سره متفق وو) هغه كسان چي دوى ته كتاب وركول شوى وو مگر وروسته له هغه چي دوى ته روښانه حجت راغى (چي هغه قرآن دى چي د محمد صلى الله عليه وسلم په رښتنولي دلالت كوي هغه محمد چي د دوى په كتابونو كي موعود به رسول وو. ابوالسعود ليكي چي آيت شريف د اهل كتابو د تشنيع او بدي بيانولو لپاره راغلى چي د دوى له جنايا تو څخه پرده پورته كوي چي هغوى پخوا د رسول الله د حقانيت په هكله تفرق او اختلاف نه كاوه څو كله چي حق څرگند شو عذرونه او پلمې ټولي ورباندي ودرېدې نو بيې اختلاف ښكاره كړ لكه چي بل ځاى الله تعالى ارشاد كوي ﴿ وَمَا ٱخْتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ ﴾([3]) په التسهيل كي ليكي چي دوى تر هغو د محمد صلى الله عليه وسلم په نبوت كي اختلاف نه كاوه مگر كله چي وپوهېدل چي هغه حق دى نو بيې اختلاف پيل كړ او د اهل كتابو بېې په ځانگړي توگه څكه يادونه وكړه چي هغوى ته د رسول الله نبوت او رسالت معلوم وو او د هغوى په كتابونو كي راغلى وو ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ حال دا چي حكم نه وو وركړل شوى دوى ته په تورات او انجيل كي مگر دې چي عبادت دي كوي د الله په داسي حال كي چي خالص كونكي وي الله لره دين له شرك او نفاقه ؛ خو دوى انحراف وكړ د غه حكم بيې بدل كړ او د خپلو راهبانو او احبارو عبادت بيې كاو لكه چي الله بېې بل ځاى داسي حكايت فرمايي ﴿ ٱتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَـٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعْبُدُوٓا۟ إِلَـٰهًا وَٰحِدًا ﴾ ﴿ حُنَفَآءَ ﴾ په داسي حال كي چي راگرزېدونكي دي له باطلو څخه ابراهيمي حق دين ته كوم هغه چي خاتم المرسلين ورباندي مبعوث شوي دي ﴿ وَيُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ﴾ او (بل دوى مأمور دي) چي قائموي به لمونځ او زكات به وركوي يعني لمونځ به سم په بشپړه توگه پخپلو وختونو كي سره له ټولو حقوقو او آدابو په خشوع سره ادا كوي او پخپله خوښه دزړه له اخلاصه به زكات مستحقينو ته وركوي. صاوي ليكي څكه يې لمونځ او زكات ځانگړي راوړي چي شرافت يې څرگند كړي([4]) ﴿ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلْقَيِّمَةِ ﴾ او دا (مذكور له عبادت ، اخلاص،

([1]) نفس المرجع

([2]) ابو السعود تفسير ۵ /۲۷۷

([3]) د صاوي حاشيه په جلالين باندي ۴ /۳۴۲

([4]) حاشية الصاوي على الجلالين ۴ /۳۴۳

لمونځ کولو اوزکات ورکولو) دين دی محکم (مستقيم چي هيڅ کوږوالی پکي نشته داسلام دين دی، نوولي دوی نه ورداخلېږي ؟ بياوروسته الله تعالی داشرارو اواخيارووروستنی هستوګنځی چي تل به هورې وي داسي بيانوي فرمايي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْمُشْرِكِينَ فِى نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآ ﴾

(بېشکه هغه کسان چي کافران شوي دي له اهل کتابو او مشرکانو وي به په اوردوزخ کي تل به وي دوی په هغه جهنم کي) يعني هغه کسان چي دمحمد ﷺ دنبوت اودقرآن دحقانيت تکذيب کوي هغوی که اهل کتاب اوکه بت پرستان وي دوی ګردبه دقيامت په ورځ په دوزخ کي وي تل ترتله چي هيڅ کله به ترې نه راوزي اونه به هم مړه کېږي ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمْ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ داخلګ (مطلقا) هم دوی دي ډېربدخلګو.

امام رازي ليکي : که چاپوښتنه کوله چي ولي يې (کفروا) دفعل په لفظ اومشرکين داسم فاعل په لفظ راوړل ځواب داچي اهل کتاب پخواکافران نه ووځکه دوی تورات اوانجيل منل اودرسول الله په رسالت يې ايمان درلودخودوی هله کافران شول کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم مبعوث شومګرمشرکان داسي نه ووهغوی دبتانوپه عبادت کولوکي زېږېدلی وو اودقيامت له ورځي اوبعث نشورڅخه پخوالامنکروو اوداچي ويې فرمايل ﴿ هُمْ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ معنا دا چي دوی ترټولو بدانوبددي ترغلوبددي ځکه دوی دالله له کتاب څخه درسول الله صلی الله عليه وسلم صفت غلاکړی دی اوترلاري وهونکوبددي ځکه دوی دحق لاره په خلګوباندي ترلي ده([1]) کله چي الله تعالی دبدمرغه کسانوهستوګنځی په ګوته کړوپسې يې دنېکمرغه کسانو هستوګنځی داسي بيان کړ ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ﴾ بېشکه هغه کسان چي ايمان يې راوړی اوکړي يې دي ښه (عملونه په دنياکي يعني ايمان اونېک اعمال يې سره يوځای کړي دي) ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ (داخلګ دي هم دوی دي ډېرښه دخلګو(چي الله پيداکړي) ﴿ جَزَآؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ ثواب اوجزاء ددوی په نزددرب ددوی په آخرت کي دايمان اوښواعمالوددوی ﴿ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ ﴾ جنتونه ددائمي هستوګنځي دي چي بهېږي له لاندي دمانيواوونودهغوويالې ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾ تل به وي دوی په هغه کي (نه به مړه کېږي اونه به ځني راايستل کېږي تل ترتله به يې په نعمت کي اوسي ﴿ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ ﴾ راضي به وي الله له دغومؤمنانوڅخه (په طاعت ددوی) اوراضي به وي دوی له هغه الله څخه (په ثواب دده) ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِىَ رَبَّهُۥ ﴾ دا(جزاء اوثواب) هغه چالره دي چي له الله جل جلاله څخه وېرېدلي اوله ګناهونوڅخه يې ځان ژغورلی وي.

بلاغت

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې په لاندي ډول ليکو:

([1]) کبيرتفسير ٣١/٤٩

۱- اجمال له تفصيل څخه وروسته لکه چي فرمايي ﴿ حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ٱلْبَيِّنَةُ ﴾ اوبيا وايي ﴿ رَسُولٌ مِّنَ ٱللَّهِ يَتْلُواْ صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴾.

۲- د طباق صنعت چي د ﴿ خَيْرُ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ او د ﴿ شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ ترمينځ راغلی.

۳- تصريحيه استعاره چي فرمايي ﴿ يَتْلُواْ صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴾ دلته د مطهره په لفظ کي استعاره ده چي له باطل څخه د صحيفو سپېڅلتيايي د انجاسو له پاکي سره مشابه کړي ده.

۴- مقابله لکه چي ارشاد کوي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ ﴾ اوبيا فرمايي ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ ﴾ د آيتونو تر پايه......

۵ - د فواصلو توافق چي د بد يعي محسناتو څخه ګڼل کېږي لکه ﴿ ٱلْبَيِّنَةُ ....قَيِّمَةٌ.... خَيْرُ ٱلْبَرِيَّةِ ....شَرُّ ٱلْبَرِيَّةِ ﴾ او داسي نور.

تنبيه:

اخلاص د عبادت مغزدی او په حديث شريف کي راځي: (زه له شرک څخه تر ټولو غنيانو زيات غني يم څوک چي يو کار وکړي او له ماسره بل څوک پکي شريک کړي زه به هغه د هغه شرک ته وروسپارم) علماء کرام و اعمال په دريو برخو وېشلي دي مأمورات ، منهيات او مباحات يعني هغه څه چي الله ور باندي امر کړی او هغه چي الله خلګ تري منع کړي او نور روا کارونه چي نه يې په کولو ثواب او نه يې په پرېښودلو عذاب وي، په مأموراتو کي اخلاص دا دی چي په کولو سره يې يوازي الله جل جلاله مقصد وي او که چېري له الله پرته ډبل چا په نيت او قصد وکړل شي هغه نامنلي (غيرمقبول) او ريآء ده او منهيات که چېري بې له نيته پرېښودل شي په پرېښودلو کي اجر نشته او که د الله جل جلاله لپاره پرېښودل شي په همدې پرېښودلو الله ورته اجرور کوي او مباح کارونه لکه خوراک، څښاک، جماع او داسي نور که پرته له نيته ترسره شي اجر نلري او که د الله د رضا لپاره ترسره شي نو اجرلري ځکه هر مباح کار کله چي د الله د خوښي لپاره ترسره کېږي د ثواب کار ګڼلی شي لکه چي يو څوک په خوراک باندي د عبادت لپاره ځمتو والی غواړي او يا په جماع باندي له حرامو څخه عفاف او ساتل يې مقصد وي (پدې کي د ثواب مستحق دي).

د الله جل جلاله په مرسته د البينة سورت تفسير بشپړ شو.

***

د (الزلزلة) سورت مدني او اته آيتونه لري

د سورت په ورانديز:

الزلزلة مدني سورت او په اسلوبو کي دمکي سورتونو په شان دی ځکه دقيامت دورځي سختي او کړاوونه پکي بيانيږي پدې سورت کي ديوې سختي زلزلې خبري کيږي چي آسمان ځکي مانۍ نړوي اوچت غرونه راپرې باسي داسي هيبنونکي پيښي رادبره کوي چي انسان حيرانوي لکه دمځکي له تل څخه دمړو راوتل اوياقيمتي خزانې لکه سره اوسپين زرر ابرسېره کېدل يادمځکي له خوا په انسانانو شاهدي اداکول چي دوی کوم کارونه دځمکي په مخ کړي په هغو ګواهي ورکول چي تاداسي اوداسي کارونه په فلانۍ ورځ کړي دي ددغي ورځي له عجائباتو څخه دي لکه څرنګه چي دخلګو ستنېدل دمحشرله ډګر څخه جنت او دوزخ ته بيانوي او هغوی په نېکمرغه او بدمرغوډلو وېشي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝١ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ۝٢ وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا ۝٣ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ۝٤ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ۝٥ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ۝٦ فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝٧ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ۝٨﴾ الزلزلة: ١ - ٨

لغتونه:

(زلزلت) کله چي وخوځېږي په سختو خوځېدلو (أثقالها) درانه شيان دهغې چي مړي دګېلډي دي، (أثقال) دثقل جمع او هغه درانه ته وايې لکه چي بل ځای راځي (وتحمل أثقالكم) يعني وړی درانه بارونه ستاسي. أخفش وايې کله چي مړي دځمکي په تل کي وي دهغې ثقل بلل کېږي او که چېري د ځمکي پرسروي په هغې باندي ثقل ګڼل کېږي (١) (يصدر) وګرزي اوراووزي ، صدورد ورود ضد دی، وارد راتلونکي او صادر تلونکي ته وايې (اشتاتًا) متفرق، جلا جلا د (شت) جمع دی او (شت) متفرق ته ويل کېږي

تفسير:

﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا﴾ کله چي وخوځېږي ځمکه په سخت خوځښت سره ، اوداسي ولړزېږي چي زړونه غوځ او عقلونه هېښ کړي لکه چي الله تعالی بل ځای ارشاد فرمايي (اتقوربكم ان زلزلة الساعة شئ عظيم) مفسرين کرام ليکي: دزلزلې اضافت ځمکي ته دامعنالري چي ګواکي داسي خوځښت چي دمځکي له لويو الي سره وړوي اودغه هول او هيبت افاده کوي دغه خوځښت به هغه وخت وي چي قيامت راځي نو به ځمکه په پرله پسې توګه لړزېږي او ترهغو به نه آرامېږي ترڅو ټول شيان چي دځمکي په مخ دي لکه غرونه، وني، کلاګاني اوودانۍ وغورځوي (٢) ﴿وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا﴾ او دباندي راوباسي

---

(١) کبير تفسير ٣١ / ٥٨

(٢) التسهيل ٤ / ٢١٣

مخکه درانه شيان خپل، هغه که خزانې وي اوکه دهغې مړي(¹) منذروايې چې ځمکه به راوغورځوي هغه خزانې اومړي چې په ګېډه کي يې دي، ابن عباس رضی الله عنه وايې چې: ځمکه به خپل مړي راوغورځوي په حديث شريف کي راځي چې راوبه غورځوي ځمکه دزړه توټې خپلي چې هغه به لکه دسرواوسپينوزروستني غوندي وي، نوقاتل به راشي وايې به ددې په سبب ماووژل، اوقاطع الرحم به راشي وايې به چې ددې په سبب مادخپلوي اوقرابت پرېکړون کړی وواوغل به وايې ددې په سبب زمالاس پرې شوی اوبيابه يې هماغسي پرېږدي اوهيڅ به هم نه ترې اخلي(²) ﴿ وَقَالَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا لَهَا ﴾اووبه وايې انسان (منکرله بعثه) چې څه شوي دي دغي ځمکي لره؟ ولي داسي سخته لړزېږي اوهرڅه چې يې په ګېډه کي دي دباندي راغورځوي دابه دتعجب اوحيرانتياپه سبب وايې ﴿ يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ﴾پدغه ورځ کي به ځمکه بيانوي خبري خپلي ، کوم چې ددې په مخ د خيراوشرعملونه ترسره شوي دي په هغوبه شاهدي وايې. ابوهريرة رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: آيا پوهېږی دهغې خبري به څه وي؟ أصحابوو ويل: الله جل جلاله اودهغه پيغمبرد ښه پوهېږي نورسول الله صلی الله عليه وسلم زياته کړه چې خبري يې دادي چې په هرناريته اوښځينه باندي به هغه څه شاهدي وايې چې ددې په مخ يې کوم عمل ترسره کړی دی اووايې به چې په فلانی ورځ يې داسي کړه وړه ترسره کړي دي(³) په بل حديث شريف کي راغلي له ځمکي ځان وژغورئ چې هغه ستاسومورده اوهيڅوک هيڅ کاردخيراوشرپه هغې سربېره نه کوي مګرهغه به ورباندي شاهدي ووايې(⁴)﴿ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوۡحَىٰ لَهَا ﴾ په سبب ددې چې رب ستاحکم کړی دی هغې لره (په بيانولوسره هغه دګنهګارڅخه شکايت کوي اوپه هغه باندي ګواهي اداکوي اوله پرهېزګارڅخه خوښي څرګندوي مننه يې کوي اوثنايې وايې، الله په هرڅه تواناوقادردی﴿ يَوۡمَئِذٖ يَصۡدُرُ ٱلنَّاسُ أَشۡتَاتٗا ﴾پدغي ورځي کي به وګرزي خلک ټولی ټولی (جلاجلادښي لوري خلک به جنت ته درومي اودکيڼ لوري به جهنم ته ﴿ لِّيُرَوۡاْ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴾لپاره ددې چې وښودله شي دوی ته (جزاء د) عملونوددوی يعني جزادخيراوشر﴿ فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ ﴾پس هغه څوک چې عمل کوي په اندازه ديوې ذرې دخيرنېکي نووبهويني (جزاءدهغه) ذره په وړانګه کي کوچني بخرکي خاشي ته وايې که ددې په تول عمل يې په اعمالنامه کي د خير وي هم جزابه يې وومومي. کلبي وايې ذره کوچني مېږي ته وايې ، ابن عباس رضی الله عنهما وايې: کله چې ورغوی په ځمکي کېږدي اوبيرته يې راپورته کړي هره وړه خاوره چې پسي نښتي وي هغې

(¹) الوسي تفسير۳۰ /۲۰۹
(²) أخرجه مسلم
(³) ترمذي وقال حسن صحيح
(⁴) أخرجه الطبراني في معجمه.

ته ذره وايي (۱) ﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُۥ ﴾ اوهر څوک چي عمل کوي په اندازه ديوې ذرې دشرنووبه ويني جزاء دهغه قرطبي ليکي چي: دايومثال دی چي الله بيان کړی معناداچي دبنيآدم له عمل څخه هيڅ هم نه ورکېږي نه غټ اونه ووړ اودادهغي الهي ويناپه شان ده چي فرمايي: (ان الله لايظلم مثقال ذرة) (۲).

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته په لاندي ډول يې لنډيزليکو:

۱- اضافت دتهويل اوتفظيع لپاره لکه ﴿ زِلْزَالَهَا ﴾.

۲- داضمارپرځای اظهارراوړل لکه ﴿ وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ ﴾ چي راغلی دی.

۳- دتعجب اواستغراب لپاره داستفهام راوړل لکه چي فرمايي ﴿ وَقَالَ ٱلْإِنسَـٰنُ مَا لَهَا ﴾؟.

۴- اشتقاقي جناس لکه داچي ﴿ زُلْزِلَتِ ...زِلْزَالَهَا ﴾.

۵- دمقابلې صنعت چي د ﴿ فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُۥ ﴾ او ﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُۥ ﴾ ترمينځ راغلی دی.

۶- مرصع سجع لکه دسروزروخښتي چي اوډلي اويا ملغلري اوياقوت پېيلي وی د مثال په توګه ﴿ زِلْزَالَهَا، أَثْقَالَهَا، أَوْحَىٰ لَهَا، أَخْبَارَهَا، مَا لَهَا ﴾ اودادبديعي محسناتو څخه شمېرل کېږي.

تنبيه:

رسول الله صلى الله عليه وسلم دغه آيت چي فرمايي ﴿ فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُۥ ﴾ نادراوجامع آيت ګڼلی دی کله چي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دخرو،دزکات په هکله وپوښتل شوو نوهغه په ځواب کي ورته وويل: له دغه جامع اونادرآيت څخه پرته نورڅه پکي نازل شوي نه دي آيت دادی: ﴿ فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُۥ ﴾ ﴿ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُۥ ﴾ رواه البخاري

دالله په مرسته دالزلزلة سورت تفسيربشپړ شو.

***

---

(۱) کبيرتفسير.
(۲) قرطبي تفسير۲۰/ ۱۵۰

د(العاديات)سورت مكي او يوولس آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالعاديات سورت مكي اودفي سبيل الله مجاهدينودآسانوښه خبري كوي كله چي په دښمنانويرغل كوي اودسينوآوازونه يې اودهغوى شنهارى په لوړآوازاورېدل كېږي اوپه خپلوسوو (سمانو) باندي ډبري وهي چي داوربخركي څني الوزي اوهمدارنګه دوړي اوخاوري يې له ځغاستو سره پورته كېږي، دغه سورت دغازيانوپه آسونوسره په قسم كولوپيل شوى ددې لپاره چي دالله تعالى په نزدددوى شرف اوبهتري څرګنده كړي اوبيادابيانوي چي انسان دالله جل جلاله دنعمتونومنكراود احساناتوكفران كوي اودغه انكاراوكفران دهغه له حال اومقال ښه معلومېږي لكه چي دانسان طبيعت اودهغه له مال سره پربمانه ميني اومحبت ښه غرېږي دغه مبارك سورت په پاى كي دانبيي چي ټول مخلوقات به الله جل جلاله ته دجزااوحساب لپاره رجوع كوي هلته به بيامال اومرتبه چاته ګټه نه رسوي يوازي نېك عمل به دسړي ملګرتياكوي

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ۝١ فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا ۝٢ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا ۝٣ فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا ۝٤ فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ۝٥
إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ ۝٦ وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ۝٧ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ۝٨ ۞ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ
مَا فِي الْقُبُورِ ۝٩ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ۝١٠ إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ ۝١١ ﴾ العاديات: ۱ - ۱۱

لغتونه:

(ضبحا) دآسونوسا اخيستل كله چي ځغلي[1] (أثرن) پاڅوي (نقعًا) دوړي، ګرداوغبار (كنود) ناشكره[2]

تفسير:

﴿ وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ﴾ (قسم دى په آسونوځغلېدونكوچي آوازايستونكي دي له سينوڅخه آواز پورته كول له ګېډو) يعني قسم كوم دمجاهدينوپه آسانوچي كله په دښمن يرغل كوي اوله سينوڅخه يې لوړآواز راوزي ابن عباس رضى الله عنهماوايې: آسان چي كله وځغلي نو(أح،أح) آوازكوي همدغه ته ضبح وايې، ابن مسعودرضى الله عنه وايې: الله تعالى دغازيانوپه آسونولوړه اوقسم اخيستى كله چي ددښمن په لورورځغلي اوپه ځغاسته كي يې غږ اورېدل كېږي چي هغه ته ضبح وايې [3] ﴿ فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا ﴾ پس قسم دى په آسونوايستونكيو داور اورا ايستل په وهلو دسمانو تيږو لره (په سختى سره)
﴿ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا ﴾ (پس قسم دى په لوټ كونكوباندي په وخت دسهاركي ترلمرختودمخه ، هغه آسونه

---

(1) الوسي ۳۰/ ۲۱۵
(2) القرطبي ۲۰/ ۱۲۰
(3) ابوالسعود ۵/ ۲۸۰

چي په دښمن باندي دسهار په وخت کي چپاوکوي الوسي ليکي اوپه تاراک اولوټولوکي عادت همدا سي وي چي دښمن ورباندي آګاه نشي اوپه سباوون کي ناڅاپه ورباندي وارکوي ترڅو غازيان و ويني چي څه يوسي اوڅه پرېږدي(۱) ﴿ فَأَثَرْنَ بِهِۦ نَقْعًا ﴾ پس پورته کوي دغه آسونه په سُمانو خپلو سره ګرد(له دېري چټکتيا په څغاسته هلته چي په دښمن حمله کوي) ﴿ فَوَسَطْنَ بِهِۦ جَمْعًا ﴾ پس ننوزي دغه آسونه هغه وخت په مينځ دټولي (ددښمنانو ددين کي کوم چي دجګړې ډګر دی الله جل جلاله په دريو دولونو په دريو شيانو باندي قسم اخيستی دی اوداد مقسم به د تعظيم لپاره کوم چي دمجاهدينو آسان دي هغه چي دالله په دښمنانو ورځغلي اوله (سوو) سُماتو څخه يې داور بڅرکي الوزي اوپه دښمنانو سباوون مهال تاراک اچوي اوددښمن په وړاندي ګرد اودوړي خپروي مينځ ته وررننوزي اوپه دښمن وېره ترهه اچوي اوهغه شيان چي قسم ورباندي اخيستل شوی هغه دالله داوينا ده چي فرمايي ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٌ ﴾ ببشکه کافرانسان له خپله ربه خامخا منکر ناشکره (دنعمتونو) دی ابن عباس رضی الله عنه وايي: معناداچي دالله دنعمتونو شکرنه پرځای کوي. حسن رحمه الله وايي: غمونه اومصيبتونه يې په يادوی اونعمتونه هېروي(۲) ﴿ وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴾ او ببشکه داانسان پخپلي ناشکري شاهد دی نشي کولای چي ترې منکرشي ځکه اثريې ورباندي ښرګند دی ﴿ وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴾ اوببشکه داانسان دمال په مينه کي ډېرسخت دی اوپه راټولولو کي يې حريص اودالله جل جلاله دعبادت اود هغه دنعمت دشکراداکولو په هکله ډېرسست اوضعيف دی... وروسته له دې چي دهغه دکړوړو قبائح يې وشمېرل نوداسي يې دهغوی له عاقبت اوانجام څخه وېروي فرمايي ﴿ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِى ٱلْقُبُورِ ﴾ آياپس نه پوهېږي داانسان(ناپوه) کله چي راپورته کړل شي هغه شی چي په قبرونو کي دی (له مړو څخه) ﴿ وَحُصِّلَ مَا فِى ٱلصُّدُورِ ﴾ اوراښکاره شي هغه (عقائد)، ارادې يااسرار او رازونه) چي په سينو ددوی کي دي ﴿ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌۢ ﴾ (ببشکه رب ددوی په دوی باندي پدغي ورځي کي خامخابه پوه خبردار دی) يعني ببشکه ددوی پالونکی په ګردو هغو اعمالو ددوی به خبردار دی اوپه بشپړه توګه به ورباندي جزاورکړي، اوداچي دالله خبرداری يې له دغي ورځي سره ځانګړی راوړه ځکه چي همدغه دجزاورځ ده اوپدغه سره وعيداوتهديدافاده کېږي که نه الله جل جلاله خوپه قيامت اوټولوورځوکي عالم اوخبردار دی.

بلاغت: پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې داد:

---

(۱) پخوانی مرجع

(۲) القرطبي ۲۰/۱۶۰

۱- په (ان) او(لام) سره تاکید لکه چي فرمایي ﴿ إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٌ ، وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ، وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ ٱلْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴾ ځکه چي دغه ادات په تقریراو بیان کي زیاتوب راولي.

۲- غیرتام جناس لکه ﴿ لَشَهِيدٌ ﴾ او ﴿ لَشَدِيدٌ ﴾ همدارنګه ﴿ ضَبْحًا ﴾ او ﴿ صُبْحًا ﴾.

۳- انکاري استفهام د تهدید او وعید لپاره لکه ﴿ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِى ٱلْقُبُورِ ﴾ چي راغلی دی.

۴- د تضمین صنعت لکه پدې کلام کي چي ﴿ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ﴾ چي د خبیر لفظ د مجازات معنی په ضمن او ځنګ کي لري یعني دوی ته به د دوی په اعمالو جزاء ورکړي

۵- د فاصلو توافق لکه ﴿ لَشَهِيدٌ ، لَشَدِيدٌ ، ٱلصُّدُورِ ، ٱلْقُبُورِ ﴾ ترپایه چي مرصع سجع ورته ویل کېږي اوله بدیعي محسناتو څخه شمېرل کېږي.

د الله جل جلاله په مرسته د العادیات سورت تفسیر بشپړ شو.

***

د (القارعة) سورت مکي او یوولس آیتونه لري.

د سورت په وړاندي:

دالقارعة سورت مکي اود قیامت له ورځي اود هغې له کړاوونو څخه خبري کوي او هغه پېښي بیانوي کوم چي پدې ورځ کي به هېښونکي وي لکه له قبرونو څخه د خلګو راوتل هغوی به لکه واړه ملخان چي هلته دلته خواره واره وي ځي اوراځي په وارخطایې سره به درومي او په بېتابي سره به هره خواخغلي سخت حیران او وېرېدلي به وي.

همداسي سورت له دې څخه غږېږي چي غرونه به والوزول شي له خپله ځایه به وخوځېږي اولکه وشنلي شوي وړې غوندي به وي کوم چي په هواکي الوزي داوروسته له هغه چي په ځمکه د پرتېنګ ولاړوو اود خلګو اوغرونو ترمینځ ترون پدې راوړ چي داهومره سخته ورځ ده غرونه سره له دومره قوت او ټینګاره بیاهم لکه وړې غوندي شي دبشر به پدغه وېرونکي ورځ کي څه حال وي؟

په پای کي سورت هغه تلې اوموازین په یادوي په کوموچي دانسانانو عملونه تلل کېږي، اوبیا خلګ په دوه ډلو وېشي نېکمرغه او بدمرغه کسان هغوی چي دنېکي تلې یې درنې وي نېکان او چي دبدي تلې یې درنې شي هغوی بدان دي، دغه سورت ته ځکه (القارعة) وویل شوچي له ربړاو کړاو څخه یې زړونه او غوږونه ټکول کېږي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ ٱلْقَارِعَةُ ﴿١﴾ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴿٢﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴿٣﴾ يَوْمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلْفَرَاشِ ٱلْمَبْثُوثِ ﴿٤﴾ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ ﴿٥﴾ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴿٦﴾ فَهُوَ فِى

عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ ﴿٨﴾ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٌ ﴿٩﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا هِيَهْ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌۢ ﴿١١﴾ ﴾ القارعة: ۱ - ۱۱

لغتونه

(القارعة) دقيامت له نومونوڅخه يونوم دی اوقرع سخت ټکولوته وايې داورځ هم خلک پخپلو سختيو ،ربړونواوکړاوونوسره ټکوي،عرب وايې (قرعتهم القارعة) او(فقرتهم الفاقرة) کله چي به يوسخت مشکل کارپه چاراپرېووت نودوی به ويل چي هغه سخت ټکونکي وټکاوواولويه بلا وربانديراولوېده (المبثوث) خواره واره (الهاوية) ددوزخ له نومونوڅخه يونوم دی ځکه خلک پکي لوېږي

تفسير:

﴿ ٱلْقَارِعَةُ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴾(هغه ټکونکي (دزړونو قيامت) څه دی هغه ټکونکی (دزړونو قيامت)؟ يعني دادومره لوی اومهم دفظاعت خاوند(قيامت) چي خيال يې ځايولای نشي اونه هم دانسان وهم اوسوچ ورته رسېدلای شي ځکه هغه تردې لوړدی چي انځورېې وکښل شي ياپه خيال کي وسنجول شي او څوک يې وستايې(بيايې زيات هول اوهيبت داسي ستاسي﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴾اوڅه شي پوه کړی يې ته چي څه دی هغه ټکونکی (دزړونوقيامت؟) يعني څه شي ته پوه کړ ی يې چي دغه قيامت به په خلکوڅه اغېزپرېږ باسي؟هغه يوازي زړونه نه ټکوي بلکه په ستروآسماني اجراموپخپله په آسمانونوکي يې تاثيرپرېږوزي چي هغه چوي په ځمکه کي زلزلې راولي غرونه الوزوي ستوري پاشي دلمراوسپوږمۍ رڼا اخلي اوهغه بې نوره (پيکه)کوي اوداسي نور. ابوالسعودليکي: قيامت ته بې (قارعة) ځکه وويل چي هغه زړونه اوغوږونه په ډول ډول کړاوونواوسختيوسره ټکوي ا ودلته بې دضميرپرځای اظهارشوی دی چي (ماالقارعة) ددې لپاره چي دهغې ورځي دفظاعت اوهول تاکيد راشي معناداچي ترهغې ورځي څه شي په سترتوب اوهول اوهيبت ، وېرولواوترهولوکي عجيب دی؟ اوبيايې فظاعت داسي وستايوچي:﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴾هغه يې دمخلوق دعلم اوپوهي له دائرې څخه بهروګڼله چي هيڅوک هم پخپله پوهه اوځيرکتيا هغه نشي پېژندلای ([1]) وروسته له دغه تشويق اوتخويف څخه چي دهغې ورځي داحوالودڅه پېژندني په هکله يې راوړل فرمايې:﴿ يَوْمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلْفَرَاشِ ٱلْمَبْثُوثِ ﴾په هغه ورځ کي چي ګرزي به خلک لکه واره ملخان خواره واره شوي يعني دغه دزړونوټکول به هغه ورځ وي کله چي خلک وېرېدلي له قبرونوڅخه راپاڅي ته به واتيت او پرک پتنګان دي چي له ډېري وېري اوحيرانتياڅخه ځيني په ځينونوروکي لوېږي. امام رازي رحمه الله ليکي چي الله تعالی دلته خلک له تيت شويوپتنګانو ﴿ كَٱلْفَرَاشِ ٱلْمَبْثُوثِ ﴾ اوپه بل آيت شريف کي له (جرادمنتشر) سره کړي چي دلومړي تشبيه وجه داده چي ملخان کله راپاڅي نويوه لوري ته نه وي روان بلکه هرلوري ته تيت شي اودا په دې دلالت کوي چي دوی وېرېدلي دي اوچي کله يې له (جراد) سره

([1]) ابوالسعود ۵ /۲۸۱

تشبیه کوي هغه دکثرت اوډېروالي په وجه کله چي دوی سره یو بل لوری ته ټوپونه وهي نویودبل په سراوښ سرېږه سپاره شي همداسي به خلګ دقیامت په ورځ له ډېري وارخطایي څخه یوپه بل کي خېژي لکه الله تعالی بیان کوي ﴿ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ ﴾[۱] ﴿ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ ﴾اوو به ګرزي غرونه (له هیبته) لکه وړی رنګیني شیندل شوي دغه دوهم صفت ددې ورځي دی یعني غرونه به لکه دنداف په لیندی وهلي شوي وړی غوندي یوه بله خواالوزي، صاوي لیکي چي: الله تعالی دخلګواوغرونوحال یوځای یادکړددې لپاره چي وښیي غرونه سره له دومره لویوالي او کلک والي که څه هم مکلف نه دي لکه وشنلي وړی غوندي شي نودبېوزله اوناتوان انسان حال به کله چي دحساب اوجزاء لپاره راپاڅېږي څه وي؟ ورپسې الله پاک دانسانانوحال چي څوک به نېکمرغه اوڅوک بدمرغه وي داسي فرمایې ﴿ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُۥ ﴾پس هرهغه څوک چي دروند شي وزن (دعملونو) دده (چي ښه عملونه یې په بدواعمالوزیات شي)﴿ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴾نوهغه به وي په ښه ژوندون چي راضي به وي (په تلپاتي جنت کي) ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُۥ ﴾اوهرهغه څوک چي سپک شي وزن (دعملونو) دده (اونېکي اوښه اعمال یې لږوي) ﴿ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٌ ﴾نوځای داوسېدلوددده به هاویه وي (چي پکي به لوېږي لکه چي موردااولاد لپاره غېږپرانیزي همداسي به اور مجرمین په خپله غېږي کي اخلي. ابوالسعودلیکي چي (هاویه) داورله نومونوڅخه یونوم دی ځکه یې هاویه بولي چي ژبنته زیات ژوروالی لري ، روایت کېږي چي دوزخیان به اویاکاله پکي ښکته ولوېږي ترڅوبې تل ته ورسېږي (۲) ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا هِيَهْ ﴾اوڅه شي پوه کړې ته چي څه ده دغه (هاویه)؟ استفهام دتفخیم اوتهویل لپاره دی ورپسې یې تفسیرفرمایې ﴿ نَارٌ حَامِيَةٌۢ ﴾اوردی خورا (ډېر) تود ، چي له حداواندازې وتلی دی ځکه هرډول اورچي هرڅومره زیاته ازوغه اودسون مواد پکې وي ددغه اورسره نشي پرتله کېدای الله جل جلاله مودې ترې وساتي آمین.

بلاغت

پدې مبارک سورت کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی.....

۱ – استفهام دتفخیم اوتهویل لپاره لکه ﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْقَارِعَةُ ... وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا هِيَهْ ﴾.

۲ – دضمیرپرځای دظاهرراوړل چي تخویف اوو ېرول افاده کړي لکه ﴿ ٱلْقَارِعَةُ مَا ٱلْقَارِعَةُ ﴾ اصل خوداووچي ویل شوي وای (ومادراک ماهی).

۳ – مرسله مجمله تشبیه لکه ﴿ يَوْمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلْفَرَاشِ ٱلْمَبْثُوثِ ﴾چي دلته دتشبیه ادات ذکرشوی خودشباهت وجه نه ده راغلي چي هغه ډېروالی اوتیت والی ناتواني اوحیرانتیاده او

(۱) کبیرتفسیر ۳۱/ ۷۲

(۲) ابوالسعود ۵/ ۲۸۶

همدارنګه پدې آیت کې چې: ﴿ كَالْعِهْنِ الْمَنفُوشِ ﴾ چې په سپکوالي اوالوتلوکي ورسره مشابهت لري نو مرسله مجمله تشبیه یې ګڼلای شو.

۴ - دمقابلې صنعت لکه ﴿ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴾ او ﴿ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴾.

۵ - عقلي مجازلکه پدې کلام کې چې ﴿ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴾ یعني چې دعیش خاوند ور باندې خوښ اوراضي وي پدې کې مجازي اسناد دی.

۶ - دفواصلو په وروستیو توروکې توافق لکه چې له ورایه څرګند دی.

۷ - داحتباک صنعت داهغه صنعت دی چې دهر نظیراومثل څخه هغه څه حذف شي کوم چې په سیال کې یې شته نو دالله داکلام چې فرمایې ﴿ فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴾ له لومړي نظیرڅخه (أمه الجنة) حذف شوی او(عيشة راضية) یادشوی اوله دوهم څخه (فهوفي عيشة ساخطة) حذف شوی او(فأمه هاوية) ذکرشوی دی اوداله بدیعي محسناتو څخه یو بل صنعت دی.

تنبیه:

جمهورعلماء وایې چې تله حقیقت درلودونکې اودوه پلې یوشاهین لري پدې کې هغه پاڼې تلل کېږي چې نېکي اوبدي پکې لیکلي شوي وي اوله ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت شوی چې نېک عملونه به په ښوڅېرواوبد عملونه به په بدوڅېرو راوړل شي اوپه تله کې به کېښودل شي، دچاچې نېک عملونه درانه شي نېکمرغه اودچاچې بد عملونه درانه شي هغه بدمرغه دی. والله أعلم

دالله جل جلاله په مرسته دالقارعة دسورت تفسیربشپړشو.

***

د(التکاثر) سورت مکي اوآته آیتونه لري.

دسورت په وړاندې:

دالتکاثرسورت مکي اودانسانانوله هغې بوختیاڅخه غږېږي کوم چې دژوندانه په اوږدوکې دمال په راټولولوکې اوي څونابېره یې ژوند پای ته ورسېږي مرګ دهغوی دخوندونومزې غوڅ کړي اوله دنګومانیوڅخه یې قبرته ولېږدوي.

الموت يأتي بغتة والقبر صندوق العمل

مرګ یوناڅاپه راځي او قبر دعمل صندوق دی

پدې سورت کې دخلګووېرونه څوځلې تکرارشوي اودهغوی خطاورپه ګوته شوي چې دوی څرنګه له تلپاتې اوباقي ژوندانه څخه فاني دنیاته مخه کړې ده نوفرمایې ﴿ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴿١﴾ حَتَّىٰ زُرْتُمُ ٱلْمَقَابِرَ ﴿٢﴾ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ كَلَّا
لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ ٱلْيَقِينِ ﴿٥﴾ لَتَرَوُنَّ ٱلْجَحِيمَ ﴿٦﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ ٱلْيَقِينِ ﴿٧﴾ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ
ٱلنَّعِيمِ ﴿٨﴾ ﴾ التكاثر: ۱ - ۸

لغتونه:

(الهاكم) مشغول كړي ياست تاسي (الهآء) بوختيا اوله شي څخه هغه لورته چي هوا هوس يې غوښتنه كوي راګرزېدا ته وايې ، (دلهو) اصل غفلت دی خو بيا وروسته هرمشغول كونكي ته وويل شو راغب ليكي (لهو) هغه څه ته وايې چي سړی له مهم كار څخه مشغول كړي (التكاثر) دزيات مال اورتبې په لوړوالي فخر او وياړ كول (المقابر) (قبور) دقبر جمع اومقابر د(مقبرې) جمع ده.

تفسير:

﴿ أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴾ مشغول كړي ياست تاسي (دالله له طاعته) فخر كول (په ډېروالي دمال اولاد او قام باندي چي دآخرت لپاره موچمتووالی نشته) ﴿ حَتَّىٰ زُرْتُمُ ٱلْمَقَابِرَ ﴾ ترهغه پوري چي هديروته ور شی (مړه شی) او په قبرونو كي خښ شی دغه جمله خبر او مقصود ترڅخه وعظ دی. قرطبي ليكي: معنادا چي ستاسو فخر كول په زياتوالي دمال اولاد باندي تاسي دالله له طاعته څخه مشغول كړي ياست ترڅو ومری او په قبرونو كي خښ شی(۱) ﴿ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ نه ده داسي (لائق) ژردی تاسي به پخپله خطا پوه شی) پدې كي زجر او تهديد دی) يعني داسي مكوئ هغه څېزچي درته نفع نه ر سوي په هغه باندي مه مشغولېږئ ژردی چي تاسي به دخپلي ناپوهي انجام چي له باقي څخه په فاني دنيا مشغول شوي ياست وګوری ﴿ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ بيا بېخي داسي نه ده ور، ژردی چي تاسي به پوه شی پخپله خطايې باندي دغه وعيد په وعيد پسې دی يعني تاسي به كله چي مرګ او تكليفونه يې درته راشي ددغه تكاثر او تفاخر عاقبت پخپله ووينئ. ابن عباس رضی الله عنه وايې ﴿ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ معنادا چي كله پر تاسي باندي دقبر عذاب راپرېوزي ﴿ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ معنادا چي كله پرتاسي دآخرت عذاب راشي (۲)

﴿ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ ٱلْيَقِينِ ﴾ (نه دی داسي كه تاسي پوهېدلای (په خرابي دتكاثر او تفاخر) په علم اليقين سره نوداسي به مونه كول) يعني داسي مكوئ كه تاسو ته په يقيني توګه علم وشي هغه چي هيڅ شك اوشبه پكي نه وي نو... د(لو) ځواب حذف شوي ترڅو چي تهويل افاده كړي يعني كه تاسو پدې پوهېدلای نو بيا به ددنيا تكاثر او تفاخر دالله له طاعت څخه نه مشغولولای او ددنيا په عيش عشرت به دآخرت له

(۱) القرطبي ۲۰ /۱۷۸ - ابن كثير ليكي: معنادا چي تاسو ددنيا بنكلا او ميني نعمت دآخرت له غوښتلو څخه دومره بېغمه كړي ياست ترڅو مود مرګ سرحد ته وررسوي او ومری هديروته ورشی اوده هديرو له اوسېدونكو څخه وګرزی.
(۲) قرطبي ۲۰ /۱۷۲

کړاوونوتکالیفو څخه نه تېروتلای لکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي (لو تعلمون ماأعلم لضحکتم قلیلا ولبکیتم کثیرًا) یعني که تاسو ته هغه څه معلوم وای چي ماته معلوم دي نوبه مو ډېرژړل اولږبه موخندل(۱).په التسهیل کي لیکي چي د(لو) ځواب محذوف اوتقدیربې داسي کېږي که تاسو پوهېدلای ؟نوبه وېرېدلي واست اودآخرت لپاره به موتیاری نیولی وای اوله دې سببه حذف شوی چي زیاته وېره اوهول افاده کړي نواورېدونکي به ترټولوسترهغه په نظرکي ونیسي (۲)لکه چي الله تعالی فرمايي: (ولوتری اذوقفواعلی النار) ﴿ لَتَرَوُنَّ ٱلْجَحِيمَ ﴾قسم دی چي خامخابه تاسي دوزخ ووینی اودابه یقیني اوڅرګندوول وي . الوسي لیکي چي دغه دمضمرقسم ځواب دی چي دوعید تاکیدوربانديي شوی دی اوهغه وعید څرګندوي کوم چي پخوايي دتفخیم لپاره ابهام فرمايلی وو(۳)معنایې داده چي والله به تاسوجحیم ووینی ﴿ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ ٱلْيَقِينِ ﴾بیابه خامخاووینی تاسي ارومروهغه دوزخ په سترګو دیقین سره)یعني په حقیقي مشاهده سره به یې ووینی. په البحرالمحیط کي لیکي چي دغه عین الیقین تاکید ،د دې لپاره راوړل شوی چي هغه توهم دفع کړي کوم چي په خیال کي تېرېږي چي هغه لومړی رؤیت (لیدنه به مجازي وي(۴)﴿ ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ﴾بیابه خامخاوپوښتل شی هرومروپه دغه ورځ کي له نعمتونو څخه، هغه چي هوسايي،امن ،روغتیا،خوراک څښاک اولباس پوښاک اونورګرد نعمتونه دي

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډیزیې دادی:

۱-وعظ اوتبلیغ لکه ﴿ أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴾څکه خبرله حقیقت څخه تذکیراوتوبیخ ته راغبرګه شوه.

۲-تکراردتهدیداوانذارلپاره لکه ﴿ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾اوعطف د(ثم) په توري سره ددې تنبیه ورکوي چي دوهم ترلومړي أبلغ اوترهغه زیات څرګند دی لکه چي بادارخپل مريي ته وايي: چي درته وایم اوبیادرته وایم چي داسي مکوه !،څرنګه چي ترلومړي زیات څرګنداو ښکاره دی نوپه(ثم) سره عطف شوهغه توری چي دمغایرت اوتوپیر څرګندونه کوي

۳-حذف دځواب دتهویل لپاره لکه چيَ د(لو)ځواب حذف شوی ﴿ لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ ٱلْيَقِينِ ﴾یعني نوکه تاسوپوهېدلای چي دومره تکلیفونه شته چي تور وېښتان سپینوي ،زړونه ځوروي نو داسي به مونه کول.

۴-اطناب دفعل په تکرارسره لکه ﴿ لَتَرَوُنَّ ﴾او﴿ لَتَرَوُنَّهَا ﴾چي دهول دسختي اوشدت لپاره راغلی دی.

(۱) دبخاري شریف دحدیث یوه برخه ده.
(۲) التسهیل
(۳) الوسي ۳۰/ ۲۲۵
(۴) البحرالمحیط۸ /۵۰۸

۵-کنایه لکه ﴿ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ﴾ چي له مرګ څخه د قبرونو ليدل او زيارت کول کنايه راغلي ده.

۶-د طباق صنعت لکه په ﴿ ٱلنَّعِيمِ ٱلۡجَحِيمَ ﴾ کي چي شتون لري

۷-د فواصلو توافق چي د آيتونو ترمنځ د پيل د مراعات په وجه شته او د بديعي محسناتو څخه ګڼل کيږي

تنبيه:

له عبدالله بن الشخير څخه ترمذي شريف روايت کوي چي هغه وايي يوه ورځ زه رسول الله ﷺ ته ورغلم چي دغه آيت شريف يې ولوست ﴿ أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴾ او بيايې وفرمايل: بنيادم وايي: زمامال زمامال آيا ته مال لرې پرته له هغه چي ودي خوړ او خلاص دي کړ؟ اويادي واغوستل اوزاړه شول؟ او يادي خيرات کړل اوو ادي استول؟.

لطيفه:

حضرت مسلم له ابوهريرة رضى الله عنه څخه روايت کوي چي يووخت رسول الله صلى الله عليه وسلم له خپل کورنه بهرراووت اوکه ګوري ناڅاپه حضرت عمراو ابوبکر رضى الله عنهما راوتلي وونويې دوى ته وويل: څه شي پدې شپه کي له خپلو کورونو څخه راايستلي ياست؟ دوی ورته وويل: يارسول الله لوږي راايستلي يونو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: زمادي په هغه ذات لوړه وي چي زماساه يې په يد د قدرت کي ده زه هم همدغي لوږي راايستلی يم ! نوراپاڅئ اوپاڅېدل د انصارو رضوان الله عليهم ديوچا کورته ورغلل اوهغه په کورکي نه و موجود کله چي يې مېرمني رضى الله عنها دوى وليدل ورته يې وويل: هرکله راشی . رسول الله صلى الله عليه وسلم ترې وپوښتل فلانی چېرته دی ؟ هغي ورته وويل: هغه تللی او خوږې اوبه راوړي پدې ترځ کي صحابي هم راورسېدو اورسول الله صلى الله عليه وسلم او ملګروته يې وکتل ويې ويل: الحمد لله نن ورځ به ترمابل نېکمرغه هيڅوک هم نه وي چي ترما ښه مېلمانه ولري. هغه ولاړاويواوښکی تازه خرماوي يې راوړې چي پخي تازه اوخوږې ، وچي اولمدې خرماوي ګډې وې ورته يې وويل : تاسو داخورئ ! چاړه يې واخيسته رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: پام کوه چي شيدې ورکونکي (وزه -مېږه) حلاله نه کړې نو هغه پسه حلال کړاودوی ته يې غوښه پخه اوراوړه دوی هم وخوړله خرماوي يې هم وخوړې اوخوږې اوبه يې پسي وڅښلې کله چي ماړه شول اوتنده يې ماته شوه رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت ابوبکراوعمررضى الله عنهما ته وويل: زمادي په هغه ذات لوړه وي چي زمانفس يې په يد د قدرت کي دی له دغونعمتونو څخه به دقيامت په ورځ وپوښتل شی چي له خپلو کورونو څخه لوږي راوايستلای اوترهغونه شوای ستانه ترڅو دغه نعمتونه مو وڅکل.

دالله په مرسته دالتکاثر سورت تفسير بشپړ شو.

د(العصر)سورت مکي او دري آيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالعصرسورت مکي او په ډېرلنډاوکوتاه ډول يې دانسان دنېکمرغي اوبدمرغي اسباب څېړلي اوپه دغه ژوندانه کي يې دهغه بريااليتوب اوهلاکت څرګند کړيدی.

الله جل جلاله په عصرلوړه کړي اوعصرهغه وخت ته وايې چي دانسان عمرپکي پای ته رسېږي اوپکي ډېرعجائبات شته همدارازپه هغه کي دالله جل جلاله دقدرت ډېري نښې اودلائل دي ځکه نوالله جل جلاله ورباندي قسم کوي لوړه اخلي چي انساني جنس په تاوان کي دی مګرنه هغه کسان چي پدې څلورصفتونومتصف وي چي هغه ايمان ، صالح عمل اوپه حق باندي له يوبل سره وصيت کول اوپه صبرمنګولي لګول دي، دادفضيلت تاداو اوبنسټ دی ددين اساس هم داجوړوي ځکه نوامام شافعي رحمه الله وايې: که الله جل جلاله له دې سورت څخه پرته بل هيڅ آيت هم نه وای نازل کړی نودغه مبارک سورت کفايت اوبسنه کوله اودپوهانوبندګانو دهدايت لپاره کافي وو.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾ ﴾ العصر: ١ - ٣

تفسير:

﴿ وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴾(قسم په عصرچي بېشکه انسان په زيان کي دی)يعني زه په دهر اوزماني قسم کوم هغه چي پکي عجائبات اوغرائب، پندونه اووعظونه خوندي دي چي(جنس) انسان په تاوان کي دی ځکه هغه چي آجل ترعاجل خوښوي اوهواهوس ورباندي غالب وي. ابن عباس رضی الله عنهما وايې: عصردهر ته وايې ځکه چي په دهرکي عجائب اونوادرموجوددي، قتاده وايې عصرد ورځي له ساعتونوڅخه وروستی ګړی ته ويل کېږي په هغه يې ځکه قسم اخيستی چي دالله جل جلاله دلوړقدرت نښې نښانې پکي شته لکه چي په (الضحی) يې لوړه کړي ده [1] اوڅرنګه چي الله جل جلاله په زمانه لوړه کړي ځکه هغه دانسان دعمرپانګه (سرمايه) ده اوهره شېبه چي يې تېرېږي له عمر او ژوندڅخه يې کمېږي لکه چي وايې : (انالنفرح بالأيام نقطعها وكل يوم مضى نقص من الأجل) يعني موږخود شپواوورځوپه تېرېدلوخوشحالېږو خوهره ورځ چي تېرېږي له عمرڅخه کمېږي. قرطبي ليکي: الله جل جلاله په عصرقسم اخيستی اوهغه دهردی ځکه په هغه کي داحوال وتبديل اوتصرفات پېښېږي په هغه کي دصانع په ذات باندي دلالت نغښتی دی اوچابياويلي چي دغه دمازيګرپه لمانځه باندي قسم دی ځکه هغه ترنورولمونځونوافضل دی[2] ﴿ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴾ مګرهغه انسان چي

---

(١) البحرالمحيط ٥٠٩/٨

(٢) القرطبي ١٧٩/٢٠

ایمان یې راوړی دی اوکړي یې دي ښه عملونه زیانکاران نه دي) یعني داکسان چي د ایمان اوصالح عمل خاوندان دي نېکمرغه اوبریالي دي ځکه خسیس یې په نفیس پېرودلی اوله شهواتو څخه یې باقیات الصالحات غوره ګڼلي دي ﴿وَتَوَاصَوْاْ بِٱلْحَقِّ﴾او وصیت یې کړی وي یوله بله په حقه سره چي ایمان دی، تصدیق دی اوداالله عبادت دی ﴿وَتَوَاصَوْاْ بِٱلصَّبْرِ﴾اووصیت یې کړی وي یوله بله په صبرسره په مشکلاتو اوطاعاتو اوترک دمحرماتو باندي.

الله تعالی په ټولوانسانانودخسران حکم کړی دی یوازي هغه کسان چي داڅلورصفتونه پکې وي چي هغه ایمان، صالح عمل، اوپه حق اوصبروصیت کول دي ځیني ایستل شوي دي، ځکه دانسان نجات هلته ممکن دی چي ایمان راوړي نېک عمل ترسره کړي اونصیحت اوارشادکوي نوبه یې (حق الله اوحق العباد) غوندترسره کړي وي اوپدې څلوروکي همدغه رازپټ دی.

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبدیع اوبیان کوي ښکلاوي شته په لاندي ډول یې لنډیزلیکو:

۱ - د(بعض) یادول اود(کل) مرادول لکه ﴿إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ لَفِى خُسْرٍ﴾ځکه داستثناپه دلیل معلومېږي چي مرادټول خلګ جنس انسان دی.

۲ - تنکیردتعظیم لپاره لکه ﴿لَفِى خُسْرٍ﴾یعني دوی په سترخسران اولوی هلاکت کي دي

۳ - اطناب دفعل په تکرارسره لکه: ﴿وَتَوَاصَوْاْ بِٱلْحَقِّ وَتَوَاصَوْاْ بِٱلصَّبْرِ﴾ترڅوورباندي بشپړ اهتمام اوپاملرنه وشي.

۴ - دخاص ذکرله عام نه وروسته لکه ﴿وَتَوَاصَوْاْ بِٱلصَّبْرِ﴾چي دحق له کلمې څخه وروسته ذکر شوی دی ځکه صبرخوړومبی لادحق په عموم کي داخل وو خوبیایې یوازي ځکه ذکرکړچي فضیلت یې ښکاره شي.....

۵ - غیرتکلفي سجع لکه ﴿وَٱلْعَصْرِ....بِٱلصَّبْرِ....خُسْرٍ﴾اوداهم له بدیعي محسناتو څخه ګڼل کېږي.

تنبیه:

بیهقي په الشعب کي له ابي حذیفه رضی الله څخه روایت کوي چي هغه وایې کله چي به د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه اصحابان سره مخامخ شول نودجلاکېدلوپه وخت کي به یې سره والعصر یوبل ته اوراوو اوبیابه یې یوبل ته سلام اچاوو.

دالله جل جلاله په مرسته دوالعصرسورت تفسیربشپړشو.

د(الهمزه) سورت مکي او نه آيتونه لري

دسورت په وړاندي

دالهمزه سورت مکي او دهغو کسانو حال بيانوي کوم چي دخلګو عيبونه پلټي اولټوي بې دهغوی په اعراضو کي لوېږي او په هغوی باندي استهزاګاني اوملنډي وهي.

دغه سورت هغه کسان بدګڼي چي مالونه راغونډوي ثروتونه انباروي ته به واتل ترتله به ژوندي وي، دوی له ډېري ناپوهي داسي انګېري چي مال به يې تل له غمونوژغوري اوپه دنياکي به ژوندي پاتي وي.

دسورت په پای کي دهغوبدبختانو انجام يادوي چي هميشه بلېدونکي اورته به لوېږي کوم چي ددوزخ اوردی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ ١ ٱلَّذِي جَمَعَ مَالٗا وَعَدَّدَهُۥ ٢ يَحۡسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخۡلَدَهُۥ ٣ كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِي
ٱلۡحُطَمَةِ ٤ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ٥ نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ٦ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ٧ إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ٨
فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ٩﴾ الهمزة: ١ - ٩

لغتونه:

(همزه) عيب لټونکی غيبت کونکی (هماز) هغه چاته وايې چي دخلګو غيبت کوي اواعراض بې پلټي اويايې دريشخنداوملنډوپه توګه لوري ته سترګکونه وهي(فُعَلة) صيغه په عادت ګرزېدلو دلالت کوي ځکه هرځای چي دغه بناء استعمال شوي مرادورڅخه عادت اوخوی دی (لُمزة) لماز، هغه چاته وايې چي دخلګوعيبونه په ډاګه کوي اوپه سترګو اووروځودهغه خواته اشارې کوي (حطمة) ددوزخ اورته وايې ځکه هغه هرڅېزماتوي (مؤصدة) تړلي شوي اوټينګ بندلکه چي وايې (أوصد الباب) يعني ورېې وتاړه.

تفسير:

﴿وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ﴾(هلاکت ياسخت عذاب ددوزخ دی هرغيبت ګرعيب ګرلره) يعني خرابي، عذاب اوهلاکت دې هغه چالره چي عيبونه لټوي غيبت کوي دخلګوپه اعراضوکي لوېږي او يايې پس شادسترګوپه کونجانواووروځوورته دملنډواشارې کوي مفسرين کرام ليکي: داآيتونه د (أخنس بن شريق) په باب راغلي ځکه هغه به تل دخلګوعيبونه لټول مخامخ اوپس شابه يې دهغوی غيبت کاوو، ددې آيت حکم عام دی[1] ځکه اعتبارد لفظ عموم لره وي نه دسبب خصوص لره ﴿ٱلَّذِي

---

(1) القرطبي ۲۰/ ۱۸۳

﴿جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُۥ﴾ هغه چي مال يې جمع کړی اوواروارېې شمېرلی اوذخيره کړيدی، هغه يې څکه شمېرلی چي کم شوی خوبه نه وي هغه خپل مال ټولوي اوخوندي کوي يې دالله جل جلاله په لارکي يې نه لګوي اونه هم دالله سبحانه حق پکي ورکوي (١) ﴿يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخْلَدَهُۥ﴾ (ګمان کوي چي دده مال به دی تل ژوندی لري) يعني دغه ناپوه داسي خيال کوي چي دده مال به دی تل ژوندی اوله مرګه به يې ژغوري ﴿كَلَّا ۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِى ٱلْحُطَمَةِ﴾ نه ده داسي قسم دی خامخاوبه غورځولی شي په هغه اورکي چي ماتونکی سوځونکی دهرشي دی ﴿وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحُطَمَةُ﴾ اوخه شي پوه کړی يې ته څه شی دی ماتونکی؟ دغه استفهام دتفخيم اوتعظيم لپاره دی يعني داهسي ماتوونکی دی چي هډوکي ماتوي غوښي سوځوي اوپه زړونو حمله کوي بيايې الله جل جلاله پخپله تفسيرفرمايې ﴿نَارُ ٱللَّهِ ٱلْمُوقَدَةُ﴾ اوردالله دی بل کړی شوی ، په امردده اولګه نوراورونه غوندي نه دی بلکه داتل بلېږي اوپه حديث شريف کي راځي چي يوزرکاله بل شوترڅوتک سور واوښت اوبيايوزرکاله بل شوترڅو تک سپين واوښت اوبيايوزرکاله بل شوترڅو تک تورشو نوهغه تک تورتياره دی(٢) ﴿ٱلَّتِى تَطَّلِعُ عَلَى ٱلْأَفْـِٔدَةِ﴾ هغه (اور) چي په زړونو خېژي (اوسوځوي يې) يعني هغه اور چي درداوسوی يې زړونوته رسېږي او سوځوي يې قرطبي ليکي چي زړونه يې څکه څانګړي ياد کړل چي کله دردزړه ته ورسېږي بيانوسړی مري دوی په همداسي حال کي خومره کېږي نه لکه چي الله تعالی فرمايې (لايموت فيهاولايحي) نو دوی ژوندي خوپه معنادمړيودي ﴿إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ﴾ بېشکه دااوربه پردوی باندي بند کړی شوی وي (چي دوی ته به هيڅ شمال اوهوانه وررسېږي) ﴿فِى عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍۭ﴾ (په ستنو راښکليو شويو اوږدو سره) يعني ددوی لاس اوپښي به په ځنځيرانوتړل شوي وي اودوزخ دروازې به ورته را پوري او تړلي وي دوی نورله وتلوڅخه ناهيلي وي اواوږدوستنومعنادادې خبر ورکول دي چي دوی به هلته تل ترتله وي

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

١ - دمبالغې صيغه لکه ﴿هُمَزَةٍ﴾ چي (فُعَلة) صيغه ده اوپه همېشه دوداوعادت باندي دلالت کوي

٢ - تنکيردتفخيم لپاره لکه پدې کلام کي چي ﴿جَمَعَ مَالًا﴾ يعني ډېرمال چي نژدې له شمېرلوو تلی وي

---

(١) الطبري ٣٠/ ١٨٩

(٢) رواه الترمذي عن ابي هريرة مرفوعاوقال الأصح انه موقوف

۳- تفخیم او تهویل لکه ﴿ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ﴾ تر څو د جهنم هیبت او سترتوب ونبیي.

۴- غیر تام جناس لکه ﴿ هُمَزَةٍ ﴾ او ﴿ لُّمَزَةٍ ﴾ او دي ته ناقص جناس وايي.

۵- د فواصلو توافق لکه چي د ﴿ وَعَدَّدَهُۥ... أَخۡلَدَهُۥ... ٱلۡمُوقَدَةُ... مُّمَدَّدَةِۭ ﴾ په کلماتو کي راغلی دی او دې ته سجع ویل کېږي.

د الله جل جلاله په مرسته د الهمزة تفسیر بشپړ شو.

***

د (الفیل) سورت مکي او پنځه آیتونه لري

د سورت په وړاندي:

د الفیل سورت مکي دی او د اصحاب الفیل (د فیل د خاوندانو) کیسه بیانوي کله چي یې د کعبې د نړولو تکل وکړ، خو الله جل جلاله د دوی مکر او کید پخپله پر دوی باندي مسلط کړ او خپله کوټه (بیت الله شریفه) یې د دوی له شر څخه وژغورله او د (أبرهة الأشرم) په لښکرو یې خپل یو ډېر بېوزله مخلوق کوچني مرغان را واستول چي په منبوکه او پنجوکي به یې ډبري نیولي وې خو تر ډېروژونکو مرد کیو او ګولیو یې ګذار سخت وو تر څو ټول لښکر الله د دغو مرغانو په وسیله تباه کړ او دغه تاریخي پېښه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د میلاد په کال وه چي د ۵۷۰ میلادي کال سره یې سمون درلود، دغه خارق العادة پېښه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د نبوت په رښتنولي ښه دلالت کونکی دی چي دغه کار له عادت څخه ډېر لوړ او اوچت وو.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ۝١ أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ ۝٢ وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ۝٣ تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ۝٤ فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ۝٥ ﴾ الفیل: ۱ - ۵

لغتونه:

(ابابیل) یو په بل پسي ټولګي ټولګي جوړي لیکي چي له هغو جمع څخه دی کومي چي واحد نلري

(سجیل) د ختو کاني (عصف) د کښت پاڼي لکه پروړه او ښه او عصف یې څکه بولي چي بادیې یوې بلي خواته خوځوي.

تفسیر:

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَٰبِ ٱلْفِيلِ﴾(آیانه وولیدلی تاچي څرنګه کارکړی وو رب ستاله خاوندانودفیل سره) یعني آیاته په علم الیقین سره پوه نه یې چي الله له خاوندانودفیل سره څه وکړل؟ اودالکه چي پخپلوسترګویې پېښه لیدلي وي څکه چي دغه خبرېښخي زیات شهرت موندلی وو. مفسرین کرام لیکي چي دیمن پاچا(أبرهة الاشرم) په صنعاء ښارکي یوه عبادت خانه جوړه کړه ترڅوله کعبې شریفي څخه خلګ هلته ورمات کړي خودکنانه قوم څخه یوڅوک راغی اوهلته یې انساني حاجت ترسره کړاوددغي جعلي عبادتخانې دېوالونه یې په پلیتي ولړل ترڅوسپکاوی یې وشي، ابرهه چي خبرشوډېرقهر اوکاوړ ورغی قسم یې وکړچي کعبه شریفه به ورانوي په فیلانوسمبال یې ستر لښکرتیارکړاوترګردولوی فیل یې دمخه کړچي مکې شریفي ته ورسېدونودمکې خلکوغرونو ته پناه یووړه ترڅوددغه ظالم له لښکرو خان خوندي اووژغوري ، الله تعالی پدې لښکروتورمرغان راوالوزول چي له هره یوه سره درې دختو کاڼي وویوېې په منبوکه اودوه یې په منګولوکي نیولي وودغه لښکریان یې ورباندي ویشتل کاڼي به یې په سرکښي دننه شول اوله ښکتني لاري څخه به یې راووتل اوهغه به یې حسه ماده غوندي پرېووت ترڅوټول یې همداسي ووژل اوددوی کیسه دخلکو لپاره دپنداوعبرت

ورشوه.(۱)ابوالسعودلیکي داچي الله تعالی وفرمایل:﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَٰبِ ٱلْفِيلِ﴾یعني آیانه دي وولیدلي چي الله ددوی سره څرنګه کاروکړ؟ اوداچي د(کیف) کلمه یې راوړه اود(ما)کلمه یې استعمال نکړه ددې لپاره چي ددغه کارکیفیت دډېرهیبتناک اوترهوونکی وو هغه چي دالله په سترقدرت اوبشپړعلم باندي یې دلالت کاوو اودرسول الله صلی الله علیه وسلم د شرافت څرګندونه یې کوله اوداپېښه له هغوخارق العادة پېښوڅخه یوه وه کوموچي د رسول الله ﷺ دربښتنولي ګواهي

ورکوله(۲)﴿أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ﴾آیانه ووګرزولی هغه مکرد دوی(چي کعبه یې نړوله) په ګمراهي کي) دوی خوغوښتل چي کعبه ورانه کړي مګرالله دوی هلاک کړل ﴿وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ﴾

اوراویې لېږل په دوی باندي مرغان ټولګي ټولګي چي له هره لوري ورباندي راوڅرخېدل

﴿تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ﴾چي ویشتل یې هغوی په کاڼوسره(کوم چي له ختوجوړاوپه اورپاخه شوي

وو)هغه به لکه مرګي غوندي ورباندي لګېدل اوځای په ځای به یې وژل ﴿فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ﴾

نوویې ګرزاوودغه لښکرپه شان دوښو خوړل شویو ، هغه چي بادیې الوزوي دوی یې ټول هلاک کړل، دغه کیسه دکعبې شریفي په شرافت اوعظمت دلالت کوي ا وداچي الله تعالی په قریشونعمت وکړاوددښمن څخه یې وژغورل نوپردوی لازم دی چي دالله عبادت وکړي او دنعمت شکریې پرځای کړي اوله دې سره سره پدې پېښه کي دالله جل جلاله له خپلودښمنانوڅخه د کسات اخیستلوډېرعجائب

---

(۱) کبیرتفسیر۳۱/ ۹۲

(۲) ابوالسعود۵ /۲۸۵

اوغرائب هم شته څکه دغه ستر دښمن په هماغه کال چي د رسول الله ﷺ د زیږېدلو کال وو وخپل شو او داګو اکي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نبوت خارق العاده نښه ده څکه دغسي مرغان پداسي صفتونو ستايلي د معجزاتو او ارهاصاتو څخه يوه معجزه او ارهاص دی کوم چي په پخوانيو انبياوو عليهم السلام لورول شوي وو پدې پېښه کي الله جل جلاله ستر دښمن پداسي بېوزله مرغانو هغه چي عادتاً هيڅکله هم څوک نه وژني وواژه[1].

• **بلاغت:**

پدې سورت کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډ يزيې په لاندي ډول دی.

۱- استفهام د تقرير او تعجب لپاره لکه ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ﴾ تر پايه

۲ - پيغمبرته خطاب چي الله يې ځان ته منسوب کوي فرمايي ﴿فَعَلَ رَبُّكَ﴾ او پدې کي د ﷺ شرافت او د الله د قدرت څرګندونه او بيان دی.

۳- مرسله مجمله تشبيه لکه ﴿فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ﴾ چي د تشبيه ادات او توری راوړل شوی خو د مشابهت وجه يې حذف شوي ده.....

۴ - د فواصلو توافق لکه ﴿الْفِيلِ.... تَضْلِيلٍ.... سِجِّيلٍ.... أَبَابِيلَ﴾ او داسي نور.

د الله جل جلاله په مرسته د الفيل سورت تفسير بشپړ شو.

***

د (قريش) سورت مکي او څلور آيتونه لري.

د سورت په وړاندي:

دغه سورت په مجموع کي د الله تعالی د لويو نعمتونو يادونه کوي کوم چي د مکې په خلګو يې لورولي وو دوی دوه سفرونه درلودل يو په ژمي کي او بل په اوړي کي ژمی به يمن ته تلل او په دوبي کي به شام ته تلل په دې سفرونو کي به هغوی تجارت او سوداګري کوله او هم دا راز الله جل جلاله قريش په دوو نورو سترو نعمتونو هم نازولي وو چي هغه د امن سوکالي او استقرار نعمت او هم دا راز ثروت او بډايي يې ورباندي لورولي وه څکه فرمايي ﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ﴾.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ﴿١﴾ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ ﴿٢﴾ فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ ﴿٣﴾ الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ ﴿٤﴾﴾ قريش: ۱ – ۴

---

[1] البحر المحيط ۸/ ۵۱۱

تفسير:

﴿ لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ إِۦلَٰفِهِمۡ ﴾ له جهته دانس اوالفت دقريشوالفت ددوی ، دغه لام دهغه فعل متعلق دی کوم چي وروسته راځي چي (فليعبدوا) ايلاف عادت اومحبت مينې ته وايي معناداچي له جهته دآسانتياداالله جل جلاله په قريشوهغه څه لره چي ورسره يې مينه درلوده هغه دژمي سفريمن ته او د دوبي شام ته وولکه چي فرمايي ﴿ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ﴾ سفردژمي اودوبي کله چي به دوی هرکال هلته دسوداګري لپاره تلل اوخوراکي مواداوجامې به يې راوړلې په دغه تګ کي به يې ډېري ګټې وټې ترلاسه کولې پداسي حال چي دوی به په امن اوهوسايي کي ووهيچابه ورته تکليف نه رساوو ځکه خلګوويل چي دغه دکعبې شريفي ګاونډيان(مجاوران)دي نوبه چاورباندي تېری اوظلم نه کاوو ،کله چي الله تعالی اصحاب الفيل هلاک کړل لانور دمکې دخلګوعزت اوعظمت دخلګوپه وړاندي زيات شواوپاچهانوامیرانوبه ورته په درنه سترګه کتل ددوی دغه ګټولانوره وده وکړه ځکه الله جل جلاله ورباندي خپل امتنان څرګنداودخپلو نعمتونويادونه يې وکړه ترڅوالله په وحدانيت ومني او شکريې اداکړي نوويې فرمايل ﴿ فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ﴾ نوښايي چي عبادت وکړی رب ددې کوټې لره اوخپل دغه عبادت دهمدغونعمتونوشکرانه کړی کوم چي په ځانګړي توګه الله جل جلاله پر دوی لوروليو دي مفسرين کرام ليکي چي: له دې امله په (فليعبدوا)کي(فا) راوړل شوه ځکه پدې کلام کي دشرط معناخوندي ده لکه چي وايي: که په نورونعمتونودالله جل جلاله عباد ت نه کوي نوپه الفت ددووسفرونوخودي عبادت وکړي ځکه داډېرڅرګنداوسترنعمتونه دي، دوی پداسي هيوادکي اوسي چي نه کښت اوکرونده لري نه رمې اوګلې له همدې سببه وروسته فرمايي ﴿ ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ ﴾ (هغه رب چي خواړه يې ورکړي دي دوی ته په لوږي کي اوامن يې ورکړی دی دوی ته له وېري څخه) يعني دغه الله چي دوی يې په سخته لوږه کي ماړه اوپه سخته وېره کي په امن او سوکاله کړل ځکه هيڅوک په سفراوحضرکي پردوی نه بلوسي لکه چي الله تعالی فرمايي: ﴿ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا حَرَمًا ءَامِنٗا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنۡ حَوۡلِهِمۡۚ ﴾ اوداداابراهيم عليه السلام دهغي دعابرکت دی چي له الله جل جلاله څخه يې غوښتې اوداسي يې ويلي وو: ﴿ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنٗا ﴾ اوبياوايي ﴿ وَٱرۡزُقۡ أَهۡلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ ﴾ آيالازم نه دی چي قريش دهمدې سترپروردګارعبادت وکړي کوم چي له لوږي يې وژغورل او له خوف اووېري څخه يې په امن اوهوسايي ونازول؟

بلاغت: پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دادی:

۱ - دطباق صنعت د ﴿ ٱلشِّتَآءِ ﴾ اود ﴿ وَٱلصَّيۡفِ ﴾ او ﴿ جُوعٖ ﴾ او ﴿ أَطۡعَمَهُم ﴾ ترمينځ اوهمدارنګه دخوف اوامن ترمينځ ﴿ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ ﴾ .

۲ – اضافت د تشريف او تکريم لپاره لکه: ﴿ رَبَّ هَٰذَا ٱلْبَيْتِ ﴾.

۳ – د يو څيز تقديم چي ورسره تاخير ښايي لکه ﴿ لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ﴾ حق خو داسي وو چي ويل شوي واى (فليعبدوارب هذاالبيت) لايلافهم رحلة الشتآء والصيف) خو ايلاف يې د دې لپاره رومبى ذکر کړ چي د نعمت يادونه وشي.

۴ – تنکير د شدت د بيانولو لپاره لکه پدې کلماتو کي ﴿ جُوعٍ ....خَوْفٍ ﴾ څکه مراد شديده لوږه او سخته وېره ده.

تنبيه:

امام فخررازي رحمه الله وايي: پوه شه چي انعام په دوه ډوله دى يو دا چي ضرر دفع شي او هغه د (الفيل) په سورت کي ذکر شو دوهم دا چي ګټي او منافع ترلاسه شي هغه پدې سورت کي راغلي نو کله چي الله جل جلاله ضررځني دفع او ګټي يې ورته راماتي کړي دا دوه نعمتونه يې بشپړ ورکړل بيايي د عبادت کولو امر ورته وفرمايو او د شکر ادا کول يې ترې وغوښتل چي ﴿ فَلْيَعْبُدُوا۟ رَبَّ هَٰذَا ٱلْبَيْتِ ﴾ د آيتونو تر پايه.

دالله جل جلاله په مرسته د قريش سورت تفسير بشپړ شو.

***

د (الماعون) سورت مکي او اوه آيتونه لري

د سورت په وړاندي:

د غه مکي سورت دى او په لنډه توګه د دوو ډوله حالاتو څخه غږېږي:

الف:- د منکر کافر له حاله چي په قيامت او حساب جزا باندي ايمان نلري

ب:- هغه منافق چي خپل عمل يوازي دالله جل جلاله لپاره نه ترسره کوي او په لمانځه او نورو کړو وړو کي يې مقصد رياکاري او ځان ښوونه (نمائش) وي.

الله جل جلاله دلومړي ټولګي څخه ددوى بد او ناکاره صفتونه يادوي چي دوى يتيم سپکوي او څوروي د خيرخيرات کارونه نکوي آن تر دې چي بل چا ته هم د مسکين او يتيم دلاس نيوي په هکله ترغيب او (مارېينه) نه ورکوي نو هغوى نه دالله ﷻ له جل جلاله عبادت په سمه توګه کوي او نه هم دالله له مخلوق سره سمه رويه او چلند کوي ، دوهمه ډله منافقين دي هغوى چي له خپلو لمنځونو څخه غافل دي پخپل وخت کي يې نه ګذاري دوى يوازي دلمانځه حرکات ادا کوي خو په معنا کي هيڅ لمونځ نه وي دوى خلګو ته ځان ښودنه او رياکوي او الله جل جلاله دغه دواړه ټولګيو ته د هلاکت او (ويل) اخطار ورکړى دى او ددوى کارونه يې د استغراب او تعجيب په کلماتو غندلي دي!!

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴿١﴾ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ﴿٢﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿٣﴾ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴿٥﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ يُرَآءُونَ ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُونَ ٱلْمَاعُونَ ﴿٧﴾ ﴾ الماعون: ۱ - ۷

لغتونه:

(يدع) رټي شړي لکه چي الله تعالى فرمايي (يوم يُدَعُّونَ الى نارجهنم دَعًّا) (يحض) حث اوحض ترغيب هڅولوته اوتېزولوته وايي(ساهون) دساهي جمع ده اوهغوکسانوته وايي چي له لمانځه څخه غافل وي اودلتي اوکاهلي په وجه يې نه اداکوي (الماعون) د هرکم شي ته وايي په عربوکي متل دى چي (ماله معنه ولاسعنه) يعني نه لرمال لري اونه د هرمُبَرّد اوزجاج وايي (ماعون) هغه څيزته وايي چي ګټه اومنفعت پکې وي لکه: تبر، دېګ ، سلواغه اوداسي نور.

تفسير:

﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴾آياوينې هغه څوک چي دروغ وايي په ورځي دجزاباندي ، استفهام د تعجب اوتشويق لپاره دى يعني آياتاپېژندلى هغه څوک چي دقيامت په ورځي اوحساب جزاباندي دروغ وايي؟ تاته معلوم دى هغه څوک دى څه صفتونه لري ؟ که غواړې چي ويې پېژنې:

﴿ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ﴾نوهمغه څوک دى چي رټي ،شړي يتيم لره په جفاسره،اوبداخلاقي ور سره کوي ظلم پرې کوي خپل حق يې نه ورکوي ﴿ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴾نونه کوي تېزول په طعام خواړه ورکولو دمسکين باندي، پدې کي دااشاره ده چي که دې خپل وس اوتوان هم ولري مسکين ته څه نه ورکوي څکه دى بل چاته لادمسکين په ورکړه اوخيرات تېزول نه کوي نوخپله به يې کله ورکړي[1])امام رازي ليکي چي که څوک وپوښتي چي ولي يې داسي ووېل (ولايحض على طعام المسكين) اوداسي ونه ويل شو(ولايطعم المسكين) ځواب دادى چي هغه د يتيم حق نه ورکوي نو مسکين ته به څرنګه يوڅه ورکړي بلکه هغه لادبل چاپه مال باندي بخل کوي او دغه دزړه په خورا سخت والي اودبخل په زښته زيات والي اوکنجوسي دلالت کوي[2])حاصل داچي هغه نه پخپله مسکين ته خواړه ورکوي اونه بل چاته يې دورکولوامرکوي څکه هغه په قيامت ايمان نلري که يې په قيامت ايمان درلوداى اوحساب جزايې منلاى داسي به يې نه کول ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴾پس هلاک افسوس دى دپاره دلمونځ کونکودمنافقانوهغوى چي داسي صفات لري) ﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴾هغه کسان چي دوى له لمانځه څخه بې خبره وي ؛ په لټي سره يې له خپلو وختونو څخه ځنډوي ابن عباس رضى الله عنهماوايي داهغه لمونځ کونکي دي چي که لمونځ وکړي هم دثواب طمع بې نلري اوکه يې

[1]) البحرالمحيط۸ /۵۱۷

[2]) القرطبي۲۰ /۲۱۱

پرېږدي هم له عذاب څخه يې نه وېرېږي (١) ابو العاليه وايي چي دوى هغه کسان دي چي پخپل وخت لمنځونه نکوي اونه يې رکوع او سجده په سمه توګه ترسره کوي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ددې آيت په هکله پوښتنه وشوه هغه وفرمايل : (داهغه کسان دي چي لمنځونه له خپلو اوقاتو څخه ځنډوي (٣) مفسرين کرام وايي: کله چي الله جل جلاله د(عن) په توري سره تعبيرو فرمايو معلومه شوه چي دادمنافقينو په هکله دي ځينو پخوانيو (سلفو) علماى کرامو ويلي چي الحمدلله تعالى چي (عن صلاتهم) راغلى اوکه چېري (في صلاتهم) ويل شوي واى نودابه دمؤمنانو په هکله وو ځکه هغوى هم کله ناکله په لمانځه کي سهوه کېږي خوددواړو سهووترمينځ توپيرډېرڅرګندى دى ځکه دمنافق سهود پرېښودلو سهوه ده هغه ته لمونځ څه اهميت نلري اونه ورپه ياد کېږي تل ترې غافل وي مګرمؤمن که چېري سهوهم شي ددغي سهوي جبران په سجدو کوي نوددواړو سهووترمينځ فرق څرګند شوورپسې

الله جل جلاله ددوى نوربد اوناکاره خويونه داسي بيانوي ﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ يُرَآءُونَ ﴾ هغه کسان چي دوى رياکاري کوي (يعني دوى دخلګو په مخ کي لمنځونه کوي ترڅو خلګ يې وستايي چي داپرهېزګاره خلګ دي اوپه ډېره عاجزي لمونځ ګذاري چي خلګ ووايي دخشوع خاوندان دي مالونه خيراتوي ترڅو خلګ دوى سخيان وګڼي همدارنګه ددوى ټول کړه وړه درياکاري سره وي او مطلب يې شهرت ګټل

وي ﴿ وَيَمْنَعُونَ ٱلْمَاعُونَ ﴾ اومنع کوي اسباب دمنفعت امداد يوله بله (که څه هم ډېرلږشى وي، ماعون هرهغه څېزته هم ويل شوي چي ګټه ورباندي اخيستل کېږي لکه ستن ،تبر، ګډوه ،مالګه، اوبه اونور، مجاهدوايي چي دماعون معنى هغه خواستي اومستعار شيان چي له يوله بله استعاره کول يې دخلګوترمينځ رواج لري لکه ،تبرسلواغه اونور لوښي . طبري ليکي چي : دماعون معنامنفعت اوګټه دهرشي ته ويل کېږي يعني دوى له خلګو څخه دهغو شيانو چي له دوى سره دي منفعتونه منع کوي نه يې ورکوي(٢) په آيت شريف ددې شيانو دراکرزولو څخه زجر راغلى ځکه چي پداسي وړوشيانو بخل کول نهايته کنجوسي اوناځواني ده.

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډ يې داد ي:

١ - داسي استفهام چي مقصورڅخه دسامع تشويق اودخبرتعجيب وي لکه ﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ﴾ چي راغلي دي

٢ - ايجاز بالحذف لکه ﴿ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ﴾ دلته شرط حذف شوى تقديريې داسي دى چي که غواړې ويې پېژنې نوداهغه څوک دى چي يتيم شړي اوربټي يې اودغه دبلاغت له اسلوبو څخه يو دى.

(١) أخرجه ابن جرير
(٢) تفسير طبري ٣٠/ ٢٠٣

۳ - ذم اوتوبیخ لکه ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴾ اوهمدارنګه دضمیرپرځای ظاهرراوړل چي اصلا خوداسي ووچي (فويل لهم) مګردغه اظهارداضمارپرځای په تقبیح کي لازیات والی ښیي.

۴ -ناقص جناس لکه چي ﴿ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ ﴾ راغلی دی.....

۵ - دفواصلوتوافق چي دآیتونودسرونومراعات وشي لکه ﴿ الْمَاعُونَ.... سَاهُونَ.... يُرَآءُونَ ﴾ اونور.

دالله جل جلاله په مرسته دالماعون سورت تفسیربشپړشو.

***

د(الکوثر)سورت مکي اودرې آیتونه لري.

دسورت په وړاندي:

دالکوثرسورت مکي اودالله جل جلاله له لوري هغه فضل پخپل پیغمبرباندي بیانوي کوم چي دېرنعمتونه یې ورکړي اوددنیااوآخرت ښېګني یېورباندي لورولي دي چي دهغوی له جملې څخه یو هم دکوثرنهردی اونورډېرنعمتونه، پدې سورت کي رسول الله صلی الله علیه وسلم دلمانځه ددوام اوقرباني کولوبلنه ورکول شوي ده ترڅودالله جل جلاله شکرپرځای کړي

سورت پیغمبرعلیه السلام ته په زېري ورکولوپای ته رسېږي کوم چي داسي وړاندوینه کوي چي درسول الله صلی الله علیه وسلم دښمنان به خوار وزار اوپه دنیااوآخرت کي به له هري ښېګني څخه محروم وي، ټول هغه کسان چي له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره عداوت لري هغوی به سپک اوذلیل وي خودرسول الله صلی الله علیه وسلم نوم به په مناروامنبرونوتل ترتله اوچت اوپه ټولو ژبوبه ترقیامته تلپاتي ژوندي وي.

لغتونه:

(الکوثر) ډېرخیراوبرکت له کثرت څخه مبالغه ده عرب هرهغه شی چي شمېریې زیات یاقدر اوعزت یې لوی اوستروي کوثربولي (انحر) حلاله وکړه (نحر) په خانګړي توګه داوښانوحلالولوته وایې اوداسي ده لکه ذبح په غوایانواوپسونوکي(شانئک) الشأن، عداوت کونکي ته وایې اوله شنآن څخه اخیستل شوی لکه چي الله تعالی فرمایې (ولایجرمنکم شنآن قوم) اوباعث دي نه کړي دښمني دهغوی (الأبتر) له هره خیراوښېګني پرې شوی بې بنیاده اومنقطع بترپرېکولوته وایې هغه چاته چي ذوذات اونسل یې نه وي أبترویل کېږي ځکه دهغه نسب پرې شوی دی دزیادخطبې ته خطبه بتراء ویل شوي ځکه هغه په خپله خطبه کي په الله حمد اوپه رسول الله صلی الله علیه وسلم باندي درودنه وولوستلی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ﴿٢﴾ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ ﴿٣﴾﴾

الكوثر: ۱ ـ ۲

تفسير:

﴿إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ﴾ بېشکه موږ درکړی تاته کوثر، خطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی او داد رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم دلوړ مقام تکریم او تشریف دی یعني موږ تاته خیر کثیر درکړی هغه چي په دنیا او آخرت کي به تل ترتله وي اوله دې څخه د کوثر نهر هم دی، هغه نهر چي په احادیثو کي راغي چي دواړه پولي یې دسرو زرو دي تل اوغولی یې دملغلرو او یاقوتو دی خاوري یې له مشکو خوشبویه او به یې ترشاتو خوږې او تر واوري سپیني دي چاچي یو غوړپ څني وڅښل هیڅکله به بیا تږی نشي(۱) أنس رضی الله عنه وایې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم له موږ سره یو ځای وو چي نابېره بې هوښي پرې راغله او بیا یې موسکېدلي غوندي سر راپورته کړ موږ تري پوښتنه وکړه چي ای رسول الله څه شي وخندولې؟ ویل یې دا اوس وراندي یو سورت راباندي نازل شو نو یې داسي ولوست:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ﴾ د سورت ترپایه پوري بیا یې و فرمایل: پوهېږی کوثر څه شی دی موږ ویل: الله جل جلاله او پیغمبر صلی الله علیه وسلم ښه پوهېږي، ویل یې هغه یو نهر چي الله عزوجل ماته دهغه وعده راکړي ده په هغه کي زیات خیر دی هغه داسي حوض دی چي زما أمت به د قیامت په ورځ ورته راځي لوښي او جامونه به یې د آسمان د ستورو په شمېروی یو څوک به تري ګوښه کړی شي او نه به ورکول کېږي زه به وایم چي دا خو زما أمتي ده راته به وویل شي ته خبر نه یې له تا وروسته یې څه کارونه کړي دي؟ (۲) ابو حیان لیکي د کوثر په هکله شپږ ویشت ویناوي شته او سمه وینا او صحیح قول هغه دی چي رسول الله یې تفسیر فرمایلی دی او وایې چي (هو نهر فی الجنة حافتاه من ذهب ومجراه علی الدر والیاقوت تربته أطیب من المسک وماءه أحلی من العسل) له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت شوی چي کوثر ډېر خیر ته وایې داد مفسرینو د اقوالو جامع او نغښتونکی را ټولونکی قول دی او بېشکه چي الله جل جلاله رسول الله ته ډېر فضائل ور کړي نبوت، کتاب او حکمت یې ور ښښلی، علم، شفاعت، حوض مورود، مقام محمود، داتباعو کثرت، په دښمنانو نصر او نور ډېر نعمتونه یې ور باندي لورولي دي (۳) ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ﴾ (نو لمونځ کوه د پاره درب خپل او قرباني کوه) یعني خاص دهغه ذات لپاره چي تاته یې دومره نعمتونه درکړي اوښ قرباني کړه، اوښ دعربوله ډېره غوره مالونو څخه دی. په التسهیل کي لیکي چي مشرکانو به لوڅ لغړ اوله چک چکوسره لمونځ کاوو او دبتانو لپاره به یې اوښان حلالول نو الله جل جلاله خپل پیغمبر ته امر وکړ چي یوازي الله تعالی ته لمونځ وکړه او دهغه په مبارک نوم اوښ حلال کړه نو دغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته

---

(۱) رواه الترمذي

(۲) رواه مسلم والترمذي

(۳) البحر ۸/ ۵۱۹

دتوحیداواخلاص حکم دی ﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ﴾ بیشکه دښمن ستا (ای محمده) همغه دی بې بنیاده اوله هره خیره منقطع. مفسرین کرام لیکي کله چي درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک زوی حضرت(قاسم) وفات شونوعاص بن وائل وویل چي: پرېږدئ هغه دابې بنیاده دی کله چي ومري یادبه یې هم پای ته ورسېږي نوالله جل جلاله داسورت نازل کړاوددې خبر یې ورکړچي دغه کافربې بنیاده اوابتردی که څه هم اولادلري څکه دی دالله له رحمته پرې شوی او منقطع دی اوهغه به یوازي له لعنت سره جوخت یادول کېږي پداسي حال کي چي درسول الله صلی الله علیه وسلم یادبه په منبرونواومناروباندي تل اوچت اودالله جل جلاله له یادسره به یوځای وي ګرد مؤمنان دده له زمانې ترقیامته پوري دده روحاني اولاددی اوهغه یې لکه پلارغوندي حیثیت لري صلوات الله وسلامه علیه

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبدیع اوبیان کومي ښکلاوي شته لنډ یزیې دادی:

۱ - دجمعي کلمه چي په تعظیم دلالت کوي لکه ﴿إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ﴾ اوداسي یې ونه فرمایل چي (اني أعطیتک).

۲ - دجملې په پیل کي دتاکید توری راوړل چي دقسم په ځای ودرېږي څکه (انا) په اصل کي (انْ) او(نحنُ) دی.

۳ - دماضي فعل دصیغې راوړل چي وقوع افاده کړي لکه ﴿إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ﴾ اوداسي یې ونه فرمایل چي (سنعطیک) څکه داوعده څرنګه چي ثابته ده نویې په ماضي فعل سره ترې یادونه وکړه لکه چي واقع اوموجوده وي.

۴ - دکوثرپه کلمه کي دمبالغې شتون.

۵ - دتشریف اوتکریم لپاره داضافت راوړل لکه د ﴿لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ﴾ په کلام کي چي راغلی دی.

۶ - دحصرافاده لکه پدې کلام کي ﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ﴾ چي راغلي ده.

۷ - دسورت دپیل اوپای ترمینځ موافقت چي په ﴿ٱلْكَوْثَرَ﴾ او ﴿ٱلْأَبْتَرُ﴾ کي راغلی اودغه دطباق صنعت دی څکه کوثرخیرکثیرته وایې اوابترله هرخیرڅخه منقطع ته ویل کېږي. دغه سورت که څه هم لنډدی مګردبلاغت اوبیان د پرفنون ډکي خوندي دي. فسبحان الله منزل القرآن.

دالله جل جلاله په مرسته دالکوثرسورت تفسیربشپړشو.

***

د(الکافرون)سورت مکي اوشپږ آیتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالکافرون سورت مکي اودشرک اوضلال څخه دبرائت اودتوحید سورت دی، مشرکانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دروغي جوړي بلنه ورکړه اوترې ویې غوښتل چي دیوکال لپاره دي ددوی دبتانوعبادت وکړي اوبیابه دوی یوکال دده دالله عبادت کوي دامبارک سورت نازل شوچي ددوی تمه (طمع) غوڅه اوددواړوډلوترمینځ فیصله صادره کړي اوکافرانوته ددوی سپکه اوبې ارزښته رایه وروښیي چي ددوی دغه ناولي وړاندیزنه سمدستي دعملي کېدلو دی اونه په راتلونکي کي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴿١﴾ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٣﴾ وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ﴿٤﴾ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٥﴾ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ﴿٦﴾ ﴾ الکافرون: ۱ - ۶

تفسیر:

﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴾ ووایه (ای محمده) چي ای کافرانو) یعني دغوکفاروته کوم چي تاد بتانوعبادت ته وربولي داسي ووایه﴿ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴾زه عبادت نه کوم دهغه شي چي تاسي یې کوی) یعني زه ستاسي له معبودانوڅخه بېزاره یم هغوی چي نه ګټه رسوي اونه هم تاوان، دوی له خپلو پیروانوڅخه هیڅ هم نشي دفع کولای. مفسرین کرام لیکي چي قریشوله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه غوښتل چي تریوه کاله پوري ددوی دمعبودانوعبادت وکړي بیابه دوی یوکال دده دمعبود عبادت کو ي نورسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اوزه له الله جل جلاله څخه له دې نه پناه غواړم چي دیوې ثانیې له مخي هم له هغه سره بل څوک یاشی شریک ونیسم) بیایې وویل: ښه نوته زموږ معبودانومذمت مکوه موږبه ستادپیغمبري تصدیق وکړواوستادمعبودعبادت به کوونودا سورت نازل شواورسول الله صلی الله علیه وسلم مسجدحرام ته ورغی اودکفاروپه لویه جرګه کي یې ولوست نودوی ناهیلي شول اودرسول الله صلی الله علیه وسلم اواصحابانوپه تکلیفولو اوځورولویې لاس پوري کړ(۱)اوپه دې خطاب کي (قُل)یې دادلیل نیول کېږي چي پیغمبرد الله له لوري مأمور شوی دی اوداچي

﴿ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴾یې مخاطب کړل سره له دې چي هغه صلی الله علیه وسلم پدې پوهېدوچي په دغه نامه دوی خوابدي کېږي پدې کي دا دلیل شته چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دالله له لوري

ژغورل شوی اوددوی اودوی دطاغوتانو هیڅ پرواهم نلري﴿ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴾ اونه یی تاسي ای کافرانوعبادت کونکي دهغه ذات چي زه یې عبادت کوم اوتاسو تېرواوبتانو عبادت کوی اوددې

دواړوترمینځ خورااوږدواټن اودرازه مسافه ده﴿ وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ﴾اونه یم زه عبادت کونکی دهغه شي چي تاسي یې عبادت کوی ، دادمخکني بېزاري تأکیددی او دکفارودطمعي پرېکول پکي

---

(۱)روح المعاني ۳۰/ ۲۵۰

مقصد دي يعني زه نه في الحال د بتانو عبادت کوم او نه هم په راتلونکي کي د هغوی عبادت کوم زه چي ځوژوندی یم ستا سو د بتانو عبادت به ونکړم ﴿ وَلَآ أَنتُمْ عَـٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴾ او نه یاست تاسي عبادت کونکي د هغه ذات چي زه يې عبادت کوم) يعني تاسي هم په راتلونکي کي زما د برحق معبود عبادت نه کوی کوم چي زه يې عبادت کوم ﴿ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِىَ دِينِ ﴾ تاسي لره دين ستاسي دی او مالره دين زما دی يعني ستاسو د شرک دين او زما د توحيد دين دی او دا هغه وروستنی برائت او بېزاري ده چي هيڅکله به هم د کفارو د بتانو عبادت نه کوي او پدې تاکيد دی چي يوازي د واحد قهار ذات عبادت به کوي مفسرين کرام وايي چي د لومړنيو دوو جملو په معبود کي بشپړ اختلاف دی ځکه د مشرکينو معبود بتان او د محمد صلی الله عليه وسلم او مؤمنانو معبود رحمن ذات دی او همداسي د دوو وروستنيو جملو ترمينځ په عبادت کي بشپړ اختلاف دی لکه چي وايي نه مو معبود يو دی او نه مو عبادت يو دی.

بلاغت

پدې مبارک سورت کي چي د بديع او بيان کومي ښکلاوي شته لنډيزيې دا دی.

۱ - په صفت سره خطاب لکه ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴾ چي دا د اهل مکې لپاره توبيخ او تشنيع دی.

۲ - د سلب طباق لکه پدې کلام کي چي ﴿ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴾ چي لومړی نفی او دوهم اثبات دی.

۳ - مقابله د هرو دوو لومړيو جملو ترمينځ لکه ﴿ وَلَآ أَنتُمْ عَـٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴾ يعني اوس في الحال او بيا د دوو وروستنيو جملو ترمينځ مقابله چي ﴿ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ، وَلَآ أَنتُمْ عَـٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴾ يعني په وروستی راتلونکي زمانه کي او پدې کي د بتانو د عبادت نفی په حال او استقبال کي کېږي چي د غه د مقابلې صنعت هم د بديعي محسناتو څخه ګڼل کېږي

۴ - د فواصلو توافق چي فرمايي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْكَـٰفِرُونَ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴾.

د الله جل جلاله په مرسته د الکافرون سورت بشپړ شو.

***

د (النصر) سورت مدني او درې آيتونه لري

د سورت په وړاندي

د النصر مدني سورت دی او د مکې له فتحي څخه غربېږي هغه فتح چي الله تعالی مسلمانانو ته د هغې په ترلاسه کولو عزت ورکړ او په عربي جزيره کي اسلام خپور شو د شرک او ضلالت نوکان غوڅ شول او په دغه مبين نصرت او فتحي سره خلګ د الله په دين کي د ننه شول د اسلام توغ او بيرغ لوړ ورپېد او د کفر ملت تباه شو د مکې د فتحي اخبار پخپله ترفتح کېدلو له مخه راغلي وو چي دا پخپله د رسول الله صلی الله عليه وسلم په رښتنولي باندي ډېر څرګند دليل دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (١) وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (٢) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا (٣)﴾ النصر: ١ - ٣

تفسير:

﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ کله چي راشي نصرت دالله اوفتح د(مکې) خطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دی ورته دهغه نعمت یادونه کوي کوم چي پخپله علیه السلام اونورو مؤمنانوته یې ورکړې دي معناداچي کله الله تاته په دښمنانو نصرت درکړی اومکه درباندې فتح کړې مفسرین کرام لیکي چي اخباردمکې په فتح ترپخوا له راتلوڅخه یې اخبار بالغیب اودنبوت دربښتنولي له نښونښانو څخه دی﴿ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴾اووینې به ته خلک چي ننوزي به په دین دالله کي ډلې ډلې یعني اووینې چي عرب پرته له جنګ جګړې په اسلام کي ټولې ټولې ننوزي اودادمکې له فتحې څخه وروسته ووچي دځمکي له ګوټ ګوټ نه به عرب پخپله خوښه راتلل اواسلام به یې مانو. ابن کثیروایې چي: دعربانوقبائلو دمکې دفتحې انتظار کاوو، ویل به یې که (محمدصلی الله علیه وسلم)پخپل قوم بریالی شونونبي دی اوکله چي الله تعالی مکه فتح کړه نوبیا ډلې ډلې په اسلام کي داخل شو ل دوه کاله لابشپړنه ووتېرشوي چي ټوله جزیره داسلام اوایمان په رڼا وځلېدله اوداسي څوک پاتي نشول چي اسلام یې نه و وراوړی (١)﴿ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ ﴾پس تسبیح پاکي وایه سره له حمده ثنادرب خپل یعني دخپل رب پاکي اوثناوایه اوشکریې پرځای کړه چي په دښمنانویې بری درکړاوخلک یې په اسلام مشرف اوښارونه یې درباندې فتح کړل ﴿ وَاسْتَغْفِرْهُ ﴾ اومغفرت بښنه وغواړه له ده څخه (لپاره دځان اوأمت خپل) ﴿ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴾بېشکه(دغه الله) تل ښه قبلونکی دتوبې (اوپخپلو بندګانو سترترحم خاوند دی).

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبدیع اوبیان کومې ښکلاوې شته لنډیزیې دادی:

١ - ذکردخاص وروسته له عامه چي پدې کلام کي دی ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾دالله نصرت ګردوفتوحاتوته ویل کېږي اودمکې فتح یې ورباندې عطف کړه ترڅوبې دشان تعظیم ترسره شي

٢ - له عموم څخه دخصوص اراده لکه ﴿ وَرَأَيْتَ النَّاسَ ﴾دخلګویادونه عامه اومرادورڅخه عربي قبائل دي

(١) دابن کثیرمختصر ٣ /٦٨٨ اوقرطبي وایې چي(اذا) دقدپه معنایعني په تحقیق سره راغلی نصرت دالله څکه ددې سورت نزول تر فتح وروسته دی.

۳-د دین نسبت کول الله ته ﴿ فِي دِينِ ٱللَّهِ ﴾ لپاره د تشریف او تعظیم دی لکه (بیت الله) (ناقة الله) او مراد ورځخه د اسلام سپیڅلی دین دی.

۴-د مبالغې صیغه چې په ﴿ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابًا ﴾ کې راغلې ځکه (فعال) مبالغه افاده کوي

تنبیه

پدې سورت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوفات خبر دی ځکه ورته د (تودیع) یعنې خدای پاماني سورت وايي او کله چې نازل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت عائشې رضی الله عنها ته وویل: زه داسي انګېرم چې اجل مې را ورسېدو، ابن عمر رضی الله عنه وايي چې دغه سورت په منی کې د حجة الوداع په کال نازل شو وروسته بیا دا آیتونه نازل شول چې:

﴿ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ ﴾ تر پایه اوله دې دوا ړو وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم فقط اتیا ورځې ژوندی وو. امام بخاري رحمه الله له ابن عباس رضی الله عنه ځخه روایت کوي چې هغه ویل زه به عمر رضی الله عنه د بدریانو مشرانو سره یوځای کښېنولم لکه چې دهغوی ځینو کسانو په زړه کې به څه ور ګرځېدل او ویل بې ولې داله موږ سره یوځای کښېنول کېږي زموږ دده په څېر زامن دي؟ نو به حضرت عمر رضی الله عنه ورته ویل: دا د علم خاوند دی!! نو یوه ورځ بې زه وروبللم او ددوی سره یوځای بې کښېنولم ویل بې چې ما فکر کاوو دوی ته دو ربښکاره کولو لپاره بې وربللی یم عمر رضی الله عنه وویل:

د الله جل جلاله پدې وینا کې چې ﴿ إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ ﴾ ده څه وایاست؟ ځینې کسانو وویل چې: الله موږ ته امر کړی چې حمد او ثنايې ولولوا واستغفار بې وکړو کله چې بریالي شوا وفتح مو په برخه شي، ځینې چُپ شول هیڅ بې هم نه ویل بیا بې ما ته وویل: ابن عباسه ته هم داسې وایې؟ ما ویل: دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم اجل دی چې الله ورښودلی او فرمایلي بې دي ﴿ إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ ﴾

دا ستا د اجل نښه ده ﴿ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَٱسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابًا ﴾ نو عمر رضی الله عنه وویل: زما دې په الله لوړه وي هغه چې ته وايې ماته هم دغسې ښکاري

د الله جل جلاله په مرسته د النصر سورت تفسیر بشپړ شو.

***

د (المسد) سورت مکي او پنځه آیتونه لري

د سورت په وړاندې:

المسد مکي سورت او د (اللهب) او (تبت) سورت بې هم بولي پدې سورت کې د ابولهب د هلاکت خبري دي هغه چې د الله تعالی او هغه د استازي دښمن وو هغه داسې ځوک وو چې خپل ورځ ګار به بې پر ښودا و د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بلني او دعوت مخنیوی به بې کاوو له پیغمبر علیه السلام سره بې ډېر سخت عداوت درلود خلک به بې له ایمان راوړلو ځخه ګرزول

سورت په پای کي هغه ته دلمبې وهونکي اوراخطار ورکوي چي په هغه کي به دی پخپله او ارتينه يې وريت کېږي اوښځي ته يې ديوځانګړي ډول عذاب رسېدلو خبرهم ورا وروي چي دهغې په اورمېږ به دخرما دپټوکي رسۍ تاوراتاو اوپه اورکي به کشول کېږي ترڅوچي زيات عذاب اوهلاکت يې په برخه شي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴿١﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ﴿٢﴾ سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿٣﴾
وَٱمْرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ﴿٤﴾ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ ﴿٥﴾ ﴾ المسد: ۱ - ۵

لغتونه:

(تبت) هلاک شول (تباب) هلاکت اوخسران ته ويل کېږي لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ ﴾ (ذات لهب) خاوند دلمبو اوبلېدلو (جيدها) په غاړه دهغې (مسد) مرغلين. واحدي ليکي چي (مسد) د عربو په کلام کي تاوولو ، اوبدلو (فتل) ته وايي اوهرڅه چي دخرما دوني دپټوکي له تاوولو جوړشي (مسد) يې بولي.[1]

دنزول سبب:

الف- له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت شوی فرمايي کله چي دا آيت نازل شو: (وأنذر عشيرتک الاقربين) نورسول الله صلی الله عليه وسلم دصفاغونډۍ ته وخوت اوغږيې کړ: ای دفهر زامنو ای دعدی زامنو اودنورو ګردو قريشو دقوم خيلونو (پښنو) ته يې ورغږ کړترڅوټول راغونډشول، هغه څوک چي پخپله نشوای حاضرېدلای نوخپل نماينده او استازی يې راواستاوو چي وګوري څه خبره ده ، ابولهب هم راغی بيايې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وپوښتل چي څه خبره ده ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل : که چېري زه خبردرکړم چي ددې وادي هاخوا يو لښکر را روان اوپرتاسو حمله کوي تاسي منئ؟ دوی وويل: منويې ځکه چي له تاڅخه مو هيڅکله دروغ ندي اورېدلي نورسول الله وفرمايل: چي زه تاسو ته له سخت عذاب څخه وېرونکی يم ، ابولهب په ځواب کي ورته وويل: ګرده ورځ هلاکت دي تالره آيا ددې لپاره دي موږ راغونډ کړي يو؟ نو الله جل جلاله دا آيتونه نازل کړل ﴿ تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴾ ترپايه[2].

ب- طارق المحاربي وايي چي زه دذی المجازپه بازارکي وم چي ګورم يو زلمی ځوان دی وايي: ای خلګو لااله الاالله ووايا ست تاسو به بری اوخلاصون ومومی اوبل سړی ووچي له شايې په تيږو ويشتل پښې يې ورژوبلي اووينې کړي وې اوهغه بيا داسي ويل: ای خلګو ددې سړي خبره مه منئ دا دروغجن

---

[1] کبير تفسير ۳۱ / ۱۷۳

[2] روح المعاني ۳۰ / ۲۶۰

دی . ماپوښتنه وکړه چي دازنی څوان څوک دی خلګوویل چي دامحمددی دی وايې چي پیغمبردی اودابل سړی دهغه تره ابولهب دی هغه ګمان کوي چي محمد دروغجن دی(۱).

تفسیر:

﴿تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾ د(دغه بدمرغه) ابولهب دواړه لاسونه دي مات هلاک شي او پخپله دی هم هلاک شو لومړی جمله ښېراده اودوهمه اخبارچي دغه ښېراهم قبوله شوه لکه چي څوک ووايې: الله دي (فلانی) هلاک کړي اوهلاک شو. مفسرین کرام لیکي چي : تباب هغه هلاکت ته وايې چي له خسرانه وزېږي اومراده لاسونوڅخه خاوند دلاسونودی ، عرب کله کله چي دیوشي له جزء څخه تعبیرکوي مقصدیې هغه ټول شی وي، دابولهب اصلي نوم عبدالعزی اوهغه دعبدالمطلب زوی اودرسول الله صلی الله علیه وسلم کاکادی دهغه عورآء مېرمن چي (أم جمیل) نومېده دابوسفیان خوروه دمېرمني اوخاوندیې دواړوله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دښمني وه چي دابولهب ښځی داخبره واورېده چي ددې اودمېړه په هکله یې دقرآنکریم آیتونه نازل شوي دي نورسول الله ته پداسي حال کي راغله چي هغه کعبې شریفي ته نژدې ناست او حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه هم ورسره وودې په لاس یوه ټوټه ډبره وه کله چي ورته نژدې شوه نوبې په سترګوتوره تیاره راغله هغه صلی الله علیه وسلم یې نه لیدواویوازي ابوبکررضی الله عنه په نظرکي ورتونوبې هغه ته په خطاب کي وویل: ای ابوبکره! ماته رسېدلي چي ستاملګری ماته بدرد وايې زمادي په الله سوګندوي که یې پیداکړم پدې تیږه به یې په خوله کي وولم اوبیایې داشعرولوست چي : مذمماعصینا ، وأمره أبینا ، ودینه قلینا. دبدسړي څخه موسرغړونه وکړه ، امراولاره یې نه منو ، دهغه دین موپرې ایښی دی بیابیرته ستنه شوه ابوبکررضی الله عنه وویل: ای رسول الله تاونه لیده چي ته یې ولېدې؟ رسول الله صلی ا لله علیه وسلم ورته وفرمایل : هغې زه ونه لیدلم الله جل جلاله یې دسترګوبېنایې واخیسته، قریشوبه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ښکنځل کول دمحمد پرځای به یې مذمم یاداوو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: آیاتاسو تعجب نه کوی چي څرنګه زه الله جل جلاله دقریشوله آزارولواوضررڅخه ژغورلی یم دوی مذمم ته ښکنځل کوي اوزه محمد یم(۲) خازن لیکي: که څوک وپوښتي چي ولي یې ابولهب په کنیه سره یادکړی اوپه کنیه نوم سره خوتعظیم اوتشریف کېږي ځواب داچي له څو وجوهاتوڅخه اول داچي هغه په کنیه اسم مشهور وواوپخپل اسم یې دغومره شهرت نه لاره که چیري په نامه یې ذکرکړی وای چابه نه پېژنده دوهم داچي نوم یې عبد العزی وو اوهغه دشرک څرګندوی ووچي دعبدالعزی معنادبت بنده دی اوبت ته دبندګی نسبت کول روانه دي ، دریم داچي هغه دوزخي اورته ورتلونکی اودشغلوخاوند وونودده له حال سره کنیه اسم ښځي موافق ووځکه یې په همدې کنیه باندي یادونه وشوه(۳).﴿ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ﴾ دفع به نکړي له ده څخه (هلاکت) مال اوهغه ګټلی دده (له رتبې اوعزت نه) ابن عباس رضی الله

(۱) القرطبي ۲۰/ ۲۳۲

(۲) قرطبي تفسير۲۰ /۲۳۴

(۳) الخازن۴ /۳۱۷

عنهما وايي : (وماكسب)عبارت له اولادڅخه دی. روايت کېږي چي کله رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل قوم ايمان ته دعوت کړنوابولهب وويل: که څېري هغه څه حق وي چي زما وراره يې بيانوي نوزه به دغه عذاب پخپل مال اواولادباندي دفع کړم بيادا آيت نازل شو(۱)الوسي ليکي چي دابولهب دري زامن درلودل چي نومونه يې عتبه معتب عتيبه وو لومړنيو دوودمکې دفتحې په ورځ ايمان راوړ اودحنين اوطآئف په غزاګانوکې ګډون وکړ مګرعتيبه مسلمان نشودرسول الله صلی الله عليه وسلم لور(أم كلثوم) دهغه مېرمن وه او(رقيه) بيادهغه دورور عتبه مېرمن وه کله چي داسورت نازل شوابولهب دواړوزامنوته وويل : که موچېري دمحمدصلی الله عليه وسلم لونوته طلاق ورنکړنو زماسراوستاسي سرونه دي حرام وي يعني زه له تاسوسره مقاطعه کوم نودوی هم هغوی طلاقي کړي اوکله چي عتيبه شام ته له خپل پلارسره روان وونوبې ويل : زه به اورمرومحمدته تکليف وررسوم اوراغی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل: ای محمده زه په ﴿ وَٱلنَّجۡمِ إِذَا هَوَىٰ ﴾او﴿ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّىٰ ﴾

کافريم اوبيايې دنبي عليه السلام په لور وتوکل اودهغه لور(أم كلثوم) يې طلاقه کړه رسول الله صلی الله عليه وسلم ډېرخوابدی شواوله قهره يې ورته داسي ښېراوکړه :ای ربه له خپلوسپيو څخه يوسپی وورباندي مسلط کړې هغه ووچي زمري څېري کړاوابولهب بيادبدرله پېښي اوه ورځي وروسته په يوه ساري ناروغی. اخته شوهغه چي دطاعون په شان ناروغي اوعرب يې عدسه بولي اودهغې په وسيله هلاک شومړی يې دري ورځي پرځای پروت ووڅوچي خوړين خوساشو اوزامنويې هغه دخلګوله شرمه د مزدورانوپه لاس په يوه چوغالي کي چي چېري کيندل شوي وه وغورځاوو اوپه ډبرويې ترهغو ويشتل څوپټ شواوهمداسي وشول لکه څرنګه چي قرآنکريم اخبارفرمايلی وو(۲) ﴿ سَيَصۡلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴾ ژردی چي ننه به وزي (ابولهب په قيامت کي) په اورخاوندلمبوکي چي هغه دوزخ دی ﴿ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ﴾اوننوزي به مېرمن دهغه چي بار راوړونکي به وي دخسوهغه چي دخلګو ترمينځ به يې چغلي کوله اوددوی ترمينځ به يې ددښمني اوبغض اوربلاووابوالسعودليکي هغې به داغزيوخس خاشاک راوړل اوشپې به يې درسول الله صلی الله عليه وسلم په لارکي غورځول ترڅوچي عليه السلام ته وورباندي څور ورسوي (۳)ابن عباس رضی الله عنهماوايي چي هغې به دخلګوترمينځ چغلي کوله چي ژوند يې سره تريخ کړي(۴))(اوپه فارسي کي چغلخورته هيزم کش وايې) ﴿ فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ ﴾

په غاړه ددې کي رسۍ. ده له مضبوطوپټوکيودخرماڅخه، ټينګه تاوشوي چي دقيامت په ورځ به ورباندي عذاب ورکاووشي. مجاهدوايې چي دااوسپني غاړه ګۍ ده اوابن مسيب وايي چي دهغې يوه ډېره قيمتي غاړه ګۍ په غاړه وه چي ګرده له ملغلروجوړوه هغې به ويل : زمادي په لات اوعزی

(۱) مختصرابن کثير۳ /۶۹۰
(۲) روح المعاني ۳۰ /۲۶۲
(۳) ابوالسعود۵ /۲۹۱
(۴) الوسي ۳۰ /۲۹۳

سوګندوي زه به داغاره ګی دمحمدصلی الله علیه وسلم په دښمني کي لګوم الله جل جلاله دهغې پر خای رسی چي داورځخه تاوو شوي وي وربدله کړه (¹).

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته لنډيزېي داد ی.

۱- مرسل مجازلکه ﴿ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ ﴾چي جزء يې ذکرکړي اومرادځني کل دی دلته يوازي لاسونه يادشوي چي مراديې خاونددی

۲- دجناس صنعت چي ﴿ أَبِي لَهَبٍ ﴾اود ﴿ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴾ترمينځ اولومړی دهغه کنيه اودوهم داورصفت دی

۳- دتصغيراوسپکاوي لپاره کنيه نوم راوړل لکه ابي لهب چي تشريف نه بلکه تحقير مراددی لکه: ابوجهل

۴- لطيفه استعاره لکه ﴿ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ﴾چي دچغلګرولپاره يې استعاره کړي

۵- دفواصلوتوافق اويوډول والی چي داهم له بديعي محسناتوځخه ګڼل کېږي

دالله جل جلاله په مرسته دمسد سورت تفسيربشپړشو.

***

د(اخلاص)سورت مکي اوځلورآيتونه لري.

دسورت په وړاندي:

داخلاص سورت مکي اودالله جل جلاله له صفتونوځخه غږېږي هغه ذات چي واحدالاحداود ټولوکمالي صفاتوخاونددی تل ترتله ذات دی له ټولوځخه بې پرواودنقص له صفاتوځخه منزه اوپاک اوله مجانست اومماثلت ځخه سپېځلی دی.

سورت دنصرانيانودعقيدې بطلان ښکاره کوي چي دوی د(تثليث) (درېوالي) عقيده لري همداسي په مشرکانوباندي ردکوي ځکه هغوی الله لره ذوذات اوزامن ثابتوي.

لغتونه:

(الصمد) بې نيازه اوبې پرواد حاجتونو په ترسره کولوکي مقصودذات (کفؤا) سيال مثل اومشابه ابوعبيده وايې چي کفو، کفء، اوکفاء ټول په يوه معنا راځي چي مثل اوسيال ته وايې.

(¹) القرطبي ۲۰ /۴۲

د نزول سبب:

روایت کېږي چي ځيني مشرکان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او ورته ویل یې ته دالله څه صفتونه وکړه آیا هغه د سرو زرو دی، که د سپینو زرو هغه له زبرجد و جوړ دی که له یاقوتو څخه بیا دا سورت نازل شو.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾﴾ الإخلاص: ۱ - ٤

تفسیر:

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ (ووایه دوی ته ای محمده) شان دادی چي الله یو دی) یعني ای محمده! دغو استهزاء کوونکو مشرکانو ته ووایه چي هغه الله کوم چي زه یې عبادت کوم واحد او لاشریک دی نه مثل لري او نه سیال نه څوک ورسره په ذات کي مشابه دی او نه په صفاتو، افعالو کي هغه جل جلاله واحد او أحد دی داسي نه دی لکه چي نصرانیان یې ګڼي چي هغه پلار زوی او روح القدس دی نه هم داسي دی لکه چي مشرکان عقیده لري چي معبودان ډېر دي. په التسهیل کي لیکي چي دالله وصف په واحد سره دري معناګاني لري اودرې سره دالله په شان کي رښتوني دي لومړی داچي هغه واحد دی، دوهم نلري دغه دعدد نفی ده دوهم داچي مثل ورسره نشته او دریم داچي هغه واحد دی نه وېش مني او نه هم څوځایه کېږي ځو مراد په سورت اخلاص کي دالله د شریک نفی کول دي چي په مشرکانو باندي ردوشي، او په قرآن کریم کي الله تعالی زښته ډېر دلائل او براهین پخپل وحدانیت ذکر کړی دی او تر ټولو څرګند څلور دي لومړی دالله داوینا چي فرمایي ﴿أَفَمَن يَخْلُقُ كَمَن لَّا يَخْلُقُ﴾ (النحل: ۱۷) او دغه د پیدا ښت او ایجاد دلیل دی نو کله چي داثابته شي چي الله تعالی د ټولو موجوداتو پیدا کوونکی (خالق) دی نو دا بیا هیڅکله نشي کېدای چي بل څوک دي ورسره شریک وي دوهم دا کلام چي ﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا﴾ (الانبیاء: ۲۳) چي دا د ټینګ والی او ابداع دلیل دی دریم داچي الله تعالی فرمایي ﴿لَّوْ كَانَ مَعَهُ آلِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذًا لَّابْتَغَوْا إِلَىٰ ذِي الْعَرْشِ سَبِيلًا﴾ (الاسراء: ٤۳) چي دغه د قهر او غلبې دلیل دی څلورم داچي دالله جل جلاله دا قول چي ﴿مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَٰهٍ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ (المؤمنون: ۹۱) چي دغه دلیل د تنازع او استعلاء دی[1] بیا الله تعالی د خپل وحدانیت او له خلکو څخه د استغنا داسي تاکید وکړ: ﴿اللَّهُ الصَّمَدُ﴾ (بې پروا دی) الله ته هر شی محتاج دی هغه

---

(۱) التسهیل ۴ /۲۲۳ په التسهیل کي دغه مبارک آیتونه یاد کړي خو د دلالت وجوهات یې ندي بیان کړي او هغه جملې چي د معترضو په شکل راوړل شوي لکه د خلق او ابداع دلیل د ټینګ والي او ابداع دلیل، د قهر او غلبې دلیل، د تنازع او استعلاء دلیل دغه زموږ څرګندونه ده.

تل ترتله په حوائجو کي مقصود ذات دی الوسي ليکي چي صمد هغه ذات ته وايي چي ترده لوړ بل څوک نه وي ټول خلک هغه ته پناه وروړي خپل حاجات او غوښتني هغه ته وړاندي کوي (۱) ﴿ لَمْ يَلِدْ ﴾ (نه له ده څوک زېږېدلی) يعني نه يې زوی نيولی اونه يې لوڼي زامن شته ځرنګه چي د کمال صفتونه لري هغسي د نقصان له صفتونو څخه منزه او پاک دی. مفسرين کرام ليکي: په آيت شريف کي په ګردو هغو کسانو ردد‌ی چي الله لره د زوی نسبت کوي لکه چي يهودوايي (وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ عُزَيْرٌ ٱبْنُ ٱللَّهِ) (التوبة ۲۹) اونصارا وايي ﴿ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ ٱللَّهِ ﴾ (التوبة ۳۰) اولکه مشرکان چي وايي پرښتي د الله لوڼي دي (۲) الله جل جلاله په دوی ټولو باندي ردوفرمايو چي ده لره زوی نشته ځکه زوی به خامخا د پلار له جنسه وي او والله خوازلي اوقديم ذات دی ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ﴾ نو امکان نلري چي زوی دي ولري بل داچي زوی د هغه چاکېږي چي ښځه (مېرمن) ولري والله لره زوجه (ښځه) نشته چي الله فرمايي ﴿ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٌ ﴾ (الانعام ۱۰۱) ﴿ وَلَمْ يُولَدْ ﴾ اونه دی زېږولی شوی دی (له هيچا) يعني نه هغه له پلار يا له موره زېږېدلی دی ځکه هرزېږېدلی حادث اونوپيداوي الله تعالی خوقديم اوازلي دی نودانشي کېدای چي هغه دي زېږېدلی اويادي هغه لره پلاروي، آيت شريف له ټولو خواوو د هغه د نسب احاطه نفي کړه، هغه اول دی چي د هغه وجودته ابتداء نشته قديم ذات دی چي له ده پرته بل هيڅ هم ورسره نه وو ﴿ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴾ اونشته د غه (الله) لره برابر سيال هيڅوک، يعني هغه لره مثيل اونظير نشته اونه هم څوک ورسره په ذات اوصفاتو کي مشابه شته ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴾ (الشوری ۱۱) ابن کثير ليکي چي: هغه د هرشي مالک اوخالق دی نو ځرنګه به د ده د مخلوق يو څوک ورسره مثل او سيال شي؟ الله جل جلاله له داسي څه څخه پاک اومنزه دی. په قدسي حديث شريف کي راځي چي الله تبارک وتعالی فرمايي: (کذبني ابن آدم و لم يکن له ذالک، وشتمني ولم يکن له ذالک فأماتکذيبه اياى فقوله: لن يعيدني کمابدأني وليس أول الخلق بأهون على من اعادته ، وأماشتمه اياى فقوله اتخذالله ولدا، وأناالأحدالصمد، الذي لم يلدولم يولدولم يکن له کفواً أحد) يعني بنيادم پرما باندي دروغ وتړل اوداورسره نه ښائېدل ، ماته يې ښکنځل وکړل چي له ده سره مناسب نه وو ، دروغ يې داچي وېې ويل: مابه بيرته لکه چي لومړی ځل يې پيداکړم راژوندی نکړي اولومړنی پيداينبت په ماباندي تر وروستی اعادي څه آسانه ، نه دی اود هغه ښکنځل داچي ويل يې: الله جل جلاله زوی اوزه احد اوصمد ذات يم چي هغه لم يلد اولم يولد اولم يکن له کفواً احد دی.

---

(۱) روح المعاني ۳۰/ ۲۷۳

(۲) نصرانيان عقيده لري چي الله عبارت له دريو اقانيمو څخه دی پلار ، زوی ، اوروح القدس چي دغه د تثليت عقيده ده هغه چي په قرآنکريم کي ورته داسي اشاره شوي ﴿ لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٍ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّآ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ﴾ دوی عقيده لري چي درې سره يودي اويودرې سره اوداسي ګڼي چي دوی اوس هم موحدين دي .تعالی الله عمايقول الظالمون علواًکبيرا.

بلاغت

پدې مبارک سورت کې چې دبلاغت کومې ښکلاوې شته لنډيزيې په لاندې ډول دې

۱- داسم جليل يادونه دشان په ضمير سره لکه ﴿قُلْ هُوَ﴾ چې دغه تعظيم اوتفخيم افاده کوي

۲- همداسې دتخصيص دڅرګندولولپاره دطرفينو تعريف لکه ﴿اللَّهُ الصَّمَدُ﴾ چې راغلى دى

۳- ناقص جناس لکه ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾ دځينوتوروا وشکل په تغيرسره.

۴- تجريد چې دالله جل جلاله داوينايې بيانوي ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ چې دسيال اوزوى دنلرلو افاده کوي اوبيا فرمايې ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾ چې دغه ديوځېزله عموم نه وروسته تخصيص ښيې اودبيان دلاڅرګند تيالپاره په کارېږي.

۵- مرصع سجع چې له بديعي محسناتوڅخه ده ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ اللَّهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾.

لطيفه

دغه مبارک سورت له څلوروآيتونوجوړاوپه ښته زيات اعجازاوايجازمشتمل دى هغه دالله جل جلاله دجلال اوجمال صفات څرګندوي دالله پاک دعجزاونقصان له صفتونوڅخه تنزيه اوپاکي ثابتوي، لومړى آيت وحدانيت ثابتوي اوتعددنفى کوي ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ دوهم آيت دالله کمال ښيي اونقص نفى کوي چې ﴿اللَّهُ الصَّمَدُ﴾ دريم ازليت اوبقاښکاره کوي اودذوذات اوتناسل نفى کوي چې ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾ څلورم دالله جل جلاله عظمت اوجلال بيانوي اودشريک او سيال نفى کوي فرمايې: ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾ په دې سورت کې دجلال اوکمال د صفاتو اثبات اودالله جل جلاله له نقص څخه پاکي اوتنزيه ده. روايت کېږي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي څوک چې قل هوالله احدولولي لکه چې دقرآنکريم دريمه برخه يې تلاوت کړې وي، علماء کرام وايي چې معناداچې پکې دېرعلوم، معارف اواحکام نغښتي دي څکه قرآني علوم درې دي توحيد، احکام اوقصص دغه سورت په توحيد مشتمل دى څکه پدې اعتبارورته ثلث القرآن ويل شويدى، چاپياويلي چې ثواب يې دومره دى لکه چې دريمه برخه قرآنکريم يې لوستلى وي[1]. والله أعلم

دالله جل جلاله په مرسته داخلاص سورت تفسيربشپړشو.

---

[1] أخرجه الامام احمد والنسائي من حديث ابى بن كعب مرفوعا.

د(الفلق)سورت مکي او پنځه آیتونه لري

د سورت په وړاندي:

د الفلق سورت مکي او خلک پدې پوهوي چي د ټول مخلوق له شر څخه الله جل جلاله ته پناه یوسي دالله جل جلاله په لویې اوسلطان دي پناه وغوښتل شي، کله چي شپه تیاره شي په هغې کي شریرمخلوقات راپاڅېږي همدارازپه شپه کي وحشت اوترهه پیداکېږي ،پدې سورت کي دهرحاسد (کینه ګر) اوکوډګرله شرڅخه دپناه غوښتلو تعلیم ورکول شوی دی دغه سورت یوله معوذتینو څخه دی کوم چي رسول الله صلی الله علیه وسلم به پخپل ځان پوکاوو.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾ ﴾ الفلق: ۱ - ۵

لغتونه:

(الفلق) سبا دتیارې څیروونکی، عرب وایې چي داکارتر(فلق الصبح) لاهم څرګند دی او د(فا) په زېرسره (فِلق) هېښوونکي اوحیرانوونکي ته وایې د(فلق) اصل څیرلوته وایې لکه چي فرمایې ﴿ فَالِقُ الْإِصْبَاحِ ﴾ چي د سهارپنځوونکی مراد دی (غاسق) شپې ته چي تاریکي یې زیاته شي ویل کېږي (وقب) په تیارې کي ګډېدلوته وایې (النفاثات) پوکوونکي ښځي(نفث) لکه (نفخ) داسي دی چي ناړي ورسره ملګري نه وي اوکه ناړي ورسره مل وې بیایې (تفل) بولي.

تفسیر:

﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴾ووایه(ای محمده !) پناه غواړم په رب دسبا څیروونکي (دتیارو) باندي ابن عباس رضی الله عنهماوایې : فلق دسهارنوم دی چي بل ځای الله فرمایې ﴿ فَالِقُ الْإِصْبَاحِ ﴾ (۱)اودعربوپه مثالونوکي هم راغلي چي (هوأبين من فلق الصبح) هغه ترسپېدوچاودلاښکاره دی . مفسرین کرام لیکي چي : په استعاذې سره دسهارځانګړتیاددې لپاره ده چي انسان داسي دسپېدو انتظار کوي لکه چي وېرېدنکی د خلاصون اونجات سترګي په لاروي ﴿ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴾له شردهغه څېزنه چي پیداکړي یې دي له مخلوقاتو ، مراد ټول مخلوقات دي که هغه انسان دی که پېری ، حیوانات دي ، که خزندګان اوهر ضرررسوونکی دمخلوقاتو ﴿ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ﴾اوله شره د تیارې شپې کله چي تکه توره شي ځکه په تکه توره شپه کي دانسانانو او پېریانانو شریرکسان خواره واره شي اوپه متلونوکي راځي چي: (الليل أخفى للويل) شپه دبلاګانو پټوونکي ده. امام رازي لیکي: کله چي الله

(۱) مختصرابن کثیر۳ /۶۹۴

له شپې څخه داستعاذې امروفرمايوداپدې چې دشپې له مخې ځېروونکي حيوانات له خپلوغارونوڅخه راوزي اوهمداسي خزندګان له خپلوځالوڅخه رابهر کېږي، غله اولاري وهونکي را پاڅېږي، اورونه لګېږي اويوله بل سره دمرستي لپاره دبرلرکسان موندل کېږي (١) ﴿ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِى ٱلْعُقَدِ ﴾ اوله شره دهغوښځوساحراتوپوکی کونکيوچي په غوټوکي پوکول کوي؛ هغه چي تارونو(مزيو)ته غوټي ورکوي اوبياپکي پوکي ترڅودالله جل جلاله بندګانوته ضرر ورسوي او مېرمن اوخاوندېې سره بېل کړي ﴿ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾ (البقره ۱۰۲) په البحر کي راوړي چي لبيدبن عاصم په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي کوډي کړي وې اوهغه يې په ږمنځ اودهغې په غاښونودخرماپه پټوکي کوم چې مېوه ترې پيداکېږي په يوه تارچي يوولس غوټي پکي لګېدلي وې اوپه ستنه ګنډل شوي ووخوندی کړې وو نو بيادغه دوه سورتونه نازل شول اورسول الله صلى الله عليه وسلم دهرآيت په لوستلودبدن راحت اوسپکتياا حساسوله اوغوټي يې خلاصولي پرانيستلې تر څوداسي بيداراوروغ رمټ شولکه چي له بنده پرانستل شوی وي(٢) ﴿ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ﴾ اوله شره دحسدکونکوکله چي خپل حسداورخه ښکاره کړي؛ حسدهغه څه ته وايې چي يوڅوک له بل چاڅخه دنعمت زوال غواړي او دالله جل جلاله په وېش خوښ اوراضي نه وي.

بلاغت:

پدې سورت کي چي دبديع اوبيان کومي ښکلاوي شته په لاندي ډول يې لنډيزليکو:

١-ناقص جناس چي د(فلق) او(خلق) ترمينځ راغلی دی.

٢-داسم په تکرارولو سره داطناب صنعت لکه د(شر) کلمه په ﴿ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴾ او ﴿ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ ﴾ او ﴿ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ ﴾ کي چي راغلي اودغه اطناب ددغواوصافوشناعت څرګندوی

٣-دخاص يادونه وروسته له عام څخه لکه په ﴿ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ﴾ کلام کي چي هغه عام دی دغاسق ،نفاثات اوحاسد شرونه ګرديې په ترځ کي شته

٤-اشتقاقي جناس چي د ﴿ حَاسِدٍ ﴾ او ﴿ حَسَدَ ﴾ ترمينځ شتون لري

٥-دفواصلوتوافق چي دآيتونودپيل مراعات پکي شوی دی.

دالله جل جلاله په مرسته دالفلق سورت تفسيربشپړشو

---

(١) کبيرتفسير ٣١/١٩٥
(٢) البحرالمحيط ٨/٣٠

د(الناس)سورت مکي او شپږ آيتونه لري

دسورت په وړاندي:

دالناس سورت مکي اودمعوذتينوڅخه يودی پدې کي هم دډېروستروددښمنانوڅخه الله ته پناه وروړل دي هغه چي پخپله شيطان اوله انسي اوجني شيطانانوڅخه دهغه نورانديوالان دي کوم چي خلګوته وسوسې اوچورتونه وراچوي.

الله تعالی خپل سپېڅلی کتاب په معوذتينوختم اوپه فاتحه پيل کړی دی ترڅودښکلي پيل اوپای ترمنځ ونښلوي اوکړي په پيل کي هم بنده له الله څخه استعانت اومددغواړي اوپه پای کي هم له الله څخه مرسته غواړي هغه ته پناه وروړي اودازښته زيات حسن اوښکلاخرګندوي چي له پيل څخه ترپايه بنده يوازي الله ته پناه وروړي اوله هغه څخه دمرستي غوښتنه کوي

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴿٢﴾ إِلَـٰهِ ٱلنَّاسِ ﴿٣﴾ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ﴿٤﴾
ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴿٦﴾﴾ الناس: ۱ - ٦

لغتونه

(الوسواس) وسوسه اچونکی (شيطان) له وسوسې څخه اخيستل شوی وسوسه په کرار خبري کولو اويادزړه خواله ته وايي(الخناس) هغه چي پټېږي وروسته کېږي شيطان ته ځکه خناس ويل کېږي چي کله بنده دالله ذکرپيل کړي نوشيطان پټ شي اوچي کله بنده له ذکره غافل کېږي نوشيطان بياورته مخه کړي او وسوسې وراچوي (خنوس) وروسته کېدلوته وايي (الجنة) دجيم په زبرسره پېري ته ويلی شي اودجيم په پېښ (ضمه) سره بياساتونکي اومدافع ته وايي لکه په حديث شريف کي چي راځي (الصوم جُنة) يعني روژه ډال دی دالله له عذابه سړی ساتي

تفسير:

﴿قُلْ أَعُوذُ﴾ ووايه ه(ای محمده !)پناه غواړم (اواعتصام کوم)﴿بِرَبِّ ٱلنَّاسِ﴾ په رب پالونکي دخلګوهغه ذات چي خلګ يې له عدم څخه ژوندي کړي اوډول ډول نعمتونه يې ورباندي لوررولي. مفسرين کرام ليکي چي خلګ (ناس) يې په ځانګړي توګه يادکړل چي تعظيم اوتشريف يې وشي که څه هم الله خودټولو مخلوقاتوپيداکونکی اورب دی ، هوکي (ناس) هغه څوک دي چي الله تعالی ټول کائنات دهغوی تابع (اهل) ګرزولي دي علم اوعقل يې وربښلی ملائکوورته دعرفان (تعظيم) سجده کړي ځکه نودوی تر ګردومخلوقاتوافضل اوبهتردي﴿ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴾پاچا دټولو خلګوحاکم دی او که محکوم ددوی ټولوپاچهي له الله سره ده ددوی کړه وړه څاري دکارونو او چارو تدبيرېي کوي چاته عزت اوچاته ذلت ورکوي څوک بډای اوڅوک فقيرجوړوي ﴿ إِلَـٰهِ ٱلنَّاسِ ﴾ معبوددټولوخلګوهغه

ذات چي له ده پرته څوک بل معبودنلري ، قرطبي ليکي اودا چي وېې فرمايل: ﴿ مَلِكِ ٱلنَّاسِ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴾دادادي لپاره چي په خلګوکي پاچهان شته او همداسي په خلګوکی نور هم داسي کسان شته چي عبادت يې کېږي نودوی ته يې ورپه ياد کړل چي ددوی معبوداوپاچاالله تعالی دی نوپردوی لازم دي چي الله جل جلاله ته پناه ورووړي پرته له نورو لويانو او پاچهانو څخه[1] دسورت ترتيب په دغه شکل خوراپرځای اوخوندور (بديع) دی ځکه فرمايې ﴿ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾انسان لومړی پدې پوهېږي چي دده پالونکی (رب) شته ځکه هغه دپالني ډول ډول نمونې ويني، بياچي ښه سوچ اوفکروکړي دغي پايلي اونتېجې ته رسېږي چي دغه پالونکی په خپل مخلوق کي هرډول تصرف کولای شي اوله مخلوق څخه (غني) بې پروادی نووايې چي ﴿ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ﴾پاچاهم دی له دې نه وروسته چي بياهم ښه سوچ او فکروکړي نوداورته جوته اوښکاره شي چي يوازي دغه ذات دعبادت مستحق هم دی دی ځکه عبادت پرته له هغه بل چاته کول په کارنه دی هغه غني ذات اوله ټولو خلګوبې پروادی او ټول مخلوقات هغه ته اړاومحتاج دي نويې وفرمايل ﴿ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴾اوداچي د(ناس) کلمه يې درې ځله تکرار راوړه دغه دخلګوپه شان کي اهتمام اود دوی دتعظيم اوشرف څرګندونه ده. ابن کثيرليکي چي دغه درب الجليل درې صفتونه دي،ربوبيت، ملکيت اوالوهيت هغه جل جلاله دټولو پاچا، د ټولو معبود او دټولوپالونکی رب دی نويې امروفرمايو چي دداسي ذات څخه چي په دې صفتونو متصف وي پناه وغواړي[2] ﴿ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ﴾له شره دوسوسې اچونکي(شيطان) يعني له شره د شيطان څخه چي په زړه کي وسوسه اچوي اوانسان تېر باسي چي په ګناه يې اخته کړي ﴿ ٱلْخَنَّاسِ ﴾ تښتېدونکی پټېدونکی شيطان هغه چي کله بنده د الله تعالی ذکرکوي نوتښتي اوکله چي غافل وي بيرته ورته راستون شي. په يوحديث شريف کي راځي چي شيطان خپله پوزه دبنيادم په زړه باندي ايښې وي کله چي هغه انسان دالله ﷻ ذکرپيل کړي نوشيطان وتښتي اوچي کله انسان غافل شي زړه يې ګوله کړي او وسوسې وراچوي[3] ﴿ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴾هغه (شيطان) چي وسوسې اچوي په سينو زړونو دخلګوکي (ډول ډول وسوسې) قرطبي ليکي چي دهغه وسوسې خپل طاعت ته بلنه ده چي داسي يې مفهوم دانسان زړه ته وردننه شي چي آوازيې نه اوريدل کېږي[4] ﴿ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴾ (چي دغه وسوسه اچونکی) له پېريانانو اوانسانانو څخه دی، د(من) توري ته بيانيه وايي يعني دغه دخلګوپه سينوکي وسوسه اچونکی شيطان دپېريانو او انسانانوله ډلو څخه دي لکه چي الله تعالی فرمايي ﴿ شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ يُوحِى بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًا ﴾ (الانعام:١١٢)نوپه آيت شريف

---

(١) قرطبي ٢٠ / ٢٦٠
(٢) مختصرابن کثير ٣ / ٦٩٢
(٣) رواه الحافظ الموصلي
(٤) القرطبي ٢٠ / ٢٢٣

کي له انسي اوجني دواړوشيطانانوڅخه داستعاذې غوښتل دي اوپدې کي شک نشته چي انسي شيطانان ترجني شيطانانوزيات خطراو مصيبت پېښوي ځکه جني شيطان خوله استعاذې څخه تيښتي اوپټېږي مګرانسي شيطان بياګناهونه سرې ته ښايسته کړي اوپه فواحشواومنکراتوبې اخته کړي اوهغه له دغه ناولي کاراوقصد څخه هيڅوک هم اړولای نشي. والمعصوم من عصمه الله.

بلاغت:

پدې مبارک سورت کي چي دبديع اوبيان کومې ښکلاوې شته لنډيزيې دادی:

١ - اضافت دتشريف اوتکريم لپاره لکه ﴿ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ﴾اوورپسې په دوونورو آيتونو کي.

٢ - اطناب داسم په تکرارسره لکه ﴿ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ، مَلِكِ ٱلنَّاسِ ، إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴾چي ددوی په شان کي اهتمام اوددوی تعظيم وشي که چېرې يې داسي ويلي وای (ملكهم الههم) بيادغه تعظيم نه شوای ترسره کېدای.

٣- دطباق صنعت چي د﴿ ٱلْجِنَّةِ ﴾او﴿ وَٱلنَّاسِ ﴾ ترمنځ شته.

٤-اشتقاقي جناس لکه :﴿ يُوَسْوِسُ ﴾ او﴿ ٱلْوَسْوَاسِ ﴾. اوبيا په سورت کې هغه خوږې انګازې چې دبيان په خوږوالي په نغمو او الحانو لا هم لوړېږي اودغه صفت دقرآن کريم له ځانګړ تياوو څخه ده .

تنبيه:

له عائشي صديقي رضى الله عنها څخه روايت دي چې کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم دخملاستلو اراده وکړه دواړه ارغوی به يې سره يو ځای کړل او قل هو الله أحد اومعوذتين به يې تلاوت کول اوبيا به يې له خپل سر څخه پيل او په مبارک وجود به يې تيرول دغه عمل به يې دري ځله تکراروو.

درب الجليل دعفوې هيله من شيخ محمد علي الصابوني دشيخ جميل زوی وايي: چې دالله په مرسته او توفيق دقرآن کريم دغه تفسير په مکه مکرمه کې چي دوحی د راتلو ځای او بلد الأمين دي بشپړ شو ما د دغه تفسير په تاليف کې پنځه کاله تير کړل او بيا په ١٣٩٨ هجري قمري کال دجمادی الثانية په اتلسمه نيټه پای ته ورسيدو له الله جل جلاله څخه يې دمنلو اودتوفيق او بري غوښتنه کوم چې په په پيل اوپای کي مې مرستندوی شي.

وصلى الله على عبده ورسوله محمد وعلى آله واصحابه اجمعين.

ليکونکی:

محمد علي الصابوني

په مکه مکرمه کې دپاچا عبدالعزيز پوهنتون داسلامي زده کړو اوشرعي علومو دپوهنځی استاذ

د ژباړونکي ځيني چاپ شوي آثار او ژباړې!

۱. دصفوة التفاسير پښتو ژباړه چې اوس اوس يې لولې.
۲. دمجاهد لوړه د کيسې په اسلوبو ورکوټي ليکنه.
۳. دمذهب سالار امام ابوحنيفه وړکوټي رساله.
۴. دشهيد ارمان د کيسو په قالب کې وړکوټي ليکنه.
۵. د توبې غلی د (جبل التوبة) ژباړه.
۶. څلويښت مبارک حديثونه او د راويانو ژوند ليک يې.
۷. يادي از راد مردان دسپين روبو د ژوند ځيني اړخونه.
۸. ماذا يجرى وراء اسوار المعتقلات له پښتو څخه عربي ته ژباړه.
۹. حديث الشيخ (دشيخ پندونه) ژباړه.
۱۰. ايمان او ګرزنده ځيلخانه د (الايمان والزنزانة المتجولة) ژباړه.
۱۱ ممو، زين دهغي مينې کيسه چې په مځکه کې زرغونه او په آسمان کې پخه شوه ژباړه.
۱۲. تعليم خط وړکوټي ليکنه.
۱۳. په اسلام کې اوبه او روغتيا ژباړه چې د نړۍ روغتيايي پروګرام له خوا پنځه زره ټوکه چاپ او وويشل شوه.
۱۴. دادب په پلوشو کې د ګلورينو کېسو غونډ څلور کېسې په يوه غونډ کې.
۱۵. په ادبي هار کې نبوي ملغلري چاپ ته تيار.
۱۶. په اسلام کې نکاح اوزموږ د ټولني نيمه خوا رواجونه چاپ ته تيار.
۱۷. نبوي سيرت چاپ ته تيار.
۱۸. بختور سفر چاپ ته تيار.
۱۹. صورمن حياة العلماء العاملين را ټولونه چاپ ته تيار.
۲۰. دمرګ او ژوند په پوله خاطرې چاپ ته تيار.

دشپږم ټوک پښتو صفوة التفاسیر دسورتونو اوآیتونو نوملړ

دشپږم ټوک پښتو صفوة التفاسیر دسورتونو اوآیتونو نوملړ

صفوة التفاسير 6 ټوک

د نصيراحمد احمدي

لخوا سکين او pdf سو

تاريخ. ۱۳۹۸-۱۲-۰۱

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!